احسن الفتاوی

پښتو ترجمه

مکتبه فریدیه

قال الله تبارک وتعالی

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿فَسْئَلُوٓا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾

وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم

إنما شفاء العيّ السؤال (الحديث)

احسن الفتاوی

پنځم جلد

(له کتاب الجهاد څخه تر آخر د کتاب الودیعة والعاریة والهبه پورې)

تالیف فقیه العصر مفتی اعظم حضرت مفتی رشید احمد صاحب رحمه الله تعالی

ناشرین

مولوی محمد ظفر ((حقانی))　　مولوی امیر الله ((شیرانی))

د ملاویدو پته

مکتبه فریدیه محلہ جنگی قصه خوانی پیښور

د کتاب نوم : احسن الفتاوی (پنځم جلد) (له کتاب الجهاد څخه تر آخر د کتاب الودیعة والعاریة والهبه پورې).
د مؤلف نوم : فقیه العصر مفتی اعظم حضرت مفتی رشید احمد صاحب رحمه الله تعالی
پښتو ترجمه او کمپوز : مولانا محمد همایون او مولانا محمد عارف.
دیزاین ، اصلاح او نظر ثانی : حافظ محمد ولی (بغلانی)
د چاپ کال : ۲۰۱۲
د چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه
ناشرین : مولوی محمد ظفر ((حقانی)) مولوی امیر الله ((شیرانی))
د ملاویدو پته : مکتبه فریدیه محله جنگی قصه خوانی پېښور
د مکتبې مسؤل : مولوی محمد ظفر ((حقانی)) صاحب.

كتابُ الجهاد

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ ۚ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ ۚ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (٩: ١١١)

قُلْ إِن كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّىٰ يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ (٩: ٢٤)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ ۚ أَرَضِيتُم بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ إِلَّا تَنفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا ۖ فَأَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَىٰ ۗ وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ انفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لَّاتَّبَعُوكَ وَلَٰكِن بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ۚ وَسَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ يُهْلِكُونَ أَنفُسَهُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ (٩: ٣٨ تا ٤٢)

کتابُ الجهاد

د دارالحرب نه د هجرت حکم :

سوال :- دبرما په مسلمانانو باندې چه کوم ظلم او زیاتې کیږی هغه واضح دې . منجمله د هغوی د اسلام په رکنِ اعظم (حج) باندې پابندی ده . په دې صورت کښې مسلمانانو ته د دې ځائ نه هجرت ضروری دې او که نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : چرته چه دین یا نفس یا عزت یا مال محفوظ نه وی د هغه ځائ نه هجرت کول فرض دی مطلقِ دارالحرب کیدل موجب د هجرت نه دې ، که چرته په برما کښې د مسلمانانو نفس یا مال محفوظ نه وی ، یا مونځ ، روژه یا قربانئ وغیره شعائرِ اسلام باندې پابندی وی نو هجرت فرض دې . صرف په حج باندې د پابندئ د وجه نه هجرت فرض نه دې . ځکه چه حج د ارادې د ښکاره کولو نه بغیر هم ادا کیدلې شی ، که چرته یو صورت هم ممکن نه وی نو د امام صاحب رحمة الله علیه په نزد باندې حج فرض نه دې ، د صاحبینو رحمهما الله په نزد باندې بل چا په واسطه حج کول فرض دی ، د دې نه پس که عذر ختم شی نو پخپله حج کول فرض دی ، په تصحیح کښې اختلاف دې ، اکثرو مشایخو رحمهم الله د صاحبینو قول لره اختیارکړې دې . علاوه د دې نه احوط هم دادې ، دا اختلاف په هغه صورت کښې دې چه د حکومت د طرف نه د پابندئ نه پس حج فرض شوې وی ، که چرته د پابندئ نه وړاندې حج فرض وو نو په اتفاق سره د بل چا په واسطه باندې حج کول فرض دی . قال فی العلائیة غیر محبوس وخائف عن سلطان یمنع منه، وفی الشامیة فلا یجب علی مقعد ومفلوج وشیخ کبیر لا یثبت علی الراحلة بنفسه واعمٰی ان وجد قائدا ومحبوس وخائف من سلطان لا بانفسهم ولا بالنیابة فی ظاهر المذهب وهو روایة عنهما وظاهر الروایة عنهما وجوب الاحجاج علیهم ویجزیهم ان دام العجز وان زال اعادوا بانفسهم . والحاصل من شرائط الوجوب عنده ومن شرائط وجوب الاداء عندهما وثمرة الخلاف تظهر فی وجوب الاحجاج والایصاء کما ذکرنا وهو مقید بما اذا لم یقدر علی الحج وهو صحیح فان قدر ثم عجز قبل الخروج الی الحج تقرر دینا فی ذمته فیلزمه الحجاج (الی قوله) وظاهر التحفة اختیار قولهما وکذا الاسبیجابی وقواه فی الفتح ومشی علی ان الصحة من شرائط وجوب الاداء من البحر والنهر وحکی فی اللباب اختلاف التصحیح وفی شرحه انه مشی علی الاول فی النهایة وقال فی البحر العمیق انه المذهب الصحیح وان الثانی صححه قاضی خان فی شرح الجامع واختاره کثیر من المشائخ ومنهم ابن الهمام (ردالمحتار ج۲ص۲) فقط والله تعالیٰ اعلم

۱۸ رمضان ۸۸ هجری

د دار الحرب نه اسمګلنګ (قاچاق) کول

سوال :- برما د کافرانو حکومت دې چه سرحد سره ئې متصل د مسلمانانو حکومت دې چه په هغې کښې د برما مسلمانان اسمګلنګ (قاچاق) کوی ، چه کله هغوی ته دا وئیلې کیږی چه اسمګلنګ کول ناجائز دی نو د هغه ځائ بعضې علماء په جواب کښې دا وائی چه برما دارالحرب دې ، دارالحرب نه دارالاسلام ته اسمګلنګ کول جائز دی ، آیا دهغوی دا قول صحیح دې اوکه نه ؟ بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : که چرته د برما د مسلمانانو اود حکومت په مینځ کښې علانیه محاربه نه وی نو د هغه ځائ نه مال اسمګلنګ کول جائز نه دی ، فقط والله تعالی اعلم

جمادی الاولی ۹۳ هجری

ددارالحرب مسلمانانو ته د حکومت مسلمه مقابله کول جائز نه دی

سوال :- د کافرانو په فوج کښې د مسلمانانو فوج هم وی او دا مسلمان فوج د جنګ په دوران کښې په یو مسلمان ملک باندې حمله اوکړی ، دا مسلمان فوج چه د کافرانو د طرف نه جنګیږی که چرته د مسلمانانو د لاسه اووژلې شی نوآیا دا به شهید وی ؟ ځکه چه دوی مجبوره دی ، ګورنمنټ د کافر ملازم دې ، د حکم تعمیل کول وی ، یا د مسلمان فوجی به د آیتِ کریمې «**ومن یقتل مؤمناً متعمداً**» لاندې جهنمی به وی ؟ یعنې اووژلې شی بیا هم او مړ شی نوبیا هم ، شرعاً څه حکم دې ؟ بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د کافرانو په فوج کښې که چرته مسلمان حمایةً راشی نو هغه هم په هغوی کښې دې ، که دهغه لاس نه د حکومتِ مسلمه یو مسلمان فوجی مړ شی نو هغه شهید دې ، او که هغه لره د حکومتِ مسلمه فوجی قتل کړی نو دې شهید نه دې ، دې مجبور نه دې ، ده ته اختیاروو چه د حکومتِ کافره د فوجی ملازمت ونه کړی ، که چرته د کافر حکومت د طرف نه جبر وی نو بیا هم د مسلمانانو په مقابله کښې وتل حرام دی ، که چرته د حکومت د طرف نه د مرګ د سزا تهدید وی نو بیا هم قتلِ مسلم جائز نه دې ، که حکومت هغه لره قتل کړو نو شهید دې ، **قال**

فی شرح التنویر ورخص له الا اذا اکره بقتل مسلم او ذمی باعتبار بقتل او قطع ویؤجر لو صبر ابن ملک (الی قوله) لا یرخص بقتله او سبه او قطع عضوه وما لا یستباح بحال اعتبار وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی (قوله او سبه) قال فی المنح ما فی النهایة نقلا عن المبسوط من انه لا یرخص بشتم المسلم وانه لو اکره بالقتل علی الاکراه علی مسلم یرخص له ان یسبه کما فی الظهیریة اهـ وقال فی التاتارخانیة الا تری انه لو اکره علی ان یفتری علی الله تعالی کان فی سعة منهما اولی الا انه حلال الا باحة لم جاء فی الاکراه علی المسلم یطلق لانها مما لا تظهر فیه الرخص وجعا

ثبت دلالة قال محمد رحمه الله تعالی علیهم هذه المسالة الا تری انه لو اکره بوعید تلف علی شتم محمد صلی الله علیه وسلم کان فی سعة ان شاء الله تعالی وطریقه ما قلنا ولو صبر حتی قتل کان ماجورا وکان افضل اه (قوله او قطع عضوه) ای ولو اذن له المقطوع غیر مکره فان قطع فهو اثم ولا ضمان علی القاطع ولا علی المکره ولو اکره علی القتل فاذن له فقتله اثم والدیة فی مال الامر تاترخانیة لکن فی الخانیة قال له السلطان اقطع ید فلان والا لاقتلنك وسعه ان یقطع وعلی الامر قصاص عندهما ولا روایة عن ابی یوسف رحمه الله تعالی اه ثم رایت الطوری وفق بانه ان اکره علی القطع باغلظ منه وسعه وان بالقطع او بدونه فلا تامل والی بحمیر الغیمة العائد علی غیر قلما فی الهندیة اکره بالقتل علی قطع ید نفسه وسعه ذلك وعلی المکره القود ولو علی قتل نفسه فقتل فلا شیء علی المکره اه (رد المحتار ص ج) فقط والله تعالی اعلم

"رجب" هجری

د معاویه رضی الله عنه خلافت

سوال : د جماعت اسلامی خلق وائی چه د حضرت معاویه رضی الله عنه نه پس حقیقی خلیفه حضرت حسن رضی الله عنه وو ، مگر معاویه رضی الله عنه جبراً قبضه وکړه ، او دخپل حکومت په زمانه کښې یې قسماقسم ظلمونه کول ، ددې جواب لیکلو سره زمونږه تسلی وکړئ ، بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دا عقیده په اصل کښې د شیعه گانو ده ، د جماعت اسلامی بانی مودودی صاحب هم یومعاصر شیعه وو ، تفصیل دپاره خما رساله «مودودی صاحب او تخریب اسلام» ستاسو په خدمت کښې ده . کاش چه شیعه خلق هم د خپلو کتابونو په آئینه کښې د حضرت معاویه رضی الله عنه مقام وگوری . لاندې یو څو حوالې درج کیږی :

(۱) حضرت حسن رضی الله عنه د حضرت معاویه رضی الله عنه سره بیعت وکړو ، فرایت ان اسالم معاویة واضع الحرب بینی وبینه وبایعته (کشف الغمة فی معرفة الائمة مطبوع ایران ص) لما صالح الحسن بن علی بن ابی طالب معاویة بن ابی سفیان دخل علیه الناس فلامه بعضهم علی بیعته فقال ویحکم لا تدرون ما عملت والله للذی عملت خیر لشیعتی (احتجاج طبرسی ص)

حضرت حسن او حضرت حسین رضی الله تعالی عنهما د حضرت معاویه رضی الله عنه سره بیعت وکړو ، سمعت اباعبدالله علیه السلام یقول ان معاویة کتب الی الحسن بن علی صلوات الله علیهما ان اقدم انت والحسین (الی قوله) فقال (معاویة رضی الله عنه) یا حسن قم فبایع فقام فبایع ثم قال للحسین رضی

امعصة لم اسلامیع القادر الیانع (رجال کشی مطبوع کربلا ص -، بحار الانوار مطبوع ایران ص - ج-) بلکه د حضرت معاویه رضی الله عنه نه پس حضرت حسین رضی الله عنه د یزید د بیعت هم عزم ښکاره کولو سره د یزید خلافت له تسلیم کړې وو ، مګر دوی ته مهلت ورنه کړې شو . اما ان ادع یدی فی ید یزید (طبری ص - ج -، البدایة والنهایة ص - ج -) د شیعه ګانو په کتابونو کښې الشافی مطبوع ایران ص ۴۷۱ کښې هم دا روایت منقول دې . علاوه ددې نه د یزید د حکومت لاندې د جهاد دپاره د درخواست پیش کولو روایت نه چاته د انکار مجال نشته. او دا د یزید د خلافت تسلیمولو واضح دلیل دې

(۳) حضرت حسن رضی الله عنه قسم خوړلو سره فرمائي چه حضرت معاویه رضی الله عنه دهغه دپاره د ټولو شیعه ګانو نه بهتردې . عن زید بن وهب الجهنی قال لما طعن الحسن بالمدائن اتیته وهو متوجع فقلت ما تری یا ابن رسول الله صلی الله علیه فان الناس متحیرون فقال اری والله ان معاویة خیر لی من هؤلاء یزعمون انهم لی شیعة (احتجاج طبری ص -)

(۴) حضرت معاویه رضی الله عنه حضرت حسن رضی الله عنه ته یو خل پنځلس لاکهه درهم ورکړل چه ۱۰۳ / ۵ تنه سپین زر کیږی، او یو خل ئې څلورلاکهه درهم ورکړل چه ۱۳۲۰۸ / ۱ تنه سپین زر کیږی او یو لاکهه درهم چه : ۳۴۰/۲ کیلو سپین زر کیږی مستقل به سالانه وظیفه ورکوله (تاریخ عساکر ص ۲۰۰ . ۲۰۱ ج ۳) شیعه مجتهد محمد حسین عف وهکو ددې د صحت اعتراف کولو سره لیکلی دی چه دا د صلح په شرائطو کښې دیو شرط لاندې ګذراه الاؤنس وو ، تجلیات صداقت ص ۴۹۲.

مذهب شیعه کښې امام معصوم وی او حضرت معاویه رضی الله عنه معاذالله ظالم . فاسق او غاصب وو . سوال دادې چه د امام معصوم دپاره د ظالم او غاصب خلیفه د بیت المال نه دا پیسو اخستل څنګه حلال وو ؟ څو تنه د سپینو زرو په مقدار کښې دراهم او سالانه یو لاکهه دراهم مستقل طور بانديې د ورکولو شرط منلو سره دخلافت په شان خدائي امانت د ظالم او فاسق په حواله کولو سره پخپله د راحت او آرام ژوند تیرول اود ګذاره الاؤنس په عوض امت بانديې د ظالم حکمران تسلط قبلول د امام د عصمت خلاف نه دی ؟ غرض دا چه د حضرت معاویه رضی الله عنه د خلافت نه انکار حقیقت کښې حضرت حسن رضی الله عنه بانديې د خیانت الزام قائمول دی .

والله العاصم من جمیع الفتن ۲۶ جمادی الاولی ۹۶ هجری

د جهاد شرائط

سوال الله تعالی دې دمسلمانانو درهنمائي دپاره ستاسو په عمرکښې برکت واچوی آمین.

ستاسو نه د لاندې مسائلو پوښتنه کيږي . امید دی چه په دلائیلو سره جواب راکړئ په دې وخت کښې ارکانِ صوبهٔ برما کښې د مسلمانانو بدحالی قابل د رحم ده . د ۱۹۴۲ . نه بت پرستانو قتل عام . د پرده دارو ښځونه پرده اخستل . مالونه او جائداد قبضه کولو سره مسلمانان ئې په تکلیف کښې اچولی دی . علماء کرام وه وژلې شول . په زیرو کښې بی اور ولیولې شو . مساجدو لره بطور مورچه استعمال کړې شو . او بې شمیره د مسلمانانو آبادو لره او سوزولې شوې . د ۱۹۲۱ . نه حج او د مقدس مقاماتو په زیارت باندې مکمل پابندی ده . په ډیر مشکل سره په سلو درخواستونو کښې د لسو اجازت ورکولې کیږی . د مسلمانانو اخباراتو او چهاپ خانو لره ئې بند کړل . چه په هغې کښې قرآن مجید او اسلامی کتابونه چاپ شوی وو . د یو ښار نه بل ښار طرف ته تلل راتلل د مسلمانانو دپاره قانوناً ممنوع دی . علی الاعلان د بت پرستانو مذهبی حکومت او عوام ولتی چه د ویرو والو او د توپېن والو دپاره دلته ځائ نشته دې . بت پرستان جوړ شی یا ددې ځئ نه لار شن . علماؤ ته کرته اچولو سره دهغوی په مخامخ بدمذهب زنانو لره گډې کړې شوې . په دې طریقی سره د اسلام د علماؤ او د اسلام سپاکوې اوکړې شو . په دې وخت کښې مسلسل حضونه د بنګله دیش نه راروان دی چه زمونږه جان اومال محفوظ نه دې . «ناگالی آپریشن» نومې یو تحقیق او پلټنه راځی . چه په هغې کښې د هرکلی خوانانو لره گرفتارولو سره چرته بوتللې شو . هیڅ خبرشته دې . سپین گیرو سرو لره یو کیمپ کښې خوانې زنانو لره په بل کیمپ کښې جدا جدا جمع کولې کیږی او برمی سری او د رایمګیرشن علمه کیمپنیو کښې تللو سره زنانو سره بسلوکی او بې عزتی کوی . څوک چه هم اعتراض کوی نو د گولئ نشانه جوړولې کیږی . په دې وخت کښې د شمالی ارکان بوتهیډنگ نومې تاؤن شپ تقریباً د مسلمانانو نه خالی شوې دې . په شو ښځه ویشتو کلو کښې نیمه کورنئ پاتې شوې ده . باقی ټول هجرت کولو سره د بنګله دیش سرحد ته راغلل . لیکن بنګله دیش والا هغوی ته ځائ نه ورکوی . واپس یې لیږی . کوم خلق چه د کورونو نه ر وتلی دی د هغوی کورونه کافرانو لوټ کړه . په دې وخت کښې شمالی ارکانو کښې یو فیصت دې . «روهنګیغداتین محاذ» نومې یو تنظیم د ۱۹۲۴ . نه برمی حکومت سره مسلح جدوجهد کونو او خپل مذهبی او سیاسی حقوقو ملو دپاره فوجی تیاریانې کوی چه زیات تر د برمی حکومت په مسلمانانو . د سرکری اود کالجونو او پوهنتونونو په طلبو باندې مشتمل دې . هغې خلق د تبلیغی جماعت سره تعلق ستلو و لا اوعلماء کرام هم دی . دا تنظیم «الفتح» تنظیم . دی فلسطین . د «مورونیشنل لبریشن فرنټ» تنظیم آزادې فلپائن . د لیبرتیریا تنظیم . دی د صحی مسلمانانو اود تسلو توریفه مسلمانانو د تنظیمونو نوعیت څنګه دې . چه په دې نازک وخت کښې برمی حکومت سره د مکمل تیدیئ نه بغیر د ناقابل برداشت ظلمونو پیش نظر د مسلح جدوجهد کولو څنځ کوی . د مسلمانانو د دغه ګنو لود تعاون خواستګار دی . په دې

کښې بعضي علماؤ ته شک دي ، لهذا تاسو ته تکلیف در کولې کيږي چه د الله د پاره ددې سوالونو مدلل جوابونه اوفرمائي

(۱) ددې تنظیم شرعی حیثیت څه دې ؟

(۲) آیا ددې تنظیم په مسلح جدوجهد باندې د جهاد اطلاق کیږي او که نه؟

(۳) ددې تنظیم سربراه انګریزی تعلیم یافته دې ، مګر د مونځ ، روژې پابند دې ، او د دینی مسائلو نه هم څه واقف دې ، څکه چه زمونږه تعلیم یافته طبقه کم وزیات د اردو نه واقفه وی او دینی کتابونه وائی ، آیا هغه ته امام جهاد وئیلې شی او که نه؟

(۴) په دې مسلح جدوجهد کښې که چرته چاته مرګ راشی نو هغه ته به شهید وئیلې کیدلې شی او که نه؟

(۵) دې تنظیم سره جانی او مالی تعاون څنګه دې او اخلاقاً څنګه دی ؟

(۶) من قتل دون ماله فهو شهید ومن قتل دون اهله فهو شهید، ومن قتل دون عرضه فهو شهید آیا دا درې واړه جمله احادیث دی ، که چرته احادیث دی نو په کوم کتاب کښې دی ؟

(۷) آیا د کومو تنظیمونوچه وړاندې ذکر وشو دهغه تولو یو حکم دې او که مختلف ؟ بینواتوجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د اول (۱) نه تر پنځمه (۵) پورې ماته دهغه تنظیمونو متعلق څه علم نشته دې ، البته یوتنظیم سره د تعاون دپاره دوه شرطونه دی :

(۱) دهغې طریقه کار د شرع خلاف نه وی .

(۲) کامیابی متوقع وی

(۶) (سعید بن زید) رفعه من قتل دون ماله فهو شهید ومن قتل دون دمه فهو شهید ومن قتل دون دینه فهو شهید ومن قتل دون اهله فهو شهید لاصحاب السنن (جمع الفوائد ص ج۲)

(۷) د نورو ممالکو دتنظیمونو په باره کښې اجمالاً دومره علم دې چه دهغوی طریق کار د شریعت مطابق نه دې .

مقامی علماؤ باندې فرض دی چه عوامو ته د منکراتو د پریخودلو زیات نه زیات تبلیغ وکړی .

قال الله تعالی: ﴿وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعْضَ الظَّالِمِينَ بَعْضًا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾ وقال تعالی: ﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾ وقال: ﴿وَمَا أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَن كَثِيرٍ﴾ فقط والله تعالی اعلم

جمادی الاولی ہجری

د جهادي ضرورت دپاره ږیره خریل جائز ندي

سوال چه کله څوک سړي په جهاد باندې لاړ شي نو دهغه دپاره ږیره ښریل جائز دی یا نه؟ د جهاد دپاره چه کومه لاره ده هغلته کافران دی ، بغیر ږیرې والا لره دننه پریږدی او ږیرې والا لره وژني . بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : ږیره خریيل حرام دی ، د جهاد د ضرورت د وجه نه د فعلِ حرام ارتکاب جائز نه دې . بلکه داسې موقعو کښې د ګناه نه د بچ کيدلو او د استغفار زیات تاکید دې . قال الله تعالی ﴿وَإِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا﴾ وقال حکایةً عن الربیین اللذین کانوا یقاتلون مع نبیهم ﴿رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ﴾ ددې آیت د مضمون په ترتیب کښې په دې باندې دلالت دې چه څنګه نصرت په ثبات د قدمونو باندې موقوف دې هم دغه شان ثبات د قدمونو د ګناهونو نه په توبې او استغفار باندې موقوف دې . وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم فانه لا یدرك ما عند الله الا بطاعته . فقط والله تعالی اعلم .

مذی قعدة ۱۱ هجری

دارالاسلام کښې غیرمسلمو ته د تبلیغي اجتماع اجازت نشته

سوال :- اسلامی ریاست کښې د کفراوشرک د تبلیغ اجازت ورکولې شي ؟ آیا بطورِ حسن سلوک اسلامی ریاست کښې کافرانو ته دهغوی د باطل دین د تبلیغ اجازت ورکولې شي ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : دارالاسلام کښې غیرمسلمین خپلو کورونو یا عبادت ګاهونو کښې مذهبی تبلیغ کولې شي آزادو مقاماتو باندې هغوی ته د تبلیغي اجتماع اجازت نه شي ورکولې . تردې پورې چه هغوی خپل مذهبی کتاب هم په اوچت آواز سره نه شي وئیلې ، قال العلامة الحلي رحمه الله تعالى قلت ولا ينبغي للامام ان يهادنهم على ما يخالف شروط عمر رضي الله عنه من غير ضرورة فانه هو القدوة في هذا الباب . قال الموفق وينبغي للامام عند عقد الهدنة ان يشترط عليهم شروطا نحو ما شرطه عمر رضي الله عنه وقد رويت عن عمر رضي الله عنه في ذلك اخبار منها ما رواه الخلال باسناده نذكر ما ذكرناه في المتن اه‍ (ص ۳۰۶ ج ۴) وقد حكى ابن تيمية اجماع الفقهاء وسائر الائمة رحمهم الله تعالى على مراعاة تلك الشروط قال ولولا شهرتها عند الفقهاء لذكرنا الفاظ كل طائفة فيها (الى قوله) ومن جملة الشروط ما يعود اخفاء منكرات دينهم وترك اظهارها كمنعهم من اظهار الخمر والناقوس والنيران والاعياد ونحو ذلك

ومنها ما یعود بانتفاء شعائر دینهم کاصوامهم بکتابهم (اعلاء السنن ص ج) فقط والله تعالی اعلم

صفر سنه ۱۴۰۰ هجری

دارالاسلام کښې غیرِ مسلمو ته د نوې عبادت خانې جوړولو اجازت نشته

سوال آیا اسلامی ریاست کښې غیرمسلم خپله عبادتگاه جوړولې شی ؟ واضحه دې وی چه دنوی عمارت تعمیرمقصود دې . بینواتوجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : غیرمسلم ته دارالاسلام کښې د نوې عبادتګاه د تعمیرولو اجازت نشته دې . زړه عبادتګاه باقی پریخودلې شی . دهغې مرمت هم کولې شی . مګر قدیم عمارت باندې اضافه نه شی کولې ، هم دغه شان دهغوی یو ښار فتح کولو په وخت کښې په هغې کښې که چرته یوعبادتګاه ویرانه وی نوهغه د سر نه د آبادولو اجازت نشته دې . قال العلامة العثمانی رحمه الله تعالی معزیا لاصحاب الحدیث حدثنا عبدالله بن صالح عن اللیث بن سعد حدثنی توبة بن النمر الحضرمی قاضی مصر عن اخبره قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاخصاء فی الاسلام ولا کنیسة رواه ابوعبید فی الاموال وتوبة بن النمر قال الدار قطنی کان فاضلا عابدا (تعجیب المنفعة) فالحدیث حسن الاسناد مرسل وجهالة الصحابی لا تضر واخرجه البیهقی فی سننه عن ابن عباس رضی الله عنهما مرفوعا وضعفه واخرجه ابن عدی فی الکامل عن عمر رضی الله عنه مرفوعا باسناد ضعیف (زیلعی) وتعدد الطرق یفید الحدیث قوة

حدثنی ابوالاسود عن ابن لهیعة عن یزید بن ابی حبیب عن ابی الخیر قال قال عمر بن الخطاب رضی الله عنه لا کنیسة فی الاسلام ولاخصاء (رواه ابوعبید ایضا وسنده حسن وابوالخیر هو مرثد بن عبدالله الیزنی المصری ثقة فقیه من الثالثة (التقریب) ورواه ابن عدی عن عمر رضی الله عنه مرفوعا بلفظ لا یبنی کنیسة فی الاسلام ولا یجدد ما خرب منها (التلخیص الحبیر) وسکت الحافظ عنه

وفی الحاشیة وتجدید ما کان عامرا عند الفتح احداث ایضا فیمنع منه وهو محمل ما رواه ابن عدی بلفظ ولا یجدد ما خرب منها واما ما کان عامرا عند الفتح وخرب بعده فتجدیده بناء لما استهدم فالشبه بناء بعضها اذا انهدم ورم شعثها فلا یرد علینا ما اورده الموفق فی المغنی ص ج (اعلاء السنن ص ج) وقال فی التنویر ولا یجوز ان یحدث بیعة ولا کنیسة ولا صومعة ولا بیت نار ولا مقبرة فی دار الاسلام ویعاد المنهدم من غیر زیادة علی البناء الاول (رد المحتار ص ج) فقط والله تعالی اعلم

۴ صفر سنه ۱۴۰۰ هجری

د غیر مسلم په حلیه او جامه وغیره باندې پابندۍ (بندیز)

سوال آیا د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه خلافت کښې د کافرانو نومونه بدل کړې شوی وو . یا دهغوی په حلیه او جامه باندې پابندی لږولې شوې وه . لطفاً ددې حواله ولیکئ . بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د حضرت عمر رضی الله عنه په دور خلافت کښې د غیرمسلمو د نومونو بدلولو متعلق کوم یو روایت د نظره ندې تیر شوې، البته د حلیې . جامو او سورلۍ وغیره متعلق پابندیانې وې .

قال العلامة العثمانی رحمه الله تعالی ان امیر المؤمنین عمر فی الصحابة رضی الله تعالی عنهم ثم عامة الائمة بعده وسائر الفقهاء جعلوا فی الشروط المشروطة علی اهل الذمة من النصاری وغیرهم فیما شرطوه علی انفسهم ان نوقر المسلمین ونقوم لهم من مجالسنا ان ارادوا الجلوس ولا نتشبه بهم فی شیء من ملابسهم قلنسوة او عمامة اونعلین او فرق شعر ولا نتکلم بکلامهم ولا نتکنی بکناهم ولا نرکب السروج ولا نتقلد السیوف ولا نتخذ شیئا من السلاح ولا نحمله ولا ننقش خواتیمنا بالعربیة ولا نبیع الخمور وان نجز مقادم رؤسنا وان نلزم زینا حیثما کنا وان نشد الزنانیر علی اوساطنا وان لا نظهر الصلیب علی کنائسنا ولا نظهر صلیبا ولا کتبا فی شیء من طریق المسلمین ولا اسواقهم ولا نضرب بنواقیسنا فی کنائسنا الاضرباً خفیفاً ولا نرفع اصواتنا مع موتانا ولا نظهر النیران معهم فی شیء من طرق المسلمین . رواه حرب باسناد جید کذا فی اقتضاء الصراط المستقیم للعلامة ابن تیمیة رحمه الله تعالی (اعلاء السنن ص ۲۰ ج ۱۲) وقال فی التنویر ویمیز الذمی ـــ ومرکبه وسرجه فلا یرکب خیلا ویرکب سرجا کالاکف ولا یعمل بسلاح ویظهر الکستیج ویمنع من لبس العمامة وزنار والابریسم والثیاب الفاخرة المختصة باهل العلم والشرف (رد المحتار ص ۲۷۳ ج ۳) فقط والله تعالی اعلم

۴ صفر سنه ۱٤۰۰ هجری

د اسلامی ملک تعریف

سوال - آیا د اسلامی ملک د تعریف دپاره په قرآن اوسنتو باندې عمل ضروری دې اوکه صرف د مسلمانانو د آبادئ کیدل کافی دی؟ یعنې په کوم ملک کښې چه د قرآن او سنتو د عملی نظام نفاذ نه وی نوپه داسې صورت کښې دا ملک اسلامی ملک دې اوکه غیراسلامی ملک ؟ بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په کوم ملک کښې اګرچه عملاً د اسلام د احکامو نفاذ نه وی

مګر په تنفیذ حکم بندي قدرت ولري نو هغه د دارالاسلام دی. په دې معنی سره هغې ته اسلامي ملک هم ونیلی کیږی. مګر د داسې ملک حکومت ته هغه وخت پورې حکومت اسلامیه نه شي ونیلی کیدلی ترڅو پورې چه هغه د اسلام د حکمونو تنفیذ ونه کړي. فقط والله تعالی اعلم

۲۳ صفر سنه ۱۴۰۰ هجری

د دارالامن تعریف

سوال - د دارالحرب څه تعریف دی؟ آیا د یو ملک په نظم کښې مسلمانانو ته صرف د عبادتونو منع. روژې آزاد نه ادا کول د هغه ملک د دارالامن کیدلو دپاره کافی وي حالانکه د ملک اساسی قوانین مثلاً نکاح. طلاق کښې مسلمانان د هغوی غیر اسلامي قوانینو پابندي مجبور دی. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب کوم ځای چه د اسلام د احکمو په تنفیذ بندي قدرت نه وی هغه دارالحرب دی. دارالحرب کښې که چرته د مسلمانانو ځان. مال او عزت محفوظ وی او عبادت محضه بندي څه پابندی نه وی نو دا دارالامن دی. فقط والله تعالی اعلم

۱۸ رجب سنه ۱۴۰۱ هجری

د دښمن د ویرې نه خودکشی حرامه ده

سوال - د جنګ په حالت کښې چه کله د شهید کیدلو یقین وی او دا هم یقین وی چه د مرګ نه پس ځما بچو او ښځی لره به هم شهیدان کوی او د هغوی عزت به هم خطی تو آیا د خپل عزت د بچ کولو په خاطر مونږ پخپله هغوی لره وژلې شو؟ آیا داسې حالت کښې ښځه خودکشی وکړی نو جائز ده او که نه؟ په ۱۹۴۷ء کښې داسې شوی دی چه کافرانو د مسلمانانو ښځو لره د عزته کونو سره شهیدانې کړې یا نې هغوی په خپله قبضه کښې واخستلې او هغه زنانه ترته پورې د کافرانو په قبضه کښې دی. په دې وخت کښې د افغانستان حالت هم ستاسو وړاندې دی. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ماشومانو او ښځو لره خپله وژل جائز نه دی. ښځو سره خودکشی هم حرامه ده. منجانب الله را پیښ شوو هرقسمه حالاتو بندې صبر کول او په دې ښځو قتلیدو کیدل د هغوی دپاره دیر لوی جهاد دی. فقط والله تعالی اعلم

۲۲ ربیع الاول سنه ۱۴۰۰ هجری

سیاست د شریعت نه جدا نه دې

سوال - آیا سیاست په دین کښې داخل دې او که دهغې نه جدا یو بیل څیز دی؟ ... نعره

عامه ده چه د سیاست اوحکومت د دین سره څه تعلق نشته دي . د شریعت په رڼا کښې د مسئلې حل ارشاد اوفرمائې . بینواتوجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب . د سیاست لغوی معنی ده تدبیراو اصلاح شرعاً اوعقلاً ددې درې شعبې دی :

(۱) د خپل ذات سره متعلق تدبیر .

(۲) د ښځې ، اولاد او خپلو خپلوانو سره متعلق تدبیر .

(۳) د پوره علاقې یا دملک د اصلاح او فلاح تدبیر .

بیا ددې اصلاح اوتدبیر مختلف مدارج او مختلف صورتونه وی مګر د یومسلمان دپاره صرف هم هغه تدبیر مفید اوپه کار راځی چه دهغه د آخرت دپاره نافع وی چه اصل ژوند هم د آخرت ژوند دې . لهذا دخپل ذات . دخپل اهلِ خانه یا دخپل ملک په حق کښې داسې سیاست اختیارول چه د یوحکمِ شریعت سره متصادم وی ناجائز او حرام دي او که چرته د شریعت په دائرې کښې سیاست اوتدبیر وکړې شی نو دا د اعلی درجې نیکی او هرسړی باندې حسب استطاعت فرض دې ، هم داسې سیاست کښې دخپل ذات اود عوامو اصلاح اوهمدردی پټه ده

مروجه سیاست اودهغې تول په تراه طریقې جونکه د یورپ (اروپا) نه راپیدا شوی دی لهذا دمغرب خلقو دې سوچ سره چه د داسې سیاست دینِ اسلام سره څه جوړ نه راځی ، او دواړه یو قدم هم یوځائې نه شی تللې ، دا نعره وه وهله چه : ((دین او سیاست دواړه جدا جدا څیزونه دی)).

چه دهغې مقصد ښکاره دې چه د سیاست په میدان کښې ښکاره کمی ده په دې کښې چه خومره دروغ وائې ، دهوکې ورکوې ، سیاست کښې تول روا دی ، ددې په ځائې که چرته دې خلقو صفاصفا دا نعره کړې وای چه : ((سیاست دان او دیندار مسلمان دوه جدا جدا افراد دی ، یود بل سره هیڅ تعلق نلری)) نوبهتره به وه ، اروپایانو ته خو دا نعره خوند ورکوی چه د دوی په دین کښې د سیاست څه ګنجائش نشته ، د حکومت او سلطنت دپاره څه هدایات نشته ، مګر د یو مسلمان د طرف نه داسې قسم نعره په حقیقت کښې دهغه الحاد او بې دینئ اظهار دې چه زمونږ په دین کښې هم د سیاست اوحکومت دپاره څه رهنما اصول نشته دی . دحضورصلی الله علیه وسلم په حیوة طیبه کښې په دې پهلو باندې څه رڼا نه موندلې کیږی ، ددې وجه نه مونږ سیاست لره د دین نه جدا کولو باندې مجبوره یو . ددې کفر اوالحاد کیدل محتاج د دلیل نه دې

خلاصه داچه سیاست د دین نه جدا نه دې بلکه د دین یو اهمه شعبه ده ، مروجه نعره دمغرب پرست اود آخرت نه د بیزارو خلقو ده ، شعر

جدا ہو دین سیاست سے تو رہ جاتی ہے چنگیزی

والله تعالی اعلم **۲۰رجب ۱۳۹۳هجری**

اسلام کښې دمغربي جمهوريت هيڅ گنجائش نشته

سوال - موجوده جمهوري نظام چه د دنيا په اکثرو ملکونو کښې نافذ دې چه په هغې کښې په يو وخت کښې د يو څو جماعتونو وجود شرط دې ، آيا اسلام کښې ددې گنجائش شته ؟ بينواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : اسلام کښې د مغربي جمهوريت هيڅ تصور نشته . په هغې کښې د متعددو ډلو وجود (حزب اقتدار اوحزب اختلاف) ضروري دې . حالانکه قرآن ددې تصور نفی کوی:

﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا﴾ (۳: ۱۰۳) په دې کښې تولې فيصلې د رايو په کثرت سره کيږی حالانکه قرآن دهغه اندازِ فکر بيخ کنی کوی : ﴿وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللهِ﴾ (۲: ۱۱۲) دا غيرفطری نظام د اروپا نه را څرگنده شوې دې چه په هغې کښې سرونو لره شميرلې کيږی او تول کيږی نه ، په دې کښې سړې، ښځه ، بوډها، ځوان ، عامی اوعالم بلکه هوښيار اوکم عقل په يوه تله تللې کيږی .

چه د کوم اميدوار ووټ زيات شی هغه کامياب گرځولې کيږی او دويم سراسرناکام . مثلاً ديو آبادئ پنځوس علماؤ عقلاؤ او هوښيارانو په اتفاق سره يو تن ته ووټ ورکړو مگر د دوی مقابل د علاقې بهنگيانو ،چرسيانو او بې دينه خلقو دهغوی مخالف اميدوار ته ووټ ورکړو چه دهغوی شمير يوپنځوس شو نو دا اميدوار کامياب او د ټولې علاقې د تور اوسپين مالک جوړ شو . دا مفروضه نه ده حقيقتِ واقعه دې ، د دنيا د ټولو نه لوئ اسلامی رياست (پاکستان) کښې د ۱۹۷۰ء انتخاباتو کښې دهغې په غړيدلو سترگو مشاهده وشوه چه د لويو لويو علماؤ مشايخو په مقابله کښې بې دينه ، بيلماځه ، بې ږيرو او عياش قسمه خلق ودريدل او په اکثريت سره کامياب شو ، د ۱۹۸۸ء په اليکشن کښې ددې نه هم زياته بې خونده تجربه وشوه چه په پوره ملک کښې ځاې په ځاې د مغرب زده فاحشې زنانه ودريدلې او خپل مقابل په شمول د علماء اومشايخو او لويو لويو مشهورو سياستدانو سرو ته شکست ورکولوسره اقتدار ته ورسيدلې

بيا د ووټ اخستلو دپاره د هرې جائزې اوناجائزې حربی استعمالول د جهوريت سره لازم دی . د ليلائې اقتدار په خاطر ټولو انسانی حقوقو بلکه د وينې رشتو پورې هيرولې کيږی . په يو علاقه کښې سکه ورورنه ، پلار، ځوئ بلکه ښځې خاوند پورې مدمقابل جوړيږی . هرفريق خپل مقابل لره د پاس کولو دپاره پيسې د أبو په شان خرچ کوی . چنانچه په هرو انتخاباتو کښې په کروړونو روپئ بربادېږی . علاوه ددې نه دهوکه ، فريب ،رشوت غرض ټولې حربې استعماليږی .

اوکه یو حربه هم کارونه کړی نو مخالف رایه اچوونکی ویرولې کیږی بلکه وژلې کیږی . شعر

فرنگ آئین جمہوری نہاد است رسن از گردن دیوے کشاد است

ددې تجزیه د پاکستان یو معروف صحافی داسې کړې ده :

«د انتخاباتو یو څو ورځې په ټول ملک کښې د ګناهونو سیزن وی ، چنانچه د ملک په هرګُنج کښې چه څومره د دروغو ، چغلئ ، غیبت ، دهوکې ، بددیانتئ ، ضمیرفروشئ ، بې حیائې ارتکاب په دې څو ورځو کښې کیږی په پوره کال کښې نه کیږی»

چه کله د انتخاباتو ورځ راځی نو په ټول ملک کښې د ویرې وریځې خورې شی ، په هغې کښې د پولیس رینجرز بلکه د فوج د نګرانئ نه باوجود د هنګامو ، د وهلو ټکولو او د جنګ جګړې بازار ګرمیږی ، تراوسه پورې چه په ملک کښې یو څو ځل انتخابات شوی دی په هغې کښې په زرګونو کسان مړه شوی دی .

بیا چه کوم وخت د نتائجو اعلان کیږی هغه د قیامت ساعت وی . په ناکام شوی خلکو کښې د ډیرو کسانو دماغی توازن خراب شی ، چنانچه د ۱۹۸۸ء د انتخاباتو نه وروسته په اخبارونو کښې راغلل چه نفسیاتی هسپتال د داسې قسم پاګلانو نه ډک شوې دې چه د شپې په چغو وهلوسره ودریږی او کینی او په نعرو وهلو سره هسپتال په سر راواخلی .

او څوک چه کامیاب شی نو د هغوی میدان ګرم شی پارلمان ته رسیدلوسره دهغوی بولی شروع شی ، د شرکتونو اسناد ، پلاټونه ،وزارتونه ، غرض داچه رنګ په رنګ لالچ ورکولوسره هغوی اخستلې کیږی ، څه موده وړاندې د صدرِ مملکت بیان په اخبارونو کښې شائع شوې وو چه زمونږ قومی اسمبلی د ګډو بیزو منډئ جوړه شوې ده .

بیا دقوم دامنتخب نمائندګان د پارلمان په صحنه کښې کیناستلوسره څه ګلونه دوروی ؟ دا څه اخوا دیخوا خبرې نه دی ،ورځ په ورځ اخبارونوکښې چاپ کیږی چه فلانکی وزیر د سود په جواز باندې دلائل پیش کړل . فلانکی ملا ازم وئیلو سره اسلامی نظام پسې خندا وکړه . فلانکئ ښځې ډیرې پورې مسخره وکړه اودهغه مهذبه خلقو په مینځ کښې کنځلې ، تهمت لګول ، وغیره ستغې سپورې خو معمولی خبره ده ، خبره که غټه شی نویوبل سره لاس په ګریبان کیږی بلکه په کرسئ باندې د وهلونه هم دریغ نه کوی .

سابق مشرقی پاکستان اسمبلئ کښې داسې په زور سره په چوکیو باندې وهل وشول چه پارلیمانی ویاند خلاصولو سره خپل ځان نه لاس واخستلو ، بالاخر د اسمبلئ په عمارت کښې زمکی کرسئ جوړې شوئ چه په جنګ کښې استعمال نه کړئ شی .

دا ټولې بانې اومیوې د مغربی جمهوریت د خبیثې ونې پیداوار دې ، اسلام کښې ددې

کافرانه نظام هیڅ گنجائش نشته . اونه په دې طریقې سره ترقیامته پورې اسلامی نظام راتللې شی . په فحوائې د « الجنس یمیل الی الجنس » عوام ، چه په هغوی کښې اکثریت د بې دینو خلقو دې ، هم دخپل جنس نمائندگان منتخب کولو سره اسمبلیانو ته لیگی

اسلام کښې شورائی نظام دې چه په هغې کښې اهل الحل والعقد غوراوفکرکولوسره دیو امیر انتخاب کوی . چنانچه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د وفات په وخت کښې د شپږو اهل الحل والعقد شوری جوړه کړه چه هغوی په اتفاق سره حضرت عثمان رضی الله عنه لره خلیفه نامزد کړو

په هغه پاکیزه نظام کښې د انسانی سرونو شمیرلو په ځائ د انسانیت عنصر تول کیږی . په هغې کښې دیو ذی صلاح اومدبر انسان رایه د لکونو بلکه د کروړونو انسانانو په رایه باندې درنه کیدلې شی . شعر .

گریز از طرز جمهوری غلام پخته کارے شو که درمغز دوصد خر فکر انسانے نمی آید

حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه د چا د مشورې نه بغیر صرف پخپلې خوښې سره د حضرت عمررضی الله عنه انتخاب وکړو . د دوی دا انتخاب څومره موزون اومناسب وو ؟

دهغې جواب په الفاظو کښې ممکن نه دې . دهغه حقیقت مشاهده تولې دنیا په غړیدلو سترگو سره کړې ده . والعیان یغنی عن البیان . والله تعالی اعلم .

۲۲ جمادی الثانیه ۱۴۱۳ هجری

د دارالحرب تعریف

سوال د دارالحرب جامع او مختصر تعریف څه دې ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دارالحرب هغه علاقه ده چه هغلته د ژوند په تولو شعبوکښې داسلام د احکامو او د اسلام نظام لره د نافذ کولو قدرت نه وی . والله تعالی اعلم

۱۱ ذی قعده ۱۳۹۴ هجری

د مسلمانانو د اقلیت له کفری حکومت سره جهاد کول

سوال د برما حکومت په خپلو مسلمانانو اوسیدونکو باندې ظلم کوی . تردې پورې چه د هغوی په مذهبی احکامو پابندی لگوی . د شرعیه فرائضو په ادا کولو کښې مانع کیږی . په دې حالت کښې ددغه ځائ په اوسیدونکو مسلمانانو باندې د داسې حکومت سره جهاد کول فرض دې اوکه نه ؟ همدارنگه د زکاة د مالونو په ذریعې سره د مجاهدینو امداد کیدلې شی اوکه نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دې حالاتو کښې د داسې کافر حکومت سره جهاد کول فرض

کافرانه نظام هیڅ ګنجائش نشته . او نه په دې طریقې سره ترقیامته پورې اسلامی نظام راتللې شی په فحوائې د ، الجنس یمیل الی الجنس ، عوام ، چه په هغوی کښې اکثریت د بې دینو خلقو دې ، هم دخپل جنس نمائندګان منتخب کولو سره اسمبلیانو ته لیګی

اسلام کښې شورائی نظام دې چه په هغې کښې اهل الحل و العقد غور او فکر کولو سره دیو امیر انتخاب کوی . چنانچه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د وفات په وخت کښې د شپږو اهل الحل والعقد شوریٰ جوړه کړه چه هغوی په اتفاق سره حضرت عثمان رضی الله عنه لره خلیفه نامزد کړو

په هغه پاکیزه نظام کښې د انسانی سرونو شمیرلو په ځائ د انسانیت عنصر تول کیږی . په هغې کښې دیو ذی صلاح اومدبر انسان رایه د لکونو بلکه د کروړونو انسانانو په رایه باندې درنه کیدلې شی . شعر .

گریز از طرز جمہوری غلام پختہ کارے شو   کہ درمغز دو صد خر فکر انسانے نمی آید

حضرت ابوبکرصدیق رضی اللّٰه عنه د چا د مشورې نه بغیر صرف پخپلې خوښې سره د حضرت عمررضی الله عنه انتخاب وکړو . د دوی دا انتخاب څومره موزون اومناسب وو ؟

دهغې جواب په الفاظو کښې ممکن نه دې . دهغه حقیقت مشاهده ټولې دنیا په غړیدلو سترګو سره کړې ده . والعیان یغنی عن البیان . والله تعالی اعلم

۲۲ جمادی الثانیه ۱۴۱۳ هجری

د دارالحرب تعریف

سوال د دارالحرب جامع او مختصر تعریف څه دې ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دارالحرب هغه علاقه ده چه هغلته د ژوند په ټولو شعبو کښې د اسلام د احکامو او د اسلام نظام لره د نافذ کولو قدرت نه وی . والله تعالی اعلم

۱۱ ذی قعده ۱۳۹۴ هجری

د مسلمانانو د اقلیت له کفری حکومت سره جهاد کول

سوال د برما حکومت په خپلو مسلمانانو اوسیدونکو باندې ظلم کوی . تردې پورې چه د هغوی په مذهبی احکامو پابندی لګوی . د شرعیه فرائضو په ادا کولو کښې مانع کیږی . په دې حالت کښې ددغه ځائ په اوسیدونکو مسلمانانو باندې د داسې حکومت سره جهاد کول فرض دې اوکه نه ؟ همدارنګه د زکاة د مالونو په ذریعې سره د مجاهدینو امداد کیدلې شی اوکه نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دې حالاتو کښې د داسې کافر حکومت سره جهاد کول فرض

دي . ددې مقصد دپاره داسې تنظيم ضروري دې چه د ماهرينو علماؤ ، منظمانو او د اهل بصيرت په نګرانۍ کښې د شريعت په حدودو کښې دننه کار وکړی . د نورو ملکونو په مسلمانانو باندې هم په ترتيب سره « الاقرب فالاقرب » تعاون کول فرض دې . که چرته د جهاد استطاعت نه وی نو د هغه ځائ نه هجرت کول فرض دی

د زکاة د ادا کولو دپاره تمليک د فقير شرط دې . کوم ځائ چه دا شرط ومونډلې شی نو زکاة به ادا کيږی چرته چه مفقود وی نوزکاة به نه ادا کيږی . والله تعالى اعلم

۲۱رمضان۱۹هجری

جهاد د شريعت په اصطلاح کښې

سوال : د شريعت په اصطلاح کښې «جهاد » څه ته وائی ؟ عموماً د تبليغی جماعت احباب تبليغ کښې د وتلو ترغيب ورکولوسره آياتونه او احاديث او د جهاد واقعاتو تبليغ دپاره وتلو والا جماعتونو باندې حمل کوی . آيا داسې کول صحيح دی ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د جهاد حقيقی مصداق او اصطلاحی معنی « قتال فی سبيل الله » ده .البته د مجاز په خاطر تللو والا هر محنت اومشقت او کوشش ته جهاد وئيلې کيږی

لغت کښې جهاد «جَهْد» بالفتح ، په معنی دمشقت يا «جُهْد» بالضم د طاقت نه مشتق دې ، په دې اعتبارسره د جهاد معنې ده : طاقت خرچ کول ، مشقت برداشت کول ، مګر شريعت لفظ د «جهاد» لره هغه لغوی معنی نه يو بلې معنی يعنې « قتال مع العدو» طرف ته منتقل کړو لکه لفظ د «صلوة » لغت کښې د دعا په معنی راځی ، مګر شريعت کښې ددې اصطلاحی معنی يو مخصوص عمل دې چه د تکبير نه شروع او په سلام باندې ختميږی .

چنانچه د مذاهبِ اربعه په کتابونوکښې د جهاد اصطلاحی معنی هم د «قتال » ليکلې شوې ده . دلته د فقه حنفی نه صرف يوه حواله نقل کيږی .

قال الامام الكاسانى رحمه الله تعالى: اما الجهاد فى اللغة فعبارة عن بذل الجهد بالضم وهو الوسع والطاقة اوعن المبالغة فى العمل من الجهد بالفتح وفى عرف الشرع يستعمل فى بذل الوسع والطاقة بالقتال فى سبيل الله بالنفس والمال واللسان اوغير ذلك اوالمبالغة فى ذلك. (بدائع الصنائع ص ج)

په دې سره معلومه شوه چه که چرته لفظ د «جهاد» د قتال نه سوا يو بل عملِ صالح «مثل برالوالدين » کښې کله استعمال شوې دې نو هغه مشاکلةً «يعنی چونکه صحابی د «اجاهد» الفاظ استعمال کړل نو دوی صلی الله عليه وسلم د والدينو د خدمت دپاره هم دهغې په مثل «ففيهما فجاهد» اوفرمائيل . لکه څنګه چه «وجزاء سيئة سيئة مثلها» کښې د عذاب دپاره مشاکلةً د سيئة لفظ استعمال شوې دې » يا مجازاً استعمال شوې دې . لهذا د قتال نه سوا دير بل عمل

دپاره د لفظ جهاد استعمال مجازاً خو صحیح دې . لیکن هغه په هغې کښې داسې استعمالول چه اصل معنی بالکل متروکه شي او مجازی معنې لره د جهاد حقیقی مصداق گرځول شروع شي . د اصطلاح شریعت تحریف دې . ددې وجه نه د جهاد آیتونو او حدیثونو لره د اصل او حقیقی مصداق «قتال فی سبل الله» نه اخوا کولوسره د دین په یو بله شعبه باندې حمل کول جائز نه دی . لکه لفظ د «صلوٰة» لره دهغې اصطلاحی معنی «مونځ» نه اخواکولوسره د «دعا» په معنی کښې اخستل اود مونځ په ځائ هم دعا باندې اکتفاء کول جائز نه دی . والله سبحانه وتعالی اعلم .
۱۵صفر ۱۴۲۳هجری

نوې مسلمان د هغه هندو موراو پلار ته حواله کول جائز نه دی

سوال : یو مسلمان هندوه نجلئ وتښتوله . بیا ئې هغه مسلمانه کړه او دهغې سره یې نکاح وکړه . اوس بعضې مسلمانان غواړی چه هغه نجلئ دهغې هندوموراوپلار ته واپس ولیګل شي . آیا شرعاً داسې کول جائز دی ؟ بینواتوجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : چاچه کافره نجلئ اغوا کړه هغه ډیر بد وکړل . مګر دهغې د قبول اسلام نه پس چه کله ئې دهغې سره نکاح وکړه نو نکاح صحیح شوه . اوس هغه مسلمانې نجلئ لره د کافرانو په حواله کول قطعاً جائز نه دی . **قال الله تعالی : «فا ن علمتموهن مؤمنات فلا ترجعوهن الی الکفار۔ الایة» (۶۰ : ۱۰)**

بلکه که چیرې دا نومسلمه پخپله کافرانو ته تلل غواړی نو بیا دې هم هغه پرئ نه ښودلې شي . البته ! وقتی طور باندې والدینو یا محرم رشته دارانو سره په ملاویدلو کښې حرج نشته . والله تعالی اعلم .   ۱۰ رمضان ۹۲هجری

دجاسوس سزا

سوال : کوم مسلمان چه دکافرحکومت جاسوس جوړشي. دمسلمانانوخفیه رازهغوئ ته رسوی یا د کافرحکومت په تعاون باندې دهغه ځائې په مسلمانانو باندې ظلم وکړی اودهغوئ فوج په ظلم باندے اماده کوی. د داسې مسلمان شرعی حکم څه دې؟ آیا دده قتلول جائزدی اوکنه ؟بینواتوجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : که چرې بغیردقتل نه کوم تدبیردده دهدایت دپاره مفید نه وی نوداقتلول جائزدې .

قال الامام القرطبی رحمه الله تعالی : فان کان الجاسوس کافرافقال الاوزاعی رحمه الله تعالی یکون نقضالعهده وقال اصبغ الجاسوس الحربی یقتل والجاسوس الکافر والذمی یعاقبا الاان تظاهراعلی الاسلام

فیقتلان (الجامع الاحکام القرآن ص۳ ج۳) . و کذا قال الامام العربی رحمه الله تعالی (احکام القرآن ص۳ ج ۳). وقال الحافظ العینی رحمه الله تعالی: وقال الداوی الجاسوس یقتل وانما نفی القتل عن حاطب لما علم النبی صلی الله علیه وسلم منه ولکن مذهب الشافعی رحمه الله تعالی وطائفة ان الجاسوس المسلم یعزر ولا یجوز قتله وان کان ذا هیئة عفی عنه لهذا الحدیث۔

وعن ابی حنیفة والاوزاعی رحمهما الله تعالی یوجع عقوبة ویطال حبسه وقال ابن وهب من المالکیة یقتل الا ان یتوب وعن بعضهم انه یقتل اذا کانت عادته ذالک وبه قال ابن الماجشون ـ وقال ابن القاسم یضرب عنقه لانه لا تعرف توبته وبه قال سحنون۔

ومن قال بقتله فقد خالف الحدیث واقوال المتقدمین وقال الاوزاعی فان کان کافرا یکون ناقضا للعهد وقال اصبغ الجاسوس الحربی یقتل والمسلم والذمی یعاقبان الا ان یظاهر علی الاسلام فیقتلان (عمدة القاری ص۳ ج۲) وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی:

وفی المجتبی الاصل ان کل شخص رای مسلما یزنی ان یحل له قتله وانما یمتنع خوفا من ان لا یصدق ان زنی وعلی هذا القیاس المکابر بالظلم وقطاع الطریق وصاحب المکس وجمیع الظلمة بادنی شیء له قیمة وجمیع الکبائر والاعونة والسعاة یباح قتل الکل ویثاب قاتلهم انتهی والفی العاصی بوجوب قتل کل مؤذ۔

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله وقطاع الطریق) ای اذا کان مسافرا ورای قاطع طریق له قتله وان لم یقطع علیه بل علی غیره لما فیه من تخلیص الناس من شره واذاه کما یفیده ما بعده (قوله وجمیع الکبائر) ای اهلها والظاهر ان المراد بها المتعدی ضررها الی الغیر فیکون قوله والاعونة ولسعاة عطف تفسیر اوعطف خاص علی عام فیشمل کل من کان من اهل الفساد کالساحر وقاطع الطریق وللص وللوطی والخناق ونحوهم ممن عم ضرره ولا ینزجر بغیر القتل (قوله والاعونة) کانه جمع معین اوعوان بمعناه والمراد به الساعی الی الحکام بالافساد فعطف السعاة عن قتل الاعونة والظلمة والسعاة فی ایام الفترة قال یباح قتلهم لانهم ساعون فی الارض بالفساد فقیل انهم یمتنعون عن ذلک ایام الفترة ویختفون قال ذلک امتناع ضرورة ولو ردوا لعادوا الی ما نهوا عنه کما شاهدنا قال وسالنا الشیخ ابا شجاع عنه فقال یباح قتله ویثاب قاتله اھ

(قوله الفی العاصی) لعل الوجوب بالنظر للامام ونوابه والاباحة بالنظر لغیرهم (رد المحتار ص۳ ج۳) والله تعالی اعلم ۲۷ جمادی الاخرة ۹۸ھ

آیاخلق جبراً په اسلام کښې داخلولې شی؟

سوال آیا دکافرانوپه زبردستئې په اسلام کښې د داخلولوپاره جهادکول جائزدې اوکه نه؟ د مستشرقینو ددې پروپاګند چه په زبردستئې خلق په اسلام کښې داخلولې شی.. آیا حقیقت دې؟ بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب جبراًدچادمسلمانانولودپاره دجهادعمل یاکوم قسم حربه استعمالول جائزنه دی. قال الله تعالی: (لا اکراه فی الدین قد تبین الرشد من الغی۔ الایة)(۲:۲۵۶) وقال تعالی: (فمن شاء فلیؤمن ومن شاء فلیکفر۔ الایة)(۱۸:۲۹)

داسلام دَدشمنانو داواویلاء چه پیغمبراسلام دتورې په زور باندې خلق په اسلام کښې داخل کړل.یوداسې واضح اوبدیهی دروغ دی چه دتردیدمحتاج ندی. که چیرې په دې خلقو کښې د ذرې برابرعقل اوشعور اود رائې برابرانصاف اودیانت وی نوسوچ دې وکړی چه حضوراکرم صلی الله علیه وسلم کله دنیا والو ته داسلام دعوت پیش کړونودوئ صلی الله علیه وسلم یواځې اوتنهاوو.څوک ددوئ صلی الله علیه وسلم یاراومددګارنه وو. خپل ،خپلوان ئی ټول دشمنان وو. څوکالوپورې دوئ صلی الله علیه وسلم په خفیه طریقه باندې خلقوته دعوت ورکولو اوپه دې طویله موده کښې یوځو ضعیف کسان مسلمانان شول . دیارلس کاله په مکی دَورکښې خودوئ صلی الله علیه وسلم توره اوچته کړې نه ده،په دې حالاتوکښې دا پروپاګند چه دوئ صلی الله علیه وسلم جبراً خلق مسلمانان جوړکړی د دې څه علمی دلیل دې؟ که چیرې اووئیلې شی چه ددوئ صلی الله علیه وسلم وفادارودوستانو داکاروکړو نوسوال دادې چه په دې جابرینوچاجبرکړې وو؟ هغوئې کوم طاقت ددوئ صلی الله علیه وسلم وفادارجوړکړل ؟

ددې ټولو خبرو نه قطع نظرکه چرې دانصاف په نظروکتلې شی نوجبراً څوک مسلمان جوړول ممکن نه دہ. د دې وجې نه چه په جبرباندې دزیات نه زیات چاته زبانی کلمه وئیلې شې. دهغه په لیکن په باطن کښې ئی کفریه عقائدپټ ناست وی نودامسلمان نه دې بلکه دعاموکفارونه هم بدترکافر«منافق» دې.نوددې مخالفینو په قول ګویادوئ صلی الله علیه وسلم عام کفار جبراً منافقان جوړکړه چه په دشمنئ کښې دعاموکفارو نه هم دوه ګامه وړاندې وو.

الغرض دمستشرقینو دا پروپاګند هیڅ حقیقت نه لری. که غورپرې وکړې شی نودا دخپل تردید مترادف دې.والله اعلم

۶،ربیع الاول ۱۳۹۹ھ

دهغوزمکو حکم چه انگریزانودمخالفینونه په زور سره واخلی اوخپلووفاداروته ئې ورکړی

سوال انگریزان چه کله ددې ملک نه تلل نوهغه وخت دمسلمانانودوه ډلې وې یوه دانگریزانو مخالفه دله او دویمه دانگریزانووفاداره ډله . انگریزچه کله اقتدارسنبال کړو هغه وخت دزمکومالکان اوقابضین دانگریزانو مخالف وو. انگریز چه کله ددې ملک نه تلل نوددې نه وړاند انگریزدخپلووفاداردخوشحالولودپاره اودخپلومخالفینونه دآخری انتقام اخستودپاره دخپلو مخالفینو ټولې زمکې خپلو وفاداروکښې تقسیم کړې اولاړل. چنانچه زمکې دانگریزانو د وفاداروپه نوم ثبت شوې اوپه سنه ۱۸۷۲ء کښې دبندوبست په دوران ئې اصل مالکان دمحکمه مال په کاغذاتوکښې جبراً مزارعین ولیکل اودانگریز وفادارئې دزمکومالکان کړل۔

دهغې نه بعد دانگریزانو وفادارو دانگریزانو په مخالفینوباندې هغه ظلمونه وکړل چه په تاریخ کښې دهغې مثال مشکل دې. دمحنت اومشقت کولووالا دانگریزانو مخالف وو او وفادار مخالفینو دهغوئ نه د سزا په طور خاصه حصه جبراً اخستله. تاریخ گواه دې چه دسلهاؤکالونه دزمکې اصلی مالکان دانگریز مخالف وو اوداقبضه تراوسه پورې راروانه ده، کله چه دانگریزانووفاداردبهرنه راغلل او آباد شول نو په سنه ۱۹۵۰ء کښې دسرحد اسمبلئ داصل مالکانونه دزمکودمعاوضې وصولولوسره دوئ ته مالکانه حقوق ورکړل دارنگه زمکې بیا اصل مالکانوته ملاؤشوې .اوس د د پوښتنې ځائ دا دې چه :

(۱) آیا دسرحداسمبلئ فیصله (معاوضه اخستل زمکې اصل مالکانواوقابضینوته واپس کول) صحیح دی اوکنه؟

(۲) آیاانگریزان دخپلومخالفینونه جبراً زمکې وصولولوسره خپلووفاداروته ورکولې شی؟

(۳) دانگریزانو دمخالفینو آبادی د انگریزانو دوفاداراو نه په اکثریت کښې ده او دانگریزانو وفاداران په لگ تعدادکښې دی -

(۴) آیاشریعت ددې خبرې اجازت ورکوی چه دلگې آبادئ له کبله دزیاتې آبادئ نقصان وی اوزیاته آبادی په تکلیف اومشقت کښې مبتلاء کړې شی اوهغوئې بې کوره کړی۔

(۵) آیاپه ملک کښې داسلامی نظام دجاری کیدونه وړاند دټولومقبوضه زمکو تحقیق کولو سره دوباره نوې طریقې باندې تقسیمولې شی؟ اوکه ماقبل قبضې باقی پرېښودلې شی لکه دفتح مکه په موقع باندې حضوراکرم صلی الله علیه وسلم دمهاجرینوهغه زمکې اومکانات په کوموباندې چه کفارو قبضه کړې وه واپس کولوسره دوباره تقسیم کړې۔

(۶) آیاکله چه دانگریز تقسیم صحیح شی اودسرحداسمبلی قانون غلط شی اوزیاته آبادی

په مشقت کښې مبتلاء کولې شی ددې نه بعدهم زمکې د نګریزانو دوفادارونه خې وریځته حکومت او دمزارعت هم نشی قبلولې. ددې نه بعد هم د نګریزانو وفادارانو دمخالفینو قبضه ختمول غواړي او مخالفین قبضه ورنه کړی نو آخری خبره دجنګ او جدل نه علاوه کومه دویمه بل صورت هم نشته چه په هغې باندې عمل وکړې شي. آیا یو مسلمان قوم دبل مسلمان قوم سره صرف دزمکې دوجې نه جنګیدې شی؟ آیا په شریعت کښې په دې معامله باندې دجنګ او قتال جواز شته؟ همدا رنګ کوم خلق چه دسرحد اسمبلی فیصله غلطه ګڼی او زیاتره آبادی په مشقت کښې مبتلاء کوی ددې وجې نه عندالله وعندالناس ددوی مؤاخذه کیږی اوکنه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د کافرحکومت داصل مالکانونه زمکې اخستل ظلم وو. د استیلاء سره له دې نه د استیلاء دوجې نه حکومت ددې زمکې مالک شو. لیکن حکومت دا زمکې خپلووفادارونه په طوردرشوت ورکولې. اومرتشی درشوت مالک نه جوړیږي. دې وجې نه هغه زمکې قانونًا دحکومت په ملک کښې دی. دهندوستان دتقسیم په وخت دا زمکې دپاکستان دحکومت ملک ته منتقلې شوې. لهذا دحکومت سابقه مالکانو لره دمعاوضې اخستلو سره زمکه ورکول صحیح شول اوددې بیع دوجې نه سابقه مالکان بیامالکان جوړشول. دانګریزانو د وفادارو قبضه کول ناجائز. حرام اوظلم دې. مالک ته اختیاردې چه هغه دغاصب اوظالم نه خپله دفاع وکړی، که چرې په دې کښې دا وه وژلې شو نوشهیددې. لقوله علیه الصلوة والسلام من قتل دون ماله فهو شهید. اوکه چرې دغاصب نه دفاع بغیر دهغه دقتل نه ممکن نه وی نو دهغه قتل کول جائزدی والله تعالی اعلم ۱۳رجب۱۴۱۲هـ

دجنګ په ورځوکښې نقل مکانی

سوال دجنګ په دوران کښې سرحدته نزدې اوسیدونکو خپل مقامات پریښودل او د امن خائې ته منتقل کیدل شرعاجائزدې اوکنه؟ بعضې حضرات فرارعن الوبء باندې قیاس کولو سره دیته ناجائز وائی. آیا دهغوئ خیال صحیح دې؟بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دحاکم په رائې باندې عمل کول واجب دی. که چرې دحکومت دطرف نه ممانعت نه وی نومنتقل کیدل جائزدې. په وباء باندې قیاس کول صحیح نه دی والله تعالی اعلم

۱۳، رجب ۱۴۱۲ هـ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

﴿ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِي ارْتَضٰى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ اَمْنًا ﴾

اسلامي سیاست

- دموجوده سیاست یوه سرسری څیړنه
- دهغې په جهانی مفاسدو او قباحتو او وتباه کوونکو نتائجو باندې انتهانی سنجیده تنقید
- د غربی مفکرینو له جملې نه د معتدل نظرو اعتراف
- داسلامی سیاست تنقیح. دهغې طریقه، کاراودهغې نه چه کوم مشکلات په نظرراخی دهغې حل
- د قرآن . حدیث او سلیم عقل په رڼا کښې یو ځانګړې تحقیق

اسلامی سیاست

- د سیاسی مصالحو په خاطرد شرعی منکراتو ارتکاب جائز ندې
- قرآنی نصوص
- نبوی ارشادات
- سلیم عقل
- د حضرت حکیم الأُمت قد سره سیاسی افکار
- په اسلام کښې د سیاست مقام
  - شخصی حکومت
  - حکمرانی یوه ذمه داری ده ، حق ندې
  - د حکومت فرائض
- د دین د اقامت لپاره د سیاسی کوششونو شرعی حیثیت اودهغې حدود
  - سیاسی کوششونه او د اخلاقو تزکیه
  - قطع تعلقات او د لاریونونو شرعی حکم
  - بهوك هرتال (یعنی د لوږې اعتصاب)
  - د پروپاګند او تبلیغاتو موجوده ذرائع
  - له حکومت سره طرز عمل
  - دحکومت دغیر شرعی قوانینو او اقداماتو خلاف کارکردګی
  - دحکومت خلاف راوتل

د اسلامی حکومت قائمولو دپاره د اسلام دکوم حکم خلاف ورزی جائزنه ده

سوال کوم سیاسی جماعتونه چه دحکومت اسلامی دقائمولو دجد وجهد دعوې کوی دهغوی سربراه اوارکان دشریعت خلاف قسم قسم ترکیبونه اوسیاسی چلونه ایجادکوی۔ددوئ حکومت عملی. دمصلحت اوسیاست په نوم باندې حلال اودجائزثابتولو کوششونه کوی .په خپل دې تحریف باندې دکعبې په باره کښې دحضورصلی الله علیه وسلم ارشاد **(لولاان قومك حديث عهد بكفر الحديث)** نه استدلال کوی.آیاددوئ داخیال اواستدلال صحیح دې ؟ په دې موضوع باندې په تفصیل سره رڼا واچوئ دأمت راهنمائی اوفرمایئ. بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : داحقیقت خوهرکس پیژنی چه ددُنیوی مصلحت اونفع دپاره گناه کول یاکوم فرض اوواجب پریښودل جائزنه دی. مثلاً کوم سړې ددُنیوی نفع دپاره دروغ اووائی. دهوکه ورکوی. مونږ نه کوی یاجماعت پریږدی نوظاهره ده چه داسې کول فسق اوحرام دی دارنگه دکوم دینی مصلحت دپاره هم دکوم معصیت ارتکاب حرام دې۔الله اودهغه درسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت په ټولومصالحوباندې مقدم دې اوأم المصالح دې- په دې باندې ټول مصالح قربانولې شی. مثلاً کوم سړې سنیمایا د سود په ذریعه دې وجې نه رقم کموی چه دې نه دینی مدارس چلیږی- یاپه دې نیت رقص کوی. چه خلق جمع شی بیاده ته وعظ اوکړې شی-داسې کول ډیره سخته گناه اونهایت خطرناکه گمراهی ده-

البته که چرې کوم کار شرعاً نه فرض دې نه واجب بلکه صرف مباح یامستحب دې. دادکوم دینی مصلحت مثلاً عوامو دفتنې یامعصیت یاتکلیف نه دبچ کولو دپاره پریښودل جائزدی. لکه څنگه چه حضرات فقهاء رحمهم الله تعالی لیکلی دی چه که چرې په تراویحو کښې خلقوته ملال او ستړیا وی نودهغوئ په رعایت باندې په آخره کښې درودشریف مختصرکول اودُعاپریښودل جائزدی۔

قال العلامة الحصكفي رحمه الله ويزيد الامام على التشهد الا ان يمل القوم فياتي بالصلوات بالّلهم صل على محمد لانه الفرض عند الشافعي رحمه الله تعالى ويترك الدعوات (ردالمحتار ص ج)

مصلحة دمستحب یامباح پریښودلوکښې هم داشرط دې چه په دې سره قانون شرع کښې تحریف اومداخلت فی الدین نه شی کیدې. مثلاً دامستحب یامباح کار اعتقاداً یاعملاً حرام گنې یادکوم مباح شرعی دممانعت قانون جوړکړې شی۔

ددې نه معلومه شوه چه دکوم مصلحت په بنا باندې نکاح ثانی یادصغرسنه نکاح باندې دپابندئ

قانون لګول جائزنه دي- حالانکه نکاح ثاني اوپه صغرسني کښې نکاح کول فرض یاواجب نه ده صرف مباح ده-

نکاح امرشرعی دي دې وجې نه په دې باندې پابندی لګول مداخلت فی الدین دې. څکه دیومباح شرعی سره عملاً دحرام په شان معامله کولې شی چه جائزنه ده

هو ! که چرې دامورانتظامیه په متعلق کوم داسی قانون جوړکړې شی نودامداخلت فی الدین نه دی. دې وجې نه جائزدې. مثلاً چپ طرفته تللو یاخی طرفته تللوقانون یاصرف دیوطرف لاره متعینول اودټریفک سره متعلق نورضوابط-

دارنګه که چرې کومه محکمه په انتظامي مصلحت باندې دخپلو کارکنانو دپاره دپرتوګ یا پاجامې داغوستلو قانون جوړکړی او د تهبند نه ئې منع کړی نودا ددې وجې نه جائزدې چه دا د امورشرعیونه نه دې .دې وجې نه داسې پابندی لګول مداخلت فی الدین نه دی-

کعبة الله دسره نوې تعمیرچه دهغې په سوال کښې ذکر شوې دې داهم دامورانتظامیؤدقبیلې څخه ده. شرعاً دا ترمیم نه فرض وونه واجب، حتی چه دامستحب ګڼل هم مشکل ده، دې وجې نه چه حطیم په کعبه کښې داخلول اودروازې لاندې راؤړل اودوه دروازې جوړول. دا أمورداسې دی چه په دې کښې داستحباب څه وجه نشته،صرف دراحت اوآرام مصلحت وو چه دامورانتظامیؤنه دی. البته په عبادت کښې دسهولت دذریعې کیدودوجې نه دې ته مستحب لغیره وئیلې شی - علی سبیل التنزل مستحب لعینه کیدل دې هم تسلیم کړې شی لکه څنګه چه دامورمذکورونه په امراول کښې ظاهرده نو زیات نه زیات دومره خبره ثابته شوه چه حضوراکرم صلی الله علیه وسلم خلق دفتنې دبچ کولواودهغوئ داسلام دحفاظت دپاره یومستحب کارپریښودلو، دا له کوم ځائ نه ثابته شوه چه دکوم مصلحت دپاره دفرائضواوواجباتو اوارتکاب سیئات هم جائزدې؟-

چنانچه حافظ ابن حجر رحمه الله تعالی ددې واقعې نه دانتیجه اخلی او فرمائی-

وان الامام یسوس رعیته بما فیه اصلاحهم ولو کان مفضولاً مالم یکن محرما (فتح الباری ص ج)

امام بخاری رحمه الله تعالی هم په دې حدیث باندې داباب قائم کړې دې

باب من ترك بعض الاختيار مخافة ان يقصر فهم بعض الناس فيقعوا في اشد منه-

یعنی افضل اومختارکارئې ددې اندیښنې نه پریخودو چه خلق دکم فهمئې دوجې نه په کومه فتنه کښې مبتلانه شی-

حاصل داچه دکوم مصلحت په خاطر مستحب کارخوپریخودې شی لیکن دحدودالله نه تجاوز اودشریعت دقانون نه خلاف ورزی هرګز جائزنه ده-

... سلسله کښې یو څو واقعات ذکرکولې شی چه دهغې څخه ثابتیږی چه حضوراکرم صلی

الله علیه وسلم اوحضرات صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم داحکام شرعیۀ په مقابله کښې نوم اونشان مصالح هم داعتبارقابل نه شی ګڼلې.

(۱) حضوراکرم صلی الله علیه وسلم دحضرت زینب رضی الله عنها سره دنکاح اراده اوفرمائیله چه بلاشبهه مباح اوجائزه وه . لیکن د دوئ صلی الله علیه وسلم په زړه کښې خیال پیدا شو چه عوام دمتبنی ښځه حرامه ګڼي دې وجې نه ددې نکاح نه فتنه پیدا کیږی. جدیدالاسلام خلق دطعن اوتشنیع کولوسره خپل ایمان بربادوی – اوددین اسلام نه خلق متنفرکیږی. په دې باندې دالله تعالی دطرف نه تنبیه نازله شوه. ﴿وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَاهُ﴾ (۳۳-۳۷)

بالآخره الله تعالی دحضوراکرم صلی الله علیه وسلم نکاح دحضرت زینب رضی الله عنها سره وکړه دفتنې هیڅ پروائې ونه کړه. دې وجې نه چه د مباح دپرېښودلونه ددې ضروری مسئلې عملی اظهار وشی چه د متبنی ښځه حقیقةً انګور نه جوړیږی اوددې سره نکاح حلاله ده.

ددې مباح په ترک کښې التباس فی الدین بلکه دتحریف فی الدین خطره وه دې وجې نه ددې دترک اجازت نې ورنه کړو.

(۲) دقبلې په تحویل کښې دیهودودطرف نه دسخت مخالفت اوفتنې اندیښنه وه ددې نه علاوه دا په اسلام کښې اوله نسخ وه دې وجې نه دخلقودارتداد ډیره خطره وه . ددې باوجود دالله تعالی دطرف نه تنبیه نازلیږی. ﴿وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم مِّن بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ إِنَّكَ إِذًا لَّمِنَ الظَّالِمِينَ﴾ (۲-۱۴۵)

چنانچه حضوراکرم صلی الله علیه وسلم دکوم مصلحت پرواکولونه بغیرپه حکم الهی باندې قائم اودائم وو.

(۳) دحضوراکرم صلی الله علیه وسلم دوفات نه بعد فوراً هرطرفته ارتداد وغیره ددیروفتنو ډیره غټه پیمانه باندې سلسله شروع شوه. حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته داستحکام خلافت نه وړاندې ددې ټولوفتنونه صرف نظر کول پکار وؤ. بې وخته دجهاد یوځومحاذونه پرانستل شو. په دې فتنوکښې یوفتنه دداسې اعرابو هم وه چه دائې وئیل چه داموال ظاهرو دزکاة وصولولو حق صرف حضورصلی الله علیه وسلم ته وو. ددوئ نه بعد کوم خلیفه ته داحق نه حاصلیږی.

حضرت ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه دهغوئ سره هم دجهاد فیصله اوفرمائیله نوحضرت عمررضی الله عنه اونوروصحابه کراموړضی الله تعالی عنهم عرض اوکړو چه اوس خو ستا دخلافت ابتداء ده. استحکام حاصل نه دې. هلته ځلوروطرفونوته بغاوت خورده بوځومحاذونه کولاؤشوی دی. مصلحت دادې چه ته په دې وخت کښې دجهاد نوې محاذ خلاص نه کړې. هغوئ

نه همدي حال برېږدي. اُمید دي چه دغه مودي نه بعد به داخلي زکاه به بېت المال کښې داخل کړي
حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه ددي سختوخطرو باوجود دغلوروسوز نه د زیاتو مخالفتونو څه پروان ونه کړه. اودمصلحت ترتولو د لوړي حصې (جهاد) اعلان ئې وکړو بالآخر حضرت عمر اونورصحابه کرام رضی الله تعالی عنهم هم اقراروکړو چه زما دحضرت ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه په اعلان جهاد باندي شرح صدرشوي ده۔

(۴) دحضرت عمررضی الله تعالی عنه په دورخلافت کښې دغسان بادشاه جبلة بن ایهم مسلمان شو. هغه طواف کولو په معمولی خبره باندي ئې یواعرابی په سپېړه اووهلوچه دهغې له کبله دده غابښ مات شو. هغه دحضرت عمررضی الله تعالی عنه سره مقدمه درج کړه. حضرت عمررضی الله تعالی عنه په قصاص کښې دهغې بادشاه دغابښ ماتولوفیصله اوفرمائیله. حالانکه مصلحت داؤ چه دده نه قصاص وانه خستلې شی څکه چه دده دوجې نه اسلام اواهل اسلام ته غټ شوکت حاصل وو. داهم ممکن وو چه صاحب حق ته وه وایی چه معاف ئې کړه. لیکن حضرت عمررضی الله تعالی عنه په زړه کښې دیولمحې دپاره هم داخیال تیرنه کړو. دوئ داسلام فیصله صفا واؤروله چه صاحب حق راضی کړه ګینې قصاص اخستلې شی. هغه دسوچ کولومهلت اوغوښتو. ملاؤشو اوهغه شپه په شپه مرتدشو اوتختیدو۔

غرض داچه دکوم مصلحت په خاطر دمعصیت ارتکاب هرګزجائزنه دې. البته شریعت کښې د لوئ محظور (ګناه) نه دبچ کیدودپاره وړوکې محظور کولې شی۔ مثلاً کوم سړې مونځ کوی . اخوا څوک نابینا په کوهی کښې غورځیږی نومونځ ماتول او دهغه بچ کول فرض دی۔ حالانکه په عامو حالاتو کښې مونځ ماتول ګناه ده لیکن دیوغټ مصیبت نه دبچ کیدودپاره ئې دااختیارکړه. په داسې صورت کښې اهون البلیتین یعنی دعظیم ضرر د دفع کولودپاره دلګې درجې ضررئې اختیارکړو۔

ددې فیصله چه دبلیتینونه کوم یو اهون او سپك دې دهرکس کارنه دې. څکه چه عامو اوقاتو کښې انسان اتباع هوی، عصبیت یادحُب مال اوځائ په بناء باندې غیراهون، اهون ګڼي۔ دې وجې نه دافیصله صرف هغه څوك کولې شی چه په علوم اسلامی کښې دپوره مهارت نه علاوه په دیانت اوتقوی کښې هم اعلی مقام ولری . بلکه په اهمو اموروکښې د دغه رنګې علماؤ د جماعت فیصله ضروری ده۔

د اهون البلیتین کلیات شریعت بیان کړی دی. ددې کلیاتوپوره احاطه . ددې مفهوم په صحیح طورباندې پیژندل. بیا مخې ته راتلونکې جزئې په باره کښې دافیصله کول چه داپه کومه کلیه کښې داخله ده اوکه نه؟ که چرې داخله وی نوبه کومه کلیه کښې داخله ده؟ ددې اُمورو دپاره به

علوم دینیه کښې مهارت تامه. دویرې اوچتې درجې تدبر او تفقه او تدین او تصلب ضرورت دې
که چرې دکوم ناجائز کار په باره کښې دبه غور او سوچ نه بعد دا متحقق شی چه هغه دغه کار
اهون البلیتین وګنلو او اختیار ئې کړو نود دې وضاحت بلکه په عمومی حالاتو کښې ددې باربار
اعلان ضروری دې چه داکار ناجائز دې مګر دشرعی ضرورت په اساس مونږ هغه اختیار کړې دې.
که چرې دا وضاحت ونه کړې شی نو عامة المسلمین به بیا داګناه. ګناه نه ګڼي اوچرته چه شرعی
مجبوری نه وی هلته به هم ددې ارتکاب کولې شی.
ددې واضح مثال تصویر اخستل دې. چه دهغې حرام کیدل متفق علیه دې. لیکن حکومت دهغ
اوشناختی کارډ دپاره تصویرلازم ګنلی دې. ددې ضرورت شدیده لاندې علماؤ ددې اجازت
ورکړې دې. بلکه په دې خاصه موقع کښې داجازت باوجود دهغې په شدت سره ددې حرمت لیکل
اوتقریراً بیانول غوښتل . په دې اندازه ونه شو. بلکه دبعض علماؤ په طرزعمل باندې مسلمانانو
دا ګناه کبیره جائزګڼلې ده . ځکه چه ددې علماؤ تصویران اخستلې شی نوهغوئ ئې نه منع کوی
.په اخباراتو وغیره کښې ددوئ تصاویر شائع کیږی لیکن دوئ په دې معصیت باندې د انکار هیڅ
یوحرف هم ونه وئیلو . ددې نه عوام دا ګڼي چه داځه ګناه نه ده.
داحال دتیلی ویژن دې.صرف دانه دې چه علماء په دې باندې انکار نه کوی بلکه ډیرعلماء په
خپله په دې کښې مبتلاء دی چه دهغې په وجه باندې دعوامودزړونونه ددې قباحت ویستلی دی
اودوئ هغه جائزګڼي.
حاصل دا دې چه په کوم دینی یادنیوی مصلحت باندې دکوم معصیت ارتکاب جائزنه دې نن
سبا دسیاسی خلقو داخیال دې چه سیاسی کارکولو کښې جائزاوناجائز کتلوته ضرورت نشته
داسرامرغلطه خبره ده. مسلمان خوهغه دې چه په هرقدم باندې دالله تعالی د رضا خیال وساتی
او د هغه دقائم کړې شوی حدودو نه لګ شان هم تجاوز ونه کړی. کوم خلق چه د سیاست کارصرف
د اقتدار دحصول دپاره کوی اودده دملک ددینی اودنیوی فلاح سره څه غرض نه وی او هغه په
سیاسی کارکښې داسلام احکام محفوظ ونه ساتی نو دا دکوم تعجب خبره نه ده. حیرانتیا خو په
هغه حضراتو باندې دې چه دادعوی کوی چه «په موجوده سیاست کښې دحصې اخستونه زمونږ
مقصود ملک کښې د صحیح اسلامی نظام قائمول دی» لیکن بیاهم هغوئ په سیاسی کارونو
کښې داسلام داحکامو پروانه کوی. غیرمشروع تدابیر اختیاروی . کله چه دوئ ته وئیلې شی
«تاسوخو د اسلامی نظام قائمولو دعوه کوله لیکن تاسو په خپله داسلام نافذولودپاره کومې
طریقې اختیاروئ چه هغه غیراسلامی اوناجائزې دی»
نوجواب ورکوی چه «اګرچه دا طریقې ناجائزې دی لیکن ددې نه بغیر اسلام راوړل ممکن نه
دی. دې وجې نه اوس خودجائزاوناجائزپرواکولوته بغیر داقتدارحاصل کولوجدوجهد لازم دې.

داقتدار حاصل کیدو نه بعد په پوره طورباندې اسلام نافذ کړو»

دامحض دهوکه ده. مونږته ددوئ په نیت باندې شبهه نشته. لیکن دده طریقه کارداسې دې چه په دې سره دنفاذ اسلام توقع هرګزنه شي کیدلې. ځکه چه په غیراسلامي طریقو باندې دې دینوکامیابي خوممکنه ده لیکن دیندارو ته اولاً خو کامیابي نه کیږي. او که چرې صورةً کامیابي هم وی لیکن ددې په نتیجه کښې اسلام نه راځي بلکه داسلام په نوم کوم بل کارکیږي. اوصورةً چه کومه کامیابي کیږي هغه هم دیو خوور خونه وړاندې نه ځي. کله چه دده بنیاد کمزورې وی نوپه دې باندې دعمارت په شان مضبوط شې به څنګه قائم شي؟

عقل. نقل اومشاهده دټولومتفقه فیصله ده چه دالله تعالی نافرمانی کولوسره مسلمانانوته هرګز. هرګزکامیابي نشي کیدې.

که چرې کله غیرمشروع اوناجائز طریقوباندې کفارواوفساقو ته کامیابي شوی وی نوپه دې باندې دمسلمانانو قیاس کول غلط دی ځکه چه دمسلم اوکافرطبعي تکلیف اوپه مزاج کښې یې دزمکه اودآسمان فرق دې- کیدې شي چه یونسخه یومزاج ته مفیده اوبل مزاج ته مضره وی لکه چه یو قصه مشهوره ده:

«بهنګی دعطرددوکان خواته تیریدلو دده دماغ چه دپاخانې (غټ بول) بدبوئې سره مانوس وو خوشبوئې برداشت کولې نه شوه دې وجې نه بیهوشه شو، ډیرعلاجونه ئې وکړل لیکن ټول ناکام شول.دده ورور د دې خبرې نه خبر شو نوهغه په یوشیشه کښې ګندګی واچوله، راثې وړه دده دپوزې ته ئې نزدې کړه، هغه فوراً په هوش کښې راغې»-

همدارنګه دکفارو او فساقو دماغ دمعصیت دتعفن نه ډک دی، دې وجې نه هغوئ ته دا حرام او ناجائز کارونه او بدبو نافع دی، په خلاف دمسلمان چه داشهزاده دې دده دماغ نهایت صاف اوپاکیزه دی. ده ته خوصرف داحکام شرعیه خوشبو ورکولې شي ، کوم احمق شهزاده ده لره په بهنګی باندې قیاس کړو او هغه ګندګی یې په ده باندې بوئ کړه او وې ویل چه په دې سره دشهزاده دماغ کولاویږي-

مسلمانان په کفارواوفساقو باندې قیاس کول غلط دی چه کوم څیز ده ته نافع دې هغه دده دپاره هم نافع دې. دا بوج بجهکړ په شان قیاس دې چه د ده په دماغو کښې د یوسړی د ونې نه د راکوزیدلو لپاره موجود وؤ . قصه داسې پیښه شوه چه.

«یو سړې په ونه کښې وختلو اود راکوزیدوهمت ئې نه وو. خلقوته ئې آوازکړ. هغوئ جمع شول اومختلف تدبیرونه بیان کړل لیکن اطمینان ئې ونه شو. بالآخره ئې فیصله وکړه چه دا فیصله دې بوجه بجهکړ یوړې شي، ځکه چه هغه په کلی کښې دټولونه زیات عقلمند دې. هغه ته ئې درخواست اوکړو نوهغه په موقع باندې را ورسیدلو او وې ونیل چه تاسوټول بې عقله یئ. زمانه

بغیر دیومعمولی غونټې خبرې حل نه شي را ایستلې. ددې خو ډیرآسان تدبیردې. یواوګده رسئ ددې سری په طرف ور واچوئ هغه دې دغه رسئ دخپلې ملانه څه کلکه وتړی. بیادې لاندې خلق په څه زور باندې راکاږی. په ډیره آسانئ به لاندې راشی -

چنانچه دوئ همداسې وکړل. هغه سړې په داسې شده سره وغورځیدلو چه هډوکی ئې مات شول اومړشو. خلقو بوجهه بجهکړ ته اووئیل چه دادې څه وکړل؟ هغه جواب ورکړو چه ددې سری قسمت خراب وو اوکه نه نو ما ډیر خلق په دې طریقې سره له کوهی نه راویستی دی-»

څنګه چه د دې بوجهه بجهکړ دونې ختونکی والاپه کوهی کښې دغورځیدووالا باندې قیاس کول صحیح نه دې. دغه رنګ دمسلمانانوپه کفاروباندې قیاس کول غلط اومهلک دی. کفار لاندې دی اومسلمانان په اوچته باندې.کفارچه دکومو تدابیرو په ذریعه دلاندې نه د اوچتې په طرف راتلو کښې کامیابیږی که چرې هغه تدابیرمسلمانان اختیارکړی نود اوچت ځائ نه به لاندې اوغورځیږی-

په خپلیو کښې که نجاست ولګی نوهغه نه وینځل کیږی لیکن که په توپئ کښې که دکوم څیز لګ غونټې هم ګرد ولګی نوفوراً ئې اوڅنډی. دالله تعالی په نزدمسلمان دتوپئ په شان معزز دی اوکفار د څپلیو په شان ذلیل –

مسلمانانوته په معصیت سره هرګزکامیابی نه حاصلیږی. دجنګ احدواقعه دې وکتلې شی چه مسلمانان په کفاروباندې غالب راغلی وو لیکن په یوې اجتهادی غلطئ باندې ددوئ فتح په شکست باندې بدله شوه . الله تعالی فرمائی :

﴿حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلۡتُمۡ وَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ وَعَصَيۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنۡيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۚ﴾ (۳-۱۵۲)

په دې آیت کښې دشکست سبب معصیت ګنړلې شوې دې. باقی څیزونه یا د هغې افراد دی او یا د هغې اثر دې ، دې ته معصیت وئیل دظاهری صورت په اعتبارباندې دې. په حقیقت کښې داخطا داجتهاد دقبیلې څخه ده. واقعه داسې شوې وه چه «حضوراکرم صلی الله علیه وسلم تقریبًا پنخوس صحابه کرام رضی الله عنهم په یومورچه باندې مقرراوفرمائیل داتاکیدئې ورته فرمائیلې وو چه مونږته فتح وی اوکه شکست دا ځائ به نه پریږدئ' لیکن کله چه دوئ ولیدل چه مسلمانان فاتحان شول. نومال غنیمت جمع کولودپاره ئې دا مورچه پریخوده. کفارودې جانب نه حمله وکړه اودمسلمانانوفتح په شکست باندې بدله شوه »

حالانکه دحضرات صحابه کرام رضی الله عنهم مقصودبالذات دنیانه وه بلکه مقصودئې تولو مسلمانانوته دنیوی نفع رسول وو چه په یواعتبارباندې دین دې. اوکه نه نو که چیرته صرف ئې

دخان دپاره دنیا جمع کول مقصود وای نو ددې دپاره دمورچې بر... ضروري نه وو. ځکه چه شرعي قانون دادې چه په مال غنیمت کښې هغه سړې هم شریک دې چاچه مال غنیمت نه وی جمع کړې لیکن دجنګ دکارونو نه په کوم کارکښې مشغول وی

ددې نه ثابته شوه چه هغوئ ته دنیامن حیث الدنیا مقصودنه وه بلکه ددې نه ئې هم آخرت مقصود وو. دې وجې نه یې اوفرمایل چه ﴿مِنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ الْآخِرَةَ﴾ اود (من یریدالآخرة) معنی ده من یریدالآخرةالصرفة.

ددې نه علاوه دامطلب هم کیدې شی چه حفاظت هم دآخرت عمل وو اومال غنیمت جمع کول هم. لیکن ددې حضراتودپاره دمورچې حفاظت عمل زیات اهم وو.اوددین اهم کارئې پریخودل په غیراهم کښې مشغول کیدل جائزنه دی.ددې حضراتو د اجتهادی غلطئ سره ناجائزکاراوشو. چه د هغې بی په «دنیا» باندې تعبیراوفرمائیلو.د «دنیا» دمختلفو معانیو نه یوه دا هم ده چه هر ناجائز کار«دُنیا» دې ـ

ددې نظیرد حضرت سلیمان علیه السلام قصه ده. «دوئ دجهاد په نیت دبهترین نسل آسونه پالل. یوځل دې د آسونو په معاینه کښې دومره یات مشغول شو چه دهغه وخت کوم اهم معمول او وظیفه ترینه پاتې شوه. نو دهغې په باره کښې اوفرمائیل چه ﴿إِنِّي أَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَن ذِكْرِ رَبِّي﴾ ۳۱-۳۸.

ددې خبرې مطلب همدادې چه د آسونومعاینه هم اګرچه دآخرت عمل وو لیکن بل معمول چه کوم وو هغه زیات اهم وو.د «حب‌الخیر» دا فرد فی نفسه محموداومقصوددوومګردبل زیات اهم معمول دترک کیدوباعث دجوړیدلو له وجه نه قبیح اومذموم شو . دحضرت سلیمان علیه السلام د ارشاد دامطلب دې چه دا «حب الخیر» چه اصالةً اوابتداءً محمود اومقصود وؤ. هغه انتهائ بوج. عارض او مذموم شو. معمول متروک که چرې فرض هم وی نوبیا هم چونکه د ذهول اونسیان له وجې نه ترک شو دې له دې وجې نه دعصمت منافی نه ده

غرض داچه دصحابه کرامو دغه اجتهادی غلطی هم دفتح نه مانع جوړه شوه. حالانکه صحابه کرام رضی الله عنهم ته دحضوراکرم صلی الله علیه وسلم معیت هم حاصل وو اوکومه غلطی چه دهغوئ نه صادره شوه په هغې کښې ددوئ نیت هم معاذالله بدنه وو بلکه دغه عمل د دوئ هم دآخرت په نیت وو

دغه رنګه په غزوۀ حنین کښې د صحابه کرام رضی الله عنهم په زړونوکښې دخپل کثرت ناز غونتې نشه راغله. صرف په دومره خبره ئې اولاً شکست وخوړلو

کله چه دصحابه کرامو رضی الله عنهم داجتهادی لغزش له فتحې نه مانع جوړشو نو د نن سبا دمسلمانانو غلطیانې به ددوی په کامیابئ کښې ولې مانع او خنډ نه جوړیږی؟

بیا صحابه کرامو رضی الله عنهم اودنن مسلمانانو کښې یوفرق داهم دې چه داخلق معصیت د کامیابئ ذریعه ګنې. له دې وجې نه ددوی طریقه ټې کارغلط دې. دحضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم طریقه کارصحیح وه، اتفاقًا به دې کښې اجتهادی خطاشامله شوې وه.

په جهاداونوروديني اوسیاسی کارونوکښې کامیابی اودثابت قدمئ حاصلولوطریقه هم داده چه دالله تعالی دنافرمانئ نه انسان بچ شی. او دهغه اطاعت وکړی. په دې باره کښې الله تعالی، حضوراکرم صلی الله علیه وسلم اوحضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم ته یوخوصریح ارشادات اوواضحه فیصلې پیش کړی (۱) ﴿وَأَوْفُوا بِعَهْدِي أُوفِ بِعَهْدِكُمْ وَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ﴾ (۲: ۴۰)

«یعنی تاسوزماعهد پوره کړئ زه به ستاسو عهد پوره کړم اوصرف له ما نه وه ویریږئ»

(۲) ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿١٥٣﴾﴾ (۲: ۱۵۳)

«اې مؤمنانو! په صبراومونځ سره مدد حاصل کړئ. بیشکه الله تعالی دصبرکولووالاسره دې»

دصبرحقیقت په دین باندې استقامت اود حدودالله حفاظت دې.

(۳) ﴿۞ لَّيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا ۖ وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ ۗ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾﴾ (۲: ۱۷۷)

«ټول کمال په دې کښې نه دې چه تاسو خپل مخونه مشرق ته کړئ یامغرب ته. لیکن کمال خو دادې چه څوک انسان په الله تعالی باندې یقین وکړی اودقیامت په ورځ باندې اوپه فرښتو باندې اوپه کتابونو باندې اوپه انبیاؤ باندې، اومال ورکوی دالله په محبت کښې رشته دارانو ته اویتیمانو ته اومحتاجو ته اومسافرو ته اوسوال کوونکو ته اوپه آزادولو دستونو کښې. اومونځ پابندی کوی اوزکاة هم اداکوی، او هغه خلق چه خپل عهد پوره کولو والادی کله چه عهد وکړی. اوهغه خلق چه صبر کوونکی دی په تنګدستئ کښې اوپه بیمارئ کښې اوپه جنګ کښې. هم داخلق ریښتونی دی، اوهم دغه خلق متقیان دی»

(۴) ﴿وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَن تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ (۲: ۱۸۹)

«او په دې کښې څه فضيلت نه دې چه کورونوته دشاطرفه راځئ. لیکن فضیلت د هغه چا دې چه دحرامونه بچ شي. اوکورونوته دهغې ددروازونه راشئ. او دالله تعالی نه بريږئ. اميد دې چه تاسو کامياب شئ»

په دې کښې دتقوی دحکم نه علاوه دطريق اتيان بيوت دتعليم نه هم ثابته شوه چه هرکار دهغه دطريق شرعي په مطابق کول لازم دی. ددې نه خروج جائزنه دې-

(۵) ﴿ وَقَـٰتِلُوا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يُقَـٰتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوٓا۟ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿١٩٠﴾ ﴾ (۲: ۱۹۰)

«اوتاسو جنګيږئ په لاره د الله تعالی کښې دهغه خلقوسره چه تاسو سره جنګيږی اوحد نه مه وځئ. واقعی الله تعالی دحدنه وتونکی نه خوښوی-»

(۶) ﴿ وَقَـٰتِلُوا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱعْلَمُوٓا أَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٤﴾ ﴾

«اوداللہ تعالی په لارکښې جنګ وکړئ اوپوهه شئ چه الله تعالی آوريدونکې او عليم دې»

يعنی الله تعالی ستاسوداقوالواواعمالواونيتونوڅخه باخبره دې. دې وجی نه د جهاد په حالت کښې دکوم مصلحت له وجې نه دهغه درضانه خلاف کوم کارنه دی کول پکار-

(۷) ﴿ فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِٱلْجُنُودِ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ مُبْتَلِيكُم بِنَهَرٍ فَمَن شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّى وَمَن لَّمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُۥ مِنِّىٓ إِلَّا مَنِ ٱغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِيَدِهِۦ ۚ فَشَرِبُوا۟ مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۚ فَلَمَّا جَاوَزَهُۥ هُوَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ قَالُوا۟ لَا طَاقَةَ لَنَا ٱلْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ ۚ قَالَ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَـٰقُوا۟ ٱللَّهِ كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةًۢ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴿٢٤٩﴾ ﴾ (۲: ۲۴۹)

«بیاکله چه طالوت فوجونه واخستل روان شو نودوئ اووئيل چه الله تعالی ستاسو امتحان کوی په يونهر سره. پس څوك چه ددې نهرنه اوبه وڅښی هغه زما په ملګروکښې نه دې اوچا چه هغه په ژبه هم کینه ښودلې هغه زماپه ملګروکښې دې. ليکن څوك چه په خپل لاس يوه لپه ډکه کړی . پس ددوئ نه ديوڅوخلقونه سوا ټولو د هغې نه څښل شروع کړل. پس کله چه طالوت اوکوم مؤمنان چه دده سره وو دنهرنه تيرشول، نو وې وئيلې چه نن خوبه مونږکښې دجالوت اودهغه دلښکر په مقابله کښې طاقت نه معلوميږی. وه وئيل هغه خلقو د چا داخيال وو چه هغوئ دالله تعالی سره مخامخ کيدونکی دی چه ډير ځله وړوکی وړوکی جماعتونه په غټوغټو جماعتونو باندې دالله په حکم غالب شوی دی اوالله تعالی له صبر کونکو سره دې-»

(۸) ﴿ وَلَمَّا بَرَزُوا۟ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالُوا۟ رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا

وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۵۰﴾ (۲: ۲۵۰)

،،او کله چه هغه خلق دجالوت او دده دفوجونوخوا ته میدان ته راغلل نو وې ویل چه اې زمونږه ربه ، په مونږ باندې صبر نازل کړه اوزمونږ قدمونه کلک کړې او مونږ په دې کافرقوم باندې غالب کړې ،،

ددې دعاء دترتیب نه ثابته شوه چه په دین باندې داستقامت نه ثبات د قدمونو حاصلیږی او بیا په کفارو باندې نصرت، لکه څنګه چه په ۱۳ نمبر آیت کښې د دې تصریح راځی چه ثبات د قدمونو او د فتح اونصرت مدار په ترک معاصی باندې دې۔

(۹) ﴿وَإِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا إِنَّ اللّٰهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿۱۲۰﴾﴾ (۳: ۱۲۰)

،،او که چیرې تاسو د صبر اوتقوی سره کل وئ نو دهغې خلقوتدبیرتاسو ته لګ ضررهم نه شی رسولې. بیشکه الله تعالی دهغوئ په اعمالوباندې احاطه کوی،،

(۱۰) ﴿بَلَىٰ إِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُسَوِّمِينَ ﴿۱۲۵﴾﴾ (۳: ۱۲۵)

،،هو ، ولې نه که چرې تاسو صبر وکړو اومتقیان شوئ اوهغه خلق په تاسوباندې یک دم راشی نو ستا سورب به ستاسوسره امداد وکړی په پنځوزرو فرشتو سره چه یوه خاص وضع به جوړوی۔،،

(۱۱) ﴿وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿۱۳۹﴾﴾ (۳: ۱۳۹)

،،اوتاسوهمت مه بیلئ اوغم مه کوئ اوغالب به هم تاسوین که چرې تاسوپوره مؤمنان شئ۔،،

(۱۲) ﴿أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ ﴿۱۴۲﴾﴾ (۳: ۱۴۲)

،،هو ، آیا تاسو خیال کوئ چه جنت ته به داخل شئ حالانکه تراوسه پورې خوالله تعالی هغه خلق کتلی نه دی څوک چه ستاسونه جهادکوی اونه ئ هغه کتلی چه ثابت قدم اوسیدو والاوی،،۔

(۱۳) ﴿وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّا أَن قَالُوا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿۱۴۷﴾ فَآتَاهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْآخِرَةِ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿۱۴۸﴾﴾ (۳: ۱۴۷، ۱۴۸)

،،او د هغوئ دژبونه هم ددې نه سوا نورڅه نه راوتلی چه هغوئ عرض وکړو چه اې زما ربه ، زمونږ ګناهونه اوزمونږ کارونه زمونږ دحدنه وتل را اوبښلې شی او زمونږ قدمونه ثابت کړې اومونږ په کافروخلقو باندې غالب کړې. سواد دې نه الله تعالی دونیاهم بدله ورکړه اودآخرت نی

هم عمده بدله ورکړه. اوالله تعالی دداسې نيکوکاروسره محبت دی»

په دې کښې دالله والاؤ معمول دا وينا ده چه هغوئ دثبات قدمئ اودنصرت الهيه ددعاء غوښتلو نه وړاندې دخپلو ګناهونو اوخطايانو معافي غواړي، ددې نه ثابته شوه چه الله تعالی دوئ په د نيا او آخرت دواړوکښې په فلاح اوکاميابي سره عزتمند کړی وو، اوددې نه ئې هم اوچت کړل دخپل محبوبيت امتياز نی ورته عطاء ورکړو

(۱٤) ﴿ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُۥٓ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِۦ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَٰزَعْتُمْ فِى ٱلْأَمْرِ وَعَصَيْتُم مِّنۢ بَعْدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَ ۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلْءَاخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۖ وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ ۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٥٢﴾ ﴾ (۳: ۱۵۲)

«اويقيناً الله تعالی ستاسوسره خپله وعده رښتياکړيده کله چه تاسو دا کفارد الله په حکم باندې قتلول ، دې پورې چه تاسوپه خپله کمزوری شوئ اوپه حکم کښې مواختلاف شروع کړو اونافرماني مو وکړه دهغې نه بعد چه تاسوته يې ستا سو خواهشات وښودل. ستاسونه بعضو دنياغوښتله اوبعضې نور د آخرت طلبګاروو،بيا تاسو دا کفار وشړل چه الله تعالی ستاسو ازمائش وکړی اويقين وکړئ چه الله تعالی تاسومعاف کړی يئ اوالله تعالی په مسلمانانوباندې دغټ فضل والادې»

ددې آيت تفسير اول ليکلې شوې دې .

(۱۵) ﴿ إِن يَنصُرْكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۖ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا ٱلَّذِى يَنصُرُكُم مِّنۢ بَعْدِهِۦ ۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١٦٠﴾ ﴾ (۳: ۱٦۰)

«که چرې الله تعالی ستاسو سره مدد وکړی نو په ستاسو به هيڅوک غالب نشی اوکه چرې ستاسو سره نه وی نو د د هغه نه بعدداسې څوک دې چه ستاسوسره شی، او په الله تعالی باندې صرف مؤمنانو اعتماد او توکل کوی .

(۱٦) ﴿ ٱلَّذِينَ ٱسْتَجَابُوا۟ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ مِنۢ بَعْدِ مَآ أَصَابَهُمُ ٱلْقَرْحُ ۚ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ مِنْهُمْ وَٱتَّقَوْا۟ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٢﴾ ﴾ (۳: ۱۷۲)

«هغه خلق چه دالله تعالی اودرسول الله وينايې قبوله کړه وروسته له دې نه چه هغوئ ته زخم رسيدلی وو. هغه خلق چه هغوئ نيکان اومتقيان دې هغوئ ته لوئ ثواب دې»

(۱۷) ﴿إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ (۳: ۱۷۵)

,,ددې نه زیاته څه خبره نشته چه داشیطان دي چه خپل دوستان یروی، پس تاسو دهغوی نه مه یریږئ اوزمانه یریږئ که چرې تاسو مؤمنان یئ،،

معلومه شوه چه ددشمن نه دسختې خطرې په حالت کښې هم دحفاظت مصلحت بانديې دکوم کارارتکاب جائزنه دی۔

(۱۸) ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ (۳: ۲۰۰)

,,اې مؤمنانو! په خپله صبر وکړئ اوپه مقابله کښې صبر وکړئ او د مقابلې دپاره مستعد لو تیار اوسئ، اود الله تعالی نه یریږئ چه تاسو پوره کامیاب شئ،،

(۱۹) ﴿وَلَقَدْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًا ۖ وَقَالَ اللَّهُ إِنِّي مَعَكُمْ ۖ لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلَاةَ وَآتَيْتُمُ الزَّكَاةَ وَآمَنتُم بِرُسُلِي وَعَزَّرْتُمُوهُمْ وَأَقْرَضْتُمُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا لَّأُكَفِّرَنَّ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَلَأُدْخِلَنَّكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۚ فَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ مِنكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ﴾ (۵: ۱۲)

,,اوالله تعالی دبنی اسرائیلونه عهداخستې وو اوموږ دهغوی نه دولس سرداران مقررکړل اوالله تعالی دا اوفرمائیل چه زه ستاسوسره یم که چرې تاسو د مونځ پابندی کوئ اوزکوة ادا کوئ اوزماپه تولو رسولانوباندې موایمان راوړو اودهغوی مدد مراوکړو اوالله تعالی ته په ښه طریقه باندې قرض ورکوئ نوزه به ضرور ستاسوګناهونه ستاسونه لرې کوم اوضروربه تاسوبه داسې باغونو کښې داخلوم چه دهغې نه لاندې نهرونه دی اوڅوک چه ددې نه بعدهم کفرکوی نویشکه هغه دنیغې لارې نه لرې لاړو،،

(۲۰) ﴿وَمَن يَتَوَلَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا فَإِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ﴾ (۵: ۵۶)

,,او څوک چه دالله تعالی سره دوستی کوی اودهغه درسول سره او ایمان والاوسره پس دالله تعالی ډله بیشکه غالبه ده،،

(۲۱) ﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم﴾ (۵: ۶۶)

,,اوکه چرې دې خلقو دتورات اوانجیل اوکوم کتاب چه ددوی درب دطرف نه دوی ته رالیږلی

شوي دي پوره تابعداري کړې وای نو دوئ به خوراك كړې له بره طرف نه او لاندې طرف نه »

(۲۲) ﴿وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَىٰ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَٰكِن كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُم بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٩٦﴾﴾ (۷: ۹٦)

«اوکه چرې ددې کلووالا ایمان راوړې وای اوپرهیز ئې کړی وای نوموږ به په دوئ باندې دآسمان اوزمکې برکتونه را خلاص کړی وای . لیکن دوئ تکذیب وکړو نوموږ دوئ داعمالو په وجه ونیول»-

(۲۳) ﴿قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا بِاللَّهِ وَاصْبِرُوا ۖ إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ۖ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٨﴾﴾ (۷: ۱۲۸)

«موسی خپل قوم ته اوفرمائیل چه دالله تعالی نه مدد وغواړئ اوصبرکوئ دا زمکه دالله تعالی ده، دخپلوبندګانونه چه څوک غواړی مالک ئې جوړوی او آخرکامیابی به دهغوئ وی چه دهغه نه یریږی-»

(۲٤) ﴿وَأَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِينَ كَانُوا يُسْتَضْعَفُونَ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا ۖ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ بِمَا صَبَرُوا ۖ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُ وَمَا كَانُوا يَعْرِشُونَ ﴿١٣٧﴾﴾ (۷: ۱۳۷)

«اوموږه هغه خلق چه بالکل کمزوری شمارکیدل دهغه زمکې دمشارقو اومغاربو مالکان جوړکړل په کومه کښې موږه برکت اینښې دې او ستا د رب نیکه وعده دبنی اسرائیلوپه حق کښې دهغوئ دصبرپه وجه پوره شوه اوموږه دفرعون اودهغه دقوم هغه کارخانې اوهغه اوچت عمارتونه چه هغوئ به جوړول هغه مو تول ړنګ کړل»

(۲۵) ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٤٥﴾ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ ۖ وَاصْبِرُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿٤٦﴾﴾ (۸: ٤٥ ٤٦)

«اې مؤمنانو! کله چه تاسو له یوې دلې سره مخامخ شئ نوثابت قدمه شئ اوالله تعالی نه په کثرت سره یادوئ امیدې چه تاسوکامیاب شئ، اودالله تعالی اودهغه درسول اطاعت کوئ او اختلاف مه کوئ کنه نو کم همته به شئ او ستاسو هوا به لاړه شی اوصبر وکړئ بیشکه الله تعالی دصبرکونکوسره دې-»

ددښمن په مقابله کښې ېې دثبات قدمی نسخه اوفرمائیله «کثرت ذکر» اوذکرالله روح دادې چه دالله تعالی سره تعلق مضبوط وی، اوتعلق مع الله دمعصیت نه مانع دې. بیاوراندې دنور تاکید دپاره دالله تعالی اودهغه درسول الله صلی الله علیه وسلم د اطاعت تصریح ېې هم اوفرمائیله ددې نه علاوه یې په مینځ کښې دتنازع نه منع اوفرمائیله، اوبل ځائ کښې ئې دتنازع نه دمنع طریقه داسې فرمائیلې ده: ﴿فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ﴾ (۴: ۵۹)

یعنی دالله تعالی اودهغه درسول صلی الله علیه وسلم اتباع کوئ

(۲۶) ﴿وَإِن يُرِيدُوا أَن يَخْدَعُوكَ فَإِنَّ حَسْبَكَ اللَّهُ هُوَ الَّذِي أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِ وَبِالْمُؤْمِنِينَ ۝﴾ (۸: ۶۲)

«اوکه چرې هغه خلق تاته دوکه درکول غواړی نوالله تعالی ستا دپاره کافی دې. الله تعالی هغه ذات دې چاچه تاته په خپل امداد باندې اومسلمانانوته قوت ورکړې»-

(۲۷) ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ ۚ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ ۚ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ يَغْلِبُوا أَلْفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ۝﴾ (۸: ۶۵)

«اې نبی! ته مؤمنانوته دجهاد ترغیب ورکړه- که چرې ستاسونه شل کسان ثابت قدم اوسیدو والا وی نوپه دوه سوه کافرانو به غالب کیږی اوکه چرې ستاسونه سل کسان وی نوپه زرو کفارو باندې به غالب کیږی، له دې وجې نه چه هغوئ داسې خلق دی چه په څه نه پوهیږی»-

(۲۸) ﴿الْآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا ۚ فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ ۚ وَإِن يَكُن مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوا أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ ۝﴾ (۸: ۶۶)

«اوس الله تعالی په تاسو باندې تخفیف وکړو اومعلومه ئې کړه چه په تاسو کښې دهمت کمې دې پس که چرې ستاسونه سل کسان ثابت قدمئ والاوی نوپه دوه سوه باندې به غالب کیږی اوکه چرې ستاسونه زرکسان وی نوپه دوه زره باندې به دَ الله تعالی په حکم سرهغالب کیږی اوالله تعالی دصابرینوسره دې-»

(۲۹) ﴿وَإِن يُرِيدُوا خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا اللَّهَ مِن قَبْلُ فَأَمْكَنَ مِنْهُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝﴾ (۸: ۷۱)

«اوکه چرې داخلق ستاسره دخیانت کولو اراده لری نو ددې نه وراندې دوئ دالله تعالی سره خیانت کړې وو بیاالله تعالی دوئ گرفتارکړل. اوالله تعالی ښه پوهیدووالادې . غټ حکمت والادې»-

(۳۰) ﴿ كَيْفَ يَكُونُ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ عِندَ اللَّهِ وَعِندَ رَسُولِهِ إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّمْ عِندَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ فَمَا اسْتَقَامُوا لَكُمْ فَاسْتَقِيمُوا لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ۝ ﴾ (۹: ۷)

«پس تر كومه پورې چه داخلق ستاسره په سمه طريقه وی ته هم ددوئ سره په سمه طريقه اوسه . بيشكه الله تعالى متقيان خوښوی»۔

(۳۱) ﴿ لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ۝ ﴾ (۹: ۲۵)

«تاسو ته الله تعالى په ډيرو مواقعو كښې غلبه دركړه اودحنين په ورځ هم كله چه تاسو دخپلې مجمع په كثرت باندې غره شوی وئ بیاهغه كثرت ستاسو په كار رانغلو اوپه تاسو باندې زمكه باوجود د فراخئ نه تنګه شوه بيا تاسو شاه كړه او وته تښتيدلئ»۔

(۳۲) ﴿ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ۝ ﴾ (۹: ۳۶)

«اوددې مشركينو سره ټول جنګيږئ لكه څنګه چه دوئ ستاسو ټولو سره جنګيږی-اوپوهه شئ چه الله تعالى دمتقينو سره دې»۔

(۳۳) ﴿ التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ الرَّاكِعُونَ السَّاجِدُونَ الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ۝ ﴾ (۹: ۱۱۲)

«هغه داسې دی چه توبه كولووالادی عبادت كولووالا حمدكولو والا روژه نيولووالاركوع اوسجده كولووالا دنيكوخبروكولووالا اوبدوخبرونه څان ساتلووالا اودالله تعالى دحدودودخيال ساتلووالا اوداسې مؤمنانوته خوشخبرې واوروه»۔

(۳۴) ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ۝ ﴾ (۹: ۱۲۳)

«اې مؤمنانو ، له هغه كفاروسره جنګ وكړئ چه ستاسوسره نزدې دی چه دوئ په تاسوكښې سختی اومومی .اويقين لرئ چه الله تعالى دمتقيانوسره دې»۔

په دې كښې هم دجهاد په حالت كښې د تقوی يعنی د حدودالله د تجاوز نه د بچ كيدوحكم

فرمانیلی شوی دی

(۳۵) ﴿أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ۞ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ۞ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ ۚ لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ۞﴾ (۱۰: ۶۲ تا ۶۴)

«یاد لره دالله تعالی په دوستانو باندې نه څه اندیښنه شته اونه هغوئ غمجن دی. دا همه خلق دی چه ایمان راوړی اوپرهیزګاروی. ددوئ دپاره په دُنیوی ژوند کښې هم اوآخرت کښې هم خوشخبری ده، دالله تعالی په خبرو کښې هیڅ فرق نه راځی داغټه کامیابی ده»۔

(۳۶) ﴿فَٱصْبِرْ ۖ إِنَّ ٱلْعَٰقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ ۞﴾ (۱۱: ۴۹)

«پس صبر وکړئ یقینًا نیک انجام دمتقیانو دپاره دی»۔

(۳۷) ﴿وَيَٰقَوْمِ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ يُرْسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا۟ مُجْرِمِينَ ۞﴾ (۱۱: ۵۲)

«او ای زماقومه، تاسو بښنه وغواړئ دخپل رب نه . بیاد هغه په طرف متوجه شئ هغه په تاسو باندې پرله پسې بارانونه رالیږی اوتاسوته به نورقوت درکړی ستاسو په قوت کښې به ترقی وکړی او مه ګرځئ مجرمان»

(۳۸) ﴿قَالُوٓا۟ أَءِنَّكَ لَأَنتَ يُوسُفُ ۖ قَالَ أَنَا۠ يُوسُفُ وَهَٰذَآ أَخِى ۖ قَدْ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَآ ۖ إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ۞﴾ (۱۲: ۹۰)

« واقعی څوک چه دګناهونونه بچ کیږی اوصبرکوی نوالله تعالی دداسې نیک کارکونکو اجرنه ضائع کوی»۔

(۳۹) ﴿ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا۟ مِنۢ بَعْدِ مَا فُتِنُوا۟ ثُمَّ جَٰهَدُوا۟ وَصَبَرُوٓا۟ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ۞﴾ (۱۶: ۱۱۰)

«بیابیشکه ستارب دداسې خلقو دپاره چه چاپه کفرکښې دمبتلاء کیدونه بعد هجرت وکړو بیائې جهاد وکړو اوقائم پاتې شو نو ستارب ددې نه بعدد ډیرمغفرت کولو والا لحت رحمت کولو والادې»

(۴۰) ﴿وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِى ٱلزَّبُورِ مِنۢ بَعْدِ ٱلذِّكْرِ أَنَّ ٱلْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِىَ ٱلصَّٰلِحُونَ ۞﴾

(۲۱: ۱۰۵)

«اومونږ په کتابونو کښې دلوح محفوظ نه بعدلیکلي دي چه ددې زمکې مالکان به زمانـک بندګان کیږي»۔

(۴۱) ﴿إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ ۝﴾ (۲۲: ۳۷)

«بیشکه الله تعالی د مؤمنانو نه دفع کوي بیشکه الله تعالی نه خوښوي هر خائن کافر»

(۴۲) ﴿الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ۝﴾ (۲۲: ۴۰)

«څوک چه دخپلو کورونو نه په ناحقه ویستلې شوي دي صرف په دومره خبره باندې چه هغوئ داوائي چه زمونږه رب الله دې. اوکه چیرې نه واې دفع کول د الله تعالی خلقو لره بعضې په بعضو نورو سره نو د نصاراؤ خلوت خانې اوعبادت خانې اودیهودوعبادت خانې اوهغه مسجدونه چه په هغې کښې دالله تعالی نوم په کثرت سره اخستلې شي تول به وران شوي وؤ،اوبیشکه الله تعالی دهغه چا امدادکوي څوک چه دالله تعالی مددکوي. بیشک الله تعالی قوت والاغلبې والادې»۔

(۴۳) ﴿إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ۝﴾ (۲۴:۵۱)

«دمسلمانانو قول کله چه دوئ ته دالله تعالی اودهغه درسول دطرفه آوازاوکړې شي صرف دادې چه دوئ وائي چه مونږه واوریده او ومو منله، اوداسې خلق کامیابیږي»۔

(۴۴) ﴿وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَخْشَ اللَّهَ وَيَتَّقْهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ ۝﴾ (۲۴: ۵۲)

«اوڅوک چه دالله اودهغه درسول خبره ومني اودالله تعالی نه وه یریږي اودهغه دمخالفت نه بچ شي بس داسې خلق بامراده دي او کامیاب دي»۔

(۴۵) ﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ۝﴾ (۲۴: ۵۵)

«په تاسو کښې چه کوم خلق ایمان راوړي اونیک عمل وکړي دهغوئ سره الله وعده فرمائي چه هغوئ ته به په زمکه کښې حکومت ورکوي لکه څنګه چه ددوئ نه وړاندې خلقوته ئې حکومت

ورکړې وو اوکوم دین چه ئې دهغوئ دپاره خوښ کړې دې هغه ته به قوت ورکوی اوهغوئ له به دا خوف په امن سره بدلوی. په دې شرط چه زماعبادت کوئ، زماسره کوم قسم شرک نه کوئ. اوخوك چه ددې نه بعد ناشكرى كوى نو دا خلق فاسقان دی»

په دې آیت کریمه کښې په ایمان اواعمال صالحوباندې دفتح اونصرت وعده ده اودعمل صالح بنیاد ترک معصیت دې. دمعصیت په وجه باندې فتح اونصرت په ناکامئ اوناکامئ باندې بدلیږی. چه دهغې بیان پورته تیرشوې دې»۔

(۴۶) ﴿ يَٰبُنَيَّ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ وَأۡمُرۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱنۡهَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَۖ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ۝١٧ ﴾ (۳۱: ۱۷)

«زویه! مونځ اداکوه اودښوکارونو نصیحت کوه اودبدوکارونونه منع کوه اوپه تاباندې چه کوم مصیبت واقع وی په هغې باندې صبرکوه، دادهمت دکارونونه دې»۔

نهی عن المنکر جهاد اکبردې، په دې کښې د د سختو مصیبتونو مقابله راځی. دې وجې نه ئې دصبراواستقامت حکم اوفرمائیلو۔

(۴۷) ﴿ وَلَقَدۡ سَبَقَتۡ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلۡمُرۡسَلِينَ ۝١٧١ إِنَّهُمۡ لَهُمُ ٱلۡمَنصُورُونَ ۝١٧٢ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ۝١٧٣ ﴾ (۳۷: ۱۷۱ نه تر۱۷۳)

اوزمونږ خاص بندگانوته یعنی رسولانوته زمونږ دا قول داول نه مقررشوې دې چه بیشکه هغوئ به غالب کولې شی اوزمونږ لښکر به غالب کیږی»۔

(۴۸) ﴿ قُلۡ يَٰعِبَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ لِلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٞۗ وَأَرۡضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٌۗ إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجۡرَهُم بِغَيۡرِ حِسَابٖ ۝١٠ ﴾ (۳۹: ۱۰)

«ته وه وایه چه اې زما مؤمنو بندگانو، تاسو د خپل رب نه یریږئ. کوم خلق چه په دې دنیا کښې نیکی کوی دهغوئ دپاره نیکه صله ده اودالله تعالی زمکه فراخه ده مستقل اوصبرونکوته به ددوئ صله بې شماره ملاویږی»۔

(۴۹) ﴿ إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ ۝٥١ ﴾ (۴۰: ۵۱)

«مونږ دخپلورسولانو اودایمان والاؤ په دنیوی زندگیانو کښې هم مدد کوو اوبه هغه ورځ کښې هم چه په هغې کښې گواهی ورکولووالا ودریږی»۔

(۵۰) ﴿ وَنَجَّيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ۝١٨ ﴾ (۴۱: ۱۸)

«اومونږ هغه خلقوته نجات ورکړو چه ایمان ئې راوړو او پرهیز کول»

(۵۱) ﴿ إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ (۴۶: ۱۳)

((کومو خلقوچه اووئیلي چه زمونږ رب الله دي بیامستقیم شی پس په هغه باندې څه یره نشته اونه به هغوئ غمگین شی)).

(۵۲) ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ﴾ (۴۷: ۷)

((اې مؤمنانو ! که چرې تاسو دالله تعالی مدد کوئ نوهغه به ستاسو مدد کوي او ستاسو قدمونه به کلک کړی)).

(۵۳) ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لَا مَوْلَىٰ لَهُمْ ﴾ (۴۷: ۱۱)

((داټول په دې سبب باندې دی چه الله تعالی دمسلمانانو کار ساز دې او دکافرانو څوک کارساز نشته)).

(۵۴) ﴿ كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴾ (۵۸: ۲۱)

((الله تعالی داخبره لیکلی ده چه زه اوزمارسولان به غالب کیږی ،بیشکه الله تعالی دقوت والاغلبې والادې)).

(۵۵) ﴿ لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ أُولَٰئِكَ حِزْبُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴾ (۵۸-۲۲)

((کوم خلق چه په الله اوقیامت باندې ایمان لری تاسو به هغوئ ونه گورئ چه هغوئ دداسې خلقو سره دوستی وکړی چه دالله اودرسول نه خلاف وی، اگرچه هغوئ د دوئ پلاران یا ځامن یا یا ورونه او یا خپلوان وی . ددې خلقوپه زړونوکښې الله تعالی ایمان ثابت کړې دې اودوئ ئې په خپل فیض باندې قوی کړی دی اودوئ به په داسې باغونوکښې وردننه کړی چه دهغې لاندې به نهرونه جاری وی چه په هغې کښې به دوئ همیشه وی الله تعالی به دهغوئ نه راضی کیږی اودوئ به دالله تعالی نه راضی وی. داخلق دالله تعالی ډله ده- ښه واورئ چه دالله تعالی ډله کامیابی موندونکې ده)).

(۵۶) ﴿ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ﴾ (۶۵: ۲،۳)

,,او څوک چه دَالله تعالی نه یریږی الله تعالی دهغه دپاره د خلاصی لار را اوباسی اوهغه ته د داسې ځائ نه رزق رسوی چه د هغه ځائ نه به دده ګمان هم نه وی. اوڅوک چه په الله تعالی باندې توکل کوی نوالله تعالی دهغه دپاره کافی دې. الله تعالی خپل کار پوره کوی الله تعالی دهرشئ یوه اندازه مقرر کړې ده،،۔

(۵۷) ﴿وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا﴾ (۶۵: ۴)

,,اوڅوک چه دالله تعالی نه یریږی الله تعالی دهغه هرکارکښې آسانی پیدا کوی،،۔

(۵۸) ﴿فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ﴿١٠﴾ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ﴿١١﴾ وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَارًا ﴿١٢﴾﴾ (۷۱: ۱۰ نه تر ۱۲)

,,اوما اووئیل چه تاسو دخپل رب نه دګناه ښښنه وغواړئ بیشکه هغه ډیرلوئ ښښونکې دې. په کثرت باندې په تاسو بارانونه رالیږی او ستاسو په مال او اولادکښې ترقی درکوی او ستاسو دپاره باغونه جوړوی او ستاسو دپاره نهرونه روانوی،،۔

(۶۰) ﴿وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعْضَ الظَّالِمِينَ بَعْضًا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٢٩﴾﴾ (۶: ۱۲۹)

,,اودارنګه مونږ بعض ظالمان په بعضو باندې مسلط کوو ددوئ دبدواعمالو دوجې نه،،۔

(۶۱) قال ابن عباس رضی الله عنهما تفسیرها ان الله اذا اراد بقوم خیرا ولی علیهم خیارهم واذا اراد بقوم شرا ولی علیهم شرارهم وفی بعض الکتب المنزلة انی افنی اعدائی باعدائی ثم افنیهم باولیائی (البحر المحیط ص ج)

,,حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: ددې آیت تفسیر دادې چه بې شکه الله تعالی کله کوم قوم دبدواعمالو په وجه باندې دهغوئ دپاره بدی مقدر فرمائی نوپه هغوئ باندې بد حاکمان مسلط کوی اوکوم قوم چه اوچتوی نوپه هغوئ باندې به خلق حاکمان جوړوی. اوپه بعض آسمانی کتابونو کښې دی چه خپل دشمنان دخپلو دشمنانو په ذریعه تباه کوی. بیا دوئ دخپلو دوستانو په لاسونو تباه کوی،،۔

(۶۲) قال مالك بن دینار قرأت فی الزبور انی انتقم من المنافقین بالمنافقین ثم انتقم من المنافقین جمیعا وذلك فی کتاب الله قوله تعالی نولی بعض الظلمین بعضا۔

وقد روی الحافظ ابن عساکر فی ترجمة عبدالباقی بن احمد من طریق سعید بن عبدالجبار الکرابیسی عن حماد بن سلمة عن عاصم عن زر عن ابن مسعود رضی الله تعالی عنه مرفوعا من اعان ظالما سلطه الله علیه وهذا حدیث غریب وقال بعض الشعراء:

وما من يد الا يد الله فوقها ولا ظالم الا سيبلى بظالم

ومعنى الآية الكريمة كما ولينا هؤلاء الخاسرين من الانس تلك الطائفة التي اغوتهم من الجن كذلك نفعل بالظالمين نسلط بعضهم على بعض جزاء على ظلمهم وبغيهم (تفسير ابن كثير ص ج)

،،مالک بن دينار رحمه الله فرمائي.ماپه زبورکښې وئيلی دی: زه دمنافقانو نه دمنافقانوپه ذريعه انتقام اخلم بيا د ټولومنافقانونه انتقام اخلم. اوداپه کتاب الله کښې هم دی (وکذلك نولی بعض الظالمين بعضا)

اودحضوراكرم صلى الله عليه وسلم ارشاد دې: څوک چه دكوم ظالم مددكوي الله تعالى هغه ظالم په دې ظالم باندې مسلط كوي.

اوددې آيت معنى داده چه مونږه بعض ظالمان په بعضو باندې مسلط كوو دوئ ته دظلم اوسركشئ دسزاوركولودپاره،،.

(۶۳) واخرج ابو الشيخ عن منصور بن ابي الاسود قال سالت الاعمش عن قوله وكذلك نولي بعض الظالمين بعضا ما سمعتهم يقولون فيه قال سمعتهم يقولون اذا فسد الناس امر عليهم شرارهم (الدر المنثور ص ج)

اعمش رحمه الله فرمائي : ما د اكابرونه ددې آيت تفسير داسې اوريدلې دې چه كله خلق خراب شي نو الله تعالى به په دوئ باندې شرير خلق حاكمان جوړ كړي،،-

(٦٤) واخرج ابن ابي حاتم وابو الشيخ عن مالك بن دينار مثل ما اخرج عنه ابن كثير وقدمر نصه (تيره شوې حواله)

(٦٥) واخرج الحاكم في التاريخ والبيهقي في شعب الايمان من طريق يحيى بن هاشم ثنا يونس بن ابي اسحق عن ابيه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم كما تكونون كذلك يؤمر عليكم قال البيهقي هذا منقطع ويحيى ضعيف (تيره شوې حواله)

،،څنگه به چه تاسويئ هم هغسې به تاسو باندې حاكمان مقرر كيږى،،-

(٦٦) ابوبكرة: كما تكونوا يولى عليكم اويؤمر عليكم (مسند الفردوس للديلمي ص ج)

،،څنگه به چه تاسويئ هم هغسې به تاسو باندې حاكمان مقرر كيږى،،-

(٦٧) عن ابي اسحق السبيعي كما تكونوا كذلك يولى عليكم (شعب الايمان للبيهقي ج ص)

،،څنگه به چه تاسويئ هم هغسې به تاسو باندې حاكمان مقرر كيږى،،-

(٦٨) قال الامام السخاوي رحمه الله تعالى: حديث: كما تكونون يولى عليكم اويؤمر عليكم. الحاكم ومن

طریقه الدیلمی من حدیث یحیی بن هاشم حدثنا یونس بن ابی اسحاق عن ابیه اظنه عن ابی بکرة مرفوعا جهلا ومن هذا الوجه اخرجه البیهقی فی السابع والاربعین بلفظ: یؤمر علیکم، بدون شك وبحذف ابی بکرة وقال: انه منقطع وراویه یحیی فی عداد من یضع (المقاصد الحسنة ص۳۳)

(۶۹) وله طریق اخری فاخرجه ابن جمیع فی معجمه والقضاعی فی مسنده من جهة الکرمانی بن عمرو حدثنا مبارك بن فضالة عن الحسن عن ابی بکرة بلفظ: یولی علیکم بدون شك وفی سنده الی مبارك مجاهیل۔

(۷۰) عند الطبرانی معناه من طریق عمرو کعب الاحبار والحسن فانه سمع رجلا یدعو علی الحجاج فقال له: لاتفعل انکم من انفسکم اتیتم انا نخاف ان عزل الحجاج اومات ان یستولی علیکم والقردة والخنازیر: بذنوبنا دامت بلیتنا، وانه یکشفها اذا تبنا، وفی المأثور من الدعوات: اللهم لاتسلط علینا بذنوبنا من لایرحمنا (المقاصد الحسنة ص۳۳)

حضرت حسن بصری رحمه الله تعالی څوک ولیدلو چه حجاج ته یی بد دعائی کوله. دوی اوفرمائیل: داسې مه کوه، تاسو په خپلو بدو عملونو باندې دا راوستې دې. مونږ یرېږو چه که چرې حجاج معزول شی یامړشی نوپه تاسو باندې به بیزو اوخنزیر حاکم جوړکړې شی

روایت دې: «بې شکه الله پاك ستاسو اعمال په تاسو باندې حاکمان جوړوی. اوخنګه چه تاسو یئ هم هغسې به په تاسو حاکمان مسلط کولې شی، زمونږپه ګناهونو باندې په مونږ مصیبتونه مسلط دی مونږ دعاکوو نو الله تعالی مونږته ددې مصائبونه نجات راکوی. او په ماثوره دعاء راغلی دی چه: یاالله! زمونږ دګناهونو په وجه په مونږ باندې داسې حاکم مسلط نکړې چه به مونږ باندې رحم نه کوی»۔

(۷۱) واخرج البیهقی عن کعب الاحبار قال ان لکل زمان ملکا یبعثه الله علی نحو قلوب اهله فاذا اراد صلاحهم بعث علیهم مصلحا واذا اراد هلکهم بعث علیهم مترفیهم (الدر المنثور ص۶۰ ج۲)

«په هره زمانه کښې الله تعالی دخلقو دزړونو دحالاتو په مطابق بادشاه مسلط کوی کله چه ددوئ اوچتوالې غوارې نو ښه حاکم پرې مقرر کوی اوچه ددوئ هلاکت غوارې نو بد حاکم پرې مسلط کوی»۔

(۷۲) واخرج البیهقی عن الحسن ان بنی اسرائیل سالوا موسی علیه السلام فقالوا سل لنا ربك یبین لنا علم رضاه عنا وعلم سخطه فسأله فقال یاموسی انبئهم ان رضای عنهم ان استعمل علیهم خیارهم وان سخطی علیهم ان استعمل علیهم شرارهم (تیره شوې حواله)

«الله تعالی حضرت موسی علیه السلام ته اوفرمائیل خلقوته اووایه چه زما د رضا علامت

دادي چه دوئ دپاره به حاکم مقرر وی او زما دغضب علامت دادي چه په دوئ باندې بد حاکم مسلط وی))۔

(۷۳) واخرج البيهقي عن عمر بن الخطاب رضي الله تعالى عنه قال حدثت ان موسى اوعيسى قال يارب ماعلامة رضاك عن خلقك قال ان انزل عليهم الغيث ابان زرعهم واحبسه ابان حصادهم واجعل امورهم الى حلمائهم وفيئهم في ايدي سمحائهم قال يارب فما علامة السخط قال ان انزل عليهم الغيث ابان حصادهم واحبسه ابان زرعهم واجعل امورهم الى سفهائهم وفيئهم في ايدي بخلائهم (تيره شوې حواله)

((الله تعالى حضرت موسى ياعيسى عليهما السلام ته اوفرمائيل: دمخلوق نه زمادرضا علامت داده چه زه دکروندې په وخت باران وروم اودکټ کولو په وخت ئې اودروم اوپه دوئ باندې نرم خلق حاکمان جوړوم. اوددوئ حاجات ماليه دسخيانو په حواله کوم ، اوزمادغضب علامت دادې چه دفصل دکټ کولو په وخت باران وروم اودکروندې په وخت کښې بندوم اوپه دوئ باندې احمق خلق حاکمان جوړوم اوددوئ حاجات ماليه بخيلو خلقو ته حواله کوم))۔

(۷۴) قال العلامة الالوسي رحمه الله تعالى: واستدل به على ان الرعية اذا كانوا ظالمين فالله تعالى يسلط عليهم ظالما مثلهم وفي الحديث كما تكونوا يولى عليكم (روح المعاني ص ج۸)

((حضرات فقهاء رحمهم الله تعالى ددې آيت نه استدلال کړيدې چه الله تعالى په ظالمانو باندې ددوئ غونتې ظالم حاکم مسلط کوی. اوپه حديث کښې دی چه څنګه ته ئې هم هغسې به په تاباندې حاکم مسلط کولې شی))۔

(۷۵) عن ابي الدرداء رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان الله تعالى يقول انا الله لااله الا انا مالك الملوك وملك الملوك قلوب الملوك بيدي وان العباد اذا اطاعوني حولت قلوب ملوكهم عليهم بالرحمة والرأفة وان العباد اذا عصوني حولت قلوبهم بالسخطة والنقمة فساموهم سوء العذاب فلا تشغلوا انفسكم بالدعاء على الملوك ولكن اشغلوا انفسكم بالذكر والتضرع كي اكفيكم ملوككم (حلية ص ۳۸۸ ج۲ مشكوة ص۳۲۳)

((الله تعالى فرمائی. زه الله يم، زمانه سوا کوم معبود نشته، دبادشاهانو مالک يم اودبادشاهانو بادشاه يم. دبادشاهانو زړونه زما په لاس کښې دې، زما بنده چه کله زما اطاعت کوی زه دهغه دباشاهانو زړه دهغه طرف ته په رحمت اوشفقت باندې متوجه کوم. اوبنده چه کله زما نافرمانی کوی زه دهغه په طرف دبادشاهانوزړه په غصه اوانتقام باندې متوجه کوم، پس هغوئ به دوئ ته سخت عذابونه ورکوی. دې وجې نه خپل ځانونه د بادشاهانو په بدعائی باندې مه مشغول کوئ

بلکه په خپله د الله ذکراوتضرع کښې مشغول اوسئ چه زه تاسولره ستاسو د بادشاهانو د مظالمونه محفوظ کړم»۔

(۷۶) وکذا فی مجمع الزوائد بروایة الطبرانی (الاعتدال ص ۳)

(۷۷) اذا اراد الله بقوم خیرا ولی علیهم حلماءهم وقضی بینهم علماؤهم وجعل المال فی سمحائهم واذا اراد بقوم شرا ولی علیهم سفهاءهم وقضی بینهم جهالهم وجعل المال فی بخلائهم (فر) عن مهران (ض) (الجامع الصغیر ص ۱۵ ج ۱)

«کله چه الله تعالی دکوم قوم دنیکئ په وجه باندې دهغوئ اوچت والې غوارئ نوپه هغوئ باندې نرم خلق حاکمان جوړوی، اودهغوئ فیصلې علماء کوی، اومالونه ئې سخیانو خلقوته ورکوی، اوکله چه دکوم قوم د بدواعمالوپه وجه باندې ددوئ دپاره بدی مقرر کوی نواحمقان په دوئ باندې حاکمان جوړوی اوددوئ فیصلې به جاهل خلق کوی، اومالونه به یې بخیلو خلقوته حواله کوی»۔

(۷۸) ان الله تعالی اذا غضب علی امة لم ینزل بها عذاب خسف ولا مسخ غلت اسعارها ویحبس عنها امطارها ویلی علیها اشرارها، ابن عساکر عن علی رضی الله تعالی عنه (الجامع الصغیر ص ۷۱ ج ۱)

«بیشکه الله تعالی چه کله له یوقوم نه ناراض شی نو په دوئ باندې په زمکه کښې د ننه ویستلو اودصورتونو دمسخ کولو عذاب نه نازلوی لیکن د ضرورت دخیزونونرخ ګرانوی ، اوبارانونه بندوی اوپه دوئ باندې بدحاکمان مسلط کوی»۔

(۷۹) وفی مجمع الزوائد عن جابر رضی الله عنه رفعه ان الله عزوجل یقول انتقم ممن اغضب بمن اغضب ثم اصیر کلا الی النار رواه الطبرانی فی الاوسط احمد بن بکر الباسی ضعیف (الاعتدال ص ۳)

«بې شکه الله تعالی فرمائی: په کومو خلقو باندې چه زما غضب دې زه دهغوئ نه دهغوئ غونتې د مغضوبو خلقوپه ذریعه انتقام اخلم بیاټول په جهنم کښې غورزوم»۔

(۸۰) لاتسبوا الائمة وادعوا الله لهم بالصلاح فان صلاحهم لکم صلاح (طب) عن ابی امامة رضی الله عنه (الجامع الصغیر ص ۱۹۸ ج ۲)

«حکامو ته کنزلې مه کوئ، ددوئ دپاره دالله نه دصلاحیت او ښه کیدو دُعا وغواړئ، ځکه ددوئ دصلاحیت (ښه کیدلو) سره ستاسو صلاحیت تړلې دې»۔

(۸۱) لاتشغلوا قلوبکم بسب الملوک ولکن تقربوا الی الله بالدعاء لهم یعطف الله علیکم، ابن النجار عن عائشة رضی الله عنها (الجامع الصغیر ص ۲۰۰ ج ۲)

«خپل زړونه دبادشاهانو په کنزلو باندې مه مشغوله کوئ. بلکه ددوئ دپاره دعاء وکړئ دالله تعالی تقرب حاصل کړئ، الله تعالی به ددوئ زړونه په تاسو باندې مهربانه کړي»۔

(۸۲) واخرج ابن ابی شیبه عن مالك بن مغول قال فی زبور داؤد علیه السلام مکتوب انی انا الله لااله الا انا ملك الملوك قلوب الملوك بیدی فایما قوم کانوا علی طاعة جعلت الملوك علیهم رحمة وایما قوم کانوا علی معصیة جعلت الملوك علیهم نقمة لاتشغلوا انفسکم بسب الملوك ولاتعوبوا الیهم توبوا الی اعطف قلوبهم علیکم (الدر المنثور ص ج)

«دحضرت داؤد علیه السلام په زبور کښې لیکلي شوی دی چه: بیشکه زه الله تعالی یم، زمانه سوا بل معبود نشته دبادشاهانو بادشاه یم، دبادشاهانو زړه زما په لاس کښې دی، پس کوم قوم چه زما فرمانبرداروی، زه بادشاهان په هغوئ باندې رحمت جوړوم اوکوم قوم چه نافرمان وی زه بادشاهان په دوئ باندې عذاب جوړوم، خپل ځانونه دباشاهانو په کنزلو کښې مه مشغولوئ اود دوئ طرف ته توجه مه کوئ، زما طرفته توجه کوئ زه به ددوئ زړونه په تاسو باندې مهربانوم»۔

(۸۳) عن علی بن ابی طالب رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا ابغض المسلمون علماء هم واظهروا عمارة اسواقهم وتناکحوا علی جمع الدراهم رماهم الله عزوجل باربع خصال بالقحط من الزمان والجوار من السلطان والخیانة من ولاة الاحکام والصولة من العدو (مستدرك حاکم ص ج)

«کله چه مسلمانان دخپلو علماؤ سره بغض وکړي اودخپلو بازارونو عمارت ظاهر کړي اوپه مال جمع کولو باندې نکاح کوی نوالله تعالی دوئ په څلورقسمه عذاب باندې مبتلاء کوی، قحط، دبادشاه ظلم تسلط، دحاکمانو خیانت، ددشمنانو حملې»۔

(۸٤) اخرج عبدبن حمید عن معاذبن جبل رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم والذی نفسی بیده لتأمرن بالمعروف ولتنهون عن المنکر اولیسلطن الله علیکم شرارکم ثم لیدعون خیارکم فلایستجاب لهم (الدر المنثور ص ج)

«حضوراکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: په هغه ذات قسم چه دهغه په قبضه کښې زماځان دې تاسو د نیکوکارونوضرورحکم کوئ اوبدوکارونونه لازمًا ځان منع کوئ، او که نه نو الله تعالی به په تاسو باندې بدترین خلق مسلط کړي، بیا به ستاسو نیک خلق دعا ګانې کوی او دهغوئ دعاګانې به نه قبلیږي»۔

په درمنثوراوجامع صغیر کښې ددې مضمون نورهم ډیرروایات دی۔

(۸۵) عن ابن مسعود رضی الله تعالی عنه عن الرسول الله صلی الله علیه وسلم فی حدیث طویل لایمهلکم

استبطاء الرزق ان تطلبوه بمعاصی الله فانه لا یدرك ما عند الله الا بطاعته رواه البغوی فی شرح السنة والبیهقی فی شعب الایمان۔

«تاسو د رزق د تاخیرپه وجه باندې هیڅکله په ناجائزو طریقو پسې مه ځئ او هغه ناجائزه طریقې مه اختیار کوئ. ځکه چه د الله تعالی د خزانې نه د هغه درضاء نه بغیر څه نه سی ترلاسه کېدی».

(۸۶) عن انس بن مالك رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من کانت الآخرة همه جعل الله غناه فی قلبه وجمع له شمله واتته الدنیا وهی راغمة ومن کانت الدنیا همه جعل الله فقره بین عینیه وفرق علیه شمله ولم یاته من الدنیا الا ما قدر له رواه الترمذی۔

«د چاپه زړه کښې چه د آخرت اهمیت وی الله تعالی د هغه زړه په غناباندې ډکه وی، او د هغه حاجات پوره کوم او دنیا ده خواته په منډه او ذلیله راځی. او د چا په زړه کښې چه د دنیا اهمیت وی الله تعالی هغه په فقروفاقه باندې همیشه ویرو او د هغه حاجات نه پوره کوی او دنیا هم د ومره ورته ملاویږی چه څومره مقدره ده»۔

(۸۷) عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما قال کنت خلف رسول الله صلی الله علیه وسلم یوما فقال یا غلام احفظ الله یحفظك احفظ الله تجده تجاهك واذا سألت فاسأل الله واذا استعنت فاستعن بالله واعلم ان الامة لو اجتمعت علی ان ینفعوك بشیء لم ینفعوك الا بشیء قد کتبه الله علیك رفعت الاقلام وجفت الصحف رواه احمد والترمذی۔

«د الله تعالی د احکامو حفاظت کوه الله تعالی به ستا حفاظت کوی. د الله تعالی د احکامو حفاظت کوه نو الله تعالی به په هر حاجت کښې په خپله خواکښې وموملې، او سوال کوه صرف د الله تعالی نه او مدد طلب کوه صرف د الله تعالی نه او په الله تعالی باندې یقین کوه. که چیرې ټوله دنیا یو ځائ شی او تاته کومه نفع رسول غواړی نو د هغې نه زیاته نفع به هیڅرې تاته ونشی رسولې کومه چه الله تعالی ستا په قسمت کښې لیکلې ده. او که چرې ټوله دنیا راجمع شی او تاته څه نقصان رسول غواړی نو د هغې نه زیات نقصان هیڅ کله تا ته نه شی رسولې کوم چه الله تعالی ستا په تقدیر کښې لیکلې دې. د تقدیر قلمونه چلیدلې دی او لیکل شوې او دفتر وچ شوې دې»۔

(۸۸) عن ابی هریرة رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال قال ربکم عزوجل لو ان عبیدی اطاعونی لاسقیتهم المطر باللیل واطلعت علیهم الشمس بالنهار ولم اسمعهم صوت الرعد رواه احمد۔

که چرې زما بندګان زما اطاعت وکړی نو زه به دوئ په شپه کښې په باران باندې سیراب کړم او د ورځې به نمر راوباسم او دوئ به د تندر آواز نه آوری»۔

(۸۹) عن ابي ذر رضي الله تعالى عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال اني لاعلم اية لو اخذ الناس بها لكفتهم ومن يتق الله يجعل له مخرجا ويرزقه من حيث لا يحتسب رواه احمد وابن ماجة-

«حضوراكرم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل: زه يو داسې آيت پېژنم چه خلق په هغې عمل وكړى نو هغه به ددوئ دپاره كافى شى (ومن يتق الله يجعل له مخرجا ويرزقه من حيث لا يحتسب)،

«څوک چه دالله تعالى نه يرېږى دهغه دپاره به دهرمشكل نه دويستلو لارپيدا كړم اوهغه ته به د داسې ځائ نه رزق ور اورسوم چرته نه به چه دده گمان هم نه وى »-

(۹۰) قال حنظلة الاسامي بعث ابوبكر خالدبن الوليد رضي الله تعالى عنهما الى اهل الردة وامره ان يقاتلهم على خمس خصال فمن ترك واحدة من الخمس قاتله شهادة ان لا اله الا الله وان محمدا عبده ورسوله واقام الصلاة وايتاء الزكاة وصيام شهر رمضان وحج البيت (خميس ص۲۰۰ ج۲)

«حضرت ابوبكررضى الله تعالى عنه حضرت خالدبن وليد رضى الله تعالى عنه دمرتدينوسره دجهاد كولو د ډلې اميرواستولو نوده ته ئې وصيت اوفرمائيلو چه :

ددوئ سره په پنځو څيزونو قتال كوئ «كلمۀ شهادت، مونځ، زكوة، روزه، حج»-

يعنى څوك چه ددې نه هم انكار وكړى دهغه سره جنگ وكړئ-

(۹۱) دحضرت ابوبكرصديق رضى الله تعالى عنه په زمانه كښې په «اجنادين» كښې دروميان وسره ډير سخت جنگ وشو، په دې كښې لاندينئ قصه مخې ته راغله:

عن ابن اسحق لما تراء اى العسكران بعث القلنقار رجلا عربيا فقال له ادخل في هؤلاء القوم فاقم فيهم يوما وليلة ثم ائتني بخبرهم فدخل في الناس رجل عربي لا ينكر عليه فاقام فيهم يوما وليلة ثم اتاه فقال له ما وراءك فقال له بالليل رهبان وبالنهار فرسان ولو سرق ابن ملكهم لقطعوا يده ولو زنى لرجم لاقامة الحق فيهم فقال له القلنقار لئن كنت صدقتني لبطن الارض خير من لقاء هؤلاء على ظهر ولوددت ان الله يخلي بيني وبينهم فلا ينصرني عليهم ولا ينصرهم علي (خميس ص۲۰۰ ج۲)

«دروميانو سپه سالار يوعربى كس دمسلمانانو د تحقيق كولودپاره جاسوس وليگلو اوهغه ته ئې اوئيلې چه يوه ورځ او شپه دمسلمانانوپه لښكركښې تيره كړه بيا د هغوئ دحالاتوخبر مونږ ته راكړه. نو دغه عربى سړې په خلكو كښې داخل شو اوچه په ده باندې څه انكار ونكړو او يوه شپه او ورځ بې تكلفه هلته وؤ. هغه واپس لاړو اووئې وئيل: «داخلق دشپې راهبان اودورځې شهسواران دى، يعنى توله شپه الله تعالى ته پوزه گنده كوى اود ورځې په اسونوباندې سواره وى جهاد كوى، كه چرې ددوئ دپادشاه ځوئ هم غلا وكړى نو د حق دحمايت دپاره دهغه لاس هم كټ

کوي اوکه زنا وکړي نو سنګسار کوی يي»۔
سپه سالاراوو ئیل «که چرې تاریښتیاو ئیلي وی نو دداسې خلقو دمقابلې نه مرګ بهتردي»

(۹۲) فكتب الامراء الى ابي بكر و عمر رضي الله تعالى عنهما يعلمونهما بما وقع من الامر العظيم فكتب اليهم ان اجتمعوا و كونوا جندا واحدا والقوا جنود المشركين فانتم انصار الله والله نصر من نصره وخاذل من كفره ولن يؤتى مثلكم عن قلة ولكن من تلقاء الذنوب فاحترسوا منها (البداية والنهاية ص ۷ ج ۷)

حضرت عمروبن العاص رضی الله تعالی عنه اونوروامراؤ دحضرت ابوبکراوعمررضی الله عنهما په خدمت کښې دهرقل دفوج د ډیر زياتوالي اوقوت خبر وليکو. حضرت ابوبکررضی الله عنه په جواب کښې وليکل:

«تاسو ټول يوځائی شئ يولښکر جوړشئ اودمشرکينو مقابله وکړئ. تاسو دَ الله تعالی انصارين، الله تعالی دخپلوفرمانبردارو مدد فرمائي او نافرمانان ذليل کوی. تاسو د قلت تعداد د وجې نه نه شئ مغلوب کيدې، ليکن په ګناهونو کښې دمبتلاء کيدونه د زيات عدد باوجود مغلوب کيدې شئ، دې وجې نه دمعاصيونه بچ شئ»۔

(۹۳) حضرت ابوبکررضی الله تعالی عنه په غزوهٔ يرموک کښې حضرت خالدبن وليدرضی الله تعالی عنه ته په دې کاميابيوباندې مبارک باد وليکل چه دهغې سره ئې دانصيحت هم ليکلې وو:

ولا يدخلنك عجب فتخسر وتخذل واياك ان تدل بعمل فان الله تعالى له المن وهو ولي الجزاء (خميس ص ۳۳ ج ۲)

په تاسو کښې دې کبر اوغرورهرګزرانه شی، ددې نه نقصان پيدا کيږی او تاسې ذليل کيږئ. په خپل کوم يو عمل باندې بالکل ناز او فخر مه کوئ، بيشکه دا صرف دَالله تعالی احسان دې او هغه جزا ورکولو والادې»۔

(۹٤) قال عمر لعتبة رضي الله عنهما... فاني اريد اوجهك الى ارض الهند... فسر على بركة الله واتق الله ما استطعت واحكم بالعدل وصل الصلوة لوقتها واكثر ذكر الله (طبری ص ۰ ج ۴)

حضرت عمررضی الله تعالی عنه حضرت عتبه رضی الله عنه دهند دلښکرامیرجوړکړو داوصيت ئې ورته اوفرمائيلو:

«حتی الامکان تقوی اختياروه اوپه انصاف باندې فيصله کوه اومونځ په خپل وخت اداکوه اوذکرالله په کثرت باندې جاری ساته»۔

(۹۵) فارسل عمر رضي الله تعالى عنه الى سعد رضي الله تعالى عنه فقدم عليه فامره على حرب العراق واوصاه فقال: يا سعد بن وهيب لا يغرنك من الله ان قيل خال رسول الله صلى الله عليه وسلم وصاحب رسول الله فان الله عزوجل لا يمحو السيئ بالسيئ ولكنه يمحو السيئ بالحسن فان الله ليس بينه وبين احد نسب الا طاعته

فالناس شریفهم ووضیعهم فی ذات الله سواء، الله ربهم وهم عباده یتفاضلون بالعافیة ویدرکون ما عنده بالطاعة فانظر الامر الذی رایت النبی صلی الله علیه واله وسلم علیه منذ بعث الی ان فارقنا فالزمه فانه الامر هذه عظتی ایاک ان ترکتها ورغبت عنها حبط عملک وکنت من الخاسرین ولما اراد ان یسرحه دعاه فقال انی قد ولیتک حرب العراق فاحفظ وصیتی فانک تقدم علی امر شدید کریه لا یخلص منه الا الحق فعود نفسک ومن معک الخیر واستفتح به واعلم ان لکل عادة عتادا فعتاد الخیر الصبر فالصبر الصبر علی ما اصابک او نابک یجتمع لک خشیة الله واعلم ان خشیة الله تجتمع فی امرین فی طاعته واجتناب معصیته وانما اطاعه من اطاعه ببغض الدنیا وحب الاخرة عصاه من عصاه بحب الدنیا وبغض الاخرة وللقلوب حقائق ینشئها الله انشاء منها السر ومنها العلانیة فاما العلانیة فان یکون حامده وذامه فی الحق سواء واما السر فیعرف بظهور الحکمة من قلبه علی لسانه وبمحبة الناس فلا تزهد فی التحبب فان النبیین قد سالوا محبتهم وان الله اذا احب عبدا حببه واذا ابغض عبدا بغضه فاعتبر منزلتک عند الله تعالی بمنزلتک عند الناس ممن یشرع معک فی امرک (طبری ص، ج، البدایة والنهایة ص، ج)

«حضرت عمررضی الله تعالی عنه حضرت سعدبن ابی وقاص دعراق دجنګ امیر ولیګلونو هغه ته ئې دانصیحت اوفرمائیلو: «اې سعده! په دې غرور مه کوه چه تاته درسول الله صلی الله علیه وسلم ماما او صحابی وئیلې شی، الله تعالی بدی په بدی باندې نه ورانوی بلکه بدی په نیکئ ورانوی ، دالله تعالی اودهغه درسولانوپه مینځ کښې رشته نشته، دهغه سره صرف دبندګئ معامله ده، دهغه په نیزشریف اوذلیل ټول برابردی، دهغوئ تر مینځ چه کوم تفاوت و مرتبې د نوهغه د عافیت نفس اودګناهونو نه دبچ کیدو په اعتبار سره دی، دهغه انعامات دهغه په اطاعت باندې حاصلیږی ،دحضوراکرم صلی الله علیه وسلم دپوره زندګئ دنبوت نه وروسته تر وصال پورې څه چه تاکتلی دی هغې ته نظر کوه اوهغه مضبوط ونیسه ، دازماخاص نصیحت دې که چرې تاد ونه منل نوعمل به دې ضائع شی اونقصان به پیدا شی، ته دیوډیرسخت کاردپاره لیګل کیږې چه دهغې دذمه داریانونه خلاصې داتباع حق نه سوا په بل کوم صورت کښې نشی کیدې، دې وجې نه خپل ځان اوخپل ملګری دنیکیو کارونو عادی جوړکړه.

دالله تعالی نه ویره کول ضروری دی اودالله تعالی نه ویره په دوه څیزونوکښې منحصر ده، دهغه په اطاعت کښې اودهغه دمعصیت نه په اجتناب کښې، اودالله اطاعت چه چاته هم نصیب شو هغه ته د دنیابغض اودآخرت سره محبت نصیب شو ، اوچاچه هم دالله تعالی نافرمانی وکړه هغه ددنیا دمحبت اودآخرت دبغض د وجه نه وکړه».

(۹۶) وحدثت عن خالد بن الوليد رضي الله تعالى عنه من سمعه يقول شهدت عشرين زحفا فلم ار قوما اصبر لوقع السيوف ولا اضرب بها ولا اثبت اقداما من بني حنيفة يوم اليمامة انا لما فرغنا من طليحة الكذاب ولم تكن له شوكة قلت كلمة والبلاء موكل بالقول وما بنو حنيفة ما هي الا كمن لقينا فلقينا قوما ليسوا يشبهون احدا ولقد صبروا لنا من حين طلعت الشمس الى صلاة العصر حتى قتل عدو الله (خميس ص۳۰ ج۲)

حضرت خالدبن وليد رضی الله عنه فرمائی: ((کله چه مونږ دطليحه کذاب سره جګړه وکړه او فارغ شو اودديږ شوکت څه زيات نه وو ددې نه بعد دبنی حنيفه په طرف متوجه شو نو زما دخولې نه د کبر او لوئوالی يوه کلمه ووتله، اودا دمصيبت سره ترلې وه ما اووئيلې: بنی حنيفه څه شئ دی؟ داهم دطليحه دجماعت په شان دی دچا نه چه مونږ فارغ شوی يو، ليکن کله چه مونږ بنی حنيفه سره جنګ وکړو نومونږ وکتل چه ددوئ په شان جماعت نه وؤ. د لمر خاته نه واخله د مازديګر ترمونځ پورې هغوئ پوره په مقابله کښې لګياوو دهغې نه بعدهغوئ شکست وخوړلو))۔

دخولې نه دداسې کلمې ويستلو دا اثروشو، نوتاسو خپله سوچ وکړئ چه دالله تعالی په نافرمانئ سره به نصرت څنګه راشی؟

(۹۷) قال سعد رضي الله تعالى عنه والله لينصرن الله وليه وليظهرن الله دينه وليهزمن الله عدوه ان لم يكن في الجيش بغي او ذنوب تغلب الحسنات (البداية والنهاية ص۷ ج۷)

((حضرت سعد رضی الله عنه اوفرمائيل: ((په الله قسم! الله تعالی دخپلو دوستانو ضرورمدد کوی اوخپل دين ضرورغالبوی اوخپل دشمنان ضرور مغلوبوی تر څو پورې چه په لښکرکښې ظلم نه وی اوپه نيکيوباندې ګناه غالبه نه شی))۔

داپوره قصه وړاندې دفتح مدائن په بيان کښې راځی۔

(۹۸) ونزل سعد رضي الله عنه القادسية واقام بها شهرا لم يأته من الفرس احد فارسل سعد رضي الله تعالى عنه عاصم بن عمرو رضي الله تعالى عنه الى ميسان فطلب غنما او بقرا فلم يقدر عليها وتحصن منه من هناك فاصاب عاصم رضي الله تعالى عنه رجلا بجانب اجمة فسأله عن البقر والغنم فقال ما اعلم فصاح ثور من الاجمة كذب عدو الله ها نحن اولاء فدخل فاستاق البقر فاتى بها العسكر، فقسمه سعد رضي الله تعالى عنه على الناس فاخصبوا اياما. فبلغ ذلك الحجاج في زمانه فارسل الى الجماعة فسألهم فشهدوا انهم سمعوا ذلك وشاهدوه فقال كذبتم، قالوا كذلك ان كنت شهدتها وغبنا عنها. قال صدقتم فما كان الناس يقولون في ذلك. قالوا انه يستدل بها على رضى الله وفتح عدونا. فقال ما يكون هذا والجمع ابرار اتقياء. قالوا ما ندري ما اجنت قلوبهم فاما ما رأينا فما رأينا قط ازهد في دنيا منهم ولا اشد بغضا لها ليس فيهم جبان ولا عار ولا غدار. وذلك يوم

الابأثر (الکامل لابن الاثیر ص ۹۰ج۲)

حضرت سعدرضی الله تعالی عنه په قادسیه کښې یومیاشت قیام اوفرمائیلو دلښکرسره دخوراک څکاک سامان نه وو نودوئ حضرت عاصم بن عمرو رضی الله تعالی عنه دمیسان طرفته ولیګلو، هغه دلښکردخوراک څکاک دپاره څه غواګانې چیلئې وکتلې لیکن پیدانه شوې، داهل فارس یوچراهګاه دیوبندسره خوا کې وه، دهغه ځائ سری نه ئې تپوس وکړو چه څه غواګانې چیلئ به تله پیدا شی؟ هغه دروغ اووئیل چه ماته پته نشته- دبې دننه نه یوغوایي آواز وکړو ((کلب عدوالله هاانحن)) ((دالله تعالی دشمن دروغ اووئیل،مونږدلته موجودیو))

عاصم بې ته لاړو هغه ئې راونیول، حضرت سعدرضی الله عنه داپه لښکرباندې تقسیم کړل، خلقوخوورځې بنه وخوړل-

دحجاج به یوسف په زمانه کښې دده خواته ددې قصې تذکره راغله، ده خلق را وغوښتل چه ددې تصدیق وکړی ، حجاج اووئیل: ((خلقوددې واقعې په متعلق څه خیال کولو))-

هغوئ اووئیل: ((خلقوددې واقعې نه په دې باندې استدلال کولوچه الله تعالی دمسلمانانونه راضی دې اودفتوحاتو همرکاب دی))

حجاج اووئیلې: ((داهله کیدې شی چه پوره لښکرصالح اومتقی وی))-

خلقواووئیل: ((دلښکردزړونوخبره خومونږ ته معلومه نه ده، لیکن په ظاهره کښې چه مونږڅه وکتل هغه داوؤ چه ددنیاپه باره کښې دهغوئ نه زیات زاهدان اوددنیاسره دهغوئ نه زیات بغض لرلو والامونږ خوک نه دی لیدلی، په دوئ کښې کوم بزدل اوکوم شریراوکوم غدارنه وو))-

(۹۹) ولدسأل (هرقل) رجلا من اتبعه کان قداسر مع المسلمین فقال اخبرنی عن هؤلاء القوم، فقال اخبرک کانک تنظر الیهم هم فرسان بالنهار رهبان باللیل لایاکلون فی ذمتهم الابثمن، ولایدخلون الاسلام، یقفون علی من حاربوه حتی یاتواعلیه فقال لئن کنت صدقتنی لیملکن موضع قدمی هاتین (البدایة والنهایة ص ۰۰ ج۰، طبری ص ۰۰ ج۲)

((یو سړې دمسلمانانودقیدنه وه وتلو د هرقل خواته ورسیدو نوهرقل دهغه نه دمسلمانانو حالات وپوښتل، هغه اووئیل: ((داخلق دورځې شهسواران دی اوپه شپه کښې راهبان دی، دذمیانو نه هم څه څیز بغیر له قیمت څخه نه اخلی، دیوبل سره چه کله هم ملاویږی نوسلام کوی، جنګ کښې چه تر کوم وخته پورې په دشمن باندې غالب نه وی راغلی میدان نه پرېږدی))-

هرقل اووئیل: ((که چرې تاریښتیاوئیلی وی نوهغوئ به ددې ځائ مالکان جوړیږی))-

دلته صرف دهغه آیتونو او احادیثو او آثارو نقل کولوباندې اکتفاء کړې شوې ده چه بغیر

دقصد د لنديز نه صرف په سرسري توجه سره په ذهن کښې راغلی، او که چيرته ددې تول آيتونه اواحاديث جمع کړې شي يو مستقل ضخيم جلد ترينه جوړيږي

ددې نه په بعضې کښې دفوز او فلاح دپاره صراحةً شرطِ تقوی ذکر شوې ده او په بعضې کښې مقتضيات دتقوی ذکر شوی دی ، يعنی ايمان بالله، تعلق مع الله، توکل علی الله، صبراواستقامت وغيره وغيره.

حضرات صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم اونوروکوموحضراتوچه په هرې يوې فيصلې او هر يو اقدام کښې دالله تعالی اودهغه درسول صلی الله عليه وسلم احکام پيش نظرلرل اودقادرمطلق قانون اودهغه رضاجوئ ئې په هرسياست اومصلحت باندې مقدمه کړې وه، الله تعالی په هرې مرحلې اوپه هرقدم باندې دوئ په فتح اونصرت باندې کامران او کامياب کړی وؤ او د اکثرو اسبابو ظاهرو سراسر خلاف په داسې ذرائعويې ورسره مدداوفرمائيلو چه هغه داهل دنياعقل ته ناممکن ښکاري، د مثال په طور دداسې قسم يوڅوواقعات نقل کولې شي:

(۱) عن ابن المنكدران سفينة رضی الله عنه تعالی عنه مولی رسول الله صلی الله عليه وسلم خطاء الجيش بأرض الروم اواسر فانطلق هاربايلتمس الجيش فاذاهو بالاسد فقال ياابا الحرث انامولی رسول الله صلی الله عليه وسلم كان من امری كيت و كيت فاقبل الاسد له بصبصة حتی قام الی جنبه كلما سمع صوتا اهوی اليه ثم اقبل يمشی الی جنبه حتی بلغ الجيش ثم رجع الاسد رواه فی شرح السنة (مشکوة ص ۵۰۰)

«حضرت سفينه رضی الله تعالی عنه په روم کښې دلښکرنه ورك شوې يا د قيدنه تښتيدلې وؤ، ناگهانه يې زمرې مخې ته راغې، ده هغه ته اوفرمائيل: «زه درسول الله صلی الله عليه وسلم غلام يم ، دلښکرنه ورک شوې يم»-

هغه شيرلکئ وخوزوله دده طرفته راغې، چه کله به يې دخه خطرې آواز آوريدلو هغې طرفته به ورتلو، دهغې ختمولونه به بيادده سره تلو، حتی چه دې يې تراسلامی لښکره پورې ورسولو او بيا واپس لاړو»-

(۲) دمعاويه رضی الله عنه دخلافت په زمانه کښې حضرت عقبة بن نافع رحمه الله تعالی دفتح دافريقې نه بعد دجهاد مصالحو په نظر کښې نيولو سره هلته يونوې ښار «قيروان» آبادکړو، دهغې ښار دبنياد قصه داده: جمع عقبة حينئذ اصحابه وقال: ان اهل هذه البلاد قوم لاخلاق لهم اذاعضهم السيف اسلموا واذا رجع المسلمون عادوا الی عادتهم ودينهم ولست اری نزول المسلمين بين اظهرهم رايا. وقدرايت ان ابنی ههنا مدينة يسكنها المسلمون، فاستصوبوا رايه فجاؤوا الی موضع القيروان وهی فی طرف البر وهی اجمة عظيمة وغيضة لايشقها الحيات من تشابك اشجارها. وقال انما اخترت هذا الموضع لبعده من

البحر لئلا تطرقها مراكب الروم فتهلكها وهي في وسط البلاد ثم امر اصحابه بالبناء فقالوا:
هذه غياض كثيرة السباع والهوام فنخاف على انفسنا هنا. وكان عقبة مستجاب الدعوة فجمع من كان في عسكره من الصحابة رضي الله تعالى عنهم وكانوا ثمانية عشر ونادى: ايتها الحشرات والسباع نحن اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فارحلوا عنا فانا نازلون فمن وجدناه بعد قتلناه فنظر الناس يومئذ الى امر هائل كان السبع يحمل اشباله والذئب يحمل اجراءه والحية تحمل اولادها وهم خارجون اسرابا اسرابا فحمل ذلك كثيراً من البربر على الاسلام ثم اختط دار الامارة واختط الناس حوله واقاموا بعد ذلك اربعين عاما لا يرون فيها حية ولا عقرباً. (معجم البلدان ص۳۰ ج۴)

((دحضرت عقبه رحمه الله تعالى فوجيانو اووئيل: ((دلته درندګان ماران لړمان وغيره موذي ښاورديردی، دې وجې نه مونږ ته دلته په حيصاريدلو کښې خطره ده))-

حضرت عقبه رحمه الله تعالى دخپل لښکر نه حضرات صحابه کرام رضى الله عنهم جمع کړل چه تقريبًا اتلس وو، بيائې اعلان وکړو: ((اې په زمکه کښې دننه اوسيدونکو ضرری ښاورو اودرندګانو! مونږ درسول الله صلى الله عليه وسلم اصحاب يو او دلته اوسيدول غواړو، دې وجې نه تاسو ددې ځائ نه لاړشئ، ددې نه بعد موکه چرې ستاسونه کوم اوموندلو نوقتل کوو به ئې))-

پس خلقويو خوفناک منظروکتلو چه درندګانو لکه شرمخان وغيره خپل بچی واخستل او روان شو اومارانو هم خپل بچی اوچتول او دلې دلې تښتيدل، دائې چه وکتل ددشمن يعنى د بربر د قوم ډيرخلق مسلمانان شول-

ددې نه بعد داحضرات هلته څلويښت کاله اوسيدل، په دې زمانه کښې دوئ نه هلته مار وکتلو اونه لړم وغيره)).

(۳) دفتح المدائن اوملک کسرى ذکر: لما فتح سعد رضي الله تعالى عنه نهرشير واستقر بها وذلك في صفة لم يجد فيها احدًا ولا شيئًا مما يغنم، بل قد تحولوا بكمالهم الى المدائن وركبوا السفن وضموا السفن اليهم ولم يجد سعد رضي الله عنه شيئا من السفن وتعذر عليه تحصيل شيء منها بالكلية وقد زادت دجلة زيادة عظيمة واسودَّ ماؤها، ورمت بالزبد من كثرة الماء بها واخبر سعد رضي الله تعالى عنه بان كسرى يزدجرد عازم على اخذ الاموال والامتعة من المدائن الى حلوان وانك ان لم تدركه قبل ثلاث فات عليك وتفارط الامر، فخطب سعد رضي الله تعالى عنه المسلمين على شاطئ دجلة فحمد الله واثنى عليه وقال ان عدوكم قد اعتصم منكم بهذا البحر فلا تخلصون اليهم معه وهم يخلصون اليكم اذا شاؤا فيناوشونكم في سفنهم، وليس وراء

كم شئ تخافون ان تؤتوا منه، وقد رأيت ان تبادروا جهاد العدو بنياتكم قبل ان تحصركم الدنيا، الا انى قد عزمت على قطع هذا البحر اليهم، فقالوا جميعًا: عزم الله لنا ولك على الرشد فافعل. فعند ذلك ندب سعد رضي الله تعالى عنه الناس الى العبور ويقول: من يبدأ فيحمي لنا الفراض-يعني ثغرة المخاضة من الناحية الاخرى-ليجوز الناس اليهم امنين، فانتدب عاصم بن عمرو وذوو البأس من الناس قريب من ستمائة فامر سعد رضي الله عنه عليهم عاصم بن عمرو فوقفوا على حافة دجلة فقال عاصم: من ينتدب معي لنكون قبل الناس دخولا فى هذا البحر فنحمي الفراض من الجانب الاخر؟ فانتدب له ستون من الشجعان المذكورين-والاعاجم وقوف صفوفًا من الجانب الاخر-فتقدم رجل من المسلمين وقد احجم الناس عن الخوض فى دجلة فقال: اتخافون من هذه النطفة، ثم تلا قوله تعالى: ((وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا))۔

ثم اقحم فرسه فيها واقتحم الناس، وقد افترق الستون فرقتين اصحاب الخيل الذكور: واصحاب الخيل الاناث، فلما راهم الفرس يطفون على وجه الماء قالوا: ديوانا ديوانا يقولون مجانين مجانين، ثم قالوا: والله ماتقاتلون انسا بل تقاتلون جنًا، ثم ارسلوا فرسانا منهم فى الماء يلتقون اول المسلمين ليمنعوهم من الخروج من الماء، فامر عاصم بن عمرو اصحابه ان يشرعوا لهم الرماح ويتوخوا الاعين، ففعلوا ذلك بالفرس فقلعوا عيون خيولهم، فرجعوا امام المسلمين لايملكون كف خيولهم حتى خرجوا من الماء واتبعهم عاصم واصحابه فساقوا وراءهم حتى طردوهم عن الجانب الاخر، ووقفوا على حافة الدجلة من الجانب الاخر ونزل بقية اصحاب عاصم من الستمائة فى دجلة فخاضوها حتى وصلوا الى اصحابهم من الجانب الاخر فقاتلوا مع اصحابهم حتى نفوا الفرس عن ذلك الجانب وكانوا يسمون الكتيبة الاولى كتيبة الاهوال واميرها عاصم بن عمرو، والكتيبة الثانية الكتيبة الخرساء واميرها القعقاع بن عمرو، وهذا كله وسعد والمسلمون ينظرون الى مايصنع هؤلاء الفرسان وسعد رضي الله تعالى عنه واقف على شاطئ دجلة، ثم نزل سعد ببقية الجيش، وذلك حين نظروا الى الجانب الاخر قد تحصن بمن حصل فيه من الفرسان المسلمين، وقد امر سعد رضي الله تعالى عنه المسلمين عند دخول الماء ان يقولوا: ((نستعين بالله ونتوكل عليه حسبنا الله ونعم الوكيل ولاحول ولاقوة الا بالله العلي العظيم))۔

ثم اقتحم بفرسه دجلة واقتحم الناس لم يتخلف عنه احد فساروا فيها كانما يسيرون على وجه الارض حتى ملؤا مابين الجانبين فلايرى وجه الماء من الفرسان والرجالة وجعل الناس يتحدثون على وجه الماء

كما يمشون على وجه الارض، وذلك لما حصل لهم من الطمانينة والامن، والوثوق بامر الله ووعده ونصره وتاييده. ولان اميرهم سعد بن ابي وقاص رضي الله تعالى عنه احد العشرة المشهود لهم بالجنة، وقد توفي رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو عنه راض ودعا له، فقال: ((اللهم اجب دعوته وسدد رميته))

والمقطوع به ان سعدًا دعا لجيشه هذا في هذا اليوم بالسلامة والنصر، وقد رمى بهم في هذا اليم فسددهم الله وسلمهم. فلم يفقد من المسلمين رجل واحد غير ان رجلاً واحدًا يقال له غرقدة البارقي زل عن فرس له شقراء، فاخذ القعقاع بن عمرو بلجامها، واخذ بيد الرجل حتى عدله على فرسه. وكان من الشجعان فقال: ((عجز النساء ان يلدن مثل القعقاع بن عمرو)).

ولم يعدم للمسلمين شيء من امتعتهم غير قدح من خشب لرجل يقال له مالك بن عامر، كانت علاقته رثة فاخذه الموج فدعا صاحبه الله عز وجل وقال: ((اللهم لا تجعلني من بينهم يذهب متاعي)).

فرده الموج الى الجانب الذي يقصدونه فاخذه الناس ثم ردوه على صاحبه بعينه. وكان الفرس اذا اعيا وهو في الماء يقيض الله له مثل النشز المرتفع فيقف عليه فيستريح، وحتى ان بعض الخيل ليسير وما يصل الماء الى حزامها، وكان يومًا عظيماً وامرًا هائلا، وخطبًا جليلا، وخارقًا باهراً، ومعجزة لرسول الله صلى الله عليه وسلم خلقها الله لاصحابه لم ير مثلها في تلك البلاد ولا في بقعة من البقاع سوى قضية العلاء بن الحضرمي المتقدمة بل هذا اجل واعظم، فان هذا الجيش كان اضعاف ذلك. قالوا: وكان الذي يساير سعد بن ابي وقاص في الماء سلمان الفارسي، فجعل سعد رضي الله تعالى عنه يقول: ((حسبنا الله ونعم الوكيل، والله لينصرن الله وليه وليظهرن الله دينه وليهزمن الله عدوه ان لم يكن في الجيش بغي او ذنوب تغلب الحسنات)).

فقال له سلمان: ((ان الاسلام جديد ذللت لهم البحور كما ذلل لهم البر، اما والذي نفس سلمان بيده ليخرجن منه افواجاً كما دخلوا افواجا)).

فخرجوا منه كما قال سلمان لم يغرق منهم احد ولم يفقدوا شيئا.

ولما استقل المسلمون على وجه الارض خرجت الخيول تنفض اعرافها صاهلة، فساقوا وراء الاعاجم حتى دخلوا المدائن فلم يجدوا بها احداً، بل قد اخذ كسرى اهله وما قدروا عليه من الاموال والامتعة والحواصل وتركوا ما عجزوا عنه من الانعام والثياب والمتاع والآنية والالطاف والادهان ما لا يدرى قيمته، وكان في خزانة كسرى ثلاثة آلاف الف الف دينار ثلاث مرات فاخذوا من ذلك ما قدروا عليه وتركوا ما عجزوا عنه وهو

مقدار النصف من ذلك اوما يقاربه فكان اول من دخل المدائن كتيبة الاهوال ثم الكتيبة الخرساء فاخذوا في سككها لا يلقون احدًا ولا يخشونه غير القصر الابيض ففيه مقاتلة وهو محصن۔

فلما جاء سعد رضي الله تعالى عنه بالجيش دعا اهل القصر الابيض ثلاثة ايام على لسان سلمان الفارسي. فلما كان اليوم الثالث نزلوا منه وسكنه سعد واتخذ الايوان مصلى، وحين دخله تلا قوله تعالى:

((كم تركوا من جنات وعيون وزروع ومقام كريم، ونعمة كانوا فيها فاكهين كذلك واورثناها قومًا آخرين))

ثم تقدم الى صدره فصلى ثمان ركعات صلاة الفتح، وذكر سيف في روايته انه صلاها بتسليمة واحدة وانه جمع بالايوان في صفر من هذه السنة فكانت اول جمعة جمعت بالعراق وذلك لان سعدًا رضي الله تعالى عنه نوى الاقامة بها، وبعث الى العيالات فانزلهم دور المدائن واستوطنوها، حتى فتحوا جلولاء وتكريت والموصل، ثم تحولوا الى الكوفة بعد ذلك كما سنذكره ثم ارسل السرايا في اثر كسرى يزدجرد فلحق بهم طائفة فقتلوهم وطردوهم واستلبوا منهم اموالا عظيمة، واكثر ما استرجعوا من ملابس كسرى وتاجه وحليه. وشرع سعد رضي الله تعالى عنه في تحصيل ما هنالك من الاموال او الحواصل والتحف مما لا يقوم ولا يحد ولا يوصف كثرة وعظمة، وقد روينا انه كان هناك تماثيل من جص فنظر سعد رضي الله تعالى عنه الى احدها واذا هو يشير باصبعه الى مكان. فقال سعد: ان هذا لم يوضع هكذا سدى فاخذ ما يسامت اصبعه فوجدوا قبالتها كنزًا الاكاسرة الاوائل فاخرجوا منه اموالا عظيمة جزيلة، وحواصل باهرة وتحفًا فاخرة واستحوذ المسلمون على ما هنالك اجمع مما لم ير احد في الدنيا اعجب منه وكان في جملة ذلك تاج كسرى وهو مكلل بالجواهر النفيسة التي تحير الابصار، ومنطقته كذلك وسيفه وسوارة وقباؤه وبساط ايوانه، وكان مربعاً ستون ذراعا مثلها من كل جانب والبساط مثله سواء وهو منسوج بالذهب واللآلي والجواهر الثمينة وفيه مصور جميع ممالك كسرى، بلاده بانهارها وقلاعها، واقاليمها، وكنوزها، وصفة الزروع والاشجار التي في بلاده فكان اذا جلس على كرسي مملكته ودخل تحت تاجه وتاجه معلق بسلاسل الذهب لانه كان لا يستطيع ان يقله على راسه لثقله بل كان يجيء فيجلس تحته ثم يدخل راسه تحت التاج وسلاسل الذهب تحمله عنه وهو يستره حال لبسه، فاذا رفع الحجاب عنه خرت له الامراء سجودا- وعليه المنطقة والسواران والسيف والقباء المرصع بالجواهر فينظر في البلدان واحدة واحدة فيسأل عنها ومن فيها من النواب، وهل حدث فيها شيء من الحوادث، فيخبره بذلك ولاة الامور بين يديه ثم ينتقل الى الاخرى، وهكذا حتى يسأل عن احوال بلاده في كل وقت لا يهمل

امر المملكة ولدوهم اهل البساط بين يديه تذكار له بهان الممالك وهو اصلاح حبهم في امر السياسة فلما جاء الدولة زالت تلك الايدي عن تلك الممالك والاراضي وتسلمها المسلمون من ايديهم قسرا. وكسروا اشوكتهم عنها واخذوها بامر الله صافية ضافية ولله الحمد والمنة

(البداية والنهاية ص ج طبري ص ج)

,,كسرى پورې په رسيدوكښې دريائې دجله حائل وو، دلښكرامير حضرت سعد رضى الله تعالى عنه ته د زيات كوشش باوجود څه كشتئ ملاؤنه شوه، دلته په دجله كښې ډير سخت طوفان بهيدلو .دډيرو ويرونكو موجونو له تصادم نهاوبه بالكل توري په نظر راتلې،حضرت سعد رضى الله تعالى عنه ددجلې په كنارې باندې خپل لښكرته خطاب اوفرمائيلو، اول ئې دالله تعالى حمداوثناء وكړه بيائې اوفرمائيل ,,دشمن پورې درسيدلوډپاره ددې درياب نه دتيريدوهيڅ لارنشته، ما دا سمندرقطع كولوسره ددشمن پورې درسيدوفيصله كړې ده،،.

ټول لښكر ددې فيصلې په ښه جوش سره خيرمقدم وكړلو، هغه حكم اوكړو: ,,په درياب كښې اسونه واچوئ،،

دشمن چه دامنظروكتلو نو داسې وينا يې شروع كړه چه,,ديوانان ديوانان يعني دوئ خو ليونى دى بيائې په خپلوكښې اوويل: ,,تاسودانسانانوسره قتال نه كوئ، بلكه ستاسو په مقابله كښې جنات دى،،.

په درياب كښې د آسونو د تيرولو په وخت حضرت سعد رضى الله تعالى عنه لښكرته ددې كلماتو د وئيلوحكم وكړو: ((نستعين بالله ونتوكل عليه حسبنا الله ونعم الوكيل ولاحول ولاقوة الابالله العلي العظيم))

بيادوئ په درياب كښې آس ورواچولو، ورسره پوره لښكرهم بې يرې په درياب كښې خپل آسونه ورواچول.يو سرى په درياب كښې د آس اچولوپه وخت اوويل : ,,ددې نطفې نه يريږو؟،،

بياهغه دا آيت ولوستلو وماكان لنفس ان تموت الا باذن الله كتابا موجلا (س)

,,اودالله دحكم نه بغير هيڅوا ته مرګ راتلل ممكن نه دى، ددې ئې پوره ميعادليكلې دې،، په درياب كښې يې په داسې اطمينان باندې خبرې كولې لكه په زمكه باندې روان وى كه څوك به تر خپل آس پورې تللونوالله تعالى به دهغه خواكښې په درياب يوه ټيله را اوچته كړه.هغه به په دې باندې اودريدلو . دمه به يې وكړه بيابه په درياب كښې تللو، ددرياب په سفركښې حضرت سعد رضى الله تعالى عنه فرمائيل ((حسبنا الله ونعم الوكيل والله لينصرن الله وليه وليظهرن الله دينه وليهزمن الله عدوه ان لم يكن في الجيش بغي اوذنوب تغلب الحسنات)).

«په الله قسم! الله تعالی دخپلودوستانوضرورمددکوی اوخپل دین ضرورغالب کوی اوخپل دشمنان ضرورمغلوب کوی تر هغه وخته پورې چه په لښکرکښې ظلم نه وی اوپه نیکیوباندې گناهونه غالب نشی»۔

دالله تعالی په مددباندې پوره لښکر سلامت ددریاب بلې کنارې ته ورسیدلو ،آسونه ددریاب نه وه وتل او خپله لاره ئې ونیوله ا دخپلوسمونوویخته ئې څڅېدل اوپه مستیٔ باندې شیشنیدل لښکرپه مدائن کښې داخل شو نوهغه ئې بالکل خالی وموندلو ،کسری دخپل فوج سره دهغه ځایٔ نه تختیدلی وو، مسلمانانو بې حده اوبې حسابه خزانې وموندلې»۔

وبعث ابوبکر رضی الله تعالی عنه العلاء الحضرمی الی البحرین الی اهل الردة وفی حیاة الحیوان بعث العلاء الحضرمی الی البحرین فسلکوامفازة وعطشوا عطشا شدیدا حتی خافوا الهلاك فنزل وصلی رکعتین ثم قال یاحلیم یاعلیم یاعلی یاعظیم اسقنا فجاءت سحابة کانها جناح طائر فقعقعت علیهم وامطرت حتی ملؤا الآنیة علی خلیج من البحر ماخیض فیه قبل ذلك الیوم ولاخیض بعده فلم یجد سفنا وکان المرتدون قد احرقوا السفن فصلی رکعتین ثم قال یاحلیم یاعلیم یاعلی یاعظیم اجزنا ثم اخذ بعنان فرسه ثم قال جوزوا بسم الله قال ابوهریرة رضی الله تعالی عنه فمشینا علی الماء فوالله ماابتل لنا قدم ولاخف ولاحافر وکان الجیش اربعة آلاف وفی روایة وکان البحر مسیرة یوم وسفر هجر. وفی الاکتفاء سار العلاء الحضرمی الی الخط حتی نزل علی الساحل فجاءه نصرانی فقال له مالی ان دللتك علی مخاضة تخوض منها الخیل الی دارین قال وماتسالنی قال اهل بیت بدارین قال هم لك فخاض به وبالخیل الیهم فظهر علیهم عنوة وسبی اهلها ثم رجع الی عسکره. وقال ابراهیم بن ابی حبیبة حبس لهم البحر حتی خاضوا الیهم وجاوزه العلاء واصحابه مشیا علی ارجلهم وکانت تجری فیه السفن قبل ثم جرت فیه بعد فقاتلهم فاظفره الله بهم وسلموا اله ما کانوا منعوا من الجزیة الی صالحهم علیها رسول الله صلی الله علیه وسلم. ویروی انه کان للعلاء بن الحضرمی ومن کان معه جؤار الی الله تعالی فی عوض هذا البحر فاجاب الله دعاءهم وفی ذلك یقول عفیف بن المنذر وکان شاهدا معهم.

الم تر ان الله ذلل بحره — وانزل بالکفار احدی الجلائل

دعانا الذی شق البحار فجاءنا — باعظم من فلق البحار الاوائل

(خمیس ص۳۱ ج۲)

«حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه دمرتدینوسره دجهاددپاره حضرت علاء الحضرمی رضی الله تعالی عنه دلښکرامیرجوړکړو دبحرین طرف ته ئې ولیږلو، په یوخشک میدان باندې

تیریدلو . خلق دتندي دشدت دوجې نه هلاکت ته نزدې شول، حضرت علاء رضی الله تعالی عنه د آس نه راکوز شو دوه رکعته لمونځ ئې وکړو، بیائې دا دعا وکړه:((یاحلیم یاعلیم یاعلی یاعظیم اسقنا)) یونهایت معمولی غونتې وریځ را اوچته شوه اوفوراً په دومره زورسره باران شروع شو چه تولو اوبه وسکلې. لوښی ئې ډک کړل اوسورلیوته ئې هم اوبه ورکړې، ددې ځائ نه لاړل او ددشمن دتعاقب دپاره یی د دارینو قصدئې وکړو، هلته درسیدودپاره دسمندرنه تیریدل وو. سمندر دومره زیات وو چه په هغې کښې کله هم څوک نه ددې نه اول داخل شوې وو او نه روسته. مرتدینوکشتئ ګانی هم سوزولې وې چه مسلمان ددوئ تعاقب ونه کړې شی، حضرت علاء حضرمی رضی الله تعالی عنه دوه رکعته لمونځ وکړو او دعاء ئې وکړه: ((یاحلیم یاعلیم یاعلی یاعظیم اجزنا)) بیائې د آس قیضه ونیوله او په سمندرکښې ورکوزشو اولښکرته ئې اوفرمائیل: ((دالله نوم واخلئ او راکوزشئ))

حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه فرمائی: ((مونږپه اوبو باندې تللو، په الله قسم ! نه زمونږقدمونه لامده شول اونه زمونږ پایزار لوند شو اونه د آسونو خپې لمدې شوې او په دغه ورځ د څلور زره کسانو لښکر وو . په بعض روایاتونو کښې دی چه داسمندرديوورځې مسافت وو.

عفیف بن مندرپه دې جهادکښې شریک وو هغه په دې باره کښې دوه شعرونه اووئیل چه دلته ئې ترجمه داده:

((آیاته ګورې نه چه الله تعالی سمندرمطیع کړو + اوپه کفاروباندې ئې څومرمصیبتونه نازل کړل))

مونږهغه پاک ذات وارولوچاچه دبنی اسرائیلودپاره سمندرساکن کړې وو، هغه زمونږسره دبنی اسرائیلو نه هم زیات د اعانت اوکومک معامله اوفرمائیله))-

(۵) پورته په ۲۸ نمبرکښې د اوبنی قصه :

((دالله تعالی اود حضوراکرم صلی الله علیه وسلم اودحضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم د واضحو ارشاداتو او مذکوره واقعاتونه ثابته شوه چه دکامیابئ صحیح طریقه صرف داده چه په سیاست کښې صرف مشروع اوجائزطریقې اختیارکړې شي، بیاکه چرې صورةً کامیابی هم حاصله نشی نوحقیقی کامیابی یعنی رضائې الهی خو بهرحال حاصله ده،اوانسان مکلف هم ددې دې چه جائز اسباب اختیارکړی اونتیجه الله تعالی ته پریږدی- بیاکه غالب شی اوکه مغلوب، ظاهراً که کامیاب وی اوکه ناکام بهرصورت عند الله کامیاب دې-

حضرت حرام بن ملحان رضی الله تعالی عنه کوم کافر ناګهانه په نیزه وه وهلو، د وینې فوارا ترې روانه شوه، دوئ په لاس کښې وینه راواخسته په مخ ئې اووهله او وې فرمائیل فزت ورب

الکعبة (یعنی د کعبې په رب مې دې قسم وی زه کامیاب شوم)
وګوری په ظاهره د ناکامه کیدو باوجود خپل ځان کامیاب ګڼي۔

په قرآن کریم کښې ارشاد دي: ﴿وَمَن يُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا﴾ (۴-۷۴)

﴿قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ﴾ (۹-۵۲) ﴿إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ﴾ (۹- ۱۱۱)

په دې نصوصو کښې د هغه خلقو دپاره چه د الله تعالی درضا دپاره جهاد کوی ظاهراً کامیاب وی اوکه ناکام په دواړو صورتونو کښې بشارتونه دی، دې دپاره چه اصل مقصد یعنی رضائې الهی حاصله ده۔ د الله تعالی د احکامو تعمیل اوحدودو پابندی اودهغه په قوانینو باندې د استقامت په صورت کښې ژوندی پاتې شی اوکه مړشی بهرصورت کامیابی کامیابی ده۔

په قرآن مجید کښې ځائې په ځائې د فلاح اوفوز بشارتونه اودکامیابئ تمغې صرف هغې خلقوته ورکړې شوی دی چه په هرحال کښې دخپل مالک په بیان شوو حدودو باندې قائم وی:

(اولئك هم المفلحون)،(اولئك هم الفائزون)،(قد افلح المؤمنون) الایة

(ان الانسان لفی خسر الا الذین امنوا وعملوا الصلحت)- الایة

دارنګه په ډیرو آیتونو کښې په هرحالت کښې فرمانبرداروبندګانوته کامیاب ونیلې شوی دی.
اګرکه ظاهراً هغوئ ناکام ښکاری - اصل کامیابی دمالک درضا حصول دې چه صرف دهغه په اطاعت او په ترک معصیت سره حاصلیږی، که چیرې ظاهری کامیابی مقصود وګنلې شی نوپه دې باندې ضرور دا اعتراض راځی چه معاذالله؛ ډیرانبیاء کرام علیهم السلام کامیاب شوې نه دی.
دې وجې نه چه دوئ ته حکومت ملاؤشوې نه وو. بلکه دحضوراکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دې چه بعض انبیاء داسې هم تیرشوی دی چه په هغه باندې صرف شخص ایمان راوړې اوپه بعض باندې یو شخص هم ایمان نه دې راوړې، اوپه قرآن کریم کښې په بعض مقاماتو کښې تصریح ده چه ډیرانبیاء کرام علیهم السلام ئې قتل کړی دی، نوآیا معاذالله داټول به ناکام وی؟ هیڅکله نه . پس د کامیابئ معنی داده چه د الله تعالی د رضاء دحصول په خاطر دهغه په ونیلې شوو قواعدو اوضوابطو باندې ثابت قدم وی. والله الهادی الجمیع لما یحب ویرضی وهو العاصم من جمیع الفتن وله الحمد اولا واخرا.

۲۴ رمضان ۹۲ ه

دحکیمُ الامة رحمه الله تعالی سیاسی افکار

«تحریر مولانا محمد تقی عثمانی »

حکیم الامت مجدد الملت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی قدس سرهٔ نه چه الله تعالی ددین په هرې شعبې کښې کوم عظیم خدمات اخستی دهغې نظیر دماضی په خوصدیوکښې په تلاش سره نه ملاویږی- دمسلمانانوددینی ضرورت شایدهیڅ موضوع داسې نه وی چه په هغې باندې دحکیم الامت قدس سره څه مفصل یامختصر کارموجودنه وی- دحضرت رحمه الله تعالی تصانیف، مواعظ اوملفوظات دخپل دورپه دینی ضروریاتوباندې مشتمل دی اود زندګئ کومه شعبه داسې نشته چه دهغې په باره کښې یې ددین تعلیماتوته په یوه نه یوه شکل باندې دواضح کولو کوشش نه وی کړې-

پدې وخت کښې زما پیش نظر دحضرت حکیم الامت قدس سره دسیاسی افکارو تشریح او توضیح ده- اګرچه دحضرت رحمه الله تعالی شخصیت په هیڅ حیثیت باندې څه سیاسی شخصیت نه وو اونه سیاست ددوئ خصوصی موضوع وه، لهذددوئ کوم تصنیف خالصةً دسیاست په موضوع باندې موجودنه دې، لیکن چونکه داسلام ددین احکام دنوروشعبوپه شان دسیاست سره هم متعلق دی، دې وجې نه داسلامی احکامودتشریح اووضاحت په ضمن کښې حضرت رحمه الله تعالی داسلام په سیاسی احکاموباندې هم خپل تصانیف اومواعظ اوپه ملفوظاتوکښې مختصر لیکن جامع بحثونه فرمائیلی دی چه په هغې کښې داسلامی احکامودتوضیح سره سره د عصر حاضر نورسیاسی نظامونواودسیاست په میدان کښې موندونکی په فکری اوعملی ګمراهیو باندې هم پوره تبصرې شاملې دی- په دې مقاله کښې ددې بحثونویوداسې مطالعه مقصودده چه دهغې په ذریعه حضرت حکیم الامت قدس سره دبیان مطابق دسیاست په باره کښې داسلامی تعلیمات یوواضح تصور مخې ته راوستل دی.

دنن په دُنیا کښې چه کوم سیاسی نظامونه عملاً قائم دی، ددې کړې شوی تصورات دخلقوپه زړونو او دماغوباندې دارنګه پیژندل شوی چه ددې په اثراتوباندې سوچ آزادول ډیرمشکل شوی دی. دې سیاسی نظامونو څه څیزونه بـه اوڅه څیزونه بدوګنل دخپلودې نظریاتوپرو پاګند ئې ددومره شدت سره کړې ده چه خلق ددې نه خلاف دڅه وئیلو یاکولوتصورهم نه شی کولې-اول خو ددې دپاره چه د پروپاګند مهیب طاقتونو ذهنونه داسې جوړکړی دی چه دوئ دانظریات دیومسله ریښتونی په طورباندې قبول کړی دی، اوبل ددې دپاره چه که چرې کوم شخص په عقلی طور باندې ددې نظریاتونه اختلاف هم لری نودهغې په خلاف څه وئیل دتولې دنیادملامتئې اوطعن اوتشنیع ددعوت ورکولومترادف دې. لهذاهغه په خاموشئ کښې خپل عافیت ګڼي-

په دې بناء باندې کله چه دنن په دُنیاکښې د اسلام سیاسی تعلیماتو تشریح څوك كوى نو نښه خلق چه په هغې کښې ډیرعلماء هم داخل دی، خپل ذهن دزمانې ان فیشن ایبل تصوراتو نه شی آزادولې، اوددې په نتیجه کښې چه کله هغه داسلام دسیاسی ډهانچې تفصیلات بیانوی نو دا تصورات استعارةً اخلی او په دې چوکاټ کښې یې برابرول ضروری گنی. دارنگه په دې نازکې موضوع باندې دالتباس او خلط بحث دومره غالبه شوې دې چه حقیقت حال ئې پټ کړې دې

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی قدس سره نه الله تعالی په څوارلسمه صدئ کښې ددین دتجدیدعظیم الشان کارواخستلو. اوداکارهغه څوك كولې شی چه په چاباندې دقرآن اوسنت ماخذِ شریعت پوخ رنگ دارنگه اچول شوې وی چه کوم بل رنگ په دې باندې نه شی اچول کیدې- دداسې شخص دزمانې پیژندل ضروری دی، لیکن قبولوالې هغه خبره کوی چه ددې پوخ رنگ په مطابق وی- هغه خپلې سترگې په پُوره شان باندې کولاولې شی، لیکن دگرداوپیش کیدونکې د پروپاگند دشورشغب نه، نه مرعوب کیږی- اوکه چرې بالفرض ټوله دنیا په کوم یو طرف لاړه شی بیاهم هغه دالله تعالی د خاص توفیق نه په هغه خبره باندې قائم اوسیږی کومه چه دماخذ دشریعت په رُوباندې رینښتونې وی اوددې په اظهارکښې څه مرعوبیت یاشرم یادمخلوق یره دده په زړه کښې نه راځی-

دسیاست په معامله کښې هم حکیم الامت قدس سره ددین په صراط مستقیم باندې دهغې ثابت قدمئ مظاهره اوفرمائیله. اوپه دې دورکښې کله چه دډیروباطلونظریاتو آمیزش دسیاست په باره کښې اسلامی تعلیماتوته خړ رنگ ورکړو، حضرت رحمه الله تعالی د الله پاك په توفیق خاص سره د اتعلیمات په خپل صحیح شکل اوصورت کښې پیش کړل او د پروپاگند دشوراوشغب نه مرعوب نه شو-

چونکه دنن سیاسیاست (چه په هغې کښې هغه سیاست هم داخل دې چه دهغې مقصد داسلام نفاذ ښودلې شی) په یوخاص طرف باندې روان دې . اوپه دې کښې دبعضې خبرې د موضوع د وجې نه دحضرت رحمه الله تعالی داسیاسی افکار هغه سیاسی ذهنونوته یقینًا اجنبی محسوسیږی چه په بنیادی طورباندې دمغربی سیاست نه متاثردی لیکن د حضرت رحمه الله تعالی دا افکار او دهغې شاته دنقلی اوعقلی دلائلو مضبوط طاقت دې، دې وجې نه ددې مطالعه پکار ده اوپه دې باندې بهیخ زړه اوغیرجانبدارذهن سره غورکول ضروری دی چه حقیقت حال واضح شی. ددې وجې نه دې خبرې په ذهنونوکښې نه راځی، دې

دحضرت رحمه الله تعالی سیاسی افکار زه په درې حصوکښې تقسیم کوم اوبیا یې پیش کوم

(۱) په اسلام کښې دسیاست مقام-

(۲) داسلام نظامي حکومت اوحکومت فرائض۔
(۳) په اسلام کښې دسیاسي جدوجهد طریقه کار۔

(۱) په اسلام کښې دسیاست مقام :

دتولونه اوله مسئله داده چه په دین کښې دسیاست مقام څه دې؟ اوپه دین کښې دیوصحیح سیاسي نظام دقیام اهمیت په کومه درجه کښې دې؟ دعیسائیت داباطله نظریه ډیره مشهوره ده چه «دقیصرحق قیصرته ورکړه، اودکلیساحق کلیساته»

دهغې حاصل دادې چه دمذهب په سیاست کښې هیڅ دخل نشته، اودمذهب اوسیاست دواړو دائره دعمل مختلفه ده، دواړوته په خپلوخپلو دائروکښې دیوبل دمداخلت نه بغیرکارکول غواړي، ددین اوسیاست دتفریق دانظریه په عصرحاضرکښې ترقي کولوسره د«سیکولرزم» شکل اختیارکړو چه دنن په سیاسي نظامونو کښې مقبول ترینه نظریه ګڼلې شي۔

ظاهره ده چه په اسلام کښې ددې نظرئي څه ګنجائش نشته ، داسلام تعلیمات چونکه دهرې شعبې دزندګئ سره متعلق دی چه په هغې کښې سیاست هم داخل دې، دې وجې نه په اسلام کښې دسیاست ددین اومذهب نه دبې تعلقه ساتلو هیڅ جواز موجودنه دې۔

چنانچه په عصر حاضرکښې ډیرومسلمانانو دعیسائیت اودسیکولرزم ددې باطلې نظرئې سخت تردید کړې دې ، اوداثې ثابته کړیده چه سیاست ددین نه هیڅکله نشی جدا کیدلې، په قول داقبال مرحوم : ع : *جُدا ہوں دین سیاست سے تو رہ جاتی ہے چنگیزی*

لیکن دسیکولرزم اودین اوسیاست دتفریق ددې نظرئې په رد کولو کښې ډیر مسلمانان مفکرین اود اهل قلم نه یوه نهایت باریکه غلطي واقع شوه چه په کتوکښې ډیره باریکه اومعمولي وه، لیکن ددې اثرات ډیرلرې رسیدلی وو- دا باریکه غلطي مونږ په مختصرو الفاظوکښې بیانول غواړو او له هغې نه دارنګه تعبیرکولې شي چه دوئ د«سیکولرزم» دتردیدپه جوش کښې دسیاست اسلامي جوړولوپه ځائ اسلام سیاسي جوړکړو، ویناداوه چه : «سیاست ددین نه ځانته کیدل نه دی پکار» لیکن ونیل ئې دا چه : «دین دسیاست نه ځانته کیدل نه دی پکار»

ددې اجمال تفصیل دادې چه داسلام ډیراحکام دسیاست اوحکومت سره متعلق ضروردی او د ایمان تقاضا هم داده چه دهرمسلمان اسلام دنورواحکاموپه شان په دې احکاموباندې هم په قدر د استطاعت دعمل کولواوپه بل باندې دکولوکوشش وکړي، دحاکم فرض دی چه هغه اسلامي احکام نافذکړي او د اسلام داحکامو مطابق حکومت وکړي اودعوامو فرض دی چه هغوئ دشرعي احکامو مطابق دداسې حکومت دقیام کوشش وکړي اوکه چیرې هغه قائم شي نودهغې اطاعت وکړي۔

لیکن دعصرحاضر بعض مفکرین اومصنفین ، چاچه دسیکولرزم په تردیدکښې کاروکړو، دتردیدپه جوش کښې دې حده پورې وړاندې لاړل چه دوئ سیاست اوحکومت داسلام مقصود حقیقی، ددې حقیقی نصب العین اودانبیاؤعلیهم السلام مطمح نظر. بلکه دانسان دتخلیق اصل هدف وګڼلو او د اسلام نوراحکام مثلاً عبادات وغیره ته ئې نه صرف دویم حیثیت ورکړو. بلکه هغه یې د داسې مقصود اصلی یعنی د«سیاست» دحصول یو ذریعه اودهغې دتربیت یوطریقه وګڼله.

ددې انتهاء پسندی اول غټ نقصان خو دا شو چه ددې په نتیجه کښې ددین مجموعی تصویراودهغې دترجیحاتو ترتیب (ORDER OF PRIORITY) کوم څیزچه وسیله وو هغه ئې مقصد جوړکړو اوهغه یې په زړه اودماغوباندې ومنلو. اوکوم چه مقصدوو هغه یوغیراهمه وسیله جوړه شوه اوپس منظرکښې لاړه،، چنانچه ددې طرزفکرلاندې ذهن څه په دې شان جوړشو چه دیو مسلمان اصل مقصددسیاست زندګی اودحکومت اصلاح کیدل ئې غوښتل، کارهغه کاردې چه په دې طریقه سرته ورسولې شی. قربانی هغه قربانی ده چه په دې لاره کښې پیش کړې شی. اومثالی انسان هغه انسان دې چاچه داکارخپل مقصد جوړکړو او شپه ورځ ئې ددې دپاره وقف کړه - اود دین دنورو شعبو مثلاً طاعات عبادات، زهد اوتقوی، اصلاح النفس اوخشیت اوانابت وغیره لپاره نه صرف داچه خاص اهمیت ئې باقی پاتې نه شوبلکه کوم شخص چه په دې کارونوکښې مشغول وی دهغه په باره کښې یې داتصورقائم کړو چه ګویاهغه په مبادی کښې لګیادې اوددین دبنیادی مقاصدو نه لرې دې-

دویم نقصان دا وشو چه کله داسلام اصل اوبنیاد سیاست اوحکومت وګڼلې شو. او دعباداتو وغیره احکاموحیثیت صرف دوسیلې شو نو دا یوه بدیهی خبره ده چه کله کله وسائل په مقصد باندې قربانیږی هم ، اودمقصددحصول دپاره که چیرې په کومه وسیله کښې څه لاندې باندې یاکمې زیاتې هم کیږی نوهغه خوش ذائقه کولې شی- لهذا د مذکوره انتهاپسندئ په نتیجه کښې شعوری یاغیر شعوری طورباندې ددې خبرې ډیرغټ ګُنجائش پیداشو چه دسیاسی مقاصدو دحصول دپاره دعباداتو وغیره احکاموکښې که څه کمې اوکوتاهی هم وشی نوهغه دملامتیئ قابل نه ده. ځکه چه هغه دیوغټ مقصد دحاصلولودپاره شوې دې-

سیاست ددین یوشعبه نه . بلکه ددین دمقصود اصلی دګڼلو مثال بالکل داسې دې لکه تجارت اومعیشت هم ددین یو شعبه ده. په دې حیثیت سره ډیراحکام دتجارت اومعیشت سره هم متعلق دی بلکه دحلال کسب ډیرفضائل هم په احادیثوکښې واردشوی دی. اوس که چرې ددې فضائلو په نظر کښې نیولو سره کوم شخص دا اوانی چه ددین اصل مقصددې تجارت اومعیشت اوکسب حلال وګرځی نوداخبره دومره غلطه ده چه په دې باندې ددلائلو قائمولو هم ضرورت نشته

بعينه دغه شان سياست په دې معنى سره ددين يوه شعبه ضروروه چه ددين ډيراحكام له هغه سره متعلق دى اوددې ډيرفضائل هم په قرآن اوحديث كښې وارد شوى دى ليكن ددې فضائلو په بنياد باندې دا ددين مقصوداصلى ګڼل داسې غلطى ده لكه څنګه چه تجارت اومعيشت ددين اصل نصب العين ګڼل دى.

ليكن دخوارلسمې صدئ دهجرى كال په شروع كښې چه دكوم وخت نه په مسلمانانوكښې د مغربى استعمارنه دآزاديدلو تحريكونه شروع شول. دهغې وخت نه هغه انتها پسندانه طرزفكر عام شو چه په هغې كښې سياست د«خلافت فى الارض»او«حكومت الهيه » وغيره په عنواناتو باندې ددين بنيادى مقصد وګڼلې شو- دطرزفكردې غلطئ په مسلمانانوكښې په دومره آرام خپل ځائ جوړكړو چه بنو بنو خلقوته دا احساس نه شو كيدې چه دده دفكراوعمل نقطه بدله شوه- د«سياسى استقلال » ضرورت اواهميت په دې درجه ذهنونوباندې منل شوى ووچه ددې باريک مګر په لوې غلطئ باندې غوركولوسره «په دين كښې دسياست»دصحيح مقام متعين كولوفرصت نه وو. نتيجه داشوه چه دا تصور بعضو حضرات په شعورى طورباندې اختياركړواوبعضو په غير شعورى طورباندې، اود اسلامى تحريكونو اجتماعى عمل په دې باندې داسې مهر ولګولو چه بنه بنه اهل علمو ته هم دكانتې ددې تبديلئ نه احساس نه شواى كيدې-

په دې ماحول كښې داحقردعلم مطابق حضرت مولانا اشرف على صاحب تهانوى قدس سره هغه اول بزرګ دې چاچه دا باريكه غلطى په دوه ټكو او لفظونوكښې واضحه اوفرمائيله اودقرآن اوسنت ددلائلونه ئې ثابته كړه چه په دين كښې دسياست صحيح مقام كوم دې؟حضرت رحمه الله تعالى فرمائى: دحق تعالى ارشاددې

﴿ ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّـٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ أَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُوا۟ بِٱلْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا۟ عَنِ ٱلْمُنكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَـٰقِبَةُ ٱلْأُمُورِ ﴿٤١﴾ ﴾

«هغه خلقو ته كه چيرې مونږ د زمكې حكومت عطاء كړو نوهغه مونځ قائم كوى اوزكوة اداكوى او امربالمعروف اودنهى عن المنكرفرض انجام كوى. او د ټولوكارونوانجام دالله تعالى په لاس كښې دې.»

ددې نه واضحه شوه چه ديانت مقصود بالذات دې.اوسياست اوجهادمقصوداصلى ندې. بلكه داقامت ديانت لپاره وسيله ده- دا وجه ده چه ديانت او د ديانت احكام ټولو انبياء عليهم السلام ته په مشترک طورباندې وركړې شوى وؤ اوسياسيات اوجهاد ټولوته نه دې وركړې. بلكه چرته چه ضرورت اومصلحت وګڼلې شو نو حكومت وركړې شو اوكه نه نو ورنكړې شو. دوسائلوداشان دى چه هغه دضرورت دپاره او د ضرورت مطابق وركولې شى-

شاید چانه داشبه وی چه په نور آیاتونو کښې خو ددې خلاف مضمون موجود دې چه په هغې سره دوسیله کیدو اوتمکین فی الارض اود سیاست مقصود کیدل په ذهن کښې راځی او هغه دا دې

﴿ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ ﴾

«په تاسو کښې چه کوم خلق ایمان راوړی اونیک عمل وکړی دهغوئ سره الله تعالی وعده فرمائیلې ده چه دوئ ته به په زمکه کښې حکومت ورکوی لکه څنګه چه ددې نه وړاندې خلقوته حکومت ورکړې شوې وو اوکوم دین چه ئې ددوئ دپاره خوښ کړې دې، دوئ ته ددې دپاره قوت ورکولې شی۔»

دلته ایمان اوعمل صالح شرط ګڼلې شی دتمکین فی الارض لپاره. چه دهغې نه تمکین او دسیاست مقصود اصلی کیدل لازمیږی.

پس جواب ددې دادې چه دلته یې په ایمان اوعمل صالح باندې دتمکین اوشوکت وعده کړې ده او بطورخصوص یې شوکت په دین باندې مرتب کړې دې، پس په دین باندې سیاست اوقوت موعود شو لیکن دموعود مقصود کیدل ضروری ندی، اوکه نه نو دا آیت وګورئ:

﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم ﴾

«اوکه چرې داخلق دتورات اوانجیل اوکوم کتاب چه ددوئ دپروردګار دطرف نه ددوئ خواته رالیږلې شوې یعنی قرآن، ددې پوره پابندی کوی نو دا خلق به له پاسه اودلاندې طرف نه په ښه وسعت سره خوراکونه وکړی»

په کوم آیت کښې چه په اقامت د تورات اوانجیل اوقرآن، یعنی عمل بالقرآن باندې دوسعت رزق وعده کړې شوې ده، آیا څوک وئیلې شی چه ددین نه مقصود همدا دې؟ بلکه په دین باندې دا وعده شوې ده چه وږې او تږې به نه شی اوسیدې. پس دموعود مقصود کیدل ضروری نه دی۔ دلته هم ایمان اوعمل صالح باندې شوکت اوقوت اوسیاست وغیره موعود دی چه بطور دخاص په دې باندې مرتب کیږی، نه مقصود بالذات چه غایه شی

بهرحال، واضحه شوه چه په سیاست اودیانت کښې سیاست وسیله ده اودیانت مقصود اصلی دې. لیکن ددې دامطلب نه دې چه سیاست په یو درجه کښې هم مطلوب نه دې. بلکه ددې درجه نزول مقصود دی چه هغه په خپله مقصود اصلی نه دې اودیانت په خپله مقصود اصلی دې

(اشرف السوانح جلد۴ (خاتمة السوانح) ص۶۰ طبع ملتان)

حقيقت دادي چه حضرت حكيم الامت رحمه الله تعالى ديوې صفحې دامختصره ليكنه انتهائي پُر مغزه او په جامع تقرير كښې يې دالله تعالى په توفيق خاص سره دا موضوع په داسې اندازې سره واضحه اوفرمائيله چه په دې كښې څه اشتباه باقي نه پاتې كيږي- چه دهغې خلاصه داده.

«نه هغه سيكولرنظريه صحيح ده چه سياست اوحكومت كښې ددين څه عمل دخل نه كيدل پكاردي، اونه داخيال صحيح دې چه ددين اصل مقصدسياست اوحكومت دې، واقعه داده چه د دين اصل مقصد دبنده خپل الله سره تعلق قائمول دی چه دهغې مظاهره دعباداتواوطاعاتو په ذريعې سره كيږي- سياست اوحكومت هم ددې مقصد دتحصيل يوذريعه ده چه نه په خپل ځائ مقصد دې اونه د اقامت ددين مقصدپه دې باندې موقوف دې، بلكه دهغې حصول دمقاصدو او وسائلونه يو مقصد او وسيله ده .

(۲) داسلام حكومتي نظام:

په منځنيو پيړيو كښې په اروپا كښې چه كوم شخصي حكومتونه په عام طورسره رائج وو هغه مطلق العنان بادشاهان ووچه په هغې كښې دبادشاه ژبې دقانون حيثيت درلودلو اوپه دې باندې څه قانوني انتقاد او طعن نه كيدلو ، ددې مطلق العنان حكمرانئي په نتيجه كښې ظلم اوستم او دنا انصافيانو بازارگرم وو،له دې وجې نه ددې خلاف په اروپ كښې شديد رد عمل وشو- «شخصي حكومت» بذات خود نهايت معيوب وګڼلې شو اوددې په ځائې«جمهوريت» ديومثالي طرزحكومت په طورباندې پيش كړې شو، تر دې پورې چه په مزه مزه شخصي حكومتونه ختم شو اوددې په ځائ جمهوري نظام حكومت په وجودكښې راغې، په زيادتره ملكونو كښې جمهوريت قائم كړې شو، تر دې چه جمهوريت يو داسې فيشني اومادرن نظام حكومت ګڼلې شی چه په سياست كښې دعدل اوانصاف اودحق اوصداقت ضامن دې- چنانچه تيره شوې (هجري) صدئ نه واخله تر اوسه پورې چه څومره تحريكونه را اوچت شوی دی، دهغوئ په ذهن كښې د جمهوريت حيثيت (معاذالله) ديوه داسې «كلمه طيبه » شوې ده چه دهغې نه بغير په ننی دوركښې دسياست تصورنه شی كيدې.

دا په ټوله دُنياباندې ومنلې شو . ددې پروپاګند نتيجه داشوه چه په عصر حاضر كښې كوم سياسي جماعتونو د اسلام نوم واخستلو او را اوچت شو ،ددوئ اكثريت هم نه صرف داچه جمهوريت يې يومسلم اصل وګڼلو او پدې كښې وراندې لاړل، بلكه دوئ هم په خپلو مقاصدو كښې دجمهوريت قيام دفهرست په سركښې ايښې دې اوپه خپله ئې هغه جماعت هم په جمهوري چوكاټ باندې آباد كړې دې - چنانچه په دې ضمن كښې يې دا دعوې هم په كثرت سره كړې ده چه جمهوريت داسلام عين مطابق دې بلكه اسلام دجمهوريت تعليم وركړې دې. چاد ډير احتياط نه

وجه نه دا اونیل چه کوم جمهوریت د اسلام نه خلاف و مونږ د هغې قائل نه یو. لهذا زمونږ جمهوریت ((اسلامی جمهوریت)) دې

دا تصورات زمونږپه دورکښې په دومره قدرمشهورشوی دی چه ددې خلاف څه سوچ کول یاونیل دټولې دنیا لعنت اوملامتی په خپل سر داخستلو مترادف دی. اوکه چیرې په داسې ماحول کښې کوم شخص دجمهوری حکومت په ځائ دشخصی حکومت حمایت کوی نوداسې شخص په نننۍ سیاسی فضاکښې تقریباً دکفر دکلمې دونیلومرتکب ګڼلې شی.

لیکن کوم شخص چه الله تعالی دخپل دین اودخالص دین ددعوت اودتجدیددپاره منتخب کړې دې، هغه په زمانې باندې منلې ده، په تصوراتو او خوشنما نعروسره نه مرعوب کیږی او نه متاثره کیږی. بلکه په هرحال کښې حق حق اوباطل باطل ګڼي- چنانچه حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی قدس سرهُ کله دیوې لمحې دپاره هم دا تسلیم نکړه چه اسلام دجمهوریت تعلیم ورکړې دې یا جمهوریت داسلام عین مطابق دې- د دې په ځائ دوئ په خپلو متعددو مواعظو اوملفوظاتو اوتصانیفوکښې په جمهوریت باندې نهایت جاندارتنقیدونه کړی دی اوخپله دینی نقطه ئې نظرنه یی ددې خرابیانې واضحې کړې دی.

عام طورباندې دجمهوریت متعلق دخلقوذهنونوکښې صرف دومره خیال وو چه دمطلق العنان بادشاهیت په مقابله کښې دا نظام عوامو ته د اظهار رائې آزادی ورکوی کوی اوپه حکمرانانو باندې داسې پابندیانې عائدکوی چه دهغې په ذریعې هغوئ نه شی بې مُهاره کیدې- اوچونکه اسلام د((مشاورت)) حکم ورکړې دې، دې وجې نه ئې ((جمهوریت)) د((مشاورت)) هم معنی وګڼلو خلقو دا ویناشروع کړه چه ((جمهوریت)) عین اسلام دې- حالانکه خبره دومره ساده نه ده. په حقیقت کښې د((جمهوری نظام حکومت)) نه شاته یوه مستقله فلسفه ده چه ددین سره یوقدم هم نشی تلې دکوم دپاره چه په سیکولرزم باندې ایمان راوړل تقریباً دلازمی شرط حیثیت لری.

دجمهوریت دحقیقت واضح کولودپاره داجمله مشهوره ده.

(IT IS A GOVERNMENT OF THE PEOPLE BY THE PEOPLE FOR THE PEOPLE)

جمهوریت دعوامودحکومت نوم دې چه دعوامو په ذریعه اودعوامو دفائدې دپاره قائمیږی.

لهذا د((جمهوریت)) دټولونه اول رکن اعظم دادې چه په دې کښې عوام حاکم اعلی تصورکولې شی اودعوامو هره فیصله چه دکثرت رائې په بنیاد باندې شوی وی هغه واجب اونا قابل تنسیخ ګڼلې شی- دکثرت رائې په دې فیصلې باندې څه طعن اوکومه پابندی نه شی عائدکیدې که جری دحکومت دستوردعوامی دنمائندګانو په اختیار په قانون سازئ باندې څه پابندی هم عائدکړی مثلاً داچه هغوئ کوم قانون د قرآن اوسنت یا دبنیادی حقوقوپه خلاف نه شی جوړولې، نو دا

پابندی ددې دپاره واجب التعمیل نه کیږی چه دا دعوامو نه بالاتره کوم قوت عاندکړې ده - یا دا دالله تعالی حکم دې چه په هرحال کښې یې منل ضروری دی ،بلکه صرف ددې دپاره واجب التعمیل ګنلې شی چه داپابندی په خپله کثرت الرائې عاندکړې ده- لهذا که چرې کثرت رائې کوم وخت غواړی نوهغه منسوخولې هم شی۔

خلاصه داچه په جمهوریت کښې کثرت رائې ته (معاذالله) دخدائې مقام ورکړې شوې دې چه ددې خه فیصله نه شی ردکولې- چنانچه په دې بنیادباندې په مغربی ممالکوکښې دبدنه بدتره قوانین دکثرت رائې په زورباندې مسلسل نافذولې شی ،اوترتنه پورې نافذولې شی- دزنا په شان بدکارئ نه واخله دهم جنسئ په شان ګنده عمل پورې یې د جواز سند ورکړې دې، لو دې طرزفکر دُنیا داخلاقی تباهئ آخری حده پورې رسولې ده.

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی قدس سرهٗ دکثرت رائې په دې جمهوری فلسفې باندې خائې په خائې تبصرې کړی دی دهغې کمزوریانې یې واضح کړی دی.

دقرآن کریم ارشاددې: ﴿ وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ﴾

((اوکه چیرې ته دزمکې دخلکو داکثریت اطاعت وکړې نوهغوئ به تادالله تعالی دلارې نه ګمراه کړی))-

کثرت رائې دمعیارحق دګنلونه خلاف ددې نه زیات او واضح اعلان نورڅه کیدې شی؟ لیکن په زمانې باندې دمنل شویو نظریاتو نه مرعوبه شوو مسلمانانوکښې هم دې خیال تقویت وموندلو چه په کوم طرف کثرت رائې وی هغه خبره ضرورحق وی- حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی قدس سرهٗ په خپلوتالیفاتواومواعظواوملفوظاتوکښې په ډیرومقاماتوباندې ددې خورې شوې غلطئ تردید فرمائیلې دې، په یووعظ کښې فرمائی: ((نن سبا دا عجیبه مسئله راوتلې ده چه په کوم طرف کثرت رائې وی هغه خبره حق وی، صاحبانو! دایوحده پورې صحیح ده، لیکن داهم معلومه ده چه درائې نه دچارائې مرادده؟ آیاددې عوامو کالانعامو؟ که چرې ددوئ رائې مرادوی نو حضرت هود علیه السلام دخپل قوم رائې باندې عمل ونه کړو، ټول قوم په یوطرف وو اوحضرت هودعلیه السلام په بل طرف- آخردوئ ولې توحیدپرې نښودلو او بُت پرستی یې اختیارنه کړه؟ ځکه چه د قوم د تفریق الزام سرراوړې دې؟ دې وجې نه چه هغه قوم جاهل وو دهغوئ رائې جاهلانه رائې وی)) (فضائل العلم والخشیة ص۰ ومعارف حکیم الامة ص۳۰)

مطلب دادې چه دعوامو کثرت رائې کله هم معیارحق نه شی کیدې. ځکه چه په عواموکښې اکثریت عمومًا دکم علموخلقو وی - حضرت حکیم الامت رحمه الله تعالی په یوه بله موقع باندې ارشادفرمائی چه: ((مولانا محمدحسین اله آبادی سیداحمدخان ته ونیلی وو چه تاسوخلق په کوم

کثرت رائې باندې فیصله کوئ، دهغې حاصل دادې چه دحماقت رائې باندې فیصله کوئ. ځکه چه قانون فطرت دادې چه په دنیاکښې عقلاء کم دی اوبې وقوف زیاتدی ، نوددې قاعدې په بناء باندې دکثرت رائې فیصله دبی وقوفئ فیصله کیږی»-(**تقلیل الاختلاط مع الانام ص۲ ومعارف حکیم الامة ص۳۱**)

په یوه بله موقع باندې ارشادفرمائی: «په غزوه أحد کښې) په هغه پنځوس کسانوکښې چه دغر په سرباندې مقرر شوی وو، اختلاف شو، بعضواووئیلې چه زمونږرونړوته فتح حاصله شوې ده، اوس مونږ ته دغره په سرباندې داوسیدوضرورت نشته. حضورصلی الله علیه وسلم چه دکوم غرض دپاره مونږ دلته متعین کړی ووهغه غرض حاصل شو، دې وجې نه حکم قرار هم ختم شو، اوس ددې ځائ نه په کوزیدوکښې د حضورصلی الله علیه وسلم دمقصودمخالفت نه کیږی. اومونږ اوسه پورې په جنگ کښې څه حصه وانه خسته نوڅه خومونږ ته هم کول پکاردی- زمونږ رونړه دکفاروتعاقب کوی، مونږ ته مال غنیمت جمع کول پکاردی، بعضود دې رائې مخالفت وکړو او وې وئیل چه حضورصلی الله علیه وسلم صاف فرمائیلی وو چه زما د اجازت نه بغیر ددې ځائې نه مه کوزیږئ ، له همدې وجې نه مونږته بغیر ددوئ داجازت نه هرگز کوزیدل ندی پکار- لیکن د اولې رائې والا دا خبره ونه منله اوځلویښت کسان دغره دسر نه کوزشول اوپه مال غنیمت جمع کولوکښې مشغول شول. دا د دوئ نه اجتهادی غلطی وشوه اودغره په سرباندې صرف لس کسان او یو افسردهغوئ پاتې شو.

په دې واقعه کښې کثرت رائې په غلطئ باندې وه او قلت رائې په صواب باندې وه، کوم خلق چه کثرت رائې علامه د حق گڼي- هغه دې ددې نه سبق واخلی ». (**کلم الحسن ص۳۰ معارف حکیم الامة ص۳۱**)

په دې وعظ کښې وړاندې لاړو حضرت حکیم الامت قدس سرهٔ دکثرت رائې لازمی حقانیت نه خلاف د حضرت صدیق اکبررضی الله تعالی عنه ددې طرزعمل مثال هم ورکړې دې چه ددوئ صلی الله علیه وسلم د وصال نه بعدچه کله بعضې قبائلو دزکوة ورکولونه انکار وکړو نو دهغې خلاف دوئ دجهاد اراده اوفرمائیله. دحضرت عمررضی الله تعالی عنه اونور بهترو صحابه کرامورضی الله تعالی عنهم رائې داوه چه ددې خلقوسره جهاد ونه کړې شی. لیکن حضرت صدیق اکبر رضی الله تعالی عنه په خپله رائې باندې قائم وو او دهغې مطابق فیصله هم وشوه او وروسته ټولو خلقو دا اعتراف وکړو چه صاحب رائې همدې وو-

حضرت حکیم الامت رحمه الله تعالی کثرت رائې دمعیارحق گڼلوپه نظرئې باندې د شرعی اوعقلی دواړه قسمه دلائلو سره تنقید فرمائیلې دې اوپه ساده ساده لفظونوکښې یې داسې حقائق

بیان کړی دي چه کله هم څوك په یخ زړه سره غور پرې وکړي نو د هغې نتیجې پورې رسیږي چنانچه دجدیدعلم سیاست بعض حقیقت پسندماهرینو هم د «جمهوریت» نقصانات تسلیم کړي دي- یومشهورماهرسیاسیات ایډمنډبورک (BURKE) لیکي:

«داکثریت فیصلې کول څه دفطرت قانون نه دي، لږ تعداد والا خلق بعضې اوقات زیات مضبوط طاقت هم کیدې شي، او د اکثریت دحرص اوهوس په مقابله کښې پدې کښې معقولیت هم کیدې شي، لهذا دا مقوله: داکثریت فیصلې څوک جوړول غواړي
په دې کښې دافادیت اوپالیسۍ هم دومره کمې دي څومره چه دحقانیت کمې دي»[1].

حکیم الامت قدس سرهٗ په یووعظ کښې ارشادفرمائی: «اول خوپه کثرت رائې کښې احمقان جمع کولې شي، ددې کثرت خودحماقت په طرف دې، بیاددې نه هم اول خپلې رائې منلې شي او دسبق په شان وئیلې شي چه مونږ داوایو تاسودا وایئ، لکه څنګه چه وکیل ګواهانوته وائی، اوس هغه کثرت څه خاوري کیږي» (وعظ الانسام ماخوذ ازاصلاح المسلمین ص ۵۱۰ مطبوع اداره اسلامیات لاهور)

(بعضې جمهوریت پسندو خلقو دحضرت رحمه الله تعالی دا تبصره یوه سطحې تبصره ګنلې ده اوبعضې خلقو داهم وه وئیل چه دا دیو داسې بزرګ تبصره ده چه دهغه میدان علم سیا[illegible]وو. لیکن حقیقت دادې چه دحضرت نظر دخپلې ګوشه نشینی باوجوددزمانې په ژورو ژګوګوباندې وو ، ددې اصل ماخذ قران اوسنت وو اود وحی دې روشنائی دوئ ته هغه نورفراست ورکړې وو چه دهغې په ذریعه هغه دا مسائل په انتهائی سادګۍ باندې بیان کړی دی کومه چه خلقویومستقله فلسفه جوړکړې ده، چنانچه دا تبصره هم دهغه فراست ایمانی نتیجه وه دسیاست علم بیشکه د دوئ اصل میدان نه وو، لیکن کوم څیز چه د ربنتونې وحی په نورسره معلوم شوې وی هغې ته درسمی علوموحاجت نه وی-

لیکن ددې علم سیاست هغه ماهرین چاچه د پروپاګند نه دلږ آزادیدو دسوچ کولوکوشش کړې دې هغوئ هم بالآخره دې نتیجې پورې رسیدلی دی-

د ډاکټراې اپادو رائې په برصغیرکښې دخپلوسیاسی تصانیفو دوجی نه خصوصی شهرت لری هغه د «جمهوریت» تعارف او د هغې دکامیابۍ په شرائطو باندې دبحث کولونه بعد لیکي

«دجمهوریتونو تاریخ نې داوئیلې دې چه داشرائط (چه دچاپه وجودباندې دجمهوریت کامیابی موقوف ده) شاذ اونادره ده - په عملی اعتبارسره جمهوریت په اصل کښې دجهالت دحکمرانۍ [illegible]

دي ـ ددې نوله توجه په کميت اوتعداد (QUANTITY) باندې ده کيفيت (QUALITY)
باندې نده. په دې کښې ووټ شمارل کيږي په هغې نشي راتلې. دنباريانوديرلونې تعداد اوس هم
حکومت دځپلو بنيادي وظائفو دزندګۍ نه نه شي ګټلې. چنانچه دهغوئ دحکومت سره کومه
خاص دلچسپي نشته. هغوئ کارکوي اولوبيږي. خپلې پيشې والا اوفنې کارونه سرته رسوي.
اودا ونيلې شي چه هغه په اصل کښې دملک حاکم دې. په جمهوريت کښې دا حقيقي خطره
موجود ده چه دنباريانوداسې ذهني ترتيب نه شي موندې چه دهغې په ذريعه هغوئ ددې مسائلو
دحقيقي مفهوم ادراک کولې شي چه دانتخاباتو په موقع باندې ددې سره دفيصلې دپاره راځي.
لهذا هغوئ طبقاتي جذباتو اودنعروسره ګمراه کيدلې شي- سرهزي مين تويهانتک وائي چه
جمهوريت کله هم داکثريت دحکمرانئ نمائندګي نه شي کولې. ځکه چه قاعده داده چه عوام
خومحض خپل ليډران تسليموي» [1].

دمغرب مشهور مؤرخ اوفلسفي (کارلائل) دې اقتباس د سياست په علم کښې کافي شهرت
موندلې دې

(Surely of all "rights of mon" this right of the ignorant man to be guided by the wiser, to be, gently or forcibly, held in the true course by him, is the indisputablest. Nature herself ordains it from the first, society struggles towards perfection by enforcing and accomplishing it more and more .... In rome and Attens, as elsewhere if you look practical we shall find that it was not by loud voting and debating of many, but by wise inright and ordering of a few that the word war done. So is it ever, so will it ever be")

«په انساني حقوقو کښې په يقيني طورباندې دجاهلوافرادوداحق دټولونه زيات غيرمتنازع
دې چه عقل مند افراد ددوئ رهنمائي وکړي اودوئ په نرمئ سره يا دطاقت په زور په سمه لاره
باندې برابرکړي. دفطرت دشروع نه همداحکم دې. ددې حکم په نافذولوسره اوددې زيات نه
زيات په تکميل کولوسره جامعه تر کمال پورې درسيدو جدوجهد کوي
که چرې مونږ له عملي نقطهٔ نظره وګورو نو معلوميږي چه په روم او ايتهنزکښې دنورومقاماتو
په شان په اوچت آواز باندې رائې شميرل او د ډيرو خلقود بحث اومباحثې په ذريعې نه ده بلکه د
لږو افرادو په حکم سره کار چليدلو. دا خبره له ډير وخت نه رېښتوني ده. لهذا آئنده هم داخبره
رېښتوني کيږي-»

1. A. Appadorai, op cit p. ۱۳۳

شخصي حکومت

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی قدس سره په جمهوریت باندې تنقید کوی او په ځومقاماتو کښې یې ددې په مقابله کښې د«شخصي حکومت» حمایت کړې دې. د نن په جمهوریت پرست دورکښې دشخصي حکومت حمایت کول دکفردکلمې په شان ملامت ګڼلې شي. لیکن ددې بنیادي سببونه دوه دی[1] یو دا چه دجمهوریت په حمایت کښې یې پروپاګند په دومره زوراوشورسره کړې دې چه دکوم مخالف نظام حکومت باندې دسنجیدګۍ سره په سوچ کولو باندې ذهن نه اماده کیږي. اودویمه وجه داده چه دشخصي حکومت «نوم راځي ذهن ددې مطلق العنان بادشاهانو په طرف ځي دچا ژبې چه دقانون حیثیت لرلواو په دې باندې بالاتره پابندي عاندنه وه. یا بیا ددې نوم نه دهغه فاشي حکمرانانوتصور راځي د چا په نزد چه دحکومت بنیاد صرف په زور او زبردستۍ باندې وه. حالانکه حکیم الامت حضرت تهانوی قدس سره «شخصي حکومت» نه هغه «مثالي اسلامي حکمران» مراد اخلی لکه «امیرالمؤمنین [illegible] دوخت چه ورته وئیلې شي.

ددې اجمال لږ غوندې تفصیل دادې چه په دُنیاکښې کوم غیر اسلامي شخصي حکومتونه رائج کیږي ددې دخرابیانو او مفاسدو اسباب په لاندې ډول دی:

(۱) ددې «شخصي حکومتونو» بنیاد په شاهي حکومتونو کښې عموماً په خانداني وراثت باندې بناء وو او د فاشزم په فلسفې کښې صرف په «قوت» باندې، چه دهغې مطلب دادې چه هرهغه شخص چه قوي وی په کمزورو باندې دحکومت حق درلودې شي.

لهذا ددې شخصي حکومتونوپه قیام کښې سنجیده غوراوفکراودمناسب انتخاب څه قابل ذکرکردارنه وو.

(۲) ددې شخصي حکمرانانوډپاره کوم داسې لازمي صفاتِ اهلیة ضروري نه وو چه دهغې نه بغیر هغه دحکمرانۍ ترمنصبه پورې نه شي رسیدلې.

(۳) داشخصي حکومتونه عموماً دداسې آسماني قوانینو پابندنه وو چه دهغې فیصلونه لګیدلې بندونه په حدودو کښې محدودشي.

لهذا قانون سازهغه خپله وو اودمطلق العنان کیدوپه بناء باندې دهغه ژبه قانون جوړه شوې وه

(۴) په دې حکومتونوکښې کومه داسې لازمي اداره موجوده نه وه چه ددې اقدامات. ددې صادرکړې شوی احکام اوددې جوړشوی قوانینوته کوم لګیدلې بندونه په معیارباندې ډک کړې شي او ددوئ دطرف نه دآسماني قانون خلاف ورزي دخپلوحدودواختیارنه تجاوزیادکوم ظلم

1. Chartism (1839) as quoted by Appadorai, op cit p. 128

اوستم په صورت کښې ددې داقدامات وتلافی کولې شي۔

دا ور هغه اسباب چه دهغې په بناء باندې په شخصی حکومتونوکښې دخلقوحقوق پامال شو او انسان دانسان غلام جوړشو، اوکه نه نو که چیرې دا خرابیانې موجودې نه وای نو یو زیات شمیر ماهرین سیاست په دې خبره باندې متفق دی چه په شخصی حکومت کښې بذات خود څه خرابی نشته، دا دجمهوریت په مقابله کښې څه زیات کامیاب او دعوامو دپاره مفید ثابت کیدلې شي، تر دې خایه پورې «روسونې» هم اعتراف کړې دې:

«دحکومت بهترین اودتولونه فطری انتظام دادې چه عقلمند ترین انسان ته په کثرت باندې حکومت کول پکاردی، پدې شرط چه ددې خبرې تضمین وشی چه هغه ددې اکثرو عوامو د مفادو لپاره کار کوی، نه د خپلو مفاد لپاره » [1].

کارلائل لیکی : «په هرملک کښې دهغه ځائ قابل ترین شخص پیدا کړئ، بیاهغه اوچت کړئ د اطاعت په اوچت ترین مقام باندې یې کښینوئ اودهغه عزت وکړئ، دارنګه تاسو ددې ملک دپاره یومکمل حکومت پیداکولې شئ، بیا «بیلټ بکس» وی اوکه پارلمان کښې کیدونکې فصاحت اوبلاغت یا رائې شماری یا دستورسازی یا کوم بل قسم ماشین آلات وی، په دې حکومت کښې کومه بهتره اضافه نه شی کولې، دا یومکمل ریاست کیږی اوهغه ملک یومثالی ملک جوړیدې شی» [2].

حکیم الامت حضرت تهانوی قدس سرهٗ چه کوم «شخصی حکومت »داسلام تقاضاګنې هغه دشخصی حکومت د پورتنیو مفاسدو نه خالې دې، هغه په دې معنی کښې بیشکه «شخصی حکومت» دې چه په دې کښې د جمهوری انداز پارلمان مختارِ کل نه دې او اختیارات دحکومت تر زیاته حده پورې «خلیفه» یاد «امیرالمؤمنین» په ذات کښې مرکوز دی۔

لیکن دتولونه وړاندې خبره داده چه ددې «خلیفه» یا «امیرالمؤمنین» تعین دوراثت یادقوت په بنیاد باندې نه کیږی بلکه داهل حل اوعقد دانتخاب په ذریعه کیږی اوددې انتخاب دپاره «خلیفه» کښې دیوځومعیاری اوصافوموندل ضروری دی چه دهغې نه بغیر داهل حل اوعقددپاره دکوم شخص انتخاب جائزنه دې- په دې اوصافوکښې دعلمی قابلیت نه علاوه دکرداراعلی ترین پوخوالې اودرائې اصابت هم داخل دې-

دنن سباپه جمهوریتونوکښې دسربراه دانتخاب دپاره عموماً نه څه قابلیت شرط ګڼل کیږی،نه دکردار او عمل څه خوبی- لیکن د «خلیفه دپاره اسلام کښې نهایت ولاړشرطونه تجویزفرمائیلی

۱- Roussian, The Social Contract bk ۱۱۱, Ch. V. as quoted by Appadorai, op cit p. ۱۲۷

۲- G. N. Sabine, A History of political Theory p. ۷٦٤ (Appadorai p. ۱۲۲)

شوی دی اود اهل حل اوعقدئ دا فرض وظیفه گڼلې ده چه هغوئ ددې شرائطو دمکمل اطمینان حاصلولو نه بعد دخلیفه انتخاب وکړی.

بیا دا خلیفه چه داعلی ترین علمی اوعملی اوصافوحامل دې مطلق العنان قانون ساز نشی کیدې، بلکه دقرآن اوسنت اوداجماع امت پابند به وی، یا په بل عبارت: اسلامی حکومت قانون نه وضع کوی بلکه د یوداسې آسمانی قانون په بنا باندې مینځ ته راځی او هغه نافذکوی چه دکائناتو اعلی ترین ذات لخوا جوړشوې دې او د قرآن اوسنت په صورت کښې محفوظ دې.

هو؛ د قرآن اوسنت په دائره کښې اوسیدونکی انتظامی قوانین اواحکام جاری کول دحکومت په اختیارکښې وی - لیکن ددې دپاره هم په دغه حکومت باندې دا خبره لازمه کړیده چه هغه شخص باید د داسې قسم اقداماتو دپاره داهل شوری نه مشوره واخلی، ددې مشورې مقصد دا نه دې چه هغه په لازمًا دکثرت رائې پابندی وکړی، بلکه ددې مقصد دادې چه دمسئلې ټول اړخونه مخې ته راشی او د دې ټولو اړخونو په نظر کښې نیولو نه وروسته خپل بهترین قابلیت استعمال کړی او دالله تعالی په مدد سره خپله فیصله وکړی.

ددې نه علاوه دحکومت دسرابراه هراقدام، او دهغه هرحکم اود هغه جوړشوې هرقانون به باید دقرآن اوسنت تابع وی لهذا که چیرته کوم وخت دا سربراه دقرآن اوسنت داحکامونه تجاوز وکړی یا د عدل اوانصاف په خلاف څه کار وکړی نو دقاضی دعدالت نه ددې خلاف فیصله حاصلول د هر ادنی ښاری نا قابل تنسیخ حق جوړیږی.

ددې نظام حکومت ټول تفصیلات بیانول ددې مقالې دحدودونه بهردې، لیکن دلته وینا صرف داوه چه حکیم الامت قدس سرهٔ په اسلام کښې دکوم «شخصی حکومت» چه ئې تذکره فرمائیلې ده په دې کښې دوراندیشو بادشاهانو اونوو فاشی حکمرانانو او د دیکتاتورانو د فسادونو بنیادی اسباب موجودنه دی.

حضرت حکیم الامت قدس سرهٔ په جمهوریت اوشخصی حکومت باندې خپل متعددمواعظ اوپه ملفوظات کښې تبصره فرمائیلې ده چه دهغې نه غالبًادټولونه جامع اومفصل بحث ئې په دې وعظ فرمائیلې دې چه د «تقلیل الاختلاط مع الامام» په نوم باندې شائع شوې دې- دهغې یو څومختصراقتباسات لاندې پیش کیږی؟

«حقیقت دادې چه کوم خلق دجمهوریت اوسلطنت حامی دی هغوئ هم دشخصیت حامی دی، لیکن کله حقیقی وی، کله حکمی، دفلسفې مسئله ده چه مجموعه هم شخص واحددې- لیکن هغه واحد حکمی دې،حقیقی نه دې، نو دا خلق چه دکوم پارلمان دفیصلواتباع کوی هغې کښې به ظاهره دیرکسان وی لیکن مجموعه چه یوځائ کړې شی نو شخص واحددې، ځکه چه کوم قانون منظوریږی هغه دټولوپه رائې باندې منظوریږی په پارلمان کښې هم هرشخص آزاد نه دې چه څوک

رائې ورکړې هغه به کامیابوي . که چیرې داسې هم وي کله چه دکوم قدرشخص دعوی صحیح وي. لیکن هلته خودپارلمان هم دهرشخص انفرادي رائې معتبره نه ده. بلکه اجماعي رائې معتبره ده اواجماعي رائې بياشخصي رائې ده. خکه چه ټول يوځای کړې شي نو واحدحکمي ترې جوړيږي. خلاصه داشوه چه مونږ دشخص واحدحقيقي حامي يو اوتاسې ټول دشخص واحدحکمي حامي يئ - دجمهوريت حامي خوتاسوهم نه يئ. جمهوريت او کامله آزادي هغه وخت کيږي چه کله هر شخص په خپل فعل کښې آزاد وي ، او هيڅوك د بل چا تابع نه وي. نه ديوبادشاه. نه دپارلمان دلس ممبرانو ، دا څه آزادي ده چه تا دلاکهونواوکروړونوکسان دپارلمان دلسو ممبرانود رائې تابع جوړکړل. مونږ دا ټول خلق ديوشخص غلامان جوړول او تاسې دلسو غلامان جوړکړل. تاسو فيصله وکړئ چه ديوغلام کيدل صحيح دي اوکه دلسو ياشلو؟ ظاهره ده چه په کوم شخص باندې ديو سړي حکومت وي هغه د هغه چا نه بهتردې چه په چاباندې دلسويا شلوحکومت وي.

دا د جمهوري سلطنت حاصل دې چه درعاياؤ دغلامئ نه خو هغه هم انکارنه دې کړې ليکن هغه دا وائي چه تاسودلسو يا شلوغلامي وکړئ اومونږ وايو چه صرف ديوغلامي وکړه»

وړاندې ارشاد فرمائي : «نظام علم بغيرددې نه نه شي قائميدې چه په مخلوق کښې بعض تابع وي اوبعضې متبوع وي. د مطلقې آزادي نه فسادخوريږي. له همدې وجې نه دې خبرې ته راغلو چه دوئ ته دخپلې دعوی دآزادئ نه لرې کيدل پکاردې اوشريعت ته کله هم دخپلې دعوې نه لرې کيدل نه دي پکار.خکه چه هغه خوداول نه دتابعيت اومتبوعيت حامي دې، هغه خودآزادئ سبق نه ورکوي ،د اولې ورځې نه د نبی داتباع حکم ورکوي چه په هغې باندې يې ټول مخلوق ديوتابع کړو. بلکه که چرې کوم وخت الله تعالی په يوه زمانه کښې دوه نبيان هم ديوقوم په طرف ليږلی دی نو په هغې کښې به هم يوتابع وو او بل متبوع ، چنانچه حضرت موسی اوهارون عليهما السلام په يوه زمانه کښې دوه نبيان وو ،چه دبنی اسرائيلواوقوم قبط طرفته مبعوث شوی وو .ليکن په دې کښې حضرت موسی عليه السلام متبوع ووحضرت هارون عليه السلام تابع وو .دواړه په برابره درجه کښې نه وو او دا تابعيت صرف دضابطې تابعيت نه وو بلکه واقعي تابعيت وو چه حضرت موسی عليه السلام په حضرت هارون عليه السلام باندې پوره حکومت لرلو . هغه دده مخالفت نه شو کولې»

نور هم زياتوي او فرمائي چه :

«غرض دا چه په اسلام کښې جمهوري سلطنت هيڅ خيزنه دې- په اسلام کښې صرف دشخصي حکومت تعليم دې اودکوموفاسدوپه وجه باندې چه سلطنت قائم کړې شوې دې هغه په سلطنت شخصي کښې اګرچه احتمال لري ليکن په جمهوري حکومت کښې متيقن دي. په شخصي سلطنت کښې دا مفاسد بيانولې شي چه په دې کښې ديو شخص رائې ته ټول انتظام پرېښودلې شي چه

هغه څه غواړي هغه کوي .حالانکه ممکنه ده چه کوم وخت دده رائې غلطه هم وي - دې وجې نه دیو شخص په رائې باندې ټول انتظام نه دی پرېښودل پکار . بلکه دیوجماعت په رائې باندې کارکیدل پکاردی

زه وائم چه څه رنګه دشخصی سلطنت دبادشاه په رائې کښې کله وغلطۍ احتمال وی دغه رنګ دجماعت په رائې کښې هم دغلطۍ احتمال شته. ځکه چه داضروری نه ده چه دیو شخص رائې همیشه غلطه وی او د لسورائې همیشه صحیح وی- بلکه داسې هم کیږی چه بعض اوقاتو کښې دیو شخص ذهن هلته رسیږی چرته چه د زرو کسانو ذهن نه رسیږي

دعالم دنیا په ایجاداتوکښې شپه ورځ ددې مشاهده کیږی. ځکه چه څومره ایجادات دی. هغه اکثر دیو یو شخص دعقل نتیجه ده. چاځه ګنلی ،چاځه ګنلی، یو سړی برقی طوایجاد کړو. بل سړی ریل ایجاد کړو. نو موجد اکثر یو شخص وی اودده ذهن هلته رسیږی چرته چه د زرګونو [redacted] خلقو ذهن نه رسیږي

په علوموکښې هم دا امرمشاهده شوې دې چه بعض اوقاتو کښې یو شخص کوم مضمون دارنګه صحیح حل کړی چه ټول شارحین او د محشینوتقریرونه ددې مخې ته غلط ثابتیږي

نودجماعت درائې غلطیدل هم احتمال لری. اوس وه وایه: «که چرې کوم وخت دبادشاه رائې صحیح شوه اودپارلمان رائې غلطه شوه نوعمل به په کومې باندې کیږی؟»

په جمهوری سلطنت کښې کثرت رائې باندې فیصله کیږی، بادشاه په خپله رائې باندې فیصله نه شی کولې. بلکه دکثرت رائې نه مغلوب وی ، دغلطې رائې په موافقت باندې مجبوریږی اوپه شخصی سلطنت کښې بادشاه په خپلې رائې باندې هروخت عمل کولې شی، اوپه جمهوری کښې که چرې کثرت رائې په غلطۍ باندې شوې وی نوصحیح رائې باندې دعمل کولوهیڅ صورت نشته. ټول مجبوردی دغلطې رائې په موافقت باندې. اودا څومره غټ ظلم دې. دې وجې نه داقاعده کلیه غلطه ده چه «په کثرت رائې باندې فیصله کیدل پکاردی»

بلکه قاعده داکیدل پکاردی چه «په صحیح رائې باندې دې عمل وکړې شی خواه که هغه دیوکس رائې وی»

وړاندې نور ارشادفرمائی نو کوم خلق چه په کثرت رائې باندې دفیصلې مدارلری هغه بادشاهانوته دتنهافیصلې کولواختیارنه ورکوی. هغه داول نه داتسلیموی چه زمونږبادشاه داسې ضعیف الرائې دې چه دده تنها رائې قابل اعتبارنه ده. اوهغه نا اهل دې، نو واقعی کوم خلق چه خپل بادشاه داسې ګڼې مونږ دهغوی سره خبرې نه کوو. دوئ ته دې جمهوریت مبارک وی. داسې نا اهل بادشاه هیڅ کله ددې قابل نه دې چه هغه دې دشخصی سلطنت بادشاه جوړکړې شی. په اسلام کښې چه کوم دشخصی سلطنت تعلیم دې نودهغې سره داحکم هم دې چه «اې اهل حل

اوعقد، او اې دعقلاؤجماعته ' بادشاه داسې شخص جوړکړئ چه دومره صاحب الرائې وی چه که چرې کله ددوئ رائې دټول عالم هم خلاف وی نوبیا هم دا احتمال پکښې وی چه شاید د ده رائې صحیح وی، او د چاپه رائې کښې چه دومره درایت نه وی هغه بالکل بادشاه جوړنه کړئ»

اوس او وایه «دچارائې چه دومره مضبوطه وی چه دټول عالم په مقابله کښې هم دده درائې د حق ته رسیدو احتمال وی هغه دحکومت شخصی قابل دې او که نه؟

یقینًا قابل دې په دې شرط چه اهل حل اوعقد په انتخاب کښې خیانت ونه اوکړی۔

بس موږ دشخصی سلطنت دې وجې نه حامی یو چه موږ بادشاه قوی العقل،صاحب الرائې گڼو اوتاسو دکثرت الرائې ددې دپاره حامی یاستئ چه تاسو خپل بادشاه ضعیف الرائې اوناهل گڼئ، نو د داسې شخص د بادشاه جوړولوضرورت څه دې چه دهغه دپاره دضم ضمیمه ضرورت وی؟ بلکه د اول نه بادشاه داسې جوړکړئ چه دضم ضمیمه محتاج نه وی۔ مستقل الرائې وی۔ اوکه چیرې تاسوهم خپل بادشاه مستقل الرائې، صائب العقل اومضبوط گڼئ نوبیاپه کثرت الرائې باندې دفیصلې مدارساتل اوکامل العقل دناقصینو د رائې تابع جوړول ظلم دې چه دهغې حماقت کیدل بدیهی دی.

بعض خلقوته داحماقت په فکر کښې راغلې دې چه هغه جمهوری سلطنت په اسلام کښې ورننویستل غواړی او دعوی کوی چه په اسلام کښې دجمهوریت تعلیم دې اوپه استدلال کښې دا آیت پیش کوی: ﴿وَشَاوِرْهُمْ فِى ٱلْأَمْرِ﴾.

لیکن دا بالکل غلطه ده، دې خلقو د مشورې درجې ختمې کړې اوپه اسلام کښې چه دمشورې کومه درجه ده هغه بالکل نه پیژنی۔ په اسلام کښې دمشورې درجه داده چه یو ځل حضوراقدس صلی الله علیه وسلم حضرت بریره رضی الله عنها ته اوفرمائیل چه ته خپل خاوندته رجوع وکړه قصه داده چه حضرت بریره رضی الله تعالی عنها اول وینزه وه اوپه هغې حالت کښې ددې نکاح دیو شخص سره چه دهغه نوم مغیث وو ددې مالک کړې وه. کله چه هغه آزاده شوه نود اسلام دقانون مطابق دې ته دا اختیارورکړې شو چه کومه نکاح دغلامئ په حالت کښې شوې وه که چیرې غواړی نوهغه دې باقی وساتی. اوکه چرې غواړې فسخ دې کړی . دشریعت په اصطلاح کښې دې ته اختیارعتق ونیلې شی. ددې اختیارپه بناء باندې حضرت بریره رضی الله تعالی عنها خپله سابقه نکاح فسخ کړه. لیکن ددې دخاوند له هغې سره ډیرمحبت وو۔ هغه دفراق په غم کښې دمدینې په کوڅو کښې په ژړا گرځیدلو۔ دحضورصلی الله علیه وسلم په ده باندې رحم راغلو اوحضرت بریره رضی الله تعالی عنها ته ئې اوفرمائیل «اې بریره خومره به ښه وی که چیرې ته خپل خاوندته رجوع وکړې»

نوهغې پوښتنه وکړه چه: ((يارسول الله! داستاحکم دې اوکه ستاسو مشوره ده؟ که چرې حکم وی نوپه سرسترګو منظوردې اګرکه ماته تکليف هم وی))

دویٔ صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل: ((دا حکم نه دې صرف مشوره ده))

حضرت بريره رضی الله تعالی عنها صفاعرض اوفرمائيلو: ((که چرې مشوره وی نوزه هغه نه قبلوم))

وګورئ! په اسلام کښې دا درجه دمشورې دې، که چيرې نبی اوخليفه په اوله درجه کښې د رعاياؤ کوم شخص ته څه مشوره ورکړی نوهغه ته حق دې چه په مشوره باندې عمل ونکړی او دا دمحض ضابطې حق نه دې، بلکه واقعی حق دې، چنانچه حضرت بريره رضی الله تعالی عنها چه کله دحضورصلی الله عليه وسلم په مشوره باندې عمل ونکړو نوحضور صلی الله عليه وسلم لږ هم ناراض نه شو اونه دحضرت بريره رضی الله عنها څه ګناه وشوه، نه په دې باندې څه عتاب راغې۔ پس کله چه اُمت اورعايا دځپل نبی يا بادشاه په مشورې باندې دعمل کولودپاره په اسلام کښې مجبورنه دی نونبی يا خليفه به درعاياؤ په مشوره باندې څنګه مجبورکيږی چه رعاياڅه مشوره ورکړی دهغې موافق دې عمل وکړی، او ددې خلاف به کله هم نه کوی؟

نو په ﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ﴾ سره فقط دا خبره ثابته شوه چه حاکمان دې درعاياؤسره مشوره وکړی، دا ثابته نشوه چه دده په مشورې باندې دې ضرور عمل هم وکړی ، اودغه رنګه دا نه ثابتيږی چه که چيرې کثرت رائې د بادشاه په خلاف شی نوهغه دې دکثيرينو په مشوره باندې دعمل کولودپاره مجبوروی. اوهرکله چه داثابته نشوه نو د ((شاورهم فی الامر)) نه جمهوريت هرګزنه شی ثابت کيدې، کله چه په اسلام کښې يومعمولی شخص هم دبادشاه په مشوره باندې مجبورنه دې نوتاسو بادشاه درعاياؤپه مشوره باندې ولې مجبورکوئ؟ او زمونږسره دحضرت بريره رضی الله تعالی عنها نه دليل موجوددې چه دچاپه مشوره باندې عمل کول ضروری نه دی، اګرچه د نبی مشوره هم وی۔

ددې نه داخبره ثابته شوه چه که چيرې حکام درعاياؤنه مشوره واخلی نوهغه ددوئ په مشوره باندې دعمل کولودپاره هرګزمجبورنه دې، بلکه عمل دې په خپله رائې باندې وکړی. خواه که هغه دټولې دنيا دمشورې خلاف وی۔ چنانچه په دې آيت کښې وراندې ارشاددې: ﴿فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ﴾ يعنی چه دمشورې نه بعدکله ته دکومې خبرې اراده وکړې نوپه الله تعالی باندې توکل کولوسره په دې باندې عمل وکړه، دلته د ((اذا عزمت)) صيغه واحد ده، معلومه شوه چه په عزم کښې حضورصلی الله عليه وسلم مستقل وو۔ درانګه ددوئ نائب يعنی سلطان هم په عزم کښې مستقل دې۔ که چرې دعزم مدارپه کثرت رائې باندې وای نو (اذاعزمت) به ئې نه فرمائيلو. بلکه

دي په ځانې به ني «اذاعزم اکثرکم فتوکلوا علی الله» به بې ويلي واى
پس دكوم آيت نه چه داخلق جمهوريت باندې استدلال كوى دهغې اخيرجزپه خپله ددوئې دعوې ترديدكوى- ليكن دهغوئ حالت دادې چه «حفظت شيئا وغابت عنك اشياء».
يوجزته گورى اودبل جزنه سترگې بندوى.
بل په دې آيت كښې صرف حاكمانو ته دا وئيلې شوى دى چه هغوئ درعاياؤسره مشوره وكړي- رعاياؤ ته خو ئې داحق ورنه كړو چه په خپله استحقاقًا حاكمانو ته مشوره وركړي- خواه هغه مشوره واخلى اوكه وائې نه خلى، اهل مشوره به ددوئ په مشورې آوريدوباندې مجبوروى-
چنانچه په شريعت كښې «اشيروا الحكام وهوحقكم عليهم» چرته هم داسې نه دى وئيلى شوى.
چه كله رعاياؤ ته دخپل طرف نه دمشورې وركولوځه حق په درجه دلزوم كښې پاتې نشو نو بيا په اسلام كښې جمهوريت له كوم ځائ نه راغې ؟ ځكه چه جمهوريت كښې خوپارلمان ته دخپلې رائې وركولوحق حاصل وى. كه بادشاهان ددوئ نه رائې واخلى اوكنه»
«تقليل الاختلاط مع الانام ص۹ نه تر۱۷ اواشراف الجواب ص۳۰ نه تر۳۱ مطبوع ملتان ومعارف حكيم الامت ص۶۲۰ نه تر۶۳۰»

حكمرانى يوذمه دارى ده نه حق:

بيا په غيراسلامى شخصى حكومتونوكښې او اسلام شخصى حكومت كښې يوبنيادى فرق دادې چه په غير اسلامى معاشروكښې «شخصى حكومت» يو «حق» (PRINILEGE) يايوه فائده (ADVANTAGE) ده، له همدې وجې نه دا سوال پيداكيږي چه داحق بايد چاته ملاؤشي؟ اوچاته ملاؤنه شي؟ اوددې دپاره خلق په خپله ددې دحصول دپاره يو له بل نه مخكښې والې كوى- ددې برعكس په اسلام كښې دايو«امانت» يا يو«ذمه دارى» ده چه دحكمران دپاره اسبابو دعيش دفراهم كولو ذريعه نه ده بلكه په اوگو باندې د دُنيا اوآخرت ديو غټ بوج دسورولو مترادف دې-
ليكن داپه خپله دكوشش كولوسره دحاصلولو څيزنه دې بلكه داسې څيزدې چه دهغې نه انسان دخپل استطاعت ترحده پورې څومره چه تېښتى دومره بهتره ده- له همدې وجې نه په اسلام كښې هغه شخص د«حكومت» دپاره نا اهل گڼلې دې چه په خپله ددې طلب گاروى .چنانچه په اسلامى سياست كښې دُ«اُميدوارى» (CANDIDATURE) څه تصورموجودنه دې.

دحكومت فرائض اوذمه دارى

لهذاكوم شخص ته چه دا ذمه دارى وسپارلې شى هغه ته ددې نقطة نظرسره هغه سنبالول ضرورى دى چه «حكومت» بذات خود مقصودنه دې چه دهغې نه مقصود په هرحال كښې دخپل ځان اوچت كيدل ضرورى وى. بلكه اصل مقصود دالله تعالى رضاء ده. لهذاكه چرې كله حكومت

اودالله تعالى خوشحال اوسيدلوكښې تعارض راضي نوهغه بلا تامل خپل حکومت دالله تعالى دخوشحالولو لپاره قربانوي- په دې سلسلې کښې حضرت حکيم الامت رحمه الله تعالى په يووعظ کښې فرمائي:

«ياد لرئې : سلطنت مقصودبالذات نه دې، بلکه اصل مقصود دحق رضاده، که چرې زمونږنه الله پاك راضي نه وي نو مونږ دسلطنت په حالت کښې فرعونان يو، اولعنت دې په داسې سلطنت باندې چه په کوم باندې مونږ دفرعون مشابه کيږو- که چيرې سلطنت مقصود بالذات واى نو فرعون، هامان، نمرود، شداد ټول غټ مقربان کيدل پکاروو، حالانکه هغه مردود دی- معلومه شوه چه هغه سلطنت مطلوب دې چه هغې سره د الله تعالى رضا هم وی، اوپه کوم سلطنت کښې چه د الله تعالى رضاء نه وی هغه وبال دې. که چيرې زمونږنه الله راضي وی نومونږپه غټو بولو اوچتولوباندې راضي يو، اوپه داسې حالت کښې مونږ بادشاهان يو.

آيا حضرت ابراهيم بن ادهم رحمه الله تعالى ستاسوپه نزدپاګل او کم عقل وو؟ هغه ته خوسلطنت ملاؤشوي وو، بيائې ولې پريښودلو؟ صرف ددې دپاره چه په مقصودکښې خلل واقع کيدلو. معلومه شوه چه سلطنت په خپله مقصودنه دې، بلکه مقصودبل څيزدې چه که چرې په هغې کښې خلل واقع شي نوهغه وخت ترک سلطنت ، سلطنت دې- حضرت ابراهيم بن ادهم رحمه الله تعالى دهرفن امام دې، په حديثوکښې ثقه اومحدث دې، اوپه فقهاؤکښې فقيه، اوپه صوفيانو کښې خوامام دې، هغه ته څوک پاګل نه شي وئيلې، څوک چه هغه ته پاګل وائى هغه په خپله پاګل دې- بيا وګورئ چه هغه څه وکړل؟ کله چه يې دحق په رضاکښې سلطنت مزاحم وليدلو نو بادشاهي يې پريښودله او له هغې نه جدا شو.

حضرت ابوبکر اوعمررضي الله تعالى عنهما لره مضرسلطنت مقصود نه وو نو ځکه حضور صلى الله عليه وسلم هغوئ ته اجازت ورکړو چه منصب خلافت قبول کړی، اوحضرت ابوذر رضي الله تعالى عنه دپاره مضر وو نودهغه دپاره حکم دا وؤ چه «لاتلين مال يتيم ولاتقضين بين اثنين»

ددې نه صفامعلومه شوه چه سلطنت په خپله مقصودنه دې. بلکه مقصود د حق رضاء ده که چيرې په سلطنت سره مقصود ته نقصان وی نوهغه وخت ددې نه منع کولې شی» (تقليل الاختلاط مع الانام ص ۶۲، ۶۱ (اشراف الجواب ص ۴۵۶، ۴۵۵)

لهذااسلامي حکمران ذمه داری ده چه هغه حکومت درضائ الهی د وسيلې جوړولودپاره په اسلامي احکاموباندې عمل او دهغې دنفاذ دپاره دخپل ځان دماتولوکوشش وکړی. اوکه نه نو دده حکومت محض بيکاره دې اوداسې حکومت پريښودل ناجائزاوحرام دې- لهذدده دافرض دی چه د انتهائي ذهانت سره دخپلو اقداماتو اندازه وکړی. اودشريعت په معامله کښې ادنی غفلت دبرداشت قابل نه کړی.

حضرت رحمه الله تعالی فرمائی «بادشاهان کوم چه تللي دي زمانه نژد د وړوکو شیانو اهتمام دغفلت نه تللي دي. خکه چه دوړو وړوجزنیاتو دطرف نه کوم غفلتونه کیږی هغه ټول چه راجمع کړې شي یوه غټه مجموعه دغفلتونو ترینه جوړیږی چه په آخره کښې رنګ راوړی د سلطنت د زوال موجب کیږی. همدارنګه کله چه دوړو وړوخبرو اهتمام ونشی نو بیا انسان دغفلت عادی شی. بیا په غټوغټوأمورو کښې هم غفلت کوی. اوهغه براه راست مُخل دي دسلطنت» اصلاح المسلمین ص۱۷۹ بحواله الافاضات حصه هفتم ملفوظ ص ۲۵۹.

دمسلمان حاکم فرض لکه څرنګه چه دادې چه هغه په خپله دانصاف نه خلاف کوم کار ونه کړی، دارنګه دهغه فرض داهم دي چه هغه خپلوماتحتانوته هم دظلم نه کولو سبق ورکړی. حضرت رحمه الله تعالی فرمائی:

«حاکم یواځې دخپل احتیاط نه نجات نه شی موندلې. بلکه دهغې خبرې انتظام هم دده په ذمه باندې دي چه متعلقین هم باید ظلم ونه کړی. او دهغې صورت دادې چه په عام طورباندې اشتهار ورکړی چه زما په حکومت کښې رشوت بالکل نشته. له همدې وجې نه که چیرې زما دحکومت په خلقو کښې څوك هم دچانه رشوت وغواړی نوهرګزدې نه ورکوی. بلکه مونږته دې دهغې اطلاع وکړی. بیا د اطلاع نه بعدچه چا داسې حرکت کړې وی دهغه نه دې پیسې واپس کړی اوکافی سزادې ورکړی همدارنګه حاکمانو ته داهم پکاردی چه دخلقوتعلقات براه راست دخپل خان سره وساتی دکوم شخص په واسطه نې جوړنه کړی، خکه چه داواسطه ډیرستم او ظلم خوروی- که چیرې څوك وایئ چه صاحبه ! داخو ډیره مشکله ده، نو مونږ وایو چه جناب ! حکومت کول آسان نه وی، داهم غولې خبره ده [illegible] په غاړه باندې اوسیدل دی» انفاس عیسی ص۳۲۷ جلد۲.

په اسلامی حکومت کښې دحکمرانانو اوعلماؤ په مینځ کښې دکارتقسیم کیدل پکاردی؟ دې په باره کښې حضرت رحمه الله تعالی فرمائی:

«په حضورصلی الله علیه وسلم کښې دوه شانه وو. شان نبوت اوشان سلطنت. له هغه نه بعد خلفاء راشدین رضی الله تعالی عنهم هم د دواړو جامع وو. لیکن اوس دا دواړه شانه په دوو ډلو باندې تقسیم شول. دشان نبوت مظهرعلماء دي او دشان سلطنت مظهر مسلمانان بادشاهان دی. اوس که چیرې دا بادشاهان دعلماؤنه استغناء کوی نو د حضورصلی الله علیه وسلم دیوشان نه اعراض لازمیږی. اوکه چیرې علماء دسلاطینو مخالفت کوی نو پدې سره هم دحضورصلی الله علیه وسلم دیوشان نه اعراض لازمیږی. اوس صورت د دواړو د جمع کولو دا دې چه بادشاهانو ته زه داوایم چه «حقوق دې له خپل ځان نه کوم حکم تر هغه وخته پورې نه نافذ کوی تر څو پورې نې چه دعلماء حق نه استفتاء نه وی کړی،

اوعلماؤته دا وائيم چه «هغوئ دي دنفاذ نه وروسته دهغې پابند وی».

«که چرې دا دواړه شانونه چه دحضورصلی الله دی دغه شان جمع شی نو دمسلمانانو دخوشحالئ اودفلاح صورت به مینځ ته راشی، او د دوئ دوبه شوې کشتئ له غرقیدو نه بچ شی اوکه نه نو الله تعالی ئې حافظ دې» ،اصلاح المسلمين ص ۵۴۶،

دمُباحاتو په دائره کښې اوسیدونکی دحکمران فرائضوکښې داهم داخل دی چه هغه عقلمند او تجربه کاروخلقوسره مشوره وکړی. لیکن دمشورې نه بعد چه کله د کوم جانب رُجحان ورته معلوم شی اودالله تعالی په مدد باندې د هغې مطابق فیصله وکړی نوپه ټولوخلقوباندې دهغې اطاعت واجب دې اگر که دهغوئ درائې خلاف وی.

حضرت رحمه الله تعالی فرمائی «سلطان ته پکاردی چه همیشه دعقلاؤنه رائې واخلی، بغیر د رائې اخستلو نه ډیرې خبرې دنظرنه غائبیږی ، اودامشوره اورائې خومطلوب ده لیکن دامخترعه متعارفه تش په نامه جمهوریت محض چل اودوکه ده، بالخصوص داسې جمهوري سلطنت چه دمسلم اوکافر له ارکانو نه مُرکب وی هغه خو بالکل غیر مُسلم سلطنت دې ، داسې سلطنت اسلامی سلطنت نه شی گڼلې»

په دې باندې یوصاحب عرض وکړو چه که چیرې دسلطان دمشورې اخستوپه وخت په اهل شوری کښې داهل رائې ترمینځ اختلاف راشی نودهغې متعلق څه حکم دې؟ آیا دسلطان درائې نه اختلاف کول خومذموم نه دې.په دې باندې یې اوفرمائیل «کوم اختلاف چه په حکمت اومصلحت اوتدین اوخیرخواهئ باندې مبنی وی هغه مذموم نه دې، لیکن دهغې هم یوحددې، یعنی دا اختلاف هغه وخت پوره جائز دې تر څو پورې چه دمشورې درجه وی، لیکن وروسته له نفاذ نه دا اختلاف کول یا له هغې نه خلاف کول مذموم دی ،د نفاذ نه بعد خواطاعت واجب دې»

،الافاضات اليومية ص ۱۱۲،۱۱۱ جلد۳ ملفوظ ۲۵۲،

داپه حقیقت کښې ددې قرآنی آیت توضیح ده چه په هغې کښې باری تعالی ارشادفرمائیلې دې

﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ﴾

اوددوئ سره په معامله کښې مشوره کوه، اوکله چه کوم عزم وکړئ نوپه الله تعالی باندې توکل کوئ،

،۳، ددین داقامت دپاره دسیاسی جدجهدشرعی مقام او دهغې حدود

دریمه موضوع چه په هغې باندې په دې مقالې کښې دحضرت حکیم الامت قدس سرهُ ارشادات پیش کول مقصوددی هغه داده چه آیا دمسلمانانو دپاره ضروری ده چه دیوصحیح اسلامی حکومت قیام اودغیراسلامی دطاقتونودشرنه ددفاع دپاره جدوجهد وکړی؟ که چرې ضروری وی

نوددې جدوجهد کوم حدود دی ؟ په دې موضوع باندې حضرت رحمه الله تعالی یوه مستقله رساله د «الروضة الناضرة فی المسائل الحاضرة» په نوم باندې لیکلې ده ، چه په هغې کښې په أصولی طورباندې دسیاسی جدوجهدشرعی حیثیت هم واضح شوې دې اودخپلې زمانې دسیاسی حالاتوپه باره کښې یې خپله رائې هم ظاهره کړیده ده- دا رساله مختصره لیکن ډیره معززه اوجامعه ده. لیکن چونکه داهل علمو دپاره ئې لیکلې ده . له همدې وجې نه په دې کښې ئې علمی اواصطلاحی اسلوب اختیارکړې دې- په دې کښې حضرت رحمه الله تعالی فرمائی

«د کفارو دفاع مطلقًا له اهل اسلام نه، اوخصوصًا له اسلامی سلطنت نه چه په هغې کښې دخلافت اوغیرخلافت، په کو م کښې چه دسلطنت اسلامی واقعی اوسلطنت اسلامی مزعومه کفارتول داخل دی، بیادخصوصی شعائراسلام نه په کوم کښې چه مقامات مقدسه.بالخصوص حرمین شریفین هم داخل دې، په ټولومسلمانانوباندې د دې دفاع فرض ده. کله علی العین کله علی الکفایة علی اختلاف الاحوال، لیکن ددې دفرضیت یو څه شرائط دی چه هغه دفقه په کتابونو کښې ذکردی.

منجمله ددې یوشرط استطاعت هم دې، او د استطاعت نه مراد استطاعت لغویه نه دې بلکه استطاعت شرعیه دې، کوم چه دې حدیث صفاکړې دې: عن ابی سعید الخدری رضی الله تعالی عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: من رای منکم منکرًا فلیغیره بیده فان لم یستطع فبلسانه ـ الحدیث. رواه مسلم (مشکوة، باب الامر بالمعروف)

ظاهره ده چه استطاعت باللسان هروخت حاصل وی ، بیا ددې دانتفاء تقدیرکله محقق کیږی؟ ددې نه ثابته شوه چه داستطاعت نه مراد دادې چه په دې کښې دا خطره نه وی چه دهغې مقاومت په ظن غالب سره عادةً ناممکن وی.

دغه رنګې یوشرط داهم دې چه ددې دفاع نه بعدددې نه په زیات شرکښې مبتلاء نه شی، مثلاً دکفارو په خایونوباندې کفارمسلط وی یا د کافر او مسلمان نه مخلوط هوی. چه مجموعه تابع اخس کیږی، ځکه چه په دې صورت کښې غایت مقصوددې، اوهغه اخلاء الارض من الفساد دې. اوقاعده ده چه الشیٔ اذاخلاعن الغایة انتفی-

اوکه چرې داسې خطره وی نوبیا وجوب خوساقط کیږی، او په جواز کښې یې تفصیل دې. په بعضې صورتونوکښې جوازهم نشته، په بعض کښې جواز مستحب دې- اومدار د بناء دجواز او یا عدم جواز اویااستحباب په اجتهاد د رائې باندې دې- پس په دې کښې ددوؤ اختلافاتو ګنجائش دې یوعلمی چه دواقعاتونه دیو شخص په نزد عدم جواز محقق دې اودنوروپه نزد جواز یا استحباب.

اودويم عملی چه په جواز يا استحباب باندې دمتفق کيدو نه وروسته يو په رخصت باندې عمل وکړو. اودويم بنابراستحباب په عزيمت باندې عمل وکړو- يو لره په بل باندې دملامت کولوحق نشته-

اوکه چرې په کوم مقام باندې تسلط دمسلمانانووی، ليکن هغه دکافرنه مسالمت لری نودې ته تسلط دکافرونيل محل تامل دې» (افادات اشرفيه در مسائل سياسيه ص-)

خلاصه :

که چرې استطاعت وی اود لوئ فساد انديښنه نه وی نودا جدوجهدواجب دې کله علی العين اوکله علی الکفاية، ليکن که چيرې دکوم لوئ فساد انديښنه وی يا استطاعت نه وی نوواجب نه ده، ليکن په مختلفوحالاتوکښې جائزيامستحب کيدلې شی اوددې تعين کښې داهل علموآراء هم مختلف کيدلې شی اودا اختلاف آراء اگرچه داخلاص سره وی نونه مذموم دی او نه په دې کښې چاته په دويم باندې دملامت کولوحق دې-

ليکن چونکه ددين مقصوداصلی سياست نه دې، بلکه ديانت اوددې په ذريعه درضائ الهی حصول دې ، لکه چه دمقالې په شروع کښې د حضرت حکيم الامت رحمه الله تعالی په الفاظوکښې ددې تفصيل عرض کړې شوې دې. له همدې وجې نه هرقسم سياسی جدوجهد دشرعی احکامو په دائره کښې کيدل پکاردی، دسياسی مقصد دحصول دپاره ددين کوم معمولی نه معمولی حکم يا تقاضا هم قربانول جائزنه دې. او دا هغه وخت ممکن دی کله چه جدوجهدکولووالا دپوره اخلاص اوللهيت سره صرف ددين حق دسر بلندئې او د باری تعالی درضا حاصلولوپه نيت باندې داجد اوجهد کوی اوصرف دجاه اوجلال حصول دهغه مطمح نظرنه وی اوهغه دسختو نفسانی تقاضو باوجود خپل ځان دشريعت په تابع کولوقادروی ،اوکه نه نو سياست داسې خواراو زاردې چه په هغې کښې قدم په قدم باندې دنوم اوجاه اومال فتنې پيداکيږی، دنفس اوشيطان تاويلات په انسان باندې يلغارکوی اوعامو اوقاتو کښې هغه ددې تولومحرکاتوسره په هغې لارې باندې روانيږی چه په هغې باندې دنيا قربان ده،او په مزه مزه هغه سياست دسياست اسلامی په ځائ لادينی سياست کيدې شی-

سياسی جدوجهد اود اخلاقو تزکيه

لهذاددې جدوجهد اول شرط دادې چه دانسان داعمالو او اخلاقو تزکيه بايد شوې وی- اوددې نه جذبات اوخيالات داعتدال په چوکاټ کښې جمع شوی وی- همداوجه ده چه حضرت محمدصلی الله عليه وسلم درويشت کاله عهدنبوت کښې ابتدائی ديارلس کاله داسې تيرکړی دی چه نه په دې کښې څه جهاد دې نه حکومت اورياست دې. نه کوم قسم سياسی جدوجهد دې، څوک که چيرې

او هلکیږی او تکلیفونه ورکول کیږی نو دهغې جواب کښې هم ډلاس او چتولو اجازت نشته او ددې په ځای د مسلسل صبر تعلیم او تلقین جاری دی. دا دیارلس کاله تعلیم او تربیت او تزکیه او داخلاقو کالونه دی. د مجاهدات نفس له دې سختې مرحلې څخه د تیریدونه بعد په مدنی زندګۍ کښې حکومت او سیاست او دجهاد او قتال سلسله شروع شوې ده. حضرت حکیم الامت قدس سره واحقیقت واضح کوی او فرمائی چه

«وګوری ، ددې په تائید کښې یوه باریکه نکته درته ښایم او هغه دا چه مسلمانانوته په مکه کښې داوسیدو په وخت کښې دقتال اجازت ونه شو او کله چه مدینې ته ورسیدل نو اجازت ورته وشو. ددې څه وجه ده؟ ظاهره کښې دا ګڼلې شی چه دجماعت لږوالې اود اسبابو لږوالې ددې سبب وو. لیکن دا خبره خلاف تحقیق ده. څکه چه کله مسلمان مدینې ته ورسیدل نو آیا جماعت زیات شوې وو؟ بلکه دومره نه وو زیات شوې او دکفاروبیاهم غلبه وه. دمدینې تول جماعت دټولوعربوپه مقابله هیڅ خیز نه وو؟ بلکه چرې دا وکتلې شی چه دټول عالم د کفارو په مقابله کښې د جهاد اجازت شوې وو. بیانومدینه څه چه ټول عرب هم لګ وو. همدارنګه کله چه دوی مدینې ته ورسیدل نو آیا په سامان کښې یی څه زیاتې شوې وو؟......... دنصوصونه په خپله معلومیږی چه دمسلمانانوجماعت دکفاروپه مقابله کښې په اکثرومواقعوکښې دومره اندازه کم شوی وو چه دملانکو صف به ورسره یوځای کیدلو...... او دا صورت دملانکوپه مکه کښې اوسیدل هم ممکن وو لیکن بیاهم ددې صورت په اختیارکولوسره یی هلته اجازت ورنه کړو. نوددې معلومیږی چه د دې څه بله وجه وه، اهل ظاهر ددې شافی اوکافی وجه نشی وئیلې.

محققینو فرمائیلی دی چه اصل خبره داوه چه په مکه کښې دعامومسلمانانودننه اخلاق حمیده داخلاص اوصبر اوتقوی په کامل طوربانديې راسخ شوی نه وو. دې وخت که چیرې دقتال اجازت شوې وای نوټوله مقابله به دغضب اوجوش او د انتقام للنفس لپاره شوې وه . صرف داخلاص اواعلاء کلمة الله دپاره به نه وه، په دې حالت کښې به هغوی ددې قابل نه وو چه دملانکوجماعت دې ددوی امداد وکړی اوحمایت الهی دې ددوی شامل حال شی . چنانچه په آیت مذکوره کښې د (﴿إِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا﴾)شرط لګولې شوې دې چه حمایت الهی به دې شرط سره متوجه کیږی څکه چه مسلمان په صبراوتقوی کښې راسخ وی. اودتقوی معنی ده احتراز عما نهی الله عنه وامتثال ماامربه چه په هغې کښې اخلاص اواحتراز عن الریاء وعن شائبة النفس هم داخل دی، اومدینې ته چه کله ورسیدل نو دا اخلاق راسخ شوی وو. مهاجرینو په مکه کښې د اوسیدو په وخت کښې دکفارو په ایذاء باندې صبرکولوسره دنفس مقاومت آسا . شوې وو. همدارنګه قوت غضب نفسانی یی ضعیف بلکه زائل شوې وو.

بیادهجرت په وخت کښې کله چه دویٔ په خپل وطن، اهل اوعیال اومال اودولت تولوباندې خاوري واچولې نو ددویٔ محبت الهی کامل شو. اومحبت دنیا ددویٔ دزړونونه بالکل وه وتلو دمدینې انصارو په خوشحالۍ خوشحالۍ سره دغه حضرات مهاجرین په خپلو اموالو اومکانانو کښې شریکول غوښتل.

غرض داچه د هجرت د واقعې نه دمهاجرینو او انصارو دواړو امتحان وشو چه په هغې کښې هغه کامل شول - ددې نه بعد ئې دویٔ ته دقتال اجازت ورکړو چه اوس که څه څوك قتال کوی نو صرف دالله تعالی دپاره به ئی کوی، دغضب ، جوش او د انتقام دخواهش اود د غیظ او د شفاء دنفس دپاره به څه نه کوی. هغه وخت دا خلق د دې قابل کیږی چه حمایت الهی دې له دویٔ سره وی اوملائکې د رحمت دې ددویٔ مدد وکړی- چنانچه دحضرات صحابهٔ کرامو رضی الله تعالی عنهم واقعات په دې باندې گواه دی چه هغویٔ هرڅه کوَل دالله تعالی دپاره ئې کول تردې چه په مثنوی کښې ذکر دی چه یوځل حضرت علی رضی الله تعالی عنه یویهودی دقتال په معرکه کښې رالاندې کړو اود ذبحې اراده ئې وکړه – مرکوونکې یعنی حضرت علی رضی الله عنه لا تر اوسه څه نه وو کړی لیکن هغې کم بخت ددویٔ په چهرې مبارکې باندې لاړې توکړې- اوس پکاروو چه حضرت علی رضی الله تعالی عنه هغه فوراً قتل کړې وای . لیکن دتُوکلونه بعد دویٔ فوراً دهغه دسینې نه پاسیدلو- اوفوراً ئې هغه پریښـولدو- هغه یهودی ډیر حیران شو، اودحضرت علی رضی الله تعالی عنه نه ئې دهغې وجه وپوښتله چه تاخو زه کافروگڼلم او زما قتل کول دې وغوښتل نو په تُوکلودې ولې پریښـودم ؟ حضرت علی رضی الله تعالی عنه ورته اوفرمائیل:

«خبره داده چه اول ځل ماپه تاباندې حمله وکړه نوهغه وخت د الله تعالی د رضاء نه زما بل څه مطلوب نه وو- اوکله چه تا په ماباندې لاړې تُوکړې نو زما دغصی او د انتقام جوش پیداشو. ما وکتل چه اوس زماقتلول تالره صرف دالله تعالی دپاره نه دی بلکه په دې کښې دنفس هم دخل کیږی اومانه غوښتل چه دنفس دپاره په کارکولوسره خپل عمل ضائع کړم نو له همدې وجې نه مې ته پریښـودلې» .

هغه یهودی فوراً مسلمان شو اوپوهه شو چه واقعی دامذهب حق دې چه په هغې کښې دشرك نه په دومره درجه نفرت ښودلې شوې دې چه باید هیڅ یو کاردنفس دپاره ونه کړی- بلکه صرف دالله تعالی دپاره باید هرکارکوی- په دوستۍ اودشمنۍ کښې هم دنفس د خواهشاتو نه هم دا خلق بند شوی دی

اوس زمونږداحالت دې چه کوم خلق دخدمت اسلام دعوی کوی په هغې کښې اکثرهغه خلق دی چه دنفس په واسطې کارکوی. دخپلو ذره ذره کارنامې په مجلو او اخبارونوکښې شائع کوی، داحکام الهیو پروا نه کوی- پس ددې مقصود دادې چه دوي کارکیدل غواړی خواه دشریعت

موافق وی یامخالف. په چنده کښې دجائزاوناجائز پروا نشته. په صرف کښې دحلال اوحرام خیال نشته. نو بیا به حمایت الهی له دوئ سره څنګه ملګرې شي؟ بلکه اوس خو دا ونیلې شی چه «ملا صاحبه ، مسئله اومسائل اوس پریږده داوخت خوکارکول پکاردي». وروسته به له مسئلې او مسائلو سره کتلې شي- «اناالله وانا الیه راجعون» دې صاحبانوته داخبره نه ده معلومه چه دمسئلې اومسائلو نه بغیر خومسلمان ته نه دنیوی فلاح نصیب کیدلې شی اونه أخروی. او د ټولونه زیات د اخلاص دنیت ضرورت دې چه هغه دلته صفردې»

«وعظ محاسن اسلام درمجموعه مواعظ«محاسن اسلامص ۳۸۰، مطبوعه ملتان»

داخبره مشهوره ده چه حضرت حکیم الامت قدس سرهٗ دهندوستان دسیاسی تحریکاتونه جدا او لرې وو، په هغه وخت کښې یوصاحب دا پیشنهاد وکړو چه مونږ تالره امیرالمؤمنین جوړوو او تاسو زمونږ قیادت وکړئ - حضرت رحمه الله تعالی ددې پیشنهاد د مناسب جواب ورکولونه بعداوفرمائیل: «دټولونه اول چه څوک امیرالمؤمنین شی اوحکم کوی نو هغه دادې چه لسو کالو پورې دې ټول تحریکونه او شوراوغالمغال بند شی ، په دې لسوکالوکښې دې دمسلمانانو د اصلاح کوشش کولې شی. کله چه دا قابل اطمینان شی بیا به مناسب حکم ورکوی»

«الافاضات الیومیه ص ۷۶ ج۳ ملفوظ ۸۹ ملقب به تدبیر الفلاح»

که چیرې مونږ د حقیقت پسندئ په رڼا کښې دخپلوحالاتوجائزه واخلو نومحسوسیږی چه حضرت حکیم الامت قدس سره په دې اقتباس کښې زمونږ په خوزیدونکی رګ باندې لاس ایښې دې. که چیرې نن زمونږدسیاست غوایه په منډهی کښې نه خرخیږی نودهغې بنیادی سبب دادې چه مونږ دمکی زندګئ د دیارلسو کالو هغه حالت پریږدو او د مدنی زندګئ د اولې ورځې نه د خپلې زندګئې آغازکول غواړو- مونږ خپل ځان په اخلاقی اوروحانی اعتبارسره دتیارولونه بغیر داصلاح قوم بیرغ په لاس کښې اخلو او ولاړیو- مونږته داهم معلومه نه ده چه دا بیرغ څه رنګه نیول پکار دی؟ نه مونږ ته دا معلومه ده چه ددې دسربلندولوطریقه څه ده؟ نه مونږددې کارڅه تربیت حاصل کړې دې- مونږ فقط د نوروقومونو دخپلوسیاسی مقاصدو دحصول دپاره جهنډه اوچته کتلې ده نو د هغوئ پیښې مونږ هم شروع کړی دی. نتیجه داده چه زمونږ د سیاسی جدوجهد طرز او انداز. زمونږدکوششونوطریقهء کار. زمونږ اختیارکړې شوی تدبیرونه تقریبًا ټول په ټوله هغه دی چه مونږ دنورو قومونونه مستعاراخستی دی اوبغیر له دې نه چه په صحیح اودرست شریعت باندې برابر کړو مونږ په غلط فهمئ کښې مبتلاء شوی یو او وایو چه کله ددې طریقو نه لادینی سیاست کامیابیدې شی نواسلامی سیاست هم دکامیابئ ترمنزل پورې رسیدلې شی- حالانکه اسلامی سیاست په لادینی سیاست باندې قیاس کول دکجهورو ونې په کوهی باندې دقیاس کولومترادف دی

سیاسی تدبیرونه

حضرت حکیم الامت قدس سرهٔ خپل تصانیف اومواعظ اوملفوظاتوکښې ځاې په ځاې په دې خبرې باندې زور ورکړې دې چه په اسلامی سیاست کښې صرف د مقصد ټیک کیدل اودشریعت موافق کیدل کافی نه دی، بلکه ددې طریقهٔ کاراو ددې دتدبیرونه هم دشریعت مطابق کیدل ضروری دی- که چیرې کوم شخص دا غواړی چه هغه دشریعت احکام شاته وچوی اوددې په مخالفت کولوسره اسلامی حکومت قائموی نوهغه په داسې خام خیالئ کښې مبتلاء دې چه دهغې نتیجه دمحرومئ نه سوا بل څه نه ده- که چیرې دارنګه کوم حکومت قائم هم شی نوهغه اسلامی حکومت نه دې، بلکه داسلامی حکومت په نوم دهوکه ده-

لکه څنګه چه دمقالې په شروع کښې دحکیم الامت رحمه الله تعالی ارشاد ناقابل انکار دلائلوسره تیرشوې دې په اسلام کښې سیاست اوحکومت بذات خود مقصود [illegible] بلکه داصل شریعت اتباع اودهغې په نتیجه کښې د الله تعالی د رضاء حصول مقصود دی، [illegible] داطرز فکر داسلام په دائرې کښې نه شی داخلیدې چه داسلامی حکومت دقیام په جدوجهد کښې داسلام بعضې احکام نظرانداز شی او د اعلی مقصد دحصول دپاره د شریعت جزئی احکام قربان کړې شی د دې په ځاې د مسلمان کار دا دې چه هغه د شرعی احکامو په دائره کښې جدوجهد وکړی او د هر هغه طریقې نه خپله لمن بچ کړی چه دهغې نه دکوم شرعی حکم خلاف ورزی کیږی- دمسلمان دکامیابئ راز په اتباع دشریعت کښې دې - په دې باندې دنصرت الهی وعده شوې ده. لهذا کامیابی به ان شاء الله په همدې طریقې باندې کیږی- اوکه چیرې بالفرض دکوم شرعی حکم دپابندئ دوجې نه ظاهراً کومه کامیابی حاصله نشی . نو بیاهم مسلمان ددې نه زیات مکلف نه دې، نه ددې ناکامئ ذمه داری په ده باندې عائدکیږی اونه به په آخرت کښې په دې ناکامئ باندې له ده نه پوښتنه کیږی - که چیرې هغه دشریعت په فرمان باندې ځی نوهغه په پوره شان کامیاب اودالله تعالی له طرفه داجرمستحق دې اود ده د زندګئ اصل مقصد په پوره شان حاصل دې-

لهذا دسیاسی جدوجهد په دوران کښې هرتدبیراودهرقدم په باره کښې دا اطمینان کول ضروري دی چه آیا هغه دشریعت له نقطهٔ نظر نه جائز دې اوکه ناجائز؟ د یو تدبیرداختیارولودپاره صرف دومره خبره کافی نه ده چه دغه تدبیر دموجوده سیاست په دنیاکښې عام رواج دې او یا هغه په سیاسی تحریکونو کښې ډیرموثر ثابت شوې دې، اوهغه دنن په سیاست کښې بې مثله او بې مثاله ګڼلې شی-

که چیرې دغه تدبیر داُصول شرعیو په اعتبار سره جائزنه وی او یا په شرعی مفاسدوب اندې مشتمل وی اګرکه دموجوده سیاست علمبرداران هغه ډیر ضروری هم ګڼی خو بیا هم هغه هیڅ کله

اختیارول ندی پکار. ځکه چه سیاست مقصود نه دې بلکه د شریعت اطاعت مقصود دی
د سردار دوعالم صلی الله علیه وسلم سیرت طیبه او د صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم حالاتو کښې داسې بې شماره مثالونه ملاویږی چه په هغې کښې دوئ صلی الله علیه وسلم یا د دوئ صلی الله علیه وسلم پاکباز صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم د مؤثرنه مؤثرتدبیرونه صرف د دې د پاره پریښودل چه هغه د شریعت خلاف وو-

دغزوهٔ بدر په موقع باندې چه کله د حق او باطل اول فیصله کن جنګ راپیښ شو، اودرې سوه دیارلس بې سرا وسامانه صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم د دومره غټې طاقت سره ټکرو هلوته تلل نو د یویو شخص غټ قدراوقیمت وو او په قدرتی طورباندې په نفری کښې لګ غوندې اضافه هم په کامیابئ کښې مؤثرکیدله. په دې موقع باندې د حضرت حذیفه بن یمان رضی الله تعالی عنه غوندې قربانئ والاصحابی او د هغه پلار په لښکرکښې شاملیدل غوښتل لیکن آنحضرت صلی الله علیه وسلم هغوئ په دې بناء باندې په جهادکښې د شامل کیدونه بندکړل چه د راتلو په وخت دوئ کفارو ګرفتارکړی وو-او د هغه وعدې مطابق یې پریښې وو چه دوئ به د آنحضرت صلی الله علیه وسلم مدد نه کوی، آنحضرت صلی الله علیه وسلم دوئ د جهاد د شرکت نه بندولو سره اوفرمائیل

نفی لهم بعهدهم ونستعین الله تعالی علیهم-

یعنی مونږ د هغوئې سره کړې وعدې پوره کوو او د هغوئ په خلاف د الله تعالی نه مدد غواړو-
(صحیح مسلم ص۱۰۶، ج۲، سیراعلام النبلاء ص ۳۶۲، ۳۶۳ ج ۲ والاصابة ص ۲۲۳ ج۲)

په دې غزوې کښې یو نهایت تجربه کارمشرک سړې چه په خپلې بهادرئ او جنګجویی کښې مشهوروو، له دوئ صلی الله علیه وسلم سره په جنګ کښې شامل کیدل غوښتل. لیکن دا د حق او باطل اوله معرکه وه او په دې اولې معرکې کښې د کوم کافر مدد اخستل د اسلام د پاره مناسب نه وو- چنانچه هغه وخت حکم داوو چه د کافرانو نه دې مدد وانه خستلې ش- له دې وجې نه حضرت صلی الله علیه وسلم د هغوئ هم په جنګ کښې د شاملیدو نه انکاراوفرمائیلو او ارشادئې اوفرمائیلو چه ارجع فلن استعین بمشرك

یعنی زه د کوم مشرک نه هرګز په جنګ کښې مدد نه اخلم. (جامع ترمذی، کتاب السیر باب فی اهل الذمه یغزون مع المسلمین)

دخلفاء راشدینو رضی الله تعالی عنهم مقام خو ډیر اوچت دې- له هغوئ لاندې صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم هم په دې اصولو باندې همیشه پابند وو- د حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه د رومیانو سره د جنګ بندئ معاهده وه د هغې د مودې ختمیدو نه اول حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه خپل فوجونه په سرحد باندې واچول او د مدت ختمیدو سره ئې حمله وکړه. رومی خلق به

ناخبرۍ کښې وو دې وجې نه پسې شروع شوې - اوحضرت معاویه رضی الله تعالی عنه فاتحانه مخ په وړاندې تللو. په دې کښې حضرت عمروبن عبسه رضی الله تعالی عنه دشا له طرف نه آس غلونکې را ورسیدلو اوحضرت معاویه رضی الله تعالی عنه ئې منع کړو، هغه یوحدیث اوفرمایلو چه دهغې په رویه باندې داحمله شرعًا جائزه نه وه- حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه په دې پوهیدلو چه حمله چونکه دجنګ بندۍ ختمیدونه بعدشوې ده له دې وجې نه دا په عهدشکنۍ کښې داخله نه ده-لیکن دحدیث په آوریدو باندې د تاویل په ځاۍ دخپل پوره لښکرسره واپس شو.

(جامع ترمذی، ابواب السیر،باب ماجاء فی الغدر)

کوم سپه سالار د لښکرچه دخپلې کامیابۍ نه بعد د فتح په نشه کښې مخ په وړاندې ځی- هغه دخپلې کامیابې حملې منع کول او حصارول مشکل ګنی- لیکن حضرت معاویه رضی الله عنه د دې حدیث په آوریدو سره هغه مفتوحه علاقه هم واپس کړه- نو معلومه شوه چه په اسلام کښې چونکه مقصد سیاست اوحکومت نه دې بلکه د شریعت اطاعت مقصود دې ،نو له هیڅ وجې نه کله چه ورته دتدبیر دناجائزکیدو علم حاصل شی نو له ټولو تدبیرونو نه دستبردارکیږی.

غرض زمونږ تاریخ دداسې ښائسته مثالونونه ډک پروت دې چه په هغې کښې مسلمانانو دموثرنه موثرتدبیردپاره هم دشریعت ادنی خلاف ورزی مناسب نه ده ګنلې بلکه هغه تدبیر ئې پریښې دې او له شریعت نه یې خلاف ورزی نده کړې.

لهذا په اسلامی سیاست کښې دجدجهد دتدبیرونوشرعاً جائزکیدل ضروری دی لیکن نن سبا عموماً دسیاسی جدوجهددوران روپه رودنظرونونه بالکل پناه کیږی. کوم تدبیرونه چه د بې دینه سیاستمدارانو له خوا نه اختیارکړې شوی دی اود کومو تدبیرونو چه رواج عام شوې دې هغه فوراً اختیار کولې شی بغیر له دې نه چه وکتلې شی چه آیا دا تدبیرونه دخپلو ټولو لوازموسره جائزهم دی اوکه نه؟ حکیم الأمت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی قدس سرهٔ دسیاسی جدوجهد په څه مروجو طریقو باندې له شرعی نقطهٔ نظرنه بحث کړې دې اودهغې شرعی احکام ئې واضح کړی دی-

دبائیکاټ (قطع تعلق) اوهړتال (اعتصاب) شرعی حکم

مثلاً دحکومت نه دخپلومطالباتودمنلودپاره نن سبا دهړتالونوطریقه اختیارولې شی، که چیری خبره صرف دې حده پورې کیدله چه خلق په خپله خوشحالۍ احتجاجًا کاروباربندکړی نو دنورو مفاسدوپه عدم موجودګۍ کښې هغې ته یومباح تدبیر وئیلې شی چنانچه حضرت رحمه الله تعالی فرمائی قطع تعلق یا د دوړۍ نه خوړل داشرعاً دجها له افرادو څه ندی . په دلائلوکښې دې وکتلې شی . بلکه د مقاومت نور مستقل تدابیر دې اختیار کړې شی چه فی نفسه مباح وی.

(الروضة الناضرة، افادات اشرفیه درمسائل سیاسیه ص ۱۰)

لیکن داسې هرتال کوم چه خلقودې کاملاً په خپله خوښه کړې وی، ن ن صبا عملاً په دنیا کښې دهغې وجود نشته ، اکثر او زیاتره خوخلق دهغوئ دخواهش اوراثې برخلاف هرتال کښې په حصه اخستو باندې مجبورولې شی، که چیرې څوک حصه وانخلی نوهغه ته جسمانی اومالی ضررونه ورکولې شی، په کانو ویشتل او هوربلول دهرتال لازمی حصه جوړه شوې ده- د سرکونو په بنده ولو سره خلق خپلو ضروری کارونوته له تللو بندولې شی - په چلیدلوګادوباندې کانی ورول کیږی- ډیرخلق ددې قسم ضرر رسولودخوف نه خپل کاروباربندساتی اوکوم ضرورت مند شخص چه باهرو تلو ته په کومه وجه باندې مجبوره وی هغه هروخت دځان اومال نقصان په خطره کښې وینی اوبعضې اوقات یو نه یو بې ګناه وهلې شی، بعض وقتونو کښې دمریض علاج نه کیږی او رخصت کیږی اوډیرغریب خلق د لوږې او بې روزګاری ښکار کیږی.

دا ټولې خبرې دهرتال یوه داسې لازمی حصه جوړه شوې ده چه ددې نه بغیر څوک د«کامیاب هرتال» تصورنه شی کولې، ظاهره ده چه دا ټولې خبرې شرعًا حرامې اوناجائزې دی اوکوم څیزچه ددې حرامو اوناجائزوخبرو لازمی سبب جوړشی نو هغه به څنګه جائزشی؟

لهذاحضرت حکیم الامت قدس سرهٗ دهرتال مروجه طریقې شرعاً ناجائزې ګڼلی دی- دتحریکات خلافت په زمانه کښې د«ترک موالات» چه کومې طریقې اختیارکړې شوې وې په هغې کښې هرتال هم داخل و - دترک موالات لاندې یو دا تحریک هم را پورته شوې وۀ چه دبرطانوی مصنوعاتو بائیکاټ دې وکړې شی.چنانچه اهل تحریک په داسې دکانونوباندې چه برطانوی مصنوعات ئې خرڅول رضاکارئ پرې مقررکړی وو کوموخلقوته چه څه رنګه ممکن وی دهغه ځائ نه ئې داخستلونه منع کول. که چیرې چا څه اخستلی وای نوهغه به ئې په واپس کولوباندې مجبورکولو. هم دارنګه به ئې دکانداران مجبورکول چه هغوئ دارنګه اشیاء په خپلو دکانونو کښې کینږدی، که چرې هغه به خبره ونه منله نوهغه ته به ئې نقصان ور رسولو اګرچه له هغه دکاندارسره به بله ذریعه دمعاش هم نه وه اوددې تجارت دبندولونه به دهغه په اهل وعیال باندې د لوږې نوبت هم راتلو- حضرت ددې طریقوشرعی حکم بیانوی لیکل اوفرمائی چه : داواقعه هم په متعدد و ګناهونو باندې مشتمله ده.

یو دا چه دیومباح فعل په ترک باندې مجبورول څکه چه بغیر دبعضې خاص تجارتونونه دنورو ټولو څیزونو دخرید وفروخت معامله داهل حرب سره هم جائزده دمعاهدینوسره خوپرېږده.

دویم وروسته داتمام دبیع نه په واپسۍ باندې مجبورول نوره زیاته ګناه ده، څکه چه بغیر دقانون دخیار نه دا واپسی هم شرعاً د هغه بیع په شان ده چه په هغې کښې تراضی دمتعاقدینو شرط ده

دریم نه منونکوته ضررورکول .چه دا هم ظلم دی

خلورم اهل اوعیال ته تکلیف رسول چه دا هم ظلم دې.
پنځم که چیرې دیته واجب شرعی اوونیلې شی نو دشریعت تغییر اوتحریف کیدل......))
ددې نه بعد حضرت دهرتال ذکرکوی اوفرمائی: ((په دې کښې هم هغه خرابیانې دی چه په دریم نمبر کښې ذکرشوې. اوکه چیرې په دې احتجاجاتومذکوروکښې په شرکت نه کولوباندې جسمانی ضرر ته هم نوبت ورسیږی نودا گناه د اضرارِ مالی نه هم زیاته ده او د اسلام د تقاضاء نه خلاف ده . بیاپه دې مقطعاتوباندې مجبورکولوکښې دا جابرین په خپله خپل تسلیم کړې شوې قانون (قانون حریت) نه هم خلاف کوی- اوکه نه نو څه وجه ده چه دخپلې آزادئ کوشش کوی، او دنورو آزادی سلب کوی)) (معاملة المسلمین- افادات اشرفیه ص ۲۸، ۲۷)
ددې نه علاوه حضرت رحمه الله تعالی دهرتال په موضوع باندې یوه مستقله رساله د((تلیین العرائک)) په نوم لیکلې ده. چه دهغې اصل موضوع خوپه تعلیمی اداروکښې دطلبه کرامو هرتال دې- لیکن په دې کښې دمطلق هرتال په باره کښې هم أصولی بحثونه راغلی دي چه ددې رسالې حاصل هم دادې چه دهرتال مروجه طریقهٔ کار دشریعت نه خلاف اوناجائزه ده اعلان کړی (امدادالفتاوی ص ۲۰۱ ج ۶)

بهوک هرتال ((دلوږې اعتصاب))

دغه رنگې دمطالباتو دمنلودپاره یوه طریقه دبُهوک هرتال هم اختیارولې شی – ددې په باره کښې حضرت رحمه الله تعالی نه سوال وکړې شو : ((که چیرې څوك د حکومت لخوا گرفتارشی اوجې ته لاړ شی نودهغوئ نه بعضې خلق په جیل کښې د لوږې اعتصاب کوی تر دې پورې چه مړشی اوپه قوم کښې دهغه مدح کولې شی))
حضرت رحمه الله تعالی ددې شرعی حکم بیانوی او فرمائی: ((دده خودکشی اوحرام کیدل ظاهر دی)). قال الله تعالی: ﴿وَلَا تَقْتُلُوْا اَنْفُسَكُمْ﴾

وفی الهدایة کتاب الاکراه : فهاثم کمافی حالة المخمصة. وفی العنایة: فامتناعه عن التناول کامتناعه من تناول الطعام الحلال حتی تلف نفسه اوعضوه فکان اثما الخ

ددې روایت نه معلومه شوه چه ځان بچ کول په په هغه اندازه فرض دې چه که چیرې په حالت اضطرار کښې اندیښنه دمړکیدووی او د مردارې خوړونه ځان بچ کولې شی نوددې نه خوړل اوځان مړکول معصیت اوگناه ده. نو دحلال طعام پریښودل به ولې گناه نه وی اوددې فعل مدح کولو کښې خو اندیښنه دکفرده چه صریح تکذیب دې دشریعت یعنی په شریعت کښې یو فعل ته مذموم ونیلې شوې دې او دوئ هغې ته محمود وائی))

«افادات اشرفیه درمسائل سیاسیه ص ۲۸، ۲۹، نمبر ۶»

په یوه بله موقع باندې ارشاد فرمائي چه : «دا ـ بهوک هرتال ـ دخوکشۍ مترادف دې. که چرې د دې په نتیجه کښې مرګ راشي نوهغه مرګ حرام دې» «الافاضات الیومیة ص ۲۰ ج ۳ ملفوظ نمبر ۱۴»

دپبلسټۍ «پروپاګند اوتبلیغاتو» مروجه ذرائع

دنن په سیاست کښې پبلسټی اوپروپاګند لره هم نهایت اهم مقام حاصل دې، اوپه دې سلسله کښې عمومًا دمغربي سیاست دیومشهورنمائنده ګوئبلزپه دې مقولې باندې عمل کولې شي چه

«دروغ په دومره شدت سره وایئ چه دنیاهغه رښتیا وګڼي»

که دنن سباحکومتونه دی اویا بې دینه سیاسي جماعتونه هغه ټول په دې اصولوباندې عمل کوی لیکن بعضې اوقات داسلام دپاره سیاسي جدوجهدکولو والا حضرات هم دغوښتونکی ماحول نه متاثره شوی وی دپبلسټۍ اومروجه ذرائع استعمالول شروع کوی اودهغې دجائزاوناجائز کیدو په طرف یاخو توجه نه کوی او یا بیا هغه نظریه وایی چه دسیاست اصلاح یواوچت مقصددې اوددې دحصول دپاره دوړو وړو اُموروقربانی ورکول پروا نه کوی.

غلط بیانی خوحرامه ده لیکن دسیاسي مخالفینو بلاوجه غیبت، دهغوئ خلاف ناجائزه بدګوئی. په هغوئ باندې دبهتان اوافتراء اوتحقیق نه بغیر افواه ګانې خورول. یاپه هغې باندې دتحقیق نه بغیر یقین کول دا ټولې هغه خبرې دی چه زمونږسیاسي تحریکونو کښې شعوري یا غیر شعوري طور باندې داخلې شوی دی اوددې په وجه باندې د افتراق اوانتشار، پارټي بازیو اوفتنو اوفسادونو کښې اضافه کیږي.

حضرت حکیم الامت قدس سرهُ خپلو تصانیفو اومواعظو اوملفوظاتوکښې په دې طریق کارباندې هم تنقید فرمائیلې دې اوداسې سیاسي تدبیرونه ئې ناجائزاوواجب الترک ګڼلی دی چه په دې مفاسدوباندې مشتمل وی.

دغه رنګه جلسه اوجلوس هم پبلسټی اوخپل نقطهٔ نظرتر عوامو پورې درسولواهمه ذریعه ګڼلې شی. لیکن په دې کښې هم بعضې اوقات احکام شرعیه نظرانداز کولې شي ـ

ددې په باره کښې حضرت رحمه الله تعالی فرمائي: «کله چه کوم تدبیردتدابیرومنصوصه وړ په خلاف اختیارولې شی، هغې ته خوممنوع وئیلې شي- خصوصًا کله چه هغه فعل عبث یامضر هم وی نوددې په حرمت کښې بیاڅه شبهه کیدې شی؟ هلته خود «الضرورات تبیح المحظورات» شبه هم نشی کیدې. مثلاً هرتالونه دی، جلوسونه دی. په دې کښې دوخت ضائع کیدل .دروپو مصرف کیدل . حاجت مندوخلقوته تکلیف رسول، مونځونه ضائع کیدل. دا ټول ښکاره مفاسددی نو دا افعال له کوم ځائ نه جائزکیدې شی؟

،،يوصاحب عرض وکړو چه که چيرې پدې کښې نيت د حق امداد کولووی نو بيا ؟
نودوئ رحمه الله او فرمائيل چه : ددې خبرونه خوحق ته څه امدادنه رسيږي.بل دا چه نامشروع فعل په نيت سره نه مشروع کيږي،، ،الافاضات اليوميه ص۱۳۶ ج۵، ملفوظ نمبر۱۵۲،

دمروجه سياسي تدابيروپه باره کښې په يوې بلې موقع باندې دوئ خپله نقطهٔ نظرواضح فرمائيلې ده، ددوئ نه تپوس شوې وو چه : « ځينې خلق ،دحکومت، دمقابلې دپاره خې اوګرفتاريږي. او ځينې خاموشه مقابله کوی. که چرې دحکومت دطرف نه تشددهم وی بياهم جواب نه شی ورکولې- ددې صورتونوپه متعلق شرعی حکم څه دې؟
ددې په جواب کښې دوئ اوفرمائيل: ،،عقلی دوه احتماله دی، ياخو به د مقابلې قوت وی، اويا به قوت نه وی، که چيرې قوت وی نو د ګرفتاريدو څه معنی ده بلکه مقابله کول پکاردی اوکله چه مقابله نه شی کولې نودا صورت دعدم قوت دې. لکه څنګه چه ظاهره ده، نودعدم قوت په حالت کښې قصداً د داسې صورت د اختيارولو چه په خپله په ضرب اوحبس کښې مبتلاشي شريعت د دې اجازت نه ورکوی، بلکه د داسې مخترع مقابلې په ځائ په مکاره ،،ناقابل برداشت زورزياتی،، امورو باندې دصبرنه کاراخستل پکار دی- خلاصه دا چه که چيرې قوت وی نو مقابله دې وکړی. او که چيرې قوت وی نو صبر دې وکړی، ددوؤصورتونونه علاوه دريم کوم صورت منقول نه دې-
وړاندې ارشاد فرمائی: په دې وخت کښې دټولونه لويه وجه دناکامئ داده چه دمسلمانانوپه سرونو باندې څوک مشر نشته، نه دمسلمانانو قوت په کوم مرکزباندې جمع دې اونه کيدلې شی. تر څو پورې چه بالاتفاق يومشر اوامام جوړنه کړی. که چيرې امام وی نوټول کارصحيح کيدلې شی- دهغه په حکم سره چه ميدان ته لاړشی نوکه بيا ساه هم ورکړی نو کوم حرج نشته. او د دې بالعکس چه واره واره هلکان په خپل سر لاړشی او قتل شی نو دا کوم انسانيت دې، ، اصل خبره داده چه بره ذکرشوه چه په خيرالقرون کښې دوه صورتونه وو چه دقوت په وقت کښې مقابله وه. اودعدم قوت په وخت صبر کښې صبر وؤ - ددې نه سوا ټول له ځان نه جوړ شوی تدبيرونه دی – له همدې وجې نه په دې کښې خيراوبرکت نه شی کيدې، اوکله چه خيراوبرکت نه وی اومسلمانان ظاهراً هم کامياب شی نوپه داسې کاميابئ باندې به څه خوشحالی وی چه دالله اورسول الله صلی الله عليه وسلم دمرضئ په خلاف تدبيرونه اختيارولو سره کومه کاميابی حاصله کړې شی ، اوحسی ،ظاهری، کاميابئ حاصليدل څه کمال خبره نه ده- ځکه چه داکاميابی دکافرانو لپاره هم حاصليدې شی ، اودمسلمانانواصل کاميابی خوهغه ده چه اګرچه غلامی هم وی ليکن چه الله پاک راضی وی، اوکه چيرې حکومت وی خو د الله تعالی درضاء خلاف وی ، اوهغه پرې راضی نه وی نودفرعون حکومت او ستاسو په حکومت کښې څه فرق شو؟ پس دهغه درضا فکروکړئ او له هغه سره په صحيح معنوکښې تعلق جوړکړئ. داسلام اود احکام اسلام پابندی وکړئ – ددې بټانو

اتباع خو تر ډیره وخت پورې وکتلې شوه. اوس الله تعالی له سر کیږدئ اودهغه نه حاجت اوضروریات وغواړئ نوبیا وګورئ چه څه کیږي؟ «الافاضات الیومیه ص ۱۶۸ ج ۵ ملفوظ نمبر ۱۹۰»

له حکومت سره طرزعمل

اسلام په خپلواحکاموکښې اصل زورپه دې خبرې باندې ورکړې دې چه په هرحالت کښې داحکام شریعت اتباع وکړې شی. که چیرې دحاکم وقت له طرف نه دخلاف شرع امورو حکم ورکړې شی نودهغې اطاعت واجب نه دې- بلکه تر څو پورې چه د اکراه شرعی حالت متحقق نه وی دشریعت په احکاموباندې عمل ضروری دې، په دې لارې کښې چه څومره تکلیفونه مخې ته راځی په هغې باندې صبرکول پکاردی چه هغه موجب داجردی- دارنګه که چیرې کوم حاکم دشریعت خلاف کارکوی نوهغه په نیغه لاره باندې دراوړلو دپاره امربالمعروف اونهی عن المنکردهغې دشرائطوسره سم سرته رسول هم ضروری دی اودضرورت په وخت دهغې ترخنګ ء اظهارحق هم هم ضرور دې لکه څنګه چه حدیث کښې«افضل الجهاد»ګڼلې شوې دې- دا ټول کار دشریعت دتقاضوعین مطابق دې په دې شرط چه شرعی حدودوکښې وی او مقصد پکښې دالله تعالی راضی کول وی او په خپله یې د اقتدار طلب په نیت کښې نه وی.

لیکن دنن سیاسی فضاء کښې دامعامله هم په سخت افراط اوتفریط کښې داخله ده، کوم خلق چه د«حزب اقتدار» سره په مقابله کښې دی یا دحکومت طرفدارکیږی. هغه په هرحال کښې دحکومت دتعریفونه او تائید کوی او د حکومت دهر جائز اوناجائز تائید حمایت کوی- دحکومت ناجائز یا ظالمانه اقداماتو ته په رڼو سترګوګوری بیاهم چپ پاتې کیږی اودهغې دتاویلاتو تلاش کوی چه صریح د دین سپکاوې دې.

اوپه بل طرف چه کوم خلق «حزب اختلاف» سره په مخالفت کښې دی اودحکومت مخالفین دی. هغوئ د حکومت مخالفت خپل مقصد جوړوی اوهغه مخالفت په یو سیاسی رنګ کښې استعمال کوی - په خاص طورباندې داخبره خپل منصبی فرض ګڼي چه هغوئ دحکومت په هره خبره کښې چینچی را اوباسی اود حکومت دکومې ښې خبرې هم اعتراف نه کوی- ددې طرزعمل مقصد بعض اوقات دحق دنصرت په ځای دحکومت بدنامول وی او دخپل اقتدارلاره هوارول وی او له عوامونه دبهادرئ داد حاصلول وی.

په عواموکښې هم حاکمانوته وقت بې وقته بده بلا ویل اوحکومت ته ترکنځلوکولو پورې رواج عام شوې دې- په جلوسونوکښې د حکمت د سربراهانو نه د «سپې» او «سور» شکلونه جوړیږی اودهغې په خلاف دهای های نعرې وهلې کیږی- په مجلسونوکښې دیومشغلې په طورباندې دحکامو د ذکرکولوسره دهغوئ بدی بیانولې شی، چه دکومې معقولې وجې نه بغیر

دهغې ويل په غيبت كښې داخل دي. بعضې اوقات افتراء اودبهتان په حدودوكښې هم داخل كيدې شي اودا گنې چه فاسق اوفاجرحكمرانانوته بدوئيل په غيبت كښې داخل نه دي.

حضرت حكيم الامت قدس سرهٔ په دې طرزعمل باندې هم تنقيد فرمائيلې دې- حضرت رحمه الله تعالى فرمائي: ‹‹حجاج بن يوسف ددې أمت دتولونه په لوئې ظالم سره مشهوردې، ليكن د يو بزرگ په مجلس كښې يوشخص په هغه باندې څه الزام ولگولواوغيبت ئې وكړو نوهغوئ اوفرمائيل چه هغه اگرچه ظالم اوفاسق دې ليكن د الله تعالى له هغه سره كومه شخصي دشمني نشته، الله پاك چه څه رنگه دنورومظلومانو انتقام دحجاج نه اخلى دغه رنگه كه چيرې څوک په حجاج باندې ظلم كوى نودهغه نه هم انتقام اخستلې شى›› ،مجالس حكيم الامت ص۹۲ ،ملفوظات رمضان ۱۳۴۸ھ،

ددې نه علاوه حضرت رحمه الله تعالى په يوڅومقاماتوباندې داخبره واضح فرمائي، چه دكوم ضرورت نه بغير د حاكمانو على الاعلان اهانت شرعًا بنه كارنه دې ، فرمائي چه : ‹‹داسلام دسلاطينو على الاعلان اهانت كښې جمهورو عوامو ته ضرردې . دهيبت ويستونه فتنې خوريږى، دې وجې نه داسلام دسلاطينواحترام كول پكاردى›› ،انفاس عيسى ص۳۸۵ ج۱-باب ۴،

دحضرت حكيم الامت رحمه الله تعالى داخبره په حقيقت كښې دسركاردوعالم صلى الله عليه وسلم ددې ارشادشرح ده چه حضرت عياض بن غنم رضى الله عنه روايت كړې دې :(من اراد ان ينصح لذى سلطان بامر فلا يبده له علانية ولكن ليأخذ بيده فيخلوا به فان قبل منه فذاك والا كان قد ادى الذى عليه)

‹‹كوم شخص چه كوم صاحب اقتدارته دكومې خبرې نصيحت كول غواړى نودانصيحت دې علانيه ظاهره نه كړى بلكه دده لاس دې ونيسى او په خلوت كښې دې ورته دغه نصيحت وكړى كه چيرې هغه دده خبره قبوله كړى نوبهتره ده اوكه نه نو هغه خپل فرض اداكړل،›

،مجمع الزوائد ص۲۲۹ ج۵- بحواله مسنداحمدورجاله ثقات،

په يوبل وعظ كښې حضرت حكيم الامت رحمه الله تعالى فرمائي: ‹‹بعضې خلق دبعض مصائبو نه تنگ شى او د وقت حاكمانو ته بده وينا شروع كړى، داهم د بې صبره نښه ده. اواو له خپل ځان نه جوړ شوى تدبيرونه دى. اوپه حديث شريف كښې ددې ممانعت هم راغلې دې، فرمائي ((لاتسبوالملوك)) يعنى بادشاهانوته بدمه وايئ. دهغوې زړونه زماپه قبضه كښې دى زما اطاعت وكړئ. زه ددوئ زړونه په تاسوباندې نرموم›› ،وعظ الصبرص۳۶، ماخوذازاصلاح المسلمين ص ۵۲۲،

دكوم حديث په طرف چه حضرت رحمه الله تعالى اشاره فرمائيلې ده هغه دمختلفوصحابه كرامورضى الله تعالى عنهم نه په مختلفوالفاظوكښې مروى دى- حضرت عائشه رضى الله تعالى عنها نه ددې حديث دا الفاظ مروى دى ((لاتشغلواقلوبكم بسب الملوك ولكن تقربوا الى الله تعالى

بالدعاء لهم يعطف الله قلوبهم عليكم))

((يعنی خپل زړه بادشاهانو نه په بدوئيلو کښې مه مشغولوئ. بلکه ددوئ په حق کښې دعاء کولو سره د الله تعالی تقرب حاصل کړئ. الله تعالی به ددوئ زړونه ستاسو په طرف متوجه کړی (کنز العمال ص ۲ ج ۶ حديث ۹ بحواله ابن لنجار)

او حضرت ابو الدرداء رضی الله عنه نه دا الفاظ منقول دی: ان الله يقول: انا الله لا اله الا انا، مالك الملك وملك الملوك قلوب الملوك بيدي، وان العباد اذا اطاعوني حولت قلوب ملوكهم عليهم بالرافة والرحمة. وان العباد اذا عصوني حولت قلوبهم عليهم بالسخط والنقمة فساموهم سوء العذاب فلا تشغلوا انفسكم بالدعاء على الملوك ولكن اشغلوا انفسكم بالذكر والتضرع اكفكم ملوكهم-

((الله تعالی فرمائی چه زه الله تعالی يم، زمانه سواء بل معبود نشته. زه مالک الملک او بادشاه يم او د بادشاهانو بادشاه يم د بادشاهانو زړونه زما په لاس کښې دی او بنده چه کله زما اطاعت کوی نو زه دهغوئ د بادشاهانو زړونه ددوئ په طرف په رحمت او رافت باندې متوجه کوم. او کله چه بندګان زما نافرمانی کوی نو زه ددوئ په زړونو کښې ددوئ په خلاف په ناراضګئ او عذاب سره متوجه کوم. چنانچه هغه هغوئ دوئ ته بدترين ضررونه رسوی- لهذا تاسو بادشاهانو ته په بددعايانو کښې مشغول نه شئ. بلکه خپل ځانونه په ذکر او دعاء او تضرع کښې مشغول کړئ. زه ستاسو د بادشاهانو په معامله کښې ستاسو مدد کوم)) (مجمع الزوائد ص ۲۴۹ ج ۵ بحواله طبرانی، وفيه ابراهيم بن راشد وهو متروک)

او حضرت ابو امامه رضی الله عنه نه دا الفاظ مروی دی: (لا تسبوا الائمة وادعوا الله لهم بالصلاح فان صلاحهم لكن صلاح).

((اے امه (د حکومت سرابراهانو) ته بد بلا مه وائې، بلکه دهغوئ په حق کښې د نيکئ دعا وکړئ. ځکه چه ددوئ په نيکئ کښې ستاسو نيکی ده)) (السراج المنير للعزيزي ص ۴۱۱ ج ۴، وقال اسناده حسن)

بهرصورت (حاکمانو ته بلاضرورته بدوئيل مشغله جوړول شرعاً ښه نه دی. که چيرې هغوئ کولې شی چه دهغې څه تفصيل ان شاء الله په آينده کښې راځی، ليکن د بدګويی د انداز جوړولو نه دومره بدوی چه ددوئ په خلاف خروج (بغاوت)) جائزوی نو بيا د شرعی احکامو په مطابق خروج نې منع کړې ده. دغيبت د نقصان نه علاوه حضرت حکيم الامت رحمه الله تعالی ددې بدګوئ ديو بل نقصان په طرف هم اشاره فرمائيلې ده. او هغه دا چه د حکومت فی الجمله هيبت دامن او امان دقيام دپاره ضروری دې او کله چه دا هيبت د زړونو نه اوچت شی نو ددې لازمی نتيجه دا کيږی چه مجرمان دبې باکئ په صورت کښې ميدان ته راوځی او په ملک کښې بدامنی خوريږی او ددې نقصان ټول قوم ته رسيږی

دحکومت دغیرشرعی قوانینو اواقداماتو په خلاف طریقهٔ کار

دلته په طبعی طورباندې داسوال پیداکیږی چه که چرې هرتال، بهوک هرتال اوداحتجاج مروجه بهتر صورتونه له مینځ نه لاړ شی نو دموجوده حکومتونوغیرشرعی قوانینو او اقداماتو خلاف له أمت بله څه لاره چاره کیدې شی؟ آیاموجوده حکومتونه همدارنګه آزاد پریښودل پکار دی چه هغوئ اسلامی احکام پامال کوی؟ خلق داسلام اواسلامی تعلیماتونه د اړولو دپاره دحکومت پوره مشینری استعمالولې شی؟ دتعلیمی ادارو اود ذرائع ابلاغ په ذریعه دغیراسلامی نظریاتو ترویج کیږی. اوکوم مسلمان چه په دین باندې عمل کول غواړی هغه دزبانی وعظ اونصیحت نه سواڅه نه کوی؟چونکه دنن سبا دحکومتوتجربه ده چه هغه زبانی وعظ اونصیحت باندې اعتماد کول نه پیژنی او ترڅو پورې چه په دوئ باندې داحتجاج دباؤ وانه چولې شی هغه وخته پورې هغوئې کومې مطالبې عمومًا نه تسلیموی-

ددې سوال جواب حضرت حکیم الامت رحمه الله تعالى د ارشاداتو په رڼا کښې دادې چه د مغربی سیاست په عمومی توګه په رواج کیدلو سره زمونږ په ذهنونو کښې دا خبره ناسته ده چه داحتجاج طریقه هرتالونه، اوجلوسونو اومظاهروکښې منحصرده، حالانکه یومسلمان ته داحتجاج طریقه هم په خپله دخپل دین داحکامونه اخستل پکاردی اوهغه دا چه که چیرې دحکومت داغیر اسلامی اقدامات تر دې حده پورې رسیدلی وی چه دحکومت په خلاف خروج (مسلح بغاوت) جائز شوې وی، نو هلته خودخروج احکام جاری کیږی (چه دهغې څه تفصیل په آینده کښې راځی) لیکن چیرته چه خروج جائزنه وی نوهلته دوعظ اونصیحت نه علاوه دمسلمانانوسره داحتجاج یوطریقه دا هم ده چه دغتوغتوحکومتونو نه مخ واړولې او اودوئ په نظر کولو سره مجبور کړې شی اوهغه طریقه داده چه : **(لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق)** . ((دخالق په نافرمانئ کولوسره دکوم مخلوق اطاعت جائزنه دې))

اوداطریقه په خپله دسرداردوعالم صلی الله علیه وسلم دیوارشادنه ثابتیږی، حضرت معاذبن جبل رضی الله تعالى عنه نه مروی دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم ارشاداوفرمائیلو **(خذوا العطاء مادام عطاء، فاذاصار رشوة على الدين فلا تأخذوه ولستم بتاركيه يمنعكم الفقر والحاجة الا ان رحا الاسلام دائر فدوروا مع الكتاب حيث دار، الا ان الكتاب والسلطان سيفترقان فلا تفارقوا الكتاب الا انه سيكون عليكم امراء يقضون لانفسهم مالا يقضون لكم فان عصيتموهم قتلوكم، وان اطعتموهم اضلوكم. قالوا: يارسول الله كيف نصنع؟ قال: كما صنع اصحاب عيسى بن مريم نشروا بالمناشير وحملوا على الخشب، موت في طاعة الله خير من حياة في معصية الله)**

((تنخواهغه وخته پورې اخله کله پورې چه هغه تنخواه وی. لیکن که چیرې هغه ددین(فروشئ

دپاسه رشوت جوړشی نومه ئې اخله. اوتاسودفقراوحاجت د ویرې نه هغه مه پریګدئ. بـه واورئ د اسلام ژرنده تاویدونکې ده نو تاسـو د کتاب الله خواو شا تاویږئ لهذا قرآن چه چرته هم ځی تاسو دهغې سره لاړشئ- خبردار! قرآن اواقتدار دواړه جداجدا کیږی. پس تاسو قرآن مه پریږدئ . یادلرئ چه په تاسوباندې څه داسې امیران راځی چه په خپل حق کښې به هغوئ فیصلې کوی او ستاسو په حق کښې به ئې نه کوی- که چیرې تاسو دهغوئ خلاف ورزی وکړه نوهغوئ تاسوقتلوی اوکه چیرې تاسو دهغوئ اطاعت وکړونوهغوئ به تاسو ګمراه کوی- صحابه رضی الله تعالی عنهم عرض وکړوچه یارسول الله ! مونږ په دې وخت کښې څه وکړو؟ دوئ صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه هغه کار وکړئ چه دعیسی بن مریم علیهما السلام ملګرو وکړو. هغووئ ئې په اروباندې وشلول. اوپه لرګوباندې زوړند کړې شول .دالله تعالی په اطاعت کښې چه مرګ راشی نوهغه دالله تعالی په نافرمانئ کښې دزندګئ تیریدونه بهتره دہ)) **(مجمع الزوائد ص ۲۳۸ ج ۵ بحواله طبرانی ، وقال الهیثمی: یزیدبن مرثدلم یسمع من معاذالوضین بن عطاء وثقه ابن حبان وغیره وضعفه جماعة وبقیة رجاله ثقات)**

دې حدیث واضح اوفرمائیل چه که چیرې کله د وخت د حکومت له طرف نه داسې احکام جاری کړې شی چه دالله تعالی دکتاب نه صراحةً خلاف وی (په کوم کښې چه داسلام تول اوقطعی نور منصوص احکام داخل دی) نودیومسلمان کاردادې چه هغه ددې احکامو په ځائ دالله تعالی دحکم پابندی وکړی دا طریقهٔ کار څنګه چه په انفرادی طورباندې اواخروی نجات لاره ده همدغه شان په دې کښې داجتماعی اصلاح هم ډیر لوئ صلاحیت دې څکه چه اوس که چیرې په عوامو کښې داعام دینی شعورپیدا کړې شی چه هغه خالص په خپلې دینی جذبې باندې دحکومت دغیراسلامی احکامو په تنفیذ کښې دحصه دارجوړیدلو نه لاس بندکړی نوپه یوحکومت باندې ددې نه غټ د کوم بل شی د دباؤ تصورنه شی کیدې. فکر وکړئ ! چه که چیرې مسلمان دخپل دینی شعور مطابق دا فیصله وکړی چه هغوئ به دبانکونو په سودی شعبو کښې خپلې پیسې نه بندوی- ملازمین دافیصله وکړی چه دوئ به دسودی بانکونو سره کار پریږدی اوتجاران فیصله اوکړی چه هغوئ به دکوم بانك نه په سود باندې قرض نه اخلی. نو آیا دا سودی نظام یوه ورځ باقی پاتې کیدې شی؟ که چیرې مسلمان جج (قاضی) دا فیصله وکړی چه هغه به دکوم غیراسلامی قانون لاندې فیصلې نه کوی- او که پدې سره دې له خپلې وظیفې نه برطرف کیږی نو دې ورته تیار وی . وکیلان دا فیصله وکړی چه هغوئ به دکوم غیر اسلامی قانون نه لاندې دمقدمې پیروی نه کوی خواه دوئ دڅومره مالی فوائدونه لاسونه اووینځی نو آیا دا غیراسلامی قوانین به عوامو په سرونو باندې مسلط کړې شی؟ که چیرې مسلمانان سرکاری ملازمین دا عزم وکړی چه دوئ به دحکومت دکوم غیراسلامی اقدام په تنفیذ کښې حصه اخستل نه برداشت کوی اوکه چیرې دوئ نه

داسې کول وی نو دوئ تول به له خپلې وظيفې نه استعفاء ورکړی. نو آيا دا هيڅ اسلامی اقدامات باقی پاتې کيدې شی.؟

داحتجاج دمروجه طريقوپه مقابله کښې په دې تجويزکښې صرف دا خرابی ده چه دا طريقه دمغربی سياست نه نده راوتلې له دې وجې نه د ذهنونو دپاره اجنبی او غير مانوس ښکاری ليکن که چيرې په دې تجويز باندې په صحيح طريقې سره عمل وکړې شی نو په دې کښې دملک دنظام بدلولو پوره صلاحيت موجود دې او ددې مروجه تدبيرونو دمفاسدونه هم خالی ده، ليکن ددې دپاره ضروری ده چه دنفاذ اسلام دجدوجهد کولووالاپه زړه کښې دالله پروه دآخرت فکر. دالله تعالی مخې ته د جواب ورکولو احساس اواتباع شريعت احساس موجودوی-اوهغه اول په خپل ذات باندې داسلامی احکامو دنفاذدپاره تياروی-

ددې برعکس مروجه طريقۀ کارخلقوته له دې وجې نه آسانه معلوميږی چه په دې کښې په خپل خان باندې داسلام د نافذ کولو څه شرط نشته دې ، دکوم انسان خپل ذات چه داسلام او داسلام له بيناء نه د اسلام تر تعليماتو پورې خالی وی، هغه هم د نفاذ اسلام د بيرغ اوچتولو سره په سرکوڅوباندې نعرې وهلې شی، په دې طريقۀ کار کښې د «اسلامی جذبو» اظهاردپاره يوورځ په هرتال کښې حصه اخستل کافی دی- ددې نه اول اوددې نه بعد په دکانونواودفترونوکښې ناست وی خالص غيراسلامی معاملات دخپلولاسونونه فيصله کولې شی نوددې نه په جدوجهدباندې څه فرق نه غورځيږی-

سوال دادې چه کوم خلق په خپله په خپلې ذاتی زندګئې باندې داسلام احکام نه نافذوی هغه څنګه دا توقع کولې شی چه د نفاذ اسلام دپاره ددوئ جدوجهداومطالبات به پوره کيږی؟ ددې عظيم کاردپاره دومره شرط خوکيښودل پکاردی چه کوم خلق ددې جدوجهد پيتې اوچت کړی کم ازکم چه هغوئ خوخپله زندګی داسلام په چوکاټ کښې برابره کړې وی اوپه دې لاره کښې دځان اومال او دجذباتواومفاداتوقربانی پيش کولوعزم ی مضبوط وی - که چرې دا بنيادی شرط پکښې نه وی نو دنفاذ اسلام دجدوجهد حيثيت او اهميت يوبې روحه اودسطحی اندازې نه زيات بل څه نه شی کيدلې.

دحکومت په خلاف راوتل

سرکاردوعالم صلی الله عليه وسلم داسلامی حکومت په خلاف دبغاوت کول شديدجرم ګڼلې دې اودباغی سزاء ئې مرګ ګڼلې ده- چنانچه په دې خبره باندې دفقهاء کرام رحمهم الله اجماع ده- دعادل حکومت خلاف بغاوت کوم وخت جائزکيږی؟ په دې مسئلې کښې فقهاء امت کافی مفصل بحثونه کړی دی. داخبره خو د احاديثو نه واضحه ده چه که چيرې دحکمران نه دکفر بواح (واضح کفر) صدوروشی نو د هغه خلاف بغاوت بالکل برحق دې ليکن که چيرې له هغه نه فسق اوفجور

بنکاره شی نو په دې صورت کښې عموماً فقهاء کرامو دبغاوت کولو جواز ندې ورکړې خکه چه په حدیث کښې فقط د کفر بواح په صورت کښې دبغاوت اجازت ورکړې شوې دې۔
لیکن په بل طرف دبعضې احادیثو ځه الفاظ ددې خلاف هم په نظرراځی چه په هغې باندې دحکمران دفسق په صورت کښې دخروج گنجائش معلومیږی. په دې بناء باندې دبعض فقهاء رحمهم الله تعالی عبارتونه هم ځه متضاد په نظرراځی- په خپله راقم الحروف په دې مسئلې کښې یوې مودې پورې په ډیر اشکال کښې وؤ. اوکومه صافه خبره یی مخې ته رانه غله .
لیکن حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی قدس سرهٗ په دې موضوع باندې یو نهایت جامع مفصله اومدلل رساله لیکلې ده چه په امدادالفتاوی پنځم جلدکښې د«جزل الکلام فی عزل الامام»په نوم باندې شائع شوې ده- په دې کښې حضرت رحمه الله تعالی ددې موضوع ټول احادیث او د فقهاء کرامو رحمهم الله تعالی اقوال یوځائ کړی دی او دا مسئله یی دومره واضحه کړې ده چه پدې مسئله بندې د احقر په نیزد له دې نه کومل بهتر بحث ندې تیر شوې. حضرت رحمه الله تعالی دمسئلې دټولوصورتونو تجزیه اوفرمائیله دهرصورت حکم یی داحادیثو او فقهی حوالوپه ذریعه واضح فرمائیلې دې-
دحضرت رحمه الله تعالی ددې بحث خلاصه داده چه دحکمرانانوغیراسلامی اقداماتو یوڅو صورتونه دی او د هرصورت حکم جدا دې:
(۱) دحکمران فسق که دهغه ترحده پورې محدودوی. مثلاً شراب نوشی وغیره.ددې حکم دادې چه : «که چیرې بغیردکومې فتنې نه په آسانئ سره دهغې ختمول ممکن وی نو ختم دې شی . که چرې دفتې اندیښنه وی صبر دې وکړې شی.....اوکه چیرې دنهی عن العزل په صورت کښې د هغه په خلاف باندې څه خروج وکړی نو په عمومی مسلمانانو باندې دهغه نصرت واجب دې بالخصوص کله چه امام حکم هم وکړی. «لقوله فی العبارة السادسة فاذاخرج جماعة مسلمون»الخ
(۲) دویم صورت دادې چه دهغه فسق تر نورو پورې متعدی وی- یعنی د خلقو مالونه په ناحقه طریقې سره اخلی لیکن په هغې کښې د اشتباه جواز هم وی لکه د سلطنت د مصالحو په نوم سره ټیکس وغیره اخستل کیږی . ددې صورت حکم دادې چه په دې کښې دهغه اطاعت واجب دې خروج جائز نه دې
(۳) داسې مالی ظلم وکړی چه په هغې کښې دجواز شبه هم نه وی بلکه صریح ظلم وی. ددې حکم دادې چه «دخپل ځان نه ظلم دفع کړی . اګرچه دقتال نوبت راشی اوصبرهم جائزدې- بلکه غالباً اولی دې»
(۴) خلق په معصیتونو باندې مجبورکړی. لیکن دهغه منشاء ددین استخفاف یاکفراومعصیت خوښی نه وی. نوددې حکم دادې چه په دې باندې داکراه هغه احکام جاری کیږی چه په فقه کښې

دتفصيل سره مذکوردي. ليکن خروج جائزنه دي.

(۵) خلق په معصيت باندې مجبورکړي ، اودهغه منشاء ددين استخفاف يادکفراومعصيت خوښول وي نو دا کفردې . يا اګرچه في الحال خو داکراه منشاء داستخفاف وغيرنه وي ليکن اکراه عام د قانون په شکل په داسې طورباندې وي چه يوې مودې پورې په دې باندې دعام عمل کيدو نه په آينده کښې ظن غالب وي چه په طبائعوکښې استخفاف پيداکيږي نوداسې اکراه هم په حکم دکفر کښې ده اوپه دې ټولو صورتونوکښې هغه حکم دې کوم چه دکفربواح دې اوکوم چه په شپږم صورت کښې راځي.

(۶) نعوذبالله ! کافرشي، ددې حکم دادې چه : «معزول دې شي اوکه چيرې معزول نه شي نو په شرط دقدرت يې معزول کول على الاطلاق واجب دي. ليکن په دې کښې شرط دادې چه هغه کفر متفق عليه وي اوځه رنګه چه ددې کفر کيدل قطعي وي دغه رنګه ددې صدورهم يقيني وي. مثلا د رؤيت عين په درجه کښې وي نه دمحض ظني رواياتو په درجه کښې، (کماطل عليه قوله عليه السلام الاان تروا المراد به رؤية العين بدليل تعديته الى مفعول واحد)

کوم امر چه موجب د کفر وي نو دهغې دلالت په الکفر مختلف فيه کيدې شي دغه رنګې هغه امر چه موجب د کفر وي دهغې ثبوت په مقامي اويا مقالي قرائنو په اختلاف سره مختلف فيه کيدې شي او په خپله قطعيت هم مختلف فيه کيدلې شي ، دغه رنګه کله اجماع هم مختلف فيه کيدې شي........ په دې صورت کښې هرعامل په خپل عمل کښې معذورکيږي.

دغه رنګه په يوبل صورت کښې هم درائې اختلاف کښې جواز دې، هغه داچه په پنځم عبارت کښې د مصالحو دتعارض په وقت کښې داخف المضرتين دتحمل حکم شوې دې . نوممکنه ده چه ددوؤکسانو اجتهاد دمختلفو مضراتو په اخف او اشد کيدوکښې مختلف وي وبه ينحل کثيرمن الاشکالات من اختلاف جماعات الثقات في مثل هذه المقامات. (امدادالفتاوى ص ٣٠-ج ٥)

بيايه کوموصورتونوکښې چه دخروج اجازت ياوجوب بيان کړې شوې دې په هغې کښې شرط دادې چه دخروج دپاره مناسب قوت موجودوي. اوددې په نتيجه کښې کوم بل د بدترحکمران مسلط کيدو ياکوم بل غيرمسلم دقبضې اچولو انديښنه نه وي.

دلته د حضرت رحمه الله تعالى دتحقيق نهايت اجمالي خلاصه پيش کړې شوه اوکه نه نو حضرت رحمه الله تعالى دهرصورت حکم د احاديثو او د فقهې ددلائلونه مدلل فرمائيلې دې اودټولو ممکنو شبهاتو ازاله ئې هم فرمائيلې ده. داهل علم دپاره دا رساله نهايت مفيداواطمينان بخښلو والاده.

فهذا آخر ما اردنا ايراده في هذه العجالة وآخر دعوانا ان الحمدلله رب العلمين والصلاة والسلام على سيدنا ومولانا محمدالنبي الامين وعلى آله واصحابه اجمعين

(ماهنامه - البلاغ - شعبان ورمضان ١۴١٠ هـ)

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ﴾

گریز از طرز جمهوری غلام پخته کاری شو | که در مغز دو صد خر فکر انسانی نمی آید

فرنگ آئین جمهوری نهاد است | رسن از گردن دیوی کشاد است

رفع النّقاب عن وجه الانتخاب

- اسلامي جمهوريت
- د ښځو د مشرۍ د حرمت په باره کښې د اکابرو علماؤ متفقه فيصله
- ★ قرآن ★ حديث ★ فقه ★ عقل ★ د اُمت اجماع

د بحث خلاصه

- اسلامي جمهوريت
- په اسلامي جمهوريت او مروجه جمهوريت کښې فرق
- د امير شرائط
- د انتخاباتو طريقه
- د ښځې مشري — د اکابرو علماؤ فيصله
- قرآني نصوص
- د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشادات
- د څلورو مذاهبو فقه
- عقل سليم
- د اُمت اجماع
- د ملحدينو د دلائلو جوابات
  - ابن جرير طبري رحمه الله
  - د بلقيس قصه
  - حضرت عائشه رضي الله تعالى عنها
  - حضرت تهانوي رحمه الله تعالى
- د پاکستان د هر مکتبهٔ فکر د علماؤ فيصله
- د دې نه علاوه
  - د ملحدينو د نورو تلبيساتو جوابونه
  - بعضې فقهي جزئيات
  - شجرة الدر
  - امام ابن تيميه رحمه الله تعالى
  - امام مالک رحمه الله تعالى

اسلامي جمهوريت

سوال: آيا په اسلام کښې شاهي طرز حکومت دې او که جمهوري؟ **که چرې جمهوري** وي نو د انتخاب طريقه يې څه ده؟

په اسلامي جمهوريت کښې دمسلمانانو سربراه څنګه منتخب کولې شي؟ آيا سړيو اوښځو ټولو ته دراني ورکولوحق دې اوکه صرف سړيو ته؟ او آياصرف ارباب عقولو اودپوهو خلقونه راني بايد واخستلې شي اوکه دټولونه، دپوهواونا پوهو ،شپونکيانواوبې وقوفونه هم؟ لکه څنګه چه دننن سبا در يفرندم طرزعمل دې ، مطلب دا چه کوموخلقوته چه په خپل خليفه منتخب کولوکښې څه پوهه نوي چه څوک اهليت لري. آيا ددوئ نه هم راني واخستلې شي اوکه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب باسم ملهم الصواب: داسلام طرزحکومت جمهوري دې، په جمهوريت اسلاميه او جمهوريت مروجه کښې دوه فرقونه دي:

(۱) په جمهوريت مروجه کښې سربراه مملکت نه خود مختارکيږي بلکه [illegible] پابند وي اوپه جمهوريت اسلاميه کښې اميرالمؤمنين خود مختاروي، په اهمو امورو کښې داهل حل اوعقد سره دمشورې نه بعدکومه چه دووئ په راني صواب وي دهغې په مطابق فيصله کولې شي. دشورى دفيصلې پابند نه دې. قال الله تعالى ﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ﴾ (۳-۱۵۹)

(۲) په جمهوريت مروجه کښې هرشخص ته دراني ورکولوحق دې ليکن جمهوريت اسلاميه کښې دانتخاب خليفه حق صرف اهل حل اوعقد ته دې-

داهليت حل اوعقدپاره پنځه شرائط دي

(۱) داسلام په عقائدو کښې رسوخ اومضبوطوالې

(۲) ذکورة- (۳) په علم دين کښې رسوخ- (۴) تقوى اوتصلب فى الدين-

(۵) په ملکي حالاتو او حاضرو سياستونو کښې کامل بصيرت.

دلائل:

(۱) قال الله تعالى ﴿ وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ مِنْهُمْ ﴾ (۴-۸۳)

هرکله چه دعمومي مسائلودپاره داهل حل والعقدپه طرف درجوع کولو حکم شوې دې نو دخلافت په شان داهمې او لوي مسئلې دپاره به دعوام کالانعام په طرف درجوع کولو څنګه اجازت ورکولې شي؟

(۲) وقال تعالی ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡ ﴾ (۴-۵۹)
په دې آيت کښې داولی الامردوه تفسيرونه کړې شوی دی :
(۱) احکام (۲) اهل حل والعقد.
په اول آيت کښې داولی الامرنه اهل حل والعقدمعنی متعينه شوې ده، ددې نه ثابته شوه چه په دويم آيت کښې هم دا تفسيرراجع دې.
کله چه په عامومعاملاتوکښې داهل حل والعقد د اطاعت حکم شوې دې نو د انتخاب امير په شان اهمه مسئله کښې په طريق اولی سره ددوئ اطاعت فرض کيږی.

(۳) وقال تعالی ﴿ وَإِن تُطِعۡ أَكۡثَرَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ (۶-۱۱۶)

(۴) وقال تعالی ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا ﴾ (۴-۵۸)
ددې نه لکه څنګه چه دا خبره ثابته شوه چه هرکله اميرداسې شخص منتخب کول فرض دی په چاکښې دامارت اهليت وی، نو دغه رنګه داهم ثابته شوه چه په عوامو باندې دافرض دی چه دانتخاب اميرمسئله په خپله دفيصلې کولوپه ځائ داسې اهل حل والعقد ته حواله کړی چه په هغوئ کښې دانتخاب اهليت وی.
(۵) دنصوص شرعيونه علاوه دعقل فيصله هم داده چه داميرانتخاب دهر چا کار نه دې بلکه ددې دپاره دکمال عقل ضرورت دې اودعلم دين اوتقوی نه بغيرعقل نه شی کامل کيدې.

دامير شرائط

دامير د اهليت دپاره د اهل حل والعقددشرائطو مذکورو نه علاوه شپږم شرط هم دې چه صاحب همت اوشجاع به هم وی.

داميردانتخاب طريقه

په اسلام کښې د امير د انتخاب کولو درې طريقې دی .
(۱) بيعت داهل حل والعقد . کماوقع لسيدنا ابی بکر رضی الله تعالی عنه.
(۲) استخلاف. د وخت خليفه چه يوځو اهل حل والعقد سره دمشورې کولو نه وروسته دچا په باره کښې وصيت وکړی چه زمانه ،عدبه دا سرې خليفه کيږی . لکه حضرت ابوبکررضی الله تعالی عنه حضرت عثمان ، عبدالرحمن بن عوف. سعيدبن زيد، اسيدبن حضير او د مهاجرينو او انصارو رضی الله تعالی عنهم له نورو اهل حل والعقدسره له مشورې کولونه وروسته يی حضرت عمررضی الله تعالی عنه منتخب کړو

روى ابن الاثير رحمه الله تعالى ان ابابكر الصديق رضي الله تعالى عنه لما مرض دعا عبدالرحمن يعني ابن عوف رضي الله تعالى عنه فقال له اخبرني عن عمر بن الخطاب، فقال عبدالرحمن رضي الله تعالى عن ما تسالني عن امر الا وانت اعلم به مني، قال ابوبكروان فقال عبدالرحمن هو والله افضل من رايك فيه ثم دعا عثمان بن عفان رضي الله تعالى عنه فقال اخبرني عن عمر فقال انت اخبرنا به فقال على ذلك يا ابا عبدالله فقال عثمان رضي الله تعالى عنه اللهم علمي به ان سريرته خير من علانيته وان ليس فينا مثله فقال ابوبكر رضي الله تعالى عنه يرحمك الله والله لو تركته ما عدوتك وشاورمعهما سعيد بن زيد ابا الاعور واسيد بن حضير وغيرهما من المهاجرين والانصار رضي الله تعالى عنهم. فقال اسيد بن حضير وغيرهما من المهاجرين والانصار رضي الله تعالى عنهم. فقال اسيد رضي الله تعالى عنه اللهم علمه الخيرة بعدك يرضى للرضى ويسخط للسخط الذى يسرعون من الذى يعلن ولن يلي هذا الامر احد اقوى عليه منه (اسد الغابة ص ۲۸ ج۳)

داستخلاف په ذريعه دخلافت د انعقا شرائط

دابوبكررضى الله تعالى عنه د استخلاف د ذكر شوى تفصيل نه ثابته شوه چه داستخلاف په ذريعه د انعقاد خلافت دپاره دري شرائط دي.

(۱) اول خليفه كښي بايد دخلافت ټول شروط موجود وى.

(۲) دويم خليفه هم بايد دټولو شروطو دخلافت مستجمع وى.

(۳) شورى، خليفهٔ وقت ديو څو اهل حل والعقد شورى متعين كولو سره داوصيت وكړى چه زمانه بعد دې دا خلق په اتفاق رائې سره دځان نه كوم يو خليفه منتخب كړى، لكه څنګه چه حضرت عمررضى الله تعالى عنه د حضرت عثمان. حضرت على، حضرت زبير، حضرت طلحه. حضرت سعد. حضرت عبدالرحمن بن عوف رضى الله تعالى عنهم شپږ كسان د شورى اركان متعين اوفرمائيل. او د دوئ په ذريعه د حضرت عثمان رضى الله تعالى عنه انتخاب په عمل كښي راغې.

رواه الامام البخارى رحمه الله تعالى عن عمرو بن ميمون رضي الله تعالى عنه ولفظه قال (عمر رضي الله تعالى عنه) ما اجد احق بهذا الامر من هؤلاء النفر او الرهط الذين توفى رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو عنهم راض فسمى عليا وعثمان والزبير وطلحة وسعدا وعبدالرحمن ابن عوف وقال ويشهدكم عبدالله بن عمر وليس له من الامر شيء كهيئة التعزية له فان اصابت الامر قسعدًا فهو ذاك والا فليستعن به ايكم ما امر فاني لم اعزله من عجز والا خيانة (وبعد اسطر) فلما فرغ من دفنه اجتمع هؤلاء الرهط فقال عبدالرحمن رضي الله تعالى عنه اجعلوا امركم الى ثلثة منكم. قال الزبير رضي الله تعالى عنه قد جعلت امرى الى على فقال طلحة رضي الله تعالى

عنه لقد جعلت امری الی عثمان وقال سعد رضی الله تعالی عنه قد جعلت امری الی عبد الرحمن بن عوف فقال له عبد الرحمن رضی الله تعالی عنه ایکما تبرا من هذا الامر فنجعله الیه والله علیه والاسلام لینظرن افضلهم فی نفسه فاسکت الشیخان رضی الله تعالی عنهما فقال عبد الرحمن بن عوف رضی الله تعالی عنه افتجعلونه الی والله علی ان لا الو عن افضلکم قال نعم فاخذ بید احدهما فقال لک قرابة من رسول الله صلی الله علیه وسلم والقدم فی الاسلام ما قد علمت فالله علیک لئن امرتک لتعدلن ولئن امرت عثمان لتسمعن ولتطیعن ثم خلا بالاخر فقال له مثل ذلک فلما اخذ المیثاق قال ارفع یدک یا عثمان فبایعه فبایع له علی رضی الله تعالی عنه وولج اهل الدار فبایعوه (صحیح البخاری ص ج)

دانتخاب امیردادرې طریقې دی. البته دانعقاد خلافت یوه څلورمه طریقه داستیلاء او تغلب هم ده، یعنی دخلیفهٔ وخت دمرګ نه بعد یو شخص جبراً اوقهراً په خلافت مسلط شي نودده خلافت منعقد کیږي، له همدې وجې نه دده اطاعت واجب دې.

بیا ددې دوه قسمونه دی:

(۱) دا شخص باید دشروط خلافت مستجمع وی اوخلق په صلحې اوپه حسن تدبیر سره خپل ځان ته مائل کوی، کوم ناجائز اقدام نه کوی- دا قسم جائزدې، دحضرت معاویه رضی الله تعالی عنه خلافت همدا رنګه منعقد شوې وو.

(۲) په دې شخص کښې شروط دخلافت نه وی اوخپل مخالفین په قتال اونورو ناجائزو حربو باندې د خپل ځان تابع کړی، داجا ئزنه ده، داسې شخص فاسق اوسخت ګنهګاردې، لیکن ددې باوجود دده دتسلط نه بعد دده اطاعت واجب دې پدې شرط چه دده حکم خلاف شرع نه وی- دده نه مخالفت اودده دمخالفت اومعزول کولو کوشش جائزنه دې-

قال الامام ولی الله رحمه الله تعالی :انعقاد خلافت بچهارطریق واقع شود:

طریق اول بیعت اهل حل وعقد ست ازعلماء وقضاة وامراء ووجوه ناس که حضورایشان میسر شود واتفاق اهل حل وعقدجمیع بلاداسلام شرط نیست زیراکه آن ممتنع ست وبیعت یک ویا دو کس فائده ندارد زیراکه حضرت عمردرخطبهٔ آخرفرموده اند فمن بایع رجلا علی غیرمشورة من المسلمین فلا یبایع هو والذی بایعه تغرة ان یقتلا وانعقاد خلافت حضرت صدیق رضی الله تعالی عنه بطریق بیعت بوده است-

طریق دوم استخلاف خلیفه است مستجمع شروط رایعنی خلیفهٔ عادل بمقتضای نصح مسلمین

شخصی را ازمیان مستجمعین شروط خلافت اختیارکندوجمع نماید مردمان راونص کند باستخلاف وی ووصیت نمایدباتباع وی-پس این شخص میان سائر مستجمعین خصوصیتی پیداکند وقوم رالازم ست که همان شخص راخلیفه سازند. انعقاد خلافت حضرت فاروق رضی الله تعالی عنه بهمین طریق بود-

طریق سوم شوری ست وآن آنست که خلیفه شائع گرداندخلافت رادرمیان جمعی ازمستجمعین شروط وگویدازمیان این جماعه هرکه رااختیارکنندخلیفه اوباشد پس بعدموت خلیفه تشاورکنند ویکی رامعین سازندوارگ برائ اختیارشخصی رایاجمعی رامعین کنداختیار همان شخص یاهمان جمع معتبرباشد. وانعقاد خلافت ذوالنورین رضی الله تعالی عنه بهمین طریق بود که حضرت فاروق رضی الله تعالی عنه خلافت را درمیان شش کس شائع ساختندوآخرهاعبدالرحمن بن عوف رضی الله تعالی عنه برایٔ تعیین خلیفه مقررشد وی حضرت ذی النورین رضی الله تعالی عنه را اختیار نمود-

طریق چهارم استیلاء ست چون خلیفه بمیرد وشخصی متصدی خلافت گردوبغیر بیعت واستخلاف وهمه ر ابرخود جمع سازد بایتلاف قلوب یابقهر ونصب قتال خلیفه شود ولازم گردد وبرمردمان اتباع فرمان اودرآنچه موافق شرع باشد. واین دونوع ست:

یکی آنکه مستولی مستجمع شروط باشدوصرف منازعین کندبصلح وتدبیرازغیرارتکاب محرمی،واین قسم جائزست ورخصت. وانعقاد خلافت معاویة بن ابی سفیان بعدحضرت مرتضی بعدصلح امام حسن رضی الله تعالی عنهم بهمین نوع بود-

دیگر آنکه مستجمع شروط نباشد وصرف منازعین کندبقتال وارتکاب محرم وآن جائزنیست وفاعل آن عاصی ست لیکن واجب ست قبول احکام اوچون موافق شرع باشد. واگر عمال او اخذ زکوة کنند از ارباب اموال ساقط شود چون قاضی اوحکم نمایدنافذگردد حکم او. همراه اوجهاد می توان کرد. واین انعقاد بنابر ضرورت ست زیراکه درعزل اوافنائ نفوس مسلمین وظهور حرج ومرج شدیدلازم می آید وبیقین معلوم نیست که این شدایدمفضی شودبصلاح یانه. یحتمل که دیگر بدترازاول غالب شود. پس ارتکاب فتن که قبح اومتیقن به ست چراباید کرد برائی مصلحتی

که موهوم ست ومحتمل ، وانعقاد خلافت عبدالملک بن مروان واول خلفایٔ بنی عباس بهمین نوع بود(ازالة الخفاء ص ۵ مقصداول) فقط والله تعالی اعلم ۱۶ذی الحجه سنه ۹۹ھ

دښځې سربراهي (مشري)______ داکابروعلماؤ فیصله

تحریر: مولانا محمد رفیع عثمانی

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله وکفی وسلام علی عبادہ الذین اصطفی

دقرآن اوسُنت دواضحوارشاداتو په بناء باندې داخبره دځوارلس سوو کالونه په فقهاء امت کښې مسلمه اوغیرمتنازعه راروانه ده چه په کوم اسلامی حکومت کښې دسربراهۍ دمنصب ذمه داریانې ښځو ته نه شی ورکولې- علامه ابن حزم رحمه الله تعالی د«مرتب الاجماع» په نوباندې یوکتاب لیکلې دې چه په هغې کښې ئې دامسائل جمع کړی دی چه په هغې باندې دأمت اجماع اواتفاق دې- په دې کتاب کښې هغه لیکل کیږی: **واتفقوان الامامة لاتجوز لامراة (مراتب الاجماع لابن حزم ص۱۲۶)**

« یعنی په دې خبره باندې ټول علماء متفق دی چه دحکومت دسربراهۍ منصب دکومې ښځې دپاره جائزنه دې» ، ددې اجماع بنیاد دقرآن اوسنت په ډیرودلائلو باندې دی کوم چه مونږدصراحت په ترتیب باندې لاندې پیش کوو:

(۱) په صحیح بخاری وغیره کښې درسول الله صلی الله علیه وسلم داارشادپه متعددو سندونو باندې نقل دې:

لن یفلح قوم ولواامرهم امراة(صحیح البخاری کتاب المغازی باب کتاب النبی صلی الله علیه وسلم الی کسری وقیصر حدیث نمبر ۴۴۲۵ ,وکتاب الفتن باب الفتنة التی تموج کموج البحر,حدیث نمبر ۹۹-۷)

«هغه قوم هیڅکله هم کامیابی نشی موندلې چه دخپلومعاملاتوذمه داری کومې ښځې ته حواله کړی»

په همدې حدیث کښې د دې خبرې هم صراحت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم داخبره هغه وخت ارشاد فرمائیلې وه کله چه دایران اوسیدونکو یوه ښځه خپله سربراه جوړه کړې وه- لهذادا حدیث دښځې د سربراه جوړولو په عدم جوازباندې واضح دلیل دې-

(۲) دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اذا كانت امراؤكم خياركم واغنياؤكم سمحاء كم وامور كم شورى بينكم فظهر الارض خير لكم من بطنها. واذا كانت امراؤكم شراركم واغنياؤكم بخلاء كم وامور كم الى نساء كم فبطن الارض خير لكم من ظهرها (جامع الترمذي ابواب الفتن ص ۲ ج ۲)

«کله چه ستاسو حاکمان په تاسوکښې بهترين خلق وی، اوستاسودولتمندخلق ستاسونه سخيان خلق وی، او ستاسو معاملات په مشورې باندې فيصله کيږی نود زمکې شا ستاسو دپاره دهغې دخيټې نه بهتره ده. اوکله چه ستاسو حاکمان ستاسو بدترين خلق وی- ستاسودولت مند خلق ستاسو بخيل خلق وی، او ستاسومعاملات ستاسو ښځوته حواله شی نو د زمکې خيټه ستاسو دپاره دهغې دشانه بهتره ده.

داحديث هم دومره واضح دی چه ددې دځه تشريح ضرورت نشته.

(۳) حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه روايت فرمائی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم يو لښکر چرته وليګلو، دهغه ځائ نه کوم سړی دفتح خوشخبری راوړه، رسول الله صلی الله عليه وسلم چه دفتح خوشخبری واوريده نو په سجدې باندې وغورځيدلو، اودسجدې نه بعد يې دپيغام راوړونکی نه تفصيلات معلومول اوفرمائيل، هغه تفصيلات بيان کړل چه: **فكان فيما حدثه من امر العدو كانت تليهم امرأة فقال النبي صلى الله عليه وسلم هلكت الرجال حين اطاعت النساء (مستدرك الحاكم ص ۲ ج ۴ كتاب الادب باب سجدة الشكر)**

«په دې تفصيلاتوکښې هغه ددشمن په باره کښې داهم اووئيل چه دهغوئ سربراهی يوې ښځې کوله، رسول الله صلی الله عليه وسلم دا اوفرمائيل: «کله چه سړی دښځوتابعداری کوی نوهغه تباه اوبرباد دی» ، داحديث امام حاکم رحمه الله تعالی صحيح الاسنادګڼلې دې، اوحافظ ذهبی هم دې ته صحيح وئيلې دی.

(۴) دقرآن کريم ارشاد دې چه:

﴿ الرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ عَلَى ٱلنِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٍ ﴾ . (سورة النساء)

(سړی په ښځوباندې قوام (نګرانان، حاکمان) دی په وجه د هغه فضيلت چه کوم الله تعالی ددوئ نه يوته په بل باندې ورکړې دې»

په دې آيت کښې الله تعالی په واضح طورباندې دقواميت مقام سړوته ورکړې دې- اګرچه براه راست دا آيت دخانګی اُموروسره متعلق معلوميږی، ليکن اول خو په آيت کښې څه لفظ داسې نه نشته چه هغه له خانګی امورو سره خاص کړی . دويم دا يوه بديهی خبره ده چه کوم صنف ته الله تعالی ديو وړوکی کور ذمه داری نه سپاری، هغه ته دټولو کورونو دمجموعی اودپوره ملک دسر

براهئ ذمه داري څنګه سپارلې شي؟ لهذا دا آيت که چيرې دعبارة النص په طورباندې نه وي نو د دلالة النص په طورباندې يقيناً په دې خبرې باندې دلالت کوي چه ښځه دکوم اسلامي ملک سربراه نه شي جوړيدلې.

(۵) په سورة احزاب کښې الله تعالی دښځې دائرۀ عمل په واضح طورباندې بيان فرمائيلې دی، ارشاددې چه: ﴿ وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ ﴾.

«اوپه خپلوکورونوکښې په قرارسره اوسئ، اودتيرشوي جاهليت په شان لوڅې اوبربنډې بهر مه ځئ»

په دې آيت کښې په واضح طورباندې وئيلې شوې دی چه دښځې اصل ذمه داري د دوئ دکور ذمه داري ده، هغه ئې دبهر جدوجهدنه يوځواکړه دخپل کورداصلاح اودخپل کوردتربيت فريضه سرته رسول دوئ ته پکاردی چه په حقيقت کښې پوره قوم او د معاشرې بنياددې - لهذا دکورنه دباهر څه ذمه داري (بغير له استثنائي حالاتو نه) په اصولي حيثيت سره کومې ښځې ته نه شي سپارلې.

بعضې حضرات وائي چه داخطاب په خاص طورباندې درسول الله صلی الله عليه وسلم دازواج مطهراتو دپاره شوي وو، هره ښځه ددې مخاطب نه ده- ليکن داخبره دومره په بديهي طورباندې غلط ده چه ددې دترديددپاره دکوم طويل بحث ضرورت نشته- اول خوقرآن کريم دغه ځائ کښې ازواج مطهراتو ته خطاب فرمائيلو سره دديرو خبروتاکيد فرمائيلې دې ،مثلاً داچه هغه تقوی اختيارکړي، الله اودهغه درسول اطاعت وکړي ،دفحش خبرونه بچ شي، وغيره وغيره- ددې نه کومه يوه خبره هم داسې نه ده چه دهغې په باره کښې کوم د فکر خاوند دا اووائي چه داحکم صرف دازواج مطهراتودپاره دې،دکومې بلې ښځې دپاره نه دې، کله چه دا ټول احکام دټولوښځودپاره دی نوپه کورکښې په قرار د اوسيدودا يوحکم ازواج مطهراتوته ولې مخصوص دې؟

دويم، په دې خبره کښې کوم مسلمان شک کولې شي چه دآنحضرت صلی الله عليه وسلم ازواج مطهرات دخپلوعملي اوعلمي صلاحيتونوپه لحاظ باندې دأمت افضل ترينې ښځې وې اودپوره امت مورګانې وې، که چيرې په اسلام کښې سياست اوحکومت اومعيشت اوداقتصاد ذمه داري کومې ښځې ته سپارل جائز وای نوددې مقدسو ښځونه زياته بله کومه ښځه ددې ذمه دارئ دپاره دکورتردې پورې دمحدود اوسيدوحکم ورکړو نوبياکومه ښځه داسې کيدې شي چه دهغې په باره کښې دا اوئيلې شي چه دکومې وجې نه ازواج مطهراتوته په کورکښې دقرارکيناستوحکم ورکړې وو، هغه وجه په دې کښې موجوده نه ده.

مناسبه کيدې شي- کله چه قرآن کريم هغوئ ته داسې ذمه داريانونه دمنع کولوسره هغوئ ته صرف

(۲) په سورة احزاب کښې قرآن کريم چه دښځوکومه دائره کارپيان فرمائيلې ده دهغې تشريح سرکار دوعالم صلى الله عليه وسلم په يوحديث کښې دارنګه فرمائيلې ده : والمرأة راعية على اهل بيت زوجها وولده وهي مسئولة عنهم (صحيح البخاري كتاب الاحكام باب حديث نمبر ۹۰۲۴،۲۴۵۴،۲۵۵۸،۲۷۵۱،۵۱۸۸،۵۴۰۰)

د دې نه علاوه وګورئ حديث نمبر

((اوښځه دخپل خاوندپه کوروالاؤ اودهغه په اولادباندې نګرانه ده،اوهغه ددې ذمه داره ده))

په دې حديث کښې په واضح طورباندې ونيلې شوې دى چه دښځې ذمه دارى دکوردنظام منظم کول او سنبالو اود اولاد تربيت اودکور دنورو اموروانتظام دې - هغې ته دکورنه بهرڅه ذمه دارى نه شى سپارلې-

(۷) په اسلام کښې د((حکومت دسربراهئ))او((مونځ امامت)) دواړه په دومره اندازه لازم وملزوم دى چه ((دحکومت سربراهى)) ته هم دشريعت په اصطلاح کښې ((امامت)) ونيلې شى،اود((امام)) لفظ چه څه رنګه دمونځ کولوولادپاره استعماليږى، دارنګه د((حکومت سربراه)) ته هم امام ونيلې شى- په قرآن اوحديث کښې په ډيرومقاماتو باندې دحکومت د سربراه نه په دې لفظ سره تعبيرکړې شوې دې، اوفقهاء کرام رحمهم الله تعالى دامامت په دواړومعنوکښې دارنګه فرق کوى چه دمونځ کونکى امامت ته ((امامت صغرى)) (وړوکې امامت) اودحکومت سربراه ته ((امامت کبرى))(غټ امامت) وائى-

دلته داخبره فيصله شوې ده اوددې نه کوم شخص انکارنشى کولې چه ښځه په مونځ کښې دسړو امامت نه شى کولې- کله چه الله تعالى دې ته دوړوکې درجې دامامت ذمه دارى نه سپارى ، نو دغټې درجې امامت هغې ته څنګه سپارلې شى؟

په اسلام کښې دمونځ دحکومت له سربراهئ سره څومره اندازه ژور تعلق دې؟ ددې اندازه ديوخولاندينوأمورونه لګولې شى:

(الف) دزمکې په کومه حصه باندې داقتدارحاصلولونه بعد دحکمرانانودتولونه اوله فريضه ((اقامت الصلوة)) ګرځولې شوې ده، ارشاددې چه : ﴿ ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَنَهَوۡاْ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ ﴾ .

((هغه خلق که چرې مونږهغوئ ته په زمکه کښې اقتدارعطاء کړو نوهغوئ مونځ قائموى، اوزکوة اداکوى، او د نيکئ حکم کوى اودبدئ نه منع کوى))

(ب) د آنحضرت صلى الله عليه وسلم نه واخله ترخلفاء راشدينو رضى الله عنه پورې، بلکه دهغې نه بعد هم تر ډيرو پيړيو پورې دا متواترعمل جارى دې چه په کومه مجمع کښې دحکومت سربراه موجودوى، په هغې کښې دمونځ امامت هغه په خپله کوى- چنانچه دټولومکاتب فکر

فقهاء په دې باندې متفق دی، اوکله چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم دمرض وفات دوجې نه مسجد ته دراتلونه معذورشو نورسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت صدیق اکبر رضی الله تعالی عنه په خپل ځای باندې دمونځ دامامت دپاره مقرر کړو، اودې نه صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم دا خبره اوپیژندله چه ده ته «امامت صغری» حواله کولونه اشاره ددې خبرې طرف ته ده چه ددوئ صلی الله علیه وسلم نه بعد د «امامت کبری» یعنی دحکومت د سربراهئ دپاره هم دټولونه زیات اهل حضرت صدیق اکبررضی الله تعالی عنه دې، حضرت علی رضی الله تعالی عنه فرمائی:

ما غضبنا الا لانا اخرنا عن المشاورة وانا نری ابابکر احق الناس بها بعد رسول الله صلی الله علیه وسلم انه لصاحب الغار، وثانی اثنین وانا لنعلم بشرفه وکبره ولقد امره رسول الله صلی الله علیه وسلم بالصلوة بالناس وهو حی (مستدرک الحاکم ص ٦٧ ج ٣ وقال: صحیح علی شرط الشیخین واقره الذهبی)

«زمونږ د خفګان وجه صرف داوه چه مونږئې په مشوره کښې شریک نه کړو. اوکه نه نو ابوبکر رضی الله عنه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه بعد دسربراهئ دټولونه زیات مستحق ګنو، دا ددوئ صلی الله علیه وسلم دغارملګرې دې، ددوؤنه دویم دې، مونږ دده شرف اوعظمت نه واقف یو، اورسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله په خپلې زندګئ کښې ده ته دمونځ دامامت حکم ورکړې وو.

(ج) دحکومت دسربراه دپاره دمونځ دامامت استحقاق په شریعت کښې په دومره اندازه اهمیت لرئ چه دجنازې په امامت کښې یې دحکومت سربراه ته دمړی په وارثانو باندې هم فوقیت ورکړې دې، اودا خبره فیصله شوې ده چه چیرې دجنازې په مونځ کښې دحکومت سربراه موجودوی نو دمونځ دامامت اول حق دده دې، دده نه بعدد وارثانو دې.

ددې ټولواحکامونه داخبره واضحه ده چه په اسلام کښې دحکومت دسربراهئ سره دمونځ دامامت دومره لنډ او نزدې تعلق دې چه په اسلام کښې دکوم داسې سربراه تصورنه شی کولې چه په یو حالت کښې هم دمونځ دامامت اهل نه وی، اوښځه که دتقوی اوطهارت څومره په بلندمقام باندې فائزه وی، چونکه په مونځ کښې دسروامامت نه شی کولې ، دې وجې نه هغې ته دامامت کبری یاحکومت دسربراهئ ذمه داری هم نه شی سپارلې.

(۸) داسلام په ټولواحکاموکښې داخبره دقدرمشترک په طورباندې په واضح طورسره په نظرراځی چه ښځه ئې یوداسې «متاع پوشیده» ګڼلې ده چه دهغې بلاضرورته په مجمع عام کښې راتلل په کوم حالت کښې هم خوښ نه کړل. دسرکاردوعالم صلی الله علیه وسلم ارشاددې. المرأة عورة فاذا خرجت استشرفها الشیطان (جامع الترمذی ابواب النکاح حدیث نمبر ۱۱۷۳)

«ښځه پټ څیزدې، چنانچه کله هغه بهر ووځی نوشیطان دهغې په تعاقب کښې وی»

له همدې وجې نه ئې ښځې ته دپردې حکم کړې دې، اوعامومسلمانانوته ئې د اتاکيد کړې دې چه: ﴿ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَسْـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٍ ﴾ ،(سورة الاحزاب)

«اوکله چه تاسو دهغوئ نه څه څيزطلب کوئ نودپردې شاته ئې ترينه طلب کوئ»

داسلام هغه ډيراحکام اوشعائر چه دهغې په ځائ دکورنه په بهروتلوباندې موقوف دی. ددې نه ئې ښځې مستثنی کړی دی. مثلاً دجمع مونځ ځومره دفضيلت څيزدې ،اوسړوته په دې کښې دشامليدو ځومره تاکيدپه قرآن اوحديث کښې راغلې دې، ليکن د دې سره سره رسول الله صلی الله عليه وسلم دااوفرمائيل چه: الجمعة حق واجب على كل مسلم في جماعة الا اربعة عبد مملوك اوامراة اوصبي اومريض(سنن ابوداؤد باب الجمعة للمملوك والمراة الحديث نمبر ۱۰۶۷)

«جمعه يوداسې فريضه ده کومه چه دجماعت سره اداکول په هرمسلمان باندې واجب دی، سوا دڅلورو کسانونه: يوغلام چه دچا مملوك وی، دويمه ښځه ،دريم ماشوم، څلورم بيمار»

په دې حديث کښې دجمعې په شان داسلامی شعارنه ئې ښځه مستثنی کړې ده.

دارنګه په عاموحالاتوکښې دهرمسلمان ئې داحق ګڼلې دې چه دده دانتقال په موقع باندې بل مسلمان دده دجنازې سره قبرستان پورې لاړشي- ليکن ښځې ددې حکم نه هم مستثنی کړې شوې دی- حضرت ام عطيه رضی الله تعالی عنهما فر مائی : نهينا عن اتباع الجنائز(صحيح بخاری ص ... ج ... باب اتباع النساء الجنائز) «يعنی مونږ ئې دجنازو د شاته تلونه منع کړی يو»

دارنګه ئې ښځه دتنهاء سفر نه منع کړې ده، اوتاکيدئې کړې دې چه هغه بايد دکوم محرم نه بغير سفر ونه کړی، دآنحضرت صلی الله عليه وسلم ارشاددې : لايحل لامراة تومن بالله واليوم الاخر ان تسافر سفرا يكون ثلاثة ايام فصاعداً الا ومعها ابوها او اخوها اوزوجها او ابنها اوذومحرم معها(جامع الترمذي كتاب النكاح باب كراهية ان تسافر المراة وحدها،حديث نمبر ۱۱۶۹)

«کومه ښځه چه په الله باندې اوپه ورځ د آخرت باندې ايمان لری، د هغې لپاره حلال نه دی چه هغه د درې ورځو (دمسافت) يا د دې نه زيات کوم سفر وکړی، مګر دا چه دهغې پلار يا ورور يا خوېند ياخوئ ياکوم بل محرم له هغې سره وی»

تردې پورې چه دحج په شان فريضه چه داسلام دڅلوروارکانونه يوه لويه فريضه ده، دهغې د ادا کولو دپاره هم دمحرم سره کيدل شرط دی، اودښځې تنهاسفر او د حج لپاره تلل دچاپه نزدجائزنه دې، په دې صورت کښې له هغې نه دحج ادا کيدل ساقط کيږی، دمړکيدوتروخته پورې که داسې محرم پيدا نشی نو حج به نه کوی، البته دحج بدل وصيت کول ې شی-

جهاد داسلام دارکانونه ځومره اهم رکن دې؟ اوددې دفضائلونه قرآن اوسنت ډک دی، ليکن

چونکه دا دکورنه دبهرکاردي، دې وجې نه دجهاد فريضه هم دښځونه ساقطه کړې شوې ده. دحضرت صلى الله عليه وسلم دا ارشاد په بعضې احاديثوکښې روايت شوې دې. **ليس على النساء غزو ولاجمعة ولاتشيع جنازة (مجمع الزوائد ص ج بحواله طبراني وفيه مجاهيل والفتح الكبير للنبهاني ص ج)**

«يعنى په ښځوباندې نه جهادفرض دې، نه جمعه، نه دجنازې شاته تلل»

دې پورې چه يوځل حضرت ام سلمه رضى الله تعالى عنها دجهاد دشوق په وجه باندې دحضرت صلى الله عليه وسلم نه دا سوال اوفرمائيلو چه: **يغزوالرجال ولاتغزوالنساء**

«يعنى سړى جهادکوى او ښځې جهادنه کوى»؟

په دې باندې دقرآن کريم دا آيت نازل شوچه: ﴿وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ﴾

(جامع الترمذى كتاب التفسير سورة النساء حديث نمبر ومسند احمد ج)

«اوددې خيزونوتمنامه کوئ چه په هغې کښې الله تعالى ستاسونه بعضوته په بعضوباندې فضيلت ورکړې دې»

واضحه دې وى چه د آنحضرت صلى الله عليه و سلم په زمانه کښې بعضې ښځې باقاعده په جهاد کښې دزخميانودمرهم پټئ وغيره دپاره ورسره تللې دى، ليکن حقيقت دادې چه اول خوپه دوئ باندې جهاد مستقل فرض کړې شوې نه وو، دويم دوئ به باقاعده په جنګ کښې شاملولې نشوې ـ چنانچه حضرت عبدالله بن عباس رضى الله تعالى عنهما فرمائى: **وقدكان يغزوبهن فيداوين الجرحى ويحذين من الغنيمة واماسهم فلم يضرب لهن (صحيح مسلم كتاب الجهاد باب النساء الغازيات حديث نمبر)**

«آنحضرت صلى الله عليه وسلم ښځې جهاد ته بوتلې، اوهغوئ به دزخميانوعلاج کولو، اوهغوئ ته به دمال غنيمت نه څه بطوردانعام ورکولې شول، ليکن دوئ صلى الله عليه وسلم ددې ښځو دپاره دمال غنيمت مستقله حصه نه ده معلومه کړې»

آنخضرت صلى الله عليه وسلم په خپله زمانه کښې اګرچه ښځوته به دشپې په وخت مسجد نبوى ته راتلې اودجماعت سره به ئې دمونځ کولو اجازت ورکولو، ليکن ددې اجازت سره ئې دا هم فرمائيل چه: **وبيوتهن خيرلهن (سنن ابوداؤد كتاب الصلاة باب خروج النساء الى المساجد حديث نمبر)**

چه دهغې واضح مطلب دادې چه دښځودپاره په کورکښې يواځې مونځ کول په مسجدکښې دمونځ کولونه افضل دى، ليکن دسړودپاره دسخت عذرنه بغير دمسجدجماعت پرېښودل جائزنه

دی. بلکه دښځوپه باره کښې ئې دې پورې اوفرمائيل چه: **صلاة المرأة في بيتها افضل من صلاتها في حجرتها وصلاتها في مخدعها افضل من صلاتها في بيتها (سنن ابوداؤد حديث نمبر [illegible])**

«دښځې په کمرې کښې مونځ کول د برنډې نه په مونځ کولوباندې بهتره دی،اوپه دننه کمره کښې مونځ کول په بهرکمرې کښې دمونځ کولونه بهتری دی»

ددې احاديثونه واضح کیږی چه:

(الف) په ښځه باندې جمعه واجب نه ده.

(ب) دښځې دپاره بغيردمحرم نه سفرجائزنه دې.

(ج) په ښځې باندې د تنهاکيدوپه صورت کښې دحج اداکول فرض نه دی، ترمرګ پورې که محرم پيدا نشي نو د حج بدل وصيت دې وکړی.

(د) په ښځې باندې جهاد فرض نه دې.

(ه) دښځې په ذمه دجمعې مونځ کول واجب نه دی.

(و) دښځې په کورکښې تنهامونځ کول له بيرون جماعت سره مونځ کولونه افضل دی.

اوس د سوچ اوفکر کولوخبره ده چه کوم دين دښځې په تقدس اودهغې دحرمت دحفاظت دپاره ځائ په ځائ دومره اهتمام کړې دې چه ددين اهم ترين ارکان اوشعائريې هم دهغې په حق کښې ساقط کړی دی، دهغې په باره کښې داڅنګه تصورکولې شی چه هغه دملک اوقوم اهم ترينه ذمه داری ښځې ته سپاری هغه نه صرف پوره ملک بلکه هغه دپوره دنيا مخې ته ودروی، اوهغې ته هغه ټول کارپه اجتماعی طورباندې ورسپاری چه دهغې ذمه داری په هغې باندې په انفرادی طور باندې هم نه عائد کیږی.

(۹)دسروردوعالم صلی الله عليه وسلم دعهدمبارک نه واخله تر خلافت راشده بلکه دخلافت راشده نه بعد هم تر پيړيو ، پيړيوپورې خليفه اودحکومت سربراه انتخاب کول دامت اهم ترينه سياسی مسئله وه، د يو خليفه نه بعد د بل خليفه نه وروسته د بل خليفه د انتخاب په وقت په هرې موقعې باندې ډيرتجويزونه مخې ته راغلل - په هغې دورکښې بيشماره داسې ښځې موجودې وې چه هره يوه دخپل علم اوفضل، تقدس اوتقوی اوعقل او پوهې په لحاظ سره دممتازمقام حاملې وې ليکن نه صرف داچه کله کومه ښځه دحکومت سربراه جوړه نه شوه، بلکه کوم د ادنی درجې تجويز هم داسې مخې ته رانغې چه فلانئ ښځه دې سربراه جوړه کړې شی، دا ددې خبرې واضح دليل دې چه په دې سلسله کې د قرآن اوسنت احکام په دومره درجه واضح ووچه کله دکوم مسلمان په زړه کښې دښځې دسربراه کيدو تصورتندرې هم نه شو پيدا کيدې چه:

په يو حالت کښې هم د يو مونځ امامت نه شی کولې .

چه دهغې له جمع سره مونځ کول شریعت ته خوښ نه وي
که چرې کله په جماعت کښې شامله وي نو هغه دټولو سرونه شاته ودريږي-
په چاباندې چه هره میاشت یوځوورځې داسې تیریږي چه ددې لپاره مسجدته داخلیدل هم جائزنه وي.
په چاباندې چه جمعه هم فرض نه وي-
دچاد پاره چه دکومې جنازې سره تلل هم جائزنه وي.
چه بغیر دمحرم نه سفر نه شي کولې
چه تنهاحج نه شي کولې-
په چاباندې چه جهادفرض نه وي-
چه دچاگواهي نیمه گواهي گڼلې شي-
دچادپاره چه بلاضرورته دکورنه وتل جائزنه وي
دچاچه نان اونفقه چه اول په پلارباندې او دواده نه بعدپه خاوندباندې واجب وي-
او آن تر دې چه چاته په خپل کورکښې دسربراهئ او مشرئ منصب حاصل نه وي-
دقرآن کریم له طرفه خوداواضحه ده، لیکن د ښځو د آزادئ آواز اوچتونکو خلکو هم په دې دور کښې کومه داسې معاشره د زمکې په مخ باندې زمونږ په علم کښې نشته چرته یې د یو خاوند ښځه «سربراه خاندان» گڼلې وي.

د امت اجماع

دقرآن اوسنت د ذکر شوودلائلو له وجې نه تراوسه پورې د څوارلسو پیړیو په هردورکښې دامت مسلمه په دې خبره باندې اجماع ده چه په اسلام کښې د سربراهِ حکومت ذمه داري یوې ښځې ته نه شي سپارلې ، او اجماع امت د شریعت یو مستقل دلیل دې ، د اجماع د ثبوت دپاره ددې تحریرپه شروع کښې مونږ د علامه ابن حزم رحمه الله تعالی اقتباس پیش کړې دې ، هغوئ چه کوم کتاب صرف د اجماعی مسائلو د تحقیق دپاره لیکلې دې ، په هغې کښې فرمائی چه

(واتفقوا على ان الامامة لا تجوز لامرأة)

« ټول علماء په دې باندې متفق دی چه د حکومت سربراهی دیوې ښځې دپاره جائز نه ده» د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله تعالی په شان باخبره عالم د « نقد مراتب الاجماع » په نوم سره د علامه ابن حزم رحمه الله تعالی په مذکوره کتاب باندې یو تنقید لیکلې دې . اود بعضې مسائلو ذکر ئې کړې دې چه هغې لره علامه ابن حزم رحمه الله تعالی اجماعی گرځولی دی ،لیکن د علامه ابن تیمیه رحمه الله تعالی د تحقیق مطابق هغه اجماعی نه دی ، بلکه په هغې کښې د بعضی

علماؤ اختلاف موجود دي ، په هغه کتاب کښې هم هغوی د ښځې د سربراهۍ په مسئله کښې علامه ابن‌حزم رحمه الله تعالی باندې څه اعتراض نه دې کړې ،نقد مراتب الاجماع لابن تیمیه ص ۱۲۶،.

ددې حضراتو نه علاوه چه کومو علماؤ او فقهاؤ او د اسلامی سیاست ماهرینو د اسلام په سیاسی نظام باندې کتابونه لیکلی دی ، په هغوئ کښې هر یوه دا مسئلې دیوې متفقې مسئلې په طور باندې ذکر کړې ده .

د علامه ماوردی رحمه الله تعالی کتاب د اسلامی سیاست اهم ترین ماخذ ګڼلې کیږی په هغې کښې هغوی د حکومت سربراهی خو څه کوې ، ښځې ته د وزارت ذمه داری سپارل هم ناجائز ګرځولی دی ، بلکه هغوی وزارت په دوه قسمه کړې دې ، یو وزارتِ تفویض چه په هغې کښې د پالیسئ تعین هم د وزیرکار وی ، او دویم وزارتِ تنفیذ چه وزارتِ تنفیذ کښې د اهلیت شرائط د وزارتِ تفویض په مقابله کښې کم دی ، ددې باوجود ښځې ته د وزارتِ تنفیذ ذمه داری سپارل هم جائز نه ګرځوی ، هغه لیکی :

واما وزارة التنفيذ فحكمها اضعف وشروطها اقل...... ولا يجوز ان تقوم بذلك امرأة وان كان خبرها مقبولا لما تضمنه معنى الولايات المصروفة عن النساء لقول النبي صلى الله عليه وسلم ما افلح قوم اسندوا امرهم الى امرأة ولان فيها من طلب الرأي وثبات العزم ما تضعف عنه النساء ومن الظهور في مباشرة الامور ما هو عليهن محظور (الاحكام السلطانية للماوردي ص ۲۷ ،۲ ، والاحكام السلطانية لابي يعلى ص ۳)

« ترکومه حده پورې چه د وزارتِ تنفیذ تعلق دې ، هغه نسبةً کمزورې دې ، اودهغې شرائط کم دی . لیکن دا جائز نه دی چه یوه ښځه دهغې ذمه داره جوړه شی اګرچه د ښځې خبر مقبول دې ځکه چه دا وزارت په داسې ولایتونو باندې مشتمل دې چه هغې لره ،شریعت، د ښځو نه جدا ساتلې دې . د حضورصلی الله علیه وسلم ارشاد دې چه « کوم قوم خپل معاملات یوې ښځې ته حواله کړی هغوئ به کامیابی ونه مومی » همدارنګه ددې وجه نه هم چه د وزارت دپاره اولوالعزمی او عقل پکار دې او هغه په ښځو کښې کمزورې دې ، همدارنګه دهغه وزارت فرائض پوره کولو دپاره په داسې انداز سره خلقو ته راښکاره کیدل اومخامخ کیدل پیښیږی چه د ښځو دپاره شرعاً ممنوع دی ».

د اسلام په سیاسی نظام باندې دویم اهم ماخذ د امام ابویعلی حنبلی رحمه الله تعالی دې ، هغوی هم پخپل کتاب کښې لفظ په لفظ هم دا عبارت لیکلې دې .

امام الحرمین علامه جوینی رحمه الله تعالی د اسلام په سیاسی نظام باندې ډیر خوندور کتابونه لیکلی دی . هغه د نظام الملک طوسی رحمه الله تعالی په شان نیک نام حاکم په زمانه کښې وو . اوهم دهغه په درخواست باندې هغوی د اسلام په سیاسی احکامو باندې خپل

مجتهدانه کتاب «غیاث الامم» ولیکلو ، په هغې کښې هغه د سربراه حکومت شرائط بیان کړی دی او لیکلی یې دی چه ومن الصفات اللازمة المعتبرة الذکورة والحریة ونحیزة العقل والبلوغ ولا حاجة الی الاطناب فی نصب الدلائل علی اشتراط هذه الصفات (غیاث الامم للجوینی ص سطبوعه قطر)

«وکوم چه لازمی صفات د سربراه دپاره شرعاً معتبر دی ، په هغې کښې دهغه مذکر کیدل ، آزاد کیدل او عاقل او بالغ کیدل هم دی ، او هغه شرائطو لره د ثابتولو دپاره تفصیلی دلائل پیش کولو سره د طول ورکولو ضرورت نشته»

همدا امام الحرمین رحمه الله تعالی په خپل یو بل کتاب «الارشاد» کښې لیکی : واجمعوا ان المرأة لا یجوز ان تکون اماما وان اختلفوا فی جواز کونها قاضیة فیما یجوز شهادتها فیه (الارشاد فی اصول الاعتقاد لامام الحرمین الجوینی ص ، طبع مصر)

«او په دې باندې د ټولو اتفاق دې چه د ښځې دپاره سربراهِ حکومت جوړیدل جائز نه دی . اګرچه په دې کښې اختلاف دې چه په کومو امورو کښې دهغې ګواهی جائزه ده نو آیا په هغې کښې هغه قاضی جوړیدلې شی او که نه ؟»

علامه قلقشندی رحمه الله تعالی د ادب او انشاء اود تاریخ او سیاست امام ګڼلې کیږی ، هغوی د اسلام په اصولِ سیاست باندې چه کوم کتاب لیکلې دې ، په هغې کښې هغوی د سربراهِ حکومت د اهلیت څوارلس صفات بیان کړی دی ، دهغه شرائطو په شروع کښې هغه فرمائی : الاول : الذکورة ـــ والمعنی فی ذلك ان الامام لا یستغنی عن الاختلاط بالرجال والمشاورة معهم فی الامور والمرأة ممنوعة من ذلك ولان المرأة ناقصة فی امر نفسها حتی لا تملك النکاح فلا تجعل الیها الولایة علی غیرها.

«رومبنئ شرط مذکر کیدل دی ، اود دې حکم حکمت دادې چه د سربراهِ حکومت د سړو سره د اختلاط اود هغوئ سره د مشورې وغیره ضرورت پیښیږی اود ښځو دپاره دا خبرې ممنوع دی . ددې نه علاوه ښځه دخپل ذات په ولایت کښې هم کمزورې ده . تردې پورې چه هغه د نکاح ولی نه شی جوړیدلې»

امام بغوی رحمه الله تعالی د پنځمې صدئ هجری مشهور مفسر ، محدث او فقیه دې . هغه لیکی او فرمائی . اتفقوا علی ان المرأة لا تصلح ان تکون اماما ـــ لان الامام یحتاج الی الخروج لاقامة امر الجهاد والقیام بامور المسلمین ـــ والمرأة عورة لا تصلح للبروز (شرح السنة للبغوی ص ج ، باب کراهیة تولیة النساء ، طبع بیروت ـ هجری)

«په دې خبره باندې د امت اتفاق دې چه ښځه سربراهِ حکومت نه شی جوړیدلې ، ځکه چه امام

نه دجهاد د معاملاتو پوره کولو اود مسلمانانو دامور پوره کولو پاره د بهر وتلو ضرورت پیښیږی . او ښځه پته اوسیدل پکار دی . دهغې په مجمع عام کښې ښکاره کیدل صحیح نه دی »

قاضی ابوبکر ابن العربی رحمه الله تعالی د حضرت ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه د حدیث ذکر کولوسره فرمائی : وهذا نص فی ان المرأة لا تکون خليفة ولا خلاف فيه (احکام القرآن لابن العربی ص ۳ج سورة النمل)

«او داحدیث په دې خبره باندې نص دې چه ښځه خلیفه نه شی جوړیدلې . او په دې کښې هیڅ اختلاف نشته دې »

علامه قرطبی رحمه الله تعالی هم پخپل تفسیر کښې د ابن عربی رحمه الله تعالی دا اقتباس نقل کړې دې او د هغې تائید یې کړې دې او وئیلی ئې دی چه په دې مسئله کښې د علماؤ په مینځ کښې هیڅ اختلاف نشته ، (تفسیرالقرطبی ص ۱۸۳ج ۱۳ سورة النمل)

او امام غزالی رحمه الله تعالی فرمائی : الرابع الذکورية فلا تنعقد الامامة لامرأة وان اتصفت بجميع خلال الکمال وصفات الاستقلال (فضائل الباطنية للغزالی ص ... ماخوذ از عبدالله الدميجی الامامة العظمی ص ...)

« د سربراهۍ څلورم شرط مذکر کیدل دی ، لهذا دیوې ښځې امامت نه منعقد کیږی، اگر که هغه د کمال په ټولو اوصافو باندې متصفه وی ، او په هغې کښې د استقلال ټول صفات موندلې کیږی »

د عقائدو اود کلام تقریباً ټول کتابونه دامامت اودسیاست د احکامو نه بحث کوی ، او ټولو د مذکر کیدلو شرط لره د یو اجماعی شرط په طور باندې ذکر کړې دې ، علامه تفتازانی رحمه الله تعالی لیکی : يشترط فی الامام ان يکون مکلفا حرا ذکرا عدلا .(شرح المقاصد ص ... ج)

«د سربراهِ حکومت دپاره شرط دادې چه هغه عاقل بالغ وی، آزاده وی، مذکر وی او عادل وی»

دفقهاو، محدثینو او د اسلامی سیاست د علماؤ دا یو څو اقتباسات محض د مثال په طور باندې پیش کړې شوی دی ، اوکه نه نو په کوم کتاب کښې چه هم په اسلام کښې د سربراهۍ شرائط بیان کړې شوی دی ، هغلته مذکر کیدلو لره د یو اهم شرط په طور باندې ذکر کړې شوې دې ، که چیرته چا دا شرط نه دې ذکر کړې نوپه دې وجه چه دا د عاقل اود بالغ کیدلو شرط په شان دومره مشهور او معروف شرط وو چه هغې لره د باقاعده ذکرکولو ضرورت ونه گنلې شو ، ورنه په دې مسئله کښې هیڅ اختلاف نشته .

د عهدِ حاضر بعضې محققین چه هغوی د اسلامی سیاست په موضوع باندې کتابونه لیکلی

دی . هغوی ټول په دې خبره باندې متفق دی چه د ښځې سربراه جوړیدلو عدم جواز باندې د امت اجماع ده. یو څو اقتباسات مونږ لاندې پیش کوو

ډاکټر محمد منیر عجلانی لیکی : لا نعرف بین المسلمین من اجاز خلافة المرأة فالاجماع فی هذه القضیة لم یخالفه احد (عبقریة الاسلام فی اصول الحکم ص — مطبوعه دار النفائس بیروت — هجری)

«مونږ ته په مسلمانانو کښې یو داسې عالم معلوم نه دې چه هغه د ښځې خلافت ته جائز ونیلې وی . لهذا په دې مسئله کښې مکمل اجماع ده چه دهغې خلاف یو شاذ قول هم موجود نه دې»

ډاکټر محمد ضیاء الدین الرئیس د اسلام په سیاسی احکامو باندې لوئ تحقیق سره مبسوط کتاب لیکلې دې ، په هغې کښې هغه لیکی : اذا کان قد وقع بینهم خلاف فیما یتعلق بالقضاء فلم یرو عنهم خلاف فیما یتعلق بالامامة ، بل الکل متفق علی انه لا یجوز ان یلیها امرأة (النظریات السیاسیة الاسلامیة ص — مطبوعه دار التراث القاهرة)

«اګرچه د فقهاؤ په مینځ کښې د قضاء په باره کښې څو اختلاف شوې دې (چه آیا ښځه قاضی جوړیدلې شی اوکه نه ؟) لیکن د حکومت د سربراهئ په باره کښې هیڅ اختلاف نشته بلکه ټول په دې خبره باندې متفق دی چه د یوې ښځې د سربراهئ په منصب باندې کیناستل جائز نه دی»

مما اجمعت علیه الامة علی ان المرأة لا یجوز لها ان تلی ریاسة الدولة (تعلیق تهذیب الریاسة وترتیب السیاسة للقلعی ص —)

«په دې خبره باندې د امت اجماع ده چه د ښځې دپاره د ریاست سربراهی کول جائز نه دی »

عبدالله بن عمر بن سلیمان الدمیجی لیکی : من شروط الامام ان یکون ذکرا ولا خلاف فی ذلک بین العلماء (الامامة العظمی عند اهل السنة ص —)

«د سربراهِ حکومت په شرائطو کښې دا خبره داخله ده چه هغه به مذکر وی او په دې کښې د علماؤ په مینځ کښې هیڅ اختلاف نشته دې »

د عصر حاضر مشهور مفسرِ قرآن علامه محمد امین شنقیطی رحمه الله تعالی لیکی چه :
من شروط الامام الاعظم کونه ذکرا ولا خلاف فی ذلک بین العلماء (اضواء البیان فی تفسیر القرآن بالقران ص — ج —)

«امام اعظم (د سربراه حکومت) په شرائطو کښې دهغه مذکر کیدل هم داخل دی او په دې کښې دعلماؤ په مینځ کښې هیڅ اختلاف نشته دې »

که چرته دې موضوع باندې د تاریخ اسلام د ائمه مفسرینو . فقهاؤ . محدثینو متکلمینو اود

اهل فکر تول عبارتونه جمع کړی شی نو یقیناً دهغې نه یو ضخیم کتاب تیاریدلی شی . لیکن دا یو څو مثالونه د دې ثابتولو دپاره کافی دی چه په دې مسئلې باندې د علماء اسلام په منځ کښې تراوسه پورې څوارلسو پیړیو کښې هیڅ اختلاف نه دې شوې .

د حافظ ابن جریر طبری مسلک

زمونږ په زمانه کښې بعضې خلقو مشهورمفسر قرآن حافظ ابن جریرطبری رحمه الله تعالی طرف ته غلطې طریقې سره دا خبره منسوب کړې ده چه هغه دښځې د سربراهئ د جواز قائل دې . لیکن یو سړې هم د امام ابن جریر رحمه الله تعالی یو خپل اقتباس نه پیش کوی . دهغه په تصانیفو کښې تفسیر جامع البیان دیرشو (۳۰) جلدونوکښې چهاپ شوې موجود دې ، په هغې کښې چرته یو فقره هم چا تراوسه پورې ونه ښودلې شوه چه په هغې سره دهغه دا مؤقف معلوم شی . پخپله مونږه هم دهغه د تفسیر ممکنه مقامات وکتل . لیکن په هغې کښې چرته یوه داسې خبره تراوسه پورې زمونږ مخې ته رانغله .

ددې نه علاوه دهغه یو کتاب «تهذیب الآثار» هم په یو څو جلدونو کښې شائع شوې دې په هغې کښې هم زمونږ مخې ته داسې کومه خبره رانغله .

واقعه داده چه بعضې علماؤ دهغه دامسلک نقل کړې دې چه هغه ښځې لره دقاضی جوړولو د جواز قائل دې ، بعضې خلقو دا خبره غلط طور باندې د سربراهئ د جواز په عنوان سره نقل کړې ده . چنانچه قاضی ابوبکر ابن العربی رحمه الله تعالی فرمائی :

وهذا نص في ان المراة لا تكون خليفة ولا خلاف فيه ونقل عن محمد بن جرير الطبري امام الدين انه يجوز ان تكون المراة قاضية ولم يصح ذلك عنه ولعله كما نقل عن ابي حنيفة رحمه الله تعالى انها انما تقضي فيما تشهد فيه وليس بأن تكون قاضية على الاطلاق ولا بأن يكتب لها منشور بأن فلانة مقدمة على الحكم الا في الدماء والنكاح وانما ذلك كسبيل التحكيم او الاستبانة في القضية الواحدة (احكام القران لابن العربي ص [illegible] ج [illegible])

«او دا د حضرت ابوبکر رضی الله عنه حدیث په دې خبره باندې نص دې چه ښځه خلیفه نشی جوړیدلې او په دې مسئله کښې هیڅ اختلاف نشته ، البته د امام محمدبن جریرطبری رحمه الله تعالی نه منقول دی چه دهغه په نزد د ښځې قاضی جوړیدل جائز دی ، لیکن د دې مذهب نسبت هغه طرف ته صحیح نه دې . داسې معلومیږی چه دهغه مذهب به هم هغه شان وی څنګه چه د امام ابوحنیفة رحمه الله تعالی نه منقول دی چه ښځه په هغه معاملاتوکښې فیصله کولې شی چه په هغې کښې هغه شهادت ورکولې شی ، او ددې مطلب دا نه دې چه هغه دې علی الاطلاق قاضی جوړه شی . اونه دا مطلب دې چه هغې ته د قاضی په منصب باندې د مقررولو سند دې ورکړې

شي. او دا وه وئیلې شي چه فلانکۍ ښځه د قصاص اود نکاح معاملاتو نه سوا په نورو امورو کښې قاضي جوړولې کیږی بلکه ددې مطلب دادې چه هغې لره په یو مسئله کښې ثالثه جوړه شي یا کومه یو مقدمه جزوی طور باندې هغې ته حواله کړې شي »

دامام ابن عربی رحمه الله تعالی په دې وضاحت سره لاندې امور مخې ته راځي

(۱) د سربراهئ مسئله جدا ده ، اود قاضي جوړیدلو مسئله جدا ده .

(۲) د سربراهئ په مسئله کښې د امام ابن جریررحمه الله تعالی سره د ټولو علماؤ اتفاق دې چه ښځه سربراه نه شي جوړیدلې .

(۳) د امام ابن جریر طبری رحمه الله تعالی نه د قاضي جوړیدلو جواز منقول دې . لیکن هغه طرف ته ددې قول نسبت هم صحیح نه دې .

(۴) د امام ابوحنیفه یا ابن جریر رحمهما الله تعالی نه د ښځې دمقدماتو فیصلې کولو چه کوم جواز منقول دې ، هغه هغې لره باقاعده قاضي جوړیدلوسره متعلق نه دې بلکه جزوی طور سره طورثالث یو انفرادی قضیه پوره کولوسره متعلق دې .

بهر حال : که چرته د فقهاؤ په مینځ کښې چه لږ شانتې اختلاف دې نوهغه د ښځې د قاضي جوړیدلو په باره کښې دې ، د سربراهِ حکومت جوړیدلو په باره کښې هیڅ اختلاف نشته ، چنانچه امام الحرمین جوینی رحمه الله تعالی لیکی :

والذکورة لاشك فی اعتبارها ومن جوز من العلماء تولی المراة للقضاء فیما یجوز ان تکون شاهدة فیه احال انتصاب المراة للامامة فان القضاء قد یثبت مختصا والامامة یستحیل فی وضع الشرع ثبوتها علی الاختصاص (غیاث الامم للجوینی ص۲۰۳)

« د سربراهئ دپاره د مذکر کیدلو شرط کښې څه شک نشته دې ، اوکومو علماؤ چه په هغه معاملاتوکښې د ښځې قاضي جوړیدلوته جائز وئیلی دی په کوموکښې چه ښځه ګواه جوړیدلې شي هغه هم د سربراهئ دپاره د ښځې کیناستلو لره ناممکن ګرځوی ، ددې وجه نه چه د قضا په باره کښې خو دا ممکنه ده چه دهغې د اختیار حدود له یو څه معاملاتو سره خاص کړې شي لیکن دحکومت سربراهئ لره د شرعی اصولو مطابق څه محدود معاملاتو سره خاص کول ممکن نه دی »

د ملکهٔ بلقیس واقعه

زمونږ په دور کښې بعضې خلق د ښځې د سربراهئ جواز د بلقیس دهغې واقعې نه د را وبستلو کوشش کوی چه قرآن کریم په سورهٔ نمل کښې بیان فرمائیلې ده ، لیکن دا خبره بالکل ناقابلِ قبول ده چه د قرآن کریم بیان شوې هغه واقعې نه د ښځې د سربراه حکومت جوړیدلو جواز دې ثابت شي؟ قرآن کریم واضحه طور باندې ارشاد فرمائیلې دې چه دا ملکه دهغه غیرمسلمو سربراه وه چه

نمر ته ئې سجدې کولې . هدهد حضرت سليمان عليه السلام ته دهغې په باره کښې چه کوم خبر ورکړو هغه د قرآن کريم د بيان مطابق دا وو چه ﴿ وَجَدتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِن دُونِ اللَّهِ ﴾
« ما هغې لره او دهغې قوم لره موندلې دی په داسې حال کښې چه هغوئ د الله په ځای نمر ته سجدې کوی »

په دې سره واضحه شوه چه هغه د يو نمرپرست قوم ملکه وه او پخپله ئې هم د نمر عبادت کولو . او ظاهره ده چه کله چرته يو کافر قوم يوې ښځې لره خپله سربراه جوړه کړې وی نو هغه د قرآن اود سنتو د واضح ارشاداتو په مقابله کښې د مسلمانانو دپاره هيڅ دليل جوړيدلې نشی ؟ که چيرته سليمان عليه السلام هغې لره ملکه تسليم کړې چای او خپل حکومت ئې هغې ته حواله کړې وای نو بيا خو دا خبره ثابتيدله چه کم ازکم د حضرت سليمان عليه السلام په شريعت کښې ښځه سربراه جوړيدلې شوه ، ليکن قرآن کريم په واضحه الفاظو کښې وئيلی دی چه معامله دهغې بالکل برعکس وشوه ، حضرت سليمان عليه السلام دهغې حکومت لره تسليم نه کړو ، بلکه دهغې په نوم يی چه کوم خط وليږلو هغه د قرآن کريم په مبارکو الفاظو کښې دا وو چه :﴿أَلَّا تَعْلُوا عَلَيَّ وَأْتُونِي مُسْلِمِينَ﴾ «چه ته ځما په مقابله کښې سر مه اوچتوه ، او ماته فرمانبرداره جوړيدلوسره راشه »

دا الفاظ صفا وائی چه حضرت سليمان عليه السلام دهغې حکومت لره نه صرف دا چه تسليم ئې نکړو ، بلکه هغې لره ئې دخپلې تابعدارئ حکم ورکړو ،او بيا يی هم په هغې باندې اکتفاء ونکړه. دوی دهغې راليږلې شوې تحفه هم قبوله نه کړه ، بلکه هغه ئې واپس کړه ،حالانکه د دوو سربراهانو په مينځ کښې د تحائفوتبادله د يو معمول خبره وی ، قرآن کريم دا هم بيان کړه چه حضرت سليمان عليه السلام دهغې تخت هم اوچتولو سره رااوغوښتلو . اودهغې هيئت ئې هم بدل کړو . تردې پورې چه کله ملکه بلقيس د حضرت سليمان عليه السلام محل ته راغله نود قرآن کريم د بيان مطابق هغې اووئيل چه : ﴿ رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَانَ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ «سورة النمل ۴۴»

« پروردګارا ، ما پخپل ځان باندې ظلم کړې دې . او زه د سليمان «عليه السلام » سره د الله رب العالمين په وړاندې په سجده شوم »

نو دا ده هغه واقعه چه قرآن کريم بيان کړې ده . اود بلقيس په همدې جملې باندې د قصې اختتام شوې دې . ځوک چه هم دا واقعه په قرآن کريم کښې وګوری هغه دې نتيجې باندې رسيدلونه بغير نه شی پاتې کيدلې چه حضرت سليمان عليه السلام دملکه بلقيس حکومت لره تسليم نه کړو . هغې ته ئې دخپل ځان فرمانبرداره جوړولو سره د حاضريدلو حکم ورکړو . اوبالآخر

د هغې د سلطنت خاتمه ئې وکړه . او پخپله ملکه بلقیس هم د حضرت سلیمان علیه السلام په خدمت کښې د رسیدلو نه پس دخپلې فرمانبردارئ اعلان وکړو

په دې واقعې کښې چرته څه داسې بعیده شائبه هم نشته چه حضرت سلیمان علیه السلام دهغې حکومت لره جائز ګرځولې وی یا ئې هغه تسلیم کړې وی

بعضې خلق څه اسرائیلی روایات پیش کوی چه حضرت سلیمان علیه السلام دهغې سره نکاح وکړه اوهغه ئې واپس یمن ته لیږلې وه . لیکن دا قطعي طور باندې غیرمستند روایت دې . یو صحیح روایت سره هم دا ثابته نه ده . په دې معامله کښې تاریخی روایتونه ډیر متضاد دی . بعضې کښې دی چه حضرت سلیمان علیه السلام دهغې سره نکاح وکړه او هغه ئې دخپل ځان سره وساتله . بعضې کښې دی چه هغه ئې شام ته ولیږله . بعضې کښې دی چه یمن ته ئې واپس ولیږله . بعضې کښې دی چه دهغې نکاح ئې د همدان د بادشاه سره وکړه . علامه قرطبی رحمه الله تعالی دا ټول غیرمستند روایات نقل کولو نه وروسته لیکی چه : لم یرد فیه خبر صحیح لا فی انه تزوجها ولا فی انه زوجها (تفسیر قرطبی ص۲۱۰ ج۱۳)

"دهغې په باره کښې صحیح روایت موجود نه دې . نه په دې باره کښې چه هغوی علیه السلام د بلقیس سره نکاح وکړه . او نه په دې باره کښې چه بل چا سره ئې دهغې نکاح وکړه ""

چه کله د ملکه بلقیس د اسلام نه پس واقعات د یو صحیح تاریخی روایت نه هم ثابت نه دی نو صفا او نیغه لاره ددې نه سوا بله کومه یوه ده چه قرآن کریم خومره واقعه بیان فرمائیلې ده صرف هغومره واقعې باندې باید ایمان وساتلې شی . او ظاهره ده چه په هغه واقعه کښې دملکه بلقیس د سلطنت د بقاء نه بلکه د فرمانبردارئ کیدلو ذکر دې . دهغې د اسلام نه پس د سربراه جوړیدلو ذکر نشته . لهذا ددې واقعې نه د ښځې په سربراهئ باندې د استدلال څه لړ غوندې جواز هم نه ثابتیږی والله تعالی اعلم .

حضرت عائشه رضی الله عنها او د جمل جنګ

بعضې خلق د ښځې په سربراهئ باندې د جنګ جمل د واقعې نه استدلال کوی او وائی چه ام المؤمنین حضرت عائشه رضی الله عنها دهغه جنګ قیادت کړې وو . لیکن واقعه داده چه حضرت عائشې رضی الله عنها کله هم د خلافت یاد حکومت د سربراهئ دعوی نه ده کړې . او نه دهغوئ په ملګرو کښې د چا په خوا خاطر کښې دا خبره تیره شوې وه چه دې لره خلیفه جوړه کړې شی . ددې مطالبه صرف دا وه چه د حضرت عثمان رضی الله عنه د قاتلانو نه قصاص اخستل د قرآن کریم د احکامو مطابق ضروری دی . دحضرت عثمان رضی الله عنه د شهادت په وخت ټولې ازواج مطهرات د حج دپاره مکې مکرمې ته راغلې وې . حضرت عائشې او نورو ازواج مطهراتو رضی

الله تعالى عنهن په شروع کښې دا غوښتل چه هغوى واپس مدينې طيبې ته رسيدلوسره حضرت علي رضى الله عنه لره په قصاص اخستلوباندې آماده کړى ، ليکن ډيرو کسانودا رائې ورکړې چه رومبې بصرې ته لاړې شئ اودهغه ځائ دخلقو حمايت حاصل کړئ . نورو ټولو ازواج مطهراتو رضى الله عنهن خو بصرې ته د تللو نه انکار وکړو ،اووې فرمائيل چه مونږ دمدينې منورې نه سوا بل چرته نه ځو . ليکن حضرت عائشه رضى الله عنها دهغه حضراتو د رايو نه متاثره شوه او بصرې ته روانه شوه (البداية والنهاية ص ۲۳۰ج۷)

د حضرت عائشې رضى الله عنها مقصد جنګ کول هم نه وو ، بلکه چه کله دوى بصرې ته تلل نو په لاره کښې يوځائ کښې پړاؤ واچولې شو ، د شپې په وخت دهغه ځائ سپو غپار (چغې) شروع کړو ، حضرت عائشې رضى الله عنها د خلقو نه پوښتنه وکړه چه دا کوم ځائ دې ؟ خلقو اووئيل چه دا مقام «حوأب» دې د «حوأب» نوم اوريدلوسره حضرت عائشه رضى الله عنها يودم ودريدله ، دوئ ته د حضورصلى الله عليه وسلم يو ارشاد مبارک په ياد راغلو ، حضورصلى الله عليه وسلم ازواجِ مطهراتو ته خطاب کولوسره يو ورځ فرمائيلى وو : **کيف بإحداکن تنبح عليها کلاب الحوأب** (مسند احمد ج[illegible] ص[illegible]، ومستدرک حاکم ص[illegible] ج[illegible]، وصححه الحاکم ووافقه الذهبي، وقال الحافظ في الفتح [illegible]: سنده على شرط الصحيح، وصححه ابن کثير في البداية ص[illegible] ج[illegible])

«په تاسو کښې به ديوې هغه وخت څه حال وى چه کله په هغې باندې د حوأب سپى و غپيږى» حضرت عائشې رضى الله عنها د حوأب نوم اوريدلوسره د وړاندې مزل نه انکار وکړو ، او خپلو ملګرو ته ئې اصرار وکړو چه ما واپس بوځئ او يوه شپه او يو ورځ هم هغلته حصاره وه ، ليکن بعضې حضراتو اووئيل چه تاسو لاړه شئ ، ستاسو د وجه نه به د مسلمانانو په دوه ډلو کښې صلح اوشى ، او په بعضې رواياتو کښې دى چه چا د دوى په وړاندې ترديد هم اوکړو چه دا ځائ حوأب نه دې (البداية والنهاية ص ۲۳۱ج۷)

همدارنګه چه څه په مقدر کښې وو هغه مخې ته راغلل ، اوحضرت عائشه رضى الله عنها سفر دوباره شروع کړو ، بصرې ته رسيدلو سره چه کله د دوى نه د راتګ د وجه پوښتنه وشوه نو دوى اوفرمائيل : «اى بنىّ ! الاصلاح بين الناس» يعنى اې بچو! زه دخلقو په مينځ کښې د صلحې کولو دپاره راغلې يم»

ددې ټولو خبرونه واضحه شوه چه دحضرت عائشه رضى الله عنها مقصد نه څه سياست وو اونه حکومت ، نه هغې جنګ کول غوښتل ، بلکه د حضرت عثمان رضى الله عنه د قصاص اخستلو مطالبې تقويت او په هغه سلسله کښې د مسلمانانو په مينځ کښې د مصالحت خالص دينى مقصد د دوى په نظر کښې وو .

ددې باوجود چونکه حضرت عائشه رضی الله عنها دزنانو د مسلمه دائرې نه لږ غوندې وتلو سره اجتماعی معاملاتو کښې کار ودرلودلو . نو له همدې وجه نه صحابه کرامو او پخپله نورو امهات المؤمنین رضی الله تعالی عنهن ته د دوئ دا اقدام خوښ نشو او متعددو صحابو رضی الله تعالی عنهم دوئ ته خطونه ولیږل .ام المؤمنین حضرت ام سلمه رضی الله عنها په دې موقع باندې دوئ ته یو لوئ مؤثر خط لیکلې دې چه دهغې الفاظ دادی

عن ام سلمة زوج النبي صلى الله عليه وسلم الى عائشة ام المؤمنين فاني احمد اليك الله الذي لا اله الا هو. اما بعد. انك سُدَّة بين رسول الله صلى الله عليه وسلم وامته وحجاب مضروب على حرمته قد جمع القرآن ذيلك فلا تندحيه وسكر خفارتك فلا تبتذليها فالله من وراء هذه الامة. ولو علم رسول الله صلى الله عليه وسلم ان النساء يحتملن الجهاد عهد اليك. اما علمت انه قد نهاك عن الفراطة في البلاد فان عمود الدين لا يثبت بالنساء ان مال. ولا يراب بهن ان انصدع. جهاد النساء غض الاطراف وضم الذيول وقصر الوهازة ما كنت قائلة لرسول الله صلى الله عليه وسلم لو عارضك ببعض هذه الفلوات ناصة قعودا من منهل الى منهل. وغدا تردين على رسول الله صلى الله عليه وسلم والسلم لو قيل لي يا ام سلمة ادخلي الجنة لاستحييت ان القى رسول الله صلى الله عليه وسلم هاتكة حجابا ضربه علي فاجعليه سترك. ووقاعة البيت حصنك. فانك انصح ما تكونين لهذه الامة ما قعدت عن نصرتهم (العقد الفريد ص ۱۱ ج ۳ مطبوع دار الباز مكة المكرمه)

«د نبي صلی الله علیه وسلم د زوجې ام سلمه رضی الله عنها د طرف نه ام المؤمنین حضرت عائشه رضی الله عنها په نوم: تاسو د رسول الله صلی الله علیه وسلم اود رسول الله صلی الله علیه وسلم د امت په مینځ کښې یو دروازه یئ ، تاسو هغه پرده یئ چه دحضورصلی الله علیه وسلم په حرمت باندې اچولې شوې یئ، قرآن ستاسو لمنې لره راغونډه کړې ده ، تاسو هغه مه خوروئ، او ستاسو د حرمت حفاظت ئې کړې دې تاسو دهغې بې قدری مه کوئ . که چرته رسول الله صلی الله علیه وسلم ته معلومه وای چه په زنانو باندې د جهاد ذمه داری اچول کیږی نو هغوی به تاسو ته دهغې وصیت کړې وؤ . آیا تاسو ته معلومه نه ده چه حضورصلی الله علیه وسلم تاسو لره په ښارونو کښې د ګرځیدلو نه منع کړې وئ ددې وجه نه که چرته د دین ستنه متزلزل کیدل شروع شی نو هغه په ښځوسره نه شی ودریدلې اوکه چرته په هغې کښې سوری کیدل شروع شی نو په ښځو سره د هغې بندیدل ممکن نه دی . د ښځو جهاد دادې چه هغوی نظرونه تیټ وساتی . لمنې راغونډې کړی . او په ورو قدمونو سره ځی . تاسو چه په کومو صحراګانو کښې د یو ډنډ نه بل ډنډ پورې خپله اوښه شړئ . که چرته هغلته رسول الله صلی الله علیه وسلم ستاسو مخې ته راشی نو تاسو سره به دهغوی په وړاندې د وئیلو څه وی ؟ سبا ستاسو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته

ورتګ دي . او زه قسم خورم چه که چرته خما نه پوښتنه وشي چه ام سلمه ! جنت ته لاره شه ، نو ستا به هم ماته دهغې خبرې نه حيا راځي چه زه د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په هغه حالت کښې ملاؤ شوم چه کومه پرده دوی صلی الله عليه وسلم په ماباندې اچولې ده هغه ما شلولې وی . لهذا تاسو هغې لره ښه پرده جوړه کړئ . دخپل کور چارديوارئ لره خپله قلعه وګڼئ . ځکه چه ترڅوپورې تاسو پخپل کورکښې اوسيږئ ،دې امت به د ټولو نه لويه خيرخواه يئ»

د ام المؤمنين حضرت ام سلمه رضی الله عنها ددې مکتوب د يويو لفظ نه ددين هغه پاکيزه مزاج راڅرګنديږی چه هغه ښځې لره د حرمت اوتقديس اعلی ترين مقام ورکړو . او چه دهغې په وړاندې ټول سياسی منصبونه او دنيوی شان اوشوکت ټيټ دی

حضرت عائشه رضی الله عنها د حضرت ام سلمه رضی الله عنها د يوې خبرې نه هم انکار ونه کړو ، بلکه دهغې نصيحت ئې اصولی طور باندې قبول کړو ، اودهغې ئې په دې وينا سره قدردانی اوفرمائيله چه : (ما اقبلني لوعظك واعرفني لحق نصيحتك)

«زه ستاسو نصيحت لره په سرسترګو قبلوم ، او ستاسو د نصيحت له حق نه ښه خبره يم»

البته دخپل موقف وضاحت کولوسره ئې اوفرمائيل چه : ولنعم المطلع مطلع فرقت فيه بين فئتين متشاجرتين من المسلمين

«هغه موقف ډير ښه موقف دې چه دهغې په ذريعې زه د مسلمانانو د دوو ډلو په مينځ کښې حائله شم»

ددې نه ښه صفا واضحه شوه چه نه هغې د حکومت سربراهی غوښتله ، نه جهاد دهغې پيش نظر وؤ ، نه يې څه سياسی قيادت مقصود وؤ ، بلکه پيش نظر يې د دوو فريقينو په مينځ کښې صلح کول وؤ . او په دې کښې هم هغه فرمائی : فان اقعد ففي غير حرج وان امض فالى مالا غنى لي عن الازدياد منه (العقد الفريد ص ج)

«اوس که چرته زه کيناستلم نو بيا هم څه حرج نشته، او که زه وړاندې شوم نود يو داسې کار دپاره به وړاندې شم چه دهغې له سرته رسولو نه سوا خما دپاره بل څه چاره نشته»

د دومره احتياط باوجود هغه زمانه د فتنې وه . د دښمنانانو سازشونه ډير په تيزئ سره روان وو . چه دهغوئ واحد مقصد دا وو چه مسلمانان پخپل مينځ کښې په جنګ کړی . چنانچه څه به مقدر کښې وو هغه راغلل . جنګ جمل وشو . او حضرت عائشه رضی الله عنها هغه مقام نه رسيدلې وه دکوم ځائ نه چه واپس نه شوه راتللې

دحضرت ام سلمه رضی الله عنها نه سوا نور هم زيات صحابه کرام رضی الله عنهم هغوی لره کور نه د بهر هغه محدودې ذمه دارئ اخستلو نه بنده کړه . چانچه حضرت زيد بن صوحان رضی

الله عنه حضرت عائشې رضی الله عنها ته يو خط کښې وليکل . سلام عليك، اما بعد: فانك امرت بامر وامرنا بغيره امرت ان تقري في بيتك وامرنا ان نقاتل الناس حتى لا تكون فتنة فتركت ما امرت به وكتبت تنهانا عما امرنا به والسلام (العقد الفريد ص ج)

«د سلام نه پس . تاسو ته د يو کار حکم درکړې شوې دې . او مونږ ته د بل کار . تاسو ته حکم دې چه په کور کښې په قلاره اوسېږئ . او مونږ ته حکم دې چه مونږ د خلقو سره ترهغه وخته پورې وجنګيږو ترڅوپورې چه فتنه ختمه شوې نه وي . تاسوخپل کار پرېښودلو او مونږ دهغه کارنه حصاروئ چه دهغې مونږ ته حکم راکړې شوې دې»

بيا خبره په دې ځائې باندې نه ختميږي ، په خپله حضرت عائشه رضی الله عنها به وروسته پخپل دې کار باندې انتهائی د پښېمانتيا اظهار کولو . چنانچه حافظ شمس الدين ذهبی رحمه الله تعالی فرمائی : ولا ريب ان عائشة ندمت ندامة كلية على مسيرها الى البصرة وحضورها يوم الجمل وما ظنت ان الامر يبلغ ما بلغ (سير اعلام النبلاء للذهبی ص ج)

«او په دې کښې هيڅ شک نشته چه حضرت عائشې رضی الله عنها د بصرې په سفر او جنګ جمل کښې حاضرئ باندې ښه ښکاره پښېمانه شوه . دهغې دا ګمان نه وو چه خبره به هغه ځائې پورې ورسيږی کومه پورې چه رارسيدلې ده»

امام ابن عبدالبر رحمه الله تعالی پخپل سند سره دا روايت نقل کړې دې چه يو ځلې حضرت عائشې رضی الله عنها حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ته اوفرمائيل چه «تاسو زه په هغه سفر کښې د تللو نه ولې منع نه کړم ؟» حضرت ابن عمررضی الله عنهما اوفرمائيل : «ما وکتل چه يو صاحب (يعنې حضرت عبدالله بن زبير رضی الله عنهما) ستاسو په رايه باندې غالب شوې دې حضرت عائشې رضی الله عنها جواب ورکړو : «په الله قسم که چيرته تاسو زه حصاره کړې وای نو زه به نه ووم وتلې» (نصب الرايه للزيلعی ص ۷۰ ج۴)

بيا جنګِ جمل اودهغې په سفر باندې د حضرت عائشې رضی الله عنها د پښېمانتيا دا حال دا وو چه کله به د قرآن کريم د تلاوت په دوران هغه د سورهٔ احزاب هغه آيت ته ورسيدله چه په هغې کښې الله تعالی ښځو ته دا حکم ورکړې دې چه «وقرن في بيوتكن» «اوتاسو په خپلو کورونو کښې اوسيږئ» . نو دومره به ژړيدله چه د دوئ لوپټه به د اوښکو نه لمده کيدله .

اذا قرات هذه الاية وقرن في بيوتكن بكت حتى تبل خمارها (طبقات ابن سعد ص ج) وسير اعلام النبلاء ص ج)

او د پښېمانتيا انتهادا تر دې ځايه پورې وه چه په شروع کښې د دوی خواهش دا وو چه دوی

لره پخپل کور کښې د حضورصلی الله علیه وسلم سره دفن کړې شي ، لیکن د جنګ جمل نه پس دوئ دا اراده ترک کړه ، قیس بن ابی حازم راوی دي چه **قالت عائشة رضي الله تعالى عنها وكان تحدث نفسها ان تدفن في بيتها مع رسول الله صلى الله عليه وسلم وابي بكر فقالت اني احدثت بعد رسول الله صلى الله عليه وسلم حدثا ادفنوني مع ازواجه فدفنت بالبقيع (مستدرك الحاكم ص، ج، قال الحاكم : هذا حديث صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبي)**

«حضرت عائشې رضی الله عنها په زړه کښې دا سوچ کولو چه هغه دې دهغې په کور کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اود حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه سره یوځائ دفن کړې شي . لیکن وروستو هغوی اوفرمائیل چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پس دیو بدعت ارتکاب کړې دې ، اوس مالره دحضورصلی الله علیه وسلم دنورو بیبیانو سره دفن کړئ ، چنانچه هغوی په جنت البقیع کښې دفن کړې شول »

حافظ ذهبی رحمه الله تعالی دهغې ددې قول تشریح کولوسره فرمائی : **تعني بالحديث مسيرها يوم الجمل فانها ندمت ندامة كلية وتابت من ذلك على انها ما فعلت ذلك الا متأولة قاصدة للخير (سير اعلام النبلاء ص۳ ج)**

«د بدعت نه د حضرت عائشې رضی الله عنها مراد جنګ جمل ته دهغې تلل وو ، ځکه چه هغه خپل هغه عمل باندې پوره پوره پښېمانه وه ، او د هغې نه ئې توبه ویستلې وه . باوجود ددې نه دهغې دا اقدام اجتهاد باندې مبنی وو اودهغې مقصد نیک وو »

دې ټولو واقعاتو نه واضحه ده چه حضرت عائشې رضی الله عنها نه کله د حکومت د سربراهۍ خواهش یا دعویٰ کړې وه، او نه چا دا تجویز پیش کړو چه هغې لره دې سربراه جوړه کړې شي ، نه دهغې مقصد دیو باقاعده جنګ د قیادت وو هغه صرف دیو قرآنی حکم د نفاذ اود مسلمانانو په مینځ کښې دمصالحت دپاره راوتلې وه ، لیکن د دښمنانو سازش دهغې هغه سفر ته بالآخر دیو جنګ شکل ورکړو . لیکن چونکه دهغې دغه طریقه کار فی الجمله دیو محدود سیاسی حیثیت حامل وو ، ددې وجه نه صحابه کرامو رضی الله عنهم هم هغه خوښ نه کړو ، او هغه پخپله هم په هغې باندې بې انتهاء پښېمانه شوه ، تردې پورې چه د هغه پښېمانتیا په وجه روضهٔ رسول الله صلی الله علیه وسلم کښې تدفین لره هم خوښ ونه فرمائیلو .

اوس پخپله په انصاف سره فیصله وکړئ چه : ام المؤمنین حضرت عائشې رضی الله عنهاچه خپل کوم اقدام لره بالاخر پخپله غلط وګڼلو ، په هغې باندې ئې ژړا کوله او په هغې باندې د پښېمانه کیدلو د وجه نه تدفین کښې حضورصلی الله علیه وسلم ته د نزدې کیدلو نه هم شرمیدله

د هغې په هغه عمل باندې څنګه استدلال کیدلې شي ؟ او استدلال هم د سربراهۍ په جواز کښې ، چه دهغې تصور هم د حضرت عائشې رضی الله عنها په خیال کښې نه وو تیرشوې

د حضرت تهانوی رحمه الله تعالی یو لیک

زمونږ په زمانه کښې بعضې حضراتو د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی قدس سره . یو تحریرهم د ښځې د سربراهۍ په جواز کښې د پیش کولو کوشش کړې دې چه په امداد الفتاوی کښې شائع شوې دې چه په هغې کښې حضرت تهانوی رحمه الله د حدیث « لن یفلح قوم ولوا امرهم امراة » په باره کښې د یو سوال جواب ورکولوسره دا فرمائیلی دی چه جمهوری حکومت ددې وعید لاندې داخل نه دې.

لیکن د حضرت تهانوی رحمه الله تعالی ددې تحریر په حقیقت د پوهیدلو نه وړاندې دا پیژندل ضروری دی چه حکیم الامت حضرت تهانوی رحمه الله تعالی هم د پوره امت د علماؤ په شان ددې خبرې قائل دې چه ښځې لره د اسلامی حکومت سربراه جوړول جائز نه دی . چنانچه امدادالفتاوی کښې هم په دې تحریرکښې حضرت رحمه الله تعالی پخپله فرمائیلی دی چه : «فقهاؤ حضراتو امامت کبریٰ (د حکومت په سربراهۍ » کښې ذکورة (نارینه کیدل) د صحت شرط ګرځولی دی . اوقضاکښې د صحت شرط ندی ګرځولی. مګر شرط دصون عن الاثم ګرځولی دی» (امدادالفتاوی ص ۹۲ج۵)

همدارنګه حضرت مولانا تهانوی رحمه الله پخپل تفسیرکښې دا مسئله نور وضاحت سره په دې الفاظو کښې بیان کړې ده : «اوزمونږ په شریعت کښې ښځې لره د بادشاه جوړولو ممانعت دې . پس د بلقیس په قصې سره دې څوک شبهه ونه کړی ، اول خو دا کار د مشرکانو وو . دویم که چرته شریعتِ سلیمانیه دهغې تقرری هم کړې وی نو شرعِ محمدی کښې خلاف کیدلوسره هغه حجت نه دې » (بیان القرآن ص ۸۵ج۸ سورة النمل)

همدارنګه حضرت تهانوی رحمه الله تعالی د «احکام القرآن » کومه حصه چه په حضرت مولانا مفتی شفیع صاحب قدس سره باندې لیکلې ده . په هغې کښې یې هم د ملکهٔ بلقیس د واقعې دې استدلال لره رد کړې دې چه قرآن کریم د بلقیس واقعه بیانولوسره په هغې باندې څه نکیر نه دې کړې (احکام القرآن للمفتی محمد شفیع صاحب ص ۲۹ ج ۳)

د حضرت تهانوی رحمه الله تعالی ددې عبارتونو نه واضحه ده چه هغه د علماء امت په شان هم ددې خبرې قائل دې چه ښځې لره سربراه حکومت جوړول شرعاً جائز نه دی . البته سوال دا پیدا کیږی چه که چیرته یو ځای کښې ددې شرعی حکم خلاف ورزی کولوسره یوې ښځې لره سربراه

جوړه کړې شوې وی . نو آیا د داسې ځای په خلقو باندې به هغه وعید صادق راځی چه په حدیث کښې بیان کړې شوې دې چه داسې قوم فلاح نه شی موندلې ؟ ددې په جواب کښې حضرت تهانوی رحمه الله تعالی اوفرمائیل چه که چرته حکومت عام وی اومکمل وی . څنګه چه په شخصی سلطنتونوکښې کیږی (یا څنګه چه په خلافت اسلامی کښې کیږی) اودهغې سربراه ښځه جوړه کړې شی . نو بې شکه په هغې کښې د حدیث دا وعید صادق راځی ، لیکن که چرته حکومت د جمهوریت په انداز وی نو عدم فلاح ضروری نه ده چه دهغې د وجه نه حضرت تهانوی رحمه الله تعالی دا بیان وکړو چه « راز په دې کښې دادې چه حقیقت دهغه حکومت محض مشوره ده . او ښځه اهل ده د مشورې » (امدادالفتاوی ص ۹۲ ج ۵)

په دې سره صفا واضحه شوه چه د ښځې «حقیقی حکومت » لره حضرت تهانوی رحمه الله تعالی نه صرف دا چه ناجائز بلکه موجبِ عدم فلاح هم ګرځوی لهذا داصل مسئلې تربیخه پورې دهغه موقف هم دادې چه ښځه سربراهِ حکومت نه شی کیدلې ، البته د جمهوری حکومت په باره کښې هغوی داخیال ښکاره کړې دې چه هغه حقیقةً له سره حکومت نه دې، بلکه محض مشوره ده .

لهذا د حضرت تهانوی رحمه الله تعالی د تحریر ټول دارومدارپه دې خبره باندې ودریدلو چه آیا جمهوری حکومت واقعةً حکومت دې اوکه محض مشوره ده ؟ او دا سوال د شرعی حکم نه دې ، بلکه د واقعې دې ، حضرت تهانوی رحمه الله تعالی د جمهوری حکومت د سربراه په باره کښې دا وګڼل چه حقیقةً هغه سربراه نه وی ، بلکه د پارلمان دیو رکن کیدلو په حیثیت سره دهغې خبره محض د یو مشورې حیثیت لری ، چنانچه په همدې تحریرکښې هغه فرمائی :

«دیوې ښځې سلطنت جمهوری وی چه په هغې کښې والی صوری په حقیقت کښې والی نه وی بلکه د مشورې یورکن وی .او والی حقیقی د مشیرانو مجموعه ده (امدادالفتاوی ص ۹۱ج۵)

په دې فقرې سره یو ځل بیا واضحه شوه چه هغه د ښځې سربراهی ناجائز اوموجبِ عدم فلاح کیدلو باندې قائل دې . او دې مسئلې سره دهغه هیڅ اختلاف نشته ، لیکن د جمهوری حکومت سربراه لره هغه دخپلو معلوماتو مطابق حقیقی سربراه نه ګڼی دا اختلاف په اصل مسئله کښې نه دې .بلکه د جمهوری حکومت په حقیقت کښې دې .

واقعه داده چه پارلمانی نظام کښې وزیراعظم اګرچه د پارلمان دیورکن کیدلو حیثیت کښې محض یورکنِ مشوره دې ، لیکن دهغه دوه حیثیتونه نور دی چه دهغې په موجودګئ کښې هغه لره محض یو «رکنِ مشوره » ګرځول ممکن نه دی . رومبنئ حیثیت خو دادې چه هغه دملک د انتظامیې سربراه وی . اوبیا هغه حیثیت کښې هغه د قانون په دائرې کښې مکمل طورسره خود مختاره وی ، تردې پورې چه هغه ته دا اختیارحاصل وی چه هغه د ټولې کابینې مشورې لره رد کولوسره هغه کار وکړی چه دده د رائې مطابق وی .

واقعه داده چه جمهوری نظام کښې د ریاست درې کاره جدا جدا کړې شوی دی . یو کار قانون سازی ده چه مقننه یعني د پارلمان په حواله دې . دویم کار د ملک انتظام چلول دی چه د انتظامیې په حواله دې . او دریم کار د تنازعاتو فیصله ده چه د عدلیه په حواله دې . اوس د ریاست په دې دریو ادارو مقننه . انتظامیه . اوعدلیه کښې د لفظِ ((حکومت)) اطلاق هم انتظامیه باندې کیږی . مقننه او عدلیه د ریاست (state) لاندې اداري ضرور دی . لیکنه د (حکومت (government) حصې نه دی . حکومت صرف انتظامیه ته وئیلې کیږی . او وزیراعظم دهغه انتظامیه سربراه وی . هغه ته د قانون په دائرې کښې د کاروبارِ حکومت چلولو مکمل اختیار حاصل وی . نه هغه هرخیز لره د مقننه مشورې دپار پیش کوی او نه کولې شی . نه ئې پابند دې . بلکه د کابینې په اجلاس کښې دهغه فیصله حتمی حیثیت لری . ښکاره ده چه داسې با اختیاره سړی ته محض ((رکنِ مشوره)) نه شی وئیلې کیدلې .

د مقننې تر حده پورې بې شک هغه یو ((رکنِ مشوره)) دې . لیکن د پارلمانی پارټیانو مروجه نظام کښې دهغې یو بل حیثیت دې چه هغه پارلمان کښې د برسراقتدار اکثریتی پارټئ لیډر او قائدِ ایوان وی . لهذا پارلمان کښې دهغه رایه محض یوه شخصی رایه نه وی . بلکه بعضې وختونو کښې د ایوان د اکثریت نمائندګی کوی . بالخصوص که چرته هغه دخپل جماعت ارکانِ پارلمان دپاره د جماعت د طرف نه یو هدایت جاری کړی نو دهغې د جماعت ټول ارکان دهغه هدایت مطابق اسمبلئ کښې د ووټ اچولو پابند دی . پارلمانی اصطلاح کښې هغه هدایت ته جماعتی کوړا (party whip) وئیلې کیږی . یعنې هغه کوړې لره په حرکت کښې راوستلونه پس تمام ارکانِ جماعت پارلمان کښې هم هغه رایه ورکولو باندې مجبوره دی چه دهغې دپاره هغوی کوړا په حرکت کښې راوستلې ده .

اوس ظاهره ده چه کوم سړې دا کوړا په حرکت کښې راولی . هغه ته محض یو ((رکنِ مشوره)) نه شی وئیلې کیدلې . په دې لحاظ سره مقننه کښې هم د وزیراعظم حیثیت محض د یو ((رکنِ مشوره)) نه دې . بلکه د قائدِ جماعت اود قائدِ ایوان وی . او عملاً هغه د نورو په مشورو باندې کم او نور دهغه په مشورې باندې زیات چلیږی .

اګرچه نظریاتی اعتبارسره صدرمملکت د ریاست سربراه وی . او وزیراعظم د انتظامیه . لیکن پارلمانی نظام کښې د صدرِ مملکت حیثیت زیات ترنمائشی وی او اصل اختیارات هم وزیراعظم سره وی . ددې وجه نه د ټولې دنیا په نزد فقط وزیراعظم لره اصل سربراه ګڼلې کیږی .

په دې تشریح سره دا خبره واضحه کیږی چه حضرت تهانوی رحمه الله تعالی د ښځې سربراهئ لره هیڅری جائز نه ګڼې . چه دهغې دپاره دهغه صریح تحریرونه موجود دی . البته سوال دا وو چه د جمهوری حکومت سربراهی حقیقی سربراهی ده او که نه ؟ ددې سوال تعلق د شریعت د تحقیق

سره نه دي بلکه د مروجه جمهوري نظام د تحقیق سره دي ، او ظاهره ده چه د حضرت تهانوي رحمه الله تعالی اصل موضوع د شریعت موضوع وه ، د عهد حاضر د سیاسي نظامونو تحقیق د حضرت تهانوي رحمه الله تعالی موضوع نه وه ، ظاهره ده چه د پارلماني نظام د وزیراعظم په سلسله کښې چه کوم حقائق پورته بیان کړې شوي دي ، که چیرته هغه د حضرت تهانوي رحمه الله تعالی مخې ته راوړلې شوې وې نو هغه به بخپلې رائې باندې ضرور نظرثاني کړې وې چه هغه محض یورکن مشوره دې

د تاریخ بعضې مثالونه

بعضې خلق د ښځې د سربراهئ په جواز کښې د تاریخ بعضې مثالونه پیش کوي چه فلانکی فلانکي موقعو باندې ښځه برسراقتدار پاتې شوې ده ، لیکن ظاهره ده چه په تاریخ کښې جائز اوناجائز هرقسمه واقعات شوي دي ، دا واقعات په دین کښې سندونه ، نه دي ، سند قرآن او سنت دی ، لهذا که چرته یو ي دوه واقعات د ښځې د سربراهئ راغلې وی نودهغې په بنیاد باندې د قرآن اوسنتو واضحه احکامو او دلائلو لره نه شي پرېښودلې ، بیا د هغه یو یا دوه واقعاتو اکثریت داسې دي چه هغلته مسلمانانو داسې حکومت لره برداشت هم نه کړو ، تردې پورې چه هغه حکومت ختم شو ، اودهغه حکومتونو په دور او زمانه کښې هم چرته دا خبره نه معلومیږي چه یو فقیه یا عالم د ښځې د سربراهئ په جواز کښې فتوی ورکړې وي .

په دې ضمن کښې بعضې خلق د مس فاطمه علي جناح صدارتی امیدوار جوړیدلو لره په سند کښې پیش کوي ، لیکن یو عالم هم زمونږ په علم کښې نشته چه هغه ددې اقدام حمایت کولو سره دا وئیلې وي چه ښځه د حکومت سربراه کیدلې شي ، لهذا دې واقعې لره په دلیل کښې پیش کول د خلط مبحث نه سوا نور هیڅ نه دي .

(په دې وخت کښې هم علماؤ د ښځې د سربراهئ د عدم جواز فتوی شائع کړې وه ، رشیداحمد)

د پاکستان د هر مکتبهٔ فکر دعلماؤ فیصله

بهرحال ، د ښځې د سربراهئ ناجائز کیدل یو داسې مسلمه مسئله ده چه د قرآن او سنت واضح ارشاداتو اواجماع امت باندې مبنی ده ، دامت یو فقیه یا یو عالم هم ددې نه اختلاف نه دې کړې ،

له همدې وجه نه په ۱۹۵۱ء کښې چه کله د پاکستان د تمام مکاتبِ فکر علماء کراچئ کښې آئینی مسائلو باندې اجتماع منعقد کړه چه په هغې کښې دیوبندیان ، بریلوی ، اهلِ حدیث ، جماعتِ اسلامي او شیعه ګان ټول موجود وو او هغه مشهور متفقه دوه ویشت نکات ئې و تاکل چه دهغوئ په نزد د پاکستان د آئین دپاره یې بنیادي اهمیت لرلو ، نو په هغې کښې دولسمه نکته دا وه : ((د رئیسِ مملکت مسلمان سړې کیدل ضروري دي چه دهغې په تدین ، صلاحیت او اصابت

مقتدی غیر منتخب نماندګانو اعتماد وی))
راتې بانده د جمهور یا د هغه منتخب نماندګانو اعتماد وی)) او ترنه پورته پ
هغه دوه ویشتو نکاتو بانده د پاکستان هرمکتب فکر تمام علماء متفق دی ، او که چیرته
هغې کښې څه اختلاف پیدا نه شو
لهذا په یو اسلامی حکومت کښې ښځې لره سربراه جوړول هرگز جائز نه دی . او که چیرته
داسې وشی نو د مسلمانانو دپاره ضروری ده چه هغوئ زر ترزره د سربراهئ د تبدیلئ دپاره ممکنه
کوششونه په کار راولی . والله سبحانه الموفق

محمدرفیع عثمانی ، سلیم الله ، ولی حسن
رشیداحمد ۲۵ جمادی الاولی ۱۴۰۹ هـ

المزید من العبد الرشید

((دمنعې دلائل)) :

(۱) ﴿وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ﴾ (الایة ۲، ۲۲۸)

(۲) ﴿وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ﴾ (الایة ۲، ۲۴۷)

(۳) ﴿أَوَمَن يُنَشَّؤُا فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِينٍ ﴿١٨﴾﴾ (الایة ۴۳، ۱۸)

(۴) قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ما رایت من ناقصات عقل ودین اذهب للب الرجل الحازم من احداکن (بخاری ص ۴۴ ج ۱)

دجواز دلائل :

(۱) قال الامام الکاسانی رحمه الله تعالی: اما المراة والصبی العاقل فلا یصح منهما اقامة الجمعة لانهما لا یصلحان للامامة فی سائر الصلوات ففی الجمعة اولی الا ان المراة اذا کانت سلطانا فامرت رجلا صالحا للامامة حتی صلی بهم الجمعة جاز لان المراة تصلح سلطانا او قاضیا فی الجملة فتصح امامتها . (بدائع الصنائع ص ــ ج)

(۲) وقال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالی : اما سلطنتها فصحیحة وقد ولی مصر امراة تسمی شجرة الدرجاریة الملک الصالح بن ایوب (البحر الرائق ص ۵ ج ۷)

جواب :

په دې عباراتونو کښې د صلاح او صحت نه مراد نفاذ دې . جواز مراد نه دې . مطلب دادې چه ښځې لره سلطانه جوړول ناجائز دی ، سره ددې نه که چیرې هغې ناجائزو ذرائعو سره تسلط حاصل

کړو نو د هغې سلطنت به نافذ کیږی فقط

الامثلة:

(۱) قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اسمعوا واطيعوا وان استعمل عبد حبشي كأنه رأسه زبيبة (بخاري ص ج). قال الامام الكرماني رحمه الله تعالى: فان قلت كيف يكون العبد واليا وشرط الولاية الحرية قلت: بان يوليه بعض الائمة او يغلب على البلاد بشوكته. (شرح الكرماني لصحيح البخاري ص ج)

(۲) وقال الامام ولي الله رحمه الله تعالى: طریق چهارم استیلاء ست ..... واین دونوع ست یکی آنکه مستولی مستجمع شروط باشد .... دیگر آنکه مستجمع شروط نباشد وصرف منازعین کند بقتال وارتکاب محرم وآں جائز نیست وفاعل آں عاصی ست لیکن واجب ست قبول احکام او چوں موافق شرع باشد، واگر عمال او اخذ زکاة کنند از ارباب اموال ساقط شود، وچوں قاضی او حکم نماید نافذ گردد حکم او، همراه او جهاد می تواں کرد، وایں انعقاد بنا برضرورت ست زیراکه درعزل اوفنائی نفوس مسلمین وظهور حرج ومرج شدید لازم می آید، ویقیں معلوم نیست که شداید مفضی شود بصلاح یانه، محتمل که دیگری بدتراز اول غالب شود ،پس ارتکاب فتن که قبح او متیقن به ست چرا باید کرد، برائی مصلحی که موهوم ست ومحتمل، وانعقاد خلافت عبدالملک بن مروان واول خلفائی بنی عباس بهمیں نوع بود (ازالة الخفاء ص ۵ مقصد اول)

(۳) وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: والمراة تقضي في غير حد وقود وان اثم المولي لها لخبر البخاري رحمه الله تعالى لن يفلح قوم ولو امرهم امراة (ردالمحتار ص ج). وكذا قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى (البحر الرائق ص ج)

(۴) فاسق لره امام جوړول جائز نه دی سره ددې نه دهغه په اقتداء کښې کړې شوې مونځ صحیح دي

النظائر:

ولهذه المسألة نظائر كثيرة مثلا:

(۱) البيع الفاسد موجب للملك.

(۲) حرمة المصاهرة تثبت بالزنا.

(۳) السفر يترتب عليه الاحكام ولو كان للمعصية.

(۴) یقع الطلاق علی الحائض مع کونه منهیاعنه،

(۵) یقع الطلقات الثلاث دفعة مع کونه بدعیا،

(۶) لحوق النجاسة مع حرمته مطهر،

دلائل الجواز د لاندې وجوهو له وجه نه په نفاذ مع عدم الجواز باندې محمول کول ضروری دی

(۱) عدم الجواز نصوص الشرع . قرآن . حدیث . فقه او اجماع سره ثابت دی

(۲) دلیل ثانی کښې په سلطنت دشجرة الدر باندې استدلال کړې شوې دې چه دهغې تسلط لره ناجائز ګرځولو سره هغه معزول کړې شوې وه . کماسیاتی .

(۳) البحر الرائق کښې هم ددې دلیل ثانی نه درې کرښې وړاندې دا حکم مذکور دې . فکانت اهلا للقضاء (فی غیر حدوقود) لکن یاثم المولی لها للحدیث لن یفلح قوم ولوا امرهم امراة رواه البخاری

(البحر الرائق ص ج)

(۴) قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی فی شرائط صحة الجمعة والثانی السلطان ولو متغلبا او امراة فیجوز امرها باقامتها لا اقامتها . قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی اعلم ان المراة لا تکون سلطانا الا تغلبا لما تقدم فی باب الامامة من اشتراط الذکورة فی الامام . فکان علی الشارح ان یقول ولو امراة ای ولو کان ذلک المتغلب امراة ح والمراد بالمتغلب من فقد فیه شروط الامامة وان رضیه القوم (ردالمحتار ص ج)

(۵) بدائع کښې د دلیلِ اول نه څه وړاندې د سلطنت عبد ذکر دې ونصه: واما العبد اذا کان سلطانا لجمع بالناس اوامر غیره جاز (بدائع الصنائع ص ج) په دې باندې اجماع ده چه عبد سلطان نه شی کیدلې . لهذا دلته بالاتفاق عبد متغلب مراد دې چه دهغه سلطنت د ناجائز کیدلو باوجود نافذ دې . په دې سره ثابته شوه چه وړاندې هم دې موقع باندې «ان المراة تصلح سلطانا» کښې هم صلاحیت نه نفاذ بلاجواز مراد دې .

(۶) په اول دلیل کښې «فامرت رجلاً صالحاً للامامة» کښې بالاتفاق داسې سړې مراد دې چه دهغه په اقتداء کښې کړې شوې مونځ صحیح شی . دا ضروری نه ده چه هغه امام جوړول هم صحیح وی . په دې سره ثابته شوه چه وړاندې « ان المراة تصلح سلطانا » کښې هم نفاذ مراد دې جواز مراد نه دې

(۷) امام ابن همام رحمه الله تعالی دخپل شان تحقیق مطابق دې حقیقت لره په دلائلو سره ثابت کړې دې چه د ښځې د قضاء نفاذ مع عدم الجواز دې ونصه والجواب ان ماذکر غایة ما یفید مع ان تسلطها وعدم حله والکلام فیها لو ولیت واثم المقلد بالملک اوحکمها خصمان فقضت قضاء موافقا للدین

انه اكان يفعل ام لا ، لم ينهض الدليل على نفيه بعد موافقته ما الاول انه الا ان يثبت شرعا سلب اهليتها وليس في الشرع سوا النقصان عقلها ومعلوم انه لم يصل الى حد سلب ولا يتها بالكلية الا ترى انها تصلح شاهدة وناظرة في الاوقاف ووصية على اليتامى وذلك النقصان بالنسبة والاضافة ثم هو منسوب الى الجنس لجاز في الفرد خلافه الا ترى الى تصريحهم بصدق قولنا الرجل خير من المراة مع جواز كون بعض افراد النساء خير امن بعض افراد الرجال ولذلك النقص الغريزي نسب صلى الله عليه وسلم لمن يوليهن عدم الفلاح فكان الحديث متعرضا للمولين ولهن بنقص الحال وهذا حق لكن الكلام فيما لو وليت فقضت بالحق لما ذا يبطل ذلك الحق؟ (فتح القدير ص... ج...)

(۸) اعلاء السنن كښې هم هغه حقيقت لره داسې محقق بيان فرمائيلې دې چه دهغې دلائيل تقريباً په دوه صفحو باندې مشتمل دى (اعلاء السنن ص ۲۲، ۲۷ ج ۱۵).

د اعلاء السنن په هغه بحث كښې متعددو دلائيلوسره دې ثابتولو نه پس چه فقه حنفى كښې هغه موقع باندې د «جواز» نه «نفاذ مع الاثم» مراد دې ، آخر كښې خپلې دې دعوې «جوازبمعنى نفاذ» يا بالفاظ ديگر «نفاذبلاجواز» باندې واقعه جمل سره استدلال كړې دې چه صحيح نه دې .

څكه چه دلته د امارتِ عائشې رضى الله عنها قطعاً تصور قدرې هم نه وو ، اونه د جنګ وغيره څه خيال وو . صرف د قصاص مطالبې ته تقويت وركولو دپاره ددوى لخوا نه تائيد حاصلول مقصود وو چه دهغې تفصيل په «متفقه فيصله» كښې تيرشو .

د حضرت عائشې رضى الله عنها هغه اقدام لره هم صحابه كرامو رضى الله عنهم خوښ نه كړو او هغه ئې د حضوراكرم صلى الله عليه وسلم په وعيد «لن يفلح قوم ـ الخ» كښې داخل ګڼلو سره ناجائز وګرځولو . چه كله د قصاص په مطالبه كښې د حضرت عائشې رضى الله عنها په شموليت كښې دصحابه كرامو رضى الله عنهم په نزد څه جواز نه وو نو د دوى د تصور څه جواز كيدلې شو ؟

علاوه ددې نه نفاذ مع عدم الجواز تسليمولو او هغه دلائيلو سره د ثابتولو نه پس دهغه استدلال حاصل دا راوځى چه حضرت عائشه رضى الله عنها او د دوى همخيال صحابه رضى الله عنهم معاذالله ! ناجائز كار كولوسره د معصيت ارتكاب كړې دې ، حاشاوكلا. والله يعلم انهم برئيون من ذلک رضى الله عنهم ورضوا عنه .

بعضې ملحدينو د حضرت عائشې رضى الله عنها امارت ثابتولو دپاره د امام ابن تيميه رحمه الله تعالى ددې عبارت نه استدلال كړې دې : انما جعلها بمنزلة الملكة التي يأتمر بامرها ويطيعها (منهاج السنة ص... ج...)

په دې استدلال سره د حضرت عائشې رضى الله عنها امارت په ځاى د مستدل ملحد د انتهائى

جهالت اود بنکاره خیانت ثبوت ملاویږی . د منهاج السنة پوره عبارت لاندې ذکر کیږی
فان طلحة والزبیر کانا معظمین عائشه رضی الله عنها موافقین لها مؤتمرین بامرها وهما وهی من ابعد الناس عن الفواحش والمعاونة علیها . فان جاز للرافضی ان یقدح فیهما بقوله بای وجه یلقون رسول الله صلی الله علیه وسلم مع ان الواحد منا لو تحدث مع امرأته غیره حتی اخرجها من منازلها وسافر بها الی اخرة . مع ان ذلك انما جعلها بمنزلة الملکة التی یأتمر بامرها ویطیعها ولم یکن اخراجها لمطان الفاحشة الخ (حوالہ بالا)
امام ابن تیمیه رحمه الله تعالی په رومبی خلې د بې حیا رافضی دا بې حیا دروغ نقل کړی دی چه حضرت طلحة او حضرت زبیر رضی الله عنهما په ناجائزې طریقې سره حضرت عائشې رضی الله عنها لره خپل ځان سره بوتلې وه ، بیا هغه بې حیا رافضی ته جواب ورکړې دې چه هغه دوارو حضراتو زړونه د حضرت عائشې رضی الله عنها د عظمت نه معمور وو او د ملکې په شان ئې د دوی عظمت او اطاعت کولو .

په دې کښې اثبات د امارت مقصود نه دې بلکه مقصود دادې چه د ام المؤمنین کیدلو د وجه نه دهغوی په زړونو کښې د دوی د عظمت او اطاعت جذبه وه ، که چرته مقصود د امارت اثبات وې نو امام ابن تیمیه رحمه الله به د ښځې د امارت د جواز قائل وې . حالانکه هغه هغې لره ناجائز ګرځوی . اوپه هغه مسائلو کښې یی شمیری په کومو باندې چه د ټول امت اجماع ده چه دهغې تفصیل «متفقه فیصله» کښې د عنوان «اجماع امت» لاندې تیرشوې دې .

د دوی نیکه امام عبدالسلام رحمه الله تعالی هم منتقی الاخبار «باب المنع من ولایة المراة والصبی ـ الخ» کښې مستقل باب ایښې دې او هغه ئې په احادیثو سره ثابت کړې دې (نیل الاوطار ص ۲۷۳ج۸).

شجرة الدر

په دې سره د ښځې د سلطنت په جواز باندې استدلال په دوه وجوهو سره باطل دې .
(۱) دنیا کښې هرهغه قول اوعمل چه د شرعې د نصوصو خلاف وی مردود دې .
(۲) دا ډیره مکاره ښځه وه ، د ملک صالح د وفات نه پس ئې دهغه خوئ لره د مکر اوفریب په ذریعې په دردناکې طریقې سره وه وژلو اوپه ۲صفر سنة ۶۴۸هجری کښې یی په حکومت باندې تسلط قائم کړو . امراء او عوامو لره ئې د خوشحالولو دپاره په هغوی باندې د دولت باران وکړو . غټ غټ وظائف او زمکو ورکولوسره ئې دهغوی خولې بندې کړې .

بغداد کښې خلیفهٔ وقت ابوجعفرمستنصربالله ته علم وشو نوهغه د مصر امراؤ ته ډیرې بدې ردې او وئیلې . دهغه مکارې ښځې د معزولولو حکم ئې ورکړو او وې لیکل :
« که چیرته تاسو سره د سلطنت اهل خوک سړې پاتې نه وی نوموږ به خوک سړې در ولیږو ؟

آيا تاسو د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد نه دي اوريدلي :

«كوم قوم چه خپل معاملات د ښځي په حواله كړي هغه قوم هيچري كاميابيدلي نه شي»

د خليفه د دې اختار په رسيدلو باندې دا خبيثه ښځه پخپله د سلطنت نه دستبرداره شوه . په دې طريقه دهغې د حكومت ټوله موده د دوه مياشتو نه هم كمه وه (فوات الوفيات لابن شاكر الكتبى ص ۲۲۴ج۱ ، اعلام النساء ص ۲۸۲ج، مرآة الجنان لليافعى ص ۱۲۷ج ۴) فقط والله تعالى اعلم رشيداحمد : ۴شعبان سنه ۱۴۰۹هجرى

الحاق :

ددې تحريرنه پس د علامه قسطلانى رحمه الله تعالى د لاندينى عبارت په باره كښې استفسار مونږ ته راورسيدلو:

ومذهب الجمهوران المراة لا تلي الامارة ولا القضاء واجازه الطبرى وهى رواية عن مالك رحمه الله تعالى،

وعن ابى حنيفة رحمه الله تعالى تلي الحكم فيما تجوز فيه شهادة النساء (ارشادالسارى ص۳۰ ج۱۰)

د طبرى او دامام رحمهماالله تعالى د اقوالو تشريح په «متفقه فيصله» كښې د قاضى ابوبكر ابن العربى رحمه الله تعالى نه څه په داسې ډول نقل كړې شوې ده : **((وهذا نص فى ان المراة لا تكون خليفة ولا خلاف فيه ونقل عن محمد بن جرير الطبرى امام الدين انه يجوز ان تكون المراة قاضية ولم يصح ذلك عنه ولعله كما نقل عن ابى حنيفة رحمه الله تعالى انها انما تقضى فيما تشهد فيه وليس بان تكون قاضية على الطلاق ولا بان يكتب لها منشور بان فلانة مقدمة على الحكم الا فى الدماء والنكاح وانما ذلك كسبيل التحكيم اوالاستبانة فى القضية الواحدة))(احكام القران لابن العربى ص۳۰ ج۲)**

پاتې شو د امام مالک رحمه الله تعالى روايت ، نودهغې د لتون دپاره د مالكيانو په كتابونو كښې لاندې ځوارلسو مشهورو اومستندو كتابونو ته مراجعه وكړې شوه :

(۱)المدونة الكبرى للامام مالك رحمه الله تعالى،

(۲)المنتقى شرح موطا الامام مالك رحمه الله تعالى

(۳)بداية المجتهد للامام ابن رشد رحمه الله تعالى

(٤)اقرب المسالك الى مذهب الامام مالك رحمه الله تعالى،

(٥)الشرح الصغير على اقرب المسالك.

(٦)حاشية العلامة الصاوى رحمه الله تعالى على الشرح الصغير.

(۷) مختصر العلامة الخليل رحمه الله تعالى.

(۸) الشرح الكبير لمختصر العلامة الخليل رحمه الله تعالى.

(۹) حاشية العلامة الدسوقي رحمه الله تعالى على الشرح الكبير.

(۱۰) شرح منح الجليل على مختصر العلامة خليل رحمه الله تعالى

(۱۱) تسهيل منح الجليل على مختصر العلامة خليل رحمه الله تعالى.

(۱۲) جواهر الاكليل شرح مختصر العلامة الشيخ خليل رحمه الله تعالى.

(۱۳) التاج والاكليل لمختصر خليل رحمه الله تعالى.

(۱٤) مواهب الجليل لشرح مختصر خليل رحمه الله تعالى.

په ذکر شوو کتابونو کښې په يو کښې هم د امام مالک رحمه الله تعالى نه د جواز قضاء المراة کوم روايت نشته . مدونه کتاب القضاء کښې خو بيخی د قضاء المراة بحث نشته باقی ديارلسو کتابونو کښې عدم جواز بلکه ددې نه هم څه زيات د عدم نفاذ اود وجوب فسخ تصريح ده . البته مؤخرالذکر کتاب «مواهب الجليل» کښې د امام مالک رحمه الله تعالى شاګرد امام ابن القاسم رحمه الله تعالى نه د جواز روايت نقل کولو سره دهغې محمل بيی هم هغه ګرځولې دې کوم چه قاضی ابوبکرابن العربی رحمه الله تعالى طبری او امام رحمهما الله تعالى طرف ته منسوب کړې شوې دې . اوس هغه کتابونو سره متعلقه عبارات پيش کولې کيږی :

(۱) قال الامام الباجی رحمه الله تعالى: ((فاما صفاته (القضاء) فی نفسه فاحداها ان يكون ذكرا بالغا (الى قوله) فاما اعتبار الذكورة فحكى القاضى ابو محمد وغيره انه مذهب مالك. ودليلنا ما روى عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال لن يفلح قوم اسندوا امرهم الى امراة. ودليلنا من جهة المعنى انه امر يتضمن فصل القضاء فوجب ان تنافيه الانوثة كالامامة. قال القاضى ابو الوليد ويكفى فى ذلك عندى عمل المسلمين من عهد النبى صلى الله عليه وسلم لا نعلم انه قدم لذلك فى عصر من الاعصار ولا بلد من البلاد امراة كما لم يقدم للامامة امراة والله اعلم واحكم)) (المنتقى ص ج ۵)

(۲) وقال الامام ابن رشد رحمه الله تعالى: ((فاما الصفات المشترطة فى الجواز فان يكون حرا مسلما بالغا ذكرا عاقلا عدلا)) (بداية المجتهد ص ج ۲)

(۳) وقال العلامة احمد الدردير رحمه الله تعالى: ((شرط القضاء عدالة وذكورة)) (اقرب المسالك)

(٤) وقال فى الشرح: ((اى شرط صحته فلا يصح من انثى ولا خنثى)) (الشرح الصغير)

(٥) وقال العلامة احمد الصاوی رحمه الله تعالى: ((ای ولا ینفذ حکمها))(الشرح الصغیر ص ج)

(٦) وقال العلامة خلیل رحمه الله تعالى: ((اهل القضاء عدل ذکر))(مختصر العلامة خلیل)

(٧) وقال العلامة احمد الدردیر رحمه الله تعالى: (((ذکر) محقق لا انثى ولا خنثى))(الشرح الکبیر)

(٨) وقال العلامة الدسوقی رحمه الله تعالى: ((قوله لا انثى ولا خنثى) ای فلا یصح تولیتهما للقضاء ولا ینفذ حکمهما))(الشرح الکبیر ص ج)

(٩) وقال الشیخ محمد علیش رحمه الله تعالى فی شرح قول العلامة خلیل رحمه الله تعالى(اهل القضاء عدل ذکر فطن مجتهد ان وجد والا فامثل مقلد):

(((الخامس) صفات القاضی المطلوبة فیه ثلاثة اقسام شروط فی صحة تولیته وشروط فی دوامها وشروط فی کمالها، اشار المصنف الی الاول بقوله عدل الی قوله فامثل مقلد.

(ذکر) فلا تصح تولیته امراة لحدیث البخاری لن یفلح قوم ولوا امرهم امراة))(منح الجلیل ص ج)

(١٠) والشیخ المذکور لم یتعرض لهذا فی حاشیته علی شرحه المذکور فکانه قرر تمرة ثانیة

(١١) وقال الشیخ صالح عبد السمیع: (((ذکر) فلا تصح تولیته امراة لحدیث البخاری لن یفلح قوم ولوا امرهم امراة))(جواهر الاکلیل ص ج)

(١٢) وقال العلامة المواق رحمه الله تعالى: (((اهل القضاء عدل ذکر) ابن رشد القضاء خصال مشترطة فی صحة الولایة وهی ان یکون ذکرا حرا مسلما بالغا عاقلا واحدا فهذه ستة خصال لا یصلح ان یولی القضاء الا من اجتمعت فیه فاولی من لم تجتمع فیه لم تنعقد له الولایة وان انخرم شیء منها بعد انعقاد الولایة سقطت الولایة))(التاج والاکلیل علی هامش مواهب الجلیل ص ج)

(١٣) وقال الامام الحطاب رحمه الله تعالى فی شرح قول العلامة خلیل رحمه الله تعالى اهل القضاء عدل ذکر فطن مجتهد ان وجد والا فامثل مقلد):

((واعلم ان صفات القاضی المطلوبة فیه علی ثلاثة اقسام (الاول) شرط فی صحة التولیة وعدمه یوجب الفسخ (والثانی) ما یقتضی عدمه الفسخ وان لم یکن شرطا فی صحة التولیة (الثالث) مستحب ولیس بشرط فاشار المؤلف الی الاول بقوله اهل القضاء عدل الی قوله والا فامثل مقلد.

(ذکر) ش قال فی التوضیح وروی ابن ابی مریم عن ابن القاسم جواز ولایة المراة قال ابن عرفة قال ابن زرقون

الفقہ لہا تجوز فیہ شہادۃ. قال ابن عبد السلام لا حاجۃ لہذا التاویل لاحتمال ان یکون ابن القاسم قال کقول الحسن والطبری باجازۃ ولایتہا القضاء مطلقا (قلت) الاظہر قول ابن زرقون لان ابن عبد السلام قال فی الرد علی من شذ من المتکلمین وقال الفسق لا ینافی القضاء مانصہ وہذا ضعیف جدا لان العدالۃ شرط فی قبول الشہادۃ والقضاء اعظم حرمۃ منہا (قلت) فجعل ما ہو مناف للشہادۃ منافی للقضاء فکما ان النکاح والطلاق والعتق والحدود لا تقبل فیہا شہادتہا فکذلک لا یصح فیہا قضاؤہا انتہی)) (مواہب الجلیل ص ۸۸ ج ۶)

دا روایت مؤوله صرف د قضاء په باره کښې دي ، د ښځې ولایت بالاجماع جائز نه دي ، خلیفه ابو جعفر مستنصر بالله شجرة الدر ته سلطنت صغری یعني د لاندې درجې حکومت هم اجازت ورنه کړو او هغه ئې تیښتې ته مجبوره کړه ، چه دهغې تفصیل په عنوان «الشجرة الدر» کښې تیرشو ، چه هر کله ښځه د لاندې حکومت هم اهل نه ده نود امارت عظمیٰ اهل څنګه کیدلې شي ؟

(۱۴) قال الامام ابن رشد رحمه الله تعالی:

((قال عبد الوهاب ولا اعلم بینہم اختلافا فی اشتراط الحریۃ. فمن رد قضاء المرأۃ شبہہ بقضاء الامامۃ الکبری وقاسہا ایضا علی العبد لنقصان حرمتہا ومن اجاز حکمہا فی الاموال فتشبیہا بجواز شہادتہا فی الاموال، ومن رای حکمہا نافذا فی کل شیء قال ان الاصل ہو ان کل من یاتی منہ الفصل بین الناس فحکمہ جائز الا ما خصصہ الاجماع من الامامۃ الکبری)) (بدایۃ المجتہد ص ۴۴۹ ج ۲) فقط والله تعالی اعلم

عبرت کومه ښځه چه ددې تحریر باعثه جوړه شوه دهغې حکومت صرف شلو میاشتو پورې په مشکله وچلیدلو چه په ډیر بد انجام او انتهائی ذلت باندې ختم شو

رشید احمد ۱۶ رمضان ۱۴۰۹ هجری

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿كَتَبَ اللّٰهُ لَأَغۡلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِيۡ إِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيۡزٌ﴾

غلبهٔ اسلام

آیا اسلام د توري په زور سره خور شو؟

افاضات

حضرت فقیه العصردامت برکاتهم

تحریر

حضرت مفتی محمدابراهیم صاحب صادق آبادی مدظله

غلبهٔ اسلام

آیا اسلام د توري په زور سره خور شو ؟

د اسلام د دښمنانو له طرفه د اسلام په خلاف مسلسل دا پروپاګند کولې کېږي چه «اسلام په دنیا کښې د توري اود جبر او اکراه په ذریعې سره خور شوي دي».

په دي تحریر کښې

ددي تلبیس ابلیس مختصر مګر نهایت جامع جواب دی

آیا اسلام د توري په زور سره خور شو ؟

سوال - د اسلام دښمنان بالخصوص د مستشرقینو د طرف نه دا عام پروپاګند دي چه په دنیا کښې اسلام د توري په زور خورشوي دي . آیا په دي کښې څه د حقیقت عنصر هم شته یامحض د مخالفینو پروپاګند دي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د اسلام دښمنې هغه خلقو لره رانده کاره کړې دی او که نه نو له دغه پروپاګند نه به ئې وراندې دومره فکر کړې وو چه د مسلمان کيدلو مطلب دې په زړه سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم راوړلې شوی دين قبلول . که څوک په ژبه سره د مسلمان کيدلو په ځای صرف په ژبې سره د اسلام دعوی کوی نو هغه د شريعت په اصطلاح کښې منافق دې . د منافقانو دله د عامو کافرانو په نسبت بدترينه او خطرناکه دله ده . هغوی ته قرآن د «ان المنافقين في الدرک الاسفل من النار» وعيد اوروليي دې . تاريخ ګواه دې چه دوی اسلام ته د عامو کافرانو په نسبت څه زيات نقصان رسولې دې . اوس دې فکر وکړې شی چه جبر کولو سره يو کافر بندې زباني کلمه ويلې کيدلې شی . دهغه د زړه نه خو کفر نه شی ويستلې کيدلې . دهغه معترضينو په قول ګويا رسول الله صلی الله علیه وسلم د تورې په زور کافرانو لره منافق جوړولو سره نوره هم دهغوی سره دښمنی پيدا کړه . دهغې نه څه فائده ؟ غرض د تورې په زور چالره مسلمان جوړول د عقل اود نقل د نګاه نه ممکن نه دی او دا پروپاګند د خنګلی خر نه زيات حيثيت نه لری . مګر ددې پروپاګند په شاه د چالاکو اروپايان دا ابليسی اصول دی چه

«دروغ وائې او دومره وائې چه دنيا هغه رښتياګڼل شروع کړی»

ددې وجه نه مونږ ددې پروپاګند سطحيت او ددې دروغژن توب يو څه اندازه تفصيل سره بيانول غواړو

دا دروغ مستشرقينو را اوچت کړی دی ، هم هغوی دې لره بار بار هوا ورکوی ، که چرته په دې کښې د يوې ذرې برابر هم وزن وای نو دهغوی اسلاف (کفارِ مکه) نه به نه وې پاتې شوی ، حالانکه هغوی داسلام په خلاف هره حربه استعمال کړه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئې شاعر ، ساحر ، کاهن ، کذاب ، مفتری ، غرض هرڅه اووئيل مګر دا دروغ دهغوی په خواخاطر کښې هم رانغلل يا که راغلی هم وی نو دوئ دخپل ترديد مترادف ګڼلو سره دهغې د اشاعت همت و نه کړې شو

که چيرته په جبراو اکراه سره خلق مسلمانان جوړکړې شول نو اشاعت اسلام کښې دومره اوږده موده ولې صرف شوه ؟ د تورې په زورخو د کلنو کار په ورځو بلکه په ساعتونو کښې پوره کيدلې شول ، آخرڅه وجه ده چه د ديارلسوکالو په اوږده موده کښې صرف په شميريوڅوکسان مسلمانان کيدلې شی چه مدينه منوره کښې له جبری کار روانې نه څه څيز مانع وو؟ دلته خو اسلامی رياست قائم شو ، د ځان قربانولو فوج هم ميسر شو ، حالانکه ټوله دنيا خبره ده چه آخر وخته پورې دمدينې منورې هم پوره آبادی مسلمانه نه شوه ، په هغه مرکز اسلام کښې يهودی ، مشرک ، منافق ټول اوسيدل

معترض دې اووائی چه جبر په کومی ذريعې سره وکړې شو ؟ مال ، دولت جاه اقتدار با د نورو

دنیوی مفادو په دهوکې ورکولو؟ دیارلسو کالوپورې خو مسلمانان بخپله انتهائی درجه مظلوم د بد حالئ په عالم کښې وو ، هغوی سره هیڅ خیز نه وو ، د هجرت نه پس ابتدائی دور هم د ابتلاء دور وو ، البته د ۸ هجرئ نه پس د فتوحاتو دور شروع شو ، مگر هغه هم په دې شان سره چه د لرې لرې نه به قبائل عرب راتلل او په اسلام به مشرف کیدل ، دهغه دور په مسلمانانو کښې نامور د عربو امراء ، حکام اوسلاطین او رؤساء اواغنیاء شامل دی ، دا خلق دچا په توري سره مسلمانان شول ؟ د اسلام راوړلو نه پس دې حضراتو دخپلو علاقو نه زکوٰة اوصدقات جمع کولوسره بارگاهِ نبوت کښې پیش کولو ،د اخستلو په ځائ په نورو باندې مال خرج کوی ، دا څنگه جبر دې ؟

په هر حال : که چیرته دنیا په اسلام کښې په داخلیدلو باندې مجبوره کیدلې نود جزئې مقررولو بیا څه مقصد وو ؟ حالانکه عین په هغه حالاتو کښې چه هرکله د اسلام ترقی په عروج کښې وه په لاکهونو کسانو اسلامی ملکونو کښې لږه شانتې سالانه جزیه ورکولوسره د امن او د عیش عشرت ژوند تیرولو ، په هغې باندې د بوډئ ګانو زنانو ، ماشومانو ، غلامانو ، معذورو اود تنگدست خلقو نه علاوه راهبانو لره هم د جزئې ادا کولو نه مستثنیٰ اوساتلې شول ، داسې مخلوق لره جبراً مسلمانان جوړول څه مشکل وو ؟

که د اسلام راوړونکو خلقو هم یو سرسری نظر سره جائزه واخستلې شی نو ددې دروغو حقیقت ښکاره کیږی ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حیوٰة طیبه کښې اسلام راوړلو والا څینې خو د متوسط طبقې خلق وو مگر اکثرو صحابو د اوچتې طبقې سره تعلق لرلو ، یا بیا مملوک او ماتحت کسان وو ، په ړومبنی قسم کښې حضرت ابوبکر ، عمر ، عثمان ، عبدالرحمٰن بن عوف ، خالدبن ولید ، عمروبن عاص رضی الله عنهم سرِ فهرست دی

ددې طبقې ډیرکسان خو جابر او زورور وو ، دمسلمانیدلو نه وړاندې د اسلام په دښمنئ کښې مخکښې وو ، که چرته فرض کړې شی چه دې حضراتو اسلام کښې د داخلیدلو نه پس په خلقو باندې جبر اوکړو نو ودې ښودلې شی چه په دې جابرینو باندې چا جبر کړې وو ؟

او دویمه طبقه خو د مسلمانیدلو نه پس مسلسل دیارلسو کالو پورې مظلومه وو ، په دوی کښې حضرت بلال ، صهیب ، یاسر ، عمار ، سمیه ، زنیره رضی الله عنهم سرفهرست دی .

په دوئ باندې ډیر ظلمونه وکړې شول ، بعضو لره شهیدان کړې شول ، مگر په ژبه د ټولو هم یو نعره وه : «دلته زیاتیږی ذوقِ جرم د هرې سزا نه پس»

آخر دوئ د اسلام نه ولې منحرف نه شو؟

حقیقت دادې چه په اسلام کښې داخلولو دپاره یو فردِ بشر باندې هم کله جبر نه دې کړې شوې ، البته د اسلام نه د اړولو دپاره جبر کړې شوې دې او هره ممکنه حربه آزمایل شوې ده .

د اسلام د مساوات نظریه او نظام عدل کتلوسره هرذی شعور فیصله کولې شی چه په دې

مقدس مذهب کښې د جبر هیڅ گنجائش نشته . بلکه په اسلام کښې له داخلیدلو نه وړاندې یو غیر مسلم نه باربار فکر پیښیږی چه زه به په اسلام کښې قدم ایښودلو سره څه اوموم ؟ دنیا خبره ده چه اسلامي قوانین د مالداره . فقیر . شریف او وضیع بلکه د بادشاه دپاره یوشان نافذالعمل دی . په هغې کښې دچا سره هم څه رعایت نشته . دهغې پرقیدونکی او روښانه مثالونه تاریخ اسلام کښې ثبت دی

د جبلة بن ایهم واقعه خو د تاریخ اسلام مبتدی هم پیژنی . هغه نومسلم بادشاه یو فقیرېې نوا ته په غصه کښې راتللو سره یو سپیړه ورکړه نو امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د قصاص فیصله صادره کړه . ده د یوې شپې مهلت اخستلو سره هم هغه شپه تښتیدلو سره مرتد شو اود اسلام بدترین دښمن جوړ شو اوټول عمر یې اهلِ اسلام تنګول . په هر میدان کښې ئې دهغوی سره مقابله کوله . که چیرته ئې دهغه څه لږ شانتې رعایت کړې وې نو دا واقعه به نه پیښیدله . مګر د اسلام په لازوال قوانینو کښې داسې څه ګنجائش نشته .

هم دغه شان د عربو بعضې مغرورو او با اثره خلقو د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې راتللو سره درخواست وکړو چه مونږ په دې شرط مسلمانیږو چه مونږه په اسلامی حکومت کښې حصه دار جوړکړې شی . مګر حضورصلی الله علیه وسلم دا درخواست قبول نه کړو .

بعضې نورو قبائلی مسلمانانو څه رعایت طلب کړو چه مونږ دې د زکوٰة یا مونځ نه مستثنی وساتلې کړې شو مګرحضورصلی الله علیه وسلم داسې درخواست هم رد کړو په کمالِ استغناء سره.

داسې قسم واقعات په لوئ تعداد سره ملاویږی . څوک هوش اوحواس لرلو والا انسان دې اووائی چه په داسې مذهب کښې چالره مجبورول او په اسلام کښې دداخلولو څه فائده ده ؟

د حضورصلی الله علیه وسلم په حیوٰة طیبه کښې اسلام په پوره جزیرهٔ عرب کښې خور شو د خلفاءِ راشدینو په دور کښې خو د اسلام نغاره په څلورکونجه دنیا کښې وغږیدله . په لاکهونو انسانان په اسلام مشرف شول ، آیا دا مستشرقین یوځائ کیدلوسره په هغه پوره دور کښې دیو متعین فرد نشاندهی کولې شی چه هغه لره په جبر اواکراه سره مسلمان جوړ کړې شو ؟

ددې برعکس هنود یهود نصاریٰ چه په کومو ذرائعو سره دنیا لره پخپل مذهب کښې د راوستلو کوشش کوی هغه د دنیا په وړاندې دی ، د مال دولت . زرو . زمکې غرض د دنیا هر لالچ ورکولو سره خلق د دوئ لخوا ښکار کیږی .

دا ضرور ده چه د مرتد سزا په اسلام کښې قتل ده . دا د اسلام قاطعه فیصله ده . په دې کښې چاته که شبه وی نو باب المرتد والبغاة کښې د رساله « القتل المشتد لقتل المرتد » مطالعه دې وکړی محمدابراهیم نائب مفتی دارالافتاء والارشاد ، ۱۷ شعبان ۱۴۱۳ هجری

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ .

وَلَوْكَانَ رَفْضًا حُبُّ اٰلِ مُحَمَّدٍ فَلْيَشْهَدِ الثَّقَلَانِ اَنِّیْ رَافِضِیْ

ذبُ الجهول عن سبطِ الرسول

صلی الله علیه وسلم

*د حضرت حسین رضی الله عنه په باره کښې روافض اوخوارج دافراط اوتفریط ښکار او غلو کښې مبتلا دی

*په دې رساله کښې د صراطِ مستقیم اود راهِ اعتدال وضاحت کړې شوې دې چه دا مذهب د اهل السنت والجماعة دې.

****

******

حضرت حسین رضی الله عنه د یزید بغاوت ولې وکړو ؟

سوال :- یو سړې وائی چه څنګه حضرت ابوبکررضی الله عنه حضرت عمر رضی الله عنه له دخلافت دپاره منتخب کړو . همدغه شان حضرت امیرمعاویه رضی الله عنه خپل ځوئ یزید له دخلافت دپاره منتخب کړو ، اوځنګه چه د حضرت ابوبکر، عمر ، عثمان ، علی او حسن رضی الله تعالی عنهم بیعت وشو هم هغه شان د یزید هم بیعت وشو . لهذا امام حسین باغی شو اود باغی حکم په قرآن کښې مذکور دې ،  ﴿فَإِنْ بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَىٰ فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي﴾ لهذا د بغاوت د وجه نه امام حسین واجب القتل شو ، جناب ګزارش دې چه ددې پوره حقیقت واضحه کولوسره زمونږ شک اوشبهه رفع کړئ ، بینوابیانا شافیا ، توجروا اجراوافیاً .

الجواب باسم ملهم الصواب : دهغه سړی دا باطل خیال په اسلام کښې د انتخابِ خلیفه د اصولو نه جهالت او اسلامی تاریخ نه ناواقفیت باندې مبنی دې . اسلام کښې د انتخابِ خلیفه دپاره د ولی العهدی د جاهلانه رسم هیڅ ګنجائش نشته چه خلیفهٔ وخت چه څنګه غواړی خپل ولی العهد مقررکړی . اسلام کښې د انعقادِ خلافت څلور صورتونه دی . بیعت ، استخلاف ، شوری ، استیلاء ، ددې څلورو واړو د ضرورت مطابق تفصیل لیکلې کیږی :

(۱) بیعت اهلِ حل والعقد بالاتفاق چالره خلیفه منتخب کړی . څنګه چه د حضرت ابوبکررضی الله عنه انتخاب وشو

(۲) استخلاف خلیفهٔ وخت یو څو ذی صلاح خلقو سره مشوره وکړی او دچا په باره کښې وصیت وکړی چه څما نه پس به دا سړې خلیفه وی څنګه چه حضرت ابوبکررضی الله عنه د حضرت عثمان عبدالرحمن بن عوف ، سعید بن زید ، اسیدبن حضیر او مهاجرینو اوانصارو رضی الله عنهم اجمعین او د نورو اهلِ حل والعقد سره مشوره وکړه او حضرت عمررضی الله عنه یې منتخب کړو (اسد الغابه ص ۱۲۸ ج ۴)

بذریعه استخلاف انعقادِ خلافت دپاره درې شرطونه دی:

(۱) خلیفهٔ اول کښې به د خلافت ټول شروط موجود وی.

(۲) خلیفهٔ ثانی به هم د ټولو شروطو د خلافت مستجمع وی.

(۳) خلیفهٔ اول به د خلیفهٔ ثانی په انتخاب کښې اهل حل وعقد سره مشور کړې وی

(۳) شوریٰ: خلیفهٔ وخت دیو څو اهلِ حل والعقد خلقو شوریٰ متعین کولوسره دا وصیت وکړی چه څما نه پس دې دا خلق په اتفاق سره پخپلو کښې یو تن لره خلیفه منتخب کړی څنګه چه حضرت عمررضی الله عنه شپږ رکنی شوریٰ متعین کړه دهغې په ذریعې سره دحضرت عثمان رضی الله عنه انتخاب وشو (صحیح البخاری)

(۴) استیلاء اوتغلب: یوسړې د خلیفهٔ وخت د انتقال نه پس جبرا وقهراً مسلط شی

د خروج د جواز وجه

پورته بیان شوی دی چه بذریعه استخلاف انعقادِ خلافت دپاره خلیفه ثانی کښې د ټولو شرائطِ خلافت وجودشرط دې . بل چا کښې دخلافت د شرائطو وجود اوعدم سره متعلق د دوو کسانو په رایه کښې اختلاف کیدلې شی چنانچه یزید کښې دخلافت د شرائطو د وجود په باره کښې دحضرت معاویه اود حضرت حسین رضی الله عنهما رائې مختلفې وې . د حضرت معاویه رضی الله عنه په نزد ټول شرائط موجود وو اود حضرت حسین رضی الله عنه په نزد ټول یا بعضې مفقود وو . دحضرت معاویه رضی الله عنه د رائې مطابق یزید لره خلیفه جوړول جائز وو او د حضرت حسین رضی الله عنه د رائې مطابق د شروطو د نشتوالی د وجه نه د هغه استخلاف سره د یزید خلافت منعقد شوې نه وو .

بذریعه بیعت انعقادِ خلافت دپاره د ټولو اهل حل والعقد اتفاق ضروری دې . د یزید په باره کښې داهلِ حل والعقد اتفاق نه وو شوې . ددې وجه نه بذریعه بیعت هم خلافت منعقد نه شو

بالاخر بذریعه استیلاء وتغلب دیزید خلافت منعقد شوې وو مګر حضرت حسین رضی الله عنه چه کوم وخت د یزید په مقابله کښې وتلې وو هغه وخته پورې د یزید په پوره طورباندې استیلاء وتغلب نه وو شوې . دجمله مؤرخینو په اتفاق سره دا امر ثابت دې چه حضرت حسین رضی الله

عنه کله د اهلِ کوفې په دعوت باندې وتلې وو هغه وخته پورې د یزید حکومت منعقد شوې نه وو . هغه وخته پورې نه د حجاز مرکزی ښارونو دهغه حکومت لره تسلیم کړې وو او نه د عراق خلقو بیعت کړې وو، صرف د شام خلقو د یزید خلافت لره تسلیم کړې وو مګر مکه ، مدینه ، کوفه وغیره د مرکزی اسلامی ښارونو د استصواب رائې نه سوا صرف د اهلِ شام دا مرتبه نه وه چه د خلافت اسلامیه مسئله په کورکښې په ناسته باندې وکړی ، هغه وخته پورې عام مسلمانان خو نرې خبره ده پخپله د حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه مقرر شوی امراء د آئنده خلیفه په باره کښې مذبذب وو ، اهلِ کوفه حضرت حسین رضی الله عنه طرفه ته ډیر په وضاحت سره لیکلی وو چه یه دې وخت کښې مونږ باندې هیڅوک امیرنشته دې تاسو تشریف راوړئ ، شاید ستاسو په وجه الله تعالی مونږ په هدایت باندې جمع کړی ، قصرِامارت کښې نعمان بن بشیرضرور موجود دې مګر مونږ هغه پسې نه د جمعې لمونځ کؤو اونه د اخترونو ، که چیرته مونږ ته ستاسو د راتګ یقین وشی نومونږ به هغه لره د کوفې نه اوباسو (الامامة والسیاسة لابن قتیبه ج۲ صفحه ۲)

پخپله د کوفې امیر نعمان بن بشیرته چه کله د حضرت حسین رضی الله تعالی عنه د راتګ خبر ورسیدلو نو هغه صفا صفا اووئیل : (لابن بنت رسول الله صلی الله علیه وسلم احب الینا من ابن بجدل) له همدې وجه نه یزید نعمان بن بشیر لره معطل کولوسره دهغه په ځائ عبیدالله بن زیاد لره دکوفې امیر جوړولو سره ولیږلو مګر دهغه د رسیدلو نه وړاندې دمسلم بن عقیل په لاس باندې د دیرش زرو نه زیاتو کسانو بیعت کړې وو ، د حجاز د مرکزی آبادیانو هم تقریباً دا حال وو ، دې وخته پورې د یزید د حکومت منعقد کیدل خو څه کوې هرځائ باندې پټ او ښکاره هررنګې دهغه مخالفت عام وو ، هغه حالت کښې حضرت حسین رضی الله تعالی عنه باندې شرعاً فرض وو چه دهغه په نظر کښې چه کوم سړې د خلافت اهل نه وو هغه لره برسرِاقتدار راتللو نه د بندولو دپاره دجهاد په میدان کښې را وه وځی خصوصاً په هغه وخت کښې چه د هر طرف نه د مسلمانانو نظرونه د دوئ د رهنمائې منتظروو او هغه ذمه دارئ لره د قبلولو درخواستونه جاری وو .

غرض داچه د حضرت حسین رضی الله تعالی عنه دا اقدام دیو قائم شوی حکومت په مخالفت کښې نه وو چه دهغې نه تعبیر په بغاوت سره وکړې شی بلکه د دوئ علم او فضل اود دینی مرتبې دوجه نه دا ذمه داری دوئ باندې لازمه کیدله چه د دوی په نظر کښې چه کوم خلق نا اهل دی هغوی لره برسرِاقتدار راتللو نه بند کړی ، مګر دحضرت حسین رضی الله تعالی عنه کوفې ته رسیدلو نه وړاندې وړاندې په حالاتوکښې دومره په تیزئ سره تغیر راغې چه دهغه اقدام شرعی حیثیت بالکل بدل شو ، یعنې اهلِ کوفه دمسلم بن عقیل سره غداری کولوسره عبید الله بن زیاد سره متفق شول اومسلم بن عقیل لره ئې قتل کړو او حجاز کښې هم د یزید دپاره دیرے تیزئ سره حالات سازګار شو اودخلقو نه طوعاً وکرهاً دیزید دپاره بیعت واخستلې شو

حضرت حسین رضی الله تعالی عنه نه چه کله معلومه شوه چه د یزید حکومت منعقد شوې دې نو دوئ د خلافت نه دست بردار کیدلو سره واپس مدینې ته د راتللو فیصله کړې وه . مګر د دوئ د دولې نه د دښمن فوج ګیره واچوله او واپس مدینې ته ئې پرې نه ښودل . د عبیدالله بن زیاد د طرف نه د فوجی افسر عمرو بن سعد په وړاندې حضرت حسین رضی الله عنه درې تجویزونه پیش کړل

(۱) ما مدینې ته واپس پریږدئ

(۲) ما د ترکو سرحد ته پریږدئ دې دپاره چه باقی ژوند په جهاد کښې تیر کړم

(۳) ما یزید سره ملاؤ کړئ . زه به پخپله دهغه سره فیصله وکړم . بلکه بعضې روایاتو کښې د یزید په لاس باندې د بیعت کولو قصد هم ذکر دې : اما ان اضع یدی فی ید یزید (طبری ص-- ج-) البدایة والنهایة ص-- ج-) پخپله د شیعه ګانو ممتاز عالم هم پخپل کتاب الشافی مطبوع ایران ص ۴۷۱ کښې دې روایت لره نقل کړې دې . البدایة والنهایة کښې دیو راوی قول دې چه هغه دا الفاظ د حضرت حسین رضی الله عنه نه اوریدلی نه دی . مګر د اثبات روایات زیات دی . علاوه ددې نه اصولاً هم اثبات لره په نفی باندې ترجیح ده . دا روایت په دې باندې نص دې چه حضرت حسین رضی الله تعالی عنه د یزید خلافت لره تسلیم کړې وو . بالفرض که دا روایت هم نه وې نود یزید د حکومت لاندې د جهاد دپاره د تللو درخواست کول د یزید خلافت لره تسلیمولو باندې واضحه دلیل دې .

عمرو بن سعد دا تجویزونه ابن زیاد طرف ته لیکلی واستول او ابن زیاد ته ئې مشوره ورکړه چه په دې کښې یو تجویز قبلولو سره دې هغه پریښودلې شی مګر د شمر په وینا باندې ابن زیاد دې تجویزونو لره رد کړل . او حضرت حسین رضی الله عنه لره یې د اهل وعیال سره د قید کولو حکم لیکلو سره را ولیږلو . هغه وخت د دوی دپاره صرف دوه لارې وې :

(۱) خپل ځان سره د اهل وعیال ، ګرفتاره کړی او ذلت قبول کړی .

(۲) مردانه طریقې سره مقابله وکړی او شهید شی .

شریعت چالره هم نه مجبوره کوی چه خپل ځان او اهل وعیال د ظالمانو په قبضه کښې ورکړی او ذلت قبول کړی . لهذا حضرت حسین رضی الله تعالی عنه د کمالِ عزیمت لاره اختیارولو سره شهادت قبول کړو

دا ذکر شوې تفصیل په ابن جریر . کامل . یعقوبی . شرح نهج البلاغة . الامامة والسیاست امام سید مرتضی . مقتل ابن احنف . تاریخ کبیر للذهبی وغیره تاریخی کتابونو کښې موجود دې ددې تفصیل نه معلومه شوه چه د حضرت حسین رضی الله تعالی عنه د خروج په وخت کښې یو حکومت هم موجود نه وو او یو خلافت هم قائم شوې نه وو . چه کله د یزید خلافت قائم شو نو

حضرت حسین رضی الله تعالی عنه د خپلې ارادې نه رجوع کړې وه.
دا وئیل چه «دحضرت حسین رضی الله تعالی عنه دا اقدام د یزید د حکومت په خلاف بغاوت دې» بالکل غلط دې او دې امر باندې دلیل دې چه قائل ته خونه د انتخابِ خلیفه اسلامی قانون سره څه واقفیت شته اونه اسلامی تاریخ سره څه ممارست. فقط والله تعالی اعلم
۲۳ربیع الاول سنه ۷۳هجری

په «خلافت معاویه ویزید» کتاب باندې تبصره

الحمد لله و کفی وسلام علی عباده الذین اصطفی، اما بعد: خوکاله وراندې چه کله د کتاب «خلافتِ معاویه ویزید» سلسله په عنوان د «الحسین پرتبصره» بعضې ماهانه رسالوکښې شروع شوه نو احبابو دې طرف ته توجه مبذول کړه او خومره خومره چه دا سلسله زیاتیدله په دې باندې د اظهارِ خیال اود تبصرې دپاره اصرارِ شدت اختیاریدلو. مګر راقم الحروف په دې باندې د قلم اوچتیدلو نه په لاندې وجوهو سره همیشه اعراض کولو.

(۱) دا مسئله او داسې قسم په سلګونو مسائل څما په نظر کښې هیڅ اهمیت نه لری ددې وجه نه دې طرف ته توجه کول د قیمتی وخت ضایع کول دی. دا مسئله خو نه د دین په اصولو کښې ده اونه په فروعو کښې. آخرت کښې څه حساب کتاب دې سره متعلق نه دې. انتهائی د افسوس مقام دې چه د دین اهم مسائل چه په هغې باندې أخروی نجات موقوف دې د نن سبا مسلمانانو ته دهغې نه قطعی طور باندې د بې خبره کیدلو باوجود دهغې د علم حاصلولو توفیق نه کیږی. د اودس او مانځه دمسائلو ورته معلومات نشته. حالانکه د دین په احکامو کښې مونځ اودمونځ احکام مشهور او آسان دی. چه هرکله پنځګانه مونځونو سره متعلق د علم دا کیفیت دې نونورو عباداتو، معاملاتو، بیوع او اجاراتو، آداب او اخلاقو سره متعلق دهغې د احکامو حال به څه وی؟

غرض داچه د کومو امورو مکلف دی اوپه آخرت کښې دهغې تپوس به کیږی او هغه مدارِ نجات دی دهغې نه خو داسې غفلت چه ګویا دخپلې کامیابۍ سره ئې هیڅ کار نشته. نه دجنت خواهش اونه د جهنم نه ویره. نه د الله رضا مطلوب اونه د هغه دغضب او انتقام نه د بچ کولو فکر شته. دخپل نفس سره خو دومره بې وفائی چه د هلاک مترادف دې اود نورو د تزکیې فکر. شپه او ورځ هم دا مشغله. شعر

تجھ کو پرائی کیا پڑی اپنی نبیڑ تو

﴿كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ﴾، ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾، ﴿تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ (۱۳۴)﴾، په شان نصوصِ صریحه نه قطع نظر

ادنی فکر لرلو والا سړي هم دا فیصله کولې شي چه د یو عیبونو نه د ډکې مجسمې حکم او منصف جوړیدلو سره اغیار خصوصاً د صحابه کرامو رضی الله عنهم او د نورو اکابرِ امت د حسناتو او سیئاتو جائزه اخستل او دهغوی دعیوبو دتنقید او تنقیح په در کښې کیدل څومره لویَ حماقت دي . شعر

نہ تھی حال کی جب ہمیں اپنی خبر رہے دیکھتے لوگوں کے عیوب وہنر
پڑی اپنے گناہوں پہ جو ایک مسلم کے لئے بست تو نگاہ میں کوئی برا نہ رہا

(۲) د خبرو موضوع تفسیق او تعدیل دې چه د یو مسلمان دپاره ډیره مشکله لاره ده . یو طرف ته ((قوله تعالی: ﴿فَلَا تُزَكُّوٓا۟ أَنفُسَكُمْ ۖ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ ٱتَّقَىٰٓ﴾ . وقول النبی صلی الله علیه وسلم لاتزکوا علی الله احدا . وقول عائشة رضی الله عنها عصفور من عصافیر الجنة . وقول ام العلاء رضی الله تعالی عنها رحمة الله علیك اباالسائب فشهادتی علیك لقد اکرمك الله)). باندې انکار کول . اود حضرت سعد رضی الله تعالی عنه د قول ((والله انی لاراه مؤمناً)) په جواب کښې ((اومسلماً)) ارشاد فرمائیل . او بل طرف ته : قوله تعالی ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱجْتَنِبُوا۟ كَثِيرًا مِّنَ ٱلظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ ٱلظَّنِّ إِثْمٌ ۖ وَلَا تَجَسَّسُوا۟ وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا﴾ . وقول النبی صلی الله علیه وسلم سباب المسلم فسوق وقتاله کفر . لایرمی رجل رجلا بالفسوق ولا یرمیه بالکفر الا ارتدت علیه ان لم یکن صاحبه کذلك . هلا شققت قلبه . ظنوا بالمؤمنین خیراً . ان الظن اکذب الحدیث واذکروا موتاکم بخیر . لا تسبوا الاموات فانهم قد افضوا الی ما قدموا . په شان ارشادات په هغه مسئله کښې د ژبې خوزولو مجال ختموی .

(۳) د ژبو خوزولو دپاره بدقسمتئ سره د صحابه کرامو رضی الله عنهم اود تابعینو رحمهم الله مقدس جماعت لره هدف منتخب کولې کیږی چه دهغوی د مدحو او مناقبو نه د قرآن اوحدیث ذخائر او دفاتر ډک دی چه دهغوی په عبادت باندې فرښتې پسخیدلې . چه د هغوی ژوند د امت دپاره اُسوۂ حسنه ده . اودهغوی افعال او اقوال ترقیامته پورې د راتلونکې امت د ایمان مدار او معیار دې . ﴿لِيَغِيظَ بِهِمُ ٱلْكُفَّارَ﴾ . الله الله فی اصحابی لا تتخذوهم من بعدی غرضا من احبهم فبحبی احبهم ومن ابغضهم فببغضی ابغضهم . خیرالقرون قرنی ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم . النجوم امنة للسماء واصحابی امنة لامتی . ان من الایمان حب الانصار وان من النفاق بغض الانصار (حب المهاجرین وبغضهم بالاول) په شان نصوصو سره دهغه مقدسې ډلې محبت لره مؤکد بلکه عینِ ایمان اودهغوی سره بغض لره معصیت بلکه عین کفر وګرځولې شو

دصحابه کرامو رضی الله عنهم په اختلاف باندې د ژبو خوزولو واضح مثال دا کیدې شی چه د دوو شهزادګانو اختلاف کتلوسره چېراسی حکم جوړشی او دهغوی فیصله شروع کړی اوهغوی ته بدې ردې او وائی ، غور وکړئ چه داسې حکم باندې به د بادشاه غیظ اوغضب څومره وی ؟

(۴) د زیرِ بحث عنوان حقیقته پورې رسیدل ګران بلکه متعذر دی ، دهغه مسئلې تاریخ دومره ګډوډ دې چه داصلِ واقعې تنقید اوتنقیح ناممکن دې ، د سبائی دلې په سازشونو سره چه کله حدیث هم محفوظ‌پاتې نه شو ، حالانکه په هغې کښې د تنقیدِ رجال پوره اهتمام وی نو د تاریخ ملوث نه کیدل به څنګه ممکن نه وی؟ ، په غور کولو سره به معلومه شی چه تاریخ باندې کامل طور باندې د سبائی دلې تصرف پاتې شوې دې ، او دروغ ، بهتان تړل ، وضع روایات ، دهوکه ددې دلې امتیازی نښه بلکه دهغوئ عینِ ایمان دې.

چه کله یو وزیراعظم چه د قوم محبوب ترین مشر هم وو دهغه علی الاعلان د قتل د واقعې د تحقیق نه تر ننه پورې حکومت عاجز دې ، حالانکه د تحقیق جدید ذرائع داسې ایجاد شوی دی چه په هغې باندې فخر کیږی او بیا تحقیق کولو والا پخپله حکومت دې ، نود وړاندې پیړیو د واقعې د تحقیق تصور څنګه صحیح کیدلې شی ، خصوصاً چه هرکله دیارلس پیړئ تاریخ د دښمنانو په لاسونو کښې وو او هغوی د خپلې منشاء مطابق د تاریخ رُخ اړولو را اړولو ، قال الامام الغزالی رحمه الله تعالی ومن زعم ان یزید امر بقتل الحسین رضی الله تعالی عنه او رضی به فینبغی ان یعلم به غایة الحماقة فان من حقیقة من الذی امر بقتله ومن الذی رضی به ومن الذی کرهه لم یقدر علی ذلك وان کان الذی قد قتل فی جواره وزمانه وهو یشاهد فکیف لو کان فی بلد بعید وزمن قدیم قد انقضی فکیف یعلم ذلك انقضی علیه قریب من اربع مائة سنة فی مکان بعید وقد تطرق التعصب فی الواقعة فکثرت فیها الاحادیث من الجوانب فهذا الامر لا یعلم حقیقة .(وفیات الاعیان ج ص ۳۰) س

(۵) د سبائیانو د طرف نه شپه او ورځ خرافاتو او اسلافو باندې الزاماتو اود هغوی په شان کښې د ګستاخیو سلسله موثره د اسلافو نه د دفاع دپاره په دې بحث کښې په پریوتلو باندې مجبوره کوی ، په دې حالاتو کښې د سبائیانو د سازشونو صحیح او معقول علاج څو دادې چه د اسلافو د تفسیق اوتعدیل اود هغوی د ایمان اود کفر په ځائ په خپله د سبائیانو د ایمان د تحقیق مسئله پیش کړې شی اود هغوی نه دهغوی د ایمان د اثبات مطالبه وکړئ شی حالانکه دهغوی په نزد د قرآن کریم د تحریف مسئله په متواتراتو کښې ده او په دې قرآن کښې یو حرف هم صحیح نه دې (العیاذبالله)

په اصل کښې سبائی دله دخپل ایمان حقیقت لره د پټولو په غرض سره خبره بدلوی او د

اسلافو د ایمان اوکفر موضوع بیانوی . په همدې صورت کښې د دفاع په غرض زمونږه په دې بحث کښې مشغول کیدل دهغوی کامیابی ده . همدارنګه د بحث موضوع همیشه داسې امر کیدل پکار دی چه په هغې کښې کامیابی فائده منده وی او کله د عوارضو د وجه نه سطحی او عارضی ناکامئ کښې د ضرر څه خطره نه وی یعنې فائده مظنون او عدم ضرر متیقن وی . ددې وجه نه په هرلحاظ سره د اسلافو د کردار په ځائ هم د سبائیه ایمان او کردار لره موضوع بحث جوړول موزون او معقول دی، پس د سلفو د کردار په موضوع باندې بحث دپاره زمونږه تیاریدل زمونږ کم نظری او کوتاهی ده .

په اول کښې د ذکر شوو وجوه په بناء باندې خما په نزد په دې مسئله کښې د بحث هیڅ ګنجائش نه وو . نو له همدې وجه نه په دې باره کښې مې هر استفسار لره ټال ورکولو تردې پورې چه «الحسین پرتبصره» کتابی شکل کښې د «خلافت معاویه ویزید» په نوم سره شائع شو . هغې باندې استفساراتو کښې نوره اضافه شروع شوه تردې پورې چه په خپله د مؤلف کتاب د طرف نه هم د تبصرې دعوت ورکړې شو ، په هغه حالاتو کښې زما یوڅه تذبذب وو چه د یو داسې مهروبانه استاذ حکم صادر شو چه دهغې د تعمیل نه چا هم انکار نشو کولې ، چنانچه مجبوراً په رپیدلی لاس سره یو څو حوالې لیکم ، والله العاصم من الوقوع فی عرض اولیائه .

نوموړی کتاب کښې دا امور قابل د تعریف دی او ددې په اثبات کښې د مصنف محنت قابل د تحسین دې :

(۱) بنوامیه او بنوهاشم کښې نه د جاهلیت په زمانه کښې څه اختلاف وو اونه د اسلام په زمانه کښې څه رقابت وؤ، د کربلا د واقعې نه پس هم په دواړو قبیلو کښې مضبوطه رابطه وه .پخپل مینځ کښې رشتې وې ، دیوبل سره د حسنِ سلوک ، دهمدردئ ،اود محبت جذبه وه او ولې به نه وی چه هرکله هغوی هغې لره د حقِ قرابت نه علاوه شرعی فرض هم ګڼلو .د «**اشداء علی الکفار رحماء بینهم**» ، «**انما المؤمنون اخوة**» په شان د نصوصو ئې شپه او ورځ تلاوت کولو ، اود ((**المؤمن للمؤمن کالبنیان یشد بعضه بعضاً**)) ،((**ولن تومنوا حتی تحابوا**)) په شان د ارشاداتو روایت دا حضرات پخپل مینځ کښې بلا شبه محبت والا جوړ کړی وؤ ، په دوی کښې د دښمنئ اود نفرت تصور د سبائی کروندې ثمره ده ، په دوی کښې که چرته اختلاف شوې دې نو هغه هم د دین د حفاظت په خاطر شوې دې، نه د نفسانیت په بناء باندې . ((**الصحابہ کلھم عدول العدالہ علی اللہ**)) دهغوی ایمان وو

(۲) د یزید د مناقبو بیان اودهغه په خلاف د دروغو پروپاګند ابطال . دهغه امر په محمود او مستحسن کیدلو کښې هیڅ شبهه نشته

(۳) د کربلا ظلمونو سره متعلق د سبائیانو د خانه جوړکړې شوو قصو استیصال

مګر دهغه تولو خوبیانو سره سره د دې خبرې مخې ته راتلو سره مونږ ته انتهائی صدمه وشوه چه بعضې امورو کښې د مصنف قلم د شرعې د حدودو نه متجاوز شوې دې ، یوطرف ته خو دا چه د یزید مغفور له کیدلو قطعی حکم یې ورکړې دې ، حالانکه دیو نابالغه ماشوم په وفات باندې د حضرت عائشې رضی الله عنها قول «عصفور من عصافیر الجنة » باندې حضورصلی الله علیه وسلم انکار وکړو او د ادب د طریقې تعلیم یې اوفرمائیلو ، سره ددې نه چه د ماشوم د معذب کیدلو څه احتمال نشته . د حضرت عثمان بن مظعون رضی الله عنه په شان د جلیل القدر صحابی په وفات باندې د حضرت ام العلاء رضی الله عنها قول «شهادتی علیک لقد اکرمک» باندې انکار یې وکړو . او هم په دې باندې یې اکتفاء ونکړه بلکه وې فرمائیل : «وما ادری والله وانا رسول الله ما یفعل به» ، حالانکه وروستو د حضرت أم العلاء رضی الله تعالی عنها د خوب په تعبیر کښې یې اوفرمائیل «ذلک عمله» . د حضرت سعد رضی الله عنه د قول « والله انی لا راه مؤمناً» په جواب کښې یې «اومسلماً» اوفرمائیل . حالانکه وروستو ئې پخپله د معهود سری د مخلص مؤمن او صالح کیدلو تصدیق اوفرمائیلو . نتیجه دا را وه وتله چه که یو سړې معین اومشخص طور باندې مبشر بالجنة وی نو بیا هم قطعی حکم لګول د شرع په نظر کښې محمود نه دی بلکه خلاف ادب دی.

یزید سره متعلق مشخص طور باندې څه بشارت نشته ، بلکه د بشارت د کلی قاعدې لاندې په دخول کښې هم کلام شوې دې . چنانچه د علامه قسطلانی رحمه الله تعالی مهلب قول «فی هذا الحدیث منقبة لمعاویة رضی الله تعالی عنه لانه اول من غزا البحر ومنقبة لولده لانه اول من غزا مدینة قیصر» نقل فرمائیلو سره لیکی چه : «وتعقبه ابن التین وابن المنیر بما حاصله انه لایلزم من دخوله فی ذلک العموم ان لا یخرج بدلیل خاص اذلا یختلف اهل العلم فی ان قوله علیه السلام مغفورلهم مشروط بأن یکونوا من اهل المغفرة حتی لو ارتد واحد ممن غزاها بعد ذلک لم یدخل فی ذلک العموم اتفاقا فدل علی ان المراد مغفور لمن وجد شرط المغفرة فیه منهم» (حاشیة صحیح البخاری جلد۱ص۴۱۰) دهغه پیش کولو سره دا مقصد نه دې چه یقیناً یزید دهغه بشارت نه خارج دې ، مقصد صرف دادې چه د یزید فسق اوفجور اوشرب الخمر سره متعلق په داسې سختئ سره پروپاګند وکړې شو چه یو څو صحابه کرامو رضی الله عنهم هم هغه لره دهغه ګناهونو مرتکب وګنلو او وروستو هم د امت په اکابرو کښې دیو څو جلیل القدر هستیانو هم دا نظریه وه . د یزید مناقب او هغه باندې وارد شوی الزاماتو باندې د صحابه کرامو رضی الله عنهم اود نورو اکابرامت یو څو نظریات پیش کیږی

(۱) د ابن المتین اود ابن المنیر نظریه پورته د قسطلانی په حوالې سره تیره شوې ده

(۲) فتح الباری او قسطلانی کښې د طبری نه منقول دی ان یزید بن معاویة کان امر علی المدینة ابن عمه عثمان بن محمد بن ابی سفیان فاوفد الی یزید من اهل المدینة منهم عبدالله بن غسیل الملائکة وعبدالله بن ابی عمرو المخزومی فی آخرین فاکرمهم واجازهم فرجعوا فاظهروا عیبه ونسبوه الی شرب الخمر وغیر ذلک (حاشیة صحیح البخاری ج۲ص۱۰۵۳) د مدینې د خلعې سبب هم دې وو چه هغې له پخپله مؤلف هم ذکر کړی دی.

(۳) فتح الباری کښې دی: کقوله (ابی هریرة رضی الله تعالی عنه) اعوذبالله من راس الستین وامارة الصبیان یشیر الی خلافة یزید بن معاویة فانها کانت سنة ستین واستجاب الله دعاء ابی هریرة رضی الله تعالی عنه فمات قبلها بسنة (حاشیة صحیح البخاری ج۱ص۲۳) مګر داسې قسم ډیر روایاتو د ذکر کولو نه پس ابن کثیر رحمه الله فرمائی وقد اورد ابن عساکر احادیث فی ذم یزید بن معاویة کلها موضوعة لا یصح شئ منها واجود ما ورد ما ذکرناه علی ضعف اسانیده وانقطاع بعضه والله اعلم (البدایة والنهایة ج۸ص۲۳۳)

(۴) حافظ ابن کثیر رحمه الله تعالی د یزید د طعن سره متعلق یو څو روایاتو د ردکولو نه با وجود فرمائی وکان فیه ایضا اقبال علی الشهوات وترک بعض الصلوات فی بعض الاوقات واماتتها فی غالب الاوقات (البدایة والنهایة ج۸ص۲۳۰)

(۵) قال یحیی بن عبدالملک بن ابی غنیة احد الثقات ثنا نوفل بن ابی عقرب ثقة قال کنت عند عمر بن عبدالعزیز فذکر رجل یزید بن معاویة فقال قال امیرالمؤمنین یزید فقال عمر تقول امیرالمؤمنین یزید فامر به فضرب عشرین سوطاً. (تهذیب التهذیب ج۱۱ص۳۶۱)

(۶) واستفتی (علی بن محمد بن علی بن عماد الدین ابوالحسن الطبری ویعرف بالکیا الهراسی احد الفقهاء الکبار من رؤس الشافعیة ولد سنة خمس واربعمائة واشتغل علی امام الحرمین وکان هو والغزالی اکبر التلامذة وقد ولی کل منهما تدریس النظامیة ببغداد) فی یزید بن معاویة فذکر عنه تلاعبا وفسقا وجوز شتمه (البدایة والنهایة ج۱۲ص۱۷۳)

(۷) وقد رد علیه (علی الشیخ عبدالمغیث بن زهیر مصنف کتاب فضل یزید) ابوالفرج ابن الجوزی (وهو من شیوخ الحنابلة) فاجاد واصاب (البدایة والنهایة ج۱۲ص۳۲۸)

(۸) انه (یزید) کان فیه من الظلم ما کان ثم انه القتل هو وهم وفعل باهل الحرة امورا منکرة (منهاج السنة لابن تیمیة ج۲ص۲۵۰)

(۹) تفسیرمظهری کښې د ابن الجوزی نه دا روایت منقول دې روی القاضی ابو یعلی فی کتابه

معتمد الاصول بسنده عن صالح بن احمد بن حنبل انه قال قلت لابي یا ابت ان قوما یزعمون انا نحب یزید بن معاویة فقال احمد رحمه الله تعالی یا بنی هل یسوغ لمن یومن بالله ان یحب یزید ولم لا یلعن رجل لعنه الله فی کتابه قلت یا ابت این لعن الله یزید فی کتاب قال حیث قال فهل عسیتم ان تولیتم ان تفسدوا فی الارض وتقطعوا ارحامکم اولئک الذین لعنهم الله فاصمهم واعمی ابصارهم.

ابن تیمیه رحمه الله تعالی په منهاج السنة کښې د نورو اکاذیبو رد او ابطال سره ددې روایت جواب هم ورکړې دې . ونصه واما ما نقله عن احمد رحمه الله تعالی فالمنصوص الثابت عنه من روایة صالح انه قال ومتی رایت اباك یلعن احدا لما قیل له الا تلعن یزید وثبت عنه ان الرجل اذا ذکر الحجاج ونحوه من الظلمة واراد ان یلعن قال الا لعنة الله علی الظالمین وما نقل عنه من لعنة یزید فهی روایة منقطعة لیست ثابتة عنه (منهاج السنة ج ص)

وایضاً فیه تنازع الناس فی لعن الفاسق فقیل انه جائز کما قال ذلك طائفة من اصحاب احمد رحمه الله تعالی وغیرهم کابی الفرج ابن الجوزی وغیره وقیل انه لا یجوز کما قال ذلك طائفة اخری من اصحاب احمد رحمه الله تعالی وغیرهم کابی بکر عبد العزیز وغیره والمعروف عن احمد رحمه الله تعالی کراهیة لعن المعین کالحجاج بن یوسف وامثاله وان یقول کما قال الله الا لعنة الله علی الظالمین. ددې نه پس حافظ ابن تیمیه رحمه الله تعالی د د معین لعنت په عدم جواز باندې د بخاری ددې روایت نه استدلال کړې دې چه د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې یو شراب خور راوستلې شو، چا په هغه باندې لعنت وکړو نو حضورصلی الله علیه وسلم منع اوفرمائیله او علت د نهی یې «انه یحب الله ورسوله» بیان اوفرمائیلو . دا علت په هرمومن کښې موجود دې او مطلقاً شارب خمر باندې لعنت په خپله د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم نه ثابت دې ، وړاندې بیا فرمائی : ونحن نعلم ان اکثر المسلمین لا بد لهم من ظلم فان فتح هذا الباب ساغ ان یلعن اکثر موتی المسلمین والله تعالی امر بالصلوة علی موتی المسلمین ولم یامر بلعنتهم ثم الکلام فی لعنة الاموات اعظم من لعنة الحی فانه ثبت فی الصحیح عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال لا تسبوا الاموات فانهم قد افضوا الی ما قدموا حتی انه قال لا تسبوا امواتنا فتؤذوا احیائنا لما کان قوم یسبون اباجهل ونحوه من الکفار الذین اسلم اقاربهم فاذا سبوا ذلك اذوا قرابته (منهاج السنة ج ص)

غرض داچه امام احمد رحمه الله تعالی طرف ته د روایت مذکوره نسبت صحیح نه دې . قاضی ابوبکر ابن العربی په «العواصم من القواصم» ص ۲۳۲ کښې فرمائی چه امام احمد رحمه الله تعالی د یزید ذکر کتاب الزهد کښې د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه پس اود تابعینو رحمهم الله

تعالی نه وراندي د امت د زاهدانو په زمره کښې کړې دي ، دغه نه پس فرمائی . وهذا يدل على عظيم منزلته (يزيد) عنده (احمد) حتى يدخله في جملة الزهاد من الصحابة والتابعين يقتدى بقولهم ويرعوى من وعظهم ونعم وما ادخله الا في جملة الصحابة قبل ان يخرج الى ذكر التابعين فاين هذا من ذكر المؤرخين في الخمر وانواع الفجور الا يستحيون.

(١٠) حافظ ابن حجر رحمه الله تعالى فرمائی ثم خرج اهل المدينة على يزيد وخلعوه في سنة ثلاث وستين فارسل اليهم مسلم بن عقبة المرى وامره ان يستبيح المدينة ثلاثة ايام وان يبايعهم على انهم خول وعبيد ليزيد فاذا فرغ منها نهض الى مكة لحرب ابن الزبير رضى الله عنهما ففعل بها مسلم الافاعيل القبيحة وقتل بها خلقا من الصحابة وابنائهم وخيار التابعين وافحش القضية الى الغاية ثم توجه الى مكة فاخذه الله تعالى قبل وصوله واستخلف على الجيش حصين بن نمير السكونى فحاصروا ابن الزبير رضى الله تعالى عنهما ونصبوا على الكعبة المنجنيق فادى ذلك الى وهى اركانها ووهى بنائها ثم احرقت وفى اثناء افعالهم القبيحة فجأهم الخبر بهلاك يزيد بن معاوية فرجعوا وكفى الله المؤمنين القتال وكان هلاكه في نصف ربيع الاول سنة اربع وستين ولم يكمل الاربعين واخباره مستوفاة في تاريخ دمشق لابن عساكر وليست له رواية تعتمد (الى قوله) ذكرته للتمييز بينه وبين النخعى ثم وجدت له رواية في مراسيل ابى داؤد وقد نبهت عليها في الاستدراك على الاطراف (تهذيب التهذيب ج۱۱ ص۳۶۱)

دي روايت سره متعلق حافظ ابن تيميه رحمه الله تعالى فرمائی ، لكن لم يقتل من اهل المدينة جميع الاشراف ولا بلغ عدد القتلى عشرة الاف ولا وصلت الدماء الى قبر النبى صلى الله عليه وسلم ولا الى الروضة ولا كان القتل في المسجد، اود هدم کعبه په باره کښې فرمائی چه يو مسلمان هم ددې قصد نه شی کولې اونه دا ممكن دی په دې باندې د اصحاب فيل په واقعې او آيت كريمه ﴿وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍۭ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ﴾ سره استدلال نه پس فرمائی : ومعلوم ان اعظم الناس كفرا القرامطة الباطنية الذين قتلوا الحجاج والقوهم في بئر زمزم واخذوا الحجر الاسود وبقى عندهم مدة ثم اعادوه وجرى فيه عبرة حتى اعيدوا مع هذا فلم يسلطوا على الكعبة باهانة بل كانت معظمة مشرفة وهم كانوا باكفر خلق الله تعالى.

وقال ايضا كان مقصودهم حصار ابن الزبير والضرب بالمنجنيق كان له لا للكعبة ويزيد لم يهدم الكع

ولم يقصد احد اهانتها لاهو ولا نوابه باتفاق المسلمين.
بیا فرمائی چه کله کفار د کعبې اهانت نه کوی نو مسلمان یی څنګه کولې شی . د حضرت ابن زبیر رضی الله تعالی عنه د قتل نه پس هغه خلقو د کعبې طواف وکړو ، که چرته د دوئ اهانت کول مقصود وای نو بیا د طواف څه معنی وه ؟

حضرت ابن زبیر رضی الله عنهما د بیت د بناء سره متعلق فرمائی : روی مسلم فی صحیحه عن عطاء ابن ابی رباح قال لما احترق البیت زمن یزید بن معاویة حین غزاه اهل الشام فکان من امره ما کان ترکه ابن الزبیر حتی قدم الناس الموسم یرید ان یجرئهم علی اهل الشام فلما صدر الناس قال یایها الناس اشیروا علی فی الکعبة انقضها ثم ابنی بناءها ام اصلح ما وهی منها قال ابن عباس رضی الله تعالی عنهما اری ان تصلح ما وهی وتدع بناء اسلم الناس علیه واحجارا اسلم الناس علیها وبعث علیها النبی صلی الله علیه وسلم فقال ابن الزبیر رضی الله تعالی عنهما لو کان احدکم احترق بیته ما رضی حتی یجدده فکیف بیت ربکم انی مستخیر ربی ثلاثا ثم عازم علی امری فلما مضت الثلاث جمع امره ان ینقضها فتحاماه الناس ان ینزل باول الناس یصعد فیه امر من السماء حتی صعده رجل فالقی منه حجارة فلما لم یره الناس اصابه شئ تتابعوا فنقضوه حتی بلغوا الارض. وراندې فرمائی چه د ادخالِ حطیم نه پس طولِ کعبه کښې کمئ محسوسیدل شروع شو نو حضرت ابن زبیررضی الله عنهما په طول کښې د لسو ذراعو اضافه وکړه . عبدالملک چه کله د ابن زبیررضی الله عنهما بناء لره منهدم کړه نو د طول اضافې لره ئې باقی وساتله . ددې نه پس فرمائی : عن عبدالله بن عبید قال وفد الحارث بن عبدالله علی عبدالملك ابن مروان فی خلافته فقال عبدالملك ما اظن ابا خبیب یعنی ابن الزبیر رضی الله تعالی عنهما سمع من عائشة رضی الله تعالی عنها ما کان زعم انه سمعه منها قال الحارث بلی انا سمعته منها (الی قوله) قال عبدالملك للحارث انت سمعتها تقول هذا قال نعم فنکت ساعة بعصاه ثم قال وددت انی ترکته وما تحمل (وبعد سطرین) قلت وابن عباس وطائفة اخری راوا اقرارها علی الصفة التی کانت علیها زمن النبی صلی الله علیه وسلم فان النبی صلی الله علیه وسلم اقرها کذلك ثم انه لما قتل ابن الزبیر رای عبدالملك ان تعاد کما کانت لاعتقاده ان ما فعله ابن الزبیر رضی الله تعالی عنهما لا مستند له ولما بلغه الحدیث دانه وترکه فلما کانت خلافة الرشید رحمه الله تعالی شاور مالك بن انس رحمه الله تعالی فی ان یفعل کما فعل ابن الزبیر رضی الله عنهما فاشار علیه ان لا تفعل ذلك وقیل عن الشافعی انه رجح فعل ابن الزبیر وکل من الامراء والعلماء الذین راوا هذا وهذا معظمون للکعبة معترفون لها انما

یصدون ما یرونه احب الی الله ورسوله والقتل عدد الله ورسوله لیس فیهم من یقصد اهانة الکعبة الخ (منهاج السنة ج۲ص۲۵۰)

د حافظ ابن تیمیه رحمه الله تعالی ددې تحقیق حاصل دادې چه د کعبې د بناء مسئله مجتهد فیها ده . د عبدالملک نظریه د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما مطابق وه . د حدیث د تصدیق نه پس دهغې نه ئې رجوع وکړه او امام شافعی رحمه الله تعالی د ابن زبیر رضی الله عنهما بناء لره خوښوله او دا دواړه خیالونه د کعبې په احترام باندې بناء دی نه د کعبې په اهانت باندې

غرض داچه مذکوره مطاعنو کښې اگرچه د ډیرو جواب هم ورکړې شوې دې مگر سره ددې نه په دې اختلاف اود صحابه کرامو رضی الله عنهم اود نورو اکابرو په خیالاتو سره د یزید وزن ضرور کمیږی . اگرچه دا خیالات په غلط پروپاگند سره هم د تاثر د وجه نه وی . بیا هغه پروپاگند لره په یقینی طور باندې غلط هم نه شی وئیلې کیدلې بلکه دیوتابعی جلالتِ شان اودهغه د مناقبو پیش نظر د حسنِ ظن په درجه کښې دهغه پروپاگند بطلان ثابتیږی . دکوم امر بطلان لره چه د فهم او فراست بتان اود تقویٰ مجسمې نزدې نه حالاتو لره کتلو والا ډیر صحابه کرام رضی الله عنهم پوهه نه شو . زمونږ دپاره دهغې د بطلان یقینی حکم لگولو هیڅ گنجائش نشته . د یزید دطرفه دفاع کولو والا جماعت هم محض د حسنِ ظن په درجه کښې تول هرڅه وائی . چنانچه حافظ ابن کثیر رحمه الله تعالی فرمائی اما الغزالی رحمه الله تعالی فانه خالف فی ذلک ومنع من شتمه ولعنه لانه مسلم ولم یثبت بانه رضی بقتل الحسین رضی الله تعالی عنه ولو ثبت لم یکن ذلک مسوغا للعنه لان القاتل لا یلعن لا سیما وباب التوبة مفتوح والذی یقبل التوبة عن عباده غفور رحیم (البدایة والنهایة ج۸ص۲۲۳) حافظ ابن تیمیه رحمه الله تعالی منهاج السنة کښې تقریباً هم دا الفاظ لیکلی دی : «لا یلعن من هوا ظلم منه کالمختار الثقفی والحجاج» . او وې فرمائیل : «غایته ان یکون فاسقا ولعن الفاسق المعین لیس بجائز» . بیا ئې اوفرمائیل چه د لعنت د کلیاتو ارتفاع په توبې او حسنات ماحیه او مصائبِ مکفره سره کیدلې شی . همدارنگه د لعن له کلیاتو سره معارض د مغفرت کلیاتٌ هم دی . «اولُ اُمتیْ ـ الخ» وغیره (منهاج السنة ج۲ص ۲۵۲)

د یزید نه په دفاع کښې شاید د ابن تیمیه رحمه الله تعالی برابر چا حصه نه وی اخستلې . ددې باوجود په یو موقع باندې فرمائی مع انه کان فیه من الظلم ما کان ثم انه القتل هو وهم وفعل باهل الحرة امورا منکرة (منهاج السنة ج۲ص۲۵۰)

وایضاً قال فی فتاواه ومنهم من یجعله من ائمة الهدی والعدل حتی جعله بعضهم نبیا وبعضهم صحابیا وهذا کله من ابین الجهل والضلال بل الحق فیه انه کان ملکا من ملوك المسلمین له حسنات وله سیئات

والقول فيه كالقول في امثاله من الملوك لانحبه ولانسبه وهو اول من غزا القسطنطينية وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم اول جيش يغزوها مغفور لهم وفعل في اهل المدينة ما فعل وقد توعد رسول الله صلى الله عليه وسلم من قتل فيها القتيلا ولعنه (فتاوى ابن تيميه ص ٣٠)

حافظ ابن كثير رحمه الله تعالى مطاعنِ يزيد سره متعلق د رواياتو د تضعيف كولو باوجود فرمائي : **وكان فيه ايضاً اقبال على الشهوات وترك بعض الصلوات في بعض الاوقات واماتتها في غالب الاوقات (البداية والنهاية ج ص ٣٠)**

حاصل داچه يزيد سره متعلق د حسنِ ظن په درجه كښې له طعن نه خپله ژبه بندول او توقف اسلم او احسن دي ، مګر مصنف ښكه چه د يزيد په حق كښې د افراط نه كار اخستلي دي هم دغه شان ئې بل جانب حضرت حسين رضى الله تعالى عنه لره باغى ، نفس پرست ، د حبِ جاه شكار اود اقتدارد تګى ثابتولو كوشش كړې دې ، دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم په نوسى او جليل القدر صحابى باندې داسې جرأت دې چه دهغې په تصور سره د يو مسلمان په بدن باندې ويښتان ودريږى ، لكه ښكه چه دنقل كولو وخت كښې قلم د لاسه ښتاكيږى :

ان كان رفضاً حب آل محمد — فليشهد الثقلان انى رافضى

مصنف په ډيرو ځايونو كښې ددې خطرناك ضلالت مظاهره كړې ده ، بلكه كه چرته دحسن ظن نه كار وانه خستلې شى نو معلوميږى چه د ټول كتاب په تاليف سره مقصد هم دادې . يو څو عبارات ستاسو په خدمت كښې پيش كيږى :

(۱) ص ۷۲ كښې د مؤرخ دوزى په حوالې سره يې ليكلى دى : «حسين لره يې په ځان ديو معمولى قسمت آزموينې چه يوه حيرانونكې خطاء او لږ ترلږه غيرمعقول د اقتدار د مينې په وجه هلاكت طرف ته په تيزئ سره روان دې د ولى الله په روپ كښې يې پيش كړې دې»

دا عبارت اګرچه د دوزى دې مګر دې لره په كتاب كښې بغير له انكار نه په راوړلو سره دلالةً او آئنده عباراتو سره صراحةً ثابتيږى چه مصنف پخپله هم ددې نظرئې حامل دې .

(۲) ښكاره ده چه د حضرت حسين دې ورور هم دهغوى خروج لره د طلبِ حكومت او خلافت داسې اقدام ګڼلو چه په يوې طريقه هم جائز اومناسب نه وو (ص ۸۰)

(۳) حضرت حسن هميشته د ډلې بازئ نه يو خواته وو او د صلح او مصالحت دپاره ئې كوششونه كول ، په خلاف دهغه د وړوكى ورور (ص ۹۰)

ددې نه پس يو څو واقعاتو ليكلو سره ددې ثابتولو كوشش ئې كړې دې چه حضرت حسين رضى الله تعالى عنه د ماشومتوب نه طبعاً شرير(وران) وو .

۴ ، ص ۱۲۹ باندې د مؤرخ دوزی نه نقل کړی دی «حسین د اقتدار په هلاکوونکو ترغیباتو باندې غوړنیولو لره ترجیح ورکړه او د هغه بې شمیره خطونو په فخرسره نمائش کولو کوم چه هغه ته رسیدلی وو اوهغې شمیر خنګه چه شیخی ته وښیلې کیدل دیو اوبښ د پوچهه برابر وو»

۵ ، دعوت محض دا وو چه د نبی صلی الله علیه وسلم د نوسی اود حضرت علی رضی الله عنه د خوئ کیدلو په حیثیت سره خلیفه هغه لره جوړ کړې شی (ص ۱۸۰)

آیا دا نظریات محض افتراء او بهتان تړل نه دی ؟ آیا تولو صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم سره متعلق د مناقبواو فضائلو منصوصه نه علاوه د حضرت حسین رضی الله تعالی عنه په باره کښې خصوصیت سره د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم ارشادات ګرامی روایاتِ صحیحه سره ثابت نه دی ؟

که چیرته دیزید متعلق حسنِ ظن نه کار اخستلوسره دهغه خلاف د پروپاګند تغلیظ ضروری وی نود حضرت حسین رضی الله تعالی عنه متعلق د حسن ظن نه کار اخستلوسره دهغه د اقدام یو صحیح محمل ګرځول ولې ضروری نه دی ؟

دا خو یو بدیهی امر دې چه د یزید د فسق اوفجور اوشرب الخمور شهرت دې حده پورې کړې شوې وو چه ډیرو صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم هم دیزید متعلق دا خیال لرلو . اهلِ مدینه چه په هغې کښې اصحابِ رسول الله صلی الله علیه وسلم هم موجود وو د اطاعتِ امیرتاکید او اهمیت پیژندلوسره بغاوت شروع کړو ، په دې سره هغه وخت د یزید متعلق عام رجحان او پروپاګند سره د تاثر اندازه بنه لګیدلې شی .

هغه حالاتو کښې د حضرت حسین رضی الله تعالی عنه د اقدام د جواز معقول او قرینِ قیاس دا وجه ده چه د عام پروپاګند نه متاثره کیدلوسره د نورو ډیرو حضراتو په شان د دوی په نزد هم دیزید فسق اوفجور متیقن شوې وو او دا امر هم بدیهی دې چه نه خو دحضرت معاویه رضی الله تعالی عنه په زمانه کښې د یزید په استخلاف باندې د اهلِ حل والعقد اتفاق شوې وؤ اونه د حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه د وفات نه پس متصل دیزید دخلافت مسئله بالاتفاق شوې وه غرض داچه هرکله خلافت په پوره طور باندې قائم نه شو اوکوم سړې چه په خلافت باندې قابضه کیدل غواړی دهغه فسق اوفجور هم یقین دې نو آیا هغه حالاتو کښې داسې سړی لره برسرِ اقتدار راتللونه د بندولو حتی المقدور کوشش کول فرض نه دی ؟ بلکه د فسق اوفجور یقین یا ګمان هم د داسې اقدام دپاره ضروری نه دی . جوازِ اقدام بلکه بعضې اوقات د وجوبِ اقدام دپاره مدعې خلافت کښې د عدم اهلیت یا د ملت د نقصان ویره کافی کیږی . اګرچه مدعی خلافت صالح او متدین هم وی

د یزید په شان د حضرت علی رضی الله تعالی عنه په خلاف نه خو د فسق اوفجور کوم

پروپاګند وؤ اونه د دوی په خلافت کښې دومره اختلاف وو څومره چه د یزید په خلافت کښې وؤ. ددې باوجود محض مسئله دقصاص کښې د تساهل د غلط پروپاګند نه متاثره کیدلوسره د حضرت معاویه اوحضرت عائشې رضی الله تعالی عنهما په شان هستیانو توري که چرته د نیام نه وتلې شی نود یزید په خلاف د پروپاګند شدت اودخلافت کامل طور باندې د نه قائمیدلو د وجه نه د حضرت حسین رضی الله تعالی عنه دپاره میدان کښې د راتللو ولې ګنجائش نشته ؟

چه هرکله جم غفیرتقریباً جمیع اهلِ مدینه سره د ډیرو صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم هغه پروپاګند نه متاثره کیدلې شی نود حضرت حسین رضی الله تعالی عنه هغې باندې اعتماد کول څه لرې دی؟ د پروپاګند د وجه نه دلوئ نه لوئ شخصیت په دهوکه کښې راتلل څه مستبعد نه دی ، چنانچه د اهلِ تشیع په پروپاګند سره دهوکه خوړلوسره د صاحبِ هدایه علامه برهان الدین مرغینانی رحمه الله تعالی په شان محقق امام مالک رحمه الله تعالی طرف ته دجوازِ متعه قول منسوب کړو ، حالانکه د حرمتِ متعې روایات چه په کوم کثرت سره په موطا امام مالک کښې مروی دی شاید په بل کتاب کښې نه وی. فقه مالکیه کښې هم د متعه حرمت صریح ذکر دې ، ددې نه هم زیاته عجیبه داده چه ټول امت لره په دې مغالطه کښې اچولوکښې اعداءِ دین کامیاب شول چه د مدنی ژوند په ابتداء کښې د متعې اجازت وو ، حالانکه د «الا علی ازواجهم اوماملکت ایمانهم» په شان نصوصِ قرانیه چه په حرمتِ متعه باندې واضح دلالت کوی مکه کښې نازل شوی وو ، چه دهغې نه پس د حلتِ متعه هیڅ وهم نه شی کیدلې ، بیا د خندا نه ډکه خبره داده چه که چرته دهغه آیتونو خلاف حضوراکرم صلی الله علیه وسلم مدینې ته په رسیدلوسره د متعې اجازت ورکړې وو نودا آیتونه منسوخ وګرځیدل . مګر ددې برعکس هم دې آیتونو لره د حلتِ متعې دپاره ناسخ بیانولې کیږی ، غرض داچه متعه مروجه تاریخِ اسلامی کښې دیوې دقیقې دپاره هم حلاله شوې نه ده . مګر پوره امت لره د هجرت په ابتداء کښې د حلتِ متعې یقین ورکړې شوې دې چه دا صرف د پروپاګند نتیجه.

حضرت حسین رضی الله تعالی پدې اقدام باندې دې خبرې هم مجبوره کولو چه هغه ته د یزید نه په بیعت نه کولو کښې د قتل ویره بلکه یقین وو . حالانکه خلافت قائمیدلو نه پس هم هرفرد باندې دخلیفه بیعت فرض نه دې ، صرف دومره فرض دی چه بغاوت ونه کړی . ممکنه ده چه په نفس الامر کښې د قتل او زورنې وغیره یو صورت د حکومت د جانبه صادره شوې نه وې ، مګر حضرت حسین رضی الله تعالی عنه ته ددې یقین ضرور وو . چنانچه حافظ ابن کثیر رحمه الله تعالی دحضرت حسین رضی الله تعالی عنه خیال نقل کړې دې چه هغوی د حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما جواب په دې الفاظو سره ښکاره کړې وو : لان اقتل بمکان کذاو کذا احب الی من ان

العلی عکة وتستعل بی (البدایة والنهایة ج ۸ ص ۱۶۰) او د غالب بن الفروق د قول «ما اعجلک عن الحج ؟» په جواب کښې فرمائي «لولم اعجل لاخذت» (البدایة والنهایة ج۸ص ۱۲۷)

خلاصه دا چه حضرت حسین رضی الله تعالی عنه په داسې وخت کښې چه خلافت کماحقه قائم شوي نه وو داسې سړی لره برسرِاقتدار راتللو نه د بندولو کوشش کولو چه دهغه په خیال کښې د فسق اوفجور یا بعضې نورو وجوه په وجه مستحق د خلافت نه وو . ښکاره ده چه دا اقدام حضرت حسین رضی الله تعالی عنه باندې فرض وو . خصوصاً چه کله شرعی فرض سره سره اقدام نه کولو کښې د جبری بیعت ویره او خوف قتل هم وو نو دا اقدام نور هم زیات مؤکد کیږی.

د حضرت ابن زبیر رضی الله تعالی عنهما نظریه هم دحضرت حسین رضی الله تعالی عنه موافق وه . چنانچه ابن اثیر فرمائي : فقال له ابن الزبیر رضی الله تعالی عنهما اما لو کان لی بها مثل شیعتک لما عدلت عنها ثم خشی ان یتهمه فقال له اما انک لو اقمت بالحجاز ثم اردت هذا الامر ههنا لما خالفنا علیک وساعدناک وبایعناک ونصحناک الخ (کامل لابن الاثیر ج ۳ص ۱۶) د حضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنه په خیال کښې اهلِ کوفه ظالمان او حضرت حسین رضی الله تعالی عنه مظلوم وو ، چنانچه د صحیح بخاری لاندینی روایاتو سره د حضرت ابن عمررضی الله عنهما د تاثراتو اندازه وکړئ : عن ابن ابی نعم قال کنت شاهدا لابن عمر رضی الله تعالی عنهما وساله رجل عن دم البعوض فقال ممن انت قال من العراق قال انظروا الی هذا یسئلنی عن دم البعوض وقد قتلوا ابن النبی صلی الله علیه وسلم سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول هما ریحانتای من الدنیا (صحیح بخاری ج ۱ص ۸۸۳)

غرض دا چه حضرت حسین رضی الله تعالی عنهما هغه اقدام لره شرعی فرض ګڼلو سره وتلې وو مګر وروسته په لاره کښې چه کله د یزید د خلافت کامل طور باندې قیام او استحکام ورته معلوم شو نو فوراً دخپل موقف نه واوړیدلو . ځکه چه د قیامِ خلافت نه پس دجوازِ خروج هیڅ ګنجائش نه وو

پس څنګه چه د یزید په باره کښې توقف مسلم دې ، هم دغه شان بلکه دهغه نه په ډیرو درجو سره زیات مؤکد دحضرت حسین رضی الله تعالی عنه متعلق کف لسان دې اودهغه اعزازاو احترام اودهغه سره محبت اوعقیدت او حسنِ ظن ضروری دې چه همدا صراط مستقیم بین الافراط والتفریط دې. او هم دا د اهل السنة والجماعة متفقه فیصله او مذهب اوشعار دې ، ترڅنه پورې په اهل السنة والجماعة کښې یوفردهم دحضرت حسین رضی الله تعالی عنه په شان کښې ګستاخی او دوی طرف ته د سوءِ نیت نسبت لره روا کړي نه دې . بلکه د دوی محبت لره عینِ ایمان ګڼي حضرت امام شافعی رحمه الله تعالی فرمائي :

ان کان رفضاً حب آل محمد فليشهد الثقلان اني رافضي

حضرت حسين رضی الله تعالى عنه سره متعلق د بدظنئ نظريه داهل السنة والجماعة په مسلکِ معتدل کښې هيڅرې نه شى ځائ کيدلې . بلکه دا د روافضو د افراط په مقابله کښې د خوارجو تفريط دې ، اعاذناالله تعالى منهما .

آخره کښې دعاء ده چه الله تعالى دې ټولو مسلمانانو لره عموماً او مؤلف ((خلافت معاويه ويزيد)) لره خصوصاً د روافضواو خوارجو د افراط اوتفريط اود يلعن اخرهذه الامة اولها د وعيد نه محفوظه وساتى او اسلافو خصوصاً صحابه کرامو رضى الله تعالى عنهم سره عقيدت اومينه او دهغوى د اتباع جذبه دې مونږ ته عنايت اوفرمائي ، د اسلافو د عيب لټولو په ځائ دخپل باطن داصلاح اود فکرِاخرت په نعمت سره دې مونږ ټول منورکړى (آمين) ، شعر

کہاں تک روئے گا اوجینے والے مرنے والے کو

کچھ اپنی فکر کر تجھ کو پرائے غم سے کیا مطلب

ربنا اغفرلنا ولاخواننا الذين سبقونا بالايمان ولا تجعل في قلوبنا غلا للذين امنوا ربنا انك رءوف رحيم.

فقط والله الهادي الى سبيل الرشاد . رشيد احمد ۱۹ محرم سنه ۷۹ هجرى

تتمه

بنده په تحقيقِ مذکور کښې د مصنف د کتاب ((خلافت معاويه ويزيد)) تلبيساتو لره قطع نظر کولو سره نفسِ مسئلې سره متعلق اظهارِ خيال باندې اکتفا مناسب وګڼله . چه دهغې بعضې دوستانو ته سخت شکايت وو ، په همدې دوران کښې ماهنامه دارالعلوم ديوبندکښې لاندې مضمون زمونږ د نظر نه تيرشو چه په هغې کښې د ذکر شوى کتاب تلبيساتو باندې بقدرِ ضرورت په ساده انداز کښې رڼا اچولې شوې وه ، لهذا مونږ ته دهغه مضمون د پاسنى تحقيق تتمه جوړول مناسب معلوم شو. دې دپاره چه د ذکر شوى کتاب صحيح حقيقت اوهغې سره متعلق د علماءِ حق نظريات هم دنفسِ مسئلې د تحقيق سره منظرِعام ته راشى نو مونږ هغه را نقل کړو.

په ((خلافتِ معاويه ويزيد)) کتاب باندې يو روان او سريع نظر

مولانا عزيزاحمدصاحب بى ، اے قاسمى ناظم شعبه دستاربندى دارالعلوم ديوبند

محترموا کتونکو !

د کتاب ((خلافتِ معاويه ويزيد)) مصنف جناب محمود احمدعباسى حوالجاتوکښې بې ځايه تصرف کړې دې او تلبيس کولوسره يې صحافتى ديانت مجروح کړې دې . د کتاب له مطالعې

معلومیږی چه مصنف وراندې یو نظریه قائمه کړه چه نعوذبالله حضرت حسین رضی الله تعالی عنه خروج وکړو او یزید نهایتِ متقی او پرهیزګاروو. بیانې ددې نظریې لاندې د کتابونو مطالعه شروع کړه او په کتابونوکښې چه چرته دیزید په تعریف کښې یې یوه جمله په نظر راغله هغه ئې راواخستله ، او په کوم ځائ کښې چه د یزید یا عمربن سعد په نقصان کښې کومې جملې وې هغه یې حذف کړې. حالانکه یو تحقیقی مضمون کښې چه د دیرو کلونو د تحقیق نتیجه وی ، داسی کول پکار دی چه مناقب او معاییب دواړه ښکاره کړې شی او پیش کړې شی ، نه دا چه صرف مناقب ښکاره کړې شی یا بغیر د نقل نه دهغې غلطه توجیه وکړې شی او معاییبو باندې پرده واچولې شی ، په لاندې مضمون کښې جناب محمود احمد عباسی چرته چه قصداً حوالجاتو اودهغې په تراجمو کښې تصرف کړې دې په هغې کښې یو څو ځایونه د نمونې په طور باندې پیش کولې شی ، په هغې سره به د موصوف د تحقیق اندازه تاسو ته معلومه شی .

(۱) منجمله دهغه شیخ عبدالمغیث بن زهیرالحربی وو ، چه دهغه متعلق علامه ابن کثیررحمه الله تعالی فرمائی ((کان من صلحاء الحنابلة وکان یزار)) (البدایة والنهایة ج ۱۲ص ۳۲۸) یعنې هغه حنبلی صالحینوکښې وؤ او عوامو به د ده زیارت کولو ، هغه د امیرِ یزید حسنِ سیرت او اوصافو باندې مستقل تصنیف وکړو ((وله مصنف فی فضل یزیدبن معاویة اتی فیه بالغرائب والعجائب)) (البدایة والنهایة ج ۱۲ص ۳۲۸)

ترجمه او دهغه (شیخ عبدالمغیث) په تصنیفاتو کښې په فضلیت د یزیدبن معاویه باندې یو کتاب دې چه په هغې کښې یې څه ډیر غریب اوعجیب حالات بیان کړی دی .

([illegible] یو مینځ کښې چه کوم عبارت دې هغه د کتاب (خلافتِ معاویه ویزید)) د ۵۵، ۵۲ صفحې کې [illegible] کتاب عبارت پیش کیږی : الشیخ عبدالمغیث بن زهیر الحربی کان من صلحاء الحنابلة وکان یزار وله مصنف فی فضل یزیدبن معاویة اتی فیه بالغرائب والعجائب وقد رد علیه ابوالفرج ابن الجوزی فاجاد واصاب (البدایة والنهایة ج ص)

ترجمه : شیخ عبدالمغیث بن زهیرالحربی د حنابله په صلحاؤ کښې وو خلق به دهغه زیارت ته راتلل ، اودهغه (شیخ عبدالمغیث) د یزیدبن معاویه د خوبیانو په باره کښې یو تصنیف دې چه په هغې کښې هغه عجیب اوغریب قسمه خبرې بیان کړی دی . دهغه تصنیف رد علامه ابوالفرج ابن الجوزی کړې دې ، پس هغوی صحیح او ښه رد وکړو

د ابوالفرج ابن الجوزی د کتاب نوم دې ... الرد علی المتعصب العنید المانع عن ذم یزید))

اولاً خو د جناب محمود احمد صاحب عباسی ترجمه وګورئ چه د ((اتی فیه بالغرائب والعجائب)) ترجمه موصوف دا کړې ده چه ((ډیر عجیب او غریب حالات ئې بیان کړی دی)) چه په هغې سره

ذهن دې طرف ته منتقل کېږي چه د یزید حالات داسې عمده وو چه هغې لره اوریدلوسره تعجب کیږي . حالانکه اهل علم پوهیږي چه داسې مواقعو باندې د «غرائب او عجائب» استعمال په ښه معنیٰ کښې نه کیږي ، بلکه دغیرمستند کیدلو په معنیٰ کښې کیږي . چنانچه ددې جملې معنیٰ دا شوه چه علامه ابن کثیررحمه الله تعالی فرمائي چه شیخ عبدالمغیث چه کوم کتاب د یزیدبن معاویه دفضیلت په باره کښې لیکلې دې په هغې کښې ئې غیرمستندخبرې لیکلې دی ، اوس غور وکړئ چه علامه ابن کثیررحمه الله تعالی دهغه کتاب مدح کوی اوکه دهغه ضعیف کیدل ثابتوی .

بلکه دا چه مصنف صاحب د (اتی فیه بالغرائب والعجائب) نه فوراً وروسته چه کوم عبارت وو هغه ئې قصداً پریښودلو ، حالانکه هغه عبارت دهغه کتاب په باره کښې وو کوم چه شیخ عبدالمغیث د یزید د فضیلت په باره کښې لیکلې وو او هغه عبارت کښې د شیخ عبدالمغیث د کتاب په باره کښې په خپله دعلامه ابن کثیر رحمه الله تعالی رایه ښکاره کیږي ، چنانچه کوم عبارت چه مکمل درج کړې شوې دې په هغې کښې علامه ابن کثیررحمه الله تعالی فرمائي چه «ابو الفرج ابن الجوزی د شیخ عبدالمغیث دهغه کتاب رد لیکلې دې کوم چه د یزید د فضیلت په باره کښې وو» دهغې نه پس علامه ابن کثیررحمه الله تعالی د ابوالفرج ابن الجوزی دکتاب په باره کښې خپله رایه لیکی چه هغه ډیر عمده او ډیر ښه رد کړې دې . اوس غور وکړئ چه خبره دکوم ځائ نه کوم ځائ ته ورسیدله ، په دې سره د یزید منقبت ښکاره کیږی اوکه تنقیص ؟

جناب محموداحمدصاحب عباسی د علامه ابن کثیر رحمه الله تعالی عبارتونو لره کموډ کولوسره په هغه باندې څنګه بهتان تړلې دې ، حافظ حدیث محدث ابن الجوزی پخپل کتاب مذکورکښې فرمائي : «وقد اجاز العلماء الورعون لعنه» (حاشیه نبراس ص ۵۵۳)

ترجمه : او پرهیزګارو عالمانو هغه (یزید) باندې لعنت لره جائز ګرځولې دې .

شیخ عبدالمغیث اوعلامه ابن الجوزی دواړه حنبلیان دی .

(۲) یوبل عبارت د «خلافت معاویه ویزید» ستاسو په خدمت کښې پیش کیږی ، خلیفه ناصر د امیر یزید په باره کښې دشیخ نه چه کوم سوال وکړو اوکوم جواب چه هغوی ورکړو ، دعلامه موصوف په الفاظو کښې یې واورئ : فسأله الخليفة أيلعن أم لا؟ فقال لا أسوغ لعنه لأني لو فتحت هذا الباب لأفضى الناس إلى لعن خليفتنا فقال الخليفة ولم؟ قال لأنه يفعل أشياء منكرة كثيرة منها كذا وكذا ثم شرع يعدد على الخليفة أفعاله القبيحة ما يقع منه المنكر . (البداية والنهاية ج۱۳ص۲۸)

ترجمه خلیفه له شیخ (عبدالمغیث) نه سوال وکړو چه آیا په یزید باندې لعنت کولې شی اوکه نه ؟ هغوی جواب ورکړو چه لعن کول ېرې هیچرې جائز نه دی ، اوکه د لعن دروازه کهولاؤ کړې شی نو خلق به زمونږ موجوده خلیفه باندې لعن کول شروع کړی ، خلیفه پوښتنه وکړه هغه ولې ؟

شیخ اوونیل چه هغه په ډیرو منکراتو باندې عمل شروع کړی دی چه په هغې کښې فلانې او فلانې کار شامل دی . هغوی دخلیفه د بدو اعمالو شمیرشروع کړو کوم کوم منکرات چه دهغه نه صادره شوی وو (خلافت معاویه ویزید ص ۵۲)

پورته ذکر شوې ترجمه جناب محمود احمد صاحب عباسی کړې ده ، اوس د علامه ابن کثیر رحمه الله تعالی د عربی عبارت صحیح ترجمه وګورئ . « خلیفه د (شیخ عبدالمغیث نه) سوال وکړو چه یزید باندې لعن وکړئ شی اوکه نه ؟ هغوی جواب ورکړو چه زه هغه (یزید) باندې د لعن کولو اجازت نه ورکوم ځکه چه که چرته زه اجازت ورکړم او دا د لعنت دروازه کهولاؤ کړم نو خلق به زمونږ خلیفه باندې لعنت کول شروع کړی ، خلیفه پوښتنه وکړه هغه ولې ؟ شیخ اوونیل ځکه چه هغه (خلیفه) په ډیرو منکراتو باندې عمل کوی مثلاً فلانې او فلانی امر . بیا شیخ د خلیفه په مخامخ هغه منکراتو لره شمیرکول شروع کړل کوم چه د خلیفه نه صادر شوی وو»

که د جناب محمود احمد صاحب عباسی ترجمې او ددې ترجمې مقابله وکړې شی نو دا لاندې خبرې به مخې ته راشی»

د «لا اسوغ لعنه» ترجمه محمود احمد صاحب عباسی دا کړې ده چه «لعن کول هیچرې جائز نه دی » حالانکه دیو معمولی درجې عربی شخص هم پوهیږی چه دا ترجمه بالکل غلطه ده ، اصل ترجمه داده چه «زه هغه باندې د لعن کولو اجازت نه ورکوم » اودهغه اجازت نه ورکولو وجه شیخ دا بیان کړه چه «که چرته زه په یزید باندې د لعنت دروازه خلاصه کړم نو خلق به زمونږ په خلیفه (ناصر) باندې لعنت شروع کړی او په هغې سره به د بغاوت چینه را اوخوټکیږی » بیا خلیفه سوال وکړو چه هغه ولې ؟ نو شیخ اوفرمائیل « ددې وجه نه چه خلیفه فلانکی فلانکی منکراتو باندې عمل کوی » ددې صفا معنیٰ دا شوه چه یزید په کومو منکراتو باندې عمل کولو خلیفه ناصر هم په هغه منکراتو باندې عمل کولو ځکه چه که چرته دهغه منکراتو د وجه نه په کومو باندې چه یزید عمل کولو زه یزید باندې د لعنت کولو اجازت ورکړم نو خلق به خلیفه ناصر باندې هم لعنت شروع کړی ، اوس دا امر دفکر قابل دی چه آیا په دې سره دهغه تعریف راځی اوکه دهغه تنقیص ؟ په دې سره خو زيات نه زيات دا ثابتیږی چه یزید باندې لعنت نه دې پکار مګر په دې سره داخبره ځنګه ثابته شوه چه یزید په منکراتو باندې عمل نه کولو یا مستحق لعنت نه وو او ډیر پاکباز وو . بلکه ددې خلاف دا ثابتیږی چه هغه منکراتو باندې یقیناً عمل کولو . ځکه چه دکومو امورو د وجه نه چه خلیفه ناصر یزیدلره پخپل ذهن کښې مستحق لعنت ګنړلو (ځنګه چه دهغه د سوال نه معلومیږی) هغه په خپله خلیفه ناصر کښې موجود وو نو د هغې وجه نه شیخ عبدالمغیث رحمه الله تعالی منع اوفرمائیله

(۳) جناب محمود احمد عباسی کتاب « خلافت معاویه ویزید » کښې یزید لره ثقه راوی

ثابتولو د پاره لاندې حواله نقل فرمائيلې ده.
تهذيب التهذيب كښې امام ابن حجر عسقلانی د امير موصوف ذكر رواة حديث كښې كولوسره د محدث يحيیٰ بن عبدالملک بن عتبة الكوفی المتوفی سنه ۱۸۸هجری دا قول نقل كړې دې چه هغه امير يزيد لره احد الثقات يعني ثقه راويانِ حديث كښې شميرلو ، مراسيل ابوداؤد كښې دهغه مرويات دی (خلافت معاويه ويزيد ص ۴۵).
د تهذيب التهذيب دا حواله نقل كولوسره محموداحمدعباسی يزيد لره د ثقه راوی ثابتولو چه كوم كوشش كړې دې په هغې كښې خلقو لره ئې ډيره زبردسته دوكه وركړې ده . لاندې د تهذيب التهذيب پوره عبارت نقل كيږي چه په دهغې نه دا ټكره اخستلې شوې ده .

(يزيد) بن معاوية بن ابی سفيان صخربن حرب بن امية بن عبدالشمس ابوخالدولدفی خلافة عثمان رضی الله تعالی عنه وعهداليه ابوه بالخلافة فبويع سنة ستين وابی البيعة عبدالله بن الزبير رضی الله تعالی عنهما ولاذ بمكة والحسين ابن علی رضی الله تعالی عنهما ونهض الی الكوفة وارسل ابن عمه مسلم بن عقيل بن ابی طالب ليبايع له بها فقتله عبيدالله بن زياد وارسل الجيوش الی الحسين رضی الله تعالی عنه فقتل كما تقدم فی ترجمته سنة احدی وستين ثم خرج اهل المدينة علی يزيد وخلعوه فی سنة ثلاث وستين فارسل اليهم مسلم بن عقبة المری وامره ان يستبيح المدينة ثلاثة ايام وان يبايعهم علی انهم خول وعبيد ليزيد فاذا فرغ منها نهض الی مكة لحرب ابن الزبير رضی الله تعالی عنهما ففعل بها مسلم الافاعيل القبيحة وقتل بها خلقا من الصحابة رضی الله تعالی عنهم وابنائهم وخيار التابعين رحمهم الله تعالی واوحش القضية الی الغاية. ثم توجه الی مكة فاخذه الله تعالی قبل وصوله واستخلف علی الجيش حصين بن نمير السكونی فحاصروا ابن الزبير رضی الله تعالی عنهما ونصبوا علی الكعبة المنجنيق فادی ذلك الی وهی اركانها ووهی بنائها ثم احرقت وفی اثناء افعالهم القبيحة فجاءهم الخبر بهلاك يزيد بن معاوية فرجعوا و كفی الله المومنين القتال. وكان هلاكه فی منتصف ربيع الاول سنة اربع وستين ولم يكمل الاربعين واخباره مستوفاة فی تاريخ دمشق لابن عساكر وليست له رواية تعتمد وقال يحيی بن عبدالملک بن ابی غنية احد الثقات حدثنا نوفل بن ابی عقرب ثقة قال كنت عند عمر بن عبدالعزيز رحمه الله تعالی فذكر رجل يزيد بن معاوية فقال قال اميرالمومنين يزی فقال عمر رحمه الله تعالی تقول اميرالمومنين يزيد وامربه فضرب عشرين سوطا . ذكرته للتمييز بينه وبين النخعی . ثم وجدت له رواية فی مراسيل ابی داؤد وقد نبهت عليها فی الاستدراك علی الاطراف (تهذيب التهذيب للحافظ بن حجر عسقلانی ص صفحه ۳۶۰،۳۶۱ ج ۱۱) دا ټول عبارت د يزيد په بيان كښې دې يولفظ هم كم او زيات ندې

ترجمه : يزيد بن معاوية بن ابی سفيان صخربن حرب بن امية بن عبدالشمس د يزيد كنيت ابوخالد دې .د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه د خلافت په زمانه كښې پيدا شو او حضرت معاويه رضی الله تعالی عنه هغه لره د خلافت ولی عهد جوړكړو . سنه ۶۰ هجری كښې له يزيد

سره بیعت وکړې شو . حضرت عبدالله بن زبیر او حضرت حسین بن علی رضی الله تعالی عنهم د بیعت نه انکار وکړو حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما په مکه کښې پناه واخستله او حضرت حسین رضی الله تعالی عنه کوفې طرف ته روان شو او خپل د تره خوئ مسلم بن عقیل بن ابی طالب لره ئې د وړاندې نه واستولو دې دپاره چه په کوفه کښې دخلقو نه دحضرت حسین رضی الله تعالی عنه دپاره بیعت واخلی . هغه لره عبیدالله بن زیاد اووژلو . اودحضرت حسین رضی الله تعالی عنه دمقابلې دپاره ئې فوځونه روان کړل . حضرت حسین رضی الله تعالی عنه په سنه ۶۱ هجری کښې شهید کړئ شو لکه چه دهغه په حالاتو کښې ذکر کړې شوی دی . بیا سنه ۶۳ هجری کښې اهلِ مدینه دیزید په ضد باندې خروج وکړو اودهغه بیعت لره ئې مات کړو نو یزید د مسلم بن عقبة المری په مشرئ کښې اهلِ مدینه باندې فوځی حمله وکړه او حکم ئې ورکړو چه دریو ورځو پورې مدینه لښکری خلقو (هرقسمه) مباح ده. او حکم ئې ورکړو چه اهلِ مدینې نه د یزید دپاره دخدم وغلام جوړیدلو دپاره بیعت واخلئ . اوچه کله دهغې نه فارغه شئ نو عبدالله بن زبیر رضی الله تعالی عنهما سره دجنګ دپاره مکې معظمې طرف ته روان شئ چنانچه حسب الحکم مسلم بن عقبة المری مدینه کښې ډیر افعالِ قبیحه وکړل اود صحابو رضی الله تعالی عنهم اودهغوی اولاد او دخیارتابعین رحمهم الله تعالی یو لوئ جماعت لره ئې بیخ کنده ختم کړو او هغه واقعې لره ئې انتهائی لاندې حد پورې اورسوله (چنانچه مسند دارمی کښې دی چه وژل او عزت اخستل وغیره ټول هرڅه په مدینه منوره کښې وشو . دریو ورځو پورې په مسجد نبوی کښې مونځ هم ونه شو . سعید بن مسیب په مسجدنبوی کښې لیونې پروت وو . په هغه ورځو کښې د مزار مبارک نه د اذان او تکبیر آوازونه راتلل په هماغه آواز باندې هغه خانله مونځ ادا کولو اوکه نه نو په مسجد نبوی کښې نه څوک د آذان کولو والا وو او نه بل څوک د مونځ کولو والا) بیا مکې طرف ته روان شو مګر مکې ته د رسیدلو نه وړاندې وړاندې د الله تعالی په ګرفت کښې راتللو سره هلاک شو او حصین بن نمیر لره قائم مقام جوړکړې شو . هغه لښکر په مکه کښې د ابن زبیر رضی الله تعالی عنهما محاصره وکړه او خانه کعبه باندې ئې دکاڼو ویشتلو دپاره منجنیق نصب کړو او ډیر کاڼې ئې اوویشتل چه دهغې د وجه نه د بیت الله ستنې او عمارت کمزورې شو . بیا خانه کعبه اوسوزولې شوه هم ددې کارونو په دوران کښې ناګهانه د یزید بن معاویه دهلاک کیدلو اطلاع ورسیدله خبراوریدلو سره . لښکر واپس شو و الله تعالی د مکې مؤمنانو لره د قتل نه بچ کړل د یزید هلاکت په سنه ۶۴ هجری کښې د ربیع الاول دمیاشتې په نیمایی حصه کښې وشو . هغه دخپل ژوندون خلوبښت کاله هم پوره نه کړې شو . د ابن عساکر په تاریخ دمشق کښې دهغه ټول واقعات مذکور دی . دیزید یو روایت حدیث هم قابل اعتماد نه دې . یحیی بن عبدالملک بن ابی غنیه چه په ثقه راویانو کښې یو دې هغه بیان وکړو چه مونږ ته نوفل بن ابی عقرب بیان وکړو چه

ثقه دې چه زه اميرالمؤمنين عمربن عبدالعزيز رحمه الله تعالى سره حاضر وم ، يوسرى د يزيد بن معاويه ذكر وكړو او وې وئيل چه «اميرالمؤمنين يزيد دا اووئيل» خليفه عمربن عبدالعزيز رحمه الله تعالى اوفرمائيل چه «ته يزيد ته اميرالمؤمنين وائې» اودهغه سړى دپاره يې د شلو كوړو وهلو حكم وكړو چنانچه هغه شل كوړې او وهلې شو ، «حافظ ابن حجر عسقلانى رحمه الله تعالى فرمائى چه» ما دهغه «يزيد» ذكر يزيدبن معاويه النخعى سره د امتياز پيدا كولو دپاره دلته كړې دې «اوكه نه نو دې د صحاح سته په راويانو كښې د نه كيدلو په وجه سره په دې كتاب كښې دذكر كولو قابل نه دې» مراسيل ابى داؤد كښې صرف يو مرسل د روايتِ يزيد ملاؤ شوې دې او ما په اطرافو باندې استدراک كښې هغه مرسل روايت باندې تنبيه كړې ده .

ددې عبارت مقابله دهغه عبارت سره وكړئ كوم چه جناب محمود احمد صاحب عباسى پيش كړې دې هم هغه كتاب دې اوهم هغه صفحه ده مګر وګورئ چه په كومه طريقه ئې كټ كولو سره يزيد لره په ثقه راويانو كښې د شميركولو كوشش كړې دې ، د دواړو عبارتونو مقابله كولو نه پس دجناب عباسى صاحب لاندې غلطيانې ښكاره په نظر راځى .

«الف» تهذيب التهذيب د حافظ ابن حجر عسقلانى رحمه الله تعالى تصنيف دې چه په هغې كښې حافظ صاحب موصوف دهغه رجالو «راويانو» تذكره كړې ده ،چه د صحاحِ ستـه راويان دى ، ليكن چرته چه هم په دوو نومونو كښې اشتباه كيږى هغلته د اشتباه لرې كولو دپاره د بل سړى ذكر هم كوى ، اګرچه هغه د صحاح په راويانو كښې نه وى ، چنانچه تهذيب التهذيب كښې د يزيد چه كوم ذكر دې هغه دې دپاره نه دې چه يزيد د صحاحِ سته په راويانو كښې دې بلكه په خپله د حافظ ابن حجر عسقلانى رحمه الله تعالى په ژبه باندې واورئ چه د يزيد ذكر هغوئ په تهذيب التهذيب كښې ولې وكړو ؟ هغه فرمائى «ذكرته للتميز بينه وبين النخعى» يعنې ما د يزيد بن معاويه اموى ذكر پخپل كتاب تهذيب التهذيب كښې له يزيد بن معاويه النخعى سره د امتياز پيدا كولو دپاره كړې دې

اوس غوروكړئ چه جناب محموداحمد عباسى صاحب حقيقت لره څنګه پټ كړو او تهذيب التهذيب كښې د يزيد نوم راتللو د وجه نه يې هغه په رواة حديث كښې شماركړو او خلق يې په دهوكه كښې مبتلاكړل . دلته نسيان نه دې بلكه قصداً داسې وكړې شو

«ب» جناب محمود احمد عباسى صاحب هم په هغه حواله كښې دمحدث يحيىٰ بن عبدالملک بن عتبة الكوفى يو قول نقل كړې دې او دعوى ئې دا كړې ده چه امام ابن حجر عسقلانى رحمه الله تعالى دا قول تهذيب التهذيب كښې نقل كړې دې

دا دعوى بالكل دروغ ده د يحيىٰ بن عبدالملک بن عتبة الكوفى نوم له سره په تهذيب التهذيب كښې نشته . البته د يحيىٰ بن عبدالملک بن ابى غنية الخزاعى ابوزكريا الكوفى ذكر

بې شکه په تهذیب التهذیب کښې راغلې دې . او د دې عذر کېدلې شی چه دا د کتابت او طباعت غلطی ده .

(ج) جناب عباسی صاحب تحریرفرمائی چه تهذیب التهذیب کښې امام ابن حجر عسقلانی رحمه الله تعالی د امیرِ موصوف ذکر رواةِ حدیث کښې کولوسره د محدث یحيٰ بن عبدالملک بن عتبة الکوفی متوفی سنه ۱۸۸هجری دا قول نقل کړې دې چه هغه امیریزید لره احدالثقات یعنې ثقه راویانِ حدیث کښې شمېرلو .

دا په حافظ ابن حجرعسقلانی او محدث یحيٰ بن عبدالملک بن ابی غنیة رحمهما الله تعالی دواړو باندې خالصه افتراء ده چه هغوی یزید ته ثقه وئیلې دې بلکه چه کومه صحیح ترجمه پیش کړې شوې ده په هغې کښې غور وکړئ نوصفا به معلومه شی چه حافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله تعالی د یحيٰ بن عبدالملک بن ابی غنیة په سند سره یوه واقعه نقل کولوسره په خپله یحيٰ بن عبدالملک لره احدالثقات (ثقه راویانوکښې یو) وئیلې دې اودهغه شیخ نوفل بن ابی عقرب ته ئې هم ثقه وئیلې دې . دپاره ددې چه د سندپه صحت کښې شبهه پاتې نه شی اودهغه په سند سره ئې د خلیفه عمربن عبدالعزیز رحمه الله تعالی واقعه نقل کړې ده چه دهغه وړاندې یو سړی یزید ته امیرالمؤمنین وئیلی وو نو هغوی هغه سړې ، شل کوړې اووهلو حالانکه امیرالمؤمنین عمربن عبدالعزیز رحمه الله تعالی هم د بنی اُمیه په خاندان کښې دې . چه دهغه نسب نامه داده . عمربن عبدالعزیزبن مروان بن الحکم بن ابی العاص ابن امیه بن عبدالشمس القریشی الاموی . دې د صحاحِ سته راوی دې دده نسب اودیزید نسب امیه باندې یوځائ کیږی . حافظ ابن حجرعسقلانی رحمه الله تعالی احدالثقات د یحيٰ صفت بیان کړې وو مگر عباسی صاحب هغه په یزید باندې چسپان کړې دې خنکه چه اهلِ علم د دغه عبارت په لیدلو سره پخپله پوهیږی .

(د) جناب عباسی صاحب تحریرفرمائی چه : ((مراسیل ابوداؤد کښې دهغه (یزید) مرویات دی)) مرویات دجمع صیغه ده . چه له دې نه معلومیږی چه متعدد روایتونه دی ، دا هم دهوکه ده . مراسیل ابوداؤد کښې صرف یو مرسل روایت د یزید دې . چه هغې لره امام ابن حجرعسقلانی رحمه الله تعالی ذکرکړې دې . هغې لره د مرویات په لفظ سره تعبیرکول امام ابن حجرعسقلانی رحمه الله تعالی باندې افتراء ده . کومه چه صحیح ترجمه پیش کړې شوې ده هغه وگورئ . په هغې کښې صفا ذکر دی چه ((مراسیل ابو داؤد کښې صرف یو مرسل روایت دیزید ماته ملاؤ شو)) دا په خپله د حافظ ابن حجرعسقلانی رحمه الله تعالی قول دې . غور وکړئ چه په کومه طریقه جناب عباسی صاحب د دهوکې ورکولو کوشش کړې دې . د ناظرینو توجو یو بلې خبرې طرف ته اړول غواړی چه عباسی صاحب چه دکوم (تهذیب التهذیب)) نه د ابن حجر عسقلانی رحمه الله تعالی اود یحيي بن عبدالملک بن ابی غنیة رحمه الله تعالی قول نقل کړې دې هم په هغه ((تهذیب

التهذیب ،، کښې امام ابن حجرعسقلانی رحمه الله تعالی د یزید په پوره بیان کښې یو لفظ هم دیزید د مدحې ذکر نه کړو بلکه داسې الفاظ ئې استعمال کړه چه په هغې سره هم دهغه نقص ثابتیږی ، مثلاً دهغه د مرګ دپاره لفظ د ،،هلاک ،، استعمالول ، ورسره دا ذکرکول چه هغه د خپل لښکر سردار ته مدینې منورې باندې دحملې حکم ورکړو ، په حضرت حسین رضی الله تعالی عنه باندې ئې فوځی حمله وکړه ، مدینې منورې لره ئې دریوورځو پورې هرقسمه مباح کړه چه دهغې په دوران کښې د قتل اود عزت اخستلو بې شمیره واقعات مخې ته راغلل ، مکه معظمه باندې ئې د حملې حکم وکړو چه دهغې په نتیجه کښې د خانه کعبې بنیادونه کمزوری شو او بیا خانه کعبه وسوزولې شوه ، ددې امورو نه علاوه یې یو لفظ هم د یزید په منقبت کښې ذکرنه کړو د،، تهذیب ،، عبارت لره دې اهلِ علم بیا په غور سره ولولی ، همدارنګه حافظ ذهبی د یزید په باره کښې چه کوم تحریرفرمائیلې دې هغه هم وګورئ . (یزید بن معاویة) ابن ابی سفیان الاموی روی عن ابیه وعنه ابنه خالد وعبد الملک بن مروان، مقدوح فی عدالته لیس بأهل ان یروی عنه وقال احمد بن حنبل رحمه الله تعالی لا ینبغی ان یروی عنه (میزان الاعتدال نمبر ..... ص ..... ج ۴)

ترجمه : زیدبن معاویه بن ابی سفیان الاموئ دخپل پلار نه روایت کړې دې ، او پخپله دهغه نه دهغه ځامنو خالد او عبدالملک بن مروان روایت کړې دې ، اودهغه عادل کیدل مجروح دي ، هغه ددې اهل نه دې چه دهغه نه روایت وکړې شی ، او امام احمد بن حنبل رحمه الله تعالی فرمائی چه دهغه نه روایت کول جائز نه دی .

(۴) عباسی صاحب د یزید فضیلت بیانولو سره د ،، البدایة والنهایة ،، عبارت په لادې ډول پیش کړې دې : وکان (ابوایوب الانصاری رضی الله تعالی عنه) فی جیش یزید بن معاویة والیه اوصی وهو الذی صلی علیه (البدایة والنهایة ص ..... ج ۸)

ترجمه : ابوایوب انصاری رضی الله تعالی عنه د یزید بن معاویه په لښکر کښې شامل وو ، هغوی هم هغه (یزید) ته وصیت وکړو او هم هغه (یزید) دهغه د جنازې مونځ ورکړو ، (خلافت معاویه ویزید ص ۲۷)

او بیا لیکلی چه ،، ښکاره ده چه ټولو مسلمانانو چه د امیرِ یزید په لښکرکښې شامل وو دحضرت حسین رضی الله تعالی عنه په شمول د جنازې په مونځ کښې د امیریزید په امامت کښې شرکت وکړو (خلافت معاویه ویزید ص ۲۷)

د،، البدایة والنهایة ،، د مذکوره پاسنی عبارت په آخر کښې دا لاندې عبارت هم دې ، چه هغې لره عباسی صاحب قصداً پریښودلو دې دپاره چه خلق په غلط فهمئ کښې مبتلا شی .

قال احمد حدثنا اسحاق بن عیسی قال حدثنی محمد بن قیس قاضی عمر بن عبد العزیز عن ابی حرملة عن ابی

ایوب الانصاری رضی اللہ تعالی عنہ انہ قال حین حضرتہ الوفاة انی کنت کتمت عنکم شیئا سمعتہ من رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم سمعتہ یقول لولا انکم تذنبون لخلق اللہ قوما یذنبون فیغفر لھم . وعندی ان ھذا الحدیث والذی قبلہ حمل یزید بن معاویة علی طرف من الارجاء ورکب بسببہ افعالا کثیرة انکرت علیہ کما سنذکرہ فی ترجمتہ واللہ اعلم (البدایة والنھایة ص ج)

ترجمہ : حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله تعالی پخپل سند سره د حضرت ابو ایوب انصاری رضی الله تعالی عنه نه روایت کړې دي چه هغوی (ابو ایوب انصاری رضی الله تعالی عنه) دخپل وفات په وخت کښې اوفرمائیل چه ما تاسو نه یو حدیث پټ کړې وو چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلې وو ، ماد رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا اوریدلی وو چه که چرته تاسو گناه نه کولې نو الله تعالی به ضرور یو داسې قوم پیدا کولو چه گناه به یې کولې نو الله تعالی به هغوی ته بښنه کوله او (حافظ ابن کثیر رحمه الله تعالی فرمائی چه) څما په نزد دې حدیث اود ددې نه وړاندې حدیث (من مات لا یشرک بالله شیئا جعله الله فی الجنة . بسند امام احمد) یزید بن معاویه لره جرأت ناك کړې وو ، او هم ددې وجه نه هغه (یزید) د ډیرو افعالِ قبیحو ارتکاب وکړو لکه عنقریب به مونږ دهغې په ترجمه کښې ذکر کړو .

تاسو اووائې چه د علامه ابن کثیر رحمه الله تعالی په دې پوره عبارت سره د یزید فضیلت ښکاره کیږی اوکه دا ښکاره کیږی چه هغه د قبیحو افعالو ارتکاب کړې وو ، یزید چه د جنازې مونځ ورکړې وو هغه په حیثیت د امیرِ لښکر چه قانونِ اسلامی دې ، په هغه صورت کښې د فاضل او مفضول سوال نه پیدا کیږی ،چنانچه ددې نظائر په تاریخِ اسلامی کښې موجود دی ، حضور صلی الله علیه وسلم په غزوه موته کښې خپل غلام حضرت زید رضی الله تعالی عنه لره د لښکر امیر جوړ کړې وو اودهغه په ماتحتی کښې د حضرت جعفرطیار رضی الله تعالی عنه په شان لوئ لوئ صحابه وو ، هم دغه شان رسول الله صلی الله علیه وسلم اسامة بن یزید رضی الله تعالی عنهما لره د لښکر سردار جوړولو سره د روانتیا حکم ورکړې وو اودهغه په ماتحتی کښې د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په شان صحابه موجود وو .

(۵) عباسی صاحب موصوف د یزید محاسن ثابتولو دپاره د «البدایة والنهایة» لاندې عبارت هم پیش کړې دې : وقد کان یزید فیه خصال محمودة من الکرم والحلم والفصاحة والشعر والشجاعة وحسن الرأی فی الملك وکان ذا جمال حسن المعاشرة (البدایة والنهایة ص ج)

ترجمه :- اود یزید په ذات کښې قابل د ستائینې صفات , حلم ، کرم اوفصاحت د شعروئیلو اود بهادرئ وو ، همدارنگه د حکومت په معاملاتو کښې هغه ښائسته رایه لرله اود معاشرت ښه والې هم په هغه کښې وو (خلافت معاویه ویزید ص ۴۹)

مگر ددې عبارت نه سمدستی وروسته دا لاندې عبارت وو چه هغې لره عباسی صاحب د

تحقیق دپوره حق ادا کولو دپاره پرینبودلو : وکان فیه ایضا اقبال علی الشهوات وترک بعض الصلوات فی بعض الاوقات واماتتها فی غالب الاوقات (البدایة والنهایة ص ج)

ترجمه :- او همدارنګه دهغه (یزید) په شهوات نفسانیه کښې پریوتل او بعضې اوقات د بعضې مونځونو ترک کول موندلې کیږی ، او مونځونو لره بې وخته کول خو اکثراوقات وو .

غوروکړئ چه عباسی صاحب عبارت کښې حذف کولوسره څنګه دهوکه ورکړې ده ، د البدایة والنهایة دهغه عبارت په موجودتیاکښې هغه صفاتو کوم چه عباسی صاحب ذکر کړی دی مثلا حلم اوکرم ، فصاحت ، بهادری وغیره سره د یزید په پرهیزګاری او ثقه کیدلو باندې څنګه رڼا پریوتلې شی ؟ چه دهغې دپاره عباسی صاحب پوره کوشش وکړو او په رڼا ورځ کښې ئې دخلقو په سترګو کښې خاوره واچوله او دهندوره دا غږولې کیږی چه حقیقت باندې چه کومې پردې پرتې وې هغې لره هغه تحقیق ختمې کړې .

(۲) جناب عباسی صاحب د عمربن سعد په باره کښې د تهذیب التهذیب لاندې عبارت نقل کولوسره ددې ثابتولو کوشش کړې دې چه د عمربن سعد کردار هم هغسې بې داغه ثابته شوې دې څنګه چه دهغه په شان د ثقه تابعی حالاتو سره توقع کیدلې شی ، (خلافت معاویه ویزید ص ۲۱۴)

عمربن سعدبن ابی وقاص الزهری ابوحفص المدنی سکن الکوفة روی عن ابیه وابی سعید الخدری وعنه ابنه ابراهیم وابن ابنه ابوبکر بن حفص وابو اسحاق السبیعی والعیزار بن حریث ویزید بن ابی مریم وقتادة والزهری ویزید بن ابی حبیب وغیرهم وقال العجلی کان یروی عن ابیه احادیث وروی عنه الناس وهو تابعی ثقة (تهذیب التهذیب ص ج)

ترجمه : عمربن سعدبن ابی وقاص الزهری ابوحفص المدنی په کوفه کښې وو ، هغوی دخپل پلار نه اود ابوسعید خدری نه دحدیث روایت کړې دې او دهغه فرزند ابراهیم اود هغه نوسی ابوبکربن حفص او ابواسحاق السبیعی او عیزاربن حریث اویزید بن ابی مریم اوقتادة زهری اویزید بن حبیب وغیره روایت کړې دې ، او محدث العجلی وائی چه عمربن سعد دخپل پلار نه د حدیثونو روایت کړې دې اودهغه نه ډیرو خلقو روایت کړې دې او پخپله ثقه تابعی وو (خلافت معاویه ویزید ص ۲۱۴ص ۲۱۵)

په تهذیب کښې دپاسنی مذکوره عبارت نه متصل وروسته دا عبارت دې چه هغه جناب عباسی صاحب انتهائی بهادرئ سره نظر انداز کړو ، ((وهو الذی قتل الحسین)) یعنې دا هم هغه سړې دې چاچه حضرت حسین رضی الله تعالی عنه لره قتل کړو ، ظاهرعبارت نه صفا ثابت دی چه دا قول ((وهو الذی قتل الحسین)) د محدث العجلی دې چه هغې لره عباسی صاحب نظر انداز کړې دې ، نو دادې هغه زبردست تحقیق .

ددې نه وړاندې عبارت دې . وذکر ابن ابی خیثمة بسند له ان ابن زیاد بعث عمر ابن سعد علی جیش

لقال الحسين وبعث عمر بن ذي الجوشن وقال له اذهب معه فان قتله والا فاقتله وانت على الناس وقال ابن ابي خيثمة عن ابن معين كيف يكون من قتل الحسين ثقة قال عمرو بن علي سمعت يحيى بن سعيد يقول ثنا اسماعيل ثنا العيزار عن عمر بن سعد فقال له موسى رجل من بني ضبيعة يا ابا سعيد هذا قاتل الحسين فسكت فقال له عن قاتل الحسين تحدثنا فسكت وروى ابن خراش عن عمرو بن علي نحو ذلك. فقال له رجل اما تخاف الله تروي عن عمر بن سعد فبكى وقال الا اعود. (تهذيب التهذيب ص۴۵۱ ج۷)

ترجمه :- ابن ابی خیثمة پخپل سند سره بیان کړي دي چه ابن زیاد عمربن سعد لره دیو لښکر قیادت سپارلوسره دحضرت حسین رضی الله تعالی عنه سره د قتال دپاره ولیږلو او شمربن ذی الجوشن ته ئې اووئیل ته هم دده سره لاړ شه که چرته دده حضرت حسین رضی الله تعالی عنه لره قتل کړو نو (فبها) اوکه نه نو تاسو ده لره قتل کړئ اوته به په خلقو باندې امیرشې . اوابن ابی خیثمة د ابن معین نه روایت کړي دي چه ابن معین اوفرمائیل چه هغه سړې څنګه ثقه کیدلې شي چا چه حضرت حسین رضی الله تعالی عنه لره قتل کړې دې . عمروبن علي اووئیل چه ما د یحییٰ بن سعید نه اوریدلی دی چه مونږ ته اسماعیل بیان وکړو ، هغوی اووئیل چه عیزار له عمربن سعد نه روایت وکړو (هم دومره ئې وئیلی ووچه) هغه ته د ضبعیه قبیلې یوسړی موسیٰ اووئیل چه ای ابوسعید دې خو د حسین قاتل دې . پس هغه خاموشه شو ، بیا ئې هغه ته اووئیل چه ته مونږ ته د حسین د قاتل نه روایت کوې بیا هم هغه خاموشه وو ، او ابن خراش هم د عمروبن علی نه ددې په شان روایت کړې دې او دا ئې هم بیان کړه چه هغه سړی اووئیل چه ته د الله نه ، نه ویرېږې ؟ چه دعمر ابن سعد نه روایت کوی » په هغې باندې هغه اوژړل ، او وې فرمائیل چه زه به دوباره دهغه (عمرابن سعد) نه روایت ونه کړم . په دې سره معلومه شوه چه یحيٰ بن معین او سعید بن القطان . ابن ابی خیثمة او د بنی ضبیعة قبیلې موسیٰ وغیره چه ائمه رجالِ حدیث دی عمربن سعد لره ثقه نه ګڼلو ، د دوی په مقابله کښې د تنهاالعجلی قول لره نقل کول د تحقیق پردې لره ختموی ، د یحيٰ بن معین په شان امام الجرح والتعدیل په مقابله کښې د محدث عجلی قول څه زیات وزن نه لری . عیزاربن حریث هم هغه سړې دې چه هغه لره په «تهذیب » کښې د عمربن سعد شاګردانو کښې ذکرکړې شوې دې . چه دهغې تصریح په خپله عباسی صاحب کړې ده . هم دهغه عیزار نه د «تهذیب » په هماغه صفحه کښې محدث موسیٰ وائی چه د قاتلِ حسین رضی الله تعالی عنه نه زمونږه په وړاندې روایت بیانوې چه په هغې باندې عیزاربن حریث معذرت وکړو چه آئنده به داسې نه کیږی او هم دا روایت په واسطه د شعبه عن ابی اسحاق عن العیزار په سند سره میزان الاعتدال ص ۲۵۸ جلد ۲ کښې موجود دې . فقط (ماهنامه دارالعلوم دیوبند جنوری سنه ۱۹۲۰ء)

د دارالعلوم ماهنامې په همدې شمیره کښې

د جناب ابوالمنظور شیخ احمد استاذ احیاء العلوم بانسواړه دکن مضمون هم دې ، دهغې نه یو څو ضروری اقتباسات پیش کولې شی :

ما کتاب (خلافت معاویه ویزید) له اول نه ترآخر پورې کتلې دې او هغې باندې مې د تبصرې په شکل کښې یو کتاب لیکلې دې چه زیرِ طبع دې ، په هغې کښې ما په پوره صراحت او وضاحت سره ونیلی دی چه کتاب د کوم تحریک زیرِ اثر لیکلې شوې دې ، د کوم غرض او مقصد دپاره لیکلې شوې دې ، په کوم ذهنیت او کومه نقطهٔ نظر سره لیکلې شوې دې اودهغې اصل موضوع څه ده ، په اصل کښې دهغې موضوع مذهبی عقائد دی نه تاریخی واقعات ، په هغې کښې تاریخی واقعاتو باندې چه په کوم انداز سره بحث کړې شوې دې دهغې براهِ راست اثر په مذهبی عقائدو باندې پریوځی او هغه نه صرف معکوس کیږی بلکه د امت نه هغه ټوله سرمایه د علومو اخستلې کیږی چه په هغې باندې دهغوی د مذهب دارومدار دې ، مؤلف دمځکښینودولسو کالو ټولو مؤرخینو ، محدثینو ، مفسرینو اودنورو علومو اوفنونو ماهرینو لره مجروح اوناقابلِ اعتبار ګرځولی دی او له ماضی سره یی د امت د رشتې بالکل قعطی ختمولو کوشش کړې دې ، مؤلف ابن جریرطبری ، ابن کثیر دمشقی او جلال الدین سیوطی وغیرهم یی چه په کومو کومو الفاظو سره یاد کړی دی هغه په کتاب کښې ځائ په ځائ خواره دی ، خصوصاً د کتاب په دویمه طبعه کښې مؤلف چه کومه مقدمه لیکلې ده هغه خو په پوره طریقې دهغې د ذهنیت او نقطهٔ نظرآئینه دار دې ، دلته تعصب په دومره اندازه درجهٔ کمال ته رسیدلې دې چه د حضرت حسین رضی الله تعالی عنه مسلک او موقف لره په پوره سختئ سره مسخ کړې شوې دې ، دوی باندې سخت نه سخت الزامات لګولې شوی دی ، دوی لره بد نه بدتر الفاظو کښې مطعون کړې شوی دی ، د دوی د سیرت حلیه بالکل ورانه کړې شوې ده ، تردې پورې چه «مات میتة الجاهلیة» او «فمن اراد ان یفرق امرهذه الامة وهی جمیع فاضربوه بالسیف» وغیره احادیثو لره نقل کولوسره هغه په یو معمولی مقام باندې چسپان کړې شوی دی ، اوس به دهغه احادیثو څه حشر وی چه په هغې سره د امام په مسلک او مؤقف باندې ښه رڼا پریوځی ، او هغه حدیثونه چرته چه په هغې کښې حضورانورصلی الله علیه وسلم د حضرت حسن او حسین نوم اخستلوسره دوی لره «سیداشباب اهل الجنة» فرمائیلی دی ، آیا جاهلیت کښې او حرامو کښې مړه کیدلو والا هم جنت ته تللې شی؟ په ځائ د دې چه هغوی د اهلِ جنت د خوانانو سرداران وی ، بیا هغه ټول احادیث چرته لاړه چه په هغې کښې حضورصلی الله علیه وسلم دوی ته خپل محبوبان هم ونیلی دی ، د الله تعالی سره د دوی د محبویت دپاره یی دعاګانې هم کړی دی او دا ئې هم فرمائیلی دی چه «حسین د اهلِ آسمان په نزد په ټوله زمکه کښې محبوب دی» آیا د الله د رسول اود ټول مخلوق د محبوب هم هغه سیرت

دې کوم چه دلته پیش کړې شوې دې؟ دلته خو تعصب دومره زیات دې چه یزید لره بې په حضرت علی رضی الله تعالی عنه باندې فوقیت ورکړې دې او دهغه په مقابله کښې یزید لره رومبنې متفق علیه خلیفه تسلیم کړې شوې دې، بیا د تعصب د ړندو حال دادې چه شاهانِ بنی أمیه لره د حدیثِ نبوی «لایزال الاسلام عزیزالی اثنی عشرة خلیفة» مصداق جوړولو سره حضرت ابوبکر، عمر، عثمان، حسنین رضی الله تعالی عنهم لره بالکل ختم کړې شوی دی، او حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه لره رومبنې خلیفه گرځولې شوې دې، دهغې نه پس مروان بن محمد لره خو ځکه خارج کړې شوې دې چه هغوی باندې د بنی أمیه حکومت ختم شو، لیکن دهغې باوجود چه کله دا دقت مخې ته راغلو چه د دولسو دیارلس بادشاهان پاتې کیږی نو د مینځ نه د امتِ محمدیه مجدد اول عمرِ ثانی دحضرت عمربن عبدالعزیزرحمه الله تعالی په شان خلیفهٔ راشد لره په ډیرې بې دردئ سره اخوا کړې شو او د باقی بادشاهانو د بنی امیه متعلق وئیلې شوی دی چه دا هغه دولس خلفاءِ اسلام دی چه دهغوئ متعلق حضورصلی الله علیه وسلم پیشین گوئی فرمائیلې وه چه د دوی په زمانه کښې به اسلام زبردست او طاقتور وی، احادیثِ نبویه سره دا سلوک په نورو ځایونو کښې هم کړې شوې دې، مثلاً یو ځائ د صحیحینو یو حدیث لره «محلِ نظر» گرځولې شوې دې، ځکه چه دهغه حدیث له مخې ابن سعد د عهدِ نبوی مولود نه دې او مؤلف لره دا ثابتول وو چه هغه د عهدِ نبوی مولود وو. یو بل ځائ باندې د ابوداؤد وغیره صحیح حدیث «الخلافة فی امتی ثلاثون سنة ثم ملک بعدذلک» لره وضعی گرځولې شوې دې، ځکه چه هغه د مؤلف د نقطهٔ نظر نه بالکل خلاف دې.

که چرته د چا په نزد حضرت حسین رضی الله تعالی عنه بالکل دینی پیشوا نه وؤ او له همدې وجه نه د هغه په شان د گستاخئ اود بې ادبئ سوال نه پیدا کیږی، نوبیا خو خیر دې، لیکن کوم خلق چه هغه دینی پیشوامنی هغوی دې د کتاب د لاندینی مقاماتو په کتلوسره فیصله وکړی چه هغه تحریرونه کم از کم په کومو الفاظو سره یادولې شی.

صفحات ۲۷، ۷۴تا ۹۵، ۹۷، ۹۸تا ۱۰۲، ۱۳۳، ۱۲۸، ۱۲۹، ۱۷۷، ۱۷۹، ۱۸۰

په دې دوارو مضامینو کښې چه دکومو تلبیساتو نشاندهی کړې شوې ده بنده په کتاب «خلافتِ معاویه ویزید» کښې هغې سره متعلقه مقاماتو طرف ته مراجعه نده کړې، د کتاب د اسلوبِ تحریر په نظر کښې نیولو سره په هغې کښې د مذکوره تلبیساتو وجود بعید نه دې بلکه دهغې د ارتکاب ظن غالب دې، بنده د اهلِ تنقید د سهولت دپاره دا مضامین نقل کړی دی. فقط والله العاصم من سائر الفتن

رشید احمد، ۱۰ رجب سنه ۷۹ هجری

بسم الله الرحمن الرحیم

مُسلحه پیره (څوکیداری)
او
توکل

لیکوال

حضرت مفتی عبدالرحیم صاحب
نائب رئیس دارالافتاء والارشاد ناظم آباد کراچئ

د حفاظتی تدابیرو اهمیت

* حفاظتی تدابیر او مسلحه پیره د توکل خلاف نه ده.
* حفاظتی تدابیرو او مسلحه پیره باندې د وارد شوؤ اعتراضاتو مفصل او مدلل جوابات

⊙ نصوصِ قرآنیه
⊙ احادیثِ رسول الله صلی الله علیه وسلم
⊙ تعامل صحابه رضی الله تعالی عنهم
⊙ تصریحات حضرات فقهاء کرام رحمهم الله تعالی
⊙ فطرت مستقیم وعقل سلیم
⊙ بشمول حمقاء د ټولې دنیا اجماع او تعامل

زمانه بهترين اُستاذ دې

چه کله حضرتِ اقدس دامت برکاتهم د الله تعالى په عطا کړې شوى او بې مثاله بصيرت سره صحيح وخت باندې د حالاتو ادراک کولو سره د مسلحې پيرې اجازت ورکړو نود څلورو طرفونو نه د اعتراضاتو انبار شروع شو ، تردې پورې چه دعقل او شرع دواړو په لحاظ سره دا بالکل بديهى مسئله وګڼلې شو او د دې لپاره د يوې رسالې د ليکلو ضرورت پيدا شو ، فهم سليم لرلو والا بعضو حضراتو د حضرت اقدس د علم او بصيرت تعريف وکړو ليکن ډير افسوس دې چه بيا هم اکثريت د داسې خلقو پاتې شو چه هغوى ته د قرآن او احاديثو په واضحو ارشاداتو دحضورصلى الله عليه وسلم ، د صحابه کرامو رضى الله تعالى عنهم اود اسلافو تعامل مخې ته راتللو نه پس هم عقل سرته رانغې .

مګر چه کله ځاى په ځاى جماتونو او دينى ادارو باندې اندرونى او بيرونى دهشت ګردو حملې شروع کړې نود بې شميره جماتونو بې حرمتئ ، په زرګونو مسلمانانو لره د شهيد کولو او په زرګونو زخمى کولو نه پس عام جماتونو او دينى ادارو کښې د مسلحې پيرې د انتظاماتو سلسلې شروع کړې شوې .

کاش ! چه د الله تعالى د حکم ((خذوا حذرکم)) اهميت يې پيژندلې وې اوپه وخت باندې ئې هغه اختيارکړې وې نو دومره نقصان به نه کيدلو .

د کومو خلقو په دماغو کښې چه د الله تعالى اود رسول صلى الله عليه وسلم اود بداهتِ عقل د واضحې فيصلې پيژندلو صلاحيت نه وو الله تعالى هغوى لره د دښمنانو په واسطه په مره کولو او وهلو سره دهغوى دماغ صحيح کړل لود زمانې په ګردش سره يې ورته د عبرت سبق وښودلو .

الله تعالى دې هغوى ته د شريعت دحکم نه دانحراف بلکه په هغې باندې د اعتراض سنګين جرم نه د توبې توفيق ورکړى کړى ، شعر :

ظالم ابھی ہے فرصتِ توبہ نہ دیر کر   وہ بھی گرا نہیں جو گرا پھر سنبھل گیا



د مضامینو فهرست

رياض الجنت کښې اسطوانه حارس
مدينه طيبه کښې په نمبر نمبر د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم پيره داری کول
د رسول الله صلی الله عليه وسلم د خوب په وخت د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم گرچاپيره پيره کول
د دوی صلی الله عليه وسلم تره حضرت عباس رضی الله تعالی عنه هم په محافظينو کښې وو
خليفه راشد د حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله تعالی محافظ
حضوراکرم صلی الله عليه وسلم باندې تر آخر عمره پورې پيره کيدله
اسلحه او دهشت گردی
د اسلحې نه نفرت په حقيقت کښې د قرآن او حديث او سنتِ نبويه نه نفرت دې
د دفاع او جهاد د آلاتو او د اسلحې ساتلو فضائل
د جهاد د آس خاشنړه او متيازې د قيامت په ميزان کښې له مونځونو سره
اسلام نه دفاع دپاره اسلحه ساتل عبادت دې او رياء او ښودنې دپاره وبال دې
اسلحې سره محبت
صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم هروخت د اسلحې نه ډک وو
نبوت او اسلحه لازم او ملزوم دی
د حضوراکرم صلی الله عليه وسلم زغره (بلټ پروف جيکټ) استعمالول
په خپله د بلټ پروف جنگی توپئ) استعمال
د نبوت په نگاه کښې دمال په مصارفو کښې د تولو نه مقدم او اهم مصرف
د خاتم الانبياء صلی الله عليه وسلم مدينې طيبې ته تشريف راوړلو باندې د اهلِ مدينې له اسلحې سره استقبال.
اسلحه د مسلمانانو عزت دې چه هغې لره هغوی دخپله تنه جدا کولې نه شی
کوم زيور چه مونږ ته د الله تعالی رسول صلی الله عليه وسلم اغوستلی دی هغې لره نه شی ويستلې کيدلې
مونږه په تورو سره د سرکشو او اهلِ شرک علاج وکړو
د خاتم الانبياء صلی الله عليه وسلم ترکه (ميراث)
حضوراکرم صلی الله عليه وسلم او انتيلی جنس (جاسوس)
د ميراثِ نبوی د حيرانتيانه ډک تفصيلات
آيا جمات ته اسلحه راوړل د جمات بې ادبی ده ؟
اسلحه د جمات اود نورو شعائرِ اسلام زينت او عزت دی

جمات كښې اسلحه
مسجد نبوى كښې اسلحې سره د جهاد مشق
د اختراود جمعې خطبه د اسلحې سره ۵۱خطيبان دې په لاس كښې اسلحه ساتى
آيا په جماتونو كښې خلفاء راشدينو رضى الله تعالى عنهم حفاظتى انتظامات كړى وو؟
په جماتونو كښې د خلفاء راشدينو رضى الله تعالى عنهم حفاظتى تدابير
خير القرون كښې جمات كښې دننه حفاظتى كوټې
امير المؤمنين حضرت عثمان رضى الله تعالى عنه او مسجد نبوى كښې حفاظتى مقصوره
امير المؤمنين حضرت معاويه رضى الله تعالى عنه او جمات كښې مسلحه پيره او حفاظتى كمره
جماتونو كښې حفاظتى كوټې په ټولو اسلامى حكومتونو كښې جوړې شوې وې
حفاظتى كمرو كښې خلفاء راشدينو ، صحابه كرامو ، تابعينو او فقهاء كرامو مونځونه كړى وو
حفاظتى كمرې جوړيدلو نه پس د فقهاؤ د صف اول په تعيين كښې اختلاف
حضرت عمر رضى الله تعالى عنه محافظ ولې ونه ساتلو ؟
د حضرت عمر فاروق رضى الله تعالى عنه په شان مدبر شخصيت حفاظتى تدابيرو نه ولې غافله پاتې كيدلې شى ؟
د سركارى فرمان وجه
حكيم الامة حضرت تهانوى رحمه الله تعالى حفاظتى تدابير ولې ونه كړه ؟
كه خصومت دينى وى او خصم كافر وى نو دفاع واجب ده ، بيان القرآن كښې د دې تصريح
د مونځ كوونكو تلاشى آيا د الله د كور نه د بندولو مترادف دې ؟
محراب كښې مسلح محافظ ولې د تشويش باعث دې ؟
د تلاشئ باوجود محراب كښې مسلح محافظ ولې او دريږى ؟
آيا دومره حفاظتى انتظامات بلاضرورته او اسراف نه دې ؟
دارالافتاء والارشاد كښې د حفاظتى انتظاماتو د مختلفو مراحلو مفصله واقعه
د اهلِ بصيرت د پاره د احتياط درس
اعتراضات څه د تعجب او حيرانتيا خيز نه دې
د تلاشئ مسئله
ائرپورټ باندې تلاشى
حرمينو شريفينو كښې تلاشى
كه خطره وى نو كور كښې مونځ ولې نه ادا كوې ؟
د خطرې وجه نه بنديدل خلاف معقول هم دى او منقول هم

جمات د عالم دپاره پارلمان دي
محاسبه وکړئ
د فکر او سوچ وقت
د توکل تهمت لګولو والو دي یو نظر خپل طرف ته هم وکړی
د عبرت سبق
مشهور کهاوت هم وشرمیدلو
آیا اسلحه مونږ کوونکو ته د دهشت اچولو دپاره ده ؟
اسلحه مونږ کوونکو باندې نه د الله په دښمنانو باندې د دهشت اچولو دپاره ده
صحابه کرامو ته د اسلحې نه ولې ویره نه کیدله ؟
د اسلحې نه د خوف علاج
د لنګ وینځل
یو اخې او یو اخې جهاد د بزدلئ علاج دي ۱
آیا محافظین او دربان استفاده کښې رکاوټ دی ؟
دا خیال سراسر باطل دې
دهغه اعتراض داصل سبب صحیح نشاندهی
د حضرت نانوتوی عجیبه واقعه
د علماءِ حق خلاف پروپاګند کولو والا شرعی حکم
د علماءِ حق خلاف دِ پروپاګند کولو بله وجه
وختونو کښې نظم اوضبط او قرآن اوسنت
حضرت والا نه د استفادې پنځلس صورتونه
د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د ضرورت په وخت دربان متعین کول
دارالافتاء والارشاد کښې مسلحه پیره قابلِ تعریف یا هدف تنقید ؟
(په قلم د مولانامحمد مسعود اظهر صاحب ناظم عمومی حرکة الانصار ومدیر اعلی صدائ مجاهد)

بسم الله الرحمن الرحیم

یو وړاندیز

ښنکه چه خپل او پردی ښه پوهیږي چه حضرت اقدس دامت برکاتهم لره الله تعالی په کومو اخلاق عالیه او صفات فاضله سره سرفراز کړي دي په هغه کښې بهادری ، حقه وینا او حب الهی زیات ممتاز دی ، د الله تعالی په محبت کښي حضرت اقدس دومره ډوب وی چه د غیرالله خوف او محبت یې زړه سره نزدې هم نه تیریږی ، د دوی فتویٰ وی یا د دوی بیان د دوی د جرأت او بهادرۍ ښکاره ثبوت وی ، د وخت د جابرو حکمرانانو اود دین خلاف د راپورته کیدلو د هرې فتنې خلاف د دوی آواز همیشه مصلحت اود بزدلۍ د شائبې نه پاک وی ، دوی بفضله تعالی دملاحده ، زنادقه ، دښمنانِ صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم او د اعداءِ اسلام خلاف توره ، د «اناالنذیرالعریان» مصداق اود «لایخافون فی الله لومة لائم» تصویر دي .

په داسې حالت کښې د اسلام دښمنان، موافق اومخالف ، تنګی اوفراخی ، صحت اوبیماری په هرحال کښې د اسلام د باغ د خدمت دپاره خپل عمرونه صرف کولو والا علماؤ ربانیینو لره د زمکې د مخ نه د ختمولو خواهش درلودلو والا د یهودو ایجنټانو د جانبه د قتل سازشونه او منصوبې څه د حیرانتیا خبره نه ده ، احیاء اسلام او امت مسلمه لره د مغربیانو د تقلید ، عقائدو کښې تزلزل ، ناسته پاسته ، وضع قطع ، ګرځیدلو راګرځیدلو ، معاشرت اومعاملات غرض هرڅیز کښې د انګریزانو د غلامۍ د ذلت نه راویستلوسره دهغوی عظمت لره په حال کولو دپاره څوک چه هم لږ جرأت او بهادرۍ سره میدان ته راځی هغوی دهغه یهودو ایجنټانو اود دهشت ګردۍ د فتنو واګې نیولو والو په زړه کښې د اغزی په شان ننوځی ، هغه لره اود هغه تحریک لره د سر اوچتولو نه وړاندې وړاندې ختمولو دپاره دهغوی خفیه ایجنسیانې په حرکت کښې راځی ، په داسې حالاتو کښې خپله دفاع کول شرعاً اوعقلاً نه صرف جائز یا مستحب ده بلکه واجب او فرض ده . اوکه نه نو د اسلام د دښمنانو جرات به ورځ په ورځ زیاتیږی او هغوی به یو یو کولوسره زمونږه علماؤ لره بغیر د څه ویرې نه شهیدان کوی ، د داسې خطرې په صورت کښې په کلاره کیناستل اود واقعې نه پس افسوس کول او په اخبارکښې بیان ورکولو باندې اکتفاء کول څه هوښیارتوب نه دې .

چنانچه چه هرکله په حضرت اقدس دامت برکاتهم او دارالافتاء والارشاد باندې د دښمنانِ اسلام اود ملکی اوغیرملکی د دښمنانِ صحابه د ایجنټانو یلغار شروع شو او حفاظتی انتظامات وکړې شو نو ورسره د مفسرینو ، محدثینو اود فقهاؤ د تصریحاتو مطابق د وجوبِ دفاع د

نابتیدلو باوجود د مختلفو قسمو د اعتراضاتو او سوالاتو یلغار هم شروع شو مثلاً:

(۱) مسلح پیره د توکل خلاف ده .

(۲) د مونځ کوونکو تلاشي اخستل د مونځ کوونکو توهین دي .

(۳) جمات کښې اسلحه راوړل د جمات د احترام خلاف دي .

(۴) د تلاشۍ نه پس بیا منبر باندې بادي گارډ ودرول د مونځ کوونکو د مرعوب کیدلو مترادف دي .

(۵) دا اسراف دي

(۶) دا ریاکاري ده

(۷) که چیرته مفتي صاحب ته خطره وي نو هغه دې مونځ کوونکو لره د پریشانه کولو په ځائ مونځ په کور کښې ولې نه ادا کوي ؟

(۸) حضرت مفتي صاحب پخپله خو محافظو او دربانیانو کښې داسې خان بند کړې دې چه عام مسلمانان خو دهغوئ د ملاقات تصور هم نه شي کولې ، د وخت د پابندئ اود تلاشئ په شان خلاف انسانیت عمل نه باوجود هم د مفتي صاحب کمرې او مجلسه پورې رسیدل بدون له واسطې نه ممکن نه دي .

(۹) دا د روم اود فارس د بادشاهانو سره یوشان بلکه دهغې نه هم څه زیات حالت دي

(۱۰) حضوراکرم صلی الله علیه وسلم او خلفاء راشدینو دربار متعین کولو سره د عوام الناس دپاره داسې دروازې بندې کړې نه وې ، بلکه حدیث کښې ددې ممانعت دي .

((من ولی شیئا من امر المسلمین فاحتجب عن حاجتهم وفقرهم احتجب الله دون حاجته))(ترمذی)

(۱۱) اسلحه ، پیره دار ، تلاشي د کبر علامت دي .

(۱۲) دا بزدلي ده .

داسې قسم په شل گونو سوالونه او اعتراضونه په غوږونو کښې پریوځی اود نظر نه تیریږی ، چه دهغې جواب تحریری ، تقریری او باقاعده د فتوې په صورت کښې مختصراً ورکولې کیږی .

چونکه دلته د حفاظتي تدابیرو په بنا څه جماعتي ، ذاتي ، سیاسي یا دنیوي جنگ نشته بلکه خالص دیني خصومت وو او دا انتظام او اهتمام نقلي اوعقلي هراعتبارسره نه صرف جائز بلکه ضروري وو ، همدارنگه زیات تر سوالونه د دینداري طبقې د طرف نه راپورته کیدل ددې وجه نه مختصرجواب باندې اکتفاء کولې کیدله ، لیکن قرائنو او شواهدوسره برابر احساس کیدلو چه دا جوابات في نفسها مسکت هم دي او شافي هم مگر بعضې خارجي عوامل مثلاً د جهاد نه لرې والې، دقتال في سبیل الله سره اجنبیت، او بزدلي، اسلحې نه نفرت او ویره ، د سیرت نبویه یو اهم باب اودجزء لا ینفک عدم استحضار دامت مسلمه زړه او دماغو لره بې حسه او اعضاؤ او اعصابو

لره شل کړي دي چه دهغې د وجه نه اختصار في نفسه کافي کېدلو باوجود ناکافي روان دی
په همدې دوران کښې د فيصل آباد نه ليکلې شوی حفاظتي تدابيرو سره متعلق يوه استفتاء د جواب دپاره مخې ته راغله (چه دهغې « تمهيد » ددې «تقديم » په آخر کښې نقل کړې شوې دې. نو داسې فکر وشو چه يو ځل دهغې حکم شرعي يوه اندازه تفصيل سره وليکلې شي اوپه هغې کښې دهغه سوالونو هم اضافه وکړې شي چه تراوسه پورې بصورتِ اعتراض يا استفسار راتلل. دې دپاره چه په مضمون کښې ممکن حده پورې جامعيت پيدا شي .

دالله تعالی په توفيق سره هغه استفتاء کښې کړې شوی سوالونه سره له اضافاتو نه اودهغې مفصل جوابات ستاسو وړاندې دی ، اميد دې چه طالبِ حق اومنصف دپاره به دا تحرير کافي او شافي شي ، پاتې شول متعنتين خلق نو دهغوئ دپاره دفترونه هم بې فائدې بلکه مضر دی ددې وجه نه هغه ددې تحرير مخاطب نه دې .؟

د داسې ناعاقبت انديش خلقو اعتراضات په څومره لوئ جليل القدر علامه اوپه څنګه عالی مقام ولی الله ، اوڅنګه بطل جليل مجاهد باندې دی چه دهغوی د لاندينی کمالاتو په ټوله دنيا کښې آوازه ده او موافق اومخالف ټولو کښې مسلم بلکه بديهی او په ژبو باندې عام دی .

(۱) د علومو په تعمق او وسعت کښې سمندر .

(۲) عمل کښې داسې مضبوطوالي او تصلب چه جبلِ استقامت دې .

(۳) ولايتِ عظمیٰ ، تعلق مع الله ، تقوی اوتوکل کښې په ټوله دنيا کښې مشهور او عوام او خواصو کښې ضرب المثل دې .

(۴) د دوی شجاعت ، بې پرواهئ ، حقې وينا ، د دين خلاف دهرې لوئې نه لوئې فتنې ختمولو او په ټوله دنيا کښې دکافرانو سره د جنګيدونکو مجاهدينو سرپرستی دالله تعالی په فضل سره په ټوله دنيا کښې د کفر ، شرک ، الحاد ، زنديقت اود فسق اوفجور په اډو کښې زلزله پيدا کړې ده اودهغې بنيادونه ئې ختم کړی دی .

(۵) د دورِ حاضر اکثر علماء او مفتيانِ کرام د دوی شاګردان ياد شاګردانو شاګردان دی يا د شاګردانو په شان دی .

بيا اعتراضات هم څنګه اعتراضات دی ؟ چه نقلاً د قرآن اود حديثو د ذخائرو اود اجماع امت خلاف او عقلاً بديهيات ، د ټولې دنيا د مسلمانو اودخپل روزمره د عامو حالاتو ، دخپل ژوند په هره شعبه کښې د شپې او ورځې د معمولاتو خلاف .

ددې حالاتو په رڼا کښې د اعتراضاتو وجه څه مشکله نه ده ، حقيقت کښې وجه هم هغه ده چه دحضرت امام اعظم اود دوی د اصحابو رحمهم الله تعالی شديد مخالفت کړې شوې وو . ددې ائمه عظامو رحمه الله تعالی مخالفين د دوی د کمالاتو او دنيا کښې مقبوليت باندې د حسد په اور

سره سوزیدل . چا څه ډیر ښه ویلی دی شعر

محسودون و شر الناس کلهم من عاش فی الناس یوما غیر محسود

« هغوی باندې حسد کولې کیږی اود تولو خلقو نه بدترین هغه سړې دې چه هغه باندې کله یوورځ هم داسې نه وی تیرشوې چه په هغې کښې هغه باندې حسد نه وی کړې شوې»

که چیرته د « درس عبرت » بحث لوستلو سره هم په سترګو باندې د تعنت د پردې همدا حال وی نود نور عذابِ عظیم انتظار وکړئ ، «فتربصوا انا معکم متربصون» ، شعر :

ستبدی لك الایام ما کنت جاهلا ویاتیك بالاخبار من لم تزود

و یاتیك بالاخبار من لم تبع له بتاتا ولم تضرب له وقت موعد

عبدالرحیم

۲۷ ربیع الاول ۱۴۱۴ هجری

استفتاء

څه فرمائی علماء دین اومفتیان دشرع متین په دې مسئله کښې چه :

دلته د پنجاب نه بعضې ملګری کراچۍ ته لاړل اوهغوی د جمعې مونځ دحضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب مدظله په جمات کښې ادا کړو ، هلته هغوی یو څو نوی څیزونه وکتل هغوی خما نه په هغه باره کښې تپوسونه وکړل چه ستاسو په خدمت کښې پیش کیږی تاسو براهِ کرم د شریعت په رڼا کښې دهغه سوالونو په تفصیل سره جواب ورکړئ .

(...........فیصل آباد)

پورته ذکرشوی دی چه په هغه استفتاء کښې راغلی سوالونه هم د دولسو سوالونو سره تیرشوی فهرست کښې داخل دی .

په مقدمه کښې ذکر شوی وجوه اود رسالو د خواهش په بناء باندې جواب څه قدرې تفصیل سره لیکلې کیږی :

آیا مسلحه پیره د توکل خلاف ده ؟

اول نمبر اعتراض :

مفتی صاحب یومتقی او ولی الله انسان دې د الله والو الله پخپله حفاظت کوی اود الله والو د الله په ذات باندې ښکلې توکل هم وی . لیکن حضرت مفتی صاحب دخپل حفاظت دپاره دومره مسلح بادی ګارډان ساتلی دی . آیا هغوی ته پخپل الله باندې اعتماد او بهروسه نشته ؟

دفاعي انتظامات د توکل خلاف ګڼل الحاد دي

جواب : د اسلام دښمنان ، زنادقه او ملاحده نه د بچ کولو دپاره حفاظتي تدابير اختيارولو لره خلاف توکل ګڼل بې ديني او الحاد دي يو صحيح العقل والدماغ مسلمان ددې تصور هم نه شي کولې .

جهاد اوقتال في سبيل الله په فرائضِ قطعيه بديهيه متواتره کښې داخل دي چه د اسبابو او حفاظتي تدابيرو اوِ د اسلحې نه بغير نه شي کيدلې ، ددې وجه نه حفاظتي تدابيرو لره خلاف توکل ګڼل حقيقت کښې د جهاد د فرضيت بلکه دهغې د وجود نه انکار دي ، جهاد اوقتال کښې د اقدام نه ددفاع اهميت زيات دي ځوک چه دفاع نه کوي هغوی جهاد نه شي کولې .

د ټولې دنيا په مسلماتو کښې دا خبره ده چه هرملک هرځائ او په هره شعبه کښې اجتماعي او انفرادي ټولو محکمو کښې حفاظتي تدابيرو ته اهميت ورکولې کيږي .

د اهميت په لحاظ سره د ټولو نه مقدم ايمان دې بيا ځان بيا عزت بيا مال ، تاسو وګورئ چه د ټولو نه مؤخر او بيکاره څيز د مال حفاظت دپاره څه څه اسباب اختيارولې کيږي ، مګر د دنيا يو ذي شعور انسان هم هغه خو نه خلاف توکل ګڼي نه خلافِ مروت ، شرعاً هم دمال حفاظت مامور به دي ، حضوراکرم صلی الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو : **من قتل دون ماله فهو شهيد (رواه احمد في المسند ص۳ ج۲)** ((يعني ځوک چه دخپل مال په دفاع کښې اووژلې شي هغه شهيد دې))

همدارنګه حضوراکرم صلی الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو : **قاتل دون مالك حتى تحوز مالك او تقتل فتكون من شهداء الاخرة (حديث صحيح رواه احمد اتحاف العباد ص۳۲)**

((که دخپل مال په دفاع کښې (قتال کول پيښ شي نو قتال هم وکړه تردې پورې چه دخپل مال حفاظت وکړې يا بيا قتل کړې شې نو ته به آخرت کښې د شهداء په فهرست کښې شميرلې کيږې))

صحيح مسلم کښې د حضرت ابوهريره رضی الله تعالی عنه نه روايت دې :

جاء رجل الى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال يارسول الله ارايت ان جاء رجل يريد اخذ مالي قال فلا تعطه مالك قال ارايت ان قاتلني قال قاتله قال ارايت ان قتلني قال فانت شهيد قال ارايت ان قتلته قال هو في النار (صحيح مسلم ص۸۱ ج۱)

((يو صحابي د حضوراکرم صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې راتللو سره عرض وکړو ((که چرته ځوک ځما نه ځما د مال تښتولو کوشش وکړي نو زه څه وکړم ؟

دوی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل : ((هغه ته يې مه ورکوه)) .

هغه عرض اوکړو : ((که چرته هغه ځما سره قتال شروع کړي نو بيا ؟))

وي فرمائیل : «ته هم هغه قتل کړه»
هغه عرض وکړو : «که چرته هغه ما قتل کړی ؟»
وي فرمائیل : «بیا به ته شهید شې»
عرض ئې وکړو : «که چیرته زه هغه قتل کړم ؟»
وي فرمائیل : «هغه جهنم ته لاړو»

کوم اسلام چه د تولو نه کمتره څیز یعنې د مال د حفاظت حکم ورکړې دې هغه اسلام کښې د عزت، نفس اود ایمان حفاظت اودهغې دپاره د اسبابو اختیارول څنګه خلاف توکل کیدلې شی :

شعر ایں خیال است ومحال است وجنوں

د دفاع اهمیت اود ترک دفاع خطرناک نتائج

د احنافو فقهاؤ یو لوئ عالم امام جصاص رازی رحمه الله تعالی متوفی ۳۷۰ هجری فرمائی :

والذی یدل علی ان هذا الحکم (ترك الدفع) غیر ثابت فی شریعة النبی صلی الله علیه وسلم وان الواجب علی من قصده انسان بالقتل ان علیه قتله اذا امکنه وانه لا یسعه ترك قتله مع الامکان قوله تعالی: (وان طائفتان من المؤمنین اقتتلوا فاصلحوا بینهما فان بغت احداهما علی الاخری فقاتلوا التی تبغی حتی تفیء الی امر الله) فامر الله بقتال الفئة الباغیة ولا بغی اشد من قصد انسان بالقتل بغیر استحقاق فاقتضت الآیة قتل من قصد قتل غیره بغیر حق.

وقال تعالی: (ولکم فی القصاص حیاة) فاخبر ان فی ایجابه القصاص حیاة لنا لان القاصد لغیره بالقتل متی علم انه یقتص منه کف عن قتله وهذا المعنی موجود فی حال قصده لقتل غیره لان فی قتله احیاء لمن لا یستحق القتل.

وقال تعالی: (وقاتلوهم حتی لا تکون فتنة) فامر بالقتال لنفی الفتنة ومن الفتنة قصده قتل الناس بغیر حق (الی ان قال)

وقد روی عن النبی صلی الله علیه وسلم فی اخبار مستفیضة ((من قتل دون نفسه فهو شهید ومن قتل دون اهله فهو شهید ومن قتل دون ماله فهو شهید (الی) فاخبر صلی الله علیه وسلم ان الدافع عن نفسه واهله وماله شهید ولا یکون مقتولا دون ماله الا وقد قاتل دونه ویدل علیه قول النبی صلی الله علیه وسلم فی حدیث ابی سعید الخدری رضی الله عنه: ((من رای منکم منکرا فلیغیره بیده فان لم یستطع فبلسانه فان لم یستطع

فبقلبه وذالك اضعف الايمان)) فامر بتغيير المنكر باليد واذا لم يمكن تغييرہ الا بقتله فعليه ان يقتله بمقتضى ظاهر قول النبي صلى الله عليه وسلم ولا نعلم خلافا ان رجلا لو شهر سيفه على رجل ليقتله بغير حق ان على المسلمين قتله فكذالك جائز للمقصود بالقتل قتله وقد قتل على ابن ابي طالب رضى الله عنه الخوارج حين قصدوا قتل الناس واصحاب النبي صلى الله عليه وسلم معه موافقون له عليه وقد روى عن النبي صلى الله عليه وسلم اثار في وجوب قتلهم (الى) وقد تلقتها السلف بالقبول واستعملها في وجوب قتلهم وقتالهم وروى ابوبكر بن عياش قال: حدثنا ابو الاحوص عن سماك عن قابوس بن ابي المخارق عن ابيه قال: ((قال رجل يارسول الله: الرجل ياتيني يريد مالي قال ذكرہ الله تعالى قال فان لم يذكر قال استعن عليه من حولك من المسلمين قال فان لم يكن حولي منهم قال فاستعن عليه السلطان قال فان نأى عنى السلطان قال قاتل دون مالك حتى تمنع مالك او تكون من شهداء الاخرة

وذهب قوم من الحشوية الى ان على من قصده انسان بالقتل ان لا يقاتله ولا يدفعه عن نفسه حتى يقتله (الى) ولو كان الامر في ذلك على ما ذهبت اليه هذه الطائفة من حظر قتل من قصد قتل غيرہ ظلما والامساك وعنه حتى يقتل من يريد قتله لوجب مثله في سائر المحظورات اذا اراد الفاجر ارتكابها من الزنا واخذ المال ان يمسك عنه حتى يفعلها فيكون في ذلك ترك الامر بالمعروف والنهي عن المنكر واستيلاء الفجار وغلبة الفساق والظلمة ومحو اثار الشريعة وما اعلم مقالة اعظم ضررا على الاسلام والمسلمين من هذه المقالة ولعمري انها ادت الى غلبة الفساق على امور المسلمين واستيلائهم على بلدانهم حتى تحكموا الحكموا فيها بغير حكم الله وقد جر ذلك ذهاب الثغور وغلبة العدو حين ركن الناس الى هذه المقالة في ترك قتال الفئة الباغية والامر بالمعروف والنهي عن المنكر والانكار على الولاة والجوار والله المستعان (الى) قال ابوبكر: ذكر ابن رستم عن محمد عن ابي حنيفة رحمهما الله تعالى انه قال في اللص ينقب البيوت يسعك قتله لقوله صلى الله عليه وسلم: ((من قتل دونه ماله فهو شهيد)) ولا يكون شهيدا الا هو مامور بالقتال ان امكنه فقد تضمن ذلك ايجاب قتله اذا قدر عليه وقال ايضا في رجل يريد قلع سنك قال: فلك ان تقتله اذا كنت في موضع لا يعينك الناس عليه (احكام القران للجصاص الرازي ص ۳۰۰ تا ۴۰۰ ج ۲)

وقال الجصاص رحمه الله تعالى: وازالته (اى المنكر) باليد تكون على وجوه منها ان لا يمكنه ازالته الا بالسيف وان ياتي على نفس فاعل المنكر فعليه ان يفعل ذلك كمن راى رجلا قصده او قصد غيرہ بقتله او باخذ

ماله او قصد الزنی بامرأة او نحو ذلك وعلم انه لا ینتهی ان انکر علیه بالقول او قاتله بما دون السلاح فعلیه ان یقتله لقوله صلی الله علیه وسلم : ((من رای منکم منکرا فلیغیره بیده)) فاذا لم یمکنه تغییره بیده الا بقتل المقیم علی هذا المنکر فعلیه ان یقتله فرضا علیه (احکام القرآن للجصاص ص ج ۲)

وقال الجصاص الرازی رحمه الله تعالی ایضا : ولم یدفع احد من علماء الامة وفقهاءها سلفهم وخلفهم وجوب ذلك (ای الدفاع) الا قوم من الحشو وجهال اصحاب الحدیث فانهم انکروا قتال الفئة الباغیة والامر بالمعروف والنهی عن المنکر بالسلاح وسموا الامر بالمعروف والنهی عن المنکر فتنة اذا احتیج فیه الی حمل السلاح وقتال الفئة الباغیة مع ما قد سمعوا فیه من قول الله تعالی: (فقاتلوا التی تبغی حتی تفیء الی امر الله) وما یقتضیه اللفظ من وجوب قتالها بالسیف وغیره الی) والنما ینکر علی غیر السلطان بالقول او بالید بغیر سلاح فصاروا شر اهل الامة من اعداءها المخالفین لها لانهم اقعدوا الناس عن قتال الفئة الباغیة وعن الانکار علی السلطان الظلم والجور حتی ادی ذلك الی تغلب الفجار بل المجوس واعداء الاسلام حتی ذهبت الثغور وشاع الظلم وخربت البلاد وذهب الدین والدنیا وظهرت الزندقة والغلو ومذاهب الثنویة والخرمیة والمزدکیة والذی جلب ذلك کله علیهم ترك الامر بالمعروف والنهی عن المنکر والانکار علی السلطان الجائر والله المستعان (احکام القرآن ص ج ۲)

په پورته عباراتو کښې بیان کړې شوی امور ختصراً په نمبر سره ذکر کیږی

(۱) دین ، نفس ، عزت او مال باندې د حملې په وخت کښې دفاع فرض ده ، او دهغې په فرضیت کښې د هیچا اختلاف نشته .

اعتراض : که چیرته دفاع فرض وی نو حضرت هابیل قابیل ته دا ولې وئیلی وو چه : ﴿ لَئِنۢ بَسَطتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقۡتُلَنِي مَآ أَنَا۠ بِبَاسِطٖ يَدِيَ إِلَيۡكَ لِأَقۡتُلَكَۖ ﴾ (۵، ۲۸)

جواب : د هابیل دهغه قول مطلب سید المفسرین حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما داسې بیان کړې دې : معناه لئن بدأتنی بقتل لم ابدأك به ولم یرد انی لا ادفعك عن نفسی اذا قصدت قتلی.

فروی انه قتله غیلة بان القی علیه صخرة وهو نائم فشدخه بها وروی عن الحسن ومجاهد انه کتب علیهم اذا اراد رجل قتله ان یترکه ولا یدفعه عن نفسه. قال ابوبکر: وجائز فی العقل ورود العبادة بمثله فان کان التاویل هو الاول فلا دلالة فیه علی جواز ترك الدفع عن نفسه بقتل من اراد قتله وانما فیه انه لا یبدأ بالقتل غیره وان کان التاویل هو الثانی فهو منسوخ لامحالة وجائز ان یکون نسخه بشریعة بعض الانبیاء المتقدمة وجائز ان

یکون لنفسه بهریعة نبینا صلی الله علیه وسلم. (احکام القرآن للجصاص ص ۳ ج ۲)

په دې تفسیر کښې حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما دوه جوابه ورکړی دی:

(۱) د حضرت هابیل دا کلام اقدام سره متعلق دې نه له دفاع سره، یعنې که چیرته ستا په زړه کښې د اقدام اراده وی نو وی دې، زه اقدام نه کوم، دا مطلب نه وو چه دفاع به هم نه کوم، چنانچه روایاتو کښې دی چه هابیل لره په ویدو ناګهانه قتل کړې شو.

(۲) او که چیرته د هابیل مقصد ترک دفاع واخستلې شی نو دا زمونږ په شریعت کښې منسوخ شوې دې.

(۲) د دفاع د وجوب دلائل

(۱) قوله تعالی: ﴿فَقَٰتِلُوا۟ ٱلَّتِى تَبْغِى﴾ (۴۹، ۹)

او ددې نه لوئ کوم بغاوت او سرکشی کیدلې شی چه یو انسان لره په ناحقه قتل کړې شی.

(۲) قوله تعالی: ﴿وَلَكُمْ فِى ٱلْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ﴾ (۲، ۱۷۹)

قصاص خو هم دفاع ده، چه کله قاتل ته معلومه شی چه زه به هم قصاصاً قتل کیږم نو هغه به د قتل د اقدام نه بند پاتې شی، بالکل همدا صورتِ حال د قتل د قصد په وخت کښې هم دې چه د دفاع او د مزاحمت د وجوب د وجه نه هغه لره قتل کیدلې شی.

(۳) قوله تعالی: ﴿وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ﴾ (۲، ۱۹۳)

خلقو لره په ناحقه وژل ډیره لویه فتنه ده او دفاع د فتنې علاج دې.

(۴) حدیث: من قتل دون نفسه فهو شهید الخ

یعنې څوک چه د نفس، اهل او مال د وجه نه اووژلې شی هغه شهید دې.

او دا ظاهره ده چه دا وژل هم د دفاع د وجه نه کیږی.

(۵) حدیث: من رای منکم منکرا فلیغیره بیده

«چه کله تاسو یو منکر اووینئ نو هغه پخپل لاس سره بدل کړئ»

دین، نفس، عزت او مال باندې حمله کول ډیر لوئ منکر دې، لهذا که چرته دا تغییر بغیر له قتل نه نشی کیدلې نو بیا قتل کول متعین او فرض دې، بلکه زمونږ د علم مطابق په دې کښې هیڅ اختلاف نه موندلې کیږی چه که چیرته یوسړې په چا باندې اسلحې سره حمله وکړی نو په نورو مسلمانانو باندې د حمله کوونکی قتل فرض دې.

(۶) حدیث یو سړی عرض وکړو «یارسول الله! که څوک زما مال لره قبضه کول غواړی نو زه څه اوکړم؟»

دوی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : « هغه ته نصیحت وکړه »
صحابی عرض وکړو : « که چرته هغه نصیحت قبول نه کړی نو بیا ؟ »
دوی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : « دهغه په خلاف د گیرچاپیره مسلمانانو نه مدد طلب کړه »
صحابی عرض وکړو : « که چرته هغلته مسلمانان نه وی نوبیا ؟ »
دوی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : « د وخت بادشاه نه مدد طلب کړه »
صحابی عرض وکړو چه : « که دا هم ونه شي نوبیا ؟ »
دوی اوفرمائیل چه : « دخپل مال د دفاع دپاره قتال وکړه تردې پورې چه خپل مال لره بچ کړې یا شهید شې »

(۷) خوارجو چه کله د خلقو د قتل اراده وکړه نو حضرت علی رضی الله تعالی عنه هغوی لره قتل کړل او هغه عمل سره ټول صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم متفق وو .

(۳) د پوره امت علماء او فقهاء سلف اوخلف ټول په ټوله د وجوبِ دفاع قائل دی او د حشویه یو ډله اوپه ظاهریه کښې (څه ډیر) جاهله قسمه خلق د وجوبِ دفاع قائل نه دی ، هغوی د امر بالمعروف اود نهی عن المنکر بالسلاح منکر دی او دیته فتنه وائی ، حالانکه د الله تعالی اود هغه د رسول صلی الله علیه وسلم ارشادات بنه واضحه دی چه فتنې لره د ختمولو دپاره د اسلحې استعمال ضروری دې ، په دې کښې غفلت د دین اودنیا د دوارو د تباهئ باعث دې .

(۴) کوم خلق چه د وجوبِ دفاع بالسلاح قائل نه دی هغوی د ټول امت مجرمان دی اود اسلام دښمنانو دهغوی ددې یوې جملې (دفاع واجب نه ده) امتِ مسلمه لره یی په لویه تباهئ کښې اچولی دی .

(۵) صلحاؤ باندې د فساقو وفجارو تسلط د مجوسیانو اود نورو د اسلام د دښمنانو تغلب ، د سرحدونو خالی کیدل ، د ظلم عام کیدل ، د مملکت اسلامیه وران کیدل د دین او دنیا د حیثیت ختمیدل ، د زندقه اوالحاد اود مختلفو قسمو گمراهیانو ظهور ټول د دفاع بالسلاح پرېښودلو د وجه نه وشو .

(۶) ځما (داامام ابوبکرجصاص رازی رحمه الله تعالی) په نزد اسلام او مسلمانانو ته چه د نقصان رسولو دپاره څه وکړې شو په هغې کښې د ټولو نه زیات نقصان هغه دا کلمه ده ، یعنې ترک دفاع بالسلاح

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله تعالی فرمائی فالعدو الصائل الذی یفسد الدین والدنیا لا شیء اوجب بعد الایمان من دفعه. (الحاف العباد ص ۳)

((هغه دښمن چه په دین او دنیا (یعنې د دین د وجه نه نفس) باندې حمله کونکې وی نو د ایمان نه پس (د اسلام په فرائضو کښې) رومبنې فرض دهغه نه دفاع ده))

د اسلام د دښمنانو نه د دین اود اهلِ دین ، بالخصوص د علماء حق د حفاظت دپاره احتیاطی تدابیر اختیارول فرض او بلا شبهه نهایتِ اهم فرض دې ، ددې فرضیت او د اسبابو اختیارول د توکل څخه خلاف نه کیدل عقل او نقل ، قرآن اوحدیثو ، اجماع اود امت د تعامل اود خلفاء راشدینو د تعامل نه دومره واضحه او بدیهی دې چه هغې باندې دلائل قائمول د غرمې په وخت پرکیدونکی نمر باندې دلائل پیش کول دی مگر ((تقدیم)) کښې د مذکوره وجوه پیش نظر لاندې د قرآن ، حدیث ، آثار صحابه اوتابعین ، د فقهاؤ اقوال اود مجتهدینو اود خلفاء راشدینو رضی الله تعالی عنهم د تعامل نصوص پیش کولې کیږی ،

هسې خو قرآن کښې د دوه سوو نه زیات د جهاد او قتال آیتونه دی ، او جهاد او قتال بغیر د اسبابو اختیارولو نه شی کیدلې خو بیا هم دلته په هغې کښې یو څو آیتونه نقل کیږی چه په هغې کښې صراحةً د اسبابو اختیارولو حکم دې .

د اسلام د دښمناو دپاره تر ټولو ښه اسلحه تیاره ساتئ

(۱) ﴿وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ﴾ (۸، ۶۰)

((اود هغه کافرانو دپاره څومره چه تاسو نه کیدلې شی اسلحه او اسونه او نور سامان صحیح ساتئ (ځکه چه)دهغې په ذریعې سره به ستاسو زوروی په هغوی باندې کوم چه د الله دښمنان دی او ستاسو دښمنان دی او ددوی نه علاوه په نورو باندې به هم کوم چه تاسو نه پیژنئ او الله یی پیژنی))

((د ((اخرین من دونهم)) یو تفسیر په جناتو او شیاطینو سره کړې شوې دې ، ددې تفسیر تایید په هغه حدیث سره کیږی چه په هغې کښې راغلی دی چه په کوم کور کښې د دین د دفاع دپاره اسلحه وی هغه کور ته شیطان نه شی راتللې .

د حفاظتی تدابیرو حکم

(۲) ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ فَانفِرُوا ثُبَاتٍ أَوِ انفِرُوا جَمِيعًا﴾ (۴، ۷۱)

((ای مؤمنانو (رومبئ) دخپل خان د بچ کولو تدبیر وکړئ بیا (هغوی سره د مقابلې دپاره) متفرق طور باندې وځئ یا یوځائ کیدلو سره))

د حفاظت دپاره د اسلحې او د نورو تدابیرو حکم

(۳) ﴿وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ﴾ (۴، ۱۰۲)
((او هغه (مسلمانان دې د جهاد په میدان کښې د صلاة الخوف په وخت کښې) خپله دفاع او اسلحه دې مضبوطه ساتی))

د اسلحې نه غفلت تباهی او بربادی ده

(۴) ﴿لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَاحِدَةً﴾ (مخکنئ حواله)
((دا کفار غواړی چه تاسو دخپلې اسلحې او اسبابو نه غفلت اختیار کړئ بیا یوځائ په تاسو باندې سخته حمله وکړی))

د پیرې حکم

(۵) ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا﴾ (۳، ۲۰۰)
((ای مؤمنانو! پخپله صبر کوئ او په مقابله کښې کلك اوسئ اود اسلام او اهلِ اسلام د دفاع دپاره پیره وکړئ))

د حضورصلی الله علیه وسلم د سیرتِ طیبه د تولو نه ممتاز باب جهاد او قتال فی سبیل الله دې که چرته د سیرت نه جهاد وه ویستلې شی نودسیرت یو څو پانې باقی پاتې کیږی، دآتو کالو په لږه موده کښې دوی صلی الله علیه وسلم د اوه ویشتو جنگونو بنفس نفیس قومانده وکړه اود اویا نه د زیاتو جنگونو ترتیب یې جوړ کړو او د مجاهدینو لښکرې یې مختلفوعلاقوته ولیږلې، په دې سره اندازه ولگوئ چه په اسلام کښې دفاع څومره اهمه ده.

لاندې یو څو احادیث او د فقه نصوص لیکل کیږی چه په هغې کښې د کفر دلاندې کولو دپاره د اسبابو اختیارولو حکم په لوئ وضاحت سره موجود دې.

د رائفل او د نورو فیر کولو (تیر اندازی) د آلاتو دساتلو حکم

(۶) عن عقبة بن عامر رضی الله تعالی عنه یقول: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم وهو علی المنبر یقول: واعدوا لهم ما استطعتم من قوة الا ان القوة الرمی الا ان القوة الرمی الا ان القوة الرمی (صحیح مسلم ص ۱۴۳ ج ۲)

((حضرت عقبه بن عامر رضی الله تعالی عنه وائی چه ما د حضورصلی الله علیه وسلم نه په منبر باندې دا واوریدل چه: ((اود هغه کافرانو دپاره دخپل استطاعت موافق قوت تیار او آماده وساتئ، خبردار تیراندازی (غشی ویشتل) (اصل) قوت دې، خبردار! تیراندازی قوت دې، خبردار هم تیراندازی (اصل) قوت دې))

د فائرنګ (تیر اندازي) زده کولو حکم

(۷) عن سلمة بن الاکوع رضي الله تعالى عنه قال: مرالنبي صلى الله عليه وسلم على نفر من اسلم ينتضلون فقال ارموا بني اسماعيل فان اباکم کان راميا وانامع اسلم بني فلان الخ (صحيح بخاري ص ج۲)

«د حضرت سلمة بن اکوع رضي الله تعالى عنه نه روايت دي چه دحضورصلى الله عليه وسلم تيريدل د صحابه کرامو په جماعت باندې وشول چه د تيراندازۍ مشق ئې کولو ، دوی صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل : ای بني اسماعيل ! تيراندازی کوئ ، ستاسو پلار (حضرت اسماعيل عليه السلام هم) غټ (ماهر) تيرانداز وو »

د تيراندازۍ (فائرنګ) هنر د فائدې څيز دي

(۸) عن سعد بن ابي وقاص رضي الله تعالى عنه رفعه قال: عليکم بالرمي فانه خير او من خير لهوکم رواه البزار والطبراني في الاوسط وسندهما جيد قوي. (الترغيب للمنذري ص ج۲)

« حضرت سعد (د تيراندازۍ د فن سردار ماهر) رضي الله تعالى عنه د حضورصلى الله عليه و سلم دا ارشادنقل کوی چه:خپل ځان باندې تيراندازی لازمه کړئ ځکه چه تيراندازی دنفع څيز دي»

تيراندازي (فائرنګ) وروسته له زده کولونه بيا هيرول يا پريښودل نافرماني ده

(۹) عن عقبة بن عامر رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :من علم الرمي ثم ترکه فليس منا اوقد عصى (صحيح مسلم ص ج۲)

« حضرت عقبه رضي الله تعالى عنه د حضوراکرم صلى الله عليه وسلم ارشاد نقل کوی : «چاچه تيراندازی زده کړه اوبيا ئې هغه هيره کړه نو هغه زمونږ نه ، نه دې ، يا دوئ صلى الله عليه وسلم دا اوفرمائيل چه هغه نافرماني وکړه »

فائده

د تيراندازۍ فضائل بيشميره دی ، دحضرت والا په « سفرنامه جهاد افغانستان » کښې په دې باندې مستقل باب اينبودلې شوې دې چه په هغې کښې شل احاديث سره د ترجمې نه نقل دی ، دا سفرنامه (مفصله) د کتابت په آخری مراحلو کښې ده .

د پيرې فضائل

(۱۰) عن ابن عباس رضي الله تعالى عنهما قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: عينان لا

تمسهما النار عين بكت من خشية الله وعين باتت تحرس في سبيل الله. (رواه الترمذي وقال: حديث حسن غريب ص ۲۹۳)

«دوه سترگې داسې دی چه هغه به د جهنم اور نه شی سوزولې یوه هغه سترگه چه د الله د ویرې نه ژاړی ، او بله هغه سترگه چه ټوله شپه په جهاد کښې پیره کوی او ویښه وی»

د شب قدر نه افضله شپه

(۱۱) عن ابن عمر رضي الله تعالى عنهما ان النبي صلى الله عليه وسلم قال: الا انبئكم ليلة افضل من ليلة القدر حارس حرس في ارض خوف لعله ان لا يرجع الى اهله. (رواه الحاكم وقال: صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبي)

«د حضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دې چه حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو : «آیا تاسو ته داسې شپه ونه ښائم چه د (ثواب په اعتبارسره) د لیلة القدر نه (هم) افضله وی (یعنې هغه شپه چه په هغې کښې) پیره دار داسې خوفناکه علاقه کښې پیره وکړی چه هغلته د هغه ژوند په خطره کښې وی»

فائده

په جهاد کښې د پیرې ډیر فضائل دی ، د حضرت اقدس په «سفرنامه جهاد افغانستان» کښې په دې باندې مستقله رساله شته چه د شلو نه په زیاتو صحیح احادیثو باندې مشتمله ده .

په خپله حضوراکرم صلی الله علیه وسلم په حیثیت د یو مُسلح مُحافظ

داسې منظر چه د هغې دنظیر له پیش کولونه آسمان او زمکه عاجز دی :

(۱۲) عن انس رضي الله تعالى عنه قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم احسن الناس واجود الناس واشجع الناس قال وقد فزع اهل المدينة ليلة سمعوا صوتا قال فتلقاهم النبي صلى الله عليه وسلم على فرس لابي طلحة عري وهو متقلد سيفه فقال لم تراعوا لم تراعوا ثم قال رسول الله صلى الله عليه وسلم وجدته بحرا يعني الفرس. (صحيح بخاری ص ۳۰ ج ۱)

«حضرت انس رضی الله تعالی عنه فرمائی چه حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د ټولې دنیا په ښائسته خلقو کښې د ټولو نه زیات ښائسته او د ټولې دنیا په سخیانو کښې زیات سخی او د ټولې دنیا په بهادرو کښې زیات بهادر وو (ددې مشاهده د جنگونو نه علاوه په بې شمیره مواقع کښې کیدله من جمله د هغې نه دادې چه) یوه شپه اهلِ مدینه په یو خوفناکه آواز باندې وه ویریدل . د

مقابلې دپاره خطرې طرف ته وه وتل نو (کوری چه) حضورصلی الله علیه وسلم د حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه په آس باندې سور دې په غاره کښې یې خپله توره اچولې ده او د خطرې د معلومات دپاره یې هغه ځائ ته تشریف راوړی دې او فرمائی چه مه ویرېږئ، مه ویرېږئ (یعنې ما وکتل د ویرې خبره نه ده) بیا دوئ اوفرمائیل چه ما دې آس لره په مزل کښې د سمندر (په شان) وموندلو))

د صحیح بخاری په یو بل روایت کښې دی چه دوی صلی الله علیه وسلم هغه آس باندې د زین (کتې) نه بغیر سور وو، محدثین وائی چه په دې سره دا هم ثابته شوه چه خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم نهایتِ ماهر آس چلونکې وو، همدارنګه له دې نه داهم ثابته شوه چه د لښکر امیر دې په خپله هم د حالاتو جائزه واخلی.

آیا مسلحه پیره د سنت نه خلاف ده؟

دویم نمبر اعتراض: مسلح پیره د سنت نه خلاف ده، د حضورصلی الله علیه وسلم مسلح پیردارانو لره ساتل مې نه چرته وئیلی دی اونه مې آوریدلی دی، فرمان الهی دې چه: ﴿ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ﴾

((د الله رسول ستاسو دپاره (په ټولو حالاتو کښې) بهترینه نمونه ده))

او ارشاد نبوی دې چه: ((**علیکم بسنتی**)) ((یعنې ځما سنت لره لازم ونیسئ))

نو آیا د علماؤ دپاره دا حکم نه دې؟

مسلحه پیره خلافِ سنت ګڼل جهالت دې

جواب:

دا ګڼل چه مسلح پیره خلافِ سنت ده او دا چه د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم په سیرت کښې مسلح پیره نشته د احادیثو انکار، د حقائقو تکذیب یا بیا جهالت دې، د دوی صلی الله علیه وسلم غزوات اوډ سیرت کتابونه اوډ جهاد احادیث د مسلح پیرې نه ډک دی، اوس په هغې کښې یو څو احادیث پیش کیږی، د احادیثو محترموا لوستونکو! د ((حراست)) وئیلو سره یو ځلې د سوال عبارت بیا اووایئ دې دپاره چه د سوال د صورت په ښه طریقه احساس وشی، شعر

شاید که اتر جائے ترے دل میں مری بات

نن به زمونږ پیره داری څوک کوی

(۱۳) عن ابی ریحانة رضی الله تعالی عنه قال: کنا مع رسول الله صلی الله علیه وسلم فی غزوة فاتینا ذات یوم علی شرف فبتنا علیه فاصابنا برد شدید حتی رایت من یحفر فی الارض حفرة یدخل فیها ویلقی علیه الحجفة یعنی الترس فلما رای ذلک رسول الله صلی الله علیه وسلم من الناس قال من یحرسنا اللیلة وادعوله بدعاء یکون له فیه فضل فقال رجل من الانصار انا یارسول الله قال ادنه فدنا فقال من انت فتسمی له الانصاری ففتح رسول الله صلی الله علیه وسلم بالدعاء فاکثر منه قال ابو ریحانة فلما سمعت ما دعا به رسول الله صلی الله علیه وسلم فقلت انا رجل اخر قال ادنه فدنوت فقال من انت فقلت ابو ریحانة فدعا لی بدعاء وهو دون ما دعا للانصاری ثم قال حرمت النار علی عین دمعت اوبکت من خشیة الله وحرمت النار علی عین سهرت فی سبیل الله عزوجل الخ رواه احمد واللفظ له ورواته ثقات والنسائی ببعضه والطبرانی فی ((الکبیر)) و((الاوسط)) والحاکم، وقال: صحیح الاسناد (الترغیب للمنذری ص ۱۰۰ ج ۲)

«د حضرت ابوریحانه رضی الله تعالی عنه بیان دې چه مونږ په یو جنګ کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د شپې تیرولو دپاره په یو اوچت ځائ باندې حصار شو ډیره زیاته یخنی وه چه د یخنۍ نه د بچ کولو دپاره مجاهدینو کندې وکنستلې او په سر باندې ئې ډهالونه کینبودل او په زمکه کښې ننوتل ، حضوراکرم صلی الله علیه وسلم چه دخلقو دا حال وکتلو نو وې فرمائیل :

«نن به زمونږ پیره داری څوک کوی ؟ زه به دهغه دپاره د لوئ فضیلت دعا وکړم»

یو انصاری عرض وکړو یا رسول الله ! زه به پیره وکړم ، وې فرمائیل رانزدې شه ، هغه نزدې شو ، وې فرمائیل ته څوک ئې ؟ انصاری خپل تعارف وکړو بیا دوی صلی الله علیه وسلم د انصاری دپاره (دعا) شروع کړه او ډیره زیاته دعا ئې ورته وکړه . ابوریحانه رضی الله تعالی عنه وائی دعاګانې اوریدلوسره (ځما په خُله کښې هم اوبه راغلې) ما عرض وکړو چه زه هم پیره کوم . دوی صلی الله علیه وسلم زما نزدې راغوښتلوسره تپوس وکړو چه ته څوک ئې ؟ ما عرض وکړو ابوریحانه . بیا دوی صلی الله علیه وسلم ځما دپاره هم دعاګانې وکړې مګر د انصاری په نسبت کمې وې . بیا ئې اوفرمائیل د جهنم اور په هغه سترګه باندې حرام کړې شو چه د الله د ویرې نه ژاړی او هغه سترګه باندې چه په جهاد کښې شوګیره تیره کړی (یعنې پیره وکړی)

نن شپه به زمونږ محافظ څوک وی ؟

(۱۴) عن سهل بن الحنظلیة رضی الله تعالی عنه انهم ساروا مع رسول الله صلی الله علیه وسلم یوم حنین

(الی) ثم قال: من يحرسنا الليلة؟ قال انس بن ابی مرثد الغنوی انا يارسول الله (الی) فقال له رسول الله صلی الله عليه وسلم: استقبل هذا الشعب حتی تكون فی اعلاه ولا نغرن من قبلك الليلة (الی) فقال له رسول الله صلی الله عليه وسلم: هل نزلت الليلة قال لا الا مصليا او قاضی حاجة فقال له رسول الله صلی الله عليه وسلم: قد اوجبت فلا عليك ان لا تعمل بعدها. رواه ابوداود والنسائی، الترغيب للمنذری ص ۳ ج ۲، واخرجه البيهقی وابونعيم كما فی المنتخب (حياة الصحابة ص ۳ ج ۲)

« حضرت سهل بن حنظليه رضی الله تعالی عنه فرمائی چه حضوراکرم صلی الله عليه وسلم په «غزوه حنين» کښې يو شپه اوفرمائيل : « نن شپه به زمونږ محافظ څوک وی ؟ »

انس بن مرثد غنوی عرض وکړو يا رسول الله ! زه به پيره وکړم ، دوی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل د فلانکی ځائ په بره حصه باندې پيره وکړه وګوره چه ستا د جانبه مونږ چرته د دښمن نه دهوکه ونه خورو (د سحر په وخت) دوی صلی الله عليه وسلم د پيره دار نه پوښتنه وکړه : آيا ته په شپه کښې د آس نه لاندې هم راکوز شوې ؟ عرض ئې وکړو نه ، مګر د مونځ او قضاء حاجت دپاره ، دوی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل « تا د ځان دپاره جنت واجب کړو ، د نن نه پس تاسو که يو نيک کار هم ونه کړې شو نو پروا نشته »

نن شپه به زمونږ پيره دار څوک وی ؟

(۱۵) عن جابر رضی الله تعالی عنه (وفيه) فقال: من يكلؤنا ليلنا؟ فانتدب رجل من المهاجرين ورجل من الانصار قال فكونا بفم الشعب قال فلما خرج الرجلان الی فم الشعب اضطجع المهاجری وقام الانصاری يصلی واتی الرجل فلما رای شخصه عرف انه ربيئة للقوم فرماه بسهم فوضعه فيه فنزعه حتی رماه بثلاثة اسهم ثم ركع وسجد ثم انبه صاحبه فلما عرف انهم قد نذروا به هرب فلما رای المهاجری ما بالانصاری من الدم قال سبحان الله الا انبهتنی اول مارمی قال كنت فی سورة اقرؤها فلم احب ان اقطعها (سنن ابی داود ص ۰ ج ۱)

واخرج ابن اسحاق وغيره: وهما عمار بن ياسر وعباد بن بشر رضی الله تعالی عنهما (حياة الصحابة ص ۰ ج ۲)

يو غزوه کښې حضوراکرم صلی الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو : « نن شپه به څوک زمونږ پيره داری کوی ؟ » ، د دوی صلی الله عليه وسلم په دې آواز باندې يو مهاجر او يو انصاری لبيک اووئيل، دوی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل : دواړه ددې وادی په خله کښې پيره وکړئ »

چه کله دواړه د وادی خُلې ته ور ورسيدل نو مهاجر څملاستلو او انصاری په مونځ کښې مشغول شو ، دښمن هغه په غشی وه ويشتلو چه دهغه په بدن کښې ننوتلو ، هغه دغه غشې را وه ويستلو تردې پورې چه هغه درې غشی ولګيدلو ، دهغې سره سره هغه خپل مونځ پوره کړو او با

یی خپل ملګری ویخ کړو نو دښمن وتښتیدلو ، مهاجر چه په انصاری باندې وینه وکتله نو وې ونیل : « سبحان الله ! تاسو زه په رومبنی غشی لګیدلو سره ولې ویښ نه کړم ؟ » هغه اوونیل : « ما یو سورت لوستلو او هغه مې په مینځ کښې پریښودل خوښ ونه ګڼل »
دا دواړه خوش نصیبه حضرات عمار بن یاسر او حضرت عبادبن بشر رضی الله عنهما وو»

صدیق اکبر رضی الله تعالی عنه د نبوت محافظ ، اوچت شان

(۱۶) عن علی رضی الله تعالی عنه انه قال: ایها الناس اخبرونی من اشجع الناس ، قالوا انت یا امیر المؤمنین قال اما انی ما بارزنی احد الا انتصفت منه ولکن اخبرونی باشجع الناس قالوا لا نعلم فمن ، قال ابوبکر . انه لما کان یوم بدر جعلنا لرسول الله صلی الله علیه وسلم عریشا فقلنا من یکون مع رسول الله صلی الله علیه وسلم لئلا یهوی الیه احد من المشرکین فوالله ما دنا منه احد الا ابوبکر شاهرا بالسیف علی راس رسول الله صلی الله علیه وسلم لا یهوی الیه احد الا اهوی الیه فهذا اشجع الناس . اخرجه البزار . المجمع ص۴۶ ج۹ (حیاة الصحابة ص۳۳ ج۲)

« یو ځلې حضرت علی رضی الله تعالی عنه اوفرمائیل خلقو ! اووایئ د ټولو نه زیات بهادر څوک دې ؟ خلقو اوونیل امیرالمؤمنین هم تاسو یئ ، وې فرمائیل نه . او وایئ د ټولو نه زیات بهادر څوک دې ؟ خلقو اوونیل مونږ ته معلوم نه دې تاسو او وایئ ، وې فرمائیل : **ابوبکر** (ددې دلیل دادې چه) د غزوه بدر په ورځ مونږ د حضور صلی الله علیه وسلم د پاره چهپر جوړکړې وو بیا مونږ اعلان وکړو چه د حضور صلی الله علیه وسلم سره به د محافظ په طور څوک وی ؟ په الله تعالی قسم چا هم دهغه خطرناک کار د پاره غاړه کینه ښودله سوا د ابوبکر نه ، ابوبکر توره په لاس په دوی صلی الله علیه وسلم باندې پیره کوله ، کله به چه هم یو مشرک دوی طرف ته راتلل غوښتل نو حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه به په هغه باندې د (باز په شان) شوغه ووهله او هغه به ئې شړلو»

عمر فاروق رضی الله تعالی عنه د نبوت مسلح محافظ

(۱۷) قال الامام المحدث الحافظ الثقة الثبت عمر بن شبة النمیری المصری ۲۶۲،۱۷۳هجری
حدثنا حرمی بن عمارة (قال ابن معین صدوق کما فی الخلاصة للخزرجی ص۷۴) عن محمد بن ابراهیم الهاشمی ، عن ادریس الاودی عن ابیه قال: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا صلی فی الحجر قام عمر بن الخطاب علی راسه بالسیف (تاریخ المدینة لابن شبة ج۲ ص۷۰۰)

«حضوراکرم صلی الله علیه وسلم به په حطیم کښې مونځ ادا کولو نو حضرت عمر رضی الله تعالی عنه به توره په لاس په دوی صلی الله علیه وسلم باندې پیره کوله »

دمكې په فتح كښې د نبوت محافظ

(۱۸) عن هشام عن ابيه : لما سار رسول الله صلى الله عليه وسلم عام الفتح فبلغ ذلك قريشا خرج ابوسفيان بن حرب وحكيم بن حزام وبديل ابن ورقاء يلتمسون الخبر (الى) فرآهم ناس من حرس رسول الله صلى الله عليه وسلم فادركوهم فاخذوهم فاتوا بهم رسول الله صلى الله عليه وسلم فاسلم ابوسفيان الخ (صحيح بخاري ص ج۲)

« حضوراكرم صلى الله عليه وسلم فتح مكه كښې لا مكې ته رسيدلې نه وو چه اهل مكې ته د دوى د حملې او د لښكر پته ولګيدله ، د قريشو سردار ابوسفيان ، حكيم بن حزام او بديل بن ورقاء درې واړه د اسلامى لښكر د معلوماتو اخستلو دپاره اووتل ، د حضوراكرم صلى الله عليه وسلم محافظانو هغوى وليدل ، محافظينو هغوى ونيول او دوى صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې ئې حاضر كړل ، ابوسفيان فوراً په اسلام مشرف شو » الخ

علامه قسطلانى فرمائى : « په بعضو رواياتو كښې دى چه په هغه محافظينو كښې امير المؤمنين حضرت عمر رضى الله تعالى عنه هم وو»

مدينه طيبه كښې رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې مسلحه پيره

(۱۹) بوب الامام البخارى رحمه الله تعالى بباب الحراسة فى الغزو فى سبيل الله ثم روى عن عائشة رضى الله تعالى عنها تقول : كان النبى صلى الله عليه وسلم سهر فلما قدم المدينة قال ليت رجلا من اصحابنا صالحا يحرسنى الليلة اذ سمعنا صوت سلاح فقال من هذا فقال انا سعد بن ابى وقاص جئت لاحرسك فنام النبى صلى الله عليه وسلم (وفى رواية) حتى سمعنا غطيطه (صحيح البخارى باب الحراسة ص ج۱ وباب التمنى ص ج۲ ، وزاد ابن شبة : سهر فقلت ما لك يارسول الخ تاريخ المدينة ص ج۱ ، صحيح مسلم ص ج۲)

قال الحافظ ابن حجر رحمه الله تعالى : وفى الحديث الاخذ بالحذر والاحتراس من العدو وان على الناس ان يحرسوا سلطانهم خشية القتل وفيه الثناء على من تبرع بالخير وتسميته صالحا وانما عانى النبى صلى الله عليه وسلم ذلك مع قوة توكله للاستنان به فى ذلك وقد ظاهر بين درعين مع انهم كانوا اذا اشتد البأس كان امام الكل وايضا فالتوكل لا ينافى تعاطى الاسباب لان التوكل عمل القلب وهى عمل البدن وقد قال عليه الصلاة والسلام اعقلها وتوكل الخ (فتح البارى ص ج۶)

« حضرت عائشه رضى الله تعالى عنها فرمائى چه يوه شپه حضوراكرم صلى الله عليه وسلم ويښ وو ما عرض وكړو يا رسول الله ! تاسې ولې فكرمند يئ ؟ وې فرمائيل كاش څوك په صحابو كښې

یو نیك سړي په ما باندې پیره وکړی. په دې دوران کښې مونږ د اسلحې آواز واوریدلو نو دوی صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه : څوک یی؟ عرض ئې وکړو : سعد ابن ابی وقاص یم (په یو روایت کښې دی چه ما په خپل زړه کښې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې خطره محسوسه کړه) د پیرې دپاره حاضر شوی یم ، دهغې نه پس حضوراکرم صلی الله علیه وسلم داسې اطمینان سره ویده شو چه مونږ د دوی صلی الله علیه وسلم د خوب هغه آواز واوریدلو»

حافظ ابن حجر رحمه الله تعالی فرمائی : ددې حدیث نه دا مسائل ثابت شو

(۱) حفاظتی تدابیر اختیارکړئ.

(۲) د دښمن نه د دفاع دپاره پیره وکړئ.

(۳) خلقو باندې دخپلو مشرانو حفاظت لازم کیدل

(۴) د پیرې کولو والا د ثناء لائق کیدل.

(۵) پیره دار ته د لسانِ نبوت نه د «صالح» لقب عطاء کیدل.

(۶) دنورو په هغه سنتِ نبویه باندې عمل کول.

(۷) د اسبابو اختیارول د توکل خلاف نه کیدل.

په مدینه کښې د قیس بن سعد د پیره دارۍ معمول

(۲۰) عن انس رضی الله تعالی عنه قال: ان قیس بن سعد کان یکون بین یدی النبی صلی الله علیه وسلم بمنزلة صاحب الشرطة من الامیر (صحیح البخاری ص ... ج ، جامع الترمذی ص ... ج . ورواه ابن حبان فی ((صحیحه)). فتح الباری ص ... ج . نیل الاوطار ص ... ج .)

«حضرت انس رضی الله تعالی عنه فرمائی چه حضرت قیس بن سعد رضی الله تعالی عنه به د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم نه مخکې د محافظ په طور تللو

امام ابن حبان رحمه الله په دې حدیث باندې دا باب قائم کړو (باب احتراز المصطفی من المشرکین فی مجلسه اذا دخلوا)

یعنې د مصطفی صلی الله علیه وسلم د مشرکینو نه د حفاظت بندوبست کول . (فتح الباری . نیل الاوطار تیر شوې جلد او صفحه)

د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مخکې نیزو والا

(۲۱) باب حمل العنزة او الحربة بین یدی الامام یوم العید

«د اختر په ورځ د امام نه مخکې نیزه اوچتولو سره د تللو بیان»

عن ابن عمر رضی الله تعالی عنهما قال: کان النبی صلی الله علیه وسلم یغدوالی المصلی والعنزة بین یدیه تحمل وتنصب بالمصلی بین یدیه فیصلی الیها (صحیح بخاری ص۱۳۳ ج۱)

وعنه رضی الله تعالی عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان اذا خرج یوم العید امر بالحربة فتوضع بین یدیه فیصلی الیها والناس وراءه وکان یفعل ذلک فی السفر فمن ثم اتخذها الامراء (صحیح البخاری ص۱ ج۱)

« حضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنهما فرمائی چه حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د اختر په ورځ د مونځ دپاره تشریف وړلو نو د نیزو اوچتولو حکم به ئې ورکولو ، نیزې اوچتونکی به د دوی وړاندې وو بیا به یې دهماغه نیزې نه د سترې کار اخستلو ، د حاکمانو مروجه طریقه هم ددې سنت نه ماخوذه ده »

قال الحافظ ابن حجر رحمه الله تعالی: وفی الحدیث الاحتیاط للصلاة واخذ الة دفع الاعداء لاسیما فی السفر (فتح الباری ص۱۳ ج۱)

د احادیثو غر حافظ ابن حجر د صحیح بخاری شارح فرمائی چه : « ددې حدیث نه دا مسئله ثابته شوه چه بهر ته د تګ په وخت د دښمنانو نه د دفاع دپاره اسلحه وړل له ځان سره پکار دی اوپه سفر کښې خصوصًا ددې اهتمام کول پکار دی »

د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مخکې ډنډو (لرګیو) والا

(۲۲) قال ابن شبة حدثنا عبدالله بن رجاء قال: حدثنا المسعودی عن القاسم قال: کان عبدالله رضی الله تعالی عنه یلبس النبی صلی الله علیه وسلم نعلیه ثم یاخذ العصا فیمشی امامه الخ (تاریخ المدینة ص۲۰۰ ج۱)

«حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه حضوراکرم صلی الله علیه وسلم ته نعلین شریف (پڼې) اچولې بیا به یې د دوی عصامبارکه اخستله او وړاندې وړاندې به تللو ـ الخ»

د رسول صلی الله علیه وسلم په منبر باندې د بلال حبشی رضی الله تعالی عنه د پیره دارۍ خوندوره نظاره

عن الحارث بن حسان قال: قدمت المدینة فرایت النبی صلی الله علیه وسلم قائما علی المنبر وبلال قائم بین یدیه متقلد سیفه واذا رایة سوداء فقلت: من هذا فقال: هذا عمرو بن عاص قدم من غزاة (سنن ابن ماجة ص۲۰۰)

(۲۳) قال ابن شبة عن الحارث بن حسان البکری قال: قدمت المدینة فاذا النبی صلی الله علیه وسلم علی المنبر واذا بلال متقلدا بالسیف واذا رایات سود فقلت: ما هذه الرایات قالوا: هذا عمرو بن العاص قدم من غزوة ذات السلاسل (تاریخ المدینة ص۲۰۰ ج۱)

« حضرت حارث رضی الله تعالی عنه وائی چه زه مدینې طیبې ته حاضر شوم نو ما دا منظر وکتلو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منبر باندې تشریف فرما دې او (ورسره) بلال په غاړه کښې توره اچولې ولاړ دې ، یو څو تورې جهنډې دی . ما د خلقو نه پوښتنه وکړه دا جهنډې د څه شي دی ؟ خلقو اوویل : دا عمروبن العاص دې چه د «غزوه ذات السلاسل» نه واپس شوې دې «دا جهنډې د هغه د مجاهدینو دی»

ریاض الجنه کښې اسطوانهٔ حارس

(٢٤) قال العلامة السمهودي رحمه الله تعالی: ومنها اسطوان المحرس ويسمى اسطوان امير المؤمنين علي بن ابي طالب رضي الله تعالى عنه قال يحيى:—

قال جعفر بن عبدالله بن الحسين: ان هذه المحرس كان علي بن ابي طالب يجلس في صفحتها التي تلي القبر مما يلي باب رسول الله صلى الله عليه وسلم يحرس النبي صلى الله عليه وسلم (وفاء الوفاء ص ٣٠ ج ٢)

« مسجدِنبوی کښې » د « ریاض الجنه » په ستنو کښې یوه ستنه د «اسطوان المحرس» یا د «اسطوان امیرالمؤمنین علی رضی الله تعالی عنه» په نوم سره مشهوره ده ددې وجه نه چه دغلته به حضرت علی رضی الله تعالی عنه د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم پیره ورکوله »

د ام المؤمنین حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها بیان

(٢٥) عن عائشة رضي الله تعالى عنها قالت: كان النبي صلى الله عليه وسلم يحرس حتى نزلت هذه الاية (والله يعصمك من الناس) رواه الترمذي قال الحافظ: واسناده حسن (فتح الباري ص ٦٠ ج ٦)

« حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمائی چه حضوراکرم صلی الله علیه وسلم باندې د پیرې معمول د آیت « **والله يعصمک من الناس** » تر نزول پورې برقرار وو»

په مدینه طیبه کښې په نمبر نمبر د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم پیره کول

(٢٦) عن محمد بن كعب القرظي قال: كان النبي صلى الله عليه وسلم يتحارسه اصحابه فانزل الله تعالى (يايها الرسول ـــ الخ)

(٢٧) عن عبدالله بن شقيق: ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يعتقبه ناس من اصحابه فلما نزلت (والله يعصمك من الناس) خرج فقال يايها الناس الحقوا بملاحقكم فان الله قد عصمني. (تاريخ المدينة ص ٣٠ ج ١)

تفسیر الطبری ص۱۱۱ ج۶)

((حضرت محمد بن کعب او عبد الله بن شقیق رحمهما الله فرمائی چه صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم به په حضوراکرم صلی الله علیه وسلم باندې په نمبرنمبر باندې پیره کوله ، چه کله آیت (**والله یعصمک من الناس**) نازل شو نو دوی صلی الله علیه وسلم د (حجرې مبارکې) نه راوتلو سره ارشاد اوفرمائیلو : خلقو ! خپلو کورونو ته واپس شئ بې شک الله تعالی ځما د حفاظت وعده کړې ده))

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوب په وخت کښې د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم ګیرچاپیره پیره کول

(۲۸) واخرج ابونعیم فی الدلائل عن ابی ذر رضی الله تعالی عنه قال: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم لاینام الا ونحن حوله من مخافة الغوائل حتی نزلت اية العصمة (الدر المنثور ص۲۹۸ ج۲)

((حضرت ابوذر رضی الله تعالی عنه فرمائی چه حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د خطرې په وخت کښې هغه وخته پورې نه ویده کیدلو ترڅو پورې چه به مونږ ګیرچاپیره نه وو ودریدلی ، دا معمول د (عصمت) د آیت ترنزوله پورې وو))

د حضور صلی الله علیه وسلم تره حضرت عباس رضی الله تعالی عنه هم په محافظینو کښې وو

(۲۹) واخرج الطبرانی عن ابی سعید الخدری رضی الله تعالی عنه قال: کان العباس عم رسول الله صلی الله علیه وسلم فیمن یحرسه فلما نزلت (والله یعصمک من الناس) ترک الحرس. (تفسیر المظهری ص۱۳۰ ج۲)

((د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم تره حضرت عباس رضی الله عنه هم د دوی صلی الله علیه وسلم په محافظینو کښې وو د آیت (عصمت) له نزول نه وروسته یې پیره پرېښودله))

(۳۰) واخرج ایضا عن عصمة بن مالك الخطمی رضی الله عنه قال: کنا نحرس رسول الله صلی الله علیه وسلم باللیل حتی نزلت (والله یعصمک من الناس) فترک الحرس (تفسیر المظهری ص۱۳۰ ج۲)

((حضرت عصمة بن مالک خطمی رضی الله تعالی عنه فرمائی چه مونږ په شپه کښې حضور اکرم صلی الله علیه وسلم باندې پیره کوله بیا چه کله آیت (**والله یعصمک من الناس**) نازل شو نو پیره ترک کړې شوه))

(۳۱) عن الادرع السلمی رضی الله تعالی عنه قال: جئت لیلة احرس النبی صلی الله علیه وسلم فاذا رجل قراءته عالیة الخ (سنن ابن ماجة ص۱۱۲)

«حضرت ادرع سلمی رضی الله تعالی عنه فرمائی چه زه یوه شپه د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم پیرې کولو دپاره حاضرشوم نو هغلته مې یو داسې سړې وموندلو چه د هغه قراءت «آواز» اوچت وو . بیا دهغه انتقال وشو . جنازه اوچته کړې شوه نو دوی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل د ده سره د نرمۍ اود «اکرام» معامله وکړئ ، الله هم د ده سره نرمی کړې ده ځکه چه ده د الله اود الله رسول سره زیات محبت لرلو . بیا چه کله دهغه دپاره قبر وکنستلې شو نو دوی اوفرمائیل چه دده قبر لرې فراخه کړئ الله په ده باندې وسعت کړې دې ... ده د الله اود الله رسول صلی الله علیه وسلم سره زیات محبت لرلو .

د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله تعالی عنه بیا ن

(۳۲) عن ابی موسی رضی الله عنه قال: ان النبی صلی الله علیه وسلم کان یحرسه اصحابه فقمت ذات لیلة فلم ارہ فی منامه فاخذنی ما قدم وما حدث فذهبت انظر فاذا انا بمعاذ قد لقی الذی لقیت ..الخ (مسند احمد ص ۲۰۰ ج۵ الفتح الربانی ص۱۳۱ ج۲۳)

«حضرت ابوموسیٰ اشعری رضی الله تعالی عنه فرمائی چه صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم به د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم پیره کوله ، یوه شپه زه د پیرې په غرض سره د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شوم نو دوی صلی الله علیه وسلم مې د آرام گاه په ځائ کښې ونه موندل نو ډیر پریشانه شوم او نوؤ او زړو خطراتو زه گیرگړم زه د دوی صلی الله علیه وسلم د لټون دپاره اووتلم نو څما ملاقات د حضرت معاذبن جبل سره وشو . معلومه شوه چه هغه هم د پیرې دپاره راغلې وو او د دوی صلی الله علیه وسلم په لټون کښې سرگردان او پریشان وو .

د خلیفه راشد حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله محافظ

(۳۳) ان عمربن عبدالعزیز رحمه الله غدا یوم عرفة من منی فسمع التکبیر عالیا فبعث الحرس یصیحون فی الناس ایها الناس انها التلبیة.(موطامالک ص۳۳۰)

« خلیفه عادل اوراشد امیرالمؤمنین حضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله د ذی الحجې په نهمه په منی کښې د سحر په وخت د خلقو نه په اوچت آواز سره تکبیر واوریدلو دوی خپل محافظین ولیږل او دا اعلان یې اوفرمائیلو چه : اې خلقو ! دا د تلبیه وئیلو وخت دې «نه د خالی تکبیر»

رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې پیره تر آخر عمر پورې وه

قال بدرالملة والوقت القاضی ثناء الله الفانی فتی رحمه الله تعالی: قیل: نزلت هذه الایة بعد ما شج راسه.لان سورة المائدة من اخر القران نزولا

وقال المحدث الشهير والمفسر الكبير الحافظ ابن كثير رحمه الله تعالى: والصحيح ان هذه الاية مدنية بل هي من اواخر ما نزل الله بها والله اعلم (تفسير ابن كثير ص ج٢)

وقال العلامة القسطلاني رحمه الله تعالى: وهو (اي قوله يحرس حتى نزلت) يقتضي انه لم يحرس بعد ذلك بناء على سبق نزول الاية لكن ورد في عدة اخبار انه في بدر واحد والخندق ورجوعه من خيبر وفي وادي القرى وعمرة القضية وفي حنين فكان الاية نزلت متراخية عن وقعة حنين الخ (ارشاد الساري ص ج٥)

«د حافظ ابن كثير اود قاضي صاحب رحمهما الله تعالى په پاسنيو تصريحاتو سره ثابته شوه چه آيت (**والله يعصمک من الناس**) په هغه آيتونو کښې دې چه دهغې نزول بالکل په آخر کښې شوې وو چه د دې خبرې واضح مطلب دادې چه دوی صلی الله عليه وسلم باندې د پيرې معمول تر آخر عمره پورې وو.

د علامه قسطلاني رحمه الله تعالى د بيان مطابق هم پيره تر (غزوهٔ حنين) پورې ثابته ده او دا ددې دليل دې چه دا آيت د «غزوهٔ حنين» نه پس نازل شوې دې.

ددې ټول تفصيل حاصل داشو چه د دې آيت نزول د پيرې د معمول دپاره ناسخ دې مگر مشهور مفسر اومحدث علامه قرطبي رحمه الله ددې رائې سره متفق نه دې ، هغه فرمائي:

((ليس في الاية ما ينافي الحراسة كما ان اعلام الله بنصر دينه واظهاره ما يمنع الامر بالقتال واعداد العدد وعلى هذا فالمراد العصمة من الفتنة والاضلال او ازهاق الروح)) (فتح الباري ص ج عمدة القاري ص ج٢)

يعنې څنگه چه د الله دا وعده چه مونږ به دينِ اسلام غالب کوو د في سبيل الله معارض نه دې ، همدغه شان دا آيت هم د «حراست» (پيرې) منافي نه دې ، د آيت مطلب دادې چه الله تعالى به تاد فتنې وغيره نه بچ کوي.

د حضوراکرم صلی الله عليه وسلم محافظين

له ذکر شوی تفصيل نه ثابته شوه چه د حضوراکرم صلی الله عليه وسلم حفاظت او پيره داری په نمبر نمبر ټولو صحابو کرامو رضی الله تعالى عنهم حاصلوله ليکن بعضې حضراتو ته دا دولت خصوصي طورسره حاصل شوې وو او هغه خوش قسمته دادي:

(١) اميرالمؤمنين حضرت ابوبکر رضی الله تعالى عنه (٢) اميرالمؤمنين حضرت عمرفاورق رضی الله تعالى عنه (٣) اميرالمؤمنين حضرت علي رضی الله تعالى عنه (۴) حضرت زبير بن العوام رضی الله تعالى عنه (۵) حضرت عباس (٦) حضرت سعدبن ابی وقاص (٧) حضرت ابوطلحه (٨) حضرت عبدالله بن مسعود (٩) حضرت بلال (١٠) حضرت ابوذرغفاری (١١) حضرت سعدبن معاذ (١٢) حضرت حذيفه (١٣) حضرت عمار (١۴) حضرت ابوايوب (١۵) حضرت محمدبن سلمه (١٦)

حضرت قیس بن سعد (۱۷) حضرت عبادبن بشر (۱۸) حضرت انس بن مرثد (۱۹) حضرت ابوریحانه (۲۰) حضرت ذکوان بن عبدقیس (۲۱) حضرت عصمة بن مالک خطمی (۲۲) حضرت ادرع سلمی (۲۳) حضرت محجن بن ادرع رضی الله عنهم اجمعین وارضاهم
(ارشاد الساری ، حاشیه صحیح البخاری کتاب التمنی ، فتح الباری ، عمدة القاری ، تفسیر مظهری ، درمنثور ، طبری ، تاریخ مدینه ، حیاة الصحابة)

اسلحه او د هشت گردی

دریم نمبر اعتراض:

دارالافتاء والارشاد کښې د اسلحې نمائش اودهغې ښه مظاهره کیږي علماؤ سره اسلحه د دین دپاره فتنه اود دین عظمت لره په خاورو کښې د ګډولو مترادف دي . نن سبا اسلحه د غلو او د بدمعاشانو شعار جوړ شوي دي چه دهغې د وجه نه علماؤ سره اسلحه په حقیقت کښې مسلمانانو لره د دین نه نور هم متنفر کول دی.

له اسلحې نه نفرت په حقیقت کښې د قرآن او حدیث او سنتِ نبوی نه نفرت دې

جواب:

مسلمانانو باندې داسې دور هم راتللو والا وو چه د اسلحې په شان عزت ، نعمت او محبوب خیز لره

(۱) چه د الله اود هغه د رسول حکم قطعی دې .
(۲) چه د اسلام عزت اوعظمت هم دې او قوت او طاقت هم .
(۳) چه دهغې سره د نبی عقیدت او محبت وو .
(۴) چه د نبی میراث وو .
(۵) چه هغې لره صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم دخپل تن نه په شپه کښې هم نه جدا کوله.
(۶) چه دهغې مشق په مسجدِ نبوی کښې دننه کیدلو .
(۷) چه دهغې خیرات په مسجدِ نبوی کښې دننه کیدلو .
(۹) چه هغې لره مسجد ته د راوړلو آداب پخپله نبی کریم صلی الله علیه وسلم بیانول قابل نفرت او هغې لره د دهشت گردئ علامه اونشانه گنل به شروع کیږي عزت لره به ذلت او بلندئ لره به لاندې والې تصورکول شروع کیږي
داسې خلق که چرته مخلص وی نو هغوی ته به په لږ غورسره ښه احساس وشی چه اسلحې لره د

دهشت گردي علامه گڼلو او ونيلو كښې ييښكه ايمان په خطره كښې دي .

بيا دا خومره د افسوس مقام دي چه غله او بدمعاشان خو دي دا عظيم څيز حاصل کړي او هغه دي ددين په خلاف استعمال کړي او خوك چه خان ته دنبي السيف ‌‌‌‌(د توري والا د نبي ، امتي وايي هغه دي دا توره پريږدي او له هغې نه دي نفرت شروع کړي او هغه دي ذلت وګڼي

آيا كه چيرته بدماش خلق مونځ روژه اداء كولو سره دهغې نه غلط مقاصد راويستل شروع كړي نو دا به عقلمندي وي چه نور مسلمانان مونځ او روژه پريږدي او په قلار كيني او مونځ روژي لره بدمعاشي ونيل شروع کړي ؟

د اسلحې ساتلوپه باره کښې خو څه آيتونه تير شوي دي اوس بو څو حديثونه ستاسو په خدمت کښې پيش کيږي

د دفاع او جهاد آلات اود اسلحې دساتلو فضائل

آس باندې خرچ كول د صدقې كولو دپاره داسې لاس خورول دي چه كله هم بند نه شي .

(۳٤) عن ابي الدرداء رضي الله تعالى عنه قال قال لنا رسول الله صلى الله عليه وسلم : المنفق على الخيل كالباسط يده بالصدقة لا يقبضها (سنن ابي داؤد ص ــ ج)

« حضرت ابوالدرداء رضي الله تعالى عنه فرمائي رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته ارشاد اوفرمائيلو آس باندې خرچ كولو والا داسې دي لكه بو سړی د صدقې كولو دپاره لاس داسې خور كړې وي چه هغه به دا هيڅ كله بند نه کړي »

د جهاد د آس خاشتره او ميتازې به د قيامت په ميزان کښې د مونځ او روژې سره وي

(۳۵) عن ابي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من احتبس فرسا في سبيل الله ايمانا بالله وتصديقا بوعده فان شبعه وريه وروثه وبوله في ميزانه يوم القيامة يعني الحسنات (صحيح بخاري ص ــ ج سنن النسائي ص ــ ج)

« حضرت ابوهريره رضي الله تعالى عنه وائي چه حضور صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو چاچه په الله اودهغه په وعدو باندې ايمان او يقين سره د جهاد ،اود اسلام نه د دفاع ، دپاره آس وساتلو نودهغه خوراک . څکاک . خاشتره او ميتازې ټول به د قيامت په ورځ د نيکيانو سره تللې کيږي »

د اسلام نه د دفاع دپاره اسلحه عبادت اود ريا دپاره وبال دي

(۳۶) عن اسماء بنت يزيد رضی الله تعالی عنها ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال: الخيل في نواصيها الخير معقود ابدا الی يوم القيامة فمن ارتبطها عدة في سبيل الله وانفق عليها احتسابا في سبيل الله فان شبعها وجوعها وريها وظماها وارواثها وابوالها فلاح في موازينه يوم القيامة ومن ارتبطها رياء وسمعة ومرحا وفرحا فان شبعها وجوعها وريها وظماها وارواثها وابوالها خسران في موازينه يوم القيامة. رواه احمد باسناد حسن (الترغيب للمنذری ص۲۰۳ ج۲)

«حضرت اسماء بنت يزيد رضی الله تعالی عنها وائي چه حضورصلی الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو : د آسونو په تندو کښې هميشه دپاره خير اينبودلې شوې دې (د هغوی نه به قيامته پورې د اسلام اود اهلِ اسلام دفاع اود الله کلمه بلنده او اوچته وی) پس چا چه هغوی لره د جهاد دپاره تيارولوسره وساتل او ثواب ګټلوسره يې هغوی باندې خرچ وکړو نودهغوی خوراک او څکاک ، لوږه او تنده ، خاشنره او ميتازې د قيامت په ورځ (دنيکيانو) په تله کښې به لوئې وزن دارې نيکيانې وی اوچا چه د ښودنې او شهرت ، او فخر دپاره آس وساتلو نودهغه خوراک او څکاک . لوږه او تنده ، خاشنره او ميتازې (دا ټول څيزونه به د بديانو) په تله کښې وبال ثابتيږی»

اسلحې سره محبت

(۳۷) عن معقل بن يسار رضی الله تعالی عنه قال: لم يکن شیء احب الی رسول الله صلی الله عليه وسلم من الخيل ثم قال اللهم غفرا الا بل النساء رواه احمد ص۲۰ ج۵ ورواته ثقات (الترغيب للمنذری ص۲۰۳ ج۲)

حضرت معقل بن يسار رضی الله تعالی عنه فرمائي : « حضوراکرم صلی الله عليه وسلم ته د آسونو نه زيات بل څيز محبوب نه وو ، بيا ئې اوفرمائيل د بيبيانو نه پس»

«څکه چه بيبيانې هم اسلام او اهلِ اسلام نه د دفاع اود اعلاء کلمة الله اصل ذريعه ده او د جهاد ذرائع دی . حضرت سليمان عليه السلام سل نکاحونه کړی وو دې دپاره چه مجاهدين په زيات تعداد کښې وی »

مهمه فائده

تير شوو رواياتو نه ثابته شوه چه د دين حفاظت او د اعلاء کلمة الله په خاطر صرف اسلحه ساتل عبادت نه دې بلکه د اسلحې ټول مصارف . ساتنه او صفائی . مرمت ټول د اعلی درجې عبادت او د قيامت په تله کښې زيات وزن دار او درانده حسنات دی .

صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم به هر وخت د اسلحې نه ډک وؤ

(۳۸)عن ابی بن کعب رضی الله تعالی عنه قال: لما قدم رسول الله صلی الله علیه وسلم واصحابه المدینة اوتهم الانصار رمتهم العرب عن قوس واحدة وکانوا لا یبیتون الا بالسلاح ولایصبحون الا معه (مسند الدارمی)

«حضرت ابی بن کعب رضی الله تعالی عنه نه روایت دي چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم اود دوی صحابو مدینې ته تشریف راوړو او انصارو هغوی ته ځائ ورکړو نو د عربو ټول قبائل د مسلمانانو په خلاف د جنګ دپاره ودریدل ، په هغه حالاتو کښې به صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم شپه او ورځ اسلحه خپل ځان سره ساتله»

نبوت او اسلحه لازم او ملزوم دی

(۳۹) عن ابن عمر رضی الله تعالی عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم بعثت بین یدی الساعة بالسیف وجعل رزقی تحت ظل رمحی.(مسند احمد ص ج، صحیح بخاری ص ج)

«حضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنهما د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم دا ارشاد نقل کوی: «زه د قیامت نه وړاندې توره راکولوسره راستولې شوې یم او زما (ذریعه) د معاش زما د نیزې د سوری لاندې ایښودلې شوې دې»

د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم زغره «بلټ پروف جیکټ» استعمالول

(۴۰) کان علی النبی صلی الله علیه وسلم درعان یوم احد(جامع ترمذی ص ج) سنن ابی داؤد ص ج، سنن ابن ماجة ص ج) مسند احمد ص ج)

(۴۱) کان علی النبی صلی الله علیه وسلم درعان یوم احد ذات الفضول وفضة وکان علیه یوم حنین درعان ذات الفضول والسعدیة.(شرح الزرقانی ص ج)

« جنګ احد » کښې د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم په وجودِ مسعود باندې دوه زغرې (ذات الفضول » او « فضه » او «غزوه حنین » کښې « ذات الفضول » او «سعدیه » وې »

په خپله د(بلټ پروف) جنګی ټوپئ استعمال

(۴۲) باب لبس البیضة « د جنګی ټوپئ استعمالولو بیان »

عن سهل انه سئل عن جرح النبی صلی الله علیه وسلم یوم احد فقال جرح وجه النبی صلی الله علیه

وسلم وكسر نعر باعيته وهشمت البيضة على راسه الخ (صحيح بخاری ص ۵۸۰ ج ۱)
«غزوه احد کښې د دوی صلی الله علیه وسلم مخ مبارک زخمی شو . غابنونه مبارک یی شهیدان شول، جنگی توپئ یی ماته شوه»

د حضور صلی الله علیه وسلم په نظر کښې د مال په مصارفو کښې د ټولو نه مقدم او اهم مصرف

(۴۳) قال عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه: فكان رسول الله صلى الله عليه وسلم ينفق على اهله نفقة سنتهم من هذا المال ثم ياخذ ما بقى فيجعله مجعل مال الله (صحيح بخاری ص ۳۰۰ ج ۲، ص ۵۷۵ ج ۲)

(۴۴) عن عمر رضی الله تعالی عنه قال: كانت اموال بنى النضير مما افاء الله على رسوله صلى الله عليه وسلم مما لم يوجف المسلمون عليه بخيل ولا ركاب فكانت لرسول الله صلى الله عليه وسلم خاصة، وكان ينفق على اهله نفقة سنته ثم يجعل ما بقى فى السلاح والكراع عدة فى سبيل الله (صحيح بخاری ص ۴۰۵ ج ۱)

حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه فرمائی چه حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د بنی نضیر په مالونو کښې د امهات المؤمنین دپاره د کال نفقه وه ویستله او باقی مال به یی په هغه ځائ کښې خرج کولو چرته چه د الله مال خرج کول کیږی »

بل روایت کښې صراحت دې چه باقی مال سره به دوی صلی الله علیه وسلم اسلحه ، آسونه او جنگی آلات اخستل .

په دې سره ثابته شوه چه د الله د مال اهم او اعظم مصرف (دفاعی بودیجه) جنگی آلات اخستل دی .

د خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم مدینې ته د راتللو په وقت کښې په اسلحې سره استقبال

(۴۵) عن انس رضی الله تعالی عنه قال: لما قدم رسول الله صلى الله عليه وسلم المدينة لعبت الحبشة لقدومه فرحا بذلك لعبوا بحرابهم. (سنن ابی داؤد ص ۳۱۲ ج ۲)

« حضرت انس رضی الله تعالی عنه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې ته تشریف راوړو نود حبشې خلقو په خوشحالئ کښې د نیزه بازئ لوبه ښکاره کړه »

فائده د افغانستان مجاهدین د علماؤ ، مشایخو اود کماندرانو په اسلحې سره استقبال کوی پورته ذکر شوی حدیث سره دهغوی ددې معمول اصل راوځی .

اسلحه د مسلمانانو دپاره عزت دې چه هغه د خپله تنه نه شی جدا کولې

سیف الله حضرت خالد رضی الله تعالی عنه «شاهِ روم» ته دخپلو یو څو قیدیانو په سلسله کښې د مذاکراتو دپاره تشریف یوړو ، چه کله د بادشاه دربار ته نزدې ورسیدلو نو «جبله» د لښکر سردار اووئیل : «ای د عربو دلې! تاسو اوس د بادشاه دربار ته رارسیدلې یئ ددې وجه نه د خپلو آسونو نه راکوز شئ او خپلې تورې دلته کیږدئ»

حضرت خالدرضی الله تعالی عنه جواب ورکړو : «د آسونو نه خو به راکوز شو لیکن تورې هیڅ کله مونږ نه پرېدو ځکه چه تورې زمونږ عزت دې»

آیا مونږ هغه عزت له کوز کړو کوم سره چه زمونږ د نبی بعثت شوې دې ؟.

(فتوح الشام صفحه ۱۶۴ طبع کانپور)

کوم زیور چه د الله رسول مونږ ته اچولی دی هغه نه شی ویستل کیدلې

د ارمنیستان د فتحې په موقع باندې حضرت خالد رضی الله تعالی عنه سره دخپلو یو څو مجاهدینو نه بحیثیت سفیر له بادشاه سره د خبرو کولو دپاره تشریف یوړو ، چه کله شاهی محل کښې داخل شو نو د بادشاه محافظانو د حضرت خالد اود دوی د ملګرو نه اسلحه اخستل وغوښتل ، حضرت خالد رضی الله تعالی عنه انکار کولوسره اوفرمائیل «آیا تاسو نه پوهیږئ چه » مونږ هغه خلق یو چه خپلې تورې غیرو ته نه ورکوو او (تاسو ته دې دا هم ښه معلومه شی چه ، زمونږ د نبی بعثت هم تورې سره شوې دې او دا توره مونږ ته خپل نبی په غاړه کړې ده . پس کوم شرف چه مونږ ته زمونږ الله او د هغه رسول راکړې دې هغه مونږ دخپل تن ځخه هیڅ کله جدا کولې نه شو» (فتوح الشام ص ۱۱۷ج۲ طبع مصر)

مونږ ه په تورو سره د سرکشانو اود اهلِ شرک علاج وکړو

چه کله حضرت عمروبن العاص رضی الله تعالی عنه تورې سره شاهی محل کښې داخل شو نو د ادشاه محافظانو د دوی د غاړې نه د تورې اخستلو کوشش وکړو . دوی اوفرمائیل «زه بغیر د ورې نه داخلیدلو والا نه یم . واپس به لاړ شم مګر توره به د تن ځخه جدا نه کړم . آیا تاسو خبر نه ن چه مونږ هغه خلق یو چه هغوی ته الله په اسلام سره عزت ورکړو . د ایمان په ذریعې سره ني ـرت ورته ورکړو . او د تورې په برکت سره یې مونږه مضبوط کړو او هم دا هغه تورې دی چه ىغې په ذریعې سره مونږه د اهل شرک اود سرکشانو دماغ صحیح کړل» فتوح مصر ص ۲۲ طبع نپور

د خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم ترکه (میراث)

(۴٦) عن عمرو بن الحارث رضی الله تعالی عنه قال: ما ترک رسول الله صلی الله علیه وسلم الا سلاحه وبغلة بیضاء وارضا جعلها صدقة (صحیح بخاری ص۳۰ ج)
وفی روایة: ما ترک رسول الله صلی الله علیه وسلم عند موته درهما ولا دینارا ولا عبدا ولا امة (وفی روایة: ولا شاة ولا بعیرا) ولا شیئا الا بغلة البیضاء وسلاحه وارضا جعلها صدقة (صحیح بخاری ص ج) مسند احمد ص ج) سنن نسائی ص ج)

«حضور صلی الله علیه وسلم د انتقال په وخت نه درهم پرینبودل او نه دینار . نه غلام او نه وینځه . نه چیلۍ او نه اوښ او نه څه بل څیز مگر خپله جنگی اسلحه ، سپین قچر او یوه زمکه چه هغه دوی صلی الله علیه وسلم د وړاندې نه وقف کړې وه»

دا قچر هم په جهاد کښې د دوی په کار راتللو . غزوه حنین کښې دوی صلی الله علیه وسلم هم په دې قچرباندې سواره وو .

حضرت امام ترمذی رحمه الله تعالی هم دې حدیث باندې دا عنوان قائم کړې دې (باب ما جاء فی میراث رسول الله صلی الله علیه وسلم) «یعنی د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د میراث بیان»
(شمائل ترمذی)

حضوراکرم صلی الله علیه وسلم او انټیلی جنس (جاسوسان)

(۴۷) دا امر په ډیرو مشهورو او صحیح روایاتو سره ثابت دې چه حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د جنگونو نه وړاندې اود جنگونو په دوران کښې صحابه کرامو رضی الله عنهم لره د کافرانو د حالاتو د لرې او نزدې نه او دننه ورننوتلو سره د جائزې اخستلو حکم کولو . هسې خو هم د جهاد په فریضه کښې دا شعبه عقلاً اونقلاً ضروری ده . امام بخاری او نورو محدثینو داسې حدیثونو باندې باب فضل الطلیعة «د جاسوسۍ د فضیلت بیان» په شان عنوان قائم کړې دې (صحیح بخاری صفحه ۳۹۹ جلد ۱)

د حدیثونو نه ثابتیږی چه حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د دښمنانو د جاسوسۍ دپاره زیات تر عشره مبشره رضی الله عنهم لیږل.

نن سبا د اسلام دښمنانو د مسلمانانو په هره شعبه کښې د جاسوسۍ دپاره په زرګونو ادارې قائمې کړې دی مگر مسلمانان دهغې نه غافله دی. کاش ! د سنتو اومستحباتو عاشقان او د تقوی مدعیانو دې فرائضو باندې هم عمل کړې وای . وماذلک علی الله بعزیز

د نبوی صلی الله علیه وسلم میراث، د حیرانتیا نه ډک تفصیلات

د رحمة للعالمین صلی الله علیه وسلم د یولسو تورو نومونه

(۴۸) رحمة للعالمین صلی الله علیه وسلم سره یولس توري وې چه په هغې کښې د بعضې عربو مشهورې توري هم وې.

۱: مَأْثُوْرْ:د دوی صلی الله علیه وسلم په تورو کښې د ټولو نه رومبنۍ توره ده چه دوی صلی الله علیه وسلم ته د دوی د پلار صاحب نه په ترکه کښې پاتې شوې وه.

۲: اَلْعَضْب: چه کله دوی صلی الله علیه وسلم بدر ته روان شول نو حضرت سعد بن عباده رضی الله تعالی عنه د دوی په خدمت کښې هدیةً دا توره پیش کړه.

۳: ذُوالْفِقَار:دا توره د دوی صلی الله علیه وسلم په ټولو تورو کښې مشهوره ده.

دا هغه توره ده چه ددې په باره کښې دوی صلی الله علیه وسلم د «احد» په ورځ خوب لیدلې وو دا توره د عاص بن منبه کافر وه چه دوی ته د بدر په غنائمو کښې حاصله شوې وه.

دحضورصلی الله علیه وسلم ددې تورې سره زیات محبت وو ، ددې په لاسکی باندې چاندې وه د دوی صلی الله علیه وسلم د دې تورې سره د بې انتهاء محبت اعلان وو ، دا توره د دوی صلی الله علیه وسلم په ملکیت کښې د راتللو نه پس بیا کله هم د دوی صلی الله علیه وسلم نه جدا نه شوه.

٤ : اَلْقَلْعِيْ : دا دوی ته د «قلع» نومې ځائ نه راوړې شوې وه.

۵: اَلْبَتَّار،(ډیره ښه کټکونکې)

٦ : اَلْحَتْف : (یعنی مرګ)

۷: اَلْمِخْذَم : (یعنی کټکوونکې).

۸ : اَلرَّسُوْب: (په بدن کښې ننوتلوسره ډوبیدلو والا)

۹ : اَلْقَضِيْب : (تیزې نوکې والا توره)

۱۰: اَلصَّمْصَامَة: (داسې مضبوطه کټکونکې چه کله هم کږه نه شی)

۱۱: اللحِيْف: (زیاته کټکوونکې)

(زرقانی صفحه ۳۷۸، ۳۷۹ جلد ۳)

د حضور صلی الله علیه وسلم د زغرو (بلټ پروف جیکټو) شمیر او د هغې نومونه

(۴۹) ۱: ذات الفضول: (پلن والی والا) حضرت سعد بن عباده رضی الله عنه بدر ته د تللو په وخت کښې په تحفه کښې دوئ صلی الله علیه وسلم ته پیش کړې وه، د دوی د انتقال په وخت هم دا «زغره» یو یهودی سره د رهن په طور ایښودلې شوې وه.

۲: ذات الوشاح

۳: ذات الحواشی

۴: السعدیة: وئیلې کیږی چه دا د حضرت داؤد علیه السلام زغره ده چه دې لره اچولو سره هغوی جالوت جهنم ته رسولې وو.

۵: فضة ۶: البتراء ۷: الخرنق

د حضور صلی الله علیه وسلم د کمانونو (لیندو) شمیر اود هغې نومونه

(۵۰) ۱: الزوراء ۲: الروحاء ۳: الصفراء ۴: شوحط ۵: الکتوم ۶: السداد

د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د تیردانو (د غشو ایښولو تیلئ) شمیر اود هغې نومونه

(۵۱) ۱: الکافور په دې کښې د چاندئ درې حلقې (کړئ) وې، ۲: الجمع

د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د ډالونو (سپر) شمیر اود هغې نومونه

(۵۲) ۱: الزلوق (لرې ساتلو والا) ۲: الفتق ۳: الموجز ۴: اللکن

(زرقانی ص ۳۸۰ ج ۳، البدایة والنهایة ص ۹ ج ۶)

د حضور صلی الله علیه وسلم د عصاگانو، برچو اود نیزو نومونه اود هغې شمیر

(۵۳) حضوراکرم صلی الله علیه وسلم سره آته مختلف قسمه برچې او نیزې وې چه په هغې کښې د پنځو نومونه معلوم او مشهور دی:

۱: المثوی ۲: المثنی ۳: البیضاء، دا نسبة لویه وه

۴: العنزة، دا نیزه د عصا په شان نسبة وړوکې وه چه د حبشې بادشاه حضرت نجاشی رضی الله

تعالی عنه د دوی په خدمت کښې هدیهٔ رالیږلې وه . دوی صلی الله علیه وسلم په سفر کښې هم دا خان سره ساتله . همدې نه به یی د مونځ په دوران کښې د «سترې» کار اخستلو . د اختر په ورځ هم د دوی صلی الله علیه وسلم په وړاندې به د نیزه بازو په لاس کښې همدا نیزه وه او همدا به یی په عیدګاه کښې د سطرې په طور ښخوله .

۵: السفَاء ،زورقانی ص ۱ ۸ ۳ ج ۳،

د دوی صلی الله علیه وسلم د اوسپنې د ټوپۍګانو شمیر اود هغې نومونه

،۵۴، ۱: ذاالسبُوْغ ۲: المُوَشح

،زورقانی ص ۲ ۸، ۱ ۸ ۳ ج ۳،

آیا مسجد ته اسلحه راوړل د مسجد بې ادبی ده

خلورم نمبر اعتراض : جمات د الله کور اود اسلام په شعائرو کښې یو شعار دې چه دهغې حرمت په قرآن او حدیثو کښې خائ په خائ ذکر دې . داسې مقدس خائ کښې اسلحه راوړل د جمات د تقدس خلاف اودهغې حرمت ښپولاندې کول دی اوهغه اسلحه په مسجد کښې د علماؤ په لاس کښې کیدل د علم او علماؤ بې حرمتی هم ده .

اسلحه د مسجد اود نورو شعائرِاسلام زینت او عزت دې

جواب : اسلام مسجد لره مقدس او محترم ګرځولې دې دغه شان اسلحې ته یی هم مکرم او معظم او دمحبت لائق خیز فرمائیلې دې .

د قرآن او حدیثو . د سیرت نبویه او د صحابه کرامو له سیرت نه معلومیږی چه اسلحه د مسجد اود مسجد نه علاوه د نورو ټولو اسلامی شعائرو محافظ او مقدس څیز دې .

اسلحه د مسجد اود علماؤ بې ادبی ګرځول په حقیقت کښې د انګریزانو لخوا لګولې شوی الزامات دی اودهغوئ د دشمنی دلګولو شوو بوټو تقویه ده. چه هغوی د مسلمانانو په عزت او مال باندې د ډاکې اچولو اود صحابه کرامو د فتوحاتو انتقام اخستلو دپاره لګولی وو اودهغې د کروندې دپاره یی «مرزاقادیانی دجال » مبعوث کړې وؤ . افسوس نن ډیر مسلمانان د همدې فصل کرونده کوونکی جوړ شوی دی او څوک چه ددې نعمت ،لعنت ، نه محرومه دی هغوی ددې ونې په څانګو باندې ناست دی او: مسلمانانو د خویندو اود لورګانو د بې عزتئ نظاره کوی او حضوراکرم صلی الله علیه وسلم چه د دین اود ایمان د عزت د حفاظت دپاره کوم څیز ورکړې وو نن مسلمانانو هغې ته شاه کړې ده العیاذبالله ثم العیاذبالله .

راشئ وګورئ چه آیا اسلحه واقعی د مسجد د تقدس خلاف ده ؟

د صحاح سته روایات ستاسو په خدمت کښې پیش کیږی

مسجد کښې اسلحه

مسجد نبوی کښې په اسلحې سره د جهاد مشق

(۵۵) قال الامام البخاری: باب اصحاب الحراب فی المسجد ثم قال: حدثنا (الی) عن عائشة رضی الله تعالیٰ عنها قالت: لقد رایت رسول الله صلی الله علیه وسلم یوما علی باب حجرتی والحبشة یلعبون فی المسجد، وفی روایة: یلعبون بحرابهم (صحیح بخاری ص۶۰ ج۱)

"حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمائی چه یوه ورځ د حبشي خلقو مسجد نبوی کښې د نیزه بازئ مشق، کولو حضوراکرم صلی الله علیه وسلم ځما د حجرې په دروازې باندې ولاړ وو او هغوی ته ئې کتل"

قال القسطلانی: بخلاف ما ترجم له فیما سبق من لعب الحبشة بالحراب والدرق یوم العید للتدریب والادمان لاجل الجهاد مع الامن والایذاء. (ارشاد الساری ص۳۰ ج۲) (ومثله فی فتح الباری ص۲۰ ج۲)

علامه قسطلانی شارح د صحیح بخاری فرمائی "دا د جهاد تمرین او مشق وو"

جمات ته د اسلحې دراوړلو آداب

(۵۶) عن بردة رضی الله تعالیٰ عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: من مر فی شیء من مساجدنا او اسواقنا بنبل فلیاخذ علی نصالها لا یعقر بکفه مسلما. (صحیح بخاری ص۶ ج۱)

"حضوراکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو: کوم سړې چه د غشی سره په جمات کښې داخل شو نو هغه ته پکار دی چه په تیلی کښې ئې بند ساتی هسې نه چه څوک پرې زخمی کړی"

ددې نه دا مسئله راوځی چه مسجد ته یا بوې ډلې ته توپک وړلو والا به کولئ په "چیمبر" یعنی جاجر کښې نه ساتی

اسلحه کښې جمات او غیر جمات برابر دي

(۵۷) عن ابی موسی عن ابیه (الی) فقال (ای النبی صلی الله علیه وسلم): اذا دخلتم مساجد المسلمین واسواقهم او اسواق المسلمین ومساجدهم ومعکم من هذه النبل شیء فامسکوا بنصولها لا تصیبوا احدا من المسلمین فتؤذوه او تجرحوه. (مسند احمد ص۳۰۷ ج۴، سنن ابی داؤد ص۳۴۸ ج۲)

حضوراکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو "چه کله جماتونو یا بازارونو ته غشی سره ځئ نو هغه په خپله تیلی کښې بند ساتئ دې دپاره چه یو مسلمان ته زخم یا تکلیف ونه رسی"

لعلم ان المراد من المرور الدخول ولذا بوب ابوداود ببابٍ فی النبل یدخل به المسجد

قال الحافظ ابن حجر رحمه الله تعالى: في الحديث جواز ادخال المسجد السلاح (فتح الباري ص ج)

«حافظ ابن حجر رحمه الله تعالى فرمائي له دې نه ثابته شوه چه جمات ته اسلحه راوړل جائزدي»

جمات کښې اسلحه خيرات کول

(۵۸) عن رسول الله صلى الله عليه وسلم: انه امر رجلا كان يتصدق بالنبل في المسجد ان لا يمر بها الا وهو اخذ بنصولها (صحيح مسلم ص ج)

«يو صحابي جمات کښې غشي صدقه کول حضوراکرم صلى الله عليه وسلم هغه ته اوفرمائيل چه د دې څوکې مضبوطې نيسه، دې دپاره چه څوک زخمي نه شي»

الله دې پخپل رحمت سره هغه وخت راولي چه د امت مسلمه د اسلحې سره دومره مينه پيدا شي چه د اسلحو خيرات کول شروع کړي (آمين).

جمات کښې اسلحې سره خطبه ويل

(۵۹) باب الخطبة على القوس

قال الحكم: شهدنا فيها الجمعة مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فقام متوكأ على عصا او قوس فحمد الله الخ (ابوداؤد ص ج)

«حضوراکرم صلى الله عليه وسلم عصا يا کمان باندې ډډه لګولو سره خطبه ورکړه»

اسلحې سره د اختر خطبه

(۶۰) عن البراء بن عازب رضي الله تعالى عنه قال: لما كان يوم الاضحى اتى النبي صلى الله عليه وسلم البقيع فتناول قوسا فخطب عليها. (مصنف عبد الرزاق ص ج)

حضوراکرم صلى الله عليه وسلم په کمان باندې ډډه لګولو سره د اختر خطبه ورکړه»

خطيب دې په لاس کښې اسلحه نيسي

(۶۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى:

و (يخطب) الامام (بسيف في بلدة فتحت به) كمكة (والا لا) كالمدينة وفي الحاوي القدسي اذا فرغ المؤذنون قام الامام والسيف في يساره وهو متكئ عليه.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله فتحت به الخ) اي بالسيف ليريهم انها فتحت بالسيف فاذا

رجعهم عن الاسلام فذلك باق فی ایدی المسلمین یقاتلونکم ترجعوا الی الاسلام . (ردالمحتار ص ج،
الفتاوی التاتارخانیة ص ج، البحر الرائق ص ج، الفتاوی الهندیة ص ج)
«کومه علاقه چه په جهاد سره فتح وی هغلته دې خطیب په لاس کښې توره نیولو سره خطبه ورکړی خلقو ته ددې ښودنې دپاره چه دا علاقه په تورې سره فتح کړې شوې ده ، که چرته خلق د اسلام نه اوړی نوهغه دې دا سوچ وکړی چه تراوسه پورې د مسلمانانو په لاسونوکښې دا تورې موجودې دی چه د اسلام نه د انحراف کولو والا دماغ به درست کړی»

تنبیه

بعضې روایاتوکښې د حرم او د اختر په ورځ اسلحه اخستلوسره د تللو ممانعت وارد شوې دې . حافظ ابن حجر ، حافظ عینی ، علامه قسطلانی اونور شارحینِ حدیث رحمهم الله تعالی ددې دوه محملونه بیان کړی دی :
(۱) د زیات رش د وجه نه اسلحې سره زخم یا تکلیف رسیدلې شی دا وجه په خپله احادیثو کښې موجود ده .
(۲) د فخر او ریاء نیت :
لیکن که د دښمن خطره وی نو بلاکراهته جائز دی چنانچه امام بخاری رحمه الله تعالی فرمائی :
وقال الحسن: نهوا ان یحملوا السلاح یوم العید الا ان یخافوا عدوا (صحیح البخاری ص ج)
ومثله فی المصنف عن الضحاک مرسلا (المصنف لعبد الرزاق ص ج)
«حسن بصری او ضحاک رحمهما الله فرمائی چه مسلمانان د اختر په ورځ اسلحې اخستلوسره د تللو نه منع کړې شوی دی مګر دا چه د دښمن نه خطره وی (نو د حفاظت په خاطر اسلحه وړل جائز دی»
غرض دا چه د خطرې په صورت کښې خو بهرحال جائز دی . که خطره نه وی نو په دې شرط سره چه چاته د نقصان رسیدلو خطره نه وی . چنانچه د اختر په ورځ حضوراکرم صلی الله علیه وسلم تشریف وړلو نو د دوی وړاندې به نیزه باز وو . امام بخاری رحمه الله تعالی په دې حدیث باندې دا باب قائم کړې دې : باب حمل العنزة والحربة بین یدی الامام یوم العید
«د اختر په ورځ د امام په وړاندې د نیزې اوچتولوسره د تللو بیان»
قال القسطلانی: النهی عند خوف التاذی به (ارشاد الساری ص ج)
یعنې ممانعت صرف د تکلیف د خطرې په نظر کښې نیولوسره دې . اوهم دا محمل دې دهغه روایاتو چه په هغې کښې جمات کښې دننه توره د نیام نه د راویستلو او اسلحې لره په جمات

کښې د اخوا دیخوا کولو نه منع او فرمانیلې شوه

آیا جماتونو کښې خلفاء راشدینو رضی الله تعالی عنهم حفاظتی انتظامات کړی وو؟

پنځم نمبر اعتراض جمات کښې حفاظتی انتظامات او مسلح پیره د خلفاء راشدینو رضی الله تعالی عنهم د تابعینو . ائمه مجتهدینو اود سلف صالحینو د طریقې خلاف ده

جماتونوکښې د خلفاء راشدینو رضی الله تعالی عنهم حفاظتی تدابیر

جواب دا وئیل چه حفاظتی بندوبست د سلفو د طریقې سره منصادم دی دا خبره د حدیث . سیرت او تاریخ نه ناواقفیت باندې مبنی ده . دا لاندې روایات ملاحظه کړئ

په خیرالقرون کښې جمات کښې دننه حفاظتی کمرې

امیرالمؤمنین حضرت عثما ن رضی الله عنه او مسجدِ نبوی کښې حفاظتی مورچه

(۶۲) قال العلامة السمهودی رحمه الله تعالی:

الفصل الخامس عشر فی المقصورة التی اتخذها عثمان رضی الله تعالی عنه فی المسجد وما کان من امرها بعده

روی ابن زبالة وابن شبة عن عبد الرحمان بن سعد عن اشیاخه ان اول من عمل المقصورة بلبن عثمان بن عفان وانه کانت فیه کوی ینظر الناس منها الی الامام وان عمر بن عبد العزیز هو الذی جعلها من ساج حین بنی المسجد

روی الاول ایضا عن عیسی بن محمد بن السائب ومحمد بن عمرو بن مسلم بن السائب بن خباب وعمر بن عثمان بن عبد الرحمان ان عثمان بن عفان اول من وضع المقصورة من لبن واستعمل علیها السائب بن خباب وکان رزقه دینارین فی کل شهر فتوفی عن ثلاثة رجال مسلم وبکیر وعبد الرحمان فتواسوا فی الدینارین تجریان فی الدیوان علی ثلاثة منهم الی الیوم،

(تاریخ المدینة ص ج للحافظ الثقة الامام ابن شبة ہجری)

قال ابن زبالة:

وقال مالک بن انس: لما استخلف عثمان بعد مقتل عمر بن الخطاب عمل عثمان مقصورة من لبن فقام یصلی فیها للناس خوفا من الذی اصاب عمر ابن الخطاب رضی الله عنه وکانت صغیرة.

وروی یحیی هذا کله فی زیادة عثمان رضی الله تعالی عنه (وفاء الوفاء للسمهودی المتوفی ہجری ص ج)

"متعددو روایاتو کښې دا منقول دی چه مسجد نبوی کښې حفاظتی کمره د ټولو نه وړاندې امیرالمؤمنین حضرت عثمان رضی الله عنه جوړه کړې وه چه دهغې نگرانی ماهانه د دوو دینارو په تنخوا باندې سائب بن خباب ته سپارلې شوې وه
امام مالک رحمه الله تعالی فرمائی چه کله د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د شهادت نه پس حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه خلیفه جوړ شو نو دوی حفاظتی کمره جوړه کړه . دوی هم په هغې کښې خلقو ته مونځ ورکولو دهغه خطرې په نظر کښې نیول سره چه د امیرالمؤمنین حضرت عمررضی الله تعالی عنه د شهادت په صورت کښې راپیدا شوې وه . دامقصوره بالکل وړوکې وه."

امیرالمؤمنین حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه او جمات کښې مسلح پیره او حفاظتی کمره

(۶۳) واما صاحب معاویة وهو البرك . فانه حمل علیه وهو خارج الی صلوة الفجر فی هذا الیوم فضربه بالسیف، وقیل: بخنجر مسموم، فجاءت الضربة فی ورکه فجرحت الیته، ومسك الخارجی فقتل وقد قال لمعاویة: اترکنی فانی ابشرك ببشارة، فقال: وما هی؟ فقال: ان اخی قد قتل فی هذا الیوم علی بن ابی طالب. قال: فلعله لم یقدر علیه، قال: بلی انه لاحرس معه فامر به فقتل (الی) ومن حینئذ عملت المقصورة فی المسجد الجامع وجعل الحرس حولها فی حال السجود فکان اول من اتخذها معاویة لهذه الحادثة (البدایة والنهایة ص۳۰ ج۸، والکامل لابن الاثیر ص۳۹۴ ج۳ شرح مسلم للنووی ص۲۸۰ ج۱)

وفی التاریخ الامم : وامر معاویة عند ذلك بالمقصورات وحرس اللیل وقیام الشرط علی راسه اذا سجد (الطبری ص۱۴۹ ج۶)

"چه کله دریو خارجیانو د حضرت علی . حضرت عمروبن العاص . حضرت معاویه رضی الله عنهم د شهید کولو منصوبه جوړه کړه . فیصله دا وشوه چه د سحر په وخت کښې څنگه دا حضرات مونځ دپاره راوځی نو (نعوذبالله) خپله دا ناپاکه منصوبه. به سرته ورسوو . چنانچه حضرت علی رضی الله عنه کوفه کښې اود حضرت عمر رضی الله عنه نائب خارجة بن حذافه شهید کړئ شو . برک نامی خارجی د حضرت معاویه رضی الله عنه د قتل منصوبه پخپله ذمه واخستله حضرت معاویه رضی الله عنه د سحر مونځ دپاره را وه وتلو نو "برک" توری یا خنجر سره دوی باندې حمله وکړه لیکن خارجی زرترزره ونیولې شو . حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه (تعزیراً) د قتل حکم ورکړو نو هغه وه ویل . تاسو ما مه وژنئ څکه چه زه تاسو ته یو لویه خوشخبری اوروم هغه دا چه زما ورور علی بن ابی طالب وه وژلو (چونکه د حضرت علی اودحضرت معاویه رضی الله

عنهما په مينځ کښې اختلافات وو نو دې احمق دا خيال وکړو چه شايد حضرت معاويه رضی الله عنه به په دې خبرې سره خوشحاله شی ، حضرت معاويه رضی الله عنه اوفرمائيل تاته څنگه پته ولگيدله چه ستا ملګرې کامياب شوې دې ، هغه اووئيل ددې وجه نه چه علی رضی الله تعالی عنه سره څوک محافظ نه وی ، حضرت معاويه رضی الله تعالی عنه په ځائ د خوشحاله کيدلو دهغه د قتل حکم ورکړو .

ددې نه پس جامع مسجد کښې د امام دپاره حفاظتی کمره جوړه کړې شوه د سجدې په حالت کښې د کمرې ګيرچاپيره او دحضرت معاويه رضی الله تعالی عنه د سر دپاسه مسلح پيره دار متعين کړې شو »

حافظ ابن کثير ، علامه ابن الاثير او نور مورخين فرمائی چه ددې حادثې نه پس حضرت معاويه رضی الله عنه د حفاظت دا لاندې انتظامات وکړل :

(۱) په شپه کښې پيره .

(۲) مسجد کښې حفاظتی کمره .

(۳) مسجد کښې د مونځ په دوران کښې مسلح محافظ د حفاظتی کمرې ګيرچاپيره متعين کړئ شو .

د طبری د روايت مطابق د سجدې په حالت کښې حضرت معاويه رضی الله تعالی عنه باندې هم مسلح پيره دار متعين وو .

مساجدو کښې حفاظتی کمرې په ټولو اسلامی ملکونو کښې جوړې کړئ شوئ

د حديثو د کتابونو اود فقهې او تاريخ نه دا امرثابت دې چه حفاظتی کمره صرف حضرت معاويه رضی الله عنه پورې محدوده نه وه بلکه دوی حاکمانو او امراؤ او امامانو ته په مساجدو کښې د حفاظتی کمرې جوړولو حکم وکړو .

حفاظتی کمرو کښې خلفاءِ راشدينو ، صحابه کرامو او لويو تابعينو او فقهاؤ مونځونه وکړل

(۲۴) - (۱) اميرالمؤمنين حضرت عثمان بن عفان رضی الله تعالی عنه

(۲) اميرالمؤمنين حضرت معاويه رضی الله تعالی عنه

(۳) اميرالمؤمنين حضرت حسن رضی الله تعالی عنه

(۴) اميرالمؤمنين حضرت عمربن عبدالعزيز رحمه الله تعالی

(۵) رئیس المفسرین حضرت عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنهما
(۶) خادم خاتم المرسلین حضرت انس بن مالک رضی الله تعالی عنه
(۷) حضرت حسین رضی الله تعالی عنه
(۹) حضرت قاسم بن محمد بن یزید رضی الله تعالی عنه
(۱۰) حضرت نافع رحمه الله (۱۱) حضرت سالم رحمه الله (۱۲) حضرت علی بن الحسین رحمه الله (۱۳) حضرت ابو القاسم رحمه الله (۱۴) حضرت معمر رحمه الله

(صحیح مسلم صفحه ۲۸۸ جلد۱، السنن الکبری للبیهقی صفحه ۱۹۱ جلد ۲، باب الصلوة فی المقصورة المصنف لعبدالرزاق ص ۴۱۴ ج۲، باب الصلوة فی المقصورة المصنف لابن ابی شیبة ص ۴۹ ج۲)

حفاظتي کمرې جوړيدلو نه پس د فقهاؤ د اول صف په تعين کښې اختلاف

(۲۵) اول صف کښې د صحابه کرامو رضی الله عنهم اود تابعینو رحمهم الله په اتفاق سره حفاظتي کمرې جوړې کړې شو او عوام الناس مقصوره کښې د داخليدلو نه حصار کړې شول نو اوس فقهاءِ کرامو کښې دا بحث روان دې چه آیا اول صف دې هم مقصورې لره وګرځولې شي اوکه مقصورې سره متصل روميني صف لره ، حقيقت کښې صفِ اول خو هم مقصوره وو په دې وجه باندې عامة المسلمين هميشه د صفِ اول د ثواب نه محرومه پاتې کيدل ، ددې وجه نه بعضې فقهاؤ رحمهم الله مقصوره سره متصل صف لره صفِ اول وګرځولو ، (رد المحتار ص ۵۲۹ جلد ۱. البحرالرائق ص ۱۵۷ جلد ۲. فتح الباری ص ۱۷۴ جلد ۲، المصنف عبدالرزاق ص ۴۱۵ جلد ۲. عمدة القاری ص ۲۵۵ جلد ۵. فتح الملهم ص۲۷ جلد ۲)

وليعلم ان ما ذكرنا من الاتفاق على اتخاذ المقصورات فى الجوامع لا ينافى ما نقل من بعض اهل العلم من كراهة بناء المقصورات فان مثل هذا الخلاف القليل لا يقدح فى الاتفاق لاسيما اذا جرى تعامل الائمة القديمة فى جميع امصار المسلمين فى عهد الصحابة والقرون المشهود لها بالخير ولا علينا لو ندعى الاجماع على ذلك.

واما كون عثمان رضى الله تعالى عنه اول من بنى المقصورة فانه وان كان خلاف المشهور ولكن التطبيق ورفع التعارض ليس بمتعسر على المتفكر. (عبدالرحيم)

حضرت عمر رضی الله تعالی عنه محافظ ولې نه دې ساتلې ؟

شپږم نمبر اعتراض :

امیرالمؤمنین حضرت عمر رضی الله عنه د اسلام په خلفاؤ کښې د ټولو نه زيات هوښيار ، مدبر او عقل مند وو ، دوی هم دخپل ځان سره يو محافظ ونه ساتلو په شپه کښې د مدينې منورې په کوڅو کښې به ئې يواځې پيره کوله . ځنګل يواځې او تنها وځې اود مسکينانو اود يتيمانو

خبر اخلی . که چیرته د دفاع او حفاظت مسئله دومره اهمه وای نو د حضرت عمررضی الله تعالی عنه په شان مدبر سلطنت به ضرور ددې اهتمام کړې وای . حد خو دا دې چه کله غلام ابولؤلؤ ده ته اختار ورکړو او دوی پوهه هم شو چه هغه ماته د قتل اختار راکړې ده نو بیا هم دوی لره د حفاظت د اهتمام خیال په فکر کښې رانغې ؟

د حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه په شا ن مدبر سړي د حفاظتی تدابیرو نه څنګه غافله پاتې کیدلې شی ؟

جواب:

تیرو شوؤ پاڼرو کښې تاسو په تفصیل سره اووئیل چه حضورصلی الله علیه وسلم باندې پیره کیدله . صحابه کرامو رضی الله عنهم به پخپله پیره کوله او حضوراکرم صلی الله علیه وسلم به د پیرې ترغیب اودهغې حکم کولو . د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د پیره دارئ شرف په خپله امیرالمؤمنین حضرت عمررضی الله عنه ته خصوصیت سره حاصل شوې وه . په دې سره دا خبره ښه واضحه او ثابته شوه چه د خطرې د وجه نه پیره نه خلاف توکل ده اونه خلاف سنت . اودحضرت عمر رضی الله عنه دخپل ځان سره مسلحه پیره نه ساتل ددې وجه نه وو چه مدینه طیبه کښې امیرالمؤمنین ته څه خطره نه وه .

چه کله خطره نه وی نو پیره لازمه نه ده . حضوراکرم صلی الله علیه وسلم هم هروخت او همیشه پیره دار نه دې ساتلې څنګه چه د احادیثو اود تیرشوؤ آثارو نه ښکاره ده .

سؤال: اوس پاتې شو دا سؤال چه دحضرت عمر رضی الله تعالی عنه په شان عظیم انسان ته څه خطره ولې نه وه چه هرکله د ټولې دنیا کافران . یهود اونصاری . مجوس اومشرکین د دوی مخالف وو ؟

جواب مدینة الرسول صلی الله علیه وسلم کښې د کافرانو نه خطره خو د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم په آخره زمانه کښې ختمه شوې وه چه کله د اسلام بې مثاله فوج صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم د رحمة للعالمین صلی الله علیه وسلم په قیادت کښې او د دوی په قمندانئ کښې د مدینې یهودیانو لره د ګازرو اومولو په شان کټ کړی وو او باقی لره ئې رسوا کولوسره د خیبر نه ویستلی وو . مسلسل د جهاد اوقتال په برکت سره د اسلام سرحدونه ورځ په ورځ زیاتیدل . په مدینه طیبه کښې یا دهغې نزدې خواوشا . نه یو کافر باقی پاتې شو اونه یو منافق . ټوله مدینه د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم نه ډکه وه په داسې حالت کښې د خطرې څه کار دې ؟

سره ددې نه حضرت عمررضی الله عنه د مدینې په حدودو کښې د بالغ او مراهق (قریب البلوغ) ذمی کافر په داخلیدلو باندې سخته پابندی لګولې وه . مشهور محدث . ثقه اومعتبر مورخ امام

ابن شبه رحمه الله فرمائی

حدثنا حجاج بن نصیر قال حدثنا قرة بن خالد عن محمد بن سیرین ان عمر رضی الله عنه کان یقول لا تدخلوا المدینة من السبی الا الوصفاء. (تاریخ المدینة المنورة ص ۸۸۸ ج ۳)

وعن الزهری قال کان عمر رضی الله تعالی عنه لا یاذن لسبی بقل وجهه فی دخول المدینة (تاریخ المدینة المنورة ص ۸۸۸ ج ۳)

عن نافع عن ابن عمر رضی الله تعالی عنه قال کان عمر رضی الله تعالی عنه یکتب الی امراء الجیوش لا تجلبوا علینا من العلوج احدا جرت علیه الموسی. (تاریخ المدینة المنورة ص ۸۸۸ ج ۳)

« حضرت عمررضی الله عنه د اسلام د فوځونو قوماندانانو اود اسلامی ښارونو والیانو ته دا فرمان او حکم جاری کړې وؤ چه » : « مدینې طرف ته یو بالغ او مراهق قیدی لره هم مه رالیږئ. البته هغه وینځه چه هغه مراهقه شوې نه وی هغه رالیږلې شئ »

د سرکاری فرما ن وجه

دا هدایت او فرمان د احتیاطی تدبیر په طور باندې وو . هم دا وجه ده چه کله د حضرت مغیرة بن شعبه اود حضرت عباس رضی الله عنهما په سفارش سره یو مجوسی غلام ابولؤلؤ لره په صنعت اوحرفت کښې د مهارت په بنیاد باندې مدینې ته را ولیږل شو او هغه حضرت عمررضی الله عنه لره د سحرپه مانځه کښې مسجدنبوی کښې دننه په خنجر اووهلو. دوئ زخمی شول او دې کورته راوستلې شو نو پوښتنه یې وکړه چه : « زه چا وهلې یم ؟ »

خلقو اووئیل چه « د حضرت مغیره رضی الله عنه غلام ابولؤلؤ ».

دوی ارشاد اوفرمائیلو : الم اقل لکم لا تجلبوا الینا من العلوج احدا فغلبتمونی

(تاریخ المدینة المنورة ص ۸۸۸ ج ۳)

عمل اصحابك کنت اریدان لا یدخلها علج من السبی فغلبتمونی . (تاریخ المدینة المنورة ص ۹۰۰ ج ۳)

هذا عملك وعمل اصحابك والله لقد کنت انها کم ان تجلبوا الینا منهم احدا .(تاریخ المدینة المنورة ص ۹۰۰ ج ۳)

ما تاسې دهغه کافرانو مدینې ته د داخلولو نه همیشه بند کړی وئ لیکن تاسو دمصلحت بنکارکیدلوسره ، ماباندې غالبه شوئ . دا واقعه ستاسو د وجه نه وشوه اوکه نه نو زه خو ځیله رایه باندې پوخ ووم »

په دې سره ثابته شوه چه د حضرت عمررضی الله تعالی عنه فرمان او حکم د حفظی تدابیر په طور باندې وو

علاوه ددې نه د حضرت عمررضی الله عنه رعب او دبدبه په ټولو باندې داسې ناسته وه چه پخپله د دوی په خیال کښې هم په پوره جزیرهٔ عرب کښې چاته امیرالمؤمنین باندې د حملې تصور قدرې هم نه شو کیدلې.

امیرالمؤمنین ددې خیالاتو اظهار په هغه وخت کښې وکړو چه کله خلقو تحقیق کولوسره اووئیل چه حمله «ابولؤلؤ» غلام کړې ده.

دوی اوفرمائیل: الله اكبر ما كانت العرب لتقتلني (تاريخ المدينة المنورة ص ۳ ج ۳)

«الله اکبر (ما هم سوچ کولو چه) عربو کښې خو چاته هم څما د وژلو جرات نه وو»

سوال: اوس پاتې شو دا اشکال چه کله ابولؤلؤ منحوس غلام د امیرالمؤمنین حضرت عمر رضی الله عنه په خدمت کښې دحضرت مغیره رضی الله عنه شکایت وکړو چه څما آقا څما نه څما د استطاعت نه زیات کار اخلی تاسو هغوی ته اووایئ چه له ما سره تخفیف وکړی، حضرت عمررضی الله عنه اوفرمائیل تاسو ډیرڅه ګټلې شئ همت کوه او د الله نه ویرېږه او واوره آیا ته به څما دپاره یو چکئ (د غنمو میده کولو آله) جوړه کړې ؟ غلام اووئیل: «زه به تاسو دپاره یوه داسې چکئ جوړه کړم چه خلقو کښې به ډیرې مودې پورې دهغې خبرې کیږی»

حضرت عمر رضی الله عنه پوهه شو او وې فرمائیل: «دې خبیث ماته د وژلو اختار راکړو»

دوی په هغې باندې هم څه حفاظتی انتظامات ونه فرمائیل ؟

جواب: دا سرې یو اځې وو دده دپاره د حضرت عمر رضی الله عنه په شان بهادر ته دیو معاون او محافظ ضرورت نه وو، ددې وجه نه نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم ددې اختار باوجود هغه قابلِ اعتناء ونه ګڼلو، هسې خو حضرت عمررضی الله عنه به هم خالی لاس نه وو د دوی توره او د دوی دُره ضرب خو المثل دی.

همدارنګه دوی دا خیال کړې وو چه هغه اشارةً کوم اختار ورکړې دې دا دهغه وقتی جذبات دی فی الواقع به دهغه ارادې دپاره څه عملی اقدام نه کوی یا یی نه شی کولې او که نه نو حضرت عمر رضی الله عنه چه معمولی معمولی غلطیانو باندې لویو لویو ته تنبیه ورکوی هغه کافر غلام ته به ئې سخت تعزیر ورکړې وؤ کم ازکم مدینې نه دهغه د اخراج فیصله خوبه ئې یقینی کوله بالخصوص چه هرکله د دوی په رایه کښې دیو کافر په مدینه کښې وجود د احتیاط خلاف وو

په همدې روایت کښې لاندې الفاظ د پاسنی مضمون تصدیق کوی:

قال لو قتلت احدا بسوء الظن لقتلت هذا العلج (تاريخ المدينة المنورة ص ۳ ج ۳)

حکیم الامة حضرت تهانوی رحمه الله تعالی حفاظتی تدبیر ولې ونه کړو

اوم نمبر اعتراض:

بعضې حضراتو د حکیم الامة حضرت تهانوی رحمه الله تعالی هغه معمول لره بنیاد جوړولو سره اشکال کړې دې چه کله دوی ته د «تحریک خلافت» په زمانه کښې د قتل اختارونه ورکړې شوی وو نو دوی د حفاظت څه بندوبست ونه فرمائیلو .

که خصومت دینی وی او خصم کافر وی نودفاع واجبه ده

بیا ن القرآن کښې ددې تصریح

جواب: چه هرکله آیاتِ قرآنیه ، احادیثِ نبویه ، معمولاتِ نبویه ، تعاملِ خلفاءِ راشدین اجماع اوقیاس سره د حفاظتی تدابیرو حکم ښه واضحه شو نو اوس که چیرته مونږ ته په سلف صالحینو کښې دیو بزرگ عمل په ظاهره دهغې په خلاف معلوم شی نو په هغه متفق علیه شرعی حکم کښې د شک کولو په ځائ باید دهغه دغه عمل بنیاد ته ورسوو او د هغې صحیح توجیه پیدا کړو .

حکیم الامت حضرت تهانوی رحمه الله تعالی د حفاظت انتظام ولې ونه کړو ؟ ددې جواب پوهیدلو دپاره رومبئ دا مسئله په ذهن کښې کینوئ چه کله د مسلمانانو د دوو جماعتونو په مابین په یوه مسئله شرعیه کښې اجتهادی اختلاف وی نو احتیاطی تدابیر لازم نه دی .

حکیم الامت ته اختار ورکولو والا کافر نه وو بلکه مسلمانان وو چه د تحریکِ خلافت حامی وو ، په جانبینو کښې اختلاف اجتهادی وو .

دواړه جانبه محق اومحقق علماؤ وو او دواړه طرفته شرعی دلائل وو ، ددې وجه نه دوی د حفاظت اهتمام ونه فرمائیلو ، ددې وجه څخه نه چه کافران، ملاحده اوزنادقه دې په اهلِ حق علماؤ باندې حمله وکړی نو دوی د دفاع ، مقابلې او مقاتلې قائل نه وو ، دوی بیان القرآن کښې په واضحه طور باندې دفاع واجب ګرځولې ده او لیکی چه:

«که چیرته څوک سړې هغه لره وژل وغواړی او دا سړې په قوی قرائنو سره دا وګڼي چه زه بغیر ددې نه چه هغه لره اووژنم بچ کیدلې نه شم نو وژل جائز دی اوکه چرته په هغه جنګ کښې دې اووژلې شو نو شهید به وی او که چیرته دې مدافعت ونه کړی بلکه بغیر د څه کولو نه اووژلې شی نو بیا هم جائز دی» ، البته چیرته چه انتقام او مدافعت کښې اسلامی مصلحت وی واجب دی (بیان القرآن ص ۲۷۳ جلد ۱)

د حضرت حکیم الامت په دې تحریرسره د زیرِ نظر مسئلې ډیره واضحه فیصله وشوه

" په هغه حالاتوکښې د دفاعی تدابیرو اختیارول واجب دی .او په هغې کښې هیڅ قسمه

غفلت جائز نه دې » البته د دوی د مذکورې رائې مطابق خصومت دنيويه کښې دفاع واجبه نه ده . د بعضې نورو حضراتو نه هم دا قول منقول دې . مګر دهغې په مقابله کښې خالص خصومت دنيويه کښې هم د وجوب دفاع فيصله په لاندې وجوهو سره راجحه ده

(۱) دا فيصله د ځلورمې صدئ لوئ جليل القدر امام ابوبکر جصاص رحمه الله تعالی متوفی ۳۷۰ هجری مدلل بيان کړې ده . او دلائل نقليه اوعقليه سره يې دهغې د خلاف ډير پرزور ترديد . نکيرشديد او سخت مذمت کړې دې . تردې پورې چه هغې لره ئې د دين او دنيا د ټولو فساداتو او د تباهئ او بربادئ جرړه ګرځولې دې . دا قول يې بعضې حشويه او ظاهريه کښې جاهلانو طرف ته منسوب کړې دې . اود ابوداؤد اود ترمذی د روايت نه علاوه دهغوی نورهم د ډيرو مستدلاتو مکمل ابطال يې کړې دې (احکام القرآن ص ۳۱. ۳۴. ۴۰۱ تا ۴۰۳ ج ۲)

(۲) د عدم وجوب په قائلينو کښې چرته هم د «حشويه او جاهلانو » نه سوا د بل چا نوم په نظر نه راځي . «جهال » کيدلو نه علاوه مجهول هم دی . بعضې کتابونو کښې امام شافعی رحمه الله تعالی نه عدم وجوب منقول دې چه خلاف راجح دې . د دوی په نزد هم وجوب راجح دې . الاان يکون الصائل مسلما محترما ای محقون الدم وتارك صلوة عنده ليس بمحقون الدم (تحفة المحتاج بهامش حاشية الشروانی ص ج) والمسلم المحترم لا يقدم علی قتل مسلم الا لشبهة اجتهادية ويؤيده ما استدل به من صنيع امير المؤمنين عثمان رضی الله عنه.

(۳) د امام جصاص رحمه الله تعالی نه علاوه دتفسير . حديث اود فقهې نور ائمه عظام او عمائد اسلام رحمهم الله تعالی د ټولوپه وجوب باندې اجماع ده . البته بعضو په مال سره د ترك دفاع اجازت ورکړې دې . د ائمه عظام رحمهم الله تعالی په فيصلې سره د تطبيق صورت دا کيدلې شي چه هغې لره د دفاع په صورت کښې د قتل نفس ظن غالب باندې محمول کړې شی . او دا شرط خو بهرحال لازم او متفق عليه دې چه عدم دفاع سره د فساقواود فجارو دفساداتو د طريقوخطره نه وی . کما هو معقول ومنصوص فی الاصول ومجمع عليه بلا خلاف احد من ذوی العقول.

دا بحث محض د مسئلې د تنقيح اود اتمام فائدې دپاره ليکلې شوې دې اوکه نه نو د عداوت دينيه په صورت کښې حضرت حکيم الامت رحمه الله هم د وجوب دفاع تصريح فرمائيلې ده او داهم پورته واضحه کړې شوی دی چه د دوی اختلاف د علماء حق په مابين کښې د اجتهادی اختلاف په شان وؤ چه په هغې کښې بالاتفاق دفاع واجب نه ده بلکه عدم دفاع افضله ده . کما صرح به الامام الجصاص وغيره من ائمة الاسلام رحمهم الله تعالی وحملوا مستدلات الحشوية وجهال الظاهرية عليه.

علاوه ددې نه د حفاظتی تدابیرو اهمیت د حالاتو اود خطراتو د نوعیت مطابق وی مثلاً وجه دخصومت . د اختار ورکولو والا شخصیت . چاته چه اختار ورکړې شوې دې دهغه شخصیت . د اختار د وصول ذریعه . د اختار د مضمون نوعیت . زمان . مکان . ماحوال وغیره کوائف بیا که چیرته د اختار په خائ د سازش یو افواه وی نودهغې حیثیت نور هم کم دې لکه د حضرت حکیم الامت رحمه الله په یو دوکاندار باندې تیریدل وشو نو هغه د سازش د دې منصوبې خبر ورکړو . که چیرته دا یوه اهمه خبره وې نو هغه به یې پخپله را رسولې وه

ددې دورِ فساد نه یو خو کاله وړاندې پورې مذهبی او سیاسی اختلافات نهایتِ عروج ته د رسیدلونه باوجود پخپل مینځ کښې د قتل او قتال څه تصور قدرې هم نه وو. تقریری او تحریری مناظرې . ستیجونو باندې د نورو مذاهبو پوره تردید او پوره تنقید او په هغې باندې د سختو الفاظو استعمال . بلکه بعضې وختونو کښې هم په یو ستیج باندې د مختلفو مذاهبو د پیشواگانو دخپل مذهب په تایید او د نورو مذاهبو په تردید کښې بیانات . یو بل باندې اعتراضونه . اوریدلو والا هم دهغه مختلف مذاهبو خلق په مزې سره اوری دیو بل په خلاف لاسونه پرکوی خندا گانې کوی . ددې باوجود په خپل مینځ کښې داسې غاړې ورکوی گویا چه سکه ورونه دی یا ژور دوستان دی . غاړې یوبل ته ورکوی . په دنیوی معاملاتو کښې پخپل مینځ کښې تعاون کوی . دیو بل په دعوتونو او تقریباتو کښې شاملیږی . مذاهبوکښې د شدید اختلاف باوجود چرته هم اوکله هم د قتل اوقتال یو واقعه مخې ته نده راغلې . بالفرض که چیرته شوې وی نو هغه به ډیره شاذ اونادره وی.

دا خو د اسلام اوکفر په مابین کښې دمقابلو او مناظرو د رواداری عالَم وو . د حضرت حکیم الامت رحمه الله تعالی اختلاف خو د علماءِ دین سره وو . دا ټول اهلِ حق علماءِ وو . پخپل مینځ کښې یې د محبت . عظمت او احترام مضبوطې رشتې وې . کانگریسی هندوانو هم دعامو مسلمانانو سره د روادارئ اود علماءِ اسلام احترام کولو . په داسې حالاتو کښې دیو سازش د افواه په بنیاد باندې د حفاظتی تدابیرو ضرورت نه وو . که چرته واقعةً خطره تسلیمه هم کړې شی نو جواب هم هغه دې چه د مسلمانانو پخپل مینځ کښې د اجتهادی اختلاف په صورت کښې دفاع واجب نه ده

د مونځ کوونکو تلاشی آیا د الله د کور نه د بندولو مترادف نده ؟

اتم نمبر اعتراض

جمات د الله کور دې چه په هغې کښې هرمسلمان بغیر د څه بندیز نه د داخلیدلو حق لری . تلاشئ لره خلق توهین گنی . ددې ویرې نه مونځ کوونکی دهغه جمات په طرف نه ځی نو آ

تلاشی اخستل دلاندی آیت د ذکر شوی وعید مصداق نه دی ؟

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا ٱسْمُهُۥ وَسَعَىٰ فِى خَرَابِهَآ﴾ (۲: ۱۱۴)

« دهغه سړی نه لوئ ظالم بل څوک کیدلې شی چه خلقو لره په جماتونو کښې د الله الله کولو نه حصاروی او دجماتونو د ورانولو کوشش کوی»

محراب کښې مسلح محافظ ولې د تشویش باعث دې ؟

نهم نمبر اعتراض :

محراب کښې محافظ سره خشوع او خضوع کښې خلل پیدا کیږی ، دچا طرف ته مخ کولو سره مونځ کول مکروه هم دی .

د تلاشئ باوجود محراب کښې مسلح محافظ ولې ساتلې شی ؟

لسم نمبر اعتراض :

چه کله یو ځلې تلاشی واخستلې شوه نواوس محراب کښې د مسلح محافظ څه ضرورت دې ؟
آیا دا بې له کومې وجه نه خلقو لره مرعوبه کول او دهشت خورول او ریاء کاری نه ده ؟

آیا دومره حفاظتی انتظامات بې ضرورته او اسراف نه دې ؟

یوولسم نمبر اعتراض :

د دومره محافظینو ساتلو څه ضرورت دې ؟ په نورو ځایونوکښې چیرته چه خطر وی اود حفاظت بندوبست کیږی هغلته هم داسې ډیر اوشدید انتظامات نه وی نو دا آیا اسراف نه دې ؟

دارالافتاء والارشاد کښې د حفاظتی انتظاماتو د مختلفو مراحلو مفصله واقعه

جواب : لوستونکو حضراتو ! د پورته ځلورو اعتراضاتو د جواب نه وړاندې دا خبره به په ذهن کښې کینوئ چه کله جناب عالی ته د نقصان رسولو دپاره کفر دیو بیرونی حکومت په مدد باندې یلغار شروع کړو نو د جناب عالی دامت برکاتهم خدامواو مجاهدینو د دوی نه د حفاظتی تدابیرو اود مسلحې پیرې اجازت اوغوښتلو ، چه کله د مجاهدینو اصرار ډیر زیات شو نو جناب عالی دخپلو زرینو اصولو مطابق د لاندې امورو اهتمام اوفرمائیلو :

(۱) د دفاع اوحفاظتی تدابیرو شرعاً حدود اوشروط څه دی ؟ دا مسئله یې د دارالافتاء والارشاد دمفتیانو حضراتو د تحقیق مجلس ته وړاندې کړه ، حضرت په خپله هم اجتماعی او

انفرادي تحقيق کولو . علاوه ددې نه پخپلو شاګردانو او متعلقينو کښې نورو اهل افتاء او علماؤ ته يې د قرآن او سنتو په رڼا کښې ددې مسئلې د حدودو او د قيودو دحل تلاش کولو حکم اوفرمائيلو

هغه ټولو مفتيانو حضراتو دفاع لره شرعاً اوعقلاً نه صرف بهتره بلکه لازم او واجب اوګرځوله

(۲) چه کله مسئله په پوره طريقې سره ښکاره شوه نو جناب عالي پخپلو متعلقينو اوخدامو کښې دجنګې امورو ماهرينو ، د افغانستان دجهاد او دکشمير د جهاد د ګوريلا (پياده) مجاهدينو قائدين اود پاکستان د فوج ايس ايس جي کمانډوز افسرانو لره د دفاعي اقداماتو ترتيب اولائحۀ عمل جوړولو سره د پيش کولو اجازت ورکړو .

هغه ماهرينو دترتيب او نظام جوړولو په وخت کښې په لاندې امورو باندې اجتماعي او انفرادي غور وکړو ؟

(۱) دښمن څوک دې ؟ (۲) فرد دې اوکه ډله ؟ (۳) دهغوی تعلق ديو جماعت سره دې اوکه هغوی د مختلفو جماعتونو سره وابسته دی ؟ (۴) سرکاري دي ياغيرسرکاري ؟ (۵) د عدوات وجه څه ده ؟ (۶) تراوسه پورې څه واقعات شوي دي اوکه نه؟ (۷) محله کښې څوک څوک خلق قيام پذير دي؟ (۸) وړاندې وروستو اخوا ديخوا متصل کورونه د چا دي ؟ (۹) د جناب محترم په فتاوی خطاباتو بياناتو او مواعظو کښې کومو کومو بې دينه جماعتونو باندې رد کړې شوې دې؟ چه کله هغوی نه ټول معلومات ورکړې شول نو هغوی د دارالافتاء والارشاد د محلِ وقوع اود ګيرچاپيره کورونو جائزه واخستله او پخپل مينځ کښې يې د مشورې نه پس مسلح پيره ، تلاشي ، مورچواو محراب کښې مسلح محافظ اودڅه نورو انتظاماتو هم چه دهغې پټول هم د دفاع حصه ده لائحه عمل جوړولو سره په خدمت کښې پيش کړه .

(۳) دهغوی ټولو کوششونو او فيصله شوی تجاويزو لره حضرت مکرر د دارالافتاء والارشاد مفتيانو حضراتوپه مجلس کښې مختلفو وختونوکښې څو څو ځلې وړاندې کړه . مجلس کښې هغه ټول احتمالات هم زيرغور راغلل چه د اعتراضاتو په صورت کښې دخلقو د طرف نه کيدل خصوصاً محراب کښې مونځ کوونکو طرف ته مخ کولو سره د مسلح محافظ اودريدلو مسئله يې ښه او پوره وڅيړله

ټول تجاويز او تدابير شرعاً درست او جائز کيدلو باوجود دلته د انتظاميه بعضې افرادو دهغه کمانډرانو او کمانډوز ماهرينو بعضې تجاويزو ته غيرضروري اووئيل نو هغوی جواب ورکړو چه " تاسو خو دا وئيلې شئ چه دا تجويز زمونږ د طاقت نه بهر دې يا ديو عالم شرعي په اعتبارسره يو تدبير غلط وګرځوی ليکن هغه ته غيرضروري . زائد . بې فائدې او غلو وئيل ستاسو کار نه دې اوکه نه نو دابه داسې شي لکه يو جاهل ديو مفتي په فتوی کښې ترميم شروع کړی يا د فتوی

کومې حصې لره بې فائدې وګرځوی »

حضرت دهغه تولو کوششونو او تحقیق نه پس په شوو تجویزونو کښې څه ډیر داسې تجاویز ترک هم اوفرمائیل چه پخپله دهغه ماهرینو په خیال کښې دیرزیات اهم او لازم نه وو.

کامل اطمینا ن

هسې خو بحمدالله هغه تدابیرو باندې شرعی اعتبار سره هرقسمه اطمینان وو لیکن هغه وخت د اطمینان ، شرح صدر انتهاء پاتې نه شوه چه کله دحضرت معاویه رضی الله عنه په حفاظتی انتظاماتو کښې د مسلح محافظینو په محراب کښې اودریدل اود حضرت معاویه رضی الله عنه د سجدې په وخت د دوی سر ته اودریدل د نظر نه تیرشو ، دهغې تفصیل په عنوان «حضرات خلفاء راشدین رضی الله عنهم او جماتونو کښې حفاظتی انتظامات » کښې تیرشوې دې.

د اهل بصیرت دپاره د احتیاط سبق

پاسنې تفصیل په نظرکښې نیولو سره هرخاوند د شعور ددې ښه ادراک کولې شی چه دهغه حفاظتی انتظاماتو لائحه عمل جوړولوکښې د عقل اونقل ، تفقه اوتحقیق ، د فهم اوفراست تقاضو خومره لحاظ کړې شوې دې ، «ان فی ذلک لعبرة لاولی الابصار »

« یقیناً په دې کښې بصیرت والو ته لوئ سبق ملاویږی »

سره ددې نه د بعضې خلقو د طرف نه د اعتراضاتو انبار شروع شو چه تراوسه پورې جاری دې.

اعتراضات څه د حیرانتیا خیز نه دې

او اعتراض څه د حیرانتیا خبره نه ده ، په دنیا کښې هرڅیز خواه که هرڅومره ښه ، عمده او لازم او واجب وی ، چیرته چه دهغې غوښتونکی او قبلولو والا په کثیرتعداد کښې وی هغلته په هغې کښې د چینجې لتولو والا هم کمې نه وی ،اود کتاب الله په شان لاجواب کتاب اود حضوراکرم صلی الله علیه وسلم په شان بې مثاله اوخلاصهٔ کائنات اود کائناتو د مقصد مقدس . هستئ لره هم معاف نه کړې شو.

مګر حیرت اوافسوس په هغه معترضینو باندې دې چه پخپله ځان ته دیندار وئیلوسره ډیر خوشحالیږی او دینی معاشرې کښې واقعی هغوی باحیثیته اود دین مشهور دی . چه کله هغوی عقل اونقل او فهم لره هیرولوسره د مروت اود اخلاقو ټولو تقاضو لره شاه ته غورځولوسره اعتراضات وکړل.

د تالاشۍ مسئله

چه کله قرآن او حدیث . تعامل او اجماع او عقل او قیاس سره ثابته شوه چه حفاظتي او دفاعي انتظامات واجب دي او د امور حرب ماهر مجاهدین علماء او دیندار اهل فن تلاشي او محراب کښي مسلح محافظ او عمده انتظاماتو لره لازم ګرځوي نو دا اعتراض چه د تلاشۍ د وجه نه خلق جمات ته نه راځي . که چرته دا درست وي نو ناقابل اعتبار ندي ،د داسې خلقو په ذاتي انانیت او د علماؤ سره په دښمنۍ باندې د اسلام یو عظیم مجاهد او مفتی اعظم . جمات . اداري او خپل مونږ کوونکی قرباني کولې نه شي . دین او علم او د اهلِ علم جان او عزت لره نه شي داغ کولې.

هوایی میدان باندې تالاشي

کوم خلق چه تالاشي لره خپل توهین ګڼي هغوئ ته وایو چه بیشکه خپل توهین مه کوئ . د جماتونو الحمد لله کمې نشته لیکن دهغه خلقو نه چه د تلاشۍ د وجه نه جماته ته نه راځي څوک دا پوښتنه کولې شي چه هغوی هوایي میدان باندې په کوم مخ سره په رضا او رغبت تلاشي ورکوی؟ آیا دالله د کور او د اسلام دیو عظیم مفتي او عالم شریعت قدر او اهمیت د هوایي میدان نه هم کم دې ؟
هغه معترضینو ته پکار دی چه کله هوایي میدان باندې حاکمان تالاشي شروع کړی نو دهغه ځای نه دې واپس راشي .

حرمین شریفین کښې تلاشي

حرمین شریفین کښې هم تالاشي اخلي، که چرته تالاشي دنفرت څیز وي نو هغلته هم حرم شریف کښې د اخیدلو نه انکار کوئ او د حرم څوکیدارانو ته دا آیت ولولئ : ومن اظلم ممن منع مساجد الله ان یذکر فیها اسمه وسعی فی خرابها (۲: ۱۱٤)
«او د هغه سري نه څوک لوئ ظالم دې چه خلقو لره په جماتونو کښې د الله الله کولو نه حصاروی او هغې لره د ورانولو کوشش کوی»
بنده ته په ۱٤۰۷هجری کښې د حج کولو سعادت حاصل شو . هغه کال په هر مونږ کښې د هر حاجی او د مونږ کوونکی باقاعده تالاشي اخستل کیدله . د حرم شریف د عقیدت او محبت د وجه نه ټولو خلقو نهایتِ خوشحالۍ سره تالاشي ورکوله او هغه عمل لره ئې نه ګنلو او نه صفت ئې کولو . معلومه شوه چه د اعتراضاتو بنیاد تلاشي نه ده څه بل څه دی . اوس هغه کوم غل دې چه په زړه کښې پټ شوي دې ؟ دهغه د تعیین نورو ته ضرورت نشته او دچا په زړه کښې چه دې هغه ته معلومه ده
ښکه چه په حرمین شریفین کښې تالاشي د آیتِ مذکوره منافي نه ده او د مسجد نبوی د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم د دور نه په شپه کښې بندیدل د آیت خلاف نه دی . د ټولې دنیا د

جماتونو د مخصوص وختونو نه سوا قلف کول د آیت په مذکور وعید کښې داخل نه دی . همدغه شان که چیرته په یو جمات کښې د شرپسندو اود دښمنانِ اسلام نه د علماؤ ، طلباؤ او په خپله د مونځ کؤونکو د حفاظت دپاره تالاشي اخستلې کیږی نو دا هم د آیت خلاف نه دی.

که چیرته د لګې غوندې پوهې نه کار واخستلې شی نو د تالاشئ په عمل باندې د خوشحالئ اظهار کول پکار دی ، په دې کښې د انسانانو اود املاکو حفاظت ، د جمات د تقدس بقاء ، د دښمنانو سازشونو لره ناکامه جوړولو او په هغې کښې تعاون ، د علماؤ قدر اومنزلت پیژندلو او کفر باندې رعب اچولو سره دخپل خان په باره کښې د اطمینان ورکولو مظاهره هم ده.

الحمد لله ! بې شمیره حضرات اهلِ علم اود دنیا مختلفې شعبې د ژوند سره تعلق لرلو والا خلقو دهغه اقداماتو خیرمقدم کړې دې او د نورو دپاره ئې قابلِ رشک اولائقِ تقلید وګرځولو.

همدارنګه په دې تفصیل سره دا هم معلومه شوه چه محافظ زیاتیدلواو تلاشی او محراب کښې د مسلحو محافظینو په اجتماع باندې اعتراض کول ناواقفیت باندې مبنی اود ماهرینو په رائې باندې خپلې رائې لره ترجیح ورکول دی.

همدارنګه دا هم چه حفاظتی تدابیرو کښې یوځائ لره په دویم ځائ باندې قیاس کیدلې نه شی د امور حرب د ماهرینو مطابق د لاندینو د امورو د وجه نه تدبیر مختلف کیدلې شی:

(۱) اختلافِ زمان

(۲) اختلافِ مکان

(۳) د دښمنِ طاقتور او کمزوری کیدل چه موقوف دی د دښمن په حیثیت باندې یعنې داچه انفرادی دی یا اجتماعی ، سرکارئ دی یا غیرسرکاری ، دینی دی یا دنیوی ، ماهر دی یا غیرماهر

(۴) د مهلک څیزونو په ایجاداتو کښې ورځ په ورځ اضافه

(۵) بناء عداوت

(۶) محل وقوع

(۷) د داخلی او خارجی حالاتو سازګار کیدل

(۸) استطاعت

اشکال :

بعضې حضراتو ته دا اشکال شوې دې چه محراب کښې مسلح محافظ لره د حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه په عمل باندې قیاس کیدلې نه شی هغه خو امیرالمؤمنین وو . ښکاره ده چه: امیرالمؤمنین احکام د نورو نه په معاملاتو کښې مختلف وی

جواب

احاديثو اود فقهي او تاريخ نه دا ثابته ده چه جمات کښې دننه حفاظتي کمرې په ټولو اسلامی ممالکو کښې جوړې شوی دی چه په هغې سره ثابته.شوه چه دا د اميرالمؤمنين څه خپل خصوصيت نه وو ، اوکه چرته څوک د اشکال داسې تقرير وکړی چه دهغې ثبوت صرف د حکامو دپاره دې لهذا غيرحکامو لره په حکامو باندې قياس کول درست نه دی نو د هغې جواب دادې چه حکامو د ممکنه خطراتو په نظر کښې نيولو سره د مسجد جماعت ترک کولو په ځائ په مسجد کښې دننه حفاظتي اقدامات دې دپاره کړی وو چه امامت ، خطابت اود جمات انتظامات دهغوی په حواله وو . نن سبا خو حکامو د دين او ايمان نه غفلت اختيارکړې دې ، اوس د امامت ، خطابت اود جمات د انتظاماتو والي او وارث علماء دی ، ددې وجه نه علماء دې په کورنو کښې د بند پاتې کيدلو په ځائ د سلف صحالحينو په طرز جمات کښې دننه حفاظتي اقدامات وکړی . اصلاً خو دا فريضه عامو مسلمانانوته راجع کيږی ليکن که چرته هغوی د غفلت مظاهره وکړی نو په خپله علماؤ باندې لازم ده چه هغوی احتياطي تدابير اختيار کړی او ظاهری اسبابو سره دې کفر ته څه د خوشحالئ موقع ورنه کړی .

که خطر وی نو په کور کښې مونځ ولې نه ادا کوی ؟

دولسم نمبر اعتراض :

که چيرته حضرت مفتي صاحب ته واقعةً خطره وی نو خپل خان سره دې مسلح محافظينو لره په جمات کښې راوستلوسره مونځ کوونکو لره د پريشانه کولو په ځائ په کور کښې مونځ ولې نه کوی ؟ آخر مرض کښې خو هم مونځ په کور کښې کوی .

د خطرې د وجه نه په کور کښې بنديدل او کيناستل خلافِ معقول هم دی او منقول هم

جواب : دا امر معقول هم دې او مجرب اومشاهد هم اود ماهرينو فيصله هم ده چه دښمن د مطلوب سړی اهلِ خانه ، دهغه متعلقين اودهغه جائيداد او مالونو لره هم نشانه جوړه وی ، د دښمن هدف دمطلوب سړی محض وژلو پورې مخصوص ګڼل خطرناک دی . ددې وجه نه دحضرت يا د بل عالم دين که د دښمنانو نه ويره وی نو په کور کښې د نظربند پاتې کيدلو فارموله د عقل ، تجربې اود ماهرينو د فيصلې نه خلاف ده .

همدغه شان دا رائې د نقل سره هم متصادم ده . د حضوراکرم صلی الله عليه وسلم اودصحابو رضی الله عنهم اود نورو سلف صالحينو سنت د حديثو په کتابونو اود سيرت په کتابونو او د

تاریخ په کتابونو کښې منقول دي چه د بیمارئ د وجه نه هغوی د جمات ترک خو اوفرمائیلو مګر د دښمنانو د طرف نه ممکنه خطراتو په نظر کښې نیولوسره که هغوی د همیشه دپاره په کورونو کښې بند شوی وی داسې هیڅ کله نه دی شوی.

حضوراکرم صلی الله علیه وسلم باندې سفراوحضر کښې د پیرې روایات څه تیرشوی دی . او څه د رسالې په آخری حصې کښې راتلونکی دی ، دوی صلی الله علیه وسلم حفاظتی انتظامات او اقدامات وکړل ، په کور کښې ئې نظربندی اختیار نه کړه ، علاوه ددې نه د مرض په ورځو کښې دحضور اکرم صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه لره خلیفه جوړولوسره پخپله په کورکښې مونځ ادا کولو واقعه د امیرالمؤمنین حضرت عثمان ، امیرالمؤمنین حضرت معاویه ، امیرالمؤمنین حضرت حسن رضی الله عنهم اود امیرالمؤمنین حضرت عمربن عبدالعزیزرحمه الله په وړاندې وه ، ظاهری اعتبار سره څنګه چه حفاظت په کور کښې دننه کیدلې شی هم هغسې بهر ممکن نه دی ، د رسول صلی الله علیه وسلم صحابی اود امیرالمؤمنین کیدلو په وجه دهغه حضراتو د نفوسِ مقدسه قیمت د تصور نه پورته دې ، سره ددې نه هغه حضراتو دفاعی اقدامات وکړل او د مسجد جماعت ئې ترک نه کړو.

دا رائې ورکولو والا خلق پخپل ځان کښې خواه هرڅومره مخلص وی مګر دهغې په عواقبو باندې که غور وکړې شی نو دا د اسلامی دښمنئ لاره هواروی ، ځکه چه څنګه په جمات کښې خطره ده مدرسه او مجلس اواجتماع کښې هم ده ، په دې تولو ځایونوکښې بهادر مسلمانان وی چه اسلحې ته د کتلو طاقت نه لری نودهغه رائې نتیجه سوا ددې نه بله څه راوځی چه حق وئیلو والا علماءِ کرام یا خو دې د حق نه منع شی اوکه نه نو د حقې وینا په سزا کښې دې هغوی لره د همیشه دپاره نظر بند کړئې شی د حق آواز لره دې همیشه دپاره بند کړې شی او مسلمانانو لره دې دحق اوریدلو نه همیشه دپاره محرومه کړې شی.

مسجد د عالم دپاره پارلمان دې

د علماؤ دپاره مسجد د وعظ کولو او دعوامو د دینی رهنمائې دپاره اصل ځائ دې په دې اعتبار سره جمات د عالمِ دین دپاره پارلمان دې اوعالم د هغه صدر او رئیس دې ، آیا څوک باشعوره سړې دا وئیلې شی چه وزیراعظم یا صدر به د خطراتو د وجه نه همیشه د پارلمان نه غائب اوغیرحاضر کیږی.

محاسبه وکړئ

کوم خلق چه علماءِ حق ته پخپل خیال کښې دا د خیر مشوره ورکوی هغوئ دې په دې باندې هم فکر وکړی چه د اسلام په دښمنانو کښې خو دومره جرأت دې چه هغوی د یو ملک له سرحد نه په

تیریدلو سره د لږې ځای نه د راتللو مشقت برداشت کوی اود کفر دپاره دخپل ځان قربانولو سره علماؤ باندې حمله کوی او خپل ځان ته دیندار ویونکی د بهادرئ دا نمونې چه د علماؤ د حفاظت فریضه ادا کولو اود دښمن دغابښونو ماتولو په ځای بالعکس علماؤ لره په کور کښې د نظر بند کولو مشوره ورکوی ، العیاذبالله . شعر:

چوں کفر از کعبه برخیزد کجا ماند مسلمانی

یوه لمحۀ فکر

ډیر تعجب او افسوس دادې چه کفارخو دخپلو زندیقانو او ملحدینو د لږ لږ خیز حفاظت کوی اودهغوی په بدن باندې هیڅ خیز نه پریږدی ، د سلمان رشدی په شان منحوس اوملعون حفاظت یورپ او امریکه کوی او د دین دعویدار او علماء خپل قیمتی نفوسو لره چه په دې وخت کښې زمونږ دپاره اصل سرمایه ده مړه کړی، اوکه چرته څوک آیاتِ قرانیه . احادیثِ نبویه . نصوصِ فقهیه اوسنتِ نبویه اود خلفاءِ راشدینو د تعامل په تعمیل کښې دیو هستئ د حفاظت فریضه ادا کړی چه هغه د ټولو فتنو د ختمولودپاره خپل ځان وقف کړې وی او بغیر د ویرې نه د لومة لائم «النذیرالعریان » تصویرجوړیدلوسره د دښمنانِ اسلام اود دښمنانِ صحابه اود اکفرالکفار اواخبث الخبثاء شیعه ګانو کفر یې مشهورکړې وی چه د هغوی فتواګانو د ایران په شان مضبوط او د کفر د قلا بنیادونه خوزولی وی چه دهغوی وروستو د ایران حکومت خپل فوځیان وریسې پریښودلی وی ، د داسې هستئ د حفاظت کولو لره خلاف توکل ، خلافِ سنت اوخلافِ مروت او هغې لره اسراف او ریاکاری ګرځول قهرِ الهی ته دعوت ورکول دی ، شعر

غیرت کا جنازه ہے ذرا دھوم سے نکلے

د توکل متر پښوونکو !

یو نظر خپل طرف ته هم وکړئ !

نورو ته د توکل درس ورکولو والا خودې لږ دخپلې دنیا د حفاظت د اسبابو جائزه واخلئ د کور بالکل دننه ته خانو کښې تیلئ تیلئ هغه هم داسې تالو والا چه په بله چابی بالکل خلاصیږی ، بیا د کمرو ، ته خانو اود کورونو تالې جدا . دهغې باوجود د زړه ریږدل اود ډاکې خیالات ، بیا د بینکونو رُخ ، سودخورو سره تعاون بیا حسبِ منشاحفاظت نه کیدلو باندې د شپو خوب حرام . د ورځې وآرام نه وی ، د کورونو په دیوالونو باندې د شیشو اوږدو اوږدو څوکو والا ټکرې ، د صحن مخې ته د اوسپنې مضبوطې جنګلې ، د کمرو په دروازو باندې لوئې لوئې کنډې بندشونه او تالې ، دروازو باندې څوکیدار ، چت باندې پیره دار ، د سحرجماعت ترکولو باندې

دوام او اصرار ، شبهه کښې که د تیلی فون تالن وغیریږی نو د رسیور اوچتولو نه انکار ، که غلطئ سره ئې اوچت کړی او ونیلو والا خپل نه وی نو د دروغو اظهار چه صاحب د ملګ نه بهر دې
دا حالات د هیچا نه پټ پناه نه دی . لیکن چه کله د یو عالم دین ، وارث نبی او ماهر شریعت اود حق وئیلو والا عالم حفاظت اودهغه د قیمتی نفس د دفاع معامله وی نو هغلته توکل په یاد راځی او سنت هم . ختنې (سنتی) او خلاف شرع رسوماتو باندې په لاکهونو روپو خرچ کولو والا نه اسراف هم په نظر نه راځی او ریاء کاری هم .
دا خلق د دین محب نه دی بلکه د دین دښمنان دی . د علماؤ سره د محبت په دعوی کښې رښتینی نه دی دروغژن دی ځوک چه دا غواړی چه علماء کرام د دښمنانِ اسلام دپاره خوندوره غذا جوړیږی ، دا ظالم غواړی چه علماء د مارغانو په شان وی دې دپاره چه هر سړې هغوی لره په سهولت سره ښکار کړی او کافر خلق د خپل هرخوب تعبیروکړې شی . الله تعالی دې داسې خلقو ته هدایت وکړی او که نه نو ، شعر

نکل جا اے زمیں ناپید انھیں اے آسماں کردے

دعبرت سبق

د اسلام د دښمنانو اود فتنه ګرو په جماتونو باندې په پټه او ښکاره حملې او تخریبی کارروایانې د روزمره معمول جوړ شوې دې ، په جماتونو کښې دننه کیدلو سره په مونځ کوونکو باندې فائرنګ ، بارودی دهماکې ، په خنجراو چاقوباندې دزخمی کولو واقعات ، هنګامې ، بدحال، د جماتونو په دروازو باندې صحابه کرامو رضی الله عنهم ته کنځلې کول او هغوی باندې لعن طعن کول ، علماء حق ته بدې ردې وئیل ، د جماتونو د امامانو تښتول ، د علماء دین وژل ، دهغوی د ږیرو خیرلو حادثات روزانه د پاکستان په ټولو اخباراتو او رسالو کښې سرخیانو سره چاپ کیږی .
لاهورکښې د «مسجدِ احسان » واقعه ، د فیصل آباد د «مسجد صدیق اکبر » واقعه د ګوجرانوالې «محمدی مسجد » باندې دهشت ګردی ، د جهنګ ، لیه اود ملتان اودهغې د خواو شا څه ډیر جماتونه ، کراچۍ کښې د ناګن چورنګی ، اسکاؤټ کالونی ، کورنګی ، او نګی ټاؤن ، عزیزآباد ، بنوری ټاؤن ، ګرومندراو د نمائش په جماتونو کښې دهشت ګردی د ظلم واقعات اوس د چا نه پټ نه دی ، د یونیم یا دوو کالو په لړه موده کښې د پاکستان څومره جماتونو لره د دهشت ګردئ نشانه جوړه کړې شوه ، څومره مونځ کوونکو لره په وینو کښې لیت پیت کړې شو . څومره مونځ کوونکی د لاسونو ، خپو ، سترګو اود بدن د نورو قیمتی اعضاؤ نه محرومه شو . څومره علماء قتل کړې شو ، که چرته څوک د هغه ټولو فهرست جوړ کړی نو دا شمیر د دښمنان اسلام

طرف نه زمونږ دپاره لوئ مهلک پیغام او مستقبل کښې زمونږ د تباهئ اعلان دې اود بربادئ پیش گوئی ده

الحمدلله ! بعضې معترضینو دهغه عبرتناکو حوادثو نه عبرت حاصل کړې دې او خپل اعتراضات ئې په معذرت او ندامت سره واپس اخستلی دی.

په دې سلسله کښې د بیرون سندھ نه بعضې خطوط هم را رسیدلی دی ، یو صاحب ولیکل چه ماته مسلح پیره باندې لوئ اشکال وو لیکن زمونږ نزدې په یو جمات باندې دښمنانِ اسلام حمله وکړه چه په هغې کښې په درجنونو مونځ کوونکی شهیدان ، زخمیان او معذور شول اوس خما اشکال ختم شوې دې.

همداسې یو عالم چه حضرت سره اصلاحی تعلق لری لیکی : دارالافتاء والارشاد کښې مسلح پیره باندې دلته دیندارطبقې ته ډیر تشویش وو او لوئ اشکالات وو، دهغوی اعتراضاتو زه پریشانه کړې ووم اوس فی الحال مختلفو ښارونوکښې په جماتونو باندې د حملو سنگینو واقعاتو زمونږ سترگې خلاصې کړی دی اوس ټول وائی چه : « واقعی دحضرت مفتی صاحب په خائ کښې د پیرې معمول نهایتِ صحیح بلکه بې انتهاء لازم او ضروری دې ، بیشکه د الله والو نظر ډیر جور وی ، مونږ ټولو ته دفاعی انتظامات کول پکار دی»

که چرته د چا په یو یو اشکال باندې په درجنونو مسلمانان قربانی ورکړی اود قرآن اود حدیثو نه د ناواقفیت په وجه باندې پیدا کیدلو والا د یویو اعتراض جواب خوک د مسلمانانو په وینه ، د جماتونو د تقدس په پیمال کولو او دین باندې حملو کښې لتول شروع کړی نو غور وکړئ دهغه نه زیات ظالم خوک کیدلې شی ؟

سره ددې نه دا خلق هم غنیمت دی چه اوس خو پوهه شول اوپه اور کښې له غورخیدلو نه را حصار او تینگ خو شول ، شعر

وہ بھی گرا نہیں جو گرا پھر سنبھل گیا

لیکن په خیر سره دلته داسې خلق هم دی چه د دې ټولو حقائقو. واقعاتو او حوادثو باوجود هم د بیداریدلو نوم نه اخلی او هغوی پخپل ضد باندې قائم او دائم دی.

مشهور متل هم وه شرمیدلو

په یوه زمانه کښې دا متل مشهور وو چه هندو د خطرې نه یو هفته وړاندې بیداریږی مسلمان عینِ وخت باندې او سکھ یوه هفته وروسته . لیکن د نن مسلمان د ذلت اود بې حسئ په هغه اعلی مرتبه باندې ولاړ دې چه په هغې کښې د بیدارئ نوم او نښان هم نشته . دا هفته څه د میاشتو او کلونو نه پس هم نه بیداریږی (اللهم اهد قومی فانهم لا یعلمون)

آیا اسلحه مونځ کوونکو لره د دهشت ورکولو دپاره ده ؟

دیارلسم نمبر اعتراض:

د اسلحې اهمیت پخپل ځائ لیکن دا هم حقیقت دې چه خلق د اسحلې تصور سره هم ویریږی . په داسې حالت کښې د جمات اود جمات ګیرچاپیره د مسلح محافظو دله اود هغوی په لاسونو او د بدن په مختلفو حصو باندې مختلف قسمه اسلحه خوفناک منظر پیش کوی چه په هغې سره د مونځ کوونکو خشوع او خضوع غرق او امن تباه کیږی .

اسلحه د الله په دښمنانو باندې د دهشت اچولو دپاره ده

جواب : مسلح پیرې باندې خومره اعتراضات چه تراوسه پورې شوی دی دا اعتراض قدرمشترک طور باندې په ټولو کښې موجود وو یعنې د اسحلې نه خوف .

تیروشوو پاڼو کښې هغه آیت لیکلې شوې دې چه په هغې کښې د اسلام د دښمنانو نه د دفاع دپاره د استطاعت مطابق د بهتر نه بهتره اسلحه د تیار ساتلو حکم ورکړې شوې دې . په هغې کښې الله تعالی د اسلحې حکمت اومصلحت اودهغې فائده دا بیان فرمائیلې ده چه : ﴿تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ﴾ .

((دهغې په ذریعې سره تاسو د الله دښمنان هم وه ویروئ او خپل دښمنان هم)).

کوم مسلمان ورور چه اسلحې لره لیدلوسره ویریږی هغوی ته درخواست دې چه دا اسلحه دهغوی د حفاظت اود مسلمانانو دښمنانو لره د ویرولو دپاره ده ، هغه حالت بدل کړئ کوم چه په قرآن کښې الله تعالی د دښمنانو ښودلې دې .

داسې خلق دې په تنهائې کښې په پوره دیانتدارئ او اخلاص سره د خپل دې حالت جائزه واخلی او په ښه سکون سره دې سوچ وکړی :

کوم څیز چه الله تعالی خپلو دښمنانو لره د ویرولو دپاره پیدا کړې وو نن مونږ پخپله دهغې نه ولې وه ویریږو ؟

د کوم امت قرآن چه اسلحې ساتلو ته فرض او نه ساتلو ته جرم او هلاکت وئیلې دې نن هم د هغه قرآن منلو والو ته دهغه اسلحې نه ویره کیږی ؟

د کوم امت د نبی بعثت چه اسلحې سره شوې دې او هغې لره دهغه د معاش ذریعه وګرځولې شوه نن هم دهغه نبی د محبت دعویدار د اسلحې نه خائف ولې دی؟

په کوم شریعت کښې چه اسلحې سره د محبت حکم وی او دې شریعت لره راوړلو والا رسول دخپلې تورې په لاستی کښې چاندی لګولوسره د اسلحې سره د محبت او عشق مظاهره کړې وی

او هغه شریعت د اسلحې په زور باندې اخستلې شوی مالونه د کافرانو لره د ټولو مالونو نه پاکیزه ګرځولی وی نن هم دهغه شریعت تابعدارو ته د اسلحې نه ولې ویره کیږی ؟

د کومې اسلحې چه د خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم په نزد د اهمیت دا حال وی چه د دوی په ذاتی ملکیت کښې یولس یولس تورې . اته اته نیزې . اوه اوه زغرې دی . شپږ شپږ د غشو ویشتلو لیندې . دوه دوه تیردان . ځلور ځلور ډهالونه متعددې جنګی ټوپۍ ګانې . څه ډیر اوښان او قچر وو اود صحیح بخاری د روایت مطابق دوی صلی الله علیه وسلم نه په ترکه کښې سوا د اسلحې اود جنګ د آلاتو نه څه بل څه نه وو پاتی شوی نن د حب نبی دعویدار هغه میراث نبوی لره د کتلو طاقت ولې نه لری؟

کومې اسلحې چه زمونږ صحابه کرام رضی الله عنهم د ورځې دخپل بدن څخه نه جدا کوی او نه یې د شپې جدا کوی او هغوی هغې لره دخپل ځان او د دین اسلام عزت ګنړلو . نن حب صحابه لره د ایمان جزء ګرځولو والا مدعیان اسلحې ته دیو نظر کتلو طاقت ولې نه لری ؟

چه دهغوی آباؤاجدادو د اسلحې په ذریعې جزیره عرب لره د کفر اوشرک نه پاکه کړه د خیبراود بنو قریظه یهودیانو ته ئې د همیشه دپاره د ذلت امیل اچولوسره دهغه ځائ نه بهر کړل . د فارس کافرانو لره ئې ختم کړل اود روم او شام غاښونه ئې مات کړل ، نن هم دهغوی اولاد اسحلې ته کتلوسره ولې لړزیږی ؟

دکومې اسلحې خیرات به چه په مسجد نبوی کښې کیدلو اودهغې جنګی مشق ته مسجد نبوی کښې د نبوت د نګاه شرف حاصل وو نن هم دهغې اسلحې په تصورسره د مسلمانانو اودس ولې ماتیږی ؟

لله ! فکر وکړئ آیا تاسو د نبی السیف (تورې والا پیغمبر) امتی وئیلو مخ لرئ اوکه نه ؟ که چرته ستاسو د مسواک اود عمامې د سنت سره محبت وی نو د اسلحې په شان فرض سره ولې محبت نه کوئ ؟ دا چرته خوږ خوږ هپ او تریخ تریخ توکلو » والا معامله خو نه ده ؟

صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د اسلحې نه ولې ویره نه کیدله ؟

الغرض د تیرشوو پاڼرو نه په ښه طریقه معلومه شوه چه اسلحه د ویرې خیز نه دې د مینې خیز دې بیا مونږ ته ولې له هغې نه ویره کیږی ؟

یو څو ورځې وړاندې یو صاحب تشریف راوړو چه دینی اعتبار سره لوئې رتبې والا دې . هغه په اسلحې او په پیرې باندې سخت اشکالات وکړل ، بنده هغه ته د تیرشوو پاڼرو خلاصه بیان کړه نو هغه اووئیل : « ټول اشکالات ختم شو لیکن محراب کښې مسلح محافظ کښې تشویش دې او دهشت خوروی لله ! دا په څه طریقه ختم کړئ »

بنده عرض وکړو: ((چه هرکله یو څیز په قرآن، حدیث، فقه، اجماع او تعامل سره ثابت شو اود حضرت معاویه رضی الله عنه په عمل سره باقاعده دهغې تصدیق وشو نو اوس خما په خیال کښې باید دهغه تشویش او خوف علاج وکړئ شی نه دا چه اسلحې ته د الله پامان اووئیلې شی. آخر صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د اسلحې نه دهشت ولې نه کیدلو؟))

په دې باندې هغه پاسیدلو سره په یو خاص انداز سره خما په اوږو باندې لاس وهلو سره اووئیل: ((بس ټیک ده یار))

اسلحې نه د خوف علاج

داسې مسلمان ورور چه دخپل غفلت، غلطو معلوماتو او بعضې د دین د ټهیکدارانو د غلط پروپاګند نه متاثره کیدلو سره اسلحې لره نعوذبالله قابلِ نفرت او عار ګڼې اود اسلحې نه د خوف او بزدلئ مهلک مرض دهغوی په زړونوکښې پیدا شوهغوی دې آئنده نسل ته د بزدلئ اود خوف سبق ورکولو په ځائ د بهادرئ نه کار واخلی او ددې حالت اصلاح دې وکړی. لیکن ددې طریقه دا نه ده چه د اسلحې نه سترګې پټې کړی یا هغه وسوزولې شی، که په سر کښې سپږې وشی نو سپږې ویستلې کیږی کهوپړئ نه ماتولې کیږی، که جامې ګنده شی نو ګنده والې وینځلې کیږی کپړې نه غورزولې کیږی. لهذا هغه ویرې لره د زړه نه اوباسئ او دهغې دپاره د لاندینو امورو اهتمام وکړئ:

(۱) تراوسه پورې چه تاسو د اسلحې نه د نفرت او د خوف کوم اظهار وکړو دوه رکعته مونځ کولو سره دهغه ګناه نه توبه اوباسئ.

(۲) د بزدلئ نه د پناه غوښتلو معمول جوړ کړئ، حضوراکرم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم (د انتهائی بهادرئ باوجود) د بزدلئ نه داسې پناه غوښتله څنګه چه د کفر او شرک نه یې پناه غوښتله (صحیح بخاری ص ۳۹۲ جلد ۱)

(۳) د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم اود صحابه کرامو رضی الله عنهم د جنګونو واقعات باقاعده مطالعه کښې ساتئ دهغې دپاره لاندې کتابونه ډیر مناسب دی:

(۱) ((سیرة المصطفی)) جلددوم تالیف شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوی رحمه الله تعالی

(۲) د ملک شام عظیم الشان فتوحات اود صحابه کرامو رضی الله عنهم مجاهدانه کارنامې (تالیف حضرت مولانا فضل محمد صاحب مدظلهم استاذ حدیث جامعة العلوم الاسلامی بنوری ټاؤن کراچی)

(۳) حکایات صحابه (تالیف حضرت اقدس شیخ الحدیث قدس سره

(۴) په رومبنی فرصت کښې د جهاد تربیت (ترینګ) حاصل کړئ . د اهلِ حق نمائنده عظیم متحده قوت ((حرکة الانصار)) معسکر (ترینګ سنټر) له غنیمت وګنړئ

(۵) د پاکستان هر کلی وال ته د قانون مطابق د اسلحې ساتلو اجازت دې . هغه قانون له نعمت عظمیٰ وګنړئ او حسب استطاعت اسلحه ساتئ . خلاف قانون یو څیز هم مه ساتئ

(۶) اوس وخت جهاد فرض دې او کشمیر اوتاجکستان ، بوسنیا وغیره په ډیرو ځایونو کښې اهلِ حق له کفرسره میدانِ جنګ کښې دی ، کوم خلق چه دهغه شرعی جهاد قیادت کوی دهغوی سره رابطه کولوسره جهاد کښې حصه واخلئ او یو خلې بیا دا سوچ وکړئ چه حضوراکرم صلی الله علیه وسلم خو اوه ویشت ځلې بنفس نفیس جهاد ته تللې ؤ نو تاسو خو کم ازکم یوځل لاړشئ. بیا د جهاد د قائدینو خوښه ده که مونږ جهاد ته لیږی اوکه د جنګیدلو په ځائ د جهاد څه بل کار راته په حواله کوی .

اُٹھ باندھ کمر کیا ڈرتا ہے پھر دیکھ خدا کیا کرتا ہے

په توله دنیا کښې کافر د کفر دپاره جنګیږی

د ﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ﴾

((کافر د کفر په خاطر جنګیږی))

مطابق کفرسره د وفادارئ ثبوت ورکوی . اهلِ ایمان دې هم اوچت شی او د دین دپاره دې مسلح قتال کولوسره د ((الذین یقاتلون فی سبیل الله)) ((اهل ایمان د الله په لاره کښې جنګیږی)) مصداق جوړیدلوسره د کفر برتری لره دې ختمه کړی .

د لنګ د وینځلو اجرت

افسوس زمونږ حالت د هندوکنجوس نه هم بدترشوې دې. هندو په بزدلئ کښې ضرب المثل وو وائی چه کله انګریزانو په هندوستان باندې غاصبانه قبضه وکړه نو متحد هندوستان تول قومونه په فوج کښې داخل کړل ، هندوان ئې په فوج کښې وانه خستل . په هغې باندې یو ((هندو چودری)) دخپل قوم سره د شوې نا انصافئ خلاف احتجاج وکړو . انګریز افسر اووئیل : ((ستاسو هندو قوم نهایت بزدل دې ددې وجه نه سونږ کوم یو هندو لره په فوج کښې نه اخلو))

هندو چودری جواب ورکړو : ((صاحب ! تاسو ته غلطه اطلاع درکړې شوې ده ، په بهادرئ کښې مونږ د یو قوم نه هم وروستو نه یو))

انګریز افسر اووئیل : ((ټیک ده بیا مونږ امتحان اخلو یو هندو راوله))

چوهدری په هندوانو کښې د ټولو نه بهادر هندو ښه پوهه کړو او دې وئیلو سره ئې راوستلو چه

« گوره ویربږه مه ، د ټول قوم د عزت مسئله ده »
افسرمخامخ کینولو او یوفوجی ته ئې اوونیل « احتیاط سره دده توپې په نشانه کښې واخله»
فوجی نهایت صحیح نشانه لګولوسره توپې په ګولئ سره والوزوله او هندو پخپل ځای صحیح ناست وو . افسر حیران شو او چوهدری ډیر خوشحاله شو چه زمونږ د قوم سره د فخر نه اوچت کار وشو
افسر اوونیل : « ده ته د توپې قیمت ورکړئ او آئنده ده لره په فوج کښې واخلئ »
هندو په رپارې او ژړا سره اوونیل : « حضور د لنګ د وینځلو اجرت هم راکړه »
د ویرې نه د کم بخت اودس ماتې وتلې وؤ .
لیکن د نن سبا مسلمانان د اسلحې نه ویره او هغه قابلِ نفرت ګڼلو د وجه نه داسې شول چه د لنګ وینځلو اجرت غوښتلو والا بزدل هندو هم نن په ټول هندوستان کښې د مسلمانانو قتلِ عام کوی ، بې ګناه ماشومان ذبح کوی ، د معصومو جینکو عزت خرابوی ، جماتونه شهیدان کوی ، قرآن سوزوی ، د تاریخ هغه بدترین ظلم کوی چه نه آسمان کتلې دې اونه زمکې ، آیا دهغه حالاتو او حقائقو نه څوک عبرت حاصلولو والا شته ؟

ظالم ابھی ہے فرصتِ توبہ نہ دیر کر وہ بھی گرا نہیں جو گرا پھر سنبھل گیا

د بزدلئ علاج جهاد دې

دلته د حضرت د زیارت او ملاقات دپاره د جهادِ افغانستان اوکشمیر مجاهدین د دنیا د مختلفو ملکونو غازیان اود زمانې مشهور قوماندانان تشریف راوړی ، په هغوی کښې د عامو بهادرو مسلمانانو نه واخله تر طلباؤ ، علماؤ او مشایخو ټولو پورې موجود وی او بحمدالله ټول کال د اسلام ددې بهادرو قطار وی ، دا حضرات ددې ځائ د پیرې ، اسلحې او د تلاشئ نظام په لیدلوسره ډیر خوشحالیږی .
ددې دورعظیم ګوریلا کماندر مشهور فاتح نامور عالم دین حضرت مولانا جلال الدین حقانی دامت برکاتهم د شلو قوماندانانو اود علماء کرامو سره تشریف راوړو نو ډیر خوشحاله شو او وې فرمائیل « ماته دلته پیره او اسلحه لیدلوسره داسې ښکاری لکه چه زه په سرزمینِ شهداء او ارضِ جهادِ افغانستان کښې یم »
او بیا یې اوفرمائیل « ماته دلته ډیره خوشحالی محسوسه شوه »
د « حرکة الانصار » مرکزی نائب امیراول حضرت مولانا فضل الرحمان خلیل شکریه ادا کولو سره ئې اوفرمائیل « ماته ئې داسې ځائ وښودلو چه دا دهغه په مابانديې احسان دې »
یو مشهور عربو عالم چه په جهاد کښې ئې ډیر خلې حصه اخستلې ده او د یو عرب ملک به

یو وزارت کښې اعلیٰ عهدې باندې هم فائز دې دلته پیره . اسلحه او تلاشۍ کتلو سره اوفرمائیل « دلته ماته هم هغه خوند محسوسیږی چه په جهاد کښې دننه په محاذ باندې وی »

ددې ځائ د بعضې محافظینو په باره کښې ئې دا پیشن گوئی هم وکړه چه : « ماته د دوی د مخونو نه د شهادت خوشبو محسوسیږی »

یو څو ورځې وړاندې د «حرکة الانصار » یو سعودی عربی مجاهد د حضرت زیارت ته تشریف راوړو نو اسلحه او پیرې کتلوسره ئې بې اختیاره اوونیل : ((والله هکذا ینبغی للعلماء ما قام الدین الا بالسلاح ولا یقوم ولن یقوم الا بالسلاح))

« په الله قسم علماؤ ته هم داسې پکار دی ، دین نه وړاندې د اسلحې نه بغیر مستحکم شوې دې اونه اوس کیدلې شی او نه به آئنده مستحکم شی»

فاتح خوست اوگردیز د حضرت مولانا جلال الدین حقانی ممتاز قوماندان او مشهور عالم د جامعه منبع الجهاد خوست مهتمم حضرت مولانا عبدالحلیم صاحب مدظلهم د مولانا حقانی تجربه کار استاذ ، عظیم مجاهد شیخ الحدیث حضرت مولانا سیدشیرعلی شاه صاحب دامت فیوضهم شیخ الحدیث جامعه منبع العلوم میران شاه وزیرستان او نور لوئ لوئ علماؤ او مجاهدینو تشریف راوړې دې اودپیرې او اسلحې نظاروليدلوسره یې خپلې سترگې یخې کړې دی .

پاکستان کښې د اهلِ حق اکابرو د نمائنده تنظیمونو ټول مرکزی قائدین دلته تشریف راوړلوسره د پیرې د نظام ښه تعریف یی کړې دې .

خوشخبری

الحمدلله دحضرت اود نورو اکابرو په مسلسل کوششونوسره د مجاهدینو دا ټول تنظیمونه مکمل طور باندې متحد او پخپل مینځ کښې منظم شوی دی دهغه متحده عظیم عسکری قوت نوم «حرکة الانصار » کیښودلې شوې دې .

آیا محافظ اودربا ن په استفاده کولو کښې خنډ دی ؟

څوارلسم نمبر اعتراض :

حضرت مفتی صاحب محافظینو او دربانیانو کښې داسې مشغوله دې چه دهغوی نه علمی یا عملی استفاده ممکنه نه ده . د تلاشۍ اود مسلح محافظینو نه په تیریدلوسره هم د زیارت اود استفادې تمنا نه پوره کیږی خکه چه د معمولاتود پابندۍ بهانه خو بهرحال موجوده وی

چه هرکله الله دعلم اومعرفت دولت عطا کړې دې نوهغه ئې داسې ولې پټ کړې دې ؟

دا خیا ل سراسر باطل دي

جواب : دا خیال سراسر باطل دي چه د محافظو اود دربانیانو په وجه د حضرت سره ملاقات د دوی زیارت او د دوی نه استفاده ممکنه نه ده.

ددې اعتراض د اصل سبب صحیح محمل

ددې اعتراض اصل منشاځه ده ؟ د حضرت تهانوی رحمه الله تعالی په مواعظو اوملفوظاتو کښې بې شمیره ځایونوکښې په دې باندې مفصل او اوږد کلام فرمائیلې شوې دې .چه دهغې حصل دا دې چه دځ ادب او احترام د دوو وجه نه کیدلې شي.

(۱) اقتدار او قوت

(۲) محبت اوعقیدت

علماؤ سره اقتدار اوحکومت خو نشته (چه کله وو نو ټولې دنیا سرښته سلام کولو لکه چه نن هم په افغانستان کښې دهغې مشاهده نه کیدلې شي چرته چه الله تعالی علماؤ ته د مسلح جهاد په ذریعه اقتدار عطا کړې دې) د محبت اوعقیدت مدار دینداری ده دیندار د اهل علم اود اهل الله په زړه سره قدر کوی اودهغوی د خپو خاورې لره د سترګو رانجه تصور کوی . لیکن کوم خلق چه د دینداریٔ نه محرومه وی هغوی د اهلِ دین یعنې د اهلِ علم اود اهل الله د محبت اوعقیدت نه هم اکثر محرومه کیږی ، داسې خلق چه کله یو عالم سره د ملاویدلو اراده لری نو د شیخ چیلی په شان له خپل طرف نه له دې خیالی منصوبې جوړولو سره څې چه : « څنګه چه مونږ هغلته اورسو اولاً خو به مولانا صاحب د رومئ نه زمونږ استقبال ته ودریږی وکه نه نو څنګه چه زمونږ د راتګ علم ورته وشی نو فوراً به بلاتاخیر خوراک ، څکاک ، خوب او ټول ضروری دینی خدمات پریښودلو سره به مونږ ته مرحبا وائی ، ناستې سره به په فریج کښې لګیدلې یخې بوتلې پیش کیږی ، اوکه نه نو چایٔ خو به په هرحال کښې وی بیا به زمونږ هره معقوله اونامعقوله خبره آوریدل کیږی او ګپ شپ چه وی هغه به جدا وی »

د عوامو دا خطرناک مزاج پخپله نه دې جوړ شوې ، دمال او ځایٔ مریضو بعضې جعلی ملایانو او نقلی پیرانو دخپلو مقصدونو ویستلو دپاره د عوامو دا مزاج خراب کړې دې .

حضرت تهانوی رحمه الله تعالی به فرمائیل : « داسې خلق د علماؤ سره د ملاویدلو دپاره راځی چه هغوی عقل په کور کښې پریښودلې وی مګر چه کله عدالتونو ، تهانو ، هسپتالونو ، سرکاری اوغیرسرکاری دفترونو ته ځی نو صحیح صحیح انسان جوړیدلوسره ځی ، صرف د افسرانو طویل انتظار برداشت کول نه د چپراسیانو نخرې هم په خوشحالیٔ سره ټرداشت کوی او دهغوی په رټنې باندې «سرجی» ونیلو سره معذرت کولو ته دخپل ځان دپاره فخر او هغه د تهذیب ترقی ګرځوی»

همدارنګه حضرت تهانوی رحمه الله تعالی به فرمائیل : د داسې کسانو نه تنګ راتللوسره ما د ملاقات ، زیارت اود استفادې دپاره اصول جوړ کړی دی ، که چیرته زه داسې ونه کړم نو دا ظالم به مالره یوخلې هم د الله نوم اخستلو دپاره پرېږ نه دی »

حضرت ګنګوهی او حضرت تهانوی رحمهماالله تعالی به داسې خلقو لره چه دهغه حضراتو د اصولو مطابق تللو په ځائ دخپلو اصولو چلولو کوشش کولو د خانقاه نه بهر ویستل »

د حضرت نانوتوی رحمه الله تعالی سبق آموزه واقعه

یو نواب صاحب چه په دینداریٔ کښې یې هم شهرت لرلو خپل خاص وزیر ئې د حضرت نانوتوی رحمه الله تعالی په خدمت کښې دې پیغام ورکولو سره ولیږلو چه : « زه د حضرت د زیارت ډیر مشتاق یم حضرت دې ما سره ملاؤ شی »

حضرت نانوتوی رحمه الله تعالی خو اول عذرونه شروع کړل چه زه غریب د کلی اوسیدونکې د امراؤ د ادب نه غیرواقف یم شاید د مجلس آداب پوره نه کړم ، په دې باندې وزیر اووئیل : «حضرت ! نواب صاحب خو به پخپله دحضرت ادب کوی حضرت به د ټولو آدابو نه مستثنیٰ وی »

حضرت نانوتوی رحمه الله تعالی اوفرمائیل : « بیا خو نواب صاحب ځما د ملاقات مشتاق دې زه خو دهغه د زیارت مشتاق نه یم که چیرته هغوی ته اشتیاق وی نوماسره دې ملاؤ شی دهغه په خپو باندې نکریزې خو نه دی لګیدلی »

حضرت تهانوی رحمه الله تعالی فرمائی : « بهرحال نه تللو اونه لاړو او د امراؤ په مقابله کښې دحضرت هم دا عمل وو » (ارواح ثلاثه ص ۲۴۱ ج)

د علماءِ حق خلاف

د بیهوده خبروکولو والا شرعی حکم

په داسې خلقو کښې چه دهغوی ذکر پورته وشو که چرته یو سړې د یو عالم په اصولو کښې دخل اندازی وکړی یا وخت نه ملاویدلو باندې د بدتمیزیٔ مظاهره وکړی نو داسې سړې صرف واجب الاخراج نه بلکه واجب التعزیر هم دې .

فقهاؤ رحمهم الله دا مسئله په ډیر وضاحت سره لیکلې ده چه که چیرته یو سړې دکوم یو عالم توهین محض ددې وجه نه کوی چه دا عالم دین دې نو هغه د اسلام د دائرې نه خارج او مرتد شو اودهغه ښځه دهغه د نکاح نه اووتله . داسې سړی ته دوباره مسلمانولو سره تجدید دنکاح کول ضروری دې او هغه لره جلاوطن کول پکار دی که چرته دوباره مسلمان نه شی نو شرعاً د هغه د وژلو حکم دې .

دا مسئله په لاندینو کتابونو کښې ذکر شوې ده :
(۱) المحیط (۲) التفاوی البزایة (۳) تبیین الحقائق (۴) البحرالرائق (۵) الاشباه والنظائر (۲) حاشیة البیری علی الاشباه (۷) شرح الکنزلابن الضیاء (۸) منیة المفتی (۹) مجموع النوازل (۱۰) الخزانة (۱۱) عمدة الاسلام (۱۲) روضة العلماء (۱۳) البریقة المحمودیة (۱۴) تنقیح الفتاوی الحامدیة (۱۵) الوهبانیة (۱۲) الحاوی القدسی (۱۷) الفتاوی الخیریة
(البریقة المحمودیة ص ۹۲ج۳، تنقیح الفتاوی ص ۱۰۱ج۱، الفتاوی الخیریة ص ۲۳۵ج۲)

پورته ذکر شوو کتابونو کښې بعضو کښې خو دې حده پورې دی چه : «د غیرعالم دپاره جائز نه دی چه هغه د اهلِ علم په مینځ کښې کینی ځکه چه دا هم د علم او د اهلِ علم بې ادبی او گستاخی ده ، که چیرته څوک داسې وکړی نو حاکم باندې لازم دی چه هغه په زور سره ددې بې ادبۍ نه منع کړی ، اوکه چیرته دعالم نه په اوچت او افضل ځائ باندې کیناستلو او دا حرکت دهغه نه د علماؤ د عظمت نه کیدلو د وجه نه اوشو نو دا سړې کافر شو ، ښځه یې د نکاح نه اووتله اوکه چیرته یې په زړه کښې تحقیرنه وی نوبیا هم داسې طبیعتاً په اوچت ځائ باندې کیناستلو نوکفر خو نه دې خوبیا هم هغه ته تعزیر پکار دې ، په دې باندې د ټولو ائمو اجماع ده »
(تنقیح الفتاوی للعلامة ابن عابدین رحمه الله ص ۱۰۱ج۱)

د علماؤ خلاف

پروپاګند کولو والا دویمه وجه

چونکه د داسې خلقو د علماؤ په دروازو باندې غرور په ښه طریقه خرابیږی او آپریشن سره ماده فاسده ښه خارجیږی ددې وجه نه هغوی علماؤ لره رنګ په رنګې بدنامولوسره د انتقام اخستلو کوشش کوی ،دددې دپاره دهغوی سره ساده عوامو ته د دهوکې ورکولو دپاره ددې عنوان نه سواخه بله حربه نه جوړیږی چه علماء عوامو ته وخت نه ورکوی حالانکه لږ عقل لرلو والا په دې باندې پوهیدلې شی چه د علماؤ ټول وخت هم دعوامو په خدمت کښې تیریږی ، وعظ ، تصنیف ، تالیف ، افتاء ، تدریس ، تزکیه نفس وغیره خدماتو سره اوس نه ترقیامته پورې عوام او خواص مستفید کیږی ، د علماؤ ټول وخت هم دعوامو دپاره وی .
دا حضرات خوب او آرام هم په دې نیت باندې کوی چه صحت او قوت سره تازه دم کیدلوسره د مسلمانانو خدمت وکړو ، هم ددې وجه نه د علماؤ خوب هم عبادت دې .

په اوقاتو کښې نظم وضبط او قرآن اوسنت

بیا هر کار طریقې او نظم اوضبط سره پوره کول نه صرف عقلاً لازم دی بلکه شرعاً هم ضروری

دی ، د الله تعالی ارشاد دې : « **واتوا البيوت من ابوابها** » (او کورونو ته د دروازو لخوا داخليږئ)
کورونو ته په دروازو باندې د دخول په حکم سره ثابته شوه چه هرکار سليقې اودهغې په خاص طريقې سره لازم دې .

حضوراکرم صلی الله عليه وسلم هم تول کارونه په نظم سره کول ، چنانچه د جامع ترمذی روايت دې چه : **قال الحسين فسالت ابي عن دخول رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال كان اذا اوى الى منزله جزا دخوله ثلثة اجزاء جزء لله عزوجل وجزء لاهله وجزء لنفسه ثم جزا جزءه بينه وبين الناس فيرد ذلك بالخاصة على العامة لا يدخر عنهم شيئا وكان من سيرته فى جزء الامة ايثار اهل الفضل باذنه وقسمه على قدر فضلهم فى الدين (شمائل ترمذی ص ۲۳ باب ما جاء فى تواضع رسول الله صلى الله عليه وسلم)**

« حضرت حسين رضی الله تعالی عنه فرمائی چه ما دخپل پلار نه د حضور صلی الله عليه وسلم د کور د معمولاتو په باره کښې پوښتنه وکړه ، هغوی اوفرمائيل چه کله دوی صلی الله عليه وسلم په کور کښې وو نو خپلو وختونه به ئې په دريو حصو تقسيمول ، يوه حصه دخپل رب د عبادت دپاره ، دويمه حصه د کورو والو دپاره ، دريمه حصه دخپل ځان دپاره ، بيا به ئې خپله حصه دخپل ځان اودخلقو په مينځ کښې تقسيموله ، بيا به ئې دخلقو حصې لره دخواصو په ذريعې عوامو باندې صرف کوله (يعنې خواصوته به يې هدايات او ارشادات نبويه بيانول اوهغوئ به بهر وتلوسره عوامو ته ښودل) او د دوی صلی الله عليه وسلم سيرتِ طيبه دا هم وو چه د امت په حصه کښې به ئې اهل فضل اوکمال ته په نورو باندې ترجيح ورکوله »

هم ددې نظم اوضبط د وجه نه دوی صلی الله عليه وسلم او خلفاءِ راشدينو رضی الله عنهم په وخت د ضرورت د محافظينو نه علاوه دربانيان هم ساتلی وو (په دې باندې عنقريب روايات راروان دی)

پس که چرته څوک سړې ټول امت سره وابسته دينی دائمی اجتماعی اوانفرادی خدماتو کښې د خلل اچولو کوشش کوی نو هغه لره نه خبرول انسانيت نه دې بلکه کفرانِ نعمت دې او ددې منصبِ عظيمه ناقدری او مداهنت دې .

حضرت نه د استفادې پنځلس صورتونه

د چا زړونه چه د اهل الله اود اهل علم د محبت او عظمت نه ډک دی دهغوی دپاره د حضرت زيارت خو روزانه پنځه ځلې په جمات کښې کيدلې شی ، د ښکاره استفادې اود پټې هم د درجنونو نه زيات صورتونه دی چه دهغې په ذريعې سره په لاکهونو د علم اوعمل تګی خپله تنده ختموی ، او په هغه نعمت باندې څه ډير زيات دحضرت ممنون او احسان مند دې .

(۱) د پنجشنبې په ورځ روزانه نیم ساعت وعظ ، په هغې کښې هر سړې کیناستلې شی ، د حضرت اود سامعینو په مینځ کښې څه واسطه حائله نه وی.

(۲) د جمعې په ورځ د مازیګر نه پس مابنامه پورې اوږد وعظ کیږی چه په هغې کښې د عوامو او خواصو ، د علماؤ اود طلباؤ لوئ تعداد شرکت کوی.

(۳) د جمعې په ورځ د مابنام نه پس متصل تقریباً څه ساعته پورې د علماؤ اود طلباؤ دپاره دفتر کښې مجلس کیږی ، په هغې کښې هریوعالم او هریو طالب حصه اخستلې شی ،

حضرت هر راتلونکی سره مصافحه کوی ، بیا د نوم ، ځائ اود مصروفیت پوښتنه ترې کوی ، د زیات رش اود ډیرو متعلقینو د وجه نه د نوم ، ځائ او د مصروفیت باربار پوښتنې باوجود یاد نه پاتې کیږی ، علاوه ددې نه د یاد نه پاتې کیدلو یوه لویه وجه دا هم ده چه یاد ساتل مقصود نه دی ، محض د اظهارِ محبت ، د زړه خوشحالولو په خاطر دا معمول ادا کوی.

په دې مجلس کښې د حضرت نه د پوښتنې هم اجازت دې

(۴) د خالی (هفتې) په ورځ د مازیګر نه پس عوامو متعلقینو دپاره په دفتر کښې یو نشست منعقد کیږی په هغې کښې هم د حضرت د راتلونکو سره هم هغه معمول دې چه په دریم نمبر کښې تیرشو ، نشست اګرچه عوامو متعلقینو دپاره دې خوبیاهم په هغې کښې علماءِ کرام او طلباء هم شرکت کولې شی

(۵) د جمعې نه سوا روزانه نیم ساعت سحر پاوکم یولسو بجو نه پاوباندې یولسو بجو پورې په دفتر کښې ناست وی ، په هغې کښې د دارالافتاء والارشاد مفتیان ، استاذان ، د تخصص اود نورو درجو طلباء او خانقاه کښې اصلاح دپاره قیام کولو والا حضراتو نه علاوه د بهر علماء ، طلباء او خاص متعلقین هم شرکت کوی.

دا مجلس اصلاً خو د نیم ساعت وی مګر د بهر نه د زیارت او ملاقات دپاره راتللو ولا علماءکرام یاد مجاهدینو د وجه نه کله ناکله یوساعت یا یونیم ساعت پورې اوږدیږی.

(۶) روزانه په ورځ کښې دوه خلې تیلیفون ته په پابندئ سره کینی.

سحر : د نهه نیمو نه تر لس نیمو پورې

دشپې : پاوباندې نهو نه تر پاوکم یولسو پورې.

په دې کښې هریو سړې حضرت سره په تیلی فون باندې بالمشافهه بلاواسطه خبرې کولې شی حضرت ددې وختونو دپاره خپل ځان نهایتِ اهتمام سره فارغه وی او شاذ اونادر کله کله ناغه کیږی ، او عموماً دهغه ناغې سبب هم هغه ضرورت مند عوام یا علماء کرام مجاهدین وی چه هغوی سره د عام معمول نه اخوا کیدلو سره ملاویدل ضروری وی چه په معمولاتو کښې د تقدم اود تاخر باعث جوړیږی.

(۷) د مازیګر نه یو ساعت وړاندې عوام او خواص په دارالافتاء والارشاد کښې دمسئلو په باره کښې پوښتنه کولې شي . دهغې دپاره حضرت د نورو مشغلو د وجه نه په خپله نه شي کیناستلې ددې وجه نه ئې دا کار د دارالافتاء والارشاد د مفتیانو په ذمه باندې اچولې دې .

(۸) که چیرته د مسئلې د مشکل والی ، اهمیت ، نوعیت یاد کومې بلې وجه نه د دارالافتاء والارشاد مفتیانِ کرام سائل لره د حضرت سره ملاوول مناسب یا ضروری وګڼي نو سائل لره د سحر پاوکم یولسو بجو په مجلس کښې غوښتلې کیږی ، چه په هغې کښې دحضرت سره مخامخ په مخامخ مجلس کیږی .

(۹) هر سړې د لیکلو په ذریعه مسئله شرعیه معلومولې شي . البته د ملک او بیرون ملک نه د راتللو والا بې شمیره استفتاګانو د وجه نه فوری جواب ممکن نه وی . لس یاپنځلس ورځی او کله ددې نه هم زیات وخت لګیږی ، جواب په نمبر سره ورکولې کیږی . البته سخت ضرورت او مجبوری جدا خیز دې .

(۱۰) اصلاحی تعلق ساتلو والا دوستانو ته وئیلې شوی معمولاتو کښې یونهایتِ اهم معمول «مکاتبت» دې چه په هغې کښې هغه دخپلو دینی حالاتو ، امراضو او عیوبو اطلاع ورکولو سره نسخې اخلی . دا خطونه هم په دومره کثیر مقدار کښې وی چه د یو خط د جواب نمبر کم ازکم لس ورځې پس راځی دلته هم سخت ضرورت او مجبوری مستثنی ده .

(۱۱) د اصلاحی تعلق ساتلو والا حضراتو نه علاوه هم هریوسړې د دینی او دنیوی حاجتونو دعا دپاره ، تعویذ دپاره یا ذاتی حالاتوکښې د استشارې دپاره خط لیکلې شي دهغې جواب هم په ترتیب سره ورکولې کیږی د نمبر «۱۰» اود نمبر «۱۱» استثناء دلته هم ده .

(۱۲) کوم خلق چه په خلوت کښې د خبرو کولو خواهشمند وی که چیرته د هغوی د کار نه د خلوت ضرورت ثابت شي نوحضرت په خلوت کښې هم وخت اوباسی لیکن دهغې نوبت ډیر کم راځی .

(۱۳) د مازدیګر د بیان نه پس یو مولوی صاحب اهلِ حاجاتو ته د حضرت تعویذ ورکوی . دا تعویذ د مازدیګر اود مابنام په مینځ کښې ورکولې کیږی په نورو وختونو کښې نه ورکول کیږی . دې دپاره چه د دین اود عامة المسلمین په نورو اهمو خدماتو کښې خلل واقع نه شي . د پنجشنبې اود جمعې په ورځ د تعویذ ورکولو رخصتی وی . د هرحاجت اود هر مرض دپاره هم یو تعویذ ورکولې کیږی ددې وجه نه دحالاتو او حاجاتو وئیلو او اوریدلو ضرورت نه پیښیږی .

(۱۴) که چیرته یو سړی ته ناګهانه شدیدضرورت پیښ شي نو داسې هنګامی حالت (ایمر جنسی) کښې د نورو معمولاتو کمولوسره هم هغه ته وخت ورکولې کیږی .

(۱۵) پاسنو ذکر شوو معمولاتو او اوقاتو کښې دوه قسمه حضرات مستثنی دی

(۱) علماءِ کرام اومشایخ عظام (۲) د مختلف جهادی تنظیمونو قائدین.

حضرت ارشاد فرمائی: « یو لویځ عالم تشریف راوړو ، ماته ئې اووئیل : اوریدلی مې دی چه تاسو د ټیلی فون اوقات متعین کړی دی په نورو اوقاتو کښې تاسو په ټیلی فون باندې خبرې نه کوئ ؟

ما اووئیل : (هغه خو د عوامو دپاره دی ، علماؤ دپاره خو هیڅ پابندی نشته ، تاسو کله تجربه کړې ده یعنې چه تاسو ټیلی فون کړې وی او ددې طرف نه انکار شوې وی ، د علماؤ دپاره نه په ټیلی فون باندې پابندی شته اونه بالمشافهه خبرو باندې پابندی شته ، دهغوی دپاره دروازې خلاصې دی ، د دارالافتاء والارشاد دروازې هم خلاصې دی او د زړه دروازې هم خلاصې دی ، چه کله غواړی تشریف راوړې شي ، څه تجربه خو وکړه ، دلته چه کوم علماء تشریف راوړی هغوی او نور حضرات دې خبرې لره ښه یاده اوساتئ خلقو دلته د پابندئ دیر تشهیر خور کړې دې خلق چه کومه خبره خوره کړی بیا بس څه مه وایه بلاتحقیقه په هغې باندې اعتماد کولې کیږی »

(وقت کی قیمت صفحه ۶)

د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د ضرورت په وخت کښې دربان متعین کول

حدیث اوتاریخ سره دا خبره د نمبر په شان ښکاره ده او قرینِ قیاس هم ده چه د زمانې په شروع کښې د کسانو لګوالې ، د حاجتونو قلت ، اود معاملاتو د قلت سره پخپل مینځ کښې اختلافات جګړې ، فتنه فساد نه وو ، همدارنګه عامو خلقو کښې سادګی او ربښتینولی وه ، د دین سره محبت او په زړونو کښې د اهلِ دین نهایتِ ادب اواحترام وو ، چه دهغې د وجه نه عامة المسلمین بلکه عوامو هم د حضور صلی الله علیه وسلم اود شیخینو رضی الله عنهم په خلوت، دینی خدماتو عباداتو او اُمورِ سلطنت کښې خلل نه اچولو ، که یوه دیره ضروری خبره یا څه کار به وو نومختصر ملاقات به ئې کولو . (فتح الباری صفحه ۱۱۸ جلد ۱۳)، (مقدمه ابن خلدون صفحه ۷۴۹ جلد ۲).

صحابه کرام رضی الله عنهم فرمائی : «مونږ به دا تمنا کوله چه یوکلی وال راشی اود حضور اکرم صلی الله علیه وسلم نه سوال وکړی اومونږ ته علم حاصل شی ، ځکه چه مونږ به دزیاتو تپوسونو جرات نه شو کولې»

حضرت ابن عباس رضی الله عنهم فرمائی : « ما د حضورصلی الله علیه وسلم د صحابو رضی الله عنهم نه بهتره خلق نه دې کتلی ، هغوی د دوی صلی الله علیه وسلم نه د دوی تر وصال پورې د تولو دیارلسومسئلو پوښتنه کړې ده چه په قرآن کښې منقول دی . دې خلقو به د کار او مهمه پوښتنه کوله» (ادب الفتیاللسیوطی صفحه ۵۵)

حضرت شعبی رحمه الله تعالی فرمائی : « که چیرته د نن سبا خلق د حضورصلی الله علیه وسلم

په زمانه کښې وې نو ټول قرآن به د « يسالونک (يعنې د تپوسونو) نه ډک وې » . (ادب الفتيا صفحه ۵۴)

د پورته وجوهو په بناء باندې د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم اود شیخینو رضی الله عنهم زیارت اوملاقات روزانه په جمات کښې پنځه ځلې هرمسلمان ته نصیب کیدلو هغه دوران بلاواسطه هريوسرى خبره کولې شوه ، دهغې نه علاوه هم په نورو وختونوکښې چه په هغې کښې دا حضرات د عوام الناس دپاره په جمات کښې کيناستل بالعموم مخامخ به څه دربان نه وو ، اهلِ حاجات او مقدمات به نيغ راتلل اوخپل حاجت او مقدمه به ئې پيش کوله .

ليکن دا هم په ډيرو روايتونو سره ثابته ده چه د ضرورت په وخت دوی صلی الله علیه وسلم د محافظينو نه علاوه درباريان هم ساتلي وو .

محدثين وائى چه په کومو رواياتونوکښې د درباريانو نفي ده دهغوی نه وظيفه دار او تنخوادار درباريان مراد دی ، يا دا چه د درباري ساتلو څه دائمي معمول نه وو (فتح الباري صفحه ۳۰ جلد ۷ . صفحه ۱۱۷ جلد ۱۳) ځکه چه وروستو د خلفاءِ راشدينو اود عادلانو حضرت عثمان ، حضرت معاويه رضی الله عنهما اود حضرت عمرعبدالعزيز رحمه الله اود نورو خلفاءِ مسلمينو معمول وو د مطلقاً دربان نفي نه ده راغلې ، ځکه چه :

(۱) دحضوراکرم صلی الله علیه وسلم د حفاظت اود محافظينو په باره کښې مفصل نصوص تيرشوی دی ، محافظ هم دربان وی بلکه د اعلی درجې دربان هم محافظ دې .

ددې ټولو روايتونو نه د درباني مسئله کلاً يا جزءً واضح طور باندې ثابتيږي .

(۲) علاوه ددې نه د صحاح په ډيرو رواياتونو کښې دربان ساتل منصوص هم دی :

فى صحيح البخارى من حديث عمر بن الخطاب رضى الله عنه (قال) فجئت المشربة التى فيها النبى صلى الله عليه وسلم فقلت لغلام له اسود استأذن لعمر فدخل الغلام فكلم النبى صلى الله عليه وسلم ثم رجع فقال كلمت النبى صلى الله عليه وسلم وذكرتك له فصمت فانصرفت حتى جلست مع الرهط الذين عند المنبر ثم غلبنى ما اجد فجئت فقلت للغلام استأذن لعمر فدخل ثم رجع فقال قد ذكرتك له فصمت فرجعت الخ (صحيح بخارى ص ۳۰ ج۲)

«حضوراکرم صلی الله علیه وسلم چه په کومه زمانه کښې د امهات المومنين نه ناراضه کيدلو سره په جدا ځائ کښې قيام کولو د قيام کولو په دروازه باندې ئې يو حبشي غلام حضرت رباح رضی الله عنه لره دربان متعين کړو ، يوه ورځ حضرت عمررضی الله عنه د دربان په ذريعې دوه ځلې دحاضرئ اجازت وغوښتلو ، دوی صلی الله علیه وسلم خاموشه وو دريم ځلې ئې اجازت ورکړو»

وفی صحیح البخاری ایضاً من حدیث ابی موسی الاشعری رضی الله عنه قال فاذا هو رسول الله صلی الله علیه وسلم جالس علی بئر اریس وتوسط قفها وکشف عن ساقیه ودلاهما فی البئر فسلمت علیه ثم انصرفت فجلست عند الباب فقلت لاکونن بواب رسول الله صلی الله علیه وسلم الیوم فجاء ابوبکر فدفع الباب فقلت من هذا فقال ابوبکر فقلت علی رسلك ثم ذهبت فقلت یارسول الله! هذا ابوبکر یستاذن فقال ائذن له وبشره بالجنة (الی) فاذا انسان یحرك الباب فقلت من هذا فقال عمر بن الخطاب فقلت علی رسلك ثم جئت الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فسلمت علیه فقلت هذا عمر بن الخطاب یستاذن فقال ائذن له وبشره بالجنة (الی) فجاء انسان یحرك الباب فقلت من هذا فقال عثمان بن عفان فقلت علی رسلك فجئت الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فاخبرته فقال ائذن له وبشره بالجنة علی بلوی تصیبه الخ (صحیح بخاری ص ۵۱۹ ج۱)

وفی روایة اخری للبخاری ان النبی صلی الله علیه وسلم دخل حائطا وامرنی بحفظ باب الحائط الخ (صحیح بخاری ص ج)

وفی صحیح ابی عوانة وفی مسند الرویانی فقال یا اباموسی املك علی الباب (فتح الباری ص ج)

وعند الترمذی فقال لی یا اباموسی املك علی الباب فلا یدخل علی احد (جامع الترمذی ص)

((حضرت ابوموسیٰ اشعری رضی الله تعالی عنه فرمائی یوځلې حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د مدینې منورې یو باغ ته تشریف یوړو . زه هم حاضرشوم سلام مې وکړو ، ما په زړه کښې فیصله وکړه چه نن خوبه د دربانی شرف ضرور زه حاصلوم ، په دې دوران کښې حضوراکرم صلی الله علیه وسلم پخپله د دروازې په حفاظت باندې زه مامور کړم او تاکیداً ئې اوفرمائیل : ((د دروازې مالک نن ته ئې ګوره (بلااجازت) څوک هم دننه رانه شی)) زه په دروازې باندې (خوشحاله) کیناستلم . یو صاحب دروازه وټکوله ، ما پوښتنه وکړه څوک ئې ؟ وې وئیل: ابوبکر ، ما ورته اووئیل : ودریږه (زه پوښتنه کوم بیا درته وایم) ما عرض وکړو یا رسول الله ابوبکر دروازې باندې ولاړ دې او د حاضرئ اجازت غواړی ، وې فرمائیل هغه ته اجازت ورکړه او ورسره د جنت زیرې هم ورکړه ، بیا حضرت عمر اوحضرت عثمان رضی الله عنهما وقفې وقفې سره راغلل هغوی ته هم دغه شان حصارولو سره اجازت اود جنت زیرې ورکړې شو .

اخرج الامام ابوداود عن نافع بن عبدالحارث الخزاعی قال دخل رسول الله صلی الله علیه وسلم حائطا من حوائط المدینة فقال لبلال امسك علی الباب فجاء ابوبکر الخ (فتح الباری ص ج)

((حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د مدینې طیبې یو باغ ته تشریف یوړو او حضرت بلال رضی الله عنه ته ئې اوفرمائیل : ((ماپسې دروازه بنده کړه (یعنې چاله هم مه راپریږده)))

اخرج الترمذی وابن ماجة واحمد عن علی رضی الله عنه قال جاء عمار بن یاسر یستاذن علی النبی صلی الله علیه وسلم فقال ائذنوا له مرحبا بالطیب المطیب. قال الترمذی حدیث حسن صحیح (جامع الترمذی ص ۲۲۰ ج ۲، سنن ابن ماجة ص ۱۳، مسند احمد ص ۱۰۰ ج ۱)

«حضرت علی رضی الله تعالی عنه فرمائی چه حضرت عماربن یاسر د حاضرئ اجازت وغوښتلو دوی صلی الله علیه وسلم دربار یانو ته اوفرمائیل عمار ته اجازت ورکړئ دوی صلی الله علیه وسلم عمار لره طیب اومطیب یعنې طاهر اومطهر وګرځولو اوخوش آمد ئې ورته اوفرمائیل»

اخرج الامام البخاری عن مالك بن اوس (الی) فبینما انا جالس عنده (عمر) اتاه حاجبه یرفا فقال هل لك فی عثمان وعبد الرحمن بن عوف والزبیر وسعد بن ابی وقاص یستاذنون قال نعم الخ (صحیح بخاری ص ۴۳۵ ج ۲)

«حضرت مالک بن اوس رضی الله تعالی عنه فرمائی چه زه د امیر المؤمنین حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په خدمت کښې حاضروم د دوی دربان یرفا راتللو سره عرض وکړو چه حضرت عثمان، حضرت عبد الرحمان بن عوف، حضرت زبیر او حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنهم دننه راتلل غواړی حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائی راوې غواړه.

قال الحافظ ابن حجر: ((حاجبه ای عثمان حمران)) (تهذیب التهذیب ص ۲۴ ج ۳)

«د حضرت عثمان رضی الله عنه دربان حمران بن ابان وو په تابعینو کښې دې د لوئې درجې محدث او زبردست عالم وو» وحاجب علیا قنبر واحیانا ابو الهیاج (تهذیب)

«د حضرت علی رضی الله تعالی عنه دربان به قنبر وو او کله کله به بشر هم»

فلما دفن عمر جمع المقداد اهل الشوری ب (الی و) امروا ابا طلحة ان یحجبهم وجاء عمرو بن العاص والمغیرة بن شعبة فجلسا بالباب فحصبهما سعد واقامهما. (الکامل لابن الاثیر ص ۳۶ ج ۳)

«حضرت عمر رضی الله عنه د شهادت په وخت د نوی خلیفه مقررولو اختیار شپږو حضراتو ته ورکړې وو چه کله دغه شپږو مجلسِ شوریٰ شروع شوه نو هغوی حضرت ابوطلحه رضی الله عنه لره په دروازې باندې دربان متعین اوفرمائیلو. حضرت عمرو بن العاص او حضرت مغیرة بن شعبه رضی الله عنهما هم په دروازې باندې کیناستل، حضرت سعد رضی الله عنه هغوی لره دغه ځائ نه واپس کړو»

ولما قدم عمر بن الخطاب رضی الله عنه الشام وجد معاویة رضی الله عنه قد اتخذ حجابا ومراکب والملابس النفیسة فسأله عن ذلك فقال له انا فی ارض نحن فیها محتاجون لهذا فقال عمر لا آمرك ولا انهاك

(التراتیب الاداریة للکتانی ص ۳۶ ج ۱، الطبری ص ۳۳ ج ۶) والله سبحانه وتعالی اعلم

الحمدلله

د حضرت اقدس دامت برکاتهم افاضات اوافادات هم د حضرت په توجه اوبرکت ، دعا او د دوی په رهنمائي کښې ولیکلې شول ، الله تعالی دې هغه مجوعې لره د حضرت او اکابرو دپاره صدقه جاریه اود امتِ مسلمه دپاره دې مشعلِ راه جوړه کړی او هغه ته دې د تعصب ، ضد اود حسد نه بالاترکیدلوسره د وئیلو او د پوهې توفیق عطا کړی ، انګریز ملعون او قادیانیانو منحوسانو د مسلمانانو په زړونوکښې د جهاد سره نفرت او بزدلی اچولې ده ، الله تعالی دې ددې مجموعې په برکت سره ټولو مسلمانانو لره د انګریزانو اود قادیانیانو د زهرو نه پاک اوصاف کړی ، وما ذلک علی الله بعزیز.

عبدالرحیم

نائب مفتی دارالافتاء والارشاد ۲۷ ربیع الثانی ۱۴۱۴ هجری

آیا په دارالافتاء والارشاد کښې مسلحه پیره دصفت قابل ده اوکه د تنقید ؟

تحریرمولانا محمد مسعود اظهر صاحب

مرکزی ناظمِ اعلی ((حرکة الانصار))ومدیر اعلی ما هنامه ((صدائ مجاهد)) اسلام اباد

بسم الله الرحمن الرحیم

الله تعالی اهلِ ایمان ته حکم ورکړې دې چه :

((ای مؤمنانو صبر کوئ او په مقابله کښې مضبوط اوسئ اود (اسلام اود حدودِ اسلام په حفاظت کښې) شروع اوسئ اود الله تعالی نه ویریږئ دپاره ددې چه تاسو خپل مراد ته ورسیږئ))

آیتِ کریمه کښې د ((صابروا)) نه مراد دادې چه د دښمن په مقابله کښې مضبوطیا او ثابت قدمی ښکاره کړئ اود ((رابطوا)) معنیٰ دادهچه اسلام اود حدودِ اسلام په حفاظت کښې مشغول اوسئ ، دکوم ځائ نه چه هم د دښمن د حملې کولو خطره وی هغلته د دیوال په شان مضبوط شئ .

په دې آیت سره ثابته شوه چه مسلمانانو ته کله دکافرانو نه خطره وی نو هغوی دې میدان نه پریږدی اونه دې د بزدلئ مظاهره کولوسره د حضرت موسیٰ علیه السلام د قوم په شان خپل رسول ته دا وائی چه : ((ته او ستا رب دې وجنګیږی مونږ خو دلته ناست یو))

بلکه اهلِ ایمان والو ته پکار دی چه هغوی د کافرانو په مقابله کښې مضبوط شی او دخپل تحفظ دپاره دې یو موټی شی اوخپلو سرحدونو لره دې مضبوط کړی دپاره ددې چه یو کافر هم هغوی طرف ته په کږه سترګه ونه ګوری ، په همدې کښې داسلام شوکت دې او په همدې کښې د مسلمانانو تحفظ دې .

حضوراکرم صلی الله علیه وسلم چه کله مدینې منورې ته هجرت وکړو نو د مکې مشرکان د مدینې منورې له منافقانو عبدالله بن ابی وغیره سره ملاؤ شو او حضورصلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د نقصان رسولو سازشونه یې وکړل او عبدالله ابن ابی ته ئې په دې سلسله کښې خطونه هم ولیکل ، حضورصلی الله علیه وسلم د کافرانو د سازشونو سره د مقابلې دپاره لاندې حفاظتی اقدامات وکړل .

(۱) حضورصلی الله علیه وسلم به کله کله د شپې ویښ پاتې کیدلو او هروخت به تیار وو ، ((رواه النسائی)) (فتح الباری ص ۲۰ ج ۲)

(۲) حضورصلی الله علیه وسلم به پخپله مسلح وو او په حالاتو باندې به ئې نظر ساتلو ځنګه چه د صحیح بخاری د یو روایت نه معلومیږی چه مدینې والو یوځلې د شپې په وخت کښې یو داسې آواز واوریدلو چه په هغې سره په هغوی باندې ویره راغله ، هغوی ټول هغه آواز طرف ته روان شو ، حضورصلی الله علیه وسلم دهغه ټولو نه وړاندې وو او هم دوی صلی الله علیه وسلم دهغه واقعې تحقیق بیانولو سره خلقو ته تسلی ورکړه ، هغه وخت دوی صلی الله علیه وسلم د حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه په بې کتې آس باندې سور وو او د دوی صلی الله علیه وسلم په غاړه باندې توره زوړنده وه ، (صحیح بخاری صفحه ۴۰۷ جلد ۱)

(۳) د حضورصلی الله علیه وسلم ټول صحابه کرام رضی الله عنهم شپه او ورځ مسلح وو او اسلحه به ئې د خپل ځانه نه جدا کوله ځنګه چه د مسند دارمی په روایت کښې دی :

« د حضرت ابی بن کعب رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم مدینې ته تشریف راوړو او انصارو هغوی ته ځائ ورکړو نو د عربو تمام قبائل د مسلمانانو په خلاف د جنګ دپاره ودریدل ، په هغه حالاتو کښې به صحابه کرامو رضی الله عنهم شپه او ورځ اسلحه ځان سره ساتله»

(۴) د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم په کور مبارک باندې به صحابه کرامو رضی الله عنهم پیره ورکوله ، پخپله حضورصلی الله علیه وسلم ددې تمنا کوله چه صالح مسلمان د دوی صلی الله علیه وسلم په کور باندې پیره ورکړی د صحیح بخاری د یو روایت نه معلومیږی چه حضور صلی الله علیه وسلم به پخپله ویښ وو او چه کله به څوک د پیرې دپاره راغلو نو دوی صلی الله علیه وسلم به آرام کولو .

د حضورصلی الله علیه وسلم داسې ویښه او تیاریدل د صحابه کرامو رضی الله عنهم هروخت مسلح کیدل ، دحضوراکرم صلی الله علیه وسلم په کور باندې د صحابه کرامو رضی الله عنهم پیره کول ، دحضورصلی الله علیه وسلم خپل ځان سره اسلحه ساتل .دا ټول هرڅه دې پاره نه وو چه دا حضرات (نعوذبالله ثم نعوذبالله) د کافرانو نه ویریدل او بزدله وو

بلکه حضورصلی الله علیه وسلم خو خلقو کښې د ټولو نه زیات بهادر وو.
(صحیح بخاری ص ۳۹۵ جلد ۱، نورالیقین ص ۲۷۷)

حضورصلی الله علیه وسلم اوصحابه کرامو رضی الله عنهم به د بزدلئ نه داسې پناه غوښتله څنګه به ئې چه د کفر اوشرک نه پناه غوښتله . (صحیح البخاری صفحه ۳۹۲ جلد ۱)

صحابه کرامو رضی الله عنهم بزدلئ لره یو لوئ عیب او بیماری ګڼله ، هم ددې وجه نه یو صحابی حضورصلی الله علیه وسلم ته درخواست وکړو چه زه بزدل یم او د زیات خوب عادی یم تاسو څما دپاره دعا وکړئ ، حضورصلی الله علیه وسلم دهغه دپاره دعا وکړه اود هغه نه د بزدلئ مرض لاړو . (خصائل نبوی صفحه ۱۳۴)

د سنن ابوداود روایت دې چه حضورصلی الله علیه وسلم بزدلئ او بخل لره د سړی دپاره بدترین عیب وګرځولو .

ددې وجه نه دا سوچ هم ګناه ده چه د حضورصلی الله علیه وسلم اود صحابه کرامو رضی الله عنهم دا عمل (اسلحه خان سره ساتل او پیره کول) د بزدلئ له وجه نه وو .

همدغه شان د حضورصلی الله علیه وسلم اود صحابه کرامو رضی الله عنهم دا اعمال ددې وجه نه هم (نعوذبالله) نه وو چه دحضورصلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم په الله تعالی باندې باور او اعتماد نه وو .

څکه چه د حضورصلی الله علیه وسلم نه زیات د چا ایمان کیدلې شی او د دوی صلی الله علیه وسلم نه زیات په الله تعالی باندې اعتماد کولو والا څوک کیدلې شی ؟

همدغه شان د صحابه کرامو رضی الله عنهم د ایمان ګواهی خو په خپله قرآن مجید ورکوی او ترقیامته پورې راتللو والا انسانانو ته دا حکم ورکوی چه دهغوی ایمان د صحابه کرامو رضی الله عنهم د ایمان په شان پکار دې ، بیا د سوچ خبره داده چه هرکله د حضور صلی الله علیه وسلم ایمان خو دومره اعلی او ارفع دې چه د دوی ایمان پورې نه یو نبی اونه یو رسول رسیدلې شی او نه یو مقربه فرښته نو بیا حضورصلی الله علیه وسلم اسلحه ولې اوچته کړه ؟ په خپل کور مبارک باندې ئې د صحابه کرامو رضی الله عنهم پیره ولې مقرر کړه؟ میدانِ جنګ کښې په بدن مبارک باندې ئې دوه زغرې ولې ترلې وې ؟ سر مبارک باندې ئې جنګی ټوپئ ولې استعمالوله ؟

په داسې وخت کښې آیا یو ګستاخ دا وئیلې شی چه اسلحه خو د شانِ نبوت خلاف وه څنګه چه نن سبا د علماؤ د شان خلاف ده (نعوذبالله) پیره خو د توکل او اعتماد خلاف وه (نعوذبالله) په بدن باندې دوه زغرې ترل په الله تعالی باندې ایمان کښې د کمزورئ د وجه نه وو (نعوذبالله)

بلکه داسې موقع باندې صرف هم دا وئیلې شی چه حضورصلی الله علیه وسلم دا هر څه خو د الله تعالی په حکم سره وکړل او الله تعالی لره د راضی کولو دپاره اود هغه حکم لره پوره کولو

دپاره دوی صلی الله علیه وسلم دا حفاظتي تدابیر اختیارکړل
محدثین حضرات فرمائي چه حضورصلی الله علیه وسلم په بدن مبارک باندې دوه زغرې دده وجه نه تړلي وې چه امت ته دخپل حفاظت اهمیت او طریقه وښائي.
دوی صلی الله علیه وسلم په سرمبارک باندې د اوسپنې توپئ ددې وجه نه اینبې وه چه امت دخپل سر د حفاظت نه غافله نه شي.
حضورصلی الله علیه وسلم اسلحه ددې وجه نه اوچته کړې وه چه کافر مسلمانانو لره کمزوری ونه ګڼي بلکه هروخت دمسلمانانو نه مرعوبه وی.
حضورصلی الله علیه وسلم جنګی تیارېانې ددې وجه نه وکړې چه دوی او د دوی دین دنیاکښې د ورانیدلو دپاره نه دې راغلي بلکه د دنیا نه کفراوشرک لره د ختمولو دپاره راغلې دې څنګه چه د حضورصلی الله علیه وسلم ارشادِ ګرامی دې: «او ځما نوم ماحی (ختمولووالا) دې ، الله تعالی ځما په ذریعې کفر لره ختم کړې دې»
هسې خو هم د دنیا عام اصول دی چه د قیمتی څیزونو د حفاظت دپاره مختلف تدابیر اختیارول کیږی چه هغې لره یو هم معیوب نه ګڼي ، خلق د سونې اوچاندی دحفاظت دپاره څه څه نه کوی، بلکه دخپلو ځپلو د حفاظت دپاره مختلف تدابیر استعمالوی ، عام طور باندې د مالیاتی ادارو نه بهر مسلح څوکیداران په نظر باندې راځی چه هغوی لره چا هم بد ونه ګڼل ، د کورونو او خناورو د حفاظت دپاره سپی ساتلې کیږی ، پخپله شریعتِ مطره هم دهغې اجازت ورکړې دې چه د خناورو د حفاظت دپاره سپې ساتل جائز دی ، د کور د حفاظت دپاره دیوالونو او دروازو باندې [illegible] کولې کیږی بلکه زنجیرونه او تالې او څوکیداران هم مقررولې کیږی.
چه هرکله د دنیا د پاتې څیزونو (سونې چاندئ ، خناورو) حفاظت یو مستحسن بلکه ضروری امر ګڼلې کیږی نو د الله تعالی دین او په هغه دین باندې تللو والا مسلمانان اود هغه دین رهبر علماء خو دهغه ټولو څیزونو نه زیات قمیتی دی . الله تعالی د انسان نفس او مال او عزت لره حرام کړې دې اودهغه څیزونو د حفاظت دپاره ئې محکم قوانین جاری کړی دی.
نو آیا د دین په شان قیمتی څیز اود مسلمان په شان قیمتی فرد لره بغیر د حفاظت نه پرینبودلې کیږی؟ هیڅرې نه . بلکه الله تعالی د اسلام اود مسلمانانو د حفاظت دپاره هم داسې محکم قوانین نازل فرمائیلی دی چه چیرته مسلمان په هغه قوانینو او احکامو باندې عمل وکړی نو یو کافر ته به هم د سترګو اوچتولو جرات نه وی.
قرآن مجید کښې الله تعالی ځائ په ځائ د اسلام اود مسلمانانو د دښمنانو تذکره کړې ده دې دپاره چه مسلمانان ښه پوهه شی چه د هغوی دښمن څوک دې اود هغوی دوست څوک دې ؟ الله تعالی په قرآن مجید کښې دهغه دښمنانو د ښمنئ ترتیب پورې بیان کړی دی چه لوئ دښمن څوک

دي او وروکي دښمن څوک دي، اود هغه دښمنانو عزائم ئې هم بیان کړل اودهغوی طریقه واردات ئې هم بیان کړه، په دې سلسله کښې آیتونه خو ډیر زیات دي لیکن مونږ دلته یو څو آیتونه د نمونې او مثال په طور بیانوو :

((تاسو به یهودیانو لره د ټولو خلقو نه زیات دمسلمانانو دښمنان اوموموئ او مشرکانو لره))
(مائده آیت : ۸۲)

((او کافران به همیشه تاسو سره جنګیږي تردې پورې چه ستاسو دین نه تاسو لره واړه وی که چرته د هغې طاقت ولری)) (بقره آیت : ۲۱۷)

((ای مؤمنانو مه جوړوئ رازدار چا لره دخپلو (مسلمانانو) نه علاوه ، هغه کافران کمې نه کوی ستاسو په خرابولوکښې ، هغوی خوشحاله کیږی چه تاسو په ډیر تکلیف کښې یئ ، ستاسو دښمنی ښکاره کیږی دهغوی ژبو نه او څه چه پټ دی دهغوی په زړونوکښې هغوی دهغې نه هم زیات دی)) (آل عمران آیت :۱۸)

په دې موضوع باندې په قرآن مجید کښې بې شمیره آیتونه دی مقصد دهغه ټولو مسلمانانو لره د کافرانو د دښمنئ نه اود هغوی د سازشونو نه خبرول دی او دا بیانول دی چه کافرانو ته اسلام او مسلمان یو حالت کښې هم خوښ نه دې ، دهغوی دکوششونو مقصد اسلام اومسلمانانو لره ختمول دی ، چنانچه د حضورصلی الله علیه وسلم په زمانه کښې صرف حضورصلی الله علیه وسلم لره دشهیدکولوکوم کوششونه وکړې شو دهغې د ذکر کولو دپاره هم یو دفتر پکار دې ، د اجتماعی اوانفرادی حملو په ذریعې حضورصلی الله علیه وسلم لره دشهید کولو څه ډیر کوششونه وشول ، زهرورکولوسره د شهیدکولو ناپاک سازش هم وشو ، حضورصلی الله علیه وسلم باندې د پټې حملې کولو دپاره جنګی کیمپ هم په وجود کښې راغې ، آسونولره هم په پاللوسره سریه کړې شو ، مګر حضورصلی الله علیه وسلم په هرسازش باندې نظر ساتلواوهرې فتنې لره ئې د اوچتیدلونه وړاندې ښکته کړه .

څکه چه په قرآن مجید کښې الله تعالی صرف د کافرانو دښمنی اودهغوی سازشونه بیان نه کړه بلکه مسلمانانو ته ئې داسې هدایات هم وښودل چه په هغې باندې عمل کولو سره هغوی د کافرانو د مکر اوفریب نه بچ کیدلې شی ، بلکه داسې هدایات ئې وښودل چه هغې باندې عمل کولوسره مسلمان دکفراوشرک خاتمه کولې شی .

الله تعالی مسلمانانو لره د کافرانو په باره غافله جوړولوسره نه دی پرېښودلی بلکه د مسلمانانو په خلاف ئې د کافرانوټولې لارې بندې کړې .

څکه چه الله تعالی دینِ اسلام لره په دنیا کښې په ټولو دینونو باندې د غالب کولو دپاره رالیږلې دې او دا غلبه په هغه وخت کښې کیدلې شی چه په دې دین باندې عمل کولو والا او ددې

دین نوم اخستلو والا محفوظ وی او مضبوط وی . الله تعالی د ایمان والو دپاره صرف د غلبې اود سربلندئ اعلان نه دې کړې بلکه هغه اعلان سره سره هغوی لره ئې د غلبې اود سربلندئ د لارو نه هم خبر کړی دی او د کافرانو سره ئې د جنګ طریقې هم ښودلی دی ، او مسلمانانو ته ئې ددې حکم ورکړې دې چه هغوی د کافرانو نه خپل حفاظت (خپل دین ، خپل ځان ، خپل عزت ، لره د همیشه دپاره مقدم وساتی ، په دې باندې بې شمیره دلائل موجود دی ، په خبره باندې د پوهیدلو دپاره صرف «صلوة الخوف» واخلئ ، الله تعالی مسلمانانو ته ددې حکم نه دې ورکړې چه تاسو په مونځ کښې د کافرانو سره بې فکره کیدلو سره ځما وړاندې ولاړ اوسئ زه به ستاسو حفاظت کوم ، بلکه حکم ئې ورکړې دې چه هرکله په مونځ کښې د کافرانو د حملې خطره وی نود مونځ په دوران کښې اسلحه اوچته ساتئ او زغرې ترلې ساتئ ، چرته چه د کافرانو سره جنګ شروع وی هغلته دې یو جماعت د امام نه وروستو وی هغوی به هم مسلح وی ، بیا دې دا جماعت نیم مونځ کولوسره په میدان کښې د کافرانو سره مقابله وکړی او دویم جماعت دې راتللو سره مونځ وکړی بیا د دوی نه پس دې رومبنئ جماعت راتللو سره خپل مونځ مکمل کړی .

لږ غوروکړئ د مونځ په شان اهم عبادت چه د دین ستنه ده په هغې کښې ئې هم د حفاظت دا بهترین بندوبست اوفرمائیلو ، حالانکه د مونځ نه اوچت د الله تعالی سره قرب بل چرته کیدلې شی ، مګر دهغه قرب اومناجاتو په حالت کښې هم الله تعالی مسلمانانو ته حکم ورکړې دې چه هغوی دې د خپلې اسلحې نه غافلې نه وی اودخپل تحفظ بندوبست دې کوی او کافرانو ته دې د کاروائې موقع ورنه کړی ، ددې دپاره ئې هغوی ته اجازت ورکړو چه هغوی دې په مونځ کښې ګرځی راګرځی کافرانو لره دې وژنی مګر دهغوی مونځ نه ماتیږی ځکه چه دا ټول افعال (ګرځیدل راګرځیدل جنګ کول کافرانو لره وژل) هم عبادت دې اود الله تعالی حکم هم دې. ددې وجه نه د مونځ په صحت باندې څه اثر نه پریوځی .

د «صلوة الخوف» په آیت کښې الله رب العزت د کافرانو یو خواهش اودهغوی د یو مکر ذکر کړې دې . ارشادباری تعالی دې چه : «او په (مونځ کښې) ځان سره ساتئ خپله اسلحه . کافر غواړی چه په یوه نه یوه طریقه تاسو غافله شئ دخپلو اسلحو نه او اسبابو نه دې دپاره چه په تاسو باندې په یوځل حمله وکړی» (نساء آیت : ۱۰۲)

دا د قرآن فیصله ده چه کافران همیشه د مسلمانانو په تلاش کښې وی چه کله دوی د اسلحې نه غافل شی او کافران په هغوی باندې حمله وکړی . دا خو د کافرانو خواهش دې لیکن الله تعالی څه غواړی ؟ نظر وکړئ ارشاد باری تعالی ته «او الله غواړی چه رښتیاکړی حق لره پخپلو کلامونو سره او کټ کړی بیخ د کافرانو»

یعنې الله تعالی غواړی چه مسلمانان د کافرانو سره جنګ وکړی اوهغه د هغوی نصرت کولو

سره د حق ربنتینوالی لره داسې ثابت کړی چه هرچاته اقرار کول پیښ شی . الله تعالی که وغواړی نو بغیر د جنګ نه هم حق لره غالب او باطل لره مغلوب کولې شی، مګر الله تعالی د مسلمانانو امتحان اخلی چه آیا هغوی دهغه په حکم سره اسلحه اخستلوسره میدان کښې ننوتلوسره د دښمن سره جنګیږی اوکه نه ، بیا چه کله مسلمانان په هغه امتحان کښې کامیاب شی او د کافرانو سره جنګیږی نو الله تعالی خصوصی نصرت کوی اودهغه جنګ په عوض د دنیا نه د فساد خاتمه کیږی او مسلمانانو ته لوئ لوئ مقامات حاصلیږی لیکن که چرته مسلمانان د کافرانو مقابلې ته د ورتللو نه انکار کوی نو هغوی باندې ذلت راځی څنګه چه په حدیث صحیح کښې وارد شوی دی :

خلاصه دکلام دا شوه چه کافردمسلمانانو دښمنان دی اوهغوی د اسلام اود مسلمانانو د ختمولو په تلاش کښی دی ، الله تعالی مسلمانانو ته د کافرانو د شر نه د بچ کولو دپاره مختلف احکام ورکړل چه په هغې کښې یو حکم دادې چه مسلمانان په هغه کافرانو باندې خپل رعب او دهشت اچولو دپاره د جهاد دپر سامان جمع کړی ، ترڅولو ښه اسلحه دې ساتی د اعلیٰ قسم تربیت یافته آسونه دې وپالی دې دپاره چه کافر مرعوبه وی اود کوم یو مسلمان جان اومال او عزت تباه نه کړې شی ، ارشاد باری تعالی دې چه : « او تیارکړئ دهغه کافرانو سره د جنګ کولو دپاره څه چه تاسو جمع کولې شئ په قوت سره او په تړلو آسونو سره چه په هغې سره رعب پریوځی د الله په دښمنانو باندې او ستاسو دښمنانو باندې » (انفال آیت نمبر ۶۰)

له دې آیت کریمه نه واضحه طور باندې معلومه شوه چه مسلمانانو ته هروخت اسلحه او دجنګ سامان تیارول پکار دی بالخصوص چه کله د کافرانو د حملې خطره وی نودهغه تیارئ اهمیت زیاتیږی .

دغزوه تبوک په موقع باندې حضورصلی الله علیه وسلم د مدینې منورې د تحفظ دپاره څومره زبردسته تیاری وکړه اودمسلمانانو لښکر ئې تیارکړو .

دصحابه کرامو رضی الله عنهم نه ئې اموال جمع کړل ، دجنګ سامان ئې واخستلو اوپه سخته ګرمئ کښې ئې اوږد سفر اوفرمائیلو اودهغه خطرې آثار ئې هم ختم کړه چه وروستو لویه خطره جوړیدلې شوه ، په هغه غزوه کښې جنګ ونه شو مګر دهغې باوجود چه کوم خلق په هغې کښې شامل نه شو حضورصلی الله علیه وسلم دهغوی سره قطع تعلق اوفرمائیلو اومسلمانانو ته ئې هم دهغوی سره د قطع تعلق حکم وکړو ، بالآخر پنځوسو ورځو نه پس دهغه حضراتو توبه قبوله شوه .

د مکې مکرمې یوکافر خالدبن سفیان هذلی د منیٰ په علاقه کښې جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم لره د شهید کولو دپاره یوکیمپ تیارولو ، دوی صلی الله علیه وسلم په پنځم (۵) محرم په سنه ۴هجری کښې خپل صحابی حضرت عبدالله بن انیس انصاری رضی الله تعالی عنه لره دهغه د وژلو دپاره ولیږلو او چه کله هغه کامیابیدلوسره واپس راغې نو هغه ته ئې یوه عصا

کوښش) بطورِ انعام او اکرام ورکړه .
حضورصلی الله علیه وسلم پخپله باقاعده اسلحه اخستله څنګه چه د صحیح البخاری په روایت کښې دی : « حضورصلی الله علیه وسلم د بنی نضیرنه حاصل شوی اموالو کښې دخپلو بیبیانو مطهراتو رضی الله تعالی عنهن نفقه ویستلو سره باقی مال به ئې د جهاد فی سبیل الله دپاره اسلحه او آسونو اخستلو باندې خرچ کولو »
د حضورصلی الله علیه وسلم د اسلحې سره د محبت اندازه ددې نه لګیدلې شی چه حضورصلی الله علیه وسلم سره د عربو مشهورې اومعروفې تورې وې چه په هغې کښې په بعضو باندې د چاندې لاستی خیژولې شوې وې . دوی به همیشه د جنګ د سامان د زیاتولو په فکر کښې وو . غزوه بدر کښې مسلمانانو سره صرف دوه آسونه او یو څو تورې وې مګر د دوی جذبه ئې جهاد د اسلحې انبار ولګولو . پخپله حضورصلی الله علیه وسلم سره یولس تورې ، اته نیزې ، شپږ کمانونه ، دوه خنجرونه . دوه جنګی توپیانې ، اووه زغرې ، څلورډهالونه . د جهاددپاره آسونه ، قچر ، اوبښ ، اوښې وې .
د اسلحې نه کرکه کولو والا او نفرت کولو والا دې په دې روایت باندې غور وکړی او پخپل مزاج باندې دې ماتم وکړی .
د حضرت عمربن حارث رضی الله عنه نه روایت دې چه حضورصلی الله علیه وسلم پخپله ترکه کښې سوا دخپل سپین قچر ، دخپلې اسلحې او هغه زمکه چه صدقه کړې ئې وه هیڅ نه دی پریښودلی (صحیح البخاری ص ۴۳ ج ۱)
په بل روایت کښې تصریح ده چه دا قچر هم د حضورصلی الله علیه وسلم په جهاد کښې په کار راتللو . د حضورصلی الله علیه وسلم توره ساتل او زغره تړل وغیره وغیره خو په تواتر سره په احادیثو کښې راغلی دی ، دهغه یهودی واقعه تول پیژنی چه هغه حضور صلی الله علیه وسلم یې د خوب په حالت کښې وکتلو او د دوی صلی الله علیه وسلم توره په ونه کښې زوړنده وه نو هغه دا توره اوچته کړه (الحدیث)
بهرحال حدیث سره ثابته شوه چه د خوب په وخت کښې به هم توره د حضور صلی الله علیه وسلم سره وه . د حضور صلی الله علیه وسلم نه پس د خلفاءِ راشدینو رضی الله تعالی عنهم په زمانه کښې هم دفاعی انتظاماتو ته خاص اهمیت حاصل وو ، مسلمانان د تورې مالکان وو . د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم منجنیق زده کړې وو اود طائف په غزوه کښې ئې استعمال کړې هم وو . د حضورصلی الله علیه وسلم نه پس صحابه کرامو رضی الله عنهم صبورنومې یو دفاعی اسلحه ایجاد کړه . د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم دا تربیت یافته مجاهدین خپلې تورې او غشی اخستلوسره د روم او فارس مضبوطو فوځونوسره

وجنګېدل . هغه وخته پورې د چا په خیال کښې هم نه وو چه تورې او اخلاق پخپل مینځ کښې متضاد څیزونه دی . چاهم دا نکته په سوچ کښې نه وه راوستلې چه اسلحه د دهشت ګردو او غلو شعار دې . چا امت ته دا مسئله نه وه ښودلې چه د اهلِ علم دپاره اسلحه سخته معیوبه ده . په هغه زمانه کښې خو دسیدنا ابوهریرة رضی الله تعالی عنه په شان محدث ، د سیدنا ابن عباس رضی الله تعالی عنه په شان مفسر . د سیدنا ابی بن کعب رضی الله تعالی عنه په شان قاری . دسیدنا معاذبن جبل رضی الله تعالی عنه په شان مفتی . دسیدنا ابوعبیدة ابن جراح رضی الله تعالی عنه په شان امین الامة . سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه په شان فقیه ، د سیدنا ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه ، سیدناعمرفاروق رضی الله عنه . سیدنا عثمان بن عفان رضی الله تعالی عنه، سیدنا علی بن ابی طالب رضی الله عنه په شان د علم سمندر او خلفاءِ راشدینو پخپله اسلحه ساتله پخپله ئې اسلحه چلوله او د اسلحې سره ئې محبت کولو .

د حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه په زمانه کښې د مونځ په دوران کښې پیریدار په محراب کښې پیره کوله . په هغه زمانه کښې جماتونو کښې دننه مقصورې (حفاظتی مورچې) په رومبئ صف کښې جوړې کړې شوې وې او صحابه کرامو رضی الله عنهم او غټو تابعینو او ائمو په هغه مورچو کښې مونځونه ادا کړی دی ، دهغه زمانې مسلمانان د يوې لمحې دپاره هم دخپلې اسلحې نه غافل اود خپلې دفاع څخه نه بې پرواکیدل ، ځکه چه هغوی ګڼل چه د اسلام عزت ، دمسلمانانو عزت او تحفظ په همدې کښې دې ، که چیرته د مسلمانانو تحفظ کمزورې شو او سرحدونه کمزوری شول نو اسلامی شعائر به هم محفوظه پاتې نه شی . د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم په شان په تابعینو کښې هم دا ذوق وو ، د حضرت امام حسن بصری په شان اوچت امام پخپله اسلحه اوچته کړه او په میدانونو کښې وجنګیدلو اود کابل په جنګ کښې ئې حصه واخستله . په هغې سره نه خو د حسن بصری په علم کښې کمئ راغې اونه دهغه په فضیلت کښې څه کمئ راغې اونه د تصوف هغه بې تاجه بادشاه ته چا طعنه ورکړه چه بزرګی او اسلحه خو جدا جدا څیزونه دی تاسو دا اسلحه ولې اوچته کړې ده .

دحضرت حسن بصری شاګرد لیکی چه په بوډها توب کښې هم دوی جهاد نه دې پرېښودلې اود اسلحې نه ئې زره نه دې جدا کړې . حالانکه طبیب به منع کولو مګر حسن بصری د جهاد په خوند کښې ډوب وو

د تابعینو نه پس اهلِ علمو او اهلِ فضل محدثینو او فقهاؤ د جناب محمد صلی الله علیه وسلم په طریقې باندې جهاد لره جاری وساتلو او د اسلحې سره ئې مینه وکړه . د حضرت عبدالله بن مبارک په شان محدث اود امام اوزاعی په شان فقیه په میدانونو کښې جنګیدل اود علم خدمت ئې هم کولو . د هغه علماؤ او مشایخو یو اوږد فهرست دې چاچه د علم او معرفت سره سره د جهاد

ديوه هم بله کړي ده او په هغوی کښې په زرګونو علماءِ کرامو د شهادت جام هم نوش کړو ، په سلفو کښې چا هم اسلحې لره د علم منافي او جهاد لره د بزرګۍ ضد نه دي ګرځولې بلکه دچا نه چه څومره کيدلې شو هغه د الله تعالی د طرف نه د نازل شوی ددې محکمې او قطعي فريضې خدمت وکړو ، څوک پخپله ميدان ته اوو تل . چا کتابونه وليکل . چا د جهاد د مسائلو رسالې وليکلې

نن سبا د يو اسلامي کتب خانې د تفسير . حديث . فقه او اصولِ فقه يو کتاب هم داسې نشته چه په هغې کښې د جهاد فضائل ومناقب او اسلحې سره د محبت درس نه وی ذکر شوې، بلکه زمونږ د اسلافو خو د ډير وړاندې نه دا نظريه راروانه ده چه جهاد افضل ترين عبادت دې اود جهاد په ذريعې سره په علومو کښې برکت وی ، د صحابه کرامو رضی الله عنهم په علومو کښې برکت هم ددې جهاد د مبارک عمل په وجه وو ، هغوی چه څه په قرآن کښې اوريدل هم هغه به ئې د جهاد په ميدان کښې ليدل ، د هغوی په نيز د د الله تعالی نصرت او طاقت يو محسوس څيز وو ، ددې وجه نه د هغوی علوم ډير اوچت وو ، په آخره کښې زمونږ اکابرعلماءِ ديوبند هم په دې طرزِ عمل باندې قائم وو ، چشم فلک د برصغيرد تصوف امام حضرت حاجی امدادالله مهاجر مکی رحمه الله تعالی ، حجة الاسلام قاسم العلوم والخيرات حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمه الله تعالی ، فقيه النفس ابوحنيفهٔ ثانی حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهی رحمه الله تعالی ، برکة العصر حضرت مولانا حافظ ضامن شهيد رحمه الله تعالی ، امام زمانه حضرت مولانا سيداحمد شهيد رحمه الله تعالی ، عالم ربانی حضرت مولانا اسماعيل شهيد رحمه الله تعالی ، لره په لاسونو کښې اسلحه [illegible] په ميدانونو کښې ليدلې شوی دی ، هغه اهلِ علموا واهلِ فضل اکابرو د ذلت په ژوندون بانديں [illegible] لره ترجيح ورکړه اوهغوی په ميدانونو کښې وتلو سره د انګريزانو سره په بهادرۍ سره مقابله وکړه ، مګر چاته هم دا جرات ونه شو چه هغوی په هغه اکابرو باندې طعن کړې وې چه د دين محافظ يعني د الله رب العالمين په موجودګۍ کښې هغه حضراتو اسلحه اوچتولو سره علم لره عيب وګڼلو او د دين توهين ئې وکړو(نعوذبالله)

مګرافسوس زرځلې افسوس د انګريزانو د مکارۍ آره وچليدله . د مرزاقاديانی ملعون د ناپاک جادو څه اثر وچليدلو ، انګريزانو علماؤ لره ذليل او رسوا کول غوښتل هغوی علماؤ لره کمزوری اود نورو محتاج جوړولو سره دين لره ذليلول غوښتل ، هغوی د علماؤ قوت او عظمت نه خائف وو ، هغوی په دې نکتې باندې پوهه شوی وو چه د ديندارو په قوت کښې د دين د عظمت راز پټ دې . ددې وجه نه ديندارو لره دې خالی لاس کړې شی .

انګريز محنت وکړو ، مرزاقاديانی کتابونه وليکل ، ذرائع ابلاغ په حرکت کښې راغلل او ټولو په شريکه دا فيصله وکړه چه اسلحه د دهشت ګردۍ نښه ده . اسلحه د اهلِ علم د شان خلاف ده . اسلحه د غنډه ګانو د ناپاکو عزائمو د تکميل لاره ده ، اسلحه د مشايخو دستارلره د عيب جوړولو

والا څیز دي ، دا پروپاګند دومره زورداره شوه چه د زیږي تبې په شان دمسلمانانو په زړه او جګر باندې خوره شوه .

د نبی السیف (توري والا نبی) امت د توري سره نفرت شروع کړو . دالله تعالی احکام ئې نظر انداز کړل علماء بدنام کړې شول ، اهلِ علم کمزوری شو ، اسلحه غلو او ډاکوانو ته ورکړې شوه ، اسلحه د جاګیردارانو اود ظالمانو د ظلم محافظه جوړه کړې شوه ، اسلحه د دین د محافظانو نه اخستلو سره د دین دښمنانوته ورکړې شوه ، ایمان او جهاد چه تر پرونه پورې لازم او ملزوم وو نن د یو بل نه جدا ښکاره کړې شو ، فاسق طاقتور او مؤمن کمزوري شو ، قاتل طاقتور اودیندار مظلوم شو ، د اسلحې په زور باندې ملحدانو حکومتونه حاصل کړل ، علماء په جمات او مدرسه کښې محدود کړې شو ، که چرته اهلِ علمو آواز اوچت کړو نو هغوی به په ګولوسره سوری سوری کولوسره د نورو دپاره د عبرت نښه جوړه کړې شوه ، سپی پریښودلې شو ، بیا ژبې د اسلام په خلاف شروع شوې ، مګر هغه ژبو ته قیضې اچولو والا بې بسه خولې کتلوسره پاتې شول ، بیا قلم د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم په ناموس باندې ډاکې اچول شروع کړې مګر دهغه ناموس محافظ هیڅ ونه کړې شو ، د علماؤ ګیرې وشلولې شوې ، د ختم نبوت مسئلې په شان د اجماعی مسئلې د وژلو او ختمولو کوشش وکړې شو ، د اسلام نظام ته په ډک بازار کښې کنځلې وکړې شوې ، د اهلِ حق علماؤ بدنونو لره په ګولوسره سوری سوری کړې شول ، مګر اهلِ دل رېیږي اود اسلحې نه د غفلت سزا ورته ملاویږي .

دکوم منبر نه چه د عصماء یهودیه د قتل حکم ملاؤ شوې وو دهغه منبر نه د دین په تباهۍ باندې د صبر پیغام خوریدل شروع شو ، دکوم منبر نه چه د کعب بن اشرف د قتلولو حکم ملاؤ شوې وو دهغه منبر نه د سلمان رشدی د قتل فیصله صادره نه کړې شوه ، کفر په ډک بازار کښې ګډیدلو او اهلِ ایمان والو د سر پټولو دپاره د پناه ځائ لټولو .

په داسې وخت کښې زمونږ په پاکستان کښې د اسلام نه سوا د هرڅیز آزادی ده د جمهوریت عفریت د اسلام مقدس نظام ته بد ګوری ، د پاکستان زمکې د مولانا جهنګوی اود مولانا ایثار القاسمی وینه وسکله ،دلته د ختم نبوت په شان متفقه مسئله حل کولو دپاره په زرګونو ځوانانو خان قربان کړو ، او اوس خو حالات دې حده پورې راغلی دی چه غنده ګرد عناصر ښکاره په جماتونو کښې په مونځ کوونکو باندې فائرنګ کوی اود جماتونو تقدس په اسلامی ممالکو کښې پامال کیږی .

دومره قدرې تفصیلی تمهید نه پس اوس راځو خپلې اصل موضوع طرف ته

د فقیه العصر حضرت اقدس مولانا مفتی رشید احمد صاحب لدهیانوی دامت برکاتهم العالیه شخصیت د تعارف متحاجه نه دې ، د دوی علمی او روحانی فیوضاتو نه ټوله دنیا مستفیده ده

په افریقه کښې یوځلې بنده ته دیولوئ شیخ الحدیث اود عارف بالله بزرګ په مجلس کښې د حاضرئ شرف حاصل شو ، دا بزرګ عالم دین اود اعلیٰ درجې محقق هم دې ، او په افریقه کښې دهغه د مریدانو اود متوسلینو یوګڼ شمیر موجود دې اوریدلی مې دی چه په اروپا کښې هم دهغه یوه لویه حلقه ده ، بنده د هغه په مجلس کښې د حضرت اقدس مفتی صاحب تذکره وکړه نو هغوئ اوفرمائیل : « تاسو خلق خوش قسمته یئ ، حضرت مولانا مفتی رشید احمد لدهیانوی خو په دې وخت کښې په علومو کښې یو فرد دې »

بهرحال عرب اوعجم کښې دحضرت مفتی صاحب د علومو او معارفو شغلې خورې شوی دی . د دوی محققانه ذوق اوعلمی تحقیقات او روحانی مقاماتو باندې خو په دې وخت کښې امتِ مسلمه فخر کولې شی ، بیشکه د دوی په شان متقی فقیه د امت دپاره لویه سرمایه ده ، الله تعالیٰ دې د دوی په ژوند کښې برکت واچوی اود علم اومعرفت دا جاری چینه دې امت لره سیرابه کړی ، آمین ثم آمین .

د حضرت اقدس مفتی صاحب نه چه چرته الله تعالیٰ ډیر کار واخستلو هغلته د دوی نه ئې یو اهم کار دهغه باطلو فرقو په خلاف واخستلو چه د امت په ایمان باندې ئې ډاکه اچوله ، دوی تقریباً د هرې فتنې په خلاف ولیکل اود لیکلو حق ئې ادا کړو ، د دوی حق پرست قلم د تورې په شان دهغه فتنو په شاه رګ باندې پریوتلو نو علمی طور باندې دهغې مرګ ثابته شو ، دوی د تحریراود تقریر په ذریعې خپل خالص ایمانی جذباتو لره په کار راوستلوسره هرباطل سره مقابله وکړه مګر نن د امت ډیر خلق دهغه جذباتو نه محروم دی .

حضرت اقدس مفتی صاحب چه کله افغانستان ته تشریف یوړواو مونږه دوی ته د کیمونسټ فوځ جرنیل وښودلو ، هغه جرنیل چه د مسلمانانو په خلاف میدانونو کښې جنګیدلو اوهغه ته روسی طاقت باندې لوئ ناز وو مګر د الله شیرانو هغه ګیدړانو لره ژوندی ونیول نو هغوی د نورو دپاره عبرت جوړ شول ، اوس هغه ظالم درندګانو پخپلو مخونو باندې دمظلومیت اود لاچارئ داسې پردې واچولې چه خوک هم هغوی ته ګوری ترس یی پرې راځی ، مګر الله تعالیٰ دې جزائې خیر ورکړی حضرت اقدس مفتی صاحب ته چه هغه قاتلانو ته ئې په غصه کښې اوفرمائیل : « ځما په نیز ستاسو سزا مرګ دې که چیرته ځما اختیاروې نو ما به تاسو پخپلو لاسونو سره وژلی وئ »

ما پورته واقعه قصداً لیکلې ده دې دپاره چه زمونږه دهغه بزدله مسلمانانوعقل په ځائ راشی چه د ظالم او جابر حکمرانانوپه مرګ سره هم ویریږی اود خپلو اسلافو تاریخ لره ئې هیر کړې دې ، اود صحابه کرامو رضی الله عنهم جهادی نعرو لره ئې هیرولوسره د بې بسئ ژوند تیروی . اود بزدلئ هغه اوچت مقام ته رسیدلی دی چه پخپلو لاسونو کښې اسلحه قدرې نه شی اوچتولې ، که چرته خوک دهغوی په لاسونوکښې توپک ورکړی نو رپیږی او ویریږی چه هسې نه کومه ګولئ سرچپه ونه چلیږی اودهغوی قیمتی ساه د وخت نه وړاندې ونه وځی .

حضرت مفتی صاحب دامت برکاتهم چه دهغه یویو عمل د شریعت مطهره د احکامو نه عبارت دې د رافضیت د فتنې په خلاف یې توره په لاس اومیدان ته اووتلو اودهغه فتنې صرف د کفر نه بلکه دهغې په باره کښې د اسلامی حکم هم دوی په بهادرئ سره اعلان وکړو ، دا اعلان په یوه بنده کمره نه بلکه په ډیرو ښارونوکښې دمسلمانانو په لویو جلسو کښې دوی د صحابو کرامو دښمنانو ته چلنج ورکړو

د فارس ((ایران)) محلات ولړزیدل ، خمینیت افسوس شروع کړو

مسلحې چمچې په حرکت کښې راغللې او ددې علم او عمل جوړ شوی شخصیت لره د ختمولو دپاره یې کوششونه شروع کړل ، ددې حالاتو په نظر کښې نیولوسره د حضرت مفتی صاحب دامت برکاتهم خادمانو او مجاهدینو د دوی نه د حفاظتی تدابیرو او مسلحې پهرې اجازت وغوښتلو ، چه هرکله د مجاهدینو اصرار ډیر زیات شو نو دوی د دارالافتاء په خلکو او شاګردانو او متعلقینو کښې نورو اهلِ افتاء او علماؤ لره د قرآن او سنتو په رڼا کښې د شریعت په حدودو کښې دننه ددې مسئلې حل لټولو حکم اوفرمائیلو ، اهلِ علم او مجاهدینو سره مشورې وشوې ، د حضور صلی الله علیه وسلم د حیاتِ طیبه د پانو اړول وشو ، چه دهغې په نتیجې کښې دا فیصله وشوه چه د حضرت مفتی صاحب او د دوی د ادارې اود طلباؤ دپاره شرعی اصولو باندې د مسلحې پیره دارئ سلسله شروع کړې شی ، ددې کارِ خیر دپاره ځوانانو خپلې ځوانیانې پیش کړې ، مجاهدینو حضرت مفتی صاحب په علمی مرکز کښې د پیرې ترتیب جوړ کړو ، د فوځ لوی افسران په هغه ترتیب باندې شاباشې ورکولو سره پاسیدل ، دارالافتاء والارشاد چه دارالجهاد هم وو اوس باقاعده دارالجهاد جوړ شو ، اسلحه هرطرف ته په نظر ښکاره شوه

د کافرانو مور مړه شوه ، د مسلمانانو په کمزورئ باندې د غنډه کردئ رعب اچولو والا د ویریدونکې پیشو په شان دارالافتاء طرف ته کتل شروع کړل ، د سپو غابښونه مات شو د شرمغ لکئ وشلیدله ، یو دوه خلې چا بهادرئ ښکاره کړه خو هغوی چپ کړئ شول

د مفتی صاحب دا عظیمه دارالافتاء د مسجدِ نبوی د اعمالو میدان جوړ شو څومره مسلمانانو ته د اسلحې لیدلو سعادت ملاؤ شو ، څومره ته د پیرې لګولو فضیلت ملاؤ شو ، په زرګونو انسانانو لره هغه عملی قدم د جهاد عاشقان جوړ کړل ، د مرزا قادیانی د قبر اور نورې هم چغې وهلې ، د حضرت مفتی صاحب دارالافتاء دهغه د عزائمو قبرستان ثابت شو ، دملک په داخل کښې او بیرون له ملک نه راتللو والا علماء په ابتداء کښې دې نوی طرز عمل نه پریشانه کیدل بیا رو رو مانوسه کیدل او بیا په یو څو ورځو کښې خپل رومبنی ژوند ته راګرځیدلوسره یې توبه کوله او اسلحې لره ئې سینې سره لګوله

دنیادارو ته د اهل علم د عظمت احساس وشو ، په زرګونو مړه احکام ژوندی شو ، د پیره دارئ

اود تیراندازئ اود توري بازئ حدیثونه په کتابونو کښې لټول شروع شو . خوش قسمته د یو ټل نه نمبر یورو . اسلحه دارالافتاء کښې څه راغله چه د مولانا جلال الدین حقانی په شان ددې دوړ عظیم فاتح یی هم را جذب کړو . د علم او عمل دوه بادشاهان چه کله په دې دارالافتاء کښې جمع شو نو . «د لینن مجسمه هم په هغه وخت دخپل ځائ نه وخوزیدله»

سبیا خو دارالافتاء د کماندرانو اود غازیانو داسې مرکز جوړ شو چه کتلو والا هک بک حیران شو اود افغانستان فاتح دارالافتاء والارشاد نه دعلم او روحانیت خزانې تښتول شروع کړې اود دارالافتاء طلباؤ او علماؤ دجهاد په خالی خانو کښې رنګ ډکول شروع کړل

په داسې وخت کښې جهاد لره فساد ګڼلو والا دې د خپل ایمان خیر وغواړی . او رو ته د ګوتې نیولو نه وړاندې دې دخپل ایمان تجدید وکړی او امت مسلمه ته دې نور د ذلت اود غلامۍ سبق نه ښائی . که چرته هغوی بزدل وی ، د اسلحې اوچتولو طاقت نه لری نو خپله بزدلی دې خپل خان سره وساتی . قرآن اوسنت ته دې غلط تعبیر نه کوی چه دخپلې بزدلۍ دپاره دلائل جمع کړی او خپل خپل مرض نور هم متعدی جوړ کړی .

دا موضوع نور هم ډیر تفصیل غواړی، په دې وخت کښې بې شمیره دلائل او نکات بحمدالله تعالی په ذهن کښې دی مګر د «صدائے مجاهد» د حجم اود خپلې مشغولتیا په بناء باندې آخر کښې مختصر طورباندې درې خبرې عرض کوم. الله تعالی دې مونږټولو ته داسلام پوهه نصیب کړی

اسلحه ساتل د توکل قطعاً خلاف نه دی بلکه د الله تعالی حکم دې ، هم ددې وجه نه هریوسړې بدې سوچ کولوسره چه رازق خو الله تعالی دې، روزی کټل نه پریږدی ، خپلې اداري لره د چلولو جمع کول نه پریږدی ، څکه چه توکل د اسباب اختیارولو منافی نه دی . پخپله د حضور صلی الله علیه وسلم په کور باندې صحابه کرامو رضی الله عنهم پیره کوله . حالانکه د دوی نه زیات څوک متوکل دی ، د بعضې محدثینو او فقهاء کرامو په نزد خو دا پیره آخری عمر پورې وه ، د تفصیل دپاره تفسیرابن کثیر او تفسیر مظهری وګورئ

دخلقو وینا ده چه د حضرت مفتی صاحب په ځائ کښې د پیرې د وجه نه ځینی خلق متنفره شوی دی ، دا یوه دروغ خبره ده . څکه چه د حضرت مفتی صاحب په دې عمل سره خو عوامو او خواصو ته د جهاد د اهمیت احساس شوې دې اوپه زرګونو خلقو ته د شرکت موقع ملاؤ شوې ده . د دوه سوو علماؤ نه زیاتو دجهاد تربیت حاصل کړو او په هغې کښې یی عملاً حصه واخستله . ډیرو زیاتو اهل علمو ته جهاد باندې د تحقیقی کار کولو همت شوې دې

د برطانیې یو لوئ عالم چه کله دحضرت مفتی صاحب په ځائ کښې دا نظام وکتلو نو دومره متاثره شو چه نن دهغه یومجلس هم د جهاد د تذکرې څخه نه خالې کیږی

که چیرته بالفرض والمحال بعضې خلقو ته دا عمل بنه نه ښکاری نو په دې کښې د حضرت

مفتی صاحب څه قصور دې ؟ په دې کښې قصور خو د هغه خلقو دې چاچه امت لره د اسلحې نه لرې ساتلې دې اود جهاد سبق ئې ورته نه دې ښودلې تردې پورې چه امت دې حال ته را ورسيدلو چه نن د جهاد نوم اوريدلوسره د ډيروزياتو خلقو رنګ بدليږی او مخونه يې توريږی حالانکه قرآن مجيد کښې دا علامه د منافقانو بيان شوې ده چه د جهاد نوم اوريدلو سره دهغوی مخونه توريږی او په هغوی باندې مرګ راچاپيره کيږی .

اهلِ علم او اهلِ کمال حضرات غيرِ علماؤ (عوامو) لره عموماً اوفاسق اوفاجر خلقو لره خصوصاً د کتابونو دليکلو اود تفسير کولو نه منع کوی ځکه چه په دې سره ګمراهی خوريږی دهغوی دا عمل خو صحيح دې .

همدغه شان اهلِ علم او اهلِ دين ته پکار دی چه هغوی دفاسقو اوفاجرو خلقو په لاس کښې اسلحه ورنه کړی ځکه چه په دې سره به فسق ته قوت حاصل شی اود دين به نقصان وشی ، اسلحه د جنابِ محمد صلی الله عليه وسلم وراثت دې ددې وجه نه دا د ديندارو خلقو اود اهلِ علم په لاس کښې پکار ده دې دپاره چه دين ته قوت حاصل شی او اسلام ته عظمت حاصل شی .

وصلی الله تعالی علی خير خلقه سيدنا محمد وعلی اله واصحابه اجمعين

محمد مسعود اظهر

(**ماهنامه صدایٔ مجاهد** ((**اسلام آباد ربيع الثانی ۱۴۱۴ هـ**)

الحاق

د حفاظتی تدابيرو په دلائلو کښې د احاديثو په بيان کښې لاندې حديث د کتابت نه پاتې شوې وو چه دلته د ((الحاق)) په صورت کښې ليکل کيږی .

وراندينی پنځه شپته روايات وو اوس ددې حديث په اضافې سره شپږ شپته شو .

حديث دادې : **عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال الراكب شيطان والراكبان شيطانان والثلاثة ركب رواه مالك والترمذی وابوداؤد والنسائی (مشكوٰة ص ۳۳۸)**

رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل : ((**يوسوريدونکې يو شيطان دې او دوه سوريدونکی دوه شيطانان دی او درې سوريدونکی د صحيح سوريدونکو جماعت دې**))

دا حديث د اسلام د ابتدائی د زمانې دې ، يعنې د کافرانو د غلبې د وجه نه د حفاظتی تدابيرو دومره تاکيد کولې کيږی چه د دريو سوريدونکو نه کم يو يا دوه پياده خو پريږده، سوريدونکو ته هم د بهروتلو اجازت نه وو ، په دې باندې ئې دومره سخت وعيد اوفرمائيلو چه د دريو سوريدونکو نه کم وتلو والا سوريدونکی يې شيطانان وګرځول . چه کله د دريو سوريدونکو نه کم هم شيطانان دی نو پياده خو به نور هم لوئ شيطان وی .

عبدالرحيم نائب مفتی دارالافتاء والارشاد ناظم اباد کراچی

باب المرتد والبغاة

د مرتد د مال حکم

سوال: - یوه مسلمانه زنانه مرتده شوه او په همدې حال کښې دهغې انتقال وشو. دهغې جائیداد دهغې مسلمانانو ورونو سره شریک وو ، دهغې دجائیداد شرعی وارث به څوک جوړیږی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د ارتداد په صورت کښې د سړی اود ښځې د اموالو احکام مختلف دی ، ددې وجه نه دهریو حکم جدا جدا لیکلې کیږی:

که سړې مرتد شی نودهغه مال دهغه له ملکیت نه وځی ، البته دوباره د اسلام قبلولونه وروسته دهغه په ملکیت کښې راګرځی.

او که دارتداد په حالت کښې قتل کړې شو یا مړشو یا دارالحرب ته لاړو نو د حالتِ اسلام ګټلې شوې مال په مسلمانانو وارثانو کښې تقسیمیږی اود حالتِ ارتداد ګټلې مال یی په بیت المال کښې داخلیږی . د بیت المال نه کیدلو په صورت کښې به مسکینانو باندې صدقه کیږی

که ښځه مرتده شی او په همدې حالت کښې مړه شی یا دارالحرب ته لاړه شی نو دهغې ټول مال به په وارثانو باندې تقسیمیږی ، خواه که په حالت د اسلام کښې ئې ګټلې وی اوکه په حالت د ارتداد کښې یی ګټلې وی ، لهذا دهغه مړه کیدونکې زنانه په ترکه کښې د کافر رشته دارانو هیڅ حق نشته دی.

قال فی التنویر وشرحه: (ویزول ملك المرتد عن ماله زوالا موقوفا فان اسلم عاد ملکه وان ماته اوقتل علی ردته) اوحکم بلحاقه (ورث کسب اسلامه وارثه المسلم) ولو زوجته بشرط العدة زیلعی (بعد قضاء دین اسلامه وکسب ردته فیء بعد قضاء دین (ردته) وقالا میراث ایضا ککسب المرتدة (ردالمحتار ص ۳۰۰ ج ۳) والله تعالی اعلم صفر ۱۳۹۴ھجری

د مرتد د هبې ، وصیت اود وراثت حکم

سوال :- د زید پلار مرتد شو نو آیا زید ته د هغه په کورکښې اوسیدل جائز دی اوکه نه ؟ همدارنګه دهغه په آمدنئ سره خوراک څکاک اودنورو ضروری څیزونو اخستل جائز دی اوکه نه؟ دهغه په ترکه کښې به د زید حصه وی اوکه نه ؟ په ژوند کښې که چیرته هغه زید ته څه ورکړی یا د مرګ نه وړاندې د زید دپاره څه وصیت وکړی نو آیا د زید دپاره به یی اخستل جائز وی اوکه نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د مرتد له مال سره دهغه د مسلمانانو وارثانو اود بيت المال حق متعلق کيږي . که چيرته هغه قتل کړې شو ، يا حالت ارتداد کښې مړشو يا دارالحرب ته لاړو نو په حالت اسلام کښې ګټلې شوې مال به دهغه په مسلمان وارثانو باندې تقسيميږي او د حالتِ ارتداد ګټه به يې په بيت المال کښې جمع کولې شي . ددې وجه نه مرتد پخپل مال کښې ديو غيروارث دپاره هبه ، وصيت وغيره تصرفات نه شي کولې .

که چيرته زيد د هغه مرتد پلار په وارثانو کښې خانله وارث وي نودهغه نه هغه مال قبلولې شي کوم چه هغه په حالتِ اسلام کښې ګټلې وو ، همدغه شان حالتِ اسلام کښې جوړ شوی کور کښې اوسيدلې هم شي ، دهغه مال نه د زيد دپاره هبه ، وصيت وغيره قبلول هم صحيح دی ، د وصيت په صورت کښې به دا مال دهغه دمرګ نه وروسته زيد ته بطورِ وراثت ملاويږي نه بطور وصيت ، ځکه چه د وارث په حق کښې وصيت جائز نه دې .

او که چيرته د زيد نه علاوه دهغه نورمسلمانان وارثان هم وي او ټول عاقلان بالغان وي نو زيد دهغوی په رضا سره په هغه کور کښې اوسيدلې شي اود حالتِ اسلام د آمدنئ نه خوراک اوڅکاک هم کولې شي .

بطورِ هبه اووصيت د نورو وارثانو په رضا سره داسې څيز قبلولې شي چه ناقابلِ تقسيم وي ، يعنې چه تقسيم کړې شي نو په کار نه راځي ، لکه ډير وړوکې کور او ګاډې وغيره .

کوم څيز چه قابلِ تقسيم وي هغه نه شي قبلولې ځکه چه دا مال د ټولو وارثانو مشترک دې او دا هبه په حقيقت کښې د وارثانو د طرفه ده او د داسې قسم مشترک څيز هبه صحيح نه ده .

د مشترک څيز وصيت هم په حقيقت کښې د وارثانو د طرفه هبه ده ، مګر د مرتد د قتل يا د مرګ يا دارالحرب ته د تللو نه پس د زيد په قبضه کښې به راځي ددې وجه نه په هغې کښې دا شرط دې چه هغه وخت به مسلمانان وارثان ټول راضي وي او ټول به عاقلان بالغان وي ، د مرتد د قتل يا د مرګ يا دارالحرب ته د تللو نه وړاندې دهغوی د رضا اعتبار نشته ، رضا به هغه معتبره وي چه د وارث جوړيدلو په وخت کښې متحققه وي .

زيد که چيرته مسکين وي نو مصارف په بيت المال کښې د داخليدلو د وجه نه دمرتد د هغه مال نه هم نفع اخستلې شي چه هغه په حالتِ ارتداد کښې ګټلې وي .

قال في التنوير وشرحه : (ويزول ملك المرتد عن ماله زوالا موقوفا فان اسلم عاد ملكه وان مات اوقتل على (ردته) اوحكم بلحاقه (ورث كسب اسلامه وارثه المسلم) ولو زوجته بشرط العدة زيلعي (بعد قضاء دين اسلامه و كسب ردته في بعد قضاء دين ردته (وقال بعد صفحة) ويتوقف منه المفاوضة والتصرف على ولدة الصغير والمبايعة والعتق والتدبير والكتابة والهبة والاجارة والوصية ان اسلم نفذ وان هلك اولحق

بدار الحرب وحکم بطل (ردالمحتار ص۳۰ ج۳) والله تعالی اعلم (۱۵ محرم ۹۳ هجری)

د قادیانیانو سره تعلقات

سوال :- قادیانیانو لره په ملک کښې غیرمسلم اقلیت گرځولې شوی دی نواوس خو دوئ ذمی کافر دی ، سوال دادې چه :

(۱) که چیرته یو قادیانی میلمه راشی نودهغه اکرام او میلمستیاجائزه ده اوکه نه ؟

(۲) که چیرته یو قادیانی په کوم مقصد سره درود شریف یا د قرآن مجید ختم وکړی نو مسلمان ته په هغې کښې شرکت جائز دې اوکه نه ؟

(۳) قادیانی یو مسلمان ته دعوت ورکړی چه په هغې کښې ذبیحه هم د قادیانیانو وی نو داسې دعوت قبلول جائز دی اوکه نه ؟ بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : قادیانیان دغیرمسلم اقلیت گرځولو باوجود ذمیان نه دی ځکه چه دوی زندیق دی او زندیق په یو صورت کښې هم ذمی نه شی جوړیدلې بهرصورت واجب القتل دی . ددې وجه نه د قادیانیانو سره هیڅ قسمه تعلق جائز نه دې ، د مذکورة الصدر دریو واړو سوالونو جواب په نفی کښې دې ، والله تعالی اعلم ، ۲۸شعبان ۹۴ هجری

د شیعه گانو اود قادیانیانو وغیره د زندقه او زنادقه احکام تفصیل په ((کتاب الحظروالاباحة)) کښې دې .

د تیر شوی سوال په شان یو بل سوال

سوال :- د قادیانیانو په باره کښې یو څو سوالونه دی :

(۱) قادیانی د مسلمان جنازې ته اوږه ورکولې شی اوکه نه ؟

(۲) قادیانی سره یوځائ مسلمان خوراک څکاک کولې شی اوکه نه ؟

(۳) واده یا په بل تقریب کښې قادیانی مسلمانانو لره بللې شی اوکه نه ؟

(۴) که یو قادیانی مسلمان ته سلام وکړی نوجواب کښې یې باید څه اووئیلې شی؟ بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : قادیانیانوسره داسې قسم تعلقات قطعاً جائز نه دی ، دوی د عامو کافرانو نه بدتر زندیقان او واجب القتل دی ، دهغوی په خوشحالئ اوغم کښې شرکت کول یا پخپل واده غم کښې هغوی لره شریک کول ، دهغوی سلام کلام ، غرض داچه هیڅ قسمه تعلق ورسره ساتل جائز نه دی ، د مسلمان د جنازې سره داسې مغضوب خلقو لره دتللو هیچرې باید اجازت ورنه کړې شی ، والله تعالی اعلم ، ۱۳جمادی الاخره ۹۵ هجری

قادیانیانو سره دتعلقاتو لرلو یو څو احکام د جلدِ اول په ((کتاب الایمان والعقائد)) کښې هم

دی او زیات تفصیل یی په «کتاب الحظر والاباحة» کښې دې.

د خاوند له ارتداد سره فوراً نکاح ماتیږی

سوال - په کمپنۍ کښې یو ذمه دار افسر دا الفاظ اووئیل: «که چرته الله تعالی د کمپنۍ کار خراب کړی نو هغه لره به هم پهانسی ورکړو، که چرته د الله تعالی خوئ هم راشی نو دهغه نه به هم کار اخلو» دهغه د دین او ایمان اود نکاح څه حکم دې؟ بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: دا سړې مرتد شو دهغه نکاح هم فوراً ماته شوه، دهغه په ښځه باندې فرض دی چه بلاتاخیره دهغه نه جداوالې اختیارکړی، هغه دوباره مسلمانولو سره له سرنه دې دهغه نکاح وکړې شی، که چیرته مسلمان نه وی نو په حکومت باندې فرض دی چه هغه لره په عبرتناکه طریقه باندې مړ کړی او دخلقودپاره دې د عبرت نمونه جوړه کړی.

مرتد کیدلو سره دجمهور امت په اجماع سره نکاح ماتیږی، په هغې کښې د قاضی د قضاء ضرورت نشته.

قال فی التنویر: وارتداد احدهما فسخ عاجل.

وفی الشرح: بلا قضاء

وفی الحاشیة: ای بلا توقف علی قضاء القاضی وکذا بلا توقف علی مضی عدة فی المدخول بها کما فی البحر

(ردالمحتار ص۳ ج) والله تعالی اعلم. ۷ صفر ۹۰ هجری

د زوجې (ښځې) د ارتداد حکم

سوال:- معاذالله! که د چا ښځه مرتده شی نودهغه نکاح به ماتیږی اوکه نه؟ که چیرته ماته شوه نوهغې باندې به عدت واجب وی اوکه نه؟ یعنې که چیرته هغه بیا اسلام قبول کړی نو بل سړی سره فوراً نکاح کولې شی اوکه له عدت تیرولو نه پس؟

همدارنګه هغه ښځې ته د خاوند نه د خلاصی دپاره چه چا د هلاکت دا لاره ښودلې ده دهغه متعلق شرعی حکم څه دې؟ بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې باره کښې درې روایات دی:

(۱) د ښځې نکاح ماته شوه او هغه به وینځه جوړیږی، دهغې خاوند هغه له امام وقت نه اخستلی اوله خپل خان سره یی ساتلې شی، که چیرته خاوند مصرف وی نو امام یی هغه ته مفته هم ورکولې شی

(۲) دهغې نکاح ماته شوه مګر دا د بل چا سره نکاح نه شی کولې بلکه هغه به تجدید اسلام او هم دومبنی خاوند سره په تجدید نکاح باندې مجبورولې شی.

(۳) دهغې نکاح ماته نه شوه ، بلکه د هماغه خاوند په نکاح کښې به وی

په دې زمانه کښې رومبنی دوه صورتونه ممکن نه دی ، د اول صورت عدم امکان خو ښکاره دې ، له حکومت نه په دويم صورت باندې د عمل کولو هم څه توقع نشته . لهذا د فتوې دپاره فقط دريم صورت متعين دې ، يعنې د ښځې په ارتداد سره دهغې نکاح نه ماتيږی مګر د تجديد اسلام نه وړاندې دهغې نه استمتاع جائزه نه ده ، (کالموطوءة بالشبهة والحامل من الزنا) بلکه د تجديدِ اسلام نه پس تجديدِ نکاح هم ضروری ده ، ځکه چه دويم روايت ظاهر الرواية دې . په هغه خاص جزء کښې دهغې نه د عدول هيڅ ضرورت نشته دې ، لهذا د تجديدِ اسلام نه پس هم د تجديدِ نکاح نه وړاندې استمتاع حرامه ده .

قال الامام الحصكفي رحمه الله تعالى: وصرحوا بتعزيرها خمسة وسبعين وتجبر على الاسلام وعلى تجديد النكاح زجرا لها بمهر يسير كدينار وعليه الفتوى والوالوجية، وافتى مشائخ بلخ بعدم الفرقة بردتها زجرا وتيسيرا لاسيما التي تقع في المكفر ثم تنكر قال في النهر والافتاء بهذا اولى من الافتاء بما في النوادر (الى قوله) وحاصلها انها بالردة تسترق وتكون فيئا للمسلمين عند ابي حنيفة رحمه الله تعالى، ويشتريها الزوج من الامام او يصرفها اليه لو مصرفا.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله زجرا لها) عبارة البحر حسما لباب المعصية والحيلة للخلاص منه اه ولا يلزم من هذا ان يكون الجبر على تجديد النكاح مقصورا على ما اذا ارتدت لاجل الخلاص منه بل قالوا ذلك سدا لهذا الباب من اصله سواء تعمدت الحيلة ام لا كي لا تجعل ذلك حيلة. (ردالمحتار ص۳۱۱ ج۲)

وفي تعزير العلائية: ارتدت لتفارق زوجها تجبر على الاسلام وتعزر خمسة وسبعين سوطا ولا تتزوج بغيره به يفتى ملتقط.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله ولا تتزوج بغيره) بل تقدم انها تجبر على تجديد النكاح بمهر يسير وهذه احدى روايات ثلاث تقدمت في الطلاق، الثانية انها لا تبين ردا لقصدها السيئ، الثالثة ما في النوادر من انه يتملكها رقيقة ان كان مصرفا (ردالمحتار ص۱۹۱ ج۳)

وفي الباب المرتد من العلائية: وليس للمرتدة التزوج بغير زوجها به يفتى وعن الامام تسترق ولو في دار الاسلام لو افتى به حسما لقصدها السيئ لا باس به وتكون قنة للزوج بالاستيلاء مجتبى، وفي الفيض

امها فیء للمسلمین فیشتریها من الامام او یهبها له لو مصرفا.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: تحت قوله ولیس للمرتدة التزوج بغیر زوجها: قال فی الفتح وقد افتی الدبوسی والصفار وبعض اهل سمرقند بعدم وقوع الفرقة بالردة ردا علیها وغیرهم مشوا علی الظاهر ولکن حکموا بجبرها علی تجدید النکاح مع الزوج وتضرب خمسة وسبعین سوطا واختاره قاضیخان للفتوی الخ (قوله عن الامام) ای فی روایة النوادر کما فی الفتح (قوله ولو افتی به الخ) فی الفتح قیل ولو افتی بهذه لاباس به فیمن کانت ذات زوج حسما لقصدها السیء بالردة من اثبات الفرقة (قوله وتکون قنة للزوج بالاستیلاء) قال فی الفتح قیل وفی البلاد التی استولی علیها اذا استولی علیها التتر واجروا احکامهم فیها و نفوا المسلمین کما وقع فی خوارزم وغیرها اذا استولی علیها الزوج بعد الردة ملکها لانها صارت دار حرب فی الظاهر من غیر حاجة الی ان یشتریها من الامام اه

(قوله وفی الفتح الخ) هذا ذکره فی الفتح قبل الذی نقلناه عنه انفا وحاصله انها اذا ارتدت فی دار الاسلام صارت فیئا للمسلمین فتسترق علی روایة النوادر بان یشتریها من الامام او یهبها له، امالو ارتدت فیما استولی علیه الکفار وصار دار حرب فله ان یستولی علیها بنفسه بلا شراء ولا هبة کمن دخل دار الحرب متلصصا وسبی منهم وهذا لیس مبنیا علی روایة النوادر لان الاسترقاق وقع فی دار الحرب لا فی دار الاسلام (ردالمحتار ص۳۱۳ ج۳)

خلاصه دا شوه چه په دې کښې هیڅ اختلاف نشته چه د کفر د لعنت طوق په مرئ کښې د اچولو نه باوجود دهغې ښځې دپاره د خاوند نه خلاصې ممکن نه دې . بهر حال د هغه په قبضه کښې به وی . د ښځې په حیثیت سره یا وینځې جوړیدلو سره (علی اختلاف الاقوال) که چیرته واقعةً یو شرعی عذر وی چه دهغې د وجه نه ښځه خلاصې غواړی مثلاً خاوند عنین وی یا متعنت وی چه نه خو نفقه ورکولې شی اونه طلاق ورکوی ، یامعسر وی نوداسې قسم ټولو صورتونوکښې د خلاصی دپاره دا شرعی حل موجود دې چه: ((د خاوند نه دې طلاق واخستلې شی . که چرته داسې طلاق نه ورکوی نود خلعې صورت دې اختیار کړې شی چه هغه ته څه ورکړی او طلاق ته دې آماده کړې شی که په دې باندې هم راضی نه شی نو عدالتی کارروائی دې وکړې شی . مسلمان حاکم دې هغه عدالت ته طلبولو سره طلاق ورکولو باندې مجبوره کړی ، که چیرته د حاکم په وینا باندې هم طلاق ورنه کړی نو حاکم دې پخپله په دواړو کښې تفریق وکړی))

دهغې نه پس دې ښځه عدت تيرولو سره چيرته چه غواړي نکاح کولې شي . د مجبورئ په حالت کښې جماعتِ مسلمين هم دا فرض ادا کولې شي .

ددې مسائلو تفصيل په رساله «الافصاح عن خيار فسخ النكاح» مندرجه احسن الفتاوی کښې دې هلته دې وکتلې شي .

باقي پاتې شو هغه خلق چاچه ښځې ته د کفر او ارتداد لاره وښودله يا په يوه درجه کښې په هغه کاروائې کښې شريک يا په زړه سره راضي شوی دی نو هغه ټول د اسلام دائرې نه خارج شوی دی . دهغوی په ستونو باندې د دوه چنده کفر وبال دې ، دهغه مرتدينو نکاح هم فسخه شوه . مګر دهغوی په زنانو باندې هيڅ قسمه زور نشته بلکه هغوی ته اختيار دې چه : عدت تيريدلو نه پس چرته چه غواړي نکاح دې وکړي او پخپله دا مرتدين واجب القتل دی ، حاکم دې هغوی ته د دريو ورځو مهلت ورکړي ، که چيرته بيا د سره کلمه وئيلو سره او علانيه توبه کولو سره په اسلام کښې داخل شي نو بهتره ده او که نه نو دهغوی ستونه دې کټ کړي .

په اسلام کښې د داخليدلو باوجود دهغوی وراندينئ ښځې چه دهغوی د ارتداد په سبب سره د نکاح نه وتلې وې هغوی لره دهغوی سره په دوباره نکاح باندې نه شي مجبوره کيدلې هغوی ته اختيار دې چه هغوی سره نکاح کوی يا نورو سره ، والله تعالى اعلم

۷ صفر ۱۴۰۸ هجری

د باغيانو قتل کول

سوال: آيا د بغاتو او مفسدينو وژل جائز دی ؟ څنګه چه ايران کښې خمينی دا عمل شروع کړې دې چه ډيرو خلقو لره ئې مفسد فی الارض ګرځولو سره په تخته باندې وخيژول که چرته د داسې قسم خلقو وژل جائز وی نو په کوم صورت کښې اوپه کومو شرطونو سره جائز دی ؟ بينواتوجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : کوم سړي يا جماعت چه د حکومتِ مسلمه په خلاف بغاوت وکړی ، دهغه بغاوت ختمولو دپاره د حکومت هغه لره وژل جائز دی ، په دې شرط چه بغير د وژلو نه دهغه قوت ماتول ممکن نه وی . که چيرته د وژلو نه بغير په کومې ذريعې سره دهغه د شر لرې کول ممکن وی نو وژل يې جائز نه دی .

د قتال په صورت کښې حاکم که چيرته د عامة المسلمين نه د باغيانوپه خلاف مدد طلب کړی نو د وس اوطاقت مطابق د هغه مدد کول ضروری دی .

کوم باغي او مفسد چه د حکومت په قبضه کښې وی که چيرته دهغه قوت مات شوې وی نو هغه لره وژل جائز نه دی . اوکه چيرته دهغه په شا باندې څوک ولاړ وی يعنې طاقت ئې وی نو دهغه

فیصله د حکومت په کسانو باندې ده ، نو که غواړی هغه لره دې قتل کړی اوکه غواړی نوپه قید کښې دې باقی پریږدی د پاره ددې چه توبه ویستلوسره هغه له خپلو خیالاتو نه رجوع وکړی ، د توبې نه پس هم ترڅو پورې چه حکومت ته اطمینان نه وی شوې هغه لره قید کښې ساتل جائز دی

لیکن د غلبې موندلو په صورت کښې دهغه ماشومانو لره غلامان او ښځو لره وینځې جوړول جائز نه دی ، همدغه شان دهغه اخستلې شوی اموالو او اسلحې لره دغنیمت په طور باندې تقسیمول جائز نه دی ، وقتی طور باندې اموالو لره حصارولوسره بغاوت سړیدلو نه پس واپس ورکول ضروری دی .

قال فی التنویر: فاذا خرج جماعة مسلمون عن طاعته وغلبوا علی بلد دعاهم فیه و کشف شبهتهم فان تحیزوا مجتمعین حل لنا قتالهم بدءا حتی نفرق جمعهم ومن دعاة الامام الی ذلک افترض علیه اجابته لو قادرا (الی قوله) والامام بالخیار فی اسیرهم ان شاء قتله وان شاء حبسه (الی قوله) ولم تسب لهم ذریة وتحبس اموالهم الی ظهور توبتهم،

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی تحت (قوله حل لنا قتالهم بدءا) ولو اندفع شرهم باهون من القتل وجب بقدر ما یندفع به شرهم زیلعی (ردالمحتار ص۳۱۰ ج۳)

باقی پاتې شوه د خمینی مسئله هغه پخپله ریئس المفسدین او ابغی البغاة دې ، که چیرته دهغه په لاس سره الله تعالی څه مفسدانو او باغیانو ته سزاګانې ورکړې نو دا دهغه د ارشاد «**وکذلک نولی بعض الظالمین بعضا بما کانوا یکسبون**» او «**یذیق بعضکم باس بعض**» مصداق دې ، والله تعالی اعلم **۶ذی الحجه ۹۹ هجری**

د باغیانو د مالونو احکام

سوال :- دلته د ظفار (سلطنت عمان) په غرونو باندې دحکومت او د باغیانو په مینځ کښې جنګونه کیږی ، په یو بل باندې د بمبارئ په دوران کښې بعضې څناور لکه غوا ، چیلئ وغیره زخمی کیږی ، مګر دا نه معلومیږی چه دا څناور د باغیانو دی اوکه دخپل قوم ، که چیرته هغه زخمی څناورو لره ذبح نه کړې شی نو مرداریږی ، ددې وجه نه فوځی ځوانان هغه ذبح کوی ، که چیرته د ذبحې نه پس همداسې پریښودلې شی نو درندګان به ئې وخوری ، آیا فوځیان هغه خوړلې شی ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : کوم څناور چه د باغیانو په مقبوضه علاقه کښې وموندلې شی هغه خرڅولوسره دهغې قیمت دې محفوظ وساتلې شی چه کله هغوی د بغاوت نه توبه وکړی نو دا رقم او پیسې دې هغوی ته واپس ورکړې شی .

او کوم څناور چه پخپله علاقه کښې وموسي یا دخپلو نورو دښمنانو په مخلوطه آبادئ کښې وی یا کومو سره چه متعلق څه تحقیق نه شی کیدلې نو هغه په حکم د لقطې کښې دی اول دې دهغې تشهیر وکړې شی ، که چیرته د مالک پته په یو صورت کښې هم معلومه نشی نو دیو مسکین فوځی په ملک کښې دې ورکړې شی هغه که غواړی نو غنی فوځیانو ته یې هم هبه کولې شی لیکن د استعمالولو نه پس که چیرته د یو څناور مالک را پیدا شی نو هغه به د څناور قیمت ادا کوی.

قال فی التنویر وشرحه (وتحبس اموالهم الی ظهور توبتهم) فترد علیهم وبیع الکراع اولی لانه انفع فتح ویقاس علیه العبید نهر (ونقاتل بسلاحهم وخیلهم عند الحاجة ولا ینتفع بغیرهما من اموالهم مطلقا) ولو عند الحاجة سراج. وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی (قوله لانه انفع) ای انفع من امساکه والانفاق علیه من بیت المال اوللرجوع علی صاحبه کما یفیده کلام البحر (ردالمحتار ص۳۱ ج۳) والله تعالی اعلم

۱۴ ذوالحجه ۹۵ هجری

د فاسق بغاوت

ددې تفصیل د رسالې «سیاست اسلامیه» په آخر کښې د حضرت حکیم الامة قدس سره په تحریرکښې تیر شوې دې . دا رساله هم هغه جلد کښې د کتاب الجهاد په آخر کښې ده .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مَنْ بَدَّلَ دِيْنَهُ فَاقْتُلُوْهُ (بخاری)

«کوم مسلمان چه خپل دین بدل کړی هغه قتل کړئ»

الفتل المشتَدْ

لقتل المُرتَدْ


د مرتد د قتل د وجوب ثبوت د صحیح احادیثو او د أمت له اجماعِ نه

افاضه

حضرت فیقه العصر دامت برکاتهم

تحریر

حضرت مفتی محمد ابراهیم صاحب صادق آباد مدظله



الفتل المشتَدْ لقتل المُرتَدْ

- مرتد واجب القتل دي
- ارشاداتِ نبویه
- اجماع صحابه رضی الله عنهم
- اجماع امت
- عقل سلیم
- د مرتدینو حجت
- د مرتد نور احکام

مُرتد واجب القتل دې

سوال - د مرتد تعریف څه دې؟ د هغه سزا څه ده؟ او نور احکام یې څه دی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د ارتداد معنی ده دیو مسلمان د دینِ اسلام نه اوړیدل. امام راغب رحمه الله لیکی: **وهوالرجوع من الاسلام الی الکفر (المفردات ص ۱۹۳)**

ارتداد عام دې که ښکاره د اسلام نه واوړی مثلاً یو سړې دخپل خان دپاره د هندو. آریه. قادیانی یا د شیعه کیدلو اقرار وکړی.

یا خپل خان ته مسلمان وئیلو سره د دین په ضروریاتو کښې د کومې یوې خبرې نه انکار وکړی د دین ضروریات هغه ټول قطعی احکام دی چه په نصِ قرآن سره ثابت وی یا د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم نه په تواتر سره ثابت وی، په هغې کښې دیو حکم نه هم انکار کول کفر او ارتداد دې. مثلاً یو سړې په ژبې سره د ختمِ نبوت اقرار کوی مگر دختمِ نبوت مفهوم او مطلب داسې بیانوی چه د امت متفق علیه اجماعی مفهوم نه مختلف وی او بل هریو مفهوم کښې د اجراءِ نبوت قائل وی.

یا یو سړې د ایمان د دعوې باوجود د قرآن د تحریف عقیده لری چه یا ختمِ نبوت باندې د ایمان دعوی کولوسره هم په یو امتی کښې د نبی په شان صفات تسلیموی، مثلاً هغه لره معصوم عن الخطاء او افضل الانبیاء گرځوی نو دا سړې مرتد او زندیق دې چه د عامو کافرانو په نسبت څه زیات خطرناک او ضرری دې.

خلاصه داچه څنگه د اسلام دین پریښودل کفر او ارتداد دې همدغه شان د دین په قطعی او بدیهی خبرو کښې د یوې خبرې نه انکار کول هم کفر او ارتداد دې، گویا داسې سړې د دین باقی ټولوخبرو لره په زړه سره تسلیموي، د عمل پابند او د ... ره وی، دقرآن مجید واضحه اعلان دې:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾﴾ (۴: ۶۵)

«بیا قسم دې ستا په رب چه دا خلق (صرف زبانی ایمان ښکاره کولوسره گرځی راگرځی) عندالله دوئ مؤمنان نه کیږی ترڅو پورې چه دا خبره نه وی چه د هغوی پخپل مینځ کښې جگړه واقع وی او په هغه جگړه کښې دا خلق د دوی (صلی الله علیه وسلم) نه (او که دوی نه وی نو د دوی د شریعت نه) تصفیه ونکړی (بیا چه کله دوی تصفیه وکړی نو) د دوی په تصفیې سره پخپلو زړونو کښې د (انکار) تنگی پیدا نکړی او (هغه فیصلې) لره پوره پوره (ظاهراو باطن سره) تسلیم نکړی».

جلیل القدر تابعی حضرت جعفر صادق رحمه الله تعالی ددې آیت په تفسیر کښې فرمائی.

لو ان قوما عبدوا الله تعالى واقاموا الصلوٰة واتوا الزكوٰة وصاموا رمضان وحجوا البيت ثم قالوا الشيء صنعه رسول الله صلى الله عليه وسلم الا صنع خلاف ما صنع او وجدوا في انفسهم حرجا لكانوا مشركين ثم تلا هذه الاية (روح المعاني ص، ج)

هربوقوم كه چرته د الله تعالى عبادت وكړي ، مونځ قائم كړي ، زكوة وركړي . د رمضان المبارک روژې ونيسي او حج دبيت الله وكړي . بيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو فعل متعلق داسې اووائي چه دوی صلى الله عليه وسلم داسې ولې وكړل ؟ دهغې خلاف يې ولې ونه كړو؟ يا د هغه حكم تسليمولو كښې په زړونو كښې تنګى محسوسه كړى نو داسې قوم به مشرک او كافر وګرځى . بيا دوی هم دا آيت تلاوت كړو»

د مرتد سزا

د مرتد سزا د امت په اجماع سره وژل دی ، البته دې حده پورې اختلاف دې چه دا حكم صرف د مرتد سړی دپاره دې اوكه مرتدې ښځې ته هم شامل دې ؟

د جمهورو په نزد مرتد او مرتده دواړه واجب القتل دی ، مګر د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله تعالى په نزد مرتد واجب القتل دې او مرتده واجبة الحبس ده ، حتى تعود الى الاسلام او تموت .

د مرتد د وژلو مسئله د حاديثو په نصوصو كښې، دامت په اجماع كښې او عقل سليم سره ثابته ده . دلائل بالترتيب راروان دی :

نبوی ارشادات :

(۱) عن عكرمة رحمه الله تعالى قال: اتى علي رضي الله تعالى عنه بزنادقة فاحرقهم فبلغ ذلك ابن عباس رضي الله تعالى عنهما فقال لو كنت انا لم احرقهم نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم لا تعذبوا بعذاب الله ولقتلتهم لقول رسول الله صلى الله عليه وسلم من بدل دينه فاقتلوه (صحيح بخاري ج ص ، ج ص ، سنن نسائي ج ص ، سنن ابي داؤد ج ص ، ترمذي ج ص)

«حضرت علي رضى الله عنه ته يو څو زنديقان راوستلې شول چه هغوی لره دوی رضى الله عنه په اور كښې وسوزول . حضرت ابن عباس رضى الله عنه ته دا خبره ورسيدله نو وې فرمائيل كه چرته زه وې نو هغوی به ئې په اور كښې نه وې سوزولې ځكه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله تعالى په شان د عذاب وركولو نه منع فرمائيلې ده . او . ما به هغوی ضرور وژلې ځكه چه د حضور صلى الله عليه وسلم ارشاد دې كوم مسلمان چه خپل دين بدل كړى هغه او وژنئ »

(۲) عن ابي موسى رضي الله تعالى عنه قال اقبلت الى النبي صلى الله عليه وسلم ومعي رجلان من الاشعريين

احدهما عن یمینی والاخر عن یساری ورسول الله صلی الله علیه وسلم یستاك فكلاهما سال فقال یا ابا موسی او قال یا عبدالله بن قیس قال قلت والذی بعثك بالحق ما اطلعانی علی ما فی انفسهما وما شعرت انهما یطلبان العمل فكانی انظر الی سواكه تحت شفته قلصت فقال لن اولا نستعمل علی عملنا من اراده ولكن اذهب انت یا ابا موسی او یا عبدالله بن قیس الی الیمن ثم اتبعه معاذ بن جبل فلما قدم علیه القی له وسادة قال انزل واذا رجل عنده موثق قال ما هذا؟ قال كان یهودیا فاسلم ثم تهود قال اجلس قال لا اجلس حتی یقتل قضاء الله ورسوله ثلث مرات فامر به فقتل الحدیث (صحیح بخاری ج۲ص۱۰۲۳، سنن نسائی ج۲ص۱۷۰، سنن ابی داؤد ج۲ص۲۰۰)

« د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله تعالی عنه نه روایت دي چه زه او دوه اشعری سړی د حضورصلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو په هغوی کښې یو سړي ښما ښی طرف ته وو او بل چپ طرف ته . حضوراکرم صلی الله علیه وسلم هغه وخت مسواک وهلو . هغه دواړو د دوی صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړو چه مونږ لره حاکمان مقرر کړئ . په دې باندې حضورصلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ، ای ابوموسی ! ما عرض وکړو : قسم دې په هغه ذات چه هغه دوئ صلی الله علیه وسلم لره په حقه سره مبعوث اوفرمائیلو . ماته دې دواړو دخپل زړه خبره نه ده کړې او نه ماته پخپله ددې احساس وشو چه دوی به د منصب مطالبه کوی .

دوی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل خوک چه د حکومت طالب وی مونږ هغه ته هیچری منصب نه ورکؤو . لیکن ای ابوموسی ! تاته بلاطلبه منصب درکوم چه یمن ته لاړ شه بیا د دوی نه وروستو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم معاذبن جبل رضی الله عنه لره هم ولیږلو .

چه کله هغه ورسیدلو نو حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه هغه ته تکیه ورنزدې کړه . او دې فرمائیل تشریف کیږده ، حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه ناګهانه وکتل چه یو سړې تړلی شوي دې . پوښتنه ئې اوکړه : دا څه ماجرا ده ؟ ابوموسی اشعری رضی الله عنه اوفرمائیل : دا سړې د یهودیت نه مسلمان شو بیا د اسلام نه اوړیدلو سره یهودی جوړ شو . ابوموسی اشعری رضی الله عنه اوفرمائیل . تشریف کیږده . معاذبن جبل رضی الله عنه اوفرمائیل ترهغه وخته پورې به کینم ترڅوپورې چه د الله اود الله د رسول صلی الله علیه وسلم فیصله نافذولو سره دې مرتد لره قتل نه کړې شی . دا ارشاد ئې درې ځلې تکرار کړو . چنانچه هغه لره قتل کړې شو نو بیا کیناستلو »

(۳) ان اباهریرة رضی الله تعالی عنه قال: لما توفی النبی صلی الله علیه وسلم واستخلف ابوبكر وكفر من كفر من العرب قال عمر رضی الله عنه یا ابابكر كیف تقاتل الناس وقد قال النبی صلی الله علیه وسلم امرت ان اقاتل الناس حتی یقولوا لا اله الا الله فمن قال لا اله الا الله عصم منی ماله ونفسه الا بحقه وحسابه علی الله قال

ابوبکر رضي الله تعالى عنه والله لاقاتلن من فرق بين الصلوة والزكوة الحديث (صحيح بخاري ج ص)

«چه کله د حضور صلى الله عليه وسلم انتقال وشو او حضرت ابوبکر رضي الله تعالى عنه خليفه مقرر شو او بعضې قبائل عرب مرتد شو نو حضرت عمرفاروق رضي الله تعالى عنه اووئيل : اى ابوبکر ! تاسو صرف انکارِ زکوة باندې مرتد گرځولوسره ولې د خلقو سره جهاد کوئ ؟ حالانکه د حضوراکرم صلى الله عليه وسلم ارشاد دې ماته هغه وخته پورې دخلقوسره د قتال حکم دې ترڅوپورې چه هغوى کلمه ونه وائي چاچه کلمه اووئيله هغه خپل مال او جان ځما بچ کړو مګر دهغې په حق سره ، يعنې کلمه وئيلوسره هم هغه موجبِ قتل کار وکړو نود قتل سزاواربه ګرځيږی اودهغه حساب په الله تعالى باندې دې . حضرت ابوبکر رضي الله تعالى عنه جواب ورکړو : والله ! زه به دهغه سرې سره ضرور قتال کوم چه د مونځ او زکاة په مابين کښې فرق وکړی ، يولره منی او د بل نه انکاروکړی »

(٤) عن انس بن مالك رضي الله تعالى عنه في قصة رهط عكل، فقتلوا الراعي واستاقوا الذود وكفروا بعد اسلامهم فاتى الصريخ النبي صلى الله عليه وسلم فبعث الطلب فما ترجل النهار حتى اتى بهم فقطع ايديهم وارجلهم ثم امر بمسامير فاحميت فكحلهم بها وطرحهم بالحرة يستسقون فما يسقون حتى ماتوا . (صحيح بخاري ج ص ج ص صحيح مسلم ج ص سنن نسائي ج ص)

« د عکل قبيلې خلقو شپونکی لره اووژلو او اوښان ئې وتښتول اود اسلام نه پس ئې کفر اختيارکړو ، منادی دحضوراکرم صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې را ورسيدلو او قصه ئې بيان کړه نو دوی صلى الله عليه وسلم دهغه په تعاقب کښې يوځو کسان وليږل . لا ورځ ختمه شوې نه وه چه هغه مرتدين راوستلې شول ، دوی صلى الله عليه وسلم دهغوئ لاس ښپې کټ کړې بيا ئې دهغو په سترګو کښې ګرمه سلائی راښکله او هغه ئې په ګرمو کاڼړو والا زمکه باندې سملولو ، هغه اوبه طلب کړې مګر هغه ته اوبه ورنه کړې شوې تردې پورې چه هغو همدغه شان د ارتداد په جرم کښې د ذلت په مرګ باندې مړ شو»

(٥) عن عبدالله رضي الله تعالى عنه: لا يحل دم امرء مسلم يشهد ان لا اله الا الله واني رسول الله الا باحدى ثلاث الثيب الزان والنفس بالنفس والتارك لدينه المفارق للجماعة (صحيح مسلم ج ص سنن ابي داؤد ج ص سنن ترمذي ج ص سنن نسائي ج ص سنن ابن ماجة ص)

« کوم سړي چه مسلمانيدلوسره ګواهي ورکړی چه د الله تعالى نه سوا څوک د عبادت لائق نشته ، او زه د الله تعالى رسول يم . دهغه وينه حلاله نه ده مګر په دې دريو وجو کښې کومې يوې وجې سره ، شادی شده زانی ، د نفس په بدله کښې نفس او خپل دين لره پريښودلوسره د

مسلمانانو د جماعت نه جدا کيدلو والا ››

(٦) قالت عائشة رضي الله تعالى عنها اما علمت ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لا يحل دم امرء مسلم الا رجل زنى بعد احصانه او كفر بعد اسلامه او النفس بالنفس (صحيح مسلم ج ص ... جامع ترمذي ج ص ... سنن نسائي ج ص ... سنن ابي داود ج ص ...)

‹‹ آيا تاسوته معلومه نه ده چه حضوراكرم صلى الله عليه وسلم ارشاد فرمائيلي دي : ديو مسلمان وينه حلاله نه ده سوا ددي نه چه واده ئي كړي وى او زناكوى يا د اسلام نه پس كفر اختياركړى يا په ناحقه څوک قتل كړى ››

(٧) ان عثمان رضي الله تعالى عنه قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول لا يحل دم امرء مسلم الا باحدى ثلاث رجل زنى بعد احصانه فعليه الرجم او قتل عمداً فعليه القود او ارتد بعد اسلامه فعليه القتل (سنن نسائي ج ص ... ص ... ج سنن ابن ماجة ص ...)

‹‹ د يو مسلمان وينه د دريو خبرونو نه سوا حلاله نه ده ، شادى شده زنا وكړى نو په هغه باندي رجم دي ، عمداً قتل وكړى نو هغه باندي قصاص دي ، د اسلام نه پس مرتد شي نو واجب القتل دي ››

(٨) عن علي رضي الله تعالى عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم : سيخرج قوم في اخر الزمان حداث الاسنان سفهاء الاحلام يقولون من خير قول البرية لا يجاوز ايمانهم حناجرهم يمرقون من الدين كما يمرق السهم من الرمية فاينما لقيتموهم فاقتلوهم فان في قتلهم اجراً لمن قتلهم يوم القيامة (صحيح بخاري ص ... ج ...)

‹‹ په آخره زمانه كښي به يو قوم راوځي كم عمر والا ، كم عقل ، د ټول مخلوق په نسبت به ښائسته مركه كوى مگر دهغوى ايمان به د مرئ نه لاندي نه ځي ، د دين نه به داسي وځي څنګه چه غشي د ښكار نه وځي چيرته چه هغوى اومومئ نو قتل ئي كړئ . دهغه قاتل دپاره به په ورځ د قيامت اجر وى ›› د دي نه مراد زنديق، خوارج دى .

(٩) عن ابن عباس رضي الله تعالى عنهما قال : كان عبدالله بن سعد بن ابي سرح يكتب لرسول الله صلى الله عليه وسلم فازله الشيطان فلحق بالكفار فامر به رسول الله صلى الله عليه وسلم ان يقتل يوم الفتح فاستجار له عثمان بن عفان رضي الله تعالى عنه فاجاره رسول الله صلى الله عليه وسلم (سنن ابي داود ج ص ... سنن نسائي ج ص ...)

‹‹ عبدالله بن سعد بن سرح د رسول الله صلى الله عليه وسلم كاتبِ وحي وو ، شيطان هغه لره او غولولو نو مرتد كيدلو سره دكافرانوسره ملاؤ شو ، دوى صلى الله عليه وسلم د فتحي مكي په ورځ

دهغه د قتل حکم صادرکړو . حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه دهغه دپاره پناه طلب کړه . دوی صلی الله علیه وسلم هغه ته پناه ورکړه . » بیا هغه مسلمان شو .

(۱۰) **عن انس بن مالك رضي الله تعالى عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم دخل عام الفتح وعلى راسه المغفر فلما نزعه جاءه رجل فقال ان ابن خطل متعلق باستار الكعبة فقال اقتلوه (صحيح بخاري ص ج)**

« حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د فتحې مکې په موقع باندې مکې مکرمې ته داخل شو . د دوی صلی الله علیه وسلم په سرمبارک باندې د اوسپنې توپئ وه . چه کله دوی صلی الله علیه وسلم هغه اخوا کړه نو یو سړی راتللو سره اووئیل چه ابن خطل (مرتد) دکعبې په پردو پورې نښتې دې دوی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : هغه قتل کړئ » چنانچه هغه هم په هغه حال کښې قتل کړې شو .

(۱۱) **عن عائشة رضي الله تعالى عنها انه اتى عبدالله رضي الله تعالى عنه فقال ما بيني وبين احد من العرب حنة واني مررت بمسجد لبني حنيفة فاذاهم يؤمنون بمسيلمة فارسل اليهم عبدالله فجيئ بهم فاستتابهم غير ابن النواحة قال له سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول لولا انك رسول لضربت عنقك فانت اليوم لست برسول فامر قرظة بن كعب فضرب عنقه في السوق ثم قال من اراد ان ينظر الى ابن النواحة قتيلا بالسوق (سنن ابي داؤد ص ج)**

« حضرت حارثه بن مضرب رحمه الله تعالی د کوفې والی حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه په خدمت کښې عرض وکړو چه خما د اهلِ عرب سره هیڅ کینه نشته . لهذا رښتیا وایم چه زه د بنی حنیفه قبیلې جمات سره تیرشوم نو ومې کتل چه بنوحنیفه مسیلمه کذاب باندې د ایمان راوړلو د وجه نه مرتد شوی دی . حضرت عبدالله رضی الله تعالی عنه هغه خلقو لره را وغوښتل . چه کله هغوی راوستلې شول نو دوی د ابن النواحه نه سوا باقی مرتدینو لره د توبې مهلت ورکړو او ابن النواحه ته ئې اوفرمائیل : ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ستا متعلق دا ارشاد اوریدلې وو چه « که چرته ته قاصد نه وې نو ما به ستا سټ وهلې وې » لیکن نن ته قاصد نه ئې . بیا دوی رضی الله تعالی عنه حضرت قرظه بن کعب رضی الله تعالی عنه ته حکم ورکړو چه دعامو خلقو په وړاندې ده سټ کټکولوسره ده لره د خلقو دپاره نمونه د عبرت جوړه کړه . هغه په ډک بازار کښې دهغه سټ کټ کړو . بیا دوی اوفرمائیل کوم سړې چه ابن النواحه مرتد لره کتل غواړی نو هغه په بازار کښې مقتول پروت دې »

(۱۲) **اذا ابق العبد الى الشرك فقد حل دمه (سنن ابي داؤد ص ج)**

« چه کله غلام د اسلام نه مرتد کیدلوسره شرک طرف ته روان شی نو دهغه وینه حلاله ده »

دا هغه روایات دي چه معمولي لټون سره مونږ ته په صحاح سته کښې مخې ته راغلي دي . د حديثونو د کتابونو که لټون وکړې شي نو ددې نه زيات ملاؤيدلې شي . ليکن د حق شکاره کولو دپاره دومره حديثونه کافي دي

دصحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع

پوره مسئله باندې د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع د ټول امت په نزد حجت قطعيه دې . افضل الخلائق بعدالانبياء د سيدناصديق اکبر رضی الله عنهم خلافت منعقد کيدلوسره د ټولو نه وړاندې په کومه مسئله باندې چه بې له استثناء د فرد واحد نه پوره جماعت د صحابه کرامو رضی الله عنهم قولاً ، عملاً ، سکوتاً په هر پهلو سره اجماع منعقد شوه هغه د قتل مرتد مسئله ده . د حضوراکرم صلى الله عليه وسلم د وصال نه پس نوی مسلمان شوی قبائلو کښې هرطرف د کفر او ارتداد چپې وچليدلې . خليفۀ اول رضی الله عنه دهغوی د ختمولو دپاره د صحابه کرامو رضی الله عنهم لښکر روان کړو . هغه جنګونوکښې چه چيرته په زرګونو مرتدينو لره واصل جهنم کړې شول هغلته لويو لويو جليل القدر صحابه کرامو رضی الله عنهم هم دشهادت جام نوش کړو

مشهور مؤرخ امام ابن کثيررحمه الله تعالى د قتل مسيلمه کذاب لاندې ليکي

فكان جملة من قتلوا في الحديقة وفي المعركة قريباً من عشرة الاف مقاتل وقيل احد وعشرون الفاً وقتل من المسلمين ستمائة وقيل خمسمائة فالله اعلم وفيهم من سادات الصحابة واعيان الناس (البداية والنهاية ص ج)

« د مرو شوؤ کافرانو فوځيانو شمير لس زره اود يو قول مطابق يوويشت زره وو . په مسلمانانو کښې شپږسوه او ديوقول مطابق پنځه سوه شهيدان شو . په هغه شهداؤ کښې خه ډير اکابرصحابه او نوري معروفي هستياني هم شامل دي رضی الله تعالى عنهم اجمعين»

ديوې بلې معرکې «مرتدين اهل عمان» حال ليکي وركب المسلمون ظهورهم فقتلوا منهم عشرة الاف مقاتل (البداية والنهاية ص ج)

« مسلمانانو په هغوی باندې حمله وکړه او لس زره فوځيان ئې نيست اونابود کړل »

په هغه پوره مهم کښې خلفاء ثلاثه رضی الله عنهم هم د خليفه اول رضی الله تعالى عنه سره وږه په اوږه وو . سره ددې نه د قتل مرتد متعلق دهغه حضراتو نه جدا تصريحات هم منقول دي يو مرتد ته مهلت ورکولو نه بغير فوری طور باندې مسلمانانو قتل کړو نو حضرت فاروق اعظم رضی الله تعالى عنه په هغې باندې اوفرمايل الا ادخلتموه بيتاً واغلقتم عليه بابا واطعمتموه كل يوم رغيفا ثم استتبتموه ثلاثا فان تاب والا قتلتموه (مصنف ابن ابي شيبة ص ج وغيره)

« تاسو داسې ولې ونه کړل چه هغه لره مو په يو کوټه کښې بند کړې وې او هره ورځ مو يو چپاتی هغه ته د خوراک دپاره ورکولې . بيا مو هغه ته د توبې موقع ورکړې وې ، که چرته توبه ئې ويستلې وې نو ښه به اوکه نه نو وژلې به مو وو »

د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه نه په پورته روايت نمبر۷ کښې د حضوراکرم صلی الله عليه وسلم ارشاد تيرشوې دې چه د مسلمان وينه د دريو خبرو نه سوا حلاله نه ده .

د دې نه علاوه د دوی نه منقول دی چه : **انه كفر انسان بعد ايمانه فدعاه الى الاسلام ثلاثا فابى فقتله**

(كتاب الخراج لابى يوسف ص ۱۸۰، المحلى لابن حزم ص ۱۹۰ ج ۱۱ بحواله عبدالرزاق)

« يو سړې د اسلام راوړلو نه پس مرتد شو نو حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه هغه ته درې ځلې د اسلام دعوت پيش کړو مګر هغه انکار وکړو ، بالاخر دوی هغه لره اووژلو »

دحضرت علی رضی الله تعالی عنه نه پورته د صحيح بخاری روايت تير شوې دې چه دوی رضی الله تعالی عنه زنادقه لره ژوندی وسوزول .

او بيا نقل شوی دی چه : **قال على رضى الله تعالى عنه : يستتاب المرتد ثلاثا فان عاد يقتل . (ابن ابى شيبة ص ۲۷۳ ج ۱۰ ، سنن كبرى للبيهقى ص ۲۰۶ ج ۸)**

« مرتد ته دې دريو ورځو پورې مهلت ورکړې شی که چرته اسلام قبول کړی نو بهتره ده ، اوکه نه نو ودې وژلې شی»

د اُمت اجماع

خلفاء راشدينوسره د پوره جماعت د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجماع نقل کولو نه پس نورو حوالو پيش کولو ته ضرورت نشته خو بيا هم دې ښودلودپاره چه وروستو ټولو ادوارو کښې هم پوره امتِ مسلمه د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم په نقشِ قدم باندې قائم وو او تر ننه پورې يو فرد ته هم دهغې اجماعی حکم سره د اختلاف جرات نه دې شوې ، لاندې د مذاهبِ اربعه اود ظاهريه اجماع نقل کيږی

احناف :

قال الامام المرغينانى رحمه الله تعالى : واذا ارتد المسلم عن الاسلام والعياذ بالله عرض عليه الاسلام فان كانت له شبهة كشفت عنه (الى قوله) ويحبس ثلاثة ايام فان اسلم والا قتل . وفى الجامع الصغير المرتد يعرض عليه الاسلام فان ابى قتل (هداية ص ۵۸۰ ج ۱)

« العياذ بالله که يو مسلمان د اسلام نه واوړی نو هغه ته دې اسلام پيش کړې شی ، هغه ته که

کرمه شبهه وی نو لرې دې کړې شي »، . او دریو ورځو پورې دې هغه قید کړې شي . که چیرته مسلمان شي نو ډیره ښه ده او که نه نو قتل دې کړې شي . او الجامع الصغیرکښې دی چه مرتد ته دې اسلام پیش کړې شي . که چیرته د قبولِ اسلام نه انکار وکړی نو قتل دې کړې شي»

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: اعلم ان المرتد یقتل بالاجماع کما مر (رسائل ابن عابدین ص ج)

«یقین وکړئ چه مرتد د اُمت په اجماع سره واجب القتل دې ځنګه چه مونږ مفصلو دلائلو سره راروان یو »

مالکیان :

مالك عن زید بن اسلم رحمه الله تعالی ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال من غیر دینه فاضربوا عنقه قال مالك ومعنی قول النبی صلی الله علیه وسلم فیما نری والله اعلم من غیر دینه فاضربوا عنقه انه من خرج من الاسلام الی غیره مثل الزنادقة واشباههم فان اولئك اذا ظهر علیهم قتلوا ولم یستتابوا لانه لا یعرف توبتهم وانهم کانوا یسرون الکفر ویعلنون الاسلام فلا اری ان یستتاب هؤلاء ولا یقبل منهم قولهم. واما من خرج من الاسلام الی غیره واظهر ذلك فانه یستتاب فان تاب والا قتل ذلك اھ (موطا مالك ص)

« رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو : «د مرتد سټ اووهئ » امام مالک رحمه الله تعالی فرمائی : ددې ارشاد مطلب دادې چه کوم سړې دینِ اسلام پرېښودلو سره بل دین اختیارکړی دهغه سټ کټ کړئ ، لکه زندیق اودهغه په شان نور خلق . د غلبې موندلونه پس هغه لره د مهلت ورکولو نه بغیر دې قتل کړې شي ، ځکه چه دهغه د توبې حال نه شي معلومیدلې . دې خلقو د وراندې نه کفر پټولو اود اسلام اظهارئې کولو ددې وجه نه هغوی ته د توبې موقع دې ورنه کړې شي . اودهغوی د ژبې نه دې د توبې الفاظ قبول نه کړې شي . او کوم سړی چه اسلام پرېښودلو سره بل دین اختیارکړو اودهغې اظهار هم کوی نو هغه ته دې د توبې مهلت ورکړې شي که چرته توبه اوباسی نو ډیره ښه ده . اوکه نه نو قتل دې کړې شي »

شوافع :

(وقال الشافعی رحمه الله تعالی) فلم یجز فی قول النبی صلی الله علیه وسلم (لا یحل دم امرء مسلم الا باحدی ثلاث) احدهن الکفر بعد الایمان الا ان تکون کلمة الکفر تحل الدم کما یحله الزنا بعد الاحصان او تکون کلمة الکفر تحل الدم الا ان یتوب صاحبه (الی قوله) فلم یختلف المسلمون انه لا یحل ان یفادی بمرتد بعد ایمانه ولا یمن علیه ولا تؤخذ منه فدیة ولا یترك بحال حتی یسلم او یقتل (کتاب الام ص ج)

« امام شافعی رحمه الله تعالی فرمائی چه د حضوراقدس صلی الله علیه وسلم ارشادګرامی دې

« د مسلمان وينه د دريو خبرو نه سوا حلاله نه ده » ددې دوه مطلبه کيدلې شي يو داچه د زاني محصن په شان مرتد د توبې نه پس هم واجب القتل دې . دويم داچه په توبې سره د قتل سزا معاف کيږي . همدا راجح دې . د امتِ مسلمه په دې کښې هيڅ اختلاف نشته دې چه د مرتد نه فديه اخستل يا احسان کولوسره پريښودل . په يو حالت کښې هم پريښودل جائز نه دی . بس هم يو صورت متعين دې چه هغه اسلام قبول کړی او که نه نو هغه دې قتل کړې شی »

شارح موطا شيخ الحديث حضرت مولانا محمدزکريا صاحب ددې حديث په تشريح کښې ليکی چه

وفي المحلى قال النووي رحمه الله تعالى اجمعوا على قتله واختلفوا في استتابته فقال الائمة الاربعة والجمهور رحمهم الله تعالى انه يستتاب ونقل ابن القصار رحمه الله تعالى اجماع الصحابة رضي الله تعالى عنهم عليه . وقال طاؤس والحسن والماجشون وابويوسف رحمهم الله تعالى لا يستتاب ولو تاب نفعته توبته عندالله ولا يسقط قتله اه (اوجز المسالك ص ۳۰ ج ۶)

« امام نووی رحمه الله تعالى فرمائی چه د قتلِ مرتد په مسئله باندې د پوره امت اجماع منعقد ده او هغه ته د توبې په مهلت ورکولو کښې اختلاف دې .

د ائمه اربعه اود جمهور رحمهم الله تعالى مذهب دې چه مهلت دې ورکړې شی ، ابن قصار رحمه الله تعالى په دې باندې د صحابو رضى الله تعالى عنهم اجماع نقل کړې ده .

اود امام طاؤس ، حسن ، ماجشون اود ابويوسف رحمهم الله تعالى مذهب دې چه مهلت دې ورنه کړې شی ، که چيرته توبه اوباسی هم نو دا توبه به صرف عندالله نافع وی اود قتل حکم به نه ساقطيږی »

حنابله :

قال الامام ابن قدامة رحمه الله تعالى : واجمع اهل العلم على وجوب قتل المرتد وروى ذلك عن ابي بكر وعثمان وعلي ومعاذ وابي موسى وابن عباس وخالد وغيرهم رضي الله تعالى عنهم ولم ينكر ذلك فكان اجماعاً .

مسالة : قال ومن ارتد عن الاسلام من الرجال والنساء وكان بالغاً عاقلاً دعي اليه ثلاثة ايام وضيق عليه فان رجع والا قتل (المغني مع الشرح الكبير ص ۷۴ ج ۱۰)

« د قتلِ مرتد په وجوب باندې د علماءِ امت اجماع قائم ده او دا حکم د حضرت ابوبکر ، عمر ، عثمان ، علی ، معاذ ، ابوموسی ، ابن عباس ، خالد اود نورو صحابو رضى الله تعالى عنهم نه منقول دې او يو صحابی هم ددې نه انکار نه دې کړې لهٰذا د ټولو اجماع منعقده شوه .

مسئله : چه کوم بالغ عاقل سړې يا زنانه د اسلام نه واوړی هغه لره درې ورځې په قيد کښې

حصارولو سره د اسلام دعوت دې ورکړې شي . که چیرته اسلام طرف ته واپس راشي نو صحیح ده اوکه نه نو قتل دې کړې شي »

اهل ظواهر

د اصحابِ ظاهر مسلّم امام علامه ابن حزم ظاهری رحمه الله تعالی هم په المحلّی کښې د قتلِ مرتد مسئله د حدیثونو اود آثارِ صحابه په رڼا کښې په پوره تفصیل سره بیان کړې ده . (ص ۱۸۸ . تا ص ۱۹۴ ج ۱۱)

مرتدلره دې د جرم ارتداد نه پس قتل کړې شي یا دې مهلت ورکړې شي . اومهلت دې ورکړې شي نو ترکوم حده پورې ؟ دې باره کښې مختلف مذاهب نقل کولو نه پس موصوف خپله فیصله تحریرفرمائي :

ولیس قول من قال یستتاب مرتین باولی من قال ثلاثة ولا من قال اربعا او خمسا او اکثر من ذلك وکل هذه الاقوال بلا برهان فسقط هذا القول بلا شك فلم یبق الا قول من قال یدعی مرة فیقال له : ان من اسلم ثم ارتد قد تقدم دعاؤه الی الاسلام حین اسلم بلا شك ان کان دخیلا فی الاسلام او حین بلغ وعلم شرائع الدین هذا مما لا شك فیه وقد قلنا ان التکرار لا یلزم فالواجب اقامة الحد علیه اذا قد اتفقنا نحن وانتم علی وجوب قتله ان لم یراجع الاسلام اه (المحلی ص ۱۹۴ ج ۱۱)

« کوم حضرات چه وائي چه مرتد ته د قتل نه وړاندې دوباره مهلت دې ورکړې شي دهغوی دا قول دهغه حضراتو د قول نه څه زیات اولیٰ او راجح نه دې کوم چه مرتد ته د دریو یا څلورو یا پنځو یا ددې نه زیاتو ورځو د مهلت ورکولو قائل دي ، دا ټول اقوال بلا دلیله دي . د دوباره ملهت ورکولو قول هم یقینا وغورځیدلو . اوس صرف دهغه حضراتو قول باقي پاتې شو چه وائي چه هغه لره د وژلو نه وړاندې یوځل دې مهلت ورکړې شي .

قاضي شوکاني رحمه الله تعالی هم د قتلِ مرتد مسئله حسبِ عادت ډیره تفصیلي بیان کړې ده . (نیل الاوطار ص ۲۰۱ تاص ۲۰۲ ج ۷)

د اختصار په نظرکښې نیولو سره مونږ صرف هم هغه حواله جاتو باندې اکتفاکړو ، اوکه نه نو د ائمه حدیث . د فقهاء کبار اود نورو اساطینو تصریحات په دومره کثرت سره دي چه دهغې استقصاء دیو ضخیم کتاب موضوع ده . شاید د حدیثو یا د فقهې یو مستند کتاب به داسې نه وي چه په هغې کښې د قتلِ مرتد تفصیل نه وي

عقل سلیم

د عقل سلیم په رو سره هم د مرتد سخت کښ کول دې ځکه چه هغه د دین فطرت نه د بغاوت

جهنډه اوچتولو سره دين پورې خندا کوی . د الله تعالی اود هغه د رسول صلی الله علیه وسلم توهين کوی ، د پوره امتِ مسلمه جذباتو سره لوبې کوی . په دنيا کښې به ددې نه لويه فتنه او فساد بل څه وی ؟

د زمکې په مخ باندې يو داسې حکومت نشته چه خپل نظامِ مملکت لره داسې ګډ وډ ليدلو سره هم چپ چاپې شی او صرف تماشا کوی ، ددې وجه نه د دنيا په هرقانون کښې د باغی سزا د وژلو نه کمه نشته .

مرتد صرف د يو ملک نه بلکه د پوره انسانيت دښمن دې ، د هغه د ناپاک وجود نه انسانی معاشرې لره پاکول ضروری دی . ناسور شوې اندام کټکول غورخول بې رحمې نه ده بلکه د بدن د بقاء اود حفاظت ذريعه ده ، او د ددې نه غفلت کول مرګ ته دعوت ورکول دی .

مرتدين پخپل جرم باندې پرده اچولو دپاره څه دلائل هم پيش کوی دهغې حقيقت ستاسو په خدمت کښې اوس پيش کيږی :

د مرتدينو دلائل

رومبئ دليل : (لَآ اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ)د قرآن مجيد واضح اعلان دې ، لهذا يو مسلمان د سوچ کولو نه پس خپله نظريه بدلول غواړی نوپه جبراوزور سره هغه په اسلام کښې داخل ساتل تنګ نظری ده ددې جواب دادې چه دا قرآنی اصول پخپل ځائ کښې مسلم دی ، مګر د مرتد د سزا سره ددې څه تعلق دې ؟ ددې آيت شانِ نزول چه د سنن ابی داؤد ، نسائی ، ابن حبان وغيره په حوالې سره په ټولو معتبرو تفاسيرو کښې منقول دې دادې چه د جاهليت په زمانه کښې د انصارو د يوې زنانه چه اولاد نه کيدلو نو هغې به نذر منلو چه « که چرته الله تعالی ماته ځوئ راکړی نو هغه به زه د يهودو په مذهب کښې داخلوم ، د ځوئ په پيدائش باندې به ئې هغه نذر پوره کولو ، هم دغه شان ډيرو انصارو زنانو خپل ځامن د يهودو په حواله کړی وو ، چه کله د يهودو قبيلهٔ بنی نظير دهغوی د چلونو په بدله کښې جلاوطن کړې شو نو ددې انصاری نسل يهود هم دهغوی سره لاړل ، په دې باندې بعضې انصارو اووئيل « مونږ به خپل ځامن هغوی ته نه حواله کؤو بلکه هغوی به په زوره په اسلام کښې داخلؤو » په دې باندې دا آيت نازل شو ، په يو روايت کښې د انصارو الفاظ دی چه :

انما فعلنا ما فعلنا ونحن نرى ان دينهم افضل مما نحن عليه واما اذا جاء الله بالاسلام فنكرههم عليه فنزلت لا اكراه فى الدين (تفسير قرطبی ص۲۸۰ ج۳ وغيره)

« مونږه دې سوچ کولوسره خپل ځامن دهغوی په حواله کړی وو چه دهغوی دين زمونږ د دين نه افضل دې ، ليکن چه اوس هرکله الله تعالی مونږه ته دينِ اسلام نصيب کړو نو اوس به مونږ خپلو

خامنو لره په اسلام باندې مجبوره وو . په دې باندې دا آیت نازل شو »
شان نزول کښې مفسرینو نور هم ډیر واقعات نقل کړی دی چه ټول په توله د اصلی کافرانو سره متعلق دی . په هغه واقعاتو کښې د کوم یو مرتد لرې لرې پورې څه ذکر نشته
بیا دا آیت هم پخپل اطلاق باندې نه دې . جزیرة العرب کښې اوسیدلو والا غیراهل کتاب کافران ددې نه مستثنیٰ دی .
بلکه بعضې حضراتو دې لره منسوخ کړې دې . امام ابن کثیر رحمه الله تعالی فرمائی

وقد ذهب طائفة كثيرة من العلماء ان هذه محمولة على اهل الكتاب ومن دخل فى دينهم قبل النسخ والتبديل اذا بذلوا الجزية وقال آخرون بل هى منسوخة بآية القتال وانه يجب ان يدعى جميع الامم الى الدخول فى الدين الحنيف دين الاسلام فان ابى احد منهم الدخول فيه ولم ينقد له او يبذل الجزية قوتل حتى يقتل وهذا معنى الاكراه (تفسير ابن كثير ص ۳۱۰ ج ۱)

« د علماؤ یوه لویه ډله دې طرف ته تلې ده چه دا آیت اهلِ کتاب او هغه خلقو باندې محمول دې چه نسخ او تحریف نه وړاندې دهغوی په دین کښې داخل شو . په دې شرط چه دا خلق جزیه ورکول قبوله کړی .
اونور حضرات وائی دا آیت په قتال سره منسوخ شو . اوس ټولو خلقو ته به دینِ حنیف کښې د داخلیدلو دعوت ورکولې کیږی . که چیرته څوک دین کښې د داخلیدلو نه انکار وکړی .او نه په دین کښې مخلص کیدلوسره راتلل غواړی اونه جزیه ورکړی نوهغوی سره به قتال کیږی تردې پورې چه قتل کړې شی . داکراه همدا معنیٰ ده »

غرض داچه د (لا اکراه فی الدین) اصول عامو کافرانو سره متعلق دی . د مرتد د وژلو مسئله ددې نه بالکل جدا ده . په دې مسئله کښې مونږ د امت اجماعی موقف بالتفصیل لیکلې دې
دویم دلیل : د قتل سزا د هر مرتد دپاره نه ده بلکه خاص دهغه مرتد دپاره ده چه باغی وی لکه د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه په روایت کښې تصریح تیره شوې ده
(التارك لدينه المفارق للجماعة)
ددې جواب دادې چه په دې کښې د « المفارق للجماعة » قید احترازی نه دې بلکه واقعی دې .
هرمرتد باغی اومفسد اود مسلمانانو دجماعت نه جدا دې . اوکه نه نو نور احادیث چه وړوستو مفصل نقل کړې شوی دی په هغې کښې چرته هم ددې خبرې اشاره نشته چه د قتل د مستوجب کیدلو دپاره د ارتداد له جرم سره بغاوت هم شرط دې
که چیرته د مرتدینو دا دروغ تسلیم کړې شی نو ددې صفا مطلب دا راوځی چه ارتداد هیڅ جرم

نه دي . ځکه چه هر باغي خواه هغه مسلمان وي يا نه وي د بغاوت په حالت کښې واجب القتل وي چه هرکله د بغاوت د جرم مستقله سزا قتل دې نو دارتداد جرم لره له دې سره ديو ځائ کولو څه ضرورت دې ؟

حقيقت دادي چه د مرتد سزا قتل ده خواه هغه باغي وي اوکه مطيع وي . ځنگه چه د باغي سزا قتل ده خواه هغه مرتد وي اوکه مسلمان . دخلفاء راشدينو رضى الله تعالى عنهم اود پوره امت متوارث عمل په دې باندې شاهد دې . د احاديثو په کتابونو کښې هم د باغيانو او محاربينو اود مرتدينو د سزاگانو دپاره جدا جدا ابواب قائم کړې شوى دى . دواړو لره خلط کول د پوره امت تجهيل اود احاديثو د يو پوره باب نه انکار دې .

دريم دليل : په دنياکښې د مرتد يوه سزا هم نشته . ځکه چه دا جرم د قانون لاندې نه راځي . دا خالص أخروى معاملاتو کښې دې . په خپله قرآن مجيد ددې شهادت ورکوى :

﴿ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ (۲، ۲۱۷)

ددې دليل بې معنى والې هم ښکاره دې . له أخروى جرم کيدلو نه خو دا نه لازميږى چه په دنيا کښې دې جرم سره متعلق هيڅ پوښتنه نه وى ، داسې خو زنا . غلا . قتل ټول أخروى جرائم دى آخر په دې باندې شريعت په دنيا کښې داسې سختې سزا گانې ولې ايښى دى ؟ که چيرته د هر جرم فيصله آخرت ته پريښودلې شى نو په دنيا کښې به د جرائمو پوره آزادى ورکړې شى . آيا حضورصلى الله عليه وسلم د مرتدينو متعلق چه د قتل فيصله صادر اوفرمائيله . خلفاء راشدينو رضى الله عنهم د دوى صلى الله عليه وسلم د أرشاد په تعميل کښې مرتدين جهنم ته ونه رسول . آيا دا ټول حضرات د قرآن مجيد د مذکوره آيتونو نه نا آشنا وو ؟ العياذبالله !

څلورم دليل : يو وړوکې غوندې دليل داهم پيش کولې کيږى چه په اسلام کښې آزادئ باندې هيڅ ممانعت نشته . اسلامى رياست کښې هرسړى ته دا حق حاصل دې . اود مرتد د وژلو قانون دې حق لره سلب کوى لهذا اسلام کښې ددې هيڅ گنجائش نشته . د آزادئ فرياد کولو والا دهغه اسيران فکر فرنگ نه څوک پوښتنه وکړى چه د آزادئ څه حد هم شته اوکه نه ؟ که چيرته هرفرد لره بې واگو پريښودلو نوم آزادى وى نود وژلوتکولو . فتنه اوفساد اود بغاوت الفاظ مهمل او بې معنى پاتې کيږى . په دې باندې د پوښتنې ياد سزا جواز باقى نه پاتې کيږى . ځکه چه ددې جرائمو مرتکب دخپلې خپلې "آزادئ " مظاهره کوى . دهغوى لاره نيول بندول هغوى لره د جمهورى حق نه دمحروم کولو مترادف دې . اسلام کښې د داسې آزادئ هيڅ تصور نشته

په پخوا زمانه کښې ديو سياسى مشر اود عالم دين په مابين کښې په دې موضوع باندې يو

پنځم جلد 20

خوندوره مکالمه دنظر نه تیره شوې وه چه هغه د موضوع په مناسبت سره دلته ذکر کیږی

مستر: مولانا! تاسوخو هسې هم د غیرو په وړاندې دې صفائی ورکولو سره نه ستړی کیږی چه «زمونږ په دین کښې د فرد په آزادئ باندې هیڅ بندیز نشته ، نه مونږه د دین په معامله کښې چالره مجبوره ؤو»

مګر بل طرف ته یو سړې آزاد فکری سوچ کوی او د اسلام نه د ځان ویستلو فیصله کوی نوتاسو دهغه د وژلو فیصله صادره کوئ ، دا څه بې هوده خبره شوه ؟

مولانا: ماته اووایه چه یو غیرملکی اوسیدونکې پخپل ملک کښې ناست وی اود پاکستان مخالفت وکړی اود پاکستان په مشرانو پورې بدې ردې اووائی نو تاسو به د هغه سړی سره څه سلوک کوئ ؟

مستر: هغه خو زمونږ د قبضې نه بهر دې مونږ دهغه څه کولې شو ؟

مولانا: بنه که چیرته هغه پاکستان ته راشی اوددې ځائ شریعت قبلولو سره داسې وکړی نو بیا:

مستر: نوبیا خوبه هغه ته غدار وئیلې کیږی هغه به مونږ په ګولئ سره وژنو .

مولانا: بس! بس! هم دا مونږ د دین په معامله کښې وایو .

« که چیرته څوک کافر پخپل ملک کښې اسلام پسې بدې ردې وائی دهغه په مقدس هستیانو باندې لعنت وائی نو دهغه نه کوم حده پورې چشم پوشی ممکنه ده ،مګر یاد ساته د اسلام په حظیرة القدس کښې قدم اینبودلو نه پس که چیرته داسې وکړی نو دا غدار د هیڅ رحم مستحق نه دې » که چیرته تاسو د ملک غدار لره په ګولئ باندې ویشتلې شئ نو مونږ مسلمانان باید دخپل دین غدار لره په توپه باندې والوزوو ؟

خلاصه

داچه د قتلِ مرتد مسئله په امتِ مسلمه کښې نه مخکې مختلف فیه وه او نه اوس ده ، فلهذا د داسې بدیهی مسئلې انکار پخپله بدترین کفر او ارتداد او لائق د سټ وهلو جرم دې .

د مرتد نور احکا م

(۱) **د اعمالو ختمیدل** : د مرتد ټول نیک اعمال ضائع کیږی ، البته مسلمان کیدلو باندې دهغې قضاء واجب نه ده سوا د حج نه ، که چیرته ئې دمرتد کیدلونه وړاندې حج کړې وی نو دوباره مسلمانیدلو باندې د استطاعت په شرط سره د حج اعاده ضروری ده

د اکثرو محققوعلماؤ په نیزد د ارتداد نه وړاندې قضاشوو مونځونو قضا هم واجب ده اودهغه زمانې حقوق العباد هم واجب الاداء دی .

(۲) ښځه به بائنه کیږي د قبولِ اسلام نه پس به د سرنه نکاح کول ضروري وي.

(۳) مرتد کیدلو سره به د خپلو مالونو نه د هغه ملکیت زائله کیږي . لیکن دا زوال به موقوف وي که چیرته مسلمان شو نو ملکیت به حسبِ سابق واپس راځي .

او که په حالتِ ارتداد کښې مړ شو یا دارالحرب ته وتښتیدلو نو حالتِ اسلام کښې د ګټلې شوی ملکیت نه د اسلام د زمانې مالی حقوق ادا کولو نه پس باقي به مسلمان وارثانو ته ورکول کیږي ، اود ارتداد د زمانې ګټې نه به د ارتداد د زمانې حقوق ادا کولو نه پس باقي ټول مال به فئ ګرځولې کیږي .

(۴) نور مالی تصرفات ، بیع ، هبه ، رهن ، اجاره وغیره به هم موقوف کیږي ، که چیرته مسلمان شو نو نافذ کیږي به او که نه نو کالعدم به ګرځولې کیږي .

(۵) د مرتد وقف به باطلیږي .

(۶) د ارتداد په حالت کښې کړې شوې نکاح ، ذبیحه ، ښکار (چه بسم الله وئیلو سره ئې مثلاً د ښکاری سپی ، باز یا د غشی په ذریعې سره ویشتلې وی) ګواهی او میراث (چه هغه ته ملاویدلو) باطل او کالعدم دی .

همدارنګه د هغه مالی حقوق به حلالیږي ، د هغې ادا کول ضروري نه دی .

(۷) د حاکم وخت دپاره بهتر دی چه مرتد ته اسلام پیش کړی او درېو ورځو پورې قید کولو سره د هغه شبهات لرې کړی ، په دې دوران کښې که چرته مسلمان شی نو ډیره ښه ده او که مسلمان نشی نو هغه دې قتل کړی .

د مرتد اسلام به په هغه صورت کښې معتبر وی چه کلمهٔ شهادت وئیلو سره د اسلام نه سوا د ټولو دینونو نه د برائت اعلان وکړی ، یا فقط د هغه دین نه د بیزارئ اظهار وکړی چه هغې لره اختیارولو سره مرتد شوې وو ، رسمی طور باندې کلمه وئیلو سره به مسلمان نه ګڼلې کیږي .

(۸) مرتده چه ترڅو پورې مسلمانه شوې نه وی په قید کښې به ساتلې کیږي ، په هغه دوران کښې به د هغې وهل ټکول هم کیږي او هغې سره به هرقسمه مقاطعه ساتلې کیږي ترهغه وخته پورې چه مسلمانه شی یا هغې ته مرګ راشی ، په هغه دوران کښې که چیرته هغې لره چا اووژله نو په قاتل باندې هیڅ ضمان نشته .

دا حکم د عامې مرتدې دې ، ساحرې (جادوګرې) دپاره هم د قتل سزا متعینه ده ، د خنثی مشکل هم دا احکام دی .

(۹) د نابالغ ، مګر د عاقل ماشوم اسلام او ارتداد هم معتبر دې .

که چیرته د یو کافر ماشوم مسلمان شو یا مورپلار سره تبعاً مسلمان وو اود بلوغ نه وړاندې مرتد شو نو واجب القتل نه دې ، نه د بلوغ نه وړاندې اونه وروستو ، البته قید کولو سره او

وهلوسره هغه به په اسلام باندې مجبوره کولې کیږي ، که چیرته په هغه حال کښې چا قتل کړو نو هغه باندې ضمان نشته .

که چیرته د بالغ کیدلو نه پس هغه د اسلام اقرار وکړو بیا مرتد شو نو واجب القتل دې ، که کوم یو سړي جبراً مسلمان جوړکړې شو او هغه مرتد شو نو واجب القتل نه دې .

(۱۰) مړکیدلو باندې مرتد لره په کوم یو قبرستان کښې (خواه که دمسلمانانو وی یا د کافرانو) دفن کول جائز نه دی بلکه جدا یو کنده کنلوسره به په هغې کښې دهغه لاش واچولې شی .

محمد ابراهیم

نائب مفتي دارالافتاء والارشاد

۶ربیع الاخر۱۴۱۲ هجری

تتمه

من العبدالفقیرالی رحمة ربه الغنی الحمید رشید احمد وفقه الله لمافیه رضاه

زندیقان اودهغوئ احکام

عوام بلکه اکثرخواص هم شیعه او قادیانی وغیره زنادقه لره مرتد گنی ، حالانکه دهغوی احکام د مرتدینو نه هم زیات سخت دی .

د زندیق تعریف : چه د اسلام مدعی وی اودخپلو کفری عقائدو په ښکاره اعلان کوی اوهم **هغه کفریه عقائدو لره اسلام گرځوی .**

د دور حاضر زنادقه

(۱) شیعه گان ، دا د زندیقانو ډیره زړه فرقه ده اود ټولو نه لویه د اسلام دښمنه اود ټولو نه زیاته بدترینه اوخبیثه ډله، د زندیقانودی ، دې اخبث الخبائث فرقې اسلام او مسلمانانو ته څومره چه لوئ نقصان رسولې دې او رسوی یې دومره نقصان د زندیقانو نورو د ټولو فرقو مجموعې هم ندې رسولې بلکه دهغې لسمه حصه نقصان ئې هم نه دې رسولې .

(۲) مرزائی ، قادیانی اولاهوری ، (۳) آغاخانی ، اسماعیلی (۴) بوهری (۵) بهائی (۶) مهدوی اودهغې شاخونه ذکری وغیره (۷) منکرین حدیث ، چکړالوی او پرویزی وغیره (۸) انجمن دینداران، مدعی الوهیت د ((چن بسویشور)) بنده گان .

د زندیقانو احکام

(۱) حکومت باندې فرض دی چه دهغوی د وژلو حکم دې وکړی ، خواه خوک پخپله زندیق جوړ

شوې وی یا د پلار نیکه نه په هغه مذهب کښې راروان وی . حالانکه د مرتد اولاد واجب القتل نه دې ، همدغه شان که ښځه مرتده شی نو واجب القتل نده مگر زندیقه ښځه هم واجب القتل ده

(۲) گرفتارولونه پس دهغوی توبه قبوله نه ده ، اود مرتد توبه د گرفتارولو نه پس هم قبول ده

(۳) دهغوی د سړی یا ښځې سره دمسلمان نکاح جائزه نه ده .

(۴) دهغوی ذبیحه حرام قطعی ده .

(۵) دهغوی سره هیڅ قسمه معامله جائزه نه ده ، تجارتی لین دین کښې د سختې مجبورئ په حکم (کتاب الحظروالاباحة) کښې دې .

(۶) دهغوی په جنازه کښې شرکت جائز نه دې .

(۷) دمسلمانانو بلکه د کافرانو په قبرستان کښې هم دهغوئ دفن کول جائز ندی ، چرته یو کنده کنلو سره په هغې کښې اچولو سره دې خاوره ورگذار کړې شی .والله الهادی الی سبیل الرشاد

رشیداحمد

۱۱ذی الحجه سنه ۱۴۱۴هجری

کتاب اللقطة

د کافر لقطه

سوال: زید د یو کافر مقروض وو هغه قرضخواه هندوستان ته تللوسره چرته غائب (ورک) شو. هغه پورې د رسیدلو یو صورت هم په نظر نه راځي. زید دهغه رقم سره څه وکړي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: اولاً د خط او کتابت یا نورو ممکنه ذرائعو سره د قرضخواه یا دهغه د وارثانو پته لګولو کوشش دې وکړي. انتهائی کوشش نه پس چه کله مایوسه شي نوهغه پیسې دې صدقه کړي.

په دې صورت کښې اصل حکم خو بیت المال کښې د جمع کولو دې مګرچونکه د حکومتِ اسلامیه نه کیدلو د وجه نه بیت المال مفقود دې. ددې وجه نه دې په فقراؤ باندې صدقه کړي.

قال فی الهندیة کل لقطة یعلم انها للذمی لا ینبغی ان یتصدق ولکن یصرف الی بیت المال لنوائب المسلمین، کذا فی السراجیة (عالمگیریة ص۳ ج۲) ومثله فی الشامیة ص۳۱ ج۳، والله تعالی اعلم

۲ جمادی الاولی ۱۳۸۶ هجری

یو سړی ساعت ساز ته ساعت د جوړلو دپاره ورکړو اوبیا رانغې

سوال:- زید د ساعتونو د جوړول کار کوی خلق د جوړلو دپاره ساعتونه هغه ته ورکوی. په هغې کښې څه ساعتونه د څو کالو راهیسې هغه سره پرتې دی چه دهغې مالکان تراوسه پورې نه دی راغلی. اونه یې د آئنده راتللو اُمید شته. ساعت ساز ته دهغه مالکانو متعلق هیڅ معلومات هم نشته چه څوک دی؟ چیرته اوسیږی؟ اودغه ساعتونه دزیاتو کینبودلو سره بیکاره کیږی دهغې سره څه وکړې شی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: ساعت ساز که چیرته د مالکانو د راتللو نه مایوسه شوې وی نو هغه ساعتونه دې صدقه کړی. صدقه کولو نه پس که چیرته دیو ساعت مالک راشی نو هغه ته به اختیار وی چه هغه دغه موقوفه صدقه نافذه کو او که لقطه اوچتولو والا نه دهغې ضمان اخلی اوبیا د فقیر نه خپل ساعت اخلی که چیرته ساعت دهغه نه ضایع شوې وی نودهغه نه دې ضمان واخلی. که چیرته لقطه اوچتولو والا ضمان ادا کړو نود صدقې ثواب به ده ته ملاویږی. ساعت ساز دپاره دهغه ساعت خرڅول جائز نه دی.

قال الامام المرغینانی رحمه الله تعالی: قال فان جاء صاحبها والا تصدق بها ایصالا للحق الی المستحق وهو واجب بقدر الامکان وذلك بایصال عینها عند الظفر بصاحبها وایصال العوض وهو الثواب علی اعتبار

اجازته الصدق بها وان شاء امسکها رجاء الظفر بصاحبها.

قال فان جاء صاحبها یعنی بعد ما تصدق بها فهو بالخیار ان شاء امضی الصدقة وله ثوابها لان التصدق وان حصل باذن الشرع لم یحصل باذنه فیتوقف علی اجازته والملك یثبت للفقیر قبل الاجازة فیه وان شاء ضمن الملتقط لانه سلم ماله الی غیره بغیر اذنه الا انه باباحة من جهة الشرع وهذا لا ینافی الضمان حقا للعبد کما فی تناول مال الغیر حالة المخمصة وان شاء ضمن المسکین اذا هلك فی یده لانه قبض ماله بغیر اذنه وان کان قائما اخذه لانه وجد عین ماله (هدایة ص ۲۰ ج ۲) والله تعالی اعلم ۱۷ صفر ۱۳۸۸ هجری

که د کور مالک ورک شو نوکرایه به چاته ورکوی ؟

سوال :- زید د کرایه په کور کښې اوسیږی ، ترڅو پورې چه د کور مالک کرایه اخستله نو زید کرایه ورکوله ، مگر اوس د څه مودې نه را پدې خوا هغه غائب دې ، مارکیټ کښې دهغه دکان دې هغلته تللو سره معلومه شوه چه هغه هم بند پروت دې ، نده معلومه چه هغه ژوندې دې اوکه مړ شوې دې ؟ اوس دهغه دکان کرایه چاته ورکړې شی ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : هغه لټول ضروری دی ، که هرممکن حده پورې لټولو سره پته ونه لګیدله نو تر یوڅه وخته پورې دې انتظار وکړې شی ، که چیرته د هغه د راتللو نه بالکل مایوسه شی اودهغه څوک وارث هم موجود نه وی نو دا رقم دې دهغه د طرف نه مسکینانو باندې صدقه کړې شی ، که چیرته یو وخت کښې هغه راغلو او دا صدقه هغه منظوره کړه نو ډیره ښه ده ، اوکه نه نو هغه پوره رقم دې هغه ته دوباره ادا کړې شی ، په دې صورت کښې به د صدقې ثواب کرایه دار ته ملاویږی ، والله تعالی اعلم . ۱۶ جمادی الاخرة ۸۹ هجری

پروت قلم ملاؤ شو

سوال :- زید ته یوقلم په لاره کښې ملاؤ شو ، آیا دا قلم زید پخپله ځان سره ساتلې شی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : زید باندې دهغې اعلان واجب دې چه کله هغه ته یقین وشی چه اوس ددې مالک نه راځی نوصدقه دې کړی . که زید مسکین وینو خپل ځان سره یې هم ساتلې شی

قال فی التنویر : فینتفع الرافع بها لو فقیراً والا تصدق بها علی فقیر ولو علی اصله وفرعه وعرسه (ردالمحتار ص ۳۰ ج ۳) والله تعالی اعلم (۲۰ ربیع الثانی ۹۳ هجری)

که د ماهانه رسالې خریدارانوپورې رسول مشکل شو ؟

(۱) د مشرقي پاکستان بعضې خلقو الابقاء راغوښتلې ده ، وروستو بنګله دیش جوړ شو ، اوس دچا نهه رسالې او د چا لس رسالې باقي پاتې دی ، د ډاکخانې خرچه اوس کافي زیاته شوې ده ، دهغه ځائ نه دخلقو خطونه هم راغلل دخپلو رسالو وصولولو دپاره ، هغوی ته ما ولیکل چه دعاکوئ که منی آرډر کهولاؤ شی نو چه د کومو حضراتو رسالې حصارې شوی دی دهغوی چه څومره رقم څما سره بقایه دې هغه ټولو ته به ټول رقم ورلیږم ، لیکن منی آرډر تراوسه پورې نه دې کهولاؤ شوې.

اتفاق سره دمولانا محمدالله صاحب صاحبزاده تشریف راوړو ، ماهغوی ته اووئیل چه د ټولو حضراتو پیسې سره له پتې اود منی آرډر خرچه تاسو ته درکوم تاسو هغلته لاړشئ او دا ور ولیږئ ، هغوی منظوره کړه ، آیا په دې صورت کښې به زه د قرضه خلاص شم ؟

(۲) بیا ما هغه ته اووئیل چه په هغوی کښې به ډیر بهرنی وی چه هجرت به ئې کړې وی یا به ډیر مړه شوی وی چه دهغوی منی آرډر به واپس راځی ، لهذا دهغوی رقم دخپلې مدرسې مستحق طلباؤ ته ورکړه ، آیا د مدرسې مستحق خلقو ته ورکولوسره څما ذمه به فارغه شی ؟.

(۳) بعضې خلق خپلې رسالې په خپل لاس سره وړی چه اوس د ډیرې مودې څخه نه راځی ، څما نیت دې چه ټولې رسالې په کومه دینی مدرسه کښې مستحق طلباؤ کښې تقسیم کړم ،بیا که چیرته هغوی راغلل نوهغوی ته به یې دوباره ورکړم همدغه شان د هندوستان نه خلقو رسالې راغوښتلې ، اوس یې نه راغواړی دهغوی په باره کښې هم دا خیال دې یعنې د تقسیمولو ، بینواتوجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : (۱) که چیرته ټولې پیسې تاسو دیومعتبر سړی په لاس باندې واستوئ اود منی آرډر خرچه هم تاسو ورکړه نوستاسو ذمه دهغه قرض نه فارغه کیږی ، په دې شرط چه مالکانو ته پیسې ورسیږی، که چرته هغوی ته ونه رسیږی نو ستاسو ذمه نه فارغه کیږی

(۲) دکومو خلقو چه انتقال شوې دې دهغوی وارثان دې ولټولې شی که چیرته وارثان ملاؤ نه شی نو دا پیسې مستحقو طالبانو ته ورکولوسره ستاسو ذمه به فارغه شی.

کوم خلق چه مسافر وو هجرت ئې کړې دې که چیرته د کوشش نه باوجود هغوی پورې یا د هغوی وارثانو پورې رسیدل ونه شو نو دا پیسې هم د یو مدرسې مستحقو طالبانو ته ورکړئ ، بیا که چیرته څوک اتفاق سره راشی اوهغوی په صدقه باندې رضامند نه وی نو هغه ته به دوباره پیسې ورکول وی. (۳) جائز دې ، والله تعالی اعلم (۲۷ رمضان ۹۷ هجری)

كتاب الشركة

د پلار او ځامنو مشترکه ګټه د پلار ملکيت دي

سوال :- زيد دخپلو دوو ځامنوسره يوځائ کاروبار وکړو او يو معقول رقم ئې جمع کړو ، د زيد يو نابالغه څوئ هم وو چه اوس بالغ شوي دي ليکن هغه څه ګټلي نه دي ، اوس که چيرته زيد جمع شوي رقم په دريو واړو ځامنو کښې برابر تقسيمول غواړي نو آيا دا به جائز وي اوکه نه ؟

الجواب باسم ملهم الصواب : د پلار او ځامنو د مشترکه کاروبار په صورت کښې ټول ملک د پلار شميرلې کيږي لهذا پلار پخپل ژوند کښې چه کوم تصرف غواړي کولې يې شي اودهغه دمرګ نه پس دهغه دريم څوئ ته به هم په ترکه کښې برابره حصه ورکول کيږي .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى معزيا الى القنية : الاب وابنه يكتسبان فى صنعة واحدة ولم يكن لهما شيء فالكسب كله للاب ان كان الابن فى عياله لكونه معينا له الاترى لو غرس شجرة تكون للاب (الى ان قال) وفى الخانية زوج بنيه الخمسة فى داره وكلهم فى عياله واختلفوا فى المتاع فهو للاب وللبنين الثياب التى عليهم لاغير الخ (ردالمحتار ص٣٠ ج٣) والله تعالى اعلم (يوم العاشورا ١٣٩٧هجرى)

مشترکه ګټه کښې د ټولو برابره حصه ده

سوال : د يو سرې شپږ هالکان دي او ټول په ګټه کښې سره شريک دي ، ليکن په هغوى کښې بعضې هوښيار اوتجربه کار دي ، چه دهغوى ګټه نسبتاً زياته ده او بعضې بې محنته او سست دي چه دهغوى ګټه کمه ده ، هغه ټولو په شريکه يوه زمکه واخستله او بيا ئې خرڅه کړه ، اوس زياتې ګټې والا ورونه وائي چه په دې کښې زياته حصه زمونږه ده او نور ورونه وائي چه د ټولو حصه برابره ده . په دې دواړو فريقينو کښې دچا خبره صحيح ده او ددې رقم شرعى تقسيم به په کومه طريقه وي ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : دا رقم مشترک دې ، او په دې کښې ټول ورونه برابر حصه دار دي.

قال فى التنوير وشرحه : وما حصله احدهما فله وما حصلاه معا فلهما نصفين ان لم يعلم ما لكل وما حصله احدهما باعانة صاحبه فله ولصاحبه اجر مثله بالغا ما بلغ الخ

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : يؤخذ من هذا ما افتى به فى الخيرية فى زوج امراة وابنها اجتمعا فى دار واحدة واخذ كل منهما يكسب على حدة ويجمعان كسبهما ولا يعلم التفاوت ولا التساوى والتمييز فاجاب

بان بینهما سویة وکذا لو اجتمع اخوة یعملون فی ترکة ابیهم وانما المال فهو بینهم سویة ولو اختلفوا فی العمل والرای اهـ (ردالمحتار ص۳۰۰ ج۳)

لیکن که چیرته مشترک کاروبار کښې تفاوت معلوم شو او معین زیاتوالي په اقرار یا بینه سره ثابته شو نو په دې صورت کښې به هغې ته اعتبار وی کما هو مفهوم من العبارة المذکورة ومصرح بها فی الشامیة والله تعالی اعلم (یوم العاشوراء ۹۰ هجری)

دیو شریک دپاره د زیاتې ګټې شرط

سوال:- زید د کرایی د دوکان مالک دې چه په هغې کښې هغه کاروبار کوی ، اوس زید او بکر په هغې کښې مشترک کاروبار شروع کړو ، کاروبار کښې زید دوه زره (۲۰۰۰) او بکر شپږ زره (۲۰۰۰) روپۍ شاملې کړې . فیصله دا وشوه چه نفع به پنځه دیرش (۳۵) فیصده زید اخلی او پنځه شپته (۶۵) فیصده به بکر اخلی او همدې تناسب سره به دواړه نقصان هم برداشت کوی ، لیکن دا فیصله هم وشوه چه زید به نه څه کار کوی اونه به په انتظامی امورو کښې څه قسمه مداخلت کوی ، دهرې میاشتې په اختتام باندې به دحساب کولو نه پس نفع تقسیموی . مګر وشو داسې چه بکر خو په ابتداء کښې یو څو میاشتو پورې صحیح حساب کولو او زید ته یې نفع ورکوله ، اووروستو یې بیا حساب کول پرېښودل ، اوپه تخمینی اندازې سره ئې زید ته د نفع یو څه روپۍ ورکولې ، زید په هغه باندې اعتراض هم وکړو ، مګر بکر ټال ورکولو ، البته کله کله به ئې هغه لره د مطمئن کولو دپاره د پیسو په مقدار کښې یو لږ غوندې ردوبدل کولو ، او اوس دهغه همدا معمول دې چه په تخمینی طور هغه ته پیسې ورکوی ، اوس سوال دادې چه په دې اندازې سره د نفع تقسیم جائز دې اوکه ناجائز ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب: که چیرته د عقد په وقت کښې شریکینو کښې دیو دپاره په کاروبار کښې دڅه کار نه کولو فیصله وشوه نو دهغه دپاره دهغه د راس المال مقدار نه د زیاتې منافع شرط جائز نه دې ، د هرشریک په نفع اونقصان دواړو کښې دهغه د سرمایی مطابق حصه وی . د زید پنځه ویشت فیصد اود بکر پنځه اویا فیصده . البته زید د دوکان کرایه اخستلې شی .

دمنافعو په تقسیم کښې د حساب پوره اندازه لګول اوتحقیق ضروری دې . تخمیناً څه ورکول او اخستل جائز نه دی . ددې نه وړاندې اندازې سره چه څومره د نفعې تقسیم شوې دې په هغې باندې دې فریقین توبه او استغفار وکړی .

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی:

(قوله ومع التفاضل فی المال دون الربح) ای بان یکون لاحدهما الف وللآخر الفان مثلا واشترطا التساوی

في الربح (وقوله وعكسه) اي بان يتساوى المالان ويتفاضلا في الربح لكن هذا مقيد بان يشترطا الاكثر للعامل منهما اولا كثرهما عملا اما لو شرطاه للقاعد اولاقلهما عملا فلا يجوز كما في البحر عن الزيلعي والكمال قلت والظاهر ان هذا محمول على ما اذا كان العمل مشروطا على احدهما وفي النهر اعلم انهما اذا شرطا العمل عليهما ان تساويا مالا وتفاوتا ربحا جاز عند علمائنا الثلاثة خلافا للزفر والربح بينهما على ما شرطا وان عمل احدهما فقط وان شرطاه على احدهما فان شرطا الربح بينهما بقدر راس مالهما جاز ويكون مال الذي لا عمل له بضاعة عند العامل له ربحه وعليه وضيعته وان شرطا الربح للعامل اكثر من راس ماله جاز ايضا على الشرط ويكون مال الدافع عند العامل مضاربة ولو شرطا الربح للدافع اكثر من راس ماله لا يصح الشرط ويكون مال الدافع عند العامل بضاعة لكل واحد منهما ربح ماله والوضيعة بينهما على قدر راس مالهما ابدا هذا حاصل ما في العناية اوما في النهر. قلت وحاصل ذلك كله انه اذا تفاضلا في الربح فان شرطا العمل عليهما سوية جاز ولو تبرع احدهما بالعمل وكذا لو شرطا العمل على احدهما وكان الربح للعامل بقدر راس ماله او اكثر ولو كان الاكثر لغير العامل اولا قلهما عملا لا يصح وله ربح ماله فقط وهذا اذا كان العمل مشروطا الخ (ردالمحتار ص۳۰۱ ج۳) (غرة ربيع الاول ص۳هجری)

مشترک مال کښې بغير له اجازې نه تصرف کول

سوال :- د څلورو ورونو مشترک جائداد وو ، دهغوی د پلار انتقال وشو ، وروستو دهغه نه دوو مشرانو ورونو جائداد کښې تصرف کولو او دوه ورو کی ورونه چه عاقلان او بالغان وو دهغوی تابع وو ، ددې څلورو ورونو يوه مشترکه زمکه يو سړی بغير له اجازته خرڅه کړه ، د بائع انتقال وشو ، مشرانو ورونو د مشتری خلاف دعویٰ وکړه ، بالاخر د اتو کالونه پس دا زمکه هغوی ته واپس ورکړې شوه ، ليکن دواړو ورونو د اتو کالو حاصل مشتری تهمعاف کړو او بيا ئې زمکه دوباره دهغه په لاس باندې خرڅه کړه ، دا ټول تصرف ئې د وړو ورونو د اذن نهبغير وکړو ، اوس سوال دادې چه دا تصرف به صرف د مشرانو ورونړو په حق کښې نافذ وی اوکه د وړو ورونو په حق کښې به هم نافذ وی ؟ بينواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : مالکانوته د زمکې د خريدار نه د زمکې اجرِ مثل يعنې د تيکې د معلومو پيسو اخستلو حق وو ، د مشرانو ورونو معاف کول به صرف دهغوی په حق کښې نافذ وی د وړو ورونو حصه به معاف نه وی ، لهذا د مشتری په ذمه د زمکې اجرِ مثل نه دهغوی حصه اداء کول ديانةً واجب دی .

هسې خو وروستو چه دوو مشرانو ورونو زمکه د مشتري په لاس خرڅه کړه نودا تصرف هم صرف دهغوی پخپله حصه کښې صحیح دې ، د ورو ورونو په حق کښې صحیح نه دې ، والله تعالی اعلم (۲۹ رمضان ۸۸ هجری)

سامان کښې شرکت عنان صحیح نه دې

سوال :- زید ، بکر او عمرو مشترک کاروبار کول غواړی ، د زیدیو دوکان دې چه په کرایه باندې ئې چلوی چه دهغې قیمت دیارلس زره او کرایه پنځه دیرش روپئ ماهانه ده ، بکر او عمرو څلور څلور زره روپئ شاملوی ، دکان سره دا ټول مالیت یوویشت زره روپئ جوړیږی ، اوس فیصله دا کیږی چه د اصل نفعې نصف خو به دکار کولو والا د شرکاؤ د محنت معاوضه وی او باقی نصف به د شرکاؤ د سرمایې مطابق شرکاؤ کښې تقسیمیږی، آیا شرعاً دامعامله صحیح ده اوکه نه ؟ بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : دا شرکت عنان دې چه په هغې کښې د نقد روپو وجود شرط دې۔ د سوال په صورت کښې یو طرف سامان او بل طرف نقدې روپئ دی ، لهذا دا شرکت صحیح نه دې ، دې لره د صحیح کولو صورت دادې چه ړومبئ دې زید بکر اوعمرو لره په خپل کښې شریک کړی بیا دې برابر یا کم اوزیاته سرمایه جمع کړی او د شرکت عقد دې وکړی۔

قال فی التنویر وشرحه : ولا تصح معاوضة وعنان ذکر فیهما المال والا فهما تقبل ووجوه بغیر النقدین والفلوس النافقة والتبر والنقرة ای ذهب وفضة لم یضربا ان جری مجری النقود التعامل بهما۔

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی تحت قوله (بغیر النقدین) فلا تصحان بالعرض ولا بالمکیل والموزون والعدد المتقارب قبل الخلط بجنسه واما بعده فکذلک فی ظاهر الروایة فیکون المخلوط شرکة ملک وهو قول الثانی رحمه الله تعالی وقال محمد رحمه الله تعالی شرکة عقد (ردالمحتار ص ۳۰۰ ج ۳) والله تعالی اعلم (۱۱ ذی لقعده ۸۸ هجری)

په شریک کاروبار کښې نقصا ن وشو

سوال :- که دوه زره روپئ د بکر او زر روپئ د زید وی اوپه کاروبار کښې نقصان وشی نو زید باندې به څومره نقصان راځی او په بکر باندې څومره ؟ بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : هغه نقصان به اول له نفع نه پوره کیږی ، که چیرته نفع نه پوره کیږی نو دواړو باندې به په قدر د حصې نقصان راځی ، یعنې د زرو روپو والا باندې به دریمه حصه او په دوه زرو والا باندې به دوه یمه حصه وی، والله تعالی اعلم (۱۷ ذی قعده ۸۸ هجری)

هر شریک ته د شرکت ختمولو اختیار دي

سوال :- زید دیوځو نورو شرکاؤ سره یوځائ مشترک کاروبار دپاره یو دوکان واخستلو ، هغوی سره عمرو هم د شرکت کولو خواهش ښکاره کړو نو هغه په دې شرط باندې شریک کړې شو چه هغه به د معمول مطابق د قرآن د تعلیم په خدمت کښې مشغول وی او کاروبار کښې به هیڅ قسمه دخل نه کوی ، همدارنگه دا فیصله هم وشوه چه زید به کار زیات کوی ، ددې وجه نه به په منافعو کښې دهغه حصه هم زیاته وی یعنې خلویښت فیصده نفع د زید دپاره او شپېته فیصده د باقي دشرکاؤ دپاره ، څه موده تیریدلو نه پس شریکان د زید په خیانت باندې خبر شول ، ددې وجه نه هغوی هغه لره د شرکت نه جدا کول غواړی ، آیا شرعاً هغوی ددې حق لری ، همدارنگه دزید مطالبه ده چه د جدا کیدلو په صورت کښې د دوکان موجوده قیمت لګولومره هغه ته دې دهغه حصه ورکړې شی ، ځکه چه د دوکان موجوده قیمت د وراندې نه زیات دې آیا د زید دا مطالبه صحیح ده ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : هرشریک ته هروخت اختیار دې چه د نورو شرکاؤ د رضا نه بغیر چه کله غواړی شرکت لره دې ختم کړی ، په دې صورت کښې د مشترکه څیزونو قیمت لګولو سره اصل دحصې په اندازه او منافع دې د شرط مطابق تقسیم کړې شی .

که چیرته دیو څیز اخستلو هرشریک خواهش مند وی نو د نیلام په صورت کښې چه کوم شریک زیات قیمت باندې اخستلو ته آماده وی هغه ته دې ورکړې شی .

لهذا د شرکاؤ د زید شرکت لره ختمول صحیح دی خواه ددې څه معقوله وجه وی اوکه نه وی ، البته زید د موجوده دوکان د قیمت نه دخپلې حصې مستحق دې اوکه چیرته د ټولو شرکاؤ نه زیات قیمت ورکولوسره دکان پخپله ځان سره ساتی نو زید ته ددې هم اختیار دې څنګه چه نورو شریکانو ته هم دا اختیار ې .

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی : وفی البحر عن البزازیة اشترکا واشتریا امتعة ثم قال احدهما لا اعمل معك بالشرکة وغاب فباع الحاضر الامتعة فالحاصل للبائع وعلیه قیمة المتاع لان قوله لا اعمل معك فسخ للشرکة معه واحدهما یملك فسخها وان کان المال عروضا بخلاف المضاربة هو المختار ه(رد المحتار ص ۳۰۳ ج۳)والله تعالی اعلم (۴ ربیع الاول ۸۹ هجری)

د شریک د اذن نه بغیر تصرف جائز نه دې

سوال :- عنایت الله اوعلی محمد دواړو په پنځه دیرش زرو روپئ ګاډې واخستلو چه په هغې کښې شپاړس زره روپئ یې نقدې ادا کړې او نولس زره رپئ یې یوې میعنی موده پورې قرض پاتې

شوي. دوو یا دریو مباشرو نه پس علي محمد ایران ته لاړو چه هرکله د روپو ورکولو وخت راغې نو عنایت الله سره پیسې نوې . قرض غوښتونکي عنایت الله مجبور کړو چه روپۍ ورکړي اوکه نه نو هغه به په گاډي باندې قبضه وکړي . مجبوره کیدلو سره عنایت الله گاډې په دیرش زرو باندې خرڅ کړو . څو ورځې پس علي محمد هم راغې او اعتراض ئې وکړو چه تا د پنځو زرو په نقصان باندې گاډې ولې خرڅ کړو ؟ عنایت الله خپل عذر پیش کړو چه مالک ډیر تنګ کړم آخر مې څه کړې وې ؟ اوس آیا دا بیع وشوه اوکه نه او نقصان به په چا باندې راځي ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب صرف د عنایت الله د حصې بیع صحیح ده . گاډې د علي محمد اوه خریدار په مینځ کښې شریک دې ، که چیرته خریدار په اشتراک باندې راضي نه وي نو هغه بیع لره فسخ کولو سره گاډې واپس کولې شي .

قال في شرح التنوير : لو حمام وطاحون وعبد ودابة حيث يصح بيع حصته اتفاقاً اهـ (رد المحتار ص ـ ج ۴)

والله تعالى اعلم (شعبان ـ هجري)

مشترکه زمکه کښې یې بغیر دشریک د اجازت نه بوټي ولګول

سوال - دوه سړي په یوه زمکه کښې شریکان دي یو شریک د کهجورو ونې په مشترکه زمکه کښې وکرلې ، څو کاله پس چه کله ونو میوه نیول شروع کړل نو کرلو والا شریک اووئیل چونکه ما ونې لګولې دي ددې وجه نه زه دویم شریک ته حصه نه ورکوم .

دویم شریک وائي چه چونکه تاسو په مشترکه زمکه کښې بلا اجازته بوټي کرلي دي ددې وجه نه دا بوټي به هم تقسیم کیږي ، اوس به په دې صورت کښې څه فیصله کیږي ؟

واضحه دې وي چه زمونږ په کلو کښې دا عرف دې چه د کهجورو ونې لګولو والا ته نیمې ونې ملاویږي لیکن دا نیمې هغه وخت ورکوي چه کله دزمکې د مالک اجازت صراحةً یا دلالةً موجود وي ، بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دا زمکه به په دواړو کښې تقسیمیږي . د بوټي لګولو والا په حصه کښې به دهغه بوټي برقرار پاتې وي . اود دویم شریک د حصې نه بوټي لګولو والا دې خپل بوټي وباسي اوبوټي ویستلو سره چه په زمکه کښې کوم نقصان راځي هغه دې دهغې مالک ته ادا کړي

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : ارض بينهما زرع احدهما كلها تقسم الارض بينهما فما وقع في نصيبه الزرع وما وقع في نصيب شريكه امر بقلعه وضمن نقصان الارض هذا اذا اراد صاحب الزرع فلو ادرك او قرب يغرم الزارع لشريكه نقصان نصفها لو انتقصت لانه غاصب في نصيب شريكه (رد المحتار ص ـ ج ۴)

که چیرته بوټي ویستلو سره زمکې ته زیات نقصان رسیږي نود زمکې مالک ته اختیار دې چه

هغه پخپله حصه کښې د لګولې شوو بوټو قيمت ادا کولو سره دهغې مالک دې جوړ شي قيمت به دهغه بوټو لګولې کيږي چه واجب القلع وي .

قال في التنوير : ومن بنى او غرس في ارض غيره بغير اذنه امر بالقلع والرد وللمالك اخذها بقيمتها مستحقة القلع اما لو نقصها القلع فلا بل يأخذ ارضه ويقلع الاشجار ويضمن النقصان ساعاني عن المقدسي (ردالمحتار ص۳۰ ج۵) والله تعالى اعلم (۰ذي الحجه ۰۰هجري)

شرکت کښې د نفع د تعيين اصول

سوال :- دوو سړو په شريکه يو کتاب چهاپ کړو ، په هغوی کښې يو هغه کتاب لره خرڅوی اوچه څه نفع کيږي هغه حصه مساوی اوياکم وزيات څنګه چه فيصله شوی وی پخپل مينځ کښې تقسيموی ، آيا داسې قسم شرکت شرعاً جائز دې ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : هو ! جائز دې ، البته که چيرته عقد کښې پوره يا اکثر کار ديو شريک په ذمه باندې مشروط وی نو د دويم شريک دپاره دهغه حصه د راس المال نه د زياتې نفع شرط جائز نه دې که چيرته نفسِ عقد کښې دا شرط نه وی بلکه تبرعاً کار کوی نو د کار نه کولو والا دپاره هم د زياتې نفع شرط جائز دې ، والله تعالى اعلم (۸محرم ۹۲ هجری)

د مشترکه کور بغير له اجازت نه ترميم کول

سوال :- د زيد په تحويل کښې دهغه د مرحوم پلار متروکه يو کور دې چه لا تراوسه په وارثانو کښې تقسيم شوې نه دې ، دکور يوې حصې نه چه کومه کرايه حاصله شوه هغه زيد د ټولو وارثانو حق ګڼلو سره بطورامانت محفوظه وساتله، دې دپاره چه شرعی تقسيم وشی ، هپه همدې دوران کښې د کور يوه حصه د زړه کيدلو د وجه نه د ترميم قابله شوه ، د کور په شرعی تقسيم کښې د دفتری کارروائې د وجه نه تاخير کيږي ، زيد سره دومره ګنجائش نشته چه هغه د کور دهغه حصې ترميم وغيره وکړی ، نو آيا په دې صورت کښې له هغه کرايه نه حاصلې شوې روپۍ چه زيد سره امانت دی هغې سره د کور ترميم کولې شی اوکه نه ؟ که چيرته د کور ترميم ونشی نود خرڅولو په وخت بيا کور پوره قيمت نکوی ، همدارنګه دا هم ارشاد اوفرمايئ چه که چيرته په دې پيسو باندې د کور ترميم کيدلې شی نود نورو وارثانو نه به دهغه پيسو خرچ کولو اجازت اخستل ضرور وی اوکه نه ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : که چيرته کور وارثانو کښې قابلِ تقسيم وی نود شريکې کرايې پيسې خرچ کولو دپاره د نورو شرکاؤ نه اجازت اخستل ضروری نه دی .

اوکه چيرته کور قابلِ تقسيم نه وی يعنې د تقسيم په صورت کښې ناقابلِ انتفاع جوړيږي نو د

نورو شرکاؤ نه په ترمیم باندې د خرچ کولو اجازت اخستل ضروري دې ، که چیرته هغوی اجازت نه ورکوی نو حاکم ته درخواست ورکولو سره هغه په مرمت باندې مجبوره کولې شی ، که چرته د حاکم نه ددې امید نه وی نو دشرکاؤ د اجازت نه بغیر هم په ترمیم باندې دهغوی پیسو خرچ کولو گنجائش معلومیږی .

لانه صار مضطرا الی المرمة کالمشترك الذی یحتمل القسمة.

قال العلائی رحمه الله تعالی: والضابط ان کل من اجبران یفعل مع شریکه اذا فعله احدهما بلا اذن فهو متطوع والالا ،ولا یجبر الشریك علی العمارة الا فی ثلاث وصی وناظر وضرورة تعذر قسمة ککری نهر ومرمة وقناة وبئر ودولاب وسفینة معیبة وحائط لا یقسم اساسه فان کان الحائط یحتمل القسمة ویبنی کل واحد فی نصیبه السترة لم یجبروا الا اجبر وکذا کل ما لا یقسم کحمام وخان وطاحون وتمامه فی معفرقات قضاء البحر والحمی والاشباه(ردالمحتار ص۳۰۰ ج۲)والله تعالی اعلم (۳ربیع الثانی ۹۰ هجری)

نابالغ سره مشترک مصارف

سوال :- دمرحوم د کونډې په نوم یو څه پیسې د پینشن په طور د لسو کالودپاره منظورې شوې دی ، او شپږویشت روپۍ هره میاشت ورکول هم شروع شوی دی ، همدغه شان نورامدادی فنډ نه شپاړس روپۍ هره میاشت دماشومانو تربلوغ پورې منظورې شوی دی چه هره میاشت ورته اوس ورکول کیږی، کونډه او څلور ماشومان چه په هغې کښې دوه بالغان دی دا ټول یوځائ اوسیږی او یوځائ خوراک څښاک کوی ، نو آیا دا کونډه به دغه پیسې په مجموعه خرچه کښې صرف کو اوکه علیحده کولو سره د اخراجاتو حساب به ساتی ، بینواتوجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : چه کومې پیسې د نابالغو دپاره منظورې شوی دی هغه په بالغانو باندې خرچ کول جائز نه دی ، صرف د نابالغو په مصارفو کښې دې خرچ کړې شی ، البته خوراک څښاک کښې د ټولو حساب مشترک ساتلې شی ، والله تعالی اعلم (۲۹ رمضان ۹۷ هجری)

شرکت سره له مضاربت نه جائز دې

سوال :- د زید اوعمرو په مینځ کښې دا فیصله وشوه چه دواړه به په کاروبار کښې برابره سرمایه اچوی عمرو به چونکه کار هم کوی لهذا دکار په عوض به د عمرو نیمه گټه وی ، او باقی نیمه به د اصل سرمایه مطابق دواړو کښې برابره تقسیمیږی ، نو آیا دا طریقه شرعاً جائز ده اوکه نه؟ که چیرته جائز وی نوآیا دا صفقة فی صفقة یا عقدبشرط کښې داخله نه ده ؟ بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : شرکت کښې عمل من الجانبین شرط دې چه دلته مفقود دې ددې

وجه نه دا شرکت نه دې بلکه مضاربت دې ، بيا که چيرته د رب المال د طرف نه مال لګول د شرط په درجه کښې نه وی نو هيڅ اشکال نشته ، اوکه چيرته مشروط وی نوبيا هم مضاربت اوشرکت کښې د ملايمت د وجه نه جائز دې . چونکه په دې صورت کښې مضاربت اصل دې او شرکت بالتبع دې ، له همدې وجه نه د عمل من الجانبين شرط مرتفع شو .

همدغه شان اشتراط العمل من الجانبين سره تفاضل فی الربح هم ددې وجه جائز دې چه داد اول صورت برعکس اصل کښې شرکت دې او مضاربت بالتبع دې ، ددې وجه نه اشتراط العمل علی الجانبين مضر نه دې .

قال ابن عابدين رحمه الله تعالى في الشركة : وفي النهر اعلم انهما اذا شرطا العمل عليهما ان تساويا مالاً وتفاوتا ربحاً جاز عند علمائنا الثلاثة رحمهم الله تعالى خلافاً لزفر رحمه الله تعالى والربح بينهما على ما شرطا وان عمل احدهما فقط وان شرطاه على احدهما فان شرطا الربح بينهما بقدر راس مالهما جاز ويكون مال الذي لاعمل له بضاعة عند العامل له ربحه وعليه وضيعته وان شرطا الربح للعامل اكثر من راس ماله جاز ايضا على الشرط ويكون مال الدافع عند العامل مضاربة ولو شرطا الربح للدافع اكثر من راس ماله لا يصح الشرط ويكون مال الدافع عند العامل بضاعة لكل واحد منهما ربح ماله والوضيعة بينهما على قدر راس مالهما ابدا هذا حاصل ما في العناية اهـ ما في النهر . قلت وحاصل ذلك كله انه اذا تفاضلا في الربح فان شرطا العمل عليهما سوية جاز ولو تبرع احدهما بالعمل و كذا لو شرطا العمل على احدهما وكان الربح للعامل بقدر راس ماله او اكثر ولو كان الاكثر لغير العامل اولا قلهما عملا لا يصح وله ربح ماله فقط هذا اذا كان العمل مشروطا الخ (ردالمحتار ص۱۱۰ ج۴)

وقال العلامة الرافعي رحمه الله تعالى : (قوله وان شرطاه على احدهما فان شرطا الربح بينهما بقدر الخ) في الدرر من كتاب المضاربة مانصه والثالث اى من شروط المضاربة تسليمه الى المضارب حتى لا تبقى لرب المال فيه يد لان المال يكون امانة عنده فلا يتم الا بالتسليم كالوديعة بخلاف الشركة لان المال في المضاربة من احد الجانبين والعمل من الجانب الآخر فلا بد ان يخلص المال للعامل ليتمكن من التصرف فيه واما العمل في الشركة فمن الجانبين فلو شرط خلوص اليد لاحدهما لم تنعقد الشركة لانتفاء شرطها وهو العمل منهما اهـ وظاهر ما فيها ينافي مانقله المحشي ويقال في دفع المنافاة ان شرط العمل منهما شرط لتحقق الشركة واذا شرط على احدهما تكون مضاربة او بضاعة على ماذكره المحشي تأمل (الى قوله) وتخصيص العمل باحدهما يخرج المسئالة عن ان تكون من مفردات مسائل الشركة بل هي حينئذ بضاعة ان شرط العمل على احدهما مع التساوي في الربح و مضاربة ان شرط الفضل للعامل (التحرير المختار ص۰۰ ج۴)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : ذكر محمد رحمه الله تعالى في الاصل اذا جاء احدهما بالف درهم والآخر

بالفين واشتركا على ان الربح بينهما نصفان والعمل عليهما فهو جائز ويصير صاحب الالف الا المضارب الا ان معنى المضاربة تبع لمعنى الشركة والعبرة للاصل دون التبع فلا يضرهما اشتراط العمل عليهما (منحة الخالق على البحر الرائق ص ۔ ج ۔) والله تعالى اعلم (۲۰ محرم ۔ هجری)

د پلار او خوئ د مشترک جائداد حکم

سوال :- څه فرمائي علماء کرام چه د رحیم بخش نومی سړی دوه خامن دي یو کریم بخش ، او بل دهنی بخش ، دواړه له یو بل نه جدا دی ، کریم بخش دجدائي نه یوکال پس پلار سره شریک شو او ددي شرکت شپاړس کاله موده تیره شوه ، بیا رحیم بخش وفات شو، نو اوس به د مرحوم ترکه په کومه طریقه تقسیمیږی ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د اشتراک په وخت کښې د دواړو په مالونوکښې چه کوم تناسب وو دهغې مطابق ترکې نه د کریم بخش د حصې هغه په خپله مالک دی ، باقی ترکه به تولو وارثانو باندې په قدر د حصې تقسیمیږی ، والله تعالی اعلم (۸ صفر ۹۹ هجری)

مشترک کور کښې بغیر له اجازت نه د تعمیر حکم

سوال - د زید انتقال په ۱۹۷۳ء کښې وشو او لاندې وارثان ئې پرېښودل :

(۱) یو ښځه (۲) نهه خامن (۳) شپږ لونړه . د والدینو انتقال د مرحوم نه رومبی شوې وو .

ټول وارثان په خپله خپله حصه کښې اوسیږی صرف بکر د پلار په کور کښې اوسیږی ، په دې دوران کښې د نورو وارثانو د اجازت نه بغیر بکر د پلار په کور کښې یو پخلنځې اود دوو کوټې نورې اضافه کړې ، د پلار د وفات نه شپاړس کاله پس وارثانو دا فیصله وکړه چه دا پلاټ (حصه) دې خرخ کړې شی او پیسې دې په ټولو وارثانو باندې تقسیم کړې شی ، ټولو عمر ته مختارنامه ورکړه اوهغه یې امیر جوړ کړو ، بکر هم خپله مختارنامه عمر ته ورکړه ، مگر دوه درې ورځې پس بکر دخپلې مختارنامې نه رجوع وکړه چه ماته دې دخپلې اضافه آبادئ قیمت جدا راکړې شی چه تقریباً شپېته زره روپۍ جوړیږی اوکه نه نو زه مختار نامه نه درکوم ، او دا خبره یې په اخبار کښې شائع کړه ، عمر مجبوراً دهغه دا شرط قبول کړو ، د عمر په زړه کښې وو چه دا صرف یوه حیله ده چه کور خرخولو باندې بکر آماده شی اوکه نه نو ډیر مشکلات به مخې ته راشی .

کور خرخ کړې شو عمر دوعدې مطابق پیسې په ټولو وارثانوکښې د خپلو خپلو حصو په اندازه تقسیم کړې ، اوس بکر دعوئ کوی چه ماته د اضافی آبادئ پیسې راکړه چه دهغې تا وعده کړې وه ، اوس د پوښتنې وړ دا لاندې امور دی :

(۱) د بکر خرخولو په وخت کښې دا شرط لګول چه ماته دې د اضافی آبادئ پیسې هم راکړې

شی جائز اوکه نه ؟

(۲) د بکر په مشترک ځائ کښې بغیرد اجازت د وارثانو نه اضافی آبادی کول جائز وو اوکه نه ؟

(۳) عمر چه بطورِ حیله د پیسو ورکولو وعده کړې وه دا وعده پوره کول ضروری دی اوکه نه ؟

(۴) بکر ته دخپل پلار د وفات نه پس د اضافی آبادئ پیسې اخستل پکار دی اوکه نه؟

(۵) که چیرته بکر د پیسو حقدار وی نو د څومره پیسو حقدار دې ؟ او اوس چه هرکله پیسې په تولو وارثانو کښې تقسیم کړې شوی دی نو آیا د تولو نه دې واپس واخستلې شی یا بل کوم صورت اختیار کړې شی ؟ بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : بکر د داسې عمارت قیمت اخستلې شی چه دهغې د غورځولو فیصله کړې شوې وی چه شاید د ملبې د قیمت نه به زیاته نه وی ، هروارث دې بقدرحصه بکر ته اداء کړی ، والله تعالی اعلم (۲۳ذیقعده ۱۴۱۰ هجری)

مشترکه زمکه کښې بغیر له جازت نه مسجد جوړول

دا بحث په کتاب الوقف باب المساجد کښې راروان دې .

خپل شریک له ځان سره د شریک په طور ساتل

دا بحث په کتاب الاجاره کښې دې .

كتاب الوقف

د جمات یا د مدرسې ته قرآن یا بل څه کتاب بل ځائې ته وړل

سوال - د شریعت مطهره حکم په دې حقله څه د ې چې د جمات ته وقف شوې قرآن مجید بل ځائې ته منتقلول، یا د یوې مدرسې کتاب بلې مدرسې ته اوړل روا دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب: که چیرې واقف د خاص جمات یا د خاص مدرسې د پاره قرآن یا کتاب وقف کړې وی، نو بیا ئې بل ځائې ته وړل روا نه دی۔ **والتفصیل فی کتاب الوقف من الهندیة. والله سبحانه وتعالی اعلم.** **سلخ ذی الحجه ۱۳۷۲ هجری**

د یوې مدرسې څیزونه بلې مدرسې ته مُنتقل کول

سوال - د جمات انتظامیې یو عالم راوستلو او هغه ته ئې د جمات امامت او خطابت وسپارلو. عالم ورسره دا شرط کینبودلو چې مدرسه دې ورسره هم وی. نو انتظامیې ورله د جمات سره سره مدرسه هم جوړه کړه، او دغه عالم ئې د دې مهتمم وټاکلو، د کمیټۍ ارکانو د دې متعلق یو لیك هم تیار کړو په کوم باندې د ټولو دستخطونه شته دی.

څه وخت پس د محلې خلق د دغه عالم مخالف شول او دا مطالبه کول ئې شروع کړل چې دا عالم دې د دې مدرسې او د جمات نه خارج کړې شی.

اوس پوښتنه دا ده چې دا عالم ددې ځائې نه منتقل کیدل غواړی او نوې مدرسه جوړول غواړی، آیا دا روا دی چې د رومبۍ مدرسې ټول هر څه ملبه او جمع شوې پیسې د خان سره یوسی او هلته پرې بله مدرسه جوړه کړی او په هغې باندې ئې ولګوی او که نه؟. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که چیرې ذکر کړې شوې عالم خپل فرائض په پابندۍ سره ادا کوی او د څه قسمه خیانت د هغهٔ نه نوی شوې، نو بې د څه وجې نه د محلې د خلقو د هغهٔ خلاف کیدل او د هغهٔ د لرې کولو مطالبه کول روا ندی.

د مدرسې ملبه یا جمع کړې شوې پیسې په هیڅ صورت کښې منتقل کول روا ندی، دا څیزونه به د همدې مدرسې او جمات سره خاص وی. **والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۱ جمادی الاولی ۱۳۹۱ هجری**

د پورتنی سوال په شان یوبل سوال

سوال - یو مولوی صاحب په مدرسه کښې په تنخوا مدرس مقرر کړې شو. څهٔ وخت پس انتظامیې په هغهٔ باندې اعتماد او باور وکړو او هغهٔ ته ئې د مدرسې اهتمام هم وسپارلو. په دې دوران کښې رسیدونه چاپ کړې شو او د مدرسې د پاره چنده هم کیدله. او کتابونه هم دمدرسې د

پاره واخستي شو، خو کاله پس دې مولوی صاحب بې د اجازت نه مدرسه پرېښودله او نزدې علاقې ته لاړو، او د نوې مدرسې بنیاد ئې کېښودلو، اوس پوښتنه دا ده چه:

۱- آیا دغه مولوی صاحب د انتظامیې په اجازت سره یا بې د اجازته د سابقه مدرسې پیسې او وقف شوی کتابونه دې نوې مدرسې ته منتقلولې شی؟

۲ - د سابقه مدرسې په چاپ شوې رسیدونو باندې دې مدرسې ته چنده کولې شی او که نه؟

دا خبره دې په تاسو باندې واضحه وی چې د دې مدرسې نوم هم د سابقه مدرسې د نوم مطابق اېښودلې شوې دې.

دا فیصله هم راته ولیکئ چې مدرسه به د چا وی؟ آیا د مقامی آبادئ د مدد کوونکو، او که د مهتمم؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: ۱ - د سابقه مدرسې د پاره وقف کړې شوې کتابونه او د چندې پیسې بلې یوې ادارې ته منتقل کول روا نهٔ دی، نه د انتظامیې په اجازت سره او نهٔ بې د هغې د اجازت نه.

۲ - دا روا نهٔ دی، د نوې مدرسې نوم د سابقه مدرسې نه بیل اېښودل پکار دی.

۳ - مدرسه د هیڅ یو انسان هم ملکیت نهٔ وی، دا صرف د الله تعالی د پاره وقف وی، البته د محل وقوع یا د مقامی آبادئ ارخ ته مجازاً ددې نسبت کولې شی او دا روا دی. **والله سبحانه وتعالى اعلم.**

۱۰ ربیع الاول ۱۳۹۸ هجری

د یو قرآن غلاف یا جلد بل قرآن ته منتقلول

سوال:- د قرآن مجید په ضعیف کېدلو سره ددې جلد بل قرآن مجید ته منتقلول یا د یو قرآن مجید غلاف بل قرآن مجید ته منتقل کول روا دی او که ناروا دی؟

الجواب و منه الصدق والصواب: که چیرې قرآن مجید وقف نه وی نو مالك ته ئې اختیار دې چې د دې جلد یا غلاف بل قرآن مجید ته منتقل کړی، او که چیرې قرآن مجید ئې وقف کړې وی نو بالطبع ورسرهٔ غلاف او جلد هم وقف دې، په دې صورت کښې د یو قرآن مجید نه د استغناء په حالت کښې ددې د جلد او دغلاف په حقله څه جزئیه خو مې د نظر لاندې رانغله، البته د جمات په آلاتو باندې قیاس کېدلې شی، د جمات د آلاتو حکم دا دې، چې په وخت د استغناء کښې دغه څیزونه د جمات د مالك ملکیت ته واپس راځی، لهذا دا د مالك په اجازت سره بل ځائې ته بیا منتقل کېدلې شی، (الشامیة کتاب الوقف)

سلخ ذی الحجه ۱۳۷۲ هجری

په زوړ قبرستان باندې جمات جوړول جائز دی

سوال - په یوه زړه مقبره کښې چې د قبرونو نښې هم ختمې شوې وی،او خلقو بیا په هغې کښې مړی ښخول هم پریښې وی،آیا په داسې قبرستان باندې جمات جوړول روا دی او که نه؟

الجواب و منه الصدق والصواب : په دې قبرستان کښې که خلقو مړی ښخول پریښې وی او د وراندینو قبرونو نښې نښانې په کښې ورانې شوې وې نو د مالك په اجازت سره په دغه ځائې کښې جمات جوړول روا دی۔

قال الحافظ العینی رحمه الله: فان قلت هل یجوز ان تبنی المساجد علی قبور المسلمین؟ قلت قال ابن القاسم رحمه الله لو ان مقبرة من مقابر المسلمین عفت فبنی قوم علیها مسجدا لم ار بذلك باسا و ذلك لان المقابر وقف من اوقاف المسلمین لدفن موتاهم لا یجوز لاحد ان یملکها فاذا درست واستغنی عن الدفن فیها جاز صرفها الی المسجد لان المسجد ایضا وقف من اوقاف المسلمین لا یجوز تملیکه لاحد فمعناهما علی هذا واحد (عمدة القاری ص۱۷۹ ج۴)

وفی الشامیة عن الزیلعی ولو بلی المیت وصار ترابا جاز دفن غیره و زرعه والبناء علیه اهـ و مقتضاه جواز المشی فوقه (ردالمحتار ص۸۳۵ ج۱) والله سبحانه وتعالی اعلم. غره محرم ۱۳۷۳ هجری

وقف په مرګ پورې معلق کول صحیح دی

سوال - یو سړی اووئیل چې زما په زمکه کښې دې شپږ برخې د زمکې زما د مرګ نه پس د مسکینانو د پاره وقف دی، ددې شرعا څه حکم دې؟ بینوا توجروا ـ

الجواب و منه الصدق و الصواب : دا وقف صحیح دې،او په څینی احکامو کښې په حکم د وصیت کښې دې۔

قال فی التنویر و شرحه او بالموت اذا علق به ای بموته کاذا مت فقد وقفت داری علی کذا فالصحیح انه کوصیة تلزم من الثلث بالموت لا قبله فللمعولو لوارثه ولو ان رد وتلکنه یقسم کالثلثین بالی اخر التفصیل مع ما یبنه فی الشامیة (ردالمحتار ص۳۶۳ ج۳). والله سبحانه وتعالی اعلم. ۸ ذی قعده ۱۳۷۳ هجری

په وقف کښې ناروا تصرف کوونکې متولی واجب العزل دې

سوال - د داسې متولی معزوله کول څنګه دی چې په وقف کښې ناروا تصرف کوی؟

الجواب و منه الصدق و الصواب : په وقف کښې هر ناروا تصرف کول خیانت دې،او هر یو خائن متولی واجب العزل دې،د داسې متولی نه معزوله کول ګناه ده،البته دا خبره ده چې پس د تجربې

او د اصلاح د ظهور نه ئې په دويم ځل متولي جوړولې شي.

قال في التنوير وشرحه وينزع وجوبا بزازية لو الواقف درر فغيره بالاولى غير مأمون

وفي الشامية مقتضاه اثم القاضي بتركه والاثم بتولية الخائن ولا شك فيه (رد المحتار ص۳۹٦ ج۳)

وايضا فيها انه اذا اخرجه وتاب واناب اعاده وان امتناعه من التعمير خيانة وكذا لو باع الوقف او بعضه او

تصرف تصرفا غير جائز عالما به (ص۳۹٦ ج۳) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۳ ربيع الثاني ۱۳۷۵ هجري

په وقف باندې شهادت بالتسامع جائز دې

سوال:- یو زوړ وقف دې چې د واقف ئې څه معلومات نه کیږی ، په هغې باندې یو ظالم د ملکیت دعوی کړې ده،نو په دې حالت کښې به د وقف د اثبات څه صورت وی؟

الجواب و منه الصدق والصواب: په وقف باندې شهادت بالتسامع والشهرة مقبول دې،په کومو مسئلو کښې چې شهادت بالتسامع روا دې،په هغې کښې د ا شرط دې چې د قاضی په مجلس کښې دې د دې تصریح نۀ کوی چې دا شهادت هسې په تسامع سره دې،خو ولې وقف ددې نه مستثنی دې،چې په هغې کښې د قاضی په مجلس کښې د صراحت باوجود شهادة بالتسامع روا دې،اګر چې د واقف هيڅ پته نۀ لګی،البته د موقوف علیه علم په کښې ضروری دې،دا حکم په اصل وقف کښې دې،په شرائطو او مصارفو د وقف باندې شهادة بالتسامع روا نۀ دې.

قال في شرح التنوير وتقبل فيه الشهادة على الشهادة وشهادة النساء مع الرجال والشهادة بالشهرة لاثبات اصله وان صرحوا به اي بالسماع في المختار.

وفي الشامية معزيا الى الخيرية وقف قديم مشهور لا يعرف واقفه استولى عليه ظالم فادعى المتولي انه وقف على كذا مشهور وشهدا بذلك فالمختار انه يجوز (رد المحتار ص۴۱۵ ج۳) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۳ ربيع الثاني ۱۳۷۵ هجري

په وقف على المسجد کښې قبر جوړول جائز نۀ دی

دا مسئله په باب الجنائز کښې تیره شوې ده.

د تقسيم الوقف بين المتولين تفصيل

سوال:- په یو موقوفه زمکه باندې دوه کسان متولیان دی،او دواړه په بیلو بیلو حصو باندې متصرف دی،آیا په دې طریقې سره تقسیم شرعا روا دې؟ بینوا توجروا.

الجواب و منه الصدق و الصواب: قال في الهندية ولو وقف ارضين وجعل لكل متوليا لا يشارك

احدهما الآخر (عالمگیریة ج۲ص ۴۱۰)

وفی شرح التنویر ولا یقسم بل یتهایؤن الا عند هما فیقسم المشاع وبه افتی قاری الهدایة وغیره اذا کانت القسمة بین الواقف وشریکه المالک او الواقف الآخر او ناظره ان اختلف جهة وقفهما.

وفی الشامیة (قوله ان اختلف جهة وقفهما) ای بان کان کل وقف منهما علی جهة غیر الجهة الاخری لکن هذا التقیید مخالف لما فی الاسعاف حیث قال ولو وقف نصف ارضه علی جهة معینة وجعل الولایة علیه لزید فی حیاته وبعد مماته ثم وقف النصف الآخر علی تلک الجهة او غیرها وجعل الولایة علیه لعمرو فی حیاته وبعد وفاته یجوز لهما ان یقتسما ویأخذ کل واحد منهما النصف لیکون فی یده لانه لما وقف کل نصف علی حدة صارا وقفین وان اتحدت الجهة کما لو کان علی رجلین لوقفاها کذلک اھ (ردالمحتار ص ۳۸۰ ج ۳)

د پورته عبارتونو نه د لاندینو صورتونو حکم مستفاد شو:

۱۔ دوه زمکې دې بیلې بیلې وی.

۲۔ د یوې زمکې نصف دې په یو جهت باندې وقف وی او دویم نصف دې په بل جهت باندې وقف وی.

۳۔ چې جهت متحد وی خیر دې خو دا خبره ده چې د زمکې نصف اول یی مخکې وقف کړې وی او د نصف ثانی نې بیا وروستو وقف کړې وی.

۴۔ یوه زمکه په دوو کسانو کښې مشترکه وی، او دواړه نې بیل بیل وقف وکړی.

۵۔ یوه زمکه په یو وخت کښې په یو جهت باندې وقف کړې شوې وی.

په اولنو څلورو صورتونو کښې په هر حصه باندې مستقل تولیت روا دې، او په پنځم صورت کښې روا نه دی، حدیث د نزاع د علی او د عباس رضی اللہ عنہما هم په دې وروستی صورت کښې داخل دې.

واللہ سبحانه وتعالی اعلم ۱۳ ربیع الاول ۱۳۷۲ هجری

په وقف کښې تر ژوند پورې آمدن په خپله د اخستلو شرط لګول

سوال: چې یو سړې خپل صحرائی جائیداد، کور یا دکان، یا کتابونه وغیره د یوې مدرسې دپاره داسې وقف کړی، چې دخپله ژونده پورې یا د یو مقرر وخته پورې به په خپله یا ددهٔ اولاد یا بل یو سړې ددې مرقوفه څیز نه فائده اخلی، بیا د هغهٔ د وفات نه پس یا د هغهٔ د ټاکلې شوې مودې نه پس دې دغه څیز په دغه مدرسه وغیره کښې خرج کړې شی، د دې په حقله څوپوښتنې کول دی.

۱۔ آیا دا صورت شرعا روا دې؟

۲۔ په داسې صورت کښې په وقف کښې باید څه الفاظ ولیکلې شی؟

۳ - که چیرې واقف جائداد زباني یا په تحریري توګه باندې وقف کړي لیکن په سرکاري توګه وقف نامه رجسټر نه کړي، یا ددې د رجسټري کولو په وخت کښې وقف تسلیم نه کړي نو شرعا به د دې څه حکم وي؟ او آیا په داسې صورت کښې به هم واقف د اجر او د ثواب مستحق وي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : ۱ - دا روا دي۔

۲ - په وقف کښې د داسې الفاظو استعمال ضروري دي کوم چې په **صدقه علی سبیل التابید** باندې دلالت کوي۔

۳ - د وقف نامې رجسټري کول یا په تحریري توګه وقف کول ضروري نه دي، صرف زباني وینا کافي ده، البته که د وارثانو له اړخه ویره وي نو بیا رجسټري کول ضروري دي، که چیرې وارثانو دا وقف تسلیم نه کړو نو هغه به په دې باندې سخت ګناه ګار وي، او واقف ته به بهر حال اجر او ثواب ورکړې کیږي۔

قال فی شرح التنویر وجاز جعل غلة الوقف او الولایة لنفسه عند الثانی وعلیه الفتوی

و قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تحت قوله (و جاز جعل غلة الوقف لنفسه) و اما اشتراط الغلة لمدبریه و امهات اولاده فالاصح صحته اتفاقا لثبوت حریتهم بموته فهو کالوقف علی الاجانب و ثبوته لهم حال حیاته تبع لما بعدها و قید بجعل الغلة لنفسه لانه لو وقف علی نفسه قیل لا یجوز و عن ابو یوسف رحمه الله جوازه و هو المعتمد (و بعد سطر) (قوله و علیه الفتوی) کذا قاله الصدر الشهید و هو مختار اصحاب المتون و رجحه فی الفتح واختاره مشائخ بلخ و فی البحر عن الحاوی انه المختار للفتوی ترغیبا للناس فی الوقف و تکثیرا للخیر (ردالمحتار ص۳۸۴ ج۳) والله سبحانه وتعالی اعلم۔ ۳ جمادی الثانیه ۱۳۸۷ هجری

په وقف شوي قبرستان کښې ذاتي تعمیر

سوال :- د یو قبرستان زمکه د ښار په مینځ کښې راغله اوس هغهٔ د مړو د ښخولو دپاره نهٔ استعمالیږي، د ښار خلق په هغې باندې قابض شو او تعمیرات په کښې لګیا دي کوي، او دغه شان یوه فراخه آبادي په دې باندې وشوه، د اوقافو محکمې په بیعه یا په کرایه باندې دغه حصه ورکړې ده، دې دپاره چې د دوی نه اخستلې شوې پیسې په نورو مصارفو د اوقافو کښې استعمال کړې شي، نو آیا دا اجاره او بیعه او شراء شرعا روا دي او که نه؟ او کومو خلقو چې دمتولي یا د اوقافو د محکمې نه دغه زمکه حاصله کړې ده، نو دغه زمکه او په دې باندې د تیار کړې شوي تعمیر اخستل او خرڅول روا دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د قبرستان د پاره په وقف کړې شوې زمکه باندې د خلقو قبضه کول ناروا دی، او ددې بیعه او شراء باطله ده. په حکومت یا په متولی باندې دا خبره ضروری ده چې دغه زمکه سمدستی په دوی باندې خالی کړی، او که دا ځائې چیرې د ښخولو دپاره په کار نه راځی نو په دغه ځائې جمات یا بل څه د عامو خلقو د فائدې څیز جوړ کړی

قال الحافظ العینی رحمه الله تعالیٰ : فان قلت هل یجوز ان تبنی المساجد علی قبور المسلمین، قلت قال ابن القاسم رحمه الله تعالیٰ لو ان مقبرة من مقابر المسلمین عفت فبنی قوم علیها مسجدا لم ار بذلك بأسا وذلك لان المقابر وقف من اوقاف المسلمین لدفن موتاهم لا یجوز لاحد ان یملکها فاذا درست واستغنی عن الدفن فیها جاز صرفها الی المسجد لان المسجد ایضا وقف من اوقاف المسلمین لا یجوز تملیکه لاحد فمعناهما علی هذا واحد (عمدة القاری ص۱۴۰ ج۲) والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۸ ربیع الاول ۱۳۸۹ هجری

په وقف کښې ذاتی تصرف کول حرام دی

سوال:- په یو ځائې کښې مسلمانانو څه زمکه د دینی کارونو دپاره وقف کړه او یو مقامی بزرګ ئې ددې متولی جوړ کړو، خو ولې د هغهٔ د وفات نه پس د هغهٔ په دوو ځامنو کښې یو ځوئی د وقف څه حصه په خپل نوم کړله او خرڅه ئې کړله، په باقی څه حصه باندې اوس هم مدرسه جوړه ده، لیکن په څه حصه باندې د هغهٔ تصرف او قبضه ده. نو آیا د مسلمانانو دا وقف صحیح وو؟ که چیرې دا وقف صحیح وی نو د متولی د ځوئی دا په خپل نوم کول او خرڅول صحیح دی اوکه نه ؟ بله دا چې د هغهٔ د ځامنو په دې وقف شوی عمارت کښې اوسیدل روا دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : کومه زمکه چې مسلمانانو د ذاتی کار د پاره وقف کړه، او د یو صالح او متقی سړی په بزرګئ باندې ئې اعتماد وکړو او هغهٔ ئې متولی جوړ کړو، او دحکومت په کاغذونو کښې ئې ددې د وقف اندراج ضروری ونهٔ ګڼلو نو دا وقف صحیح دې.

که په سرکاری اندراج کښې د غلطئ د وجې یا په بل څه وجه د متولی دا په خپل نوم کړله، نو د هغوی دا فعل غصب دې، او د دې خرڅول حرام دی.

د متولی ځامن په دې شرط باندې په وقف عمارت کښې پاتې کیدلې شی، چې د دینی تعلیم د پاره داسې وخت ورکړی لکه څنګه چې یو مدرس پابندی کوی

د نور خلقو مقامی جرګه دې څوک متقی عالم د دې وقف متولی جوړ کړی. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۴ شعبان ۱۳۸۹ هجری

د وقفي كتب خانې نه د كتابونو ويستل

سوال:- چې د يو دارالعلوم انتظاميه د كتب خانې نه د يوې مخصوصې ډلې كتابونه كوم چې د مختلفو حضراتو له اړخه وقف دي خارجول وغواړي، يا همداسې د دې ډلې نه د نفرت اظهار اوكړي، نو كومو خلقو چې دغه كتابونه وقف كړې وو آيا هغوى ته دا اختيار شته دې چې خپل وقف شوي كتابونه واخلي او په يوه بله اداره كښې ئې وركړي او يا ئې په خپله استعمال كړي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: صرف د نفرت د اظهار د پاره د كتابونو اخراج روا نهٔ دې، البته كه په دغه دارالعلوم كښې ددې كتابونو څه حاجت نهٔ وي، نو يو بلې ښې نزدې مدرسې ته دې دا وركړې شي.

دا تفصيل د داسې كتابونو په حقله دې د كوم مضمونونه چې د دين خلاف نهٔ وي، او د امت د اسلافو د رايو نه اخوا ديخوا په دې كښې څه خبره نهٔ وي ليكلې شوې.

د دين په نوم باندې چې نن صبا كوم غلط مواد د مختلفو تنظيمونو له اړخه خورولې كيږي، د هغې اينبودل د يوې ديني ادارې په وقف شوې كتب خانه كښې روا نهٔ دي، داسې قسمه كتابونه دې تلف كړې شي، داسې د استعداد خاوند لويو لويو علماؤ ته دې دا اوسپارلې شي، چې هغوى د دې لوستنه وكړي او د دې رد وكړې شي، او عوام او خواص ددې زهرو نه بچ كړې شي. والله سبحانه وتعالى اعلم

۱۸ ربيع الاول ۱۳۸۹ هجرى

د اوقافو نوكرى كول روا دي

سوال:- آيا د اوقافو نوكرى لكه امامت او خطابت كول روا دي او كه نه؟ ځكه چې د اوقافو اكثر آمدن ناروا دې، او آيا حكومت دا محكمه بالكل ځان له ساتلې ده، او كه نه په سركارى ملكيت كښې د دې د آمدن د رسيدلو نه پس بيا د دغه ځائ نه ددې محكمې نوكرانو ته تنخوا وركړې كيږي؟ لږ په تفصيل راته اوفرمايئ. بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د اوقافو د اكثر آمدن د ناروا كيدلو څه ثبوت نشته دې ددې وجې نه ددې نوكرى كول روا دي، خو په دې شرط چې په دې كښې څه شرط د شرعې نه خلاف نهٔ وي. والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۳ ربيع الثانى ۱۳۸۹ هجرى

د دراهمو او د دنانيرو وقف

سوال:- د دراهمو او د دنانيرو وقف شرعا صحيح دې او كه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د دراهمو او د دنانیرو وقف صحیح دی. لیکن څنګه چې معلومه ده چې په وقف کښې انتفاع بالمنافع مع بقاء العین وی، د دې وجې نه په وقف دراهمو کښې دا شرط دې چې اصل دراهم دې خرج نهٔ کړې شی، بلکه د هغې منافع دې خرج کړې شی، یا په دغه دراهمو دې څه څیز واخلی او د هغې منافع دې په فقیر باندې خرج کړی، و تفصیله فی الشامیة. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۲۳ جمادی الثانیه ۱۳۸۹ هجری

په مدرسه کښې ورکړې شوې پیسې واپس اخستل

سوال:- په یوه مدرسه کښې پیسې ورکړې شوې، لیکن پس د تحقیق نه دا خبره معلومه شوه چې د مدرسې کار په صحیح اصولو باندې نهٔ کیږی، د مدرسې په انتظامیه کښې دیانتداری نشته دې، آیا دا پیسې د هغوې نه واپس اخستلې شی او په یوه بله دینی مدرسه باندې ئې خرج کولې شی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د چندې پیسې په مدرسه کښې د داخلولو نه پس دا د معطینو د ملک نه خارجې شوې، کما حررت فی رسالتی (القول البدیع فی احکام التوزیع) لهذا ورکړې شوې پیسې واپس نهٔ شی اخستلې.

د اثر او رسوخ په خاوندانو باندې دا فرض دی چې د مدرسې د انتظامیې د اصلاح کوشش دې وکړی، که هغوی دا اصلاح قبوله نهٔ کړی نو هغوی دې معزوله کړی او دا نظم دې چرته یو صالح سړی یا د صلحاؤ یوې ډلې ته وسپاری. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۲۲ محرم ۱۳۹۰ هجری

د مدرسې پیسې قرض ورکول

سوال:- آیا د مدرسې جمع شوی پیسو نه چا ته قرض ورکول روا دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا روا نهٔ دی؟ که مهتمم داسې کار وکړو نو هغهٔ فاسق دې او واجب العزل دې، او ددې رقم به ضامن وی. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۱۲ ربیع الآخر ۱۳۹۱ هجری

وقف مشاع جائز نه دې

سوال:- څه فرمائی علماء کرام د دین مبین په دې مسئله کښې چې وقف مشاع روا دې او که نه؟ مفتی به قول په کښې څه دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د مفتی به قول مطابق وقفِ مشاع روا نهٔ دې.

قال الامام الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: ویفرز فلا یجوز وقف مشاع یقسم خلافا للثانی رحمه الله تعالیٰ.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى (قوله هل ابيان) واختاره المصنف تبعاً لعامة المشائخ وعليه الفتوى وكثير من المشائخ اخذوا بقول ابي يوسف رحمه الله وقالوا ان عليه الفتوى (ردالمحتار ص ۳۸۹ ج ۳) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۸ رجب ۱۳۹۳ هجری

د قبرستان د ونو د میوو حکم

سوال:- یو سړی په خپله زمکه کښې څه حصه د قبرستان د پاره وقف کړه، په دې کښې ډیرې ونې دی، چې په کښې یوه ونه د غوزانو هم ده، آیا د دې ونو یا د میوو استعمال د چا د پاره روا دې او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که چیرې واقف یواځې زمکه وقف کړې وی او ونې ئې نه وی وقف کړې نو دا ونې هم د هغه ملکیت دې، دهغهٔ د اجازت نه بغیر د قبرستان هیڅ څیز استعمالول روا نهٔ دی، لیکن هغهٔ به په دې مجبورولې شی چې هغهٔ دې دا ونې اوباسی او د قبرستان زمکه دې وزګاره کړی.

او که د زمکې سره ئې ونې هم وقف کړې وی، نو چې څه د وقف مصرف وی هغهٔ به د دې ونو مصرف هم وی. والله تعالی اعلم. ۱۲ جمادی الاولی ۱۳۹۳ هجری

د قبرستان ونې پرې کول

سوال:- آیا د مقبرې ونې پرې کول روا دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د کومو ونو په حقله چې د خلقو شرکیه عقیده وی چې دا د فلانی بزرګ یا پیر صاحب ونې دی، که چت دې له لاس یورو نو څه آفت به وربانديې راشی، د هغهٔ پیرې کول د شرکیه عقیدې د ابطال د پاره ضروری دی، خو ولې هغهٔ دې خرڅې کړې شی او د هغې قیمت دې هم دې قبرستان باندې ولګولې شی، که چیرې په دې قبرستان کښې څه مصرف نهٔ وی، نو بل چرته نزدې نه نزدې قبرستان باندې دې ولګولې شی،

دا حکم به د دې ونو هغه وخت وی چې کله دا ونې په خپله راختلې وی او که نه دا ونې چا کرلې وی نو دا بیا د کرونکې ملکیت دې. والله تعالی اعلم. ۲۷ ذی القعده ۱۳۹۳ هجری

د قبرستان د ونو نه مسواک پرې کول

سوال:- په قبرستان کښې د جهاو (یو قسم ونې دی چه مسواکونه ترې جوړیږی) ډیرې ونې دی، آیا دهغې نه د مسواك دپاره لښته پرې کول روا دی او که نه؟ حال دا چې منع کوونکې څوك هم نهٔ وی. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب که چیرې دا قبرستان وقف وي، نو د دې په خپله راختلې ونې به هم وقف وي، د دې ونو نه د وقف د مصارفو نه علاوه بله څه نفع اخستل روا نه دي۔ والله سبحانه وتعالی اعلم۔

۲۹ ربیع الثانی ۱۴۰۰ هجری

په وقف کښې تر خپله ژونده پورې په خپله د فائدې اخستلو شرط

سوال: یو سړې چې ضعیف العمر دې هغه په حالت دصحت کښې خپل کور د یوې دینی مدرسې دپاره وقف کول غواړي، او تر ژونده پورې ئې په خپل استعمال کښې ساتل غواړي، د هغه صرف یو دخور زوئ او یوه خورزه ده، او باقي نه ئې ورور شته نه خور او نه ئې ښځه شته، تول وفات شوې دي، لهذا د ایصال ثواب دپاره هغه وقف کول غواړي، د دې وجې نه چې د هغه د نورو خپلوانو نه د ایصال ثواب څه طمع نشته دې۔ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په وقف کښې تر خپله ژونده پورې په خپله د فائدې اخستلو شرط لګول روا دي، لیکن نفس وقف په دې شرط سره روا دې چې وارثان ئې غنیان وي، او د هغوی د محرومولو مقصد ئې نه وي بلکه د ثواب اراده ئې وي۔

قال فی التنویر وشرحه (وجاز جعل غلة الوقف) او الولایة (لنفسه عند الثانی) وعلیه الفتوی (ردالمحتار ص۴۰۳ ج۳)۔ والله سبحانه وتعالی اعلم

۳۰ ذی القعده ۱۳۹۵ هجری

د پورتنی سوال په شان یو بل سوال

سوال: زما دوه چته کور دې چې هغه خالص د الله تعالی د پاره وقف کول غواړم، لاندې چت مې په کرایه ورکړې دې او په پورته چت کښې زه د خپلو درې خامنو سره اوسیږم، زما دوه لونړه هم دي چې د هغوی زما په جائداد کښې څه حق نشته دې ځکه چې ما هغوی ته دهغوی حصه په خپل ژوندې کښې د نقدو په صورت کښې ورکړې ده، دا خپل تول کور د جمات د پاره وقف کول غواړم خورلې په دې شرط چې زما د دریم خوئې شاهد علي د وادۀ تول خرچه به د جمات په ذمه وي، بله دا چې په دې جمات باندې اوس خلوېښت زره روپئ قرض دې، او دا رقم به هم جمات ادا کوي، بله دا چې د کور ضروری سمون او د باقي پاتې حصې تعمیر به هم جمات کوي، آیا په دې صورت کښې به دا وقف د جمات د پاره صحیح کیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ستا د وفات نه پس به جینکئ هم د جائداد نه حصه اخلي، په خپل ژوند کښې یو وارث ته د پیسو وغیره په ورکولو سره هغه وارث د وراثت د حق نه محرومه کیږي۔

وقف داسې کوئ: زما کور زما د وفات نه پس د فلانی جمات د پاره په دې شرطونو وقف دې

۱۔ د دې کور په سلسله کښې چې په ما باندې کوم قرض دې ددې کور د آمدن نه دې

وروستېي هغه قرض ورکړې شي،

۲ - زما د خوئی (شاهدعلی) مصارف دې د کور د کرایه نه ادا کړې شي او زیات رقم دې جمات ته ورکړې شي.

۳ - د (شاهد علی) د وفات نه پس دې د دې کور ټول آمدن په جمات باندې خرچ کړې شي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۹ محرم ۱۴۰۰ هجری

د وقف زمکې بدلون جائز نهٔ دی

سوال: - جناز گاه په يو غیر موزون ځائې یعنی کنده کښې واقع ده،او چت هم پرې نشته دې، آیا دا متبادلې او مناسبې زمکې طرفته منتقل کول صحیح دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که چیرې دا ځائې د جنازې د مونځ د پاره وقف وی نو ددې بدلون روا نهٔ دې. والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۱ محرم ۱۳۹۷ هجری

په اقاربو باندې د وقف حکم

سوال: - د زید اولاد نشته او د هغهٔ يو ذاتی کور دې،د کوم چې هغه کرایه اخلی،دهغه په خپلو خپلوانو کښې درې ورونه او درې خویندې ژوندئ دی،چې څه په کښې ښه دی گذاره ئې کیږی او څه په کښې مفلسه دی،دغه شان د يو مرحوم ورور اولاد ئې موجود دې چې هغهٔ ډیر تنگ حاله دی، اوس د زید دا اراده چې هغهٔ به د خپل ژوند پورې ددې کور نه خپله فائده اخلی،او د هغهٔ د وفات نه پس دې دا کور په وارثانو کښې تقسیم نهٔ شی بلکه وارثان دې د دې کرایه اخلی،او کور دې د زید دپاره صدقهٔ جاریه وی،آیا دا صورت شرعا ممکن دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: زید دې خپل جانداد داسې وقف کړی:

تر څو پورې چې زید ژوندې وی هغه وخته پورې به ددې منافع په خپله اخلی.

د زید د انتقال نه پس به د دې جانداد منافع د زید په اقاربو کښې مسکینانو ته ورکولې شی.

که د زید په اقاربو کښې څوك مسکین نهٔ وی نو دا دې بیا په عامو مسلمانانو کښې په مسکینانو باندې تقسیم کړې شی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۷ ربیع الاول ۱۳۹۸ هجری

د جمات دپاره کړې شوې وصیت په مدرسه باندې خرچ کول روا نهٔ دی

سوال: - زید دا وصیت وکړو چې زما د مرگ نه پس زما کور جمات ته ورکړئ،مطلب دا چې ددې قیمت جمات ته ورکړئ،یا دا چې دا کور د جمات سره یوځائې کړئ.دا کور د جمات سره دیوال په دیوال دې.اوس د زید د مرگ نه پس چې هغهٔ چا ته وصیت کړې وو ،هغهٔ اوونیل چې

جماتونه خو د ورانديې نه په محله کښې دوه موجود دی،مدرسه په کښې يوه هم نشته . لهذا ماشومانو ته د قرآن مجيد د تعليم کولو دپاره مدرسه جوړول ښۀ دی،د ټولو په مشورې سره مدرسه جوړه کړې شوه، نو آيا شرعا دا روا دی او که نه؟ حال دا چې د زيد د مرګ نه پس د هغه هيڅ څوک وارث نشته ، نۀ د لرې خپل خپلوان او د نزدې خپل خپلوان هيڅ څوک ئې هم نشته دې- بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : دا د وصيت مطابق په جمات کښې لګول ضروری دی،مدرسه پرې جوړول روا نۀ دی۔ **واللہ سبحانہ وتعالیٰ اعلم** **۱۱ رجب ۱۳۹۸ هجری**

واقف په خپله متولی جوړيدې شي

سوال:- زيد زمکه وقف کړه، ليکن کوم متولی ته ئې ونۀ سپارله، بلکه پخپله ئې متولی او منتظم جوړ شو،آيا دا وقف صحيح دې؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : برابره خبره ده که واقف د خپل توليت شرط لګولې وی او که نۀ ئې وی لګولې، په هرصورت وقف او د دۀ توليت صحيح دې۔

قال فی التنویر وشرحه: جعل الواقف الولاية لنفسه جاز بالاجماع وكذا لو لم یشترط لاحد فالولاية له عند الثانی وهو ظاهر المذهب نهر خلافا لما نقله المصنف (ردالمحتار ص۳۹۹ ج۳) واللہ سبحانہ وتعالیٰ اعلم.

۱۴ صفر ۱۳۹۹ هجری

د دينی مدرسې د پاره په وقف کړې شوی ځائې کښې سکول جوړول روا نۀ دی

سوال- يوه زمکه صرف او صرف د دينی درسګاه د پاره وقف کړې شوه،په دغه زمکه باندې حکومت قبضه وکړه او ثانوی مکتب پرې جوړوی،او د ښار خلق هم دا کوشش کوی چې مکتب جوړ شی، نو پوښتنه دا کول دی چه:

۱ - آيا په ذکر کړې شوې زمکه باندې حکومت د قبضې کولو نه پس سکول جوړولې شی که نه؟

۲- کوم خلق چې دا کوشش کوی چې سکول دې جوړ شی د هغوی په حقله څه حکم دې؟

۳ - که متولی اجازت ورکړی نو سکول جوړول به پرې روا وی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د دينی علوم دپاره چې کومه زمکه وقف کړې شوې وی هغه په څه بل څه مصرف کښې خرچ کول حرام دی،حکومت،د ښار خلقو،او متولی وغيره کښې چا ته هم په دې کښې د سکول جوړولو حق نشته ،کوم خلق چې داسې کوی هغوی سخت ګناه ګار دی ، که چيرې متولی ددې اجازت ورکړو نو هغه به د بدديانته او خائنه کيدلو له کبله واجب العزل وی.

په حکومت باندې دا فرض دی چې د اسلامی اوقافو حفاظت به کوی، داسې نه چې هغه دې

داسې غاصبانه قدم اوچت كړي او دين ته دې نقصان ورسوي. والله سبحانه وتعالى اعلم.

چې وارثان محتاج وي نو وقف كول روا نهٔ دي

سوال:- بكر خېل يو كور په خپل ژوندې كښې د جمات په نوم په سټامپ باندې وليكلو، او دا شرط ئې كېښودلو چې تر څو پورې زهٔ او زما ښځه ژوندي يو نو په دې كور كښې به اوسېږو، او هر كله چې مونږ مړهٔ شو نو دا كور دې جمات ته وسپارلې شي، برابره خبره ده كه د جمات خلق دا خرڅوي او كه نه په كرايه ئې وركوي، نو پوښتنه دا كول دي چې بكر كور د جمات په نوم كړو او وارثان ئې محرومه كړل، آيا شرعا داسې كول روا دي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : كه د بكر وارثان محتاج وي، نو بكر به په دې وقف سره ګناه ګار وي او كه محتاج نهٔ وي نو بيا ګناه ګار نهٔ دى، او وقف بهر حال نافذ دې. والله تعالى اعلم.

۲۴ جمادى الاولى ۱۳۹۹ هجرى

بې د قبض نه وقف صحيح نهٔ دې

سوال:- زيد خېل كور جمات ته وركړو، او په سټامپ باندې ئې د دوو ګواهانو په وړاندې دا ليكل د وقف وكړل، اوس زيد وفات شو، نو آيا اوس د هغهٔ ښځه انكار كولې شي چې زهٔ كور جمات له نهٔ وركوم؟ او حال دا چې دې وخت كښې په كور باندې د زيد د ښځې قبضه ده، او د زيد ښځې ددې كور نه خپله حصه هم جمات ته وركړې وه، او كاغذ ئې ليكلې وو او په هغې باندې ئې خپله ګوته هم لګولې وه، نو آيا د جمات په قبضه كښې د وركولو نه وړاندې د زيد د ښځې انكار كول او دا كور جمات ته نهٔ وركول روا دي او كه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د وقف د صحيح كېدلو دپاره د متولي د قبض كول په شرط كښې اختلاف دې، دواړه قولونه مرجح او مفتى به دي، عدم اشتراط احوط، اسهل، انفع او ارجع دې، خو سره د دې نه بيا هم د جانبينو حاجتونو او حالاتو ته كتل پكار دي او بيا يو اړخ ته فتوى وركول پكار دي.

قال التمرتاشي: ولا يتم حتى يقبض ويفرز ويجعل اخره لجهة لا تنقطع.

وقال الحصكفي: هذا بيان شرائط الخاصة على قول محمد لانه كالصدقة و جعله ابويوسف كالاعتاق واختلف الترجيح والاخذ بقول الثاني احوط واسهل بحر في الدرر وصدر الشريعة وبه يفتى واقره المصنف.

وقال ابن عابدين رحمه الله (قوله هذا بيان) واختاره المصنف تبعا لعامة المشائخ وعليه الفتوى و كثير من المشائخ اخذوا بقول ابي يوسف وقالوا ان عليه الفتوى ولم يرجح احد قول الامام (قوله واختلف الترجيح) مع التصريح في كل منهما بان الفتوى عليه لكن في الفتح ان قول ابي يوسف اوجه عند المحققين (رد المحتار ص۳۵۱ ج۳)

وقال الطحطاوي: (قوله واختلف الترجيح) اى والافتاء ايضا كما في البحر و مقتضاه ان القاضي والمفتي مخيران في العمل بايهما كان و مقتضى قولهم يعمل بالانفع للوقف ان لا يعدل عن قول الثاني لان فيه ابطاله بمجرد القول فلا يجوز نقضه (حاشية الطحطاوي ص۵۰۳ ج۲) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۳ ربيع الاول ۱۴۰۰ هجرى

باب المساجد

په عیدگاه کښې سکول جوړول

سوال - د شریعت مطهره حکم په دې حقله څه دې، چې د عیدگاه په ځائې دې سکول جوړ کړې شي، او د عید گاه د پاره دې بل ځائې معین کړې شي. نو دا روا دی اوکه ناروا؟

الجواب و منه الصدق والصواب: که چیرې عیدگاه وقف وی نو په دې کښې سکول جوړول روا نه دی. ځکه چې د وقف د جهت بدلول صحیح نه دی، لان شرط الواقف کنص الشارع. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۲۷ صفر ۱۳۷۲ هجری

د جمات زړې گادرې او دروازې خرڅول

سوال - د یو جمات د تنگیدلو د وجې نه هغه ورانولې شی او د هغې په ځائې بل جمات جوړولې کیږی، د دې زړې آبادئ نه چې کومې گادرې وغیره راوتې دی آیا هغه خرڅولې شی چې پیسې ئې په دې جمات باندې ولگولې شی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجوب و منه الصدق والصواب: د جمات نه راویستلې شوې گادرې وغیره بعینه که په جمات کښې په کار نه شی راتلې نو د مسلمانانو په اتفاق سره د هغې خرڅول او پیسې ئې په دې جمات باندې لگول روا دی.

قال فی الهندیة اهل المسجد لو باعوا غلة المسجد او نقض المسجد بغیر اذن القاضی الاصح انه لا یجوز کذا فی السراجیة. (عالمگیریة ص۴۳۹ ج۲)

فلتعلم انه یصح باذن القاضی.

وفی الشامیة ناقلا عن فتاوی النسفی سئل شیخ الاسلام عن اهل قریة رحلوا وتداعی مسجدها الی الخراب وبعض المتغلبة یستولون علی خشبه وینقلونه الی دورهم هل لواحد لاهل المحلة ان یبیع الخشب بامر القاضی ویمسك الثمن لیصرفه الی بعض المساجد او الی هذا المسجد قال نعم.

وقال قبیل هذا لا سیما فی زماننا فان المسجد وغیره من رباط او حوض یأخذ انقاضه اللصوص والمتغلبون کما هو مشاهد (ردالمحتار ج۳ کتاب الوقف)

فلعل فی زماننا جماعة المسلمین بمنزلة القاضی لان ولایته مستفاد منهم فکانه هم وکانهم هو فان حکام زماننا لا یعتنون بمثل هذا الامور الدینیة والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۲۱ ربیع الاول ۱۳۷۲ هجری

د جمات زړې درۍ خرڅول

سوال: - آیا د جمات غیر مستعملې درۍ یا مستعملې او زړې ګډې وډې درۍ چې خرڅې کړې شي او څه پیسې ورسره نورې یو ځائې کړې شي او نسبتاً لګه ښۀ درۍ پرې واخستې شي شرعا دا صحیح دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : قالین، درۍ، او پوزی وغیره یعنی هغه څیزونه کوم چې د جمات په تعمیر وغیره کښې داخل نۀ دی، هغۀ په وخت د استغناء کښې د معطی په ملك کښې داخلیږي، لهذا د معطی په اجازت سره دا خرڅولې شي، که معطی نۀ وی نو د هغۀ د وارث په اجازت سره، که وارث ئې هم نۀ وی او یا معلوم نۀ وی نو بیا د قاضی په اجازت سره یا په اتفاق د مسلمانانو دجماعت سره ددې بیعه روا ده.

قال فی وقف الهندیة: ذکر ابو اللیث رحمه الله تعالیٰ فی نوازله: حصیر المسجد اذا صار خلقا واستغنی اهل المسجد عنه وقد طرحه انسان ان کان الطارح حیا فهو له وان کان میتا ولم یدع وارثا ارجو ان لا بأس ان یدفع اهل المسجد الی فقیر او ینتفع به فی شراء حصیر اخر للمسجد والمختار انه لا یجوز لهم ان یفعلوا ذلك بغیر أمر القاضی کذا فی فتاوی قاضی خان (عالمگیریة ص ۴۵۸ ج ۲)

او که داسې څیزونه د وقف مال نه وی نو منتظمین دا خرڅولې شي او د دې پیسې په جما باندې خرچه کولې شي. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۳ صفر ۱۳۹۲ هجری

په وقف علی المسجد کښې قبر جوړول

دا مسئله په کتاب الجنائز کښې تیره شوې ده.

په حکومتی زمکه کښې بې د اجازت اخستلو نه د جمات په زمکه کښې زیاتوالی کول

سوال: - یو جمات تنګ دې، د هغې د حصې د زیاتوالو سخت ضرورت دې، خلق غریبانان ډیر پریشانه دې، لیکن جمات سره پیوسته سرکاری زمکه ده، او سرکار د جمات د رقبې د زیاتولو اجازت نۀ ورکوی، په دې صورت کښې بې د اجازت نه جمات فراخه کول روا دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب ومنه الصدق والصواب : په حکومت باندې د جماتونو انتظام او تعمیر کول په قدر د ضرورت فرض دی، لیکن سره د دې هم که حکومت خپل دا فرض نۀ ادا کوی، نو بې د اذن د حکومت نه په سرکاری زمکه باندې تعمیر کول روا نۀ دی. والله تعالیٰ اعلم. ۲۱ ربیع الاول ۱۳۷۲ هجری

د یو جمات سامان بل جمات ته منتقل کول

سوال:- د یو جمات سامان د بل جمات په کار کښې رواستلې شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب: د جمات سامان په دوه قسمه دې: یو هغه چې د هغې تعلق د جمات آبادئ سره وی، لکه خښتې، گادرې او دروازې وغیره، دې ته انقاض المسجد وئیلې شی، د داسې سامان حکم دا دې چې که چیرې جمات آباد وی او په هغې کښې مونځونه کیږی، نو د داسې جمات سامان بل جمات ته منتقل کول روا نهٔ دی، دا سامان بعینها او یا دا دې خرڅ کړې شی او د دې قیمت دې په دې جمات خرچه کړې شی۔

قال ابن عابدین رحمه الله: الفتوی علی ان المسجد لا یعود میراثا ولا یجوز نقله ونقل ماله الی مسجد اٰخر.

(ردالمحتار ج۳ کتاب الوقف مطلب فی نقل انقاض المسجد)

او که چیرې جمات شاړ شوې وی، څوك هم په هغې کښې مونځ نهٔ کوی، لکه داسې چې د جمات نه گیر چاپیره خلقو هغه علاقه پریښې وی، او بل ځائې کښې چرته آباد شوې وی، د کومې د وجې نه چې جمات بالکل شاړ شوې وی، نو په داسې حالت کښې ددې جمات خښتې، گادرې او دروازې وغیره د دمسلمانانو دجماعت په متفقه فیصلې سره بل جمات ته منتقل کولې شی.

قال فی الهندیة: اهل المسجد لو باعوا غلة المسجد او نقض المسجد بغیر اذن القاضی الاصح انه لا یجوز کذا فی السراجیة. (عالمگیریة ص۴۳۹ ج۲)

فلعل علیه ان یجوز باذن القاضی

وقال فی الشامیة: ناقلا عن فتاوی النسفی سئل شیخ الاسلام عن اهل قریة رحلوا وتداعی مسجدها الی الخراب وبعض المتغلبة یستولون علی خشبه وینقلونه الی دورهم هل لواحد لاهل المحلة ان یبیع الخشبة بامر القاضی ویمسك الثمن لیصرفه الی بعض المساجد او الی هذا المسجد قال نعم.

وقال قبیل هذا لا سیما فی زماننا فان المساجد وغیرها من رباط او حوض یاخذ انقاضه اللصوص والمتغلبون کما هو مشاهد (ردالمحتار کتاب الوقف ج۳)

د جمات دویم قسم سامان د کوم سامان چې د جمات په بناء کښې څه دخل نشته دې، لکه دریٔ او فانوسونه وغیره دې ته آلات المسجد وئیلې شی، ددې حکم دا دې چې که په دې جمات کښې ئې ضرورت نشته دې، نو ددې بل جمات ته منتقل کول روا دی لیکن په دې شرط چې واقف ئې هم اجازت ورکړی، ځکه چې داسې سامان په وخت د استغناء کښې د واقف ملك ته راواپس کیږی، لهذا د واقف اذن په کښې ضروری دې۔

قال في الشامية تحت (قوله ومثله حشيش المسجد الخ) قال الزيلعي وعلى هذا حصير المسجد وحشيشه اذا استغنى عنهما يرجع الى مالكه عند محمد رحمه الله وعند ابو يوسف رحمه الله ينقل الى مسجد اخر وعلى هذا الخلاف الرباط والبئر اذا لم ينتفع بهما اهـ وصرح في الخانية ان الفتوى على قول محمد رحمه الله في آلات المسجد (ردالمحتار ج۳) والله تعالى اعلم. سلخ رجب ۱۳۷۲ هجري

د يو جمات نه قرآن شريف بل جمات ته منتقل كول

دا مسئله په كتاب الوقف كښې تيره شوې ده.

په زړه مقبره باندې جمات جوړول

دا مسئله هم په كتاب الوقف كښې تيره شوې ده.

آيا عيدګاه د جمات په حكم كښې ده او كه نهٔ؟

سوال:- آيا عيدګاه هم دجمات په حكم كښې ده او كه نه؟

الجواب و منه الصدق والصواب : په ټولو احكامو كښې د عيدګاه حكم د جمات په شان كيدل مختلف فيه دى،د شامي نه په ټولو احكامو كښې د جمات په حكم كښې د كيدلو ترجيح معلوميږى، وهو احوط ومقابله اوسع.

قال في شرح التنوير واما المتخذ لصلوة جنازة او عيد فهو مسجد في حق جواز الاقتداء وان انفصل الصفوف رفقا بالناس لا في حق غيره به يفتى نهاية.

وفي الشامية (قوله به يفتى نهاية) عبارة النهاية والمختار للفتوى انه مسجد في حق جواز الاقتداء الخ (وبعد سطرين) ومقابل هذا المختار ما صححه في المحيط في مصلى الجنازة انه ليس له حكم المسجد اصلا و ما صححه تاج الشريعة ان مصلى العيد له حكم المساجد وتمامه في الشرنبلالية (ردالمحتار ج۱)

وايضا في كتاب الوقف منها (قوله والمصلى) شمل الجنازة ومصلى العيد قال بعضهم يكون مسجدا حتى اذا مات لا يورث عنه وقال بعضهم هذا في مصلى الجنازة اما مصلى العيد فلا يكون مسجدا مطلقا وانما يعطى له حكم المسجد في صحة الاقتداء بالامام وان كان منفصلا عن الصفوف وفيما سوى ذلك فليس له حكم المسجد وقال بعضهم يكون مسجدا حال اداء الصلاة لا غير وهو والجبانة سواء و يجنب هذا المكان عما يجنب عنه المساجد احتياطا اهـ خانية واسعاف والظاهر ترجيح الاول لانه في الخانية يقدم الاشهر.

(ردالمحتار ج۴) والله تعالیٰ اعلم ۲۷ شوال ۱۳۷۳ هجری

په عیدگاه کښې لوبې کول جائز ندی

سوال:- په عید گاه کښې لوبې کول یا په هغې کښې دعوت کول وغیره روا دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب : دعید گاه احترام په هرحال کښې واجب دې، اگرچې دا په جمات کښې داخلیدو کیدلو کښې اختلاف دې، لیکن د بې عزتئ کولو نه ئې حفاظت بهر حال ضروری دې، لهذا د تپوس کړې شوو امورو اجازت نشته.

قال فی الشامیة (قوله به یفتی نهایة) عبارة النهایة والمختار للفتوی انه مسجد فی حق جواز الاقتداء الخ لکن قال فی البحر ظاهره انه یجوز الوطء والبول والتخلی فیه ولا یخفی ما فیه فان البانی لم یعده لذلک فینبغی ان لا یجوز وان حکمنا بکونه غیر مسجد وانما تظهر فائدته فی حق بقیة الاحکام و حل دخوله للجنب والحائض اھ (ردالمحتار ج۱)

وایضا فی کتاب الوقف معها عن الخانیة ویجنب هذا المکان عما یجنب عنه المساجد احتیاطاً اھ (ردالمحتار ج۴)

والله تعالیٰ اعلم ۲۷ شوال ۱۳۷۳ هجری

د جمات د جوړولو نذر

دا مسئله په کتاب النذر والیمین کښې تیره شوې ده.

په جمات کښې د اودس د پاره ټینکۍ جوړول جائز ندی

سوال:- د شریعت مطهره حکم په دې حقله څه دې چې د جمات په یو گوټ کښې د اودس د پاره ټینکۍ جوړول روا دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب : که چیرې دا ځائې د ابتداء نه په جمات کښې نۀ وې داخل کړې شوې نو په دې کښې بیا ټینکۍ جوړول روا وو، په جمات کښې د اخلولو نه پس په دې کښې ټینکۍ جوړول او د جمات نه د دې ځائې خارجول روا نۀ دی، که د جمات د حدودو د مقررولو په وخت کښې ئې صرف په ژبه باندې د دې اظهار وکړو چې دا دومره ځائې جمات دې، د دې نه پس د جمات بانی اووئیل چې په دې ځائې باندې دشروع نه زما اراده د ټینکۍ جوړولو وه، نو د دۀ دا قول به نۀ شی قبلولې، لهذا چې د جمات د بانی نه د شروع نه ددې ځائې د اودس د پاره معین کول ثابت نۀ شو، نو دا ځائې به په جمات کښې داخل وی، او په جمات کښې د اودس اوبۀ تویول روا نۀ دی.

دا شبه دې ونۀ کړې شي، چې د اودس اوبۀ به د جمات د فرش نه لاندې په نالۍ کښې ځورځیږي، ځکه چې د تحت الثرى نه واخله د عنان السماء پورې دا ځائې په حکم د جمات کښې دې.
بله دا چې د ټینکۍ په جوړولو سره به مونځ ګذاره تنګ شي، او دا منع دی، که چرې جمات وسیع وی او د ټینکۍ جوړولو باوجود په مونځ ګذارو باندې د ځائې د تنګیدلو ویره نۀ وی نو بیاهم ما اعدللصلوة لره مشغولول روا نۀ دی.

قال فى البحر لو بنى بيتا على سطح المسجد لسكنى الامام فانه لا يضر فى كونه مسجدا لانه من المصالح فان قلت لو جعل مسجدا ثم اراد ان يبنى فوقه بيتا للامام او غيره هل له ذلك قلت فى التتارخانية اذا بنى مسجدا و بنى فوقه وهو اى المسجد فى يده فله ذلك وان كان حين بناه خلى بينه وبين الناس ثم جاء بعد ذلك يبنى لا يتركه وفى جامع الفتاوى اذا قال عنيت ذلك فانه لا يصدق (البحر الرائق كتاب الوقف ج٥)

وقال شارح التنوير فى بيان محرمات المساجد والوضوء الا فيما اعد لذلك.

وفى الشامية (قوله والوضوء) لانه ماء مستقذر طبعا فيجب تنزيه المسجد عنه كما يجب تنزيهه عن المخاط والبلغم بدائع . (ردالمحتار ج١)

وايضا فى الشرح لانه مسجد الى عنا السماء.

وفى الشامية وكذا الى تحت الثرى (ردالمحتار ج١)

وفى الشامية فى بيان الاشعار فى المسجد ولا يضيق على الناس (وبعد اسطر) لان فيه شغل ما اعد للصلوة و نحوها وان كان المسجد واسعا (ردالمحتار ج١) والله تعالى اعلم. ٧ محرم ١٣٧٣ هجرى

په مشترکه زمکه کښې بغیر د اجازت نه جمات جوړول

سوال:- په یوه مشترکه زمکه کښې یو سړی جمات جوړ کړو، په کوم جمات کښې چې د دویم شریك په مخامخه اذانونه کیدل، تقریباً د پنځو کالو په تیریدلو باندې اوس دویم شریك خپله حصه په جمات کښې د ورکولو نه انکار کوی، نو آیا دا مسجد شرعا صحیح دې او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب ومنه الصدق والصواب: قال فى شرح التنوير باع الفضولى ملك رجل والمالك ساكت حيث لا يكون سكوته رضا عندنا.

وفى الشامية: عن فتاوى امين الدين عن المحيط اذا اشترى سلعة من فضولى وقبض المشترى المبيع بحضرة صاحب السلعة فسكت يكون رضا اهـ و مثله فى البزازية عن المحيط ايضا فعلم به ان محل ما هنا ما اذا لم

يقبض السلعة بحضرة صاحبها وهو ساكت (در المختار مسائل شتى ص ٦٥٠ ج ۵)

وايضا فيها (البيع هذا) ومثل البيع الوقف

وايضا فيها (قوله حاضر) المراد من الحضور الاطلاع وفي شرح التنوير في احكام المسجد من كتاب الوقف و

شرط محمد والامام رحمهما الله تعالى الصلوة فيه بجماعة.

وفي الشامية (قوله بجماعة) لانه لابد من التسليم عندهما خلافا لابي يوسف رحمه الله وتسليم كل شيء بحسبه

ففي المقبرة بدفن واحد وفي السقاية بشرب وفي الخان بنزوله واشتراط الجماعة لانها المقصودة من المسجد ولذا

شرط ان تكون جهرا باذان واقامة والا لم يصر مسجدا (الى قوله) ولو اتحد الامام والمؤذن وصلى فيه وحده صار

مسجدا بالاتفاق لان الاداء على هذا الوجه كالجماعة قال في النهر واذ قد عرفت ان الصلوة فيه اقيمت مقام

التسليم علمت انه بالتسليم الى المتولي يكون مسجدا دونها اي دون الصلوة (الى قوله) وكذا لو سلمه الى

القاضي اونائبه. (ردالمحتار ص ۵۱۱ ج ۳) وفي شركة شرح التنوير وكل من شركاء الملك اجنبي في مال صاحبه

لعدم تضمنها الوكالة (ردالمحتار ص ۳٦۰ ج ۳)

ددې جزئياتو نه دا لاندې امور ثابت شول:

۱- په شركت د عين كښې هر شريك د بل شريك په حصه كښې اجنبي او فضولي دې.

۲- بيع الفضولي مع قبض المشتري وحضور المالك دال على الرضا دې.

۳- مالك ته اطلاع وركول په حكم د حضور كښې دی.

۴- وقف په موقوف على الاجازة كيدلو كښې عموما او د ملك په مزيل كيدلو كښې خصوصا د بيعې په حكم كښې دې.

۵- په جمات كښې صلوة مع الجماعة په منزله د تسليم او د قبض دې.

د دې تفصيل نه دا خبره ثابته شوه چې دې ته د شرعي مسجد درجه حاصله شوې ده. اوس په دې كښې د شريك دعوى غير مسموع ده. والله تعالى اعلم. ۲۰ ربيع الاول ۱۳۷۵ هجری

په حرام مال سره د تعمير شوی جمات حكم

سوال:- يو جمات د زنا په آمدن سره تيار كړې شوې دې، د دې شرعا څه حكم دې؟ بينوا بالبرهان توجروا عند الرحمن.

الجواب و منه الصدق والصواب: د حرام مال په جمات باندې د لګولو مختلف صورتونه دی او د دې حكم هم مختلف دې.

۱ - په حرام مال باندې ئې د جمات زمکه نۀ وی اخستې، بلکه په ديوالونو ئې خرچ کړې وی، د دې صورت په حقله بعضو اکابرو ليکلې دی چه : په دې کښې د مونځ کولو په وخت کښې د حرام استعمال نۀ شی موندلې، د دې وجې نه په دې کښې مونځ صحيح دې، ليکن د حرام مال په جمات باندې د لګولو ګناه به ئې کيږی، لهذا په حرام مال باندې جوړ شوی ديوالونه راغورځول او د دې په حلال مال سره بيا جوړول ضروری دی .

قال فى الشامية(قوله لو بماله الحلال) قال تاج الشريعة اما لو انفق فى ذلك مالا خبيثا او مالا سببه الخبيث والطيب فيكره لان الله تعالى لا يقبل الا الطيب فيكره تلويث بيته بما لا يقبله اهـ شرنبلالية(ردالمحتار ج۱)

قول د عدم استعمال خلاف د ظاهر دې، لهذا د دې صورت حکم هم د صورت ثانيه په شان معلوميږی.

۲ - که چيرې حرام مال په فرش باندې ولګولې شو، نو په دې باندې د مونځ په کولو باندې به په کښې د حرام استعمال وی، لهذا په دې باندې مونځ کول مکروه تحريمی دی، ددې تدارک داسې کيدلې شی، چې په حرام مال باندې تيار کړې شوې فرش دې وکنلې شی او ددې په ځائې دې په حلال مال باندې فرش جوړ کړې شی۔

۳ - که په حرام مال باندې ئې زمکه واخستله او په هغې باندې ئې جمات جوړ کړو، نو په دې کښې د مونځ کولو په صورت کښې د حرام استعمال راځی، د کومې د وجې نه چې مونځ کول پرې مکروه تحريمی دی، او ددې تدارک هم ممکن نۀ دې، خو ولې د دې وقف خو صحيح شوې دې، د دې وجې نه دا نه شی کولې چې د بيعې اولې استرداد دې وکړې شی او دا دې دوباره په مال طيب باندې واخستې شی .

دا جمات اګرچې غيرمقبول دې، **لحديث ان الله طيب لا يقبل الا طيبا**. ليکن ددې باوجود ددې په جمات کيدلو کښې څه شك نشته دې، لهذا ددې بې عزتی روا نۀ ده ۔

د جمات د پاره صرف دا شرط دې چې موقوف للصلوٰة وی، او د صحت د وقف د پاره فارغيدل **عن ملك الغير** کيدل شرط دی، دا شرائط په داسې مسجد کښې موجود دی، د کشاف او مدارك د جزئيې، **قيل كل مسجد بنى مباهاة او رياء و سمعة او لغرض سوى ابتغاء وجه الله او بمال غير طيب فهو لاحق بمسجد الضرار**. نه دې شبه ونۀ کړې شی، ځکه چې: اولاً خو دا قول په (قيل) سره د نقل کولو له کبله ضعيف دې۔

ثانيا دا په غير مقبول باندې محمول کول واجب دی، دا مطلب نۀ شی کيدلې چې دا بيخی

جمات نۀ دي.خکه چې د جمات کیدلو شرائط په کښې موجود دي۔
غرض دا چې په دې جمات کښې مونځ کول مکروه دی،او ددې بې عزتی کول هم روا نۀ دی،او نۀ ددې د تدارك څه صورت په نظر راځی.ددې مثال داسې دې چې قرآن مجید په مغصوبه ورقو باندې لیکلې شوې وی،نو ددې لوستل روا نۀ دی،للزوم استعمال الحرام او ددې بې عزتی کول هم روا نۀ دی.لانه قرآن، والله تعالیٰ اعلم. ۱۱ ربیع الاخر ۱۳۷۴ هجری

د عیدگاه په زیاتی زمکه باندې مدرسه جوړول

سوال:- دلته په مدرسه عربیه کښې د تعمیراتو تنګسیا ده،او عیدګاه ډیره وسیعه ده،ددې عیدګاه په څه حصه کښې کرکرونده کولې شی،او ددې آمدنی په عیدګاه باندې خرچ کولې شی. زمونږ دا خیال دې چې که د مدرسې د پاره د عیدګاه زیاتی زمکه استعمالول شرعا روا وی،نو بیا دا مدرسه په ښه وسیعه پیمانه چلولې کیدې شی،ددې یو استفتاء مونږ مرتب کړې وه او د بعضې علماء کرامو حضراتو په خدمت کښې مو لیګلې وه، مولانا مفتی محمد شفیع صاحب او مولانا محمد یوسف صاحب بنوری بې د څه شك او شبې نه د جواز فتوی راکړه، لیکن د خیر المدارس د دارالافتاء نه او د سهارنپور نه چې کوم جواب راغلو ،نو هغوی د شرط الواقف کنص الشارع عبارت وړاندې کړې دې.او دا ئې د شرط خلاف ګرځولې دې او د عدم جواز حکم ئې کړې دې،بیا حضرت مولانا خیر محمد صاحب دلته تشریف راوړلو او د هغوی سره مو خبرې وشوې، هغوی هم دا غوښتل چې که د مسئلې ګنجائش راوه ویستلې شی نو ضرورت خو واقعی ددې خبرې شته دې چې مدرسه دې ورته منتقل کړې شی.او هغوی دا اوفرمائیل چې ستاسو په خدمت کښې استفتاء در ولیګو نو تاسو به راته مفصل جواب راکړئ، لهذا دا عرض دې چې تاسو مونږ ته تفصیلی جواب راکړئ .بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب : ما ددې مسئلې په صورت کښې څو څو ځله غور وکړو لیکن هعدا مې پوهې ته راغلل چې د عیدګاه په زمکه باندې مدرسه جوړول روا نۀ دی، د ډیر سوچ باوجود د جواز د فتوې ورکونکو حضراتو د خیال بنا زما په ذهن کښې نۀ راځی ،که چیرې تاسو راته د حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب مدظله او د حضرت مولانا محمد یوسف بنوری مدظله د افتاء دلائل هم لیکلې وې نو په هغې به مو څه غور کړې وو،بهر حال د مسئلې نوعیت بالکل واضحه دې،چې د لګ شان شك او شبهې کولو ځائې په کښې هم نشته ،خو سره د دې نه هم چې کوم امور موجب د خلجان او د شك کیدلې شی،د جواب په دوران کښې د هغې تنقیح هم وکړې شوه ۔

قال في الشامية فان شرائط الواقف معتبرة اذالم تخالف الشرع وهو مالك فله ان يجعل ماله حيث شاء ما لم يكن معصية وله ان يخص صنفا من الفقراء ولو كان الوضع في كلهم قربة (ردالمحتار ص۳۹۹ ج۳)

وقال في التنوير اتحد الواقف والجهة وقل مرسوم بعض الموقوف عليه جاز للحاكم ان يصرف من فاضل الوقف الاخر عليه وان اختلف احدهما لا. (ردالمحتار ص۵۱۵ ج۳)

معلومه شوه دا خبره چې د واقف د شروطو خلاف كول او د وقف جهت بدلول روا نۀ دی۔
په خپله واقف هم د خپل شرط خلاف نۀ شی کولې۔

قال في شرح التنوير وقف ضيعة على الفقراء ثم قال لوليه اعط من غلتها فلانا كذا وفلانا كذا لم يصح لخروجه عن ملكه بالتسجيل. (ردالمحتار ص۵۱۳ ج۳)

د درمختار د پورته جزئيې نه پس دې د «ان للواقف الرجوع في الشرط ولو مسجلا (ردالمحتار ص۵۱۲ ج۳) جزئيې نه شبه ونۀ كړې شی، ځكه چې هم په دې موقع باندې علامه ابن عابدين رحمه الله فرمائی (و فيه كلام سياتی) چنانچه وړاندې په يو موقع باندې ئې ډير په بسط سره د دې تحقيق فرمائيلې دې.
د كومې نه چې يو څو اقتباسات تاسو ته ليكلې شی:

لا يجوز ان يفعل الا ما شرط وقت العقد . وما كان من شرط معتبر في الوقف فليس للواقف تغييره ولا تخصيصه بعد تقرره ولاسيما بعد الحكم الخ (ردالمحتار ص۵۱۶ ج۳)

غرض د خبرې دا دې چې په خپله واقف هم د وقف جهت نۀ شی بدلولې.
همدغه شان حاكم هم د بيت المال په وقف كښې د جهت د بدلون اختيار نۀ لري۔

قال في شرح التنوير ان السلطان يجوز له مخالفة الشرط (الى ان قال) وان غاير شرط الواقف لانه اصلها لبيت المال

وفي الشامية قلت والمراد من عدم مراعاة شرطها ان للامام او نائبه ان يزيد فيها وينقص ونحو ذلك وليس المراد انه يصرفها عن الجهة المعينة الخ (ردالمحتار ص۵۲۹ ج۳)

حاصل د خبرې دا دې چې په ټولو معتبرو كتابونو كښې دا وضاحت دې، چې د واقف د شرط او د وقف د جهت نه خلاف كول روا نۀ دی، كه د موقوف عليه نه استغناء شوې هم وی، نو بيا به هم د وقف آمدن د موقوف عليه په مجانسِ اقرب باندې خرچ كولې شی، په دې حالت كښې هم د وقف جهت بدلول روا نۀ دی،

قال في التنوير ومثله حشيش المسجد وحصيره مع الاستغناء عنهما والرباط والبئر اذالم ينتفع بهما فيصرف

وقف المسجد والرباط والبئر (والحوض صرف) الی اقرب مسجد او رباط او بئر (او حوض صرف) الیه

وقال فی الشامیة (قوله الی اقرب مسجد او رباط الخ) لف ونشر مرتب وظاهره انه لا یجوز صرف وقف مسجد خرب الی حوض وعکسه وفی شرح الملتقی یصرف وقفها لاقرب مجانس لها (ردالمحتار ص۵۱۳ ج۳)

مذکوره جزئیه اگرچې د ورومبی مصرف د خرابیدلو په حقله ده. لیکن د ورومبی مصرف نه د اوقاف آمدن که چرې زیات وی نو د هغې هم دا حکم دې. ځکه چې استغناء دواړو صورتونو لره جامع ده.

شرح التنویر مع الشامیة ص۵۲۰ کښې دا جزئیه ده

ویبدء من غلته بعمارته ثم ما هو اقرب بعمارته کامام مسجد ومدرس مدرسة یعطون بقدر کفایتهم ثم السراج والبساط الی اخر المصالح وان لم یشترط الواقف لثبوته اقتضاءً

ددې نه دې دا وهم ونه کړې شی چې د وقف جمات نه مدرس ته ورکول روا دی، ددې نه مقصد دا دې چې د وقف جمات نه امام ته او د وقف مدرسې نه مدرس ته ورکول روا دی. ځکه چې په دې لاندینۍ جزئیه کښې ددې خبرې تصریح ده چې د جمات د پاره د وقف کولو په وخت کښې که چرې مدرس هم مشروط فی الوقف وی نو هغه هم د لازمی مصارفو څخه ندی.

قال فی شرح التنویر وانما یکون المدرس من الشعائر لو مدرس المدرسة کما مر اما مدرس الجامع فلا لانه لا یتعطل لغیبته بخلاف المدرسة حیث تقفل اصلا. (ردالمحتار ص۵۲۵ ج۳)

خلاصه د خبرې دا چې د اصل موقف علیه نه د استغناء په وخت کښې هم د وقف جهت بدلول روا نۀ دی، په اقربو مجانسو باندې خرچ کول ضروری دی، په عالمگیریه کښې هم ددې قسمه جزئیه موجوده ده:

سئل شمس الائمة الحلوانی عن مسجد او حوض خرب ولا یحتاج الیه لتفرق الناس هل للقاضی ان یصرف اوقافه الی مسجد آخر او حوض آخر قال نعم ولو لم یتفرق الناس ولکن استغنی الحوض عن العمارة وهناك مسجد محتاج الی العمارة او علی العکس هل یجوز للقاضی صرف وقف ما استغنی عن العمارة الی عمارة ما هو محتاج الی العمارة قال لا کذا فی المحیط (عالمگیریة ص۴۵۲ ج۲)

په دې عبارت کښې د مجانسِ اقرب تصریح نشته دې. د شرح التنویر او د شامیې په ذکر کړې شوو جزئیو کښې ددې وضاحت شته دې چې په حالت د استغناء کښې به د جمات وقف د نزدې نه نزدې جمات باندې او د حوض وقف د نزدې نه نزدې حوض باندې خرچ کولې شی. وهذا ما جاء لی لفهم هذا الفقیر والعلم عند الله اللطیف الخبیر.

۱۸ رجب ۱۳۷۴ هجری

د جمات په زمکه کښې د امام دپاره کور جوړول

سوال:- یو جمات ډیر زیات فراخه دې،نو د هغې څه حصه خارجول او په هغې باندې د جمات د امام دپاره کور جوړول روا دی او که ناروا ؟ بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب : کومه زمکه چې یو ځل په جمات کښې داخله شوه،هغه به تر قیامته پورې جمات وی،د هیڅ یو ضرورت د پاره هغه د جمات نه نهٔ شی خارجولې۔

قال فی شرح التنویر ولو خرب ما حوله واستغنی عنه یبقی مسجدا عند الامام والثانی ابدا الی قیام الساعة وبه یفتی

وفی الشامیة(قوله ولو خرب ما حوله الخ) ای ولو مع بقائه عامرا و کذا لو خرب ولیس له ما یعمر به وقد استغنی الناس عنه لبناء مسجد آخر (ردالمحتار ص۵۱۳ ج۳)والله تعالی اعلم. ۱۹ شوال ۱۳۷۴ هجری

نزد مسجد بیت الخلا و غسل خانه ساختن

سوال:- نزد دیوار مسجد پانخانه تیارکرده درآن قضاء حاجت می کنند و همچنین غسلخانه بنا می کنند درین دوچیز و مسجد چقدر فاصله ضروری هست؟ بحواله کتب جواب دهید.

الجواب و منه الصدق والصواب : قال فی الشامیة فی باب مکروهات الصلوة لو جعل الواقف تحته بیتا للخلاء هل یجوز کما فی مسجد محلة الشحم فی دمشق لم اره صریحا نعم سیأتی متنا فی کتاب الوقف ان لو جعل تحته سردابا لمصالحه جاز تامل(ردالمحتار ص۶۱۳ ج۱)

این جزئیه دال ست برجواز بناء بیت الخلاء نزد مسجد بلکه بزیر مسجد هم ابتداءً. مگر درین قیاس مع الفارق ست چرا که بیت الخلاء را باغراض-و مصالح مسجد بهیچ گونه تعلق قریب نیست، و اما تعلق بوسائط بعیده پس باین طور هر فعل باغراض مسجد متعلق خواهد شد و این مبطل ست برائ قید (لمصالحه)،و نیز بناء بیت الخلاء بقرب مسجد عرفا خلاف احترام ست، و نیز موجب ایذاء مصلیان، و درحدیث آکل ثوم و بصل را ازقرب مسجد بالفاظ(فلا یقربن مسجدنا)نهی آمده است، و ظاهر ست که تعفن بیت الخلاء از بد بوئ ثوم و بصل بدرجها زیاده ترست،شاید که علامه ابن عابدین رحمه الله بحکم تامل باین جانب اشاره فرمودند۔

همچنین غسلخانه از اغراض و مصالح مسجد نیست،بلکه مزید برین موضع اقذار و اوساخ است

و بر وغیر مصلیان فساق و فجار هم جمع می شوند.بقرب مسجد امثل این چنین محدثات ساختن خلاف حرمت مسجد است .(في بيوت اذن الله ان ترفع) ، (و من يعظم شعائر الله فانها من تقوى القلوب). والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۳ جمادی الاولی ۱۳۷۵ هجری

د کافر په پرینبودلی شوی جائداد باندې جمات جوړول

سوال:- یو مولوی صاحب دا فرمائی چې د هندوستان اړخ ته د تلونکو غیر مسلمو په زمکو باندې جمات جوړول روا نهٔ دی،اگر چې د پاکستان د حکومت په اجازت سره وی،په دلیل کښې د قرآن مجید دا آیت (ما كان للمشركين ان يعمروا مساجد الله) بیانوی،حال دا دې چې په حدیث شریف کښې دی،چې د مشرکینو د قبرونو په ځائې مسجد نبوی جوړ کړې شو ،د ذکر کړې شوی مولوی صاحب قول او استدلال تر کوم حده پورې صحیح دې؟ بینوا توجروا .

الجواب و منه الصدق والصواب : د مولوی صاحب قول او استدلال صحیح نهٔ دې،ځکه چې د غیر مسلم په خپله مملوکه زمکه کښې په نیت د قربت سره جمات جوړول روا نهٔ دی.

د مشرکانو د قبرونو په ځائې باندې د مسجد نبوی د تعمیر نه د کفارو په زمکه باندې د تعمیر په جواز باندې استدلال کول صحیح نهٔ دی،ځکه چې د مسجد نبوی د تعمیر په وخت کښې د دغه زمکې مالکانو اسلام راوړې وو ،دا مقبره د هغوی مملوکه وه، نو د مسجد نبوی تعمیر په زمکه د مسلمان باندې وشو ،دا نهٔ چې د کافر په زمکه باندې، لیکن دا خبره چې د کافر په زمکه باندې د ذکر شوی شرط په بنا د جمات تعمیر روا دې،او په دې زیر بحث صورت کښې خو د کافر زمکه نده ،ځکه چې د دواړو حکومتونو په خپله کښې د فیصلې مطابق هر یو حکومت په پرینبودلې شوی جائداد باندې د وکالت قبضه لرې،یعنی په تصرفاتو کښې د اصل مالك وکیل دی . لهذا هر کله چې غیر مسلم ته د هغهٔ د جائداد عوض په هندوستان کښې ورکړې شو ،نو دا د دې جائداد بیع په واسطې د وکیل شوله.

که د آبادئ د انتقال او د املاکو د معاوضو د دې معاهدې اعتبار اونهٔ کړې شی،لکه څنګه چې د بعضو حضراتو دا رائې ده، نو پرینبودلې شوی املاك په حکم د فئ کښې د کیدلو د وجې نه د کافرانو د ملك نه خارج شو. لهذا بهر حال په پرینبودلی شوی جائداد کښې د حکومت په اجازت سره د جماتونو تعمیر بې د څه شك او شبې نه روا دی.والله تعالى اعلم ۲۹ رجب ۱۳۷۵ هجری

د پورتنی سوال په شان یو بل سوال

سوال:- د یو سړی زمکه دریا خان ښار. مری سره نزدې ده. دغه د زمکې مالك او نورو

مسلمانانو ته د محلي د جمات ضرورت دې، د زمکې مالك وائي چې د دې زمکې نه زۀ د جمات د پاره د ضرورت مطابق يوه ټوټه وقف کوم، ليکن په دې زمکه کښې هندو زما سره شريك دې، او هغه هندوستان ته لاړو، د هغهٔ حق به داسې ادا کوم چې د دې زمکې نه به هغهٔ ته د هغهٔ حصه ورکړم او يا به ورله نقدې پيسې ورکړم، نو په دې صورت کښې په دې زمکه کښې د جمات تعمير روا دې او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب : حکومت له دې درخواست ورکړی او دا زمکه دې تقسيم کړی او په خپله حصه کښې دې بيا جمات جوړ کړی، که د نورې زمکه حاجت ورته راپيښ شی نو د شريك هندو زمکه هم د حکومت په اجازت سره په خپل کار کښې راوستلې شی۔ **والله تعالیٰ اعلم۔**

غره ذی حجه ۱۳۷۱ هجری

د پورتنی په شان يوبل سوال

سوال:- په پاکستان کښې د غيرمسلم په پريښودلی شوی جائداد باندې جمات تيارول روا دی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب : په پريښودلی شوی جائداد د حکومت قبضه برابره خبره ده که په توګه د استيلاء وی او که په توګه د انتظام وی بمنزلة الوکالة عن المالك وهو الظاهر. بهر کيف د حکومت په اذن سره په پريښودلې شوې زمکه کښې د جمات جوړول روا دی۔ **والله تعالیٰ اعلم۔**

۳۰ ذی حجه ۱۳۷۴ هجری

د کافر جمات لره جوړول

سوال:- کافر که جمات جوړ کړی يا د جمات په جوړولو کښې چنده ورکړی نو دا روا دی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب : کافر که د قربت په نيت سره جمات جوړ کړی. او يا د جمات په جوړولو کښې چنده ورکړی نو روا دی، وراندې په دې کښې اختلاف دې، چې د واقف په مذهب کښې قربت کيدل شرط دی او که د واقف په خيال او عقيده که قربت کيدل کافی دی، راجع په کښې دا دويم قول دې۔

قال فی الهندية واما سببه فطلب الزلفی (الی قوله) واما الاسلام فليس بشرط.

وفی کتاب الوقف من شرح التنوير بدليل صحته من الکافر.

وفی الشامية حتی يصح من الکافر (الی قوله) بخلاف الوقف فانه لابد فيه من ان يکون فی صورة القربة وهو معنی ما

بل لا بد له من شرط ان يكون قربة في ذاته الا انه شرط كونه قربة في معتقدهم لم يصح من الكافر (رد المحتار ج ٣)

وقف د کافر په حکم د وصیت د کافر کښې دي،او په هدایة وغیره تولو کتابونو کښې نې لیکلې دی،چې که د وصیت جهت د کافر په نیز هغه قربت وی نو دا وصیت روا دې.

د دې آیت کریمه (ما کان للمشرکین ان یعمروا مساجد الله) نه د کافر د جمات د جوړولو په عدم جواز باندې استدلال صحیح نهٔ دې،د آیت په سیاق او سباق او شان نزول باندې د نظر اچولو نه پس دا خبره واضحه شی،چې په دې کښې د مسجدحرام د تعمیر او حاجیانو ته د اوبو ورکولو په سلسله کښې د مشرکینو د افتخار رد دې، داسې چې په مشرکینو کښې د عمل د قبلیدلو شرط یعنی د ایمان د نهٔ موندلو له کبلې د هغوی دا عمل مقبول نهٔ دې او په غیر مقبول عمل باندې فخر کول لغو دی،په دې آیت کښې د جواز او د عدم جواز سره څه تعرض نشته دې،لهذا (للمشرکین) کښې لام د جواز نهٔ دې بلکه لام د استحقاق او صلاحیت دې. والتفصیل فی بیان القرآن

د دې نه دا خبره معلومه شوه چې ددې آیت نه د بعضې مفسرینو عدم جواز ثابتول صحیح نهٔ دی،ځکه چې دا د آیت د سیاق او د سباق او د شان نزول نه د خلاف کیدلو سره سره د فقهاء کرامو ﷺ د تصریحاتو سره هم معارض دی،او په وخت د معارضه کښې به د مفسرینو قول قابل د قبلیدلو نهٔ وی.فانهم کلهم رجال

د خانه کعبې هغه تعمیر کوم چې مشرکینو کړې دې د هغې په خپل ځائې د ساتلو نه زیات قوی بل کوم یو دلیل په جواز باندې کیدلې شی؟ فبای حدیث بعده یؤمنون

غرض د خبرې دا چې که چرې کافر د ثواب په نیت جمات تعمیر کړی نو دا روا دی،البته که په دې عمل کولو سره په مسلمانانو باندې د کافرانو د افتخار او د احسان د اظهار اندیښنه وی نو د هغوی دا عمل قبلول به روا نهٔ وی.والله تعالی اعلم. ۲۹ رجب ۱۳۷۵ هجری

په جمات کښې اخستل او خرڅول جائز ندی

سوال - یو مولوی صاحب فرمائی چې په جمات کښې بیعه هغه وخت مکروهه ده چې کله مبیع دیر زیات وی،او په جمات کښې بیعه عموماً د بازار په شانتې کیږی که چیرې د یو وړوکی څیز بیعه کله په جمات کښې وکړې شی نو په دې کښې څه خبره نشته ،په دلیل کښې دا لاندینې عبارت وړاندې کوی

و كذلك المنع عن البيع فيه هو الذي يغلب عليه حتى يكون كالسوق لانه ﷺ لم ينه عليا ﷺ عن خصف النعل فيه مع انه لو اجتمع الناس لخصف النعال فيه كره فكذلك البيع و انشاد الشعر و التدريس لاهل الصلوة انما غلب عليه كره

مالاقلاه.(ردالمحتار ص۶۱۸ ج۱)

ورسره دا فرمائي چې په بذل المجهود شرح ابی داود کښې ددې نه هم د زيات جواز تصريح او تشريح ده. بله دا چې په شاميه باب الاعتکاف کښې دي:

ان المبيع لولم يشغل البقعة لا يكره احضاره كدراهم يسيرة او كتاب ونحوه(الى قوله)ان احضار الثمن و المبيع الذى لا يشغل جائز اه(ردالمحتار ص۴۸۲ ج۲)

آيا د مولوی صاحب دا خيال او استدلال صحيح دي؟ بينوا توجروا . .

الجواب و منه الصدق والصواب: د شامي باب الاعتکاف جزئيه خو صرف د معتکف په حقله ده، په دې کښې د بيعې د جواز او د عدم جواز په حقله څه بحث نشته دي، بلکه صرف د **احضار مبيع فى المسجد للمعتكف** تفصيل دې په کښې، معتکف د پاره د ضرورت د څيزونو بيعه خو هسې هم روا ده، صرف په احضار د مبيعې کښې تفصيل دې:

د غير معتکف د بيعې په حقله مطلقاً کراهت تحريمی تصريح هم د ذکر کړې شوی عبارت سره نزدې په شرح التنوير او شاميه کښې موجوده ده:

قال فى شرح التنوير و كره اى تحريما لانه محل اطلاقهم احضار المبيع فيه كما كره فيه مبايعة غير المعتكف مطلقاً للنهى. و فى الشامية(قوله مطلقاً)اى سواء احتاج اليه لنفسه او عيالها و كان للتجارة احضره اولا كما يعلم مما قبله ومن الزيلعى والبحر. (ردالمحتار ص۴۸۳ ج۲)

او په شاميه کښې په باب المساجد کښې دا د علامه ابن عابدين رحمه الله خپل تحقيق نۀ دې، بلکه دا ئې د امام طحاوی رحمه الله تحقيق نقل کړې دې، اگر چې په دې ځائې کښې دوی په دې ځائې باندې سکوت اختيار کړې دې، ليکن په باب الاعتکاف کښې ئې مطلق کراهت تحريميه ثابت کړې دې، کمامر.د امام طحاوی رحمه الله ذکر کړې شوې قول د مذهبِ مشهور خلاف دې، لکه څنگه چې د پيشو د جوتې مسئله او دغه شان نورو بعضو مسئلو د دوی تحقيق د مذهبِ مشهور خلاف دې. لهذا رافعی رحمه الله د امام طحاوی رحمه الله د ذکر کړې شوی تحقيق په حقله فرمائي:

(قوله و كذلك النهى عن البيع فيه هو الذى يغلب عليه الخ)هذا خلاف المشهور فان المشهور كراهة البيع فى المسجد وان لم يغلب عليه(التحرير المختار ص۸۹ ج۱)

په بذل المجهود کښې ئې هم د امام طحاوی رحمه الله عبارت په دې شان نقل کړې دې:

قال الشوكانى اما البيع و الشراء فذهب جمهور العلماء الى ان النهى محمول على الكراهة(الى قوله)و فرق اصحاب ابى حنيفة بين ان يغلب ذلك و يكثر فيكره او يقل فلا كراهة و هو فرق لا دليل عليه انتهى قلت وهذا

الذی عزاه الی اصحاب ابی حنیفة رحمه الله هو الذی ذکره الطحاوی رحمه الله فی معانی الاثار الخ (بذل المجهود ص ۱۸۶ ج ۲، باب التحلق یوم الجمعة قبل الصلوٰة)

ددې عبارت نه دا هم معلومه شوه چې په احنافو کښې په دې تحقیق کښې امام طحاوی رحمه الله متفرد دې، د دې وجې نه د شوکانی رحمه الله د قول محمل د امام طحاوی رحمه الله وګرځولې شو.

غرض دا چې د احنافو مذهبِ مشهور او مفتی به هم دا دی چې بیع فی المسجد بهر صورت د غیر معتکف د پاره مکروه تحریمی ده او واجب الرد ده.

قال فی شرح التنویر واعلم ان فسخ المکروه واجب علی کل واحد منهما ایضا بحر وغیره لرفع الاثم.

وفی الشامیة (قوله ایضا) ای کما فی البیع الفاسد وقدمنا عن الدرر انه لا یجب فسخه وماذکره الشارح عزاه فی الفتح اول باب الاقالة الی النهایة ثم قال وتبعه غیره وهو حق لانه رفع المعصیة واجب بقدر الامکان اه قلت ویمکن التوفیق بوجوبه علیهما دیانة بخلاف البیع الفاسد فانهما اذا اصرا علیه یفسخه القاضی جبراً علیهما ووجهه ان البیع هنا صحیح قبل القبض ویجب فیه الثمن لا القیمة فلا یلی القاضی فسخه لحصول الملک الصحیح (ردالمحتار ص ۱۸۶ ج ۴)

هر کله چې دا بیع واجب الرد ده، نو په دې مبیعه کښې تصرف او اکل وغیره به حرام وی، لیکن دا مبیعه په خپله حرامه نهٔ ده، یعنی اکل ئې حرام دې او ماکول حرام نهٔ دې.

قال فی شرح التنویر اشتری مکیلاً بشرط الکیل حرم ای کره تحریما بیعه واکله حتی یکیله وقد صرحوا بفساده وبانه لا یقال لاکله انه اکل حراما لعدم التلازم کما بسطه الکمال

وفی الشامیة تحته (قوله کما بسطه الکمال) لو اکله وقد قبضه بلا کیل لا یقال انه اکل حراما لانه اکل ملک نفسه الا انه اثم لترکه ما امر به من الکیل فکان هذا الکلام اصلا فی سائر المبیعات بیعا فاسدا اذا قبضها ملکها ثم اکلها (الی قوله) وحاصله انه اذا حرم الفعل وهو الاکل لا یلزم منه ان یکون اکل حراما (الی قوله) و کذا لو غصب شیئا واستهلکه بخلطه ونحوه حتی ملکه ولم یؤد ضمانه یحرم علیه التصرف فیه باکل ونحوه وان کان ملکه (ردالمحتار ص ۲۲۷ ج ۴) والله تعالی اعلم. ۱۸ صفر ۱۳۷۶ هجری

په جمات باندې مدرسه جوړول

سوال:- د جمات د پاسه د مدرسې تعمیر روا دې او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب: قال فی التنویر واذا جعل تحته سردابا لمصالحه ای المسجد جاز کمسجد

القدس (ردالمحتار ص ۳۸۲ ج ۳)

وقال الرافعي رحمه الله (قول المصنف لمصالحه) ليس بقيد بل الحكم كذلك اذا كان ينتفع به عامة المسلمين على ما افاده في غاية البيان حيث قال اورد الفقيه ابو الليث سوالا وجوابا فقال فان قيل اليس مسجد بيت المقدس تحته مجتمع الماء والناس ينتفعون به قيل اذا كان تحته شيء ينتفع به عامة المسلمين يجوز لانه اذا انتفع به عامتهم صار ذلك لله تعالى ايضا اهـ ومنه يعلم حكم كثير من مساجد مصر التي تحتها صهاريج ونحوها (التحرير المختار ص ۸۰ ج ۲)

وفي الهندية ومن جعل مسجدا تحته سرداب او فوقه بيت وجعل باب المسجد الى الطريق وعزله فله ان يبيعه وان مات يورث عنه ولو كان السرداب لمصالح المسجد جاز كما مسجد بيت المقدس كذا في الهداية (عالمگيرية ص ۴۵۵ ج ۲)

د اولنی او د دریم عبارت ظاهر په عدم جواز باندې دلالت کوی، لان مفهوم الفقهاء حجة بالاتفاق او په روایت ثانیه کښې د جواز تصریح ده، ددې وجې نه په وخت دسخت ضرورت کښې ترې نه گنجائش معلومیږی، لیکن دا اجازت په هغه صورت کښې دې چې د ابتداء نه ئې ددې جمات د پاسه یا د لاندې د مدرسې د جوړولو اراده وی، که چرې ابتداءً ئې اراده نهٔ وه بلکه د جمات حدود ئې متعین کړل او ددې رقبې په حقله ئې زبانی اوونیل چې دا جمات دې، د دې نه پس ئې که په دې د پاسه د جمات جوړولو اراده وشوه نو دا روا نهٔ دی.

قال في شرح التنوير لو بنى فوقه بيتا للامام لا يضر لانه من المصالح اما لو تمت المسجدية ثم اراد البناء منع ولو قال عنيت ذلك لم يصدق (ردالمحتار ص ۳۸۲ ج ۳) والله تعالى اعلم. ۱۳ ربيع الاول ۱۳۷۶ هجری

په جمات باندې د امام د پاره کور جوړول

سوال:- د امام د اوسیدلو د پاره د جمات د پاسه کور جوړول روا دی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د زمکې څومره حصې ته چې یو ځل مسجد شرعی اوونیلې شو، هغې کښې دننه، لاندې او باندې بل هیڅ یو څیز جوړول روا نهٔ دی، د مسجد شرعی د تاکلو نه وړاندې د امام د پاره د کور یا د جمات د مصالحو د پاره د څه جوړول که تاکلې شوې وی. او ددې عامه اطلاع هم کړې شوې وی نو دا بیا روا دی، د مسجد شرعی د گرځیدلو نه وروستو که متولی د شروع نه د نیت کولو دعوی وکړه نو دا دعوی به نهٔ شی قبلولې.

قال في شرح التنوير: لو بنى فوقه بيتا للامام لا يضر لانه من المصالح اما لو تمت المسجدية ثم اراد البناء

مع ولو قال عنيت ذلك لم يصدق تاترخانية (ردالمحتار ص ۳۸۲ ج ۳) والله تعالیٰ اعلم.

۱۱ محرم ۱۳۸۶ هجری

د خلقو د مړي ژوندی د پاره دزمکې په خاص حصه باندې جمات جوړول

سوال:- په ناظم آباد کښې يو خالي پلاټ دې، کوم چې د محلې د خلقو د مړي ژوندی د پاره مخصوص دې، د دولس دیارلس کالو نه مقامي خلق دا خپل ځان له يا د اجتماعی مړي ژوندې د پاره استعمالوي، نزدې دلته ورسره جمات نۀ وو، ددې وجې نه د ضرورت له کبله هم د دې پلاټ په يو گوټ کښې يو سپر جوړ کړې شو او په هغې کښې پنځه وخته مونځ ادا کول شروع کړې شو، او دا طريقه تر ننه پورې روانه ده، بلکه د جمعې مونځ په کښې هم په پابندۍ سره ادا کيږی، ددې کار کولو نه وړاندې د مقامي حاکمانو نه اجازت نۀ دې حاصل کړې شوې، اوس ددې کوشش روان دې، آيا د محلې خلق داسې جمات جوړولې شی. بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب حضراتو فقهاء کرامو ﷺ ددې خبرې تصريح کړې ده چې په وخت د ضرورت کښې د محلې خلق د لارې نه هم جمات جوړولې شی، ليکن په دې شرط چې تيريدونکو ته ددې نه څه ضرر نۀ وی، ځکه چې لاره هم ددې خلقو د ضرورت د پاره ده، لهذا هغوی په دې کښې د تصرف کولو حق لری، په همدې بنا کوم خالي پلاټ چې د اهلِ محله د فائدې او د راحت د پاره پرېښودلې شوې دې، په دې باندې د اهلِ محله د اجتماعی رائې مطابق جمات جوړول په طريقِ اولی روا دی، جمات د مسلمانانو د آبادۍ بينادی ضرورت دې، په حکومت باندې دې خلقو سره تعاون ضروری دې، دا نه چې په دې کښې دې رکاوټ (يعنی بنديز) راولی. والله تعالیٰ اعلم.

۵ شوال ۱۳۸۶ هجری

په جمات کښې جامې وچول

سوال:- جامې د وينځلو نه پس د جمات په غولی يا په ديوال باندې وچول روا دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د جمات په غولی يا په ديوال باندې جامې وچول روا نۀ دی، د مؤذن او د خادم د پاره که بهر بل څه ځائې نۀ وی نو هغوی بيا د جمات سره پيوسته ځائې کښې جامې وچولې شی. والله تعالیٰ اعلم. ۱۱ شوال ۱۳۸۶ هجری

په جمات کښې چنده کول

سوال:- په يو جمات کښې څو زره روپۍ د اول نه جمع دی، ليکن بيا هم د عادت مطابق د مونځ گذارو وړاندې د چندې پيټۍ گرځولې شی او چنده ترې نه اخستې شی، آيا شرعا دا کار صحيح

دې؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : که ضرورت وی نو بیا هم په دې طریقه باندې چنده غوښتل روا نهٔ دی، په دې کښې دا مفاسد دی:

۱ - په مونځ کښې خلل پیدا کول.

۲ - مونځ گذارو ته تکلیف رسیږی په صفونو باندې خپې اړول او تلل روا نهٔ دی.

۳ - د چا مخې ته پیتیځ وراندې کول د چندې غوښتلو دپاره خصوصی خطاب دې،او دا روا نهٔ دی، ځکه چې په دې کښې د ورکوونکی طیب خاطر نهٔ دې معلوم.خصوصاً د نورو په وړاندې خصوصی خطاب کښې جبر او اکراه ظاهره خبره ده،د رسول الله ﷺ ارشاد دې،چې بې د طیب خاطر نه د چا مال اخستل حلال نهٔ دی.

دچندې کولو صحیح طریقه دا ده چې د خطاب په ذریعه دې عام خطاب ورکړې شی.

ددې تفصیل په رسالہ(صیانة العلماء عن الذل عند الاغنیاء) کښې شته دې۔ والله تعالیٰ اعلم.

غره ذی القعده ۱۳۸۶ هجری

د جمات د بجلئ بې ځایه استعمال

سوال:- جمات ته نزدې په سړك باندې جلسه منعقد کیږی،چې په کښې به د یو بزرگ عالم دین وعظ وی، کیدې شی چې د شپې د دولسو یا یوې بجې پورې د جلسې کاروائی جاری وی، د دې ضرورت دپاره د جمات بجلی د تار په ذریعه بوتلل او استعمالول ئې صحیح دی اوکه نه پداسې حال کښې چې دجمات له منتظمینو نه د دې اجازت هم واخستې شی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دجمات بجلی هم د جمات د پاره خاص ده،د یو داسې کار د پاره د دې استعمال روا نهٔ دې چې هغهٔ کار د جمات په مصالحو کښې داخل نهٔ وی،اگرچې هغه کار په خپل ځائې د هر څومره نیکئ وی، هر کله چې د یو جمات د څیزونو استعمال په بل جمات کښې روا نهٔ دې، نو د عاموځایونو دپاره به ددې استعمال څنګه روا شی، د انتظامیې د داسې بې موقعې بلکه د شرعې خلاف اجازت ته هیڅ اعتبار نشته دې۔ والله تعالیٰ اعلم. ۲۳ شوال ۱۳۸۶ هجری

د پورتنی په شان یوبل سوال

سوال:- د جمات بجلی د امام یا د مؤذن په حجره کښې استعمالول روا دی او که نه؟ ورسره دا چې دې جمات سره په پیوسته مدرسه کښې د انتظامیې په اجازت سره ددې جمات بجلی استعمالول روا دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د امام او د مؤذن حجره خو د جمات په متعلقاتو کښې راځی،نهٔ

ددې دپاره د جمات بجلی بوتلل روا دی،همدغه شان دا مدرسه هم که چرې د دې جمات تابع وی، او په عامه توګه خلقو ته د دې علم هم وی،او د چندې ورکوونکی هم د دې تصریح نهٔ کوی چې د هغوی چنده دې مدرسه کښې خرج نهٔ کړې شی،نو په دې صورت کښې پیوسته مدرسې ته هم بجلې ورکولې شی۔

که چرې دا مدرسه د جمات تابع نهٔ وی، نو بیا دې مدرسې ته د جمات بجلې ورکول روا نهٔ دی، د جمات څه څیز بل ځائې ته اګر که دویم مسجد ته وی منتقل کول روا نهٔ دی۔

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: لكن علمت ان المفتى به قول ابى يوسف رحمه الله انه لا يجوز نقله ونقل ماله الى مسجد اٰخر كما مر عن الحاوى (ردالمحتار ص ۳۸۳ ج۳) والله تعالىٰ اعلم. ۳ ذی قعده ۱۳۸۶ هجری

د جمات په نلکه باندې لمبل

سوال:- دجمات نل دې دهغې په اوبو باندې په غسل خانه کښې غسل کول یا جامې وینځل روا دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: غسل خانه که چیرې د جمات په حدودو کښې وی، نو د عامو خلقو دپاره ددې استعمال روا نهٔ دې،صرف د امام،مؤذن او د جمات د خدمت سره متعلقه افراد ددې استعمال کولې شی ، او که د جمات د ضرورت د پاره د وقف تام کیدلو نه وړاندې د عامو خلقو د فائدې دپاره دا نل لګولې شوې وی نو هر یو سړی ته ددې د اوبو وړلو اجازت شته دې، لیکن په دې شرط چې د جمات تلویث په کښې نهٔ وی،او ددې نه مونځ ګذارو ته اندیښنه او ضرر هم نهٔ وی۔

والله تعالىٰ اعلم. ۴ ذی قعده ۱۳۸۶ هجری

امام ته پیشکی (یعنی د وړاندې نه)تنخوا ورکول

سوال:- دجمات امام د خپل اهل او عیال د پاره کور جوړول غواړی،آیا دا به صحیح وی چې انتظامیه هغهٔ ته د وړاندې نه دا ټولې پیسې ورکړی،او بیا د هغهٔ د تنخوا نه ئې هره میاشت مثلاً لس روپئ حصاروی ؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دعام عرف مطابق پیشکی تنخوا ورکولې کیدې شی، لیکن په دې شرط چې د امامت پرېښودلو په صورت کښې ترې نه د پیسو د واپس اخستلو او په صورت د وفات کښې ئې د ترکې نه د اخستلو قدرت وی۔والله تعالىٰ اعلم. ۲۵ ذی الحجه ۱۳۸۶ هجری

په جمات کښې ویده کیدل

سوال:- د طالب علمانو د پاره په جمات کښې ویده کیدل روا دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د مسجد بنا د ذکر او د عبادت د پاره ده،ددې قسمه کارونه د پاره نۀ ده،ددې وجې نه په عامو حالاتو کښې خو د چا د پاره هم په جمات کښې ویده کیدل روا نۀ دی. برابره خبره د که طالب علم وی او که نور څوك،که چیرې د مجبورئ د وجې نه طالبان په جمات کښې ویدۀ کیږی نو ددې شرطونو سره ئې ګنجائش شته دې:

۱ - د جمات نه علاوه بله څۀ عارضی یا مستقله قیامګاه نۀ وی،او متولی او منتظم هم ددې انتظام نه شی کولې.

۲ - د جمات د ادابو دې پوره خیال وساتلې شی،چې د شور ، غږ ، خندا خوندی،او د لایعنی خبرو نه دې په کښې پرهیز وکړې شی،د صفائې دې پوره اهتمام وکړې شی،او د اعتکاف نیت دې په کښې هم وکړې شی.

۳ - مونځ ګذارو ته باید د دوی نه هیڅ قسمه ضرر ونه رسیږی چې څنګه اذان کیږی سمدستی دې پاسیږی،او د مونځونو نه پس هم څو پورې چې خلق په سنتو ،نفلونو یا په ذکر او تلاوت وغیره کښې مشغوله وی نو د هغوی په عبادت کښې دې د څه قسمه خلل نه واقع کوی.

۴ - طالبان چې د ګیرو والاوی یا کم از کم چې د جمات د آدابو نه واقف او باشعوره وی،د کم عمره او بې شعوره ماشومانو په جمات کښې ویده کول روا نۀ دی.

الغرض: ممکنه حده پورې دې د دې نه د بچ کیدلو کوشش وکړې شی،او د مجبورئ خبره بیا بیله ده.والله تعالیٰ اعلم. ۲۴ ربیع الاخر ۱۳۸۷ هجری

د پورتنی په شان یوبل سوال

سوال:- د چا مقیم دپاره په جمات کښې کټ اچول یا بې د کټ نه ویده کیدل روا دی اوکه نه؟ بله دا چې نن صبا دا دستور دې،چې د تبلیغی جماعت حضرات په جمات کښې ویدۀ کیږی. او په جمات کښې خورا ځنباك هم کوی،او نور معمولات هم په جمات کښې پوره کوی، آیا شرعا ددې خبرې اجازت اوګنجائش شته دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د معتکف او دمسافر دپاره په جمات کښې د اودۀ کیدلو ګنجائش شته دې،لهذا د تبلیغی جماعت دا دستور روا دې،ځکه چې اهلِ تبلیغ عموما مسافر وی،خو سره ددې نه هم د اعتکاف نیت دې وکړی،او د دې دې هم اهتمام وکړی چې که چیرې جمات ته نزدې څه حجره وغیره وی چې په کښې تول ملګرې ځائیدې شی نو په جمات کښې دې بیا نۀ ویدۀ کیږی. او خوراك دې هم بهر کوی،او په جمات کښې کټ اچول د چا د پاره روا نۀ دی.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: واكل ونوم الا لمعتكف وغريب الخ

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله و اكل و نوم) و اذا اراد ذلك ينبغي ان ينوي الاعتكاف فيدخل و يذكر الله تعالى بقدر ما نوى او يصلي ثم يفعل ما شاء، فتاوى هندية (ردالمحتار ص ۶۱۱ ج ۱) والله تعالى اعلم.

۲۷ ربیع الاول ۱۳۸۹ هجری

د بلې محلې په جمات کښې مونځ کول

سوال:- يو سړې د محلې د جمات جمع پرېږدي او څې بله محله کښې مونځ ادا کوي، ددغه سړي دا فعل شرعا صحيح دې او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که د محلې د جمات امام صحيح العقيده وي او بل هم څه شرعي يا طبعي مانع په هغهٔ کښې نوي، نو بيا دا جمات پرېښودل او بل جمات ته تلل صحيح نهٔ دی، د محلې د جمات دومره حق دې چې هغې ته د داخليدلو نه پس که د چا نه جمع هم وشوه، نو د جمعې په طلب کښې بل جمات ته د تلو نه ددې خپلې محلې په جمات کښې مونځ کول افضل دی، غرض دا چې د دغه سړی دا عمل د حد نه افراط او خلاف شرع دې، ليکن د محلې خلقو ته ددې سړی نه بد گمانه کيدل، يا په هغهٔ باندې ملامتيا وئيل روا نهٔ دی، په عامه توگه دا قسمه طريقه د عمل کولو د شرعي مسائلو نه د ناخبره کيدلو يا په څه غلط فهمۍ باندې مبنی وی، ددې وجې نه په شفقت او همدردئ سره ددې اصلاح ضروری ده، که چيرې هغهٔ په پوهولو سره هم نهٔ پوهيږی نو بيا دې هم هغهٔ په خپل خائې باندې پرېښودلې شی، د داسې قسمه خلقو سره د بحث کولو په ځائې دې په هغه خلقو باندې محنت او خواری وکړې شی کوم چې له سره د مونځ نه آزاد دی او په هيڅ يو جمات کښې هم قدم نهٔ ږدی۔ والله تعالى اعلم.

۱۸ ربیع الاخر ۱۳۸۷ هجری

د جمات د چندې تبادله

سوال:- د جمات د چندې نه کهٔ څوک ماتې پيسې واخلی او غټ لوټ ورکړی نو دا اخستل او ورکول په جمات کښې دننه يا د جمات نه بهر کول روا دی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د جمات نه بهر دا روا دی، او په جمات کښې دننه روا نهٔ دی۔ والله تعالى اعلم.

۲۳ ربیع الاول ۱۴۰۰ هجری

د جمات کتاب لره بهر وړستل جائز ندی

سوال:- يو سړی په جمات کښې اېښودلې شوې کتاب د مضمون د اورولو دپاره کور ته يوړلو، او د مضمون د اورولو نه پس ئې کتاب واپس جمات ته راوړلو، آيا د هغهٔ دا فعل صحيح دې او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چیرې دا کتاب د دې جمات د پاره وقف وی، نو ددې بل ځاېٔ ته منتقل کول روا نۀ دی، بلکه د جمات په حدودو کښې دې ددې نه فائده واخستلې شي۔

کذا حرر العلامة ابن عابدین رحمه الله (ردالمحتار ص۴۸۰ ج۳) والله تعالی اعلم. رمضان ۱۳۸۷ هجری

د اذان نه پس ځان له مونځ کول او د جمات نه وتل

سوال:- که د یو سړی عجله اوتادی وی، مثلاً سفر ئې په غاړه وی، یا بل څه ضروری کار ئې وی، نو د اذان نه پس په جمات کښې ځان له مونځ کولې شی او بیا تلې شی که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که د جمع په انتظار کولو کښې معتدبه حرج وی نو بیا جمع پرېښودل روا دی۔

قال فی التنویر: فتسن او تجب علی الرجال العقلاء البالغین الاحرار القادرین علی الصلوة بالجماعة من غیر حرج . (ردالمحتار ص۵۱۸ ج۱) والله تعالی اعلم. ۱۵ ذی قعده ۱۳۸۷ هجری

د جمات څیز په ذاتی استعمال کښې راوستل

سوال:- د جمات متولی یا د هغۀ رشته دار او ګواندیان دجمات کوم څیز د خپل ذاتی کار دپاره استعمالولې شی اوکه نه ؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: هر کله چې د یو جمات سامان د بل جمات د پاره استعمالول روا نۀ دی نو متولی یا غیر متولی د جمات څیز څنګه استعمالولې شی؟چا ته دومره اختیار هم نشته دې چې د جمات ډیوه ذې کور ته یوسی۔

قال فی الهندیة ولا یحمل الرجل سراج المسجد الی بیته (عالمگیریة ص۱۱۰ ج۱) والله تعالی اعلم.

۲۴ صفر ۱۳۸۹ هجری

په جمات کښې لالټین بلول

سوال:- زید د ماسخوتن د مونځ نه پس نیم ساعت د حدیث درس کوی، که په دې دوران کښې بجلې لاړه شی، او د هوا د تیزېدلو د وجې نه ډیوه یا شمع بلول هم ممکن نۀ وی، نو په لالټین کښې چې د خاورو تیل واچولې شی او په جمات کښې بل کړې شی نو دا به روا وی او که نه؟ همدغه شان د مونځ په دوران کښې به د لالټین بلول روا وی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په حدیث شریف کښې دې چې د اومه (خام) پیاز یا د اوږې خوړونکې دې جمات ته نزدې نۀ راځی، او د خاورو د تیلو بوئې خو ددې څیزونو نه په څو څو چنده زیات دې، لهذا دا په جمات کښې بلول روا نۀ دی۔ والله تعالی اعلم. ۲۷ ربیع الاخر ۱۳۸۹ هجری

جمات بل ځائي ته منتقل کول

سوال:- يو جمات د محلي په مينځ کښې واقع دې،د اوبو په کښې ډير تکليف دې،او مونځ گذارو ته په کښې مونځ ادا کول هم گران وی،ددې حالاتو په بنا دا جمات ددې ځائې نه اخوا کول او دا يو داسې ځائې ته منتقل کول روا دی چې په هغهٔ ځائې کښې ددې قسمه څه تکليف او مشکلات نهٔ وی، او مونځ په کښې ښه په سهولت او اسانتيا سره ادا کيدې شی ؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : جمات په هيڅ يو حال کښې هم منتقل کول روا نهٔ دی.کوم ځائې چې يو ځل جمات شو هغهٔ ځائې به تر د قيامته پورې جمات وی، بالفرض که چيرې جمات شاړ شی او خوک مونځ کولو والا په کښې هم نهٔ وی،بيا هم د دې جمات باقی ساتل واجب دی.البته که د خوشی جمات په سامان باندې د ضائع کيدلو ويره وی نو ددې خوشی جمات سامان بل يو نزدې جمات ته منتقل کولې شی. والله تعالیٰ اعلم ۱۱ رجب ۱۳۸۹ هجری

د پورتنی په شان يوبل سوال

سوال:- يو غير مسلم کارخانه دار په کارخانه کښې جمات جوړ کړو، مسلمانانو شپږو اوو کالو پورې په هغې کښې مونځ ادا کولو، بيا دغه غير مسلم دا کارخانه د يو مسلمان په لاس خرڅه کړه، د دې نه پس هم اوو اتو مياشتو پورې په دې جمات کښې مونځونه د جمعې سره ادا کيدل. ليکن اوس مسلمان کارخانه دار وائی،چې زهٔ دا جمات ددې ځائې نه اخوا کوم او په دغه بل کوټ باندې ئې جوړوم، او دلته زهٔ ځان له خپل ذاتی عمارت جوړول غواړم.آيا د هغهٔ داسې کول صحيح دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : غير مسلم که دا د ثواب کار گنڼلو او په دې نيت ئې وقف کړې وو نو د هغهٔ وقف صحيح دې، دلته هم ښکاره خبره دا ده چې هغهٔ دا د نيکۍ کار گنڼلې دې او جمات ئې تعمير کړې دې،لهذا دا جمات شرعی جمات وگرځيدلو.اوس د مسلمان کارخانه دار د دې اخوا کول روا نهٔ دی۔

که چيرې د غير مسلم وقف صحيح ونهٔ منلې شی، نو بيا هم د مسلمان کارخانه دار په وړاندې دلته اوهٔ اتهٔ مياشتې د جمعې مونځ کيدلو او هغهٔ په دې باندې چپ پاتې وو. دا چپ پاتې کيدل هم د رضامندۍ دليل دې. لهذا په خپله د هغهٔ په رضا باندې هم دا شرعی جمات گرځيدلې دې. اوس ددې اخوا کول روا نهٔ دی. والله تعالیٰ اعلم ۱۳ جمادی الثانيه ۱۳۹۹ هجری

په جمات کښې کټ اچول

سوال:- په فتاوی رشيديه کښې ئې ليکلې دی،چې مسافر او مقيم لره په جمات کښې کټ اچول

او په هغې کښې ویدهٔ کیدل روا دی، د دې مسئلې په کتلو سره مې په زړهٔ کښې څه اشکال غوندې پیدا شو چې مقیم د پاره خو په جمات کښې ویدهٔ کیدل روا نهٔ دی،د دې راته لگه تشریح اوفرمایئ .بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب

په فتاوی رشیدیه کښې ددې سوال په جواب کښې صرف دومره دی چې په جمات کښې کټ اچول صحیح دی، لیکن لاندې په حاشیه کښې د حضرت مولانا عبدالحی صاحب رحمه الله نه د منقول تحقیق نه دا معلومیږی چې دا د معتکف د پاره دی، و نصه:

جائز ست چه برای آنحضرت ﷺ در مسجد سریری نهاده شده و بر آن درایام اعتکاف آرام می فرمودند کما فی سفر السعادة، وابن ماجه ازابن عمر رضی الله عنهما روایت کرده ان رسول الله ﷺ کان اذا اعتکف طرح له فراشه او یوضع له سریره وراء سطوانة التوبة . والله تعالی اعلم (فتاوی رشیدیة ص ۴۱۵)

د فقهاء کرامو رحمهم الله د نص مطابق د غیر مسافر او معتکف د پاره په جمات کښې ویدهٔ کیدل مکروه دی،د سخت ضرورت په حالت کښې دا چل اختیارولې شی چې اول دې په نیت د اعتکاف داخل شی او څه عبادت دې وکړی.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: واکل ونوم الا لمعتکف وغریب الخ

و قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله واکل ونوم) واذا اراد ذلك ینبغی ان ینوی الاعتکاف فیدخل ویذکر الله تعالی بقدر مانوی ویصلی ثم یفعل ما شاء فتاوی هندیة (ردالمحتار ص۶۱۹ ج۱)

په اصل کښې د ادب او د بې ادبئ مدار په عرف باندې دې،زمونږ په عرف کښې په جمات کښې کټ اچول عیب گڼلې کیږی، بله دا چې په داسې کولو سره د عوامو د زړونو نه د جمات عزت اوځی، هغوی به په کټ باندې قیاس اوکړی او نور ناروا کارونه به هم په جمات کښې شروع کړی، لهذا اوس د معتکف د پاره هم کټ اچول په جمات کښې روا نهٔ دی،لکه څنگه به چې وراندې پاك پیزار او په هغې کښې جمات ته راتلل عیب نهٔ گڼلې کیدل، لیکن زمونږ په عرف کښې اوس د جمات بې ادبی گڼرلې کیږی، که چیرې چا پاك پیزار واچولو او جمات ته په کښې راغلو نو خلق به ملك په سر راواخلی.والله تعالی اعلم. ۲۳ رجب ۱۳۸۹ هجری

په جمات کښې توک دان (یعنی د لاړو توکولو لوښې) ایښودل

سوال:- یو سړې مریض دې او دا سړې جمات جارو کوی،ده لره په لاړو کښې ډیر بلغم راځی،که چیرې دا سړې د لاړو توکلو د پاره په جمات کښې یو ډبې یو گوټ کښې کیږدی او د ضرورت په وخت کښې په هغې کښې لاړې توکی،او بیا هغهٔ بهر وغورځوی نو دا به روا وی او که نه؟ بینوا

توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا روا نهٔ دی،د اودس په ځائې کښې دې وتوکی او اوبه دې پرې واړوی، که دا ورته ګرانه وی نو په دست مال وغیره کښې دې لاړې وغیره توکی،او ددې دست مال د پاک ساتلو اهتمام دې کوی۔ **واللہ تعالیٰ اعلم** **۲۳ رجب ۱۳۸۹ هجری**

د جمات په آمدن باندې د جمات دپاره خیزونه اخستل

سوال:- یو صاحب وائی چې د جمات په عام آمدن باندې د جمات د پاره درېٔ او لوټه وغیره اخستل روا نهٔ دی،او حواله ورکوی چې مولانا عبدالحی لکهنوی رحمه الله په نفع المفتی کښې هم داسې لیکلې دی،آیا د هغوی دا وینا کول صحیح دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که د چندې ورکوونکو اذن دلالةً یا صراحتاً موجود وی نو بیا روا دی او که موجود نهٔ وی نو ناروا دی، په نفع المفتی کښې په لټون سره دا مسئله تر لاسه نهٔ شوه. بینوا توجروا.

د کافر په زمکه کښې بې د اجازت نه جمات جوړول

سوال:- د یو غیر مسلم په زمکه کښې بې د هغهٔ د اجازت نه جمات جوړ کړې شو،په دغه جمات کښې مونځ کول څنګه دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا ځائې جمات نهٔ دې،بې د مالك د اجازت نه په دې کښې مونځ کول مکروه تحریمی دی. **کذا فی الشامیة قبیل باب الاذان**

د دې وجې نه د مونځ راګرځول واجب دی.

قال العلامة المرغینانی رحمه الله فی مکروهات الصلوة: والصلوة جائزة فی جمیع ذلك لاستجماع شرائطها و تعاد علی وجه غیر مکروه وهو الحکم فی کل صلوة ادیت مع الکراهة (هدایة ص ۱۳۲ ج۱) واللہ تعالیٰ اعلم.

۲۴ صفر ۱۳۹۱ هجری

جمات ته په راتلو او د جمات نه په وتلو سلام کول

سوال:- جمات ته په راتلو او د جمات نه په وتلو کښې په جمات کښې په ناستو خلقو باندې سلام کول روا دی او که نه؟حال دا چې خلق په دغه وخت په عامه توګه په ذکر او تسبیح او مونځ وغیره کښې مشغول وی،البته بعضې خلق په کښې فارغ هم ناست وی۔ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: جمات ته راتلونکی خلق په مختلفو عبادتونو کښې مشغول وی. ددې وجې نه هغوی ته سلام کول روا نهٔ دی،او د داسې سلام جواب هم واجب نهٔ دې

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله معزيا للصوى يأثم بالسلام على المشغولين بالخطبة او الصلوة او قراءة القرآن اومذاكرة العلم الخ

ونقل عن الزيلعي:ولو سلم عليهم لا يجب عليهم الرد لانه في غير محله اهـ(ردالمحتار ص۸۰۸ ج۱)والله تعالى اعلم.

۲۵ جمادى الآخر ۱۳۹۱ هجری

په جمات کښې اودس کول

سوال:- د يو جمات غولې وران کړې شو او بيا د سره ئې جوړوی، په دې کښې د کون کيږی او د سر نه ئې بيا نوې جوړوی، په دې حالت کښې په دې غولی کښې اودس کول روا دی او که نه؟ او په دې غولی کښې د پيزار سره تګ روا دې او که نه؟حال دا چې بل ځائې د اودس دپاره نۀ وی او د دې جمات په دې کچه خاوره کښې اوبۀ جذب کيږی هم.بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په جمات کښې اودس کول روا نۀ دی، ځکه چې د اودس اوبه د يو روايت مطابق پليتې دی، او د مفتی به قول مطابق اګرچې پليتې نۀ دی ليکن خبيثې ضرور دی، او ددې نه علاوه د اودس په وخت کښې به خلق لاړې، بلغم او د پوزې رطوبت وغيره غورځوی، په لوړ ځائې باندې په ناسته په داسې طريقه باندې اودس کولې شی چې اوبه ئې د جمات نه بهر غورځيږی ، د پيزار سره په جمات کښې تګ د ضرورت په وخت کښې روا دې.والله تعالى اعلم.

۱۸ صفر ۱۳۹۲ هجری

د جمات قرآن مجيد طالبانو ته ورکول

سوال:- نن صبا خلق په جماتونو کښې په عامه توګه قرآن مجيد دومره په کثرت سره کيږدی چې د قرآن مجيد ډيری جوړشی، او بيا دا قرآن مجيدونه هم داسې په مودو مودو پراتۀ وی، دا قرآن مجيدونه، نۀ څوك را اخلی او نۀ په کښې تلاوت کوی،آخر دا چې دا هم داسې وراسته اوزاړه شی او بيا دفن کولو باندې ئې سړې مجبوره شی، که چيرې دا قرآن مجيدونه هغه غريبانانو ماشومانو ته ورکړې شی کوم چې په مکتب يا مدرسه کښې سبق وائی نو دا روا دی او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د چا په ملك کښې ددې ورکول روا نۀ دی او نۀ ئې چرته په يو مدرسه کښې ورکولې شی، البته په حالت د استغناء کښې ئې نزدې جمات ارخ ته د منتقلولو اجازت شته دې.

که د جمات نه بهر دا تختئ ولګولې شی چې دې جمات کښې بې د اجازت نه قرآن مجيد اېښودل منع دی، که چا کيښودل نو هغۀ قرآن مجيد به چا مسکين يا مدرسې ته ورکولې شی، که بيا ددې باوجود هم دا چا کيښودل نو منتظم ته ددې اختيار شته دې چې دا چا مسکين يا مدرسې

له ورکړي. والله تعالیٰ اعلم. ۱۸ صفر ۱۳۹۲ هجری

زوړ جمات نه مکتب جوړول

سوال: - د زوړ جمات نه مکتب جوړول روا دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: هرکله چې په یو ځائې باندې جمات جوړ شو نو بیا به هغه د همیشه همیشه د پاره جمات وی، برابره خبره ده که خلق په هغې کښې مونځ کوی او که نه کوی. لهذا د دې نه مکتب جوړول روا نهٔ دی، البته که دا خبره وی چې دا دې هم جمات وی او ددې د ادب او احترام خیال دې وساتلې شی نو په دې کښې بیا د دین تعلیم ددې شرطونو سره روا دې:

۱ - معلم دې په اجرت باندې په کښې درس نهٔ ورکوی، په قدر د ضرورت وظیفه اخستې شی.

۲ - واړه ناپوهه ماشومان دې جمات ته نشی راپریښودلې.

۳ - د جمات د احکامو او د ادابو او د احترام دې ښهٔ پوره اهتمام وکړې شی.

قال فی التنویر: ولو خرب ما حوله واستغنی عنه یبقی مسجدا.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: ولا یجوز نقله ونقل ماله الی مسجد اخر سواء کانوا یصلون فیه اولا وهو الفتوی حاوی القدسی واکثر المشائخ علیه مجتبی وهو الاوجه فتح اهـ (ردالمحتار ص ۳۸۲ ج ۳) والله تعالیٰ اعلم.

۶ جمادی الاخرة ۱۳۹۲ هجری

په جمات کښې د دنیا خبرې کول

سوال: - په جمات کښې د دنیا خبرې کول څنګه دی؟ بله دا چې د دنیوی علم حاصلولو د پاره په جمات کښې مطالعه کول روا دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: جمات صرف او صرف د الله تعالیٰ دعبادت د پاره دې. په دې کښې څه دنیاوی کار کول او یا بې د ضرورت نه دنیاوی خبرې کول او یا په دې کښې فضول خبرې اترې کول د جمات سخته بې عزتی ده، ددې وجې نه دا ناروا دی. البته د ضرورت د پاره د معمولی غوندې خبرې کولو اجازت په کښې شته دې. والله تعالیٰ اعلم. ۲۶ جمادی الاخرة ۱۳۹۲ هجری

په جمات کښې روژه ماتې کول

سوال: - په روژه کښې د روژه دارو دپاره په جمات کښې روژه ماتې کول روا دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: نن صبا چې په جماتونو کښې د روژه ماتی کولو څنګه رواج دې. په دی کښی جمات سخا کیږی او بې عزتی ئې هم کیږی. لهذا دا روا نهٔ دی. د جمات د انتظامیه د

پاره دا ضروری دی چې د اذان نه پس دې دومره وقفه ورکړی چې د محلې مونځ گذار په کورونو کښې ښه په آرام سره روژه ماتې وکړی او بیا جمات ته هم ر ورسیږ. والله تعالیٰ اعلم

۱۵ رجب ۱۳۹۲ هجری

په جمات کښې د ځان دپاره ځائې نیول

سوال:- آیا په جمات کښې په څه ځائې باندې توپئ یا رومال اینودلو باندې سړې د دغه ځائې مستحق کیږی؟ او بل سړی ته په دغه ځائې باندې ناسته روا ده او که نه؟د مؤذن د پاره عموماً ځائې نیولو دپاره د امام نه وروستو جانماز خورولې شی،او په دغه ځائې باندې بل یو سړی ته د ناستې اجازه نۀ وی،ددې شرعی حیثیت څه دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : که چیرې یو سړې په جمات کښې په یو ځائې کښې څه عبادت وکړی او بیا د څه ضرورت د وجې نه لګ وخت دپاره ځی او په دغه ځائې باندې رومال وغیره کیږدی او دغه ځائې حصار کړی نو دا روا دی،په څه ځائې کښې د وخت تیرولو نه بغیر په هغه ځائې باندې د رومال په اینودلو باندې دې د دغه ځائې نۀ مستحق کیږی.

همدا حکم د مؤذن دپاره دې هغۀ د پاره ځائې مخصوصول او د بیلې مصلٰی خورولو رسم صحیح نۀ دې، جمات ته چې کوم سړې رومبې ورسیدلو او په کوم ځائې باندې کښیناستلو هم هغه ددغه ځائې حقدار دې. والله تعالیٰ اعلم ۹ رمضان ۱۳۹۲ هجری

په جمات کښې په اوچت آواز سره تلاوت کول

سوال:- د سحر د مونځ نۀ واخله تر د اشراقه پورې جمات ته مونځ گذاره راروان وی،او مونځ کوی، په دې دوران کښې چې څوك په جمات کښې دننه په زوره زوره دقرآن مجید تلاوت کوی نو ددې اجازت شته او که نه؟ حال دا چې د تلاوت په آواز باندې مونځ گذاره په شك کښې واقع کیږی .بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په داسې حالت کښې په مونځ کښې دمخل کیدلو له کبله په زوره زوره تلاوت کول روانۀ دی.

بله دا چې د یو قول مطابق د قرآن مجید اوریدل واجب دی،او د مونځ په حالت کښې د قرآن مجید اوریدل ممکنه نۀ دی،لهذا تلاوت کوونکې به په دې گناهګار وی.

قال فی العلائیة:(الروع) یجب الاستماع للقراءة مطلقا لان العبرة لعموم اللفظ.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله : ای فی الصلوة وخارجها لان الاية و ان کانت واردة فی الصلوة علی ما مر فالعبرة لعموم اللفظ لا لخصوص السبب

وقال بعد سطرين: وفي الفتح عن الخلاصة رجل يكتب الفقه وبجنبه رجل يقرأ القرآن فلا يمكنه استماع القرآن فالاثم على القاري (ردالمحتار ص۵۰۰ ج۱) والله تعالى اعلم. ۲۲ جمادی الاخرة ۱۳۹۳ هجری

د تنخوا دار مدرس په جمات کښې درس ورکول

سوال:- کوم مدرسين چې په تنخوا باندې د قرآن مجيد يا د عربي کتابونو درس ورکوي.آيا د هغوی په يو جمات کښې درس ورکول روا دی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د تنخوا داره مدرس په جمات کښې درس ورکول روا نهٔ دی.

صرح به في الهندية. وفي العلائية: ويمنع منه وكذا كل مؤذولو بلسانه وكل عقد الا المعتكف بشرط (ردالمحتار ص۶۱۹ ج۱)

که د جمات نه بهرڅه ځائې نه وی نو په جمات کښې بيا درس ورکول په دې شرطونو سره روا دی چه:

۱- مدرس دې د تنخوا د لالچ په ځائې د وخت تيرولو دپاره په قدر د ضرورت وظيفه باندې اکتفاء اوکړی.

۲- دا درس په مونځ، ذکر، او قرآن مجيد په تلاوت وغيره کښې مخل نهٔ وی.

۳- د جمات د پاکئ او د ادب او احترام دې ښه پوره پوره خيال وساتلې شی.

۴- وارهٔ او ناپوهه ماشومان دې جمات ته نهٔ راولی. والله تعالى اعلم.

۲۲ جمادی الاخرة ۱۳۹۳ هجری

د جمات په حجره کښې د انګريزئ درس ورکول

سوال:- په جمات کښې مؤذن ته د اوسيدلو دپاره کمره ورکړې شوې ده، هغهٔ په هغې کښې د انګريزئ تعليم د يو استاذ نه زده کوی، او بجلی هم استعمالوی آيا شرعا دا روا دی او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که د انګريزئ د تعليم د وجې نه د بجلئ خرچه د عامو ورځو د خرچې څخه نهٔ زياتيږی نو بيا دا تعليم په کښې روا دې او که خرچه د عامو ورځو د خرچې نه زياتيږی نو بيا ناروا دی. والله تعالى اعلم. ۲۷ جمادی الثانيه ۱۳۹۳ هجری

د جمات په ديوال باندې نقشونه او چاپې کول

سوال:- دجمات د آمدن نه د دغه جمات زيب او زينت، نقش او نګار ګنبد چجې وغيره جوړول روا دی او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د جمات په بهرنی دیوال باندې نقش او نګار روا دی او د جمات په دننه حصه کښې په محراب او د قبلې اړخ ته دیوال باندې نقش او نګار مکروه دې،او ښی او چپ اړخ د دیوالونو په حقله هم یو قول د کراهت شته دې، بهر کیف په جمات کښې دننه په شا ته اړخ دیوال باندې او په چت باندې نقش او نګار کول صحیح دی،په مخامخ او ښی او چپ اړخ ته دیوال هم همدومره اوچت نه نقش او نګار شروع کول روا دی چې د مونځ ګذار نظر هلته نۀ رسی، لیکن په دې کښې بیا ددې شرطونو خیال ساتل ضروری دی :

۱- په دې کښې دې ډیر زیات تکلف و نۀ کړې شی.

۲- د وقف مال دې پرې نۀ لګوی، که چا ولګولو نو متولی ئې ضامن دې-

د دې شرطونو باوجود دا کار صرف روا دې مسنون یا مستحب نۀ دې،که ددې په ځائې باندې دا پیسې په مسکینانو باندې خرچ کړې شی نو ډیره به ښه وی۔

فی حظر الهندیة عن المحراب والصرف الی الفقراء افضل وعلیه الفتوی اھ (ردالمحتار ص ۶۱۶ ج ۱) والله تعالیٰ اعلم. ۲۷ ربیع الاول ۱۳۹۴ هجری

د جمات د پاره د قادیانی نه چنده اخستل

سوال:- د جمات د تعمیر دپاره د قادیانی نه چنده اخستل څنګه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د قادیانی نه چنده اخستل قطعاً حرام دی،قادیانی زندیق دې،د دې وجې نه هغوی سره د هیڅ قسمه څه معامله کول روا نۀ دی.والله تعالیٰ اعلم. ۲۷ رجب ۱۳۹۵ هجری

د جمات په زمکه باندې ذاتی کور جوړول

سوال:- د یو جمات په غیر آباده زمکه باندې زید یو کور د جمات د پاره تعمیرول غواړی او د دې مکان د تعمیرولو په عوض کښې هم په دغه زمکه باندې یو بل مکان د ځان دپاره هم تعمیرول غواړی، آیا دا فعل روا دې؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د جمات په زمکه باندې خپل کور تعمیرول روا نۀ دی۔ والله تعالیٰ اعلم. ۴ ذی قعده ۱۳۹۵ هجری

په جمات کښې سوال کول

سوال:- کله کله په جمات کښې د سلام د ګرځولو نه پس سمدستی څوک سوال کوونکې سوال کوی د کومې د وجې نه چې په دعا کښې خلل راشی،آیا ددې سوال کوونکې منع کول روا دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : کوم سړی سره چې د یو وخت خوراك وی او یا ئې په گټه باندې قدرت وی، هغه دپاره سوال کول او هغهٔ له څه ورکول دواړه حرام دی،په جمات کښې سوال کول او یا سوال کوونکی ته څه ورکول دوچنده گناه ده،لهذا په جمات کښې د سوال کوونکی منع کول فرض دی،که منع نهٔ شی نو د جمات نه دې او ۳ویستلې شی، لیکن دا حکم د جمات د منتظمینو یا د هغه خلقو د پاره دې چې هغوی په دې باندې قادر وی،او دا هم ضروری دی چې دا مسئله دې د تولو مونځ گذارو په وړاندې ښهٔ واضحه بیان کړې شی۔ **والله تعالیٰ اعلم۔ ۱۸ ذی الحجه ۱۳۹۵ هجری**

په زړه عیدگاه باندې مدرسه جوړول

سوال:- د نوې عیدگاه د جوړیدلو نه پس زړه عیدگاه بالکل شاړه ده،آیا که دا مفته واخستې شی یا د پیسو په عوض واخستې شی او په مدرسه کښې داخله کړې شی نو دا روا دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : په دې کښې اختلاف دې چې عید گاه د جمات په حکم کښې ده او که نه، د داسې ضرورت په موقعو باندې قول ثانی انسب دې،او وقف چې غیر وی د جمات نه، نو ددې بدلون په اذن د قاضی سره روا دی۔

قال ابن عابدین رحمه الله: اعلم ان الاستبدال علی ثلاثة وجوه الاول ان یشترط الواقف لنفسه او لغیره او لنفسه وغیره فالاستبدال فیه جائز علی الصحیح وقیل اتفاقا والثانی ان لا یشترط سواء شرط عدمه او سکت لکن صار بحیث لا ینتفع به بالکلیة بان لا یحصل منه شیء اصلا او لا یفی بمؤنته فهو ایضا جائز علی الاصح اذا کان باذن القاضی ورایه المصلحة فیه والثالث لا یجوز استبداله علی الاصح المختار کذا حرره العلامة قنالی زاده فی رسالته الموضوعة فی الاستبدال واطنب فیها علیه الاستدلال وهو ماخوذ من الفتح ایضا کما سنذکره عند قول الشارح لا یجوز استبدال العامر الا فی اربع ویاتی بقیة شروط الجواز الخ (ردالمحتار ص ۳۸۴ ج ۳)

د ذکر کړې شوی تحقیق مطابق د پرینبودلې شوې عیدگاه په ځائې باندې د مدرسې د جوړولو صورت دا کیدې شی،چې ددې عیدگاه په بدله کښې دې د دې د قیمت برابر یا ددې نه د زیات قیمت زمکه چرته په نزدې ښار کښې د عیدگاه د پاره وقف کړې شی،دا بدلون دې په اذن دقاضی وی، او چې قاضی نهٔ وی نو په دې صورت کښې بیا په اتفاق د د مسلمانانو د جماعت سره دې داسې وکړې شی۔ **والله تعالیٰ اعلم ۷ محرم ۱۳۹۶ هجری**

چې محراب د جمات په مینځ کښې نهٔ وی نو صفونه څنگه جوړول پکار دی

سوال:- د یو جمات محراب د قبلې اړخ د دیوال نه بالکل په مینځ کښې نهٔ دې،بلکه یو اړخ ته

شپږ فټه او څلور اینچه زیات دي،ظاهره خبره ده چې په دې سره په صفونو کښې فرق راځی.په دې صورت کښې به مونځ صحیح کیږی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : که دا محراب په آسانئ سره صحیح کیدلې شی نو ښهٔ خبره ده. اوکه نه نو همداسې دې پرینبودلې شی. لیکن د امام دپاره دا ضروری دی چې محراب پریږدی او دصف په مینځ کښې دې اودریږی۔ واللهٔ تعالیٰ اعلم ۲ ربیع الاخر ۱۳۹۶ هجری

د معتکف په جمات کښې دننه حجامت (یعنی ګیره او خطونه وغیره اخستل) جوړول

سوال:- د معتکف په جمات کښې دننه ګیره او بریت جوړول روا دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : خپل ګیره او بریت په خپله جوړول روا دی.او په نائی باندې په جوړولو کښې دا تفصیل دې،چې که هغهٔ بې د عوض نه کار کوی نو بیا خو په جمات کښې روا دی، او که په عوض باندې کار کوی نو معتکف دې په جمات کښې دننه وی او نائی دې د جمات نه بهر وی او حجامت دې پرې جوړ کړی،په جمات کښې دننه په اجرت باندې کار کول روا نهٔ دی.واللهٔ تعالیٰ اعلم. ۲۷ ذی قعده ۱۳۹۶ هجری

د جمات په چت باندې مونځ کول

سوال:- د جمات په چت باندې جمع کول څنګه دی؟ چې د ګرمئ یا د بل څه عذر د وجې نه وی. بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د جمات په چت باندې جمع کول مکروه دی،برابره خبره ده که دګرمئ د وجې نه وی او که د بل څه عذر دوجې نه وی،البته که چیرې جمات وړوکې وی نو زیاتی مونځ ګذاره چت ته ختلې شی۔

قال فی الهندیة:الصعود علی سطح کل مسجد مکروه ولهذا اذا اشتد الحر یکره ان یصلوا بالجماعة فوقه الا اذا ضاق المسجد فحینئذ لا یکره الصعود علی سطحه للضرورة کذا فی الغرائب (عالمگیریة ص ۳۲۲ ج ۵) واللهٔ تعالیٰ اعلم. ۲۳ شعبان ۱۳۹۷ هجری

د جمات پکی د امام په کور کښې لګول

سوال:- جمات له چا دوه پکی ورکړل.دا پکی د امام صاحب او د مؤذن د اوسیدلو په کور کښې ولګولې شو،آیا داسې کول روا دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : دا پکې ئې که جمات کښې د لګولو دپاره ورکړې وي، نو دا د جمات نه بهر په څه کار کښې راوستل روا نهٔ دی،او که مطلقې د جمات په نوم باندې ئې ورکړې وي نو بیا روا دی۔ **واللہ تعالیٰ اعلم۔** **۲۸ رمضان ۱۳۹۷ هجری**

د جمات پیسې په تجارت کښې لګول

سوال:- زید متولی دې او بکر ته یې د جمات پیسې په مضاربت باندې ورکړې،چې کومه آمدن راځي هغه به په جمات باندې خرچ کولې شی آیا داسې کول شرعاً صحیح دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : که د نفعې توقع په کښې غالبه وي نو بیا روا دی۔**واللہ تعالیٰ اعلم۔**
۲۲ صفر ۱۳۹۸ هجری

که په جمات باندې د غلا ګاډر ولګولې شو

سوال:- د فرنګی حکومت ګاډر یو سړی د هغوی د اقتدار په وخت کښې پټ کړې وو ،دهغهٔ د وفات نه پس د هغهٔ وارثانو دا ګاډر په جمات واچول ، په داسې جمات کښې مونځ روا دې او که نه؟ او که همدغه شان دا صورت د ریل د محکمې په ګاډر کښې راپیښ شی نو د هغې څه حکم دې؟ یعنی د برطانیې د حکومت په وخت کښې یو سړی د ریل د محکمې یو ګاډر راپټ کړو او د هغه د وفات نه پس د هغه وارثانو دا په جمات باندې واچولو ،نو آیا په دې جمات کښې مونځ کول روا دی او که نه؟

آیا په دې صورت کښې داسې وئیل صحیح دی چې ګاډر خو په چت کښې دې،لاندې په زمکه باندې خو د هغې څه اثر نشته دې،لهذا په دې جمات کښې مونځ کول روا دی۔

او آیا دا تاویل هم کیدې شی چې دا ګاډر خو اوس مالك ته نهٔ شی واپس کیدلې ځکه چې حکومت بدل شوې دې،لهذا که اوس دا ګاډر یو فقیرته هبه کړې شی او هغه فقیر ئې جمات ته هبه کړی نو دا روا دی۔بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : په داسې جمات کې مونځ کول بلکه د داسې جمات د چت د حصې لاندې داخلیدل هم روا نهٔ دی،د ملك په تقسیمیدلو سره د فرنګی حکومت مال مالِ فئ شو او د پاکستان دحکومت په ملك کښې داخل شو ،لهذا د حکومت نه ددې د اجازت اخستلو نه پس ددې استعمالول روا دی۔**واللہ تعالیٰ اعلم۔** **۳ جمادی الآخرة ۱۳۹۸ هجری**

د جمات د جوړولو چنده په غسل خانه وغیر باندې لګول

سوال:- یو جمات جوړیږی،د هغې د پاره چنده کیږی،په دغه چنده باندې د جمات د پاره ګودام

یا د امام او مؤذن د پاره کور یا د جمات د پاره غسل خان او د تش اودس ماتی ځایونه وغیره جوړول روا دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: غسلخانه او د تش اودس ماتی ځایونه د جمات د مصالحو څخه نهٔ دی، بلکه جمات ته نزدې هم ددې تعمیرول د جمات بې عزتی ده او په عبادت کښې د خلل سبب دې، ددې وجې نه د دې په تعمیر باندې د جمات پیسې لګول روا نهٔ دی،استنجاء خانې هم په حقیقت کښې د تش اودس ماتی ځایونه وی،په دې کښې خلق د استنجاء په بهانه تش اودس ماتی بلکه غټ اودس ماتی پورې هم په کښې وکړی، او د دې بدبوئی بیا جماته پورې رسیږی، ددې وجې نه ددې هم هغه حکم دې کوم چې د تش اودس ماتی د ځایونو ولیکلې شو۔

البته دا باقی څیزونه د جمات په مصالحو کښې داخل دی،ددې وجې نه په دې باندې دجمات د چندې پیسې لګول روا دی،البته دا خبره ده که چا د جمات د پاره د چندې ورکولو په وخت کښې دا تصریح وکړه چې ددې رقم دې صرف په جمات باندې ولګولې شی، نودا بیا په بل مصرف باندې خرچ کول روا نهٔ دی۔ والله تعالیٰ اعلم. ۲ شوال ۱۳۹۸ هجری

نا اهله سړې د انتظامیې مشر جوړول جائز ندی

سوال:- د داسې سړی د جمات د انتظامیې صدر جوړول روا دی چې هغهٔ جمات ته د راتلو په ځائې د تانی او قچرئ په مقدمو کښې بند وی، مونځ ګذاره د هغهٔ د دې عمل د وجې نه هغهٔ ته په ښه سترګه نهٔ ګوری، بلکه دا چې دینی مسئلې په خپل اجتهاد سره د خانه خانه جوړوی او بیانوی ئې، امام صاحب په روژه کښې په اعتکاف کښې د ناستې فضائل بیان کړل، لیکن د جمات انتظامیې په جمات کښې اعتکاف دپاره د ناستې څه انتظام و نهٔ کړلو،او دا بهانه ئې وکړه چې دا د محلې جمات نهٔ دې،داسې سړی ته د جمات عهده ورکول،د دهٔ صدر یا سیکرټری جوړول صحیح دی او که نه؟ د عدالتی فیصلې نه وړاندې مونږ شرعی حکم معلومول غواړو۔ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که عدالت ته د هغهٔ تګ راتګ د څه ناروا معاملې په حقله وی،او د مونځ ګذارو زړهٔ بداوې هم د هغهٔ د بې دینئ یا دجمات نه د بې رغبتئ له کبله دې،نو د داسې سړی د جمات د انتظامیې صدر، ناظم بلکه د انتظامیې رکن جوړول هم روا نهٔ دی،او که دې جوړ شوې وی نو د دهٔ د اصلاح کوشش دې وکړې شی، اوکه نه نو بیا واجب العزل دې۔

قال الله تعالیٰ: انما یعمر مساجد الله من امن بالله والیوم الاخر واقام الصلوة واتی الزکوة ولم یخش الا الله الایة. والله تعالیٰ اعلم. ۱۳ محرم ۱۳۹۹ هجری

د ښځو په جمات کښې مونځ کول مکروه تحریمي دي

سوال:- په دې زمانه کښې د ښځو په جمات کښې د جمعې سره مونځ کول څنګه دي؟ په صحیح مسلم کښې په روایت د ابن عمر ﷠ کښې راغلی دی چې رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو د الله تعالی وینزې جماتونو ته د راتلو نه مه منع کوئ، ددې حدیث نه جواز معلومیږي. لیکن وړاندې هم په صحیح مسلم کښې په روایت د حضرت عائشې ﷝ ممانعت او عدم جواز معلومیږي، په دې دواړو حدیثونو کښې څنګه تطبیق وکړې شی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د ښځو جمات ته تګ مکروه تحریمی او منع دی، په دواړو حدیثونو کښې تطبیق ظاهر دې، د حدیث اول نه اباحت لعینه ثابتیږی او د دویم حدیث نه حظر لغیره یعنی د زمانې د فساد د وجې نه په کښې ممانعت دې، هر کله چې د صحابهٔ کرامو ﷺ په دور کښې د ښځو جمات ته تګ منع کړې شو، نو دې د فساد او د فتنې په دور کښې ددې اجازت څنګه ورکړې کیدې شی. والله تعالیٰ اعلم.

۷ ربیع الاول ۱۳۹۹ هجری

متولی ته دچندې د نهٔ قبلولو اختیار شته

سوال:- یو سرې د جمات په تعمیر کښې د کلی خلقو سره مالی تعاون کوی، لیکن د هغهٔ نه د چندې په اخستلو کښې د امنِ عامه دخرابیدلو اندیښنه ده، آیا د هغه د چندې د اخستلو نه انکار کول روا دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دجمات متولی او منتظم ته دا اختیار شته دې چې د چا چنده د څه دینی مصلحت له کبله قبوله نهٔ کړی. والله تعالیٰ اعلم.

۹ جمادی اولی ۱۳۹۹ هجری

د جمات د پاره بیله لاره شرط نهٔ ده

سوال:- یو سری په خپله کارخانه کښې یو جمات تعمیر کړو لیکن دهغې دپاره ئې مستقله لاره وقف نهٔ کړه، آیا دې ځائې ته به شرعی جمات وئیلې شی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دا جمات د امام اعظم صاحب او د صاحبینو ﷺ ترمینځه مختلف فیه دې. د امام صاحب ﷫ په نیز د مستقلې لارې متعین کولو نه بغیر وقف نهٔ تمامیږی، او د صاحبینو رحمهما الله تعالی په نیز بیله لاره دوقف د صحت دپاره شرط نهٔ ده، ددې نه بغیر هم وقف صحیح کیږی، او لاره په کښې بې د تصریح کولو نه به په خپله ثابته شی، په قضاء او وقف کښې د امام ابو یوسف ﷫ قول د فتوی د پاره متعین دې، ددې وجې نه بې د بیلې لارې نه به هم دا ځائې شرعی جمات وګرځی.

قال فی التنویر وشرحه: ویزول ملکه عن المسجد والمصلی بالفعل وبقوله جعلته مسجدا عند الثانی وشرط

صدو الامام الصلاة فيه بجماعة.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت (قوله بالفعل) لكن عنده لا بد من الرازة بطريقه فلو العهر عن النية جعل وسط داره مسجدا واذن للناس بالدخول والصلوة فيه ان شرط معه الطريق صار مسجدا في قولهم جميعا والا فلا عند ابي حنيفة رحمه الله تعالى وقالا يصير مسجدا ويصير الطريق من حقه من غير شرط كما لو اجر ارضه ولم يشترط الطريق اه

وقال تحت (قوله وشرط محمد الخ) وفي الدر المنتقى وقدم في الدرر والوقاية وغيرها قول ابي يوسف رحمه الله تعالى و عليه الفتوى في الوقف والقضاء اه (ردالمحتار ص ۳۸۱ ج ۳) والله تعالى اعلم. ۲۵ جمادي الاخرة ۱۳۹۹ هجري

د چندې راوړونکی اجرت هم د دغې چندې نه

سوال:- په ډېرو ځايونو کښې داسې کيږي چې د چندې د راوړلو دپاره يو سړې مقرر کړې شي، بيا هم د دغه چندې نه څه مقرره حصه مثلا، څلورمه حصه، دريمه يا د حصې مقرر کولو نه بغير د حق الخدمة په عنوان سره هغهٔ ته څه ورکړې شي، ددې شرعی حکم څه دې؟ په ظاهره خو دا ناروا معلوميږي. ځکه چې د چندې ورکوونکی خو د جمات د تعمير او مرمت د پاره چنده ورکوي. لهذا د اجرت يا حق الخدمة د هغوی د منشاء او د رضا خلاف دې، بله دا چې حصه ورله مقررولې شي او ورکولې شي نو دا د قفيز طحان سره مشابه شوه، کومه چې په ټولو کتابونو د فقهې کښې ناروا ښودلې شوې ده، په دې باندې لګه تفصيلي رڼا واچوئ.

او که چيرې چنده د جمات د تعمير او مرمت د پاره نهٔ وی، بو اخې د جمات د مصالحو دپاره وی. نو د سفير دا اجرت بيا په مصالحو کښې داخليدلې شی او که نه؟

په عالمګيريه کتاب الوقف کښې تصريح ده، چې قيم د جمات مال په مشرف باندې نهٔ شی خرج کولې. همدغه شان که قيم د حساب کتاب نه عاجز وی. نو د کاتب اجرت هم د جمات د مال نه اخستل صحيح نهٔ دی، ددې نه خو هم دا معلوميږی. چې دا د چندې اجرت هم روا نهٔ دې بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د جمات د پاره د چندې د جمع کولو اجرت برابره خبره ده که هغه مقرر کړې شوې وی او که دحق الخدمة په عنوان سره وی. بهر کيف هغه هم اجرت دې. د نوم په بدلولو باندې د څيز حقيقت نهٔ بدليږی

کما ورد فی الحديث: انهم يسمون المحرمات بغير اسمها ويستحلونها.

بهر حال: د حق الخدمة په عنوان چې کوم اجرت ورکولې شی. دا په اجرت کښې د جهالت د

وجې نه اجاره فاسده ده ددې وجې نه ناروا دې.

او که په جمع کړې شوې اجرت کښې د هغهٔ اجرت مقرر کړې شی،نو دا هم ناروا دی،ځکه چې اجير قادر على العمل نهٔ دې.

البته دا خبره ده چې که مطلقاً د هغهٔ تنخو مقرره کړې شی برابره خبره ده که چنده وشی او که ونهٔ شی او که لږه وشی او که ډيره وشی نو دا صورت بيا روا دې.

د عالمګيرېې د کومې جزئيې چې په سوال کښې حواله ورکړې شوې ده،په هغې کښې دا هم تصريح ده چې هغه مال دې وقف لعمارة المسجد وی.

ليس للقيم ان يعطى من الوقف على عمارة المسجد مقرئاً من غلته (٣٦٢ ج ٢)

په دويمه جزئيه کښې هم د مال المسجد نه مراد هم دا وقف لعمارة المسجد معلوميږی،لهذا د چندې اخستونکی اجرت هم ددې چندې نه ادا کول روا دی په دې شرط چې هم په دې د چندې رقم کښې نې ورله څه حصه نهٔ وی شرط کړې،اوکه نه نو بيا به دا اجاره فاسده شی، **کمامر والله تعالیٰ اعلم.**

۲۵ ربيع الثانى ۱۴۰۰ هجرى

جمات ته تاله اچول

سوال:- ۱- جمات ته د مونځ د وختونو نه بغير تاله اچول روا دی او که نه؟

۲- که چرې د دوو ډلو(مثلا ديوبنديانو او بريليانو) جګړه وشی، نو ددې ويرې نه چې دا جګړه نوره زياته نهٔ شی د حکومت يا د انتظاميې جمات ته تاله اچول روا دی؟ **بينوا توجروا.**

الجواب باسم ملهم الصواب:

۱- اصل حکم خو دا دې چې جمات دې ۲۴ ساعته لږې وی، دې د پاره چې که څوك مسلمان څه وخت هم عبادت د پاره راځی چې هغهٔ ته څه تکليف نهٔ وی، ليکن نن صبا د جمات په هر وختې لږې ساتلو کښې ډير مفاسد دی: **مثلاً:**

۱- د جمات سامان غلا شی.

۲- خلق د جمات نه اوبه ډکوی او وړی نې.

۳- ډير بيکاره بې روز ګاره خلق راشی او په جمات کښې ويده شی،او پکی خان ته ولګوی او څو څو ساعته پورې پراتهٔ وی.

۴- ډير خلق فارغ کښينی او د د نيا خبرې شروع کړی.

ددې مفاسدو مخ نيوې ددې نه بغير ممکنه نهٔ دې چې د مونځونو د وختونو نه علاوه دې په نورو وختونو کښې جمات بند وساتلې شی.

۲- د مجبورئ او د اضطرار په وخت کښې داسې کول روا دی. ليکن په داسې حالاتو کښې د

تولې محلې دا فرض دی چې حالات دې معمول ته راولی او د جمات د لرې کولو کوشش دې وکړی. د جمات داسې شار پاتې کیدل د تولې آبادئ د پاره د الله تعالی د خفګان سبب دې. والله تعالیٰ اعلم ۲۲ جمادی الاولی ۱۴۰۰ هجری۔

په جمات کښې د ورک شوی څیز اعلان کول

سوال:- د ورك شوی څیز اعلان په جمات کښې روا دې او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب په دې مسئله کښې څه علماؤ ته اشتباهات را پیښ شوې دی د دې وجې نه د دې مسئلې پوره تفصیل وړاندې کولې شی۔

د ورک شوی څیز په جمات کښې د اعلان کولو څلور صورته دی:

۱- د جمات نه بهر ورك شوې وی.
۲- د جمات نه بهر موندلې شوې وی.
۳- په جمات کښې ورك شوې وی.
۴- په جمات کښې موندلې شوې وی.

نصوص المذاهب الاربعة

حنفیه رحمهم الله تعالی:-

۱ – قال الامام المرغینانی رحمه الله: وینبغی ان یعرفها فی الموضع الذی اصابها و فی المجامع فان ذلك اقرب الی الوصول الی صاحبها. (الهدایة ص۶۱۳ ج۱)

۲ – قال الامام السرخسی رحمه الله: وجد رجل لقطة ایام الحج فسال عنها عبدالله بن عمر فقال عرفها فی الموسم (الی) وفی هذا دلیل علی انه ینبغی للملتقط ان یعرفها فی الموضع الذی اصابها فیه و ان یعرفها فی مجمع الناس ولهذا امره بالتعریف فی الموسم وهذا لان المقصود ایصالها الی صاحبها وذلك بالتعریف فی مجمع الناس فی الموضع الذی اصابها حتی یتحدث الناس بذلك بینهم فیصل الخبر الی صاحبها (الی) و انه ینبغی ان یعرفها فی الموضع الذی وجدها لان صاحبها یطلبها فی ذلك الموضع (المبسوط ص۶ ج۲)

۳ – قال الحافظ العینی رحمه الله: (قوله فی المجامع) ای مجمع الناس کالاسواق و ابواب المساجد وفی الشامل و التعریف ان ینادی فی الاسواق و المساجد الخ (البنایة ص۹۲۶ ج۲)

۴- قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: قال فی الجوهرة ثم التعریف انما یکون جهرا فی الاسواق و فی ابواب

المساجد وبالموضع الذی وجدها فیه وفی الجامع (البحر ص۱۵۲ ج۵)

۵ - قال العلامة الحموی رحمہ اللہ: ثم تعریف اللقطة هو المناداة فی الاسواق والمساجد والشوارع لان المقصود من التعریف وصوله الی المالک والتعریف فی هذه المواضع ابلغ (الاشباه والنظائر ص۲۹۷ ج۱)

۶ - قال العلامة الطحطاوی رحمہ اللہ: (قوله فی المجامع) ای مجامع الناس کالمساجد والاسواق والشوارع الا انه ینادی علی ابواب المساجد لا فیها (حاشیة الطحطاوی علی الدر ص۵۰۱ ج۲)

۷ - قال الشیخ الانور رحمہ اللہ: واما انشاد الضالة فله صورتان احداهما ان ضل شیء فی خارج المسجد و ینشده فی المسجد لاجتماع الناس فهو اقبح واشنع واما لو ضل فی المسجد فیجوز الانشاد بلا شغب. (العرف الشذی ص۱۶۲)

۸ - قال الشیخ محمد زکریا رحمہ اللہ: واما مکانه وهو الاسواق وابواب المساجد والجوامع فی الوقت الذی یجتمعون فیه کادبار الصلوات فی المساجد وکذلک فی مجامع الناس لان المقصود اشاعة ذکرها واظهارها لیظهر علیها صاحبها فیجب تحری مجامع الناس ولا ینشدها فی المسجد لان المسجد لم یبن لهذا (اوجز المسالک ص۲۹۸ ج۱۳)

۹ - فی المدونة الکبری للامام مالک بن انس رحمہ اللہ: (قال) ما سمعت من مالک فیها شیئا ولکنی اری ان تعرف فی الموضع الذی التقطت فیه وحیث یظن ان صاحبها هناک وحدیث عمر بن الخطاب رضی اللہ عنہ ان قال له رجل نزلت منزل قوم بطریق الشام فوجدت صرة فیه ثمانون درهما فذکرتها لعمر بن الخطاب رضی اللہ عنہ فقال له عمر رضی اللہ عنہ عرفها علی ابواب المساجد فاری ان یعرف اللقطة من التقطها علی ابواب المساجد وفی موضعها وحیث یظن ان صاحبها هناک (المدونة الکبری ص۱۷۳ ج۱۵)

۱۰ - قال امام المالکیة الشهیر بالحطاب رحمہ اللہ: قال فی المدونة وتعرف اللقطة حیث وجدها وعلی ابواب المساجد وحیث یظن ان ربها هناک او خبره انتهی وفی سماع اشهب من کتاب اللقطة وسالته یعنی مالکا رضی اللہ عنہ عن تعریف اللقطة فی المساجد فقال لا احب رفع الصوت فی المساجد وقد بلغنی ان عمر بن الخطاب رضی اللہ عنہ امر ان تعرف اللقطة علی ابواب المساجد واحب الی ان لا تعرف فی المساجد ولو مشی هذا الی الخلق فی المساجد یخبرهم بالذی وجد ولا یرفع صوته لم ار بذلک باسا اھ قال ابن الحاجب فی الجوامع والمساجد قال فی التوضیح ظاهره ان التعریف یکون فیها ولعل ذلک مع خفض الصوت ویحتمل ان یکون علی حذف مضاف ای باب الجوامع

والمساجد وهو احسن لانه كذلك فی المدونة وغیرها وللحدیث النهی (المواهب الجلیل ص۷۳ ج۲)

۱۱ – قال العلامة الخرشی رحمه الله: ان تعریف اللقطة انما یکون بالمواضع التی یظن بها و یقصد ان یطلبها اربابها فیها کابواب المساجد وما اشبه ذلك واما داخل المسجد فانه لا یعرفها فیه و یجب علی الملتقط ان یعرفها الخ (الخرشی ص۱۲۵ ج۲)

۱۲ – قال العلامة صالح عبد السمیع الابی الازهری رحمه الله: ویکون التعریف مظان ای المواضع التی یظن ان صاحب اللقطة یطلبها بها بکباب مسجد ومواضع العامة واجتماع الناس (جواهر الاکلیل ص۲۱۸ ج۲)

۱۳ – قال خاتمة المحققین الشیخ محمد علیش رحمه الله: (بکباب مسجد) فیها یعرف اللقطة حیث وجدها و علی ابواب المساجد ابن القاسم یعرف حیث یعلم ان صاحبها هناك (الی ان قال) فقال ما احب رفع الصوت فی المساجد وانما امر عمر رضی الله عنه ان تعرف علی باب المسجد ولو مشی هذا الذی وجدها الی الحلق فی المسجد یخبرهم بها ولا یرفع صوته لم اربه باسا و فی التمهید التعریف عند جماعة الفقهاء فیما علمت لا یکون الا فی الاسواق و ابواب المساجد ومواضع العامة واجتماع الناس. (شرح منح الجلیل ص۱۲۱ ج۴)

شافعیه رحمهم الله تعالی:-

۱۴ – قال العلامة القسطلانی رحمه الله: ویکون فی الاسواق و مجامع الناس و ابواب المساجد عند خروجهم من الجماعة ونحوها لان ذلك اقرب الی وجود صاحبها لا فی المساجد کما لا تطلب اللقطة فیها نعم یجوز تعریفها فی المسجد الحرام اعتبارا بالعرف و لانه مجمع الناس و قضیة التعلیل ان مسجد المدینة والاقصی کذلك و قضیة کلام النووی فی الروضة تحریم التعریف فی بقیة المساجد (الی ان قال) اما لو سأل الجماعة فی المسجد بدون ذلك فلا تحریم ولا کراهة و یجب التعریف فی محل اللقطة (شرح القسطلانی ص۲۲۰ ج۴)

۱۵ – قال العلامة الرملی الشهیر بالشافعی الصغیر رحمه الله: ثم یعرفها فی الاسواق وابواب المساجد عند خروج الناس منها لانه اقرب الی وجدانها و یکره تعریفها کما فی المجموع لا تحریما خلافا لجمع مع رفع الصوت بمسجد کانشادها فیه الا المسجد الحرام. (نهایة المحتاج الی شرح المنهاج ص۳۲۶ ج۵)

حنابله رحمهم الله تعالی:-

۱۶ – قال العلامة ابن قدامة رحمه الله: فی مکانه و هو الاسواق و ابواب المساجد والجوامع مع الوقت الذی یجتمعون فیه کادبار الصلوات فی المساجد و کذلك فی مجامع الناس لان المقصود اشاعة ذکرها و اظهارها لیظهر علیها صاحبها فیجب تحری مجامع الناس و لا ینشدها فی المسجد لان المسجد لم یبن لهذا و قد روی

ابوهریرة ﷺ عن النبی ﷺ انه قال (من سمع رجلا ینشد ضالة فی المسجد فلیقل لا ردها الله الیک فان المساجد لم تبن لهذا) وامر عمر ﷺ واجد اللقطة بتعریفها علی باب المسجد (المغنی ص ۵۰ ج ۶)

۱۷ - قال الامام برهان الدین ابراهیم بن محمد رحمه الله: تحت قول المقنع (بالنداء علیه فی مجامع الناس کالاسواق وابواب المساجد فی اوقات الصلوات) وروی عن عمر ﷺ انه امر واجد اللقطة لتعریفها علی ابواب المساجد وعلم منه ان لا یفعل ذلک فی المسجد وان کان مجمع الناس بل یکره وفی عیون المسائل لا یجوز (المبدع شرح المقنع ص ۱۸۱ ج ۵)

۱۸ - قال شیخ الاسلام موسی الحجاوی المقدسی رحمه الله: وتعریفه علی الفور حیوانا کان او غیره بالنداء علیه بنفسه او بنائبه فی مجامع الناس کالاسواق والحمامات وابواب المساجد ادبار الصلوات ویکره فیها ویکثر منه فی موضع وجدانها (الاقناع ص ۴۰۰ ج ۲)

۱۹ - وقال ایضا (وطریقه التعریف) ویکون التعریف بالنداء علیه ای الملتقط بنفسه ای الملتقط بنائبه ویکون النداء فی مجامع الناس کالاسواق والحمامات وابواب المساجد ادبار الصلوات لان المقصود اشاعة ذکرها ویکره النداء علیها فیها ای فی المساجد لحدیث ابی هریرة ﷺ مرفوعا من سمع ینشد ضالة الخ والانشاد دون التعریف فهو اولی ویکثر منه ای التعریف فی موضع وجدانها لانه مظنة طلبها (کشاف القناع من متن الاقناع ص ۲۱۶ ج ۴)

۲۰ - قال البهوتی رحمه الله: وانشاد الضالة ای تعریفها ونشدانها ای طلبها ویسن لسامعه ای سامع نشدان الضالة ان یقول لا وجدتها ولا ردها الله علیک لحدیث ابی هریرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من سمع رجلا ینشد ضالة فی المسجد فلیقل لا ردها الله علیک ان المساجد لم تبن لهذا رواه مسلم (کشاف القناع ص ۳۶۹ ج ۲)

د پورته نصونو نه د اولنی او د دویم صورت عدم جواز واضحه دي.د دریم او د څلورم صورت په حقله مې څه حتمی فیصله د نظر لاندې تیره نهٔ شوله،د کتابونو د مراجعې او د رسول الله ﷺ د فرمانیلې شوی تعلیل (ان المساجد لم تبن لهذا) نه معلومیږی چې د دې اعلان دې هم د جمات په دروازه باندې وکړې شی.

د پورته عبارتونو نه د کومو نه چې د بازارونو او د مجامعو سره سره د جماتونو ذکر هم دې.د منعې نه د جواز شبه کیږی، لیکن دا د لاندې وجوهو له کبله صحیح نهٔ دی

۱. دا د ممانعت د نورو تصریحاتو نه خلاف دی.

۲. بعضو په خپله ددې نه د جماتونو د دروازو د مرادیدلو تصریح فرمانیلې ده لکه څنګه چې

طحطاوی علی الدر او په اوجز المسالك كښې دی.

۳ - علامه خطاب رحمه الله د (توضيح) نه ددې توجيه دا نقل فرمائيلې ده،چې دا عبارتونه په حذف د مضاف باندې محمول دی،او ددې نه هم ابواب المساجد مراد دی.

البته بې د اعلان کولو نه انفراداً د خلقو نه پښتنه کول،یا د لقطې د وجدان خبر ورکول بې د څه شك شبې نه روا دی، كما مر عن مواهب الجليل نص الامام مالك رحمه الله وكذا عن شرح القسطلاني والعرف الشذي، هسې هم دا د دنياوی کلام کښې راځی،او دنياوی خبرې ضرورتاً په جماعت کښې روا دی.

خبرداري

په ذکر کړې شوې روايتونو کښې په بعضو کښې په مساجد ثلاثه کښې ضرورتاً د انشاد جواز ليکلې شوې دې، ليکن اوس د حکومت له اړخه د معقول انتظام کيدلو له کبله دا ضرورت نه پاتې کيږی ، لهذا په دې کښې هم روا نهٔ دی.

په نورو جماتونو کښې هم داسې انتظام کول لازمی دی،چې د ورك شوی څيز د رسولو او د اخستلو د پاره څه متعين کړې شی،د دې تدبير په اختيارولو به جماتونه د هر وختې د اعلانونو د شور زوږ نه محفوظ پاتې شی، په تانه کښې همداسې کيږی، هلته څه اعلان نهٔ کيږی،افسوس دې چې د نن زمانې د مسلمانانو په زړونو کښې د الله تعالی د کور عظمت د پوليس د تانې هومره هم پاتې نهٔ شو، والله الهادی الی سبيل الرشاد ۱۹ صفر ۱۴۱۲ هجری

کتاب البیوع

﴿فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَن تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ ﴿٣٦﴾ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ ﴿٣٧﴾ لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَن يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٨﴾﴾ (۲۴ : ۳۶ نه تر ۳۸)

کتاب البیوع

زمکه داسې خرخول چې مشتري به ددې په عوض کښې بائع له سرکاري زمکه په بیعه اخلي او ورکوي به ئې

سوال:- د یو سړي څه زمکه ده، هغه یو سړي ته اووئیل چې فلانئ سرکاري زمکه واخله او ما له ئې راکړه، د دې په مقابله کښې به زه خپله زمکه تاله درکړم یا درمې کړه، دې دویم سړي دا خبره قبوله کړه، او سرکاري زمکه ئې هغهٔ له ورکړه، د دې نه پس دواړه په بدله کړې شوې زمکه باندې قابض وو، اوس په دې کښې یو سړې د دې معاملې نه واړیدلو. آیا دا اوړیدل د معاملې نه شرعا روا دي او که نه؟ او دا بیع شرعا روا شوې ده او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب: په دې کښې دا تفصیل دې چې که لفظ د «درکړم» ئې وئیلې وو، نو دا بیع نهٔ شوه، بلکه فقط د بیعې وعده شوه، هر کله چې هغهٔ دا زمکه واخستله او دې بل له ئې ورکړه او د هغهٔ په زمکه ئې په خپله قبضه وکړه نو بیعه بالتعاطی وشوله.

قال فی التنویر: ویکون بقول او فعل (الی ان قال) اما الفعل فالتعاطی فی نفیس وخسیس (ردالمحتار ص ۵ ج ۴)

او که «در مې کړه» ئې وئیلې وی، نو دا بیعه باطله شوه، وروستو په تعاطی سره هم نهٔ صحیح کیږی.

قال فی الشامیة: فی فصل فی الفضولی تحت (قوله الا فی هذه الخمسة) الخ ویزاد ما فی جامع الفصولین باع ملك غیره فشراه من مالکه وسلم الی المشتری و البیع باطل لا فاسد وانما یجوز اذا تقدم سبب ملکه علی بیعه حتی ان الغاصب لو باع المغصوب ثم ضمنه المالك جاز بیعه اما لو شراه الغاصب من مالکه او وهبه له

او ورثه منه لا ينفذ بيعه قبله (الى قوله) فهاتان مسالتان الخ (ردالمحتار ص۱۵۳ ج۴)

وقال الرافعي رحمه الله: (قوله فهاتان مسالتان الخ) فيه ان هاتين المسالتين ليستا مما نحن فيه اذ هو في بطلان بيعه ابتداءً والبطلان فيهما بطريق الطرو للبات على الموقوف (التحرير المختار ص۱۳۷ ج۲)

وايضا في الشامية في مطلب اذا طرا ملك بات على موقوف ابطله. واما عدم نفاذ البيع فلبطلانه بالاجازة لانه يثبت بها الملك للمشتري باتاً والملك البات اذا ورد على الموقوف ابطله وكذا لو وهبه مولاه للغاصب او تصدق به عليه او مات فورثه فهذا كله يبطل الملك الموقوف واورد عليه ان بيع الغاصب ينفذ باداء الضمان مع انه طرا ملك بات للغاصب على ملك المشتري الموقوف واجيب بان ملك الغاصب ضروري ضرورة اداء الضمان فلم يظهر في ابطال ملك المشتري بحر واجاب في حواشي مسكين بان هذا غير وارد لان الاصل المذكور ليس على اطلاقه لما في البزازية عن القاعدي ونصه الاصل ان من باشر عقدا في ملك الغير ثم ملك ينفذ لزوال المانع كالغاصب باع المغصوب ثم ملك وكذا لو باع ملك ابيه ثم ورثه نفذ وطرو البات انما يبطل الموقوف اذا حدث لغير من باشر الموقوف كما اذا باع المالك ما باعه الفضولي من غير الفضولي ولو ممن اشترى من الفضولي اما ان باعه من الفضولي فلا اهـ (ردالمحتار ص۱۵۹ ج۴)

وقال الرافعي رحمه الله: (قوله واجاب في حواشي مسكين الخ) ما في حواشي مسكين لا يوافق ما مشى عليه في الفصولين من التفصيل وهو جواز بيع الغاصب بالاجازة له وبعقديهم سبب ملكه على بيعه وعدم جوازه اذا تأخر ومقتضى ما في حواشي مسكين ايضا جواز البيع الثاني باجازة المالك الاول لان البات حدث لمن باشر الثاني الذي هو المشتري الاول ومخالف لما في المصنف من عدم جواز الثاني باجازة الاول ومقتضاه ايضا انه لو ضمن الغاصب نفذ البيع الاول وهو موافق لما في الفصولين ومخالف لكلام المصنف وانه لو ضمن المشتري منه ينفذ الثاني لطرو الملك البات لمباشرة وهو غير مسلم لمخالفة للمصنف فالظاهر الجواب الذي في البحر العدم مخالفته ما في المتون الخ (التحرير المختار ص۱۳۹ ج۲)

د بيعې باطلې يا فاسدې نه پس په تعاطی سره بیعه نۀ صحيح كيږي.

قال في العلائية: (وصرح في البحر بان ايجاب والقبول بعد عقد لا ينعقد بهما البيع قبل متاركة الفاسد فلى بيع التعاطي بالاولى

وفي الشامية: (قوله كما لو كان) اي البيع بالتعاطي بعد عقد فاسد وعبارة الخلاصة اشترى رجل (الى قوله) لا يصير هذا بيعا بالتعاطي لانهما يسلمان بحكم ذلك البيع السابق وانه وقع باطلا اهـ وعبارة البزازية والتعاطي

انما یکون بیعا اذا لم یکن بناء علی بیع فاسد او باطل سابق اما اذا کان بناء علیه فلا اهـ (در المختار ص ۱۲ ج ۴) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۳ رجب ۱۳۷۲ هجری

د احتکار تحقیق

دا په کتاب الحظر والاباحة کښې شته دې.

په دې شرط باندې ئې زمکه خرخه کړه چې د مشتری په نوم د انتقال کیدلو د وخته پورې به ددې زمکې فصل بائع اخلی

سوال: شاه محمد په حاجی نور محمد باندې په دې شرط دولس جیربه زمکه خرخه کړه چې تر خو پورې د زمکې د انتقال منظوری نهٔ وی راغلې، نو تر هغه وخته پورې به د پیداوار حق دار شاه محمد وی، آیا دا بیع صحیح ده؟ بینوا توجروا.

الجواب ومنه الصدق والصواب: په دې صورت کښې د فاسد شرط د راوستلو د وجې نه دا بیع فاسده شوه.

قال فی التنویر فی بیان البیع الفاسد: وبیع بشرط لا یقتضیه العقد ولا یلائمه وفیه نفع لاحدهما او لمبیع من اهل الاستحقاق ولم یجر العرف به ولم یرد الشرع بجوازه کشرط ان یقطعه ویخیطه قباء او یستخدمه شهرا او یعتقه الخ

وفی الشامیة: (قوله مثال لما فیه نفع للبائع) ومنه ما لو شرط البائع ان یهبه المشتری شیئا او یقرضه او یسکن الدار الخ (رد المحتار ص ۱۳۶ ج ۴) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۵ محرم ۱۳۷۳ هجری

په ټیکې باندې د ورکړې شوې زمکې بیع موقوفه ده

دا مسئله په کتاب الاجاره کښې شته.

د مکیلاتو او موزوناتو بیع بالجنس کول

دا مسئله له باب الربا والقمار کښې شته.

د آزادې ښځې خرخول حرام دی

سوال: نن صبا د سنده په علاقه کښې عموما ښځې په بیعه اخستلې شي او بیا ورسره نکاح کولې شي. آیا شرعاً دا اخستل او خرخول صحیح دی؟ بینوا توجروا.

الجواب ومنه الصدق والصواب:

د آزاد سړی او ښځي بيعه ناروا ده او د دې په عوض کښې څه حاصلول حرام دی.

قال رسول الله ﷺ قال الله ثلاثة انا خصمهم يوم القيامة رجل اعطى بي ثم غدر ورجل باع حرا فاكل ثمنه ورجل استاجر اجيرا فاستوفى منه ولم يعط اجرة (بخاري)

وفي الشامية: وشرط المعقود عليه ستة كونه موجودا مالا متقوما مملوكا في نفسه وكون الملك للبائع فيما يبيعه لنفسه وكونه مقدور التسليم فلم ينعقد بيع المعدوم وماله خطر العدم كالحمل واللبن في الضرع والثمر قبل ظهوره وهذا العبد فاذا هو جارية ولا بيع الحر والمدبر وام الولد والمكاتب ومعتق البعض الخ (ردالمحتار ص٦ ج٣) والله سبحانه وتعالى اعلم. ٢٩ ذي قعده ١٣٧٣ هجرى

قبل الدباغ د مردار څناور د څرمنې بيعه باطله ده

سوال:- د مردار څناور نه چې څرمن وه ويستلې شي او لا نۀ وی رنګ کړې شوې نو ددې څرمنې خرڅول او ددې ثمن اخستل روا دی او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب ومنه الصدق والصواب: قبل الدباغ د مردار څناور د څرمنې خرڅول روا نۀ دی، دا بيعه باطله ده او ددې نه حاصلې کړې شوې پيسې حرامې دی.

قال في شرح التنوير في باب البيع الفاسد: وجلد ميتة قبل الدبغ لو بالعرض ولو بالثمن فباطل الخ

وفي الشامية: (قوله لو بالعرض الخ) اى ان بيعه فاسد لو بيع بالعرض وذكر في شرح المجمع قولين في فساد البيع وبطلانه قلت وما ذكره الشارح من التفصيل يصلح توفيقا بين القولين لكنه يتوقف على ثبوت كونه مالا في الجملة كالخمر والميتة لا بحتف انفها مع ان الزيلعي علل عدم بيعه بان نجاسته من الرطوبة المتصلة به باصل الخلقة فصار في حكم الميتة زاد في الفتح فيكون نجس العين بخلاف الثوب او الدهن المتنجس حيث جاز بيعه لعروض نجاسة وهذا يفيد بطلان بيعه مطلقا ولذا ذكر في الشرنبلالية عن البرهان ان الاظهر البطلان تأمل (ردالمحتار ص١٢٤ ج٣) والله سبحانه وتعالى اعلم. ٢٦ جمادى الآخر ١٣٧٣ هجرى

د حکومت له اړخه د ټاکلی نرخ نه په زيات باندې اخستل خرڅول

دا په کتاب الحظر والاباحة کښې شته.

حرام مال سره اخستلې شوې سامان هم حرام دې

دا په کتاب الحظر والاباحة کښې شته.

په تالاب کښې د مهی بیع جائزه نه ده

سوال - په تالاب کښې د مهیانو بیعه روا ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب ومنه الصدق والصواب که چرې دا تالاب د اول نه مهیانو د پاره نهٔ وی جوړ کړې شوې. یا مالك په خپله په دې کښې مهیان نهٔ وی پرېښودې،نو دا مهیان د تالاب د مالك ملکیت نهٔ دې او د غیر مملوك څیز بیعه باطله ده.

او که د اول نه دا تالاب د مهیانو د نیولو د پاره تیار کړې شوې وی. یا په دې کښې دا مهیان په خپله مالك پرېښودلی وی یا د نهر وغیره نه دا مهیان تالاب ته راغلل او د تالاب مالك د دې تالاب لاره بنده کړه او مهیان ئې محبوس کړل نو دا مهیان بیا د دهٔ ملکیت وګرځیدل. لیکن د غیر مقدور التسلیم کیدلو له کبله دا بیعه فاسده ده. البته که تالاب دومره وړوکې وی چې بې د څه تکلیف او حیلې د دې نه مهیان نیولې کیدې شی او د مهیانو مقدار هم معلوم وی نو بیا بیعه صحیح ده.

قال فی شرح التنویر: وبیع ما لیس فی ملکه لبطلان بیع المعدوم وماله خطر العدم لا بطریق السلم فانه صحیح.

وایضا فیه: وفسد بیع سمك لم یصد (الی قوله) او صید ثم القی فی مکان لا یؤخذ منه الا بحیلة للعجز عن التسلیم وان اخذ بدونها صح وله خیار الرؤیة الا اذا دخل بنفسه ولم یسد مدخله فلو سده ملکه (الی قوله) و بیع طیر فی الهواء ولا یرجع بعد ارساله من یده اما قبل صیده فباطل اصلاً لعدم الملك.

وفی الشامیة تحت (قوله وفسد بیع سمك لم یصد الخ) وفیه ان بیع ما لیس فی ملکه باطل کما تقدم لانه بیع المعدوم والمعدوم لیس بمال فینبغی ان یکون بیعه باطلا.

وایضا فیها: (قوله فو سده ملکه) ای فیصح بیعه ان امکن اخذه بلا حیلة و الا فلا لعدم القدرة علی التسلیم والحاصل کما فی الفتح انه اذا دخل السمك فی حظیرة فاما ان یعدها لذلك اولا ففی الاول یملکه ولیس لاحد اخذه ثم ان امکن اخذه بلا حیلة جاز بیعه لانه مملوك مقدور التسلیم و الا لم یجز لعدم القدرة علی التسلیم وفی الثانی لا یملکه فلا یجوز بیعه لعدم الملك الا ان یسد الحظیرة اذا دخل فحینئذ یملکه ثم ان امکن اخذه بلا حیلة جاز بیعه و الا فلا و ان لم یعدها لذلك لکنه اخذه و ارسله فیها ملکه فان امکن اخذه بلا حیلة جاز بیعه لانه مقدور التسلیم او بحیلة لم یجز لانه و ان کان مملوکا فلیس مقدور التسلیم اھ (ردالمحتار ص۱۱۸ ج۴) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۳ جمادی الاولی ۱۳۷۵ هجری

د مسلم فيه د ورکولو نه د عجز حکم

سوال - يو سړي بيع سلم يوه روپئ د يوې کاسې په حساب سره وکړه. اوس په ټاکلې شوې وخت باندې د غريبئ د وجې نه د مبيع په ورکولو باندې قادر نهٔ دې. نو رب السلم د دهٔ نه دوه روپئ د يوې کاسې په حساب سره ثمن اخستل غواړي. آيا شرعا د دهٔ د پاره دا فعل روا دې؟ بينوا توجروا.

الجواب ومنه الصدق والصواب که د ټاکلې شوې وخته پورې مسلم اليه مسلم فيه ادا نهٔ کړې شو، نو ددې په عوض کښې څه بل څه څيز اخستل يا د ثمن نه زيات اخستل روا نهٔ دي. لهذا مشتري له پکار دی چې د يسر پورې بائع له مهلت ورکړي او يا دې ترې نه خپل ثمن واپس واخلي. د بائع په رضا سره هم استبدال يا د ثمن نه زيات اخستل روا نهٔ دی.

قال في الهندية: ولا يجوز الاستبدال بالمسلم فيه (عالمگيرية ص۱۸۶ ج۳)

وقال في شرح التنوير: ولو انقطع بعد الاستحقاق خير رب السلم بين انتظار وجوده والفسخ واخذ راس ماله (در المحتار ص۲۳۸ ج۴)

وايضا فيه: ولا يجوز التصرف للمسلم اليه في راس المال ولا لرب السلم في المسلم فيه قبل قبضه بنحو بيع وشركة ومرابحة وتولية ولو ممن عليه (الى قوله) لقوله عليه الصلوة والسلام لا تأخذ الا سلمك او راس مالك اى الا سلمك حال قيام العقد او راس مالك حال انفساخه فامتنع الاستبدال

وقال ابن عابدين رحمه الله : وتقدم اول فصل التصرف في المبيع ان بيع المنقول من بائعه قبل قبضه لا يصح ولا ينتقض به البيع الاول بخلاف هبته منه لانها مجاز عن الاقالة (رد المحتار ص۲۳۳ ج۴) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۸ شوال ۱۳۷۳ هجری.

د بيع سلم ځينې شرطونه

سوال - يو سړي خپل فصل په دې طريقه باندې خرڅ کړو چې د دې نه څومره غنم ترلاسه شي نو هغهٔ يو من به د شلو روپو په حساب سره وي. مشتري په وخت باندې ثمن ادا نهٔ کړې شو. آيا دا بيعه صحيح ده؟ بينوا توجروا.

الجواب ومنه الصدق والصواب دا بيع سلم ده او په دې کښې د بيعې مقدار. او د ادا کولو د وخت ټاکل. ورسره دا چې ټول ثمن په مجلس د عقد کښې ادا کول شرط دی. کوم سوال چې پوښتلې شوې دې په هغې کښې دا درې واړه شرطونه نشته دې. لهذا دا بيع صحيح نهٔ شوه. بله دا چې په بيع سلم کښې مبيع د يو خاصې زمکې سره او فصل سره مقيّد کول روا نهٔ دی.

قال في التنوير: وشرطه بيان جنس ونوع وصفة وقدر واجل واقله شهر (الى ان قال) وقبض راس المال

بن لايترك الموهوب طيها لانه على الصحة لاشرط انعقاده ومضيها.

وان المرج البسط صحيحا لم يبطل بلا الكترى بلا المبطن (رد المحتار ص ۳۳ ج ۳) والله سبحانه وتعالى اعلم

۲۹ ذی قعده ۱۳۷۲ هجری

د مردار څناور د بد بوئی کوونکی هډوکی بیع روا ده

سوال: د مردار څناور د هډوکو بیع کول بالخصوص د داسې هډوکی بیع کول چې په هغې کښې بدبوئی او وګم وی روا ده او که ناروا؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب دا بیع روا ده.

قال الامام قاضيخان رحمه الله: وبيع جلود الميتة باطل اذا لم تكن مدبوغة او مدبوغة ويجوز بيع عظامها وعصبها وصوفها وظلفها وشعرها ووبرها (خانية بهامش الهندية ص ۳۳ ج ۲) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۳ ذی الحجه ۱۳۸۷ هجری

په باغ باندې د میوو بیع کول په شرط د وزن

سوال: زمونږ په علاقه کښې یوه مسئله د علماؤ ترمینځه متنازع فیها ګرځیدلې شوې ده. د دواړو فریقو دلائل ستاسو په خدمت کښې وړاندې کولې شی تاسو ئې وګورئ

: مسئلې صورت دا دې چې د زید په ملك کښې د منو باغ دې. هر کله چې بریې منې رانښکاره شی نو زید ددې کچه میوو بیع د عمرو سره داسې کوی. چې تۀ دا باغ د سل روپئ د یو من په حساب سره واخله. د بخیدلو نه پس به زۀ دا وتلم او تا ته بۀ ئې وسپارم. عمرو دا خبره قبوله کړه او څه پیسې ئې هم په هغه وخت زید ته ورکړلې. او د باقی پیسو په حقله دا وټاکلې شو چې د منو د تللو نه پس به دا ورکړې کیږی.

څنی مفتی علماء دې بیعې ته روا وائی. ځکه چې دا بیعه د دې لاندې ورکړی شوو سطرو په حواله کومې چې فقهاء کرامو ﷺ روا ګرځولی دی.

رجل قال لغيره بعت منك عنب هذا الكرم كل وقر بكذا قالوا ان كان وقر العنب معلوما عندهم والعنب جنس واحد ينبغي ان يجوز البيع في وقر واحد عند ابي حنيفة رحمه الله وعند صاحبيه رحمهما الله تعالى يجوز البيع في الكل وجعلوا هذه المسألة فرعا لرجل باع صبرة حنطة فقال بعت منك هذه الصبرة كل قفيز بدرهم عند ابي حنيفة رحمه الله يجوز في قفيز واحد وعندهما يجوز في الكل وان كان عنب الكرم اجناسا قالوا ينبغي ان لا يجوز البيع في الكل لابي حنيفة رحمه الله وان كان الوقر معروفا وعندهما يجوز في الكل كما لو قال بعت منك هذا القطيع من الغنم كل شاة بكذا عند ابي حنيفة رحمه الله لا يجوز البيع اصلا وعندهما يجوز البيع في الكل في الغنم

علی قولهما (عنایة بهامش الهدایة ص۲۵۰ ج۲)

دا حضرات فرمائی چې اګرچې په دې کښې د تسلیم المبیع وخت مجهول وی،خو ولې دا جهالت یسیره وی۔

نور علماء دې ته د لاندینو وجوهو په وجه باندې بیعه فاسده وائی۔

۱ - په دې کښې دمبیع مقدار مجهول دې،معلومه نۀ ده چې څومره منې به په کښې راتو کیږی

۲- په ثمن کښې جهالت دې

۳- د مبیعې د سپارلو په وخت کښې جهالت دې۔ځکه چې د موسم د تود سوړ کیدلو د وجې نه د مبیع په سپارلو کښې هم پس وپیش کیدلې شی

۴ - تبعیض د ثمن۔

۵ - د مبیعې د تاجیل شرط،اګرچې په وخت د عقد کښې ددې ذکر نۀ دې کړې شوې خو ولې په دې کښې ضمنا تاجیل موجود دې،ځکه چې تر څو پورې منې پخې نۀ شی،نو نۀ بائع ددې د شوکولو اجازت ورکوی او نۀ ترې نه مشترې څه منې شوکوی۔

۶ - که زړۀ ئې وی او که نۀ وی خو په نۀ غوښتلو کښې هم بیع الکالی بالکالی لازمیږی،ځکه چې باقی ثمن او مکمل مبیع د درې څلورو میاشتو نه پس یو بل ته سپارلې کیږی

۷ - مبیع مقدور التسلیم نۀ دې، ممکنه ده چې په څه وخت کښې ضائع شی،

د اولنی فریق د دلائلو دا دویم فریق دا جوابونه ورکوی،چې دا ټول صورتونه د عقد د مجلس سره مقید دی،یعنی که چرې په مجلس د عقد کښې بائع ټوله صبره یا انګور وتلل او مشتری ته ئې ورکړل نو دا روا دی،وکذا فی نظائرها.

که چرې په مجلس د عقد کښې ئې مبیعه اونۀ تلله نو مونږ دا صورتونه هم ناروا ګڼو، او دلته خو مکمله مبیعه درې څلور میاشتې پس به تللې کیږی۔

په مجلس دعقد کښې د مبیعې د تعیین د ضروری کیدلو دا دلائل دی:

۱- (ولهما ان هذه جهالة بیدهما ازالتها) بان یکیله فی المجلس.(فتح القدیر ص۸۹ ج۵)

۲- ومن باع صبرة طعام کل قفیز بدرهم الخ

د دې د لاندې په فتح القدیر کښې دا لیکلې شوې دی۔

ولا جهالة فی القفیز فلزم فیه واذا زال الجهالة بالتسمیة او الکیل فی المجلس یثبت الخیار کما اذا ارتفعت بعد العقد بالرؤیة اذا لم یؤثر فی الاصل ارتفاع الجهالة بعد لفظ العقد و کونه بالرؤیة ملغی بخلاف ما اذا علم ذلك بعد المجلس لتقرر المفسد (فتح القدیر ص۸۸ ج۵)

الجواب باسم ملهم الصواب: د عقد فاسدیدلو د قائلینو قول صحیح دې. کومې وجې د فساد چې ذکر کړې شوې دی هغه هم صحیح دی. البته تعیض الثمن علی تعجیل المعض و تأجیل المعض لره د مفسداتو نه شمارل صحیح نهٔ دی، همدغه شان د هلاکت د احتمال له کبله مبیعه غیر مقدور التسلیم گرځول هم صحیح نهٔ دی، دا احتمال خو په هره مبیعه کښې موجوده دې، بالخصوص په حیواناتو کښې. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۰ شعبان ۱۳۹۸ هجری

د باغ باندې د میوو د بیعې مختلف صورتونه

سوال:- د باغونو د میوو بیعه په کومو صورتونو کښې روا ده او کومو کښې ناروا ده؟ په تفصیل سره راته جواب ولیکئ. بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: قال فی التنویر وشرحه: ومن باع ثمرة بارزة اما قبل الظهور فلا یصح اتفاقا ظهر صلاحها او لا صح فی الاصح ولو برز بعضها دون بعض لا یصح فی ظاهر المذهب وصححه السرخسی وافتی الحلوانی بالجواز لو الخارج اکثر زیلعی ویقطعها المشتری فی الحال جبراً علیه وان شرط ترکها علی الاشجار فسد البیع کشرط القطع علی البائع حاوی

وقیل قائله محمد رحمه الله لا یفسد اذا تناهت الثمرة للتعارف فکان شرطا یقتضیه العقد وبه یفتی بحر عن الاسرار لکن فی القهستانی عن المضمرات انه علی قولهما الفتوی فتنبه

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله ظهر صلاحها او لا) قال فی الفتح لا خلاف فی عدم جواز بیع الثمار قبل ان تظهر ولا فی عدم جوازه بعد الظهور قبل بدو الصلاح بشرط الترک ولا فی جوازه قبل بدو الصلاح بشرط القطع فیما ینتفع به ولا فی الجواز بعد بدو الصلاح لکن بدو الصلاح عندنا ان تؤمن العاهة والفساد وعند الشافعی رحمه الله هو ظهور النضج وبدو الحلاوة والخلاف انما هو فی بیعها قبل بدو الصلاح علی الخلاف فی معناه لا بشرط القطع فعند الشافعی ومالک واحمد رحمهم الله لا یجوز وعندنا ان کان بحال لا ینتفع به فی الاکل ولا فی علف الدواب فیه خلاف بین المشائخ قیل لا یجوز ونسبه قاضیخان لعامة مشائخنا والصحیح انه یجوز لانه مال منتفع به فی ثانی الحال ان لم یکن منتفعا به فی الحال والحیلة فی جوازه باتفاق المشائخ ان یبیع الکمثری اول ما تخرج مع اوراق الشجر فیجوز فیها طبعا للاوراق کانه ورق کله وان کان بحیث ینتفع به ولو علفا للدواب فالبیع جائز باتفاق اهل المذهب اذا باع بشرط القطع او مطلقا اھ (قوله لو الخارج اکثر) ذکر فی البحر عن الفتح ان ما نقله شمس الائمة عن الامام الفضلی لم یقیده عنه بکون الموجود وقت العقد اکثر بل قال عنه اجعل

الموجود اصلا و ما يحدث بعد ذلك تبعا (قوله و يقطعها المشتري) اي اذا طلب البائع تفريغ ملكه (قوله و به يفتي) قال في الفتح و يجوز عند محمد رحمه الله استحسانا و هو قول الائمة الثلاثة رحمهم الله و اختاره الطحاوي لعموم البلوى. (قوله فتنبه) اشار به الى اختلاف التصحيح و تخيير المفتي في الافتاء بايهما شاء لكن حيث كان قول محمد رحمه الله هو الاستحسان يترجح على قولهما تامل (ردالمحتار ص۴۲ ج۴)

ددې تفصيل نه دا لاندې احکام معلوم شو

۱ - خوپورې چې ګلونه د ميوو شکل اختيار نه کړي نو د هغې بيع په اتفاق سره ناروا ده. علامه ابن عابدين رحمه الله د بروز البعض نه پس بيعه د سخت ضرورت او عموم بلوى د وجې نه د سلم سره ملحقه ګرځولې او روا ئې ليکلې ده، زمونږ په زمانه کښې هم قبل البروز د بيعې عام رواج دې. هم هغه سخت ضرورت او عموم بلوى دلته هم ده د کومې د وجې نه چې د سلم سره ملحقه کړې شوه. فليتامل

۲ - د ميوې د راتلو نه پس که د انسان يا د حيوان د پاره د انتفاع قابل هم شو نو په اتفاق سره بيعه روا ده.

۳ - چې د حيوان د پاره هم قابل د انتفاع نه وي نو د هغې په بيعه کښې اختلاف دې، د جواز قول راجح دې.

۴ - څه ميوه ښکاره شوه او څه لا نه ده ښکاره شوې نو په دې کښې هم اختلاف دې د جواز قول راجح دې.

۵ - د بيعې د صحيح کيدلو نه پس بائع مشترى ته په ونو باندې د ميوې د پريښودلو اجازت صراحتاً يا دلالةً ورکړو. نو ميوه به ئې حلاله وي.

په دې کښې دا شبه کيدې شي، چې نن صبا د ميوې د پخيدلو پورې په وونو باندې د پريښودل متعارف دى. نو د المعروف کالمشروط د لاندې دا بيعه فاسديدل پکار دى.

د دې جواب دا دې، چې د ابقاء کوم شرط دې د دې عقد لره د فاسد کيدلو علت افضاء الى المنازعة دې. او د ابقاء د تعامل په صورت کښې د منازعې احتمال نشته دې.

وهذا ما صرح به الفقهاء رحمهم الله في اجارة الصباغ وغيرها من المسائل ويؤيده ما مر عن نص محمد رحمه الله بانه لا يفسد اذا تناهى عظم الثمر للتعارف الخ والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۰ ذي قعده ۱۳۸۸ هجري

بيعه د ثمر قبل الظهور

سوال - د باغونو د ميوو بيعه هر کله چې په بور کښې ميوه د تور مرچ يا د چنې د دانې هومره

رانبکاره شوي وی نو دې ته قابل د انتفاع ونيلې کيدې شی او که نه؟ او په داسې وخت کښې د دې بيعه صحيح ده او که نه؟ بله دا چې بعضې ميوې په يو خل نۀ راوځی لکه کيله شوه چې دا لږه لږه راوځی. ددې بيعه به کله صحيح کيږی؟ که چرې روا نۀ وی نو د روا والی د پاره څه حيله په کار راتلې شی او که نه؟ ددې نه وړاندې مونږ ستاسو نه استفتاء کړې وه.خو ولې د جواز د اختصار د وجې نه زما خلجان لرې نه شو.په مقامی علماؤ کښې د دې مسئلې په جواز او عدم جواز کښې اختلاف روان دې. زړه ده چې د فريقينو دلائل به تاسو ته هم راورسی.ستاسو نه دا طمع لرو چې لږ په تفصيل سره به راته جواب وليکئ.بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : په دې معامله کښې د عام ابتلاء او د دې نه په احتراز کولو کښې د تعسر بلکه د تعذر له کبله په اهل فتوی باندې لازم دی چې ددې اړخ ته خصوصی توجه وکړی.او ددې څه حل راوباسی.

ځينی د تقوی خاوندان د آم د خوراك نه پرهيز کوی. ليکن د دې پرهيز د پاره د عامو مسلمانانو د پاره د څه لارې د راوتلو خو څه کوې.په خپله دا پرهيز کول د هغوی هم په کار رانغلو ځکه چې دا معامله صرف د آم سره خاصه نۀ ده.چې د دې په پرېښودلو دې تقوی محفوظ پاتې شی.ب لکه د ټولو ميوو په بيعه کښې هم دا دستور او رواج دې.په خاص توګه د کيلې معامله خو نوره هم ګرانه ده.ځکه چې ددې خو ډير بوټی داسې وی چې هغه د بيعې نه پس پيدا کيږی.

د داسې سخت ضرورت په وخت کښې د عمل بالمرجوح بلکه دعمل بمذهب الغير ګنجائش هم ورکولې شی.بلکه په بعضو ځايونو کښې عمل بمذهب الغير واجب شی.حضرات فقهاء کرام رحمهم الله د داسې ضرورت په موقعو باندې د يو بعيد نه بعيد تاويل په ذريعه دا د يوې شرعی کليې لاندې راولی او د ګنجائش روايستلو کوشش ترې نه کوی.

لهذا د علامه ابن عابدين رحمه الله د بيع د ثمار د ګنجائش راويستلو په اهميت او ضرورت باندې ډير زور راوړې دې.او اوږد بحث ئې فرمائيلې دې.په آخره کښې ئې دا د بيع سلم سره پيوسته کړې دې او ددې د جواز فتوی ئې ليکلې ده.

په التحرير المختار کښې علامه رافعی رحمه الله هم د علامه ابن عابدين رحمه الله په دې تحقيق باندې څه اعتراض نۀ دې کړې.خو ولې حضرت حکيم الامة رحمه الله په امداد الفتاوی کښې په دې باندې دا لاندينی اشکالات ليکلې دی:

۱- په وخت د عقد کښې د مسلم فيه وجود ضروری دې.

۲- د ثمار مقدار متعين نۀ دې.

۳- څه نيته ئې معينه نۀ ده.

۴- په اجل باندې مشتری د بائع نه مطالبه نۀ کوی.

۵ - اکثر ثمار عددی متقارب یا وزنی متماثل نهٔ دی.
۶ - اکثر ټول ثمن د وړاندې نه یك مشت نهٔ سپارلې کیږي.
د اولنی اشکال جواب خو حضرت حکیم الامة قدس سره په خپله ولیکلو چې د امام شافعي رحمه الله په نیز په وخت د عقد کښې د مسلم فیه وجود شرط نهٔ دې.
د دویم اشکال نه د پنځمه پورې د اشکالاتو جواب دا کیدې شي، چې د ذکر کړې شوې امورو د اشتراط د مفسد کیدلو علت جهالة مفضية الى المنازعة دې. لیکن په سبب د تعارف د نزاع احتمال منقطع شو.

فارتفع الفساد لارتفاع العلة كما قالوا في اشتراط الالة على الاجير والصبغ على الصباغ والخيط على الخياط

د شپږم اشکال حل دا دې، چې د امام مالك رحمه الله په نیز تاخیر الثمن بالاشتراط درې ورځو پورې او بې د اشتراط نه دزیاتې مودې پورې هم روا دی. (بداية المجتهد ص۲۰۲ ج۲ ،اقرب المسالك مع الشرح الصغير ص۲۶۲ ج۳)
ائمه ثلاثه رحمهم الله په دې باندې متفق دی، چې په وخت د عقد وجود د مسلم فیه شرط نهٔ دې، د دې وجې نه په دې زیر بحث مسئله کښې د امام مالك رحمه الله قول اختیارول پکار دی، للزوم التلفيق على اختيار قول الشافعي رحمه الله.
متعاقدین د ضرورت په وخت کښې د درې ورځو نه زیات د ثمن د تاخیر چې کوم شرط دې د هغې د فساد نه د احتراز کولو د پاره دا تدبیر اختیارولې شي، چې مشتری ټول ثمن په وخت باندې په ادا کولو باندې قادره نهٔ دې، نو هم د بائع نه دې قرض واخلی او هغهٔ ته دې د ثمن په توګه واپس ورکړی.
دا تدبیر د متعاقدینو د فائدې د پاره ولیکلې شو، اوکه نه نو په عوامو باندې دا تجسس او تحقیق لازم نهٔ دې بلکه دا تعمق ورله بیخی روا نهٔ دې چې د باغ بیعه مطلقه وشوه او که په شرط د تاخیر د ثمن؟ بیا دا چې شرط د تاخیر د درې ورځو پورې دې او که نه د زیاتو پورې دې؟
البته دا خبره ده چې په کوم ځائې کښې بې د تجسس نه د درې ورځو نه زیات شرط د تاخیر محقق شي یا د هغې عام رواج شي نو هلته احترام لازم دې.
فائده- علامه ابن عابدین رحمه الله د عامې ابتلاء او د سخت ضرورت له کبله د الحاق بالمسلم بحث د بروز البعض په بیان کښې لیکلې دې، لیکن ددې ټول بحث نه دا خبره ښکاره ده چې قبل د بروز الثمار نه بلکه قبل د بروز الازهار نه هم همدا حکم دې، په کوم ځائې کښې چې په دې کښې د ابتلاء عام له کبله د سخت ضرورت تحقق راشي، هلته به دا د امام مالك رحمه الله د مذهب مطابق په بیع

سلم کښې داخلولې شي او روا به ګرځولې شي.

په غورو کولو باندې دا خبره معلومه شوه چې د دې مسئلې حل په خپله په فقه حنفی کښې موجود دې. لهذا نورو مذاهبو ته د رجوع کولو ضرورت نشته دې.

چنانچه د آم او دغه شان د نورو میوو بیعه په وونو باندې د ګلونو د راتلو نه پس کیږی. که چرې بعضې میوه هم ښکاره شوې وی نو بیا خو بیخی څه اشکال پاتې نۀ شو، او که میوه پرې بالکل ظاهره شوې نۀ وی نو دا بیعه بالاثمار نۀ ده بلکه بیعه بالازهار ده، او دا ازهار **مال متقوم منتفع به للدواب بل لبعض حاجات الناس** هم دی، فرض کړه که فی الحال منتفع به هم نه وی، نو **فی ثانی الحال** منتفع به دی. **کما نقل العلامة ابن عابدین رحمه الله عن الامام ابن الهمام رحمه الله فی صحة بیع الثمار بعد البروز قبل ان تکون منتفعا بها (ردالمحتار ص ۲۲ ج ۴)**

حضرات فقهاء کرامو **بیع الثمر قبل ادراك الزهر** ته په اتفاق سره ناروا وئیلې دی. لیکن په خپله د **بیع الزهر** د عدم جواز څه وجه نشته دې، البته د بیع قبل ظهور الازهار په صورت کښې د امام مالك رحمه الله په مذهب باندې د عمل کولو نه علاوه بله څه لاره نشته دې، او دا به هله روا وی چې کله اهل بصیرت په دې کښې د عامې ابتلاء او سخت ضرورت فیصله اوفرمائی.

د کیلې د باغ بیعه د دې وجې نه روا ده چې دا بیع الاشجار مع الاصول وی، لهذا د بیعې نه پس پیدا کیدونکی ونې د مشتری ملك دې، که په دې بیعه کښې ترك الاصول للبائع مشروط وی، نو دا بیعه به فاسده وی.

وهو یفید ملك المشتری بعد القبض فیحل اکله للمشتری الثانی

ددې نه هم بنۀ حل دا دې، چې دا بیع الاشجار بدون الاصول ده، د موجودو اشجارو په بیعه کښې څه کلام نشته دې، او د اشجارو غیر موجودو بیعه بیع الاشجار الموجوده صحیح ده.

وله نظائر فی کتب المذهب خصوصا فی مبحث بیع الاثمار والازهار من ردالمحتار.

شبهه:- بعضې خلقو ته شبهه شوې ده چې بیع بشرط التبقیة فاسده ده، او په معامله معهوده کښې اګرچې بیعه مطلقاً ده، لیکن عرفا تبقیه لازمه ده، **والمعروف کالمشروط.**

جواب:- په مذکوره بحث کښې د دې شبهې جواب شوې دې، یعنی دا شرط د **مفضی الی النزاع** کیدلو د وجې نه مفسد وو. لیکن د عرف عام د وجې نه د نزاع احتمال منقطع شو. **فارتفع الفساد والنظر تفصیله فی اجارات کتب المذهب فاغتنم هذا التحریر الفرید وتشکر و ایاك والتعمق فی الدین والتعامی الشایع ولن یشاد الدین احد الا غلبه والله سبحانه وتعالی اعلم.**

۲۳ ذی الحجه ۱۳۹۹ هجری

د پورتنی په شان یو بل سوال

سوال - د علماء هند دوه متضادې فتوې ستاسو خدمت ته درلیګم. دواړو فریقو د خپل موقف د اثبات د پاره د احنافو د معروفو او متداول کتابونو بحر. عالمګیریه. شامیه وغیره نه استدلال کړې دې. حضرت والا (یعنی تاسو) دې د خپلې عالی رائې نه مونږ خبر کړی۔

په دواړو فتوو کښې ئې د کیلې د باغ د بیعې په حقله د جواز حیله دا وړاندې کړې شوې ده. چې په وخت د بیعې دې دا زمکه په ټیکه واخلی، لیکن ستاسو په یو فتوی کښې چې په ۱۳۹۷ هجری کښې د دارالافتاء نه جاری شوې ده دا حیله د جواز لیکلې شوې ده. چې د زمکې هغه حصه په کومه حصه کښې چې کیلې کرل غواړی د څو کالو د پاره دې په ټیکه واخلی۔

په دواړو کښې فرق دا دې. چې د علماء هند په فتوی کښې په وخت د بیعې د دې حیلې د اختیارولو حکم کړې شوې دې. او ستاسو په فتوی کښې د کیلې د کرلو نه وړاندې د دې حیلې د اختیارولو حکم دې. تاسو نه امید لرو چې په قولِ فیصل سره به زمونږ تشفی اوفرمایئ. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د دې زیر بحث مسئله په حقله بنده (یعنی مفتی صاحب) په ۲۳ ذی الحجه ۱۳۹۹ هجرئ کښې یو مفصل جواب لیکلې وو، د کومې فوټو کاپی چې ستاسو په خدمت کښې درلیګم، ورسره ستاسو په رالیګلې شوې فتوی کښې د دوو عبارتونو په حقله بحث لیکلې شی:

۱ - واما البیع مطلقا فذکر فی الهدیة جوازه واعترض ابن عابدین رحمه الله بان المعروف بالعرف کالمشروط بالشرط فلا یصح البیع مطلقا و کنت مترددا فی هذا حتی ان وجدت فی فتاوی ابن تیمیة عن ابی حنیفة والثوری رحمهما الله تعالی انهما اجازا البیع مطلقا اذا اجاز البائع الترك علی الاشجار فاذن لما وجدت عن ابی حنیفة رحمه الله فلا ابالی فالحاصل اذا لم یشترط الابقاء فی صلب العقد یصح البیع وان کان معروفا بالعرف هذا ما حصل لی والله اعلم وعلمه اتم.

(العرف الشذی ص۳۸۸)

د دې نه استدلال کول صحیح نهٔ دی ځکه چې په دې کښې د عرف سره څه سرو کار نشته دې. غالب ظن دا دې چې د امام صاحب رحمه الله په زمانه کښې دا عرف نهٔ وو. که دا عرف وې نو صراحةً د بائع د اجازت ضرورت نهٔ وو. ځکه چې د عرف د وجې نه دلالةً د بائع اذن موجود دې. ورسره دا چې د عرف د موجود والی په صورت کښې به د امام رحمه الله نه ددې وضاحت منقول وې. ددې نه ثابتیږی چې په هغه زمانه کښې د دې عرف نهٔ وو. سره ددې هم که څوك د عدم عرف په ثبوت کښې کلام کوی. نو کم از کم د دې احتمال خو یقینی دې. فاذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال

٢ - ولو اراد ان يترك في الارض ويكون له الولاية الشرعية فالحيلة ان يشتري الحشيش والاشجار الطليع ببعض الثمن ويستأجر الارض ببعض الثمن من صاحب الارض اياما معلومة وينبغي ان يقدم بيع الاشجار او الثمار والحشيش ويؤخر الاجارة فانه لو قدم الاجارة لا يجوز كذا في مختار الفتاوى ولو باع اشجارا الطاطيع و اعار الارض يجوز ايضا الا ان الاعارة لا تكون لازمة ويكون له ان يرجع كذا في فتاوى قاضيخان (عالمگيرية ص٣٩ ج٣)

په دې کښې دا اشکال دې. چې دا صفقة فی صفقة ده. په وخت د بيعه کښې د اجارې د شرط اگر که تصريح نه وی کړې شوې. ليکن د جانبينو ترمينځه د معهود کيدلو له کبله په منزله د تصريح ده. او هر کله چې د دې عرف شی نو بيا المعروف کالمشروط مسلم دې. که چيرې تعامل ته د دې مخلص اووئيلې شی. نو بيا د داسې حيلو څه ضرورت دې، چې تعامل ته وگورې نو دا معامله بې د څه حيلې نه روا ده. کما حررنا مفصلا. والله سبحانه وتعالى اعلم. ١٧ ربيع الثانی ١٤٠٣ هجری

بيع بشرط البراءة من كل عيب

سوال - زيد سره يوه بلاربه ميښه ده. او دا ميښه د بچی روارو نه پس پنځه سيره شودهٔ ورکوی. اوس زيد دا ميښه خرڅول غواړی. ليکن که د شودو ورکولو دا مقدار ښکاره کړی نو هيڅ يو سوداگر هم د دې ميښې په اخستو نهٔ شی راضی کيدلې. آيا ددې خبرې د ښودلو نه بغير دې دا ميښه خرڅولې شی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : زيد که چيرې د ميښې خرڅولو په وخت کښې مشتری ته دا اووائی چې زهٔ ددې د هر قسمه عيب نه بری يم، که خوښه دې وی واخله او که خوښه دې نهٔ وی نو مهٔ ئې اخله. نو دا بيعه به صحيح شی، اگرکه دې ورته ټول عيبونه ونهٔ شماری، وروستو که په کښې څه عيب راوتلو نو زيد به د هغې ذمه وار نهٔ وی.

قال في التنوير: وصح البيع بشرط البراءة من كل عيب وان لم يسم.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت هذا القول: بأن قال بعتك هذا العبد على انی بریء من كل عيب.

(ردالمحتار ص١٠٣ ج٣) والله سبحانه وتعالى اعلم. ٢٦ شعبان ١٣٨٧ هجری

په مبيعه کښې د عيب ظهور

سوال - زمونږ په علاقه کښې د څناورو د سوداگرو دا رواج دې چې که بائع په وخت د بيعې کښې د خپل څاروی عيب ښکاره نهٔ کړی نو وروستو د عيب په ښکاره کيدلو باندې مشتری ددې

خاروي پيسې لږې وركوي.لكه د ميېنې په يو تې كېښې كه نيم سير شودهٔ كم وي.يعنى د ۹ې خلور واړه تيونه برابر نهٔ وي. نو سل روپئ به په كېنې ددې د قيمت نه كمولې شي. برابره خبره ده كه بائع په دې باندې راضي وي او كه نه؟ په دې طريقې سره پيسې كمول او وركول روا دي او كه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په عيب باندې د خبر كيدلو نه پس مشتري ته اختيار دې.كه خوښه ئې شي نو د كل ثمن په بدله كښې دې دا د خان سره وستاتي.او كه خوښه يې وي نو واپس دې كړي. دا روا نهٔ دي چې معيب خناور د خان سره وساتلې شي او رجوع بالنقصان وكړي.البته كه د مشتري په لاس كښې د راتلو نه پس په دې خناور كښې څه نوې عيب هم پيدا شو نو مشتري رجوع بالنقصان كولې شي،او د بائع په رضا سره واپس كولې هم شي،په واپس كولو باندې د بائع د رضا نه پس كه چيرې مشتري مبيع د خان سره اينبودل غواړي نو بيا دې رجوع بالنقصان نهٔ شي كولې.

قال في التنوير:من وجد بمشريه ما ينقص الثمن اخذه بكل الثمن او رده(ردالمحتار ص۸۰ ج۴)

وقال:حدث عيب اخر عند المشتري رجع بنقصانه وله الرد برضا البائع.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله:الا ان يرضى بالضرر فيخير المشتري حينئذ بين الرد والامساك من غير رجوع بنقصان. (ردالمحتار ص۸۹ ج۴) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲ ذي الحجه ۱۳۸۷ هجرى

د مبيعې عيب پټول حرام دي

سوال:- زيد يو دكاندار دې،د هغهٔ په دكان كښې يو قسم غنم په يوويشت روپئ من او بل قسم غنم په نولس (۱۹) روپئ من خرځيږي،هغهٔ د غنمو د دواړه قسمه يوځائې كوي او په شل روپئ من ئې خرڅوي. آيا د هغهٔ دا كار صحيح دې؟ او دا دواړه قسمه غنم بيل بيل هم ساتي. نو مطلب دا شو چې د هغهٔ په دكان كښې درې قسمه غنم خرځيږي،نولس روپئ من،شل روپئ من،او يوويشت روپئ من. زيد اخستونكي ته درې واړه قسمه وښائي دې د پاره چې د اخستونكي كوم قسم خوښ وي نو وائي خلي.او ددې دوو قسمو غنمو د يو ځائې كولو نه د هغهٔ مقصد دهوكه وركول نهٔ دي. بلكه مقصد ئې دا دې چې د نولس روپو كوم غنم دي د هغه غنمو روټئ دومره ښائسته نهٔ وي لكه څنگه چې د دواړو اوړو د يو ځائې كولو نه پس روټئ ښائسته وي، آيا د زيد داسې كول صحيح دي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د هغهٔ دا فعل روا دې، څكه چې دكاندار د مبيعې څه عيب نهٔ دې پټ كړې. عيب پټول حرام دي.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله:لا يحل كتمان العيب في مبيع او ثمن لان الغش حرام اه(ردالمحتار ص۱۰۹ ج۴)

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۳ ربیع الثانی ۱۳۸۹ هجری

د عیب په ظاهریدلو باندې مشتری ته د فسخې خیار شته دې

سوال:- زید خپله څه زمکه چې په هغې باندې څه آبادی هم وه،په عمرو باندې په اتلس زره خرڅه کړه،دا خبره وټاکلې شوه چې لس زره به نقدې ورکوی.او اتۀ زره به د نیتې د ختمیدلو نه پس. لهذا زید شپږ زره نقدې وصول کړلې.او څلور زره ئې د عمرو سره امانت پرېښودلې. څو ورځې تیریدلو نه پس د زید یو رشته دار بکر ددې زمکې په څه حصه باندې د ملکیت دعوی اوکړه. وروستو بیا زید د مشتری عمرو نه خپلې پیسې وغوښتلې نو هغۀ ورته اووئیل چې اول د بکر سره دا معامله حل کړه اوکه نه ماته بیا د جنګ جګړې دا معامله منظوره نۀ ده،ما له بیا خپلې پیسې راکړه، دا خبره هم داسې روانه وه،اوس د څو میاشتو په تیریدلو باندې دا خبره معلومه شوه چې زید دا زمکه په بل یو سړی باندې خرڅوی، پوښتنه دا کول دی چې شرعا دا زمکه اوس د چا ملکیت دې؟ د زید او که د عمرو.او د زید دا تصرف کول صحیح دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په مبیعه کښې د نزاع واقع کیدل یو عیب دې، لهذا د عمرو په نۀ منظورلو باندې دا بیعه فسخ شوه. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۷ رجب ۱۳۹۸ هجری

د افیومو کرونده او بیعه جائزه ده

سوال:- د افیومو کر او بیعه شرعا روا ده او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په تیره زمانه کښې به افیوم په دوایانو کښې په کثرت سره نۀ استعمالیدل. بلکه عموما د لهوې د پاره به استعمالیدل.د دې وجې نه بعضې فقهاء کرامو رحمهم الله ددې بیعې ته مکروه وئیلې دی. لیکن نن صبا افیوم د دوا په توګه په کثرت سره استعمالیږی،او په علاج کښې ئې لوئې اهمیت او شهرت حاصل کړې دې،بلکه د سخت ضرورت د حده پورې رسیدلې دی. لهذا ددې بیعه بې د څه کراهت نه روا ده، البته چې د کوم سړی په حقله دا غالب ظن وی چې هغۀ به دا د لهو لعب د پاره استعمالوی،نو په هغه باندې د دې خرڅول مکروه تحریمی دی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۶ جمادی الاولی ۱۳۸۷ هجری

د سګریټو تجارت کول جائز دی

سوال:- د سګریټو تجارت کول روا دی او که ناروا دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا تجارت روا دې.والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۹ جمادی الاولی ۱۳۹۸ هجری

د مینبې د تازه پیدا شوي بچي بیعه

سوال - د ځناورو ساتونکو خلقو کښې دا عام رواج دې،چې د غوا یا د میښې بچې چې ځنګه پیدا شی نو دا په قصاب باندې خرڅ کړی.او ددې نه ددوی مقصد شودهٔ بچ کول او د دې بچو په ساتلو باندې چې کوم وخت لګی هغهٔ بچ کول دی. نتیجه ئې دا وی چې دا غوا میښه د بچی په فراق کښې درې څلور ورځو پورې چغې وهی.آیا ددې خلقو دا طریقه کول روا دی؟ بینوا توجروا۔
الجواب باسم ملهم الصواب : داسې کول ظلم دې۔

قال النبی ﷺ:من فرق بین والدۃ وولدھا فرق اللہ بینه وبین احبته یوم القیمة.(ترمذی،مستدرک)

وقال العلامة البابرتی رحمه اللہ: فلا یدخل محرم غیر قریب ولا قریب غیر محرم ولا ما لا محرمیة بینهما اصلا حتی لو کان احدھما اخا رضاعیا للآخر او کان امة والاخر ابنها رضاعا او کان احدھما ولد عم او خال او کان احدھما زوج الاخر جاز التفریق بینهما لان النص الدال ورد بخلاف القیاس لان القیاس یقتضی جواز التفریق لوجود الملك المطلق للتصرف من الجمع والتفریق کما فی الکبیرین و کل ما ورد من النص بخلاف القیاس یقتصر علی مورده ومورده الوالدة وولدها والاخوان. (عنایة بهامش فتح القدیر ص۱۰۹ ج۶)

اګرچې دا حکم د بنیادمو سره خاص دې او د حیوان د بچی بیعه واجب الرد نهٔ ده. لیکن د قباحت او د زړه د قساوت نه خالی نهٔ ده،د عمر په کښې هیڅ قید نشته دې. تر څو پورې چې په کښې د سخت غم احتمال وی نو تر هغه وخته پورې دې نهٔ خرڅوی۔ واللہ سبحانه وتعالی اعلم

۱۱ شوال ۱۳۸۶ هجری

د جهینګې

(یو قسم سمندری چینجې دې خو اختلاف په کښې دې چې چینجې دې او که مهی)

بیعه روا ده

سوال - یو مسلمان په کراچې کښې د غټې کشتۍ په ذریعه مهیان او جهینګې نیسی او ددې تجارت کوی.آیا دا تجارت روا دې؟ په عامه توګه ددې جهینګو بولی په کراچۍ کښې کیږی.ددی نه پس دا اروپا او امریکې وغیره ته لیګلې کیږی.غالبا د شوافعو په نیز خو کونی کبر ،پنجه پاو او جهینګه وغیره ټول سمندری ځناور حلال دی.نو آیا دا تجارت به روا وی؟ بینوا توجروا۔
الجواب باسم ملهم الصواب د نورو امامانو په نیز جهینګا حلاله ده د دې وجی نه ددی تجارت روا دې۔ واللہ سبحانه وتعالی اعلم۔ ۲۳ شوال ۱۳۹۷ هجری

د بعض الحیوا ن بیع جائزه ده

سوال زید د خپلې غوا شپږ حصې په شپږو کسانو باندې د قربانۍ د پاره خرڅې کړې.او اوومه حصه ئې د خپل ځان د پاره وساتله.آیا د دې شپږو حصو بیعه روا ده؟ ظاهره خو دا ده چې دا بیعه روا نه ده ځکه چې دا بیعه د بعض د حیوان ده، بله دا چې د زید د خپل شرکت شرط لګول هم مفسد د بیعې معلومیږی، بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د بعض الحیوان بیعه روا ده.د ناروا کیدلو ئې څه وجه نشته دې، لهذا د داسې څناور بیعه بې د څه کراهته روا ده.واللہ سبحانہ وتعالیٰ اعلم. ۲۹ ذی الحجه ۱۳۹۴ هجری

د څناور د مثانې بیعه

سوال- د څناور د مثانې (په کوم ځائې کښې چې وارۀ بول پراتۀ وی) اخستل او خرڅول روا دی او که ناروا دی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دا بیعه او شری روا ده.واللہ سبحانہ وتعالیٰ اعلم. ۲۹ رجب ۱۳۹۵ هجری

د ژوندئ چرګې بیعه وزناً جائزه ده

سوال- نن صبا ژوندئ چرګې په تول خرڅیږی.آیا دا روا دی؟ حال دادې چې په هدایة کښې تصریح ده چه : **ولا یمکن معرفة الثقلة بالوزن لانه یخفف نفسه مرة ویثقل اخری**

د دې نه دا خبره معلومیږی چې د وزن د معرفت د عدم امکان د وجې دا بیعه صحیح نۀ ده. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د چرګې د سا اخستلو د وجې نه ددې په وزن کښې څه معتدبه فرق نه راځی. لهذا دا جهالت یسیره دې، **مفضیة الی النزاع** نۀ دې. بله دا چې د چرګو په عرف عام کښې د داسې اخستلو خرڅولو د وجې نه په دې کښې د نزاع هغه احتمال هم نشته دې. د دې وجې نه دا بیعه روا ده.واللہ سبحانہ وتعالیٰ اعلم ۲۹ صفر ۱۳۹۹ هجری

په مروجه بیعو کښې په مشتری باندې د بیا وزن کولو تحقق

سوال - د یو شودو والا نه همیشه په یو متعین مقدار کښې شودۀ اخستلې کیږی.هغه دا شودۀ په خپله دکان ته رارسوی. لیکن زمونږ د وړاندې هغۀ دا وزن نۀ کوی، بلکه چې راوړی ئې نو هلته ئې وزن کړې وی او راوړی ئې او زمونږ لوښی کښې ئې واچوی. زمونږ دهغۀ په وزن باندې باور دې، مونږ دغه شودۀ بیا نۀ تلو.یو مولوی صاحب فرمائی چې بې د وزن کولو نه دا شودۀ په

استعمال کښې روا ستل روا نهٔ دی،آیا دا خبره صحیح ده؟

دویم تپوس دا دې،چې هر کله بائع د مبیعې وزن وکړی نو په دې موقع باندې د مشتری وجود او لیدل شرط دی او که نه دومره هم کافی دی چې هغه خپل لوښې پریږدی او یا چا بل چا لره خپل وکیل جوړ کړی؟ نن صبا د ډیرو کارونو د وجې نه د ښار اوسیدونکو خلقو دا طریقه اختیار کړې ده چې دوکاندار ته ټیلې فون وکړی او ورته ووائی چې فلانې څیز دومره دومره مقدار کښې وتله اوخانه سره ئې کیږده. بیا په څه ذریعې سره هغه تللې شوی څیزونه راوغواړی،یا ئې ورته دا دکاندار په خپله راورسوی.او مشتری ئې په دویم ځل بیا تلل ضروری نهٔ ګڼی، آیا دا طریقه شرعا صحیح ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : په دې دواړو صورتونو کښې بیع بالتعاطی ده د دې وجې نه په اخستونکی باندې بیا تلل ضروری نهٔ دی. برابره خبره ده که ددې څیزونو قیمت بیا وروستو د میاشت په تیریدلو باندې ادا کوی نو هم ئې دا حکم دې،او مخامخ په مخامخه بیعه او شری هم عموما بالتعاطی وی۔

قال فی التنویر: اشتری مکیلا بشرط الکیل حرم بیعه و اکله حتی یکیله ومثله الموزون و المعدود غیر الدراهم والدنانیر.

وفی الشرح: لجواز التصرف فیهما بعد القبض قبل الوزن کبیع التعاطی فانه لا یحتاج فی الموزونات الی وزن المشتری ثانیا لانه صار بیعا بالقبض بعد الوزن قنیة وعلیه الفتوی.

وفی الحاشیة: (قوله کبیع التعاطی الخ) عبارة البحر وهذا کله فی غیر بیع التعاطی اما هو فقال فی القنیة ولا یحتاج الخ وظاهر قوله وهذا کله انه لا یختص بالموزونات بل التعاطی فی المکیلات والمعدودات کذلک وهو مفاد التعلیل ایضا بانه صار بیعا بالقبض فانه لا یخص الموزونات لکن فیه ان مقتضی هذا انه لا یصیر بیعا قبل القبض ولعله مبنی علی القول بانه لا بد فیه من القبض من الجانبین والاصح خلافه وعلیه فلو دفع الثمن ولم یقبض صح وقدمنا فی اول البیوع عن القنیة دفع الی بائع الحنطة خمسة دنانیر لیاخذ منه حنطة وقال له بکم تبیعها فقال مائة بدینار فسکت المشتری ثم طلب منه الحنطة لیاخذها فقال البائع غداً ادفع لک و لم یجر بینهما بیع وذهب المشتری فجاء غداً لیاخذ الحنطة وقد تغیر السعر فعلی البائع ان یدفعها بالسعر الاول اهو تمامه هناک فتامل. (رد المحتار ص۱۸۳ ج۴) والله سبحانه وتعالی اعلم.

د متعين وزن د ډبو بيعه

سوال:- په بهشتي زيور کښې دي چې که چا څه غله، غوري، تيل وغيره د څه نرخ وغيره د مقررولو نه پس واخستل نو ددې درې صورته دي:

۱- دکاندار د اخستونکي يا دهغهٔ د راليږلي شوي سړي په وړاندې وتلل او ورئې کړل.

۲- د اخستونکي يا د هغهٔ د راليږلي شوي سړي په وړاندې ئې نهٔ دي تللې، بلکه اخستونکي يا د هغهٔ راليږلي شوي سړي ته ئې اووئيل چې تهٔ لاړ شه زهٔ به ئې تاسو کره در ورسوم.

۳- ددې نه وړاندې ئې د اول نه تللې ايښودې وو، دکاندار هم داسې راوخستلو او ورئې کړلو په دويم ځل ئې ونهٔ تللو.

په وړومبي صورت کښې کور ته په راوړلو باندې په دويم ځل تلل ضروري نهٔ دي، بې د تللو نه د دې خوړل، څښل، او خرڅول هر څه صحيح دي.

په دويم او دريم صورت کښې چې ئې اخستونکې په خپله ونهٔ تلي نو د هغې خوړل، څښل، او خرڅول وغيره هيڅ څه صحيح نهٔ دي، که بې د تللو نه ئې خرڅ کړلو نو دا به بيعه فاسده وي، که بيا ئې هم تلي نو بيا هم دا بيعه نهٔ صحيح کيږي انتهى.

نن صبا ډير څيزونه د مختلفو وزنونو په ډبو کښې، او په پيکټونو کښې پيک کړې شوې پراتهٔ وي، اخستونکي دکاندار ته وائي فلانې څيز يو کلو راکړه، دکاندار ورله د يو سير ډبې يا پيکټ ورکړي، نهٔ خو ئې دکاندار په خپله تلي او ورکوي ئې او نهٔ ئې هغه دغه وخت کښې تلي. اخستونکي لره داسې په ډبو او پيکټونو کښې مال اخستل او خرڅول روا دي که نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: د بائع او د مشتري د دواړو مقصد هغه خاص ډبې او پيکټ وي، په هغې کښې ليکلې شوې وزن په بيعه کښې مشروط نهٔ وي، د دې وجې نه بې د وزن د کولو نه په دې کښې تصرف کول روا دي. والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۷ جمادي الاولى ۱۴۰۰ هجري

د واورې بيعه تخميناً

سوال:- که څوک د دکاندار نه مثلاً واوره يو سير غواړي، چې په اتهٔ انې باندې سير دې. هغهٔ دکاندار له اته انې ورکړي، دکاندار د تللو په ځائې هم داسې په اندازه باندې اخستونکي له واوره ورکړي، آيا دا اخستل او خرڅول روا دي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که چرې واوره ئې په شرط د وزن اخستې وي نو بې د وزن کولو نه په دې کښې تصرف کول روا نهٔ دي، د داسې ضرورت په وخت کښې که د وزن په ځائې همداسې د واورې د ټوټې بيعه وکړې شي نو بيا به بې د وزن کولو نه هم په دې کښې تصرف کول روا شي. والله

سبحانه وتعالى اعلم. ۲۷ جمادی الاولی ۱۴۰۰ هجری

د عددي ځيزونو د هغې د جنس سره مبادله

سوال: ۱ - چی می فرمانند علماء دین و مفتیان شرع متین درین مسئله که شگوفه درخت نر خر مارا بعوض جنس خود قرض دادن جائز ست یا نه؟

۲ - و ایضا همیش شگوفه را یعنی خوشه خرما را بعوض خرما آجل یا عاجل بعدد یا بوزن معین دادن جائز ست یا نه؟

۳ - بوته هر درخت را بعوض بوته جنس خود یا ببوته درخت دیگر دست بدست یا بقرض یا ببدل دادن جائز ست یا نه؟ بینوا توجروا ـ

الجواب باسم ملهم الصواب: ۱ - این شگوفه از اعداد متفاوته است لهذا استقراض جائز نیست ـ

۲ - جائز ست زیرا که تبدیل خوشه بغیر جنس ست ـ

۳ - بوته هر درخت بجنس خود ببیع عاجل دادن جائز ست،قرض جائز نیست ـ **والله سبحانه وتعالى اعلم.** ۱۹ ربیع الآخر ۱۳۸۳ هجری

که مشتري د مبيعې د اخستلو نه انکار وکړو نو بيعانه واپس کول ضروري دي

سوال: زید د بکر نه د لسو زرو پلاټ واخستلو،د سودا د پخیدلو نه وروستو زید بکر له سل روپئ ورکړې،او ورته ئې اووئیل چې باقی رقم به درله په یو میاشت کښې درکړم او په پلاټ به بیا قبضه وکړم،یو میاشت پس هر کله چې بکر د زید نه د پیسو مطالبه وکړه نو زید انکار وکړو او وې وئیل چې زهٔ پلاټ نهٔ اخلم،ما له خپلې سل روپئ واپس راکړه. لیکن بکرورله د سلو روپو د ورکولو نه انکار وکړو،آیا شرعاً بکر ددې سلو روپو د واپس ورکولو پابند دې او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د بکر د رضا نه بغیر زید ته د بیعې د فسخ کولو اختیار نشته دې. بکر زید لره په بیعه باندې د قائم ساتلو دپاره او د هغهٔ نه د باقی رقم اخستلو دپاره هر قسمه قوت استعمالولې شي،که چیرې بکر زید لره په بیعه باندې د قائم ساتلو نه عاجزه شو نو بیا بکر نه زید ته بیعانه واپس کول ضروري دي.

د زمانې د فساد د وجې نه داسې ظلمونه ډیر زیات شروع دی او واقع کیږي.د دې وجې نه د ظلم او د نقصان نه د بچ کیدلو د پاره یو څو تدبیرونه لیکلې شي

۱ - مشتری دې ټول قیمت ادا کړي او په مبیعه دې قبضه وکړي یا بائع دې په قدر د بیعانې په

که قیمت باندې د مشتری نه واپس واخلی.

۲. بائع دې د مشتری په اجازت دا مبیعه بل ځائې کښې خرڅه کړی، که د وړومبی قیمت نه په که باندې خرڅ شو نو دا قیمت دې د بیعانې نه واخلی او که د وړومبی قیمت نه په زیات باندې خرڅ شو نو زیاتې پیسې دې مشتری اول ته بیرته ورکړی.

۳. که مشتری په یو طریقه هم په لاس نهٔ راځی نو بائع دې مسلمان حاکم ته درخواست ورکړی. هغه دې مبیعه خرڅه کړی.اودویم نمبرکښې چې کوم تفصیل ذکر شوې دې د هغې مطابق دې فیصله وکړی.

قال الامام النسفی رحمه الله: ومن اشتری عبدا فغاب فبرهن البائع علی بیعه وغیبته معروفة لم یبع بدین البائع والا بیع بدینه. (کنز الدقائق ص۲۲۱)

که چیرې د یو مسلمان حاکم نه دا کار نهٔ شی اخستلې کیدې. نو دعلماؤ په مجلس کښې دا مسله وړاندې کولې شی او د ذکر کړې شوی تفصیل مطابق ترې نه فیصله اخستلې شی. والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۰ ربیع الثانی ۱۳۸۸ هجری

بیع بلا اذن شریک

سوال: زید د شپږو کسانو مشترکه زمکه بې د اجازته په عمرو باندې خرڅه کړه.دوو کالو پورې خو هغوی ته خبر هم نهٔ وو چې زمونږ زمکه خرڅه شوې ده،شپږ کاله پس په دغه کسانو کښې دوو کسانو په عمرو مشتری باندې دعوی وکړه،حال دا چې زید یعنی بائع وفات شوې وو.او څلور کسانو په کښې باوجود د علم نه دعوی ونهٔ کړه.

آیا په پورته ذکر کړې شوی صورت کښې د زید دا بیعه شرعا صحیح ده که نه؟ که چرې دا بیعه صحیح نهٔ وی نو چې اتو(۸) کالو پورې مشتری ددې نه کوم پیداوار حاصل کړې دې هغه به د چا نه اخستلې شی؟د زید بائع نه یا د عمرو مشتری نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا بیعه د نورو شریکانو په اذن باندې موقوفه ده،که چیرې بعضې شریکان اجازه ورکړی او بعضې ور نهٔ کړی نو بیا صرف د اجازت ورکوونکو شریکانو د حصې بیعه نافذیږی. لیکن په دې صورت کښې به مشتری ته د قبول او د رد اختیار وی

قال فی التنویر: ووقف بیع مال الغیر (ردالمحتار ص۱۵۲ ج۴)

وفی الشرح: وفی المجمع لو اجاز احد المالکین خیر المشتری فی حصته والزمه محمد رحمه الله بها (ردالمحتار ص۱۵۸ ج۴)

د اتو(۸) کالو د پیداوار مالك عمرو مشتری دې. لیکن د غیر په ملك کښې د تصرف کولو د وجې نه په پیداوار کښې خبث دې. لهذا قضاءً خو به دعمرو نه څه نهٔ شی اخستلی.البته دیانةً به

عمرو باندې واجب دی چې د تخم او د نورو مصارفو نه زیات پیداوار دې نورو شریکانو ته رد کړی که داسې ونهٔ کړی نو ګناه ګار به وی.واللہ سبحانہ وتعالیٰ اعلم. ۲۹ رمضان ۱۳۸۸ هجری

د ضرورت په وخت کښې ارزان خرخول

سوال: یو سړې د ضرورت له کبله خپل څه څیز خرخول غواړی.او اخستونکې د هغهٔ د مجبورئ نه غلطه فائده اخلی او ډیر کم قیمت ورته لګوی.لکه یو ساعت دې چې اصل قیمت ئې دوه سوه روپئ دې او په موجوده حالت کښې په سل روپئ خرخول کیږی ، لیکن اخستونکې ئې د پنځه ویشتو نه په زیاتو باندې اخستلو ته تیار نهٔ دې،آیا د مشتری دا عمل روا دې؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب داعمل روا دې، لیکن که اخستونکې صاحب د استطاعت وی وس ئې کیږی، او خرخونکې واقعی مجبوره وی نو اخستونکی له خاطر کول پکار دی.او چې څومره وس ئې رسیږی نو بائع ته صحیح قیمت ورکول پکار دی، غرض دا چې بیعه خو په هر صورت صحیح ده، لیکن د چا د څه مجبورئ نه غلطه فائده اخستل د اخلاقو او د مروت نه خلافه خبره ده .واللہ سبحانہ وتعالیٰ اعلم. ۲۵ ذی الحجه ۱۳۸۸ هجری

د شودو په اخستو کښې د کهویې (پیروی) د متعین مقدار شرط

سوال:- زید شودهٔ اخلی او کهویه ترې نه جوړوی،د شودو نرخ په ښار کښې په دې وخت کښې په ۳۵روپئ من دې، زید ئې هم په دې قیمت اخلی لیکن د دغه خلقو سره دا شرط لګوی چې که په یو سیر شودو کښې پاو کهویا اووتله نو بیا به درله د پنځه دیرشو روپو د یو من په حساب سره پیسې درکوم او که د سیر شودو نه یو پاو ونهٔ وتلو او کم ترې نه اووتلو نو بیا درله هم په هغه تناسب سره پیسې کمې درکوم، برابره خبره ده که ستا شودهٔ خالص وی او که غیر خالص. آیا دا شرط صحیح دې؟ حال دا چې ددې خبرې هم امکان شته دې چې کیدې شی چې د سیر سوچه او خالصو شودو نه هم یو پاو کهویا راونهٔ وځی. شرعاً ددې بیعې څه حکم دې؟بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : په شودو کښې د کهویې خاص مقدار یو وصف مرغوب فیه دې. لهذا ددې د اشتراط عند العقد نه به ددې استحقاق ثابتیږی.او په وخت د فقدان کښې به د بیعې د فسخې او د رد د مبیعې اختیار وی. لیکن د کهویې د جوړیدلو نه پس د مبیعې د واپس کولو د متعذر کیدو له کبله به په کښې رجوع بالنقصان کیږی.لهذا د زید د شودو کم قیمت ورکول روا دی.واللہ سبحانہ وتعالیٰ اعلم. ۲۸ جمادی الاولی ۱۳۸۹ هجری

په بیع مؤجل کښې د اجل تعیین ضروری دې

سوال - چې می فرمایند دربارهٔ مسئله ذیل که فی بلادنا اکثر بیع و شراء بدون تعیین مدت منعقد می شود، درمتون همچنین بیوع رافاسد قرار دا ده شده اند. اما در مجلة الاحکام فی بیان المسائل المتعلقة بالبیع بالنسئية والتاجيل ص ۳۷ مرقوم ست: اذاباع نسیئة بدون بیان مدة تنصرف المدة الی شهر واحد فقط

آیا ماده مذکوره قول مفتی به است وعمل بر همین ست یا نه؟ و در صورت عرف اگر رائج باشد بدون از تعیین مدت آیا عرف رابصحة عقد اعتباری ست ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : که چیرې بیع مطلق وی،د اجل په کښې څه ذکر نۀ وی نو ثمن به برې سمدستی واجبیږی، البته که بائع فورا مطالبه ونۀ کړی نو بیا په کښې تاخیر روا وی ، په دې کښې بیا د مودې د تعیین ضرورت نشته .

قال العلامة الحصکفی رحمه الله :(وصح بثمن حال) وهو الاصل

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله : (قوله وهو الاصل) لان الحلول مقتضی العقد وموجبه والاجل لایلزم الابالشرط بحر عن السراج. (ردالمحتار ص۲۵ ج۴)

او که چرې بیع مؤجل وی نو بیا په کښې تعیین د اجل ضروری دې، البته که د عاقدینو تر مینځه د درې ورځو یا د یوې میاشتې موده معهوده او معروفه وی نو د عدم نزاع د وجې نه روا دی او شرعاً به هم دا موده معتبره وی، که داسې نۀ وی نو دا بیع به فاسده وی.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله : (ومؤجل الی معلوم) لئلا یفضی الی النزاع ولو باع مؤجلا صرف لشهر به یفتی.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله :(قوله به یفتی) وعند البعض لثلاثة ایام بحر عن شرح المجمع للمصنف ویشکل علی القولین ان شرط صحة التاجیل ان یعرفه العاقدان ولذا لم یصح البیع بثمن مؤجل الی النیروز والمهرجان وصوم النصاری اذا لم یدر العاقدان کما سیاتی فی البیع الفاسد وکذا لو عرفه احدهما دون الآخر فتامل

قال العلامة الرافعی رحمه الله : (قوله قلت ویشکل علی القولین الخ) فیه تامل فانه اذا کان المعهود ان الاجل الشهر او ثلثة ایام شرعا وعرفا یکون ذلك معلوما عند العاقدین حتی لو لم یکن له عهد عرفا کما فی زماننا فالظاهر عدم الصحة (التحریر المختار ص۱۱۳ ج۲) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۳۰ محرم ۱۳۹۳ هجری

د پورتنى په شان يو بل سوال

سوال:- چا يو څيز په بيعه واخستلو او وې وئيل چې پيسې به بيا وروستو دركوم.او وخت ئې و نۀ ټاكلو نو آيا دا روا دى او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: كه د اخستلو نه پس ئې دا الفاظ اووئيل او بائع ورله نبه په خوشحالئ اجازت وركړو نو روا دى،او كه د قرضو په شرط ئې اخستې وى نو بيا د ادا كولو د وخت د تعيين كولو نه بغير روا نۀ دى.

قال فى التنوير و شرحه: وصح بثمن حال وهو الاصل او مؤجل الى معلوم لئلا يفضى الى النزاع (ردالمحتار ص۲۵ ج۴) والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۲ ربيع الاول ۱۳۹۵ هجرى

د زمكې د اوبو خرڅول روا نه دى

سوال:- د زمكې نه بغير صرف د هغې د اوبو بيعه روا ده كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا بيعه روا نۀ ده۔

قال الحصكفى رحمه الله: و كذا بيع الشرب وظاهر الرواية فساده الا تبعا خانية و شرح وهبانية (ردالمحتار ص۱۱۸ ج۴) والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۳ ربيع الاول ۱۳۹۴ هجرى

د ريډيو او د ټيپ اخستل اوخرڅول

سوال:- د ريډيو او د ټيپ ريكارډ اخستل او خرڅو روا دى او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: كه چيرې دا يقين وى چې د دې ټيپ ريكارډر يا د ريډيو په ذريعه به دا سرې په لوبو .او تنګ ټكور كښې نه اخته كيږى.نو بيا د دې اخستل او هم په داسې سړې باندې خرڅول روا دى او كه داسې نۀ وى نو ناروا دى.والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲ شعبان ۱۳۹۵ هجرى

د دې مفصل حكم په رسالې(القول المبرهن فى بيع الراديو والتيليويژن) كښې شته دې

بغير د رضا د متابيعينو د بيعې فسخې ته اعتبار نشته دې

سوال:- د الف او د با ترمينځه د زمكې يوه سودا وشوه.د ثمن د ادا كولو موده اول شپږ مياشتې او بيا درې مياشتې وټاكلې شوه، په دې دوران كښې مشترى با. بائع الف ته نبې ډيرې پيسې وركړې. ليكن باقى پاتې پيسې ئې د نيتې په تيريدلو هم ادا نۀ كړې شوې. الف ترې نه بيا بيا دا تقاضا كوله . ليكن با ورته اخوا ديخوا كول.تر دې چې شپږ كاله په كښې تير شو.آخر د چې الف د جرګې په وړاندې دا اعلان وكړو چې زۀ دا بيعه فسخه كومه.د دې نه وروستو با د باقى پاتې پيسو په وركولو باندې راضى شو. ليكن الف ونۀ منل او په دې دوران كښې ئې زمكه به نو

بل سړي باندې خرخه کړه. آیا د الف دا فعل صحیح دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب - که مشتری هم د جرګې فیصله قبوله کړې وه. او بیا جرګې د بیعې د فسخ کولو فیصله وکړه نو دا بیعه فسخه شوه. ددې نه پس د بائع دهر قسمه تصرف صحیح دی. او که چیرې مشترې جرګې لره حکم نهٔ وو جوړ کړی. یا جرګې د بیعې د فسخه کولو فیصله نهٔ وه کړې. بلکه بائع په خپله د جرګې په وړاندې د بیعې د فسخې فیصله واوروله. نو دا بیعه نهٔ ده فسخه شوې. لهذا په دې صورت کښې بیا دا دویمه بیعه هم صحیح نهٔ شوه. او دغه د دویمې بیعې ثمن د بائع د پاره حلال نهٔ دی. **والله سبحانه وتعالى اعلم** **۹ شوال ۱۳۹۵ هجری**

چې مشتری ثمن ادا نهٔ کړی نو بائع ته د فسخې حق شته دې

سوال: - د بیعې د عقد نه پس بائع د ثمن د ادا کولو پورې مبیعه د خان سره محبوسه کړه. که مشتری ثمن ادا نهٔ کړی او یا غیب شی نو بائع څه وکړی؟ آیا بیعه فسخ کړی او که نه نور انتظار هم وکړی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب - چې مشتری ثمن ادا نهٔ کړی او نهٔ اقاله وکړی نو بائع ته د بیعې د فسخ کولو اختیار دې. د مشتری له اړخه د ثمن نهٔ ادا کولو به عدم رضا او فسخه ګڼلې شی. لهذا د بائع فسخې سره به فسخه د جانبینو نه متحققه شی.

د دې نه علاوه په بیعه کښې د طرفینو رضامندی شرط ده. او د مشتری له اړخه د ثمن د استیفاء د متعذر کیدو په حالت کښې د بائع رضا مفقوده ده. د دې وجې نه د مشتری له اړخه که فسخه نهٔ وی نو هم بائع ته د فسخې اختیار شته دې.

قال العلامة النسفی رحمه الله: ومن قال لاٰخر اشتریت منی هذه الامة فانکر للبائع ان یطأها ان ترك الخصومة

وقال العلامة ابن نجیم رحمه الله: لان المشتری لما جحد کان فسخا من جهته اذ الفسخ یثبت به کما اذا تجاحدا فاذا عزم البائع علی ترك الخصومة تم الفسخ بمجرد العزم وان کان لا یثبت الفسخ فقد اقترن بالفعل وهو امساك الجاریة ونقلها وما یضاهیه ولانه لما تعذر استیفاء الثمن من المشتری فات رضا البائع فیستبد بفسخه (البحر الرائق ص۳ ج۶)

وکذا قال الامام المرغینانی رحمه الله:

وقال العلامة ابن الهمام رحمه الله: فیستبد بفسخه لفوات شرط البیع وهو التراضی (فتح القدیر ص۵۰۰ ج۵)

والله سبحانه وتعالى اعلم. **۷ صفر ۱۴۰۰ هجری**

بيع الوفاء

سوال:- څه خيز د چا نه په دې شرط باندې اخستل چې که بائع پيسې واپس راکوي نو دا خيز به هغهٔ ته واپس ورکولې شي.آيا دا معامله روا ده؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : که د بيعې په دوران کښې يا ددې نه وړاندې دا شرط لګولې شوې وي.يا جانبين دا عقد غير لازم ګڼي نو دا بيع فاسده ده. او که د بيعې نه پس ئې د واپس کولو وعده وکړه نو دا بيعه صحيح ده.او ددې وعدې ايفاء لازمه ده.

قال في العلائية: وقيل بيع يفيد الانتفاع به وفي اقالة شرح المجمع عن النهاية وعليه الفتوى وقيل ان بلفظ البيع لم يكن رهنا ثم ان ذكرا الفسخ فيه او قبله اوزعماه غير لازم كان بيعا فاسداً ولو بعده على وجه الميعاد جاز ولزم الوفاء به (ردالمحتار ص۲۷۳ ج۴) والله سبحانه وتعالى اعلم ۲ شعبان ۱۳۹۷ هجرى

لفظ(ورکړې)وعده د بيعې ده

سوال:- زيد د منو د پخيدو نه دوه درې مياشتې وړاندې عمر له څه پيسې ورکړې چې عمر به دهٔ له خپلې منې مثلا د دوه سوه روپئ من په حساب سره ورکوي، ليکن د عقد په وخت کښې نهٔ د ثمن د تاجيل شرط وو او نهٔ د مبيعې د تاجيل شرط په کښې وو.د عقد په وخت کښې ئې دا اووئيل چې عمر به زيد له منې په دوه سوه روپئ من ورکړي په هغه وخت کښې چې کله منې پخې شي، خکه چې د عقد کولو په وخت کښې منې لا کچه وې،د منې د پخيدلو نه پس عمر د وعدې مطابق دوه سوه روپئ من زيد له ورکړې او مشتري ورته هم باقي پاتې پيسې ورکړې.
آيا دا ذکر کړې شوې صورت د خانيې په دې جزئيې باندې قياس کولو روا کيدې شي؟

رجل قال لغيره بعت منك عنب هذا الكرم كل وقر بكذا قالوا ان كان وقر العنب معلوما عندهم والعنب جلس واحد ينبغي ان يجوز البيع في وقر واحد عند ابي حنيفة رحمه الله: وعند صاحبيه رحمهما الله تعالى يجوز البيع في الكل وجعلوا هذه المسالة فرعا لرجل باع صبرة حنطة فقال بعت منك هذه الصبرة كل قفيز بدرهم عند ابي حنيفة رحمه الله يجوز البيع في قفيز واحد وعندهما يجوز في الكل وان كان عنب الكرم اجناسا قالوا ينبغي ان لا يجوز البيع في شيء في قول ابي حنيفة رحمه الله وان كان الوقر معروفا وعندهما يجوز في الكل كما لو قال بعت الخ (خانية فصل بيع الزروع والثمار ص۱۵۰ ج۲) بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : لفظ د(ورکړې) بيعه نهٔ ده بلکه وعده د بيعې ده.لهذا که مالك ورله د منو د پخيدلو نه پس ورکړلې نو دا بيع بالتعاطي شوله.والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲ جمادى الثانية ۱۳۹۸ هجرى

د چاندئ (سپينو زرو) د قيمت په زياتيدلو باندې د روپو په ماليت کښې څه فرق نۀ راځي

سوال: يو سړی دړې کاله وړاندې په زيد باندې يو کتاب په سل روپئ خرڅ کړو. په هغه وخت کښې د چاندئ قيمت پنځه روپئ توله وو. زيد په کتاب باندې قبضه وکړه. ليکن پيسې ئې لا تر اوسه پورې نۀ دې ادا کړې. کتاب اوس هم زيد سره دې. بائع وائی چې زۀ به اوس د کتاب قيمت د سلو په ځائې دړې سوه روپئ اخلم. ځکه چې اوس چاندی په پنځلس روپئ توله ده. او په تا مې چې کوم کتاب په سل روپئ خرڅ کړې وو نو په هغه وخت کښې سل روپئ د شلو تولو چاندئ قيمت وو. او په دې وخت کښې د شلو تولو چاندئ قيمت دړې سوه روپئ دې.

د خپلې خبرې د مرستې دپاره د شامي دا عبارت وړاندې کوی:

اما اذا غلت قيمتها او انتقصت فالبيع علی حاله ولا يتخير المشتری ويطالب بالنقد بذلك العيار الذی كان وقت البيع كذا فی فتح القدير (ص ۳۲ ج ۴)

نن صبا روپئ هم د خالصې چاندې نۀ دی غالب الغش دی. د کومو حکم چې په ذکر کړې شوی عبارت کښې ښودلې شوې دې. د بائع د رائې تصحيح يا تغليط سره د دلائلو راته اوفرمايئ. بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د بائع خيال باطل دې. ځکه چې مروجه پيسه من كل الوجوه په حکم د فلوسو کښې نۀ ده. اوکه نه نو بيا خو به ددې په مبادله بالجنس کښې تفاضل روا وې. او د کرورونو په تعداد کښې د لوټونو په ملك کښې د کيدلو باوجود به په دې باندې زکوة نۀ فرض کيدلو. وهو باطل والقول المستلزم للباطل باطل.

د قديمي زمانې په فلوسو او ددې وخت په رواج شوې سکې کښې دا فرق دې. چې هغه فلوس بۀ په خپله معيار او مقصود نه وو. بلکه د درهم بدل به شمارلې کيدلو. او د دې وخت رواج شوې سکه اگر چې په عالمی منډئ کښې په خپله معيار نۀ دې بلکه د سرو زرو او د ډالرو بدل دې. ليکن په ملك کښې دننه د روپئ لوټ په خپله معيار او مقصود دې. او مروجه پيسې ددې بدل دی. لهذا د يوې روپئ لوټ په حکم د درهم کښې شولو. او ددې بدل سل پيسې په حکم د فلوسو کښې شوې. اصل خيز په کښې نقده روپئ ده. او د پيسو ذکر د دې اصل نقد د يو مقدار يو تعبير وی. اول اول روپئ د ۶۴ پيسو وه وروستو ئې بيا د سلو پيسو کړله. د دې تبديلئ نه وړاندې شپاړس پيسې ثمن متعين کړې شو. نو دا پاو د روپئ يو تعبير دې. مشتری ته اختيار دې چې هغه شپاړس پيسې ادا کوی يا اتۀ ټکې او يا يو څلور انيز. ليکن هر کله چې پيسې ارزانې شوې يعنې د يوې

روپئ په مقابله کښې سل پیسې کړې شوې، نو اوس مشتري ته د شپاړسو پیسو د ورکولو اختیار نشته دې. بلکه پنځه ویشت پیسې یا د روپئ پاو به ادا کوی.څکه چې په عقد کښې اصل مقصد پاو روپئ وه.د پیسو ذکر ددې یو تعبیر وو.لهذا د پیسو د ارزانیدلو نه وروستو د تعبیر چې کوم اصل مقصود وو یعنی د روپئ پاو هغه به واجب وی.

همدې حقیقت ته د نظر کولو د وجې نه د امام ابو یوسف ؒ مسلك دا دې چې د فلوسو په قیمت کښې د کمې بیشۍ په صورت کښې د درهم په لحاظ به د ثمن اصل معیار واجب الاداء وی. او حضرت امام اعظم ؒ په دې صورت کښې هم د متعینو فلوسو ادا کولو لازم ګرځوی.

د دې اختلاف نه ثابتیږی چې د فلوسو اخستل ورکول به په دواړو طریقو سره مروج وی،د درهم د بدل په حیثیت سره هم او د مکیلاتو او د موزوناتو په شان مقصوداً به هم مروج وی.فالحمل الاول بالثانی والثانی بالاول

په اکثرو کتابونو کښې همدغه شان اختلاف نقل کړې شوې دې او د امام ابو یوسف ؒ قول ئې مفتی به ګرځولې دې،خو ولې په جوهره کښې ئې د نهایې نه په رد د مثل باندې اتفاق نقل کړې دې.ویمکن التوفیق بالحمل علی المثل فی الجنس دون العدد

مروجه کرنسی په اتفاق سره د څه بل څیز نه عبارت نۀ ده.بلکه په خپله مقصوده ده.اګرچه لوټې لوټونه د یوې روپئ د لوټونو د رسید په طور باندې چاپ کولې شی، لیکن د یوې روپئ لوټ کومې ته چې کرنسی وئیلې شوې دی په خپله مقصود دې،او په دې لحاظ سره په حکم د درهم او د دینار کښې دی.

د همدې وجې نه په عامو اخستلو او خرڅولو کښې او د تاجرانو په عرف کښې د سرو سپینو په نرخ کښې د کمې زیاتی د وجې نه په طور د ثمن یا د قرض چې کومه واجب الذمه مروجه کرنسی ده په هغې څه اثر نۀ غورځیږی. بلکه د مروجې کرنسئ کوم اصل مقدار چې واجب وو هم هغه ادا کولې شی.

که د بائع باطله خیال تسلیم کړې شی.نو د ربا مروج صورتونه به ټول حلال شی،او صرف حلال به نۀ شی بلکه په مشتری او مستقرض باندې به د ربا ادا شرعاً واجبه وګرځی. څکه چې د سرو سپینو زرو قیمتونه خو همیشه زیاتیږی. نو که آکلین د ربا به دا صورت اختیار کړی چې په ربا کښې د کرنسئ د تعیین په ځائې په وخت د ادا کښې د سرو یا د سپینو زرو د نرخ مطابق به یې وصولوی نو د هغوی په کښې څه نقصان دې

«رحمن هم راضی او شیطان هم خوشحاله»

البته په عالمی منډئ کښې د کرنسئ اصل معیار ډالر ګرځولې شوې دې.لهذا د ډالر په مقابله کښې د روپئ په قیمت کښې د کمې زیاتی په صورت کښې به د بیرونی تجارت ثمن یا قرض د ډالر

د قیمت مطابق ادا کولې شي. اگر چې د عقد په وخت کښې د روپئ مقدار ذکر کړې شوې وي.

حاصل د کلام

۱. په ملك كښې دننه د روپئ لين دين د مستقلې سكې حيثيت لري، د يوې بلې سكې تابع نهٔ دی. د دې وجې نه د دې په ماليت كښې د كمی بيشی په صورت كښې به دومره روپئ واجبيږي څومره چې په اصل كښې وې.

۲. كه چيرې بالفرض په ملك كښې دننه هم روپئ مستقله سكه ونهٔ شميرلې شي، او په حكم د فلوسو كښې تسليم كړې شي، نو بيا هم د امام اعظم رحمه الله د قول مطابق د ماليت د اختلاف به څه اثر نهٔ وي.

۳. د نهايې د تصريح خلاف كه د امام ثانی رحمه الله اختلاف تسليم هم كړې شي. نو دغه به په دې صورت كښې وي. چې متعاقدينو د فلوس د اصل مقصود كيدلو څه تصريح نهٔ وي كړې. كه چيرې د دې تصريح سره عقد شوې وي. چې د درهم سره د څه نسبت نه قطع نظر په خپله د فلوسو دا عدد مقصود دې. نو ظاهره ده چې قول ثانی به امام اول رحمهما الله تعالىٰ موافق وي.

عرف عام كښې په ملك كښې دننه د روپئ په لين دين كښې د يو بلې سكې نه قطع نظر په خپله د روپئ عدد مقصود وي. لهذا د المعروف كالمشروط د لاندې د امام ثانی رحمه الله د قول مطابق به هم د روپئ په ماليت كښې كمې بيشې ددې په اصل عدد باندې نهٔ مؤثر كيږي.

دا بحث مې هسې استطراداً اوليكلو اوكه نه نو حقيقت هم هغه دې چې په ملك كښې دننه روپئ د يوې بلې سكې تابع نهٔ ده. په خپله مستقله سكه ده، ددې وجې نه دا اختلاف د ماليت په صورت كښې په حكم د فلوس كښې نهٔ دې بلكه په حكم د درهم كښې دې.

په ملك كښې دننه په روپئ كښې د لين دين كولو په حقله عرف عام او د ټولو اجماع او اتفاق دې. چې دا د يوې بلې سكې تابع نهٔ ده د كومې د وجې نه چې په اصل واجب روپئ په عدد كښې كمې بيشې راشي. په دې حقيقت باندې ددې حده پورې اتفاق كړې شوې دې چې ددې خلاف چې څوك قائله وي هغهٔ ته به خلق ليونې وائي. لهذا د ګيلتو د سكې د جوړيدلو نه پس په دې كښې د كلونو د اوږد تعامل نه پس زمونږ وړاندې صرف داسې دوه سوالونه راغلې دی په كومې كښې چې د اصل واجب نه د زيات عدد مطالبه كړې شوې ده. او دا واقعات هم داسې چې په دې كښې د مدعی هوس ښكاره دې. او دا يقينی خبره ده چې دا مدعی به پخپله هم د دې يوې جزئی واقعې نه علاوه باقی په ټولو معاملو كښې د روپئ هم هغه عدد واجب ګڼړی كوم چې ئې په شروع كښې ګڼړلو او ددهٔ خپل عمل به هم په ټول لين دين كښې هم ددې مطابق وي. والله سبحانه وتعالىٰ اعلم.

۲۰ ذی الحجه ۱۳۹۸ھ

د پورتنی سوال په شان یوبل سوال

یوه استفتاء او د هغې جواب ستاسو په خدمت کښې وړاندې کوو.

اصل مسئله خو دبيعې اودقرض په حقله ده.د شفعې صورت په دې باندې قياس كړې شوې دې . څكه چې شفعه هم يو قسمه بيعه ده.هم په هغه ثمن باندې ده په كوم ثمن چې مشترى ته پيرونې وه. صرف تحويل د صفقې شوې دې. دا تحقيق مطلوب دې چې په بيعه.قرض او شفعه كښې به د زرو ثمنو او د قرضو ماليت واجب وى او كه نه رد مثل به په كښې واجب وى.حال دا چې معامله وړاندې شوې وى او د روپئ په قيمت كښې كمې بيا وروستو د قبض نه وړاندې واقع شوې وى.

بنده عبدالستار عفا الله عنه خير المدارس ملتان ۲۵ رجب ۱۳۹۹ هجرى

سوال:- ستمبر ۱۹۷۴ ء كښې مشترى ۲۳ كناله او ۱۳ مرلې زمكه په عوض ۱۵۰.۰۰۰ يونيم لاكهه روپو دخپلو خپلوانو او د خاندان د خلقو د كورونو د جوړولو دپاره واخستله. په ستمبر ۱۹۷۵ ء كښې مشترى دعوى وكړه. لا تر اوسه پورې فيصله نۀ ده شوې. ليكن اوس د دې ذكر كړې شوى جائداد قيمت ۱۳۰۰۰۰۰ ديارلس لاكهو ته رسيدلې دې. آيا دا زمكه به شفيع ته هم په يو نيم لاكهه باندې وركولې كيږى؟ او مشترى ته به يونيم لاكهه روپئ وركولې كيږى ؟

دا خبره دې واضحه وى چې كه مشترى په دغه ځائې كښې اوس زمكه اخستل غواړى نو په دغه پيسو به هغۀ ته اووه ۷ كناله زمكه ملاويږى.

الجواب:- (از خير المدارس ملتان) ، د زمكې د قيمت د زياتيدلو په وجه به په شفيع باندې زيادت نۀ لازميږى،څكه چې د شفعې حقيقت دا دې چه : **قال في التنوير: هى تمليك البقعة جبراً على المشترى بما قام عليه**

البته د روپئ په قيمت كښې چې په سركارى توګه كوم كمې زياتې كړې شوې وو هغۀ به د مشترې په حق باندې اثر نۀ غورځوى،يعنى د بيعې په وخت كښې چې كوم ماليت وو.هم د هغې مطابق به اوس دۀ د شفيع نه د پيسو اخستلو حق وى، د روپئ د قيمت غورځيدل به د مشترى حق نه كموى. هر كله چې د شفعې حصول د بيعې او د قرض سره مشابه كړې شى .

وفي الشامية: وفي البزازية عن المنتقى غلت الفلوس اورخصت فعند الامام والثانى اولا ليس عليه غيرها و قال الثانى ثانياً عليه قيمتها من الدراهم يوم البيع و القبض و عليه الفتوى و هكذا في الذخيرة والخلاصة و نقله في البحر واقره فحيث صرح بأن الفتوى عليه في كثير من المعتبرات فيجب ان يعول عليه افتاءً وقضاءً ولم ار من جعل الفتوى على قول الامام اه(شامية ص۲۵ ج۴)

او په قرضو كښې هم دا حكم دې .

قال الشامي رحمه الله: وحاصل ما مر انه على قول ابي يوسف المفتى به لا فرق بين الكساد والانقطاع والرخص والغلاء في ان تجب قيمتها يوم وقع البيع او القرض لا مثلها.

لیکن په جوهره کښې د رخص او د غلاء په صورت کښې د نهایې نه اتفاق نقل کړې شوې دې چې رد مثل به وی د مالیت وجوب به په کښې نۀ وی.

الجواب باسم ملهم الصواب: ستاسو جواب صحیح دې، روپئ اګرچې په عالمی منډئ کښې د روپئ تابع ده. لیکن د ملك په اندرونی معاملو کښې یوه مستقله سکه ده. د یوې بلې سکې تابع نۀ ده. د دې وجې نه د مالیت د اختلاف د نۀ مؤثر کیدلو په لحاظ به روپئ په حکم د فلوس کښې نۀ وی بلکه په حکم د درهم کښې به وی.

۲۰ ذوالحجه ۱۳۹۸ هجرئ کښې بنده ددې په حقله د یوې استفتاء جواب په تفصیل سره لیکلې وو، د هغې نقل تاسو ته درلیږو. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۲ شعبان ۱۳۹۹ هجری

د پلار د صغیر زمکې لره خرخول

سوال:- پلار د خپل ماشوم خوئی زمکه خرخولې شی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که د پلار په خوئی باندې شفقت معروف وی یا مستور الحال وی نو خرخولې ئې شی.

قال الامام الحصكفي رحمه الله: ولو البائع ابا فان محمودا عند الناس او مستور الحال يجوز ابن كمال.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله يجوز) فليس للصغير نقضه بعد بلوغه اذ للاب شفقة كاملة و لم يعارض هذا المعنى معنى اخر فكان هذا البيع نظرا للصغير وان كان الاب فاسدا لم يجز بيعه العقار فله نقضه بعد بلوغه هو المختار الا اذا باعه بضعف القيمة اذ عارض ذلك المعنى معنى اخر.

تنبيه:- ظاهر كلامهم هنا انه لا يفتقر بيع الاب عقار ولده الى المسوغات المذكورة في الوصي و نقل الحموي في حواشي الاشباه من الوصايا ان الاب كالوصي لا يجوز له بيع العقار الا في المسائل المذكورة كما افتى به الحانوتي اهـ ثم رايت في مجموعة شيخ مشايخنا منلا علي التركماني قد نقل عبارة الحموي المذكورة ثم قال ما نصه وهو مخالف لاطلاق ما في الفصول وغيره و لم يستند الحانوتي في ذلك الى نقل صريح و لكن اذا صارت المسوغات في بيع الاب ايضا كما في الوصي صار حسنا مفيدا ايضا لان الاحد بالاتفاق اوفق هكذا افادنيه شيخنا الشيخ محمد مراد السقاميني رحمه الله (رد المحتار ص ۵۰۲ ج ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۴ ذوالحجه ۱۳۹۹ هجری

د مکې مکرمې د زمکې او د کورونو بیعه او اجارة

سوال: د امام ابو حنیفه رحمه الله په نیز د مکې مکرمې یعنی د حرم د زمکې او د کورونو اخستل خرخول او په کرایه باندې ورکول روا نهٔ دی. په تفسیر مظهری وغیره کښې دی:

ومن ههنا قال ابو حنيفة و احمد في اصح الروايتين عنه لا يجوز بيع رباع مكة ولا اجارة دورها فان ارض الحرم عتيق غير مملوك لاحد(تفسير مظهري ج٦ سورة حج في تفسير قوله تعالى: والمسجد الحرام الذي جعلناه سواء العاكف فيه والباد)

د رباع معنی کورونه دی او که زمکه ؟ د امام صاحب رحمه الله په نیز صرف د زمکې اخستل خرخول او اجاره ناروا ده او که نه د کورونو اخستل خرخول او د اجاره هم مراد ده؟

په طحاوی کښې دی: عن عبدالله بن عمر رضي الله تعالى عنهما ان النبي ﷺ قال لا يحل بيع بيوت مكة ولا اجارتها.

عن علقمة بن نضلة قال توفي رسول الله ﷺ وابوبكر وعمر وعثمان رضي الله عنهم ورباع مكة تدعى السوائب من احتاج سكن ومن استغنى اسكن.

وفي رواية له كانت الدور على عهد رسول الله ﷺ وابي بكر وعمر وعثمان رضي الله عنهم ما تباع ولا تكرى (الحديث)

امام طحاوی رحمه الله بیا وروستو لیکلې دی چې په دې احادیثو باندې عمل کوونکی امام ابو حنیفة، محمد، او ثوری رحمهم الله دی.

د دې نه دا معلومیږی چې د زمکې د اخستلو او خرخولو او د اجارې نه علاوه د کورونو اخستل خرخول او اجاره هم د هغوی په نیز ناروا دی، په احادیثو کښې راځی:

قد اشترى عمر بن الخطاب رضي الله عنه من صفوان بن امية رضي الله عنه دارا باربعة الاف درهم.

و كذا روى البيهقي عن ابن الزبير رضي الله تعالى عنهما ان اشترى حجرة سودة رضي الله تعالى عنها (رواه البيهقي ص٣٣ ج٦)

وعن حكيم بن حزام رضي الله عنه انه باع دار الندوة

وعن عمر رضي الله عنه ان اشترى الدور من اهلها حتى وسع المسجد و كذلك عن عثمان رضي الله عنه

که چیرې د امام صاحب رحمه الله په نیز صرف د زمکې اخستل او خرخول او اجاره ناروا ده او د کورونو هغه روا ده. نو ددې احادیثو دا جواب کیدې شی. چې دا بیعه او شراء د کورونو وه د زمکې نهٔ وه. لیکن که د بناء یعنی د کورونو بیعه او شراء هم ناروا وی نو بیا ددې احادیثو څه جواب کیدې شی ؟

که چیري بیعه اوشراء د بناء یعنی د کورونو ددوی په نیز روا وی، نو بیا د هغې احادیثو څه جواب کیدی شی په کومو کتبې د رباع او د کورونو کرایه او بیعه او شراء ناروا ښودلې شوې ده؟ او هغه احادیث د امام صاحب رحمه الله مستدلات ښودلې شوې دي.پورته احادیث او عبارتونه لیکلې شوې دي چې د مکې مکرمې د رباع بیعه او شراء او اجاره د هغوی په نیز ناروا دی.او په دې مستدلات کتبې دیر احادیث د طحاوی نه نقل کړې شوې دی.

د امام صاحب په مستدلاتو کتبې یو دا هم دې چه: عن مجاهد انه قال مکة مباح لا یحل بیع رباعها و لا اجارة بیوتها.

مهربانی وکړئ زمونږ ددې پورتنۍ شبهې ازاله وکړئ.الله تعالی دې تاسو ته جزاء خیر درکړی.

الجواب باسم ملهم الصواب:

امام طحاوی رحمه الله د مکې مکرمې د زمکې او د کورونو بیعې او اجارې جواز له ترجیح ورکړې ده، د کراهیت د دلائلو ئې دوه جوابونه ورکړې دی:

۱- روایت د جواز سنداً قوی دې.

۲- وجه النظر جواز لره مقتضی دې.

و نصه:- ولما اختلفا احتیج الی النظر فی ذلك لنستخرج من القولین قولاً صحیحاً و لو صار الی طریق اعتبار الاسانید و صرف القول الی ذلك لکان حدیث علی بن حسین اصحهما اسناداً ولکنا محتاج الی کشف ذلك من طریق النظر فاعتبرنا ذلك فرأینا المسجد الحرام الذی کل الناس فیه سواء لا یجوز لاحد ان یبنی فیه بناء و لا یحتجر منه موضعا و کذلك حکم جمیع المواضع التی لا یقطع لاحد فیها ملك و جمیع الناس فیها سواء الا تری ان عرفة لو اراد رجل ان یبنی فی المکان الذی یقف فیه الناس فیها بناء لم یکن ذلك له و کذلك منی لو اراد ان یبنی فیها دارا کان من ذلك ممنوعا و کذلك جاء الاثر عن رسول الله ﷺ (طحاوی ص ۱۸۲ ج ۲)

د امام حصکفی او د علامه ابن عابدین رحمهما الله تعالی تحقیق هم دا دې.البته هغوی صرف د موسم په ورځو کتبې د حاجیانو د پاره د کورونو اجاره مکروه ګرځولې ده او د کورونو د اجارې کراهت ئې هم په دې باندې محمول کړې دې.

قال العلائی رحمه الله: وجاز بیع بناء بیوت مکة وارضها بلا کراهة وبه قال الشافعی رحمه الله وبه یفتی عینی وقد مر فی الشفعة وفی البرهان فی باب العشر ولا یکره بیع ارضها کبنائها وبه یعمل وفی مختارات النوازل لصاحب الهدایة لا بأس ببیع بنائها و اجارتها لکن فی الزیلعی وغیره یکره اجارتها و فی اخر الفصل الخامس من التتارخانیة واجارة الوهبانیة قال لا قال ابو حنیفة رحمه الله اکره اجارة بیوت مکة فی ایام الموسم و کان یفتی لهم

ان ينزلوا عليهم في دورهم لقوله تعالى سواء العاكف فيه والبادو رخص فيها في غير ايام الموسم اه فليحفظ قلت وبهذا يظهر الفرق والتوفيق وهكذا كان ينادي عمر بن الخطاب ﷺ ايام الموسم ويقول يا اهل مكة لاتتخذوا البيوتكم ابوابا لينزل البادي حيث شاء ثم يتلو الاية فليحفظ.

وقال ابن عابدين رحمه الله: (قوله وارضها) جزم به في الكنز وهو قولهما واحدى الروايتين عن الامام لانها مملوكة لاهلها لظهور اثار الملك فيها وهو الاختصاص بها شرعا وتمامه في المنح وغيرها (قوله وقد مر في الشفعة) ومر ايضا ان الفتوى على وجوب الشفعة في دور مكة وهو دليل على ملكية ارضها كما مر بيانه (قوله قال ابو حنيفة) الوفي غاية البيان ما يدل على انه قولهما ايضا حين نقل عن تقريب الامام الكرخي ما نصه: وروى هشام عن ابي يوسف عن ابي حنيفة رحمه الله انه كره اجارة بيوت مكة في الموسم ورخص في غيرها وكذا قال ابو يوسف رحمه الله وقال هشام اخبرني محمد عن ابي حنيفة رحمهما الله تعالى انه كان يكره كراء بيوت مكة في الموسم ويقول لهم ان ينزلوا عليهم في دورهم اذا كان فيها فضل وان لم يكن فلا وهو قول محمد رحمه الله اه فافاد ان الكراهة في الاجارة توفاقية وكذا قال في الدر المنتقى صرحوا بكراهتها من غير ذكر خلاف اه (قوله وبه يظهر الفرق) اي بحمل الكراهة على ايام الموسم يظهر الفرق بين جواز البيع دون الاجارة وهو جواب عما في الشرنبلالية حيث نقل كراهة اجارة ارضها عن الزيلعي والكافي والهداية ثم قال فليحظر الفرق بين جواز البيع وبين عدم جواز الاجارة اهـ وحاصله ان كراهة الاجارة لحاجة اهل الموسم (قوله والتوفيق) بين ما في النوازل وما في الزيلعي وغيره بحمل الكراهة على ايام الموسم وعدمها على غيرها (ردالمحتار ص ۲۷۸ ج ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۰ رجب ۱۴۰۰ هجری

په لوټونو سره د سرو زرو او د سپينو زرو بيعه

سوال: نن صبا مروجه لوټونه اوسکې کومې چې د حکومت له اړخه رائج شوي دي. په کومې سره چې خلق بيعه او شراء او لين دين کوي. آيا دا د سرو او سپينو د دواړو يا صرف د سرو زرو يا صرف د سپينو زرو په حکم کښې دي. آيا په دې بآندې د سرو يا د سپينو بيعه **بالفضل والنسيئة** يا صرف **بالفضل** يا صرف **بالنسيئة** روا ده او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: رائج لوټونه د سرو او د سپينو زرو په حکم کښې نهٔ دي. او نهٔ د سرو يا د سپينو رسيد دي، لهذا په دې باندې بيعه د سرو او د سپينو بهر حال روا ده. تفاضل او نسيئة په کښې هم روا ده. البته حرمت د ربوا به په صورت د تبادل بالجنس سره واقع کيږي. او به

فرضیت د زکوۀ کیښي به دا سکه په حکم د فضې کښې وی، کما قالوا فی الفلوس الرائجة والله سبحانه وتعالی اعلم۔

۲۷ محرم ۱۴۰۱ هجری

د قرعه اندازهئ په صورت کښې په قیمت کښې رعایت

سوال:- نن صبا د موټر سائیکلو یوې کمپنئ د خپلې مشهورتیا دپاره یوه طریقه اختیار کړې ده، چې په قسطونو باندې موټر سائیکلې خرڅوی، یوویشت قسطونه مقرر کړې شوې دی، او هر یو قسط پنځه سوه او پنځوس روپئ د میاشتې ادا کول وی، که د قسطونو پوره کولو نه وړاندې د یو اخستونکی نوم په قرعه اندازئ کښې راووتلو (هر میاشت په کښې قرعه اندازی کیږی) نو موټر سائیکل هغه ته ورکړې شی، او باقی پاتې نور ټول قسطونه ورته معاف کړې شی، که چیرې شلو میاشتو پورې په قرعه اندازئ کښې د اخستونکی نوم راونهٔ وتلونو د یوویشت میاشتو نه پس موټر سائیکل هغهٔ ته ورکړې شی، او دا د یوویشت قسطونو رقم د موټر سائیکل هغه قیمت دې کوم چې په مارکیټ کښې چلیږی، زیات قیمت نهٔ دې، د اخستلو او خرڅولو دا طریقه روا ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا په قیمت کښې د کمپنئ له اړخه رعایت دې، او کوم یو اخستونکی چه ته دا رعایت ورکړې شی د دې انتخاب هغوی د قرعه اندازئ په ذریعه کوی، په دې کښې د چا هیڅ نقصان نشته دې، لهذا دا اخستل او خرڅول روا دی۔ والله سبحانه وتعالی اعلم۔

۲۶ ذی قعده ۱۴۰۲ هجری

باب البيع الفاسدوالباطل

که په بيع فاسده کښې مبيعه هلاکه شوه

سوال:- په بيع فاسده کښې که چيرې مبيعه هلاکه شی نو ددې څه حکم دې؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : بائع به د مشتری نه په ذوات القيم کښې د يوم القبض قيمت او په ذوات الامثال کښې به د هغې مثل واخلی او مشتری ته به ثمن واپس کړی

قال في جامع الفصولين: ثم المبيع فاسدا المضمون قيمته يوم قبضه لو قيميا ومثله لو مثليا لضمانه بقبضه

(جامع الفصولين ص۳۰ ج۲) والله سبحانه وتعالى اعلم **۲۵ ذی الحجه ۱۳۸۵ هجری**

په قسطونو باندې اخستل او خرڅول

سوال:- مشين.ريډيو.يا پکې وغيره د دکاندار نه په قسطونو باندې اخستل شرعاً روا دی او که نه؟حال دا چې اخستونکی ته په دې کښې اسانی وی. ليکن په قسطونو باندې په قرض اخستلو کښې د نقدو اخستلو په نسبت څه زياتې پيسې ادا کول غواړی.په دې کښې دا هم شرط دې چې د ټولو قسطونو په نۀ ادا کولو باندې به سابقه ټول قسطونه ضبط کړې شی او مبيعه به ترې واپس واخستې شی.بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د قرضو د وجې نه زيات قيمت اخستل روا دی . ليکن د ټولو قسطونو د نۀ ادا کولو په صورت کښې د مبيعې د واپسئ او د ادا کړې شوو قسطونو د ضبط کولو چې کوم شرط دې نو دا شرطِ فاسد دې. ددې وجې نه دا معامله روا نۀ ده۔ **والله سبحانه وتعالى اعلم** **۸ ربيع الاول ۱۳۸۷ هجری**

بيع بالشرط

سوال:- زيد په بکر باندې يوه مينبه خرڅه کړه،په دې شرط باندې چې د دې شودۀ به هم زۀ په بيعه اخلم.اوس ددې شودۀ د زيد دپاره اخستل روا دی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : که د مينبې بيعه په دې شرط باندې موقوفه وه چې که مشتری دا شرط نۀ قبلولو نو بائع په بيعه باندې نۀ راضی کيدلو نو دا بيعه بيا فاسده ده.د کومې نه چې توبه او استغفار او ددې بيعې فسخ واجبه ده.البته که صرف د مشورې او د وعدې په توګه ئې دا شرط ولګولو بيعه ئې په دې باندې موقوفه ونۀ ګرځوله نو بيا دا بيعه صحيح شوه.د دې شودو لين دين روا دې. بکر ددې پابند نۀ دې چې صرف په زيد باندې دې شودۀ خرڅ کړی. ليکن اخلاقاً دۀ له د

وعده پوره کول پکار دی.

قال فی التنویر: ولا بیع بشرط.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تحت هذا القول: ثم ذکر فی البحر انه لو اخرجه مخرج الوعد لم یفسد و صورته کما فی الولوالجیة قال اشتر حتی ابنی الحوائط اھ (رد المحتار ص ۱۲۵ ج ۴) والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۵ رجب ۱۳۸۷ هجری

د بونس واوچر (دمنافعو سند) بیعه روا نهٔ ده

سوال:- مال برآمد کوونکي حکومت ته د برآمد ثبوت وړاندې کوی. په کوم باندې چې حکومت هغهٔ ته د بونس (منافع) په نوم باندې څه انعام ورکوی لیکن د انعام دا پیسې ورله نقدې نهٔ ورکوی. بلکه ددې رسید ورکولې شی. کومې ته چې بونس واوچر وئیلې شی. برآمد کوونکې دا په بازار کښې په زیات قیمت باندې خرڅوی. مثلاً لکه د سلو روپو د بونس واوچر (یعنې رسید) تقریبا په یو دوه باندې خرڅوی. حکومت د بعضې څیزونو د درآمد اجازت په بونس واوچر باندې موقوف کړې دی. د دې وجې نه په بازار کښې د بونس واوچر قیمت زیات دې. آیا شرعاً داسې د بونس واوچر اخستل خرڅول روا دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: برآمد کوونکې قبل القبض ددې پیسو مالك نهٔ دې. د دې وجې نه ددې خرید او فروخت کول روا نهٔ دی. بله دا چې د بونس واوچر د اصل رقم نه زیات اخستل د سود کیدلو د وجې نه حرام دی. والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۴ شوال ۱۳۸۸ هجری

د سوتو او د پاخانې (یعنی د ډکو متیازو) بیعه

سوال:- آیا د سوتو او د پاخانې د بیعې یو حکم دې؟ یعنی د دواړو بیعه روا ده او که ناروا؟ په نجس کیدلو کښې خو دواړه برابر دی. په دې لحاظ سره ددې حکم هم یو کیدل پکار دی. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د سوتو بیعه روا ده او د پاخانې بیعه ناروا ده. البته که چیرې دا پاخانه د خاورو سره ګډه وده شوې وی اوخاوره په دې باندې غالبه شوې وی نو بیا نې بیعه روا ده.

په دواړو کښې فرق دې. هغهٔ دا چې پاخانه په اتفاق سره نجاست غلیظه دې او په سوته کښې اختلاف دې. د امام صاحب رحمه الله په نیز دا نجاست غلیظه دې او د صاحبینو رحمهما الله تعالی په نیز دا نجاست خفیفه دې. اګرچې ترجیح د نجست غلیظه قول ته ده.

دویم فرق دا دې. چې په پاخانه کښې بدبوئی ډیره زیاته وی او په سوتو کښې دومره زیاته نهٔ دی

د دې نه علاوه دا خبره هم ده چې د سوتو د استعمال ضرورت شته دې.

قال في التنوير وشرحه: وبطل بيع قن ضم الى حر وذكية ضمت الى ميتة ماتت حتف انفها (الى قوله) ورجيع آدمي لم يغلب عليه التراب فلو مغلوبا به جاز كسرقين وبعر (ردالمحتار ص۱۱۶ ج۴) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۳۰ ربیع الثانی ۱۳۸۹ هجری

فنشن (تقاعدي) خرڅول جائز نۀ دي

سوال:- زۀ د پاکستان نیوي (بحري عسکر) ریټائرډ چیف پي آئي اي افسر یم. حکومت ما له یو سل دوه څلویښت روپۍ د میاشتې فنشن راکوي. حکومت دا سهولت ورکړې دې چې که څوک ریټائرډ سړې خپل فنشن په حکومت باندې خرڅول غواړي نو حکومت به هغۀ ته نیم فنشن په یو خل ورکړي، عرض د خبرې دا دې چې آیا شرعاً دا بیعه روا ده او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: فنشن یو قسم انعام دې،څو پورې چې د نوکر په دې باندې قبضه نۀ وي راغلې نو هغۀ د دې نۀ مالك کیږي،د دې وجې نه ددې بیعه روا نۀ ده،البته په خپله د حکومت سره د دې بیعه کول په حقیقت کښې بیعه نۀ ده،صرف د نوم او صورت بیعه ده،د دې حقیقت دا دې چې حکومت چې کوم غټ انعام په قسطونو باندې د ورکولو وعده کړې وه،اوس د هغې نه کم مقدار کښې انعام په یو خل ورکوي،د دې وجې نه د حکومت سره دا معامله کول روا دي. والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲ جمادى الآخرة ۱۳۹۳ هجری

د دمِ مسفوح بیعه او شراء حرامه ده

سوال:- د حلالو ښاورو هغه وینه کومه چې په وخت د ذبحه کولو کښې وځي،د هغې اخستل او خرڅول روا دي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا روا نۀ دي.

قال في التنوير و شرحه : هو مبادلة شئ مرغوب فيه بمثله خرج غير المرغوب كتراب و ميتة و دم (ردالمحتار ص۲ ج۴) . والله سبحانه وتعالى اعلم . ۲۹ رجب ۱۳۹۵ هجری

د شرابو د پیسو حکم

سوال - زید ډیر قرضدارې وو، لیکن هغۀ سره د شرابو نه علاوه بل څه نۀ وو،لهذا هغه شراب خرڅ کړل او د خلقو قرض ئې ادا کړو،اوس دا تپوس کول دي چې کومو خلقو ددې پیسو نه خپل قرض اخستلې دې نو دا د هغوی په حق کښې روا دی او که ناروا؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب بیعه د خمرو باطله ده،ددې ثمن واجب الرد دې. په بائع ا

قرضخواه باندې حرام دي. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم

په عقد سلم کښې قبل القبض په راس المال یا په مبیعه کښې تصرف کول

سوال - زید د بکر نه پنځوس منه مالوچ د شل روپو یو من په حساب سره واخستل. او دا ئې ورته اووئیل چې په فصل باندې کله مالوچ شروع شي نو اخلی به ئې، بکر هم اقرار وکړو. اوس په فصل راتلو کښې دوه میاشتې پاتې دی، شل روپئ د یو من په حساب سره زید بکر له د پنځوسو منو پیسې ورکړې، تپوس دا کول دی چې که اوس زید هم دا مالوچ په عمرو باندې دیرش روپئ د یو من په حساب سره خرڅ کړی نو دا روا دی او که نه؟ بله دا چې د زید او د بکر تر مینځه چې کومه بیعه سلم وشوه نو هغه روا دې او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په بیع سلم کښې دا شرط دې چې د وخت د عقد نه واخله د وخت د محل پورې دا مسلم فیه په بازار کښې موجود وی، که چیرې مالوچ دوو میاشتو پورې په بازار کښې موجود وی نو دا بیعه روا ده، او که نهٔ وی موجود نو بیا روا نهٔ ده

قال العلامة المرغینانی رحمہ اللہ: ولا یجوز السلم حتی یکون المسلم فیه موجودا من حین العقد الی حین المحل حتی لو کان منقطعا عند العقد موجودا عند المحل او علی العکس او منقطعا فیما بین ذلک لا یجوز. (هدایة ص۷۳ ج۳)

په عقد سلم کښې قبل القبض په راس المال یا په مسلم فیه کښې هیڅ تصرف روا نهٔ دې. لهذا د زید خرڅول روا نهٔ دی.

قال فی التنویر وشرحه: ولا یجوز التصرف للمسلم الیه فی راس المال ولا لرب السلم فی المسلم فیه قبل قبضه. (ردالمحتار ص۲۳۳ ج۴) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم ۱۲ ربیع الثانی ۱۳۸۸ هجری

د مهیانو نیولو والا د وړاندې نه (پیشگی) پیسې اخستل

سوال: یو مهیانو نیولو والا د خالد نه په دې شرط باندې د وړاندې نه سل روپئ واخستلې چې په راروان ژمی کښې (کوم چې د مهیانو د ښکار موسم وی) به د رواج مطابق د سلو روپو مهیان تاته د شپیتو روپو فی صد په حساب سره درکوم، کوم چې نورو خلقو ته د اتیاو روپو فی صد په حساب سره ورکوم.

یا په دې شرط باندې ئې تری نه سل روپئ واخستلې چې په راروان ژمی کښې به درله د یو سل خلویښتو روپو مهیان درکوم، کوم چې به د عام نرخ په حساب سره د سلو روپو راخی آیا دا روا دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دا بیعه د سلم ده کومه چې د شرطونو د نشتوالی د وجې نه ناروا

دہ. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۱۸ رمضان ۱۳۸۸ هجری

په زیات قیمت باندې د مبیعې د واپس کولو شرط

سوال:- بکر ته د څه پیسو ضرورت راپیښ شو،هغه عمرو ته او ونیل چې ما نه یو توله سره زر په دوه سوه روپۍ واخله. درې میاشتې پس به زۀ تا نه هم دا سرۀ زر په دوه سوه څلویښت روپۍ توله واخلم . عمرو ته په کښې خپله فائده ښکاره شوه لهذا دا سودا ئې منظوره کړه.او درې میاشتې پس ئې همدا یوه توله سرۀ زر په بکر باندې په دوه سوه څلویښت روپۍ خرڅ کړل.آیا په دې صورت کښې به دا د څلویښت روپو زیاتوالې روا وی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا ښکار سود دې، په بیع بالوفاء کښې د دې وجې نه داخله نۀ ده. چې په هغې کښې په ثمن کښې زیاتوالې نۀ کیږی، بله دا چې د مبیع د رد کولو شرط هم په مجلس د بیع کښې نۀ وی بلکه بیا وروستو په کښې وی، لهذا په دې بیع فاسد کښې بې د څه کمی زیاتی نه د ثمن او د مبیع رد واجب دې۔ والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۱۸ رمضان ۱۳۸۸ هجری

په بیع سلم کښې ټول ثمن په مجلس د عقد کښې ورکول شرط دی

سوال:- بکر په زید باندې تیل خرڅول غواړی،د کومې صورت دادې چې د نرخ او د تاریخ د مقررولو نه وروستو به بکر بیا څه بیعانه اخلی،وروستو به بیا د یوې میاشتې په وقفې سره هغه زیدله تیل ورکوی.اودغه تیل لا دد‌ۀ په قبضه کښې نۀ دی.آیا دا بیعه روا ده اوکه نه؟بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا بیعه روا نۀ ده،ځکه چې دا بیع سلم ده،او په بیع سلم کښې ټول قیمت په مجلس د عقد کښې ادا کول شرط دی او دغه شرط دلته مفقود دې۔ والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۸ صفر ۱۳۹۳ هجری

د بهر ملک نه د بانک په ذریعه یو څیز اخستل

سوال:- نن صبا د بهر ملک نه د مال راغوښتلو په صورت کښې اخستونکې د مال قیمت د بانک په ذریعه ادا کوی. مثلاً د کراچۍ یو سوداګر د جاپان د یو سوداګر نه مال راغواړی. نو د جاپان سوداګر به د کراچۍ سوداګر ته وائی چې ته په خپل یو مقامی بانک کښې زما په نوم باندې یو کریډټ لیټر (کاونټ) خلاص کړه. د کراچۍ دا بانک به خپل د جاپان شاخ ته د دې لیټر آف کریډټ په ذریعه هدایت کوی چې هغۀ دې د جاپان د تاجر نه مال په جهاز باندې د راروانولو په حقله ضروری کاغذونه وصول کړه او هغۀ ته د مال قیمت ورکړه.

د دې نه علاوه کوم مال چې د بهر ملکونو نه راځی د هغې د راتلو نه وړاندې د انوائس یعنی

بيچك په كوم باندې چې د مال تفصيل او قيمت وغيره ليكلې شوې وی، يو نقل خريدار ته وليګلې شی. كله كله د مال د راتلو نه وړاندې صرف د بيچك په ذريعه اصل اخستونكې دويم اخستونكی او دويم اخستونكې په دريم اخستونكی باندې په ګټه دغه مال خرڅ كړی. حال دا چې مال مخامخ نه وی پروت يعنی موجود نه وی.

آيا دا شان د بانك په ذريعه باندې قيمت ادا كول، او چې د بهر ملك مال لا وړاندې راغلې نه وی نو ددې ثانې اخستونكی له د هغې اخستل او بيا صرف د بيچك په ښودلو باندې دغه مال په بل سړی باندې خرڅول روا دی او كه نه؟

بله دا چې وارۀ دوكانداران كوم چې د دې غټو دوكاندارانو نه په قرض يا په نقدو مال اخلی او په خپلو دوكانونو باندې ئې خرڅوی، نو ددوی په كاروباركښې څوڅه خرابې نۀ راځی. بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : بانك د اخستونكی وكيل دې. لهذا چې مال د دې بانك د جاپانی ښاخ په قبضه كښې راشی نو بيا دا بيعه روا ده. **فإن قبض الوكيل قبض المؤكل. والله سبحانه وتعالى اعلم.**

۲۵ ذی الحجه ۱۳۸۸ هجری

د مال د رارسيدلو نه وړاندې د هغې بيع

سوال:- يو تاجر د بهر ملك نه مال راغواړی، او د مال رارسيدلو نه وړاندې وړاندې ئې په ګټه باندې خرڅ كړی. آيا دا ګټه د هغۀ دپاره حلاله ده او كه نه؟ د مال د وړاندې نه د خرڅولو سبب دا دې چې دې ويريږی چې د مال د رارسيدلو نه پس چرته راته نقصان ونۀ شی. بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په مال باندې د قبضې كولو نه وړاندې د دې بيعه كول روا نۀ ده. لهذا دا منافع هم حلاله نۀ دی. ددې د تصحيح دوه صورتونه دی:

۱- كوم ځائې كښې ئې چې مال اخستې دې هلته څوك يا يو مال برداره كمپنی وكيل بالقبض كړی. د دوی د قبضې نه پس بيا روا ده.

۲- دمال دا رارسيدلو نه وړاندې دې بيعه نۀ كوی بلكه د بيعې وعده دې وكړی. بيعه دې د مال د رارسيدلو نه پس وكړی. په دې صورت كښې كه د جانبينو نه څوك انكار وكړی نو صرف د وعده خلافۍ ګناه ګار به وی. په بيع باندې هغه نۀ شی مجبورولې

كه د مال رسولو كرايه خريدار ادا كوی نو د هغه په اذن سره د بائع د كومې يوې مال برداره كمپنۍ په قبضه كښې مال وركول به د مشتری قبض شمارلې كيږی. اګرچې مشتری ورته د يوې خاص كمپنۍ تعيين نۀ وی كړې. د كمپنۍ په قبضه كښې د مال د راتلو نه پس دا بيعه روا ده

قال في الهندية: اذا قال المشتري للبائع ابعث الى ابني واستاجر البائع رجلا يحمله الى ابنه فهذا ليس

بقبض والاجر علی البائع الا ان یقول استاجر من یحمله فقبض الاجیر یکون قبض المشتری ان صدقه انه استاجره ودفع الیه وان انکره استیجاره والدفع الیه فالقول قوله کذا فی التجار خانیة (عالمگیریة ص ۱۱ ج ۳)

والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۹ جمادی الاولی ۱۳۹۴ هجری

د تجارتي اجازت نامې بيع

سوال:- د حکومت له ارخه بعضې خلق د بهر ملکونو نه د مال د راوړلو اجازت نامه حاصلوی. یو فارم ورته ترلاسه شی د کومې په ذریعه چې کله د لکونو روپو د مال راوړلو اجازت وی او کله د زرګونو روپو د مال راوړلو اجازت وی، اوس څوك چې د مال راوړلو طاقت نهٔ لری یا هغه په خپله مال راوړل نهٔ غواړی، نو هغه د اجازت نامې هغه فارم خرڅ کړی، صرف په نفسِ فارم باندې په زرګونو روپئ وګټی آیا دا روا دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د بیعې د پاره د مبیعې مال کیدل شرط دی، او اجازت نامه څه مال نهٔ دې ددې وجې نه ددې بیعه کول روا نهٔ دی. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۲۵ ذی الحجه ۱۳۹۲ هجری

په ثمن کښې جهالت مفسد د بیع دې

سوال:- که چیرې ناشر، کتب فروش ته اووائی چې که یوه سیکړه اخلې نو درې دیرش یا کم از کم که یو درجن کتابونه اخلې نو پینځه ویشت فیصده کمیشن به درته درکولې شی، بیا ورته کتب فروش اووائی چې تاسو مونږ له لږ لږ کتابونه راکوئ، او قیمت ئې رانه په یو ځل یا په قسطونو کښې واخلئ، هر کله چې یو سیکړه تعداد مکمل واخستلې شی نو د هغې کمیشن بیا مونږ له راکړئ او لین دین پوره کړئ، او د اخستلو موده هم مقرر کړې شی مثلاً درې میاشتو پورې یا یو کاله پورې سیکړه اخستل پوره کول وی، بیا که کتب فروش په مقرره موده کښې پوره سیکړه کتابونه وانخستل، نو د درجن په حساب به ترې نه کمیشن کټ کړې شی او حساب به وکړې شی، او که پوره سیکړه ئې واخستله نو پوره کمیشن به ورکړې شی. دا معامله به شرعاً روا وی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : دا بیعه د ثمن د جهالت د وجې نه ناروا ده۔

قال الامام ابن الهمام رحمه الله: واما البطلان فیما اذا قال بعتکه بالف حالاً وبالفین الی سنة فلجهالة الثمن. (فتح القدیر ص ۸۳ ج ۵). والله سبحانه وتعالیٰ اعلم ۲۴ ربیع الاول ۱۳۹۳ هجری

د حکومت ضبط کړې شوې مال په بیعه اخستل روا نهٔ دي

سوال:- د سمګلنګ (په غلا د يو ځائې نه بل ځائې ته سامان وړل) سامان حکومت ضبط کړي او بيا ئې نيلام کوي، په دې کښې خوراك څښاك او د اغوستلو وغيره سامان وي، همدغه شان د نهرونو او تالابونو مهيان او د هوا مارغان کوم چې د حکومت د منع کولو باوجود ښکار کړې شي، دا ترې حکومت په زوره واخلي او نيلام کوي ئې، د دې ټولو څيزونو اخستل او استعمالول شرعا څنګه دي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دغيرد مِلك كيدلو د وجې نه داسې مال اخستل او ددې استعمالول روا نهٔ دي. **والله سبحانه وتعالىٰ اعلم** ۱۰ جمادی الآخرة ۱۳۹۵ هجری

په پليتې ښځې باندې څه خرڅول

سوال:- په پليتې ښځې (چې په زنا باندې پيسې پيدا كوي) باندې خپل څيزونه لکه جامه، شودهٔ او شريني وغيره خرڅول روا دي او كه نه؟ حال دا چې د هغې آمدن حرام وي، او كه په هغې باندې د څيزونو د نهٔ خرڅولو د وجې نه د فساد انديښنه وي نو بيا ئې شرعاً څه حکم دې؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا خرڅول روا نهٔ دي، كه د ناقابل تحمل فتنې خطره وي، نو د هغې نه دې قيمت واخستې شي او صدقه دې كړې شي. **والله سبحانه وتعالىٰ اعلم.**

۱۲ جمادی الاخرة ۱۳۹۵ هجری

په دکان وغيره باندې پټکې اخستل او ورکول روا نهٔ دي

سوال:- يو سړى سره څه زمکه ده، دويم سړې ورته وائي چې زهٔ به ستا په پلاټ باندې كور جوړ كړم. او د ټولو كمرو پټكې به په خپله اخلم، او بيا به دغه مكان تا ته دركړم، آيا شرعا دا روا دي چې كرايه دې د زمكې مالك اخلي او پټكې دې بل سړې واخلي؟ بينو اوجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: پټكې اخستل اوورکول روا نهٔ دي.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وفي الاشباه لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة كحق الشفعة (ردالمحتار ص۱۵ ج۴)

د دې تفصيل په رساله (ارشاد اولى الابصار الى شرائط حق القرار) كښې شته دې. **والله سبحانه وتعالىٰ اعلم.**

۲۱ ربيع الاول ۱۳۹۶ هجری

د حق سکنیٰ او د تصنیف وغيره بيعه جائزه نهٔ ده

سوال:- حضرات علماء كرام د دې مسائلو په حقله څه فرمائي:

۱ - په شامیه کښې ئې د نزول عن الوظائف اجازت ورکړې دې او دا ئې قیاس کړې دې په یوې بلې مسئلې باندې. او بیا ئې یو اصل بیان کړې دې چې کوم حقوق اصالةً ثابت وی. د دفعې د ضرر د پاره نهٔ وی. د هغې عوض اخستل روا دی. لکه قصاص، حق الرق، حق النکاح. او چې کوم حقوق د دفعې د ضرر د پاره وی د هغې عوض اخستل روا ندی. لکه حق د شفعې، حق د قسمت د زوجاتو وغیره

في الرد: وقد استخرج شيخ مشايخنا نور الله ابن علي المقدسي صحة الاعتياض عن ذلك في شرحه عن نظم الكنز من فرع في مبسوط السرخسي هو ان العبد الموصى برقبته لشخص وبخدمته لآخر لو قطع طرفه او شج موضحة فأدى الارش فان كانت الجناية تنقص الخدمة يشتري به عبد آخر يخدمه او يضم اليه ثمن العبد بعد بيعه فيشتري به عبد يقوم مقام الاول فان اختلفا في بيعه لم يبع وان اصطلحا على قسمة الارش بينهما نصفين فلهما ذلك ولا يكون ما يستوفيه الموصى له بالخدمة من الارش بدلا الخدمة لانه لا يملك الاعتياض عنها ولكنه اسقاط لحقه به كما لو صالح موصى له بالرقبة على مال دفعه للموصى له بالخدمة يسلم العبد له اه قال فربما يشهد هذا للنزول عن الوظائف بمال اه قال الحموي فليحفظ هذا فانه نفيس جداً اه وفيه حاصله ان ثبوت حق الشفعة للشفيع وحق القسم للزوجة فانه يمنع جواز اخذ العوض هنا ثم قال ولقائل ان يقول هذا حق جعله الشرع لدفع الضرر وذلك حق فيه صلة ولا جامع بينهما فافترقا (ص۱۹ ج۴)

دا اصول په شرح المجلة کښې هم ذکر کړې شوې دې، او وئیلې ئې دی چې بعضې خلقو الحاق کړې دې.

ومنهم من استدل في ذلك الى الحاقه بنظائره المنصوص على جواز اخذ البدل فيها كحق القصاص وحق النكاح وحق الرق فانه قد جاز اخذ البدل فيها مع انها حقوق فالحق بها النزول عن الوظائف ومثلها (ص۲۰ ج۲)

آیا نن صبا د نزول عن الوظائف د عوض اخستلو اجازت شته دې؟ د شامي په عبارت باندې عمل کیدلې شی او که نه؟ که چیرې عمل پرې نهٔ شی کیدلې نو ددې څه وجوهات دی؟ بیا شامی چې کوم اصول بیان کړې دی چې کوم حقوق اصالةً ثابت وی د هغې عوض اخستل روا دی او چې کوم حقوق د دفعې د ضرر د پاره وی. د هغې عوض اخستل روا نهٔ دی. نن که مونږ دا اصول راوخلو نو دا په پټکی او په حق د تصنیف باندې یعنی په موجوده مسائلو باندې جاری کولې شو که نه؟ که چیرې نهٔ شو جارې کولې نو ددې څه وجوهات دی؟

۲ - په شرح المجلة کښې یې چې کوم د الحاق ارخ ته اشاره کړې ده. نو آیا نن نور حقوق لکه حق د تصنیف، حق سکنی وغیره هم د حق القصاص، حق النکاح او حق الرق وغیره سره الحاق کیدې شی که نه؟ که چیرې الحاق ئې نهٔ شی کیدې نو د دې څه وجوهات دی؟

۳ - د حق المرور په بيعه کښې اختلاف دې، ليکن عامو مشايخو د دې د بيعې اجازت ورکړې دې. دې ته ئې حکم مال وئيلې دى.او يو اصولى خبره ئې هم ښودلې ده:

في الهداية ووجه الفرق بين احق المرور وحق التعلى على احدى الروايتين ان حق التعلى يتعلق بعين لا تبقى وهو البناء فاشبه المنافع اما حق المرور يتعلق بعين تبقى وهو الارض فاشبه الاعيان

دا اصول ترې نه راوه وتل چې کوم حقوق د عين سره متعلق وى کوم چې باقى پاتې وى نو ددغې حقوقو بيعه روا ده،حال دا چې بل څه شرعى قباحت په کښې نۀ وى.آيا دا اصول د نن صبا په مسائلو يعنى په حق د تصنيف،پټکى وغيره باندې جارى کولې شو او که نه؟ او که نۀ شى جارى کولې نو ددې څه وجه ده؟ تاسو نه طمع لرو چې دمفصيل جواب نه مو مستفيد کړئ.بينواتوجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د حقِ سکنى او د حق تصنيف مروجه بيعه روا نۀ ده.ځکه چې د مصنف ځۀ مخصوص حق د سره نشته .البته صرف مسوده د هغه ملك ده هغه يې خرڅولې شى.

په سکنى کښې دا تفصيل دې چې مالك کله مکان يا دکان په کرايه باندې ورکوى.نو د هغۀ حق د سکنى ختم شو،دغه شان چې يو کرايه دار ئې بل کرايه دار ته په کرايه باندې ورکړى نو د وړومبى کرايه دار حق د سکنى باطل شو.

ددې نه علاوه د اجارې د مودې د معيّن کيدلو په صورت کښې به ددې مودې په اختتام باندې او د عدم تعيين په صورت کښې د هرې مياشتې په انتهاء باندې به عقد د اجارې ختم شى.لهذا د کرايه دار حق د سکنى باقى پاتې نۀ شو.

(تفصيل په کتاب الاجارة کښې په رساله(ارشاد اولى الابصار)او په تتمه کښې په رساله (القول الصدوق) کښې شته دې

۲۶ شعبان ۱۴۰۰ هجرى

د مباح الاصل لرګى بيعه

سوال- يو سړى بل سړى ته اووئيل چې سل روپئ واخله او ما له پنځه ګيډئ لرګى راوړه.د هر يو ګيډى شل روپئ دى.لهذا دغه سړې غرونو ته ځى او لرګى راجمع کوى.او پنځه ګيډى هغۀ ته وسپارى.آيا دا بيعه صحيح ده؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دا بيعه فاسده ده.لكون المبيع غير مملوك للبائع ولجهالة قدر المبيع. والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۰ شعبان ۱۳۹۸ هجرى

د باطلو مذهبونو کتابونه خرڅول روا نۀ دى

سوال- زۀ ورې ورې کتابچې خرڅوم.څه خريدار راته دا تقاضا کوى چې د احمد رضا خان بريلوى مترجم قرآن مجيد راله راوړه.حال دا چې په هغې کښې د ديوبند د اکابرو علماؤ رحمهم الله په

شان کښې ګستاخانه کلمات بلکه غلط عقائد او نظريات په کښې هم موجود دی.او نور په کښې هم څه نقصونه شته دي،غالباً چې هغه به ستاسو محترم په مطالعه کښې هم راغلي وی.آيا داسې فرمائش به زما د پاره پوره کول روا وی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا روا نهٔ دی.

قال الله تعالى: وتعاونوا على البر والتقوى ولا تعاونوا على الاثم والعدوان والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۶ ربيع الاول ۱۳۹۹ هجری

بيع په شرط د اقالې فاسده ده

سوال:- ما د ګل زرين نه په لس زره رکشه واخستله او قيمت مې هغه ته ادا کړو،وروستو ما هم هغه رکشه په ګل زرين باندې په پنځلس زره باندې خرڅه کړه،اته سوه روپئ د مياشې قسط مې ورسره وټاکلو، ليکن د اخستلو په وخت کښې ما په رکشه باندې قبضه نهٔ وه کړې،حالانکه بائع د قبضې د راکولو نه منکر نهٔ وو،خو معامله په دې شرط باندې وشوه چې بائع راته اوونيل چې رکشه واخله او هم په ما باندې ئې په پنځلس زره روپئ باندې راخرڅه کړه،ددې بيعې شرعاً څه حکم دي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا بيعه فاسده ده،د دې په حکم کښې دا تفصيل دې.

۱ - خرڅونکې او اخستونکې دواړه دې توبه وکړی.

۲ - دا بيعه دې په ثمنِ اول باندې فسخه کړی،يعنی تا چې کومې پنځه زره روپئ زياتې وصول کړې دی هغه ورته واپس کړه. **والله سبحانه وتعالى اعلم.** **۱۳ شوال ۱۳۹۹ هجری**

چې په بيعه کښې ئې دا شرط ولګولو چې(که ثمن نهٔ راکوې نو بيعه به نهٔ کيږي)

سوال:- په وخت د بيعې کښې بائع دا شرط ولګولو چې که متعينې مودې پورې دې راته ثمن ادا نه کړو نو بيعه به فسخه وی،ددې څه حکم دې؟آيا په دې شرط سره به بيعه فاسديږی او که نه؟ که چيرې مشتری د متعينې مودې پورې ثمن ادا نه کړو نو آيا بائع ته د بيعې د فسخې حق شته دې؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: درې ورځې يا د دې نه د کمو شرط لګول روا دی،د درې ورځو نه زيات شرط لګولو کښې اختلاف دې.د امام رحمه الله په نيز دا مفسد د عقد دې.

د امام محمد رحمه الله په نيز د درې ورځو نه د زياتو شرط هم روا دې،خو په دې شرط چې موده ئې معيّنه وی.که چيرې د متعينې مودې پورې مشتری ثمن ادا نهٔ کړو نو بيا به بيعه فسخه شی.

د امام ابو يوسف رحمه الله په قول کښې اضطراب دې.

قال فی شرح العزیز فان اشتری شخص شیئا علی انه ای المشتری ان لم ینقد ثمنه الی ثلاثة ایام فلا بیع صح استحسانا (الی قوله) وان اشتری کذلک الی اربعة ایام لا یصح خلافا لمحمد رحمه الله تعالی فان نقد فی الثلاثة جاز اتفاقا.

وفی الشامیة: (قوله خلافا لمحمد) فانه یجوزه الی ما سماه (رد المحتار ص ۵۰ ج ۴)

وفی الهندیة: اذا باع علی انه ان لم ینقد الثمن الی ثلاثة ایام فلا بیع بینهما فالبیع جائز و کذا الشرط هکذا ذکر محمد رحمه الله تعالی فی الاصل و هذه المسألة علی وجوه اما ان لم یبین الوقت اصلاً بان قال علی انک ان لم تنقد الثمن فلا بیع بینا او بین وقتا مجهولاً بان قال علی انک ان لم تنقد الثمن ایاما وفی هذین الوجهین العقد فاسد وان بین وقتا معلوما ان کان ذلک الوقت مقدرا بثلاثة ایام او دون ذلک فالعقد جائز عند علمائنا الثلاثة رحمهم الله تعالی وان بین المدة اکثر من ثلاثة ایام قال ابو حنیفة رحمه الله تعالی البیع فاسد و قال محمد رحمه الله تعالی البیع جائز کذا فی المحیط (عالمگیریة ص ۴۰ ج ۳)

وقال ابن نجیم رحمه الله تعالی: (قوله ولو باع علی انه ان لم ینقد الثمن الی ثلاثة ایام فلا بیع صح والی اربعة لا) ای لا یصح یعنی عندهما و قال محمد رحمه الله تعالی یجوز الی ما سماه و الاصل فیه ان هذا فی معنی اشتراط الخیار اذ الحاجة مست الی الانفساخ عند عدم النقد تحرزاً عن المماطلة فی الفسخ فیکون ملحقا به (الی قوله) وما ذکره من ان ابایوسف رحمه الله تعالی مع الامام رحمه الله تعالی قوله الاول وقد رجع عنه والذی رجع الیه انه مع محمد رحمهما الله تعالی کذا فی غایة البیان وفی شرح المجمع الاصح انه مع ابی حنیفة رحمه الله تعالی و کثیر من المشائخ حکموا علی قوله بالاضطراب و ظاهر هذا الشرط ان المشتری ان لم ینقد الثمن فی المدة فان البیع ینفسخ لقوله فلا بیع بینهما ولذا قال فی المحیط وینفسخ البیع ان لم ینقد (البحر الرائق ص ۶ ج ۶)

نن صبا د دیانت د فقدان د وجې نه د امام محمد رحمه الله تعالی په قول باندې د عمل کولو گنجائش شته دې. بالخصوص چې بیا د امام ابو یوسف رحمه الله تعالی یو قول هم د دوی په مرسته کښې شته دې. لهذا که مشتری متعینې مودې پورې ثمن ادا نه کړو نو بیعه به فسخه شی. بلکه بې د شرط نه هم هر کله چې د مشتری نه ثمن اخستل متعذر شی نو بائع ته د بیعې د فسخې حق شته دې.

قال العلامة المرغینانی رحمه الله تعالی: لما تعذر استیفاء الثمن من المشتری فات رضاء البائع فیستبد بفسخه (هدایة ص ۲۰ ج ۳) والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۲ صفر ۱۴۰۰ هجری

د حکومت له اړخه د انتقال شوې زمکې حکم

سوال - نن صبا د زرعی اصلاحاتو د لاندې کومې زمکې چې د پاکستان حکومت زمیندارانو او

دهقانانو ته په قسطونو باندې ورکوی،د کومې مقرر کړې شوې قسطونه چې به په شل کاله کښې ختمیږی، د ټولو قسطونو د ادا کولو نه پس به زمیدار د زمکې مالك کیږی.د دې مالك کیدلو نه وراندې به دې صرف د آبادولو حق دار وی،دهٔ ته به د خرڅولو یا د هبې وغیره کولو حق نهٔ وی حاصل. لیکن اوس دا معامله روانه ده چې د ټولو قسطونو د ادا کولو نه وراندې صرف په زبانی یا د جعلی کاغذونو په ذریعه د داسې زمکې بیعه او شراء کیږی.آیا دا روا دی؟ او ددې بیعې د وجې نه به مشتری بعد القبض د زمکې مالك کیږی او که نه؟ او بائع د رقم د وصولولو نه پس څو کاله پس د زمکې په خپل نوم باندې د انتقال کیدلو نه پس د مشتری نه زمکه واپس اخستلې شی او که نه. او په داسې زمکه کښې به میراث جاری کیږی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : دا بیع د بالشرط کیدلو د وجې څخه نده فاسده ده او د مشتری د قبض د وجې نه د هغه ملکیت دې،او بیعه ثانی ئې صحیحه ده، د دویم مشتری د رضا نه بغیر ددې زمکې واپسی روا نهٔ ده. **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم** **۲۸ شعبان ۱۴۰۰ هجری**

د شیعه، قادیانی وغیره زندیقانو سره بیع او شراء او نور معاملات روا نهٔ دی

سوال:- د شیعه او د قادیانی سره تجارت کښې اشتراك او اخستل او خرڅول روا دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : شیعه او قادیانی زندیقان دی،د دې وجې نه د دوی سره په تجارت کښې اشتراك او بیع او شراء،اجاره او استجاره وغیره د هیڅ قسمه هیڅ یوه معامله هم روا نهٔ ده.

هر هغه سړې چې د کفری عقائدو بنهٔ په ښکاره اعلان کوی،او هم دې ته اسلام وائی نو داسې سړی ته په اصطلاح د شرع کښې(زندیق)وائی،لکه شیعه،آغاخانی،ذکری، پرویزی،او انجمنِ دینداران وغیره،ددې ټولو همدا حکم دې چې دوی سره د هیڅ قسمه لین دین او هیڅ قسمه څه تعلق ساتل روا نهٔ دی۔ **والله هو العاصم من الکفر الی الاسلام** **۷ ذی الحجه ۱۴۱۴ هجری**

د دې زنادقه احکام په جلد اول کښې په کتاب الایمان والعقائد او په شپږم جلد کښې په باب المرتد والبغاة کښې هم شته دې،او ډیر تفصیل ئې بیا په کتاب الحظر والاباحة کښې دې۔

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴾

القول المبرهن

فی

كراهية بيع الراديو والتلفيزيون

د ریډیو، ټیلی ویژن اخستل او خرڅول

او

د دې د حرمت په عدم جواز باندې مفصل او مدلل لیک

القول المبرهن

- د ریډیو او ټیلی ویژن بیع او حرمت کول
- بيع الجارية المغنية والكبش النطوح والديك المقاتل والحمامة الطيارة
- بيع الامرد من اللوطي
- بيع الحديد لاهل الحرب
- بيع السلاح لاهل الفتنة
- بيع العصير لمن يتخذه خمراً
- اجارة البيت للكنيسة
- تفسير مالا تقوم المعصية بعينه

د ريډيو ، ټيلي ويژن بيعه او مرمت

سوال:- د ريډيو، ټيلي ويژن تجارت او د دې د مرمت پيشه اختيارول روا دي او که نه؟ د ريډيو دمرمت په حقله يوه فتوی ستاسو په خدمت کښې درليګو، د دې په حقله خپله رائې وليکئ. بينوا توجروا.

علماء کرام ددې مسئلې په حقله څه فرمائی چې د ريډيو مرمت کول او د دې د سمولو پيشه په طور د ذريعهٔ معاش کول څنګه دي؟

الجواب ـــــ ۶۰۸

في الهداية ومن كسر لمسلم بربطا او طبلا اومزمارا الى قوله فهو ضامن وبيع هذه الاشياء جائز وهذا عند ابي حنيفة وقال ابو يوسف ومحمد لا يضمن ولا يجوز بيعها الى قوله ولابي حنيفة انها اموال لصلاحيتها لما يحل من وجوه الانتفاع وان صلحت لما لا يحل فصار كالامة المغنية وهذا لان الفساد بفعل فاعل مختار فلا يوجب سقوط التقوم وجواز البيع والتضمين مرتبان على المالية والتقوم ثم قال وتجب قيمتها غير صالحة للهو كما في الجارية المغنية والكبش النطوح والحمامة الطيارة والديك المقاتل الخ (آخر كتاب الغصب ص ۳۴۲ ج ۳) وفيها من اجر بيتا ليتخذ فيه بيت نار الى قوله اويباع فيه الخمر بالسواد فلا باس به وهذا عند ابي حنيفة وقالا لا ينبغي ان يكريه لشيء من ذلك لانه اعانة على المعصية وله ان الاجارة ترد على منفعة البيت ولهذا تجب الاجرة بمجرد التسليم ولا معصية فيه وانما المعصية بفعل المستاجر وهو مختار فيه فقطع نسبته عنه اه فصل في البيع.

د ذکر کړې شوو روايتونو په بناء د علت د اتحاد د وجې نه د ريډيو سمول هم مختلف فيه دي، د امام ابوحنيفة رحمه الله په نيز دا پيشه اختيارول روا دي او په قول د صاحبينو دا ناروا او منع دي، لهذا که ددې نه علاوه يو بل صورت د معاش ممکن وی نو هغه دې اختيار کړې شی، او که ممکن نهٔ وی نو د امام ابوحنيفة رحمه الله د قول په بناء دا پيشه اختيارول د معاش د ذريعه دپاره صحيح دي.

فقط حرره احقر عبدالعزيز عفی عنه دار الافتاء مظاهر علوم سهارنپور ۱۱ جمادی الاولی ۱۳۸۶ هجری

دا جواب صحيح دی. يحيی غفرله مدرسه مظاهر علوم سهارنپور ۱۲ جمادی الاولی ۱۳۸۶ هجری

مظفر حسين المظاهری ۱۴ جمادی الاولی ۱۳۸۶ هجری

الجواب باسم ملهم الصواب : د ريډيو او ټيلی ويژن په سمول کښې عام خلق مبتلاء دی، بله دا چې علماء دې ته روا هم وائی د دې وجې نه بنده د ډيرې مودې په دې تکل کښې وو چې د مذهب په کتابونو کښې د دې کوم ځائې پورې ګنجائش راوتې شی، لهذا په تير څو کلونو کښې ما د عامو مسلمانانو همدردی او په دې مسئله کښې ابتلاء شديد ځان ته وراندې کينبودل او څو څو ځله مې

ډېرې غور او فکر وکړو. او د مختلفو مقاماتو نه مې د فقهاء کرامو ﷺ د عبارتونو په غور سره مطالعه وکړه، د دې وجې نه د دې مسئلې لږ په تفصیل سره د لیکلو ضرورت دې. ظاهره خبره ده چې ددې نوې مصنوعاتو صراحةً ذکر خو د فقهاء کرامو ﷺ په عبارتونو کښې نشته دې لیکن ددې نظائر په باب البغاة، کتاب البیوع، کتاب الغصب، او په کتاب الحظر والاباحة کښې موندلې شي. دغې نه په قدر د ضرورت دلته عبارتونه رانقل کولې شي:

فی العلائیة ویکره تحریما بیع السلاح من اهل الفتنة ان علم لانه اعانة علی المعصیة وبیع ما یتخذ منه کالحدید ونحوه یکره لاهل الحرب البغی لعدم تفرغهم لعمله سلاحاً لقرب زوالهم بخلاف اهل الحرب زیلعی قلت وافاد کلامهم ان ما قامت المعصیة بعینه یکره بیعه تحریما والا فتنزیها نهر. وفی الشامیة (قوله لانه اعانة علی المعصیة) لانه یقاتل بعینه بخلاف ما لا یقاتل به الا بصنعة تحدث فیه ونظیره کراهة بیع المعازف لان المعصیة تقام بها عینها ولا یکره بیع الخشب المتخذة هی منه وعلی هذا بیع الخمر لا یصح ویصح بیع العنب والفرق فی ذلک کله ما ذکرنا فتح ومثله فی البحر عن البدائع وکذا فی الزیلعی لکنه قال بعده وکذا لا یکره بیع الجاریة المغنیة والکبش النطوح والدیک المقاتل والحمامة الطیارة لانه لیس عینها منکرا وانما المنکر فی استعمالها المحظور اه قلت لکن هذه الاشیاء تقام المعصیة بعینها لکن لیست هی المقصود الاصلی منها فان عین الجاریة للخدمة مثلا والغناء عارض فلم تکن عین المنکر بخلاف السلاح فان المقصود الاصلی منه هو المحاربة به فکان عینه منکرا اذا بیع لاهل الفتنة فصار المراد بما تقام المعصیة به ما کان عینه منکرا بلا عمل صنعة فیه فخرج نحو الجاریة المغنیة لانها لیست عین المنکر ونحو الحدید والعصیر لانه وان کان یعمل منه عین المنکر لکنه بصنعة تحدث فلم یکن عینه وبهذا ظهر ان بیع الامرد ممن یلوط به مثل الجاریة المغنیة فلیس مما تقوم المعصیة بعینه خلافا لما ذکره المصنف والشارح فی باب الحظر والاباحة و یاتی تمامه قریبا (قوله یکره لاهل الحرب) مقتضی ما نقلناه عن الفتح عدم الکراهة الا ان یقال المنفی کراهة التحریم والمثبت کراهة التحریم والمثبت کراهة التنزیه لان الحدید وان لم تقم المعصیة بعینه لکن اذا کان بیعه ممن یعمله سلاحا کان فیه نوع اعانة تامل (قوله نهر) عبارته وعرف بهذا انه لا یکره بیع ما لم تقم المعصیة به کبیع الجاریة المغنیة والکبش النطوح والحمامة الطیارة والعصیر والخشب الذی یتخذ منه المعازف وما فی بیوع الخانیة من انه یکره بیع الامرد من فاسق یعلم ان یعصی به مشکل والذی جزم به فی الحظر والاباحة انه لا یکره بیع جاریة ممن یاتیها فی دبرها او بیع الغلام من لوطی وهو الموافق لما مر وعندی ان ما فی الخانیة محمول

علی کراهۃ التنزیہ والمنفی ھو کراھۃ التحریم فعلی ھذا فیکرہ فی الکل تنزیھا و ھو الذی الیہ تطمئن النفس لانہ تسبب فی الاعانۃ ولم ار من تعرض لھذا واللہ تعالی الموفق اھ (ردالمحتار باب البغاۃ ص۳۲۳ ج۳)

وقال الرافعی رحمہ اللہ (قولہ لانہ تسبب فی الاعانۃ ولم ار من تعرض لھذا) قال الحموی وفیہ تامل وکانہ میل منہ الی ان ما فی الخانیۃ محمول علی کراھۃ التحریم لانہ التسبب بھذہ الافعال فظیع قریب من الحرام فلا یکون خلاف الاولی اھ (التحریر المختار ص۶۴ ج۲)

ثم ذکر ما حرر ابن عابدین رحمہ اللہ فی الحظر والاباحۃ من ردھذا التوفیق وسنذکرہ ان شاء اللہ تعالی۔

وفی بیوع العلائیۃ من عادتہ شراء المردان یجبر علی بیعہ دفعا للفساد نھر وغیرہ وفی الشامیۃ عبارۃ النھر عن المحیط الفاسق المسلم اذا اشتری عبدا امرد وکان من عادتہ اتباع المرد اجبر علی بیعہ دفعا للفساد اھ وعن ھذا افتی المولی ابو السعود بانہ لاتسمع دعواہ علی امردوبہ افتی الخیر الرملی والمصنف ایضا (ردالمحتار ص۲۴۰ ج۴)

وفی غصب التنویر وضمن بکسر معزف صالحا لغیر اللھو وبارقۃ السکر ومصنف وصح بیعھا کالامۃ المغنیۃ ونحوھا وقال الشارح تحت (قولہ وصح بیعھا) کلھا وقالا لا یضمن ولا یصح بیعھا وعلیہ الفتوی ملتقی ودرر وزیلعی وغیرھا واقرہ المصنف (ردالمحتار ص۱۴۹ ج۵)

وفی حظر العلائیۃ وجاز بیع عصیر عنب ممن یعلم انہ یتخذہ خمرا لانہ المعصیۃ لا تقوم بعینہ بل بعد تغیرہ وقیل یکرہ لاعانتہ علی المعصیۃ (الی قولہ) بخلاف بیع امرد ممن یلوط بہ وبیع سلاح من اھل الفتنۃ لانہ المعصیۃ تقوم بعینہ ثم الکراھۃ فی مسالۃ الامرد مصرح بھا فی بیوع الخانیۃ واعتمدہ المصنف علی خلاف ما فی الزیلعی والعینی وان اقرہ المصنف فی باب البغاۃ قلت وقدمنا ثمہ معزیا للنھر ان ما قامت المعصیۃ بعینہ یکرہ بیعہ تحریما والا فتنزیھا فلیحفظ توفیقا۔ وفی الشامیۃ (قولہ لا تقوم بعینہ) یؤخذ منہ ان المراد بما لا تقوم المعصیۃ بعینہ ما یحدث لہ بعد البیع وصف اخر یکون فیہ قیام المعصیۃ وان ما تقوم المعصیۃ بعینہ ما توجد فیہ علی وصفہ الموجود حالۃ البیع کالامرد والسلاح ویاتی تمام الکلام علیہ (قولہ علی خلاف ما فی الزیلعی والعینی) ومثلہ فی النھایۃ والکفایۃ عن اجارات الامام السرخسی وقال تحت (قولہ معزیا للنھر) وفی حاشیۃ الشلبی علی المحیط اشتری المسلم الفاسق عبدا امرد وکان ممن یعتاد اتیان الامرد یجبر علی بیعہ (قولہ فلیحفظ توفیقا) بان یحمل ما فی الخانیۃ من اثبا الکراھۃ علی التنزیہ وما فی الزیلعی وغیرہ من نفیھا علی التحریم فلا مخالفۃ واقول ھذا التوفیق غیر ظاھر لانہ قدم ان الامرد مما تقوم المعصیۃ بعینہ وعلی مقتضی

ما ذكره هنا يتعين ان تكون الكراهة فيه للتحريم فلا يصح حمل كلام الزيلعي وغيره على التنزيه وانما مبنى كلام الزيلعي وغيره على ان الامرد ليس مما تقوم المعصية بعينه كما يظهر من عبارته قريباً عند قوله وجاز اجارة بيت.

وفى التنوير وجاز اجارة بيت بسواد الكوفة لا بغيرها على الاصح ليتخذ بيت نار او كنيسة او بيعة او يباع فيه الخمر. وفى الشرح وقالا لا ينبغي ذلك لانه اعانة على المعصية وبه قالت الثلاثة زيلعي. وفى الحاشية (قوله وجاز اجارة بيت الخ) هذا عنده ايضا لان الاجارة على منفعة البيت و لهذا يجب الاجر بمجرد التسليم ولا معصية فيه وانما المعصية بفعل المستاجر وهو مختار فينقطع نسبته عنه فصار كبيع الجارية ممن لا يستبرئها او يأتيها من دبر و بيع الغلام من لوطي والدليل عليه انه لو اجره للسكنى جاز و هو لا بد له من عبادته فيه اھ زيلعي وعيني ومثله فى النهاية والكفاية قال فى المنح هو صريح فى جواز بيع الغلام من اللوطي والمنقول فى كثير من الفتاوى انه يكره وهو الذي عولنا عليه فى المختصر اھ اقول هو صريح ايضا فى انه ليس مما تقوم المعصية بعينه ولذا كان ما فى الفتاوى مشكلا كما مر عن النهر اذ لا فرق بين الغلام و بين البيت والعصير فكان ينبغي للمصنف التعويل على ما ذكره الشراح فانه مقدم على ما فى الفتاوى نعم على هذا التعليل الذي ذكره الزيلعي يشكل الفرق بين ما تقوم المعصية بعينه و بين ما لا تقوم بعينه فان المعصية فى السلاح والمكعب المفضض ونحوه انما هو بفعل الشاري فليتامل وجه الفرق فانه لم يظهر لي ولم ار من نبه عليه نعم يظهر الفرق على ما قدمه الشارح تبعا لغيره من التعليل لجواز بيع العصير بانه لا تقوم المعصية بعينه بل بعد تغيره لهو كبيع الحديد من اهل الفتنة لانه وان كان يعمل منه السلاح لكن بعد تغيره ايضا الى صفة اخرى وعليه يظهر كون الامرد مما تقوم المعصية بعينه كما قدمناه فليتامل. (ردالمحتار ص۲۷۸ ج۵)

د دې عبارتونو نه دا ذکر کړې شوي امور ثابتيږي:

۱- د مزامير وغيره د آلاتو د لهو او لعب د بيعې په حقله مشايخو ﷺ په اتفاق سره د صاحبينو رحمهما الله تعالى د قول مطابق د حرمت فتوى ورکړې ده، په سوال کښې چې د مظاهر علوم کومه فتوى وړاندې کړې شوې ده، په هغې کښې دا نقص دې، چې په دې کښې د حرمت د قول مفتى به کيدل نهٔ دي بيان کړې شوي.

۲- د باغيانو په لاس د وسلې د بيعې په حقله هم په اتفاق سره د حرمت قول مفتى به کيدل بکار دي.

۳- لوطي ته د امرد په بيع باندې مجبورولې شي. په دې کښې د چا اختلاف هم نهٔ دې نقل کړې

شوې، د دې نه دا ثابتیږي چې د لوطي سره د امرد بیعه کول ناروا دي.هر کله چې ابقاء او اقرار د ملك روا نۀ دي نو احداث او اثباتِ ملك خو به په کښې په طریقۀ اولی سره ناروا وي.

۴ - بیع الجاریة المغنیة وبیع الامرد من اللوطي ته اکثرو فقهاء کرامو رحمهم الله مکروه تحریمي وئیلې دي. البته د زیلعي،عیني،او د سرخسي رحمهم الله د کلام نه کراهت تنزیهي ثابتیږي.

۵ - اجارة البیت لکنیسة کښې قول د جواز ته ترجیح معلومیږي.

۶ - د بیعې او د اجارې د جواز او د عدم جواز بناء ما تقوم المعصیة بعینه و ما لا تقوم بعینه ګرځولې شوې دې.

۷ - د ما لا تقوم المعصیة بعینه مطلب دا دې،چې د معصیت نه وړاندې په دې څیز کښې د صنعت وغیره په ذریعه څه تغیر راغلې وي، کبیع الحدید من اهل الفتنة و بیع العصیر.او د ما تقوم المعصیة بعینه نه مراد دا دې،چې بې د تغیر کولو نه هم په دې حالت کښې دا په معصیت کښې استعمالولې شي، کبیع السلاح من اهل البغي.

په پورتنیو امورو کښې صرف په جاریه مغنیه اود امرد په بیع کښې اختلاف دې، لیکن اکثریت او د دلیل قوت د حرمت د قائلینو سره دې،په دې حقله لاندینی امور قابل د غور او فکر دي:

۱ - لوطي لره د امرد په بیع باندې مجبورول ددې امر دلیل دې چې په هغۀ باندې خرڅول په طریقۀ اولی سره ناروا کیدل پکار دي.

۲ - په قول د نهر لانه تسبب فی الاعانة. باندې د حموي رحمه الله ارشاد کانه میل معه الی ان ما فی الخانیة محمول علی کراهة التحریم لان التسبب بهذه الافعال فظیع قریب من الحرام فلا یکون خلاف الاولی اهـ ذکره الرافعي رحمه الله کما قدمنا.

۳ - جاریه مغنیه او امرد لره په ما لا تقوم به المعصیة کښې داخلول ډیر بعید دي.پورته په اووم نمبر کښې چې د ما تقوم به المعصیة کومه تشریح کړې شوې ده په هغې کښې ددې دخول بدیهي دې. دما تقوم به المعصیة دا تفسیر کول چې د شراء نه مقصود صرف په معصیت کښې استعمالول وي. نو دا تفسیر د چا نه هم نۀ دې منقول،صرف علامه شامي رحمه الله په زیلعي باندې د وارد کیدونکي اشکال د حلّ په خاطر په باب البغاة کښې دا تفسیر کړې دې، لیکن دا تفسیر په هیڅ شان له هم قرینِ قیاس نۀ ده،د دې وجې نه په پخپله علامه شامي رحمه الله هم په دې باندې مطمئن نۀ دې.لهذا په کتاب الحظر والاباحة کښې ئې په خپل د ټولو نه آخري تحقیق کښې د دې خلاف واضحه فیصله کړې ده او دې څیزونو ته ئې مما تقوم المعصیة بعینه وئیلې دي.

اوس پاتې شو د علامه شامي رحمه الله دا اشکال چې په جاريه مغنيه او اجارة البيت کښې وجه د فرق بالکل ښکاره نهٔ ده.

د بنده په خيال په دې دواړو کښې وجه د فرق دا ده،چې بيت آله د معصيت نهٔ ده بلکه صرف ظرف د معصيت دې،بيت په ګناه کښې نهٔ استعماليږي بلکه په بيت کښې ګناه کيږي،لکه څنګه چې په فاسق باندې جامې خرخول ددې وجې نه روا دی چې لباس په ګناه کښې نهٔ استعماليږي، بلکه په لباس کښې دننه ګناه کولې شي.لباس خو د زينت او د حفاظت دپاره استعمالولې شي.په دې کښې ګناه کول يو امرِ مجاور دې.د دې وجې نه د بيت استعمال هم د زينت او د حفاظت د پاره دې، په دې کښې معصيت کول يو امرِ زائد دې،که د بيت په ما تقوم المعصية بعينه کښې دخول تسليم هم کړې شي نو بيا هم په دې کې يو فرق موجود دې هغه دا چې صورت د مسئلې د اجارة البيت من الکافر دې،او هغه د شرعي احکامو مکلف نهٔ دې.

غرض د خبرې دا چې په جاريه مغنيه کښې راجح قول د کراهت تحريميه دې،خو سره ددې هم ددې د بيعې حرمت د مزامير او د وسلې د بيعې د حرمت په نسبت خفيف دې،څکه چې مزامير مصنوعه للهو دی،او باغيانو ته په وسلې ورکولو کښې د ملك تباهي ده،په خلاف د جارېې چې هغه مصنوعه للهو نهٔ ده،او د هغې په بيعه کښې د ملك هم څه دومره عظيم نقصان نشته دې.

د ذکر کړې شوی تفصيل نه پس اوس دا کتل دی چې د ريډيو او د ټيلی ويژن مشابهت په ذکر کړې شوی څيزونو کښې د څه سره دې،آيا دا د مزاميرو او د وسلې نظير دی يا د جارېې مغنيې او د امرد يا د بيت نظير دې.

نو په غور کولو سره دا خبره مخې ته راځی چې د بيت سره خو ددې هيڅ مشابهت نشته دې،لما ماانه ظرف دغه شان د مزامير سره ئې هم پوره مشابهت نشته دې،لانها مصنوعة للهو بخلاف الراديو والتلويزن، وسلې سره ئې اګرچې مشابهت شته دې، ليکن د دې په بيعه کښې د وسلې د بيعې په شان نقصانِ عظيم نشته دې،پس ددې پوره مشابهت د جارېې مغنيې سره دې، بلکه دا خو دی جوارېې مغنيې، لهذا د ريډيو او د ټيلی ويژن مرمت د راجح قول مطابق مکروه تحريمی دې،او که د کراهت تنزيهيه مرجوح قول هم واخستې شي،نو بيا هم دا پيشه اختيارول مکروه تحريمی دی، څکه چې په کراهت تنزيهيه باندې دوام مفضی الی الکراهة التحريميه وی،علاوه د دې نه په وخت د بيع او د مرمت کښې د لوبو د اوريدلو نه خلاصې نشته دې،د کومې په حرمت کښې چې هيڅ شبه نشته دې،دا مې علی سبيل التنزل وليکلو اوکه نه نو حقيقت هم هغه دې،چې د جارېې مغنيې او د امرد بيعې ته مکروه تنزيهی وئيل هرګز قبول نه دی.

د معاشرې رنګ داري

د دې نوې دور په معاشره کښې د لوئې نه لويه بې حيائي هنر او کمال ګڼلې کيږي.د دې نه علاوه که چيرې نن هم يو لوطي قوم چرته اوسيږي،او د هغوی د پاره ځوك مستقل د امردانو د راوستلو کاروبار کوی. نو آيا هغه ځوك چې هغه لږ هم د سلامتِ طبع يا د قلبِ حساس خاوند وی هغه به د دغه سړی دې شنيع فعل ته صرف مکروه تنزيهی او خلافِ اولی اووائی او ددې نه به چشم پوشی وکړی؟ د تنګ ټکور په حرمت باندې د دنيوی او اخروی قهر او عذاب وعيدونه څه کم دی؟ ليکن دا د معاشرې رنګينئ دی، چې کله ئې خوښه شی نو حرام ته دې حلال اووائی،ذلت ته دې عزت اووائی، پستئ ته دې بلندی اووائی،تنزل ته دې ترقی اووائی،او داسې بی شرمی او بی حيائی چې د هغې نه ځناور هم وشرميږ ی هغې ته دې د انسان معراج اووائی، ليکن تر کومې پورې؟ که په طور د استدراج د دنيا د عذاب نه بچ هم شی،نو د حساب ورځ څه لرې نۀ ده.

يو درد مند درخواست

نن صبا عوام خو څه کوې د ډيرو علماؤ نه دا په اوريدل کيږی چې په احکامو د شرعه کښې د توسيع نه کار اخستل پکار دی،دا نظريه دې حده پورې خو بې د شبهې نه صحيح ده چې د شرعې په حدودو او د مذهب په اصولو کښې دننه څومره ګنجائش ممکنه وی تلاش دې کړې شی، ليکن ددې مطلب دا بالکل نۀ دې چې د شريعت حدود او مذهب قواعد دې يو خوا ته کيښودلې شی او د نفس پرستئ د پاره دې لاره بنۀ ازاده کړې شی،چې د نفس خواهشاتو ته د ضرورت او د ابتلاء نوم ورکړې شی او د دې په ذريعه د اسلام قوانينو سره لوبې توقې وکړې شی نو ددې هرګز اجازت نۀ شی ورکړې کيدې،بعضې خلق په کور کښې په ناسته ناسته په خپل زعم او ګمان کښې په خپله محققين جوړ شو،او هغوی د شرعيت محرماتو باندې د عموم بلوی مهر لګوی او حلال ترې جوړوی . دې د خپل ځان نه جوړ شوو محققينو ته دا هم معلومه نۀ ده،چې د عموم بلوی قانون صرف د طهارت او د نجاست په حقله دې،په حلت او حرمت باندې دا مؤثر نۀ دې، نن صبا د بانك او د بيمې غوندې د ملعونو ادارو په نوکرو باندې فخر،د تصوير سازئ او د تصوير اينودلو د لعنت بې دريغه او علانيه ارتکاب او دغه شان د نورو فواحشو او د منکراتو شيوع او په دې کښې په برق رفتارئ سره په ترقئ کولو کښې د زمانې د علماؤ د خانه زاد وسعت نظرئ ډير لوئې دخل دې. خدائې دې نۀ کړی که دا جذبه د وسعتِ نظرئ هم دغه شان په خپل کار کښې اخته وه نو (لتسألن الحمر) او (لتركبن على الحمير) غوندې د نظارې د پاره تيار اوسئ،او د فانتظر الساعة غوندې د قدرت د قانون مطابق د وسعت نظر د حساب او د کتاب انتظار کوئ. ولقنا الله الجميع لما يحب و يرضى وعصمنا من جميع السيئات الظاهرة والباطنة امين

ستاسو د فائدې خبره

چې خومره وس مو کیږي نو د ریډیو او د ټیلي ویژن د تجارت او د مرمت د پیشې اختیارولو نه ځان اوساتئ. خدائې دې نه کړي که د څه مجبورئ د وجې نه تاسو په دې کښې مبتلا یئ. نو د خپل مالك په وړاندې توبه او استغفار کوئ او د خپل جرم اعتراف کوئ. او ددې په ځائې د څه جائزې پیشې د پاره دعا او کوشش جاري ساتئ. فقط والله الموفق.

الحاق

د پورتنی لیك د پوره کیدلو نه پس مې دا خیال راغئ، چې ددې مسئلې په حقله د استاذ محترم حضرت مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله د رسالې (تفصيل الكلام فى مسالة الاعانة على الحرام) نه هم استفاده وکړې شي. لهذا د هغې نه دا لاندینی جزئیات وړاندې کولې شي.

۱ - فى الفن الاول عن الاشباه والنظائر تحت مباحث النية ان بيع العصير ممن يتخذ خمرا ان قصد به التجارة فلا تحرم وان قصد لاجل التخمير حرم اهـ (جواهر الفقه ص ۴۴۲ ج ۲)

۲ - فى اجارات المبسوط للسرخسى و اذا استأجر الذمى من المسلم بيتا ليبيع فيه الخمر لم يجز لانه معصية فلا ينعقد العقد عليه ولا اجر له عندهما وعند ابى حنيفة رحمه الله يجوز والشافعى رحمه الله يجوز هذا العقد لان العقد يرد على منفعة البيت و لا يتعين عليه بيع الخمر فله ان يبيع فيه شيئا اخر يجوز العقد لهذا، ولكنا نقول تصريحهما بالمقصود لا يجوز اعتبار معنى اخر فيه وما صرحا به معصية (مبسوط ص ۳۸ ج ۱۶ جواهر الفقه ص ۴۴۶ ج ۲)

۳ - وان لم يكن السبب محركا وداعيا بل موصلا محضا وهو مع ذلك سبب قريب بحيث لا يحتاج فى اقامة المعصية به الى احداث صنعة من الفاعل كبيع السلاح من اهل الفتنة وبيع (لعله عن سبق القلم لانه يحتاج فى اقامة المعصية به الى احداث صنعة ۱۲ رشيد احمد) العصير ممن يتخذه خمرا وبيع الامرد ممن يعصى به واجارة البيت ممن يبيع فيه الخمر او يتخذها كنيسة او بيت نار و امثالها فكله مكروه تحريما بشرط ان يعلم به البائع والاجر الخ (جواهر الفقه ص ۴۵۳ ج ۲)

۴ - فان من قال بكراهة بيع الجارية المغنية والامرد ممن يعصى به وامثاله فقد اصاب (الى قوله) ومن قال بجوازها اراد جواز العقد بمعنى الصحة لا الجواز بمعنى رفع الاثم (الى قوله) ومن صرح برفع الاثم ايضا كما فى عبارة المبسوط المذكورة اولا فهو مقيد بما اذا لم يعلم انه اشتراه واستأجره للفعل المعصية قصدا كاجارة

المبيعه من اللاهي والفاسق فان الجار لو قطع على نفس السكنى قصداً ولا اثم فيه الخ (جواهر الفقه ص ۴۴۳ ج ۲)

د دې عبارتونو نه دا لاندینی امور مستفاد شو:

۱ - بيع العصير بقصد التخمير حرامه ده.

حضرت مفتی صاحب رحمه الله د ماتقام المعصية بعينه په خپله یو تفسير فرمائیلې دې، او په هغې کښې ئې دا هم داخل کړې دي، لیکن د ماتقام المعصية بعينه د عام مشهور او د مذهب په عبارتونو کښې لیکلې شوې تعریف کښې مذکوره صورت داخل نهٔ دې، لیکن سره د دې هم د معصيت د قصد د وجې نه حرام دې.

۲ - د حضرت مفتی صاحب رحمه الله د تحقیق مطابق هم بيع الجارية المغنية مکروه تحریمی ده، او مونږ پورته اوونیل چې ریډیو او ټیلی ویژن هم جاریه مغنیه ده.

۳ - د حضرت مفتی صاحب رحمه الله په رائې کښې اجارة البیت هم مکروه تحریمی ده، لیکن هم ددې رسالې د اردو خلاصې په آخره کښې د بینکاریٔ د پاره مکان په کرایه باندې د ورکولو په حقله فرمائی، (په دې کښې ما ته تر اوسه پورې تردد دې، چې دې ته مکروه تحریمی اوونیلې شی او که تنزیهی، د نورو علماؤ نه هم ددې استصواب وکړیٔ) (جواهر الفقه ص ۴۴۲ ج ۲).

د بنده په خیال کښې په اجاره من الکافر او په اجاره من المسلم کښې فرق دې، عبارات د فقهاء کرامو رحمهم الله د اجارې من الکافر په حقله دی، او په دې کښې درایةً او روایةً کراهت تنزیهیه ته ترجیح معلومیږی او په اجاره من المسلم کښې کراهت تحریمیه راجح معلومیږی، والله اعلم.

دا امر ظاهر، مسلم او د فقې په کتابونو کښې مصرح دې چې پورتنی امور په دې صورت کښې ناروا دی چې بائع او آجر ته د دې د استعمال فی المعصية علم وی، په موجوده معاشره کښې د عام اخستونکی په حقله د استعمال فی المعصية ظن غالب وی، البته که د یو سړی د تدیّن او د تقوی علم وی نو هغه سره د ریډیو بیعه او د هغهٔ د ریډیو مرمت کول روا دی، د ټیلی ویژن د روا استعمال خو بیخی څه صورت د سره نشته، د حرمت د وجوهو تفصیل ئې په احسن الفتاوی کښې په کتاب الحظر والاباحة کښې شته دې. فقط والله تعالیٰ اعلم.

رشید احمد
۲۱ جمادی الاولی ۱۳۹۷ هجری

د ټی وی په حرمت باندې مفصله رساله (د ټی وی زهر د ټی بی نه هم زیات مهلك دې) احسن الفتاوی جلد ۸ کتاب الحظر والاباحة کښې شته دې او مستقل د رسالې په شکل کښې هم چاپ شوی دی.

متفرقات البیوع

اولاد ته زمکه ورکول او په هغې کښې تصرف کول

سوال:- یو سړی په خپل ژوندې کښې خپله د کرکروندې زمکه حصې حصې کړه او د خپلو لونو په نوم باندې یې ستامپ ولیکلو چې د څلورو زرو روپو په عوض کښې ما دا زمکه په خپلو بالغو لونو باندې خرڅه کړه، بیا ئې ثمن هم په خپله قبضه کښې وانخستل ،بلکه لونو ته ئې اوبخښل.او ذکر کړې شوې زمکه ئې هم په خپله قبضه کښې اوساتله،تر دې چې د دې زمکې نه ئې څه حصه په آخره کښې د جمات په نوم باندې وقف کړه،لونو ته ئې د دې خبرې علم وو او ددې باوجود ئې په پلار باندې څه اعتراض ونهٔ کړو،او نهٔ هغه ددې رقم لونړو ته حواله کړو. نو آیا شرعا د دې سړی دا زمکه داسې په بالغو لونو باندې خرڅول،په خپله قبضه کښې ساتل،او تصرف په کښې کول،او ددې نه پس په بل سړی باندې خرڅول او د وصیت په ذریعه باندې وقف کول روا دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : که لونو ته ئې ددې بیعې علم نهٔ وو بلکه پلار ئې د خپله اړخه داسې وکړل،یا هغوی ته د دې بیعې علم وو هغوی دا قبوله کړې نهٔ وه،یا قبوله کړې ئې وه خو د شروع نه ئې پلار هغوی ته دا خبره کړې وه چې دا هسې یو صورت د بیعې دې. په حقیقت کښې زهٔ ستاسو نه څه رقم وغیره اخستل نهٔ غواړم،نو په دې صورتونو کښې دا بیعه ونهٔ شوه.لهذا د پلار تصرفات ئې شرعا صحیح شو،البته که په دغه وخت کښې واقعةً هم بیعه مقصود وه او لونو ئې دا قبوله کړې هم وه، لیکن وروستو ورته پلار بیا قیمت معاف کړې وی، نو دا زمکه د لونو ملکیت دې، په دې کښې به ئې بیا د پلار تصرف بې د هغوی د اجازت نه معتبر نهٔ وی.البته دا خبره ده که پلار ئې حاجت مند وی نو هغه په قدر د ضرورت د اولاد د مال نه څه اخستې شی۔**والله سبحانه وتعالی اعلم**

۱۴ جمادی الثانیة ۱۳۸۸ هجری

مبیعه د کتلو په وخت کښې د مشتری د لاس نه ضائع شوه

سوال:- زید د عمرو د کان کښې گومنځ اخستلو دپاره ورغی،د یو گومنځې اړخ ته ئې اشاره وکړه چې دا په څو ده، عمرو ورته اووئیل چې یوه نیمه روپئ، زید ورته اووئیل چې اوخو ئې بنایه کنه. قیمت سره به ئې بیا وروستو گورو. عمرو ورله گومنځ راواخستله او ورئې کړه د گومنځې د غابنونو په خوزولو کښې اتفاقا د دې څه غابنونه مات شو.اوس عمرو د دې قیمت غواړی.خو زید وائی چې بیعه خو لا شوې نهٔ ده،تپوس دا کول دی چې ددې قیمت په زید باندې لازمیږی او که نه؟

بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب د مشتری د جملې (اوخو ئې بنا یه کنه) نه معلومیږی چې هغه لا د ګومنځې په اختلو باندې راضي شوې نۀ وو. بلکه د کتلو نه پس به هغه لا د اختلو او د نۀ اختلو فیصله کوله. لهذا په زید باندې به ضمان نۀ لازمیږی۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله : قلت و بیان ذلك ان المساوم انما یلزمه الضمان اذا رضی باخذه بالثمن المسمی علی وجه الشراء فاذا سمی الثمن البائع وتسلم المساوم الثوب علی وجه الشراء یکون راضیا بذلك کما انه اذا سمی هو الثمن و سلم البائع یکون راضیا بذلك فکان التسمیة صدرت منهما معا بخلاف ما اذا اخذه علی وجه النظر لانه لا یکون ذلك رضا بالشراء بالثمن المسمی قال فی القنیة سم عن ابی حنیفة رحمه الله قال له هذا الثوب لك بعشر قدراهم فقال هاته حتی انظر فیه او قال حتی اریه غیری فاخذه علی هذا وضاع لا شیء علیه ولو قال هاته فان رضیته اخذته فضاع فهو علی ذلك الثمن اه. قلت ففی هذا وجدت التسمیة من البائع فقط لکن لما قبضه المساوم علی وجه الشراء فی الصورة الاخیرة صار راضیا بتسمیة البائع فکانها وجدت منهما اما فی الصورة الاولی والثانیة فلم یوجد القبض علی وجه الشراء بل علی وجه النظر منه او من غیره فکان امانة عنده فلم یضمنه ثم قال فی القنیة ط اخذ منه ثوب وقال ان رضیته اشتریته فضاع فلا شیء علیه و ان قال ان رضیته اخذته بعشرة فعلیه قیمته ولو قال صاحب الثوب هو بعشرة فقال المساوم هاته حتی انظر الیه وقبضه علی ذلك ضاع لا یلزمه شیء اه قلت و وجهه انه فی الاول لم یذکر الثمن من احد الطرفین فلم یصح کونه مقبوضا علی وجه الشراء وان صرح المساوم بالشراء و فی الثانی لما صرح بالثمن علی وجه الشراء صار مضمونا و فی الثالث و ان صرح البائع بالثمن لکن المساوم قبضه علی وجه النظر لا علی وجه لاشراء فلم یکن مضمونا و بهذا ظهر الفرق بین المقبوض علی سوم الشراء والمقبوض علی سوم النظر فافهم واغتنم تحقیق هذا المحل (ردالمحتار ص۵۵ ج۴)

لیکن دا حکم په هغه صورت کښې دې چې زید به په خیال سره ګومنځې ته لاس وروړې وی. یا ئې په محتاط طریقې سره استعمال کړې او کتلې ئې وی، او بیا هم دا ماته شوه، او که چیرې زید د ګومنځ په استعمالولو کښې احتیاط ونۀ کړو، د هغه د احتیاط نۀ کولو د وجې نه ګومنځ ماته شوه نو په هغۀ باندې به بیا ضمان راځی۔ **والله سبحانه وتعالی اعلم۔** **۱۴ ذی قعده ۱۳۸۹ هجری**

د ډیپو خاوند د مقرر کړې شوی قیمت خاوند دې

سوال: د ډیپو خاوند د مقرر کړې شوی قیمت پابندول ضروری دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د ډیپو د خاوند د حکومت سره عهد وی چې هغه به په مقرر کړې شوې قیمت باندې څیز خرڅوی. ددې وجې نه حکومت هغۀ ته رعایت ورکوی. لهذا د دغې عهد خلاف کول روا نۀ دی۔ **والله سبحانه وتعالی اعلم** **۱۹ ذی قعده ۱۳۹۵ هجری**

یو شریک د ثمن د ادا کولو نه انکار وکړو

سوال:- زید او بکر معاهده وکړه چې هغوی به یو ځائې د فلانئ کمپنئ نه زمکه اخلی. لهذا دواړو د معاهدې مطابق څه پیسې راجمع کړې.او په قسطونو باندې ئې زمکه واخستله.صرف دوه قسطه ادا کړې شوې وو چې بکر د نورو پیسو ورکولو نه انکار وکړو.آیا په دې صورت کښې زید ددې خبرې پابند دې چې هغه د بکر ورکړې شوې پیسې (کومې چې هم زید د خپلو پیسو سره یوځائې کړې وې او کمپنئ له ئې ورکړې وې) د خپله اړخه ادا کړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ددې پیسو واپسی د زید په ذمه نۀ ده.البته که زید ټوله زمکه واخستله او د بکر ورکړې شوې پیسې ئې هم په خپل حساب کښې کمپنئ ته ادا کړې نو په زید باندې به دا پیسې قرض وی، لهذا هغه به ددې پابند وی چې دا پیسې هغه بکر ته واپس کړی۔

زید ته دا هم اختیار شته دې،چې د بکر د حصې پیسې ادا کړی او ټوله زمکه په خپله قبضه کښې واخلی او بیا بکر ته د هغۀ حصه تر هغه وخته پورې ورنۀ کړی تر څو پورې چې د.هغۀ نه د هغه د حصې پوره قیمت وانخلی۔

قال الامام النسفی رحمه الله تعالیٰ: ولو غاب احد المشتریین فللحاضر دفع کل الثمن و قبضه و حبسه حتی ینقد شریکه. (کنزالدقائق ص۲۴۱) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم ۲۰ رجب ۱۳۹۸ هجری

د بیعې نه په مخ ګرځولو باندې جرمانه

سوال:- د بیعانې روپئ ضبط کول روا دی او که نه؟ دلته دا رواج دې مثلاً د یو زمکې یا د کور د اخستلو معاهده په یولاك روپئ باندې وشوه، نو اخستونکی بائع له دوه یا څلور زره روپئ په توګه د بیعانې د وړاندې نه ورکړی،د کومې په ذریعې سره چې د دې سودا خبره پخه شی.ددې نه څو ورځې پس رجسټری وشی.وروستو که چیرې اخستونکې ددې معاهدې نه وګرځی،او باقی پیسې ورته ادا نۀ کړی. نو د بیعانې پیسې ترې نه ضبط کړې شی.او که چیرې بائع د دې معاهدې نه واوړی نو هغه اخستونکی ته د بیعانې پیسې دوچنده کړی او ورته ئې ورکړی .آیا دا رواج شرعاً روا دې؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د معاهدې پابندی کول په فریقینو باندې ضروری دی.د معاهدې نه بیرته ګرځیدونکې فریق په ایفاء د عهد باندې مجبورولې شی. لیکن بیعانه ضبط کول یا د بائع نه دوه چنده پیسې اخستل روا نۀ دی.ددې مسئلې تفصیل په رساله (تحریر المقال فی التعزیر بالمال) کښې شته دې. دا رساله په احسن الفتاوی په تیروشو بحثونو کښې ده. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۲۶ رمضان ۱۳۹۹ هجری

باب الربا والقمار

په مکیلاتو او موزوناتو کښې په بیع بالجنس کښې د نساء تفصیل

سوال په مکیلاتو او موزوناتو کښې دبیع بالجنس په کومو صورتونو کښې نساء حرامه ده ؟

الجواب ومنه الصدق والصواب د مکیلاتو او موزوناتو په بیع کښې د اتحاد الجنس یا اتحاد القدر په وقت کښې نساء حرامه ده. البته قبض فی المجلس شرط نه دې. فقط تعیین فی المجلس کافی دې. احضار فی المجلس هم ضروری نه دې. البته په ملك کښې کیدل ضروری دی. قبض فی المجلس صرف په بیع الصرف کښې لازم دی، په مکیل اوموزون کښې بیع الدین بالعین جائز نده اگرچه په هغه مجلس کښې یی په دین باندې قبل الافتراق قبضه کړې وی اوبیع العین بالدین په دې شرط سره جائزه ده چه قبل الافتراق په دین باندې قبضه وشی په دې صورت کښې تعیین کافی ندې بلکه قبض علی الدین ضروری دې.

قال فی التنویر : وعلته القدر مع الجنس فان وجدا حرم الفضل والنساء وان عدما حلا وان وجد احدهما حل الفضل وحرم النساء.

وفی الشرح : ولو مع التساوی حتی لو باع عبدًا بعبد الی اجل لم یجز لوجود الجنسیة. وفی الشامیة تحت (قوله واحدهما نساء) ثم اعلم ان ذکر النساء للاحتراز عن التأجیل لان القبض فی المجلس لایشترط الا فی الصرف وهو بیع الاثمان بعضها ببعض اما ما عداها فانما یشترط فیه التعیین دون التقابض کما یأتی (ردالمحتار، ص۱۹۹، ج۴).

وایضًا فی العلائیة : والمعتبر تعیین الربوی فی غیر الصرف ومصوغ ذهب وفضة بلا شرط تقابض حتی لو باع برا ببر بعینهما وتفرقا قبل القبض جاز خلافًا للشافعی رحمه الله تعالی فی بیع الطعام ولو احدهما دینًا فان قبضه قبل التفرق جاز والالا کبیعه مالیس عنده سراج.

وفی الشامیة : (قوله والمعتبر تعیین الربوی فی غیر الصرف) لان غیر الصرف یتعین بالتعیین ویتمکن من التصرف فیه فلا یشترط قبضه کالثیاب ای اذا بیع ثوب بثوب بخلاف الصرف لان القبض شرط فیه للتعیین فانه لایتعین بدون القبض ـ الخ.

وایضًا فیها : (قوله حتی لوباع ـ الخ) قال فی البحر بیان کما ذکره الاسبیجابی بقول واذا تبایعا کیلیًا بکیلی او وزنیًا بوزنی کلاهما من جنس واحد او من جنسین مختلفین فان البیع لایجوز حتی یکون کلاهما عینا اضیف الیه العقد وهو حاضر اوغائب بعد ان یکون موجودًا فی ملکه والتقابض قبل الافتراق بالابدان لیس بشرط

لجوازه الا فی اللب والفضة ولو کان احدهما عینًا اضیف الیه العقد والآخر دینًا موصوفًا فی الذمة فانه ینظر ان جعل الدین منهما ثمنًا والعین مبیعًا جاز البیع (الی قوله) وبیانه اذا قال بعتك هذه الحنطة علی انها قفیز بقفیز حنطة جیدة (الی قوله) وبیانه اذا قال بعتك هذه الحنطة علی انها قفیز بقفیز حنطة جیدة (الی قوله) فالبیع جائز لانه جعل العین منهما مبیعًا والدین الموصوف ثمنًا ولکن قبض الدین منهما قبل التفرق بالابدان شرط لان من شرط جواز هذا البیع ان یجعل الافتراق عن عین بعین وما کان دینًا لا یتعین الا بالقبض ولو قبض الدین منهما ثم تفرقا جاز البیع قبض العین او لم یقبض ولو قال اشتریت منك قفیز حنطة جیدة بهذا القفیز من الحنطة (الی قوله) فانه لا یجوز وان احضر الدین فی المجلس لانه جعل الدین مبیعًا فصار بائعًا ما لیس عنده وهو لا یجوز حیلئذ (ردالمحتار، ص۲۰۳، ج۴). والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۰/ذی قعده‌سنه:۶۲هـ.

د مکیلاتو اوموزوناتو قرض اخستل جائز دی

دا مسئله په باب القرض والدین کښې ده .

د حفاظت په غرض په بانک کښې خپلې پیسې کیښودل

سوال : د حفاظت په غرض په بانك کښې خپلې (پیسې) کیښودل جائز دی او که نه ؟

الجواب باسم ملهم الصواب : په بانك کښې د پیسو د جمع کولو درې صورتونه دی :

۱ - په سودی طریقې سره (سیونګ اکاونټ).

۲ - په غیر سودی طریقې سره (کرنټ اکاونټ).

۳ - لاکر .

په سودی طریقې سره په بانك کښې پیسې کیښودل حرام دی . په دې کښې د سود اخستلو ګنا ده. چه په هغې د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه سخت ترین وعیدونه دی .

۱ - قرآن کریم کښې الله تعالی او دهغه د رسول صلی الله علیه وسلم له طرفه د سود خورو لپار د جنګ اعلان دې :

۱ . ﴿فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ﴾

۲ . عن جابر رضی الله تعالی عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربوا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء رواه مسلم (مشکوٰة، ص۲۴۴) .

۳ . عن عبدالله بن حنظلة غسیل الملائکة رضی الله تعالی عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم

درهم ربوا يأكل الرجل وهو يعلم اشد من ستة وثلاثين زنية -رواه احمد والدار قطني (مشكوة،ص۲۴۶، ج۱).

۴ - عن ابي هريرة رضي الله تعالى عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الربوا سبعون جزءًا ايسرها ان ينكح الرجل امه -رواه احمد (مشكوة،ص۲۴۶، ج:۱).

۵ - وعن عمر بن الخطاب رضي الله تعالى عنه ان اخر ما نزلت آية الربوا وان رسول الله صلى الله عليه وسلم قبض ولم يفسرها لنا فدعوا الربوا والريبة. رواه ابن ماجة والدارمي.

قال الطيبي رحمه الله تعالى: اي الآية التي نزلت في تحريم الربوا وهو قوله تعالى: (الذين يأكلون الربوا الآية)- الى قوله - (لاتظلمون ولا تظلمون) فابتة غير منسوخة صريحة غير مشتبهة فلذلك لم يفسرها النبي صلى الله عليه وسلم فاجروها على ماهي عليه فلا تر تأبوا فيها واتر كوا الحيلة في حلها (مرقاة،ص۶۹، ج۹).

ددې نه علاوه په دې کښې تعاون على الاثم دې، داپيسې په سودی کاروبار کښې استعماليږی

قال الله تبارك وتعالى: ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ ۖ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۚ﴾

په کرنټ اکاونټ کښې هم پيسې جمع کول جائز ندی ځکه چه په دې کښې اګرچه د سود اخستلو ګناه نشته ليکن دتعاون على الاثم ګناه پکښې شته.

په لاکر کښې پيسې داخلول هم جائز ندی ځکه چه په دې کښې اګرچه د سود اخستلو او تعاون على الاثم ګناه نشته ليکن په بانك کښې دحرامو پيسونه د جوړې شوې خانې د استعمال ګناه خو شته. د سختې مجبورئ په وخت په دې کښې پيسې جمع کولې شی ځکه چه د رومبنی دوه صورتونو په مقابل کښې په دې کښې ګناه کمه ده، ليکن بيا هم استغفار وئيل لازم دی. والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲ / جمادی الاولى ، سنه: ۸۲ هـ.

په بانک کښې سود پريښودل جائز ندی

سوال که چيرته چا په سودی کهاته کښې پيسې کيښودلې اوس که هغه سرې هغه د سود پيسې په بانك کښې پريږدی نو بانك والا هغه پيسې د اسلام خلاف کارونو کښې خرچ کوی، نو که چيرته د سود دهغه پيسې په مسکينانو باندې د صدقه کولو په نيت واخستلې شی نو آيا پدې صورت کښې به د سود اخستلو ګناه وی او که نه ؟ که چيرته ګناه وی نو بيا څه صورت اختيار کړې شی؟ بينو توجروا

الجواب ومنه الصدق والصواب: د بانك په سوی کهاته کښې پيسې کيښودل جائز ندی. که چيرته چا د غفلت يا د ناپوهئ له کبله کيښودلې. اوبيا وروسته په دې خبر شو اوپه دې خپل کار پښيمانه شو نو په هغه واجب دی چه توبه او استغفار وکړی او زرترزره خپلې ټولې پيسې د سود له

بانك نه راوباسي او هغه د سود پيسي دې هم ترينه واخلي اوبغير له نيت د ثواب څخه دې په مسكينانو باندې تقسيم كړي.

سود اوهر قسم حرام مال اوفاسده بيعه (حرامه ګټه) د لقطى په حكم كښې دى. او لقطه اوچتول د ويرې په وخت كښې واجب دى . بيا مالك ته واپس كول او د مالك د نه پيدا كيدو په صورت كښې دهغه د طرف نه بغير له نيت د ثواب نه په مسكينانو باندې صدقه كول واجب دى

قال الامام المرغيناني رحمه الله تعالى: فيكون سبيله التصدق في رواية يرده عليه في رواية لان الخبث لحقه وهذا اصح (هدايه كتاب الكفالة، ص١٢٣، ج٣).

وفي الباب الخامس عشر من كراهية الهنديه: والسبيل في المعاصي ردها وذلك ههنا برد المأخوذ ان تمكن من رده بأن عرف صاحبه وبالتصدق به ان لم يعرفه ليصل اليه نفع ماله ان كان لا يصل اليه عين ماله (عالمگيريه، ص٣٤٩، ج٥).

وفي العشرين من بيوعها: وانما طاب للمساكين على قياس اللقطة (عالمگيريه ص: ٢١٢، ج: ٣).

وفي التنوير وشرحه: (عليه ديون ومظالم جهل اربابها وايس) من عليه ذلك (من معرفتهم فعليه التصدق بقدرها من ماله وان استغرقت جميع ماله (ردالمحتار ص٣٣٣، ج٣).

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ان الذي يصرف في مصالح المسلمين هو الثالث (الخراج العشور) كما مر واما الرابع (الضوائع واللقط) فمصرفه المشهور هو اللقيط الفقير والفقراء الذين لا اولياء لهم (الى ان قال) وحاصله ان مصرفه العاجزون الفقراء (ردالمحتار، كتاب الزكوة ص٦٣، ج٢).

وفي التنوير وشرحه: (ندب رفعها لصاحبها) ان امن على نفسه تعريفها والا فالترك اولى وفي البدائع وان اخذها لنفسه حرم لانها كالغصب (و وجب) اى فرض فتح وغيره (عند خوف ضياعها) كمامر لان لمال المسلم حرمة كما لنفسه فلو ترکها حتى ضاعت اثم (ردالمحتار، ص٣٢٨، ج٣).

په بانك كښې د سود پريښودلو په صورت كښې دا خبره يقيني ده چه دا پيسې د هغې په صحيح مصرف باندې نه خرچ كيږي، بلكه د دې نه هم زياته دا خبره ده چه پدې كښې د سود خورو اعانت او امداد دې . نو له همدې كبله دغه پيسې د تصدق په غرض اخستل واجب دى او په بانك كښې يې پريښودل ګناه ده، لكه څنګه چه د ضايع كيدو د ويرې په صورت كښې د لقطى اوچتول واجب دى. بعضې خلقو ته پدې خبره باندې اشكال پيدا شوې دې چه په بانك كښې د سود پريښودل خو څه د امر محرم ارتكاب ندې ، زيات نه زيات د امر محرم تسبيب دې او په اخستلو كښې د اخذ ربوا ارتكاب او مباشرت دې نو د دې وجه نه جائز كيدل ندى پكار

د دې خبرې جواب دا دې چه د ربوا د اخستلو مباشرت به هلته وی که په نیت د تملك سره یی واخلی، اوکه چیرته یی په نیت د تصدق او ایصال الحق الی المستحق سره واخلی نو په دې کښې اخذ د ربوا نه راځی، لکه څنګه چه التقاط د لقطی په نیت د تملك سره حرام دې او په نیت د ایصال الحق الی المستحق سره جائز دې بلکه په وخت د خوف د ضائع کیدلو کښې واجب دې.

او د دې نه علاوه له بانك نه په تحقیق سره دا معلومه شوې ده چه د سود پیسې په هر حال کښې د مالك په حساب کښې جمع کیږی او دغه پیسې بغیر له مالك نه بل هیڅوك نشی اخستلې، نو له همدې کبله دغه پیسې حکمًا د مالك په قبضه کښې حسابیږی. اوهغې له بانك نه د راویستلونه وراندې سود حاصل کړې دې چه دهغې د وبال نه د بچ کیدلو همدا یو صورت دې چه دغه پیسې په مسکینانو باندې بغیر د نیت د ثواب نه صدقه کړې شی، والله تعالی اعلم.

۳/ ذي القعده، سنه: ۱۳۷۱ هـ.

په غیر مسلم بانک کښې سود پریښودل

سوال: په غیر مسلم بانك کښې یا چه د کومو بانکونو بعضې مالکان غیر مسلم وی، مثلاً عیسائی، مرزائی، غالی، سبی، شیعه وغیره په دې بانك کښې شریکان وی نو په دغه بانکونو کښې که چیرته یو سړې د خپلې دینی ادارې پیسې کیږدی او دا ولیکی چه زه به په دې پیسو باندې سود نه اخلم، اودغه سړی ته دا هم معلومه وی چه که چیرته زه د هغې سود وانخلم نو زما د پیسو سود د کفر په نشر او اشاعت (خوررولو) کښې مصرف کیږی، څکه چه د بانك څښتن به هغه پیسې په عیسوی ماشین آلاتو کښې مصرف کړی او یا به یی د شیعه ګانو اومیرزایانو ادارو ته ورکړی. نو آیا په دې صورت کښې په دغه بانکونو کښې خپلې پیسې بغیر له سود اخستلو نه کینبودل جائز دی اوکه نه؟ اوبله دا چه که چیرته د خپلو پیسو سودواخلی او په مسکینانو باندې یی صدقه کړی نو د دې څه حکم دې؟، د شریعت مطابق په دې دواړو صورتونو کښې اهون (سپك) صورت کوم یو دې؟ که چیرته اکثره حصه د بانك د یو مسلمان وی او دغیر مسلمان حصه کمه وی نو آیا پدې مسئله کښې بیا څه فرق پریوځی اوکه نه؟ مدلل یی ولیکئ، بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دبانك مالك برابره خبره ده که مسلمان وی او که کافر، په هر صورت کښې په بانك کښې پیسې کینبودل جائز ندی، اوکه چا د ناخبرتیا او یا د سخت ضرورت له وجه نه په بانك کښې پیسې کینبودلې نو دهغې سود په بانك کښې پریښودل جائز ندی څکه چه په بانك کښې د مختلفو خلقو د پیسو نه خلاف شرع حاصل کړې شوی منافع ارباح فاسده دی چه هغه په حکم د لقطې کښې دی. اوچونکه د هغې مالك معلوم ندې نو له همدې کبله له بانك نه د سود پیسې اخستل اوبیا دهغې صدقه کول په فقیرانو باندې واجب دی.

وفي الباب الخامس عشر من كراهية الهندية: والسبيل في المعاصي ردها وذلك ههنا برد المأخوذ ان تمكن من رده بأن عرف صاحبه وبالتصدق به ان لم يعرفه ليصل اليه نفع ماله ان كان لا يصل اليه عين ماله (عالمگیریه، ص۳۴۹ ج۵).

له دې نه علاوه په دې کښې په سودی کاروبار کښې د تعاون گناه هم ده.

تنبیه قادیانیان. شیعه گان اوهرهغه فرقه یا شخص چه د کافر کیدلو با وجود د اسلام دعوه کوی دهغه حکم له عامو کفارونه جدا دې. دغه خلق زندیقان دی له دوئ سره هیڅ قسم معامله جائز نده. له دوئ سره بیعه. شراء. اجاره. استجاره وغیره د معاملاتو تفصیل دې په کتاب الحظر والاباحة کښې وکتلې شی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۱ صفر. سنه ۱۳۸۲ هـ

د یتیم مال په بانک کښې کیښودل او دهغې سود اخستل

سوال : یو سړې مړ شو او دهغه واړه واړه بچی پاتې شول. اودغه سړی یوڅه پیسې په میراث کښې پریښودلې نودهغه خپلوانو دغه د میراث پیسې په بانک کښې داخلې کړې چه په هغې یې فائده اونفع اخستله. بل سړی ورته اووئیل چه دا نفع نده بلکه سود دې، نوډې خلقو په جواب کښې ورته وه وئیل چه د بانک له خلقو سره دا خبره شوې ده چه که په بانک کښې څه نقصان وشی مثلاً اور ولگیږی نو ددې یتیمانو دغه پیسې به تلف گڼلې شی اوکه نقصان نه وی نو نفع به یې هغوئ ته ورکولې شی نو له همدې کبله دا گټه حلاله ده ځکه چه که چیرته نقصان وشی نو مونږ یې منو. د دې معاملې شرعی حیثیت څه دې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : دا سود دې چه په هر حال کښې حرام دې او په دې باندې لعنت راغلې دې. په دنیا او آخرت کښې د دې وبال او عذاب په هغه خلقو باندې دې چه چا دغه پیسې په بانک کښې داخلې کړی وی. والله سبحانه وتعالی اعلم ۸ ذی قعده. سنه ۹۹ هـ.

د مسکینانو دگټې لپاره سود اخستل

سوال (۱) : یو سړې د مدرسې مهتمم ددې. د مدرسې پیسې له هغه سره وی. دغه مهتمم دا پیسې په بانک کښې داخلوی اودهغه دا نظریه ده چه د دې فائده (سود) واخستلې شی لپاره د دې چه د ضرورت په وقت کښې مسکینانو ته ورکړې شی

آیا د دې سړی دغه نظریه صحیح ده اوکه د دې پیسو فائده په بانک کښې پریښودل پکار دی او ... پیسې په یوه داسې سلسله داخلې کړی چه په هغې کښې بیخې نفع نه وی

خلاصه دا چه د مسکینانو کتل پکار دی اوکه د سود نه د ځان بچ کولو ته ترجیح ورکړې شی.

له خبره دا ده چه د ذکر شوی مصلحت په بناء باندې د عدم جواز په صورت کښې نفع اخستل حرام

دی او که مکروه دی ؟

سوال (۲) همدارنګه خپلې شخصی پیسې د مسکینانو د مصلحت لپاره په بانك کښې د کیښودلو څه حکم دې؟ بنوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که صرف د حفاظت په خاطر په بانك کښې پیسې کیښودل ضروری وی نو (لاکر) کښې دې کیږدی . د مسکینانو د مصلحت لپاره له بانك څخه سود اخستل جائز ندی. سودی کاروبار په هر صورت حرام دې . والله سبحانه تعالی اعلم

۲ شوال. سنه ۱۳۹۲ هـ

په دارالحرب کښې له کفارو نه سود اخستل

سوال آیا په دارالحرب کښې له کفارو نه سود اخستل حلال دی او که حرام دی ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دارالحرب کښې له کفارو نه سود اخستل د جمهورو علماؤ په نزد حرام دی. دری اماماں او له احنافو څخه امام ابویوسف رحمهم الله تعالی د دې دحرمت قائل دی. البته امام اعظم امام ابوحنیفه رحمه الله اوامام محمد رحمه الله تعالی نه په دارالحرب کښې د سود د اخستلو جواز منقول دې .

د د امام صاحب رحمه الله تعالی دقول هم بعضې علماؤ دا مطلب بیان کړې دې چه د جمهورو علماؤ خلاف نه پاتې کیږی. یعنی دهغه په نزد هم دا سود اخستل حرام دی .

په قرآن کریم کښې د الله تعالی او دهغه د رسول صلی الله علیه وسلم له طرف نه دجنګ اعلان دې په احادیثو کښې هم دسود په هکله سخت وعیدونه راغلی دی چه هغې ته په کتو سره یو مسلمان د سود په شبهې باندې هم جرئت نشی کولې

په یو روایت کښې راغلی دی چه د سود په کاروبار کښې ډیر ګناهونه دی چه په هغې کښې تر ټولو کوچنی ګناه له مور سره د زنا کولو برابره ده. په یوبل حدیث کښې راغلی دی چه د سود یو درهم اخستل د شپږ دیرش زناګانونه زیات سخت دی (مشکوة)

د حضرت عمر رضی الله تعای عنه ارشاد دې چه ((فدعوا الربوا والريبة))

په کنزالعمال کښې یې د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د قول مطلب داسې نقل کړې دې ((ترکنا تسعة اعشار الحلال خشية الربوا))

نو له همدې کبله د محققینو علماؤ دا فتوی ده چه په هندوستان کښې له کفارونه سود اخستل حرام دی . والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۲ محرم . سنه ۱۳۷۳ هـ

د بانک له سود نه د انکم ټیکس (حکومتی مالیه) اداء کول

سوال د سود هغه پیسې چه په بانك کښې د حفاظت دپاره د کیښودلې شوی پسو څخه

حاصلې شي. آیا له همدې پیسو نه د حکومت لخوا څخه په مقرر شوی ټیکس یا مالیه کښې ورکول او د دې غیر شرعی پیسو په ذریعې سره د غیر شرعی ټیکس نه برائت حاصلول جائز دی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: له بانك نه چه کوم سود لاسته راځي هغه دحکومت له خزانې څخه نه وی نو له همدې کبله له هغې څخه ټیکس یا مالیه اداء کول صحیح نه دی بلکه د مالك د مجهول والي له جهته یې په مسکینانو باندې صدقه کول واجب دی. البته له نورو حکومتی محکمو نه چه څنګه ممکن وی داداء کړې شوی ټیکس مقدار د ده لپاره حلال او طیب دې. ځکه چه د انکم ټیکس مروجه طریقه محض یو ظلم دې اومظلوم خپل حق د غلا په ذریعه هم اخستلې شي

قال ابن عابدین رحمه الله تعالی فی باب حد السرقة: فاذا ظفر بمال مدیونه له الاخذ دیانة بل له الاخذ من خلاف الجنس علی ماذکرنا قریبًا. (ردالمحتار ص: (۲۰۶)، ج: (۳)، والله سبحانه وتعالی اعلم.

۴ رجب. سنه ۱۳۷۳ هـ.

د بانک د څوکیدار تنخواه حرامه ده

سوال که چیرته څوك په بانك کښې څوکیداری کوی نو دهغه د تنخواه څه حکم دې؟ ځکه چه دهغه دکار د سود له کاروبار سره هیڅ تعلق نشته دې. صرف له بانك نه دتنخواه اخستلو مسئله ده چه ظاهرًا هغه جائزه معلومیږی ځکه چه د بانك په سرمایه کښې حلال غالب دی. د سود وغیره په نسبت د نورو کهاتو لرونکو پیسې زیاتې دی. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د بانك پیسې په دوه قسمه دی: یو اصل سرمایه او دویم منافع یا آمدنی. په اصل سرمایه کښې حلال غالب دی. له همدې وجه نه په بانك کښې کیښودلې شوې خپلې پیسې واپس اخستل جائز دی. اودا پیسې حلالې هم دی.

او دویم قسم یعنی د بانك په آمدن کښې د سود او نورو فاسدو منافعو غلبه ده. او عقلاً او عرفًا قاعده ده چه په هرقسم کاروبار کښې د نوکرانو تنخواه ګانې اونور مصارف له آمدن سره تعلق لری. مصارف د اصل سرمایې په ځای له آمدن څخه اخستل کیږی. له همدې کبله د بانك هر قسم تنخواه حرامه ده برابره خبره ده که د هغې له سودی کاروبار سره تعلق وی اوکه نه. والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۵ ذی الحجه. سنه ۱۳۱۱ هـ

نوټ په کم قیمت سره ورکول

سوال آیا نوټ په کم قیمت سره چلول جائز دی اوکه نه. خصوصًا په داسې حال کښې چه هغه ونشلیږی اوبانك یې هم نه اخلی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب نه ؛ دا جائز ندی. بانك خو قانونا د پوره قیمت ورکولو ضامن دې، که چیرته مجبوری وی نو بیا دجواز دا صورت کیدې شی چه یونوټ په بل نوټ باندې د بدلولو په ځای په هغې باندې یوبل شې واخستلې شی، که په دې صورت کښې بائع او مشتری د مبیعې په کم مقدار باندې هم راضی شول نو جائز دی. مقصد دا چه که د نقدو بیعه په نقدو سره وی نو په دې کښې کموالې اوزیاتوالې جائز ندې. اوکه په بل شی سره وی نو جائزه ده. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۵ شوال . سنه: ۸۲ هـ.

د تیر شوی سوال په شان یوبل سوال

سوال بعضې خلق خپل نوټونه بانك ته نشی رسولې اوهغوی د سلو روپو نوټ په اتیا (۸۰) روپئ او د پنځو سوو (۵۰۰) نوټ په څلور سوه (۴۰۰) روپو باندې خرڅ کړو، آیا دا خریداو فروخت په دغه رنګه اضطراری حالت کښې جائز دې اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا بیعه د ربوا کیدلو په وجه حرامه ده. په اضطراری حالت کښې دا صورت هم اختیار کیدلې شو چه د سلو روپو دنوټ په عوض کښې یی د اتیا روپو دمالیت سامان اخستلې وای ، دویم صورت دا کیدې شو چه د سلو روپو په بانك کښې د داخلولو لپاره یی شل روپئ (۲۰) په أجرت (مزدوری) کښې ورکړې وای. والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۴ جمادی الاولی . سنه: ۹۱ هـ.

د یو تاکلې شوی لوښې په ذریعې سره دقرض اخستل او ورکول

سوال زید له عمر نه یوه پیاله چینی (بوره) قرض واخستله. آیا دا معامله جائزه ده اوکه نه؟ په داسې حال کښې چه په معین لوښی سره فقهاء کرامو قرض اخستل جائز کړی دی او له دې نه علاوه بوره (چینی) وزنی ده نو د دې استقراض کیلاً د ربوا د احتمال له وجهې نه ناجائز کیدل پکار دی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب هوا ؛ دا جائز دی ځکه چه په معین لوښی سره د استقراض د ناجائز کیدلو وجه دلته مفقوده ده ځکه چه د ضائع کیدلو په صورت کښې بعینه دهغې په شان پیاله راتلې شی. اوبالفرض که چیرته څه تفاوت هم وی نو هغه غیر معتبر دې . لان العرف على اهدارة

برسیره پر دې دا د معیار سوی لاندې نه راځی . لان اقل المعیار فی الکیل نصف الصاع وفی الوزن الرطل وما لا یدخل تحت المعیار الشرعی لا یتحقق فیه ربوا کما فی بیع الحفنة بالحفنتین والتفاحة بالتفاحتین

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۴ / صفر . سنه : ۱۴۰۷ هـ

د بیمې حکم

سوال : زما یو ملګرې دې چه د بیمې د کمپنئ نماینده دې. هغه له ما نه د دې خبرې مطالبه کوی چه زه خپل ژوند بیمه کړم، او هغه دا وایی چه د بیمې شرکتونه او کمپنیانې مطلقًا سودی کاروبار نه کوی نو ځکه دا کار جائز دې . تاسو مهربانې وکړئ چه آیا دا بیمه جائزه ده او که نه ؟ او که جائزه نه وی نو له کومې وجهې نه جائزه نده. زه له یو عالم دین نه د دې دوجهِ پوښتنه بې ادبی ګڼم لیکن د دې لپاره چه په دې موجوده وخت کښې هغه خپل دوست ته جواب ورکړې شم . الله تعالی دې تاسو ته جزاء خیر درکړی بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د بیمې ډیر اقسام دی په هغې کښې د ژوند د بیمې د ناجائز کیدلو دا لاندې وجوهات دی :

(۱) چه کومې پیسې په قسطونو سره اداء کیږی هغه د بیمې د کمپنئ په ذمه قرض دی او په هغې باندې چه کومې زیاتې پیسې ورکولې کیږی له هغې نه په منافعو سره تعبیر کول کیږی. او هغه سود دې (کل قرض جر نفعًا فهو ربوا) نو له همدې کبله د ژوند بیمه قطعًا جائز نده .

(۲) د بیمې کاروبار مشروط بالشرط وی او مشروط قرض حرام دې .

قال الامام طاهر بن عبدالرشید البخاری رحمه الله تعالی : وفی کفالة الاصل فی الباب الاخیر القرض بالشرط حرام والشرط لیس بلازم. (خلاصة الفتاوی، ص: ۵۳، ج: ۳).

(۳) بیمه مؤجله وی او په قرض کښې تاجیل صحیح ندې .

قال الامام المرغینانی رحمه الله تعالی : فان تأجیله لایصح (الی قوله) وعلی اعتبار الانتهاء لایصح لانه یصیر بیع الدراهم بالدراهم نسیئة وهو ربوا. (هدایة، ص: ۶۱، ج: ۳).

(۴) د شرکت خاوند په دې پیسو باندې له خلقو سره سودی معامله کوی نو د بیمې په کولو سره تعاون علی الاثم دې

قال الله تعالی ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾

ګیتی وارډ (دلوبو یو قسم دې) لوبه قمار دې

سوال آیا د مروجه ګیتی وارډ لوبې څخه چه کومې پیسې لاسته راځی هغه حلالې دی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ګیتی وارډ د قماریو قسم دې نو له همدې کبله له دې لوبې څخه

لاسته راغلي پيسې حرامې دی . والله سبحانه وتعالی اعلم　۱۲ / رجب . سنه ۱۳۹۱ هـ

د علاج لپاره بیمه

سوال په امریکا کښې کښې دعلاج اومعالجې سهولتونه اوآسانتیاوې د شخصي ادارو په ذمه دی . دحکومت وقت له طرفه د خلقو د علاج لپاره دشفاخانو انتظام د نشت برابر دې . او دحکومت وینا ده چه د مریض لپاره تر ټولو بهتر علاج اوهغه ته د ډیرې پاملرنې ضرورت دې. او شخصي اداري په ډیرې بهترې طریقې سره د علاج سهولیات مریضانو ته ورکولې شی. عام خلق د علاج لپاره په شخصي ادارو کښې بیمه کوی او د ضرورت په وقت کښې د مریض د دوایانو ټول مصارف انشورنس د شرکت لخوا نه شفاخانې ته ورکول کیږی . دغه انشورنس شرکت له بیمه کونکی نه هره میاشت یوڅه پیسې اخلی، نو آیا د امریکې په شان ملك اوماحول په دغه صورت حال کښې د همدې مقصد لپاره انشورنس کول جائز دی اوکه نه ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : نه ؛ دا جائز ندی ، والله سبحانه وتعالی اعلم . ۱۹ / ذی قعده سنه ۱۳۹۸ هـ

دګاډی بیمه کول روا نه دی

سوال په امریکا کښې دهر موټر خاوند قانونًا مجبور دې چه د خپل موټر کم نه کم د دې خبرې خامخا انشورنس وکړی چه که چیرته دهغه موټر ته څه حادثه پیښې شی اوپه حادثه کښې د ده غلطی وی نوهغه به د بل سړی د موټر نقصان او د متاثر شوی خلقو دعلاج پوره ذمه وار وی. او د خپلې انشورنس کمپنۍ په تعاون سره به هغه بل سړ ته پوره تاوان ورکوی . نو آیا په دې صورت کښې د ضرورت مطابق د موټر انشورنس جائز دې اوکه نه ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : هرکله چه د موټر د خاوند له طرفه د بیمې معاهده په خپلې خوښې سره نده بلکه دا دحکومت له طرفه یو جبر او ظلم دې نو له همدې کبله د ضرورت په وخت کښې د دې ګنجائش شته. لیکن که دحادثې په صورت کښې د ده له جمع کړې شوو پیسو نه زیاتې ورکړې شوې نو دهغې صدقه کول واجب دی . والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۹ ذی قعده . سنه ۱۳۹۸ هـ

د هلال احمر ټکټونه اخستل

هلال احمر یوه پاکستانی اداره ده چه د پنځو روپو او د دریو روپو ټیکټونه خرڅوی او د لاسته راوړل شوو پیسو نه هره میاشت درې لاکهه او یا یونیم لاکهه روپۍ د انعام په صورت کښې په همدغه خلقو باندې تقسیموی اوباقی پیسې د وینې په عطیه . امبولانس. شفاخانو. ایکسری . معاینه خانو او د مریضانو په علاج باندې مصرف کوی اوهمدارنګه د ناګهانی آفتونو څخه متاثر

شوی خلقو امداد هم کوی، نو آیا د دې ټکټونو اخستل اوبیا په هغې باندې دغه انعام اخستل جائز دی اوکه نه ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب: دا دسود او قمار مجموعه ده . نو له همدې کبله حرامه ده . والله سبحانه وتعالی اعلم . ۲۲ / رجب . سنه : ۱۴۰۰ هـ .

انعامی بانډ اخستل

سوال: آیا انعامی بانډ اخستل جائز دی اوکه نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: نه ؛ د دې اخستل جائز ندی. او داهم د سود او قمار مجموعه ده او د حرام لپاسه حرام دې . والله سبحانه وتعالی اعلم . ۲۳ / شوال . سنه : ۱۴۰۰ هـ .

د سود پیسې په بیمه کنبې ورکول جائز ندی

سوال: د څو څیزونو بیمه په موجوده نظام کنبې ډیره ضروری ده لکه د صحت بیمه ، د موټر بیمه. د هغه قیمتی څیزونو بیمه چه د ډاکخانو په ذریعه سره لیږل کیږی ، نو سوال دا دې چه آیا له بانك نه اخستل شوې سود په دغه رنګه بیمه کنبې ورکول جائز دی اوکه نه؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب: نه ؛ دا جائز ندی ، والله سبحانه وتعالی اعلم . ۱۲ / ذی الحجه. سنه ۱۴۰۰ هـ .

د ایل سی حکم

سوال: الف له انګلستان نه د یو لاکهه روپو سامان راوړل غواړی . د انګلستان والا مال ورکونکې (ب) له الف نه مطالبه کوی چه ماته د دې خبرې ضمانت راکړه چه د مال قیمت په هر صورت کنبې اداء کړې شی. الف د پاکستانی بانك (ج) ته راځی او له هغه نه ضمانت غواړی. بانك (ج) هغه د انګلستان مال ورکونکی ته د الف له طرف ه مطلوبه ضمانت په دې شرط ورکوی چه الف به (ج) ته په مقرر شوی شرط باندې د پیسو د مقدار په مناسبت سره کمیشن ورکوی. نو آیا د الف لپاره د داسې کمیشن ورکول جائز دی اوکه نه او (ج) لره د داسې کمیشن اخستل جائز دی اوکه نه ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب: د ضامن جوړیدلو اجرت جائز ندې. د ذکر شوې مسئلې د جواز آسان صورت خو دا وو چه الف (ج) لره د پیسو د اداء کولو وکیل بالاجر جوړکړی . نو (ج) چه څومره پیسې د ضامن جوړیدلو په بدل کنبې اخلی نو هغه دې د پیسو د اداء کولو د اُجرت په حیث سره واخلی. لیکن له تحقیق نه دا معلومه شوه چه (ج) د پیسو د رسیدلو اجرت له (ب) نه جدا اخلی. نو له همدې کبله کله چه په دې باندې نور هم غور وشو نو د جواز دوه صورتونه په نظر راغلل

(۱) (ج) چه کله ضمانت کوی نو له دې سره هغه يو څو کارونه نور هم کوی ، مثلاً د الف د حالاتو تحقيق او حساب ساتل وغيره. نو د ضمانت عوض اخستل د دې کار په بدل کښې کيدې شی

(۲) اوهمدارنګه چونکه د (ج) له ضمانت نه بغير (ب) په بيعه باندې راضی هم ندې نو فلهذا د ده لپاره د (ج) ضمانت سعی فی ارضاء البائع ده. لهذا دې په حکم د سمسار کښې دې . والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲/ رجب ، سنه ۱۴۰۰ هـ

د پورتنی سوال په شان يوبل سوال

سوال: مونږ د پاکستان مال په بيرونی ملکونو کښې خرڅه وؤ . په همدې سلسله کښې بهرنی ګاهك (خريدار) زمونږ په نوم باندې په بانك کښې (ايل سی) خلاصوی . دا ايل سی د بانك له طرفه يو قسم ضمانت وی چه که مونږ کله هم مال وليږو نو بانك به د ګاهك (خريدار) له طرف نه پيسې ضروری مونږ ته راکوی. په دې سلسله کښې عرض دا دې چه بعضې خريداران ايل سی داسې خلاصوی چه بانك مونږ ته پيسې د مال له ليږلو نه وروسته سمدستی ادا کوی. ليکن بعضې خريداران د خپلې مجبورئ له کبله خپله ايل سی داسې خلاصوی چه په هغې کښې دا شرط وی چه پيسې به د مال له ليږلو نه (۱۸۰) ورځې ورسته ورکوی، په دې صورت کښې له مونږ سره دوه لارې دی : اول دا چه مونږ (۱۸۰) ورځې انتظار وکړو او له هغې نه وروسته له بانك څخه پيسې واخلو. دويم دا چه که مونږ فوراً پيسې اخستل غواړو نو بانك له هغې نه يوڅه پيسې کموی اوباقی پيسې فوراً مونږ ته راکوی، د دې پيسود کمولو صورت داسې وی چه په بانك کښې د جمع شوو پيسو نه د (۱۸۰) ورځو په اندازه پيسې کموی. په بل عبارت سره داسې ويلې شو چه دا د قرض معامله ده ، يعنی که (۱۸۰) ورځې وروسته مونږ پيسې اخلو نو مونږ ته به يوه روپئ راکوی اوکه فوراً يې اخلو نو مونږ ته بيا دولس آنې راکوی. د ايل سی په وجه له (۱۸۰) ورځو نه وروسته پيسې راکول يقينی وی . بانك چه يوڅه پيسې له مونږ څخه حصاروی نو باقی پيسې له خپل طرف نه مونږ ته راکوی او په خپله يې (۱۸۰) ورځې وروسته له هغه خريدار څخه اخلی . آيا دا معامله شرعًا جائز ده اوکه نه؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب د دې معاملې حقيقت دا دې چه په خريدار باندې ستا څومره قرض دې هغه د کمو پيسو په عوض کښې ته په بانك باندې خرڅوې . فلهذا دا معامله سود دې نو له همدې کبله جائزه نده والله سبحانه وتعالى اعلم ۳ جمادی الاولی . سنه ۱۴۰۲ هـ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿وَمَا تَوْفِيقِيٓ إِلَّا بِاللّٰهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾

زيادة البدل لاجل الاجل

«د قرض په وجه د قيمت د زياتوالی حکم»

د قرض له کبله په ثمن کښې زياتوالي

سوال: يو سړي يو څيز په دې طريقې سره خرڅوی چه که چيرې پيسې دې اوس راکړې نو دا څيز په پنځلس روپۍ دې اوکه پيسې وروسته راکوې نو بيا به يې په شل روپۍ درکوم . نو آيا دا صورت د سود دې اوکه نه ؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې صورت کښې سود نشته . البته دا خبره ضروری ده چه په همدغه مجلس کښې دا فيصله وکړی چه مشتری به يې په نقدو اخلی اوکه په قرض . د دې لپاره چه ثمن معين کړې شی (چه پنځلس روپۍ دی اويا شل روپۍ دی) که چيرته څه فيصله ونکړی بلکه همدارنګه بيعه وکړی چه که نقدې روپۍ دې راکړې نو په پنځلس روپۍ دې اوکه نه نو بيا په شل روپۍ دې نو په دې صورت کښې د ثمن د جهالت له وجهې نه دا بيعه فاسده شوه

قال العلامة المرغينانی رحمه الله تعالى: الا ترى انه يزاد فی الثمن لاجل الاجل (هدايه: ج:۳).

وفی الهندية عن الفتح واما البطلان فيما اذا قال بعتك بالف حالاً وبالفين الى سنة فلجهالة الثمن (عالمگيرية ج:۳). فقط والله تعالى اعلم.　　　　۲۱ . ذی الحجه . سنة ۱۳۷۱ هـ گز

د تير شوی په شان يوبل سوال

سوال يوڅه وخت وشو چه تاسو د قرض له وجهې نه په ثمن کښې د زيادت د جواز فتوی ورکړې ده ليکن دلته يو مولانا صاحب د عدم جواز فتوی ورکوی او په دليل کښې دا لاندې عبارتونه پيش کوی

د هدايه د کتاب الصلح په اول کښې راغلی دی چه (الاعتياض عن الاجل حرام).

په عالمگيری باب العاشر کښې دی چه (رجل باع على انه بالنقد بكذا او بالنسيئة بكذا او الى شهر بكذا والى شهرين بكذا لم يجز. كذا فی الخلاصة (عالمگيرية جلد ۳ ص ...).

په قاضي خان كښې دى چه (لايجوز بيع الحنطة بثمن النسيئة اقل من سعر البلد فانه فاسد واهل ثمنه حرام ايضًا. فى الايضاح ان بيع الحنطة بنقصان حكم البلد فاسد وان اهل الثمن بعد مضى المدة حرام لان الثمن متفاضل بالحكم وهو الربوا.

همدارنګه په هدايه كښې دى چه (لان الاجل لايقابله شئ من الثمن).

اميد دې چه د پورتنيو عباراتو په نظر كښې نيولو سره به د دې مسئلې تحقيق بيان كړئ . مهرباني وكړئ جواب مونږ ته زرترزره راوليږئ ، له تاسونه يو جهان مننه . بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب: د ذكر شوى صورت جواز له حديث نه ثابت دې . په احاديثو كښې په ربوى اموالو كښې نساء ته حرام ويلې شوى دى. چه له دې نه دا خبره څرګنديږى چه په دې كښې فضل حكمى دې. د «مثلاً بمثلٍ ، يداً بيدٍ» دواړو په مقابل كښې يې اوفرمائيل چه «والفضل ربا» كه چيرته اجل لره د ثمن په كموالى او زياتوالى كښې دخل نه واى نو له «يداً بيدٍ» سره به د «والفضل» مقابل كيدل صحيح نه وؤ . په اموال ربويه كښې د حرمت نساء سبب صرف همدا دې چه د مؤجل نه په معجل كښې فضل حكمى دې .

د فقهې په تولو كتابونو كښې هم د زيادة الثمن للاجل دجواز تصريح شوې ده .

فى باب المرابحة والتولية من الهداية يقوم بثمن حال وبثمن مؤجل فيرجع بفضل ما بينهما .

وايضًا فيها لان للاجل شبها بالمبيع الاترى انه يزاد فى الثمن لاجل الاجل (هدايه ص:٧٦، ج:٣).

وكذا فى البحر والفتح وشرح التنوير والشامية وغيرها .

وزاد فى البحر (بعد اسطر) الاجل فى نفسه ليس بمال ولايقابله شئ من الثمن حقيقةً اذا لم يشترط زيادة الثمن بمقابلة قصدًا ويزاد فى الثمن لاجله اذا ذكر الاجل بمقابلة زيادة الثمن قصدًا .

وفى مرابحة شرح الوقاية فى النسيئة يزاد الثمن لاجل الاجل.

وفى النهر الفائق شرح الكنز الاترى انه يزاد فى الثمن لاجله.

وفى حواشى الشلبى على شرح الوقاية يجوز ان يقدر الثمن فى المبيع بالمؤجل اكثر مما فى المعجل بحيث تقابل كثرة المؤجل تعجيل القليل.

وفى كتاب الحجة قال محمد رحمه الله تعالى قال ابوحنيفة رحمه الله تعالى فى رجل يكون له على رجل مائة دينار الى اجل فاذا حلت قال له الذى عليه الدين بعنى سلعة يكون ثمنها مائة دينار نقدًا بمائة وخمسين الى اجل ان هذا جائز لانهما لم يشترطا شيئًا ولم يذكرا امرا يفسد به الشراء (كتاب الحجة، ص: ٦٩٣، ج: ٢).

وفيه ايضًا هكذا يتبايع الناس لانهم ظاهروا الزادوا اما بأس بهذا. (كتاب الحجة، ص: ۲۹۵، ج: ۲).

وفي الشامية ان الاجل يقابله قسط من الثمن.

وفي الفوائد السمية للعلامة الكواكبي مفتي الحلب لان المؤجل والاطول اجلاً انقص مالية من الحال ومن الاقصر اجلاً (الفوائد السمية باب المرابحة، ص: ۳۸، ج: ۲).

اوس په سوال کښې د راوړل شوی عباراتو جوابونه ليکل کيږی:

اول او څلورم عبارت د هدايي دي . د دې دواړو عبارتونو جواب دا دې چه اجل په حکم د صفت کښې دې لکه څنګه چه د اول عبارت په حاشيه کښې دی چه: (لان الاجل صفة كالجودة - الخ - الهدايه ص: ۲۵۰، ج: ۳).

او د صفت حکم دا دې چه د دې له وجهې نه په قيمت کښې کمې . زياتې واقع کيدې شی . دا د ثمن د زياتوالی باعث وی . ليکن وروسته له بيعې نه د صفت (عيب) د نشتوالی د ظهور له وجهې نه رجوع بالنقصان جائزه نده ، څکه چه صفت تابع دې او ځان له د دې په نقصان کښې د دې استقلال لازم وی، مقصد دا چه په موصوف کښې د صفت په وجه قيمت زياتيږی، ليکن دا په خپله مستقلاً د صفت قيمت نه وی الا ان يفرد بالذکر کماسيجيئ . دغه رنګه په اموال ربويه کښې د مبادلة الجنس په وقت کښې صفت ته اعتبار نه وی، حاصل د خبرې دا شو چه د صفت د وجهې نه د ثمن زياتوالي راځی ليکن په دوه صورتونو کښې د دې عوض جائز ندې: (۱) رجوع بالنقصان (۲) مبادله بالجنس.

په دې دواړو صورتونو کښې دصفت عوض اخستل صحيح ندی. د صفت دا حکم معلوم دې لهذا په دې باندې يو څو عبارتونه پيش کيږی:

والوصف لا يقابله شئ من الثمن كاطراف الحيوان (هدايه، ص: ۲۸، ج: ۳) لان الاوصاف لا يقابلها شئ من الثمن في مجرد العقد (الى قوله) وكل ما اوجب نقصان الثمن في عادة التجار فهو عيب لان التضرر بنقصان المالية - الخ (هدايه، ج: ۳، ص: ۴۴-۴۵).

لان الوصف وان كان تابعًا لكنه صار اصلاً بافرادة بذكر الثمن (هدايه، ج: ۳، ص: ۲۸) لانه (الوصف) صار مقصودًا بالاتلاف فيقابلها (العين) من الثمن (هدايه ۳، ص: ۶۹).

وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم في الاموال الربوية جيدها ورديها سواء.

له دغه فقهی عباراتو څخه دا څرګنده شوه چه د رجوع بالنقصان په وقت کښې د صفت عوض اخستل جائز ندی. اګرچه د صفت له وجهې نه په ثمن کښې زيادت راځی. او په حديث کښې

تصریح ده چه دجودت د صفت عوض په ربویاتو کښې جائز ندې.
د هدایې په اول عبارت کښې د اخستلو د عدم جواز دواړه موانع موجود دی . اصل عبارت په کتاب الصلح کښې داسې دې چه : (ولوکانت له الف مؤجلة ..... الخ)
په دې کښې د حرمت یو سبب خو دا دې چه قرض انتهاءً مبادله ده او اجل د صفت په حکم سره کړځی اودهغې په مقابله کښې نیم قرض یعنی پنځه سوه روپۍ مقروض ته ورکول کیږی نو دا د صفت عوض شو . عند مقابلة الربویات.

قال العلامة جلال الدین الخوارزمی رحمه الله تعالی: (قوله اعتیاض عن الاجل وهو حرام) وهذا لان الاجل صفة کالجودة والاعتیاض عن الجودة لایجوز فکذا عن الاجل. الا تری ان الشرع حرم ربا النسیئة ولیس فیه الا مقابلة المال بالاجل شبهة فلان یکون مقابلة المال بالاجل حقیقة حرامًا اولی (کفایة بهاش تکملة الفتح. ص ۳۹۷ . ج : ۷).

د حرمت دویم سبب دا دې چه مقروض ته دین ورکړې شوې وؤ سره له اصلی صفت نه. اوس دهغې دصفت اجل د فقدان له کبله په قرض غوښتونکې باندې په پنځو سوو (۵۰۰) کښې رجوع کوی. لهذا دا به جائز نه وی .
د هدایې په دویم عبارت کښې د عدم جواز فقط دویم سبب دې چه هغه په پوره عبارت کتلو سره پوره واضح کیږی، اوهغه عبارت دا دې چه :

ومن اشتری غلامًا بالف درهم نسیئة فباعه بربح مائة ولم یبین فعلم المشتری فان شاء رده وان شاء قبل لان للاجل شبهًا بالمبیع الا یری انه یزاد فی الثمن لاجل الاجل (الی قوله) وان استهلکه ثم علم لزمه بالف ومائة لان الاجل لایقابله شیئ من الثمن (هدایه، باب المرابحة والتولیة، ج:۳، ص:۷۶).

له دې ځخه دا څرګنده شوه چه داجل حکم بعینه د صفت دې ، په پورته ذکر شوی عبارت کښې دصفت په باره کښې بعینه دا الفاظ (**لایقابله شیئ من الثمن**) تیر شوې دي . البته په ربویاتو کښې د صفت جودت فرق غیر معتبر دي او د اجل د صفت فرق پکښې معتبر دې . په دې حکم کښې اجل د صفت په حکم کښې ندې ځکه چه دا فرق منصوص دې.
دویم عبارت چه په عالمګیری کښې له خلاصة الفتاوی ځخه نقل شوې دې دا په هغه صورت کښې دې چه په مجلس کښې هیڅ هم نوی مقرر شوی بلکه مبهم پریښودل شوی وی . دا صورت واقعةً د جهالت د ثمن له وجهې نه ناجائز دې

قال فی الفتح فی اوائل البیوع تحت (قوله ویجوز البیع بثمن حال ومؤجل) واما البطلان فیما اذا قال بعتکه بالف حالاً وبالفین الی سنة فلجهالة الثمن (فتح القدیر . ج ۵ . ص ۸۴).

نو که چیرته په همدې مجلس کښې دا خبره وشوه چه نقدو به یې اخلې او که په قرض باندې. نو بدې وقت کښې د عدم جواز هیڅ وجه نشته

په سوال کښې چه دخانیه (فتاوی قاضی خان) طرف ته کومه جزئیه منسوب شوې ده هغه جزئیه اول دلته د دارالافتاء کارکنانو کتله لیکن هغوئ ته په نظر رانغله بیا د مختلفو ادارو یوشمیر علماؤ ته وسپارلې شوه خوبیا هم د هیچا په نظر رانغله.

که چیرته بالفرض په کوم کتاب کښې دا جزئیه پیدا هم شی نو دا به خکه قابل قبول نه وی چه دا د امام ابوحنیفه رحمه الله له هغه تصریح نه خلاف ده چه کومه د امام محمد رحمه الله له کتاب الحجة نه پورته نقل کړې شوه . فقط والله سبحانه وتعالی اعلم . ۱۹ / ربیع الاول . سنه ۱۳۷۲ هـ.

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَمَا تَوْفِيقِيَ إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾

په پراویډنټ فنډ باندې

(دحکومتي مامورينو يو فنډ دي)

د زکوة او سود حکم

★ اول نقش: مفتی اعظم حضرت مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله تعالی

★ تصدیق: د جدیدو مسائلو دتحقیق مجلس.

★ نظر ثانی: حضرت فقیه العصر دامت برکاتهم.

د عصري او جديدو مسائلو د تحقيق مجلس

سرپرستان: ۱. حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب مدظله

۲. حضرت مولانا محمد یوسف بنوری صاحب مد ظله

ارکان ۱. مولانا مفتی رشید احمد صاحب رئیس دارالافتاء والارشاد

۲. حضرت مولانا مفتی ولی حسن صاحب مفتی جامعه اسلامیه بنوری ټاون

۳. حضرت مولانا عاشق الهی صاحب استاذ دارالعلوم کراچی

۴. حضرت مولانا محمد رفیع عثمانی صاحب استاذ دارالعلوم کراچی

۵. حضرت مولانا محمد تقی عثمانی صاحب استاذ دارالعلوم کراچی

په پراویډنټ فنډ

(دحکومتي ماموړينو د يوفنډ نوم دي)

باندې د زکوة او سود حکم

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ

د پراویډنټ فنډ رساله چه مؤلف یی حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله وؤ او تصدیق کونکی یی د جدیدو مسائلو د تحقیق مجلس وؤ چه په تحقیق کښې یی بنده هم شامل وؤ . د دغې رسالې له خپریدو نه وروسته په هغې باندې د نظر ثانی ضرورت پیدا شو مونږ په مختلفو وقتونو کښې ځو ځو وارې د دې رسالې په ژور نظر سره مطالعه وکړه مونږ په دغه رساله کښې دا لاندې احکام بعینه صحیح وموندل چه دهغې خلاصه داده :

۱ - د پراویډنټ فنډ په پیسو باندې مخکښې له اخستلو نه زکوة فرض ندې. او وروسته له اخستلو نه هم دهغې په تیرو شوو کلونو باندې زکوة فرض ندې، او د آینده کلونو د زکوة تفصیل یی په لاندې ډول دې :

که چیرته دغه سړې له پخوا څخه د نصاب خاوند وؤ نو په دغه نصاب باندې په کال تیریدلو سره پدې پیسو هم زکوة فرض دې اوکه پخوا دغه سړې صاحب د نصاب نه وؤ او د دې پراویډنټ فنډ په اخستلو سره د نصاب مالك شو نو د قمری میاشتې په کوم تاریخ باندې چه ورته دغه پیسې ورکړې شوی دی له هماغه تاریخ نه په یو کال تیریدلو سره پرې زکوة واجب کیږی .

۲ - په پراویډنټ فنډ کښې د مامور له جمع شوې تنخواه نه اضافه پیسې هم د ده لپاره حلالې دی یعنی کومې چه د هغه له تنخواه څخه هره میاشت کټ کولې شی. اوهغه پیسې هم کومې چه په دغه مجموعې باندې د سود په نوم اضافه کولې شی ځکه چه دغه شرعًا سود ندې

۳ - که چیرته د پراویډنټ فنډ پیسې د بیمې یو شرکت ته ورکړې شوې نو پدې باندې به زکوة فرض کړې شی. د هغه تفصیل مطابق چه پورته په اول نمبر کښې د فنډ د اخستلو نه وروسته دهغې مطابق لیکل شوې دې

په دې صورت کښې د بیمې د شرکت لخوا نه ورکړې شوی سود حرام دې .

په رساله باندې د نظر ثانی په نتیجه کښې ځو ذکر شوی احکام په خپل ځائ باندې درست دی . لیکن دهغې په بناء او دهغې په لیکل شوو دلائلو کښې یو څه کلام شته چه تفصیل یی دادې

د زکوة او دسود دواړو مسائلو بناء پدې باندې ایښودلې شوې ده چه

په پراویډنټ فنډ کښې جمع شوې تنخواه له اخستلو نه مخکښې د مامور په ملکیت کښې

داخله نده او په هغې کښې دهغه هيڅ قسم تصرف صحيح ندي.

دا دعوى صحيح نده ځکه چه دا پيسې د مامور په ملکيت کښې راتلل او په هغې کښې دهغه د تصرفاتو نافذ کول د فقهاء کرامو له نصوصو نه ثابت دي.

برسيره پر دي په هغه نصوصو کښې د دې خبرې هم تصريح شوې ده چه په بعضو کتابونو کښې د «تستحق» لفظ ليکل شوي دي له هغې نه تملك مراد دې . استحقاق په معنى د ملك سره يا په معنى د ظهور ملك سره د فقهاء کرامو په کلام کښې په کثرت سره استعماليږي . لکه استحقاق د مبيعې وغيره

دفقهې کتابونو ته په لږ غوندې مراجعې کولو سره چه کوم نصوص په آسانتيا سره زمونږ مخې ته راغلل هغه دلته نقل کولې شي

(١) قال الامام احمد رحمه الله تعالى في الجامع: ان الاجرة لاتملك بالعقد (عنايه بهامش تكملة فتح القدير، ص: ١٥٢، ج: ٧).

(٢) وذكره ايضًا الحافظ العينى رحمه الله تعالى (بنايه ص: ٦٢٧، ج: ٣).

(٣) والعلامة قاضى زاده رحمه الله تعالى (تكملة فتح القدير، ص: ١٥٣، ج: ٧).

(٤) والعلامة الطورى رحمه الله تعالى (تكملة البحرى ص: ٥، ج: ٨).

ومفهومه ان الاجرة تملك باحد معان اربعة كما في النصوص الآتية.

(٥) وقال ايضًا في الجامع: ومن له على آخر الف درهم فامره بان يشترى بها هذا العبد فاشتراه جاز (هدايه، ص: ١٨٦، ج: ٣).

(٦) وفي شرح الطحاوى رحمه الله تعالى: ثم الاجرة تستحق باحد معان ثلاثة اما بشرط التعجيل او بالتعجيل او باستيفاء المعقود عليه فان وجد احد هذه الاشياء الثلاثة فانه يملكها (هنديه ص: ٤١٣، ج: ٣).

(٧) وقال الامام طاهر بن عبد الرشيد رحمه الله تعالى: ثم الاجرة انما يستحق بالتعجيل او اشتراط التعجيل او باستيفاء المعقود عليه ولا يملك بمجرد العقد عندنا (خلاصة الفتاوى، ص: ١٠٢، ج: ٣).

(٨) وقال الامام الكاسانى رحمه الله تعالى: في شرائط فرضية الزكوة ومنها الملك المطلق وهو ان يكون مملوكا له رقبة ويدًا (ثم قال) وقال ابويوسف ومحمد رحمهما الله تعالى الديون كلها سواء وكلها قوية تجب الزكوة فيها قبل القبض الا الدية على العاقلة ومال الكتابة فانه لاتجب الزكوة فيها اصلاً مالم تقبض ويحول عليها الحول وجه قولهما ان ما سوى بدل الكتابة والدية على العاقلة ملك صاحب الدين ملكًا مطلقًا رقبة ويدا لتمكنه من

القبض بقبض بدله وهو العين فتجب فيه الزكوة كسائر الاعيان المملوكة ملكاً مطلقاً الا انه لا يخاطب بالاداء للحال لانه ليس في يده حقيقةً فاذا حصل في يده يخاطب باداء الزكوة قدر المقبوض كما هو مذهبهما في العين فيما زاد على النصاب بخلاف الدية وبدل الكتابة لان ذلك ليس بملك مطلق بل هو ملك ناقص على ما بينا والله اعلم. ولابي حنيفة رحمه الله تعالى وجهان : احدهما ان الدين ليس بمال بل هو فعل واجب وهو فعل تمليك المال وتسليمه الى صاحب الدين والزكوة انما تجب في المال فاذا لم يكن مالاً لا تجب فيه الزكوة ودليل كون الدين فعلاً من وجوه ذكرناها في الكفالة بالدين عن ميت مفلس في الخلافيات كان ينبغي ان لا تجب الزكوة في دين ما لم يقبض ويحول عليه الحول الا ان ما وجب له بدلاً عن مال التجارة اعطى له حكم المال لان بدل الشئ قائم مقامه كأنه هو فصار كأن المبدل قائم في يده وانه مال التجارة وقد حال عليه الحول في يده والثاني ان كان الدين مالاً مملوكاً ايضاً لكنه مال لا يحتمل القبض لانه ليس بمال حقيقة بل هو مال حكمي في الذمة وما في الذمة لا يمكن قبضه فلم يكن مالاً مملوكاً رقبة ويداً فلا تجب الزكوة فيه كمال الضمار فقياس هذا ان لا تجب الزكوة في الديون كلها لنقصان الملك بفوات اليد الا ان الدين الذي هو بدل مال التجارة التحق بالعين في احتمال القبض لكونه بدل مال التجارة قابل للقبض والبدل يقام مقام المبدل والمبدل عين قائمة قابلة للقبض فكذا ما يقوم مقامه وهذا المعنى لا يوجد فيما ليس ببدل رأساً ولا فيما هو بدل عما ليس بمال وكذا في بدل مال ليس للتجارة على الرواية الصحيحة انه لا تجب فيه الزكوة ما لم يقبض قدر النصاب ويحول عليه الحول بعد القبض لان الثمن بدل مال ليس للتجارة فيقوم مقام المبدل ولو كان المبدل قائماً في يده حقيقةً لا تجب الزكوة فيه فكذا في بدله بخلاف بدل مال التجارة (بدائع ص: ۱۰۹ ج: ۲).

دحرمت د حكم لپاره د ربا شبهه هم كافي ده نو د ملك ناقص نه په طريق اولى سره حرمت د ربا ثابتيږي بالخصوص چه كله د أجرت په دين كښې هم ملك كامل دې .

(۹) وقال الامام قاضيخان رحمه الله تعالى : رجل أجر دارة سنة بعبد بعينه ثم ان الأجر اعتق العبد من ساعته لم يجز اعتاقه الا ان يكون تعجيل الاجر شرطاً في الاجارة او لم يكن شرطاً في الاجارة لكنه عجل (خانيه بهامش الهنديه ص: ۳۰۲ ج: ۲).

(۱۰) وقال ايضاً : وفي الاجارة المضافة الأجرة لا يملك الاجر بالتعجيل ولا باشتراط التعجيل (الى قوله) فيلو على الرواية التي تفسد الملك في الاجارة لمكان الحاجة (خانيه بهامش الهنديه ص: ۳۰۲ ج: ۲).

(۱۱) وقال ايضاً : واذا ملك المستأجر العين المستأجرة بميراث اوهبة او نحو ذلك بطلت الاجارة ولو كانت

الاجرة عينًا فوهبه من المستأجر قبل القبض بطلت فی قول محمد رحمه الله تعالیٰ ولو كانت الاجرة دينًا فوهبها من المستأجر قبل القبض او ابرأه جازت الهبة والابراء ولا تبطل الاجارة وقال ابو يوسف رحمه الله تعالیٰ الابراء باطل فی الوجوه كلها والاجارة باقية (خانيه بهامش الهنديه ص: ۳۵۶، ج: ۲).

(۱۲) وقال الامام برهان الدين رحمه الله تعالیٰ فی المحيط : فان كانت هذه التصرفات (الابراء والهبة للمستأجر) من المؤجر بعد استيفاء المنفعة جازت بلا خلاف (هنديه ص: ۴۱۴، ج: ۴).

(۱۳) وقال ايضًا : واذا تصارف الأجر والمستأجر الاجرة فاخذ بالدراهم دنانير فان كان ذلك بعد استيفاء المنفعة او كانا شرطا التعجيل فی الاجرة حتی وجبت الاجرة جازت المصارفة اجماعًا (تیرہ شوی حوالہ)

(۱۴) وقال ايضًا : وان كانت الاجرة شيئًا من المكيل والموزون بغير عينه موصوف فلا بأس بأن يبيعه من المستأجر قبل ان يقبضه وهذا اذا وجبت بالاستيفاء او باشتراط التعجيل (هنديه ص: ۴۱۸، ج: ۴).

(۱۵) وقال الامام المذكور رحمه الله تعالیٰ فی الذخيرة : ولو اشترى المؤجر من المستأجر عينًا من الاعيان جاز فی قولهم جميعًا ويتعلق العقد بمثل الاجرة دينًا فی الذمة وتقع المقاصة بين الثمن وبين الاجرة (هنديه ص: ۴۱۷، ج: ۴).

(۱۶) وقال الامام المرغينانی رحمه الله تعالیٰ فی شرح قول الامام القدوری رحمه الله تعالیٰ (الاجرة لا تجب بالعقد وتستحق باحدى معانی ثلاثة - الخ) وقال الشافعی رحمه الله تعالیٰ تملك بنفس العقد (الی قوله) اذا استوفى المنفعة يثبت الملك فی الاجرة لتحقق التسوية وكذا اذا اشترط التعجيل او عجل من غير شرط لان المساواة يثبت حقًا له وقد ابطله (هدايه ص: ۲۹۳، ج: ۳).

(۱۷) وقال الامام البابرتی رحمه الله تعالیٰ تحت قول الامام القدوری رحمه الله تعالیٰ (الاجرة لا تجب بالعقد - الخ) قال صاحب النهاية : الاجرة لا تجب بالعقد معناه لا يجب تسليمها واداؤها بمجرد العقد وليس بواضح لان نفی وجوب التسليم لا يستلزم نفی التملك كالمبيع فانه يملكه المشتری بمجرد العقد ولا يجب تسليمه مالم يقبض الثمن والصواب ان يقال معناه لا تملك لان محمدًا رحمه الله تعالیٰ ذكر فی الجامع ان الاجرة لا تملك وما لا يملك لا يجب ايفاؤه (وبعد اسطر) وعلی هذا كان قوله يستحق بمعنی يملك دل علی هذا كله وقال الشافعی رحمه الله تعالیٰ تملك بنفس العقد والا لم يكن محل الخلاف متحدًا (عناية بهامش تكملة فتح القدير، ص: ۱۵۲، ج: ۷).

(۱۸) وكذا نقل عنه العلامة قاضی زاده (تكملة فتح القدير، ص: ۱۵۳، ج: ۷).

(۱۹) و کذا قال العلامة سعدی چلپی رحمه الله تعالیٰ فی حاشیته علی العنایة (تکملة فتح القدیر، ص:۱۵، ج:۷).

(۲۰) و کذا اقر الحافظ العینی رحمه الله تعالیٰ ما حرر العلامة البابرتی رحمه الله تعالیٰ (بنایة، ص:۶۲۷، ج:۳).

(۲۱) وقال ایضًا: (فثبت الحکم فیما یقابله من البدل) ولهذا صح الابراء عن الاجرة قبل استیفاء المنفعة بالاجماع وصح الارتهان به بالاجماع وبه قال احمد رحمه الله تعالیٰ فان قیل الثابت بالضرورة لایتعدی موضوعها فلا یتعدی من صحة العقد الی افادة الملک. فالجواب ان الضروری اذا ثبت لیستتبع لوازمه وافادة الملک من لوازم الوجود عند العقد (تیره شوی حواله).

(۲۲) وقال ایضًا: قد ذکر علاؤ الدین فی طریقة الخلاف ان فائدته هی انه لایثبت للمؤجر ولایة المطالبة بتسلیمها فی الحال ولو کانت الاجرة عبدًا وهو قریبه لایعتق علیه فی الحال وعندنا له ولایة المطالبة فی الحال ویعتق علیه فی الحال (بنایة، ص:۶۲۸، ج:۳).

(۲۳) وقال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالیٰ: الخامسة لایملک المؤجر الاجرة بنفس العقد وانما یملکها بالاستیفاء او بالتمکن منه او بالتعجیل او بشرطه فلو کانت عبدًا فاعتقه المؤجر قبل وجود واحد مما ذکرنا لم ینفذ عتقه لعدم الملک (الاشباه والنظائر، ص:۲۰۳).

(۲۴) وقال ایضًا: واشار المصنف رحمه الله تعالیٰ الی ان المستأجر لو باع المؤجر بالاجر شیئًا وسلم جاز لتضمنه اشتراط التعجیل فتقع المقاصة بینهما (البحر الرائق، ص:۳۰۰، ج:۷).

(۲۵) وقال العلامة الطوری رحمه الله تعالیٰ: قال رحمه الله تعالیٰ (والاجرة لاتملک بالعقد بل بالتعجیل او بشرطه او بالاستیفاء او بالتمکن منه) یعنی الاجرة لاتملک بنفس العقد سواء کانت عینًا او دینًا وانما تملک بالتعجیل او بشرطه او باستیفاء المعقود علیه وهی المنفعة او بالتمکن من الاستیفاء بتسلیم العین المستأجرة فی المدة - اه - کلام الشارح والظاهر من اطلاق الماتن والشارح ان الاجرة تملک بالتمکن من الاستیفاء فی المدة سواء استعملها فی المدة اولا - الخ - (تکملة البحر الرائق، ص:۳، ج:۸).

(۲۶) وقال ایضًا وعبر المؤلف بقوله لاتملک لان لفظ محمد رحمه الله تعالیٰ فی الجامع: الاجرة لاتملک بنفس العقد قال صاحب النهایة الاجرة لاتجب بالعقد معناه لاتجب تسلیمها واداؤها بمجرد العقد ولیس بواضح لان نفی وجوب التسلیم لایستلزم نفی الملک کالمبیع فانه یملکه المشتری بمجرد العقد ولایجب تسلیمه ما لم ینقد الثمن والصواب ان یقال معناه لاتملک لان محمدًا رحمه الله تعالیٰ ذکر فی الجامع الصغیر ان الاجرة لاتملک

وما لا يملك لا يجب ايفاؤه (تكملة البحر، ص: ٥، ج: ٨).

(٢٧) وقال ايضًا: وفي المحيط لو طالبه بالاجرة عينًا وقبض جاز لتضمينه تعجيل الاجرة (تیرہ شوی حوالہ).

(٢٨) و كذا نقل عنه العلامة الطحطاوي رحمه الله تعالى (حاشية الطحطاوي على العلائية، ص: ٦، ج: ٣).

(٢٩) و كذا نقل عنه العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى وقال: لو باعه بالاجرة-الخ. (رد المحتار، ص: ١٠، ج: ٦).

(٣٠) وقال الامام شيخ الاسلام ابوبكر بن على رحمه الله تعالى تحت قول الامام القدوري رحمه الله تعالى (والاجرة لا تجب بالعقد) واذا استوفى المنفعة ثبت الملك في الاجرة لتحقق التسوية و كذا اذا شرط التعجيل او عجل من غير شرط (الجوهرة النيرة، ص: ٣٢٣، ج: ١).

(٣١) وقال الامام النسفي رحمه الله تعالى: والاجرة لا تملك بالعقد بل بالتعجيل او بشرطه او بالاستيفاء او بالتمكن منه (كنز الدقائق، ص: ٣١٣).

(٣٢) وقال الامام الزيلعي رحمه الله تعالى: لا تملك الاجرة بنفس العقد سواء كانت الاجرة عينًا او دينًا وانما تملك بالتعجيل او بشرط التعجيل او باستيفاء المعقود عليه وهي المنفعة او بالتمكن من استيفائه بتسليم العين المستأجرة في المدة وقال الشافعي رحمه الله تعالى تملك بنفس العقد-الخ. (تبيين الحقائق، ص: ١٠٧، ج: ٥)

(٣٣) وقال العلامة احمد الشلبي رحمه الله تعالى في حاشيته على التبيين: (قوله وقال الشافعي تملك بنفس العقد) قال الاتقاني وفائدة هذا الخلاف ما ذكره علاؤ الدين العالم في طريقة الخلاف وهو ان لا يثبت للمؤجر ولاية المطالبة بتسليمها في الحال ولو كانت الاجرة عينًا وهو قريبه لا يعتق عليه في الحال-آه (تیرہ شوی حوالہ)

(٣٤) وقال العلامة منلا مسكين رحمه الله تعالى: (والاجرة لا تملك بالعقد) ولا يجب تسليمه به عندنا عينًا كان او دينًا (بل) تملك الاجرة (بالتعجيل) من طرف المستأجر من غير شرط (او بشرطه) اى بشرط التعجيل (او بالاستيفاء) اى باستيفاء المعقود عليه (او بالتمكن منه) اى من استيفاء المعقود عليه (منلا مسكين بهامش فتح المعين، ص: ٢٢٢، ج: ٣).

(٣٥) وقال العلامة ابو السعود رحمه الله تعالى: (قوله عينًا كان او دينًا) وقيل ان كانت الاجرة عينًا لا تملك بنفس العقد وان كانت دينًا تملك بنفس العقد ويكون بمنزلة الدين المؤجل وعامة المشائخ رحمهم الله تعالى على ان الصحيح الاول حموى عن الذخيرة (قوله او بشرطه) والمراد انه يستحقها بذلك ولكن لا يملكها الا بالقبض كذا قيل واقول في الدر عن شرح الوهبانية للشرنبلالي انه يفتى برواية تملكها بشرط التعجيل للحاجة

(فتح المعین ص: ۲۲۲، ج ۳).

(۲۶) وقال الامام ابن البزاز الکردری رحمه الله تعالیٰ فی بحث الاجرة الطویلة : لو جعلت عقودا یلزم ان یملک الاجر فلان الاجر فلا تملک بالتعجیل ولا بشرطه فی المضافة قال الصدر رحمه الله تعالیٰ تجعل عقودًا الا فی هذا الحکم للحاجة وقال غیرہ تجعل عقودًا فی کل الاحکام لان فی ملک الاجرة بالتعجیل او شرطه فی المضافة روایتین فیفتی بروایة یملک فیها للحاجة (بزازیه بهامش الهندیه ص: ۱۹، ج: ۵).

(۲۷) وقال العلامة علی القاری رحمه الله تعالیٰ : (قوله ولا تجب الاجرة) ای لا تملک (بالعقد) سواء کانت عینا او دینا کذا ذکر محمد رحمه الله تعالیٰ فی الجامع وذکر فی الاجارة ان کانت عینا لا تملک بالعقد وان کانت دینا تملک ویکون بمنزلة الدین المؤجل عامة المشائخ علی ما فی الجامع وقال الشافعی واحمد رحمهما الله تعالیٰ تملک بنفس العقد (بل) تملک الاجرة (بتعجیلها او بشرطه او باستیفاء النفع او التمکن منه). (شرح النقایه ص: ۱۰۳، ج: ۲).

(۲۸) وقال العلامة الیاس رحمه الله تعالیٰ فی حاشیته علی شرح النقایة : (ولا یجب) تسلیم (الاجر فبالعقد) ای بنفس العقد عینا کانت او دینا وقال الشافعی رحمه الله تعالیٰ یملک بنفس العقد ویجب تسلیمها عند تسلیم الدار والدابة الی المستأجر لانها عقد معاوضة فمطلقه یوجب ملکیة البدل بنفسه کعقد البیع . قلنا : عقد المعاوضة یقتضی تقابل البدلین فی الملک والتسلیم ای یثبت الملک فی البدلین معًا کالبیع واحد البدلین وهو المنفعة لم تمم مملوکة بنفس العقد بل تراخی الملک فیها الی حین وجودها فکذا الاجرة (تیرہ شوی حواله).

(۲۹) وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ : (والاجرة لا تستحق بالعقد) ای بنفس العقد فلا یجب تسلیمه به (بل بالتعجیل) فلیس له الاسترداد (او بشرطه) فی العقد ای لو منجزة فلو مضافة لم تملک بشرط التعجیل اجماعًا وقیل تجعل عقودًا فی کل الاحکام فیفتی بروایة تملکها بشرط التعجیل للحاجة کما فی شرح الوهبانیة للشرنبلالی (او باستیفاء المعقود علیه) من المنفعة (او التمکن منه). (الدر المنتقی بهامش مجمع الانهر ص: ۳۷۰، ج: ۲).

(۳۰) وقال العلامة شیخ زاده رحمه الله تعالیٰ : (بل) تستحق (بالتعجیل) هو (او بشرطه) ای بشرط التعجیل لان امتناع ثبوت الملک بنفس العقد لتحقق المساواة فاذا عجل او شرط التعجیل فقد ابطل المساواة التی هی حقه بخلاف الاجارة المضافة بشرط تعجیل الاجرة فان الشرط باطل لامتناع ثبوت الملک من البدل للتصریح بالاضافة الی وقت فی المستقبل المضاف الی وقت لا یکون موجودًا قبله ولا یتصور هذا المعنی (او باستیفاء المعقود علیه) لتحقق المساواة بینهما اذ العقد عقد معاوضة (او التمکن منه) ای من استیفاء

النفع اقامة للتمكن من الشئ مقام ذلك الشئ (مجمع الانهر، ص:۳۶۱، ج:۲).

(۳۱) وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: (والاجر لايلزم بالعقد فلا يجب تسليمه به) بل بتعجيله اوشرطه في الاجارة) المنجزة اما المضافة فلا تملك فيها الاجرة بشرط التعجيل اجماعًا. وقيل تجعل عقودا في كل الاحكام فيفتى برواية تملكها بشرط التعجيل للحاجة شرح وهبانية للشرنبلالي (اوالاستيفاء) للمنفعة (اوتمكنه منه) الا في ثلاث مذكورة في الاشباه (رد المحتار، ص:۱۰، ج:۶).

(۳۲) وقال العلامة الطحطاوي رحمه الله تعالى: وقول المصنف لايلزم بالعقد معناه لا يملك فان محمدًا رحمه الله تعالى ذكر في الجامع الصغير ان الاجرة لاتملك وما لا يملك لا يجب ايفاؤه.

وفي المحيط لوطالبه بالاجرة عينًا وقبض جاز لتضمنه تعجيل الاجرة والاجارة المضافة لاتملك فيها الاجرة بالتعجيل ولا بالشرط والغرض من هذه الاجارة تملك الاجرة. قال صدر الاسلام الاجل الشهيد رحمه الله تعالى: الصحيح عندي انها تعتبر عقودًا في حق سائر الاحكام وعقدًا واحدًا في حق ملك الاجرة بالتعجيل اوبشرط التعجيل -آه. (حاشية الطحطاوي على الدر، ج:۶، ج:۴).

(۳۳) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله لايلزم بالعقد) اى لا يملك به كما عبر في الكنز (رد المحتار، ص:۱۰، ج:۶).

(۳۴) وقال ايضًا وفي المحيط: لوباعه بالاجرة عينًا وقبض جاز لتضمنه تعجيل الاجرة طوري (تيره شوى حواله)

(۳۵) وقال ايضًا: وان عقودًا فلا تملك بالتعجيل ولا باشتراطه لانها مضافة فيفوت الغرض، واجيب انما اختاره الصدر الشهيد من انها تجعل عقدا واحدًا في حق ملك الاجرة بالتعجيل اواشتراطه وعقودًا في حق سائر الاحكام (ردالمحتار، ص:۱۱، ج:۶).

(۳۶) وقال العلامة التمرتاشي رحمه الله تعالى: وجاز التصرف في الثمن قبل قبضه تعين بالتعيين اولا وكذا الحكم في كل دين قبل قبضه كمهر واجرة وضمان متلف سوى صرف وسلم (ردالمحتار، ص:۱۵۲، ج:۵).

(۳۷) وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في شرح قول التمرتاشي (وجاز التصرف في الثمن) بهبة اوبيع اوغيرهما لوعينًا اى مشارًا اليه ولو دينًا فالتصرف فيه تمليك ممن عليه الدين ولو بعوض ولايجوز من غيره ابن ملك (وكذا الحكم في كل دين كمهر واجرة وضمان متلف) وبدل خلع وعتق بمال وموروث وموصى به.

والحاصل: جواز التصرف في الاثمان والديون كلها قبل قبضها عيني (سوى صرف وسلم) فلايجوز اخذ

خلاف جلسه الفوات شرطه (تیره شوې حواله)

(۴۸) وقرره العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى (تیره شوې حواله).

(۴۹) وكذا قال العلامة الطحطاوي رحمه الله تعالى (حاشية الطحطاوي على الدر، ص:۱۰۱، ج:۲).

(۵۰) وكذا قال الامام ابو الليث السمرقندي رحمه الله تعالى (فتاوى النوازل، ص:۲۶۶).

(۵۱) والامام طاهر بن عبد الرشيد رحمه الله تعالى (خلاصة الفتاوى، ص:۴۳، ج:۲).

(۵۲) والامام المرغيناني رحمه الله تعالى (هدايه ص:۷۵، ج:۲).

(۵۳) والامام البابرتي رحمه الله تعالى (عنايه بهامش فتح القدير، ص:۲۶۹، ج:۵).

(۵۴) والامام ابن الهمام رحمه الله تعالى (فتح القدير، ص:۲۹، ج:۵).

(۵۵) والحافظ العيني رحمه الله تعالى (بنايه ص:۱۳۰، ج:۲).

(۵۶) والامام النسفي رحمه الله تعالى (كنز الدقائق، ص:۲۳۲).

(۵۷) والامام الزيلعي رحمه الله تعالى (تبيين الحقائق، ص:۸۲، ج:۲).

(۵۸) والعلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى (البحر الرائق، ص:۱۱۹، ج:۶).

(۵۹) والعلامة منلا مسكين رحمه الله تعالى (منلا مسكين بهامش فتح المعين، ص:۵۹۵، ج:۲)

(۶۰) والعلامة ابو السعود رحمه الله تعالى (فتح المعين، ص:۵۹۵، ج:۲).

(۶۱) والامام ابن البزاز رحمه الله تعالى (بزازيه بهامش الهنديه ص:۳۹۶، ج:۲).

(۶۲) وصدر الشريعة الثاني رحمه الله تعالى (شرح الوقاية ص:۶۱، ج:۳).

(۶۳) وكذا في الهندية عن الذخيرة (هندية ص:۱۳، ج:۳).

(۶۴) جواز تمليك الدين ممن عليه الدين ومن غير من عليه الدين بشرط التوكيل بالقبض ولو ضمنًا.

دا مسئله په تولو کتابونو کښې ده. د تیرې شوې لیکنې په شان که هر عبارت نقل کړې شي نو د دې مضمون شمیره به ډیره زیاته شي.

(۶۵) د میراث جاري کیدل د ملکیت دلیل دې. (وسيجيئ ما يخالفه عن الشامية والجواب عنه) دا مسئله هم په هر کتاب کښې شده. دا مسئله په تولو کتابونو کښې شته، که چیرې د هر کتاب عبارت نقل کړې شي نو د عددونو شمیر به ډیر زیات شي

(۶۶) مهر معجل په شرط د یسر د زوج سره د مفتي به قول مطابق موجب د تصحیح دې. حال دا

چه دا ضعیف دین دې، د دې متعلق هم که چیرې د تولو کتابونو عبارات را نقل کړې شی نو د فقهی نصوصو د عباراتو تعداد به تقریباً دوه سوه پورې ورسیږی.

ادلة عدم الملك

(۱) قال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالى: یعنی لا یملك الاجرة الا بواحد من هذه الاربعة والمراد انه لایستحقها المؤجر الا بذلك کما اشار الیه القدوری رحمه الله تعالى فی مختصره لانها لو کانت دینًا لایقال انه ملکه المؤجر قبل قبضه (الی قوله) لیس له بیعها قبل قبضها (البحر الرائق، ص:۳۰۰، ج:۷).

(۲) وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالى فی بیع الاستجرار: اما بیع حظ الاما فالوجه ما ذکره من عدم صحة بیعه، ولا ینافی ذلك انه لومت یورث عنه لانه اجرة استحقها ولا یلزم من الاستحقاق املك، کما قالوا فی الغنیمة بعد احرازها بدار الاسلام فانها حق تأکد بالاحراز، ولا یحصل الملك فیها للغانمین الا بعد القسمة والحق المتأکد یورث کحق الرهن والرد بالعیب بخلاف الضعیف کالشفعة وخیار الشرط کما فی الفتح وعن هذا بحث فی البحر هناك بأنه ینبغی التفصیل فی معلوم المستحق بأنه ان مات بعد خروج الغلة واحراز الناظر لها قبل القسمة یورث نصیبه لتأکد الحق فیه کالغنیمة بعد الاحراز وان مات قبل ذلك لایورث، لکن قدمنا هناك ان معلوم الامام له شبه الصلة وشبه الاجرة والارجح الثانی وعلیه یتحقق الارث ولو قبل احراز الناظر، ثم لا یخفی انها لا تملك قبل قبضها فلا یصح بیعها (ردالمحتار، ص:۱۵، ج:۴).

(۳) وقال الامام المرغینانی رحمه الله تعالى تحت قوله من له علی آخر الف درهم فامره - الخ. او یکون امرا بصرف ما لا یملکه الا بالقبض قبله وذلك باطل (هدایه ص:۱۸۶، ج:۳).

الجواب

په ذکر شوی جزئیاتو کښې نفی الملك المطلق ده ، نفی مطلق الملك نده، د امام صاحب رحمه الله تعالی په نیزد په دیون ثلاثه کښې په یودین کښې هم ملك مطلق ندې. بلکه ملك ناقص دې، او دصاحبینو رحمهما الله په نیزد باندې په هر دین کښې ملك مطلق موندل کیږی، کما مرّ تفصیله عن الامام الکاسانی رحمه الله.

د سود شبه هم محرم ده نو لهذا په ملك ناقص کښې به هم حکم د حرمت وی. خصوصً چه د صاحبینو په نیزد ملك مطلق دې، د شبه ربا دپاره خو دا کافی وه چه دامام شافعی رحمه الله په نیزد نفس عقد هم ثابتونکې دملك مطلق دې.بلکه په خپله امام محمد رحمه الله نه هم یو روایت راغلې دې

قال العلامة علی القاری رحمه الله (ولا تجب الاجرة) ای لا تملك (بالعقد) سواء کانت عینًا او دینًا کذا ذکر

صدر رحمه الله تعالى في الجامع وذكر في الاجارة ان كانت عينا لا تملك بالعقد وان كانت دينا تملك به ويكون بمنزلة الدين المؤجل وعامة المشائخ على ما في الجامع (شرح العناية ص: ٣٠ ج: ٢).

وقال الامام ابو السعود رحمه الله تعالى: وقيل ان كانت الاجرة عينا لا تملك بنفس العقد وان كانت دينا تملك بنفس العقد. اهـ (فتح المعين ص: ٣٣٢ ج: ٣).

په جزئيات نافيه كښې د ملك مطلق په مراد كيدلو باندې دلائل

(۱) د ملكيت لپاره د مثبته دلائلو اووېد فهرست

(۲) د علامه ابن نجيم رحمه الله اوله جزئيه مخكښې ليكل شوې ده اوهغه په خپله په الاشباه كښې د تملك اجرت متعلق ليكلي اوفرمايي . ونصه

والخامسة لا يملك المؤجر الاجرة بنفس العقد وانما يملكها بالاستيفاء او بالتمكن منه او بالتعجيل او بشرطه فلو كانت عينا فاعتقه المؤجر قبل وجود واحد مما ذكرنا لم ينفذ عتقه لعدم الملك (الاشباه والنظائر ص: ٣٠٣).

(۳) وقال هو نفسه في البحر ايضا: (قوله والاجر لا يملك بالعقد) لان العقد ينعقد شيئا فشيئا على حسب حدوث المنافع على ما بينا والعقد معاوضة ومن قضيتها المساواة فمن ضرورة التراخي في جانب المنفعة التراخي في جانب البدل الآخر (البحر الرائق ص: ٣٠٠ ج: ٨).

(۴) وقال ايضا: واشار المصنف رحمه الله الى ان المستأجر لو باع المؤجر بالاجر شيئا وسلم جاز لتضمنه اشتراط التعجيل لقطع المقاصصة بما الى تحقق ابطال العمل وجهالة المدة وحاله معلوم (تيره شوى حواله).

(۵) د دويمې جزئې قائل علامه ابن عابدين رحمه الله دې، هغوئ چه هم په دې خپل تحرير كښې كوم مثالونه ليكلې دى له هغې نه دا ثابتيږي چه نفى د ملك مطلق ده . نه د مطلق ملك

(۶) په خپله علامه ابن عابدين رحمه الله په ثمن او نورو تولو ديونو كښې هرقسم تصرفات جائز كړى دى . وقد مر نصهٔ (رد المحتار . ص ۱۵۲ . ج ۵)

(۷) وقال هو نفسه: (قوله لا يلزم بالعقد) اي لا يملكه كما عبر في الكنز (رد المحتار ص: ١٠ ج: ٣).

(۸) وقال ايضا: وفي المحيط لو باعه بالاجر عينا وقبض جاز لتضمنه تعجيل الاجر الطوري (تيره شوى حواله)

(۹) وقال ايضا: وان عقدوا على ان لا تملك بالتعجيل ولا باشتراطه لانها معاوضة فيفوت الغرض واجيب انما اعتاره الصدر الشهيد من انها تجعل عقدا واحدا في حق ملك الاجر بالتعجيل او اشتراطه وعقودا في حق سائر الاحكام (رد المحتار ص: ١١ ج: ٣).

(۱۰) وقال ايضا: (قوله او شرطه) فله المطالبة بها وحبس المستأجر عليها وحبس العين المؤجرة عنه وله حق الفسخ ان لم يعجل له المستأجر كذا في المحيط لكنه ليس له بيعها قبل قبضها بحر (رد المحتار ص: ١٠ ج: ٢).

په ثبوت د ملك باندې د باربار تصريح كولو باوجود له بحر نه د عدم جواز د بيع نقل كول او په دې باندې څه بحث نه كول ، له دې نه دا معلوميږي چه دا په انتفاء د ملك مطلق باندې مبنى دې او اثبات د مطلق ملك دې .

له دې نه علاوه د ابن عابدين د ذكر شوې ليكنې څخه دا څرګنده شوه چه هغه د علامه ابن نجيم د استحقاق او عدم ملك متعلق عبارت له امور اربعه نه صرف ‹بشرط تعجيل› سره متعلق كوى او همدارنګه دا هم ظاهره ده چه له امور اربعه نه اول امر يعنى تعجيل يقيناً موجب د ملك دې او حال دا چه د بحر عبارت ديته هم شامل دې ، نو چه څنګه اول امر مستثنى دې همدارنګه دنورو دلائلو په نظر كښې نيولو سره به امرين آخرين هم مستثنى كيږى او دبحر جزئيه به فقط له امر ثانى سره خاصل كولې شى كما فصله ابن عابدين رحمه الله تعالى .

علامه طحطاوى رحمه الله تعالى هم د بحر دغه جزئيه د شرط تعجيل لاندې نقل كړيده. ‹طحطاوى ، ص : ۲ ، ج : ۴› .

امام ابو السعود رحمه الله تعالى خو صراحةً دا له ‹شرط تعجيل› سره متعلق كړيدې او ثبوت د ملك لره يى ترجيح وركړيده ، ونصه :

‹قوله اوبشرطه› والمراد انه يستحقها بالملك ولكن لايملكها الا بالقبض كذا قيل والقول فى الدر عن شرح الوهبانية للشرنبلالى انه يفتى برواية تملكها بشرط التعجيل للحاجة ‹فتح المعين، ص: ۲۳۲، ج: ۳›.

‹۱۱› په دريمه جزئيه كښې دامام مرغينانى رحمه الله له عد تملك سره متعلق ليكنه باندې يى په حاشيه كښې دكفايه نه هم هغه تشريح نقل كړيده چه كومه علامه كاسانى رحمه الله ليكلې ده ، ‹وقد مر نصه› .

مؤجل اجرت

بعضې علماء كرامو ليكلى دى چه تملك د أجرت صرف له اجرت مطلقه سره خاص دې او په أجرت مؤجله كښې باوجود د استيفاء د منافعو تملك نشى موندلې، او پدې دعوې باندې يى دوه دلائل پيش كړى دى :

‹۱› په صورت د تاجيل كښې مخكې له نيتې نه حق د طلب نشته.

‹۲› دين مؤجل د دائن لپاره مانع د اخذ د زكوة ندې .

د دوئ دا خيال او دلائل صحيح ندى

اول دليل يى څكه صحيح ندې چه دملك باوجود عدم حق طلب كيدې شى كما فى الرهن وحبس المبيع لاستيفاء الثمن.

د بنده د دې جواب نه وروسته د فقهې په كتابونو كښې د دې صراحت وموندل شو چه دين

مؤجل هم د دائن ملك دي.

قال العلامة ابو السعود رحمه الله تعالى: (قوله عينا كان او دينا) وقيل ان كانت الاجرة عينا لا تملك بنفس العقد وان كانت دينا تملك بنفس العقد ويكون عنزلة الدين المؤجل وعامة المشائخ رحمهم الله تعالى على ان الصحيح الاول حموي عن الذخيرة (فتح المعين، ص: ۲۳۲، ج: ۳).

وقال العلامة علي القاري رحمه الله تعالى: (ولا تجب الاجرة) اي لا تملك (بالعقد) سواء كانت عينا او دينا كذا ذكر محمد رحمه الله تعالى في الجامع وذكر في الاجارة ان كانت عينا لا تملك بالعقد ان كانت دينا تملك به وتكون بمنزلة الدين المؤجل وعامة المشائخ على ما في الجامع (شرح النقاية، ص: ۱۰۴، ج: ۲).

په دويم دليل کښې د علائيه دا جزئيه ليکل شوې ده: وابن السبيل وهو كل من له مال لا معه ومنه ما لو من كان له ماله مؤجلا (رد المحتار، ص: ۳۴۳، ج: ۲، باب المصارف).

د دې دليل د ابطال لپاره پخپله همدا جزئيه كافي ده ، په دې کښې دا وضاحت دې چه جواز د اخستلو د زكوة عدم ملك لره مستلزم ندې ، په بعضې صورتونو کښې د نصاب مالك هم دزكوة مصرف جوړيدې شي.

تحقيق:

له ذکر شوی تفصيل نه دا ثابته شوه چه په پراویډنټ فنډ کښې جمع شوې پیسې د مامور ملکيت دې. اوسره له دې نه دهغې د اخستلو نه مخکې په دې باندې زكوة نشته او په دې باندې چه څومره اضافات او امتيازات ورکول کيږی هغه ټول حلال دی او دا د سود په تعريف کښې داخل ندی.

دزكوة مسئله:

په دين اجرت باندې دزكوة د عدم وجوب وجه اودهغې پوره تفصيل پورته د امام كاساني رحمه الله نه نقل کړې شوې دې.

د سود مسئله:

د پراویډنټ فنډ اضافاتو ته سود څکه نشی ويلې چه دا د اصل تنخواه نه زيات يا بدل اجل اويا اجرت مملوكه باندې زياتی ندی ، بلکه له ابتداء د عقد نه په وجه د اجل اونيتی سره په اصل تنخواه کښې اضافه ده اوټول اضافات اومتعلقات په اصل تنخواه کښې شميرل او د دې ټولو مجموعه له ابتداء د عد نه د عمل بدل دې. په وجه د تاجيل د بدل کښې اضافه بيشكه جائزه ده.

كما حررت في رسالتي (زيادة البدل لاجل الاجل)

د دې اضافات تشريع له ابتداء نه متعين شوی وی. له هُمدې کبله فساد دجهالت هم پدې کښې نشته. والله سبحانه وتعالى اعلم

۲ ربيع الاخر سنه ۱۳۹۹ هـ

بسم الله الرحمن الرحيم
﴿وَمَا تَوْفِيقِيٓ إِلَّا بِٱللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾

دکاغذی نوټ او کرنسی حکم

⊙ **عربی مقاله**: حضرت مولانا محمد تقی صاحب
⊙ **اردو ژباړه**: مولانا محمد عبدالله میمن
⊙ **تبصره**: حضرت فقیه العصر مدّ ظله

د بحث سرټکی:

نوټونو فقهی حیثیت.
دنیا د کرنسۍ (صرافی) په نظام کښې انقلاب او تبدیلی.
زیر بحث مسئله کښې د مقالې د صاحب نظر.
کرنسی نوټ او زکوة.
نوټونو په نوټونو سره تبادله.
لکی نوټونو په خپل مینځ کښې تبادله.
الې د صاحب په نظر کښې راجح او مفتی به قول.
ختلفو ملکونو د نوټونو او کرنسی په خپلو مینځونو کښې تبادله.
له قبض کولو نه د کرنسی د نوټونو تبادله.

صره

الې صحیح طریقه
لک د نوټونو په خپل مینځ کښې تبادله اود همدې نوټونو دنورو ملکونو له نوټونو سره

د کاغذی نوټونو (پیسو) او د کرنسی (صرافی) حکم

د البلاغ په میاشتنی مجله کښې چه د محرم او ربیع الاول په ۱۴۰۹ هجری کښې شایع شوې وې د کاغذی نوټونو په تحقیق باندې دمحترم مولانا محمد تقی عثمانی صاحب دعربی مقالې ترجمه هم شائع شوه . ما هغوئ ته په بعضې خایونو باندې د نظرثانی کولو لپاره وه وئیل . دهغوئ له طرف نه مونږ ته څه جواب رانغې . له همدې کبله ما د دې مقالې په آخر کښې د دغو خایونو متعلق خپله نظریه د (تبصره) تر عنوان لاندې لیکلې ده د دې لپاره چه د علم خاوندان په دې تحقیق باندې یو نظر واچوی نو د نظرونو د اختلاف په نظر کښې نیولو سره به یوه رایه متعینه کړی .

الحمد لله رب العالمین ، والصّلوٰة والسلام علی سیّدنا ومولانا محمّد خاتم النبیین ، وعلی آله واصحابه الطاهرین وعلی کلّ من تبعهم باحسان الی یوم الدین.

دنوټونو فقهی حیثیت

د کاغذی نوټونو (پیسو) داحکامو بیان اودهغې ټول تفصیلات اوجزئیاتو شروع کولو نه مخکې، د دې نوټونو حقیقت پیژندل ضروری دی چه آیا دا د کوم قرض وثیقې (رسید) دی او که عرفی ثمن دی ؟

کوم خلق چه وایی چه دا کاغذی نوټونه مالی دستاویزات او رسیدونه دی دهغوئ په نیزد دا نوټونه دهغه قرض سندونه دی چه کوم د دې دخپرونکی بانک په ذمه واجب دی لهذا د دې خلقو د نظر مطابق دا نوټونه نه ثمن دی اونه مال دی بلکه د دوئ د نظر مطابق نوټ د داسې وثیقې (سند) نه عبارت دې چه کوم سند مدیون دائن ته ولیکی اوهغه ته یې ورکړی . د دې لپاره چه کله هم هغه وغواړی نو د دې په ذریعه به ورته په خپل قرض (دین) باندې قبضه کول ممکن شی. فلهذا د دوئ د نظر مطابق که چا دا نوټ یوبل شخص ته ورکړو نو د دې به دا مطلب نه وی چه ده هغه ته مال ورکړو بلکه دا دې دخپل مال حواله په هغه مقروض بانک باندې ورکوې چه چا دغه نوټونه د سند په طور شایع کړی دی. نو له همدې کبله پدې فقهی اعتبار سره به پدې باندې هغه حکمونه جاری کیږی کوم چه په حواله باندې جاری کیږی، لهذا د دې نوټونو په ذریعه د بل چا حق اداء کول به په هغه ځائ کښې جاری وی په کوم ځائ کښې چه حواله جائزه وی . اوکه چیرته دا نوټونه د سروزرو یا سپینو زرو سندونه وی (یعنی د دې تر شا په بانک کښې سرزر یا سپین زر وی) نو په دې صورت کښې ددې نوټونو په ذریعې سره سره زر یا سپین زر اخستل جائز ندی، ځکه چه د سروزرو په سروزرو باندې یا د سپینو زرو په سپینو زروباندې بدلول (بیع صرف) دې، او په بیع صرف کښې مبیعه او ثمن دواړه په مجلس عقد کښې قبض کول شرط دی . لهذا که د دې نوټونو په ذریعې سره سره زر یا سپین زر واخستل نو دا صرف له یو طرف نه قبض وشو اودهغه بل طرف نه ق...

ونشو څکه چه خریدار خو په زرو باندې قبضه وکړه لیکن دوکاندار دزرو په سند باندې قبضه وکړه اوپه خپله په زرو باندې یې قبضه ونکړه ، پس هرکله چه په (بیع صرف) کښې د جائز کیدلو لپاره په مجلس عقد کښې د دواړو طرفونو نه دقبض کولو شرط په دې کښې موجود نه وؤ نو دا بیعه شرعًا جائزه نده

همدارنګه که چیرې یومالدار سړي دخپل زکوة د اداء کولو لپاره دا کاغذي نوټونه کوم فقیر ته ورکړی نو تر کوم وخته پورې چه دغه فقیر د دې نوټونو په بدله کښې هغه سره زر یا سپین زر له بانك نه نوی اخیستی دکومو چه دا نوټونه سندونه دی اویا یې ترکومې پورې چه په دې نوټونو باندې څه سامان نوی اخیستې نو تر هغه وخته پورې د دې مالدار سړی زکوة نه اداء کیږی. اوکه چیرې دغه نوټونه مخکښې له استعمال څخه له دې فقیر نه ضائع شول نو دهغه مالداری سړی صرف په نوټونو ورکولو سره فقیر ته غاړه نه خلاصیږی بلکه دوباره به زکوة ورکوی

د دې بالعکس دنورو علماؤ نظر دا دې چه اوس دغه نوټونه په خپل ذات کښې ثمن جوړ شوی دی نو که چیرې څوك دغه نوټونه چاته ورکړی نو دا به داسې ګڼلې کیږی چه ده هغه سړی ته مال او ثمن ورکړو. دغه اداء کول به د دین حواله نه ګڼل کیږی. لهذا د دې علماؤ د نظر مطابق د دې نوټونو په ذریعې سره زکوة فی الفور اداء کیږی. او د دې نوټونو په ذریعې سره سره زر او سپین زر اخستل هم جائز دی.

لهذا د کاغذي نوټونو اومختلفو کرنسی صرافی احکامو بیانولو نه مخکښې دنوټونو په باره کښې به له ذکر شوی نظریو نه فقط یوه نظریه متعین کول ضروری وی

پدې موضوع باندې دفقهې او معاشیاتو د کتابونو د مطالعې نه زما په نظر د دې نوټونو په باره کښې دویمه رایه زیاته صحیح ده اوهغه دا چه دا نوټونه اوس عرفی ثمن جوړ شوی دی او اوس دا دحوالې حیثیت نلری

د دنیا د کرنسی په نظام کښې انقلابات اوبدلونو

په پخوا زمانه کښې به خلقو څیزونه په څیزونو (Barter) سره بدلول . یعنی یو څیز به یې ورکړو اودهغې په بدل کښې به یې بل څیز اخستلو. په دغه قسم تبادله کښې به ډیر نقصانات اومشکلات وؤ. او په هرځای او په هر وقت کښې به په دې طریقې باندې عمل کول ګران وؤ. له همدې کبله د وقت په تیریدو سره ورو ورو دا طریقه پریښودلې شوه [۱]

---

۱ - مثلاً یوسړی ته د غنمو ضرورت دې اوله هغه سره زیاتې وریژې دی نو هغه یوداسې سړې ګوری چه چاسه د وریژو ضرورتی وی او زیاتی غنم هم ورسره وی. نو د داسې سړی له پیدا کیدلو نه وروسته به دې سړی له هغه سره د غنمو په وریژو باندې تبادله کوله. اود ده لاس ته به غنم راغلل. اوس دا طریقه ترك

له دې نه وروسته يوبل نظام جاري شوچه کوم ته بضاعتي طريقه (Commodity Money Sestem) ويل کيږي، په دې نظام کښې خلقو مختلف خاص څيزونه دشمن په طور د تبادلې ذريعه جوړ کړل اوعمومًا به يې هغه څيزونه د تبادلې ذريعه جوړول چه کوم به ډير استعماليدل. مثلاً کله به يې غنم د تبادلې ذريعه جوړول، کله مالګه کله څرمن (پوستکی)، کله اوسپنه وغيره به يې د تبادلې ذريعه جوړول ليکن د دې څيزونو په تبادله کښې به د حمل اونقل ډير مشکلات مخې ته راتلل. له همدې کبله چه څنګه به آبادي زياتيدله نوهلته به د خلقو ضرورتونه هم اضافه کيدل او تبادله به هم د مخکې په مقابل کښې زياتيدله. نو خلقو دا فکر وکړو چه د تبادلې لپاره يوه داسې طريقه پکارده چه په نقل اوحکم کښې يې آساني وي. اوپه هغې باندې د خلقو اعتماد هم ډير وي.

بالآخر په دريمه مرحله کښې خلقو سره زر او سپين زر د تبادلې ذريعه جوړ کړل څکه چه دا قيمتي څيزونه دي. خواه که دا دګانې په شکل کښې وو اوکه د لوښو په شکل کښې په هرحال کښې د دې په خپله ذاتي قيمت وو، او د دې حمل اونقل او ذخيره کول هم آسان وو. تر دې چه دې دواړو قيمتي څيزونو د نورو اشياء د قيمتونو لپاره د پيماني حيثيت ختيار کړو او په ټولو ملکونو او ښارونو کښې خلقو په همدې باندې اعتماد شروع کړو، دې نظام ته معدني طريقه د مبادلې ويل کيږي. په دې نظام باندې هم ډير تغيرات اوانقلابات تير شوي دي کوم چه مونږ دلته په اختصار سره ذکر کوو.

۱- په ابتداء کښې به خلقو داسې سره زر او سپين زر په طور د تبادلې استعمالول چه هغه به دسايز، ضخامت، وزن اوصفائي په اعتبار سره مختلف وو، بعضې زر به د ټکړو په شکل کښې وو اوبعضې به د اوبدلې شوي لوښو او زيوراتو په شکل کښې وو ليکن د تبادلې په وخت کښې به فقط وزن معتبر کيدلو.

۲- له دې نه وروسته د سکو رواج شروع شو، په بعضې ښارونو کښې به دسرو زرو د سکو او په بعضو ښارونو کښې به د سپينو زرو د سکو رواج وو چه کومې به په ضخامت، وزن او خالصوالي کښې برابرې او مساوي وې. اوپه کومو به چه دواړو طرفونو ته مهر لږيدلې وو اودغه مهر به د دې خبرې علامت وو چه دا صحيح دي او د تبادلې قابلې سکې دي، او د دې سکو ظاهري قيمت (Face Value) چه کوم به په هغې ليکلې شوې وو هغه به د سرو زرو اوسپينو زرو له حقيقي قيمت (Gold or Silwer Content) سره برابر وو. ګويا د سکې په شکل به چه کوم سره زر وو

نږې ده. البته داسې قسم تبادلې اوس هم په بعضو خايونو کښې شته اوپه نظر رځي. مثلاً تاسې به په کوڅو کښې بعضې کباړيان ليدلې وي چه هغوئ زړې جامې، زړې چپلې او اخبارونه اخلي اودهغې په بدله کښې پيالې او لوښي وغيره ورکوي (مترجم)

دهغې قیمت به د سرو زرو دهغه خښتې سره برابر وؤ چه کومه به د سکې په وزن وه . دې نظام ته د تبادلې معیاری سیستم طریقه (Gold Specie Standard) ویل کیږی، دا نظام ترټولو دمخه دچین خلقو قبل المسیح په اومه پیړۍ کښې رواج کړې وؤ .

په دې نظام کښې خلقو ت د دې خبرې آزادی وه چه که دوئ غواړی نو په خپل مینځ کښې د تبادلې لپاره سکې هم استعمالولې شی اود سروزرو ټکرې اویا د سرو زرو ګاڼې وغیره هم استعمالولې شی اوله ملك نه بیرون د وړلو اوراوړلو هم عام اجازت وؤ .

او دحکومت له طرفه دا عام اجازت وؤ چه هرڅوك په څومره مقدار سره سکې جوړول غواړی هغه یې جوړولې شی، چنانچه خلقو به حکومت ته د زرو ټکرې او له هغې نه جوړ شوی نور څیزونه راوړل اوحکومت به له هغې نه سکې جوړې کړې اوبیا به یې هغوئ ته ورکړې اودغه شان چا به چه سکې د ویلې کیدلو لپاره راوړې نوهغه به حکومت ویلې کړې اود ټکرو په شکل کښې به یې هغوئ ته واپس ورکړې .

۳ - بعضې ملکونو د سروزرو او سپینو زرو دواړه سکې رواج کړې او د دې دواړو په مینځ کښې یې د تبادلې لپاره یوخاص قیمت مقرر کړو او سره زر یې د لویی کرنسی په طور باندې او سپین زر یې د وړې کرنسی په طور باندې استعمال کړل، دې نظام ته دوه ګونې (Bi-metalism) نظام ویلې کیږی، لیکن په دې نظام کښې نور مشکلات پیدا شول اوهغه دا چه د سرو زرو او سپینو زرو سکو په مینځ کښې د تبادلې لپاره چه کوم قیمت مقرر شوې وؤ هغه په مختلفو ښارونو کښې مختلف شو ، چه له همدې کبله خلقو د صرافی په تجارت کښې دلچسپی اخستل شروع کړل .

مثلاً په امریکه کښې دسرو زرو د یوې سکې قیمت د سپینو زرو پنځلس سکې وؤ ، په همدغه وقت کښې به په اروپا کښې دسرو زرو د یوې سکې قیمت دسپینوزرو دپنځلس نیمو سکو سره برابر وؤ، نو په دې صورت کښې به تاجرانو په امریکه کښې ډیرې سکې واخستلې او په اروپا کښې به یې خرڅې کړې اودهغې په عوض کښې به یې هلته ډیر سپین زر واخستل اوهغه به یې امریکا ته راوړل اودسرو زرو په سکو به یې بدل کړل، بیا به یې دا دسرو زرو سکې دوباره اروپا ته نقل کړې اودهغې په عوض کښې به یې بیا سپین زر راوړل ، نو د دې تجارت په سلسله کښې به د امریکا سره زر مسلسل اروپا ته نقل کیدل بالاخره به د سپینوزرو دسکو په بدله کښې د سرو زرو ټولې سکې له امریکانه اروپا ته لاړې .

۴ - سکې که د سرو زرو وی او که د سپینو زرو وی اګرچه د سامان او اسبابو په مقابل کښې د دې حمل اونقل آسان دې لیکن بل طرفته دهغې غلا کول هم آسان دی . له همدې کبله د مالدارو خلقو لپاره د دې سکو ډیر مقدار ذخیره کول اوپه کور کښې ساتل مشکل شو . فلهذا دغه خلقو به د دې سکو یوزیات مقدار له زرګرانو اوصرافانو سره دامانت په طور کیښودلو اوهغه زرګرانو

اوصرافانو به د دې سکو له خپل خان سره دکينودلو په وخت کښې امانت کينودونکو ته د وثيقې او سند په طوريو کاغذ يا رسيد ورکولو . د وقت په تيريدلو سره دخلقو په دې زرگرانو باندې اعتبار اوباور زيات شو نو خلقو د دغه رسيدونو (کوم به چه زرگرانو يا صرافانو دوئ ته په طور د سند ورکول) خرڅول او اخستل شروع کړل لکه د ثمن په شان. لهذا يو خريدار به يو دوکاندار ته د خريدارئ په وقت کښې د نقدو سکو د اداء کولو په ځائ له دغه رسيدونو نه يو رسيد ورکړو اوهغه دوکاندار به په زرگرانو باندې داعتماد په خاطر هغه رسيد قبلولو.

دا ده د کاغذی نوټونو ابتداء ليکن په ابتداء کښې نه د دې څه خاص شکل او صورت وؤ اونه د دې څه داسې قانونی حيثيت وؤ چه دکوم له وجهې نه خلق د دې په قبلولو مجبور کړې شی، بلکه د دې د رد کولو اوقبلولو دوارو مدار به په دې خبره باندې وؤ چه د دې قبلولو والا د دې په اصل سړی (زرگر) باندې څومره اعتماد لرې .

۵ - کله چه د کال (۱۷۰۰) په ابتداء کښې په بازارونو کښې د دې رسيدونو رواج ډير شو نو دې رسيدونو ترقی وکړه او د يوې ضابطې صورت يې اختيار کړو چه کوم ته بانکی نوټ ويل کيږی، چه له ټولو نه وړاندې د سويډن د استاك هوم بانك دا د کاغذی نوټ په حيث شايع کړو.

په هغه وخت کښې به له شايع کونکی بانك سره د دې کاغذی نوټونو په عوض کښې سل فيصده دهمدومره ماليت په اندازه سره زر موجود وؤ اوبانك به همد د دې خبرې التزام کولو چه صرف دومره مقدار نوټونه جاری کړی څومره مقدار چه له هغه سره سره زر وی .

او د دې کاغذی نوټونو لرونکی لره به دا اختيار وؤ چه کله هم وغواړی بانك ته ولاړ شی او د دې په بدل کښې د سرو زرو خښته واخلی . له همدې کبله دې نظام ته د سروزرو دسلاخونو معيار (Gold Bullion Standard) ويل کيږی .

۲ - په کال (۱۸۳۳) کښې چه کله د بانك د نوټ رواج ډير زيات شو نو حکومتونو دې ته يو قانونی شکل ورکړو اويوه قانونی طريقه يې مقرره کړه، اوپه هر قرض اخستونکی باندې يې دا لازم کړل چه هغه به د خپل قرض په بدل کښې دا نوټونه داسې ضرور قبلوی لکه څنګه چه په ده باندې د سرو زرو او سپينو زرو قبلول لازم دی . وروسته له دې نه بيا تجارتی بانکونه د دې نوټونو له شائع کولو نه بند کړې شو اوفقط حکومتی بانکونو ته د دې د شائع کيدلو اجازت وؤ اوبس .

۷ - بيا چه کله حکومتونو ته د جنگ اوامن په دوران کښې دآمدنی د کموالی له کبله د ترقياتی کارونو په سرته رسولو کښې ډير مشکلات مخې ته راغلل، نو حکومتونه مجبور شول چه هغه کاغذی نوټونه په يو لوئ تعداد سره شايع کړی کوم چه د سروزرو له موجوده مقدار نه زيات دی . د دې په خاطر چه دخپلو ضرورتونو د پوره کولو لپاره دا استعمال کړی، د دې په

نتيجه کښې د سرو زرو هغه مقدار چه د دې کاغذي نوټونو تر شا وو هغه ورو ورو کميدلو تر دې پورې چه په ابتداء کښې د سروزرو اود دې نوټونو تر مينځ چه کوم سل فيصده تناسب وو هغه تناسب دوخت په تيريدو سره ډير لږ پاتې شوچه د دې نوټونو شائع کونکو مرکزي بانکونو په دې خبره باندې يقين وو چه له مونږ نه به د دې ټولو شائع شوي نوټونو په بدله کښې په يو وخت کښې د سرو زرو مطالبه نشي کيدلې ، نو له همدې کبله د سرو زرو د مقدار نه په زياتونوټونو جاري کولو کښې هيڅ حرج نشته. پل بل عبارت داسې ويلې کيدې شي چه د ډيرونوټونو د شائع کولو په نتيجه کښې په بازار کښې داسې نوټونه رائج شول چه کومو ته د سرو زرو پشت بانه حاصله نه وه ليکن تاجرانو به دغه قسم نوټونه په دې اُميد اخستل چه د دې نوټونوشائع کونکو مرکزي بانکونو ته د دې خبرې قدرت حاصل دې چه هغوئ د تبديلولو د مطالبې په وخت کښې له هغوئ سره د موجودو سروزرو په ذريعه د دوئ مطالبه پوره کولې شي اګرچه له هغوئ سره دموجوده سرو زرو مقدار دهغه شايع شوو نوټونو په مقابله کښې ډير کم دې . دغه قسم کرنسي نوټونه ته د اعتبار سيستم (Fiduciary Money) ويل کيږي .

له بلې خوا څخه د آمدني د ذکر شوې کمي اوپيسو ته د زيات ضرورت په بناء باندې چه حکومتونو تر اوسه پورې دمعدني سکو په ذريعه معاملات کول دې خبرې ته مجبورشول چه هغوئ خو يا په سکو کښې د دې څيزونو چه څومره مقدار استعماليږي هغه کم کړي اويا په هره سکه کښې د اصلي سروزرو اوسپينو زرو په ځاى ناقص څيزونه استعمال کړي. چنانچه د دې کار په نتيجه کښې دسکې ظاهري قيمت (Face Value) چه کوم په هغې باندې ليکل شوې وؤ هغه د سکې له اصل قيمت نه (Intrinsic Value) څو چنده زيات شو . دې قسم سکوته علامتي سيستم اوطريقه (Token Money) ونيل کيږي، ځکه چه د دې سکې معدني اصليت دهغې د ظاهري قيمت لپاره محض يوه نشانه وه چه کوم به کله د دې دذاتي قيمت صحيح نمايندګي کوله .

۸ - د اعتباري سيستم دغه رواج زياتيدلو تردې پورې چه په يوملك کښې د شائع شوي نوټونو تعداد دهغه ملك د موجوده سرو زرو د مقدار په مقابله کښې ډير زيات شو حتى چه حکومتونو ته د دې خبرې خطر پيدا شو چه که خوك د نوټونو په ذريعې سره د سوني هغه خپل مقدار وغواړي نو دوئ بې نشي پوره کولې لکه څنګه چه په بعضې ښارونو کښې حقيقتاً دا واقعه پيښه شوه چه مرکزي بانك دنوټونو په مقابل کښې دهغې په مقدار سره سره زر ورنکړې شول په دغه وقت کښې ډيرو ملکونو دنوټونو په سروزرو بدلونکو باندې ډير شرطونه کينږدل . انګلستان خو په کال (۱۹۱۴) کښې وروسته له جنګ نه دا تبديلي بالکل بنده کړه . البته په کال (۱۹۲۵) کښې يې بيا دې تبديلي ته اجازت پدې شرط سره ورکړو چه له يوزر اوه سوه (۱۷۰۰) پونډونو نه چه له چا سره کم وي هغه د بدلولو مطالبه نشي کولې. نو د دې شرط په نتيجه کښې

خو عام خلق د خپلو نوټونو په سروزرو باندې د بدلولو له مطالبې نه محرومه پاتې شول ،ځکه چه په هغه زمانه کښې دا مقدار دومره زیات وؤ چه ډیر لږ خلق به د دې مقدار مالکان وؤ، لیکن هغوئ د دې قانون ځکه داسې خاص پروا ونکړه چه دې کاغذی نوټونو ته یو قانونی حیثیت حاصل شو . او په ملکی معاملاتو کښې به داسې قبلیدل لکه څنګه چه د دې اصل قبلیدلو. او د دې په ذریعې سره به د ملك په داخل کښې په تجارت کولو سره داسې فائده حاصلیدله لکه څنګه به چه د کلیوالې کرنسی په ذریعه په تجارت کولو سره نفع حاصلیدله .

۹ - بیا په کال (۱۹۳۱) کښې برطانوی حکومت د دې نوټونو په سرو زرو سره بدلول بیخی منع کړل حتی چه هغه شخص یی هم منع کړو چه څوك یو زر اوه سوه (۱۷۰۰) پونډه په سرو زرو سره د بدلولو مطالبه وکړی اوخلق یی دې خبرې ته مجبور کړل چه هغوئ د سرو زرو په ځائ صرف په همدې نوټونو اکتفاء وکړی او په خپلو معاملاتو اوکاروبارونو کښې دې صرف په همدې نوټونو باندې اکتفاء وکړی. لیکن حکومتونو په خپل مینځ کښې یود بل حق ته د احترام لرلو په خاطر له یو بل سره د نوټونو په سروزرو باندې د بدلولو قانون باقی وساتلو . نودیوملك په داخل کښې به د دې نوټونو په سروزرو سره بدلول منع وؤ لیکن هر حکومت دا په ځان لازم کړی وؤ چه که چیرته د ده نوټ بل ملك ته لاړشی اوهغه حکومت د دغه نوټ په بدل کښې د سروزرو مطالبه وکړی نودغه حکومت به د خپل نوټ په بدل کښې هغوئ ته سره زر ورکوی، مثلاً که امریکې ته د برطانیی استرلنګ پاونډونه راغلل اوهغوئ د دې په بدل کښې له برطانیی نه د سروزرو مطالبه وکړه نو د برطانیی په حکومت باندې لازم دی چه هغه به د دې په بدل کښې دامریکې حکومت ته همدومره مقدار سره زر ورکوی . دې نظام ته (دسروزرو د مبادلې معیار) (Gold Exchange Standard) ویلې کیږی

په دې اصولو باندې تردیروکلونو پورې عمل کیدلو تردې پورې چه دامریکی متحده آیالاتو ته د ډالرو په قیمت کښې دکمی په وجه سخت مشکلات پیښ شول او په کال (۱۹۷۱) کښې سره زر ډیر کم شول ، نو د امریکی حکومت دې خبرې ته مجبور شو چه هغه له نورو حکموتونو سره د ډالرو په سرو زرو باندې د بدلولو قانون ختم کړی . لکه چه په پنځلسم (۱۵) اګست کال (۱۹۷۱) کښې امریکې دا قانون نافذ کړو اودغه رنګه دکاغذی نوټونو په سروزرو سره دمستحکم کولو چه کوم آخری شکل وؤ هغه هم د دې قانون نه وروسته ختم شو. وروسته له دې نه په کال (۱۹۷۴) کښې بین الاقوامی فنډ (Internationl Monetary Fund) د سروزرود بدل په طور باندې یو (د مبادلې ویستلو دحق سستم) (Special Drawing Rights) نظریه وراندې کړه د دې نظر حاصل دا وؤ چه دبین المللی مالی فنډ غړو ته د دې خبرې اختیار حاصل دې چه هغوئ د مختلفو ملکونو د پیسو یو معین مقدار دغیر ملکی قرضونو د اداء کولو لپاره راویستلې شی. او د مقدار د تعین

لپاره (۲۷۲ ، ۸۸ ، ۸) ګرامه سره زر معيار وګرځولې شول، يعنې دومره مقدار سره زر چه د څومره پيسو په مقابل کښې اخستلې شي نوهمدومره پيسې يوملك راويستلې شي . لهذا اوس صورت حال دا دې چه دمبادلې د راويستلو دا حق چه کوم ته د اختيار په توګه (ايس . ډي . آر) ويل کيږي د سروزرو د پشتبانې لپاره مکمل بدل جوړ شوې دې .

دغه رنګې اوس سره زر دکرنسي له دائرې نه بالکل وتلى دى، او ددې له کرنسي سره هيڅ تعلق پاتې نشو . اونوټونه او (زرعلامتى) يعنى کم قيمته سکو کاملاً د سرو زرو ځائ نيولې دې ، نو اوس نوټ نه د سروزرو نمايندګى کوى اونه د سپينو زرو، بلکه د خريدارى د يوفرضى قوت نمايندګى کوى ليکن چونکه دکرنسي په دې نظام کښې د يومستقل او ابدى نظام په شان تراوسه پورې مضبوطوالې پيدا نشو له همدې کبله په ټولو ملکونو کښې د دې خبرې تحريك چليږى چه د پخوا په شان دې سره زر بيا د مالى نظام اساس جوړ کړې شى تردې پورې ه دوباره دسرو زرو د سلاخونو دنظام طرفته دګرځيدلو آوازونه شروع شوى دى ، له همدې کبله د دنيا ټول ملکونه اوس هم خپل ځانونه له سروزرو نه مستغنى نه ګنى بلکه هرملك اوس هم د احتياطى تدبير په طور باندې د سروزرو د ډيروزخيرو جمع کولو کوشش کوى، د دې لپاره چه د زمانې دحالاتو د بدليدلو اوانقلاباتو په وخت کښې دا سره زر په کار را وستې شى . ليکن د سرو زرو دا دلوئ مقدار ذخيره صرف د يو احتياطى تدبير په خاطر باندې ده اودهغې د موجوده دور له مروجه کرنسي سره هيڅ قانونى تعلق نشته برابره خبره ده که هغه کرنسي د نوټ په شکل کښې وى اويا دساده سکو په شکل کښې وى [1].

په هر حال . دا د دنيا په کرنسي (پيسو) کښې د انقلاباتو او تغيراتو خلاصه د دې له مطالعې نه دا خبر مخې ته راځى چه دا کرنسي نوټونه په يوحالت او يو کيفيت باندې پاتې شوى ندى بلکه په مختلفو دورونو اومختلفو ژبو کښې د دې حيثيت بدل شوې دې او په دې باندې ډير انقلابات او تغيرات تير شوى دى .

په دې کښې هيڅ شك نشته چه په ابتدائى دور کښې دا نوټونه په حقيقت کښې د قرض سندونه او دستاويزات ګڼل کيدل اوپه همدې بنا باندې ډيرو علماؤ کرامو دا فتوى ورکړيده چه دا نوټونه د قرض سندونه دى اودا د مال او ثمن حيثيت نلرى، لکه څنګه چه علامه سيد احمد بيګ

---

۱ - ا) An Outline of Money, by Geoffrey Growther.
ب) Money and Man, by Elgin Groseclose, IVth edition, University Oklahoma press, Norrman ۱۹۷.
ج) Modern Economic Theory, by k.k. Dewett, New Delhi.
د) Encyclopaedia Britannica "Bankiny and Credit "money" Currency"
هـ) حكم التعامل في الذهب والفضة. للدكتور محمد هاشم عوض.

الحسینی رحمه الله تعالی په خپل کتاب «بهجة المشتاق فی بیان حکم زکوة الاوراق» کښې لیکلی دی چه: کله ما د «بانکی نوټ» د ماهیت په باره کښې تحقیق وکړو نو راته معلومه شوه چه دا د فرانسیسی ژبې اصطلاح ده او «لاروس» چه د فرانسیسی ژبې تر ټولو لوئ او مشهور لغت دې په هغې کښې یې د بانك د نوټ په تعریف کښې لیکلی دی چه: «بانکی نوټ یو کرنسی نوټ دې چه د هغې درلودونکی ته به د مطالبې په وخت کښې د دې نوټ حقیقی قیمت ورکول کیږی او دا نوټ په همدې طریقې سره مروج کیږی . البته دا نوټونه مضمون وی یعنی د دی د بدل ضمانت ورکول کیږی د دې لپاره چه خلق د دې په راکړې ورکړې باندې اعتماد وکړی».

لهذا په دې تعریف کښې دا الفاظ چه «د دې درلودونکی ته به د مطالبې په وقت کښې د دې نوټ حقیقی قیمت ورکول کیږی» بغیر له کوم شك نه پدې خبره باندې دلالت کوی چه دا نوټ د قرض سند دې ، البته په دې تعریف کښې چه کوم نور الفاظ راغلی دی چه په نوټونو باندې همداسې طریقې سره راکړه ورکړه کیږی کوم چه دعنصر د کرنسی په ذریعه کیږی. نو له دې عبارت نه دې یوځوك د دې دمال یا ثمنیت کیدلو وهم نکوی. ځکه چه د دې بارت مقصد فقط همدومره دې چه خلق د کرنسئ په ځائ همدا نوټونه په لین دین کښې قبلوی صرف په دې خیال چه د مطالبې په وخت کښې به د دې قیمت د دې نوټ درلودونکی ته ورکول کیږی. اوحکومت د دې نوټ د قیمت د ادا کولو ضامن دې لهذا دا تعریف صراحةً په دې خبره دلالت کوی چه دا نوټ د قرض سند او دستاویز (رسید) دې[۱].

له همدې کبله په تیره شوې پیړئ کښې د هندوستان ډیرو علماء کرامو دا فتوی ورکړه چه دا نوټ په حقیقت کښې د قرض سند دې لهذا د دې په ذریعه ترهغه وخته پورې زکوة نه اداء کیږی تر څو پورې چه فقیر دغه نوټ په خپلو ضروریاتو کښې خرج نکړی اوهمدارنګه د دې نوټونو په ذریعې سره سره زر او سپین زر اخستل جائز ندی[۲].

لیکن په همدغه زمانه کښې دعلماء کرامو اوفقهاء عظامو یو لوئ جماعت داسې هم وو چه هغوئ دا نوټونه د ثمن عرفی په طور باندې مال وتاکلو. لکه چه په دې مسئله باندې د مسند احمد مرتب او شارح علامه احمد ساعاتی رحمه الله تعالی تفصیلی بحث کړې دې ، هغه فرمائی چه

فالذی اراه حقا وادین الله علیه: ان حکم الورق المالی کحکم النقدین فی الزکوة سواء بسواء لانه یتعامل به کالنقدین تماما ولان مالکه یمکنه صرفه وقضاء مصالحه به فی ای وقت شاء فمن ملك النصاب من الورق المالی

---

۱. دا عبارت له (بلوغ الامانی) نه نقل کړې شوې دې ، بلوغ الامانی شرح فتح الربانی للساعاتی . ۸ ۲۴۸

۲. امداد الفتاوی . حضرت مولانا شاه محمد اشرف علی تهانوی رحمه الله تعالی علیه . ج . ۲ ، ص ۵

ومكنه عدنه حولاً كاملاً وجب عليه زكوته[۱].

ترجمه زما په نيزد باندې صحيح خبره داده په کومه خبره به چه زه د الله تعالى په حضور کښې جواب ورکوم چه د زکوة د وجوب او دهغې د ادا کولو په مسئله کښې د دې کاغذي نوټونو حکم هم بعينه دسرو زرو اوسپينو زرو حکم دې ځکه چه په خلقو کښې د دې نوټونو د راکړې ورکړې رواج داسې دې لکه څنګه چه د سروزرو دې ، اوخلق د همدې په ذريعې سره خپل ضروريات پوره کوي لهذا څوك چه د نصاب په قدر د دې نوټونو مالك جوړ شي اوپه هغې يو کال تير شي نو په هغه باندې به زکوة واجب کيږي.

د هندوستان د ځينې نورو علماؤ هم دا نظر وؤ لکه چه د حضرت مولانا عبدالحی لکهنوی رحمه الله تعالى خصوصي شاګرد د ((عطر هدايه)) او د ((خلاصة التفسير)) مصنف مولانا فتح محمد صاحب لکهنوی رحمة الله عليه هم د نوټ په باره کښې دا نظريه وه ، دهغوئ ځوئ مولانا مفتي سعيد احمد لکهنوی رحمه الله تعالى ((سابقه مفتي او صدر مدرس تکميل العلوم کانپور)) هم د خپل والد صاحب دا نظريه دهغه په کتاب ((عطر هدايه)) په آخر کښې نقل کړيده ، اودا يې هم ليکلي دي چه علامه عبدالحی لکهنوی رحمه الله تعالى هم په دې مسئله کښې د دې نظريې موافق وؤ ، دهغوئ د نظريې خلاصه داده چه د کاغذي نوټ دوه حيثيتونه دي:

يو دا چه په خريد اوفروخت لکه اجارات او ټولومالي معاملاتو کښې د دې نوټونو مروج کيدل اولين دين بعينه د حقيقي ثمن اوسګو په شان دې بلکه حکومتونو په خلقو باندې په قرضونو کښې او دحقوقو په اداء کولو کښې د دې قبلول لازم ګڼلي دي، لهذا په موجوده قانون کښې دقرض غوښتونکي دا حق نشته چه هغه د خپل قرض په بدل کښې د دې نوټونو له قبلولو نه انکار وکړي ، نو په همدې اساس دا کاغذي نوټونه اوس (عرفي ثمن) جوړ شوي دي.

دويم حيثيت دادې چه دانوټ د حکومت له طرف نه شائع شوې يو رسيد دې اوحکومت د دې خبرې ذمه واري اخستې ده چه د دې نوټ د ضائع کيدلو او هلاك کيدلو په صورت کښې اويا د دې د درلودونکي د مطالبې په وخت کښې به د دې عوض ورکوي. نوپدې حيثيت سره هم دا نوټونه د (ثمن عرفي) حيثيت نلري. ځکه چه دثمن عرفي د هلاکت په وقت کښې حکومت دهغې عوض نه ورکوي. د دويم حيثيت په اعتبار سره ظاهرًا دا معلوميږي چه دا نوټونه د سند يا د نورو مالي رسيدونو په شان ديو رسيد حيثيت لري.

ليکن که دې دويم حيثيت ته په دقيق نظر سره وکتلې شي نو دا خبره څرګنديږي چه د نوټ دا دويم حيثيت دهغه ثمنيت نه باطلوي ځکه چه دحکومت اصل مقصد دا وؤ چه دا نوټونه هم په ثمن

عرفي په شان په خلقو كښې مروج شي . له همدې كبله حكومت د قرض په اداء كولو كښې د دې قبلول ضروري گڼلي دي . ليكن د طبعي ثمن «يعنى د سروزرو يا سپينو زرو سكې» يا د نورو څيزونو نه علامتي سكې چه له پخوا څخه رواج وې دهغې حال خو دا وؤ چه دهغې خپل ذاتي قيمت او حيثيت هم وؤ دهغې د قيمتي گرځولو لپاره حكومت ته د اعلان ضرورت هم نه وؤ څكه چه هغه سكې به كله دسروزرو اوسپينو زرو نه جوړيدلې اوكله به له تانبې اوسپنې وغيره نه جوړيدلې ، ظاهر ده چه په دې كښې هريوڅيز مال متقوم دې تردې پورې چه كه چيرته ټول حكومتونه د دې سكو د ثمنيت د ختميدلو اعلان هم وكړي نو بيا به هم د مال متقوم كيدلو په اعتبار سره د دې ذاتي قيمت باقي پاتې وي په خلاف د دې كاغذي نوټونو چه د دې خپل ذاتي هيڅ قيمت نشته «صرف د كاغذ يوه ټوټه ده» البته د حكومت له اعلان نه وروسته دې كاغذ ته دغه قيمت وركړې شوې دې، فلهذا كه چيرته حكومت د دې كاغذ ثمنيت باطل كړي نو دهغې به هيڅ قيمت باقي پاتې نشي. څكه چه دخلقو څومره اعتماد او باور په علامتي اودكلو په سكو باندې وؤ هغومره اعتماد يې په دې نوټونو باندې نه وؤ . له همدې كبله په حكومت باندې د دې ضمانت لازم شو چه د هلاكيدلو په صورت كښې به حكومت د دې بدل وركوي. دا ذمه واري حكومت د دې لپار وانخستله چه دحكومت په نظر كښې دا د ثمن عرفي حيثيت نلري لكه حكومت دا ذمه واري دخلقو د اعتماد كولو لپاره په غاړه واخستله چه خلق بغير له كومې ويرې او خطر څخه په دې باندې راكړه وركړه اولين دين وكړي .

لهذا د دې نوټ د رسيد كيدلو حيثيت داسې ندې چه د دې ثمنيت دې باطل شي څكه چه د دې حاصل فقط هدومره دې چه حكومت د دې دبدل وركولو وعده كړيده ليكن دحكومت د دې وعدې د خلقو په مينځ كښې په لين دين باندې كوم اثر نشته، كه چيرې حكومت نه غوښتلې چه دا نوټونه دې ثمن عرفي شي نو خلق به يې د دې په قبلولو هيڅكله نه وؤ مجبور كړي . او د دې نوټونو د قابل تبديل كيدلو دحيثيت په وجه دخلقو په دې باندې اعتماد له حقيقي ثمن نه هم زيات شوې دې ، څكه چه دحقيقي ثمن د ورك كيدلو اوهلاكيدلو په صورت كښې دهغې بدل نه وركول كيږي په خلاف د دې كاغذي نوټونو چه د دې دهلاكيدلو په صورت كښې حكومت دهغې بدل وركوي[1] .

په همدې مسئله كښې زموږ رايه اونظر

دكاغذي پيسو په باره كښې چه كوم دوه نظرونه ذكر شول ، زموږ په نيزد باندې دزمانې د اختلاف په لحاظ سره دا دواړه نظرونه صحيح دي . چه دهغې تشريح موږه وړاندې دكاغذي

---

[1] - عطر هدايه للشيخ اللكهنوي ، ص: ۲۱۸ نه تر ۲۲۷ پورې. طبع ديوبند انډيا .

پیسو تاریخ او په هغې باندې دمختلفو تغیراتو په بیان کښې کړیده.
لهذا په دې کښې هیڅ شك نشته چه په ابتداء کښې به دا کاغذی نوټونه دقرض رسیدونه شمیرل کیدل لکه څنګ چه په «انسایکلوپیډیا برټانیکا» کښې راغلی دی.
«په دنیا کښې د بانك نوټ (موجوده کاغذی پیسو) رواج دبانکی چیك له رواج نه مخکښې خپرو شوې وؤ اودغه بانکی نوټ به له قرض غوښتونکی سره دهغه قرض سند ګڼل کیدلو چه کوم قرض به دهغه د بانك په ذمه وؤ ، اوکه چیرې دغه نوټ بل چا ته ورکړې شی نو دهغې ټول حقوق به هغه سړی ته منتقل کیږی ، لهذا دا دویم سړې چه د دې نوټ درلودونکې دې په خپله به له بانك نه د قرض غوښتونکې جوړ شی ، له همدې کبله د دې په ذریعه ټول مالی حقوق اداء کول دحقیقی پیسو په ذریعه د اداء کولو په شان دی ، په دې دواړو کښې هیڅ فرق نشته او د پیسو یو لوئ مقدار د سکّو په ذریعه اداء کول ډیر سخت اومشکل کار دې ځکه چه د دې د شمیرلو او جید او ردی معلومول ضرور وی، او په بعضې اوقاتو کښې ددې په نقل او حمل کښې هم ډیر تکلیفونه پېښیږی ، نو له همدې جهته د دې کاغذی پیسو استعمالولو دشمیرلو هغه مشقت هم کم کړلو اویو شمیر نور مشکلات یې هم له مینځه یوړل [1].
لیکن لکه څنګه چه مونږ په کاغذی نوټونو باندې د تغیراتو په بیان کښې اووئیل چه په وروستی زمانه کښې د نوټونو پورتنۍ حالت په خپل حال باقی پاتې شوې نه وؤ . بلکه په ابتدائی دور کښې به دا نوټ د زرګرانو او صرافانو له طرف نه یو خاص سړی ته دهغه د سرو زرو درسید په طور ورکول کیدلو ، په هغه وقت کښې نه د دې کوم خاص شکل او صورت وؤ اونه به دهغې د شائع کولو کوم خاص شخص وؤ او نه به کوم شخص د خپل حق په اخستلو کښې د دې نوټ په قبلولو باندې مجبورکیدلو ، وروسته کله چه د دې رواج زیات شو نوحکومت دا د تبادلې یو قانون (Legal Tender) مقرر کړو اوغیرحکومتی بانکونه اونور اشخاص یې د دې له شائع کولو نه منع کړل ، نو د حکومتونو له طرفه وروسته له اعلان نه د دې نوټ حیثیت له نورو مالی رسیدونونه په یوځو لاندې ذکر شوو حیثیتونو سره مختلف شو.
۱ - اوس دې نوټونو دتبادلې یوقانونی حیثیت اختیارکړې دې اودنور عرفی ثمن په شان خلق د دې په قبلولو مجبور کړې شوی دی. په داسې حال کښې چه نور مالی سندونه لکه دبانك چیك وغیره باندې دخپل قرض دحاصلولو لپاره په قبلولو باندې هیڅوك هم نه مجبوریږی سره له دې نه چه دبانکی چیك رواج هم عام شوې دې.
۲ - دغه نوټونو «دقانونی تبادلې غیر محدود سیستم» (Unlimited Legal Tender)

---

۱ - انسایکلوپیډیا برټانیکا ۱۹۵۰ . ج ۳ . ص ۴۴ بینکینګ اورکریډټ .

حیثیت اختیار کړې دي په داسې حال کښې چه ساده او کلیوالي پیسې «د قانوني تبادلې محدد سیستم (Limited Legal Tender) دي. له همدې کبله د دې نوټونو په ذریعې سره د قرض د یو لوئ مقدار اداء کول ممکن دی او قرض غوښتونکې د دې له قبلولو نه انکار نشی کولې په خلاف د ساده پیسو نه چه که چیرې د دې په ذریعې سره یو شخص د قرض یو لوئ مقدار اداء کول وغواړي نو قرض غوښتونکې د دې له قبلولو نه انکار کولې شی. له دې څخه دا معلومه شوه چه د دې کاغذي نوټونو په لین دین کښې د رواج کثرت . د خلقو په دې باندې ډیر اعتماد او د دې دقانوني حیثیت په وجه په ساده پیسو باندې برې حاصل کړو .

۳ - دقرض رسید هرشخص ته ورکولې شی په دې کښې شرعًا او قانونًا څخه ممانعت نشته چه یو قرض غوښتونکې دا سند د خپل قرض په اداء کولو کښې بل قرض غوښتونکی ته ورکړی اوبل قرض غوښتونکې یې دریم قرض غوښتونکی ته ورکړی لیکن دا نوټونه بغیر له حکومت نه بل څوک نشی شائع کولې لکه څنګه چه ساده پیسې بغیر له حکومت نه بل څوک نشی شائع کولې .

۴ - د دنیا په ټولو ملکونو کښې عرفًا او قانونًا دنوټ لپارهد ثمن او کرنسی لفظ استعمالیږي او له بلې خوا نه د نورو مالی رسیدونو لپاره دا الفاظ نه استعمالیږي .

۵ - خلق په خپل مینځ کښې د دې نوټونو لین دین په هغه اعتماد سره کوی په کوم اعتماد سره یې چه په ساده پیسو اوسکو باندې لین دین کولو . او په دې نوټونو باندې د لین دین په وخت کښې هیڅکله خلقو ته دا سوچ او فکر نه پیدا کیږي چه هغوئ د قرض لین دین کوی. نن سبا هیڅوک داسې نشته چه هغوئ دې دا نوټونه د دې لپاره واخلی چه په دې سره به هغوئ د سره زر یا سپین زر اویا ساده سکې تر لاسه کړی .

۶ - لکه څنګه چه د کاغذي پیسو په ترقی کښې دا خبره وشوه چه اوس د دې کاغذي نوټونو تر شا هیڅ قسم سره زر یا سپین زر موجود ندی او نه د دې په سرو زرو سره بدلول ممکن دی تر دې پورې چه د ملکونو په خپل مینځ کښې په لین دین کښې هم د دې خبرې هیڅ امکان نشته لکه چه جیوفری ګراؤ لیکی :

"The Promise to pay which appears on their face is now utterly meaningless. Not even in amounts of – f ۱,۷۰۰ can notes now be cnverted into gold. The note is no more Than a piece of paper, of no intrinsic value whatever, and if it were presented for redemption, the Bank of England could honour its (promise to pay one pound) only by giving silver coins or another note but it is accepted as money throughout the British Isles" [۱]

د پیسو په نوټونو باندې چه کوم عبارت لیکلی شوې دې چه «د دې درلودونکې دې د مطالبې

---

۱ - Geoffrey Growther : An Outline of money. P. ۱۶۰

په وقت کښې دا ورکړي» اوس د دې عبارت کوم مقصد اومعنی پاتې نشوه ځکه چه اوس په موجوده دور کښې د پیسو دنوټونو هیڅ مقدار په سروزرو باندې د بدلولو صورت نشته، برابره خبره ده که د دې نوټونو مقدار اولس سوه (۱۷۰۰) پاونډه وی اویا له دې نه زیات وی. اوس په موجوده دور کښې دغه د پیسو نوټونه دکاغذ یوه ټوټه ده چه دهغې هیڅ ذاتی قیمت نشته. اوکه چیرې څوك دا پاونډ د برطانیې مرکزی بانك ته یوسی او ددې په بدل کښې د سرو زرو یا نورو سکو مطالبه وکړی نوهغه بانکونه به یا ورته علامتی سکې ورکوی او به د دې په ځائې نور نوټونه ورکوی، لیکن دا کاغذی پاونډونه دبرطانیې په ټولو جزیرو کښې دکیش او پیسو په شان قبلیږی له همدې کبله اوس د دې د عوض د مطالبې ضرورت هم نشته.

خلاصه دا چه په نوټ باندې دلیکل شوی لیك مطلب فقط همدومره دې چه حکومت د دې نوټ د ظاهری قیمت ضامن دې او د دې ظاهری قیمت هم د دې د قوت خرید دویم نوم دې. همدا وجه ده چه بانك د دې په بدل کښې د سروزرو یا سپینو زرو اویا د نورو سکو د ورکولو پابند ندې. لکه چه کله ناکله بانك د مطالبې په وقت کښې د دې په بدل کښې د دې دظاهرقیمت برابر نور نوټونه ورکوی، حال داچه د نوټ په بدل کښې نوټ اداء کولو ته د قرض اداء کول نشی وئیلې کیدلې. بلکه داسې وئیل کیږی چه د یوه پیسه یی په بلې پیسې باندې بدله کړه او وریی کړه، اومرکزی بانك دنوټونو دا تبدیلی فقط د دې مقصد لپاره کوی چه دخلقو په دې نوټونو باندې اعتماد وساتل شی، د دغه تبدیلی هیڅکله دا مقصد نشی کیدې چه دغه نوټونه د کرنسی یا پیسو په تعریف کښې داخل ندی.

په هر صورت له پورتنی بحث څخه څرګنده شوه چه په فقهی اعتبار سره دا نوټونه اوس د قرض حیثیت نلری بلکه د فلوس نافقه (مروّجه سکو) په شان یی د نبنې لرونکو پیسو حیثیت اختیار کړې دې، لکه څنګه چه د فلوس نافقه ظاهری قیمت د هغې له ذاتی قیمت څخه څو چنده زیات وی. او په خلقو کښې د دې نوټونو په ذریعه د راکړې ورکړې رواج هم د فلوس نافقه په شان شوې دې. بلکه په موجوده دور کښې د ساده سکو وجود هم ډیر کم شوې دې، لهذا د دې نوټونو په باره کښې دا حکم کول چه د دې په ذریعه زکوة فی الفور نه اداء کیږی یا د یوقسم پیسې نوټ دبل قسم پیسې په نوټ باندې بدلولو ته دا وئیل چه دا بیع الکالئی بالکالئی ده اوناجائزه ده. اویا د دې نوټونو په ذریعه دسرو زرو او سپینو زرو اخستلوته ځکه ناجائز وئیل چه دا بیع الصرف ده او په بیع الصرف کښې د دواړو طرفونو لخوا په مجلس کښې قبض کول ضروری دی چه هغه دلته نشته. په دې ټولو خبرو کښې داسې یو حرج لازمیږی چه قابل د تحمل ندې. حال داچه په داسې قسم معاملاتو کښې شریعت مرجه عام عرف معتبر ګڼی او آسانی پیدا کوی اوشریعت اسلامی په داسې فلسفیانه نظریاتو او دقیقو بحثونو کښې دومره ژور نه ځی چه دهغې په عملی زندګی

باندې هیڅ اثر نه وی
په هرحال له دغه ذکر شوی بحث نه دا خبره ثابته شوه چه دا کاغذی نوټونه دکرنسی او پیسو په حکم کښې دی. اوس مونږ د دغه نوټ متعلق نور فقهی احکام بیانوؤ

کرنسی (دپیسو) نوټ او زکوة

کله چه د دغه نوټونو قیمت د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو دقیمت برابر شی او یا له هغې نه زیات شی نو پدې باندې بالاتفاق زکوة واجبیږی اوچونکه اوس دغه نوټونه د رسید حیثیت نلری نو له همدې کبله په دغسې شخص باندې د قرض دزکوة احکام هم نه جاری کیږی بلکه په دې باندې د مروجه سکو احکام جاری کیږی. د زکوة د وجوب په مسئله کښې د مروجه سکو حکم د تجارت د سامان په شان دې. یعنی لکه څنګه چه د تجارت د سامان مالیت د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو قیمت ته ورسیږی نو په هغې بیا زکوة واجبیږی بعینه همدغه حکم دمروجه سکو اودموجوده نوټونو هم دې.

اوځنګه چه مروجه سکې یوغریب ته د زکوة په طور ورکړې شی نو کوم وخت چه دغه غریب هغه سکې قبض کړی نو همدغه وخت دهغه سرې زکوة اداء کیږی. بعینه همدغه حکم د پیسو د نوټونو دې چه کله یې فقیر قبض کړی نو زکوة فوراً اداء کیږی. نودزکوة اداء کیدل د دې نوټونو په بل څیز سره په بدلولو اویا په سرواوسپینو زروباندې په بدلولو پورې موقوف ندې

د نوټونو په نوټونو سره تبادله

دنوټونو په نوټونو سره د تبادلې دوه صورتونه کیدې شی:
۱ - یو داچه د یوملك دنوټونو په خپل مینځ کښې تبادله وکړې شی.
۲ - دویم صورت دا چه دیوملك نوټونه د بل ملك په نوټونو باندې بدل کړې شی
د دې دواړو صورتونو احکام جدا جدا بیانیږی:

د یوملک د پیسو دنوټونو په خپل مینځ کښې تبادله

څنګه چه داخبره بیان شوه چه په ټولو معاملاتو کښې د نوټونو حکم بعینه د سکو په شان دې نو لکه څنګه چه د سکو تبادله په خپل مینځ کښې برابر په برابره جائزه ده همدغه رنګه دیو ملك د نوټونو په خپل مینځ کښې تبادله برابر په برابره بالاتفاق جایزه ده پدې شرط چه دعقد په مجلس کښې له فریقینونه یوفریق په بدلینو کښې په یوه باندې قبضه وکړی . لهذا که چیرته د تبادله کوونکو کسانو له جملې څخه یوه هم دعقد په مجلس کښې نوټونو باندې قبضه ونکړه تردې پورې چه هغه دواړه جدا شول نو په دې صورت کښې د امام ابو حنیفه رحمه الله اوبعضې مالکیانو په نیزد باندې دا عقد فاسد دې. ځکه چه د دوی په نیزد فلوس په متعین کولو سره نه متعین کیږی

بلکه دهغې تعين فقط په قبض سره کيږي[۱].

لهذا چه په کومو فلوسو باندې عقد وشو ليکن هغه قبض نه شوې نوهغه فلوس متعين نه شول بلکه د هر فريق په ذمه قرض شول اودا بيعه د قرض په قرض سره شوه. چه هغه د «بيع الكالئ بالكالئ» کيدو په وجه ناجائزه ده.

پورتنۍ حکم په هغه صورت کښې دې چه کله دغه نوټونه يوله بل سره برابر په برابره تبادله کړې شي اوکه چيرې کمې يا زياتې پکښې وشي مثلاً يوه روپئ په دوه روپيو سره بدل کړې شي يا يو ريال په دوه ريالونو سره يا يو ډالر په دوه ډالروسره تبادله کړې شي نو د دې صورت د جواز اوعدم جواز په باره کښې دفقهاء کرامو هماغه مشهور اختلاف مخې ته راځي کوم چه د فلوس په کمې اوزياتي سره د تبادلې په باره کښې مشهور دې اوهغه دا دې چه:

د يو فُلس «روپئ» تبادله په دوه فلوسو «روپو» سره شرعًا سود دې او دا حرام دی، د امام مالك رحمه الله او په احنافو کښې د امام محمد رحمه الله مسلك دې، اودحنابلؤ مشهور مسلك همدا دې اوکه چير د دواړو طرفونو نه فلوس غير متعين وی نو د امام ابوحنيفه اوامام ابو يوسف رحمهما الله په نيزد هم دا تبادله حرامه ده[۲].

دامام مالك رحمه الله په نيزد دا تبادله ځکه حرامه ده چه دهغه په نيزد په معامله کښې دقرض او د کمې اوزيادتی دحراميدو علت ثمنيت «نقدي پيسې» دی برابره خبره ده که هغه حقيقی ثمنيت وی لکه په سرو زرو او سپينو زرو کښې اوکه عرفی يا اصطلاحی ثمنيت وی لکه له سروزرو او سپينو زرو نه علاوه په نورو سکو اوکاغذی نوټونو کښې . لهذا که چيرته په څه عقد کښې دواړو طرفونو ته يوقسم ثمن وی نو دامام مالك رحمه الله په نيزد نه په دې کښې کمې او زياتې جائز دې او پکښې قرض جائزدې، لکه چه په مدونة الكبرى کښې يی ليکلی دی چه:

ولو ان الناس اجازوا بينهم الجلود حتى يكون لها سكة وعين لكرهتها ان تباع بالذهب والورق نظرة لان مالك قال لا يجوز فلس بفلسين ولا تجوز الفلوس بالذهب ولا بالدنانير نظرة[۳].

ترجمه: که چيرې د خلقو په مينځ کښې د څرمنې په ذريعه دخريد اوفروخت دومره زيات رواج

---

۱ ـ مطلب دا چه که چيرې عقد په يوڅو معينو روپو باندې شوې وی اوکوم فريق د دې روپو په ځای دهمدومره ماليت په اندازه نورې روپئ ورکړی نوهغه داسې کولې شی، البته که چيرې دويم فريق په دې باندې قبضه وکړی نوبيا اول فريق له هغه نه مطالبه نشی کولې چه دغه نوټونه ماته واپس راکړه اوزه د دې په بدل کښې نور درکوم.

۲ ـ الدرالمختار مع رد المحتار ـ ص ۱۸۴ ، ج ۴

۳ ـ المدونة الكبرى للامام مالك، جلد: ۸، ص: ۱۰۳.

پیدا شي چه هغه خرمن د ثمن او سکې حیثیت اختیار کړی نو په دې صورت کښې زما په نیزد د سرو اوسپینو زرو په ذریعه داخرمن په قرض خرخول جائز ندی. لکه چه امام مالك رحمه الله فرمائی چه د یوفلس په دوه فلسونو سره بیعه اوتبادله جائزه نده دغه رنګې د سرو اوسپینو زرو او درهم او دینار په ذریعه هم د فلوسو قرض بیعه جائزه نده (ځکه چه په سرو او سپینو زرو او درهم او دینار کښې حقیقی ثمنیت موجود دې او په سکو کښې اصطلاحی ثمنیت موجود دې اوداامام مالك رحمه الله په نیزد له ثمنیت سره سره که چیرې اجناس مختلف وی بیا هم قرض ناجائز دې)

ترکوم [۱] ځائ پورې چه داحنافو تعلق دې نو دهغوئ په نیزد د سود دحراموالی علت د ثمنیت په ځائ (وزن) دې . اوفلوس اګرچه عددی دی ځکه چه په دې کښې دا علت موجود ندې لیکن داحنافو فقهاء فرمائی چه دیو قیمت والا فلوس د بازاری اصطلاح مطابق بالکل برابر اوپه قطعی طور باندې مساوی واحد لری ، ځکه چه د خلقو اصطلاح دهغې جودت او ردائت (یعنی ښه والې او بدوالې) ختم کړې دې لهذا که چیرې یو واحد په دوه واحدونو باندې خرڅ کړې شی نو په دوه کښې

---

[۱] . داحنافو موقف دلته په فقهی اصطلاحاتو کښې بیان کړې شوې دې ځکه چه د هغې په یو عام فهم عبارت کښې راوستل مشکل دی . نو خلاصه داه چه د احنافو په نیزد د دوه همجنسو څیزونو په تبادله کښې که چیرې د یو څیز په مقابل کښې کوم عوض نه وی نوهغه سود دې . په عامو څیزونو کښې خو دا وی چه که یو طرف ته د تعداد اوکمیت زیادت وی نو بل طرف ته د کیفیت او وصف زیادت ته دهغې مقابل ویلې شی مثلاً که چیرې یو لوښې په دوه لوښو باندې خرڅ کړې شی نو داسې ویلې شی چه په دې یو لوښی کښې دوصف یوه داسې خوبی شته چه دهغه بل طرف دیو لوښی په مقابل کښې شمار کیدلې شی . لهذا په دې صورت کښې یو لوښې هم بغیر له عوض څخه نشته. او د دې حقیقت داسې دې چه اول لوښې د دریم لوښی د اصلیت په مقابل کښې شو اودویم لوښې د دریم لوښی د ښه والی (وصف) په مقابل کښې شو لیکن دا صورت په هغه ځائ کښې کیدې شی چه په کوم ځائ کښې دیوڅیز اوصاف معتبر وی. اود هغې قیمت لګول کیدې شی، د دې بالعکس کوم ځائ کښې چه اوصافو ته اعتبار نه وی بلکه اعتبار فقط مقدار ته وی نو هلته اوصاف د مقدار په مقابله کښې نشی راوستلې لکه چه یو څیز په پیداښتی یا شرعی طور باندې اویا په عرف عام کښې ثمن جوړ شوې وی نو په هغې کښې د اوصافو اعتبار ختم شو. لکه د یوې روپئ سکه که هغه هرڅومره نوې او ځلیدونکې وی نودهغې قیمت هماغه یوه روپئ دې همدارنګه هغه سکه چه زړه وی دهغې قیمت هم یوه روپئ دې . اګرچه دلته د دواړو په اوصافو کښې فرق شته لیکن دا فرق د بازاری اصطلاح په لحاظ سره کالعدم شوې دې لهذا یوه زړه روپئ د نوې روپئ په مقابل کښې په قیمت کښې برابره ده او د دواړو په قیمت کښې هیڅ فرق نشته نو که چیرې یوه روپئ د دوه روپو په بدل کښې خرڅه کړې شی نو دلته دا نشی ویلې کیدې چه دې یوطرف ته چه کومه روپئ زیاته ده نو دا دهغه بل طرف د روپئ د یو وصف په مقابل کښې ده نو پ همدې اساس دلته دې زیاتی روپئ حتماً دا ونیل کیږی چه د دې په مقابل کښې عوض نشته لهذا داسود دې

به یو واحد بغیر له کوم عوض څخه پاتې شغ او دا له عوض څخه خالي پاتی کیدل به په عقد کښې مشروط وی نو لدې نه ربا (سود) لازمیږی. لیکن دا حکم تر هغه وخته پورې دې ترڅو پورې چه دهغه فلوسو قیمت باقي پاتې وی او هغه له متعین کولو سره نه متعین کیږی.

اوس امام محمد رحمه الله تعالی دا فرمایی چه کله دا سکې ثمن اصطلاحی شوې او رواج شوی دی نو ترڅو پورې چه ټول خلق د دې ثمنیت باطل نکړی نو تر هغه وخته پورې فقط د متعاقدینو (بائع او مشتری) له باطلولو سره د دې ثمنیت نه باطلیږی، نو هرکله چه ثمنیت باطل نه شو نو هغه له متعین کولو سره نه معین کیږی، نو لهذا د یوې سکې په دوه سکو سره تبادله جائز نده. اګرکه هغه بائع او مشتری تر خپل حده پورې معین کړی.

لیکن امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف رحمهما الله تعالی فرمایی چه چونکه دا سګه پیدایشی ثمن ندې بلکه اصطلاحی ثمن دې نو له همدې کبله متعاقدینو ته دا اختیار دې چه هغوئ په خپل مینځ کښې دا اصطلاح ختمه کړی او د سکو د تعین په ذریعه د دې ثمنیت باطل کړی، نو په دې صورت کښې به دغه سګې د عروضو او سامان په حکم کښې شی. فلهذا نو په دې کښې به سره له کموالی او زیادت نه تبادله جائزه شی[1]

پاتې شو امام احمد رحمه الله تعالی نو دهغه په دې مسئله کښې دوه قولونه دی:

یو قول دا دې چه د یوې سګې په دوه سګو سره تبادله جائزه ده ځکه چه دهغه په نیزد باندې دربا د حرمت علت وزن دې او سګې عدد دی نو په دې کښې دا علت نشته نو هرکله چه علت پکښې موجود نشو نو دحرمت حکم هم پکښې نه راځی

دویم دا چه دسکو دغه قسم تبادله جائزه نده ځکه چه دا سکې فی الحال اګرچه عددی دی لیکن په اصل کښې د عنصر کیدلو په وجه وزنی دی او دیو اصل عنصر په سکو باندې بدلولو سره دهغې اصلیت نه باطلیږی لکه څنګه چه دودئ اګرچه عددی ده لیکن د دې اصل اوړه دې نو په دې اعتبار سره کیلی یا وزنی ده، لکه چه علامه ابن قدامه لیکی:

ان اعتبار القاضي ان ما كان يقصد وزنه بعد عمله كالاسطال ففيه الربا وما لا فلا[2].

د یو عنصر نه د یو څیز له جوړولو نه وروسته هم که چیرې پدې کښې د وزن اعتبار وکړې شی نو په دې کښې په کموالی یا زیاتوالی سره بیع کول د سود کیدلو په وجه حرام دی لکه د تانبې، اوسپنې نیکل وغیره لوښی (ځکه چه دا څیزونه په بازار کښې په وزن کولو سره خرڅیږی) اوکه

---

۱ - د تفصیل لپاره وګورئ: العنایه علی هامش فتح القدیر، جلد ۵، صفحه ۲۸۷.
۲ - المغنی لابن قدامه مع الشرح الکبیر، جلد ۴، ص ۱۲۸ - ۱۲۹ وفتاوی ابن تیمیه، جلد ۲۹، ص ۴۲

چیرې وزن ته اعتبار ورنکړې شي نو بیا سود ندي .

له دې اصولو څخه دا څرګندیږي چه دامام احمد رحمه الله په نیزد دکاغذي نوټونو تبادله سره له کموالي او زیادت نه جائزه ده ځکه چه کاغذي نوټونه اصلاً وزني ندي په خلاف د فلوسو چه هغه اصلاً وزني دي، والله سبحانه وتعالی اعلم.

د بعضو نورو فقهاؤ په نزد دیوې سکې په دوه سکو سره تبادله مطلقًا جائزه ده بلکه د سکو په تبادله کښې هرقسمه کموالې ، زیاتوالې جائز دې، دا د امام شافعي رحمه الله تعالی مسلك دې، دهغوئ په نیزد دربا دحراموالی علت اصلی او طبعي ثمنیت دې، چه هغه فقط په سرواوسپینو زرو کښې وی او په سکو کښې صرف عرفي ثمنیت موجود دې، اوطبعي ثمنیت پکښې نشته. لهذا دهغوئ په نیزد د فلوسو تبادله په خپل مینځ کښې سره له کموالي او زیاتوالي نه جائزه ده [1]

اولکه څنګه چه مونږ مخکښې دا خبره وکړه چه دامام ابوحنیفه اوامام ابو یوسف رحمهما الله په نیزد هم که چیرته متعاقدین دا سکې متعینې کړی نو له متعین کولو سره به د دې ثمنیت باطل شي او دا به دعروضو او سامان په حکم کښې شي نو بیا په دې صورت کښې د یو فلس تبادله په دوه فلوسو سره جائزه ده .

په دې مسئله کښې راجح او مفتی به قول

د پورته ذکر شوی اختلاف تعلق له هغه زماني سره دې چه کله سره زر او سپین زر د ټولو اثمانو معیار ګڼل کیدل او دسرواوسپینو زرو تبادله عام رواج وؤ، او په ټولو معاملاتو کښې به آزادانه دسرو اوسپینو زرو د سکو په ذریعه لین دین کیدلو، او دنورو څیزونو سکې به په لږو اومعمولي قسم تبادلو کښې استعمالیدلې، لیکن په موجوده زمانه کښې لیکن په موجوده زمانه کښې د سرو اوسپینو زرو سکې ډیرې کمې شوی دی او په دې وخت کښې په دنیا کښې داسې یوملك یا ښار نشته چه په هغې کښې دسرو اوسپینو هزرو سکې رواج وی، بلکه په ټولو معاملاتو اولین دین کښې دسرو اوسپینو زرو د سکو په ځائ عامې سکې اوکاغذي نوټونه رواج دی لکه څنګه چه مونږ د دې مقالې په شروع کښې دا خبره ذکر کړه .

لهذا زما په نظر سره په موجوده دور کښې دکاغذي نوټ د تبادلې په مسئله کښې دامام مالك یا د امام محمد رحمهما الله قول اختیارول مناسب دی، ځکه چه دامام شافعي یا د امام ابو حنیفه اود امام ابویوسف رحمهم الله مسلك اختیارولو سره به د سود دروازه خلاصه شي .

اوهر سودی کاروبار اولین دین به د دې مسئلې په بناء باندې جائز کړې شي، یعنی که چیرته یو

[1] نهایة المحتاج للرملی . دریم جلد ۳ . ص ۴۱۸ . تحفة المحتاج لابن حجر سره له حاشیي نه د الشرواني نه . جلد ۴ . ص ۲۷۹

قرض ورکونکي د خپل قرض په بدل کښې سود اخستل غواړي نوهغه به يې دغه رنګه په آسانۍ سره اخستلې شي چه په قرض غوښتونکې باندې به خپل کاغذي نوټونه په ډير قيمت سره خرڅ کړي اودغه شان به هغه دخپل قرض په بدل کښې سود لاسته راوړي.

غالب ګمان دا دې چه که چيرته هغه فقهاء کرام کومو چه ديوې سکې په دوه سکو سره تبادله جائزه ګڼلې ده هغوئ زمونږ په دور کښې ژوندی وای او د دې نوټونو د تبادلې مشاهده يې کړې وای نو ضرور به يې د دې معاملې د حرمت فتوی ورکړې وه چه د دې خبرې تائيد د بعضې متقدمينو فقهاؤ له قول نه هم کيږي چنانچه د ماوراء النهر فقهاؤ به په عدالي او غطارفه کښې په کموالي او زياتوالي سره تباده حرامه ګڼله[1].

د داسې سکوپه باره کښې داحنافو په اصل کښې په کموالي اوزياتوالي سره تبادله جائزه وه. ځکه چه په دغه سکوکښې دکوټه څيزونو د غالب کيدلو په وجه به په سپينوزرو اوکوټه موادو کښې هريو د مخالف جنس دعوض مقرر کيدلو ګنجايش موجود وؤ «ګويا د سپينو زرو تبادله په کوټه څيز سره اودکوټه څيز تبادله په سپينو زرو سره کيدله نو دا تبادله خلاف جنس کيدلو په وجه جائزه وه» ليکن د ما وراء النهر داحنافو مشائخو په دې کوټه سکو کښې هم په کموالي او زياتوالي سره تبادله ناجائزه وګڼله او د دې علت يې دا بيان کړو چه ((انها اعز الاموال دیارنا فلو ابیح التفاضل فیه ینفتح باب الربا))[2].

يعنې زمونږ په ښار کښې داسکې هم عزتمند اوقابل قدر مال ګڼل کيږي نو له همدې کبله که د دې په تبادله کښې سره له زياتوالي اوکموالي نه تفاضل مباح وګڼلې شي نو دسود دروازه به خلاصه شي.

بيا که چيرې د امام محمد رحمه الله تعالى قول د امام ابوحنيفه اوامام ابويوسف رحمهما الله له قول سره مقايسه کړې شي نو دامام محمد رحمه الله تعالى دليل ډير مضبوط او راجح معلوميږي ځکه چه د امام ابوحنيفه اوامام ابو يوسف رحمهما الله په نيزد د دې سکو د ثمنيت ختميدلو نه پس سره له کموالي اوزياتوالي نه دهغې تبادلې ته دجواز حکم ورکول کيږي حال داچه د سکو د ثمنيت د ختمولو کوم صحيح مقصد په نظر کښې نه راځي. ځکه چه شاذ او نادر به کوم سړې داسې وي چه دهغه په نيزد به دسکو د اخستلو مقصد دهغې ثمنيت نه وي بلکه مقصد به يې دهغې اصل عنصر لکه تانبه . اوسپينه وغيره وي. د سکو له اخستلو نه د هر سړي مقصد دهغې

---

۱ . عدالي او غطارفه يوخاص قسم سکې دې چه په هغې کښې به سره زر ډير لږ وؤ اوباقي به نوله کوټه اوناچله وه

۲ . فتح القدير . باب الصرف . جلد ۵ . ص ۳۸۲

ثمنيت وي ،،د دې لپاره چه هغه د دې په ذريعه خپل ضروريات واختلې شي نه دا چه هغه دا سکې ويلې کړی او بل څيز ترينه جوړ کړي،، لهذا که چيرته متعاقدين ،بائع اومشتري، د سکې په ثمنيت باندې اتفاق اومصالحه وکړي نو دې ته دکموالی اوزياتوالی دتبادلې جائز کولو لپاره د دروغو يوه مصنوعي حيله ويل کيږي چه هغه شريعت نشي قبلولې. خصوصاً په موجوده زمانه کښې د دې قسم حيلو شرعاً هيڅ ګنجائش نشته. بل طرفته د سرو او سپينو زرو دحقيقي او طبعي سکو په ټوله دنيا کښې بالکل وجود نشته. اوسود فقط په همدې مروجه نوټونو کښې وی ځکه چه د سرو اوسپينو زرو پيسې له ټولې دنيا نه ورکې شوی دی.

البته د امام ابوحنيفه اوامام ابويوسف رحمهما الل په قول بادې عمل په هغه فلوسو کښې متصور کېدې شی چه کوم په خپل ذات کښې من حيث ماده مقصود وی لکه چه تاسو ګورئ چه د بعضې خلقو دا عادت وی چه هغوئ د مختلفو ملکونو سکې اونوټونه له خپل ځان سره جمع کوی، له دې جمع کولو نه دهغوئ مقصد تبادله يا بيعه او يا د دې په ذريعه منافع حاصلول نه وی بلکه فقط د تاريخی يادګار په طور يې جمع کوی چه په آينده زمانه کښې کله دغه پيسې او سکې بندې شی نو له ده سره به د يادګار په طور پاتې او موجودې وی، ظاهراً په دغه قسم پيسو کښې د دې دواړو حضراتو په نيزد باندې دعمل کولو اوسره له کموالی او زياتوالی نه د هغې تبادلې ته دجائز ونيلو ګنجائش شته. تر کومه ځايه پورې چه د پيسو اوکرنسی تعلق دې دکومو د لاسته راوړلو مقصد چه تبادله او بيعه وی اودهغې ذات مقصد نه وی نو د داسې پيسو اوکرنسی په معامله کښې له نرمی اختيارولو سره به دسود لاره خلاصه شي. فلهذا : داسې پيسو په تبادله کښې کموالې او زياتوالې درست ندې . والله سبحانه وتعالی اعلم

په هرحال په موجوده زمانه کښې دکاغذی پيسو تبادله په مساوی توګه جائزه ده او په کموالی او زياتوالی سره جائزه نده.

بيا دغه مساوات دنوټونو دتعداد اوشمار په لحاظ سره معتبر ندې بلکه د دې نوټونو دظاهری قيمت په اعتبار سره معتبر دې چه کوم په هغې باندې ليکل شوې وی . لهذا د پنځوسو روپو د نوټ تبادله د لسو لسو روپو په پنځو نوټونو سره جائزه ده . په دې تبادله کښې اګرچه يوطرف ته صرف يو نوټ دې اوبل طرف ته پنځه نوټونه دی ليکن د ظاهری قيمت په لحاظ سره د دې پنځو نوټونو مجموعې قيمت د پنځوسو روپو د نوټ له قيمت سره برابر دې. ځکه چه دا نوټونه اګرچه عددی دی ليکن د دې نوټونو په خپل مينځ کښې په تبادلې اوبيع کولو سره پخپله هغه نوټونه يا د هغې تعداد مقصود نه وی بلکه فقط دهغې هغه ظاهری قيمت مقصود وی چه دکوم قيمت هغه

نوټ نمایندگی کوی. لهذا مساوات په همدغه قیمت کښې پکار دې[1]

دنوټونو په باره کښې دا مسئله بعینه دفلوسو د سکو په شان ده. سکې اصلاً د عنصر کیدلو په وجه وزني دی لیکن فقهاء کرامو دا عددی گرځولی دی. د دې وجه همدا ده چه د دې فلوسو له حصول نه د دوئ ذات یا عنصر یا تعداد مقصود نه وی. بلکه هغه قیمت یې مقصود وی چه دکوم قیمت دا سکه نمایندگی کوی. لهذا د یوې داسې غټې سکې چه قیمت یې لس فلسه وی دهغې تبادله په وړولسو سکو باندې جائز دی چه په هغې کښې د هرې یوې سکې قیمت یو فلس وی. او د دې خبرې هغه فقهاء کرام هم دجواز قائل دی چه څوك د یوې سکې په دوه سکو بانې بدلولو ته ناجائز وایی ځکه چه په دې صورت کښې د یوې سکې قیمت بعینه هغه دې کوم چه د لسو سکو دې. په بل عبارت سره وایو چه د لسو فلسو سکه اگرچه ظاهراً یوه سکه ده لیکن حکمًا هغه د یو یو فلس لس سکې دی. لهذا هغه د لس واقعی سکو سره مساوی دې. بعینه همدغه حکم دنوټونو هم دې. پدې کښې هم ظاهری عدد ته اعتبار نشته بلکه دهغه عدد حکمی ته اعتبار دې کوم چه دهغې له قیمت نه څرگندیږی. نومعلومه شوه چه په همدې کښې مساوات ضروری دې

دمختلفو ملکونو د پیسو د نوټونو په خپل مینځ کښې تبادله

له پوره فکر اوسوچ کولو نه وروسته دا حقیقت واضح کېږی چه د یو ملك مختلفې سکې او نوټونه یوجنس دی اودمختلفو ملکونو پیسې مختلف الاجناس دی. ځکه لکه څنگه چه مونږ مخکې عرض کړې وؤ. په موجوده زمانه کښې چه کومې سکې اونوټونه دی دهغې اصل ماده او ذات مقصود ندې بلکه په اوسنی زمانه کښې پیسې اونوټونه .قوت خرید له یو خاص معیار څخه عبارت دې. اوهرملك چونکه یوجدا معیار مقرر کړې دې مثلاً په پاکستان کښې روپئ. په سعودی عرب کښې ریال. په امریکه کښې ډالر وغیره. لهذا دا معیار دملکونو په اختلاف سره بدلیږی. ځکه چه د هرملك د پیسې د حیثیت تعیین دهغه ملك د قیمتونو په اندازه اودهغه ملك د وارداتو اوصادراتو وغیره په بناء باندې وی. بل کوم داسې مادی څیز نشته چه هغه د دې مختلفو معیارونو په مینځ کښې یو پایه دار تناسب قائم کړی. بلکه د هر ملك د اقتصادی حالاتو دتغیر او اختلاف له وجه نه په دې تناسب کښې هره ورځ بلکه هرساعت تبدیلی راځی. لهذا د دې مختلفو ممالکو د پیسو ترمینځ کوم داسې مستحکم تعلق نشته چه هغه د دې ټولو پیسو یو جنس

---

[1] همدا وجه ده چه د یو انسان لپاره چه څومره چه د زرو روپو یو نوټ په زړه پورې وی دومره روپئ سل نوټونه یې هغومره په زړه پورې نه وی اگرچه د یوې روپئ سل نوټونه د عدد په اعتبار سره ډیر زیات دی لیکن د ظاهری قیمت په لحاظ سره د دې سلو نوټونو مجموعه د زرو د نوټ نه لږ څنډه که دی. لهذا تبادلې په وخت کښې به دظاهری قیمت برابروالی ته اعتبار وی

جوړ کړي
د دې بالعکس دیوملك په پیسو اوسکو کښې داخبره نشته اگرچه د مقدار په لحاظ سره هغه هم مختلفې وی لیکن دهغه اختلاف نسبت همیشه یو وی اوپه هغې کښې کوم فرق نه وی. مثلاً د پاکستان روپئ او پیسه، اگرچه د دې دواړو قیمت مختلف دې لیکن د دې دواړو ترمینځ یو خاص نسبته شته «چه یوه پیسه د یوې روپئ سلمه حصه کیږی» د روپئ په قیمت پورته کیدو او ښکته کیدو سره په دې نسبت کښې کوم فرق نه راځی. په خلاف د پاکستانی روپئ او سعودی ریال چه د دې دواړو ترمینځ کوم داسې معین نسبت نشته چه په هر حال کښې برقرار وی بلکه د دې دواړو په مینځ کښې نسبت هروقت بدلیږی [۱]

لهذا هرکله چه دهغوئ په مینځ کښې داسې یو معین نسبت چه دجنس د یو والی لپاره ضروری وی پیدا نشو نو د ټولو ملکونو پیسې په خپل مینځ یو د بل په مقابل کښې مختلف الجنس دی. همدا وجه ده چه دهغې نوم ، دهغې پیمانه اودهغې اساسی واحدونه هم مختلف وی .

هرکله چه دمختلفو ملکونو پیسې مختلف الاجناس شوې نودهغوئ ترمینځ سره له کموالی او زیاتوالی نه تبادله جائز ده. نو د یو ریال بدلول په یوې روپئ سره هم جائز دی او په پنځو روپو سره هم. دامام شافعی رحمه الله په نیزد خکه جائز دی چه دیوملك دسکې تبادله په دوه سکو باندې جائزه ده نو دمختلفو ملکونو دسکو ترمینځ تبادله سره له تفاضل نه په طریق اولی جائزه ده . او دحنابله وڅ هم همدا مسلك دې . چه مونږ مخکې بیان کړو. اودامام مالك رحمه الله په نیزد باندې پیسې اگرچه د ربوی اموالو له جملې څخه دی لیکن کله چه په ربوی اموالو کښې جنس بدل شی نو دهغوئ په نیزد هم دهغې بیعه سره له تفاضل نه جائزه ده . اوداحنافو په نیزد دیوفلس بیعه په دوه فلسونو باندې خکه ناجائزه وه چه هغه سکې په خپل مینځ کښې برابرې اوهم مثل وې. چه په دې بناء باندې د بیعې په وقت کښې یوه سکه بغیر له عوض نه خالی پاتې کیدله. لیکن دمختلفو ملکونو پیسې د مختلف الجنس کیدلو په بناء باندې هم مثل اوبرابرې پاتې نشوې. نو له همدې کبله دهغوئ ترمینځ سره له تفاضل نه د بیعې په وقت کښې د پیسو هیڅ یوې حصې ته خالی عن العوض نشی ویل کیدلې. اوکله چه بیعه خالی عن العوض نشوه نو دهغې بیعه سره له تفاضل نه جایزه ده

---

[۱] په یوه زمانه کښې یې نسبت یو په درې وی . په دغه وقت کښې یو ریال د درې روپو برابر وی. بیا د ریال دقیمت په پورته کیدو سره دغه نسبت یو په څلور شی. اواوس تقریباً دغه نسبت یو په پنځه دې . له دې نه دا څرګنده شوه چه د دې دواړو پیسو په مینځ کښې کوم معین نسبت موجود ندې چه همیشه په یو حال باندې برقرار وی. همدغه حال د دنیا د نورو ملکونو د پیسو هم دې (ترجم)

لهذا دیو سعودی ریال خرڅول په ډیروپاکستانی روپو باندې جائز دی.
اوس دلته یو بل سوال پیدا کیږی اوهغه دا چه کله کله حکومت دمختلفو پیسو قیمت مقرره وی . مثلاً که چیرته د پاکستان حکومت د یو ریال قیمت څلور روپئ او د یو ډالر قیمت پنځلس روپئ مقرر کړی. نوآیا په دې صورت کښې به دحکومت د مقرر شوی قیمت مخالفت کولو سره د پیسو تبادله سره له تفاضل نه جائزه وی؟ مثلاً یو سړی یو ډالر د پنځلسو روپو په ځائ باندې په شل روپئ واخستلو نو آیا دغه قسم زیادت ته سود ویلی شی اوکه نه ؟ زما په نیزد باندې خو په دې صورت کښې سود نه لازمیږی ځکه چه دلته دا دواړو پیسې دجنس په اعتبار سره مختلفې دی او د مختلف الجنس بیعه سره له تفاضل نه جائزه ده . اوشرعی دهغې دکموالی او زیاتوالی کوم معلوم حد نشته بلکه دا د دواړو جانبو (بائع اومشتری) په رضا پورې موقوفه ده چه دهغې تفصیل مونږ مخکې ذکر کړو. البته په دې باندې د تسعیر [۱] (دقیمت د زیاتوالی) احکام جاری کیږی. لهذا دکومو فقهاء کرامو په نیزد باندې چه څیزونو کښې تسعیر جائز دې دهغوئ په نیزد په پیسو کښې هم جائز دې اودخلقو لپاره له دې حکم نه مخالفت کول جائز ندی. یو لدې کبله چه د فقه قاعده ده چه کوم کار چه ګناه نه وی په هغې کښې د حکومت اطاعت واجب دې [۲] . دویم لدې کبله چه کوم شخص په کوم ملك کښې اوسیږی هغه قولاً یا عملاً د دې خبرې اقرار کوی چه ترڅو هغه لره د دې ملك قوانین کومې ګناه ته مجبور نکړی نوهغه به خامخا د دې قوانینو پابندی کوی [۳]. لهذا د دې قواعدو په نظر کښې نیولو سره هغه لره د حکومت له دې قانون نه مخالفت کول ندی پکار. لیکن له بل طرفه دغه زیادت ته سود ویل اوهغه حرام ګرځول هم صحیح ندی

بغیر له قبض نه د یوې پیسې تبادله یا خرڅول

بیا د یوملك د پیسو د نوټونو په خپل مینځ کښې تبادله اګرچه سره له تفاضل نه جائز نده لیکن دا بیع الصرف هم نده. ځکه چه د پیسو نوټ خلقةً ثمن ندې. بلکه دا ثمن عرفی او اصطلاحی دې. او د بیع الصرف احکام فقط په طبیعی ثمن یعنی سروزرو او سپینو زرو باندې جاری کیږی.. له همدې کبله په مجلس عقد کښې له دواړو طرفونو نه قبض شرط ندې. البته دامام ابوحنیفه اوامام

---

۱ - تسعیر دحکومت له طرف نه د یوڅیز دقیمت مقرر کولو ته ویل کیږی. د دې لپاره چه خلق له هغې نه په زیات قیمت سره څیزونه خرڅ نکړی

۲ - بعضې فقهاء کرامو د دې قاعدې تصریح کړیده . وګورئ: شرح السیر الکبیر للسرخسی . ص ۹۲ . ج ۱ . رد المحتار. باب العیدین. ص ۷۸۰ . ج ۱ . وباب الاستسقاء . ص ۹۲ . ج ۱ . وکتاب الحظر والاباحة . جلد ۵ . ص ۴۰۷

۳ - احکام القرآن . مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمة الله تعالی علیه . جلد ۵ . ص ۴۳

ابو یوسف رحمهما الله په نیزد باندې کم نه کم یوطرف نه قبض کول ضروری دی. بغیر له دې نه دا معامله نه صحیح کیږی ځکه چه د دې دواړو امامانو په نیزد باندې سکه په متعین کولو سره نه متعین کیږی، اوتعین بغیر له قبض څخه نه کیږی. لهذا که چیرته بغیر له قبض نه بائع او مشتری جدا شول نو دهغوئ دغه جدائی به په داسې حال کښې وی چه دهر فریق په ذمه باندې به دهغه بل قرض وی ((اوبیع الدین بالدین لازمیږی)) چه هغه جائزه نده [1]. البته د نورې درې واړه امامانو په نیزد باندې چونکه ثمن په متعین کولو سره متعین کیږی نو دهغې د تعین لپاره د قبض ضرورت نشته. له همدې کبله د دوئ په نیزد باندې که چیرته کوم یو فریق نوټ متعین کړو نو معامله به فقط دهغه په نوټونو باندې وی، نوبیا به قبض کول د عقد د صحت لپاره شرط نه وی [2].

اوس پوښتنه داده چه آیا په پیسو سره د قرض معامله جائزه ده اوکه نه ؟ لکه څنګه چه په تاجرانو او عامو خلقو کښې د دې خبرې رواج دې چه یو سړې د یوملك پیسې بل سړی ته په دې شرط سره ورکوی چه ته به ماته د دې په بدل کښې دومره موده وروسته د فلانی ملك پیسې په فلانی ځائ کښې راکوې. د مثال په توګه زید . عمرو لره زر (۱۰۰۰) ریال په سعودی عرب کښې ورکړل اوهغه ته یې وه وئیل چه ته به ما ته د دې په بدل کښې په پاکستان کښې څلور زره (۴۰۰۰) پاکستانی روپئ راکوې . نو آیا دا معامله جائزه ده اوکه نه ؟

د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزد باندې دا معامله جائزه ده. ځکه چه دهغه په نیزد باندې د ثمن په بیع کښې د بیع وقت اوثمن د عقدکونکی په ملکیت کښې موجود کیدل شرط ندی. لهذا کله چه جنس مختلف شو نو قرض جائز دې . لکه چه امام سرخسی رحمه الله تعالی لیکلی دی :

واذا اشتری الرجل فلوسًا بدراهم ونقد الثمن ولم تكن الفلوس عند البائع فالبيع جائز لان الفلوس الرائجة ثمن كالنقود وقد بينا ان حكم العقد في الثمن وجوبها و وجودها معًا ولا يشترط قيامها في ملك بائعها لصحة العقد كما لا يشترط ذلك في الدراهم والدنانير [3].

یعنی که چیرې یو سړې د دراهمو په بدل کښې فلوس (پیسې) واخلی. اوهغه بائع ته دراهم ورکړل لیکن له بائع سره په دغه وقت کښې فلوس موجود نه وو . نودغه بیعه درسته او صحیح ده ځکه چه مروجه سکې د ثمن په حکم کښې دی. اومونږ داخبره واضحه کړه چه په ثمن باندې د عقد کولو حکم دا دې چه هغه پیسې به د مشتری په ذمه باندې واجب هم وی اوموجودې به هم وی لیکن ثمن د بائع په ملکیت کښې موجود کیدل ضروری ندی. لکه څنګه چه د دراهمو او دنانیرو د

---

۱ . الدرالمختار مع رد المحتار . جلد ۴ . ص ۱۸۳ . ۱۸۴

۲ . المغنی لابن قدامه باب الصرف . جلد ۴ . ص ۱۲۹

۳ . مبسوط السرخسی . جلد ۱۴ . ص ۲۴

بيع په وقت کښې دهغې په ملکيت کښې موجود کيدل ضروري ندی
لهذا په دې صورت کښې به دغه بيعه په ثمن مؤجل سره وی چه د اختلاف الجنس په صورت کښې جائزه ده . اودا معامله په (بيع السلم) کښې هم داخليدې شي. او اکثر فقهاء کرام په فلوسو کښې (بيع السلم) جائز گڼي. ځکه چه سکې يوداسې غير عددی متفاوت څيز دې ، د وزن او صفت وغيره په بيانولو سره متعين کيږي. حتی چه امام محمد رحمه الله ديو فلس بيعه په دوه فلسونو بادې جائز گڼی دهغه په نيزد هم په سکو کښې (بيع السلم) جائزه ده [1] . همدغه راز دامام احمد رحمه الله په نيزد باندې په هغه عددی څيزونو کښې چه په هغې کښې تفاوت او ښکاره فرق نه وی په هغې کښې بيع السلم جائزه ده [2].

البته د دې عقد په (بيع السلم) کښې د داخل کولو په صورت کښې به دهغه شرائطو لحاظ ساتل ضروري وی چه مختلف فقهاء کرام يې د خپل خپل مسلك مطابق د (بيع السلم) د جواز لپاره تاکی. چه د فقه په کتابونو کښې سره له تفصيل نه موجود دی . والله سبحانه وتعالى اعلم .

سبحان ربك رب العزة عما يصفون وسلام على المرسلين والحمد لله رب العالمين.

تبصره

له حکومتی بانك څخه چه کله موږ معلومات وکړو نو له هغې څخه دا خبره ثابته شوه چه د دولت د وارداتو او صادراتو مطابق د تول پيداوار په اندازه د اساسی سکو او يوې روپۍ نوټ اول شائع کيږي. اوبيا دهغې د تعداد مطابق لوئ نوټونه د دستاويز په شکل کښې شائع کيږي.

د يوې روپۍ نوټ د فلوسو په حکم کښې دې اولوئ نوټ دهغې سند اودستاويز دې. پدې خبره باندې دا لاندې دلائل دی :

۱ - دحکومتی بانك دغه ذکر شوې وضاحت .

۲ - په لويو نوټونو باندې د سند کيدلو دغه مضمون ليکل شوې دې .

۳ - که چيرې يو نوټ وسوزيږی اويا وشليږی نودهغې نمبر په ښودلو سره له بانك څخه نوې نوټ اخستل کيدې شي. له هيڅ قسم مال سره هيڅکله هم داسې معامله نه کيږی چه د ضائع کيدلو په صورت کښې له حکومت اويا له مال ورکونکی څخه دوباره مطالبه وکړې شي. اگرچه د يوې روپۍ دنوټ زړه توټه هم بانك بدلوی مگر دا کار د دې لپاره نه کوی چه دا يو دستاويز دې بلکه ددې لپاره دا کار کوی چه حکومت دغه کاغذ سکه مقرر کړې ده چه د يو څو کالو تر استعمال څخه وروسته شليدې شي. لهذا بغير له بدلولو نه د دې سکې باقی پاتې کيدل ناممکن دی

---

۱ - فتح القدير. جلد ۵ . ص ۳۲۷

۲ - المغنى لابن قدامه . جلد ۴ . ص ۳۲۷

۴ ـ د مالي نقودو وروسته له ناچل کیدلو نه اګرچه قیمت کمیږي ـ لکن بالکل نه ورکیږي، وروسته له ناچل کیدلو نه هم دهغې مالیت برقرار وي چه قبل الکساد ـ ه دومره زیات تفاوت نلري. په خلاف د نوټ سره چه د سلو روپو د نوټ قیمت بالکل وروسته ـ ه ناچل کیدلو نه که چیرې بالکل معدوم نشي نو کالعدم خو ضروري وي. دسلو روپو نوټ بیا څوک په یوه روپۍ هم نه اخلي.

دا یو اساسي بحث وو اوس راځو او د مقالې د متعلقه مقاماتو په ترتیب سره تجزیه وتشریح کوو:

قوله: دغه رنګې که چیرته یو مالدار سړي د خپل زکوة د اداء کولو لپاره دغه کاغذي نوټ کوم فقیر ته ورکړي نو تر کومه وقته پورې چه هغه فقیر دهغه نوټونو په بدل کښې هغه سره او یا سپین زر له بانک څخه ترلاسه نکړي چه دغه نوټ د هغې سند دي او یا ترڅو پورې چه هغه د دغه نوټونو په ذریعې سره سامان وانخلي نو ترهغه وقته پورې دهغه مالدار سړي زکوة نه اداء کیږي .... (ص : ۴).

تبصره: د یوې روپۍ نوټ دستاویز (سند) ندي. بلکه دا د فلوس په حکم کښې دي. فلهذا پدې سره زکوة اداء کیږي. لوئ نوټ د سرو او سپینو زرو سند ندي بلکه د ساده سکو او یا د یوې روپۍ د نوټ سند دي . له همدې کبله که چیرې فقیر ته په زکوة کښې چا لوئ نوټ ورکړو او هغه دهغې په بدل کښې د یوې روپۍ نوټونه واخستل نو هم زکوة اداء کیږي .

فقیر ته په زکوة کښې لوئ نوټ لاسته ورغې، هغه بیا یو بل فقیر یا غنی ته ورکړو. او هغه په هغې باندې کوم مال واخستلو یا یې د یوې روپۍ نوټ واخستلو نو بیا هم زکوة کیږي. **لان قبض الوکیل کقبض الموکل**.

قوله: له همدې کبله په تیره پیړۍ کښې د هندوستان ډیرو علماء کرامو دا فتوا ورکړه چه دا نوټ د قرض دستاویز او سند دي. لهذا د دې په ذریعه ترهغه وقته پورې زکوة نه اداء کیږي چه تر کومه پورې فقیر دغه نوټ په خپلو ضروریاتو کښې مصرف نکړي. او د دغه نوټونو په ذریعه د سرو او سپینو زرو اخستل هم جائز ندي (ص : ۱۳)

تبصره د زکوة د اداء کیدلو بیان مخکې بیان شو او د نوټونو په ذریعې سره د سرو زرو او سپینو زرو د اخستلو ممانعت لدې کبله وو چه روپۍ د سپینو زرو وه او نوټ د سپینو زرو د روپۍ سند وو

قوله کوم شخص چه د نصاب په انداز د دغه نوټونو مالك شي او په هغې باندې یو کال تیر شي نو په هغې باندې زکوة واجب کیږي (۱۳)

تبصره دزکوة واجب کیدل نوټونو لره د سندونو له حکم څخه نه خارجوي څکه چه نوټ دومره مستحکمه وثیقه او په هغې سره د مال حاصلول دومره آسان دي هرسړي . هر وقت په هغې سره مال

حاصلولې شي. له همدې کبله دزکوة په وجوب کښې دا دقرض په حکم کښې ندې، په بانك کښې کېښودل شوې پيسې هم دزکوة په وجوب کښې په اتفاق سره د قرض په حکم کښې ندی. په داسې حال کښې چه دبانك د رسيد حيثيت د نوټ له دستاويز نه ځو درجې کم دې. د بانك رسيد يا چيك نه د نوټ په شان موثق دې اونه دهغې په ذريعه د پيسو حاصلولو دومره آسان دی

قوله دويم حيثيت دا دې چه دا نوټ د حکومت له طرف نه يو شائع شوې سند اودستاويز دې اوحکومت دا خبره په خپل ځان لازمه کړې ده چه د دې دهلاکيدلو او ضائع کيدلو په صورت کښې يا د دې د درلودونکی د مطالبې په وقت کښې به د دې بدل اوعوض ورکوی ......

ليکن که چيرې د دې په دويم حيثيت باندې لږ شان ژور فکر وکړې شی نودا خبره په واضحه توګه په نظر راځی چه چه دنوټ دا دويم حيثيت دهغې ثمنيت نه باطلوی، ځکه چه د حکومت اصل مقصد دا وو چه دا نوټ هم دثمن عرفی په شان په خلقو کښې رواج شی ......

دخلکو چه څومره اعتماد په طبيعی پيسو باندې دې هغومره اعتماد يې په دې نوټونو باندې نه وو. له همدې کبله حکومت د دې ضمانت په غاړه واخستلو چه د دې دهلاکيدلو په صورت کښې به حکومت دهغې عوض او بدل ورکوی، دا ضمانت حکومت د دې لپاره نکوی چه دحکومت په نظر کښې دا د ثمن عرفی حيثيت نلری. بلکه په دې نوټونو باندې دخلکو د اعتماد کولو لپاره دا ضمانت کوی.د دې لپاره چه خلق بغير له کومې ويرې اوخطر نه په ډاډه توګه په هغې سره لين دين اومعامله وکړی (ص: ۱۴ ، ۱۵).

تبصره: دغه تاويلات د لاندې وجوهاتو له کبله صحيح ندی:

۱ - دغه تاويلات د سټيټ بانك يا حکومتی بانك دهغه وضاحت خلاف دی چه پورته وليکل شول.

۲ - د ضمانت هغه مضمون چه په لويو نوټونو باندې ليکل شوې دې هغه په وړو روپو باندې هم ليکل پکار وو

۳ - د ضمانت مضمون دارنګه ليکل پکار وو چه: ((دناچل کيدو يا ضائع کيدلو په صورت کښې به د دې نوټ پيسې ورکول کيږی)).

په لويونوټونو باندې د ضمانت په ليکنه کښې د مال اداء کول د ناچل کيدلو يا ضائع کيدلو په ځای ((عند المطالبه)) سره مشروط ګرځول او د يوې روپۍ په نوټونو باندې د دغه شان ضامنت نه ليکل د دې خبرې ښکاره دليل دې چه لوئ نوټ سند دې او د يوې روپۍ نوټ سکه ده چه د فلوس په حکم کښې ده.

قوله اوس دغه نوټ دقانونی تبادلې حيثيت اختيار کړې دې . او دنورو عرفی اثمانو په شان خلق د دې په قبلولو باندې مجبور کولې شی په داسې حال کښې چه د نورو مالی اسنادو لکه د

بانك چيك وغيره دخپل قرض د اخستلو لپاره په قبلولو باندې هيڅوك نه مجبوركول كيږي. سره لدې نه چه د بانك د چيك رواج هم عام دې (١٢).

تبصره لوئ نوټ هم دبانك د چيك په شان سند دې. سره لدې نه بيا هم په دواړو كښې فرق دا دې چه دبانك چيك دومره موثق او با اعتماده ندې او دهغې په ذريعه د خپلو پيسو اخستل هم دومره آسان ندی لكه څنګه يی چه د نوټ په ذريعه اخستل آسان دی.

قوله د پيسو په نوټونو باندې چه كوم دغه عبارت ليكل شوې دې چه « د دې درلودونكې له دې د مطالبې په وقت كښې وركړې شی» اوس د دې عبارت كوم مقصد اومعنی باقی پاتې نشوه. ځكه چه په اوسنی وقت كښې د پيسونوټونه چه په هرڅومره مقدار كښې وی په سرو زرو باندې دهغې د بدلولو هيڅ صورت نشته .... (ص: ١٨).

تبصره په شرعی اوعقلی لحاظ سره دهرعاقل او بالغ شخص هرقول اوعمل د صحيح ګرځولو كوشش كول ضروری دی. نو دحكومت دليكنې لغو اوعبث ګرځول بلكه دواقع خلاف ګڼل څنګه صحيح كيدې شی ؟

د حكومتی بانك د وضاحت مطابق د لويو نوټونو ترشا سره اوسپين زر نشته. بلكه طبعی سګی او د يوې روپئ نوټونه دی. نو چه هرڅوك يوبانك ته نه ورشی او د لويو نوټونو په عوض كښې د يوې روپئ دنوټونو مطالبه وكړی نوبانك هغه ته انكار نكوی

قوله اوس دغه نوټ د قرض د سند اودستاويز حيثيت نلری. نوځكه په دې نوټونو باندې د قرض دزكوة احكام هم نه جاری كيږی (١٩).

تبصره د زكوة واجب كيدلو لپاره دا لازم ندی چه لوئ نوټونه دې عرفی ثمن وی. او ددې خبرې تفصيل په تيرو عبارتونو كښې ليكل شوې دې.

قوله اولكه څنګه چه مروّجه سګې كوم غريب ته دزكوة په طور وركړې شی. نو كوم وقت چه هغه فقير هغه سګې قبض كړی نوهمدغه وقت كښې دهغه زكوة اداء كيږی نو عينًا همدغه حكم د پيسو د نوټونو دې .... (ص: ١٩)

تبصره د دې خبرې تفصيل هم تير شوې دې.

قوله په ټولو معاملاتو كښې د پيسو د نوټونو حكم بعينه د سكو په شان دې . لكه څنګه چه د سكو په خپل مينځ كښې په مساوی توګه تبادله جائزه ده همدارنګه د يوملك د پيسو د نوټونو هم په خپل مينځ كښې تبادله په مساوی توګه بالاتفاق جائزه ده. پدې شرط چه د عقد په مجلس كښې له فريقينونه يو طرف په يو بدل باندې قبضه وكړی ...... (٢٠).

وقوله بيا د يوملك د پيسو دنوټونو په خپل مينځ كښې د تبادلې په وقت كښې اګرچه تفاضل جائز ندې. ليكن دا «بيع الصرف» هم ندې. ځكه چه د پيسو نوټ طبعی ثمن ندې. بلكه دا عرفی

ي اصطلاحي ثمن دي د بيع الصرف احکام فقط په طبعي ثمن «سرو او سپينوزرو» باندې جاري کيږي. له همدې کبله دعقد په مجلس کښې له دواړو طرفونونه قبض کول شرط ندی. البته د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف رحمهما الله په نيزد باندې لږترلږه له يو طرف نه قبض کول ضروري دی. بغير له دې نه به د دوئ په نيزد دا معامله صحيح نه وی. ځکه چه د دې دواړو امامانو په نيزد سکې په متعين کولو سره نه متعين کيږی. اوتعين بغير له قبضې څخه تشی کيدې. فلهذا که چيرې بغير له قبض کولو نه متعاقدين شجدا شول نو دهغوئ جدايي به په داسې حال کښې وی چه د هر فريق په ذمه به دهغه بل فريق قرض وی «بيع الدين بالدين لازميږی» چه دا جائزه نده. «الدرالمختار مع رد المحتار. جلد : ۴ . ص : ۱۸۳ – ۱۸۴ » . «ص : ۳۰».

تبصره د فقهې د کتابونو له پلټنې څخه د ذکر شوی صورت عدم جواز ثابتيږی. دا خبره چه «د شيخينو رحمهما الله په نيزد باندې سکې له متعين کولو سره نه متعين کيږی» درسته نده. دا خبره د فقهې د ټولو کتابونو له تصريحاتو څخه دمخالف کيدلو علاوه د دې مقالې دځائ په ځائ ذکر شوی تفصيل سره هم معارضه ده

د شيخينورحمهما الله په نيزد باندې د فلوسو تعين کيدلې شی. د امام محمد رحمه الله په نيزد باندې صحيح ندې. بنا پر همدې اختلاف دفقهې د کتابونو د ذکر شوو احکامو د تفصيل حاصل دادې چه

«۱» بيع الفلوس بالفلوس بالتفاضل - د امام محمد رحمه الله په نيزد په هرصورت ناجائزه ده . او شيخين رحمهما الله يې په شرط د تعيين د بدلينو په مجلس کښې جائز ګڼی . د دوئ په نيزد باندې تقابض بدون التعين کافی ندې

«۲» بيع الفلوس بالفلوس بالتساوی - پدې کښې بالاتفاق تقابض فی المجلس شرط دې. د شيخينو رحمهما الله په مذهب کښې يوقول دا هم دې چه صرف تعين د بدلين بغير له تقابض هم جائز دې. يعنی په تعيين او تقابض کښې د يو وجود شرط دې

قال الامام الکاسانی رحمه الله تعالى: تبايعا فلسا بعينه بفلس بعينه فالفلسان لايتعينان وان عينا الا ان القبض فی المجلس شرط حتى يبطل بترك التقابض فی المجلس لکونه افتراقا عن دين بدين ولو قبض احد البدلين فی المجلس فافترقا قبل قبض الآخر ذکر الکرخی انه لايبطل العقد لان اشتراط القبض من الجانبين من خصائص الصرف وهذا ليس بصرف فيکتفى فيه بالقبض من احد الجانبين لان به يخرج عن کونه افتراقا عن دين بدين وذکر فی بعض شروح مختصر الطحاوی رحمه الله تعالى انه يبطل لا لکونه صرفا بل لتمکن ربا النساء فيه لوجود احد وصفی علة ربا الفضل وهو الجنس (بدائع ،ص:۲۳۶، ج:۵).

وقال الامام الطحاوی رحمه الله تعالی: ولا بد من التعیین فی بیع الفلوس عملها لاتحاد الجنس کما مر فی بیع الفلس بالفلسین (حاشیة الطحطاوی علی الدر، ص:۱۱۰، ج:۳).

د مذهب د ذکر شوو نصوصو او دفقه د امامانو د بې شمیره تصریحاتو مطابق په بیع الجنس بالجنس کښې د یوجانب د عدم تعین په وجه نساء ده او دا حرامه ده. د تفاضل دحرمت او دنساء دجواز هیڅ مثال نشته. بلکه دا دفقه له نصوص څخه سراسر خلاف دی.

پدې مقام کښې ابن همام رحمه الله تعالی دا اشکال ښکاره کوی چه:

ولا یخفی ضعف قوله لان الجنس بانفراده یحرم النساء وانما یحرم لو کان کون المبیع اوالثمن بغیر عینه یستلزم النسیئة ولیس کذلک الا تری ان المبیع بالنقود بیع ما لیس بعینه ویکون مع ذلک حالا فلکونه بغیر عینه لیس معنا النسیئة (فتح، ص:۲۸۸، ج:۵).

پدې کښې د لږ فکر اونظر کولو څخه دا لاندې حقائق په ښکاره توګه په نظر راځی:

۱۔ امام ابن همام رحمه الله د خپل عادت مطابق دا اشکال د بحث په طور فقط د مسئلې په دلیل کښې پیش کړې دې. په نفس مسئله کښې کوم اشکال نشته د شیخینو په نیزد باندې بیع الفلس بالفلسین صرف په مجلس کښې د تعین البدلین په شرط سره جائزه ده. له دې نه علاوه نور ټول صورتونه یې په اتفاق سره ناجائز دی

۲۔ د نقدین په خپل مینځ کښې تبادله لاس په لاس او د نورو ربویاتو په بیع بالجنس کښې دعینًا بعین شرط متفق علیه دې. دیو طرف عدم تعین لره ټول فقهاء کرام نساء وایی

۳۔ قطع نظر له تعلیل د فقهاء کرامو نه. رسول الله صلی الله علیه وسلم دلاس په لاس او عینًا بعین شرط لګولې دې اوله دې نه علاوه یې نورو ټولو صورتونو ته ربا ویلی دی. برابره خبره ده که دفقهاء کرامو په اصطلاح کښې هغې ته نساء وه ویل شی او که کوم بل څه

اوبره دامام محمد رحمه الله مذهب دا ښودل شوې دې چه د فلوس تعین صحیح ندې او دهغې په خپل منځی تبادله کښې تفاضل جائز ندې. لیکن مبسوط او جامع الصغیر لدې څخه مخالف دی

قال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالی فی بحث الفلس بالفلسین باعیانهما. وفی الذخیرة ذکر محمد رحمه الله تعالی هذه المسئلة فی صرف الاصل ولم یشترط التقابض فهذا دلیل علی انه لیس بشرط وذکر فی الجامع الصغیر ما یدل علی انه شرط ومن مشائخنا من لم یصحح ما فی الجامع الصغیر لان التقابض مع العینیة انما یشترط فی الصرف ولیس به ومنهم من صححه لان لها حکم العروض من وجه وحکم الثمن من وجه فجاز التفاضل للاول واشتراط التقابض للثانی عملاً بالدلیلین بقدر الامکان-آه-(بحر ص:۱۳۲، ج:۶).

دا دواړه روایتونه د امام محمد رحمه الله له مشهور مذهب څخه خلاف دی. لهذا یا خو به دا

پدې باندې حمل کولې شی چه دلته دوئ د شیخینو مذهب نقل کړې دې اویا به پدې باندې حمل کولې شی چه له دوئ نه هم یو روایت د دشیخینْ رحمهم الله موافق شوې دې . سره له دې نه دجامع په روایت کښې دتقابض په شرط باندې اشکال باقی پاتې دې. ځکه چه د شیخینو په مذهب کښې تقابض شرط ندې بلکه تعین البدلین شرط دې، له همدې کبله بعض مشانخو دا غیرصحیح ګرځولې دې. اوبعضې نورو د دې دا توجیه کړیده چه له مشهور مذهب څخه خلاف دې

علامه ابن عابدین رحمه الله فرمایي چه د مبسوط په روایت کښې د احد البدلین قبض شرط دې ځکه چه بغیر له هغې نه افتراق عن دین بدین لازمیږی

ظاهره خو داده چه دمبسوط روایت د شیخینو د مذهب مطابق دې چه په هغې کښې د دې تاویل ضرورت نشته. ځکه دهغوئ په نیزد د تقابض په ځائ باندې تعین البدلین شرط دې. لکه څنګه چه په مبسوط کښې ذکر دی چه : **كما نص عليه في الذخيرة في بحث بيع فلس بفلسين باعيانهما بقوله:(هذه المسئلة)وبقوله(التقابض مع العيلية).**

که چیرې د علامه ابن عابدین رحمه الله مطلب دا وی چه وروسته له تعیین البدلین څخه د یوطرف قبض هم شرط دې نو دا دهغه له افتراق عن دین بدین له تعلیل څخه خلاف دې اوکه دهغه مطلب دا وی چه تعیین البدلین شرط ندې نو دا دحدیث له «عینًا بعین» څخه مخالف دې او له دې نه علاوه د ټولو فقهاء کرامو له منلې شوې قاعدې څخه هم خلاف دې، له نقدینو څخه علاوه دنورو ټولو ربویاتو په بیع بالجنس کښې دتعیین البدلین په شرط کولو اود نسـاء په حرمت باندې د ټولو اتفاق دې. له دې نه علاوه په مبسوط کښې د تعیین البدلین شرط کول په صراحت سره ذکر دی.

كما قدمنا من نص الذخيرة مرتين.

د ذخیرې له لیکنې څخه دا هم واضح کیږی چه د فلوسو بیع بالجنس له بیع الصرف نه مطلق نه خارجیږی بلکه د دې خارجیدل له بیع الصرف نه په درې شرطونو سره مقید دی

۱ - دشیخینو رحمهم الله په نیزد باندې

۲ - د تفاضل په صورت کښې

۳ - په مجلس کښې د بدلینو تعیین

د دې درې واړه شرطونو د موجودکیدلو په صورت کښې دا عقد بیع الصرف ندې. د دې لپاره نه مساوات ضروری دې او نه تقابض. البته د نورو ربویاتو په شان تعیین البدلین فی المجلس پکښې شرط دې . عدم الصرف د تقابض د عدم اشتراط تقاضا کوی. نه د عدم اشتراط تعیین البدلین

له ذکر شوو درې واړو شرطونو څخه که چیرې کوم شرط معدوم شی نودا عقد به د بیع الصرف

وی. نو ځکه به بیا تفاضل پکښې حرام وی او تقابض به پکښې لازم وی.

د بدائع په تیر شوی عبارت کښې چه د مختصر الطحاوی له بعضو شروحو ځخه کوم وضاحت تیر شوې دې چه بیع دفلس په فلس سره بیع الصرف نده. دهغې مطلب دا دې چه اګرچه دا حقیقةً بیع الصرف نده لیکن بیا هم په هغې باندې د بیع الصرف ټول احکام جاری کیږی. له همدې کبله دا حکماً بیع الصرف ده. البته که چیرې د فلوسو بیعه په دراهمو یا دنانیرو سره وشی نو په دې کښې د جنس اوقدر د اختلاف له کبله تساوی او تقابض شرط ندی.

د تنویر الابصار یوه جزئیه

په مقاله کښې چه د در مختار له کومې حوالې ځخه استدلال شوې دې هغه د تنویر الابصار دا جزئیه ده چه **باع فلوسًا بمثلها او بدراهم او بدنانیر فان نقد احدهما جاز.**

په مبسوط او دمذهب په نورو کتابونو کښې فقط د فلوسو بیعه په دراهمو اودنانیرو سره ذکر شوې ده. لیکن د تنویر مصنف په هغې کښې د «بمثلها» اضافه کړې ده چه دروایت او درایت دواړو ځخه خلاف ده. مصنف په خپله له دغه عبارت ځخه وړاندې په بیع بالمثل کښې د بدلینو دعین په مجلس کښې شرط ګرځولې دې. په دې قاعده کښې بیعه د فلوسو په خپل مثل باندې هم داخله ده چه دهغې استثناء نه په کوم معتبر روایت کښې نقل شوې ده اونه یې کومه معقوله وجه شته. د دې بالعکس دفقه امامانو رحمهم الله دا جزئیه په ذکر شوې قاعده کښې داخل کړې ده اوصراحةً یې د تعین البدلین شرط لګولې دې. بلکه امام کاسانی رحمه الله خو لدې نه هم وړاندې تللې دې اوله دواړو طرفونو نه یې تقابض فی المجلس شرط ګرځولې دې. وقد مرّ نصه

دبعضې مشائخو مذهب دا دې چه دمساوات په حالت کښې تعیین صحیح ندې. لهذا دا عقد د بیع الصرف په حکم کښې دې په کوم کښې چه تقابض شرط دې.

کیدې شی چه د تنویر د دې مسئله ماخذ او اساس دامام کرخی هغه قولوی چه په کوم باندې امام کاسانی رحمه الله رد کړې دې. په بحر کښې یې دا مسئله دمحیط طرفته هم منسوب کړې ده. لیکن له دې ځخه په محیط کښې د «بمثلها» دلفظ د زیادت یقین نشی کیدې. که بالفرض دا لفظ هلته موجود هم وی نو دهغه ماخذ اواساس هم دامام کرخی هماغه قول کیدې شی. په هر صورت دا قول روایةً او درایةً په هر لحاظ سره باطل دې.

قوله دهغو مختلفو ملکونو د پیسو تر مینځ داسې کوم دوامدار تعلق پیدا نشو چه دهغو تولو یوجنس جوړ کړی. لهذا هرکله چه دهغوئ په مینځ کښې داسې کوم معین نسبت د دې ټولو د جنس د یووالی لپاره ضروری وی پیدا نکړې شو. نو د ټولو ملکونو پیسې په خپلو مینځونو کښې بوله بل سره مختلف الاجناس دی. همدا وجه ده چه دهغوئ نومونه. دهغوئ پیمانې ودهغوئ اساسی واحدونه هم مختلف وی

هرکله چه د مختلفو ملکونو پیسې مختلف الاجناس شوې نودهغوئ تر مینځ تبادله سره له تفاضل نه بالاتفاق جائزه ده ،۲۸،.

تبصره په مختلفو ملکونو کښې دکوم څیز د نومونو او قیمتونو اختلاف د جنس داختلاف دلیل نشی کیدلې. دیو ملك په مختلفو علاقو کښې دیو څیز مختلف نومونه پیدا کیږی اوپه یو بنار کښې د یوڅیز دمختلفو اقسامو قیمتونه مختلف وی. دمثال په توګه لکه کاغذ. د یو ملك په مختلفو علاقو کښې دهغې نومونه مختلف دی، اوپه یوبنار کښې دهغې دمختلفو اقسامو قیمتونه دومره فرق لری چه دیو کاغذ په مقابل کښې دبل قسم کاغذ دوه یا زیات کاغذونه اخستل کیدې شی . دمختلفو ملکونو دحقیقو فلوسو نومونه او قیمتونه هم مختلف وی . نوآیا هغه به هم مختلف الاجناس وی ؟

قوله اوس پوښتنه داده چه آیا د پیسو دقرض معامله کول جائز دی اکه نه ؟ لکه څنګه چه په تاجرانو او عامو خلقو کښې دا رواج دې چه هغوئ د یو ملك پیسه یوبل سړی ته پدې شرط سره ورکوی چه ته د دې په بدل کښې دومره موده بعد دفلانی ملك پیسې په فلانی ځائ کښې ماته راکړه. دمثال په توګه زید . عمرو لره په سعودی عرب کښې زر ،۱۰۰۰، ریال ورکوی اودا ورته وایی چه ته د دې په بدل کښې ماته په پاکستان کښې څلور زره پاکستانئ روپئ راکړه. نو آیا دا معامله جائزه ده اوکه نه ؟

دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزد دا معامله جائزه ده ځکه چه دهغه په نیزد د پیسو په بیعه کښې د بیعې په وقت کښې ثمن د عقد کونکی په ملکیت کښې موجود کیدل شرط ندی. لهذا کله چه جنسونه مختلف شول نو قرض کول جائز دی. لکه چه شمس الآئمه امام سرخسی رحمه الله لیکی ،ص ۳۰ . ۳۱،

تبصره په دې کښې دا لاندې مفاسد دی .

۱ . دا عبارت په بیع الفلوس بالفلوس الغیر المعینه بدون التقابض دجواز په ثبوت باندې بناء دې. او له تیرو نصوصو نه دهغې عدم جواز ثابت شوې وؤ .

۲ – دا د لویو نوټونو د ثمنیت په ثبوت پورې موقوف دې چه دهغې دستاویز اوسند کیدل په تیروعبارتونو کښې ثابت شول

۳ . د مختلفو ملکونو په پیسو کښې دجنس د اختلاف په ثبوت پورې موقوف دی. چه هغه نشی ثابتیدلې

۴ . په نسیئه بیعه کښې تاجیل شرط دې چه هغه دلته موجود ندې

قوله دا معامله په ،بیع السلم، کښې هم داخلیدې شی ،۳۱،

تبصره پدې مسئله کښې د سلم د بیعې صحت په دوه څیزونو پورې موقوف دې

۱. لوئ نوټونه د فلوسو په حکم کښې کیدل.
۲. د مختلفو ملکونو په پیسو کښې د جنس اختلاف.
دا دواړه څیزونه ثابت ندی نو ځکه دلته د سلم د بیعې هیڅ امکان نشته

د مبادلې یا بیعې صحیح طریقه

دملکی پیسو په خپل مینځ کښې تبادله د یوې روپئ نوټ دفلوسو په حکم کښې دې له همې کبله دهغې په خپل مینځ کښې تبادله جائزه ده . البته تفاضل او نساء حرامه ده. که چیرې دنساء ضرورت پیدا شی نو د مبادلې یا بیعې په ځائ دقرض اخستلو معامله کول پکار دی
د لویونوټونو په بدل کښې دیوې روپئ نوټونه اخستل د دې معاملې دقرض اخستلو په معامله کښې داخلولې شی.
دلویو نوټونو په خپل مینځ کښې تبادله . دا په حقیق کښې دمال په مال سره تبادله نده بلکه د رسید په رسید سره تبادله ده نو ځکه جائزه ده.
د بل ملک له پیسو سره تبادله : دیوې روپئ دنوټونو له یوبل سره تبادله تفاضلاً هم جائزه ده . البته د تفاضل په صورت کښې تعیین د بدلینو په مجلس کښې ضروری دې. دجواز علت یې دجنس اختلاف ندې بلکه دا دبیع الفلوس بالفلوس له قبیلې څخه دې. د مالك په داخل کښې د سود د دروازې د بندیدلو پاره تفاضل ناجائز ګرزول شوې دې. او دخارجی ملك په پیسو کښې د دې علت د نشتوالی اودعام ضرورت په بناء باندې دجواز فتوی ورکول کیږی.
له دې نه بهتره توجیه داده چه د تفاضل جواز پدې باندې موقوف دې چه متعاقدین د تعیین البدلین په ذریعه دفلوسو ثمنیت باطل کړی اودپیسونوټونه چونکه حکومت ثمن ګرځولی دی نو له همدې کبله متعاقدین د هغې ثمنیت نشی باطلولې . لهذا دهغې په داخلی اوخارجی دواړه قسمه بیعه اوتبادله کښې تفاضل جائز ندې. البته په بیرونی تبادله کښې دحکومت د مقرر شوی نرخ نه زیاتوالې یا کموالې تفاضل دې . د نرخ مطابق کموالې یا زیاتوالې فقط صورتً تفاضل دې. حقیقة تفاضل ندې نوځکه جائز دې
نساء حرامه ده له جهته د اتحاد دجنس څخه . د ضرورت په وقت کښې به د قرض اخستلو معامله کولې شی
د لوئ نوټ په عوض کښې د یوې روپئ نوټونه اخستل د نساء له کبله او د لویو نوټونو په خپل مینځ کښې تبادله دبیع الکالئ بالکالئ له کبله ناجائزه ده. د ضرورت په وخت کښې به د قرض اخستلو معامله کولې شی د مبادلې په ځای د قرض اخستلو په وخت کښې د تاجیل له قید څخه د آزادیدلو سهولت هم موجود دې

په دغه قسم قرض اخستلو کښې تفاضل ځکه جائز دې چه دا صورةً تفاضل دې حقيقةً ندې، دواړه طرفونه (بدلين) فقط په تعداد کښې زيات اوکم وی په قيمت کښې برابر وی . له همدې کبله نه مقرض او مستقرض دا انتفاع بالقرض گڼی اونه په عرف عام کښې هغې ته انتفاع بالقرض ويل کيږی.

برسيره پر دې د لويونوټونو د تبادلې دعدم جواز علت تفاضل ندې بلکه علت يی بيع الدين بالدين دې. په هغې کښې د يوې روپۍ د نوټونو په شان تفاضل جائز دې، لهذا څوك چه دبيع حالی په طريقې سره زيادت حاصلولې شی هغه دې دقرض په طريقې سره هغه زيادت حاصل کړی. نو دې ته له قرض نه فائده اخستل نه ويل کيږی.

رشيد احمد

دارالافتاء والارشاد

۳/ ربيع الاول ۱۴۱۲ هـ يوم الجمعة

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلْبَنِينَ وَٱلْقَنَٰطِيرِ ٱلْمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلْفِضَّةِ
وَٱلْخَيْلِ ٱلْمُسَوَّمَةِ وَٱلْأَنْعَٰمِ وَٱلْحَرْثِ ۗ ذَٰلِكَ مَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسْنُ ٱلْمَـَٔابِ ﴿١٤﴾
۞ قُلْ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيْرٍ مِّن ذَٰلِكُمْ ۚ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا
وَأَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَرِضْوَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿١٥﴾ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا
فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٦﴾ ٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلْقَٰنِتِينَ وَٱلْمُنفِقِينَ
وَٱلْمُسْتَغْفِرِينَ بِٱلْأَسْحَارِ ﴿١٧﴾ ﴾

«۳ ــ ب ۱۴ نه تر ۱۷ پورې»

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ «۲ ــ ۲۲۹»

دنوټونو تبادله اوهُنډی ((حواله))

په مختلفو دورونو کښې د خانګړو تحقیقاتو مجموعه

● دا رساله دنوټونو د بیعې او تبادلې اوهُنډی «حوالې» له کاروبارسره متعلق دمختلفو فتواګانو مجموعه ده چه په مختلفو ژبو کښې دمختلفو سوالونو په جوابونو کښې لیکل شویده

● له دغو فتوا ګانو څخه هره فتوی په یومهم علمي بحث باندې مشتمله ده له همدې کبله د عادة مطابق دبعضې فتواګانو د انتخاب په ځای باندې ټولې فتواګانو را اخستل شوی دی. د فتوی د اهمیت په نظر کښې نولو سره دهیڅ یوې فتوی د ترک کولو ګنجایش په نظر رانغی

● د دغه فتواګانو ترمینځ دبعضو تر مینځ ظاهرًا یوخه فرق په نظر راځی چه دهغې ترمینځ تطبیق یا یوې فتوی ته په بلې باندې ترجیح ورکول دفن خاوندانو لره مشکل دی.

● ترټولو زیات مدلل اومفصل تحقیق قطع نظردلیکنې دتاریخ نه ترتیب څخه ترټولو آخر لیکل شوې دې

● د «کاغذی نوټ اوکرنسی» په رساله کښې په همدې مضمون باندې یومهم بحث شته. فلتراجع

(۱) د مختلفو حکومتونو دنوټونو له یوبل سره تبادله

سوال: آیا دایرانی پیسې «تومان» بدلول په پاکستانی پیسې «روپۍ» باندې په نساء سره جائز دی اوکه نه؟ سکه له دواړو طرفونونه د نوټ په صورت کښې ده. سره له دلیل نه بی ولیکئ.

الجواب باسم ملهم الصواب: نوټ ته اګرچه بعضو مال ویلې دې لیکن صحیح خبره داده چه له یوروپۍ نه د زیاتو چه کوم کاغذ دې نو دا په حقیقت کښې مال ندې بلکه د مال رسید یا سند دې.

نو لهذا د یو حکومت دنوټونو په خپل مینځ کښې د تبادلې د صحیح کیدلو لپاره دا ویلې شی چه په حقیقت کښې دا مبادله د مال په مال سره نده بلکه دا مبادله درسید په رسید سره ده. لیکن د دوه حکومتونو د پیسو په تبادله کښې دا تاویل نشی کیدلې. نو لهذا د ا د بیع الکالئ بالکالئ کیدلو په وجه په هر حال کښې ناجائزه ده. سواء کان متفاضلاً او متساویًا، یدًا بید او نسیئةً

البته د یو نوټ بیعه جائزه ده. په دې کښې تفاضل هم جائز دې لیکن نسیئه پکښې حرامه ده له جهته د اتحاد دجنس نه.

د غتو نوټونو د تبادلې جواز د قرض اخستلو په صورت کښې جائز کیدلې شی. والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۲ ربیع الآخر. سن: ۹۰ هـ.

(۲) د تیر سوال په شان یوبل سوال

السؤال: ماتقول العلماء فی رجل باع عشر روبیات بتسعة تومان الی اجل معلوم والحال ان عشر روبیات تباع بثمان تومان یدًا فی السوق والسعر غیر معین بل یزید وینقص والمراد بالروبیة والتومان القرطاس المسمی فی دیارنا باسکناس (نوت) هل الاسکناس دخل فی حکم الذهب والفضة ام لا؛ وفی الاولی هل التقابض شرط بین الاسکناسین اعنی الایرانی والباکستانی اذا کان البیع یدًا بید ام لا؛ وقد یفهم من حاشیة شرح الوقایة ان بیع الاسکناس بالفلوس والذهب یجوز کیف ماکان وکذا لایشترط التقابض حیث قال واما (نوت) وهو القرطاس الرائج تحکمًا فیه مکتوب ثمنه ای عشرة او عشرون او الف فهو مهلك فی الروبیة علی الصحیح لانسبة له بالذهب فلایجوز بیعه بالروبیة الا متساویًا لما کتب فیه لکن التقابض لایشترط لان المساواة من حیث الثمنیة والتقابض مختصة بالذهب والفضة وهو لیس من هذا فیجوز بیعه بالفلوس والذهب کیف یشاء -الخ (ص:۸۴، ج:۳).

بینوا الصور کلها بالدلائل فانها من اهم المسائل.

الجواب الاول من نيوتاؤن كراتشي:

فی الحدیث عن النبی صلی الله علیه وسلم اذا اختلف الجنسان فبیعوا کیف شئتم (الحدیث) یفهم من هذا الحدیث ان الجنس اذا اختلف یجوز البیع بالزیادة والنقصان لان التفاضل ممنوع عند اتحاد الجنس والنقود الرائجة بکل بلد تختلف بآخر فیکون فی حکم اختلاف الجنس فیجوز بیعه بالزیادة والنقصان وکذا لا یشترط فیه التقابض لانه مختص بالذهب والفضة والنقود الرائجة غیر شاملة فیهما فلیس هو فی معنی بیع الصرف ویؤیده ماذکرتم من حاشیة شرح الوقایة. والله تعالی اعلم.

۱۸/جمادی الاولی، سنه ۱۳۹۰ھ

الجواب الثانی من دار العلوم کراتشی:

سکهء ایرانی را به سکهء پاکستانی معاملهء بیع وشراء کردن نسیئةً حرام وناجائز وربا است، البته به طریق استقراض جائز است. صورتش اینک مقدار معین از تومان بدهد وبگوید که بعد از مدت معین آن قدر سکه پاکستانی یا هندی میگیرم که باوقیمت تومان اداء شود.

۲۷/ جمادی الاولی، سنه: ۱۳۹۱ هـ.

الجواب باسم ملهم الصواب الجواب الثانی صحیح وقول المجیب الاول ((والنقود الرائجة بکل بلد تختلف بآخر فیکون فی اختلاف الجنس)) قول بلا دلیل، کیف ولو کان ذلک کذلک لجاز بیع الذهب بالدنانیر متفاضلاً.

ویشکل علی الجواب الثانی بأن الاستقراض انما یصح فی الوزنی والکیلی والعددی المتقارب والاثمان الرائجة فی الممالک المختلفة غیر متقاربة.

والجواب ان هذا الشرط لرفع الجهالة وهی فی مسئلتنا مرتفعة باصطلاحهما علی قدر معین، نعم ان اشترط المقرض الاداء فی بلد آخر تکون فیه کراهة السفتجة لجره نفع اسقاط الطریق بخلاف اشتراط المستقرض فانه یجوز لانه لیس فیه نفع المقرض ونفع المستقرض غیر ضار بل هو من مقتضیات الاستقراض. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۴/رجب، سنه: ۹۱ھ.

(۳) د پاکستانی نوټ په ډالر باندې بدلول

سوال کله چه حاجیان حج ته راځي نو حکومت هغوئ د روپۍ په عوض کښې ډالر ورکوي. آیا

شرعًا د بیعه ده اوکه په وعدې باندې وفاء ده ؟ څکه چه حکومت په نوټونو باندې دوعدې د وفاء تصریح کړیده اونوټ په هغه وعده باندې د وفاء حواله وی . دهغې دحقیقت له بیانولو څخه وروسته دا هم بیان کړئ چه آیا دحکومت دغه شان تبادله کول جائز دی اوکه نه ؟ اوآیا پدې کښې خو به د ربا شك او شبهه نه وی ؟

الجواب باسم ملهم الصواب : دحکومت په ذمه باندې پاکستانی روپی قرض ده اوهغه به اداء کوی . ډالر چه هغه د امریکا پیسه ده نو فلهذا دا ایفاء نده بلکه بیعه ده او پدې بیعه کښې ربا څکه نشته چه ډالر د مال رسید ندې بلکه په خپله مال دې لکه څنګه یی چه په هغې باندې لیکلی دی . نو لهذا پدې کښې نساء نشته او تفاضل پکښې څکه جائز دې چه ډالر او روپۍ وزنی ندی. فصار کبیع الفلس بالفلس والله سبحانهٔ وتعالی اعلم ۱۴ صفر . سنه ۱۳۹۸ هـ.

دهُنډی ((حوالي)) حکم

سوال دحوالی دکاروبار شرعی حیثیت څه شي دې ؟ په فیروز اللغات کښې یی د هُنډی یا حوالې داسې تعریف کړې دې چه ((هغه رقعه یا کاغذ چه حواله کونکې یی د یوځائ نه په بل ځائ کښې د روپۍ ورکولو لپاره ورکوی)) دلته زمونږ له هُنډی ((حوالي)) نه مراد دا دې چه یو سړې دلته روپۍ واخلی اوهغه بیا د خط په ذریعې سره یو خپل سړی ته ولیکی چه هغه په خارجی ملك مثلاً ((برما)) وغیره کښی وی اوهمدا قسم کاروبار کوی. دلیك مطابق د ده هغه خپلوان هلته هغه روپۍ دورکونکی خپلوان ته د برما د ملك روپۍ د فیصلې مطابق چه هغه دلته اخیستونکې تعین کوی. اداء کوی. دلته اخستونکې سړې دا روپۍ هغو خلقو ته ورکوی چه دکومو د اداء کولو لپاره دهغه خپلوان وینا کړیده . هغه خپلوان د یو بل خپلوان روپۍ هلته اخلی چه کوم دلته روپۍ رالیږل غواړی . نو ترکومه ځایه پورې چه زما فکر دې نودا کاروبار خو غیر قانونی دې نو آیا غیر شرعی هم دې اوکه نه ؟

الجواب باسم ملهم الصواب . دا کاروبار ناجائز دې . د ضرورت په وقت کښې به داسې تدبیر کیږی چه برما ته تلونکی سړی ته پاکستانی روپۍ په قرض ورکړی چه کله هغه برما ته ورسیږی نو د قرض غوښتونکی په یووکیل باندې به هغه پاکستانی روپی د برما د روپو په عوض کښې خرڅې کړی

،۵، د پورتنی سوال په شان یو بل سوال

سوال یو سړې په سعودی عرب کښې یو څه روپۍ د سعودی د نوټونو په شکل کښې له چا نه قرض واخلی اوبیا چه پاکستان ته راشی نو دهغه سړی خپلوانو ته دهغه قرض په عوض کښې

پاکستانی نوټونه ورکړی. آیا دا صورت شرعًا جائز دې ؟ بله دا چه آیا په دې کښې په زیاتوالی او کموالی سره لین دین کول سود دې او که نه ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا جائز دې پدې شرط چه په پاکستان کښې د اداء کولو شرط د قرض غوښتونکی لخوا څخه وی د مقرض له خوا څخه نه وی.

بله دا چه د دې معاملې د جواز لپاره یو شرط دا هم دې چه دحکومت له قانون څخه به خلاف نه ری. کموالې اوزیاتوالې هم جائز دې لیکن دحکومت د مقرر شوی نرخ نه خلاف کول جائز ندی

(۲) د پورتنی سوال په شان یو بل سوال

دوه کسان په یو کاروبار کښې شریك دی یو شریك په چمن کښې دې اوبل شریك په ایران کښې دې دهغوئ کاروبار دادې چه عامو خلقو ته د ضرورت مطابق پاکستانی یا ایرانی پیسې حواله کوی. مثلاً یو تاجر دا غواړی چه د ایران یو څه سامان واخلی او چمن ته یی راوړی خو هغه له چمن (پاکستان) نه ایرانی روپی له ځان سره نشي وړې ځکه چه یا به یی حکومت نیسی اویا به یی ترینه غله واخلی. نو له همدې کبله هغه پاکستانی شریك ته ورشی او ورته او وایی چه ته ماته په ایرانی شریك باندې حواله راکړه چه هغه ماته د پاکستان یو لاکھ روپی په ایران کښې راکړی اوکه له هغه شریك سره دې پاکستانی روپی نوی نو ما ته دې هغې په عوض کښې ایرانی تومان راکړی. پدې خبره باندې دغه پاکستاني شریك راضي شی اودلته له هغه نه یو لاکھ پاکستانی روپی واخلی اوهمدارنګه له هغه نه دوه سوه یا درې سوه روپی د مزدوری په نوم هم واخلی اوهغه ته د حوالې خط ورکړی اوهغه ملګری ته یی ور ولیږی. نوآیا د حوالې دا صورت جائز دې اوکه نه. او آیا د مزدوری په نوم دغه دوه سوه یا درې سوه روپی اخستل جائز دی اوکه نه. او همدغه راز له دې دوه سوه یا درې سوه روپو نه یو څه نامعلومې پیسې دحوالې لیکونکی ته هم ورکول کیږی. نو د لیکونکی لپاره د دې پیسو اخستل جائز دی اوکه نه؟ اوکه چیرې کاتب دغه لیکل مفت کړی وی نو بیا به څه حکم وی آیا هغه به ګنهګار وی اوکه نه ؟

دویم صورت: یو تاجر له ایران څخه پاکستان ته د راتللو اراده لری. هغه ایرانی تومان واخلی او ددې سړی ایرانی شریك ته ورشی اوله هغه نه په پاکستان کښې د پاکستانی پیسو مطالبه وکړی. هغه شریك له دې سړی نه ایرانی تومان واخلی اوحساب ورته وکړی چه د دې په عوض کښې ستا دومره پاکستانی روپی جوړیږی او بیا د دې چمن د ملګری په نوم خط ورکړی. کله چه هغه چمن ته راشی نو دچمن والا ملګرې هغه ته هغومره روپی ورکړی. نوآیا د حوالې دا صورت جائز دې اوکه نه او آیا د دې حوالې لیکونکې ګنهګار دې اوکه نه ؟

تنبیه: د یادونې وړده چه په اول صورت کښې په یولاکھ روپو باندې دوه یا درې سوه روپی

اخستل کیږی په هغې کښې ایرانی شریك ته حصه نه ورکول کیږی. او په دویم صورت کښې دمنافعو صورت دا دې چه که چیرته په بازار کښې سل ایرانی تومان په پنځوس (۵۰) پاکستانی روپو باندې اخستل کیږی نوحوالې والا دهغې په عوض کښې څلویښت روپۍ ورکوی . او پدې صورت کښې په منافعو کښې دواړه سره شریك دی

دریم صورت په قندهار کښې یو هندو افغانی پیسې اخلی اوزمونږ په نوم دحوالې خط لیکی . مونږ د خط په رسیدلو سره دپاکستانی پیسې مطابق هغه ته پیسې ورکوو

دویم صورت دا دې چه هغه هندو مونږ ته دخط یا ټیلی فون په ذریعه دا امر کوی چه په کویټه یا کراچی کښې دومره روپۍ فلانی ته ورکړی . نوهغه روپۍ مونږ دهغه د اډر مطابق هغه خلقوته لیګو . نو یوه میاشت وروسته چه مونږ دهغه د اډر اوفرمان مطابق څو لاکهه روپۍ خلقو ته ورکړی وی نوهغه مونږ ته د یو لاکهه په سر دوه سوه روپۍ راکوی او د دې پیسو داخستلو صورت دادې چه کوم خلق افغانستان ته ځی نوهغوئ له مونږ څخه د حوالې مطالبه کوی . مونږ هغوئ ته دحوالې خط ورکوو او له هغوئ څخه پاکستانی روپۍ اخلو . اودحوالې په وجه جدا دوه سوه یا درې سوه روپۍ ترینه اخلو ، هغوئ هلته لاړشی اودافغانی پیسو په حساب سره له هغه هندو نه پیسې واخلی . نو آیا دحوالې دا صورت جائز دې اوکه نه . اوهغه دوه سوه یا درې سوه روپۍ چه مونږ دحوالې اخلو نو آیا دحواله لیکونکی لپاره له هغې نه پیسې اخستل جائز دی اوکه نه ؟

الجواب باسم ملهم الصواب : دا درې واړه صورتونه ناجائز دی. حواله سفتجه ده چه له هغې نه د لارې د خطر ساقط کیدل مقصود دی، نو له همدې کبله دا ربا ده. او د مزدورۍ په نوم چه کومې پیسې اخستلې شی هغه هم ښکاره سود دې. د دې حوالې کتابت برابره خبره ده که هغه په مزدورۍ سره وی اوکه بغیر له مزدورۍ نه وی په هر حالت کښې ناجائز دې.

د تیرشوی سوال په شان یو بل سوال

سوال : ډیر بنګله دیشیان په پاکستان کښې په مختلفو ادارو او په شخصی شعبو کښې کار کوی اوهر وقت دغه بنګله دیشی مامورین خپل ملك بنګله دیش کښې موجوده خپلوانو ته پیسې لیږی ، د پیسو لیګلو طریقه دا وی چه پیسو لیګلونکی خپلې پیسې د بانك له لارې د یو شمیر وجوهاتو له کبله نشی لیږلې . نلهذا هغه خپلې پیسې یو داسې سړی ته ورکوی چه دهغه کاروبار په بنګله دیش کښې وی . دغه سړې دا پیسې له بانکی نرخ څخه په زیات نرخ سره اخلی اودغه اضافی پیسې د فیس په نوم سره اخلی اوس دغه سړې وروسته د پاکستانې د پیسو له اخستلو نه په بنګله دیش کښې خپل ذمه وار سړی ته د خط یا ټیلی فون په ذریعه اطلاع ورکوی اوهغه ته حکم وکړی چه فلانی سړی ته دومره اندازه بنګله دیش روپۍ ورکړه . نوهغه سړې د ده دحکم

مطابق دغه پیسې هغه سړی ته په بنګله دیش کښې ورکوی . د دې کار د سرته رسولو لپاره له دغه دوه کسانو څخه علاوه یوبل سړې د دلال په حیث کارکوی . د دې سړی کار دا وی چه دې داسې خلق لټوی چه هغوئ بنګله دیش ته پیسې لیږل غواړی . نو دغه دلال داسې قسم خلق راولی اوهغه له حوالې والا سره مخامخ کوی . نوچه کله د دوئ ترمینځ دحوالې خبره اوتبادله وشی نو له هغې نه وروسته دغه دلال څو فیصده روپۍ د اجرت په طور اخلی .

اوس دلته دا یوڅو خبرې د وضاحت وړ دی :

۱ . آیا په ذکر شوی صورت کښې پاکستانی پیسې دبنګله دیشی پیسې په مقابل کښې په کموالی اوزیادت سره بدلول جائز دی اوکه نه ؟

۲ . بنګله دیش ته پیسو لیږلو والا چه د فیس په نوم کومې پیسې اخلی نو آیا دا جائز دی اوکه نه ؟

۳ . دریم سړې (دلال) چه کومې پیسې داُجرت په طور اخلی نو آیا د ده لپاره دهغې اخستل جائز دی اوکه نه ؟ بینوا توجروا .

تسلی بښونکې جواب سره له دلانلو نه راکړئ او ثواب دارین حاصل کړئ . بینوا توجروا .

۲ / ربیع الثانی ، سنه ۱۴۰۵ هـ .

الجواب : ((د دارالعلوم کراچی لخوا څخه)) حامدًاومصلیًا.

په موجوده حالات کښې نوټ یو ثمن عرفی جوړ شوې دې لهذا د یوملك دنوټونو بدلول د بل ملك په نوټونو باندې سره له تفاضل نه جائز دی . او دا تبادله ربا نده . البته د عقد (سودا) په وقت کښې دا خبره ضروری ده چه په کوم مجلس کښې تبادله کیږی نوباید هلته کم نه کم یوفریق په پیسې قبض وکړی . د دویم فریق خوښه ده که غواړی نو اوس دې قبض کړی اوکه نه نو وروسته دې قبض کړی . د دې لپاره چه افتراق عن دین بدین لازم نه شی . او د وروسته قبض کولو په صورت کښې دې دا شك نه کوی چه د نسیئة بیع کیدلو په وجه دا ربا ده . ځکه چه نوټ د فلوس په حکم کښې دې و دفلوسو په بیعه او تبادله کښې شرعی مسئله داده چه د عاقدینو له جملې څخه باید یو فریق په فلوسو باندې قبض وکړې شی او د دویم فریق خوښه ده که وروسته یې اداء کوی اویا یې په هر ځائ کښې اداء کوی نو دهغه لپاره د دې خبرې ګنجائش شته . ځکه چه په مبیعه کښې که چیرته ثمن وی برابره خبره ده که هغه عرفی وی او طبعی وی د دې دبیعې په وقت کښې موجود کیدل ضروری ندی . ځکه چه دا د مالایتعین بالتعین له قبیلې څخه دی . بائع د اداء کولو په وقت کښې چه له کوم ځائ نه یې خوښه وی هلته یې لټولې شی او ورکولې یې شی . نو له همدې کبله علامه شمس الائمه سرخسی په مبسوط کښې اوعلامه علاؤ الدین حصکفی په در مختار کښې اوعلامه شامی په رد المحتار کښې د دې خبرې ګنجایش لیکلې دې اوهغه دا دې چه

واذا اشترى الرجل فلوسًا بدراهم ونقد الثمن ولم تكن الفلوس عند البائع جائزٌ لان الفلوس الرائجة ثمن كالنقود وقد بينا ان حكم العقد فى الثمن وجوبها ووجودها معًا ولا يشترط قيامها فى ملك بائعها لصحة العقد كما لا يشترط ذلك فى الدراهم والدنانير (المبسوط،ص:۲۴، ج:۱۴).

باع فلوسًا بمثلها بدراهم اوبدنانير فان نقد احدهما جاز وان تفرقا بلاقبض احدهما لم يجز كما مرّ (الدر المختار على هامش ردالمحتار،ص:۱۸۲، ۱۸۳، ج:۴).

لان ما فى الاصل لا يمكن حمله على انه لا يشترط التقابض ولو من احد الجانبين لانه لا يكون افتراقًا عن دين بدين وهو غير صحيح فتعين حمله على انه لا يشترط منهم جميعًا بل من احدهما فقط (الشامية،ص:۱۸۳، ج:۴).

ترکوم خایه چه دیوملك دنوټونو د بل ملك له نوټونو سره تفاضلاً د تبادلې کولو قانونی تعلق دې . چونکه د هر اوسیدونکی له حکومت سره معاهده شوې ده چه هغه به دحکومت د قانون پابند وی ترهغه وخته پورې چه ترکومه پورې د شریعت له نصوصو څخه خلاف نه وی. اوچونکه حکومت د خارجی ملك د پیسو په باره کښې د بانك له لارې دلیږلو یو خاص نرخ ټاکلې دې نو لهذا له دې نرخ څخه خلاف کول اوکموالی، زیاتوالی سره تبادله کول قانونی جرم دې او دقانونی جرم مرتکب کیدل او په خطر کښې خپل ځان اچول د هیڅا لپاره هم جائز ندی

یاده دی چه دا د تبادلې عقد دې او پدې عقد کښې د عاقدینو دیوطرف لخوا څخه د فیس په نوم باندې زیاتې پیسې اخستل جائز ندی، البته دلال ته دهغه د کار اومشقت مزدوری شرعًا ورکولې شی . والله سبحانه وتعالى اعلم

الجواب باسم ملهم الصواب دغه جواب په دې لاند وجوهاتو سره صحیح ندې

(۱) د یوې روپئ نوټ حقیقةً مال دې لیکن له هغې څخه د لویونوټونه دلاندې دلائلو په بناء باندې مال ندې بلکه د مال رسید دی .

۱- پدې باندې درسید مضمون لیکل شوې دې

۲ – یونوټ چه وسوزیږی یا وشلیږی دهغې د نمبر په ښودلو سره یوسړې له بانك نه نوې نوټ اخستلې شی . له بل هیڅ قسم مال سره هیچرې داسې معامله نه کیږی چه ستا په لاس کښې دې دغه مال زړو شی نو ته له حکومت اویا مال ورکونکی نه د نوی مال مطالبه وکړې. اگرچه بانك د یوې زړې شلیدلې روپئ نوټ هم بدلوی خو د دې لپاره نه چه دا رسید دې بلکه د دې لپاره چه حکومت دغه کاغذ سکه مقرر کړې دې چه هغه یوخوکاله له استعمالولو څخه وروسته شلیږی نو لهذا بغیر له بدلولو نه د دې سکې بقاء ناممکنه ده .

۳ – د نقود مالیه اگرچه وروسته له ناچل کیدلو نه دهغې قیمت کمیږی لیکن بالکل نه معدوم

کړي. بلکه وروسته له ناچل کیدلو نه هم دهغې مالیت په خپل حال باقي پاتې وي. چه هغه د ناچل کیدلو له مخکې حالت څخه ډیر فرق نلري. په خلاف د نوټ چه دسلو روپو دنوټ قسمت که بالکل معدوم نشي نو کالعدم خو ضروري وي. یعنی د سلو روپو نوټ بیا په یوه روپۍ هم څوك نه اخلي

۴ - ما په خپله د حکومتی بانك څخه د دې خبرې معلومات وکړو نو په نتیجه کښې دا ثابته شوه چه له یوې روپۍ څخه غټ نوټونه په حقیقت کښې رسید دي. نو څکه هغه قانونًا په ملك کښې له موجوده مالیت څخه زیات نشي شانع کولې

۵ - دحضرت مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله په ژوند کښې هم دنوټ همدغه حیثیت وز چه کوم اوس دې . د دې باوجود هغوئ د نوټ مال کیدل ندي تسلیم کړي.

نو له همدې کبله دغه بیعه د بیع الکالئ بالکالئ کیدلو په وجه ناجائزه ده

(۲) دا عقد د عقد البیع مع الشراء کیدلو په وجه فاسد دې . شرط دا دې چه مشتری به د دې مبیعې عوض په بنګله دیش کښې فلانی سړی ته رسوی اودا شرط د مقتضاء عقل څخه خلاف دې

(۳) که چیرې دې معاملې ته قرض وه وئیل شي نو بیا هم جائزه نده څکه چه دا سُفتجه ده . په پاکستان کښې د قرض ورکول اوپه بنګله دیش کښې دهغې بیا اخستلو له شرط څخه مُقرض دلارې له خطر څخه دخان بچ کولو فائده واخستله . والله سبحانه وتعالی اعلم ۵ جمادی الاولی . سنه ۱۴۰۵ هـ

د دې مسئلې دنور تحقیق او تفصیل او د دارالعلوم په جواب کښې په ذکر شوو فقهی عباراتو باندې بحث د ((کاغذی نوټ اوکرنسی)) په رساله کښې شته (مرتب).

(۷) د تیرشوی سوال په شان یوبل سوال

سوال سفتجه ته علماء کرام مکروه وایی. نوآیا په موجوده زمانه کښې درافټ او منی آرډر په سفتجه کښې داخل دی اوکه نه ؟ په قرض کښې چه سفتجه شرط نکړې شي نو فقهاء کرام ورته جائز وایی. کما فی الشامیه باب الحواله. خو دا هم وایی چه ((المعروف کالمشروط)) دډرافټ او منی آرډر حقیقت هم همدا دې . پدې شرط باندې پیسې ورکول کیږی چه په فلانی ښار کښې فلانی سړی ته ورکړې شي. په دې دواړه کښې عموم بلوی ده. آیا د دې کوم حل علماء کرامو را ویستلې دې اوکه نه؟ که چیرې د خپلو اکابرو علماء کرامو په کتابونو کښې د دې تحقیق وي نو د کتاب حواله راته ولیکئ . بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دمنی آرډر تفصیلی حکم په امداد الفتاوی دریم جلد . کتاب الربوا کښې شته. اودهغې خلاصه داده چه

"دې ته د پیسو رسولو اجاره نشي ویلی کیدلې . اول د دې په خاطر چه په ډاکخانه کښې بعینه

ورکړې شوې پیسې نه رسیږي. او په اجاره کښې بعینه هماغه څیز رسول ضروري دي. دویم دا چه د ډاکخانې محکمه د دې پیسو ضامنه وي او په اجاره کښې په اجیر باندې ضمان نشته

او که چیرې د صاحبینو د قول مطابق د اجیر د تضمین ګنجایش راوستلې شي نو بیا هم د اجارې د عدم صحت لپاره اول دلیل کافي دې. نو په همدې خاطر دا معامله د قرض ده او د منی آرډر فیس ته دلیکلو دخط اودهغې د لیکلو اجرت وئیلې شي. د دې باوجود دا دسفتجې له کراهت نه هم خالي ندې

له دې ځخه وروسته د یوې استفتاء په جواب کښې د ذکر شوې تفصیل مطابق دمنی آرډر پیسو ته قرض اودهغې فیس ته دکتابت او لیږلو اجرت وئیلې شوې دې. لیکن په هغې کښې د سفتجه د اشکال څه ذکر ندې شوې. نو له دې ځخه دا معلومه شوه چه بالاخره دا اشکال حل شوې دې.

د بنده په نظر چه هرکله له قرض ځخه مقصود د لارې د خطر ساقط کیدل نه وي بلکه صرف بل مقام ته رسول مقصود وي نو دا په سفتجه مکروه کښې داخل ندې. اګرچه دا دلارې د خطر سقوط لره مستلزم دې. لیکن په مقصود او لازم کښې فرق شته چنانچه په مقامی قرض کښې هم د مال دحفاظت نفع لازمه ده. د دې باوجود دا په ((کل قرض جر نفعا فهو ربا)) کښې نه داخلیږي اونه ورته حرام وئیل کیږي.

په موطاء امام مالك، کتاب القرض کښې روایت دې چه دحضرت عمر رضی الله تعالی عنه خامنو عبدالله او عبیدالله رضی الله تعالی عنهما یولښکر ته تشریف یوړو. کله چه راواپس کیدل نو له حضرت ابو موسی اشعری رضی الله تعالی عنه سره مخامخ شول. ابو موسی اشعری رضی الله تعالی عنه په دغه وقت کښې د بصرې امیر وو. هغه ورته وه وئیل چه زه تاسو ته په دې طریقې سره ګټه رسول غواړم چه تاسې د بیت المال پیسې له ما ځخه قرض واخلئ او پدې باندې د تجارت سامان واخلئ اوچه کله مدینې منورې ته لاړشئ نو دغه سامان هلته خرڅ کړئ. ګټه یې تاسې واخلئ او اصل مال بیت المال ته ورکړئ. پدې معامله کښې هم له قرض ځخه دلارې د امن فائده حاصله شوه لیکن دلته چونکه دا مقصود نه وو بلکه فقط دوئ دواړو ته دتجارت فائده رسول مقصود وو نو له همدې کبله دا مکروه سفتجه نده

نن سبا د ډاکخانې مامور خط نه لیکی بلکه دپیسو ورکونکې په خپله دغه فارم اوخط لیکی. نو پدې صورت کښې دغه پیسې د آرډر فیس. په رجستر کښې د درج کولو او د رسید قطع کونو او د فارم یا خط لیکلو اجرت نه ګڼل کیږي. بلکه پدې کښې هم کوم ممانعت په نظر نه راځي چه د منی آرډر فیس دقرض د پیسو له یو ځاې نه بل ځاې ته د رسولو مزدوري وګرځولی شي

د بنده د ذکر شوې رائې تائید د شرح وقایه په حاشیه تکملة عمدة الرعایه کتاب الحوالة کښې دمولانا محمد صاحب نائب رحمه الله له تحقیق ځخه هم کیږي. دغه محشي په دې مد-

کنبې د منی آرډر او دهغوئ د نورو اقسامو تفصیل او دهغې احکام بیان کړی دی. ونصه

ويجب ان يعلم ان التي في زماننا المسماة في لساننا ((بهندى مني آردر)) فان قلت علة الكراهة هي الدفع سواء كان لسقوط الخطر اوللوصول قلت بلى ولكن الخطر مما لا يجوز الكفالة به ولا اجر عليه لانه ليس في وسع الانسان الا دفع اللصوص والحفظ انما بفضل الله تعالى واما الايصال تحل الاجرة عليه ويمكن العهدة عليه فلايلزم من النهي عن نفع سقوط الخطر كراهة اجرة الايصال لكن الاشكال في تصويره وتقريره اعني في اي عقد يحسب هي ليأخذ حكمه قلت انها حوالة وانت علم ان الحوالة قد تكون بمعنى الوكالة وقد تكون ان يحتال للدائن وقد يحتال لغير الدائن وكذلك المحتال عليه قد يكون مديوناً للمحيل وقد لا يكون وقد يعطى المال من عنده ثم يأخذ من المحيل وقد يأخذ من المحيل ثم يودى الى المحتال له وقد يربح في المال الذى اخذ من المحيل ويكون الربح حلالا له كما مرّ في الكفالة فاذا دفع المحيل مالاً الى المحتال عليه وقال ادفعه الى فلان في البلد الفلاني ولك اجرة في ايصاله وحسابه فاي محذور يلزم ليحكم بالمنع ولا رواية ان الوكيل او المحتال عليه حرام عليه الاجرة والاخذ من الموكل والمحيل ان عمل فيه عملاً فلا بأس به ان شاء الله تعالى لاسيمًا في هذا الزمان ان نجزم بمنعه تعطلت الامور وكسدت التجارات وانقلبت الاحوال من اليسر الى العسر فلا يضاق على الناس ولا يفتي بالفتنة بمجرد التاويل والتعبير فيجب ان لا يسمع قول قائل بلا امر فاصل ونص ناطق وبعد هذا فاعلم ان الهُندى الذى حصل لنا علمها الى الآن على خمسة اقسام:

الاولى: (مني آردر) وهو ان يدفع الدراهم الى الحكومة ويكتب ان يدفعه في البلد الفلاني الى الفلاني فاعوانها يأخذون الدراهم هنا وشيئًا زائدًا لاجرتها ثم يدفعون الى المرسل اليه وان لم يأخذ هو او لم يعرف مكانه يردون الى المرسل.

والثانية: هوما يعاملون به الصيارفة ويأخذون الدراهم ههنا مع شئ زائد اجرتهم ثم يعطون سندًا مكتوبًا فيه ذلك الدراهم فيرسل الدافع السند الى من ارسل اليه الدراهم وهو يذهب بالسند الى دار الوكيل الأخذ الذى في بلده ويأخذ ماله عنده.

والثالثة: ان يدفع درهمًا مؤجلاً الى شهر او شهرين ويكتب مثل ما قلنا. فلا يعطى الا بعد الاجل.

لا بأس بذلك لكن المحذور فيه امران: احدهما ان يردشيئًا على المحيل للاجل وثانيهما ان يأخذ المحتال عليه عن المحتال له شيئًا ان طلب هو قبل الاجل وكل ذلك ... لكنه لا يتعلق بالعقد مالم يشترط.

والرابعة: ان يأخذ رجل مالاً من الأخر واحال به على الأخر مؤجلاً ويكتب مثل ما قلنا لكن المحيل يدفع الى

المحتال عليه شيئًا سوى الأخر والمدفوع حرام.

والخامسة: ان يكتب رجل حوالة على الأخر ويدفعه الى رجل فيطلب هو من المكتوب اليه واذا قبض منه يعطيه واخذ اجرته لا بأس بكلها الا ماصرحنا بكراهته لكن الاحتيط فى مثل ذلك المعاملات من الربوا واجب -هذا ماظهر لى فى المقام بالهام الملك العلام فخذها وتشكر (تكملة عمدة الرعاية ص:۱۱۹،ج:۳).

په دې دور کښې د رسيد نوټونو دا معامله آسانه کړيده. په منی آرډر کښې پيسې نه ورکول کيږی بلکه د دې ليکلو والاد پيسو رسيد ورکوی او مرسل اليه ته هم دهغه په نوم رسيد ورکولې شی.دلته مال نشته بلکه دا درسيد په عوض کښې د بل رسيد معامله اوبيعه ده، چونکه رسيد په خپله مقصود ندې بلکه دا يوه علامه او وثيقه ده نو له همدې کبله دهغې درسولو په اجاره کښې د رسيد بدل اوعوض مضر ندې. ځکه چه دا مال ندې چه بعينه د همدې رسول دې لازمی شی. د دې داجارې حيثيت داسې دې لکه چه دکوم پيغام په رسولو باندې اجاره وی. بلکه داسې ويل به ډير مناسب وی چه دمنی آرډر ليکل شوې فارم په خپله رسيد دې او د دې مرسل اليه ته په رسولو باندې اجاره مينځ ته راځی . **والتضمين يقع على قول الصاحبين رحمهما الله تعالى.**

مطلب دا چه د رسيدی نوټ د ليږلو په صورت کښې دډاکخانې محکمې ته څوك مال قرض نه ورکوی. بلکه هغه له ابتداء نه په حکومت باندې قرض دې. د دې قرض مرسل اليه ته سپارل مقصود دی. له همدې کبله پدې باندې د سفتجه سوال نه واردیږی

که چيرې بالفرض دې ته سفتجه وه وئيل شی نو دامام احمد رحمه الله په نيزد باندې سفتجه جائزه ده. د عموم بلوی اوسختو حاجتونو په نظر کښې نيولو سره په بل مذهب باندې د عمل کولو گنجايش شته.

حضرت حکيم الامت قدس سره ليکی چه : ((که چيرې د سفتجه د جواز طرفته يو امام هم تلل کړی وی نو د ضرورت په خاطر په هغې باندې عمل کولو ته جائز وئيل کيږی)) .

امکان لری چه حضرت قدس سرّه ته د امام احمد رحمه الله قول مخې ته راغلې وی له همدې کبله يې د ليکنې په آخر کښې دسفتجه ذکر ندې کړې .

قال ابن قدامة رحمه الله تعالى: وان شرط ان يعطيه اياه فى بلد آخر وكان لحمله مؤنة لم يجز لانه زيادة وان لم يكن لحمله مؤنة جاز. وحكاه ابن منذر عن على وابن عباس والحسن بن على وابن الزبير وابن سيرين وعبد الرحمن بن الاسود وايوب السختيانى والثورى واحمد واسحاق و كرهه الحسن البصرى وميمون ابن ابى شبيب وعبدة بن ابى لبابة ومالك والاوزاعى والشافعى لانه قد يكون فى ذلك زيادة. وقد نص احمد على ان من شط ان يكتب له بها سفتجة لم يجز ومعناه اشتراط القضاء فى بلد آخر وروى عنه جوازها لكونها مصلحة لهما جميعًا وقال عطاء كان

ابن الزبیر یأخذ من قوم بمکۃ دراھم ثم یکتب لھم بھا الی مصعب بن الزبیر بالعراق فیأخذونھا منہ فسئل عن ذلک ابن عباس فلم یر بہ بأسا و روی عن علی انہ سئل مثل ھذا فلم یر بہ بأسا وممن لم یر بہ بأسا ابن سیرین والنخعی رواہ کلہ سعید وذکر القاضی ان للولی قرض مال الیتیم فی بلد لیوفیہ فی بلد أخری لیربح خطر الطریق والصحیح جوازہ لان فیہا بل بمشر وعیتھا ولان ھذا لیس بمنصوص علی تحریمہ ولا فی معنی المنصوص فوجب ابقاؤہ علی الاباحۃ (المغنی ص: ۲۴۰، ج: ۴).

وفی شرح المہذب: ولا یجوز ان یقرضہ دراھم علی ان یعطیہ بدلھا فی بلد آخر ویکتب لہ بھا صحیفۃ (کمبیالۃ) فیأمن خطر الطریق ومؤنۃ الحمل وھو مذھبنا وخالفنا احمد وغیرہ مستدلین بأن عبداللہ بن الزبیر رضی اللہ تعالی عنھما کان یقترض ویعطی من اقرضہ صحیفۃ یأخذ قیمتھا من مصعب اخیہ والیہ علی العراق (شرح المہذب ص: ۱۷۲، ج: ۱۳) واللہ سبحانہ وتعالی اعلم.

۲۵ / ربیع الثانی، سنہ: ۱۴۰۰ ھ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ فَأۡذَنُواْ بِحَرۡبٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ ﴾

که چیري تاسو د سود معامله پرې نښودله د الله پاک او دهغه د رسول له طرف نه دجنګ اعلان واورئ

له سود څخه پاک

بانکی نظام

دجدیدومسائل دتحقیق دمجلس دفکر نتیجه

دبانك له سود څخه د پاکولو او له سود څخه دپاکې تجارتی اداري دمینځ ته راوستلو په نظام باندې دسوچ کولو لپاره په شعبان کال ۱۴۱۲ کښې **د جدیدو مسائلو د تحقیق دمجلس** لخوا څخه یو مجلس په دارالعلوم کراچی کښې وشو چه په هغې کښې دموجوده حالاتو په نظر کښې نیولو سره داسلامی قوانینو په رڼا کښې وروسته له ډیر بحث او تحقیق څخه مهم تجویزونه او پیشنهادات ولیکل شول

دحالاتو هنداره

د پاکستان له استحکام څخه وروسته د دې ملك د سود له لعنت څخه پاکول. مسلمانانو لره د سود له دنیوی او اُخروی عذاب څخه نجات او د سودی لعنت نه دپاك تجارتی نظام قائمولو مسئله د علماء کرامو دتوجه اوفکر مرکز دې

د سودی نظام زرتر زره بدلول ځکه مهم دی چه یو مسلمان دغه لعنت دیو ساعلت لپاره هم نشی برداشت کولې. او دهغې وجه داده چه په دې باندې په قرآن اوحدیث کښې ډیر سخت وعیدونه راغلی دی چه دهغې تفصیل زما په رساله «بشارة اللظی لاكل الربوا» کښې شته دې. دلته له هغې څخه د مثال په توګه یو څو مثالونه ذکر کیږی

۱ - قال الله تعالی ﴿ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا۟ فَأْذَنُوا۟ بِحَرْبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾

یعنی که چیرې تاسو د سود معامله پرې نښودله د الله پاك اودهغه د رسول له طرف نه دجنګ اعلان واورئ

له سود نه علاوه په بله هیڅ یوه لویه ګناه باندې دالله تعالی اودهغه درسول صلی الله علیه وسلم له طرف نه دجنګ اعلان ندې شوې

۲ - لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم اکل الربا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (رواه مسلم).

یعنی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په سود خورونکی اوپه هغه چا چه په بل چا سود خوری او په سود لیکونکی او دسود په ګواهانو باندې لعنت ویلې دې او فرمایلی یې دی چه دا ټول برابر دی

۳ - قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: درهم ربا یأکله الرجل وهو یعلم اشد من ستة وثلاثین زنیة (رواه احمد).

یعنی د سود یودرهم خوړل له شپږ دیرش زناګانو څخه بدتر دې

۴ - قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الربا سبعون جزءً ایسرها ان ینکح الرجل اُمه (رواه ابن ماجة والبیهقی فی شعب الایمان).

یعنی په سود کښې اویا ګناهونه دی . ترټولو سپکه ګناه داده چه څوك له خپلې مور سره زنا وکړی

علماء کرامو په انفرادی اواجتماعی توګه ټولو دسود ادارو ته له سود څخه پاکې اوجائزه طریقې په دوامداره توګه ښایی اود دغې ادارو مشران دا خبره هم خپروی چه «مونږ خپل سودی نظم د علماء کرامو د پیشنهاداتو مطابق په خالص شرعی نظام سره بدل کړې دې»

لیکن وروسته چه کله حقیقت څرګند شو نودا ډیره د افسوس خبره ده چه داخلق د پخوا پشان هماغه سودی نظام چلوی او دعلماء کرامو د پیشنهاداتو د اشتهار خبره صرف دعوامو د دوکه کولو لپاره کوی.

علماء کرام په انفرادی او اجتماعی توګه امت مسلمه د سود له لعنت نه د بچ کولو اودهغوئ د دنیا اوآخرت له عذاب نه دنجات لپاره د سود د لعنت په ځائ دشرعی نظام د پیشنهاداتو د ترتیب کولو لپاره مسلسل ډیر جدوجهد کوی او خپل ډیر مهم دینی کارونه پریږدی اوپدې هکله خپل قیمتی وقتونه لګوی، اوډیر دماغی مشقتونه برداشت کوی ، او د سودی ادارو مشران د سود د لعنت په ځائ دشرعی نظام د قائم کیدلو په وړاندې قسماقسم خنډونه راپیدا کوی او په ډیرې چالاکی سره د علماء کرامو نومونه استعمالوی اوامت مسلمه ته دوکه ورکوی، . د دې خبرې داستان خو ډیر اوږد دې له همدې کبله دلته دیوڅو مثالونو په ذکر کولو سره اکتفاء کوو :

۱ – یو محترم د یو ډیر لوئ بانك رئیس وو هغه له خپلې وظیفې نه استعفاء ورکړه او «له سود څخه دپاك بانکی نظام» چلولو اشتهارات یی ورکړل. د هغې دکارکردګی دصحت او جواز لپاره یی له ما څخه پوښتنه وکړه . ما دهغه د قواعدو او ضوابطو کتابچه را وه غوښتله اوهغه مې وکتله چه . نو معلومه شوه چه هغه هم په سودی اساس باندې جوړه شوې ده ، پوښتنې کوونکی زما جواب هغه ته وښودلو نو هغه زما څخه د خالص شرعی نظام اصول او پیشنهادات طلب کړل. ما د انفرادی لیکلو په ځائ دغه کار دجدیدو مسائلو د تحقیق مجلس ته وړاندې کړو . د دې مقصد لپاره د تحقیق دمجلس څو غونډې وشوې او دمجلس غړو علماء کرامو په ډیر تکلیف سره یوڅه پیشنهادات ترتیب کړل. مونږ به په هره غونډه کښې هغه محترم هم شریك کولو د دې لپاره چه که چیرته کوم پیشنهاد دقبلولو وړ نه وی نو په هغې کښې به په هماغه وقت کښې اصلاح کیږی. هغه دغه ټول پیشنهادات اوتجویزونه دعمل قابل وګڼل او وې منل اوپه ورین تندی اوفراخه سینې سره یی قبول کړل. او دهمدې مطابق یی د بانکی نظام د چلولو وعده هم وکړه، لیکن بیا یی پدې باندې عمل ونکړو . اوهغه سابقه سودی نظام یی خپل حال وساتلو او دهمدغه علماء کرامو له سود نه دپاك بانکی نظام اشتهار به یی کولو

زما خیال دا وو چه دغه تجویزونه به دتحقیق دمجلس له غړو سره محفوظ وی لیکن افسوس چه له هغوئ سره ونه موندل شول

۲ په ۱۲ اپریل ، کال (۱۹۸۰) کښې د پاکستان دحکومت اسلامی مشورتی مجلس د بانك د اصلاح په سلسله کښې یوڅه سوالونه راولیږل. مونږ په ۲ دویم د رجب کال ۱۴۰۰ هـ کښې هغوئ ته دهغې جوابونه ولیږل لیکن ددغه اسلامی مشاورتی مجلس دډیروکوششونو باوجود بانك هغه قبول نکړل

۱ - د دوه وجوهو له کبله د خپلو جوابونو دشائع کول ضرور ونه گڼل

اول دا چه په دغه سوالونو کښې جامعیت اوعمومیت نه وؤ نو په همدې اساس په جوابونو کښې هم د پوره شرعی نظام تفصیل نه وؤ

دویم دا چه د دغې لیکنې په وقت کښې د سودی نظام کوم ماهر زمونږ مخې ته نه وؤ نو په همدې اساس دا فیصله نشوه کیدې چه آیا د سودی نظام سربراهانو ته پدې باندې کوم اشکال شته او که نه ؟

۲ - په شعبان کال (۱۴۱۲) هـ کښې د بانك د اصلاح لپاره دجدیدو مسائلو د تحقیق مجلس هغه غونډه وشوه چه دهغوئ کارکردگی په همدې رساله کښې خپریږی . پدې کښې د پاکستان د بنکداری دکونسل دوه غړی شریك کړې شوی وؤ . د پیشنهاداتو په لیکلو کښې دهغو تر ډیره حده پورې لحاظ ساتل شوې وؤ . هغوئ په بعضو امورو کښې په دې خبره ډیر تاکید کولو چه د بانك زیات نه زیاته فائده ورسیږی . علماء کرامو فقط دهغوئ دلحاظ په خاطر باندې دهغوئ بعضې نامناسب تجویزونه هم قبول کړل . برسیره پردې له بانك څخه تراوسه پورې دسود د لعنت دختمولو هیڅ اثرات نه ښکاری . الله پاك دې دغې قوم ته هدایت وکړی . **فالیه المشتکی وهو ولی التوفیق ولاحول ولاقوة الا بالله.**

رشید احمد

۲۴ / ذیقعده ، سنه (۱۴۱۳) هجری

له شرکت سره متعلق یوڅو نکتې

۱ - د شرکت له شروع سره متعلق دا اصول وؤ

په ابتداء کښې بانك له خپل عمیل (شریك) سره دا وعده کوی چه د مشارکة په موده مثلاً په شپږو میاشتو کښې به هغه په مجموعی توگه څومره پیسې د شرکت په اساس عمیل ته ورکوی چه دهغې په وجه عمیل ته دا حق حاصل شی چه هغه د مقرر شوی وقت په دوران کښې منظورې شوې پیسې تر یو حده پورې وقتاً فوقتاً دشرکت دمختلفو پیسو په اساس اخلی

دعمیل ددغه حق شروع به له هغه وقت څخه کیږی له کوم وقت نه چه دمعاهدې سندونه اودستاویزات تیاریږی

بیا نه : نفع اونقصان دتقسیم کولو په اعتبار سره به دعملی مشارکت شروع له هغه وقت څخه شروی چه کله هغه عملاً په اول ځل دشرکت په اساس باندې خپلې پیسې له بانك څخه راوباسی ،،

۲ - په اصل کښې بانك اوعمیل دواړو ته داحق حاصل دې چه کله وغواړی شرکت فسخ کولې کی شی لیکن بانك په خپله ذمه باندې داخبره لازم کولې شی چه هغه بغیر له کوم معقو عذر نه دکال نر

ختميدلو نه وړاندې به په يوطرفي ډول عقد نه فسخه کوي. ليکن دهرکال په ختميدلو سره به هغه ته دا حق حاصل وي چه هغه د آينده لپاره دغه شرکت فسخ کړي. اگرچه دمعاهدې موده له يو کال نه زياته مقرر شوې وي.

د دې تجويز مقصد دا دې چه که چيرې ديو يا دوه کالو له تجربې څخه دعميل دنا اهلي احساس وشي نو له راتلونکي نقصاناتو څخه به خلاص شي، اوشرکت به فسخ کړي اوهماغه وقت کښې به منافع او سرمايه ټول تقسيم کړي.

۳ - کله چه بانك له يو شرکت يا کمپنئ سره مشارکت کوي نو د فريقينو د سرمايې دمقدار تعيين کوي. يا خود ارنگه کيږي چه دکمپنئ يا شرکت په بيلنس شيټ کښې دکمپنئ چه کومه سرماه ښودلې شوې وي هغه په شرکت کښې دکمپنئ لګولې شوې سرمايه ګڼل کيږي.

اويا فريقين په خپل مينځ کښې په خوښۍ سره دکمپنئ د اثاثو دتقويم په بنياد د کمپنئ د سرمايې مقدار مقرر کړي.

البته د سرمايې دغه تعيين به په هغه صورت کښې وي چه کله بانك د کمپنئ په پوره کاروبار کښې شريك کيږي. خوکه بانك د کمپنئ دکاروبار په کومه مخصوصه حصه کښې شريك کيږي نو پدې صورت کښې به د کمپنئ د سرمايې تعيين دهغه اثاثو د تقويم په بنياد کيږي چه کومې په شرکت کښې شاملې کړې شوې دي.

له بلې خوا دبانك حصه (رأس المال) به هغه نقدې پيسې وي چه هغه بانك عميل ته دشرکت په طور سره ورکړي دي.

په فائده او تاوان کښې د شرکت قاعدې

۴ - د دواړو خواوو ترمينځ دفائدې تقسيم کيدل به د خپل منځي معاهدې مطابق دواقعي حاصلې شوې فائدې د فيصدي په حساب سره وي. اوفريقين به دخپلې خپلې مصرف شوې سرمايې په نسبت سره په نقصان کښې شريك وي

۵ - البته بانك به له خپلو مختلفو شريکانو سره په نفع کښې مختلفې اندازې ټاکي. دمثال په توګه له چا سره به دحاصلې شوې فائدې لس فيصده ټاکي اوله چا سره به دولس فيصده وغيره.

۶ - په يو وقت کښې حکومتي بانك دخپلو مالي اصولو مطابق په تجارتي بانکونو باندې دا اندازه لازموي چه هغوئ به له کوم قسم شريکانو څخه څو فيصده فائده اخلي

په غير سودي نظام کښې د شرح سود په ذريعه د دې تعيين نشي کولې. البته هغوئ به خپلو مختلفو شريکانوته زيات نه زياته فائده مقرروي. د مثال په توګه دا پابندي لګولې شي چه بانك له خپل فلاني قسم شريك سره دشرکت د معاملې د طې کولو په وقت کښې له لاسته راوړې شوی

فائدې نه زيات نه زيات لس فيصده فائده دخپل ځان لپاره مقرركولې شي. اوله فلاني قسم شريك نه دلاسته راوړې شوې فائدې دولس يا پنځلس فيصده فائده د خپل ځان لپاره مقرر كولې شي.

البته د نقصان په صورت كښې به دشركت دغه قاعده دتغيير وړ وي، هرسړې به دخپلې لګول شوې سرمايې په اندازه دنقصان ذمه وار وي.

په دغه قاعده كښې حكومتي بانك هيڅ تغير نشي كولې.

۷ - په مشاركة كښې دعميل د كاركردګۍ له پيچيده كيدلو نه د بچ كيدو لپاره به حتی الامكان دا خبره تاكلې شي چه شركت به په پوره كاروبار كښې نه وي بلكه دهغې په يوخاص حصه كښې به وي. مثلاً د څيزونو په خرڅولو او اخستلو كښې. او ددغه څيزونو د خرڅولو اواخستلو په نتيجه كښې چه كومه فائده لاسته راځي نوپه هغې كښې چه كومه فيصدي مقرره شوې ده هغه به د دواړو ترمينځ تقسيم كيږي

۸ - كه چيرې په كاروبار كښې نقصان دعميل د بد ديانتئ . له خپل حد څخه دتيرى اويا د وعدې دماتولو په نتيجه كښې وشو نو دغه ټول نقصان به په عميل باندې وي . بانك به پدې كښې د نقصان ذمه وار نه وي ، د دغه قسم معاملې صفايې اوفيصله به د دريم سړي په ذريعه كولې شي، كه چيرې دريم سړي يعني ثالث دا فيصله وكړي چه په مشاركت كښې په اصل كښې فائده شوې ده اوهغه عميل پټه كړې وه نو پدې صورت كښې به بانك دفائدې مقرر شوې فيصدى حقدار وي.

دا خبره دې واضحه وي چه دممكنه ګټې نه كيدل اويا په هغې كښې كمې به نقصان نشي ګڼلې.

۹ - كه چيرته بانك ته دا خبره معلومه شوه چه دهغه عميل يا شريك بد ديانته او زيات غافل او بې پروا دې اويا د معاهدې ماتولو مرتكب كيږي نو بانك د شركت لپاره له مقرر شوى وخت نه مخكې شركت فسخ كولې او خپله سرمايه واپس اخستلې ش. په دې صورت كښې به د دريم كړي يا ثالث په ذريعه ترهماغه وخته پورې د نفع او نقصان تعيين وكړې شي او پدې كښې به هم په خلورم نمبر كښې د ذكر شوى تفصيل مطابق حصه دار وي.

۱۰ - د دې خبرې دضمانت داخستلو لپاره چه عميل يا شريك به حسابونو كښې داسې جعل كارئ ونكړى چه دبانك د فائدې څخه خلاف وي. بانك د شراكت په معاهده كښې دا شرط لګولې شي چه هغه د خپلې سرمايه كارئ تر پنځه اويا (۷۵) فيصده حصې پورې خپلې مصرف كړې شوې پيسې دعميل په يوه ادنى حصه باندې بدلولې شي. د دې تبديلې قاعده به هم دشراكت د كولو په وخت كښې كولې شي. ليكن بانك به دا تر هغه وخته پورې دغسې نه كوى ترڅو پورې چه شريك د دغې تفصيل ۲ ۳ نفع ګټې چه هغه په ابتدائى اندازو كښې نبودلې شوې وه

۱۱ - دلسم نمبر فقرې مطابق بانك چه كومې حصې حاصلې كړې وى دهغې د اخستلو حق به د عميل پخوانو حصه لرونكو ته حاصل وى. كه چيرته هغوئ دغه حصې واخلى نو داخستلو په وقت

کښې به دبانك او حصه لرونكو شريكانو په خپل منځى اتفاق سره ددغې حصې قيمت مقرركولې شى

مؤجله مرابحه

۱۲ - چه په كومو معاملاتو كښې په شركت يا مضاربت عمل ممكن نه وى نو په هغې كښې به په مؤجله مرابحه يا د وروستئ نيټې په ګټه باندې دعمل كولو پيشناد وراندې كيږى . دهغې طريقه داده چه مثلاً يو دهقان له بانك څخه د تركتور د اخستل لپاره يوڅه پيسې قرض اخستل غواړى. نوبانك به هغه ته د پيسو د قرض وركولو په ځائ په خپله تركتور اخلى او د مؤجلې ګټې په په شكل يى به په هغه باندې خرڅوى چه دكومې منافع هغه د خريدارئ د پيسې مطابق دځان لپاره خاص كوى . دې ته د «مارك اپ» په ځائ باندې «كاسټ پليس» ويل كيږى

۱۳ - د «كاسټ پليس» د تعين لپاره به هغه د اداء كولو د نيټې كموالې اوزياتوالې به نظر كښې ساتى. يعنى كه دپيسو اداء كول په لږه موده كښې وؤ نو د «كاسټ پليس» دفائدې اندازه به كمه ساتى اوكه چيرته د اداء كيدلو نيټه اوږده وه نو بيا به دغه «كاسټ پليس» زيات مقرر كولې شى. ليكن كوم وقت چه د ده او دهغه عميل تر مينځ بيعه كيږى نو بايد په هماغه وقت كښې د پيسو د اداء كولو ټوله موده او له كاسټ پليس سره مكمل قيمت معين كړې شى

۱۴ - د بانك لپاره په خپله د ټولو مطلوبه څيزونو په خپله اخستل سخت او مشكل كار دې نو له همدې كبله هغه به د دغه مطلوبه څيزونو د اخستلو لپاره خپل عميل له خپل طرف نه وكيل جوړ كړى اودغه عميل به بيا هغه څيز مثلاً تركتور دبانك د وكيل په حيث واخلى او قبض به يى كړى او وروسته له خريدارى څخه به بانك خبر كړى. چه ما د وكالت په اساس ستاسو لپاره دغه تركتور واخستلو اوقبض مې كړو . اوس دغه تركتور له تاسو څخه د خپل ځان لپاره اخستل غواړم [۱]

نو بانك به په همدغه ځائ او وقت كښې دغه تركتور په دې عميل باندې خرڅ كړى

عميل چه د وكيل په حيث باندې دغه تركتور د بانك لپاره واخستلو اوبيا يى له بانك څخه د خپل ځان لپاره واخستلو نودغه كار چه په څومره موده كښې وشو نو په دې موده كښې به دغه تركتور دبانك ملكيت اودوكيل په واسطه به د بانك په تقديرى قبضه كښې وى. اود بانك په ضمان كښې به وى. بيا چه كله د عميل او بانك ترمينځ بيعه وشى نو په دغه صورت كښې به د تركتور ضمان عميل ته منتقل شى

د وكالت په وقت كښې به عميل د وعدې په طريقې سره د دې خبرې تسلى كوى چه تركتور د

---

۱ - په مجلس كښې دلته دا اضافه هم شوې وه چه غالبًا سهوًا له ليكنې څخه پاتې شوې ده «بانك به د عميل د قبض د تصديق كولو لپاره يوخپل نمائنده لېږى . دقبضې په ثابت كيدلو باندې به هغه ته بو سند وركوى» رشيد احمد

بانك په ملكيت او ضمان كښې داخل شي نو بيا به دې دغه ټركټور له بانك څخه د سابقه مقرر شوې قيمت مطابق واخلي .

۱۲ - چونكه دغه ټركټور دې عميل دوكيل په حيث په خپله اخستې دې اودهغې له ټولو اوصافو نه په خپله ښه خبر دې نو له همدې كبله كله چه بانك دغه ټركټور په ده باندې خرڅوي نو دا به د «څنګه دې اوكوم ځاۍ دې» په اساس باندې خرڅوي. چه دې ته په فقهي اصطلاح كښې داسې ويلې شي چه دا «بيع بشرط البراءة من كل عيب» ده . نو لهذا عميل به وروسته نه بيعې څخه دځه عيب په وجه دغه ټركټور بانك ته نشي واپس كولې .

۱۷ - د مرابحهء مؤجله تر معاهدې لاندې د قيمت د اداء كولو چه كوم تاريخ مقرر شوې دې په همغه وقت باندې د پيسو د اداء كولو دضمانت اخستلو لپاره بانك له عميل څخه يو رسيد او وثيقه غوښتلې او طلب كولې شي .

۱۸ - په سودي معاملاتو كښې كه چيرته قرضدار په خپل وقت پيسې ورنكړې نو دهغه سود همدغه شان زياتيږي. لهذا د سود د بوجه كمولو لپاره به هغه په خپل وقت باندې د اداء كولو پوره كوشش كوي. ليكن په غير سودي نظام كښې كه چيرته دغه عميل په خپل وقت پيسې ورنكړې نو بيا هم هغه ته د سود د زياتيدلو ويره نه وي .

له دې صورت حال اوكار څخه بد ديانته خلق غلطه فائده اخلي . سره له دې چه د پيسو د اداء كولو توان لري ليكن بيا هم پيسې په خپل وقت نه اداء كوي .

د همدې مشكل له كبله په ابتداء كښې په پاكستان كښې دا طريقه اختيار كړې شوې وه چه د پيسو په خپل وقت باندې د نه اداء كولو په صورت كښې به په «مارك اپ» باندې نوره اضافه وكړې شوه .

ليكن ښكاره خبره ده چه دا شرعًا د سود يو شكل دې چه جائز ندې .

د دې زماني بعضې علماء كرامو د دې مسئلې د حل لپاره دا پيشناد كړې دې چه : «له عميل څخه د مرابحې دعقد په وقت كښې داسې ليكل واخستلې شي چه كه چيرته هغه د پيسو د اداء كولو د توان با وجود پيسې اداء نكړې نوهغه به په خپله ذمه د واجب الاداء قرض يوڅو فيصده خيراتي فنډ ته د چندې په شكل وركوي » .

نو په همدې غرض [1] په بانك كښې يو خيراتي فنډ جوړول كيږي چه هغه به نه د بانك ملكيت وي اونه به دهغې پيسې دبانك په آمدني كښې شاملې وي بلكه له هغې نه به نادارو اوغريبو خلقو

[1] - دمجلس پيشنهاد خو دا وو چه دغه فنډ بايد د بانك په ځاۍ ديو ثالث اودريم ګړي په اختيار كښې وي. ليكن بانك د دې په خپل اختيار كښې د ساتلو تاكيد كولو

ته د امداد ورکولو او دغیر سودي قرض ورکولو کار اخستل کیږي
د بعضې مالکي فقهاؤ په نیزد دغه قسم التزام قضاءً هم نافذ کیږي
د عمیل له طرف نه به په خیراتي فنډ کښې د چندې ورکولو دا التزام په هغه صورت کښې وي چه کله دقرض د اداء کولو د قدرت باوجود قرض په خپل وقت سره اداء نکړي، لیکن که چیرته هغه حقیقةً دخپلې تنګدستۍ په بناء باندې د قرض داداء کولو نه عاجز وي نو پدې صورت کښې بیا هغه دې خیراتي فنډ ته دچندې ورکولو پابند ندي.
په دغه راپور کښې د دې طریقې د پیشنهاد په وقت کښې دا هم ویلې شوي وؤ چه: «دعمیل د تنګدستۍ تعین به پدې طریقې سره کیږي چه په هغه باندې د افلاس حکم شوې وي».

د مؤجله مرابحې پیشنهاد شوې طریقه

۱۹ - په راپور کښې دا پیشنهاد شوې دې چه هغه ټولې کمپنیانې اوفرمونه چه خارجي اکاونټونو نه دخپلو حسابونو کلنې حساب او کتاب کوي نوهغوئ ته به بانك بغیر له مشارکت نه په بله طریقه پیسې نه روکوي، البته چه کومې کمپنیانې له خارجي چارټر اکاونټونو نه دخپلو پیسو حسابونه نکوي اویا قانونًا پدې پاندې مجبور نه وي نو هغوئ له بانکونو سره دمؤجله مرابحې معامله هم کولې شي.
۲۰ - په دې وقت کښې د بانکونو د کار طریقه داده چه:
«مختلف شرکتونه چه کله دوئ ته د قرض اخستلو لپاره مراجعه کوي نوبانك دهغوئ لپاره د قرض یوه اندازه منظوره کړي، د مثال په توګه دجنوري له اول تاریخ څخه تر یودریشم ۳۱ تاریخ د دسمبر پورې هغه یو کروړ روپئ له بانك څخه قرض اخستلې شي، اوس د کال په مینځ کښې چه هغه ته د څومره پیسو ضرورت پیښیږي هغه له بانك څخه اخلي اواخستل شوې پیسې په بعضې وقتونو کښې دوباره بانك ته هم ورکوي . نو په یودیرشم ۳۱ دسمبر باندې به دا حساب کیږي چه څومرې پیسې ترکومه وقته پورې له هغه کمپنۍ سره وې . نو دهمدې حساب مطابق به هغه سود ورکوي»
چونکه په مؤجله مرابحه کښې وروسته د یو قیمت له تعیین څخه په دې کښې کموالې یا زیاتوالې نشي کیدلې نو له همدې کبله دغه راپور پیشنهاد کړې شو.
دجنوري په اول تاریخ به له عمیل سره دامعامله وکړې شي چه تر یودیرشم ۳۱ دسمبر پورې به د یو کروړ روپو مختلف څیزونه دمختلفو معاملاتو په ذریعه په تاسو خرڅول کیږي چه دهغې مجموعي اوټول قیمت به تر یودیرشم دسمبر پورې تاسو مونږ ته راکوئ. بیا به دهر شي معامله دمؤجل مرابحې په اساس باندې جدا جدا کول کیږي چه دهغې طریقه په تیرو صفحاتو کښې بیان

شوي ده. په هره معامله کښې به دا خبره په نظر کښې نيول کيږي چه کومه معامله د يوديرشم دسمبر نه خومره مخکښې شوې وي نو په هغې کښې به د ګټې اندازه به له هغه معاملې څخه زياته وي يوديرشم دسمبر ته نزدې وي اوکومه معامله چه يوديرشم دسمبر ته نزدې وي نو دهغې ګټه به په همدې مقدار کمه وي.

فرض کړه چه د جنوري په اول تاريخ باندې د مالوچو زر (۱۰۰۰) ګانټونه «ګيډۍ» دګټې د طريقه. کار مطابق يوعميل يا شريك له بانك څخه واخستلې او په دې باندې يې دمنافعو انداز پنځلس (۱۵) فيصده ولګوله او د دې معاملې دمعاهدې مطابق په عميل باندې مثلاً يولاکهه روپۍ واجب الاداء شوې ليکن ديوځه وجوهاتو له مخې عميل دا غواړي چه پنځوس زره (۵۰۰۰۰) روپۍ اوس ورکړي، نو دهغه به يو خاص اکاونټ په بانك کښې خلاص شي چه په هغې باندې به ده نه دنورو اکاونټونو لرونکو په شان منافع ورکول کيږي . بلکه په دغه راپور کښې دا پيشنهاد هم شوې دې چه په دغه رنګه اکاونټ باندې به د فائدې اندازه له نورو نه يوڅه زياته وي.

له دغه اکاونټ نه عميل هروقت خپلې پيسې هم راويستلې شي او طريقه به يې دا وي چه دغه دخپلو واجب الاداء پيسو مثلاً ديولاکهه روپو د ضمانت لپاره ګرو «رهن» ايښې دې دمثال په توګه دمالوچ ګانټونه وغيره، کله چه هغه دغه مالوچ اويا دمالوچ کومه حصه «دشيندلو لپاره» اخلي نو چه خومره حصه اخستل غواړي نودهغې دقيمت «يوخصوصي اکاونټ» به خلاصوي.

دا دقيمت جزوي اداء کيدل نه ګڼل کيږي بلکه دا په حقيقت کښې يو نوې اکاونټ خلاصول دي چه په هغې باندې بانك تبرعاً د رهن هغومره حصه واپس کوي. اوس دې له همدې اکاونټ نه دومره پيسې ويستې شي چه دهغې له ويستلونه وروسته په هغه اکاونټ کښې باقي پاتې پيسې دومره وي چه له باقي رهن سره يوځاۍ شي نو د واجب الاداء قيمت سره برابريږي.

دغه شان تر ۳۱ دسمبر پورې مختلف معاملات کيږي. تر دې پورې چه په يوديرشم ۳۱ دسمبر باندې د ټولو معاملاتو دمجموعي قيمت د اداء کيدلو له اختتام څخه وروسته دغه خصوصي اکاونټ ختميږي.

۲۱ په راپور کښې يوه بله طريقه د «کرايه داري» هم پيشنهاد شوې ده . نن سبا په بعضې ولتونو کښې له بانکونو نه قرض اخستونکي د جامدو اثاثو د اخستلو لپاره قرض اخستل کيږي. مثال په توګه د ماشين وغيره د اخستلو لپاره قرض اخستل کيږي. نو پدې هکله په راپور کښې پيشنهاد شوې دې چه.

په داسې وقت کښې دې بانك ماشين آلات واخلي اوعميل يا کارکونکي ته دې په کرايه ورکړي. د دې کرايې په ټاکلو کښې به عموماً د دې خبرې لحاظ ساتلې شي چه په يوه خاصه معينه موده کښې به د کرايې په ذريعه د ماشين آلاتو ټول قيمت سره له ګټې نه اخستل کيږي

د کرایی اخستلو په دې موده کښې به دغه ماشین آلات د بانك په ملکیت کښې وی او د دې ذمه داری به په بانك باندې وی»

دکور اوداسې نورو خریداری او اخستل

۲۲ - دکور وغیره داخستلو لپاره چه کوم قرض ورکول کیږی دهغې په باره کښې په راپور کښې دا پیشنهادونه شوی دی:

« هغه به هم د مؤجله مرابحې په اساس باندې وی، یعنی اول به بانك کور واخلی او د همدې لپاره به عمیل وکیل جوړ کړی . له هغې نه وروسته چه کله دغه کور د بانك په ملکیت کښې راشی نوهغه به په عمیل باندې د مرابحې په اساس خرڅ کړی ، که چیرې کور جوړولو ته ضروری لری نو چه کله تعمیر مکمل شی نوبیا به یی په عمیل باندې په کټه خرڅ کړی . که چیرې عمیل په اخستلو اویا دکور په جوړولو کښې خپله حصه اچول غواړی نو دهغه لګول شوې پیسې به د پیشکی یا بیعانې په طور ګڼل کیږی» .

دویم صورت دا دې چه : «دعمیل حصه به دشراکت په طور وی او دکور یا ځائ په ملکیت کښې به دواړه شریك وی،وروسته به بیا بانك خپله حصه عمیل ته دمؤجله مرابحې په طورخرڅه کړی»

په ابتداء کښې به دا صورت دشرکت املاك وی اوپه آخر کښې به مرابحهٔ مؤجله وی .

په سند کښې به د مرابحې ذکر دوعدې په طور وی .

له عمیل (شریک) څخه اخستل

۲۳ - دهغې صورت دا دې :

«له عمیل څخه به یی قرض واخلی د بانك «بل آف ایکسچینج» کښې به یی داخلې کړی اوبیا به بانك دعمیل له خوا څخه وکیل بالاستیفاء جوړ شی له اصل مشتری څخه به پیسې واخلی او د دې وکالة بالاستیفاء دحق الخدمه په طور به دفیصدی په اندازه اُجرت مقرر کړی اوچه کله پیسې واخستل شی له هغې نه به خپل حق الخدمة منفی کړی . اوباقی پیسې به دقرض دنسبت په اساس تقسیم کړی» .

سروس چارج

۲۴ - په قرض حسنه دسروس چارج اخستلو لپاره د دې خبرې لحاظ ساتل ضرور دی چه دسروس چارج مقدار به دحقیقی اجر مثل نمایندګی کوی . محض حیله به نه وی

یوه ضروری خبره

د دې نظام د څارنې لپاره «د شرعی مراقبې شعبه» قائمول ضروری دی. له هغې نه بغير د شرعی حدودو رعايت نشی کيدلې. دا شعبه بايد په داسې شرعی ماهرينو باندې مشتمله وی چه له هغو سره کم نه کم د تدريس او افتاء پنځلس کلنه تجربه وی . دبانك د ورځنيو معاملو اومعاهدو څارنه له فقهی نقطهٔ نظر څخه وکړی او د باطلو او فاسدو معاملاتو دروازه بنده کړی.

دجديدو مسائلو دتحقيق دمجلس شريکان

۱ ـ حضرت مولانا مفتی رشيد احمد صاحب - دارالافتاء والارشاد. ناظم آباد کراچی.
۲ ـ حضرت مولانا مفتی عبدالشکورصاحب ترمذی - جامعه حقانيه ساهيوال. ضلع سرگودها.
۳ ـ حضرت مولانا مفتی محم وجيه صحب - دارالعلوم ټنډو الله يار.
۴ ـ حضرت مولانا مفتی سبحان محمود صاحب - ناظم دارالعلوم کراچی
۵ ـ حضرت مولانا مفتی محمد رفيع عثمانی صاحب - صدر دارالعلوم کراچی.
۶ ـ حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاب - نائب صدر دارالعلوم کراچی.
۷ ـ حضرت مولانا مفتی ډاکټر عبدالواحد صاحب - جامعه مدنيه کريم پارك لاهور.
۸ ـ حضرت مولانا مفتی محمد انور صاحب - جامعه خيرالمدارس . ملتان.
۹ ـ حضرت مولانا مفتی عبدالرحيم صاحب - دارالافتاء والارشاد . ناظم آباد کراچی
۱۰ ـ حضرت مولانا مفتی عزيزالرحمن صاحب - دارالعلوم کراچی.
۱۱ ـ حضرت مولانا مفتی محمود اشرف صاحب -
۱۲ ـ حضرت مولانا مفتی اصغر علی صاحب ربّانی -
۱۳ ـ حضرت مولانا مفتی عبدالرؤف صاحب -
۱۴ ـ حضرت مولانا مفتی محمد عبدالله صاحب -
۱۵ ـ حضرت مولانا مفتی محمد عبدالمنان صاحب -
۱۶ ـ حضرت مولانا۳مفتی محمد کمال الدين صاحب -
۱۷ ـ حضرت مولانا مفتی محمد خالد صاحب -
۱۸ ـ حضرت مولانا محمد اشرف صاحب -
۱۹ ـ حضرت مولانا مفتی مسيح الله صاحب -

د حضرت مولانا مفتي عبدالواحد صاحب اشکالات

۱ - په لسمه (۱۰) نکته کښې چه کوم پیشنهاد ذکر شوې دې له هغې سره زه تفاق نه کوم. دهغې متعلق زما په ذهن کښې دا خبره راځي چه دغه ذکر شوې شرط د عقد له تقاضا څخه خلاف دې څکه اګرچه دا دواړه صورتونه د شرکت عنان دي لیکن دا دواړه مختلف عقدونه دي، چه کوم عقد دشرکت په ابتداء کښې شوې دې دهغې دوه شریکان دي یوه کمپنۍ دهاو دویم بانك دې، د دواړو سرماه هم معلومه ده اونفع اندازه یې هم معلومه ده. وروسته که چیرې بانك تر پنځه اویا (۷۵) فیصده پورې خپلې سرمایې لره دکمپنۍ په معمولی حصو باندې بدلوی نو قطع نظر له دې نه چه قانون دې ته اجازت ورکوی اوکه نه یې ورکوی. اوس د کمپنۍ سرمایه زیاتیږی اود بانك سرمایه پنځه ویشت (۲۵) فیصده پاتې کیږی. څکه چه کوم صورت مخې ته راغلې وؤ هغه دا وؤ چه بانك له خپلې پنځه اویا (۷۵) فیصده سرمایې څخه دکمپنۍ نوې حصې پیدا کوی، دا خبره نه وه چه بانك به دکمپنۍ نوې برخې اخلی.

کمپنۍ په پوره ډول یوشخص (PERSON) دې. اوهغه د همدې حیثیت په اعتبار سره بانك خپله پنځه اویا فیصده سرمایه په هغې کښې مدغم کوی. لهذا له کمپنۍ سره چه دهغه کوم شرکت وؤ هغه تر پنځه ویشت فیصده سرمایې پورې پاتې شو. بانك چه یو شریك دې دهغه سرمایه پنځه ویشت فیصده پاتې شوه. اوکمپني چه دویم شریك وؤ دهغې سرمایه د بانك له پنځه اویا فیصده سرمایې سره یوځای شوه او زیاته شوه. نو د دواړو شریکانو په راس المال کښې تغیر راغې. چه دهغې لازمی نتیجه داده چه منافعو په اندازه کښې به هم فرق راځي.

د دواړو شریکانو په راس المال کښې تغیر اوهمداراز په منافعو کښې دتغیر خلاصه داده چه دا دشراکت یو نوې عقد شو.

دویم شراکت هغه دې چه دکمپنۍ په داخل کښې دکمپنۍ له نورو شریکانو سره شوې وی. دغه شرکت اجارې لره هم متضمن دې. څکه چه بانك له دې لارې نه په انتظامیه کښې خپل یو ډایرکټر یا یو سرې راولی چه کوم ته د نورو ډایرکټرانو په شان تنخواه او سهولتونه اوامتیازات (ALLOWANCES) هم حاصل وی. مطلب دا چه په دغه شرط باندې له عمل کولو څخه یو شرکت په دوه مختلفو شرکتونو باندې بدلیږی. اوپخوانې شرکت هیڅ قسم باقی نه پاتې کیږی.

له همدې کبله بانك خو به یا په دویم نمبر نکته باندې اکتفاء کوی او یا به بانك اوکمپنۍ په خپل مینځ کښې دا شرط مقررکوی چه دممکنه منافعو دنه حاصلیدلو په صورت کښې به بانك خپل یو نماینده ته د داسې کار کولو حق ورکوی چه هغه دکمپنۍ په تصرفاتو کښې مداخله وکولې شی. د دې لپاره بانك دخپل خان لپاره د منافعو اندازه له ابتداء نه په مناسبه اندازه یو څه

زيات مقدار مقرركولې شي په كاركښې د مداخلې كولو په صورت كښې به بيا دمنافعو په اندازه كښې هيڅ قسم تبديلي نه راولي. اودبانك د نمايندگی په خاطر به دكمپنۍ له طرف نه هيڅ قسم تنخواه يا امتيازات نه وركول كيږي.

۲ - خلوارلسمه (۱۴) نكته. دهمدې نكتې لاندې په حاشيه كښې ليكل شوې دي.

۲ - اتلسمه (۱۸) نكته. دا هم دهمدې نكتې په حاشيه كښې ليكل شوې دي

ضميمه

دسودې پروژو متبادله طريقې

—— پيش كونكې ——

كميشن فور اسلامائزيشن آف اكنامی

سوال: په اوسنی دور كښې تول پيشرفته ملكونه اوخصوصًا په غريبو ملكونو كښې دا مسئله مخې ته راغلې ده چه حكومتونه د خپلې بودجې دخسارې د پوره كولو لپاره دخپل ملك په داخل كښې له عوامو څخه اوهمدارنگه له خارجی ملگرو ملكونو څخه قرض اخلی. دغه قرضونه د سود په اساس اخستل كيږي.

پدې كښې شك نشته چه دكار ښه طريقه داده چه مصارف دخپلو وسائلو مطابق اودهغې په داخل كښې وكړې شی اوقرض اخستلو ته هيڅ ضرورت پيدا نشی، چه دهغې لپاره ساده ژوند خپلول اودبې خايه عيش اومعاش نه پرهيز كول لازم دی، خو پدې خبره باندې تقريبًا دمعاشياتو تول ماهرين متفق دی چه كه چيرته مسرفانه غيرپيداواری مصارف كم هم كړې شی خوبيا هم پوترقی غوښتونكی ملك ته دقرضونو ضرورت پيښيږي. اوبالخصوص د خپلو عوامو بچت شوې زيرمې به دحكومت د بوديجې دخسارې د پوره كولو لپاره په كار راوستلې شی.

په موجوده نظام كښې حكومت دهمدې غرض لپاره مختلفې دبچت اوزيرمو پروژې شروع كړې دی. دمثال په توگه «نيشنل ډيفنس سرټيفكيټ»، «خاص ډپازټ سرټيفكيټ»، «انعامی بانډ» وغيره. په همدې خاطر حكومت دعوامو بچت شوې سرمايه په خپلو مصارفو كښې استعمالوی. اوپدې باندې عوامو ته سود وركوی، دغه قسم پروژې په هر مسلمان كښې موجودې دی.

اوس پوښتنه داده چه دسود له ختميدلو څخه وروسته دغه پروژې په خپل موجوده شكل باندې باتې كيدلې نشی. لهذا دحكومت لپاره به دخپلې بودجې دخسارې د پوره كولو لپاره له عوامو څخه د قرض اخستلو څه صورت وی. څكه هركله چه خلقو ته پدې پروژو باندې څه اضافی پيسې وركړې شی نوهغې خوبيا پدې پروژو كښې برخه نه اخلی اوبالخصوص چه د پيسو قيمت ورځ تر ورځه لاندې را غورزيږي.

پدې حالاتو کښې د دې سودي پروژو دمبتادلو لارو چارو لټولو په طور مختلف تجویزونه او پیشنهادات وړاندې کړې شوي دي . له هغې څخه بعضې خو دشریعت په اعتبار سره بالکل صاف اوشفاف دي. دمثال په توګه چه حکومت په خپل کاروبار کښې له عوامو څخه پیسې واخلي اوهغوئ حصه دار جوړ کړي اوهغه د دې کار په نفع اونقصان دواړو کښې شریك کړي.

لیکن دحکومت دفائدې کارونه ډیر کم وي ، پدې طریقه کښې د حکومت هغه مصارف نشي پوره کیدې چه کوم د موجود سودي پروژو له لارې پوره کیږي، نو لهذا یوڅو تجویزونه نور هم وړاندې کړې شوي دي چه په هغې باندې دفقه له نقطهٔ نظر نه فکر کول ضروري دي. اوهغه پیشنهادات او تجویزونه په لاندې توګه دي:

۱ حکومت د بجټ او زیرمو پروژې داسې جوړې کړي دي چه پدې کښې خو نه له برخه اخستونکي سره دځه اضافي پیسو ورکولو ضمانت وي اونه له وړاندې نه کومه وعده وي لیکن په مختلفو وقتونو کښې کیف ما اتفق یوڅه پیسې په دې پروژو کښې پیسه لګونکو ته ورکول شوې وي په دغه قسم طریقه باندې دملیشیا حکومت عمل کوي

اوس دا خبره دغور قابله ده چه بغیر له څه سابقه معاهدې نه اوهداړنګه قرض ورکونکو عوامو ته د زیاتي پیسو دقانوني مطالبې دحق ورکولو نه بغیر وقت فوقتًا هغوئ ته مختلفه اندازه انعامات ورکول کیږي اودغه انعامات ورکول یو عادت جوړ شوې دې شي . نو آیا دا د «المعروف کالمشروط» قاعدې په اساس سود ګڼلې شي اوکه نه ؟ اوکه یې دې بل طرفته نظر وکړې شي چه قرض ورکونکو لره دمطالبې هیڅ قانوني حق نشته. فقط دا یوه حسن قضاء ګڼلې شي؟

فقهاء کرامو چه د معروف بحسن القضاء ته دقرض ورکولو په سلسله کښې چه څه لیکلي دي هغه هم پدې سلسله کښې په نظر کښې نیول ضروري دي

۲ حکومت محض د خپله خانه کیف ما اتفق د انعامونو د ورکولو په ځائ دا انعامونه د ملي مجموعې چې کوم آمدن دې اوپیا د هغې د زیاتوالي چې کومه اندازه ده په هغې کښې یې شامل کړي. یعنې نه خوقرض ورکوونکو سره څه وعده یا معاهده وي او نهٔ خو دې هغوی ته د مطالبې کولوڅه حق وي. بلکه حکومت په خپله خوښه دا مقرر کړي چې د دې قرض په موده کښې که په مجموعي ملي آمدن کښې څه زیاتوالې وشو نو د دغې زیاتوالي د تناسب نه به قرض ورکوونکو ته هم یوڅه انعام ورکولې شي.او که چیرې څه زیاتوالې په کښې ونهٔ شو . یا په مجموعي ملي آمدن کښې کمې شوې وي نو په دې صورت کښې به قرض ورکوونکو ته څه انعام نهٔ شي ورکولي.

د دې پیشنهاد په مرسته کښې دا خبره کولې شي چې عوام چې حکومت ته کوم قرض ورکوي اګرکه هغه مستقیم په څه نفع ورکوونکي کاروبار کښې نهٔ وي لګولې شوې. لیکن بیا هم هغه بالواسطه په مجموعي ملي آمدن کښې د زیاتوالي باعث جوړیږي.لهذا که چرې حکومت دې

عوامو ته کومو چې قرض ورکړې دې او د حکومت په آمدن کښې د زیاتوالی باعث جوړ شوی دی څه سابقه شرط او یا د څه وجوبی قانون نه بغیر څه انعام ورکړی نو په دې کښې بیا څه باک نشته

۳ - حکومت د روپو د مالیت یو داسې سرټیفیکیټ (سند) جاری کړی چې د هغې قیمت د عام استعمال د څیزونو سره دا تړلې وی چې د هغې قیمت د عام استعمال د څیزونو د قیمتونو د پورته کیدلو سره سره په خپله په هغه تناسب سره زیاتیږی په کوم تناسب سره چې په قیمتونو کښې زیاتوالې شوې دې. دمثال په توګه دارنګه چې دا سرټیفیکیټ که ښن په سل روپئ جارې کړې شوې دې او شپږ میاشتې پس د خوراک څښاک په څیزونو کښې لس فیصده اضافه وشوه نو د دې سرټیفیکیټ قیمت دې بیا یو سل او لس روپئ شی.او چې کوم سړې هم حکومت ته قرض ورکوی هغه دې ورته هم ددې سرټیفیکیټ په صورت کښې ورکړی او چې واپس کوی بیئ نو هم دا سرټیفیکیټ دې واپس کوی.خو ولې څنګه چې معلومه شوه چې د قیمتونو د زیاتوالې په وجه به د دې سرټیفیکیټ قیمت زیات شوې وی د دې وجې نه به هغهٔ دا سرټیفیکیټ په بازار کښې په زیات قیمت سره خرخولې شی.

۴ - حکومت دې د عوامو نه د قرض اخستلو په ځائې دوی سره د بیع سلم معاهده وکړی.او په راروان وخت کښې دې په یو ټاکلی شوی تاریخ هغوی ته د څه مخصوص څیزونو د سپارلو ذمه داری واخلی.او د دې غرض د پاره دې یو د سلم سرټیفیکیټ (سند) جاری کړی.د ټاکلی شوی تاریخ په راتلو به د دې سرټیفیکیټ خاوند د حکومت د ټاکلی شوی یو دکان نه هغه مخصوص څیزونه ترلاسه کولې شی.

د بیع سلم د معاهدې کولو په وخت کښې به د دې مخصوص څیزونو نرخ د بازار د قیمت نه کم لګولې شی.د دې وجې نه هغه د سرټیفیکیټ خاوند به په ټاکلی شوی وخت باندې دغه څیزونه د ترلاسه کولو نه پس په زیات قیمت خرخولې شی.

که چرې د سرټیفیکیټ دا خاوند دا څیزونه واقعةً په خپله قبضه کښې واخلی او بیا ئې خرخوی نو بیا خو شرعی لحاظ سره په دې کښې څه اشکال نشته خو په دې شرط چې د بیع سلم نور شرطونه موجود وی لیکن د دې رائې د وړاندې کوونکو په دماغو کښې دا خبره شته چې که د سرټیفیکیټ دغه خاوند غواړی نو هغه د مخصوص دکان د څیزونو د اخستلو په ځائې د یو ساک نه یا هم د دغه ستور نه د دغه څیزونو د دغې ورځې د بازار قیمت واخلی.

په ظاهره خو د قبضې نه وړاندې د مسلم فیه بیع شرعا روا نهٔ ده. لیکن آیا په دې کښې داسې څه صورت راوتلې شی چې په هغې کښې د څه شرعی قاعدې خلاف کول نه راځی؟

۵ - حکومت دې د سرکاری تمسکاتو په ذریعه د عوامو نه غیر سودی قرضونه واخلی او د دې تمسکاتو حاملینو ته دې په ټیکس کښې رعایت ورکړی.

۲ – حکومت دې د پرائیویټ «شخصي» ادارو د پراویډنټ فنډ یا د پنشن فنډ په حقله دا قانون جوړ کړي چې د دې فنډ ټولې روپۍ به حکومت سره جمع کولې شي.بیا چې کله یو مامور ته د هغهٔ فنډ ورکولې شي نو هم دومره روپۍ به حکومت هم د هغهٔ په فنډ کښې د ورکړې په توګه جمع کوی او هغهٔ ته به ئې ورکوی.

په دې خبرو باندې د(کمیشن فور اسلامائزیشن آف اکنامی) غور او فکر شروع دې. زمونږ دا خواهش دې چې په دې معامله کښې د ملک د ښه ښه اهل فتوی حضراتو نه راهنمائی حاصله کړې شی. دې د پاره چې په دې باندې خالص په علمی انداز کښې غور او فکر وکړې شی او حضرات علماء کرام په دې معامله کښې د یوې واضحې لارې ښودنه مونږ ته وکړی.

تاسو ته دا درخواست دې چې په دې پورته ذکر شوو خبرو باندې غور وکړئ او د خپلې رائې نه موخبر کړئ.

الجواب باسم ملهم الصواب : (۱)- **بينهما خمسة فروق:**

۱ - مقیس علیه کښې په حسنِ معامله کښې د تجربې نه پس د اقراض رغبت وی او په مقیس کښې به د وړاندې نه اعلان وی.

۲ - په مقیس علیه کښې د ژبې څه وعده یا ترغیب نهٔ وی صرف حسنِ معامله وی او په مقیس کښې به د ژبې او د لیک اعلانونه وی.

۳ - په مقیس علیه کښې په قرض باندې نفع تاکلې شوې نهٔ وی بلکه اصلِ قرض په ویره کښې دې او بل خوا ته په مقیس کښې نفع تاکلې شوې ده.

۴ - په مقیس کښې به د ټولو قرض ورکوونکو د پاره د نفعې تناسب برابر وی او په نفعه کښې به د کمی زیاتی معیار هم د ټولو د پاره یو شان وی.

۵ - مقیس علیه یو شخصی معامله ده او مقیس به په عالمی سطح یوه معامله وی.

(۲)**هذا والاول سواء**

(۳)**لا وجه لتجويزه**

(۴)**صحيح بالشرائط المعتبرة للسلم ولكن.** لیکن د تجویز وړاندې کوونکو ـ الخ

(۵) سرکاری ټیکسونه روا او ناروا په دوه قسمه دی.د مقرض نه د ناروا ټیکس ساقطول بې د څه شک شبې نه روا دی او د روا ټیکس ساقطول هم روا معلومیږی.

(۶)- **كيف يجوز وهو عين الربا.والله سبحانه وتعالى اعلم.**

رشيد احمد

۲۶ جمادی الثانيه ۱۴۱۵ هجری

بسم اللہ الرحمن الرحیم

﴿ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَذَرُوْا مَا بَقِیَ مِنَ الرِّبٰۤوا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۲۷۸﴾ فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا فَاْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ﴾ ۔ (القرآن)

بشارة اللظى لآكل الربوا

افاضات

فقیہ العصر حضرت اقدس مفتی رشید احمد صاحب لدھیانوی دامت برکاتہم

لیکونکی:

حضرت مفتی محمد ابراهیم صاحب

بشارة اللظى لآكل الربوا

د بحث خلاصه:

* د اسلام دمعيشت نظام
* د سود لغوی معنی
* د سود شرعی معنی
* د سود حرمت
* آيات بينات
* احاديث د رسول الله ﷺ
* په سود اخستلو اوورکولو باندې سخت وعيدونه
* د الله او د هغهٔ د رسول ﷺ له اړخه د جنګ اعلان
* سود اخستونکی .ورکوونکی.ليکونکی.او په ګواهانو د سود باندې د الله تعالى لعنت
* د سود يو درهم د شپږ دريش زناګانو نه بدتر دي
* د سود ګناه د خپلې مور سره د بدکارئ نه هم اويا چنده نه زياته ګناه ده
* سود خور جنت ته نهٔ شی تلې
* د سود تباهی
* د سود خورو ملحدينو تلبيسات او وسوسې
* حرام خورئ باندې نور وعيدونه

د اسلام د معیشت (ژوندانه) نظام

الله تعالی مسلمانانو ته د (امت وسط) امتیازی انعام ورکړې دې او دوی ته ئې په ایمان، عقیدو، عباداتو او اعمالو، تهذیب، معاشرت، اقتصاد او ژوند، مطلب دا چه د ژوند په هره شعبه کښې یې یو خاص معتدل او د توازن شان ورکړلو، کوم چې دوی د نورو ټولو امتونو نه بیلوی، د دې امت د دژوندانه نظام په دې وخت کښې د پخوا خلقو د دژوندانه د نظامونو نه بالکل بدل. او په فطری اصولو باندې مبنی یو پاک نظام دې.

په سرمایه دارانه نظام کښې یو څو د شمیر کسان په ټولو وسائلو د مال او د مالدارئ باندې بې د غیرو د شرکت نه قابض شی او ټول مال خان ته راغونډ کړی. د مال د حاصلولو په غرض دا خلق هره روا او ناروا طریقه اختیاروی، د دوی بانکونه، د بیمې ادارې. او یو بل سره د امداد په نوم باندې کارکونکی مختلفې پروژې او تنظیمونه چې په ظاهره د عوامو د امداد او د کومک ادارې دی. لیکن دا هم په حقیقت کښې د مال د حاصلولو چلونه دی، په دوی کښې او په پخوا ظالمانه طریقه کښې که څه فرق دې خو بس دومره دې چې: **((زاړهٔ ښکاریان او نوی جال))**.

ددې طبقې خلقو غرض صرف مال او زر دی د دې وجې نه همدردی، دردمندی، د غریبانو امداد او خدا ترسی د دوی په نیز بې معنی او مهمل الفاظ دی، د دې په مقابل کښې غریبه او مفلسه طبقه که هر څومره معاشی لحاظ سره لاندې لاړه شی. هغوی کاروباری لحاظ سره رنګ شی. دې سره د دوی څه غرض نشته، د هوس او د خواهش بندګان، د مکر اوفریب ماهران که چا له څه ورکوی نو د اخستلو په غرض ئې ورکوی. د دې وجې نه دا طبقه شخصی ملکیت له سره نه منی .دا خلق د دولت او د مالدارئ ټول وسائل د حکومت ملک ګنی. په دې کښې دو رائې ممکنه نهٔ دی چې ګنی د اقتصادی نظام د ترقئ مدار دې د فرد په محنت اومشقت باندې وی چې دهٔ ته دې د خپلو جائزو مفاداتو د پاره د کار کولو موقع ورکړې شی بلکه هغه دې په دې باندې راوچت کړې شی چې دې محنت او مشقت اوکړی، ځکه چې اشتراکی نظام د هر سړی او فرد نه د هغهٔ جائز او فطری حق په زوره اخلی او هغه مجبوره وی چې د یو بې سا ماشین د ټولو پرزو په شان دې په کار کښې ورنوتې وی. د کومې لازمې نتیجه چې په عوامو کښې د اضطراب. بې قرارئ. فتنې او بغاوت.او د عام فساد په صورت کښې ظاهریږی.

اشتراکی نظام په ظاهره د سرمایه دارانه نظام دماتیدلو په نتیجه کښې مینځ ته راغلې دې لیکن بنیادی لحاظ سره په دواړو کښې هیڅ فرق نشته، په سرمایه دارانه نظام کښې وارهٔ وارهٔ سرمایه دار د ټول ملک په معیشت باندې خوارهٔ شی او د عامو خلقو معاشی بیخ کندی کوی. بل

خوا ته اشتراکی نظام دا وارۀ وارۀ سرمایه دار خلق ختم کړی او د دوی په ځائې یو لوئې سرمایه دار په وجود کښې راولی،کوم چې د دغه وړو وړو سرمایه دارانو په نسبت څو چنده زیات د بې رحمئ او د څناورئ عمل کوی.

د دې دواړو نظامونو بنیاد له ابتداء څخه د فطرت نه خلاف اصولو باندې اینښودل شوې دې.

د دې په مقابله کښې د اسلام معاشی اودزوند نظام د کمی زیاتی نه پاک یو متوسط او عادلانه یعنی د انصاف نظام دې، په کوم کښې چې د فرد ملکیت او د دهٔ اختیار او تصرف بالکل منلې شوې دې.خو ورسره ورسره ئې په دهٔ باندې مناسب بندیزونه هم لګولی دی،دې دپاره چې د دولت د ټولو وسائلو یو ځائې ته راجمع کیدل په کښې نهٔ وی،د کومې نه چې د معیشت اجتماعی وجود ته نقصان رسیږی.

دویم اړخ ته په دې کښې د حکومت د اختیاراتو د پاره هم حدونه ټاکلې شوې دی، دې د پاره چې حکومت د فرد په ملکیت کښې تصرف او کار ونه لری.

په دې پاک نظام کښې دفرد او د جماعت د جنګولو په ځای د دې دواړو مفادات او فائدې یو بل سره پیوسته کړې شوې دی.د یو خوشحالی د بل په مالداره کیدلو باندې موقوفه ده، چې لازمی نتیجه ئې دا راوځی چې په دواړو کښې د دښمنئ او د رقابت په ځائ یو بل سره د مدد . تعاون او د توافق جذبه ورځ په ورځ مخ په وړاندې ځی

بیا د معیشت د دې نظام د عمارت د همیشه قائم ساتلو د پاره اسلام سخت قوانین وضع کړې دی او د دې نه په خلاف کولو باندې ئې سختی سزاګانې بیان کړې دی

د دولت د ارتکاز د مخ نیوی د پاره اسلام هر صاحب د مال ته وخت په وخت د مال خرچ کولو ترغیب ورکړې دې. لهذا د قرآن او د حدیث پاڼې د انفاق فی سبیل الله د فضائلو او د صفتونو او د بخل د بدګڼلو نه ډکې پرتې دی، اسلام هر صاحب د نصاب د زکوة او د واجبې صدقو د ایستلو پابند کړې دې.که چرې یو مالداره سړې خپل مال له د حرکت ورکولو په ځائ راجمع کوی او یو ځائې کښې ږدی نو د زکوة او د نورو واجبو حقونو په ادا کولو سره په کمیدو کمیدو دا مال آخر ختمیږی

بل اړخ ته د مال په ګټلو کښې هم اسلام څوک داسې بې پیزوانه یعنی آزاد نهٔ دې پریښې. چې د کومو ذریعو سره دې د دهٔ خوښه وی مال دې راغونډوی او ځان سره دې جمع کوی. بلکه د دې د پاره ئې سختې ضابطې مقرر کړې دی،او د مال د ګټلو داسې یوه طریقه ئې هم روا کړې نهٔ ده چې د هغې نه بل یو فرد یا جماعت ته نقصان ورسیږی. سود. قمار. رشوت. غصب او خیانت.غلا .په ناپ تول کښې کمې. ناجائزه نفع اخستل وغیره داسې ټولو ناجائزو ذریعو د آمدن باندې ئې سختې پابندی او سزا ګانې ذکرکړی دی،او د باطلو او د فاسدو عقدونو اوږد فهرست خو لا د دې

د پاسه دي.

د مال د ګټلو چې کومې ناجائزه ذريعې دي نو څنګه چې معلومه ده چې سود په هغې کښې د ټولو نه بدتره ذريعه ده او د انساني معيشت بلکه د انساني اخلاق او کردار د پاره يوه ډيره تباه کوونکې ذريعه ده نو د دې وجې نه اسلام په دې باندې د ټولو نه زياته پابندي لګولې ده.د دې ټول صورتونه ئې له سره حرام او پليت ګرځولې دي او سود خور ته ئې دومره زيات د ويرې وعيدونه اورولې دي چې که په چا کښې يوه ذره هم د آخرت احساس وی نو هغهٔ به د لوړې نه مر شی ليکن د دې ګناه خيال قدر له به هم زړه ته نهٔ راولی.

د ربا تفسير

لغوی معنی : د يو څيز زياتيدلو ،لويدل او ترقی کول.

د شريعت په اصطلاح کښې د دې نه مراد هغه خاص زيادت دې چې بې د څه مالی عوض نه ترلاسه شی. په دې کښې هغه زيادت هم داخل شوه کوم چې چا ته د قرض ورکولو نه وروستو د اصل مال نه علاوه ورکړې شی.کومې ته چې رباالنسيئة وئيلې شی. برابره خبره ده چې که دا قرض چرته د يو فائده مند کاروبار د پاره ورکړې شی او که د څه وختی حاجت د پاره ورکړې شی.

د دې کار د نن په شان په زمانې د جاهليت کښې هم عام رواج وو.

او د بيعې او د شراء هغه ټول صورتونه په کښې هم داخل دی چې په کښې بې د څه عوض نه زيادت موندلې شی. چې ورته رباالفضل وئيلې شی.

دا قسم سود په زمانې د جاهليت کښې نهٔ وو. ليکن رسول الله ﷺ په اشارې سره د دې تصريح فرمائيلې ده چې دا قسم په کښې هم داخل دې:

عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ:الذهب بالذهب والفضة بالفضة والبر بالبر والشعير بالشعير والتمر بالتمر والملح بالملح مثلا بمثل سواء بسواء يدا بيد فاذا اختلف هذه الاصناف فبيعوا كيف شئتم اذا كان يدا بيد (صحيح مسلم ج،ص،وعامة الكتب)

"سرهٔ زر د سرو زرو په بدله کښې.سپين د سپينو په بدله کښې.غنم د غنمو په بدله کښې.اوربشې د اوربشو په بدله کښې.کهجورې د کهجورو په بدله کښې.مالګه د مالګې په بدله کښې. برابر په برابر يو شان او لاس په لاس کيدل لازم دی. ليکن که دا قسمونه يو له بل سره مختلف وی نو په برابرئ يا د کمی زياتی سره څنګه چې مو خوښه وی اخستل خرڅول کوئ.په دې شرط چې معامله لاس په لاس وی".

عن ابی سعيد الخدری رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الذهب بالذهب والفضة بالفضة والبر بالبر والشعير بالشعير

والتمر بالتمر والملح بالملح مثلا بمثل يدا بيد فمن زاد واستزاد فقد اربى الآخذ والمعطي فيه سواء. (پوره تنن حواله)

سرة زر د سروزرو په بدل کښې، سپین زر د سپینو زرو په بدل کښې. غنم د غنمو په بدل کښې. اوربشې د اوربشو په بدل کښې، کهجورې د کهجورو په بدل کښې. مالګه د مالګې په بدل کښې، برابر په برابر لاس په لاس دې وی، پس که چا زیات ورکړو یا ئې زیات واخستلو نو هغه د سود ګناه وکړه، په دې ګناه کښې اخستونکې او ورکوونکې دواړه برابر شریک دی.

دې ارشادات نبویه دا خبره ښکاره کړه چې ربا صرف پدې صورت پورې محدوده نۀ ده چې چا له قرض ورکړې او د مودې او وقت په عوض ترې نه زیاتې پیسې واخلې. بلکه د زیاتئ نور هم ګڼ صورتونه په ربا کښې داخل دی. ددې مرتکب هم مرتکب د ربا دې او د ټولو قرآنی وعیداتو مصداق ګرځی، که د چا منکر حدیث د دې نه انکار وی نو وی به خو ولې د مسلمان د پاره دا بالکل محل د تردد او د شک نۀ دې، د دې دویم قسم د ربا په تفصیل کښې اختلاف دې. چې دا حکم یواځې په همدې شپږو څیزونو کښې منحصر دې او که نه نورو څیزونو ته هم شامل دې، او که چیرې نورو څیزونو ته هم شامل وی نو د کومې ضابطې او د قانون د لاندې داخل دې؟

د څلورو واړو امامانو ﷺ په نیز د دې شپږو څیزونو تخصیص نشته دې بلکه د حدیث مراد یوه ضابطه ده د کومې د وضاحت د پاره چې دا شپږ څیزونه د مثال په توګه ذکر کړې شو. د حرمت د دې ضابطې په حقله د مجتهدینو امامانو ﷺ رائې مختلفې دی د کومې د تفصیل چې دا موقع نۀ ده

خلاصه دا چې د احنافو ﷺ په نیز د ربا د متحقق کیدلو شرط اتحاد د قدر او د جنس دې. یعنی که د مکیلې یا موزونې څیزونو په خپلو کښې مبادله کولې کیږی نو دا ضروری ده چې د دواړو اړخونو څیزونه دې برابر برابر او معامله دې لاس په لاس وی. او که داسې ونۀ شی نو د سود ګناه به کیږی. او که یواځې اتحاد د قدر وی یا اتحاد د جنس وی نو بیا په کښې برابرې کول شرط نۀ دې. لیکن معامله په کښې لاس په لاس کیدل بیا هم ضروری دی.

د مالکیانو په نیزد په سرو او سپینو زرو کښې د حرمت علت د دوی ثمن کیدل دی او په باقی څیزونو کښې د د حرمت نسیئه یعنی د قرض د حرمت علت طعم دې یعنی د خوراک د ټولو څیزونو په مبادله کښې قرض کول حرام دی او موجب د ربا دی، او د فضل یعنی د کمې زیاتی د حرمت علت اقتیات یعنی د غذائیت کیدل او ذخیره کیدل دی یعنی چې کوم څیزونه د انسان لپاره غذا جوړیږی او په ذخیره کولو سره نۀ خرابیږی د دوی یو بل سره په مبادله کښې برابر برابر کیدل شرط دی

د شوافعو په نیزد په سرو اوسپینو زرو کښې علت د حرمت نقدیت یا ثمنیت دې یعنی چې دا د ټولو څیزونو د پاره ثمن دې. او په باقی پاتې څلورو واړو څیزونو کښې علت د حرمت هغه طعم دې یعنی د خوراک په څیزونو کښې د مبادلې په وخت د دواړو اړخونو د څیزونو برابریدل او دغه

رنګې دا معامله لاس په لاس کېدل ضروري دي او که نه نو د ربا ګناه به پرې لازمیږي.

د حنابلو په مذهب کښې مشهور روایت خو د احنافو د مذهب په شان دې یعنی اتحاد د جنس مع الوزن یا اتحاد د جنس مع الکیل دې.دویم روایت په کښې د شوافعو د مذهب مطابق دې.او دریم روایت په کښې دا دې چې د سرو او سپینو زرو نه علاوه په باقي څیزونو کښې علت د حرمت طعم او کیل او وزن دې یعنی چې کوم د خوراک څیزونه په تول یا په ناپ سره خرڅولې کیږي صرف په هغې کښې به د ربا احکام جاري کیږي.

څنګه چې معلومه ده چې ظواهر له قیاس نه منکر دی ددې وجې نه د هغوی په نیز دا حکم یواځې په دې شپږو څیزونو کښې منحصر دې،د تفصیل د پاره وګورئ الفقه الاسلام و ادلته ص ۶۷۱، ج ۴.

اوس د ربا د حرمت په حقله آیتونه او احادیث وړاندې کولې شي:

آیتونه:

﴿ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡبَيۡعُ مِثۡلُ ٱلرِّبَوٰاْۗ وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلۡبَيۡعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْۚ فَمَن جَآءَهُۥ مَوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّهِۦ فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا سَلَفَ وَأَمۡرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَنۡ عَادَ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ۝٢٧٥﴾ (۲ : ۲۷۵)

ترجمه: کوم خلق چې سود خوري نهٔ به پاڅیږي مګر په شان د هغه سړي چې لیونې کړې وی هغهٔ لره شیطان په لاس وروړلو سره،دا څکه چې دوی وائي چې سوداګری هم د سود په شان ده حال دا چې الله سوداګری حلاله کړې ده او سود ئې حرام کړې دې نو چا ته چې د خپل رب د اړخه نصیحت راغلو او هغه منع شونو څه چه وړاندې شوې دی هغه هم د دهٔ شول او د هغهٔ معامله الله تعالی ته وسپارلې شوه.او څوک چې سودی کار ته بیا واپس راغلو نو دا خلق به دوزخ ته څي،دوی به په دې کښې همیشه پراتهٔ وي.

په دې آیت کښې د سود خور عبرتناك انجام بیان کړې شوې دې چې هغوی به په میدان د حشر کښې په شان د هغه سړي ودریږي لکه چې پیریانې انسان ودریږي،دا خلق په دنیا کښې د مال په محبت کښې د لیونتوب د حده پورې بندیوان وو.داسې لیونتوب چې د بیعې او د ربا فرق ئې هم په دوی باندې پټ وساتلو.د دې وجې نه به ئې الله تعالی هم د قیامت په ورځ هم په دې حالت کښې راپورته کوي.دې د پاره چې خبط او جنون ئې علی رؤس الاشهاد ښکاره شي. لکه څنګه به چې پرهیزګاران مؤمنان د حشر په میدان کښې داسې راښکاره کیږي چې روښانه تندی او روښانه اندامونه به ئې وي.همدغه شان به دا سود خوارهٔ دخپل لیونتوب او د غیر انساني حرکاتو سره د

تول انسانیت په وړاندې خوار او ذلیل کیږی.

فقد اخرج الطبرانی عن عوف بن مالك ﷺ قال قال رسول الله ﷺ: ایاك والذنوب التی لاتغفر الغلول فمن غل شیئا اتی به یوم القیامة واکل الربا فمن اکل الربا بعث یوم القیامة مجنونا یتخبط ثم قرء الآیة (روح المعانی ص ۴۲ ج ۳، مجمع الزوائد ص ۱۱۹، ج ۴)

قال الهیثمی رحمه الله: وفیه الحسین بن عبد الاول وهو ضعیف.

رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو: هغه ګناه چه د معافئ قابله نۀ وی د هغې نه ځان وساتئ. خینی د هغې نه د غنیمت دمال غلا ده، کوم سړې چې د غنیمت څه څیز پټ کړی د قیامت په ورځ به د هغې سره حاضریږی. او بل سود خوراک دې چا چې سود اوخوړلو د قیامت په ورځ به مجنون خبطی راپاسولې شی. بیا دوئ ﷺ په استشهاد کښې دا آیت تلاوت اوفرمائیلو.

د سود خور د دې سزا سبب د هغوی دا قول دې **انما البیع مثل الربوا**، یو خو دې خلقو یو قطعې حرام کار وکړو او دالله تعالی د قانون واضحه خلاف ورزی ئې اوکړه، دا جرم څه لږ سخت نه وو چې دوی د دې نه هم یو قدم وړاندې لاړل او قانون د الله تعالی ته ئې اختار ورکړو چې (بیعه خو هم د سود په شان ده) د دې سرکشئ په جرم کښې دوئ د همیش د پاره د جهنم خشاک اوګرځیدل.

د هغوی دا بې اساسه دلیل د دوی د جهالت او د نالائق والی ښکاره دلیل دې نو ددې وجې نه هم قرآن کریم د دوی د دې جهالت جواب د عالمانه طرز په ځائې په حاکمانه انداز کښې ورکړو چې **واحل الله البیع وحرم الربوا**.

اوکه نه نو د بیع او د ربا فرق د لوئې نه لوئې احمق نه هم پټ نۀ دې. د تجارت بنیاد یو بل ته په نفع رسولو او په تعاون او مدد کولو باندې دې، بائع او مشتری خپل جسمانی طاقت، ذهنی صلاحیت او قیمتی وخت خرچ کوی او چې کوم مال حاصلوی نو دهغې یو بل سره بدلون اوکړی او یو بل ته او بالواسطه ټول قوم ته فائده رسوی.

ددې په عکس د سود بنیاد په خود غرضئ، مفاد پرستئ او د مال په ګټلو باندې دې. سود خور مال قرض ورکړی او تاکلې شوې سود کور کښې په ناسته اخلی. دې خبرې سره ئې هیڅ غرض نشته چې قرض داری ته د دې مال له کبله څه ګټه هم وشوه او که نه په تاوان کښې دې؟ د سود پیسې هغه دنفعې نه ما له راکوی اوکه نه د خپلې سرمایی نه اویا بلکه په خیر راټولولوسره ئې ماته رارسوی؟

ددې نه علاوه له بل طرفه هم دا فرق واضحه دې چې د بائع او د مشتری په خپل مینځ کښې د معاملې د کیدلو نه پس بیا دغه معامله ختمه شی، بائع چې د مشتری نه کومه لږ یا ډیره نفع اخستل غوښتل هغه ئې یو ځل واخستله. لیکن سود خور خو د نیتې نفع اخلی او مسلسل ئې

اخلی، برابره خبره ده که قرض داری د دهٔ د مال نه فائده اخلی او که نه اخلی؟
مثلا یو سړی سودی قرض واخستلو او په خپل وختی ضرورت کښې ئې ولګولو او یا د هغه نه دا د سود قرض پټ کړې شو یعنی غلا تری نه وشوه. اوس د دې سود دقرض چې کوم پیسې دی د دې په واپس کولو باندې قدرت نه لری، نو اوس دې د دغه سود خور دائن له اړخه د هیڅ قسمه رعایت او دتخفیف مستحق نهٔ دې. بلکه دا پیری به اوس دهٔ پورې ورځ ته ورخه نور هم نبلی. تردې چې دې خپله تړوله دارایی. کور او سامان او د تن جامې تول راوباسی او خرڅ ئې کړی او قرض ورته سره د سوده ورکړی، په تجارت او کاروبار کښې د لرې لرې پورې د داسې بې رحمئ څه امکان نشته.

۲- ﴿ يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَوٰا وَيُرْبِي الصَّدَقَٰتِ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴿٢٧٦﴾ ﴾ (۲ : ۲۷۶)

ترجمه الله تعالی سود لره ختموی او صدقو لره زیاتوی. او الله تعالی نه خوښوی څوک کفر کوونکې، څوک ګناه کوونکې.
د سود مال چې هر څومره زیات شی آخری انجام ئې دا وی چې الله تعالی یې نیست او نابود کړی داسې مال نهٔ په دنیا کښې خوریږی او نه په آخرت کښې څه فائده لری.

عن ابن مسعود رضی الله عنه ان النبی ﷺ قال: الربا وان کثر فان عاقبته تصیر الی قل (مسند احمد ص۳۷ ج۱، ابن ماجه ص۱۶۵ حاکم ص۳۷ ج۲)

قال الحاکم رحمه الله: هذا حدیث صحیح الاسناد ولم یخرجاه واقره الذهبی رحمه الله.

ترجمه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو: د سود مال اګرچه زیات شی لیکن دهغې انجام (همیشه بې برکتی او) کمئ اړخ ته روان وی.
د دې خبیث مال د کثرت نه قلت اړخ ته راتلل څه نظریاتی مسئله نهٔ ده بلکه د غړیدلو سترګو مشاهده ده چې د سود خور مال زیات شی او ډیر زیات شی تر دې چې د ډیرو کتونکو ورته د خولې نه لاړې بهیږی. **فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ.**
لیکن چې څنګه پرې څه مصیبت راشی نو سمدستی د کروړونو نه راوخوږی او لکونو ته راشی او بیا د لکونو نه زرګونو او سوونو ته راشی. آخر دا چې د تکې تکې حاجت مند شی او دا چغه وهی چه

دیکھو مجھے جو دیدۂ عبرت ہو

(یعنی څوک چې عبرت اخستل غواړئ نو ما ته اوګورئ)
دا هم یو داسې حقیقت دې چې انکار ترې نه نشی کیدلې چې د داسې مال لګول څه په جائز او

معقولي مصرف کښې نه وی، په عامه توګه دا د غلو اوډاکوانو خيتو ته لاړ شی، يا د پوليس د پاره غوړه نوړئ جوړه شی، او يا پرې ناګهانی آفتونه او حادثې او مصيبتونه راشی، ورسره دا چې د اليکشن (چې خلور پينځه مليونه روپئ خرج کيدل خو په هغې کښې معمولی خبره ده) پيرې هم د داسې خلقو په سر سپور وی، او چا ته پته نه لګی چې چکلو (زناخانو) د قمار مرکزونه، شراب خانې د همداسې خلقو د دم قدم له برکته آبادې دی، غرض دا چې حرام مال د دې خبر مصداق شی

چې (مال حرام بود بجائے حرام رفت) او د خپل ځان د خرج کيدلو د پاره لارې په خپله ولټوی.

که چيرې شاذ او نادر د سود مال چا سره محفوظ پاتې هم شی نو د سود خور په طبيعت کښې سنګ دلی، د زړه تنګ والې، بزدلی، او د ليونتوب د حده پورې حرص او هوس او د ذليل توب او رذيل توب ډير زيات وی او د دۀ نه د دې اظهار هم وخت په وخت کيږی.

دا د دۀ د دنيا انجام وو، په آخرت کښې د سود د مال بې فائدې کيدل بالکل ښکاره خبره ده، داسې مال د ګټونکی د پاره د غاړې کړئ او د سر د پاره مصيبت دې، د دې مال نه کړې شوې صدقه او خيرات، حج او جهاد، او صله رحمی ټول تباه او برباد دی.

عن ابی هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ: ايها الناس ان الله طيب لا يقبل الا طيبا۔ الحديث (صحيح مسلم ص۳ ج۱)

ترجمه: رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو: اې خلقو! واورئ چې د الله تعالی ذات پاک ذات دې او د هغه په دربار کښې صرف پاک مال قبليږی.

د سود په عکس د صدقې مال الله تعالی په دنيا او آخرت کښې زياتوی.

عن ابی هريرة ﷺ ان النبی ﷺ قال: ما من يوم يصبح العباد فيه الا ملكان ينزلان فيقول احدهما اللهم اعط منفقا خلفا ويقول الاخر اللهم اعط ممسكا تلفا (صحيح بخاری ص۳ ج، صحيح مسلم ص۳ ج۱)

ترجمه: رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو: هرصبا دوه فرښتې له آسمان نه راکوزيږی يوه وائی چې يا الله خرج کوونکی ته بدله ورکړې.

او دويمه وائی: يا الله مال له ځان سره ايسارونکې ته بربادی ورکړې.

عن ابی هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ: من تصدق بعدل تمرة من كسب طيب ولا يقبل الله الا الطيب فان الله يتقبلها بيمينه ثم يربيها لصاحبه كما يربی احدكم فلوه حتی تكون مثل الجبل (صحيح بخاری ص۳ ج، صحيح مسلم ص۳ ج۱)

ترجمه: رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چا چې د پاکې ګټې نه د کهجورې د دانې په مقدار صدقه وکړه، او الله تعالی هم پاکيزه مال قبلوی، نو الله تعالی هغه په ښی لاس کښې اخلی او قبلوی

نې. بیا د صدقې ورکوونکی د پاره دا زیاتوی لکه څنګه چې په تاسو کښې یو سړې خپل بچیان پالي او غټوی نې تر دې چې هغه صدقه زیاته شي او د غر په اندازه شي

څنګه چې د حرام مال د تباه کیدلو یوځه اندازه تفصیل بیان کړې شو.دغه شان په پاک مال کښې د الله تعالی له اړخه برکت او زیاتوالې کول هم یوه مشاهده او حقیقت دې، یو خو داسې مال په څه غلط ځای کښې نه ضائع کیږی . بل دا چې عام خلقه د څه مقصد دپاره ډیر مال او دولت او محنت خرچ کوی،د صالح او د دین داره سړی هغه مقصد د لګو روپو په خرچ کولو په کور کښې په ناسته الله پاک پوره کړی.

د عبرت سبق

د زکوة او صدقاتو د ورکولو په برکت سره د مال زیاتیدل او د زکوة او صدقاتو د حصارولو د سپیره والی نه د مال کمیدل یو داسې واضحه او روښانه حقیقت دې، چې د یو منصف طبیعت لرونکی کافر هم دومره وس نشته چې د دې نه انکار وکړی، خو افسوس دې چې د رنګ او روغن د تیارې د نن مسلمان د نظر نه دا روښانه او واضحه حقیت پټ ساتلې دې.په دې مسلمانه معاشره کښې څومره مسلمانان دی چې فرض زکوة نه ورکوی،هغوی ته دخپل مال څلويښتمه حصه په زکوة کښې ورکول ګران دی. لیکن بل اړخ ته ئې دا خوښه ده چې په مرضونو.آفتونو.حادثو او په ناجائزه مصرفونو کښې دې د دې نه په لس چنده زیات مال مصرف شي.

د مصرع ترجمه : ستا د عاشقانو خوئ مې په پوهه کښې نۀ راځی.

لاندې د اسلام د یو دښمن «انګریز» واقعه بیانولې شی کیدې شی چې د چا غافله مسلمان د پاره د عبرت ذریعه وګرځی:

حضرت اقدس مولانا محمد زکریا صاحب کاندهلوی قدس سره فرمائی:

ما په ماشومتوب کښې د خپل پلار محترم نه او د نورو ډیرو کسانو نه دا واقعه اوریدلې ده چې په سهارنپور ضلع کښې د بهټ کلی نه وړاندې د انګریزانو څه بنګلې وې.د هغه ځای په خوا کښې چې په کوم ځائې کښې د اعلی حضرت رائې پوری نور الله مرقده انتقال شوې وو.او دې سره خواو شا ډیر بنګلې وې چې کاروباری وې چې د دغه انګریزانو کاروبارونه به په کښې کیدل او د دوی مسلمانانو نوکرانو به په کښې کار کولو.او دغه انګریزان به په دهلی.کلکته وغیره غوندې غټو غټو ښارونو کښې پاتې کیدل.کله کله به په خپل کاروبار باندې د نظر اچولو په ارادې سره دې خوا ته راغلل.یو ځل په دغه ځنګل کښې اور ولګیدلو.کوم چې به په مختلفو وجوهاتو سره کله کله دغلته لګیدلو.او د دغه ځای باغونه او ځنګلونه به ئې سوزول. یو ځل په دغه ځنګل کښې اور ولګیدلو او نزدې نزدې ټولې بنګلې ئې وسوزولې. یو نوکر خپل مالک ته د خبر ورکولو د پاره دهلې ته منډه کړه.او ورته ئې اوویل چې حضرت ټولې بنګلې وسوزیدلې.او سناسو بنګله

هم وسوزیدله.هغه انګریز د څه په لیکلو کښې مصروف وو. ډیر په آرام سره ئې لیکل کول.او د دۀ
ارخ ته ئې څه توجه ونه کړه.نوکر دوباره په تیز آواز سره اوونیل.چې حضرت هر څه وسوزیدل.هغه
په دویم ځل هم څه جواب ورنۀ کړو.او په بې پروائې سره ئې ورته اوونیل چې زما بنګله نۀ ده
سوزیدلې.او په بې فکرئ سره ئې لیکل کول.نوکر چې ورته په دریم ځل اوونیل.نو انګریز ورته په
جواب کښې اوونیل،چې زۀ د مسلمانانو په طریقه زکوة ادا کوم.د دې وجې نه زما مال ته څه
نقصان نۀ شی رسیدلې،دغه نوکر خو د دې وجې نه په منډه منډه راغلې وو چې بیا زما نه څه تپوس
اوپوښتنه ونۀ شی.چې بیا به دوی وائی چې مونږ ته دې څه خبر رانۀ کړو.هغۀ چې د انګریز دا د
لاپروایئ جواب واوریدلو نو واپس راغئ نو ګوری چې په رښتیا ټولې بنګلې سوزیدلې وې لیکن
د انګریز بنګله باقی پاتې وه.

فائده : د الله تعالی شان ته وګورئ چې د اسلام په یو حکم باندې یو غیرمسلم عمل کوی او
فائده ترې اوچتوی،او مونږ خلق دې د زکوة په نۀ ادا کولو باندې خپلو مالونو ته نقصان رسوو.
هغۀ نقصان داسې چې کله ډاکه پرې وشی، چرته غلا شی،او کله کله څه بل څه آفت پرې راشی.
(آپ بیتی ص ۸۸،ج ۲)

۴،۳ - ﴿ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ۖ وَإِن تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾ ﴾ (۲ : ۲۷۹)

ترجمه:- اې مؤمنانو: د الله تعالی نه اوویریږئ،او کوم څه چې د سود نه باقی پاتې دی هغه
پریږدئ، که چیرې تاسو مومنان یئ، بیا که چیرې تاسو داسې ونه کړل نو اعلان واورئ د جنګ د
الله له اړخه او د هغۀ د رسول له اړخه،او که چیرې تاسو توبه اوویستله.نو تاسو ته به ستاسو اصل
مال درکړې شی. نه به تاسو په چا باندې ظلم کوئ او نۀ به په تاسو باندې څوک ظلم کوی

حضراتو مفسرینو ﷺ ددې دواړو آیتونو شان نزول دارنګه لیکلې دې:

د ثقیف د خاندان د عمرو بن عمیر دمخزومی خاندان بنو مغیره په ذمه باندې سودی قرض
راروان وو هغوی چې د ربا د حرمت نه پس کله له قرض سره د سود مطالبه وکړله نو بنو مغیره ورله
جواب ورکړوچې اوس دمسلمانیدلو نه وروستو به مونږ د خپل اسلام د زمانې په ګټه کښې سود
نه ورکوو. د دواړو خاندانونو معامله د مکې مکرمې د والی حضرت عتاب بن اسید ﷺ محکمې
ته راغله. نو هغوی دا معامله ولیکله او د رسول الله ﷺ دربار ته یې ولیږله. په دې باندې دا آیتونه
نازل شول. رسول الله ﷺ دا ولیکل او حضرت عتاب بن اسید ﷺ ته ئې ولیږل.د قرآن مجید سخت
خبرداری چې بنو ثقیف واوریدلو نو هغوی اوونیل. مونږ دالله تعالی په دربار کښې توبه
اوباسو.اوباقی سود پریږدو.لهذا د هغې نه ئې څه سود وانخستلو (ابن کثیر ص ۳۳۰،ج ۱وغیره)

یو خو د سود په نه پرېښودلو باندې د مسلمانانو د ولې نه د وتلو وعید

ولاروا مابقی من الربوا ان کنتم مؤمنین

دا هم داسې ده لکه په یو بل ځای کښې چې فرمائیلې شوې دی

واطیعوا الله ورسوله ان کنتم مؤمنین (۸: ۱)

فالله احق ان تخشوه ان کنتم مؤمنین (۹: ۱۳)

ددې وعید خلاصه داده چې که تاسو مؤمنان یئ نو د ایمان داریٔ تقاضه پوره کړئ.او د دې جرم نه منع شئ.اوکه نه نو ستاسو د ایمان دعوې ته بیا هیڅ اعتبار نشته

او دویم وعید هغه د سود نه پرېښودلو په صورت کښې د الله او د الله رسول ﷺ سره د جنګ اعلان دې.دا د سود خورو د پاره د ټولو نه لویٔ او آخری خبرداری دې.چې د دې جرم نه منع شئ اوکه نه نو د الله او د الله د رسول ﷺ له اړخه د جنګ اعلان واورئ.

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه:

د قیامت په ورځ به سود خور ته اووئیلې شي.وسله اوچته کړه او جنګ د پاره تیار شه. بیا ئې دا آیت تلاوت اوفرمائیلو: فان لم تفعلوا.(ابن کثیر ص ۳۳۰، ج ۱ وغیره)

او له همدوی نه منقول دی: کوم سړې چې د سود خوریٔ نه لاس نه اخلی نو په مسلمان حاکم باندې لازم دی چې اول خو دې ورته د توبې تلقین وکړی،که منع شو نو ښه خبره ده او که منع نه شو نو سر دې ورله د تنه جدا کړی. (پورتنئ حواله)

په سود خوریٔ باندې د الله تعالی غضب او عذاب دومره سخت دې چې په قرآن شریف کښې د شرک نه پس د سود نه علاوه د لوئې نه لوئې ګناه باندې د جنګ اعلان نهٔ دې کړې شوې.

که د چا سود خور په زړه کښې د زرې برابر هم د آخرت فکر وی نو د هغه د راوېښولو دپاره دا وعید کافی دې. په احادیثو مبارکو کښې د کبائرو ډیر اوږد فهرست موندلې شی. لیکن په هیڅ یوې کبیره ګناه باندې هم ددې نه سخت وعید نه دې اورولې شوې.سود یواځې شرعی لحاظ سره نه بلکه معاشی.تهذیبی.اخلاقی او انسانی لحاظ سره هم یو بدترین.سنګینه او هلاکوونکې جرم دې. سود خور په حقیقت کښې یو آدم خور شرمښ (لیوه) دې. بلکه د شرمښ نه هم وراخوا خطرناک دې څکه چې شرمښ په بل شرمښ باندې ډیره کمه حمله کوی. لیکن د انسان په جامه کښې دا شرمښ هم د خپل نسل د خلقو وینې سکی اوهغه ځان ته راکاږی او پړې غټیږی.امام ابو عبدالله قرطبی رحمه الله د (فان لم تفعلوا فاذنوا بحرب من الله ورسوله) لاندې نقل کړی دی چې یو سړې د امام مالک رحمه الله خدمت کښې حاضر شو.او عرض ئې اوکړو چه (ما د شرابو عادتی یو شخص لیدلې ...) یو داسې سړې ولیدلو چې د سپوږمۍ د نیولو کوشش ئې کولو.په دې باندې ما اوویل که ...

انسان په ځیته کښې د شرابو نه هم بد یو ځیز داخلیدونکې وی نو په ما دې ښځه طلاقه وی؛
انس بن مالک ﷺ ورته اوفرمائیل : ته اوس واپس لاړ شه چې زه ستا په مسئله کښې غور او فکر اوکړم
هغه په دویمه ورځ راغې نو دوئ ورته اوفرمائیل : ته اوس واپس لاړ شه چې زهٔ ستا په مسئله کښې غور او فکر اوکړم
هغه په دریمه ورځ بیا راغئ نو دوئ ﷺ ورته اوفرمائیل ستا ښځه په تا طلاقه شوه. ځکه چې ما په کتاب الله او په سنت رسول الله ﷺ کښې ډیر زیات غور او فکر وکړو لیکن د سود نه زیات خراب او بد ځیز مې په نظر رانغلو ،ځکه چې په دې باندې د الله تعالی له اړخه د جنګ اعلان دې

(الجامع الاحکام القرآن ص۳ ج۲)

۵،٦:- ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُواْ ٱلرِّبَوٰٓاْ أَضۡعَٰفٗا مُّضَٰعَفَةٗۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿١٣٠﴾ وَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِيٓ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٣١﴾ ﴾ (۳ : ۱۳۱)

ترجمه اې مؤمنانو! سود مهٔ خورئ څو چنده زیات.او د الله تعالی نه اوویریږئ.کیدې شی چې تاسو کامیاب شئ.او د هغه اور نه ځان وساتئ کوم چې د کافرانو د پاره تیار کړې شوې دې.

په ړومبی آیت کښې د تقوی تلقین وکړې شو.چې د الله تعالی نه وه ویریږئ او د سود خورئ نه منع شئ. په زمانې د جاهلیت کښې عام رواج وو چې مهاجنو به یوه خاص نیټه مقرر کوله او په سود باندې به ئې قرض ورکولو.د نیټې د تیریدو نه پس به چې کله د قرض داری د قرض د ورکولو طاقت نهٔ وو. نودوی به ورته د سود مقدار زیات کړو او د آینده د پاره به ئې ورله نوره نیټهٔ ورکړله چې د دویمې نیټې په راتلو باندې به ئې هم قرض ادا نه کړې شو. نو سود به ئې ورته نور هم زیات کړو.دغه شان د وخت په تیریدلو سره به دا سود په دوچند کیدلو دوچنده کیدلو سره زیاتیدلو. په پورتنی آیت کښې مسلمانان ویرولې شوې دی چې د دې انسان دښمن کار نه لرې اوسیږئ.

د (اضعافا مضاعفا) مطلب دا نهٔ دې چې سود صرف په دې صورت کښې حرام دې چې هغه دوچند په دوچنده وی.دا قید په حقیقت کښې قیدِ احترازی نهٔ دې بلکه قیدِ واقعی دې.یعنی په زمانې د جاهلیت کښې چې د سود کومه غیرانسانی طریقه راروانه وه.د هغې بد والې بیان کړې شوې دې. اوکه نه نو د سود د ټولو صورتونو حرام کیدل خو د پورته آیت نه واضحه شوی دی

ورسره دا چې کوم سرې د سود خورئ په لعنتی عادت باندې اخته شی نو آخری انجام به ئې دا وی چې د جاهلیت د زمانې په دې مرض کښې به مبتلا کیږی. یعنی د سودلړ شان مال به دوباره په سود باندې ورکوی.بیا دغه سود په سود باندې ورکوی.نو چې زیاتیږی زیاتیږی آخر به اضعف

مضعافا ته ورسیږي.
بلکه د سود خور اصل سرمایه چې کله محفوظه پرته ده. او هغه نیته په نیته سود اخلي. نو د څه وخت په تیریدلو باندې به دا سود د اصل سرمایې او مال نه زیات شي. او نور به هم زیاتیږي. دغه شان هر سودي مال نه اضعافا مضاعفا جوړیږي، مطلب دا چې د سود یوه روپۍ هم د زړه مرض دې
په دې مقام باندې هم د ړومبی آیت په شان د جهنم وعید واوروليې شو اوبله دا چې دا اور په حقیقت کښې د کافرانو د پاره تیار کړې شوې دې. ګویا د سود خور ځائ د کافرانو سره ښودلې شوې دې
امام قرطبي رحمه الله په دې مقام باندې یوه ډیره په زړه پورې خبره فرمائیلې ده. فرمائي چې
د دې وعید اصل مصداق هغه کافران دی چې ربا حلاله ګڼي او اخلي یې. لیکن ځینې مفسرینو دا تفسیر فرمائیلې دې چې د دې بدترینې ګناه نه ځان وساتئ د کوم انجام او انتهاء دا ده چې ایمان به درنه سلب شي، او تاسو نه به د همیشه همیشه د پاره د جهنم خاشاک جوړ کړې شي. ډیر کبائر داسې دی چې د هغې د سپیرۀ والي د لاسه انسان نه د مرګ په وخت کښې ایمان سلب شي، چې په کښې د والدینو نافرماني. رشته دارانو سره تعلق پریښودل. سود خوری. په امانت کښې خیانت کول. او د الله تعالی په بندګانو باندې ظلم کول د ذکر کولو قابلې دی.

(الجامع الاحکام القرآن ص ۲۰۲ ج ۴)

دا شپږ آیتونه د ربا په حرمت باندې نصوص قطعیه دی، د دې نه علاوه نور هم ډیر آیتونه د ربا په حرمت باندې صراحتاً او اشارةً دلالت کوی لکه:

﴿ وَلَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ ﴾ (۲: ۱۸۸)

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ ﴾ (۴: ۲۹)

﴿ وَأَخْذِهِمُ ٱلرِّبَوٰا۟ وَقَدْ نُهُوا۟ عَنْهُ ﴾ (۴: ۱۶۱)

﴿ سَمَّٰعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّٰلُونَ لِلسُّحْتِ ﴾ (۵: ۴۲)

﴿ وَمَآ ءَاتَيْتُم مِّن رِّبًا لِّيَرْبُوَا۟ فِىٓ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ فَلَا يَرْبُوا۟ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ (۳۰: ۳۹)

مونږ د اختصار د خیال ساتلو له کبله د دې په تشریح کښې د راندې تللو په ځائ اوس یوڅو احادیث تاسو ته پیش کوو:

احادیث:

عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال: اجتنبوا السبع الموبقات قالوا یارسول الله وما هن؟

قال الشرک بالله والسحر وقتل النفس التی حرم الله الا بالحق واکل الربوا واکل مال الیتیم والتولی یوم الزحف وقذف المحصنات المؤمنات الغافلات (صحیح بخاری ص ۳۰۰ ج ۱،صحیح مسلم ص ۲۰ ج ۱) واللفظ للبخاری

رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو: د اووه هلاکوونکو ګناهونو نه ځان وساتئ.

صحابهٔ کرامو ﷺ عرض وکړو ۱ یارسول الله ﷺ هغه کوم کوم دی؟

رسول الله ﷺ ورته ارشاد اوفرمائیلو: د الله تعالی په ذات یا په صفاتو کښې د هغهٔ سره څوک شریک ګرځول،جادو کول،او د هغه نفس ناحقه قتلول چې الله تعالی د هغه قتلول حرام ګرځولې دی.او که چرې په روا طریقه (په حکم د شریعت) سره وی نو خیر دې، سود خوړل.د یتیم مال خوړل. د الله تعالی دښمنانو سره په سخت جنګ کښې په شا تیښته کول.او په پاک دامنه بې خبره مومنو ښځو باندې تور اوبهتان تړل.

۲- عن سمرة بن جندب ﷺ قال قال النبی ﷺ رایت اللیلة رجلین اتیانی فاخرجانی الی ارض المقدسة فانطلقنا حتی اتینا علی نهر من دم فیه رجل قائم وعلی وسط النهر وفی روایة علی شط النهر رجل بین یدیه حجارة فاقبل الرجل الذی فی النهر فاذا اراد الرجل ان یخرج رمی الرجل بحجر فی فیه فرده حیث کان فجعل کلما جاء لیخرج رمی فی فیه بحجر فیرجع کما کان فقلت من هذا فقال الذی رایته فی النهر اکل الربوا (صحیح بخاری ص ۱۸۵،ص ۲۸۰،اوص ۱۰۴۳ ج ۲،وغیرها من مواضع عدیدة)

ترجمه:- رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو: د شپې ما په خوب کښې ولیدل چې دوه سړی ما ته راغلل،او زهٔ ئې دیوې پاکې زمکې اړخ ته بوتلم، مونږ روان وو تر دې چې د وینو یو نهر ته ورسیدلو چې یو سړې په کښې ولاړ وو او د نهر په غاړه یو بل سړې ولاړ وو چې مخې ته ئې کانړی پراتهٔ وو.کوم سړې چې په نهر کښې وو هغه تلل شروع کړل هر کله چې هغه غوښتل چې د نهر نه بهر شی. نو په غاړه چې کوم سړې ولاړ وو هغهٔ هغه په کانړی وه ویشتلو.او واپس یې خپل ځائې ته وه غورزولو. همدغه شان چې هغه به کله هم د راوتلو کوشش کولو دهٔ به هغه په مخ باندې اوویشتلو او خپل ورومبی ځائې ته به ئې واپس کړو.ما تپوس وکړو چې دا څوک دې؟ نو هغهٔ اوونیل چې په نهر کښې دننه سړې (چې سنګ باری پرې کیږی) هغه سود خور دې.

۳ - عن جابر ﷺ قال لعن رسول الله ﷺ اکل الربا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (صحیح مسلم ص ۲۷ ج ۲)

ترجمه: رسول الله ﷺ سود په خپله خوړونکی. سود په بل باندې خوړونکی.د سود د لیک په

ئیکونکی. او په سود باندې گواه جوړوېدونکو باندې لعنت وئیلې دې او فرمائیلې ئې دی چې دا ټول په گناه کښې برابر شریک دی.

۴۔ عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: اربع حق علی الله ان لا یدخلهم الجنة ولا یذیقهم نعیمها مدمن الخمر واکل الربا واکل مال الیتیم بغیر حق والعاق لوالدیه (المستدرک ص ج)

قال الحاکم رحمه الله: هذا حدیث صحیح الاسناد ولم یخرجاه وقد اتفقا علی عصمهم وقال الذهبی رحمه الله قلت ابراهیم قال النسائی متروك

ترجمه۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو د څلورو سړو په حقله الله تعالی دا په خپله ذمه اخستې ده چې هغوی به جنت ته داخل نهٔ کړی. او نه به ورته د جنت نعمتونه ورڅکی. د شراب عادتی سړی. سود خور. د یتیم دمال په ناحقه خوړونکې. د مور پلار نافرمانه

۵۔ عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: الربا ثلاثة وسبعون بابا ایسرها مثل ان ینکح الرجل امه وان اربی الربا عرض الرجل المسلم (المستدرک ص ج) قال الحاکم رحمه الله هذا حدیث صحیح علی شرط الشیخین ولم یخرجاه واقره الذهبی رحمه الله.

ترجمه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو په سود کښې درې اویا گناهونه دی چې د ټولو نه سپکه گناه په کښې داسې ده لکه چې یو سړې خپلې مور سره بدکاری وکړی. او بد ترین سود د یو مسلمان بې عزته کول دی

۶۔ عن عطاء الخراسانی ان عبدالله بن سلام رضی الله عنه قال: الربا اثنان وسبعون حوبا اصغرها حوبا کمن اتی امه فی الاسلام ودرهم من الربا اشد من بضع وثلاثین زنیة قال ویاذن الله بالقیام للبر والفاجر یوم القیامة الا لاکل الربا فانه لا یقوم الا کما یقوم الذی یتخبطه الشیطان من المس (مصنف عبدالرزاق ص ج شعب الایمان للبیهقی ص ج الدر المنثور ص ج) قال الهیثمی رحمه الله: وعطاء الخراسانی لم یسمع من ابن سلام (مجمع الزوائد ص ج)

ترجمه حضرت عبدالله بن سلام رضی الله عنه اوفرمائیل په سود کښې دوه اویا گناهونه دی چې په کښې ادنی گناه دا ده چې یو سړې په حالت د اسلام کښې خپلې مور سره بدکاری وکړی. او د سود یو درهم د دری دیرشو ځلو زنا کولو نه زیات بد دی. ورسره ورسره رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه وفرمائیل الله تعالی به د قیامت په ورځ هر نیک او بد ته د ښیغ اودریدلو حکم وفرمائی مگر د سود خوړ چې هغه به نه شی ودریدلې. مگر د هغه سړی په شان به ودریږی چې شیطان سړې ته لیونی خطی جوړ کړې وی

۷ - عن ابن عباس رضی الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ من اعان ظالما بباطل ليدحض بباطله حقا فقد برئ من ذمة الله عزوجل وذمة رسوله ﷺ ومن اكل درهما من ربا فهو مثل ثلاث وثلاثين زنية ومن نبت لحمه من سحت فالنار اولی به (المعجم الصغير للطبرانی ص ج، والاوسط، شعب الایمان للبیهقی ص ج، مجمع الزوائد ص ج). قال الهيثمی رحمه الله: فيه (ای فی اسناد الطبرانی) سعيد بن رحمة وهو ضعيف

ترجمه: رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو: چا چې په ناجائزه د يو ظالم مدد وكړو دې د پاره چې د چا حق وخوري، نو هغه د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ د ذمه وارئ نه اووتلو، يعنی دواړه د هغهٔ نه بری او ويزاره دی. او چا چې د سود يو درهم وه خوړلو، نو دا كار دری ديرش ځله د زنا كولو برابره دې. او د چا غوښه چې دحرام مال له كبله را وټوكيدله نو هغهٔ جهنم ته د ټلو زيات حقداره دې

۸ - عن عبدالله بن حنظلة غسيل الملائكة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ: درهم ربا يأكل الرجل وهو يعلم اشد من ستة وثلاثين زنية (مسند احمد ص ج، مجمع الزوائد ص ج). قال الهيثمی رحمه الله: رواه احمد والطبرانی فی الكبير والاوسط ورجال احمد رجال الصحيح.

ترجمه: رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو: څوک چې سړه د پوهې د سود يو درهم استعمال كړی نو دا د شپږ ديرش ځله زنا كولو نه بدتره دې.

۹ - عن عبدالله بن مسعود ﷺ عن النبی ﷺ قال: ما ظهر فی قوم الزنا والربا الا احلوا بانفسهم عقاب الله (مسند ابی يعلی ص ج، مجمع الزوائد ص ج) قال الهيثمی رحمه الله: رواه ابو يعلی واسناده جيد وقال المنذری رحمه الله: رواه الطبرانی فی الكبير باسناد جيد (الترغيب والترهيب ص ج)

ترجمه: رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو: په كوم قوم كښې چې د زنا او د سود ظهور وشو نو هغه قوم يقينا د الله تعالی عذاب په خپلو ځانونو راكوزاو را نازل كړو.

۱۰ - عن ابی هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ: ليلة اسری بی لما انتهينا الی السماء السابعة فنظرت فوقی قال عفان فوقی فاذا انا برعد وبرق وصواعق قال فاتيت علی قوم بطونهم كالبيوت فيها الحيات تری من خارج بطونهم قلت من هؤلاء ياجبريل؟ قال هؤلاء اكلة الربا الحديث (مسند احمد ص ج سنن ابن ماجه ص، مجمع الزوائد ص ج، تفسير ابن كثير ص ج) قال الهيثمی رحمه الله: وفيه علی بن زيد وفيه كلام والغالب عليه الضعف

ترجمه: رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو د معراج په شپه چې كله مونږ اووم آسمان ته ورسيدلو نو ما پورته طرفته نظر اوچت كړو او ومې كتل نو ناګهانه بريښنا، او او د تندر آواز مې محسوس

کړل. دوئ ﷺ اوفرمائیل په یو داسې قوم باندې زما تیریدل وشول چې د هغوی خیټې داسې دې لکه چې (غټې غټې) کورونه وی، چې ماران کښې وؤ (یعنی له مارانو څخه ډک وو)، چې د خیټو نه بهر (بښهٔ صفا) په نظر راتلل،ما پوښتنه وکړه چه اې جبرئیله ! دا کوم خلق دی؟ هغوئ جواب راکړو: چې دا سود خوارهٔ دی.

۱۱- قال ﷺ فی خطبة حجة الوداع: الا کل شیء من امر الجاهلیة تحت قدمی موضوع ودماء الجاهلیة موضوعة وان اول دم اضع من دمائنا دم ابن ربیعة بن الحارث کان مسترضعا فی بنی سعد فقتلته هذیل وربا الجاهلیة موضوعة و اول ربا اضع ربانا ربا عباس بن عبدالمطلب فانه موضوع کله الحدیث(صحیح مسلم ص ۳۹۷ ج ۱ مسند احمد ص ۷۳ ج ۵ وغیرهما)

ترجمه: رسول الله ﷺ د حجة الوداع په اوږده خطبه کښې ارشاد اوفرمائیلو: واورئ ! د جاهلیت د زمانې ټول رسمونه زما د خپو لاندې چیت کړې شو، او د زمانې د جاهلیت وینې (یعنی قصاص او دیت) ختمې کړې شوې، د ټولو نه رومبې قتل کوم چې زهٔ کوم، هغه د خپل خاندان نه د ربیعه بن حارث قتل دې چې د بنی سعد په قبیله کښې یو ښنونکی (رضیع) وو، او هغه هذیل قبیلې قتل کړې وو، او د جاهلیت د زمانې ټول سودونه هم (زما د خپو لاندې) چیت کړې شو، او د ټولو نه رومبې سود کوم چې زهٔ پریږدم هغه (زما د ترهٔ) د عباس بن عبدالمطلب سود دې چه هغه په مکمل طور پریښودې شو.

۱۲- و کتب رسول الله ﷺ لاهل نجران: بسم الله الرحمن الرحیم هذا ما کتب محمد النبی رسول الله لنجران(الی قوله) ولنجران وحاشیتها جوار الله وذمة محمد النبی علی انفسهم وملتهم وارضیهم واموالهم و غائبهم وشاهدهم وعشیرتهم وبیعهم وان لا یغیروا مما کانوا علیه ولا یغیر حق من حقوقهم ولا ملتهم (الی) ومن اکل ربا من ذی قبل فذمتی منه بریئة.

(دلائل النبوة للبیهقی ص ۳۸۹ ج ۵ زاد المعاد ص ۴۱ ج ۳)

ترجمه: رسول الله ﷺ د نجران خلقو د پاره دا خط ولیکلو: بسم الله الرحمن الرحیم . دا هغه عهد نامه ده کومه چې محمد رسول الله د نجران د خلقو دپاره (په بل باندې) ولیکله، (الی قوله) د نجران او د هغې د خواو شا علاقې د پاره د الله تعالی پناه او د محمد رسول الله له اړخه د حفاظت ذمه واری ده، د دوی د ځانونو د پاره، د دوی د مذهب د پاره، د دوی د زمکو او د مالونو او د دوی د غائب او حاضر د پاره او د دوی د قوم قبیلې د پاره او د دوی د عبادت خانو د پاره، او ددې خبر ذمه واری ده چې د دوی د دین او د مذهب او په حقوقو کښې به په یو څیز کښې هم بدلون نه شی راوستلې . او د چا ذمه چې واخستې شوه په دوی کښې چې کوم سړې سود خوری نو زهٔ (په

پورتنیو ټولو خبرو کښې، د هغهٔ د ذمې نه بری او بیزاره یم.

د اختصار د خیال ساتلو له کبله په همدې روایتونو باندې بس والې کولې شی،اوکه نه نو د احادیثو او د تفاسیرو په کتابونو کښې همدومره روایتونه د سود دمذمت او بدوالی نور هم موندلې شی.

معاشی (دژوند) نقصانونه

دا مناسبه ګڼو چې د وعیدونو نه پس د سود خورو روحانی.اخلاقی او معاشی تباهیانو باندې یو مختصر غوندې نظر واچولې شی.د سود ظاهری زیب او زینت چې کوم د کومو ړندو سترګې ړندې کړې دی.کیدې شی چې د دې سطرونو په کتلو سره د چا د بصیرت سترګې پرانستې شی،او هغهٔ ته دا په نظر راشی چې دا د ظاهری نقش او نګار مار دننه نه څومره خطرناک او زهریله دې.

۱- دا حقیقت په هر چا باندې واضحه دې چې د سود بنیاد په خود غرضئ،مفادپرستئ،او د زر په طلب باندې دې، په دې کښې دشمار یو څو سود خوارهٔ او د بانک خاوندان د ټولو انسانانو وینې سکی اوپړې غټیږی،دا دې مونږ ته څوک اووائی چې د یو نظام د مقصد انتهاء چه د ګوتو شمار د یو څو کسانو مفاد وی،او مفاد هم داسې چې د ټول ملت معاشی مرګ سره دغه مفاد تړلی وی، نو په داسې نظام کښې به د انسانیت فلاح او فائده له کومه ځایه راشی.

که چیرې د دې نظام سره د پیوسته خلقو په زړونو کښې د قربانئ او سخاوت،د شرافت او دانسانیت ماده ختمه شی او بالکل نابوده شی بلکه د دې نظام د لاندې چې کومه معاشره را پورته کیږی هغه ټوله معاشره د خودغرضئ،د دنیا طلبئ.او دآخرت نه د ویزارئ یو مثالی معاشره وی نو دا څه محل د تعجب نه دې او دا دتعجب خبره نهٔ ده:

نمی روید از تخم بد بار نیک

۲- د انسان د فطرت او دمعاش د اصولو تقاضا داده چې په کاروبار او په معاش کښې چې د هغه سره څومره کسان شریک دی هغوی دې د دهٔ سره په نفع او نقصان کښې هم برابر شریک وی.

چې ګټه کیږی نو د ټولو به وی او چې نقصان کیږی نو هغه به هم د ټولو په مینځ کښې شریک وی

لیکن د سودخورو قانون ددې فطری اصولو نه بالکل جدا او یو ځانګړې قانون دې.هغه دا چې دوی دا قرض ورکړی او بیا د ګټې اوتاوان د سوچ او فکر نه بې پروا په خپل کور پروت وی.اوس که په کاروبار کښې تاوان کیږی نو د دې ټول بوج د هغه عاملینو په سر راځی کوم چې په دې کاروبار کښې شپه او ورځ خپل جسم او ځان سترې کوی.او که چیرې ګټه کیږی نو په هغې کښې به اوله حصه ددغې سود خورو وی.

غرض دا چې که په کاروبار کښې گټه وی او که تاوان بلکه که اصل سرمایه په کښې هم غرقه شی او د قرض دارو غریبانانو ټول محنت او مشقت د خاورو سره خاورې شی خو دغه په سود باندې قرض ورکوونکوته د دې خبرې هیڅ فکر نشته .هغوی ته خو په هر صورت کښې د سود معینې او ټاکلې شوې پیسې په خپل کورکښې په ناسته تر لاسه کیږی.د دې نه به نور زیات څه شقاوت او قساوت وی۔

۳ ـ طمع او لالچ.او خود غرضی د سود خور په هر هر رگ کښې ننوتې وی ددې وجې نه هغوی سرمایه یو اخې هغه خلقو ته ورکول خوښوی دچا نه چې د زیات نه زیات سود د ترلاسه کیدلو امید وی. یو مسکین یو داسې سړی ته چې حالات ئې ډیر خراب وی هغهٔ ته قرض حسنه خو لرې خبره ده په کم سود باندې قرض ورکول هم د دوی زړه نهٔ غواړی،خدائ دې وکړی چې هغه د غریبئ د وجې نه په چوکه چوکه مړ شی لیکن دوی به ورله قرض ورنهٔ کړی۔

دغه شان د عامو خلقو د مصلحتو په کارونو کښې هم امداد یا قرض (اگر که په کم سود باندې هم وی) ورکولو د دوی د زرپرستئ د اصولو خلاف دی.د سخت ذهن په نتیجه کښې د سرمایې یوه لویه حصه په صحیح مصرفونو کښې د لگیدلو په ځائ په غیر اهم او غیر ضروری کارونو کښې ولگی.د کومې نه چې یو خوا ته دا نقصان کیږی چې معاشی توازن خراب شی او بل خوا ته دا چې د زیات نه زیات سود باندې د قرض اخستونکی حضرات دا لعنت په دې خبره مجبور کړی چې د روا او د ناروا د تمیز ساتلو نه بغیر په هره طریقې سره دا سرمایه استعمال کړی او د سود پیسې هم بچ کړی او ورسره نوره نفع هم حاصله کړی.که چیرې دا معامله په ملکی سطح باندې وی نو د سود خباثت.او شر بنهٔ په پوره توگه ښکاره شی او مخې ته راشی. یو مسکین او غریب ملک د سخت مالی مشکلاتو له کبله مجبوره شی او د بل ملک نه قرض واخلی.د دغه ملک مالی حالات د دې خبرې هم قابل نه وی چې هغه د اصل قرض قسط ادا کړې شی. لیکن د دې سره سره هغه لره هر کال درانهٔ درانهٔ سودونه هم ادا کول پکار وی۔

مرے کو مارے شاہ مدار

(شاه مدار راپاڅیږی او مړ سړې مړ کوی)

دغه ملک ته د دې لوئې مصیبت نه د وتلو څه لار نهٔ ښکاری بې د دې نه چې دغه ملک په خپلو عوامو باندې رنگ په رنگ ټیکسونه ولگوی.په گرانئ کښې دحد نه زیاته اضافه وشی.کرایه گانې زیاتې کړی.او هر یو چل په کار راولی او د خپلو عوامو دجیبونو نه دا کروړونو او اوملیاردونو پیسې وباسی

غرض دا چې سود یو داسې لعنت دې.چې د افرادو او د قومونو د معیشت غرقونکې دې او د

انسانی قدرونو د پاره د قاتل حیثیت لري.

۴ - بنکونو او مالی ادارو ته د مسکینې او غریبې بلکه د متوسط طبقې د سری رسیدل ممکن نهٔ دی، سرمایه دار مالداره او تاجران ترې نه قرض واخلی او کاروبارونه پرې چلوی.هغوی د خپل حیثیت نه لس چنده زیات قرض هم د دې پیسو په ذریعه په آسانه وګټلې شی لیکن د چا مسکین او د کمې سرمایې خاوند د پاره د قرض تولې لارې بندې کړې شوې دی.دې یو څو غټو غټو مهیانو د ټول قوم په معیشت باندې خپته اچولې وی.

د عام استعمال د څیزونو نرخ هم د دې خلقو په رحم او کرم باندې وی،کله چې د دوی زړه وغواړی نو د یو څیز نرخ پورته کړی آسمان ته ئې ورسوی او کله ئې چې خوښه شی نو رابنکته ئې کړی او تحت الثراء ته ئې ورسوی،او عوام غریبانان دې په کښې خواریږی او کړیږی. روزانه په مارکیټونو کښې د دې خبرې مشاهده کیدې شی، او په ملکی معیشت باندې چې د دې کوم اثر پریوځی د هغې بیان ته څه حاجت نشته دې.

۵ -هر کله چې مال دولت د هر اړخ نه راټول شی او یو څو لاسونو ته راشی نو دا مغروره خلق د خپل مال دولت په زور د غریبې طبقې په جسم او جان،عزت او ناموس،او په مال او سامان باندې قبضه وکړی، هغوئ خپل غلامان جوړ کړی او د دوی عزتونو سره لوبې کوی،د هغوئ چې کوم جمع کړې شوې مال وی هغه ټول ترې واخلی او بې عزت او بربنډ ئې کړی او پرې ئې ږدی او په دې کار کولو کښې هغوی هیڅ قسمه سستی نهٔ کوی،چې یو زمیندار، مزدور او یو سوداګر ته دا یقین وی چې زما د تولې ورځې د محنت او دمشقت میوه دا سود خور وکړی، او ما سره به سوا د افسوس او مایوسئ نه نور څه پاتې نهٔ شی، نو آیا په دې سوچ کولو کښې هغه په حقه نهٔ دې چې یا د خان ستړی کولو نه ما ته څه فائده شوه؟ که چیرې دا د نصیب سوې همت بائلی او کښینی.یا د ژوند نه تنګ راشی او خودکشی وکړی، یا د دې جملې (*تنګ آمد بجنګ آمد*) په مصداق سره ترې نه غل،ډاکې مار،اغواکار،جوړ شی نو دا څه نوې خبره نهٔ ده بلکه عین د قیاس مطابق ده.

اوس دې دا سوچ وکړې شی چې مسکینه او متوسطه طبقه کومه چې د معاشی نظام اصل بنیاد او قوام دې او دمعاشرې اکثری حصه ده،د دې طبقې چې کومه د عمل جذبه ده چې هغه ختمه شی یا کمه شی نو په هغې باندې به د قوم معیشت څومره متاثره کیږی؟ د لکونو خلقو غریبی،او بې روزګاری به ملکی صنعت، تجارت ،کرکرونده او نور کاروبارونه به کوم حده پورې کمزورې کړی؟ دا حقیقت د بیانولو حاجت مند نهٔ دې.

غرض د خبرې دا چې که په دې غیر فطری نظام کښې څه فائده وی نو بس د یو څو سود خورو فائده ده،دا نظام هم دغه کسان پالی او وراندې کوی یې.او باقی پاتې چې څومره عاملین د معاش

دی د هغوی د پاره دا نظام د مرګ پیغام دي،د هغوی معیشت او اقتصاد،عزت او ناموس، د هغوی د اخلاقو او د روحانیت غرض دا چې دا نظام د هغوی د هر څیز د پاره مرګ دي

۲ - په سودی کاروبار کښې د خلقو خپله سرمایه نه وی او که وی هم نو هغه هم د نشت برابر وی، هر کله چې په دې مال باندې څه آفت راشی او د سود خور ټوله سرمایه ډوبه شی. نو دهغهٔ حالات بیا هیڅیرې هم نه سمیږی، چې یو ځل وغورزیږی بس بیا په غورزیدو وی.نیتجه دا چې که د هغهٔ اصل سرمایه چه هرڅه وه نو د دهٔ خو یواځې هغه لاړه خو د بانک ورکړې شوې اصل قرضه ټوله ډوبه شوه.ګویا چې سود خور ته خو پورې نفع ترلاسه کیدله نو هغه خپل جیب ډکولو او چې کله ورته نقصان وشو نو د هغې تول په ټوله یا اکثره حصه د قوم په سر راپریوته .

(تلك اذا قسمة ضيزى)

دا د سود د نقصانونو او د تباهیانو یوه سرسری جائزه وه،د تفصیل دا موقع نهٔ ده،دا معاشی او اخلاقی نقصانات که په فکر کښې وساتلې شی او دقرآن او د حدیث د وعیدونو مطالعه وکړې شی نو دا خبره بیا څه د تعجب خبره نهٔ ده چې د ټولو ګناهونو په نسبت په دې یو ګناه باندې دومره سخت وعیدونه ولې واورولې شول؟

چې څوک عبرت اخستل غواړی نو ما ته دې وګوری

دا مضمون به هغې پورې نا مکمل وی څو پورې چې د سود خورو د هغې واقعاتو نه یوڅو واقعې دلته نقل نه کړې شی کومې چې د عبرت د اخستلو دپاره کافی دی او دا واقعې د الله تعالی د دې ارشاد : ((يمحق الله الربوا.........)) ښه ښکاره او واضحه دلیل او ثبوت دې.

لاندینۍ دواړه واقعې یو ښهٔ مضبوط راوی ما ته بیان کړې دی او دا دواړه واقعې د هغهٔ په وړاندې تیرې شوې دی.

۱ - د ...... ښار مشهور ترین زرګر د چا د ډیر دولت. مال او د وسیع شهرت له کبله چه په ټول ښار باندې دهغهٔ رعب وو.د هر ماشوم په ژبه باندې د هغه نوم وو.هغه د ښار هندوانو زرګرانو سره سودی کاروبار شروع کړو، نو ناګهانه د هغه مال او دولت او شهرت ته هم زنګ لګیدل شروع شو. د هغهٔ نارینه اولاد نهٔ وو صرف دوه لونه ئې وې، د دواړو ودونه ئې وکړل،مشر زوم ئې یو بې دینه، جوارګر او عیاش قسمه هلک وختلو، په جوارۍ،تاش،شرابونو او په ښځو باندې ئې د هغهٔ دولت الوځولو.آخر دا چې یوه ورځ د شرابو په نشه کښې مست د ریل د لاندې راغلو او ټکړې ټکړې شو. څه لږ ډیر مال ئې د بل زوم لاس ته ورغې. نواب صاحب چې کله بې لاسه اوبې څپو پاتې شو نو دواړه کورونه ئې خرڅ کړل او د ښار نه په سوونو میله لرې یو ځائ کښې ئې خپله ډیره جوړه کړه او په هماغه ځائ کښې ورته د افسوس او د ارمان په حالت کښې مرګ راغی. یو وخت

وو چې په تول ښار کښې به د هغهٔ د نوم خبرې کيدلې او بيا داسې وخت راغئ چې د هغه ځائ نه د هغه نوم او نښانې هم ختمې شوې.

۲- د همدې پيشې او کاروبار سره پيوسته يو بل مالداره سړې چې د کروړونو مالک وو .د کار به پرې دومره رش وو چې يو ځل زهٔ د څه کار په غرض سره د هغه دکان ته لاړم نو د خپې اېښودلو ځائ په کښې نه وو،کم نه کم دوه ويشت درې ويشت کاريګران ورسره ناست وو او په خپل کار کښې مصروف وو،او د اوږدې شپې د روڼولو نه پس د تولو ستړګې د خوب دلاسه سرې وې،هغه هم په سودى کاروبار باندې راواوړيدلو نو د دې کاروبار د سپيره والې د لاسه بيا د يوې يوې روپئ محتاجه شو، تول جانداد ئې د دې لعنت نه زار شو،د قرض دارو پرې دومره زور وو چې د هغوى د زور د لاسه ئې د شپيته ،پنځه شپيتهٔ لاکو روپو بنګله په ډير کم قيمت خرڅه کړه،دغه شان د لاکونو روپو زمکه او دکانونه ئې هم نيلام شول،هر کله چې په تول جانداد ادا هم د قرض نه خلاص نهٔ شو نو آخر دا چې تنګ شو او د ځان مرګئ اراده ئې وکړه، هر کله چې د څو څو خله کوشش باوجود د ځان مرګئ په دې مقصد کښې هم ناکامه شو نو آخر دا چې د قرض دارو د ويرې نه پټ شو،او هم د دې ويرې له کبله ئې د خپلو لونو په ودونو کښې هم شريک نه شو،اوس يې د بهر ملکونو څخه په يو ملک کښې سياسى پناه اخستې ده او د خپل ژوند باقى پاتې ورځې هلته پوره کوى، د دهٔ څه وخت په ښار کښې يو نوم وو او اوس.

پھرتے ہے میر خوار کوئی پوچھتا نھی

میر خوار ګرځی څوک ئې تپوس هم نهٔ کوی

۳ - زما يو دوست ما ته خپله د درد نه ډکه قصه واوروله:

فلانې سوداګر زمونږ علاقې ته راغئ او مال ئې واخستو، ما د خپل زور تعلق او د هغه د ديانت دارئ د شهرت له کبله د هغهٔ ضمانت وکړو،د قرض موده تيره شوه ليکن هغه رانغې،د لوئې انتظار نه پس چې کله زهٔ د هغهٔ کور ته چې په لاهور کښې وو لاړم نو راته معلومه شوه چې هغه ديواليه شوې دې.د دې وجې نه د قرض دارو نه پټ شوې دې او کراچئ ته تلې دې.او چرته محنت مزدورى کوى، زهٔ چې کله وريسې کراچئ ته لاړم نو ما نه ئې نور موده وغوښتلو،او ماله ئې لکه د ماشومانو دلاسې راکړې او را رخصت ئې کړم،آخر ما څه وخت انتظار وکړو او واپس کراچئ ته لاړم نو دا راته معلومه شوه چې لاهور ته تلې دې، زهٔ چې کله لاهور ته لاړم نو د هغه ځئ نه هم غائب شوې وو.

لنډه دا چې د قرض دارو څه يو لاک روپئ زما په غاړه راپريوتې. هغهٔ ما که خوښه مې وه او که نه وه د خپل طرف نه مې ادا کړې

دې وخت کښې هم چې دا خبره زهٔ لیکم زما هغه ملګرې هغهٔ پسې کراچئ ته تلې دې.

دا قصه چې ما واوریدله نو زما زړه راډک شو او پوهه مې کړو: د الله بنده په مالی معاملو کښې ډیر د سوچ نه کار اخستل پکار وی، تا ته دومره هم معلومه نده چې په دې زما نه کښې د چا ذمه واری او ضمانت اخستل داسې دی لکه چې په خپله خپلې خپې په تبر باندې څوک وهی ، دا خو یو کم عقل توب غوندې کار دې.

هغه اوویئیل: هغه سره زما د شلو کالو پیژندګلوی وه ، وړاندې به هم ما د هغهٔ ذمه واری اخستله، لیکن تر ننه پورې هغهٔ وعده خلافی نه وه کړې.

ما (یعنی کاتب) هم ددې کاروباری سړی شهرت اوریدلې وو.

دا خبرې چې ما واوریدلې نو زهٔ ډیر حیران شوم چې دومره موده پس ناګهانه په دهٔ باندې څه داسې آفت راپریوتلو ،آخر دا چې په یو دویم ملاقات کښې زما هغه ملګری ما ته اوویئیل: د هغه کور ته لاړم نو چې د حالاتو لټون مې وکړو نو راته معلومه شوه چې دغه ظالم دې خلـ په سود باندې پیسې راخستې وې او کاروبار ئې شروع کړې وو.

۴ - د تاج کمپنئ انجام خو ټولو ته معلوم دې.

د څناورتوب انتهاء

سود خور د مال او زر په مینه کښې دومره لیونې او کم عقل شی،چې هغه د چا انسان د عزت د ځان او د مال څه خیال نهٔ ساتی،که هغهٔ ته څه څیز عزیز او محبوب دې نو بس هغه د دهٔ د خپل غرض او مفاد دې خدائې دې کړی چې هغهٔ دې په هر قیمت وی حاصلوی یئ، د سود خور د څناورئ اندازه ددې لاندې واقعاتو نه لګولې شی:-

۱ - یو مسکین سړی د یو سودخور نه پنځه زره روپئ قرض واخستې، لیکن د غریبئ د وجې نه ئې هغه ادا نهٔ کړې شوې، سود خور یو خو دا کار وکړو چې په سود ئې سود خیژولو .او بل دا چې هغهٔ ئې د ښځې او د بچو سره خپل غلام جوړ کړو او بیګار به ئې ترې نه اخستلو . **بیک کرشمه دو کار**.

۲ - یو مسکین سړی د یو وختی ضرورت د پاره د یو سودخور نه څو روپئ قرض واخستې هغه به زیاتیدلو زیاتیدلو څو زرو ته ورسیدلې، هغه هم داسې کار وکړو چې دغه مسکین ئې د بال بچ سره ګیر کړو او بیګار به ئې ترې نه اخستلو. ټوله ورځ به ئې چې ترې نه بیګار واخستلو نو چې شپه به شوه نو سړیو ته به ئې ورله بیړئ «زولنې» واچولې،آخر دا چې د آزادئ صورت ئې دا راووتلو چې هغه سود خور دا سړې خپل یو قرض غوښتونکی باندې په پنځه زره روپئ خرڅ کړو.هغه دې د قرض په عوض کښې د هغه نه واخستلو او آزاد ئې کړو

۳ - یوسړی پنځه زره روپۍ قرض واخستي او بیا ئې خوارلس زره روپۍ ورکړې او خان ئې خلاص کړو.

دا درې واړه واقعات یو بزرګ عالم د دین ما ته بیان کړل او بیا ئې اوفرمائیل: د سود په لعنت تباه کیدونکی دا کسان تر اوسه پورې ژوندی دی. ما له ئې د هغوی نومونه او آدروسنه هم راکړی دی.

۴ - امام العصر حضرت مولانا محمد انور شاه صاحب کشمیری رحمه الله په ۱۹۳۷ ء کښې د جمعیت علماء هند د سالانه اجلاس چې په پیښور کښې منعقد شوې وو صدارت وکړو، او د هغې د پاره ئې یو زبردسته تاریخی خطبه ولیکله. د صدارت په دې خطبه کښې د اته ویشت عنواناتو د لاندې مسلمانانو ته د راپیښو مسئلو تذکره او د هرې مسئلې د شریعت مطابق یو بهترین حل وړاندې کړې شوې وو، د دې خطبې اهم اقتباسات د حضرت د عمر د حالاتو لیکونکی او دهغوی خوئ حضرت مولانا انظر شاه صاحب کشمیری د حضرت په سوانح حیات (نقش دوام) کښې وړاندې کړې دی، مولانا صاحب یو ځائ کښې لیکی :

صاحب د خطبې د دې مهلکو رسمونو د مخ نیوی نه پس دې سودی کاروبار ته خاصه توجه وکړه د کومې نه چې د مسلمانانو اقتصادی حالات تباه اوبرباد شول، لکه چې په پورتنیو کرښو کښې تیرشو، دا سودی قرضونه په عامه توګه د غم ښادئ، د پیدایش او د مرې د رسمونو د ادا کولو د پاره اخستې شی، او دغه شان د ټول عمر د پاره یو داسې مصیبت په سر واخستې شی چې د هغې د لرې کولو د پاره څوک هم نه وی، په اسلام کښې چې کوم یو څو ګناهونه د کبائرو نه شمار کړې شوې دی، او چې سزا ئې جهنم ته د داخلیدلو نه علاوه بله هیڅ نه ده، په دې کښې یوه ګناه سودی کاروبار هم دې.

بهر حال حضرت شاه صاحب د دې صورت حال د تباهئ ارخ ته د خلقو توجه راوګرځوله او ارشاد ئې اوفرمائیلو: د سود مثال د جزام د مرض په شان دې، چې مخ په پورته روان وی او کمیږی نه. د محمد ﷺ د شریعت د قواعدو مطابق سود یو لعنت دې، کوم چې د سود اخستونکی، ورکوونکی، په خپله خوړونکی، په بل باندې خوړونکی، په سود باندې د ګواه جوړیدونکی، او د سود په لیکونکی په ټولو باندې برابر تقسیمیږی، دا په دنیا کښې روحانی او اخلاقی جذام دې. او په آخرت کښې د جهنم موجب دې.

بلکه صاحب د خطبې رحمه الله د ځینی اسلامی ملکونو د تباهئ سبب دا ښودلې دې چې دغه اسلامی ملکونو به د عیسائی ملکونو نه ډیرې زیاتې زیاتې پیسې په سود اخستلې. او بیا دا سودی قرض د دې سبب هم وګرځی چې دغه ریاستونه بیا د دوی د لاسونو نه اوخی. (ص ۲۳۷)

مولانا صاحب بیا لیکی : لیکن افسوس چې د امت محمدی معاندې طبقې د خپل لوئ

پیغمبر د حکم خلاف کول په دې شعبه کښې هم پرې نښودل .د یو ملک نه (د مجاهدینو ، طبقه را اوچته شوه چې په سرونو باندې ئې خاص قسمه پګړئ ترلې وې.او په جسمونو باندې ئې د نقش او دنګار نه بنائسته کړې شوې واسکټونه اچولې وو.او د خو خو ګزو پرتوګونه ئې اچولې وو او په لاسونو کښې ئې خاص قسمه لښتې نیولې وې او هندوستان ته داخل شول.او دلته د سودی قرضونو په ورکولو کښې.او بیا په زور زیاتئ سره ددې قرضونو د اخستلو په جهاد کښې مصروفه شو .(ص ۲۳۷)

په حاشیه کښې لیکی: د مجاهدینو دا ډله د خپلو سودی قرضونو په اخستلو کښې څومره سخته وه؟ نو یو ښهٔ ثقه راوی ما عاجز ته دا قصه واوروله چې په سنبهل کښې چې په مراد آباد ضلع کښې واقع دې په دې کښې یو مقروض وفات شو.هر کله چې خلکو د مقروض مړې د جنازې د پاره واخستلو او قبرته یې وړلو نو مجاهد سره د خپلې کوړې رابنکاره شو او وې وئیل بلکه اوغرمبیدلو خلقو دا زمونږ مقروض دې مونږ به د دهٔ نه خپل قرض اخلو.

په جنازه کښې شریکو خلقو ورته زاری منتاوکړل چې دا غریب خو مړ شوې دې.دې معاف کړئ، لیکن سود خوړلو سره چې په زړهٔ کښې کوم سختوالې راپیدا شوې وو ، هغې چرته دخلقو خبرې آوریدلې ، دغه د مضبوطې حوصلې والا مجاهد د خلقو د اوږو نه دغه جنازه راکوزه کړه.او ونډه ئې په دواړو لاسونو کښې مضبوطه ونیوله او تر هغه وخته پورې ئې جنازه اوچتولو ته پرې نښوده تر څو چې ورله دغه مسلمانانو چنده و نه کړه او د دهٔ مطالبه ئې ونهٔ منله.اللهم احفظنا من هذه القساوة ونعوذ بالله من الشقاوة ومن التجاوز على الله ورسوله

په کومه زمانه کښې چې د سود د جواز او د عدم جواز بحث په زور او شور سره جاری وو .نو په دغه زمانه کښې حضرت شاه صاحب پنجاب ته په سفر تلې وو او په لاهور کښې ئې قیام وکړو .د لاهور لوئ لوئ علماء او عقیدت مند او عزت مند خلق د دوی قیام ګاه ته راجمع شول.چې په کښې مولانا ظفر علی خان صاحب د (زمیندار) د ورځ پاڼې مالک هم وو . مولانا ظفر علی خان هم د هغه ډلې سره تعلق لرلو چې کومې ډلې سود خوړل د مسلمانانو د پاره فائده منده ګڼل. چې د شاه صاحب نه د سود جواز ترلاسه کړی. د شاه صاحب نه ئې تپوس وکړو .نو حضرت شاه صاحب یو نیم یا دوه ساعته د سود په حرمت.هلاکت.او د دې په تباهیانو باندې ښهٔ بنائسته بحث وکړو .کوم چې د ظفر علی خان د مقصد بالکل خلاف یو بحث ثابت شو. ظفر علی خان هم ډیره دنیا کتلې وه او ډیر هوښیار وو. اسلوب ئې بدل کړل او بیا ئې سوال وکړو نو شاه صاحب ورته په خپل مخصوص انداز کښې اوفرمائیل ورو ره ' مونږ مسئله ښهٔ ښکاره کړه.اوس چې د چا خوښه وی جهنم ته دې لاړ شی لیکن زمونږ د ښتونو نه دې د پل کار نه اخلی

دا مختصره جمله د سود په مفاسدو باندې ښهٔ مشتمله ده، چې سلسله ئې د دنیا نه روانه شوې ده او جهنم ته رسیدلې ده.

علامه رشید رضا په (المنار) کښې د خپل وطن د مصر یو عبرت ناکه واقعه لیکلې ده کومه چې دوی په خپله لیدلې ده او دوی ئې چشم دید ګواه دی:

یو زاهد انسان وو او مالداره وو په خپل مال سره به ئې د غریبانانو ښهٔ امداد کولو، که چا به ترې قرض واخستلو نو ښه په آسانه به ئې قرض ورکولو، چې هیڅ قسمه لیکل به ئې نه وو، مقروض به ورته په خپله اووئیل چې د اطمینان د پاره څه ولیکئ، په دې باندې به د هغوی جواب دا وو چې:

ورورهٔ! که واپس دې راوړلې نو دا به ستا احسان وی او که واپس دې را نه وړې نو الله تعالی ښه بدله ورکوونکې دې، زهٔ په هر حال کښې په نفع کښې یم، بیا څه دپاره خط ولیکم او خپل اجر او ثواب پرې کم کړم؟

د دې سړی حالت او مزاج بدل شو او بیا همدا صاحب وو چې د بدقسمتئ نه به ئې سود اخستلو، او بیا هغه وخت هم راغئ چې خپل خوئ له ئې قرض ورکړو نو هغه له ئې هم په سود ورکړو.

زمونږ په دې هندوستان کښې چې سودی کاروبار په لکونو خلق څنګه تباه کړل دهغې یو مختصر غوندې تفصیل دا دې چې د یوپی مشهور ښار (ګور کهپور) کښې یو صاحب د یو سود خور نه په سود باندې لس زره روپئ واخستې، په څلور کالو کښې ئې د سود په شکل کښې پنځوس زره روپئ ورکړې او اصلی قرض هغه لس زره لا پاتې دی.

په (ګیا) نومې ښار کښې یو د سکول استاذ پنځلس کاله وړاندې پنځه سوه روپئ په سود واخستې، د مسلسل سود ورکولو نه پس بیا هم هغه اصل پیسې په ځائې پاتې دې حالانکه دې استاذ دوه اویا چنده یعنی شپږ دیرش زره روپئ هغهٔ سوه خور ته رسولې دی، لیکن اصل رقم لا په ځائ اوس هم پاتې دې.

په کان پور او دغه رنګې په نورو صنعتی ښارونو کښې چې کوم مزدوران په دې کارخانو کښې کارونه کوی، او دا مزدوران په اصل کښې د سود خورو په پنجه کښې راغلې دی، څومره مزدوران چې د دې سود خورو په لاس کښې دی د هغوی تناسب تقریبا اویا فیصده دې، د هغوی تنخوا ګانې دغه سود خوارهٔ اخلی او دغه غریبانانو مزدورانو ته د خپلې تنخوا نه یو روپئ هم نه تر لاسه کیږی

کوم ظلم، خناورتوب، او سنګدلی چې په سود خور کښې پیدا کیږی، دهغې یوه تازه قصه په (جاسناله) نومې مقام کښې داسې مخې ته راغلې ده چې اوس اوس په دغه ښار کښې د کویلې ((سنګ زغالو)) په په غر کښې مزدورانو کار کولو او د اوبو د ډکیدلو د وجې نه په کښې په سوونو مزدوران مړه شول، حکومت د دغې مړو شوو کسانو خاندانونو ته امدادی پیسې ورکړې. لیکن

دغه امدادی پیسې ترې نه لاس په لاس دې سود خورو واخستې او دغه بدنصیبه خلقو یو خوا ته جانې نقصان بیاموندو او بل خوا ته ورته مالي نقصان هم د دوی د لاسه ورسیدلو.

ددې یو څو واقعاتو نه به معلومه شی چې د دې سودی نظام په هلاکتونو او نقصانونو باندې د اسلام نظر له څومره لرې نه لګیدلو ،او د سودی نظام د دې هلاکتونو او نقصانونو د وجې نه اسلام د سود د پاره ورکې ځائ هم پرې نښودلو .

کله هم چې د مظلومې طبقې فریاد او زارئ ارخ ته حکومت توجه کړې ده نو زیات نه زیات دا چې هغوی ته ئې د سود په اندازه کښې کمې کړې دې، لیکن د اول نه ئې د دې سود څه ممانعت نه دې کړې او نه ئې په دې سودی نظام باندې څه پابندی لګولې ده.دا یواځې اسلام دې چې په دې ملعونه پیشه باندې ئې مکمله پابندې لګولې ده او ښه په وخت ئې د دې بندیز کړې دې. لیکن مونږ به څه اووایو چې دا متعصبه دنیا د اسلامی قوانینو د فائدو او د فلاحی پروژو نه فائدې اوچتولو ته تیار نهٔ دی.(ص ۲۳۷ تا ۲۳۹)

اوس مونږ د هغه وسوسو ذکر کوو دکومو له کبله چې سود خور دغه لعنت روا ثابتول غواړی، الله تعالی دې دوی ته هدایت نصیب کړی او د د نیا او د آخرت د عذاب او د شرمیدلو نه دې ورته د خان ساتلو توفیق ورکړی.

د سود خورو ملحدینو تلبیسات

۱ - د حضرت عمر ﷺ ارشاد دې : ثلاث وددت ان رسول الله ﷺ عهد الینا فیهن عهدا ننتهی الیه الجد والکلالة وابواب من ابواب الربا . (تفسیر ابن کثیر ص ۳۲۷ ج ۱)

د درې څیزونو په حقله زما ارمان پاتې شو چې رسول الله ﷺ دا مونږ د پاره واضح کړی وې نو ښه به وه. دې د پاره چې مونږ مطمئن شوې وې،د نیکهٔ او د کلاله د میراث مسئله او د څه بابونه د ربا

ددې ارشاد په ذریعه ځینو ملحدینو دا خبره کول شروع کړل . چې د ربا د یو متعین او تاکلې شوی تعریف کولو نه بغیر رسول الله ﷺ د دې دنیا نه رخصت شو د دې وجې نه د ربا مفهوم مبهم پاتې شو. لهذا د ربا د تعریف او د تعیین په حقله چې فقهاؤکوم څه لیکلې دی.دا د هغوی خپل وجدان او اجتهاد دې نه دا چه دا حکم د قرآن دې

د ملحدینو دا منطق د ابلیس د وسوسې او د ښکاره دهوکې نه بغیر بل هیڅ نه دی.حقیقت د خبرې دا دې چې د حضرت عمر ﷺ دا ارشاد یواځې ربا د دویم قسم (رباالفضل) د تفصیلونو د بعضو جزئیاتو په حقله دې.دا نه چې د هغوی دا قول د نفس ربا په حقله دې.د ربا د موجوده صورت او شکل چې د قرآن د نازلیدلو په وخت کښې هم د نن زمانې په شان مروج وو دا قسم هیڅ

کله مبهم نه دي پاتې شوي. لهذا د ربا په حقله دقرآن مجيد د آيتونو د نازليدلو سره تول مخالف او موافق خلق د دي په مقصد او په مطلب باندې پوهه شو.او د دې د حقيقت او د ماهيت د معلومولو نه بغير صحابهٔ کرامو ﷺ خو سمدستي تول سودى اخستل خرخول او ورکړه راکړه پريښودله. ليکن د بدو عادتونو خاوندان کافران چې کوم وو هغوى په دې کښې شيطاني قياسونه شروع کړل او د دې په جائز ثابتولو پسې شول **(قالوا انما البيع مثل الربوا)**
ملحدين دې دا سوچ وکړي چې دوى له چا سره خپله رشته قائمونکى دى ؟
د ربا د مسئلې حقيقت د اولې ورځې نه واخله تر ننه پورې بې شکه او شبې نه واضحه او ظاهره دې.د دې وجې نه قرآن هم د دې د دوباره بيانولو ضرورت محسوس نه کړو.**عيان را چې بيان**
ليکن دا خبره ده چې د دې په ځينى جزئياتو کښې د اختلاف کولو ځائ شته چې د مجتهدينو حضراتو ﷺ رائې په کښې مختلفې دى،او دا اختلاف يقينا د امت په حق کښې رحمت دې
د حضرت عمر ﷺ اشکال هم د دې قسمه په ځنى اجتهادى صورتونو کښې وو ،اوکه نه نو د ربا حقيقت د يو عامى د پاره هم محل د اشکال او د اجمال نه دې،لا پاتې د حضرت عمر ﷺ غوندې د لوئې علم. لوئې مرتبې،او د لوئى اجتهادى شخصيت د پاره.
د حضرت عمر ﷺ په ارشاد کښې د جد او د کلاله ذکر هم موندلې شى،حال دا چې د دوى د ميراث په مسئله کښې هم په بنيادى توګه څه ابهام نشته دې،د کلاله مسئله په قرآن مجيد کښې او د جد مسئله د ميراث په احاديثو کښې موجوده ده،د حضرت عمر ﷺ دې لره د ذکر کولو هم ځانګړې سبب دا دې چې د دې په تفصيلونو کښې په جزئى توګه ځينى اختلافات شته دى،کوم چې د حضرت عمرﷺ د پاره بلکه د هر فقيه او مجتهد د پاره موجب د فکر دى، حضرت عمر ﷺ د همدې د لرې کولو د ارمان اظهار کړې دې .
د دې نه علاوه خاص د ربا په حقله د عمر ﷺ نهٔ صريح روايت موجود دې:
عن القاسم بن عبدالرحمن قال قال عمر بن الخطاب ﷺ انكم تزعمون ان لا نعلم ابواب ولان اكون اعلمها احب الى من ان يكون لى مثل مصر و كورها و من الامور لا يكن يخفين على احد هو ان يبتاع الذهب بالورق نسيئا وان يبتاع الثمر وهى مصفرة لم تطب وان يسلم فى سن (مصنف عبدالرزاق ص٣ ج٨)
حضرت عمر بن خطاب ﷺ ارشاد فرمائيلې دې تاسو خلق دا ګمان لرئ چې مونږ ته د سود مسئلې معلومې نهٔ دى.که چيرې ما ته دا (تولې مسئلې) معلومې شوې وې. نو دا خبره ماته به د مصر او د متعلقاتو د مصر د عظيم سلطنت او بادشاهئ د ترلاسه کيدلو نه غوره وه. (بيا هم د دې جزئى اشکال باوجود) د ربا په مسئلو کښې ډيرې مسئلې داسې دى چې دا مسئلې د چا نه هم بټې نه دى. هغه دا چې سرهٔ زر د سپينو زر په عوض کښې قرض خرڅ کړې شى.او کجه ميوه دې بخيدلو نه وړاندې خرڅه کړې شى،او د څناورو بيعه د سلم دې وشى

د دې ارشاد فاروقی نه پس دا مسئله بالکل واضحه شوه چې د ربا په تعریف کښې څه ابهام نشته دې.که چیرته ابهام یا اشکال وی نو هغه د دې په ځینی جزئیاتو کښې دې،د دې جزئی او ضمنی اختلاف بهانه جوړول او د دې په ذریعه د ربا د ښۀ ښکاره او د واضحه احکامو نه انکار کول په حقیقت کښې د نصوصو نه انکار دې،او کیدې شی چې د دې منکرینو په علم کښې دا خبره نوی چې دا قسم اختلاف یواځې په مسئله د ربا کښې نۀ دې،بلکه په مونځ،روژې،زکوٰة غرض دا چې د اسلام په ټولو اساسی احکامو کښې موجوددې او د ربا د مسئلې په نسبت په دې نورو کښې څو چنده زیات دې،حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب قدس سرهٗ لیکی:

د صحابهٔ کرامو ﷺ تر مینځه په زرګونو مسئلې داسې شته چې د هغوی په کښې یو تر بله اختلاف وو،او د ائمه اربعه ﷭ په نیز خو به داسې جزئیه کیدې شی چې نۀ وی چې په هغې کښې د هغوی اختلاف نۀ وی،په ځلور رکعتیزې مونځ کښې د نیت د تړلو نه واخله تر د سلام اړولو پورې تقریبا داسې دوه سوه مسئلې د ائمه اربعه په نیز مختلف فیه دې چې هغه زما عاجز د نظره هم تیرې شوې دی،او دې نه علاوه معلومه نده چې نورې به څومره وی.(فضائل تبلیغ ص ۳۵)

اوس که د دې خلقو خوښه شی نو د دې اختلافاتو بهانه دې جوړه کړی او مونځ بلکه د دین د ټولو احکامو نه دې ځان خلاص کړی.

۲ - د سود په جواز باندې دویم دلیل دا وړاندې کولې شی چه : قرآن مجید په باطله طریقه باندې د نورز د مال خوړلو نه منع فرمائیلې ده: ((لاتاکلوااموالکم بینکم بالباطل))۔الآیۃ.

د دې آیت مصداق به صرف هغه ذریعې د آمدن وی په کومو کښې چه د نورو مال بې د هغوی د رضامندئ او د رغبت نه اخستلې شی،لکه سرقه،غصب،خیانت وغیره،او سودی قرض معامله د فریقینو په رضامندئ سره راځی،بلکه دا معامله عموما د قرض داری په حرکت سره راځی.لهذا د دې د عدم جواز څه عقلی توجیه مخې ته نۀ راځی.

جواب اول خو د (اکل بالباطل) دا تفسیر له سره باطل دې ، د مفسرینو ﷭ په نیز د مال د حاصلولو ټولې غیر مشروع او ناروا طریقې په اکل بالباطل کښې داخلې دی. برابر خبره ده چې دا معاملې د فریقینو په رضامندئ سره راځی او که په نارضامندئ سره راځی.

قال الامام القرطبی رحمہ اللہ : من اخذ مال غیرہ لا علی وجه اذن الشرع فقد اکله بالباطل.(الجامع الاحکام القرآن ص۳۳۸ ج۲)

و قال البغوی رحمہ اللہ: (بالباطل)بالحرام یعنی بالربا و القمار و الغصب والسرقة والخیانة و نحوها.(معالم التنزیل ص۴۱۸ ج۱)

دویم دا چې په همدې آیت کښې دا هم دی چه الاان تکون تجارۃعن تراض منکم.

د یوبل مال په ناحقه مه خورئ، لیکن که څه تجارت وی چې د یو بل په رضامندئ سره وی نو بیا په کښې څه خبره نشته.

چې یواځې د فریقینو رضامندی په کښې کافی وه نو بیا ئې په کښې د تجارت شرط ولې ولګولو؟ صرف (الاعن تراض منکم) ئې ولې ونۀ فرمائیلو؟

دا خبره معلومه شوه چې مع بې د مالی معاوضې نه کومه زیاتی نفع حاصله شی نو هغه حرامه ده، اګر که هغه په رضامندئ او په خوشحالئ سره حاصله شوې وی.

دریم دا چې صرفی سود (هغه سود چې د یو ذاتی ضرورت د پاره قرض ورکړې شی او په هغې نفعه حاصل کړې شی) ته دا خلق په خپله هم حرام وائی، او حال دا چې دا هم د یو بل په رضامندئ سره وی، نو بیا هم دغه سود په تجارتی قرض کښې څنګه حلال شو؟ او بیا د تجارت د پاره په عامه توګه د بانکونو نه په سود باندې قرض حاصلولې شی، او د تاوان په صورت کښې د دې بوج بیا په ټول قوم باندې راپریوځی. آیا د قوم هر یو فرد په دې یو طرفیزې لوبه باندې راضی وی؟ کومه معامله چې د یو فرد د پاره د نقصان د موجب کیدو له کبله ناروا ده هماغه معامله د ټول ملت او قوم د پاره د تباهئ او د هلاکت د سبب ګرځیدلو باوجود څنګه روا شوه؟

دا جوابونه علی سبیل التنزل ورکړې شو، اوکه نه نو د دوی د دې استدلال سرسری کیدل او د دې ډدوالې دومره ښکاره دې، چې هیڅ یو عقل مند انسان په دې باندې دهوکه کیدې نه شی، که چیرې د سود خورو دا خبره د لږ وخت د پاره ء ومنلې شی نو بیا یواځې د سود ذکر ولې کوی؟ ځکه چې د جوارئ وسیع کاروبار، د زنا اډې، د رشوت دا ګرم بازار او د دې نه علاوه نور شیطانی مرکزونه ټول دیو بل په رضامندئ سره چلیږی، بیا خوښۀ مو نۀ ده چې هغوی له هم د جواز سند ورکړې شی؟

۳ - یو عمومی شان دلیل دوی دا هم وړاندې کوی، هر کله چې یو سړې کور، دکان، او سورلی وغیره د استعمال د پاره ورکړی او د دې جائزه کرایه اخلی، نو دویم سړې چې نقدې روپئ ورکړی هغه د دې کرایه ولې نۀ شی اخستلې؟ او حال داچې دا د عامو ضرورت د څیزونو په مقابله کښې ډیر قیمتی او نفع ورکونکې څیز دې.

جواب: د دوی په دې دلیل کښې هم څه زور نشته دې، یو عام سړې ته هم د دې حقیقت معلوم دې او پوهیږی پرې، چې کرایه د داسې څیز ورکولې شی چې په مستقله توګه د کرایه دار په استعمال او تصرف کښې پاتې وی، په ډیر استعمال کښې په دې کښې کندم والې یا زړیدل راتلې شی، او دمسلسل استعمال د وجې نه دغه څیز ورو ورو خپل قیمت کموی، لکه کور، دکان، سورلئ وغیره شول. نقدې روپئ په خپل ذات کښې د استعمال څه څیز نۀ دې، بلکه د استعمال د څیزونو د حاصلولو یوه وسیله ده. څو پورې چې دا خرچ نه کړې شی نو د دې نه څه څیز نه شی حاصلیدلې، او چې دا باقی وه درلودلې شی نو د دې نه د هیڅ قسمه څه فائده ممکنه نۀ ده. لهذا

استعمال په خيزونو باندې دا قياس کول يو بې معنى خبره ده.سود خور چې په دې معامله کښې څه ته د کرايې نوم ورکوى نو د قرآن مجيد په اصطلاح کښې هم دې ته ربا وائى.

۴ - يو دليل دا وړاندې کولې شى چه: يو سړې خپله محفوظه سرمايه او مال بل له ورکړى او يو قسمه خطرې او هلاکيدلو ته غاړه کيږدى،د مال مالک که غوښتلې نو په خپله ئې هم د دې نه ډيره څه فائده اخستې شوه، ليکن دهٔ د ايثار نه کار واخستلو او بل له ئې په خپل ځان باندې فوقيت او ترجيح ورکړه،او دا دويم سړې د دې مال نه نفع اخلى. نو آخر د مال او د سرمايې مالک ته دا حق ولې نهٔ شى حاصليدلې چې هغه هم د دهٔ سره په نفع کښې شريک شى؟ او يوه لږه شان حصه دې د قرض دارى نه حاصله کړى؟

جواب: په دې کښې هيڅ شک نشته چې چا ته قرض ورکول يوه لويه نيکى او د لوئې درجې ايثار دې. ليکن بيا دا دکوم انصاف فيصله ده چې دهرې نيکئ دې نقد اجرت هم حاصل کړې شى؟

د ايثار تقاضه خو دا ده چې: ((نيکى کوه او درياب ته ئې غورځوه)).

او په احسان سره خو به هغه: (نيکى برباد گناه لازم) په مصداق وگرځى.

بيا کوم قرض چې د سود د حاصلولو د پاره ورکړې شو نو هغې ته د ايثار نوم د کوم منطق له وجې ورکولې کيږى؟ ايثار خو هغه نيکئ ته وائى چې بې د زياتې معاوضې نه بل سره وکړې شى او قرض ورکړې شى

غرض د خبرې دا چې قرض ورکول نيکى او ايثار ضرور دې ليکن فرض يا واجب نهٔ دې.که يو زړهٔ سواندې سړې د انسانى همدردئ له کبله داسې کوى نو ضرور دې وکړى،او که داسې نه کوى نو خپل مال دې خپل ځان سره کيږدى، ليکن د دې خو هيڅ قسمه څه جواز نشته دې چې د يوې وړې نيکئ په بدله کښې دې دومره لوئې لعنت په خپل سر واخستلې شى.

په دليل کښې د مال د هلاکيدلو دا ويره هم صحيح ده چې کيدې شى چې د څه حادثې د وجې نه يا د قرض دار د تعدى د وجې نه د قرض ورکوونکى مال او سرمايه ټوله ډوبه شى. ليکن دا خطره د هلاکيدلو خو هم څه مال او متاع نهٔ دې چې د دې معاوضه دې واخستې شى،او بيا د دې ويرې نه د بچ کيدلو طريقه هم په شريعت کښې موجوده ده.چې د قرض دارى څه څيز دې ځان سره گانه کيښودلې شى.يا چې کله هغه سره معامله کوى نو د هغه نه دې څوک کفيل يا ضامن واخستې شى.نو ددې نه به د سرمايې د هلاکيدلو ويره ختمه شى.سود په قرض دارى باندې يو تاوان دې. په دې کښې د سرمايې د تحفظ څه ضمانت نشته دې

۵ - په پورتنى جواب باندې دا اشکال واردېږى تاسو وايئ چې که چا له څوک دهمدردئ په توگه قرض ورکوى نو ورد ې کړى اوکه نه نو خپل مال دې خپل ځان سره کيږدى.داسې قسمه

همدرد به چرته په لکونو کښې یو وی اوکه نه نو سرمایه دار خو چې چا له قرض ورکوی نو د سود په لالچ باندې ئې ورکوی.که چیرې هغوی ته د سود لالچ ورنهٔ کړې شی او نهٔ ورته د سرمایې د واپس کولو تحفظ ورکړې شی نو د سر نه به د قرض ورکولو دروازه بنده شی،او حال دا چې قرض د نن صبا د معاشی ژوند یو داسې ضرورت دې چې خلاصې ترې نشته دې،د یو فرد د ذاتی ضرورت نه واخله د ملکونو د عسکری ضرورتونو پورې چې څومره ضرورتونه دی ټول په قرض سره پوره کیږی، د قرض د دروازې په بندولو سره خو به معاشی زندګی مفلوجه او ختمه شی.

جواب: په دې خبره کښې هیڅ شک نشته دې چې قرض د نن صبا د خرچ کولوپه ژوند کښې یو لازمی حصه ګرځیدلې ده،او بې د سود نه د قرض ملاویدل ګران هم دی،او په خاص توګه د ډیرې مودې د پاره ډیر قرض ترلاسه کیدل خو ډیر ګران دی، لیکن ددې بنیادی وجه هم د سود دبازار ګرمیدل دی،دې لعنت ته ټولو اسلامی او غیر اسلامی ملکونو تحفظ ورکړو او یو عام رواج ئې ترې نه جوړ کړې دې،د کومې نه چې د قرضِ حسنه،صدقو او عامو مالی نیکو لاره په خپله بنده شوې ده،او که نه نو د اروپا د معاشی تعارض نه وړاندې په پیړو پیړو د افرادو ذاتی ضرورتونه،د هغوی تجارتونه او د ملکونو دفاعی خرچې،ټول په ټوله بې د سود نه هم دغسې راروان وو،د اسلامی تاریخ ابتدائې روښانه زمانه په دې باندې ګواه ده،په جهاد کښې او په نور دعامو خلقو د فائدې په کارونو کښې به مالدارانو مسلمانانو داسې صدقې او خیراتونه ورکول چې د نن صبا سود خوارهٔ په ډیر اندازه د سود سره هم ګرانه ده که هغومره سرمایه ورکړې شی،کهٔ د دې یو نندازه کول غواړئ نو د حیاة الصحابه ص۳،ج۲باب انفاق الصحابة فی سبیل الله مطالعه دې وکړې شی.اوس په دې نن صبا زمانه کښې د سود د پنجې نه د خلاصې د پاره که دنیا ته څه لاره نهٔ ښکاری نو په دې باندې به بې د دې نه سِوا څه او ونیلې شی چې: (*خود کرده را علاجے نیست*).

دا حالات همداسې دی لکه نن صبا د رشوت مرض چې څنګه عام شوې دې چې چا ته خپل جائز حق هم بې د رشوت د ورکولو نه نهٔ ترلاسه کیږی،هره یوه محکمه د دې په جال کښې ده،که چیرې یو افسر درشوت د اخستلو په جرم کښې معطل هم کړې شی نو هغه ددې نه زیات رشوت ورکړی او واپس په خپله کرسئ باندې کینی نو آیا دا صورتِ حال یو عاقل او پوهه سړې دا د رشوت د جواز د پاره دلیل جوړولې شی او وړاندې کولې ئې شی؟

په اسلام کښې دسودی نظام متبادل هغه نظام د مضاربت دې،په کوم کښې چې د یو فرد سرمایه او د بل فرد محنت وی.په دې نظام کښې هرړ دواړو ته خپل برابر حق وررسیږی، که چیرې نفع وشی نو د دواړو به وی.سرمایه دار ته به د خپلې سرمایې او مضارب ته به د خپل محنت میوه ترلاسه شی، او که چیرې تاوان وشی نو هم به دواړو ته رسیږی، د یو سرمایه لاړه او د بل محنت

لاړو. لیکن په سودی نظام کښې تول په توله تاوان د عامل په حصه کښې واچولې شی.
د بانکاریٔ د نظام د فاندې او د ضرورت نه هم څوک انکار نه شی کولې. لیکن د سود پلیتی ددې هر یوه فائده په نقصان کښې بدله کړه، که چیرې په بانکونو کښې د سود په ځایٔ د مضاربت په پاکو اصولو باندې کار شروع کړې شی. نو دا به د ملک او دملت په حق کښې یو بهترینه اداری ثابتې شی. والحمدلله اولاً واخراً.

محمد ابراهیم
۵ محرم ۱۴۱۵ هجری

په حرام خوریٔ باندې نور وعیدونه

۱- حرام خور به د جهنم خاشاک وی : عن جابر رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ: لا یدخل الجنة لحم نبت من السحت وکل لحم نبت من السحت کانت النار اولی به (احمد دارمی بیهقی)

۲- حرام خور به جنت ته نهٔ داخلیږی : عن ابی بکر رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال: لا یدخل الجنة لحم غذی بالحرام (شعب الایمان للبیهقی)

۳- چې د لباس لسمه حصه حرامه وی نو مونځ نه قبلیږی : عن ابن عمر رفعه: من اشتری ثوبا بعشرة دراهم وفیها درهم حرام لم یقبل الله تعالی له صلوة ما دام علیه (احمد)

۴- د حرام مال نه صدقه نهٔ قبلیږی، په حرام کښې برکت نهٔ وی، او که حرام مال ئې پرېښودلو او مړ شو نو دا ئې د جهنم سامان دې : عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه عن رسول الله ﷺ قال: لا یکسب عبد مالا من حرام فیتصدق منه فیقبل منه ولا ینفق منه فیبارك له فیه ولا یترکه خلف ظهره الا کان زاده الی النار، الحدیث (احمد)

۵- د حرام مال نه په صدقه کولو باندې دثواب په ځائې عذاب دې : ابوالطفیل رضی الله عنه رفعه: من کسب مالا من حرام فاعتق منه ووصل منه رحمه کان ذلك اصراً للکبیر بضعف (مجمع الزوائد)

۶- د حرام خور دعا نه قبلیږی : عن ابی هریرة رضی الله عنه فی حدیث: ثم ذکر الرجل یطیل السفر اشعث اغبر یمد یدیه الی السماء یارب یارب ومطعمه حرام ومشربه حرام وملبسه حرام وغذی بالحرام فانی یستجاب لذلك (مسلم)

لوئې اوږد سفر، ګډ وډ ویښته، د دوړو کښې ککړ، او آسمان اړخ ته دواړه لاسونه خواره او یا رب یا رب ناری وهل غرض دا چې د دعا د قبلیدلو ټولې مواقعې جمع دی او د دې باوجود صرف د حرام نه د پرهیز نه کولو په وجه د دهٔ دعا رد کړی شی

باب القرض و الدّين

د مکيلاتو او د موزوناتو استقراض روا دي

سوال :د مکيلاتو او موزوناتو په قرض اخستل روا دي او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب و منه الصدق و الصواب : د مکيلاتو او موزوناتو او د عددی متقارب استقراض روا دي د دې نه علاوه د بل يو څيز استقراض روا نه دې.

قال فی التنوير فی فصل فی القرض:وصح فی مثلی لا فی غيره. وفی الشامية (قوله فی مثلی) کالمکيل والموزون والمعدود المتقارب کالجوز والبيض وحاصله ان المثلی مالا تتفاوت احاده ای تفاوتاً تختلف به القيمة فان نحو الجوز تتفاوت احاده تفاوتا يسيرا (ردالمحتار ص۱۷۱ ج۴) والله سبحانه وتعالی اعلم

۳۰ ذی قعده ۱۳۷۲ هجری

په تخارج کښې د صلح عن الدين د جواز حيلې

دا بحث به په مسائل شتی کښې راشی.

تفصيل د (تمليک الدين من غير من عليه الدين)

سوال : آيا تمليک د دين من غير من عليه الدين بالتوکيل روا دې او که نه؟په هدايه کتاب الکفالة کښې دی چه : لانه (الکفيل) ملک الدين بالاداء فنزل منزلة الطالب کما اذا ملکه بالهبة (هداية ص۱۱۱ ج۳) . د دې نه معلوميږی چې په هبه کښې خو د موهوب له توکيل ضمنی وی د دې وجې نه دا روا دی. بل دا چې په کتاب الوکالة کښې دی چه : کان هذا تمليک الدين من غير من عليه الدين من غير ان يوکله بقبضه وذلک لا يجوز (هداية ص۱۸۱ ج۳)

د دې نه هم دا خبره معلومه شوه چې تمليک بالتوکيل روا دې، ليکن د دې جزئيې سره پيوسته دا هم دی چه کما اذا اشتری بدين علی غير المشتری

په دې باندې دا اعتراض وارديږی چې دا صورت روا کيدل پکار دی ځکه چې په دې کښې بائع ته وکيل بالقبض ضمناً وئيلې شی.لهذا د شافی تحقيق نه مو خبر کړئ .بينوا توجروا.

الجواب و منه الصدق و الصواب تمليک بالتوکيل الضمنی روا دې.لکه څنګه چې په کفاله کښې کيږی. قال الامام ابن الهمام رحمه الله :والوجه ان يقال بعقد الکفالة سلطه علی قبضه عند الاداء.(فتح القدير ص۲۰۰ ج۵)

همدغه شان هبة الدين للمعين هم د دې ضمنی توکيل له کبله روا ده. لکه څنګه چې په سوال کښې د هدايې په ذکر شوې جزئيې کښې د دې تصريح موجود ده، ليکن د غير معين د پاره هبة الدين صحيح نهٔ ده څکه چې د غير معين توکيل صحيح نهٔ دې.

قال الامام المرغينانی رحمه الله: ويکون امرا بصرف ما لا يملکه الا بالقبض قبله وذلك باطل کما اذا قال اعط مالی عليك من شئت (هداية ص ۱۰۳ ج ۳)

البته دا خبره ده چې په غير معين فقير باندې د دين صدقه صحيح ده.

بخلاف ما امره بالتصدق لانه جعل المال لله تعالی وهو معلوم. (هداية ص ۱۰۳ ج ۳)

پاتې شو دا اشکال چې تمليك الدين بالعوض للمعين بالتوکيل الضمنی ولې روا نهٔ دې؟ لکه څنګه چې په سوال کښې د هدايې په ذکر شوې جزئيې (کما اذا اشتری۔ الخ) کښې دی.

ددې مختلف جوابونه ورکړې شوې دی:

قال العلامة البابرتی رحمه الله: واجيب عن الاعتراض المذکور فی بعض الشروح بوجه اخر ايضا وهو ان البائع لو صار وکيلا فانما يصير وکيلا فی ضمن المبايعة ولا بد من ان يثبت المتضمن ليثبت المتضمن والمبائعة لم تثبت لما فيه من تمليك الدين من غير من عليه الدين فلا يثبت المتضمن بخلاف ما نحن فيه لان التوکيل بالنص يثبت فيه بأمر الامر وانه يسبق الشراء وبخلاف ما اذا وهب الدين من غير من عليه الدين حيث تصح الهبة ويثبت الامر من الواهب للموهوب له بالقبض فی ضمن الهبة لان الملك يتوقف الی زمان القبض فيکون التوکيل بالقبض سابقا علی التمليك معنی (تکملة فتح القدير ص ۱۰۳ ج ۶) والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۰ ربيع الاول ۱۳۷۶ هجری

د سرو زرو ګانه قرض ورکول او د هغې قيمت واپس اخستل

سوال: يو سړی د بل سړی نه يو څو تولې سرهٔ زر د کالو (ګانې) په شکل کښې قرض واخستل. اوس مقروض خپل قرض ادا کول غواړی، قرض ورکوونکې مقروض ته وائی چې تهٔ د کالو په ځاې د دې قيمت که راکړې نو دا به مناسب وی، نو آيا مقروض د دې کالو قيمت ورکولې شی؟ که ورکولې ئې شی نو د کوم وخت قيمت به معتبر وی؟ دا خبره دې واضحه وی چې څينې علماؤ دا معامله په سود کښې داخله کړې ده او ناروا ئې ورته وئيلې ده؟ ورسره دا راته هم اووايئ چې ربوا نسيئة او د قرض په مينځ کښې څه فرق شته او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب و منه الصدق و الصواب: چې د کالو په ځاې د دې قيمت واخستې شی نو په دې کښې د ربوا هيڅ قسمه څه شک او شبه نشته دې

قال العلائي رحمه الله: (و) صح (بيع من عليه عشرة دراهم) دين (ممن هي له) اى من دائنه فصح بيعه منه (دينارا بها) اتفاقا وتقع المقاصة بنفس العقد اذ لا ربوا فى دين سقط

وقال ابن عابدين رحمه الله: (قوله وتقع المقاصة بنفس العقد) اى بلا توقف على ارادتهما لها بخلاف المسالة الاتية ووجه الجواز ان جعل ثمنه دراهم لا يجب قبضها ولا تعيينها بالقبض وذلك جائز اجماعا لان التعيين للاحتراز عن الربوا اى ربوا النسيئة ولا ربوا فى دين سقط انما الربوا فى دين يقع الخطر فى عاقبته ولذا لو تصارفا دراهم دينا بدنانير دينا صح لفوات الخطر (ردالمحتار ص۳۱، ج۴)

البته دا خبره ده چې که د کالو په بدله کښې هم کالي واخستې شي نو د مبادلة الجنس بالجنس د کيدلو د وجې نه به د ربوا د کيدلو مغالطه کيدې شوه، ليکن په حقيقت کښې په دې صورت کښې هم ربوا نشته دې.بلکه دا قرض دې.

ربوا نسيئة هلته کيږي چې مبادلة الجنس بغير الجنس وي يا مبادلة الجنس بالجنس وي او په دې کښې لفظ د بيعې يا د مبادلې،يا د معاوضې استعمال کړې شوې وي،او که چيرې د يو جنس د ورکولو په وخت کښې هم د دغه جنس د واپسئ معامله کړې شوې وي ليکن د بيعې يا د مبادلې، يا د معاوضې الفاظ په کښې نه وي استعمال کړې شوې نو دا قرض دې برابره خبره ده چې د قرض لفظ ئې وئيلې وي او که نه ئې وي وئيلې او دا بې له څه شک شبې نه روا دی. والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۶ محرم ۱۴۲۶ هجرى

د قرض د اخستلو تدبير

سوال: يو رشته داره مو په دې خبره ډير تاکيد کوی چې هغه دې د دې لاندې مسئلې د جواز په حقله مطمئنه کړې شی،د هغې نه د هغې پلار سل روپئ په توګه د قرض واخستې. ليکن اوس ډير وخت وشو او پلار يې دغه روپئ نه ادا کوی،او حال دا چې هغه ددې پيسو د ادا کولو توان لري.او په راروان وخت کښې هم د دۀ نه د دې پيسو د ادا کولو څه اميد نشته دې،د هغې پلار د غوړو کاروبار کوی.او دا غوړی هم د دې پوښتنې کوونکې په کور کښې ږدی. نو په دې صورت کښې به آيا دا روا وی چې دا لور ئې د خپل پلار د غوړو نه وخت په وخت د هغۀ د اجازت نه بغير څه قدر غواړی ترې نه اوباسی چې هغه خرڅ کړی او خپلې پيسې ترې په دې طريقه پوره کړی،او چې هر کله دا پيسې په دې طريقه کله واخستلې شی نو خپل پلار پرې بيا خبر کړی،او اګرچې د هغۀ په خبرولو کښې د خفه کيدلو انديښنه هم شته دې، ليکن دا لور ئې چې کونډه ده او اولاد ئې هم دې او ضرورت منده هم ده نو دا څه وکړی؟ او پلار ئې محتاج نه دې،آيا د پيسو اخستلو دا تدبير شرعا روا دې اوکه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب و منه الصدق و الصواب: دا طریقه روا ده لیکن ددې خبرې دې پوره پوره خیال وساتلې شي چې د خپل حق نه دې زیات نه اخلي، او دا خستلو پس پلار ته د دې خبر ورکول ضروري نه دي، خصوصا چې بیا په کښې دا خفګان اندیښنه هم وي:

قال في العلائية: ليس لذي الحق ان يأخذ غير جنس حقه وجوزه الشافعي رحمه الله وهو الاوسع.

وقال ابن عابدين رحمه الله: (وقوله وجوزه الشافعي) قدمنا في كتاب الحجر ان عدم الجواز في زمانهم اما اليوم فالفتوى على الجواز. (ردالمحتار ص-ج) والله سبحانه وتعالى اعلم ٦ شوال ١٣٨٦ هجری

د قرض ورکولو نه پس سکه بدله شوه

سوال: زید د بکر سره د سلو روپو په بدله کښې خپله زمکه ګانه (ګرو) کړه، او دا د هغه وخت خبره ده چې کله روپئ د سپینو زرو وې، اوس تقریبا ۲۰ کاله پس په پاکستان کښې د هغه سپینو زرو د سکې رواج پاتې نه دې، نوې پاکستانی روپئ چلیږي، اوس راهن او مرتهن دواړه په فک د رهن باندې راضی شوې دی، لیکن د مرتهن دا مطالبه ده چې ما ته دې هماغه د سپینو زرو روپئ راکړې شي او یا دې د هغې قیمت راکړې شي، او راهن وائي چې زهٔ به پاکستانئ روپئ درکوم، په دې کښې به شرعی فیصله څنګه وي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا معامله د قرض ده او په قرض کښې د مقروض څیز مثل ادا کول واجب وي، سپین زر په اعتبار د خلقت ثمن دې، لهذا د تعامل د ترک باوجود د دې د ثمنیت بندیز نه شي کیدلې، لهذا ددې مثل یعنی سل تولې سپین زر به ورکول وي. والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۰ ذی قعده ۱۳۸۹ هجری

د یو یو څناور په حساب سره قصاب له قرض ورکول

سوال: بکر قصاب دې، زید په دې شرط هغه له زر روپئ قرض ورکړې چې د یو څاروی په سر به درنه پنځه روپئ کمیشن اخلم، یعنی که په پنځه ورځو کښې دې لس څاروی حلال کړل او د هغې غوښه دې خرڅه کړه نو ما له به د دې په حساب سره پنځوس روپئ راکوې، آیا شرعا دا معامله روا ده؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا معامله حرامه ده، په هر یو څاروی باندې ټاکلې شوې پیسې اخستل سود دې البته که په ګټه کښې ورسره په نیمه یا په دریمه شریک شي نو دا به په عقد د مضاربت کښې داخل شي او روا به شي. والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۷ ربیع الاول ۱۳۹۶ هجری

دَین په کم قیمت باندې د غیرِ مدیون په لاس باندې خرڅول

سوال: یو سړی د ټرک د ډرائیور نه یا د مالک نه کوم چې د ملک د مختلفو ځایونو نه کراچئ ته مال راوړی بلتیانې اخلی، لیکن په دې طریقه چې کوم مال مثلا د دوو زرو روپو دې،دا سړې هغه ډرائیور یامالک له شل روپئ کمې دوه زره روپئ ورکړی،آیا دا طریقه روا ده؟ که چیرې ناروا وی نو آیا ددې د جواز هم څه صورت شته دې چې دواړه دا کاروبار کوی او د ټرک والا وخت هم نهٔ ضائع کیږی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا معامله په دوو وجوهو سره ناروا او حرامه ده،یو خو دا چې دا بیع الدین من غیر من علیه الدین ده کومه چې ناروا ده،دویمه وجه دا ده چې په پیسو کښې کمې زیاتې په سود کښې راځی او سود حرام دې.

صحیح صورت ئې دا کیدې شی،چې د ټرک مالک دې د کرایې د اخستلو دپاره څوک وکیل جوړکړی،او هغه له دې د کرایې د اخستلو د اجرت په توګه شل روپئ ورکړی،بیا دې د هغهٔ نه د بلتئ د پیسو په برابرئ قرض واخلی او دا دې ورته اووایی چې زما قرض چې کله واخلې کړې نو د دې قرض په بدله کښې ئې تهٔ واخله کوم چې ما ستا نه واخستلو.

لیکن په دې صورت کښې که چیرې وکیل ته قرض ورنهٔ کړې شو نو هغهٔ د موکل نه د قرض مطالبه کولې شی.

د دې صورت د صحت د پاره دا شرط دې چې د توکیل د پاره دې اقراض شرط نه کړې شی،که د قرض د اخستلو نه بغیر د ټرک ډرائیور څوک وکیل نه جوړوی نو دا د دې وجې نه ناروا دې چې وکیل د قرض نه د استجارې نفع حاصلوی او دا سود دې.

ددې وجې نه صحیح صورت دا دې چې د ټرک مالک دې فی الحال رقم نه اخلی بلکه څوک دې د دې قرض د اخستلو د پاره په اجرت باندې وکیل جوړ کړی،او دغه وکیل دې دا قرض اخلی او مالک ته دې رسوی.والله سبحانه وتعالیٰ اعلم، ۲۲ ربیع الثانی ۱٤۰۰ هجری

په قرض کښې تاجیل باطل دې

سوال:- په لاندې ذکر کړې شوو صورتونو کښې د شریعت څه حکم دې؟

۱- چا د یوې میاشتې په نیته باندې قرض واخستلو،نو آیا قرض ورکوونکې د دې نیتې نه وړاندې د قرض مطالبه کولې شی؟

۲-که د تاکلی شوی مودې په تیریدلو باندې مقروض تنګدسته وی نو آیا قرض ورکوونکې د قرض داری نه په قرض اخستلو باندې جبر کولې شی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب قرض ورکوونکي د تاکلی شوی موده نه وړاندې قرض طلب کولې شی. لیکن دا خبره ده چې بې د ضرورته په طلب کولو باندې به د وعده خلافۍ ګناه ئې کیږی.

قال الامام التمرتاشی رحمه الله: ولزم تاجیل کل دین الا القرض

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله فلا یلزم تاجیله) ای انه یصح تاجیله مع کونه غیر لازم فللمقرض الرجوع عنه لکن قال فی الهدایة فان تاجیله لا یصح لانه اعارة وصلة فی الابتداء حتی یصح بلفظة الاعارة ولا یملکه من لا یملک التبرع کالوصی والصبی ومعاوضة فی الانتهاء فعلی اعتبار الابتداء لا یلزم التاجیل فیه کما فی الاعارة اذ لا جبر فی التبرع وعلی اعتبار الانتهاء لا یصح لانه یصیر بیع الدراهم بالدراهم نسیئة وهو ربا اهو مقتضاه ان قوله لا یصح علی حقیقته لانه اذا وجد فیه مقتضی عدم اللزوم ومقتضی عدم الصحة وکان الاول لا ینافی الثانی لان ما لا یصح لا یلزم وجب اعتبار عدم الصحة ولهذا علل فی الفتح لعدم الصحة ایضا بقوله ولانه لو لزم کان التبرع ملزما علی المتبرع ثم للمثل المردود حکم العین کانه رد العین والا کان تملیک دراهم بدراهم بلا قبض فی المجلس والتاجیل فی الاعیان لا یصح اهـ ملخصا ویؤیده ما فی النهر عن القنیة التاجیل فی القرض باطل (رد المحتار ص۱۰ ج۴)

۲. د مقروض د تنګدستۍ په حالت کښې هغه د قرض په واپس کولو باندې مجبورول روا نهٔ دی

قال سبحانه وتعالی: ﴿وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ وَأَن تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ۝٢٨٠﴾ . والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۰ شعبان المعظم ۱٤۱۵ هجری

﴿مَن ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً وَاللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٤٥﴾﴾ (۲ــ ۲۴۵)

****

﴿مَن ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ وَلَهُ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴿١١﴾﴾ (۵۷ــ ۱۱)

****

﴿إِن تُقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَاعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٧﴾﴾ (۶۴ــ ۱۷)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾

الحط من المؤجل بشرط ادائه المعجل

د مؤجل قرض څه حصه په دې شرط باندې معاف کول چې باقي قرض به هم په دې وخت ادا کوې دا روا نه دی

د فقهې د بعضې عبارتونو نه د جواز د اشتباه ازاله يعنى ختمول

د دین څه حصه ساقطول په شرط د تعجیل

سوال : د یو سړی په بل سړی باندې دین مؤجل وو ،مدیون ته دائن درخواست وکړو چې د دین څه حصه راته معاف کړه،دائن ني درخواست په دې شرط باندې قبول کړو چې د دین باقی حصه په همدې وخت ادا کړه. لهذا مدیون ورته باقی دین هم په دغه وخت ادا کړو ،شرعا ددې څه حکم دې؟

یو مولوی صاحب د جواز د پاره د تنویر او د شامیې عبارتونه وړاندې کوی. په تنویر کښې دی چه قال ادالی خمسمائة غدا من الف لی علیك علی انك بریء من الباقی فقبل بریء وان لم یؤد ذلك فی الغد عاد دینه (ردالمحتار ص ج)

او د شامیې عبارت دې چه : لو قال ابرأتك عن الخمسة علی ان تدفع الخمسة حالة ان كانت العشرة حالة صح الابراء لان اداء الخمسة یجب علیه حالا فلا یكون هذا تعلیق الابراء بشرط تعجیل الخمسة ولو مؤجلة بطل الابراء اذا لم یعطه الخمسة. (ردالمحتار ص ج)

تاسو مونږ د خپل قیمتی تحقیق نه خبر کړئ. بینوا توجروا.

الجواب و منه الصدق و الصواب : دا معامله روا نهٔ ده.په دې کښې اصل دا دې چې که د جانبینو نه وی نو دا احسان دې لکه چې په پوښتلی شوی صورت کښې د دائن د اړخه د دین څه حصه پرېښودل دی او د مدیون له اړخه د اجل ساقطول دی،نو دا معاوضه شوه او د ربا د موجب کیدلو له کبله ناجائزه ده.او که احسان د یو جانب نه وی نو دا ابراء شوه.معاوضه نهٔ شوه لهذا بیا روا ده.

قال فی التنویر ولا یصح (الصلح) عن دراهم علی دنانیر مؤجلة اوعن الف مؤجل علی نصفه حالا اوعن الف سود علی نصفه بیضا.

وفی الشرح والاصل ان الاحسان ان وجد من الدائن فاسقاط وان منهما فمعاوضة.

وفی الشامیة (قوله فمعاوضة) ای ویجری فیه حكمها فان تحقق الربا او شبهته فسدت والاصحط. قال ط ان الاحسان ان وجد من الدائن بان صالح علی شیء هو ادون من حقه قدرا او وصفا او وقتا وان منهما ای من الدائن والمدیون بان دخل فی الصلح مالا یستحقه الدائن من وصف كالبیض بدل السود او ما هو فی معنی الوصف كتعجیل المؤجل اوعن جنس بخلاف جنسه. (ردالمحتار ص ج)

قدوری رحمه الله هم دا اصل په نورو الفاظو کښې بیان کړې دې

قال (القدوری) وكل شیء وقع علیه الصلح وهو مستحق بعقد المداینة لم یحمل علی المعاوضة وانما یحمل علی انه استوفی بعض حقه و اسقط باقیه (الی قوله) ولو كانت له الف مؤجلة فصالحه علی خمسمائة حالة لم یجز.

قال العلامة المرغيناني رحمه الله لان المعجل خير من المؤجل وهو غير مستحق بالعقد فيكون بازاء ما حطه وذلك اعتياض عن الاجل وهو حرام (هداية ص ج۳)

همدې سره نزدې نزدې دشامي عن الطحطاوي پورته ذکر کړې شوې جزئيه (بان دخل في الصلح مالا يستحق الدائن۔ الخ) او د تنوير جزئيه (الصلح الواقع على بعض جنس ماله عليه اخذ ببعض حقه وحط لباقيه) ده.

په سوال کښې ذکر کړې شوې د تنوير جزئيه د (الف حالة) په حقله ده، په دې کښې احسان صرف د دائن له ارخه دې د مديون له ارخه په کښې څه احسان نشته دې، يا په نورو الفاظو کښې به داسې اووايو چې دائن څه څيز چې غير مستحق بالعقد وی لکه تعجيل وغيره په صلح کښې نۀ شرط کوی، ځکه چې تعجيل خو د وراندې نه دې.د دې وجې نه دا صورت د ذکر شوې قاعدې مطابق روا دې. اوکه نه نو که (الف مؤجل) ترې نه مراد واخستې شي نو بيا په کښې د جواز څه صورت نشته دې. ځکه چې د عدم جواز کوم علت په ذکر شوې جزئيه کښې دې هغه علت به دلته هم موندلې شي.

ددې نه علاوه په لاندينو جزئياتو کښې د دې الف د معجل کيدلو تصريح هم موجود ده:

قال العلامة البابرتي رحمه الله ومن له على اخر الف درهم حالة الخ (عناية على هامش الفتح ص ج۷)

وقال الامام الزيلعي رحمه الله (قوله ومن له على اخر الف الخ) اى ان لم يؤد غدا النصف وهو خمسمائة لا يبرأ وهذا عند ابي حنيفة ومحمد رحمهما الله وقال ابو يوسف رحمه الله يبرأ وان لم يؤد ولا تعود اليه المائة الساقطة ابدا لان اشتراط الاداء ضائع لان النقد واجب عليه في كل زمان يطالبه هو فيه اذا المال عليه حال الخ (تبيين الحقائق ص ج۵)

وقال العلامة الشلبي رحمه الله في حاشيته على التبيين (قوله في المتن ومن له على اخر الف الخ) قال الاتقاني وصورتها في الجامع الصغير محمد عن يعقوب عن ابي حنيفة رحمهم الله في رجل يكون له على رجل الف درهم حالة الخ (تبيين الحقائق ص ج۵)

كذا مطبع صفدرى بمبئ ص باندې د ومن له على اخر الف لاندې بين السطور دا حاشية ده:

اى الف درهم حالة. كذا في شرح الجامع للبزدوى وقاضيخان والمحبوبى.

ددې نصوصو نه علاوه بنکاره خبره هم دا ده.چې الف حاله ترې نه مراد دې،ځکه چې په معاملاتو کښې اصل هم دا دې، تاجيل يو امر عارض دې،کوم چې په صورت د شرط کښې ثابتيږی. او په قرض کښې خو د شرط لګولو سره هم تاجيل نه ثابتيږی.

د شامیې نه چې کومه جزئیه وړاندې کړې شوې ده، هغه علامه شامی رحمه الله د جامع الفصولین نه نقل کړې ده،د دې نه هم استدلال صحیح نهٔ دې،ځکه چې په دې کښې مقصود بالذات د تقیید د صحت تحقیق دې،د عشره حاله په صورت کښې تقیید د غیر مفید کیدلو د وجې نه صحیح نهٔ دې،او د عشره مؤجله په صورت کښې د تقیید د مفید کیدلو د وجې نه صحیح دې، نو د تقیید د صحت تقاضه ده چې د پنځو د نهٔ ورکولو په وخت کښې دې ابراء باطله وی،دا یو بیله خبره ده چې د اعطاء خمسه په حالت کښې دې هم د یو بل مانع له کبلې ابراء صحیح نه وی،وهو الاحسان من الجانبین الموجب للربا.

که چیرې د دې جزئیې دا محمل حسن ونهٔ گرځولې شی، نو د ټولو کتابونو او په خپله د شامیې دتصریحاتو او د اصولو د خلاف کیدلو د وجې نه به قابل د قبول نه وی.

فائده: ابراء متعلق کول د شرطه پورې دا مبطل د ابراء دی او تقیید کول ئې په څه شرطه پورې صحیح دی،شامیه کښې ئې تعلیق بالشرط المتاخر ته روا لیکلې دی:

قال فی التنویر ولو علق بصریح الشرط کان ادیت الی او اذا او متی لا یصح وفی الشامیة (قوله بصریح الشرط) قال القهستانی و فیه اشعار بانه لو قدم الجزاء صح وفی الظهیریة لو قال حططت عنك النصف ان نقدت الی نصفها فانه حط عندهم وان لم ینقد نصفها ثانیا.(ردالمحتار ص ـــ ج ـــ)

لیکن دا صحیح نه دی، تعلیق د ابراء په شرط سره په هر حالت مبطل دې،برابره خبره ده که جزاء ئې مقدمه وی او که مؤخره وی خو ابراء به نه صحیح کیږی.

قال العلامة الرافعی رحمه الله ولا یظهر وجه لصحة الحط نقد اولا والصواب ما نقله السندی عن الظهیریة ان لا یصح الحط نقد اولم ینقد فی هذه المسئلة (التحریر المختار ص ـــ ج ـــ)

همدغه شان تقیید بالشرط سره متعلق په تنویر او علائیه کښې دی چې تقیید اگرچې مبطل د ابراء خو نهٔ دې. لیکن تقیید به هلته صحیح کیږی چې شرط مقدم وی،که چیرې شرط مؤخر ذکر کړې شو نو دا تقیید صحیح نهٔ دې.لهذا په هر حال کښې به بری شی.برابره خبره ده که ادا ئې کړی او که ادا ئې نه کړی.البته که په تفصیل او تشریح سره ئې بنهٔ پوره صراحت وکړو چې (پنځه سوه ورکړی نو باقی به ورته پاتې وی خو په دې شرط چې صباله به ئې ورکوی او که صباله ئې ورنهٔ کړې نو نهٔ به بری کیږی) نو دا تقیید صحیح دې،که شرط اوموندلې شو نو بری به شی او که ونهٔ موندلې شو نو نهٔ به وی بری.

قال فی التنویر اد الی خمسمائة غدا من الالف لی علیك علی انك بریء من الباقی فقبل بریء وان لم یؤد ذلك فی الغد عاد دینه وان لم یوقت لم یعد وکذا لو صالحه من دینه علی نصفه یدفعه الیه غدا وهو بریء مما فضل علی انه

ان لم یدفعه غدا فالکل علیه کان الامر کما قال وان ابراه عن نصفه علی ان یعطیه ما بقی غدا فهو بریء ادی الباقی الغد اولا (ردالمحتار ص ج)

لیکن صحیح دا معلومیږی چې مطلقاً ابراء به مقید وی، برابره خبره ده که ادا ئې مقدم ذکر کړې وی او که ابراء ئې مقدم ذکر کړې وی، ځکه چې علامه مرغینانی رحمه الله کوم دلیل په وخت د ابراء د تقدیم د دې د په عدم تقیید باندې ذکر کړې دې دهغې خلاصه داده چې لفظِ ابراء اولا مطلق دې، او لفظ (علی) د معاوضې او دشرط دواړو د پاره مستعمل دې، لهذا د معاوضې په صورت کښې ابراء مقیده نه شوه او په تقدیر د شرط سره به ابراء مقیده وی، لهذا په شک سره به تقیید نه ثابتیږی.

دا دلیل باطل دې ځکه چې دلته علی د معاوضې د پاره اخستل صحیح نه دی، ځکه چې ادا لره عوض ګرځول صحیح نه دی، ځکه چې ادا خو هسې هم واجب ده، لهذا د علی د شرط د پاره متعین کیدل متعین شو.

بله دا چې په تکمله د فتح القدیر کښې په ص ۴۵ ج ۷ کښې هم په دواړو صورتونو کښې په فرق باندې بحث ذکر کړې شوې دې.

د دې نه علاوه د تنویر په دې جزئیه باندې علامه شامی رحمه الله فرمائیلې دی:

(قوله ما بقی غدا) لو قال ابراتك عن الخمسة علی ان تدفع الخمسة حالة ان کانت العشرة حالة صح الابراء لان اداء الخمسة یجب علیه حالا فلا یکون هذا تعلیق [1] الابراء بشرط تعجیل الخمسة ولو مؤجلة بطل الابراء اذا لم یعطه الخمسة جامع الفصولین کذا فی الهامش (ردالمحتار ص ج)

لان اداء الخمسة الخ نه تعلیل دال دې چې د ابراء د تقدیم په حالت کښې هم تقیید په مفید قید سره صحیح دې، او (ولو مؤجله ـ الخ) کښې خو د دې بالکل تصریح ده.

حاصل د خبرې دا چې تعلیق بالشرط په هر صورت کښې مبطل د ابراء دې او تقیید بالشرط په هر صورت کښې صحیح دې، او په هر حال کښې به ابراء د شرط په وجود سره مقیده وی.

دا اختلاف د روایاتو صرف په لفظ د علی باندې مبنی دی، ځکه چې په دې کښې د معاوضې او د شرط د دواړو احتمال موجود دې، لهذا که چیرې لفظ د شرط ئې صراحتاً استعمال کړو نو په اتفاق سره به په هر حالت کښې ابراء مقیده وی، برابره خبره ده که شرط مقدم وی او که مؤخر وی.

فقط والله سبحانه وتعالی اعلم　　۵ صفر ۱۳۷۱ هجری.

---

۱ ـ استعمل ههنا لفظ التعلیق موضع التقیید کما قال فی موضع اخر من الشامیة والمراد من التعلیق المذکور التقیید بالشرط بقرینة الامثلة المذکورة (ردالمحتار ص ج کتاب البیوع) وایضا فیها لعله اراد بالتعلیق التقیید بالشرط فانهم یطلقون علیه لفظ التعلیق (ردالمحتار ص ج قبیل باب الصرف) منه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿وَمَا تَوۡفِيۡقِيۡٓ اِلَّا بِاللّٰهِ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَاِلَيۡهِ اُنِيۡبُ﴾

اداء القرض من الحرام

د حرام مال نه قرض ادا کول صحیح نه دی

افاضه

حضرت فقیه العصر دامت برکاتهم

لیکوال

حضرت مفتی عبدالرحیم صاحب مدظله

❁❁❁❁❁❁❁

اداء القرض من الحرا م

دا یوه عامه اومشهوره خبره ده چې چا سره حرام مال وی نو د یو غیرمسلم نه دې قرض واخلی او د حرام مال نه دې قرض ادا کړی.

په دې رساله کښې

په دې باندې خبرداری کړې شوې دې چې د قرض په ادا کولو کښې حرام مال ورکول روا نهٔ دی، او نهٔ په دې سره د مقروض غاړه خلاصیږی.

- په څینې فتاوی کښې واقع شوې تسامح په نښه کول .
- د فقهاء کرامو رحمهم الله د عبارتونو تنقیح او ترجیح، توجیه او تطبیق

اداء القرض من الحرام

(۱) **سوال**:- فتاوی عزیزی (طبع مجیدی کانپور ص ۲۸) کښې لیکلي شوي دي:

(سوال) که یو سړي په شرعي طریقه باندې قرض واخلي او په هغې باندې جمات جوړ کړي بیا درشوت وغیره په ناجائزه طریقې سره مال حاصل کړي او ددې مال نه قرض ادا کړي نو داسې جمات جوړول شرعا صحیح دي او که نه؟

(جواب) داسې جمات جوړول روا دي شرعا به په دې باندې د جمات حکم لګولې شي.په داسې جمات کښې د ثواب طمع شته،ځکه چې د قرض د مال نه به دغه سړي دا جمات جوړوي.اګرکه دا قرض هغه د خبیث مال نه ادا کړي، لیکن کله چې دغه سړي قرض ادا کوي نو دغه وخت به د دې مال د خبث اثر په دې ړومبي مال کښې نهٔ وي کوم چې قرض اخستې شوې وو. والله اعلم. اهـ

او په (مجموعه فتاوی مولانا عبدالحی صاحب لکهنوی رحمه الله ص۱۸۷ ج ۱ کښې داسې قسمه فتوی لیکلې شوې ده:

(سوال) که ډمې یا زنا کارې قرض پیسې واخستې او په هغې باندې ئې جمات جوړ کړو.بیا ئې د خپل حرام مال نه دغه قرض ادا کړو نو د دې به څه حکم وي ؟

(جواب) هغه جمات به په حکم د جمات کښې وي او قرض به هم ادا شي،په (سراجیه)کښې دي:

المغنية اذا قضى دينها من كسبها اجبر الطالب على الاخذ

اوس دا پوښتنه کول دي چې آیا د شاه عبدالعزیز صاحب دهلوی رحمه الله او د مولانا عبدالحی صاحب لکهنوی رحمه الله دا فتوی صحیح ده او که نه؟ او که چرې صحیح نهٔ ده نو ولې ؟

۲ - دویمه خبره دا ده چې د وقف یوه لویه اندازه پیسې په بانک کښې داخې کړې شوې.د داخلونکي واقف نیت بالکل د سود د اخستلو نهٔ وو. لیکن د کوم سړي سره ئې چې ایښودې وې هغه دا پیسې په بانک داخلې کړې او په دې باندې ئې د سود هم ډیرې روپۍ لاست راوړې .اوس آیا داسې څه صورت کیدې شي چې د چا کافر نه دې قرض واخستې شي او هغه پیسې دې په جمات یا په مدرسه کښې ولګولې شي او بیا د دغه کافر دا قرض دې د سود د پیسو نه ادا کړې شي. یا دا دارالحرب لکه د روس وغیره نه دې په دې سودی پیسو باندې څه سامان وغیره راوغوښتې شي.او دغه سامان دې خرڅ کړې شي او د هغې نه حاصلې شوې پیسې دې د وقف په مصرف کښې واخستلې شي.یا د حکومت د اړخه د ټاکلې شوي ټیکس په بدله کښې دې دغه پیسې د حکومت په خزانه کښې داخلې کړې شي.

د حضرت شاه عبدالعزیز صاحب دهلوی رحمه الله او د حضرت عبدالحی لکهنوی رحمه الله ذکر کړي شوو دوارو فتاوو په رڼا کښې به ددې مسئلې څه جواب وی؟د مولانا عبدالحی صاحب رحمه الله په فتاوی ص ۱۹۵ ج ۲ کښې دا هم موجود دی چه:

فی ملتقط الناصری اکل الربوا او کاسب حرام اهدی الیه او اضافه وغالب ماله حرام لا یقبل ولا یاکل مالم یخبره ان ذلک المال حلال ورثه او استقرضه وان کان غالب ماله حلالا لا باس بقبول هدیته والاکل معه

د دې نه دا هم معلومه شوه چې هغه سړې د چا چې ټول مال حرام دې خیرات کول وغواړی نو قرض دې واخلی او د خپل خبیث مال نه دې دغه قرض ادا کړی او چې قرض واخلی او هغه ورکړی نو د دې به دۀ ته ثواب ورکول کیږی. او نذر او ډالۍ وغیره اخستل هم ددې نه صحیح دی.

په حفظ الاصغرین کښې دی چه:

فی الخلاصة قال فی شرح حیل الخصاف شمس الائمة ان الشیخ اباالقاسم کان ممن یاکل جائزة السلطان وکان یستقرض جمیع حوائجه ویقضی دینه مما یاخذه من الجائزة

طمع لرو چې تاسو حضرات به دا فتاوې مخې ته وساتئ او اصل مسئله به مونږ ته واضحه کړئ .بینوا توجروا.

عبدالرشید نعمانی

جامعة العلوم الاسلامیه بنوری ټاون کراچۍ

الجواب باسم ملهم الصواب : الربوا والرشوة واجرة الزنا واجرة الغناء کل ذلک حرام سحت لم یخرج عن ملک صاحبه فلا یجوز تأدیة القرض به ولو اعطاه لم یحادلانه مال الغیر فلا یملکه المقرض لان الحرام لا یحل بتبدل الید کما سیتضح من التفصیل الآتی.

الکلام علی ما فی الفتاوی العزیزیة :- نذکر اولا انواع المال الخبیث واحکامها ثم نتکلم علی جواب الفتاوی العزیزیة فنقول وبالله التوفیق وبیده ازمة التحقیق:

اعلم ان الخبث فی المال خبثان: الاول :خبث عدم الملک کالغصب(رد المحتار ص " ج ")وکالرشوة (شامیة ص " ج ")، وحکم هذا النوع ان هذا المال حرام سحت ینتقل حرمته من ذمة الی ذمة ولو تبدلت الایدی وبیعه لایفید ملکا للمشتری وکذا الاقراض(رد المحتار ص " ج ")

الثانی: خبث فساد الملک ثم هو قسمان: الاول: ما ثبت فیه الملک بعقد من العقود کالبیع الفاسد

وحكمه انه لا يطيب للعاقد ويجب رده بفسخ العقد ويكره شراؤه للمسلمين واستقراضه ايضا لكونه مانعا للرد لكنه يطيب للمشتري والمستقرض لزوال المانع (ردالمحتار ص ج)

والى هذا النوع يتجه ما تكرر ذكره في كلام الفقهاء رحمهم الله من ان تبدل الملك يوجب تبدل العين

الثاني: ما ثبت من دون عقد ما كخلط مال الغير بمال الغير او بمال نفسه بحيث لا يتميز فان مثل هذا الخلط استهلاك موجب للملك للخالط في اصل الامام رحمه الله.

وفي حكم هذا المخلوط ثلاث روايات:

الرواية الاولى: يجوز الانتفاع للخالط بنفس الخلط

ولا يخفى ان هذه الرواية يردها القران والسنة والاجماع والقياس فلا عبرة بها.

الرواية الثانية: لا يحل باداء الضمان ايضا بل يجب تصدقه بكل حال

وهذه مرجوحة ايضا اذ لا وجه لقول الحرمة بعد اداء الضمان او ارضاء المالك باختياره

الرواية الثالثة: يحل باداء الضمان او اختياره فبدونه لا يحل له الانتفاع ولا يجوز شراؤه ولا استقراضه ولا استهداؤه لكن يملكه الاخذ ملكا خبيثا كما كان للماخوذ منه فلا يطيب له ما لم يؤد بدله او يختر الضمان في الصحيح من المذهب (ردالمحتار ص ج)

اذا تحقق هذا فليتحقق لك بالضرورة ان ما في الفتاوى العزيزية من ان الدين يتادى بمال خبيث لا يصح على الاطلاق كما قد عرفت في احكام انواع الخبيث ولا يمكن حمله على الاول من نوعي فساد الملك لان السؤال عن اداء الدين بمال الرشوة ولا على المال المخلوط حتى يحمل على رواية ضعيفة.

فالاقرب انه مبني على ما نقل عن بعض الحنفية ان الحرام لا يتعدى الى ذمتين

قال في العلائية: الحرام ينتقل (الى) وفي حظر الاشباه: الحرمة تتعدد مع العلم بها الخ

وفي الشامية: (قوله الحرمة الخ) نقل الحموي (الى) وما نقل عن بعض الحنفية من ان الحرام لا يتعدى ذمتين سالت عنه الشهاب بن الشلبي فقال: هو محمول على ما اذا لم يعلم بذلك اما لو راى المكاس مثلا ياخذ من احد شيئا من المكس ثم يعطيه اخر ثم ياخذ من ذلك الاخر اخر فهو حرام اهـ (شامية ص ج)

الكلام علي مجموعة الفتاوي:

احتج العلامة رحمه الله بما في السراجية حيث اباح اجرة المغنية ثم قاس عليها اجرة الزانية.

لکن الحق ان اجرة المغنية حرام ولا عبرة بقول الحل قال العلاء رحمه الله:

ولا تصح الاجارة لعسب التيس وهو نزوه على الاناث ولا لاجل المعاصي مثل الغناء والنوح والملاهي ولو اخذ بلا شرط يباح

(قوله يباح) كذا في المحيط وفي المنتقى: امرأة نائحة او صاحبة طبل او زمر اكتسبت مالا ردته على اربابه ان علموا والا تتصدق به وان من غير شرط فهو لها.

قال الامام الاستاذ: لا يطيب والمعروف كالمشروط اه

قلت وهذا مما يتعين الاخذ به في زماننا لعلمهم انهم لا يذهبون الا بأجر البتة ط (ردالمحتار ص۳۵ ج۶)

قلت فقياس اجرة الزانية على اجرة المغنية بناء الفاسد على الفاسد

وما نسب الى الامام رحمه الله من ان الاجارة على الزنا فاسدة والاجرة في الفاسد منها يحل اخذها و يملكها الاخذ فهو باطل للوجوه الاتية:

۱- مخالف للقرآن كما هو ظاهر لمن اعطاه الله مسكة من فهم.

۲- قال رسول الله ﷺ مهر البغي خبيث

۳- عقد الاجارة على العمل الحرام باطل بعض الفقهاء قاطبة رحمهم الله

٤- يرده العقل ردا شديدا.

۵- فتح لابواب الفواحش

فلذا حمله بعضهم على ما اذا استأجر لعمل مشروع كالطبخ مثلا مع شرط الزنا والحق ان هذه الرواية غير ثابتة عن الامام رحمه الله كما نقل العلامة الرافعي رحمه الله عن الحموي رحمه الله ونصه:

ثم رايت السندي قال نقلا عن الحموي ما ذكره شرح المجمع عن المحيط ان ما تاخذه الزانية بعقد الاجارة حلال عنده لم ار فيه وبعيد عن الامام المعروف بالورع فتح هذا الباب (التحرير المختار ص۸۲ ج۲)

وعلى هذا فلا يجوز اداء القرض من الربوا لانه مال الغير فيكون معطيا مال الغير.

وما في المجموعة عن الملتقط فليس فيه الاستقراض اكل الربوا و كاسب الحرام وهو خارج عما نحن فيه لان الكلام في اداء القرض من الحرام والاستقراض لا يلزمه نفس الاداء فضلا عن اللزوم بمال معين

وما فی شرح الحیل لمحمول علی ما اذا لم یعلم ان غالب مال السلطان حلال او حرام او علی ما اذا یعلم ان غالبہ مالہ حلال

وفی ہاتین الصورتین یجوز الاخذ وکان الشیخ المذکور یعمل ما یعمل لامکان ان یکون الماخوذ من الحرام الغیر المعلوم او من الحرام القلیل ولما لم یعتبر الشرع ہذا الامکان فی الجواز حمل عملہ علی الورع لا علی اللزوم لامحالۃ والا فالجائزۃ لا تخلو اما حلال واما حرام ان حلالا فلا یصح الاستدلال اذا الکلام فی الحرام و ایضا فای فائدۃ ح فی حیلۃ الاستقراض وان کانت حراما فلا یحل الاخذ ویعارض ایضا ما فی الملتقط علا ان کتاب شرح الحیل لیس مما یحتج بہ عند الفقہاء ﷺ

والحاصل ان القرض لایتادی بکسب الزانیۃ والمغنیۃ والربوا لان الاجارۃ علیہما باطلۃ فلم تملک الزانیۃ والمغنیۃ ما اعطیتا من الاجر فھو مال الغیر ومال الغیر لا یتادی بہ القرض والحرام لا یحل بتبدل الید وکذا الربا ہذا ما عندی واللہ تعالی اعلم.

عبدالرحیم
نائب مفتی دارالافتاء والارشاد
۱۹ رجب لیلۃ الجمعۃ ۱۴۱۰ ھجری

باب الكفالة والحوالة والوكالة

كفيل بالامر به مكفول عنه ته رجوع كوى او د حوالې د صحت د پاره د محتال عليه رضا شرط ده

سوال - زيد كه عم فاطمه است از زوج فاطمه مسمى بخالد مهر فاطمه گرفت.بعده خالد فاطمه را گفت كه مهر من واپس بده تاكه من ترا طلاق دهم، پس فاطمه كسى راگفت كه از شخصى رقم گرفته بكفالت خود مرا بده تا از خالد خلاصى حاصل كنم. رقميكه از كسى بكفالت خود خواهى گرفت از پسران زيد وصول خواهى كرد. چراكه بذمهء زيد مهر من ست كه از خالد وصول كرده فوت شد. پس كفيل از عمرو رقم گرفته فاطمه راداد. بعده عمرو از كفيل مطالبه كرد و كفيل از پسران زيد مطالبه كرد، مگر پسران ميگويند كه ما را متعلق اين حواله هيچ علم نيست، اكنون درين باب فيصلهٔ شريعت مطهره چيست ؟ بينوا توجروا ـ

الجواب و منه الصدق والصواب : كسيكه كفالت قبول كرده است براى عمرو، آن كفيل از جانب فاطمه است و براى فاطمه به امرش قرض گرفته است از عمرو، پس اين كفيل راحق رجوع خواهد رسيد بر مكفول عنها يعنى فاطمه .اما كه فاطمه حواله كرده است دين خود را به پسران زيد، پس اين حواله باطل است، چراكه محتال عليهم يعنى پسران زيد برين حواله راضى نه شده اند و رضاى محتال عليه براى صحت حواله شرط است پس كفيل را بر پسران زيد حق رجوع نيست، بلكه بر فاطمه رجوع كند و فاطمه بر پسران زيد رجوع كند در تركه زيد. بشرطيكه زيد برمهر فاطمه بطور قرض قبض نموده باشد اما درصورت ثبوت هبه مهر از جانب فاطمه مر زيد را بر پسران زيد، فاطمه راحق رجوع نيست .

قال فی شرح التنویر: فان لوزم الکفیل لازمه ای لازم هو الاصیل ایضا حتی یخلصه واذا حبس له حبسه هذا اذا کفل بامره ولم یکن علی الکفیل للمطلوب دین مثله والا فلا ملازمة ولا حبس سراج (رد المحتار ص ... ج ...)

وایضا فی کتاب الحوالة من التنویر شرط لصحتها رضا الکل بلا خلاف الا فی الاول

وفي الشامية تحت (قوله رضا الكل) واما رضا الثالث و هو المحتال عليه فلانها الزام الدين ولا لزوم بلا التزام درر (ردالمحتار ص۳ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ذي القعدة ۱۴۰۳ هجري

د حوالې حکم

سوال:- دعبدالله لخوا د عبدالرحمن په ذمه باندې څه قرض وو چې هغه د عبدالرحمن نه مطالبه وکړه نو عبدالرحمن ورته اووئيل چې زما په عبدالرحيم باندې قرض دې هغه پيسې تهٔ د هغهٔ نه واخله، او بيا يې د عبدالله په وړاندې عبدالرحيم ته هم اووئيل چې ستا په ذمه کوم قرض دې هغه عبدالله ته ورکړه اوس عبدالرحيم عبدالله له هغه قرض نه ورکوي.

اوس پوښتنه دا کول دي چې آيا عبدالله د عبدالرحمن نه په شرعي توګه د د خپل قرض مطالبه کولې شي اوکه نه ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دا حواله ده، هر کله چې د محتال عليه نه قرض وانه خستل شو نو په اصل مقروض باندې به قرض راواپس شي، لهذا عبدالله د عبدالرحمن نه د قرض مطالبه کولې شي. والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۱ ذي قعده ۱۳۹۹ هجري

په عربو ملکونو کښې د کفيل رواج شوې د اجر حکم

سوال:- زهٔ د عمان اوسيدونکې يم، ما د يو هوټل اجازت نامه اخستې ده، ما سره يو پاکستانې ورور شريکيدل غواړي، دکان به زما په نوم وي ځکه چې زهٔ د عمان اوسيدونکې يم، او چې د څومره کسانو ضرورت وي نو هغوی ته به زهٔ په خپله ذمه ويزه ورکوم، د دکان او د سړيو ذمه واري به په ما باندې وي، زما شريک به د دې ذمه وار نه وي، چې څه هم وشي حکومت به ما نيسي، زماشريک به نهٔ نيسي. اوس لکه څنګه کار چې دلته دعمان خلق کوي د هغې په مطابق ما هغه ته اووئيل چې د هوټل کرايه او ټول خرچ ورسره د سړيو تنخوا ګانې ټول هر څه به زما د شريک په ذمه وي، او ما ته به هره مياشت دوه سوه يا درې سوه عماني رياله راکوي شرعاً د دې څه حکم دې؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دا صورت روا نهٔ دې، روا طريقه دا ده چې تهٔ هوټل په کرايه باندې واخله، او د دې په تعمير يا په فرنيچر کښې څه اضافه وکړه، او د دې چې څومره د مياشتې کرايه ده نو په هغې باندې دوه درې سوه درهمه زيات او خپل پاکستانی ورور له ئې په کرايه باندې ورکړه. والله سبحانه وتعالى اعلم. ۴ رجب ۱۴۰۱ هجري

وکيل د نابالغه هلک زمکه نهٔ شی خرڅولې

سوال: - زيد نابالغه وو دهغه وکيل له عمرو سره د زيد زمکه بدله کړه او په کاغذونو باندې ئې د زيد دستخطونه هم واخستل، اوس زيد بالغ شو، نو آيا تيره شوې رضا به کافی ګڼلې شی او که نه دوباره به رضا حاصلول ضروری وی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که چيرې د زيد وکيل د زيد د پلار يا د نيکهٔ وصی وو نو دا بدلون په کښې بيا صحيح دې، خو په دې شرط چې زيد ته په بدلون کښې ورکړې شوې زمکه د زيد د خپلې زمکې د قيمت نه دوچنده وی، که د دې نه د کم قيمت وی نو بيا صحيح نه ده.

او که چيرې دا وکيل د زيد پلار يا نيکهٔ نهٔ وی متعيق کړې نو بيا دې په هيڅ صورت کښې هم د زيد زمکه نهٔ شی خرڅولې، دا مبادله به کالعدم ګڼلې.

فی شرح التنوير: وجاز بيعه (الوصی) عقار صغير من اجنبی لا من نفسه بضعف قيمته (الی قوله) وهذا لو البائع وصيا لا من قبل ام او اخ فانهما لا يملكان بيع العقار مطلقا ولا شراء (ردالمحتار ص ... ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۸ رمضان ۱۳۹٤ هجری

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي الْبِلَادِ ۝١٩٦ مَتَاعٌ قَلِيلٌ ثُمَّ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ۝١٩٧ لَٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا نُزُلًا مِّنْ عِندِ اللَّهِ ۗ وَمَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ لِّلْأَبْرَارِ ۝١٩٨﴾ (۳_ ۱۹۶ نه ۱۹۸)

کتاب القضاء والدعوی والشهادات

قضاء په غائب باندې د ضرورت په توګه روا ده

دا بحث په کتاب النکاح کښې د (حکم غائب غیر مفقود) تر عنوان لاندې تیر شوې دی۔

د دروغو په شهادت سره د قضاء حکم

دا بحث په کتاب التفسیر والحدیث کښې تیر شوې دی۔

شاهد ته قسم ورکول

سوال: د زید یو سړی سره جګړه ده. په خپل حق کښې د فیصلې کولو دپاره هغه یو نقلی او جعلی خط ولیکلو او څه خلق ئې په خپلو خبرو کښې راوستل او په هغه خط باندې یې تړې نه دستختونه واخستل. دا اندیښنه شته چې هر کله دې جعلی ګواهانو ته د معاملې د حقیقت علم وشی نو بیا به هم د زید په مرستې کولو باندې مجبوره شی، او د حاکم په وړاندې به ښه صفا دروغ اووائی چې مونږ ددې معاملې د کیدلو عینی ګواه یو. اوس سوال دا دې چې آیا په دې صورت کښې به حاکم د پاره دا روا وی چې هغه دې ګواهانو له قسم ورکړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چې حاکم مناسب وګنی نو شاهد له قسم ورکولې شی.

قال فی شرح التنویر: فلو امر قضاته بتحلیف الشهود وجب علی العلماء ان ینصحوه ویقولوا له لا تکلف قضاتك الی امر یلزم منه سخطك او سخط الخالق تعالی

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: تحت قوله (سخطك) ونقل عن الصیرفیة جواز التحلیف وهو مقید بما اذا رآه القاضی جائزا ای بان کان له رای اما اذا لم یکن له رای فلا ط عن ابی السعود والمراد بالرای الاجتهاد (رد المحتار ص ۳۷۰ ج ۴)

وايضا فی شرح التنوير: وفی البحر عن الخلاصة يحلف الشهود فی زماننا لتعذر التزکية اذ المجهول لا يعرف المجهول والرأة المصنف ثم نقل عنه عن الصيرفية تفويضه للقاضی فليحفظ ولا تلتبس مامر عن الاشباه.

وفی الحاشية: ای قبيل التحکيم من ان الامام لو امر قضاته بتحليف الشهود وجب علی العلماء ان ينصحوه ويقولوا له الخ (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۹ شوال ۱۳۸۸ هجری

د پورتنی سوال په شان يو بل سوال

سوال:- نن صبا په عدالتونو کښې د ګواهئ د پاره قسم ورکولې کيږی، ددې نه بغير د رښتونې ګواهی طمع نه شی کولې، آيا د ضرورت په توګه داسې کول روا دی او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: هو! روا دی. والله سبحانه وتعالی اعلم ۷ جمادی الاولی ۱۳۸۹ هجری

د مدعی د ګواهانو باوجود د مدعلی عليه په قسم باندې فيصله کول

سوال: زيد مکې مکرمې ته د تلو د پاره عمرو له ديارلس سوه روپئ ورکړې وې. ورسره دا چې د عمرو يو شريک هم وو چې نوم يی «کالاميا مستری» وو، هر کله چې عمرو سعودی ته د تلو د پاره روانيدلو نو هغه وخت د زيد چې کومې پيسې وې په عمرو باندې نو د هغې ذمه واری کالاميا واخسته، او بنه په رضا او رغبت سره کالاميا مستری د يو څو معتبرو کسانو په وړاندې د دې اقرار او عهد هم وکړو چې هر څه وی ستا پيسې به زه ادا کومه. اوس هر کله چې زيد د کالاميا مستری نه د پيسو مطالبه وکړه نو کالاميا بالکل انکار وکړو، بيا زيد په محله کښې د کالاميا په حقله جرګه راوسته، ليکن د کلی او د محلې جرګې والو د زيد ګواهان مسترد کړل او فيصله ئې د کالاميا په حق کښې وکړه او ورته ئې اووئيل چې ته قسم وخوره چې د زيد پيسې ما نهٔ دی اخستې او نهٔ ما د دې پيسو د ورکولو ذمه واری اخستې ده. اوس دا تپوس کول دی چې آيا د مدعی د ګواهانو په موجودګئ کښې په منکر باندې قسم راتلی شی او که نه؟ او د محلې د خلقو فيصله شرعاً صحيح ده او که نه؟ او زيد د خپلو روپو د طلب کولو حق لری او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: هر کله چې مدعی سره ګواهان موجود وی نو د مدعی عليه په قسم باندې فيصله کول غلط دی او د شريعت خلاف دی، د محلې د خلقو د د ګواهانو ګواهی نه قبلول او په قسم باندې فيصله کول سخته ګناه ده. قال رسول الله ﷺ البينة علی المدعی واليمين علی من انکر.

والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۶ ذی الحجه ۱۳۹۸ هجری

قضاء په علم د قاضي سره معتبره نه ده

سوال:- که چرې قاضي ته د مدعي د ريښتونی کيدلو علم په ذاتي توګه باندې وی نو آيا بې د ګواهانو نه قاضي صرف د خپل علم د وجې نه د مدعي په حق کښې فيصله کولې شي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: نه! دا روا نۀ دی.

قال العلائی رحمه الله: (والكتابة بعلمه كالقضاء بعلمه) فی الاصح بحر فمن جوزه جوزها ومن لا فلا الا ان المعتمد عدم حكمه بعلمه فی زماننا اشباه

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: تحت قوله (فمن جوزه جوزها) وشرط جوازه عند الامام ان يعلم فی حال قضائه فی المصر الذی هو قاضيه بحق غير حد خالص لله تعالى من قرض او بيع او غصب او تطليق او قتل عمد او حد قذف فلو علم قبل القضاء فی حقوق العباد (الى قوله) فرفعت لا يقضی عنده وقالا يقضی الخ (قوله الا ان المعتمد) ای عند المتاخرين لفساد قضاة الزمان وعبارة الاشباه الفتوى اليوم على عدم العمل بعلم القاضی فی زماننا كما فی جامع الفصولين (وبعد سطرين) هذا موافق لما مر عن الفتح من الفرق بين الحد الخالص لله تعالى وبين غيره ففی الاول لا يقضی اتفاقا بخلاف غيره فيجوز القضاء فيه بعلمه وهذا على قول المتقدمين وهو خلاف المفتى به كما علمته (ردالمحتار ص۳۰۳ ج۴) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۷ ذی الحجه ۱۴۰۳ هجری

د مدعي په قسم باندې فيصله کول غلط دی

سوال:- د يو مولوی صاحب له کورنه غلا وشوه، په يو سړی باندې دغه مولوی صاحب د غلا دعوی وکړه، ليکن هغه سړی اووئيل چې قسم کولو ته تيار يم، مولوی صاحب اووئيل چې زۀ هم قسم کولو ته تيار يم. لهذا مولوی صاحب قسم وخوړلو او د هغه سړی نه ئې د غلا پيسې واخستې، حال دا چې مدعی عليه په خپله قسم کولو ته تيار وو، دمولوی صاحب په قسم باندې راضي نه وو. ليکن د خلقو په مجبوره کولو باندې ئې مولوی صاحب هغه پيسې ورکړې

الجواب باسم ملهم الصواب: دا پيسې د مولوی صاحب د پاره حلالې نه دې. البينة على المدعی واليمين على من انكر والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۷ شوال ۱۳۷۱ هجری

وړه بکرۍ په شهادت سره غټه ثابتول او بيا د هغې عقيقه کول روا نۀ دی

دا مسئله په کتاب الاضحيه والعقيقه کښې شته. هلته دې وکتلې شی

د مورث نه په بیعه باندې د اخستلو دعوی کول

سوال- مسمی زید دو قطعه زمین که باهم متصل بودند یک بند خشکا به بطور حد فاصل درمیان اینها بود همین خشکابه که این وقت آباد، و آن دیگر بکاریز آباد شده بود آن وقت غیر آباد بود مسمی زید که این وقت زمین بند خشکابه آباد بود بامسمی عمرو فروخت نمود. بعد از وفات شدن زید مسمی عمرو بند زمین کاریزی مذکورات بالا درتصرف خود کرد که کلهم زمین یک ست و بمن فروخت شده اند بیک عقد، پسر بائع درین مزاحمت کرد، پس درین دعوای عمرو شرعاً بیک عقد قرار و ثابت نه گردید،آیا اصل این بیع درست ست یا نه؟ بینوا بالحق والصواب ـ

الجواب و منه الصدق والصواب : بیع این قطعه زمین که پسر بائع اقرار بیع اومی کند صحیح و درست ست، اما قطعه متنازعه فیها پس تاو قتیکه عمرو مشتری باشهادت شرعیه خریدنش ثابت نه کند دعوای او مسموع نیست، اگرمشتری از پیش کردن شهادت عاجز گردد بر پسر بائع که مدعی علیه ست بشرط طلب مشتری حلف لازم خواهد شد که او رامتعلق بیع اراضی معهوده هیچ علم نیست، اگر مدعی علیه از حلف انکار کند دعوای مشتری ثابت خواهدشد .

قال فی شرح التنویر: واذا ادعی بکر سبق الشراء له علی شراء زید ولا بینة یحلفه خصمه وهو بکر علی العلم ای انه لایعلم انه اشتراه قبله لما مر کما اذا ادعی دینا او عینا علی وارث اذا علم القاضی کونه میراثا او اقربه المدعی او برهن الخصم علیه فیحلف علی العلم .(ردالمحتار کتاب الدعوی ج۴) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۷ صفر ۱۳۷۲ هجری

دنابالغه هلک په شهادت سره بالغ ثابتول صحیح نهٔ دی

دا مسئله په مسائل شتی کښې شته ، هلته دې وکتلې شی .

د شهادت د تحمل په وخت کښې بلوغ شرط نهٔ دې

سوال : که یو سړې د لس یادولس کالو په عمر کښې یوه واقعه اووینی او پس د بلوغ نه په هغې باندې گواهی ورکړی نو آیا دا گواهی به قابل د قبول وی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب ومنه الصدق والصواب : د شهادت د تحمل په وخت کښې بلوغ شرط نه دې. تمیز راوستونکې عقل کافی دې.لهذا په ذکر شوې صورت کښې به د دهٔ شهادت د قبولو قابل وی

قال فی العلائیة: وشرائط التحمل ثلاثة العقل الکامل ووقت التحمل

وفی الشامیة: المراد مایشمل التمییز بدلیل ماسیأتی فی الباب الاتی (ردالمحتار ج۴)

وایضا فی العلائیة لا تقبل (الی قوله) وصبی ومغفل ومجنون الا فی حال صحته الا ان یتحملا فی الرق والتمییز وادیا بعد الحریة ولو لمعتقه کمامر وبعد البلوغ (ردالمحتار ج۴) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۲ ذی قعده ۱۳۷۲ هجری

د بائع د مرګ نه پس مشتری د بائع په وارثانو باندې د مبیعې د استحقاق د وجې نه د ثمن د رجوع دعوی وکړه

سوال: د بائع د وفات نه پس په وارثانو د بائع باندې مشتری ددې خبرې دعوی کوی چې د دوی دمورث نه چې ما کومه مبیعه اخستې وه د هغې مالک او مستحق یو بل سړې دې،د دې وجې نه مشتری د بائع په وارثانو باندې رجوع بالثمن کول غواړی،وارثان د بائع د مبیعې د استحقاق منکر دی. آیا په دې صورت کښې په هغوی باندې ثمن لازم دې او که نه؟

الجواب و منه الصدق والصواب: مشتری چې مدعی دې په استحقاق باندې په دهٔ باندې بینه لازمه ده،که چیرې مدعی بینه نه شی پیش کولې او د بائع د وارثانو نه د قسم مطالبه کوی نو وارثان دې په عدم د استحقاق باندې قسم وخوری، غرض دا چې تر څو پورې مدعی په دلیل سره دا ثابت نه کړی چې هغه مبیع کوم چې ئې د مورث نه اخستې وه د هماغې مستحق راظاهر شوې دې. نو تر هغه وخته پورې د وارثانو د بائع نه د دې مبیع ثمن نه شی اخستې.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: والتحلیف علی فعل غیره یکون علی العلم ای انه لایعلم انه کذلک لعدم علمه بما فعل غیره ظاهرا (الی قوله) کذا اذا ادعی دینا او عینا علی وارث (الی قوله) یحلف علی العلم. (شرح التنویر کتاب الدعوی) والله سبحانه وتعالی اعلم.

٤ جمادی الاول ۱۳۷۳ هجری

د قرض په ادا کولو کښې د دائن او د مدیون اختلاف

سوال: چې د قرض په ادا کولو کښې د دائن او د مدیون اختلاف راشی نو په دوی کښې به مدعی څوک وی او مدعی علیه به په کښې څوک وی؟

الجواب و منه الصدق والصواب په دوی کښې به مدیون مدعی اودائن به په کښې مدعی علیه وی

قال فی شرح التنویر: ادعی المدیون الایصال فانکر المدعی ذلک ولا بینة له علی مدعاه فطلب یمینه فقال

المدعی اجعل حقی فی الخصم ثم استحلفنی له فلك.(ردالمحتار ج۴) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۴ جمادی الاولی ۱۳۷۳ هجری

د مورث په مال کښې د هبې دعوی کول

سوال:- یو سړې دعوی کوی چې مورث ما ته فلانې څیز راکړې وو او ما له ئې پرې قبضه هم راکړې وه، او وارثان وائی چې دا څیز په وراثت کښې مونږ ته ملاو شوې دې، په دې صورت کښې به مدعی څوک وی؟

الجواب و منه الصدق والصواب: د هبې دعوی کوونکې مدعی دې او وارثان مدعی علیه دی، خو په دې شرط چې دا څیز د وارثانو په قبضه کښې وی.

قال فی التنویر: کذا اذا ادعی دینا او عینا علی وارث اذا علم القاضی کونه میراثا او اقر به المدعی او برهن الخصم علیه فیحلف علی العلم. وفی الشامیة: (قوله فیحلف) ای الوارث (ردالمحتار ج۴)

وایضا فی شرح التنویر: وهبت مهرها لزوجها فماتت وطالبه ورثتها بمهرها وقالوا کان الهبة فی مرض موتها وقال بل فی الصحة فالقول للورثة هذا ما اعتمده فی الخانیة تبعا لروایة الجامع الصغیر بعد نقله لما فی فتاوی النسفی ان القول للزوج فقال والاعتماد علی تلك الروایة لانهم تصادقوا علی وجوب المهر واختلفوا فی السقوط فالقول لمنکره الی اخره قلت و اقره فی تنویر البصائر واعتمده شیخنا الخ (قوله فالقول للورثة) هذا عند عدم البرهان فان اقاموا البرهان فالبینة بینة من یدعی الهبة فی الصحة الخ (قوله هذا ما اعتمده فی الخانیة) و تصحیح قاضیخان من اجل التصاحیح وهذا من المسائل التی رجحوا القیاس فیها علی الاستحسان سائحانی (قوله الی اخره) هو قوله ولان الهبة حادثة والاصل فی الحوادث ان تضاف الی اقرب الاوقات اه (ردالمحتار ج۴) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۴ جمادی الاولی ۱۳۷۳ هجری

په طلاق کښې یو شهادت کافی نهٔ دې

سوال:- د یو سړی په شهادت سره به طلاق ثابت شی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب: د طلاق د ثابتولو د پاره حجتِ تامه ضروری دې. د یو سړې شهادت کافی نه دې.

قال فی التنویر: ولغیرها من الحقوق سواء کان مالا او غیره کنکاح وطلاق ووکالة ووصیة واستهلال صبی للارث رجلان اورجل وامراتان (ردالمحتار ص ج۴) والله سبحانه وتعالی اعلم.

غره ذی قعده ۱۳۷۳ هجری

د طمعي لرونکی شهادت قبول نهٔ دي

سوال - د کوم سړي چې په شهادت کښې څه فائده وی، نو د هغه شهادت معتبر دې او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب: د داسې سړي شهادت معتبر نهٔ دي۔

قال فی شرح التنویر: ومن الشرائط عدم قرابة ولاد اوزوجية او عداوة دنيوية او دفع مغرم او جرمغنم كماسيجيء. (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم غره ذی قعده ۱۳۷۳ هجری

د دښمن شهادت به قبول نهٔ وی

سوال - آیا په دنیاوی معاملاتو کښې د دښمنۍ ساتونکی سړی شهادت روا دې؟ بینوا بالدلیل.

الجواب و منه الصدق والصواب: په دینی معاملاتو کښې د دښمنی ساتونکی سړی گواهی معتبره ده. په دنیوی معاملاتو کښې د دښمنی کوونکی سړی گواهی معتبره نهٔ ده۔

فی شرائط الشهادة من شرح التنویر: عدم قرابة ولاد اوزوجية اوعداوة دنيوية.

وفی الشامية ان شهادة العدو علی عدوه لا تقبل وان کان عدلا وصرح يعقوب باشا فی حاشيته بعدم نفاذ قضاء القاضی بشهادة العدو علی عدوه (ردالمحتار ج) والله سبحانه وتعالى اعلم. غره ذی قعده ۱۳۷۳ هجری

دگیرې پرې کوونکی سړی شهادت قابل د قبلولو نهٔ دې

سوال - د گیرې پرې کوونکی شهادت به شرعا قابل د قبلولو وی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب ومنه الصدق والصواب: گیره پرې کول فسق دې، بلکه د نورو کبیره گناهونو نه هم لویه گناه ده. ځکه چې په دې کښې په علانیه او په ښکاره د شریعت خلاف کول دی، او شریعت سپک گنل دی. او د فاسق گواهی قبوله نهٔ ده.

قال فی شرح التنویر: ویحرم علی الرجل قطع لحيته (ردالمحتار كتاب الحظر والاباحة ج)

وزيادة التفصيل فی کتاب الصوم من شرح التنوير وردالمحتار.

البته که چیرې د عادل گواه د نشت والی د وجې نه د چا د حق تلفئ اندیښنه وی او فاسق سړې د دنیاوی عزت خاوند وی. چې د صدق نې غالب گمان وی، نو بیا د هغه د شهادت قبلول روا دی

والتفصيل فی الشامية والله سبحانه وتعالى اعلم. غره ذی قعده ۱۳۷۳ هجری

د فاسق شهادت

سوال - د فاسق شهادت به قبلولې شی او که نه؟ ځکه چې نن صبا د عادل شاهد موندل ډیره

ګرانه خبره ده. بینوا توجروا.

الجواب ومنه الصدق والصواب: د شهادت د پاره د دین داره ګواهانو د نهٔ ترلاسه کیدلو له کبله د متاخرینو فقهاء کرامو رحمهم الله فتوی ده چې د فاسق شهادت هم د قبلولو قابل دي،بلکه په بعضې وختونو کښې د فاسق په شهادت باندې فیصله کول ضروری شی.لکه چې د چا د حق د ضائع کیدلو ویره وی.

قال الامام علاء الدین ابو الحسن الترابلسی رحمه الله: (مسالة) قال القرافی فی باب السیاسة نص بعض العلماء علی انا اذا لم نجد فی جهة الا غیر عدول اقمنا اصلحهم و اقلهم فجورا للشهادة علیهم ویلزم ذلك فی القضاة وغیرهم لئلا تضیع المصالح قال وما اظن احدا یخالف فی هذا فان التکلیف شرط فی الامکان وهذا کله للضرورة لئلا تهدر الاموال تضیع الحقوق قال بعض واذا کان الناس فساقا الا القلیل النادر قبلت شهادة بعضهم علی بعض و یحکم بشهادة الامثل فالامثل من الفساق هذا هو الصواب الذی علیه العمل وان انکره کثیر من الفقهاء بألسنتهم و کذلك العمل علی صحته کون الفاسق ولیا فی النکاح و وصیا فی المال وهذا یؤید ما نقله القرافی واذا غلب علی الظن صدق الفاسق قبلت شهادة وحکم بها والله تعالی لم یامر برد خبر الفاسق فلا یجوز رده مطلقا بل یتثبت فیه حتی یتبین صدقه من کذبه فیعمل علی ما تبین و فسقه علیه (معین الحکام ص ٣٠)

والله سبحانه وتعالی اعلم. ٢٦شعبان ١٣٩٧ هجری

د طلاق نه پس ښځې په خاوند باندې د سامان دعوی وکړه

سوال: یوې ښځې د طلاق نه پس په خاوند باندې د خپل سامان دعوی وکړه.د خاوند پلار ئې وائی چې د ښځې ټول سامان د پنجاب د تقسیم په فساداتو کښې زمونږ ټول سامان سره لوټ شوي دې، لهذا مونږ سره اوس د ښځې د سامان نه هیڅ خیز هم پاتې نهٔ دې،په دې صورت کښې ښځه په شرعی توګه د خپل سامان د قیمت د اخستلو حق داره ده که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب ومنه الصدق والصواب: د ښځې په ذمه لازم دی چې په شرعی شهادت سره دا ثابت کړی چې د دې مال تر اوسه پورې د سړی په کور کښې پروت دې،یا د پاکستان جوړیدلو نه پس موجود وو. که چیرې ښځه دا خبره په شرعی شهادت سره ثابته کړی نو هغې له به دخاوند نه د هغې د مال قیمت اخستلې شی،او که ښځه شهادت پیش نه کړې شی نو چې د چا په قبضه کښې سامان وو هلک یا د هلک پلار نو هغهٔ دې بیا د مال په هلاکیدلو باندې قسم وخوری.د مدعی علیه د قسم نه پس به بیا د هغوی نه د ښځې د پاره هیڅ نه شی اخستلې. والله سبحانه وتعالی اعلم.

٦ ذی قعده ١٣٧٣ هجری

په شهادت کښې قاضي ته مخامخ کېدل، د مدعی او د مدعی علیه اړخ ته اشاره کول ضروري دي

سوال: د دینِ متین مفتیان حضرات ددې مسئلې په حقله څه فرمائی چې د مدعی علیه د ظلم د ویرې له وجې نه شاهد د قاضی او د مدعی علیه په وړاندې د شهادت د ورکولو نه انکار کوی.او وائی چې زهٔ به بل یو ځائ کښې شهادت ورکړم، زمونږ نوموړی دې د قاضی او د مدعی علیه په وړاندې ظاهر نهٔ کړې شی.په دې صورت کښې به د دوی شهادت قبلولې شی او که نه؟بینوا توجروا.

الجواب ومنه الصدق والصواب: په شهادت کښې قاضی ته مخامخ کېدل او مدعی او مدعی علیه (که چیرې مدعی علیه حاضر وی) اړخ ته اشاره کول شرط دی.لهذا په پوښتلې شوې مسئله کښې به شهادت معتبر نه وی.

قال فی شرح التنویر: وهی ان علی حاضر یحتاج الشاهد الی الاشارة الی ثلاثة مواضع اعنی الخصمین والمشهود به لو عینا لادینا وان علی غائب کما فی نقل الشهادة او میت فلا بد لقبولها من نسبته الی جده الخ(ردالمحتار ج)والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۲ ذی قعده ۱۳۷۳ هجری

دوو اوښو پسې یو بچې دې د هرې یوې اوښې مالک دا دعوی کوی چې دا بچې زما د اوښې دې

سوال: د دوو سړې دوه اوښې په ځنګل کښې څرېدلې،د دواړو اوښو په یو وخت کښې بچی پیدا شول، یو بچې په کښې شرمخ وخوړلو،او دویم بچې له دواړه اوښې پئ ورکوی اوس د هرې یوې اوښې مالک ددې بچی مدعی دې، یو سره په کښې هم ګواه نشته دې،په دې حالت کښې به بچې کوم یو ته ورکړې کیږی ؟ بینوا توجروا.

الجواب ومنه الصدق والصواب: هرکله چې یو سره هم بینه نشته دې نو دا دواړه اوښې دغه بچی له پئ ورکوی نو دا بچې د دواړو مالکانو په قبضه کښې شو.لهذا په دواړو کښې مشترک شو.

قال فی التنویر: ولو برهنا علی نتاج دابة وارخا قضی لمن وافق سنها تاریخه فلو لم یورخا قضی بها لذی الید ولهما ان فی ایدیهما او فی ید ثالث وان لم یوافقهما فلهما ان کانت فی ایدیهما او کانا خارجین فان فی ید احدهما قضی بها له. وقال فی الشرح: هو الاصح

وفی الشامیة: (قوله ولو برهنا) یتصور هذا بان رای الشاهدان انه ارتضع من لبن انثی کانت فی ملکه واخران رایا ارتضع من انثی فی ملك اخر فتحل الشهادة للفریقین الخ (قوله لذی الید) هذا القید لما اذا ادعی کل منهما

المتاع فقط اذ لو ادعی الخارج الفعل ذی الید کالغصب والاجارة العاریة فبینة الخارج اولی لانها اکثر اثباتا لا ثباتها الفعل علی ذی الید الخ (ردالمحتار ج۴) والله سبحانه وتعالی اعلم.
۲۰ ذی الحجه ۱۳۷۳ هجری

په سامان کښې د زوجينو اختلاف

سوال - که چیرې د زوجینو تر مینځه په داسې سامان کښې اختلاف راشی چې په هغې کښې د یو د پاره هم څه خصوصیت نه وی نو په داسې صورت کښې به دا سامان د چا وی؟ او د چا قول له به ترجیح ورکولې کیږی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په دې صورت کښې به زوج معتبر وی لهذا مال به د هغهٔ وی.

قال الامام العلائی رحمه الله: وان اختلف الزوجان فی متاع البیت فالقول لکل واحد منهما فیما صلح له مع یمینه الا اذا کان کل منهما یفعل او یبیع ما یصلح للاخر فالقول له لتعارض الظاهرین درر وغیرها والقول له فی الصالح لهما و ما فی یدها فی یده والقول لذی الید بخلاف ما یختص بها لان ظاهرها اظهر من ظاهرہ و هو ید الاستعمال

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله : قال فی الشر نبلالیة قوله الا اذا کان کل منهما یفعل او یبیع ما یصلح للاخر لیس علی ظاهرہ فی عمومه ففی قول احدهما یفعل او یبیع الاخر ما یصلح له لان المراة اذا کانت تبیع ثیاب الرجال او ما یصلح لهما کالانیة والذهب و الفضة والامتعة والعقار فهو للرجل لان المراة و ما فی یدها للزوج والقول فی الدعاوی لصاحب الید بخلاف ما یختص بها لانه عارض ید الزوج اقوی منها و هو الاختصاص بالاستعمال کما فی العنایة (ردالمحتار ص۸۱۰ ج۲) والله سبحانه وتعالی اعلم

۷ جمادی الاولی ۱۳۸۷ هجری

په مړی باندې د قرض د عوی

سوال : زما ترهٔ وفات شو، اوس ډیر خلق په هغهٔ باندې د قرض دعویدار دی، لیکن شرعی گواه په کښې دچا سره هم نشته دې. د ترهٔ اولیاء مې هم د لاعلمئ اظهار کوی، او نهٔ مرحوم د دومره قرضونو وصیت کړې دې، او نهٔ څه خط موجود دې ، په داسې حال کښې شرعا څه حکم دې؟ زما د ترهٔ اولیاء د قرض ادا کولو په فکر کښې دی لیکن شرعی ثبوت غواړی. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : کوم خلق چې د قرض دعوی کوی که هغوی شرعی شهادت نه شی وړاندې کولې نو هغوی بیا وارثانو له په عدم د علم باندې قسم ورکولې شی.

قال فی التنویر: واذا ادعی سبق الشراء یحلف خصمه علی العلم کذا اذا ادعی دینا او عینا علی وارث اذا علم

القاضی کونه میراثا او الزیه المدعی او برهن الخصم علیه (ردالمحتار ص ۳ ج ۵). والله سبحانه وتعالی اعلم
۲۸ صفر ۱۳۹۱ هجری

دنکاح د عقد په وخت کښې چې کوم کالی ښځې ته ورکړې شي هغهٔ به د چا ملک وي؟

سوال:- زید یو سرکاری مامور دې، هغهٔ وفات شو،د مرحوم د ښځې او د یو ماشوم خوئ نه علاوه ورونه او والدین یې هم ژوندی دی، پوښتنه دا کول دی چې د مرحوم ښځې ته د نکاح د عقد په وخت کښې کوم کالې د خاوند دکورنئ لخوا یا د نورو خپلو خپلوانو له اړخه ورکړې شوې دې دا د چا ملک دې؟په دې کښې به وراثت جاری کیږی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب:د خاوند دکورنئ لخوا په ورکړې شوې کالو کښې دا تفصیل دې چې که د ورکولو په وخت کښې ئې دځـر کورنئ څه تفصیل کړې وی نو بیا به د هغه تفصیل مطابق عمل کولې شی،اوکه نه نو بیا به د فیصلې مدار په عرف باندې وی،یعنی که په دې خاندان یا په دې ښار کښې کالی په ملک سره د ورکولو رواج وی نو دا کُنده ښځه به ئې مالکه وی او که دا رواج نه وی نو بیا به د دې ملک نه وی.

د نورو خپلوخپلوانو له اړخه ورکړې شوې ټول کالې د دې کُنډې ښځې ملکیت دې.

والله سبحانه وتعالی اعلم ٤ صفر ۱۳۹۵ هجری

د نسب د دعوې او د دعوی د سماع د مودې په حقله تفصیلې بحث

سوال:- د یو سړی دا دعوی ده چې زما د وفات شوی پلار په ترکه کښې ما ته او زما ورونو اوخویندو ته خپله حصه نهٔ راکړې کیږی،او د مدعی علیهم دا دعوی ده چې مدعی او د دهٔ وورنه اوخویندې ثابت النسب نهٔ دی،مدعی علیهم وائی چې زمونږ پلار د دوی مور بې د نکاح نه کور کښې دیره کړې وه،دواړه فریقه گواهان وړاندې کوی،یو فریق د نکاح د ثبوت د پاره گواهان پیش کوی او بل فریق د نکاح په عدم ثبوت کښې گواهان وړاندې کوی.

دا حقیقت دې هم ستاسو په علم کښې وی،چې د مرحوم یو خوئ د دهٔ د حقیقی ښځې نه هم وو،د پلار د وفات نه پس ئې د کلی خلقو ښهٔ په اتفاق سره د پلار ټول جائیداد د دغه خوئ په نوم کړو، هغه ټول عمر په دې جائیداد کښې متصرف وو،په دې دومره عمر کښې د دې دویمې ښځې اولاد خاموشه وو،اوس د دغه خوئ د وفات نه پس (هر کله چې په پرینـودلی شوی جائیداد باندې د دیرش کالو نه زیات وخت واوړیدلو) راپاسیدل او دا دعوی ئې وکړه چې په دې جائیداد کښې زمونږه هم حق دې،اوس پوښتنه دا ده چې دلته شرعا حقیقی وارثان څوک جوړیږی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شرعی اصولو په لحاظ سره بینه (گواهان) د دعوې د ثابتولو د

پاره وی. دا نه چې بینه دې د نفی د پاره وی. لهذا په دې سوال کښې په عدم د نکاح باندې وړاندې کړې شوې بینه به غیر معتبره وی. باوجود د دې چې په نسب کښې د اثبات اړخ ته ترجیح ورکولې شی. او باوجود د دې چې د یو مسلم فعل د امکان د حده پورې په صلاح باندې حمل کولې شی.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله:

تنبیه: لا تسمع بینته ولا بینة ورثته علی تاریخ نکاحها بما یطابق قوله لانها شهادة علی النفی معنی فلا تقبل والنسب یحتال لاثباته مهما امکن والامکان هنا بسبق التزوج بها سرا بمهر یسیر وجهرا باکثر سمعة ویقع ذلک کثیرا وهذا جوابی لحادثة فلیتنبه له شرنبلالی. (ردالمحتار ص ۶۸۱ ج ۲)

پاتې شوه دا مسئله چې د دبرشو کالو پورې د دویمې ښځې اولاد په جائداد کښې د تصرفاتو نه د خبریدلو باوجود ونې چې ناست وو؟ په اصولی توګه په دې خاموشئ سره د دوی حق ساقطیدل پکار دی. رومبې د دې سره متعلق د فقهاؤ رحمهم الله عبارتونه وړاندې کولې شی

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله باع عقارا) وکذا لو وهب او تصدق وسلم وقید بالبیع اذ لو اجر او رهن او اعار ثم ادعی الحاضر تسمع اذ لیس من لوازم ذلک الخروج عن الملک وقد یرضی الشخص بالانتفاع بملکه ولا یرضی بالخروج عن ملکه ولانه فی البیع نحوه علی خلاف القیاس فلا یقاس علیه غیره ولم ار من نبه علیه فلیتامل رملی القول ومثل البیع الوقف کما افتی به الشهاب الشلبی ووافقه علی ذلک ثلاثة عشر عالما من اعیان الحنفیة فی عصره کتب اسماءهم و خطوطهم بموافقته فی اخر کتاب الدعوی من فتاواه المشهورة فراجعها ثم اعلم ان التقیید بالبیع انما یظهر بالنسبة الی القریب اما بالنسبة الی الاجنبی فلا لما فی جامع الفتاوی اول کتاب الدعوی عن الخلاصة رجل تصرف فی ارض زمانا ورجل اخر یری تصرفه فیها ثم مات المتصرف ولم یدع الرجل حال حیوته لا تسمع دعواه بعد وفاته اهـ وفی الحامدیة عن الولوالجیة رجل تصرف زمانا فی ارض ورجل اخر یری الارض والتصرف ولم یدع ومات علی ذلک لم تسمع بعد ذلک دعوی ولده فتترک علی ید المتصرف اهـ والظاهر ان الموت غیر قید بدلیل انهم لم یقیدوا به هنا وبه علم ان مجرد السکوت عند الاطلاع علی التصرف مانع وان لم یسبقه بیع واما السکوت عند البیع فلا یمنع الا دعوی القریب ثم اعلم انه نقل العلامة ابن الغرس فی الفواکه البدریة عن المبسوط اذا ترک الدعوی ثلاثا وثلاثین سنة ولم یکن مانع من الدعوی ثم ادعی لا تسمع دعواه لان ترک الدعوی مع التمکن یدل علی عدم الحق ظاهرا اهـ ومثله فی البحر و فی جامع الفتاوی وقال المتاخرون من اهل الفتوی لا تسمع الدعوی بعد ست وثلاثین سنة الا ان یکون

المدعى غائبا او صبيا او مجنونا ليس لهما ولي او المدعى عليه اميرا جائرا يخاف منه كذا في الفتاوى العتابية اه والظاهر ان عدم سماعها بعد هذه المدة اعم من كونه مع الاطلاع على التصرف او بدونه لان عدم سماعها مع الاطلاع على التصرف لم يقيدوه بها بمدة فلا منافاة بين كلامهم تأمل ثم اعلم ان عدم سماعها ليس مبنيا على بطلان الحق حتى يرد ان هذا قول مهجور لانه ليس ذلك حكما ببطلان الحق وانما هو امتناع من القضاة عن سماعها خوفا من التزوير ولدلالة الحال كما دل عليه التعليل والا فقد قالوا ان الحق لا يسقط بالتقادم كما في قضاء الاشباه فلا تسمع الدعوى في هذه المسائل مع بقاء الحق للاخرة ولذا لو اقر به الخصم يلزمه كما في مسألة عدم سماع الدعوى بعد مضي خمس عشرة سنة اذا نهى السلطان عن سماعها كما تقدم قبيل باب التحكيم فاغتنم هذا التحرير المفرد (ردالمحتار ص ٣٣٠ ج ٥)

ونقل ط عن الخلاصة لا تسمع بعد ثلاثين سنة اه (ردالمحتار ص ٢٨١ ج ٣)

(**تنبيهات**): الاول قد استفيد من كلام الشارح ان عدم سماع الدعوى بعد هذه المدة انما هو للنهي عنه من السلطان فيكون القاضي معزولا عن سماعها لما علمت من ان القضاء يتخصص فلذا قال الا بامر اي فاذا امر بسماعها بعد هذه المدة تسمع وسبب النهي قطع الحيل والتزوير فلا ينافي ما في الاشباه وغيرها من ان الحق لا يسقط بتقادم الزمان اه ولذا قال في الاشباه ايضا ويجب عليه سماعها اه اي يجب على السلطان الذي نهى قضاته عن سماع الدعوى بعد هذه المدة ان يسمعها بنفسه او يامر بسماعها كي لا يضيع حق المدعي والظاهر ان هذا حيث لم يظهر من المدعي امارة التزوير (وبعد صفحة) السادس استثناء مال اليتيم مقيد عما اذا لم يتركها بعد بلوغه هذه المدة وعما اذا لم يكن له ولي كما يأتي (ردالمحتار ص ٣٣٠ ج ٣)

د دې عبارتونو نه دا خبرې ثابتې شوې

١ - په تصرف باندې د خبر کېدو نه پس بې د قيد دمودې نه دعوى ساقطه شى

٢ - د بيعې په علم سره يواځې د نزدې سړى حق ساقطېږى د اجنبى حق ترې نه نه سقطېږى.

٣ - پنځلس کاله پس د عوې عدم سماع صرف په دې صورت کښې ده چې حاکم د ضى نه د پنځلس کالو نه پس د سماعې اجازت نه وى ورکړې. په داسې صورت کښې به حاکم باندې لازم دى چې په خپله دعوى واورى يا بل چا ته د دعوې د اورېدلو حکم ورکړى.

٤ - ديرش يا دړى ديرش يا شپږ ديرش کالونه پس د دعوې حق هغې باتې نه وى چرته چرته چې مدعى په تصرف باندې خبر وى او که نه وى خبر مفتى بهٔ قول د شپږ ديرشو کالو دى

٥ که چېرې مدعى نابالغه وو يا د څه عذر په وجه يې دى هغه دعوى نه وه کړې نو د ديرش کاله د بلوغ او د عذر د زائله کېدو نه پس سماعې شي

۲ - د دې مودې نه پس هم د دعوې عدم سماع په حقیقت کښې په ویرې د تزویر باندې مبنی ده. لهذا چې په کوم ځائې کښې د تزویر ویره نه وی په دې توګه چې قاضی ته د مدعی د صدق ظن د قرائنو له کبله غالب وی یا مدعی علیه په خپله د دې مقر وی نو د دې مودې نه پس به هم دعوی اوریدلې شی

۷ - د دې ټاکلې شوې مودې نه پس به هم د دعوې عدم سماع صرف قضاءً وی اوکه نه نو د الله تعالی په حضور کښې د صاحب حق. حق په هیڅ حالت کښې هم نه ساقطیږی

په دې ټولو صورتونو کښې د دعوی سقوط یواځې د تزویر د ویرې له کبله دې.لکه چې د علامه ابن عابدین رحمه الله د عبارت (خوفا من التزویر) او د علامه حصکفی رحمه الله د عبارت (وجعل سکوته کالافصاح قطعا للتزویر والحیل) (ردالمحتار ص۳۰۰ ج۴)نه ښهٔ ښکاره ظاهر دی او په ذکر شوې مسئله کښې د تزویر ویره نشته . ځکه چې د رومبې ښځې اولاد په خپله دا اقرار او اعتراف کوی چې مونږ د دوی د وراثت حق نه دې ورکړې. لیکن دا ده چې د دویمې ښځې اولاد د خپل پلار نه ثابت النسب نهٔ منی. پورته دا خبره واضحه کړې شوې ده چې د دوی نسب د خپل پلار نه ثابت دې.

لهذا دوی ته د وراثت حق هم حاصل دې. والله سبحانه وتعالی اعلم.   ۲۳ ربیع الآخر ۱۳۹۶ هجری

دا قانون چې د درې کالو نه پس به دعوی نهٔ شی اوریدلې د شریعت خلاف دې

سوال : یو سړی په عدالت کښې خپل نوم او نور کاغذونه وغیر بدل کړل او دا ئې اوویل چې زهٔ له فلانی مړ شوی سړی سره دا رشته ده او د هغهٔ د جائیداد زهٔ حق دار یم.حال دا چې په حقیقت کښې د دهٔ د هغهٔ مړ شوی سړی سره هیڅ تعلق نشته دې. عدالت ددهٔ په حق کښې فیصله وکړه. اوس د مرحوم حقیقی وارثان د دې سړی خلاف قانونی حرکت کول غواړی. لیکن د عدالت یو قانون د دوی د لارې خنډ دې هغه دا چې د دې قسمه دعوی دې په درې کالو کښې دننه وکړې شی نو هله به دا د اوریدلو قابله وی اوکه نه نو نهٔ به وی. حال دا چې دغه ذکر کړې شوی سړی چې کوم جعلی کاغذونه تیار کړې وو او جائیداد ئې اخستی دې د هغې د درې کالو نه زیات وخت وشو. آیا دا عدالتی قانون د شریعت مطابق دی اوکه نه ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب درې کالو نه پس د دعوی نهٔ اوریدل په شریعت کښې د دې څه وجه شته . د درې کالو د تیریدلو نه پس به هم دعوی اوریدلې شی. البته د حضرات فقهاء کرامو رحمهم الله فیصله ده چې څوک یې د څه عذر نه د شپږدیرش کالو پورې دعوی ونه کړی نو د هغهٔ دعوی به د شپږدیرش کالو نه پس بیا نهٔ شی اوریدلې.هغهٔ هم د دې وجې نه چې نهٔ شی اوریدلې چې دومره تیر وخت پورې د مدعی خاموشه پاتې کیدل د مدعی د کذب کیدلو دلیل ... که د دې عرصې

یقین وشي چې واقعةً د مدعی حق شته دې.نو د شپږدیرش کالو د تیریدلو نه پس به هم د هغهٔ دعوی اوریدلې شي

قال فی الاشباه:ان الحق لا یسقط بتقادم الزمان والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۱ صفر ۱۳۹۸ هجری

د وعده معاف ګواه شهادت مردود دې

سوال عمرو د زید خلاف دا دعوی کوي چې دهٔ زما د قتلولو سازش کړې دې.په دې توګه چې خلور سړي ئې زما په قتلولو باندې مقرر کړي وو. لیکن هغوی زما د قتلولو په ځای زما پلار باندې ګذار وکړو. په هغه څلورو کښې یو سړې وعده معاف ګواه جوړ شو.او د هغه په شهادت باندې باقي درې قاتلان ونیولې شو.

اوس سوال دا دې چې د وعده معاف ګواه د ګواهئ څه حیثیت دې؟ بله دا چې د دې قتل ګناه به په زید چې آمر دې په ده باندې وی او که نه په قاتلینو باندې چې مامورین دی ؟ او مقتول (چې په غلطئ سره قتل کړې شو) د هغه به دیت واجب وی او که قصاص؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د قتل امر کول خان له ګناه کبیره ده. برابره خبره ده که په دغه امر باندې د قتل حکم مرتب شي اوکه نه. مامورین کوم چې د قتل مرتکب شول سخت مجرمان دی او مرتکب د ګناه کبیره دی

دا قتلِ خطا دې لهذا په دې کښې به قصاص نه وی بلکه دیت به په کښې واجب وی

قال فی التنویر وشرحه: والثالث خطا وهو نوعان لانه اما خطا فی ظن الفاعل کان یرمی شخصا ظنه صیدا او حربیا اومرتدا فاذا هو مسلم او خطا فی نفس الفعل کان یرمی غرضا اوصیدا فاصاب ادمیا اورمی غرضا فاصابه ثم رجع عنه او تجاوز عنه الی ما وراءه فاصاب رجلا اوقصد رجلا فاصاب غیره الخ (ردالمحتار ص۰۰ ج۰)

د وعده معاف ګواه شهادت مردود دې،یو خو ددې وجې نه چې د جرم په اقرار کولو سره د دهٔ فسق ثابت شو او د فاسق شهادت مردود دې.البته متاخرینو فقهاء کرامو د فاسق شهادت قابل د قبلیدلو منلې دې.خو په دې شرط چې قاضی ددهٔ په صدق باندې مطمئن وی،ظاهره خبره ده چې د داسې قسمه سړې په حقله د اطمینان حصول ډیر ګران دی.

دویمه وجه دا ده چې په داسې شهادت کښې د شاهد ذاتی نفع او فائده ده.فترد شهادته کالشهادة للقرابة الولاد والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۵ محرم ۱۳۹۹ هجری

په شهادت علی القول کښې اختلاف د زمان او د مکان ضررناک نه دې

سوال - زید د طلاق اقرار وکړو او په دې اقرار د زید باندې دوه ګواهان هم موجود دی. لیکن د

دوی په شهادت کښې اختلاف دې. یو وائی چې زید پرون زمونږ په وړاندې اقرار کړې وو او بل وائی چې زید نن زمونږ په وړاندې اقرار کړې دې.د داسې متضاد شهادتونو نه به نصاب د شهادت معتبر وی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب د اختلاف د زمان او دمکان باوجود به دا نصاب د شهادت معتبر وی. ځکه چې د زمان اود مکان په اختلاف سره کلام نه مختلف کیږی۔

قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: قال لامراته ان کلمت فلانة فانت طالق فشهد احدهما انها کلمته غدوة والاخر عشیة طلقت (وبعد صفحة) ولو شهد شاهد انه اوصی الیه یوم الخمیس واخر انه اوصی الیه یوم الجمعة جازت لانها کلام لا یختلف بزمان ومکان کذا فی وصایا الولوالجیة.(البحر الرائق ص۱۰۰ ج۷) والله سبحانه وتعالی اعلم.   ۲۵ صفر ۱۳۹۹ هجری

د غیر په فعل باندې قسم کول روا نه دی

سوال - که چیرې په څه معامله کښې په زید باندې قسم راشی. لیکن په فیصله کښې دا خبره مقرره کړې شی چې په زید باندې خو اطمینان نشته دې. لهذا د زید له اړخه دې د دهٔ پلار یا وړور قسم وخوری. نو اوس سوال دا دې چې آیا داسې د بل په فعل باندې قسم خوړل کیدې شی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د غیر په فعل باندې قسم خوړل روا نه دی البته په خپل عدم علم باندې قسم روا دې. داسې قسم خوړل روا نهٔ دی چې فلانی دا کار نهٔ دې کړې.او داسې وئیل روا دی چې ماته په دې حقله څه علم نشته دې

قال فی التنویر وشرحه: والتحلیف علی فعل غیره یکون علی العلم ای انه لا یعلم انه کذلک لعدم علمه بما فعل غیره ظاهرا (ردالمحتار ص۵۷۰ ج۴) والله سبحانه وتعالی اعلم.   ۷ رمضان ۱٤۰۰ هجری

د حکومتی دیوان په مقابله کښې ذاتی قبضه څه دلیل او حجت نهٔ دې

سوال - د دوو فریقو د ډیرې مودې راهیسې په یوه زمکه باندې جګړه ده. د سوال په تفصیل باندې غور وکړې او جواب راله راکړئ

مدعی عبدالوحید او د هغهٔ ورونه دی. مدعی علیه ودهایو او نور خلق دی.د مدعی وینا ده چې دا زمکه په اصل کښې حکومتی وه.لکه څنګه چې د کال ۱۹۰۲ او ۱۹۰۳ په ریکارډ کښې دا خبره شته . زما غور نیکهٔ محمد خان ولد نور محمد او یو هندو چهتومل ولد پارومل دا زمکه د سرکار د نوم نه خپل نوم ته راړولې وه.بیا محمد خان د دې ټولې زمکې کهاتې دار او قابض

شو.ریکارډ ستاسو په خدمت کښې وړاندې کړې شوې دې، د محمد خان نه پس د هغهٔ درې ځامن نور محمد ثانی. رسول بخش. او محمد اسحاق ددې زمکې وارثان شول.په دوی کښې خو رسول بخش بې د وادهٔ نه مړ شو.د هغهٔ وارثان هم دا نور دوه ورونړه شو. پس د دې نه د عبدالوحید نیکهٔ نور محمدثانی هم وفات شو. د دهٔ وارثان ددهٔ درې ځامن محمد خان ثانی. نواب او غلام نبی شول (سرکاری ریکارډ ستاسو په خدمت کښې دې وې ګورئ) محمد خان او نواب بې د وادهٔ نه وفات شول.د دوی وارثان غلام نبی او د دوی خور شول.د غلام نبی په وفات باندې د دهٔ وارثان د دې بنځه عبدالوحید. رسول بخش. نور محمدوړوکې. پاتې شول (د دې مطابق سرکاری ریکارډ هم ستاسو په خدمت کښې پیش کړې شوې دې وې ګورئ) .

مدعی عبدالوحید د خپل پلار د وفات په وخت کښې صغیر وو.دغه شان د دهٔ د نیکهٔ د وفات په وخت کښې د دهٔ پلار او ترهٔ هم واړهٔ وو.او بل اړخ ته مدعی علیه قوی او د اثر او رسوخ خاوندان وو. مدعی د اول نه دا مطالبه کوله راروان وو. لیکن د دوی چا نه منله.د دریم ګړې کمیټئ په سرکاری ریکارډ باندې تصدیق شته دې (هغه ریکارډ مو تاسو ته وړاندې کړو)

مدعی علیه حاجی الله ودهایو ولد حاجی جعفر والی چې د زمکې اصل مالک نور محمد ولد پیر محمد دې.دچا چې شپږ ځامن دی.محمد خان.شاه محمد .احمد خان.بهادر.پنجل.بهاءالدین. زمکه به په دې شپږو کسانو باندې تقسیمېږی.او قبضه هم تر ننه پورې د هغوې په نسل کښې راروانه ده.د نور محمد د ملکیت ثبوت یواځې همدا دې چې دا زمکه د هغهٔ په قبضه کښې ده

خلاصه د خبرې دا ده چې په زمکه قبضه د یو سړی ده او سرکاری ریکارډ د بل په حق کښې ګواهی ورکوی. د شریعت مطابق دا زمکه د چا ملکیت کښې راځی ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د مدعی او د مدعی علیه د بیان او د سرکاری ریکارډ د کتلو نه پس دا خبره ثابتیږی چې دا زمکه د مدعی عبدالوحید ده

امام سرخسی.امام قاضیخان.او علامه بزازی غوندې لویو لویو فقهاء کرامو رحمهم الله سرکاری ریکارډ ته بې د شهود نه هم معتبر دلیل او حجت وئیلې دې. کما صرح به العلامة ابن عابدین فی رسالته نشر العرف فی بناء بعض الاحکام علی العرف ونصه:

وحاصله ان ما مر من قولهم لا یعتمد علی الخط ولا یعمل به مبنی علی اصل المنقول فی المذهب قبل حدوث العرف ولما حدث العرف فی الاعتماد علی الخط والعمل به فی مثل هذه المواضع افتوا به.

و ذکر العلامة المحقق الشیخ هبة الله البعلی رحمه الله فی شرحه علی الاشباه مانصه(تنبیه)مثل البراءة السلطانیة الدفتر الخاقانی المعنون بالطرة السلطانیة فانه یعمل به وللعلامة الشیخ علاء الدین الحصکفی رحمه الله

شارح التنویر والملتقی رسالة فی ذلک حاصلها بعد ان نقل ما ھما من انه یعمل بکتابه الامان ونقل جزم ابن الشحنة و ابن وھبان بالعمل بدفتر الصراف والبیاع والسمسار لعلة امن التزویر کما جزم به البزازی والسرخسی وقاضی خان و ان ھذه العلة فی الدفاتر السلطانیة اولی کما یعرفه من شاھد احوال اھالیھا حین نقلھا اذلا تحرر اولا الا باذن السلطان ثم بعد اتفاق الجم الغفیر علی نقل ما فیھا من غیر تساھل بزیادة او نقصان تعرض علی المعین لذلک فیضع خطه علیھا ثم تعرض علی المتولی لحفظھا المسمی بدفتر امینی فیکتب علیھا ثم تعاد اصولھا الی امکنتھا المحفوظة بالختم والامن من التزویر مقطوع به وبذلک کله یعلم جمیع اھل الدولة والکتبة فلو وجد فی الدفاتر ان المکان الفلانی وقف علی المدرسة الفلانیة مثلا یعمل به من غیر بینة وبذلک یفتی مشائخ الاسلام کما ھو مصرح فی بھجة عبدالله آفندی وغیرھا فلیحفظ انتھی ما نقلته من شرح الشیخ ھبة الله البعلی. (رسائل ابن عابدین ص ۱٤٤ ج ۲)

دمدعی علیه د ناروا قبضې یو دلیل دا هم دې.چې د دې زمکې سرکاری مطالبات د اوبو وغیره د مدعی په نوم راځی.که چیرې مدعی علیه مالک دې نو دهٔ د کاغذونو د سمولو او صحیح کولو کوشش ولې ونهٔ کړو؟ذاتی قبضه د سرکاری ریکارډ په مقابله کښې هیڅ حیثیت نه لری۔

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲٦ صفر ۱٤۰۷ هجری

په ښځه باندې د شرعی پردې د نهٔ کوونکی گواهی مردوده ده

سوال: کوم سړې چې خپله ښځه او د کور نورې زنانه د غیرمحارمو څخه نهٔ پټوی یعنی د پردې پابندی پرې نهٔ کوی.او نهٔ ددې د پاره کوشش کوی.لیور.ساندو (باجه).د تره خوئې.د ترور خوئې.د ماما خوئې.او د خور خاوند وغیره وغیره نور غیر محارم رشته دار ښځ په آزادئ سره کور ته ځی راځی.او دا سړې دوی لره په منع کولو باندې هم قدرت لری.او بیا ئې هم نه منع کوی.کله کله دې خپلو خپلوانو سره د دې ښځو خلوت هم وشی. نو د داسې سړی شهادت شرعا قبول دې او که نه؟ بل دا چې هغه کوم نزدې خپل خپلوان دی چې د هغوی نه پرده فرض ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب داسې سړې په اصطلاح د شرع کښې دیوث (دووث) دې.او دیوث دومره لوئې فاسق دې.د چا په حقله چې په حدیث کښې دومره سخت وعید راغلې دې چې دې به کله هم جنت ته نهٔ داخلیږی.او د فاسق شهادت مردود دې۔

د دې نه علاوه په داسې سړی کښې له سره حیا نشته چې د دهٔ دومره پروا نشته دې چې د دهٔ ښځې له او نورې هغه ښځې چې د دهٔ په کفالت کښې دی هغوئ له ځوک ځی راځی.او په حدیث شریف کښې حیا او ایمان ته لازم او ملزوم وئیلې شوې دی.د یو په رخصتیدلو سره د بل:

رخصتيدلو سخت وعيد اوروليي شوي دي.

د بې پردګۍ فسق په څو وجوهو سره د نورو ګناهونو نه لويه ګناه ده،مثلا:

۷ - دا فسق متعدي دي.يعني د بې پردګۍ په وجه په عامو سړو او ښځو کښې د بدنظرۍ. جنسي خواهش.او بدکارۍ پيدا کيږي.څومره خلق چې هم په دې ګناهونو کښې مبتلا کيږي.د ټولو عذاب به په هغه چا باندې هم وي څوک چې د شريعت مطابق نه پخپله پرده کوي او نه په خپلو ښځو باندې کوي. (وليحملن اثقالهم واثقالا مع اثقالهم).

۸- دا فسق په ښکاره سره د الله تعالی بغاوت دي او د الله تعالی اعلان دي چه:

د ټول امت ټول ګناهونه معاف کيدې شي ليکن په ښکاره بغاوت کوونکې به هيڅ کله هم ونۀ بخښلې شي.

قال رسول الله ﷺ: کل امتی معافی الا المجاهرين رواه البخاری رحمه الله.

۹-کوم خلق چې نۀ په خپله پرده کوي او نۀ په خپلو ښځو باندې پرده کوي هغوی د الله تعالی دا حکم بد ګڼي او دا کفر دي.

: داسې فاسق دووث.او د الله ﷻ او د الله د رسول ﷺ د ښکاره باغي شهادت مردود دي.قطعا قابل د قبول نۀ دي.

ليکن دا خبره ده چې په وخت د ضرورت کښې پس د درې شرطونو نه د فاسق ګواهي قابل د قبليدلو ده.

۱ - چرته چې څوک عادل شاهد په لاس نه راځي.

۲ - د مدعی د حق تلف کولو انديښنه وي.

۳ - فاسق داسې يو حيثيت لري چې د هغۀ د صدق ګمان غالب وي

عن عمار بن ياسر رضی الله عنه رفعه ثلاثا لا يدخلون الجنة ابدا الديوث والرجلة من النساء ومدمن الخمر قالوا اما الديوث قال الذی لا يبالی من دخل علی اهله رواه الطبرانی فی الکبير.

عن ابن عمر رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال ثلاثة قد حرم الله عليهم الجنة مدمن الخمر والعاق والديوث الذی يقر فی اهله الخبث رواه احمد والنسائی (مشکوة ص ۳۱۸ ج ۲)

عن ابن عمر رضی الله عنه ان النبی ﷺ قال ان الحياء والايمان قرناء جميعا فاذا رفع احدهما رفع الآخر وفی رواية ابن عباس رضی الله عنه فاذا سلب احدهما تبعه الآخر رواه البيهقی فی شعب الايمان (مشکوة ص ۴۳۱ ج ۲).

قال العلامة الحصکفی رحمه الله فی باب قبول الشهادة و عدمه: تقبل من اهل الاهواء ای اصحاب بدع (الی ان قال) ومن مرتکب صغيرة بلا اصرار ان اجتنب الکبائر کلها وغلب صوابه علی صغائره درر وغيرها قال: وهو

معنی العدالة وفی الخلاصة: کل فعل یرفض المروءة والکرم کبیرة واقرہ ابن کمال قال ومتی ارتکب کبیرة سقطت عدالته

وقال العلامة ابن عابدین رحمہ اللہ: معزیا الی الفتاوی الصغری: العدل من یجتنب الکبائر کلها حتی لو ارتکب کبیرة تسقط عدالته وفی الصغائر العبرة للغلبة او الاصرار علی الصغیرة فتصیر کبیرة ولذا قال وغلب صوابه اھ قال فی الهامش: لا تقبل شهادة من یجلس مجلس الفجور والمجانة والشرب وان لم یشرب ھکذا فی المحیط فتاوی هندیة وفیها والفاسق اذا تاب لا تقبل شهادته ما لم یمض علیه زمان یظهر علیه اثر التوبة والصحیح ان ذلک مفوض الی رای القاضی اھ

(قوله کبیرة) الاصح انها کل ما کان شنیعا بین المسلمین وفیه هتک حرمة الدین کما بسطه القهستانی وغیرہ کذا فی شرح الملتقی.

وقال فی الفتح: و ما فی الفتاوی الصغری العدل من یجتنب الکبائر کلها حتی لو ارتکب کبیرة تسقط عدالته وفی الصغائر العبرة للغلبة لتصیر کبیرة حسن (ردالمحتار ص ۴۷۳ ج ۵).

قال العلامة علاء الدین ابو الحسن رحمہ اللہ: (مسالة) قال القرافی فی باب السیاسة نص بعض العلماء علی انا اذا لم نجد فی جهة الا غیر العدول اقمنا اصلحهم واقلهم فجورا للشهادة علیهم ویلزم ذلک فی القضاة وغیرهم لئلا تضیع المصالح قال و ما اظن احدا یخالف فی هذا فان التکلیف شرط فی الامکان وهذا کله للضرورة لئلا تهدر الاموال وتضیع الحقوق قال بعضهم و اذا کان الناس فساقا الا القلیل النادر قبلت شهادة بعضهم علی بعض ویحکم بشهادة الامثل فالامثل من الفساق هذا هو الصواب الذی علیه العمل وان انکر کثیر من الفقهاء بالسنتهم و کذلک العمل علی صحة کون الفاسق ولیا فی النکاح ووصیا فی المال هذا یؤید ما نقله القرافی واذا غلب علی الظن صدق الفاسق قبلت شهادته و حکم بها واللہ تعالی لم یامر برد خبر الفاسق فلا یجوز ردہ مطلقا بل یتثبت فیه حتی یتبین صدقه من کذبه فیعمل علی ما تبین فسقه علیه (معین الحکام الباب الثانی والعشرون ص ۱۰۵)

وقال العلامة الحصکفی رحمہ اللہ (والفاسق اهلها فیکون اهله لکنه لا یقلد) وجوبا ویاثم مقلدہ کقابل شهادته به یفتی وقیدہ فی القاعدیة بما اذا غلب علی ظنه صدقه فلیحفظ درر واستثنی الثانی الفاسق ذا الجاه والمروءة فانه یجب قبول شهادته بزازیة قال فی النهر وعلیه فلا یاثم ایضا بتولیة القضاء حیث کان کذلک الا

ان یفرق بینهما انتهی.

قلت: سیجیء تضعیفه فراجعه.

وقال العلامة ابن عابدین رحمة الله: (قوله لکنه لا یقبل وجوبا الخ) قال فی البحر وفی غیر موضع ذکر الاولویة یعنی الاولی ان لا تقبل شهادته وان قبل جاز وفی الفتح ومقتضی الدلیل ان لا یحل ان یقضی بها فان قضی جاز ونفذ اه ومقتضاه الاثم وظاهر قوله تعالی. ان جاء کم فاسق بنبإ فتبینوا. ان لا یحل قبولها قبل تعرف حاله وقولهم بوجوب السؤال عن الشاهد سرا وعلانیة طعن الخصم اولا فی سائر الحقوق علی قولهما المفتی به یقتضی الاثم بترکه لانه للتعرف عن حاله حتی لا یقبل الفاسق وصرح ابن الکمال بان من قلد فاسقا یاثم واذا قبل القاضی القاضی شهادته یاثم اه (قوله به یفتی) راجع لما فی المتن فقد علمت التصریح بتصحیحه و بانه ظاهر المذهب واما کون عدم تقلیدہ واجبا ففیه کلام کما علمت فافهم (قوله وقیده) ای قید قبول شهادة الفاسق المفهوم من قابل اه ح وعبارة الدرر حتی لو قبلها القاضی وحکم بها کان اثما لکنه ینفذ وفی الفتاوی القاعدیة هذا اذا غلب علی ظنه صدقه وهو مما یحفظ اه

قلت: والظاهر انه لا یاثم ایضا لحصول التبین المامور به فی النص تامل. قال ط فان لم یغلب علی ظن القاضی صدقه بان غلب کذبه عنده او تساویا فلا یقبلها ای لا یصح قبولها اصلا هذا ما یعطیه المقام اه (ردالمحتار ص۳۷۱ ج۴)

قال الامام الحصکفی رحمة الله: والعدالة لوجوبه لا لصحته خلافا للشافعی رحمة الله: فلو قضی بشهادة فاسق نفذ واثم فتح الا ان یمنع منه ای من القضاء بشهادة الفاسق الامام فلا ینفذ (الی قوله) وما فی القنیة والمجتبی من قبول ذی المروة الصادق فقول الثانی بحر وضعفه الکمال بانه تعلیل فی مقابلة النص فلا یقبل اقره المصنف.

قال العلامة ابن عابدین رحمة الله: (قوله بشهادة فاسق نفذ) قال فی جامع الفتاوی واما شهادة الفاسق فان تحری القاضی الصدق فی شهادة تقبل والا فلا اه وقال وفی الفتاوی القاعدیة هذا اذا غلب علی ظنه صدقه وهو مما یحفظ درر اول کتاب القضاء وظاهر قوله وهو مما یحفظ اعتمادہ اه (قوله النص) وهو قوله تعالی واشهدوا ذوی عدل منکم واجبا عنه اول القضاء (ردالمحتار ص۳۷۲ ج۴).

هغه نزدې خپلوان د چا نه چې پرده فرض ده.

د ترۀ خوئ	د ترور خوئ	د ماما خوئ	د خاله خوئ
لیور	مشر لیور	د اندرور خاوند	د خور خاوند

د ترور خاوند | د خاله خاوند | د خاوند ورارهٔ | د خاوند خورنې
د خاوند ترهٔ | د خاوند ماما | د خاوند د ترور خاوند | د خاوند د خاله خاوند

په نسبت د اغیارو د غیرمحرم رشته دارانو نه ډیره سخته پرده پکار ده. ځکه چې د ډیر زیات تګ راتګ او د بې حجابه ملاویدلو د وجې نه د دوی نه ډیر ویره او خطره وی د دې وجې نه رسول الله ﷺ فرمائیلي دی: الحمو موت.

د پردې د فرضیت او د اهمیت په حقله مکمل تفصیل په رساله (**هدایة المرتاب في فرضیة الحجاب**) کښې او په وعظ (شرعی پرده) کښې موجود دې هلته دې وکتلې شی. **والله سبحانه وتعالی اعلم.**

۱۵ شعبان ۱۴۱۵ هجری

ځان سره د تصویر ساتونکی سړی شهادت مردود دې

سوال - کوم سړې چې بې د ضرورته تصویر (یعنی عکس) وباسی په خپله هم او نورو له هم. یا په خپل کور یا دکان وغیره کښې عکس ساتی نود دهٔ شهادت شرعا معتبردې او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب بې د ضرورته خپله تصویر ایستل یا بل له تصویر ایستل. او ځان سره تصویر ساتل حرام دی او ګناه کبیره ده. په دې باندې سخت وعیدونه راغلې دی

کوم سړې چې د پاسپورټ یا د شناختی کارډ وغیره د ضرورت نه بغیر تصویران اوباسی یا بل له یې اوباسی او یا ئې ځان سره ساتی هغه فاسق دې او د فاسق شهادت مردود دې. تفصیل ئې د وړومبې سوال په جواب کښې تیر شو.

په تصویر باندې وعیدونه

عن ابی طلحة رضی الله عنه قال قال النبی ﷺ: لا تدخل الملائكة بیتا فیه کلب ولا تصاویر. متفق علیه.

عن ابن عباس رضی الله عنه عن میمونة رضی الله عنها ان رسول الله ﷺ اصبح یوما واجما وقال ان جبرئیل کان وعدنی ان یلقانی اللیلة فلم یلقنی ام والله ما اخلفنی ثم وقع فی نفسه جرو کلب تحت فسطاط له فامر به فاخرج ثم اخذ بیده ماء فنضح مكانه فلما امسی لقیه جبرئیل فقال لقد کنت وعدتنی ان تلقانی البارحة قال اجل ولکنا لا ندخل بیتا فیه کلب ولا صورة فاصبح رسول الله یومئذ فامر بقتل الكلاب حتی انه یامر بقتل کلب الحائط الصغیر ویترك کلب الحائط الکبیر رواه مسلم.

عن عائشة رضی الله عنها ان النبی ﷺ لم یکن یترك فی بیته شیئا فیه تصالیب الا نقضه رواه البخاری

وعنها رضی الله عنها عن النبی ﷺ قال: اشد الناس عذابا یوم القیمة الذین یضاهون بخلق الله متفق علیه

عن ابی هریرة رضی الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ یقول: قال الله تعالی ومن اظلم ممن ذهب یخلق کخلقی فلیخلقوا

خبة او شعيرة متفق عليه

عن عبدالله بن مسعود ﷺ قال سمعت رسول الله ﷺ يقول: اشد الناس عذابا عندالله المصورون متفق عليه

عن ابن عباس ﷺ قال سمعت رسول الله ﷺ يقول: كل مصور فى النار يجعل له بكل صورة صورها نفسا فيعذبه فى جهنم قال ابن عباس ﷺ فان كنت لا بد فاعلا فاصنع الشجر و مالا روح فيه متفق عليه.

وعنه ﷺ عن النبى ﷺ: فى حديث طويل فى اخرة و من صور صورة عذب و كلف ان ينفخ فيها وليس بنافخ رواه البخارى.

وعن ابى هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ: يخرج عنق من النار يوم القيمة لها عينان تبصران و اذنان تسمعان ولسان ينطق يقول انى وكلت بثلاثة بكل جبار عنيد و كل من دعا مع الله الها اخر و بالمصورين رواه الترمذى (مشكوة ص ۳۸۵ او ۵۱۱) والله سبحانه وتعالى اعلم

د تصویر د حرمت او په هغې باندې د ډیر سخت عذاب تفصیل په رساله (العذاب العریان عن عذاب صورة الحیوان) کښې شته دې.

۱۵ شعبان ۱٤۱۵ هجری

د ټی وی ((ټلویزیون)) کتونکی شهادت مردود دې

سوال:- د کوم سړی په کور کښې چې ټی وی (ټلویزیون) موجود وی او هغه د خپل بال بچ سره ټی وی ګوری نو د هغهٔ شهادت مقبول دې او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : ټی وی ام الخبائث دې، په معاشره کښې بربنډتوب، فحاشی، زناکاری، بدکاری، غلا، ډاکې، د اولاد بې پیزوانه کیدل، او د خپل مور پلار د پاره عذاب جوړیدل، د خوانانو د پاره د دین نه د اوړیدلو او خوانان د ټولې معاشرې د پاره ناسور جوړیدل د دې ټولو سبب او ذریعه ټی وی دې.

کوم وعیدونه چې د تصویر په مسئله کښې لیکلې شوې دی هغه ټول وعیدونه دلته بطریق اولی پوره پوره ثابتیږی

کوم سړې چې د دې بې حیایئ او د داسې کبیره ګناه کوونکې وی، هغه ډیر لوئې فاسق دې، لهذا د هغه شهادت مردود دې، د فاسق د شهادت تفصیل په وړومبی سوال (د شرعی پرده نه کوونکی شهادت) جواب کښې تیر شوې دې

د ټی وی دنیاوی او د اخروی او د جسمانی تباهئ او په دې باندې د دنیا او د آخرت او په قبر کښې د سختو سختو عذابونو تفصیل په رساله (د ټی وی زهر د ټی بی نه زیات هلاکوونکی دی) کښې دې. والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۵ شعبان ۱٤۱۵ هجری

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿قُلۡ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ وَإِخۡوَٰنُكُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ وَعَشِيرَتُكُمۡ وَأَمۡوَٰلٌ ٱقۡتَرَفۡتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٞ تَخۡشَوۡنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرۡضَوۡنَهَآ أَحَبَّ إِلَيۡكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٖ فِي سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ ٱللَّهُ بِأَمۡرِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٢٤﴾ (۱۰ - ۲۴)

کتاب الصلح

په تخارج کښې د صلح عن الدین د جواز حیلې (چلونه)

سوال: - په درمختار کښې د صلح عن الدین د جواز څلور حیلې ذکر کړې شوې دی:

ونصه: وصح لو شرطوا ابراء الغرماء منه ای من حصته لانه تمليك الدين ممن عليه فيسقط قدر نصيبه عن الغرماء او قضوا نصيب المصالح منه ای الدین تبرعا منهم او احالهم بحصته او اقرضوه قدر حصته منه وصالحوه عن غيره بما يصلح بدلا و احالهم بالقرض على الغرماء وقبلوا الحوالة وهذه احسن الحيل ابن كمال والاوجه ان يبيعوه كفا من تمر او نحوه بقدر الدين ثم يحيلهم على الغرماء ابن ملك (در مختار، كتاب الصلح)

وفي الشامية: (قوله احسن الحيل) لان في الاولى ضررا للورثة حيث لا يمكنهم الرجوع على الغرماء بقدر نصيب المصالح وكذا في الثانية لان النقد خير من النسيئة الثالثة (قوله والاوجه) لان في الاخيرة لا يخلو عن ضرر التقديم في وصول مال ابن مالك. (ردالمحتار ص ۵۳۶ ج ۴)

په دې کښې اشکال دا دې چې (النقد خير من النسيئة) ضرر په دویمه او دریمه دواړو حیلو کښې موجود دې. د شامیې په پورتنی عبارت کښې هم د دې تصریح شته دې. نو بیا دریمه حیله احسن الحیل څنګه شوه؟ **بينوا بيانا شافيا توجروا اجرا وافيا.**

الجواب و منه الصدق والصواب: په دویمه حیله کښې (النقد خير من النسيئة) ضرر په دې باندې مبنی دې چې په دې حیله کښې حواله تسلیم کړې شی. حال دا دې چې په کښې د حوالې قول د تحقیق نه خلاف دې. په شامیه کښې دی.

(قوله او احالهم) لا محل لهذه الجملة هنا وهي موجودة في شرح الوقاية لابن ملك وفي بعض النسخ او احالهم.

(ردالمحتار ص ۵۳۶ ج ۴)

هر كله چې د دې ضرر بنا د تحقيق نه خلاف ده. نو په دويمه حيله كښې د دې ضرر قول كول صحيح نۀ شو. ابن ملك په صاحب د درر باندې د رد په غرض سره دا جمله زياته كړې ده ليكن دا زياتې ئې صحيح نۀ دې.

قال الطحطاوي رحمه الله: ذكره ردا على صاحب الدرر وتبعه المصنف حيث قال ولا يخفى ما فيه اي هذا الوجه من الضرر ببقية الورثة ولكنه لا يدفع لانه يرجع عليهم بما احالهم به فيكون الضرر عليهم مرتين اهـ (طحطاوي ص ۳۰ ج ۴)

د دې نه دا خبره معلومه شوه چې كه په دويمه حيله كښې حواله تسليم هم كړې شي نو بيا هم په دې حيله كښې د (**النقد خير من النسيئة**) ضرر نشته دې. لهذا په دويمه حيله كښې د ضرر په حقله د زيلعي قول حق دې

ونصه: وان شرطوا ان يبرأ الغرماء منه اي من الدين صح لانه اسقاط او تمليك الدين ممن عليه الدين وكل ذلك جائز وقال صاحب الهداية وهذا حيلة الجواز واخرى اي حيلة اخرى ان يعجلوا قضاء نصيبه متبرعين ثم قال في الوجهين ضرر ببقية الورثة والاوجه ان يقرضوا المصالح مقدار نصيبه وصالحوا عما وراء الدين ويحيلهم على استفاء نصيبه من الغرماء وهذا في الوجهين ظاهر لانهم اذا اعطوا المصالح شيئا بمقدار الدين او قدر الدين ولم يحصل لهم الدين فقد حصل لهم ضرر دنيوي وليس في الصورة الثالثة مثل ذلك من الضرر لانهم وان خرج منهم قدر الدين لكن حصل لهم الدين بمقابلته فانتفى عنهم الضرر الا ضرر النقد فان العين خير من الدين اهـ (زيلعي ص ۵۱ ج ۵)

د دې نه پس ئې څلورمې حيلې ته آوجه وئيلې دى. غرض دا چې په اوله حيله كښې مصالح حصه د دين او د عين د دواړو عوض او بدل اخلى. باقى وارثان د دين د حصې عوض وركوى. ليكن د دين حصه هغوى ته نه ترلاسه كيږى ددې وجې نه په دې كښې د هغوى ضرر دې. او په دويمه حصه كښې مصالح په صلح كښې يواځې د عين د حصې عوض اخلى. او د دين د حصې مقدار باقى وارثان هغۀ له تبرعاً وركړى. او مقروض ته د دې مصالح په حصه كښې رجوع نه كوى. په دې كښې د باقى وراثانو دا ضرر وشو چې د دين حصه هغوى مصالح له وركړه خو ولې به خپله ئې د مقروض نه وانخستې شوه. په دريمه حيله كښې مصالح يواځې د عين په حصه باندې صلح وكړه. او حصه د دين هغۀ له باقى وراثانو وركړه. او چې كوم څه ئې دۀ له وركړه هغۀ ئې هم د مقروض نه واخستل. نو په دې كښې په فريقينو كښې د چا ضرر هم ونۀ شو. د دې وجې نه د حسن الحيل ده. البته دا خبره ده چې په دې كښې د (**النقد خير من النسيئة**) ضرر د وارثانو د سره دى

لیکن دا ضرر د رومبو دوارو ضررونو نه سپک دې.او په څلورمه حیله کښې دا ضرر هم نشته دې. مصالح په حصې د عین او د دین په دواړو سره صلح وکړي او د دواړو عوض یې واخستلو . لکه چې څنګه په اولنۍ حیله کښې وو.او باقي وارثان د دین د حصې عوض ورکړي او د دې په مقابله کښې د دین حصه واخلي. په څلورمه حیله کښې د وارثانو هغه ضرر خو نشته دې کوم چې د دوی په اولې حیله کښې وو. لیکن دا ضرر ئې په کښې دې چې د حصې د دین عوض ئې اول ورکړو او د دین حصه ئې وروستو واخستله. لیکن دا ضرر د دریمه حیلې د ضرر نه کم دې.څکه چې په دریمه حصه کښې وارثان د دین حصه د خپل مال نه ورکوي. او په څلورمه کښې یې په خپله د ترکې نه ورکوي.او دا نسبةً اهون دې. ددې نه علاوه ددې ضرر دفع کول داسې ممکن دی چې د ترکې نه دې د دین د حصې عوض د دین د حصې د مقدار نه کم ورکړې شي. په خاصه توګه هغه وخت چې د صلح مدار په تسامح او په حط باندې وی.ددې وجې نه څلورمه حیله اوجه شوه.حاصل د خبرې دا چې په دویمه حیله کښې د (**الفقد خیر من النسیئة**)ضرر نشته دې کوم چې په دریمه حیله کښې موجود دې. بلکه په دویمه حصه کښې دا ضرر دې چې باقي وارثان د دین حصه ادا کوی لیکن د مقروض نه ئې نۀ اخلي. لهذا کومو مصنفینو چې په دویمه حیله کښې د (**الفقد خیر من النسیئة**)ضرر لیکلي دې. نو د هغوی قول د تحقیق نه خلاف دې. صحیح او حق هغه دې کوم چې زیلعی بیان کړې دې. په تکملة د فتح القدیر کښې ئې هم دا لیکلي دی.او په حاشیة د عنایه ص ۵۴ ج ۷ کښې ئې هم دې ته حق وئیلي دی.په کفایه کښې ئې هم دا اختیار کړې دی،او د دې وجه ئې داسې بیان کړې ده (**اذلا نسیئة عند التبرع**)او د (**الفقد خیر من النسیئة**)په حقله په حاشیة د عنایه کښې دی (**الاول فیه بحث**)**والله سبحانه وتعالی اعلم.** ۱۵ رجب ۱۳۷۵ هجری

د تخارج څلور اهمې مسئلې

سوال د یو سړی د وفات پنځه کاله تېر شوې دی.د هغه په وارثانو کښې یوه ښځه. پنځه هلکان او شپږ جینکۍ پاتې شوې دی د هغه د وفات نه پس ئې سمدستی د جائیداد تقسیم وکړې شو. په غیرمنقوله جائیداد کښې ۷۱ جریبه زمکه یو کور او یو پلاټ وو.او په منقوله جائیداد کښې څاروی.کالی.او د کور سامان وو.د کور د سامان.څارو او د کالو قیمت ولګولې شو.او ورمره په متر هلک باندې چې کوم دیارلس سوه روپۍ قرض وو هغه هم جمع کړې شو.ټولې پیسې ترې نه څوارلس زره روپۍ جوړې شوې.کومې چې د وارثانو د حصې مطابق تقسیم کړې شوې . او د هر یو وارث حصه وټاکلې شوه.بیا د درې مشرانو جینکو نه کومې چې عاقلې بالغې او وادۀ شوی وې نیوس وکړې شو چې تاسو په جائیداد کښې خپله حصه اخستل غواړئ او که نه :

نورو وارثانو په حق کښې د خپلې حصې نه لاس وینځي؟ درې وارو جینکو د منقوله جائیداد نه یو څو ټاکلي شوي څیزونه واخستل،او باقي ئې خپلو پنځو ورونو ته اوبښل. یوې جینۍ د زرو روپو د قیمت مینبه واخسته او باقي جائیداد ئې خپلو ورونو ته اوبښلو،دویمې جینۍ یو د ګندلو ماشین د څلورو سوو روپو او یوه غوا د پنځو سوو روپو واخسته او باقي حصه د جائیداد ئې خپلو ورونو ته اوبښله، دریمې خور څلورمه حصه زمکه واخسته او باقي حصه د جائیداد ئې خپلو ورونو ته اوبښله.

او د پنځو کالو دتیریدلو نه پس څینی علماء وائي چې دا تخارج باطل دې،جائیداد به د سر نه بیا تقسیمولې شی.ځکه چې دتخارج د صحت دپاره یو شرط دا دې چې ټول وارثان به عاقل بالغ وی. حال دا چې په دغه وخت کښې په دوی کښې یو هلک د دوه نیمو کالو وو.

دویمه وجه دا چې په یو وارث باندې دین وو،او په ترکه کښې چې دین وی نو بیا په دې صورت کښې تخارج باطل وی،حال دا چې دا دین په وارث باندې وو او دا د منقوله جائداد سره یو ځائې کړې شوې وو او په وراثانو باندې تقسیم کړې شوې وو په دې صورت کښې چې د کوم وارث په ذمه دا قرض وو د هغه په حصه کښې دا شمارلې شوې وو. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دلته څلور خبرې د تحقیق قابلې دي:

۱- چې د مړی په یو وارث باندې قرض وی نو آیا هغه د تخارج نه مانع دې او که نه؟

۲- چې مصالح خپله حصه یو اخې بعضې وارثانو ته ورکړی نورو ته ئې ورنه کړی نو آیا تخارج به صحیح کیږی او که نه؟

۳- تخارج په غبن الفاحش سره صحیح دې او نه که نه؟

۴- چې په وارثانو کښې څوک صغیر وی نو آیا تخارج صحیح دې او که نه؟

د دې څلور خبرو تحقیق په ترتیب سره وړاندې کولې شی:

۷- که په منقوله ترکه کښې د مدیون د میراث د حصې نه دین زیات وی نو دا به د تخارج نه مانع وی او که داسې نه وی نو مانع به نهٔ وی،ځکه چې د دین د منع کیدلو علت (تملیك الدين من غير من عليه الدين) دې کوم چې په منقوله ترکه کښې د میراث د حصې نه په تجاوز کوونکی دین کښې موجوده ده. چې مصالح د مدیون نه علاوه نور وارثان هم د دین مالکان جوړوی، لیکن د غیر منقوله ترکې نه په غیر متجاوز دین کښې دا علت مفقود دې،ځکه چې د نقل کیدونکې ترکې په تقسیم کښې ددې د قیمت لګولو او بیا د تقسیمولو عام رواج دې. او ظاهره خبره ده چې د ټولو وارثانو په رضامندۍ سره به دا دین د مدیون په حصه کښې حسابولې شی. فهو تمليك الدين من عليه الدين وهو جائز.

په دې مسئله کښې هم دا صورت دې ددې وجې نه دا دین د صحت د تخارج نه مانع نهٔ دې.

۸ - که بدلِ صلح د ترکې نه ورکول نهٔ وی تاکلې شوي بلکه مصالح ئې د خپل ارخه ادا کوی نو دا تخارج مطلقاً صحیح دې، او که د ترکې نه د صلحې بدل ورکول وتاکلې شو نو څنګه چې معلومه ده چې په دې کښې د ټولو وارثانو حق دې نو ددې وجې نه ددې د صحت د پاره د ټولو رضا شرط ده.

قال العلائی رحمه الله تعالی: ولو اخرجوا واحدا من الورثة فمصالحه تقسم بين الباقي على السواء ان كان ما اعطوه من مالهم غير الميراث وان كان المعطى مما ورثوه فعلى قدر ميراثهم يقسم بينهم.

وقال ابن عابدين رحمه الله تعالی: افاد ان احد الورثة اذا صالح البعض دون الباقي يصح وتكون حصته له فقط كما لو صالح الموصى له كما في الانقروي وسيأتي (ردالمحتار ص ج)

قلت: في مسألتنا وقع التخارج بتراضي الورثة فاندفع هذا الاشكال ايضا لكن يبقى رضا الصغير وسيأتي حكمه

۹ - بدل صلح که هر څومره لږ وی تخارج په کښې روا دې، البته دا خبره ده که چا سره دا دهوکه وشوه چې په وخت د صلح کښې هغهٔ یو څیز د صحیح قیمت نه خبر نهٔ وو وروستو په کښې غبنِ فاحش ښکاره شو، نو هغهٔ ته دا اختیار شته چې په قاضی باندې صلح فسخ کړی.

في شرح التنوير: ولو ظهر غبن فاحش لا يدخل تحت التقويم في القسمة فان كانت بقضاء بطلت اتفاقا لان تصرف القاضي مقيد بالعدل ولم يوجد ولو وقعت بالتراضي تبطل ايضا في الاصح لان شرط جوازها المعادلة ولم توجد فوجب نقضها خلافا لتصحيح الخلاصة قلت وقال كاكي لا تفسخ لكن اولى وتسمع دعواه ذلك اي ما ذكر من الغبن الفاحش ان لم يقر بالاستيفاء وان اقر به لا.

وفي الحاشية: (ولو ظهر غبن فاحش في القسمة) اي في التقويم للقسمة بان قوم بالف فظهر انه يساوي خمسمائة وفيها تحت (قوله قلت ... الخ) مقتضاه انها تحتاج الى الفسخ وان معنى تبطل ويطلب له ابطالها وبه يظهر قول الكاكي تفسخ حيث لم يقل تنفسخ (ردالمحتار ص ج)

د علائیې د ذکر کړې شوی عبارت نه ځینې خلقو ته دا مغالطه شوې ده چې دا په کومه مسئله کښې ذکر شروع دې په دې کښې د غبن فاحش د وجې نه تخارج باطل دې، حال دا چې د علائیې او د شامیې د عبارت مطلب بالکل واضح دې چې د تخارج نه پس د غبن فاحش د ظاهریدلو نه پس خیار فسخ دې، او د دهٔ دعوی به اوریدلې شی، غبن هم هغه نقصان ته وائی کوم چې د عقد نه پس ظاهر شی، د عقد په وخت کښې چې کوم نقصان ظاهر او معلوم شی هغهٔ که هر څومره زیات وی لیکن هغې ته غبن نهٔ وائی، دا امر د بیان محتاج نه دې چې په تخارج کښې د بدلِ صلحه څه کمیت مشروط نهٔ دې، سره د دې نه هم د ځینې خلقو د پاره څه امور وراندې کولې شی.

۱- د مذهب په کتابونو کښې دا تصریح ده چې هر کله بدلِ صلحه مکیل یا موزون وی یا سره یا سپین زر وی نو د تخارج د صحت د پاره دا شرط دي چې بدل صلحه دې په څيز کښې د مصالح د حصې نه زیات وی، وړاندې په کښې داسې څه شرط نشته دې چې د پوره ترکې سره به ددې حصې څه نسبت وی، او که چیرې بدل د صلح د ذکر کړې شوو څیزونو نه نهٔ وی نو په دې کښې بیا څه کمیت هم شرط نهٔ دې.

۲ - تخارج په حکم د بیعه کښې دې، او بیعه کښې د عاقدینو په تراضی سره په بدلینو کښې تفاوتِ کثیر روا دې.

۳ - قال ابن عابدین رحمه الله: اوصی رجل بثلث ماله ومات الموصی فصالح الوارث الموصی له من الثلث بالسدس جاز الصلح وذكر الامام المعروف بخواهر زاده ان حق الموصی له وحق الوارث قبل القسمة غیر متاكد يحتمل السقوط بالاسقاط. (ردالمحتار ص ج)

په دې کښې اسقاط بالصلح مراد دې، مطلق اسقاط په کښې صحیح نهٔ دې كما حررت فی كتاب الوصية والفرائض تحت عنوان. (د وارث حق د هغهٔ په اسقاط سره نهٔ ساقطیږی).

د اسقاط بالصلح مثال په ذکر شوی عبارت کښې (صلح من الثلث بالسدس) ذکر کړې شوې دې، چې په کښې د تضعیف او تنصیف نسبت دې، او په خپله علامه ابن عابدین رحمه الله د غبن فاحش په مثال کښې همدا نسبت بیان کړې دې. كما مر من نصه: بان قوم بالف فظهر انه يساوى خمسمائة.

د دې نه دا خبره دا ثابته شوه چې د فحش تفاوت باوجود تخارج روا دې.

۴ - که چیرې صغیر په خپله عاقد وی نو د بیع او د شراء وغیره عقود دائره بین النفع والضرر په شان په عقد صلح کښې هم د صغیر عاقل کیدل شرط دی نه دا چې بلوغ ورله شرط دې.

د صغیر غیرِ عاقل عقد له سره منعقد نه کیږی، او د عاقل غیرِ ماذون عقد منعقد کیږی، لیکن په هغه اذن باندې چې پس د بلوغ نه وی یا د ولی په اذن باندې بهٔ موقوف وی.

ولی فی المال په ترتیب سره داسې دي:
پلار، د هغهٔ وصی، نیکهٔ، د نیکهٔ وصی، قاضی.

فی صلح شرح التنوير: وشرطه العقل لا البلوغ والحرية فصح من صبى ماذون ان عرى صلحه عن ضرر بين
(ردالمحتار ص ٥٢٦ ج ٤)

وفی الهندية: واما شرائط فانواع منها ان يكون المصالح عاقلا فلا يصح صلح المجنون والصبى الذى لا يعقل هكذا فی البدائع. (عالمگیریة ص ج)

و فی کتاب الماذون من شرح التنویر: و تصرف الصبی و المعتوہ الذی یعقل البیع و الشراء ان کان نافعا محضا کالاسلام والاتہاب صح بلا اذن وان کان ضارا کالطلاق والعتاق والصدقۃ والقرض لا وان اذن بہ ولیہما وما تردد من العقود بین نفع و ضرر کالبیع و الشراء توقف علی الاذن حتی لو بلغ فاجازہ نفذ فان اذن لہما الولی فہما فی شراء و بیع کعبد ماذون فی کل احکامہ. (ردالمحتار ص۳۰ ج۵)

او که چیرې صبی په خپله عقد کوونکې نهٔ وی بلکه د هغهٔ له اړخه څوک بل څوک عقد وکړی نو بیا په کښې د صبی عاقل کیدل شرط نهٔ دی. په هر صورت کښې به صلحه منعقده شی. البته د دې عقد د نفاذ د پاره دا شرط دې چې د صبی له اړخه دې د هغهٔ ولی فی المال عقد وکړی. که چیرې غیر ولی عقد وکړو نو هغهٔ به منعقد خو شی لیکن د صبی په اذن بعد البلوغ. یا په اذن د ولی یا په اذن د قاضی پورې به دغه عقد موقوف وی.

البته په تقسم د غیر د ترکې کښې دوه قوله دی. یو دا چې دا هم د عامو فضولی عقودو په شان موقوف دې. دویم قول دا دې چې دا تقسیم باطل دې له سره نه منعقد کیږی. رحمتی رحمه الله وجه د فرق دا بیان فرمائیلې ده. چې د عقدِ فضولی په منعقد کیدو کښې د متعاقدینو وجود شرط دې او هغه وجود دلته مفقود دې. وسنذکر نصه عن الرافعی رحمه الله.

قال ابن عابدین رحمه الله: قال فی المحیط فلو قسم بغیر قضاء لم تجز الا ان یحضر (الغائب) او یبلغ (الصغیر) فیجیز طوری وھذا ما قدمہ الشارح (ردالمحتار ص۳۰ ج۵)

ونص الشارح المتقدم توصف برضاء الشرکاء الا اذا کان فیہم صغیر او مجنون لا نائب عنہ او غائب لا وکیل عنہ لعدم لزومہا حینئذ الا باجازۃ القاضی او الغائب او الصبی اذا بلغ او ولیہ ولو شرکاء بطلت منیۃ المفتی وغیرہا.

وقال ابن عابدین رحمه الله: (قولہ اذا کان) استثناء منقطع کما یفیدہ قولہ بعد لعدم لزومہا او استثناء من محذوف ای یولزمت اھط او اراد بالصحۃ اللزوم (قولہ الا باجازۃ القاضی) الظاہر رجوعہ للمستثنیات الثلاث (قولہ او الغائب او الصبی اذا بلغ) ولو مات الغائب او الصبی فاجازت ورثتہ نفذت عندہما خلافا لمحمد منیۃ المفتی والاول استحسان والثانی قیاس و کما تثبت الاجازۃ صریحا بالقول تثبت دلالۃ بالفعل کالبیع کما فی التاترخانیۃ وفی المنح عن الجواہر: طفل و بالغ اقتسما شیئا ثم بلغ الطفل و تصرف فی نصیبہ و باع البعض یکون اجازۃ (قولہ ھذا) ای لزومہا باجازۃ القاضی و نحوہ لو کانوا شرکاء فی المیراث فلو شرکاء فی غیرہ تبطل و مقتضاہ انہا لا تنفذ بالاجازۃ فلیتامل

وعبارة المنية هكذا: اقتسم الورثة لا بأمر القاضي وفيهم صغير او غائب لا تنفذ الا بإجازة الغائب او ولي الصغير او يجيزا اذا بلغ اقتسم الشركاء فيما بينهم وفيهم صغير او غائب لا تصح القسمة فان امرهم القاضي بذلك صح

اقول: سيذكر المصنف تبعا لسائر المتون ان القاضي لا يقسم لو كانوا مشترين وغاب احدهم فكيف تصح قسمة الشركاء بأمر القاضي. اللهم الا ان يراد به الشركاء في الميراث لكن يبقى قول الشارح ولو شركاء بطلت محتاجا الى نقل ونقل الزاهدي في القنية: قسمة بين الشركاء وفيهم شريك غائب فلما وقف عليها قال لا ارضى لغبن فيها ثم اذن لحراثة في زراعة نصيبه لا يكون رضا بعد ما رد فليحرر ولا تلتبس ما قدمه من ان للشريك اخذ حصته من المثلي بغيبة صاحبه وما نقله عن الخانية فانه مخصص لما هنا. (ردالمحتار ص ج)

وقال الرافعي رحمه الله: (قوله الظاهر الرجوعه المستثنيات الثلاث) يدل له ما نقله في المنح عن السراج بقوله ولهم ان يقسموا الا انفسهم اذا تراضوا الا ان يكون فيهم صغير لا ولي له او غائب لا وكيل عنه فحينئذ لا يجوز بالاصطلاح بل لا بد من القاضي لانه لا ولاية لهم على الصغير ولا على الغائب فان امر القاضي بها جاز على الصغير والغائب لان له ولاية على الصغير ونظرا على الغائب وتصرفه يصح على الجميع (قوله لكن يبقى قول الشارح ولو شركاء بطلت محتاجا الى نقل) علل البطلان الرحمتي في هذه المسالة بان كل واحد اجنبي في حق صاحبه فلم يوجد قابل عن الصغير ونحوه وشرط عقد الفضولي وجود القابل عن المالك ولا يتوقف شطر العقد على غائب بخلاف مسالة الورثة لان بعضهم يصلح خصما عن الباقين فيصح ان يكون بعضهم مقاسما وبعضهم مقاسما اهو معلوم ان الشارح ثقة في النقل يعتمد عليه فيه حتى يوجد ما يخالفه (التحرير المختار ص ج)

د ذکر کړې شوی تحقيق نه دا خبره ثابته شوه چې د فقهاء کرامو رحمهم الله په عبارتونو کښې کوم ځائ هم د صغير وجود د ترکې د تقسيم د صحت نه مانع ښودلې شوې دې نو د هغې مطلب دا دې چې تقسيم لازم او نافذ نۀ دې بلکه په اذن د ولی يا په اذن د والی او يا په اذن بعد البلوغ باندې موقوف دې، د دې وجې نه د دې عبارتونو نه د بعضې اصاغرو په عدم انعقاد باندې استدلال په غلطۍ پوهې باندې مبنی دې -

په کومه مسئله کښې چې بحث شروع دې:

د پورتنيو خبرو د تحقيق نه په کومه مسئله کښې چې بحث شروع دې ښه واضحه شوه، په دې کښې د صغير له ارخه غيرولی عقد د تخارج کړې دې د دې وجې نه د (تخارج علی الارض) عقد موقوف دې، که يو وارث د قاضی نه اذن حاصل کړی نو دا عقد به نافذ شی. او که نه نو د صغير د

اذن بعد البلوغ پورې به موقوف وی، که چیرې صغیر قبل از بلوغ وفات شو نو د دهٔ د وارثانو په اذن سره به نافذ شی۔

د تخارج علی العروض عقد خو د ابتداء نه نافذ او لازم دې، لان للام والاخ بیع المنقول من مال الصغیر لغیر تجارة. وما رایت حکم فسخ احد من الشرکاء تلك القسمة قبل الاذن والظاهر الجواز کما فی سائر العقود الموقوفة

۱- د صغیر د زمکی د بیعې ولی ته اختیار نشته دې الا فی صور مخصوصة. لیکن ولی ته د عقار د تقسیم اختیار شته ځکه چې تقسیم من کل الوجوه بیعه نهٔ ده بلکه من وجه بیعه ده، او من وجه افراز دې

۲- پلار او دهغهٔ وصی، نیکهٔ او د هغهٔ وصی او قاضی نه علاوه بل چا ته چې څنګه د صغیر د پاره د تقسیم اختیار نشته دې همدغه شان دصغیر په مال کښې د تصرف اختیار ورته هم نشته ، د صغیر په مال کښې د تجارت او په زمکه کښې ئې ورته د کر کرونډې اجازت نشته دې، البته د صغیر مور ته، ورور ته، او ترهٔ ته ئې د دهٔ د مال د حفاظت، بیعه د منقول په غرض د حفاظت او د صغیر د پاره د طعام او د لباس وغیره د اخستلو اجازت شته دې خو په دې شرط چې صغیر د دوی په پالنې کښې وی، البته که په خپله په ترکه کښې طعام یا لباس وی نو د دې نه د صغیر حصه په صغیر باندې په خرج کولو کښې بیا د صغیر په پالنه کښې کیدل شرط نهٔ دې .

قال فی التنویر: او اشتری الوارث الکبیر طعاما او کسوة للصغیر من مال نفسه

وفی الشرح: فانه یرجع ولا یکون متطوعا.

وفی الحاشیة: کذا فی الخانیة ونصها او اشتری الوارث الکبیر طعاما او کسوة للصغیر من مال نفسه لا یکون متطوعا وکان له الرجوع فی مال المیت والترکة اه اقول: ولم یشترط الاشهاد مع ان فی انفاق الوصی خلافا کما مر وینبغی جریانه هنا بالاولی علی انه قد وقع الاختلاف فی انفاقه علی الصغیر نصیبه من الترکة نفقة مثله فی انه یصدق ام لا قولان حکاهما الزاهدی فی الحاوی ثم قال والمختار للفتوی ما فی وصایا المحیط بروایة ابن سماعة عن محمد رحمه الله تعالی مات عن ابنین صغیر و کبیر و الف درهم فانفق علی الصغیر خمسمائة نفقة مثله فهو متطوع اذا لم یکن وصیا ولو کان المشترك طعاما او ثوبا واطعمه الکبیر الصغیر او البسه فاستحسن ان لا یکون علی الکبیر ضمان اه

وفی جامع الفتاوی ولو انفق الاخ الکبیر علی اخیه الصغیر من نصیبه من الترکة ان کان طعاما لم یضمن و ان کان دراهم فلذلك ان کان فی حجرة و فی غیر ذلك یضمن ان لم یکن وصیا اه و مثله فی العاتر خانیة و قدم

المصنف في فصل البيع من كتاب الكراهية والاستحسان ان يجوز شراء ما لابد للصغير منه وبيعه لا خ وعمو امر وملتقط هو في جوهره واجارته لامه فقط اهـ ومثله في الهداية وعليه فيمكن حمل ما مر عن محمد رحمه الله تعالى على ما اذا لم يكن في حجره تامل و على كل فما في الخانية مشكل ان لك يكن الكبير وصيا فليتامل (ردالمحتار ص ــ ج ه)

غرض دا چې په دې تپوس کړې شوې مسئله کښې د صغير په مور او ورونو باندې لازم دی چې د دهٔ د حصې زمکه د حکومت په قبضه کښې ورکړی

۳ – پورته چې کوم تحقيق ليکلې شوې دې هغهٔ د نفسِ مسئلې سره متعلق دې،په دې تپوس کړې شوې مسئله او صورت کښې کهٔ خويندو د ورونو د خفګان يا د رواج د زوره داسې قسمه ايثار او قرباني کړې ده نو د ورونو په ذمه د دې خويندو شرعي حق باقي او پاتې دې. والله سبحانه وتعالىٰ اعلم. ۱۵ ربيع الآخر ۱٤۰۰ هجرى.

فاسده صلحه

سوال- د هندې په ملک کښې څه زمکه وه،هغې خپل خاوند ته په دې زمکه باندې د دوو کورونو جوړولو اجازت ورکړو. ليکن خاوندئې دوه چته کور په زوره پرې جوړ کړو.هنده خفه وه ددې وجې نه د دې ښځې اوخاوند فيصله د هندې پلار له لاړه.هغهٔ په صورت د صلحې فيصله داسې وکړه چې زمکه سره د کوره په څلورو کښې يوه حصه د هندې او درې حصې د زمکې سره دکوره دا د هندې د خاوند شوه.

او بله دا خبره چې که لاندې چت ئې په کرايه باندې ورکړو نو د کرايې نيمه حصه به هندې ته ورکړې کيږی،او په دې باندې چې کومه خرچه راځي هغهٔ به هم په دواړو باندې نيمه نيمه راځي. د تول کال خرچې،تيکس وغيره به د خپلو خپلو حصو په تناسب سره ادا کوی،د صلحې نه پس زيد بې د اجازته نور تعميرات او مختلف تصرفات وکړل.

اوس پوښتنه دا کول دي چې آيا هنده دا صلحه فسخه کولې شي او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب صلح عن مال بمال په تصريح د فقهاء کرامو رحمهم الله بيعه ده.په مصالحت کښې د لاندې چت په کرايه کښې د هندې دپاره نيمه حصه مقرر کړې شوه حال دا چې د هغې حصه څلورمه وه.دا شرط د عقد د مقتضا خلاف دې.ددې وجې نه ذکر کړې شوې صلح فاسده او واجب الرد ده.د وړاندې په شان زمکه د هندې ده او کور د زيد دې.اګر چې د صلحې نه وړاندې بې د هندې د اذن نه دا کور تعمير کړې شوې دې ليکن د صلحې نه دا اذن متحقق شو. البته پس د صلحې نه تعمير او تصرف کول به هيڅ توګه ثابت نهٔ دی.ددې حکم دا دې چه

۱ - که هنده وغواړی نو زید ته دې د کور د غورځولو حکم وکړی.
۲ - که د دې کور په غورځولو سره د هندې په زمکې کښې د فاحش نقصان پیدا کیدلو اندیښنه وی نو ددې ولاړ عمارت چې غورځول ئې واجب دی قیمت چې څه جوړیږی نو هنده دې دغه قیمت ادا کړی او د کور مالکه دې شی.
۳ - که فرض که په غورځولو باندې د زمکې لږ نقصان کیږی نو ودې غورځولې شی، په زمکه کښې چې څه نقصان راشی د هغې ضمان به په زید باندې واجب وی.

قال فی التنویر: ومن بنی او غرس فی ارض غیره بغیر اذنه امر بالقلع والرد وللمالک ان یضمن له قیمة بناء او شجر امر بقلعه ان نقصت الارض.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله ان نقصت الارض) ای نقصانا فاحشا بحیث یفسدها اما لو نقصها قلیلا فیاخذ ارضه ویقلع الاشجار ویضمن النقصان سائحانی عن المقدسی (ردالمحتار ص ۲۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۴ محرم ۱۴۰۵ هجری

جواب له اړخه دجامعه اسلامیه بنوری ټاون

په تپوس کړې شوې صورت کښې مو د استفتاء او دمصالحتی تحریر بنهٔ په غور سره مطالعه وکړه. کوم جواب چې زمونږ په پوهه کښې راغلو هغه داسې دې، چې هر کله د زید او د هندې تر مینځه په مشترکه سرمایه سره د جوړ کړې شوی کور د ملکیت په حقله تنازعه وشوه او هم د دې تنازعې د ختمولو د پاره دواړه بنه په رضا او رغبت سره د هندې والد له تلې وو. او د هندې والد د خپلو دوو عاقلانو ځامنو په وړاندې بنه په دیانتداریٔ سره د دوی تر مینځه مصالحت وکړو، او په مصالحتی تحریر کښې دواړو فریقینو د هندې د والد فیصله منلې ده او د رضامندیٔ دستخطونه ئې هم کړی دی، او هندې په دغه مجلس کښې بلکه د فیصلې نه پس په قریبی زمانه کښې په دې فیصله باندې څه اعتراض هم نهٔ دې کړې، نو د فقهاء کرامو رحمهم الله د تصریحاتو مطابق د دې فیصلې نه انکار کول صحیح نهٔ دی. ځکه چې دا مصالحت د شرعی اصولو او قواعدو او ضوابطو مطابق شوې دې چې تفصیل ئې دا شان دې:

۱ - د مصالح علیه او مصالح عنه دواړو اړخو نه مال دې، که د هندې له اړخه په زمکه او مکان کښې لګیدلې پیسې دی نو بل خوا ته د زید له اړخه د کور ملکیت دې.
۲ - د مصالحت په ذریعه هندې د خپلې زمکې په څلورو کښې د درې حصو په عوض کښې د زید نه د دوه چته کور په څلورو حصو کښې یوه حصه حاصله کړه او زید د خپلو کورونو په څلورو کښې د یوې حصې په عوض د هندې نه د هغې د زمکې په څلورو کښې درې حصې واخستې.

۳ - د مصالحت نه پس زید او هنده دواړه په دوه چته کور کښې د خپلې خپلې حصې په تناسب سره شریک شول .

۴ - دا خبره معلومه ده چې زید او هنده د ښځې اوخاوند په حیثیت سره په دغه زمکه او کور کښې پاتې کیږی، او په دې زمکه او کور کښې هیڅ یو شریک د خپلې حصې د تقسیمولو او د دې د جدا کولو شرعی دعوی نۀ ده کړې، د دې وجې نه د عدم امتیاز اعتراض کول په کښې هم صحیح نۀ دی. البته د زید په ذمه دا خبره وه چې په دې کور کښې ئې څه ترمیم او بدلون کولو نو پکار دی چې هنده ئې د مشورې په وخت کښې خان سره شریکه کړې وې، لیکن زید داسې ونۀ کړل اوس به د دې ترمیم او بدلون اثرات داسې مرتب کیږی :

«الف» که چیرې هندې په څه ترمیم او بدلون باندې اعتراض کړې وو نو اوس چې په دې ترمیم او بدلون کښې کوم مال خرچ کیږی نو د دې ذمه وار به زید وی هنده به نۀ وی، او په دې حقله به د هندې نه د څه پیسو مطالبه درسته نۀ وی.

«ب» که چیرې د زید د ترمیم او بدلون له کبله د دې مکان مالیت ته څه نقصان رسیدلې وی نو د دې ذمه وار به هم زید وی هنده به ئې ذمه واره نۀ وی، دا خبره دې واضحه وی که چیرې دې وخت کښې زید او هنده دا مشترکه زمکه او کور تقسیم کول غواړی نو ددې دوه صورتونه دی :

۱ - یا خو به د زمکې یا د کور څلورمه حصه جوړه کړې شی او هندې ته به ورکړې شی یا به د ټولې زمکې او کور د قیمت اندازه ولګولې شی او د هغهٔ قیمت څلورمه حصه به هندې ته ورکړې شی، په مفاهمت سره چې څه هم وټاکلې شی نو دا په فریقینو باندې موقوف دی .

نوټ : د محترم المقام حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب مدظلهم جواب زمونږ په نیز صحیح نۀ دې، ځکه چې دوی په مصالحتی تحریر کښې لاندې چت په کرایه سره د ورکولو په صورت کښې د نیمائی په تناسب سره د دې کرایې تقسیمولو ته شرط فاسد وئیلې دې، بیا ځکه چې په شرط فاسد سره بیعه فاسدیږی نو دوی دغه شان صلح عن المال د بیعې په حکم کښې د کیدلو د وجې نه فاسده ګرځولې ده .

حال دا دې چې اول خو دا شرط فاسد نۀ دې، ځکه چې هر کله د مصالحت د وجې نه دوه چته کور کښې د زید د پاره په څلورو کښې درې حصې او د هندې دپاره په څلورو کښې یوه حصه وټاکلې شوه او د کور پورتنې چت ټول په ټوله د خاوند په قبضه کښې دې حال دا چې په دې کښې د هندې څلورمه حصه رسیږی، او په لاندې چت کښې د هندې څلورمه او د زید درې حصې دی، نو د کرایې په صورت کښې د هندې د پاره نیمه حصه ځکه مقرر کړې شوې ده چې په پورته چت کښې زید د هندې کوم څلورمه حصه استعمالوی نو د هغې په عوض په لاندې چت کښې دې په لاندې چت کښې هندې ته څلورمه حصه نوره هم ورکړې شی چې بیا ئې مجموعه د لاندې کور نیمائی

راځي،او دا شرط بالکل د شرعي ضابطې مطابق دې،لهذا دا شرطِ فاسد نهٔ دې،ددې وجې نه مصالحتي تحرير بالکل صحيح او درست دې.

دويمه دا چې صلحه د حکماً او مآلاً ابتداً د مدعي د پاره بيعه ده او د مدعی عليه دپاره دفع د خصومت وی،او صلحې معامله هسې هم په مسامحاتو باندې مبنی وی او د بيعې بنياد په مماکست او مضايقت باندې وی،لهذا په دې فتوی باندې نظرِ ثانی ضروری دې.والله تعالیٰ اعلم.

۵ محرم ۱۴۰۵ هجری

په دې تحرير کښې د بنده (مفتي رشيد احمد صاحب) په جواب باندې درې اشکاله وړاندې کړې شوې دی:

۱- په کرايه کښې د نيمائی شرط فاسد نهٔ دې۔ الخ.

جواب: مبادلة المال بالمنافع روا نهٔ دی،د دې نه علاوه د لاندې چت منافع په صورت د کرايې کښې ورومبې خو دا چې غير متيقنه ده،دويمه دا چې غير مقدوره ده،دريمه دا چې غير متعينه ده.

۲. صلحه حکما و مآلا بيعه ده (الی) مدعی د پاره دفع د خصومت ده.

جواب: هر کله چې د صلحې د بيعې په حکم کښې کيدل تسليم کړې شو، نو د دې د صحت د پاره د بيعې د شرائطو وجود لازمی دې. کمامرجوابه.

د صلحې د مدعی عليه د پاره دفعه د خصومت کيدل دې لره د بيعې د حد نه نهٔ خارجوی،د دې نه علاوه دفعه د خصومت هلته وی چې مدعی عليه منکر وی،که چيرې مدعی عليه د مدعی د حق اقرار کوی، نو بيا خو د هغهٔ په حق کښې هم د ابتداء نه بيعه ده.

۳- د صلحې معامله په مسامحاتو باندې مبنی ده۔ الخ.

جواب: په صلحه کښې مسامحه په استيفاء د ملک کښې وی او دلته کرايه د خپل ملک نه د زياتې اخستلو شرط لګولې شوې دې،کرايه ملک نهٔ دې بلکه منفعت دې، په استيفاء د منافعو کښې مشروط تناسب د ملک د تناسب مطابق نهٔ دې،دا شرط د مقتضاء د ملک خلاف دې.

همدغه شان دملک د تفاوت سره سره په مصارفو کښې د مساواتو شرط هم د ملک د مقتضاء خلاف دې.والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۵ ذی الحجه ۱۴۰۵ هجری

کتاب المضاربة

د فاسد مضاربة حکم

سوال:- زيدخپل ذاتي کاروبار کوي،په کال ۱۹۵۲ عيسوی کښې د زيد مشر خوئ د تعليم نه فارغ شو او د والد سره په کاروبار کښې شريک شو.او دپلار او خوئ تر مينځه يوه تحريري معاهده وشوه چې موجوده سرمايه به د زيد وي.او په منافعو کښې به زيد په دريو کښې د دوو حصو او عمرو په دريو کښې د دريمې حصې حق دار وي. بيا په ۱۹۵۲ عيسوی کښې دا معاهده منسوخه شوه.او ذويمه معاهده وليکلې شوه چې په منافعو کښې به زيد د لسو آنو (پولو) او عمرو د شپږو آنو (پولو) حق دار وي،اوس زيد او عمرو خان خان له کاروبار کول غواړي، د دې وجې نه عمرو د خپلې حصې دمنافعو مطالبه کوي، ليکن زيد دا دعوی کوي چې تيرې شوې معاهدې هسې فرضي وې کومې چې مصلحتاً ليکلې شوې وې،توله سرمايه په هغه وخت کښې زما وه او اوس هم زما ده. ستا د خدمت په عوض کښې ما په تا باندې تعليم وکړو،وادۀ مې درله وکړو او تر اوسه پورې چې ستا څه ضرورتونه وو هغۀ مې درله پوره کړل،عمرو وائې چې معاهدې فرضي او وقتي نۀ وې، بلکه د مقرر شوې حصو په مطابق دا معاهدې عمل ته راغلې وې،ما هم دا معاهدې حقيقت گڼلې او هم دومره محنت مې کولو.ما خپل ټول کوشش او محنت د کاروبار د ترقي پاره لګولې دې. او هم ددې نفعې د پاره ما تر اوسه پورې خان له بيله څه جمع نۀ ده کړې. بلکه د بيلو بيلو کارونو ګټه به مې هم په دې کاروبار کښې ګډوله. باقي د اخراجاتو مسئله دا ده چې زۀ ستاسو نه بيل اوسيږم. ستا او زما ټولې خرچې هم ددې کاروبار نه چليدلې، بله دا چې تا زما د وادۀ په وخت کښې په ۱۹۵۴ کښې ددې معاهدې توثيق هم کړې وو چې زما خوئ د نفعې د دريمې حصې حق دار دې. اوس تاسو نه چې د کومو سوالونو حل مطلوب دې:

۱- آيا عمرو شرعا په ګټه کښې دشپږمې حصې حقدار دې او که نه؟

۲- د زيد دا دعوی کول چې دا معاهده وقتي او فرضي وه،قابل د قبلولو ده او که نه؟حال دا چې ۱۹۵۴ کښې د معاهدې د توثيق ګواه هم لا ژوندې دې.

۳- آيا د تحريري معاهدې په موجودګئ کښې ددې نه اوړيدل روا دی او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب باسم ملهم الصواب : دا عقد مضاربت دې، ليکن د مضاربت د صحت د پاره چې کوم شرائط وي په هغې کښې خينې شرائط دلته نشته دې:

۱- د کوم مال نه چې کاروبار چلولې کيږي د هغې نقد کيدل ضروري دی.که چيرې مال د سامان وغيره په شکل کښې وي نو دا مضاربت صحيح نۀ دې.

قال فی التنویر: وشرطها کون راس المال من الامین (ردالمحتار ص۳۰ ج۴)

۲- هغه کاروبار به صرف مضارب چلوی. که چیرې رب المال دا شرط ولګولو چې هغهٔ به هم د مضارب سره په کاروبار چلولو کښې شریک وی نو دا مضاربت صحیح نهٔ دې.

قال فی التنویر: و کونه مسلما الی المضارب

وقال علامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله مسلما) فلو شرط رب المال ان یعمل مع المضارب لا تجوز المضاربة (ردالمحتار ص۰ج۴)

۳- مضارب به صرف په نفع کښې شریک وی. د نقصان ضامن به نهٔ وی. که چیرې دا خبره وتاکلې شوه چې مضارب به د نقصان په ضمان کښې شریک وی نو مضاربت صحیح نهٔ دې.

قال فی شرح التنویر: ومن شروطها کون نصیب المضارب من الربح حتی لو شرط له من راس المال او منه و من الربح فسدت. (ردالمحتار ص۰ج۴)

ددې شرائطو د نهٔ کیدلو د وجې نه مضاربت فاسد شواو مضاربت فاسده د مآل په لحاظ سره اجارهٔ فاسده ده. ددې حکم دا دې چې مضارب ته به اجر مثل (یعنی د نوکر په صورت کښې چې دهٔ ته کومه تنخوا ورکولې شوه هغه) او په مقرر کړې شوې منافعو کښې چې کومه کمه وی هغه ورکولې شی.

قال فی شرح التنویر: واجارة فاسدة ان فسدت فلا ربح للمضارب حینئذ بل له اجر مثل عمله مطلقا ربح او لا بلا زیادة علی المشروط (ردالمحتار ص۳۰ج۴)

د ذکر کړې شوی تحریر مطابق د مطلوبه سوالونو جوابونه دا دی.

۱- عمرو ته به اجرمثل او مقرر کړې شوې منافع کښې چې کومه کمه وی هغه ورکولې کیږی.

۳.۲- د زید ذکر کړې شوې قول صحیح نهٔ دې. هر کله چې تحریری معاهده شوې ده نو هغې ت. بیا د فرضی وثیلو څه جواز نشته. تر دې پورې چې زید د دې معاهدې فرضی کیدل په شرعی شهادت سره ثابت نهٔ کړی. که چیرې شهادت ئې وړاندې نهٔ کړې شو. نو د عمرو نه قسم اخستې شی. د دې شهادت یا د قسم کیدل د حاکم یا د یو حکم په مجلس کښې کیدل ضروری دی والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۶ ربیع الآخر ۱۳۸۵ هجری

د پورتنی په شان یوبل سوال

سوال- زید سره د حج دپاره څه پیسې د څو کالونو نه موجودې دی. هغه هر کال د حج د پاره عریضه ورکوی لیکن دغه عریضه ئې نه منظوریږی. هغهٔ دا پیسې خپل یو تاجر دوست له ورکړې

او هغهٔ ته ئې دا اووئيل چې هغهٔ په دې درې صورتونو کښې کوم يو غوارې اختيار دې کړی:

۱ - د نفعې او د نقصان تقسيم به په نيمائی وی، (يعنی ۱۱۲)

۲ - د نفعې او د نقصان تقسيم به په دريو کښې د دوو حصو په تناسب سره (يعنی ۲۱۳).

۳ - د نفعې او د نقصان تقسيم به په پنځو کښې د دوو په تناسب سره وی، (يعنی ۲۱۵).

د دې نه پس هغه تاجر د نفعې په نوم سره څه پيسې زيد له ورکوی، او دغه پيسې زيد په اصل پيسو کښې جمع کړې، بيا د حج په ورځو کښې تاجر ټول پيسې سره د نفعې نه زيد له واپس ورکړې، ليکن د زيد نوم په قرعه اندازئ کښې راونهٔ وتلو، لهذا هغهٔ دغه پيسې اوس بيا دوباره تاجر له ورکړې، اوس سوال دا کول دی چه:

۱ - د زيد او تاجر ترمينځه چې کومه معامله وشوه، دا مضاربتِ صحيحه دې او که فاسده؟ او دا منافع د زيد دپاره حلاله ده او که نه؟

۲ - که چيرې دا منافع د زيد په حق کښې حرامه وی، نو آيا ددې پيسو تاجر له واپس ورکول ضروری دی او که نه په بل څه مصرف کښې ئې هم لګولې شی؟

۳ - که چيرې د زيد او د تاجر دا معامله شرعا ناجائزه وی نو آيا دا پيسې به تاجر سره قرض وی او که امانت؟ او په زيد باندې به زکوة راځی او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب:

۱ - ۲ - په دې کښې د فريقينو ترمينځه د منافعې د تقيسمولو څه صورت نهٔ دې متعين کړې شوې د دې وجې نه دا مضاربتِ فاسده دې، دواړه فريقه دې توبه وکړی او دا معامله دې فوراً ختمه کړی، ټوله منافع به زيد ته ورکولې کيږی او تاجر ته به د هغهٔ د کار په مناسبت سره اجر (يعنی اجرِمثل) ورکولې کيږی، کوم چې به د منافعې د تقسيم د پاره د متعين کړې شوو صورتونو کښې د يو صورت نه زياته نهٔ وی.

قال في الهندية: ومنها ان يكون نصيب المضارب من الربح معلوما على وجه لا تنقطع به الشركة في الربح كذا في المحيط (عالمگيرية ص ۲۸۷ ج ۴)

وقال في شرح التنوير: واجارة فاسدة ان فسدت فلا ربح للمضارب حينئذ بل له اجر مثل عمله مطلقا ربح اولا بلا زيادة على المشروط (ردالمحتار ص ج)

۳ - دا رپيسې د تاجر سره امانت دی، او د دې زکوة په هر صورت کښې د زيد په ذمه دې والله سبحانه وتعالى اعلم

۲۳ رمضان ۱۴۰۲ هجری

په مضاربت کښې به د ثمن د اخستلو خرچ په چا باندې وی؟

سوال:- که چیرې مضارب د ثمن د دین د اخستلو دپاره په تلو راتلو باندې خرچ کوی نو دا خرچ به له کوم ځائ نه ادا کولې شی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دین که چیرې په دې ښار کښې وی نو ددې خرچ به په مضارب باندې وی، او که نه په بل ښار کښې وی نو د مضاربت د مال نه به ادا کولې شی، او که چیرې د دین نه خرچ زیات شو نو چې څومره ترې نه زیات شو هغهٔ به په مضارب باندې وی۔

قال الامام العلائی رحمه الله: افترقا و فی المال دیون و ربح یجبر المضارب علی اقتضاء الدیون اذ حینئذ یعمل بالاجر فلو الاربح لا جبر لانه حینئذ متبرع و یؤمر بان یوکل المالک علیه لانه غیر العاقد

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله بالاجرة) ظاهره ولو کان الربح قلیلا قال فی شرح الملتقی و مفاده ان نفقة الطلب علی المضارب و هذا لو الدین فی المصر والا ففی المضاربة قال فی الهندیة و ان طال سفر المضارب و مقامة حتی اتت النفقة فی جمیع الدین فان فضل علی الدین حسب له النفقة مقدار الدین وما زاد علی ذلک یکون علی المضارب کذا فی المحیط (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۷ جمادی الاولی ۱۳۸۷ هجری

د مضارب د نفقې حکم

سوال:- د مضارب خرچې به د مضاربت د مال نه وی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مضارب که چیرې د تجارت د پاره سفر کوی نو د هغهٔ خوراک څښاک، لباس، سورلئ، او څومره خرچ چې عادةً د تاجرانو معمول وی، دا ټول به د مال د مضاربت نه ادا کولې شی، او که چیرې په خپل ښار کښې کار کوی نو نفقه به د هغهٔ د خپل مال نه وی، د علاج خرچ به په هر حال کښې مضارب په خپله کوی.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: واذا سافر ولو یوما فطعامه وشرابه وکسوته ورکوبه (الی) وکل ما یحتاجه عادة ای لعادة التجار بالمعروف فی مالها لو صحیحة لا فاسدة لانه اجیر فلا نفقة له کمستبضع و وکیل وشریک کافی وفی الاخیر خلاف وان عمل فی المصر سواء ولد فیه او اتخذه دارا فنفقته فی ماله کدوائه علی الظاهر (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۴ ذی الحجه ۱۳۹۲ هجری

په مضاربت کښې د نقصان تفصیل

سوال - زید د کاروبار د پاره په دریمه حصه نفع باندې د بکر نه دوه زره روپئ اخستې وې، په

دې شرط باندې چې کار به زید کوی، البته په دې کښې څه روپۍ د زید هم دی. اوس که چیرې په دې کاروبار کښې څه نقصان وشی نو آیا زید به هم په دې نقصان کښې شریک وی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: د بکر دوه زره روپۍ او د زید چې کومې روپۍ دی نو دا مجموعه راس المال دې یعنی اصل دې، او نقصان به ددې تجارت نه د حاصلې شوې نفعې نه ادا کولې شی. البته که دا نقصان د منافعې نه نهٔ شی پوره کیدلې نو د اصل مال نه به د حصو په مقدار دا نقصان ادا کولې شی.

قال الامام الحصکفی رحمه الله: وما هلك من مال المضاربة يصرف الى الربح لانه تبع فان زاد الهالك على الربح لم يضمن ولو فاسدة من عمله لانه امين.(ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۲ رمضان ۱۳۸۷ هجری

د پورتنی سوال په شان یوبل سوال

سوال:- زید بکر ته اووئیل چې د بوسو کاروبار کوو. پیسې به ته راکړې، او خائ به زما وی. کوم نفع او نقصان چې کیږی نو هغه به نیم په نیمه وی، آیا دا معامله روا ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نقصان کښې د شرکت شرط باطل دې، لیکن سره د دې هم مضاربه صحیح ده، ددې شرط هیڅ اعتبار نشته دې، په مضاربه کښې ټول نقصان په رب المال باندې راځی. البته د منافعې کیدلو نه پس به نقصان د منافعې نه پوره کولې شی، که په دغې باندې پوره نهٔ شی نو باقی نقصان به په رب المال باندې راځی۔

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: وفی الجلالية كل شرط يوجب جهالة فی الربح او يقطع الشركة فيه يفسدها والا بطل الشرط وصح العقد اعتبارا بالوكالة.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله بطل الشرط) كشرط الخسران على المضارب.(ردالمحتار ص ج)

قال فی التنوير: وما هلك من مال المضاربة يصرف الى الربح فان زاد الهالك على الربح لم يضمن وان قسم الربح وبقيت المضاربة ثم هلك المال او بعضه ترادالربح ليأخذ المالك راس المال وما فضل بينهما وان نقص لم يضمن.(ردالمحتار ص ج)

وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله: فكل شرط يؤدی الى جهالة الربح فهی فاسدة وما لا فلا مثل ان يشترط ان تكون الوضيعة على المضارب او عليهما فهی صحيحة وهو باطل.(البحر الرائق ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۴ ذی الحجه ۱۳۸۹ هجری

په رب المال باندې د کار شرط لګول مفسد د عقد دی

سوال:- زید څلور زره روپۍ عمرو او بکر ته د کاروبار د پاره ورکړې او دا شرط ئې په کښې هم ولګولو چې د کاروبار څه کار به د عمرو په ذمه وی او څه کار به د بکر په ذمه وی،او بله دا چې زید به هم دوی سره یو ځائ کار کوی،آیا شرعاً دا معامله روا ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب:

په مضاربه کښې په رب المال باندې دکار کولو شرط لګول صحیح نهٔ دی،دا مضاربهٔ فاسده ده:

قال فی التنویر :واشتراط عمل رب المال مع المضارب مفسد.(ردالمحتار ص ج ۴)والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۶ ربیع الاول ۱۳۹۱ هجری

په مضاربه کښې د نفعې تعیین کول روا نهٔ دی

سوال:- زید د عمرو نه د کاروبار د پاره پیسې واخستې،او دا خبره ئې ورسره وتاکله چې هره میاشت به تا ته زهٔ دومره (مثلا څلور سوه روپۍ)د منافعې نه درکوم،آیا دا معامله صحیح ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په مضاربت کښې د یو فریق د پاره هم د نفعې د تعیین شرط روا نهٔ دې، دا مضاربهٔ فاسده ده،د رب المال تاکلې شوې نفع اخستل د سود کیدلو د وجې نه حرامه ده .

قال فی التنویر:وکون الربح بینهما شائعا(ردالمحتار ص ج ۴)والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۵ ربیع الثانی ۱۳۹٤ هجری

په مضاربه کښې راس المال مضارب ته سپارل شرط دی

سوال: د مضاربت د لاندینو صورتونو څه حکم دې؟

۱- زید له بکر سره د مضاربت معامله وکړه، لیکن زید پیسې خپل ځان سره ساتل غواړی،او بله دا چې په کاروبار کښې په خپله هم شریکیدل غواړی،شرعاً دا صورت صحیح دې او که نه؟

۲ - د معاملې کولو په وخت کښې رب المال یوه مخصوصه اندازه پیسې مضارب ته د ورکولو خبره کړې وه، لیکن رب المال دا پیسې د یو ځائ ورکولو په ځائ باندې په لږه لږه ورکوی. آیا په مضاربت کښې دا صورت روا دې که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب:

۱ - دا صورت روا نهٔ دې،په مضاربه کښې دا ضروری دی چې رب المال پیسې مضارب ته وسپاری او کاروبار به هم مضارب کوی،د رب المال به په دې کښې هیڅ کار نهٔ وی

۲- څومره پیسې چې دې مضارب ته ورکوی نو په هغومره پیسو کښې به مضاربت صحیح

کیږی خو په دې شرط چې کاروبار هم د مضارب په ذمه پریږدی.

قال العلائی رحمه الله : و کونه مسلما الی المضارب لیمکنه التصرف بخلاف الشرکة لان العمل فیها من الجانبین (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۴ رمضان ۱۳۹۵ هجری

په مضاربه کښې د نفعې نه د فیصدی تعیین کول ضروری دی

سوال:- الف او ب په یو ځائ کاروبار کول غواړی، سرمایه او خواری د دواړو مشترکه وی، اوس ج څه پیسې دوی ته ورکوی او په نفع کښې شریکیدل غواړی، او هغهٔ به محنت نه کوی، آیا داسې کول روا دی، چې الف او ب دې هره میاشت په څه اندازې سره هغهٔ له نفع ورکوی، مثلاً کله سل کله دوه سوه کله کم او کله زیات. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په مضاربه کښې د نفعې نه څه فیصدی مقدار مقررول ضروری دی لهذا دا معامله ناروا ده. والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۰ شوال ۱۳۹۵ هجری

د مضارب له شرط نه خلاف کول

سوال: الف ، با ته اوویل چې تهٔ ماله شل زره روپئ په مضاربت باندې راکړه، زهٔ به د سروس کمپنئ نه پیزار اخلم، د دغه کمپنئ نفع خوارلس فیصده ده، د دې نه به لس فیصده زهٔ تا له درکوم او څلور فیصده به زهٔ په خپله اخلم، دا معامله دغسې وشوه با الف له پیسې ورکړې، لیکن الف وعده خلافی وکړله او مال ئې د بلې کمپنئ نه واخستلو، دا معامله د با په علم کښې هم وه، هغه په دې چپ وو څه ئې نه وئیل، بیا با ورله نورې هم پنځه زره روپئ ورکړې، د مجموعې ۲۵ زره روپو سره الف کاروبار کولو، اوس با د لس فیصده منافعې مطالبه کوی، تپوس دا کول دی چې دا مضاربت په کوم کښې چې مضارب د رب المال د حکم خلاف ورزی کړې ده، شرعا روا دی او که نه؟ په دې کښې به منافع په کوم تناسب سره تقسیمیږی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په سوال کښې د ذکر شوی تفصیل نه دا خبره ثابتیږی چې د دویمې کمپنئ نه په مال اخستلو باندې رب المال راضی وو، لهذا دا منافع به د شرط مطابق تقسیمیږی.

که چیرې مضارب د رب المال د شرط نه خلاف د هغهٔ د رضا نه بغیر څه کار وکړ و نو دا شراء به د مضارب دپاره وی، او که چیرې نقصان وشو نو هغهٔ به هم په مضارب باندې وی، منافع ئې د وجې د خبث نه واجب التصدق ده، په کوم څیز کښې چې د غیر د حق د وجې نه خبث راشی نو د هغې د صدقه کولو په ځائ هغه مالک ته واپس کول واجب دی، لهذا ټوله منافع رب المال ته ملاویدل پکار دی.

قال الامام المرغینانی رحمه الله : فیکون سبیله التصدق فی روایة و یردہ علیه فی روایة لان الخبث لحقه وهذا

اصع (هدایة ج۳ کتاب الکفالة)

لیکن رب المال په منافع کښې د حصې د متعین کولو نه د حصې نه د زیاتې منافعې په اسقاط باندې راضی شوې دې، لهذا د منافعې نه به په قدر د حصې دهٔ ته ورکول کیږی. کما قالوا فی الاجارة الفاسدة والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۵ جمادی الاولی ۱۳۹۷ هجری

د مضارب له خپل ځان یا اصولو او فروعو سره معامله کول

سوال:- زید په عقد د مضاربت سره د خپل یو دوست نه د **اعمل ماشئت** په اختیار باندې څه پیسې واخستلې، نو آیا دې د خپل نفس یا د خپلو اصولو او فروعو سره معامله کولې شی او که نه؟ که چیرې نه شی کولې لیکن ورانده ئې د جهالت د وجې نه په څه زمانه کښې دا کړې دی نو د دې د تلافئ به څه صورت وی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: مضارب د رب المال وکیل وی، او د وکیل په حکم کښې دا تفصیل دې: ۱- وکیل خپل نفس او اوصولو او فروعو سره عقد نهٔ شی کولې.

۲ - که چیرې مؤکل دا اووائی (چا سره چې دې خوښه وی معامله ورسره کولې شې) نو بیا اصولو او فروعو سره عقد صحیح دې، لیکن خپل نفس او ورو بچو سره ئې عقد صحیح نهٔ دې.

۳ - که چیرې مؤکل د عقد بالنفس والولد الصغیر هم صراحةً اجازت ورکړی، نو په دې کښې د جواز او د عدم جواز دواړه قولونه روا دی.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: لا یعقد وکیل البیع والشراء والاجارة والصرف والسلم ونحوها مع من ترد شهادته له للتهمة وجوازه بمثل القیمة الا من عبده ومکاتبه الا اذا اطلق له الموکل کبع ممن شئت فیجوز بیعه لهم بمثل القیمة اتفاقا کما یجوز عقده معهم باکثر من القیمة اتفاقا ای بیعه لا شراؤه باکثر منها اتفاقا کما لو باع باقل منها بغبن فاحش لا یجوز اتفاقا وکذا بیسیر عنده خلافا لهما ابن ملك وغیره وفی السراج لو صرح بهم جاز اجماعا الا من نفسه وطفله وعبده غیر المدیون.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله الا من نفسه) وفی السراج لو امره بالبیع من هؤلاء فانه یجوز اجماعا الا ان یبیعه من نفسه او ولده الصغیر او عبده ولا دین علیه فلا یجوز قطعا وان صرح به الموکل اه ومنع الوکیل بالبیع لا یملك شراءه لنفسه لان الواحد لا یکون مشتریا وبائعا فیبیعه من غیره ثم یشتریه منه وان امره الموکل ان یبیعه من نفسه واولاده الصغار او ممن لا تقبل شهادته فباع منهم جاز بزازیة کذا فی البحر ولا یخفی ما بینهما من المخالفة وذکر مثل ما فی السراج فی النهایة من المبسوط ومثل ما فی البزازیة فی الذخیرة عن

الطحاوی وکان فی المسالة قولین خلافا لمن ادعی انه لا مخالفة بینهما.(ردالمحتار ص۵۰۳ ج۴) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۹ ذی قعده ۱٤۰۰ هجری

د مضارب د خپل دکان کرایه اخستل

سوال - زید او عمرو په خپل مملوکه دکان کښې مشترکه کاروبار شروع کړو.زید دوه زره روپئ او عمرو څلور زره روپئ د کاروبار د پاره راوړې. پس ددې نه بکر دوی له راغلو او ورته ئې اووئیل. زما په کښې هم دوه زره روپئ په طریقه د مضاربت شریکې کړئ. زید او عمرو ورته اووئیل چې مونږ ستا پیسې په کاروبار کښې شریکوو لیکن دوه سوه روپئ به ترې نه د کال د دکان کرایه اخلو. نوره چې کومه ګټه وشی نو په هغې کښې به مونږ نیمه د خپلې خوارئ او مزدورئ اخلو او باقی نیمه به د سرمایې په تناسب سره تقسیموو. بکر دا خبره ومنله.کله چې پوره کال تیر شو نو زر روپئ ګټه وشوه. زید او عمرو ترې نه دوه سوه روپئ د کرایې واخستلې.او څلور سوه روپئ ئې ترې نه د خپلې خوارئ مزدورئ واخستلې.باقی پاتې ګټه د سرمایې په تناسب سره په زرو پسې د پنځوسو روپو په حساب سره تقسیم کړې شوې. زید او عمرو ته سل سل روپئ او بکر ته دوه سوه روپئ ورکړې شوې.اوس دا معلومول دی چې آیا شرعًا دا کاروبار روا دې او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د یو قول مطابق د رب المال په اجازت سره مضارب د خپل نفس سره عقد کولې شی.لهذا د دکان کرایه اخستل روا دی. **والله سبحانه وتعالی اعلم.**

٦ ذی الحجه ١٤٠١ هجری

كتابُ الوَديعةِ وَالعاريةِ وَالهبةِ وَالصدقةِ

د نابالغه سره وديعت (امانت) ايښودل صحيح دي، او د هغه د حفظ په ترک سره ضمان لازم دي

سوال که صبی مودع حفاظت ونه کړي نو په دهٔ باندې ضمان شته او که نه؟ په درمختار کښې دي چه كون المودع مكلفا شرط لوجوب الحفظ عليه فلو اودع صبيا فاستهلكها لم يضمن. بينوا توجروا.

الجوا ب و منه الصدق والصواب د ماذون صبی سره وديعت ايښودل صحيح دی. او په ترک د حفظ سره په دهٔ باندې ضمان شته. د درمختار په ذکر کړې شوې جزئيه کښې د صبی نه مراد محجور صبی دی. ځکه چې لږ وړاندې لاړ شې نو هم په درمختار کښې په خپله دا جزئيه ده فان كان الصبي والمعتوه ماذونا لهما ثم ما تاقبل البلوغ والافاقة ضمنا.

او د شامي جزئيه: (ويستثنى من ايداع الصبي ما اذا اودع صبي محجور مثله وهي ملك غيرهما فللمالك تضمين الدافع والاخذ الخ) . (ردالمحتار ص۵۰۰ ج۴) کښې هم په دې باندې دلالت دی.

او د رافعي تعليل هم په دې باندې مشعر دی:

حيث قال: لان الصبي من عادته تضييع الاموال فاذا سلمه اليه مع علمه بهذه العادة فكانه رضى بالاتلاف (التحرير ص۳۰۰ ج۲)

په عالمگيريه کښې خو په دې باندې بالکل تصريح ده: ومنها عقل المودع فلا يصح قبول الوديعة من المجنون و الصبي الذي لا يعقل و اما بلوغ فليس بشرط عندنا حتى يصح الايداع من الصبي الماذون (عالمگيرية ص۳۳۸ ج۴) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۹ جمادى الاولى ۱۳۷۵ هجری

د شودو د پاره خاروی په سوال (يعنی مستعار) اخستل

سوال د چا نه غوا يا مينه شودو د پاره عاريتاً راوستل روا دی او که ناروا؟ بله دا چې دغه شان په اجارې سره راوستل روا دی او که نه؟ بينوا توجروا.

الجوا ب و منه الصدق والصواب مينه د شودو د پاره په اجاره باندې اخستل ناروا دی. البته عاريتاً اخستل روا دی

قال في شرح التنوير: استاجر شاة لارضاع ولده او جديه لم يجز لعدم العرف.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: ولانها وقعت على اتلاف العين (ردالمحتار ص۱۱ ج۵) والله سبحانه وتعالى

اعلم. ١٧ ذي الحجه ١٣٨٧ هجري

دمستعار څيز بل ته د ورکولو حکم

سوال:- زيد يو څيز د خپل استعمال د پاره په عاريت سره واخستلو.هغه همدا څيز بل چا له هم په عاريت سره ورکولې شي او که نه؟ او په دې حقله د اصل مالک نه اجازت اخستل ضروري دي او که نه بې د اجازت نه ئې بل چاته ورکولې شي. بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د اعارې څلور صورتونه دي:

١- بل ته د ورکولو نه ئې صراحتاً منع کړې وي.

٢- د مستعمِل تعيين ئې کړې وي.

٣- سکوت ئې کړې وي.

٤- د عام اجازت ئې تصريح کړې وي.

په ورومبي صورت کښې غير له ورکول روا نۀ دي.

په دويم صورت کښې دا تفصيل دې چې که چيرې دغه څيز د مستعمِل په اختلاف سره متاثره کيږي، نو بل له ورکول ئې روا نۀ دي او که داسې نۀ وي نو روا دي.

په دريم صورت کښې غيرله وروکول روا دي، ليکن چې کوم يو څيز د مستعمِل په اختلاف سره متاثره کيږي نو هغۀ بيا په خپل استعمال کښې د راوستلو نه پس بل له نۀ شي ورکولې،او که بل له ئې ورکړي نو په خپله ئې بيا نۀ شي استعمالولې.

په څلورم صورت کښې عام اجازت دې (ردالمحتار ص٥٠٠ ج٢) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

٢ ربيع الاول ١٣٩١ هجري

د امانت د ضائع کيدلو حکم

سوال: زۀ خپل دکان له د سودا اخستلو د پاره سکهر ته روان ووم، چې يو بل دکاندار ما له پنځه سوه روپئ راکړې چې ما له هم د ځان سره سودا راوړه، ما د هغه پنځه سوه روپئ او خپلې پنځه سوه روپئ يو ځائ په جيب کښې واچولې.او په همدغه جيب کښې زما پنځه لس روپئ نورې هم وې، او زما نورې پيسې زما په بل جيب کښې وې.هر کله چې زۀ سکهر ته ورسيدلم نو ما په جيب کښې وکتل چې هغه پنځه لس روپئ خو شته ليکن کومې زر روپئ چې ما يو ځائې تاو کړې وې هغه په کښې نۀ وې.معلومه نده چې هغۀ په لاره کښې رانه چيرته پريوتلې او که نه چا رانه وبکلې ما ته ئې هيڅ پته نشته ،مهرباني وکړئ تاسو ما ته دا اووائې چې آيا هغه پنځه سوه روپئ به زۀ د خپله جيبه ادا کوم؟ حال دا دې چې هغې سره يو ځائ زما هم پنځه سوه روپئ نقصان شوې

دي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: كه چيري دا امانت پنځه سوه روپئ دي داسې ايښې وی چې په هغې كنبې او ستا په پيسو كنبې څه امتياز وو (يعنى چې پيژندلې شوې چې دا ستا دی او دا د هغهٔ دی) نو بيا خو د هغې په وركيدلو باندې په تا څه ضمان نشته دې، او كه نه چرې خپلو ذاتی پيسو سره دې داسې يو ځائ كړې وې چې په دغه پيسو كنبې او ستا په ذاتی پيسو كنبې څه امتياز نهٔ كيدلو نو بيا ددې پيسو مالک د دغه پيسو ستا نه مطالبه كولې شی، البته كه چيرې دغه دكاندار ددې پيسو ستا د خپلو پيسو سره د يو ځائ كولو تا ته صراحتاً اجازت دركړې وی او يا د يو ځائ كولو عام رواج وی نو بيا په تا باندې څه ضمان نشته دې والله سبحانه وتعالى اعلم

۴ شعبان ۱۳۹۹ هجری

د پورتنی سوال په شان يوبل سوال

سوال:- چا سره د وديعت په توګه څه څيز كيښودلې شو، هغهٔ په اذنِ عام يا په اذنِ خاص سره دا خپل مال سره يو ځائ كړو، او دا مخلوط مال ضائع شو، نو په دهٔ باندې ضمان شته او كه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: كه په اذنِ عام يا خاص سره ئې يو ځائ كړې وی نو ضمان نشته.

قال فی التنویر وكذا لو خلط المودع مالہ بغیر اذن بحیث لا تتمیز ضمنہا وان باذن اشتركا كما لو اختلطت بغیر صنعہ. قال العلامة ابن عابدین رحمہ اللہ: (قولہ بغیر صنعہ) فان ہلك ہلك من مالہما جمیعا ویقسم الباقی بینہما علی قدر ما كان لكل واحد منہما كالمال المشترك (ردالمحتار ص ج) واللہ سبحانہ وتعالی اعلم.

۱۳ شعبان ۱۳۹۹ هجری

د مستودع غفلت موجب د ضمان دې

سوال:- عمرو د زيد سره نهه زره شپږ سوه تومانه (ايرانی پيسه) په توګه د امانت كيښودل. او د يو څو ورځو نه پس ئې زيد ته اووئيل. چې زما ددې امانت نه فلانكی له څلور زره تومانه وركړه. او فلانكی له زر تومانه وركړه او فلانكی له ترې پنځه سوه تومانه وركړه. د دې ټولو تومونه ئې وليكل او زيد له ئې وركړل. او ورته ئې اووئيل چې دا ذكر كړې شوې پيسې دې كسانو له زر تر زره وركړه. امانتدار زيد سستی وكړه او دا پيسې ئې دغه خلقو ته حواله نهٔ كړې. په همدغه هفته كنبې حكومت اعلان وكړو چې د پنځو سوو تومانو لوټ چې ايرانئ پيسه ده بنده به شی. چا سره چې دا لوټ وی هغه دې په دولسو ورځو كنبې دننه په بانک كنبې داخلې كړی، ددې نه پس به بيا دا لوټ نهٔ شی قبلولې. دا پيسې كومې چې د زيد سره امانت وې په دې كنبې پنځه زره تومانه د

پنځه پنځه سوو تومانو د لوټونو وو .امانت دار د دې خبرې خیال ونه کړو چې په دې کښې د پنځه پنځه سوو لوټونه هم شته.او چې دا په بانک کښې داخلې کړم او ددې په ځائ نورې پیسې راواخلم، تر دې چې د حکومت له اړخه د اخستلو تاریخ ختم شو، لهذا په دې طریقه دا پنځه زره تومانه ضائع شو .آیا د امانت دار په ذمه ددې ادا کول ضروری دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب:

سوال: په دې کښې د مستودع غفلت ښهٔ ښکاره دې،د دې وجې نه په دهٔ باندې ضمان واجب دې:

قال فی الهندیة: واما حکمها فوجوب الحفظ علی المودع وصیرورة المال امانة فی یده ووجوب ادائه عند طلب مالکه کذا فی الشمنی(عالمگیریة ص۳۳۸ج۴)

وقال فی شرح التنویر:ولو منعه الودیعة ظلما بعد طلبه لرد ودیعة فلو لحملها الیه لم یضمن ابن ملک بنفسه ولو حکما کوکیله بخلاف رسوله ولو بعلامة منه علی الظاهر قادرا علی تسلیمها ضمن والا بأن کان عاجزا او خاف علی نفسه اوماله بأن کان مدفونا معها ابن ملک لایضمن کطلب الظالم (ردالمحتار ص۵۰۰ج۴)والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۳ شوال ۱٤۰۰ هجری

د ماشوم هبه کول روا نهٔ دی

سوال:- چې نابالغه هلک چا له څه څیز ورکړی نو اخستل ئې روا دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: نه! روا نهٔ دی.

قال فی شرح التنویر: وشرائط صحتها فی الواهب العقل والبلوغ والملک فلا تصح هبة صغیر ورقیق ولو مکاتبا.(ردالمحتار ص۵۰۸ج۴) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۵ رجب ۱۳۷٤ هجری

هبه کول بې د قبض نه معتبره نهٔ دی

سوال - د محمد هاشم یو خوئ وو او یوه ئې لور وه.هغهٔ خپل دواړه کورونه د ګواهانو په وړاندې خپل خوئ ته هبه کړل او په استامپ پیپر «عرفی قواله» باندې ئې د هغه نوم ولیکلو. د محمد هاشم دا ګمان وو چې وروړ به خپلې خور سره حسنِ سلوک کوی. لیکن د څه مودې په تیریدلو باندې پلار د خپل خوئ د ناسمې پاسمې نه غیر مطمئن شو او هغهٔ د ګواهانو په وړاندې د دې هبې نه رجوع وکړه.او دواړه کورونه ئې له سره تقسیم کړل او یو ئې د خوئ په نوم کړو او بل ئې د لور په نوم کړو. خوئ له ئې هغه کور ورکړو کوم باندې چې د هغهٔ قبضه وه.او لور له ئې هم هغه کور ورکړو په کوم باندې ئې چې د لور قبضه وه.او کاغذ هم ولیکلی شو.آیا د پلار دا رجوع کو-

او بیا د سره ددې هبه کول روا دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: هبه بې د قبضې نه نۀ تامیږی.د خوئ قبضه په یو کور باندې وه.د دې وجې نه دویم کور په کوم چې د دۀ د خور قبضه وه په هغې کښې هبه صحیح نۀ شوه.لهذا د لور په حق کښې د پلار دغه هبه کول صحیح دی او نافذه ده.البته که چیرې په دواړو کورونو باندې د خوئ قبضه تامه شوې وای نو بیا د لور په حق کښې د دویم کور هبه صحیح نۀ وه.

قال فی شرح التنویر: و تتم الهبة بالقبض الکامل و لو الموهوب شاغلا لملك الواهب لا مشغولا به.

(ردالمحتار ص۳۰۰ ج۴) ۲ رجب ۱۳۸۶ هجری

له هبې نه رجوع کول

سوال- پلار خوئ له د وادۀ کولو نه پس د خپلې زمکې څه حصه هغۀ ته هبه کړه او هغۀ ئې د کور نه بیل کړو. باوجود د هبې کولو نه دغه زمکه د پلار په نوم وه. اوس د واده د اتۀ کالو تیریدلو نه پس پلار وائی. چې زۀ خپله زمکه واپس اخلم.څکه چې نوسی به زما په وراثت کښې حصه دار نۀ جوړیږی. لهذا زۀ په خپل ژوند کښې هغوی له څه ورکول غواړم.آیا د پلار ددې هبې نه رجوع کول روا دی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که چیرې پلار خوئ ته دهبې کولو نه پس هغۀ له قبضه هم ورکړې وی نو بیا د هغه رجوع روا نۀ ده.اګرچې په کاغذونو کښې زمکه هم د هغه په نوم وی.البته دا خبره ده که چیرې خوئ ئې مالک کړې نۀ وی،صرف د وخت تیرولو دپاره ئې زمکه هغۀ ته حواله کړې وه. نو دا زمکه بیا هم د وړاندې په شان د پلار ملک دې.لهذا د خوئ نه ئې واپس اخستې شی.

بنۀ خبره ده چې په خپل ژوند کښې نوسو ته څه هبه کړی. **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.**

۲۹ ربیع الثانی ۱۴۰۰ هجری

د پورتنی سوال په شان یوبل سوال

سوال- چا ته د څه څیز د هبه کولو نه پس د هغۀ نه د دغې هبې د واپس اخستلو په جواز کښې څه تفصیل دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د دې مختلف صورتونه دی د کومو احکام چې مختلف دی

۱- د موهوب له په رضا په هر حال کښې رجوع روا ده.

۲- د قاضی د قضاء نه رجوع صحیح ده.

۳- د هبې د قبلولو نه پس ئې ددې څه عوض ورکړې وی.نو بیا هم په ذریعه د قضاء رجوع کولې شی

۴- موهوب له ذی رحم محرم وی،نو بیا په قضاء د قاضی سره هم رجوع صحیح نۀ ده.که چیرې هغۀ ئې په خپلې رضا سره واپس کړی نو اخستل ئې روا دی. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۳ ذی قعده ۱٤۰۰ هجری

د معتوه هبه

سوال : چې معتوه خپل څه څیز چا ته هبه کړی نو آیا شرعا دا هبه معتبره ده اوکه نه؟ او دې په خپل مال کښې څه څه تصرف کولې شی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د معتوه هبه صحیح نۀ ده،د دۀ په تصرفاتو کښې دا تفصیل دې :

په کومو تصرفاتو کښې چې د ده نفع وی نو دغه تصرفات بې د اذن د ولی نه هم معتبر دی. لکه هبه قبلول.

په کومو تصرفاتو کښې چې د ده نقصان وی،هغه په اذن د ولی سره هم معتبر نۀ دی.لکه هبه ورکول.

په کومو تصرفاتو کښې چې د نفعې او د نقصان دواړو احتمال وی.په هغې کښې د ولی اذن ضروری دې،لکه بیعه او شراء.

د ولی نه مراد پلار یا د هغۀ وصی او یا نیکۀ دې،د ترۀ اذن کافی نۀ دې،چې پلار یا نیکۀ ئې نۀ وی نو مسلمان حاکم یا د هغۀ نائب به ئې ولی وی،که چیرې مسلمان حاکم نۀ وی او یا دې اړخ ته توجو و نه کړی نو چې په مقامی خلقو کښې دینداره او با اثره خلق څوک متعین کړی نو د هغۀ اذن ضروری دې.

قال الامام الحصکفی رحمه الله: و تصرف الصبی و المعتوه الذی یعقل البیع والشراء ان کان نافعا محضا کالاسلام والاتهاب صح بلا اذن وان ضارا کالطلاق والعتاق والصدقة والقرض لا وان اذن به ولیهما وما تردد من العقود بین نفع وضرر کالبیع والشراء توقف علی الاذن حتی لو بلغ فاجازه نفذ فان اذن لهما الولی فهما فی شراء وبیع کعبد ماذون فی کل احکامه.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله وولیه ابوه) ای الصبی وفی الهندیة والمعتوه الذی یعقل البیع یأذن له الاب والوصی والجد دون الاخ والعم وحکمه حکم الصبی.(ردالمحتار ص۱۳۱،ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲٦ محرم ۱۳۸۷ هجری

د مشترک څیز هبه

سوال:- یو څو شریکاوالو خپل یو مشترک څیز چا یو سړی ته هبه کړو. یو عالم فرمائی چې دا

هبه صحیح نهٔ ده. په دې کښې زمونږ رهنمائی اوفرمایئ. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د هبة المشاع دا صورت روا دې. د هبې د صحت نه مانع هغه شیوع دې کوم چې موهوب له سره وی.

ولاتصح الهبة للشريك لانه لم يوجد الافراز المشروط لتمام القبض والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۵ شوال ۱۳۸۷ هجری

د اولاد په هبه کښې تفاضل

سوال:- اولاد ته په هبه ورکولو کښې په تفاضل کښې څه حکم دې؟ په تفصیل سره ئې راته ولیکئ. والاجر علی الله الکریم.

الجواب باسم ملهم الصواب: ۱- که د نورو اضرار مقصود وی نو بیا مکروهِ تحریمی دی. قضاءً نافذ دی او دیانةً واجب الرد دی.

۲- چې اضرار مقصود نهٔ وی او څه وجه د ترجیح هم نهٔ وی نو بیا مکروهِ تنزیهی دی. په ذکورو او اناثو کښې تسویه مستحبه ده.

۳ - د دینداری، د خدمت کولو، یا د دینی خدمت مشغولا لرلو یا د احتیاج وغیره د وجوهو په بناء باندې تفاضل مستحب دې.

۴ - بې دینه اولاد له د قُوت د مقدار نه زیات نهٔ دی ورکول پکار، د هغوی محرومول او زیاتی مال په دینی کارونو کښې خرچ کول مستحب دی.

قال الامام الحصكفي رحمه الله: وفي الخانية لا بأس بتفضيل بعض الاولاد في المحبة لانها عمل القلب وكذا في العطايا ان لم يقصد به الاضرار وان قصده يسوي بينهم يعطي البنت كالابن عند الثاني وعليه الفتوى ولو وهب في صحته كل المال للولد جاز واثم.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله وعليه الفتوى) اي على قول ابي يوسف رحمه الله من ان التنصيف بين الذكور والانثى افضل من التثليث الذي هو قول محمد رحمه الله رملي (ردالمحتار ص... ج...)

وقال الامام طاهر بن عبدالرشيد رحمه الله: وفي الفتاوى رجل له ابن وبنت اراد ان يهب لهما شيئا فالافضل ان يجعل للذكر مثل حظ الانثيين عند محمد رحمه الله وعند ابي يوسف رحمه الله بينهما سواء هو المختار لورود الآثار.

ولو وهب جميع ماله لابنه جاز في القضاء وهو اثم نص عن محمد رحمه الله هكذا في العيون

ولو اعطى بعض ولده شيئا دون البعض لزيادة رشده لا بأس به وان كانا سواء لا ينبغي ان يفضل

ولو كان ولده فاسقا فاراد ان يصرف ماله الى وجوه الخير ويحرمه عن الميراث هذا خير من تركه لان فيه

عانة على المعصية.

ولو كان ولده فاسقا لا يعطى له اكثر من قوته (خلاصة الفتاوى ص ... ج ۴)

و كذا نقله عنه العلامة ابن نجيم رحمه الله وقرره

ونقل ايضا عن المحيط: يكره تفضيل بعض الاولاد على البعض فى الهبة حالة الصحة الا لزيادة فضل له فى الدين وان وهب ماله كله لواحد جاز قضاءً وهو اثم (البحر الرائق ص ۲۸۸ ج ۷)

وقال العلامة الطحطاوى رحمه الله: (قوله و كذا فى العطايا) ويكره ذلك عند تساويهم فى الدرجة كما فى المنح و الهندية اما عند عدم التساوى كما اذا كان احدهم مشتغلا بالعلم لا بالكسب لا بأس ان يفضله على غيره كما فى الملتقط اى ولا يكره وفى المنح روى عن الامام ان لا بأس به اذا كان التفضيل لزيادة فضل له فى الدين وفى خزانة المفتين ان كان فى ولده فاسق لا ينبغى ان يعطيه اكثر من قوته كيلا يصير معينا له فى المعصية انتهى وفى الخلاصة ولو كان ولده فاسقا فاراد ان يصرف ماله الى وجوه الخير ويحرمه عن الميراث هذا خير من تركه انتهى اى للولد و علله فى البزازية بالعلة السابقة (قوله يسوى بينهم) قال فى البزازية الافضل فى هبة البنت والابن التثليث كالميراث وعند الثانى رحمه الله التنصيف وهو المختار ولو وهب جميع ماله من ابنه جاز قضاء وهو اثم نص عليه محمد رحمه الله اه فانت ترى نص البزازية خاليا عن قصد الاضرار وقال فى الخانية ولو وهب رجل شيئا لاولاده فى الصحة و اراد تفضيل البعض على البعض فى ذلك لا رواية لهذا فى الاصل عن اصحابنا و روى عن الامام رحمه الله ان لا بأس به اذا كان التفضيل لزيادة فضله فى الدين و ان كانا سواء يكره و روى المعلى عن ابى يوسف رحمه الله انه لا بأس به اذا لم يقصد به الاضرار وان قصد به الاضرار سوى بينهم يعطى الابنة ما يعطى الابن وقال محمد رحمه الله يعطى للذكر ضعف ما يعطى للانثى والفتوى على قول ابى يوسف رحمه الله (طحطاوى على الدر ص ۳۹۹ ج ۳) والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۲ شوال ۱۳۸۸ هجرى

د هاشمي د پاره نفلي صدقه روا ده

سوال - آيا هاشمي نفلي صدقه اخستې شي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب

هاشمي د پاره د صدقهٔ واجبه اخستل روا نهٔ دي. البته نفلي صدقې اخستلې شي

قال الامام المرغينانى رحمه الله: ولا تدفع الى بنى هاشم لقوله عليه السلام يابنى هاشم ان الله تعالى حرم عليكم غسالة الناس و اوساخهم و عوضكم منها بخمس الخمس بخلاف التطوع لان المال ههنا كالماء يتدنس باسقاط

الفرض اما التطوع بدلالة التعيين بالماء (هداية ص۰۰ ج۰) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۷ محرم ۱۳۹۳ هجری

که نابالغ ته هبه وشوه نو د پلار قبضه ئې کافي ده

سوال یو سړی خپلو نابالغو بچو ته څه سره زر یا سپین زر ورکړل. نو آیا د پلار په نیت کولو سره به دا ماشومان د دې سرو او سپینو مالکان شي او که نه د دوی قبضه ضروری ده، که د دوی قبضه ضروري وي نو ددی به څه صورت وی؟ آیا د پلار قبضه په حیثیت د ولی کافی ده؟ او په دې باندې زکوة. صدقه. او صدقة الفطر واجب ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که نابالغه اولاد ته ئې هدیه ورکړه نو د اولاد د ملک د پاره د پلار قبضه هم کافی ده.

قال الامام الحصكفي رحمه الله: وهبة من له ولاية على الطفل في الجملة وهو كل من يعوله فدخل الاخ والعم عند عدم الاب لو في عيالهم تتم بالعقد.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله بالعقد) اى الايجاب فقط كما يشير اليه الشارح كذا في الهامش وهذا اذا اعلمه او اشهد عليه والاشهاد للتحرز عن الجحود بعد موته والاعلام لازم (ردالمحتار ص۰۰ ج۰)

په نابالغه باندې زکوة او قربانی واجبه نۀ ده.

قال في التنوير: وشرط افتراضها عقل وبلوغ واسلام وحرية (ردالمحتار ص۰ ج۰)

وفي اضحية التنوير: قيل لا.

وفي الشرح: صححه في الكافي (الى قوله) وهو المعتمد (ردالمحتار ص۰۰ ج۰)

البته که چیري نابالغه صاحب د نصاب وی نو په هغۀ باندې صدقة الفطر واجبه ده. لهذا د دۀ ولی به ئې د دۀ د مال نه ادا کوی

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: حتى تجب على الصبي والمجنون اذا كان لهما مال ويخرجها الولي من مالهما. (ردالمحتار ص۰ ج۰) والله سبحانه وتعالى اعلم ۲٤ محرم ۱۳۹۵ هجری

هبه بالشرط

سوال ما قولكم رحمكم الله في الهبة بالشرط هل هو جائز ام يصح ويبطل الشرط، بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب ان كان الشرط ملائما فيصح الشرط والعقد كلاهما و الا فيصح العقد و يبطل الشرط

قال في التنوير: ومالا يبطل بالشرط الفاسد القرض والهبة والصدقة الخ

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: كوهبتك هذه المائة او تصدقت عليك بها على ان تخدمني سنة فيصح ويبطل الشرط لانه فاسد وفي جامع الفصولين ويصح تعليق الهبة بشرط ملائم كوهبتك على ان تعوضني كذا ولو مخالفا تصح الهبة لا الشرط. (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۳ ذى الحجه ۱۳۹۵ هجرى

د پورتني سوال په شان يوبل سوال

سوال:- د يو پوهنتون د مامورينو د پاره دا رعايت ورکړې شوې دې چې که د دې پوهنتون مامور د ترقئ د پاره تعليم حاصلوى نو هغه ته به هره مياشت درې سوه روپئ وظيفه ورکولې شى، خو په دې شرط چې دوه کاله په پوهنتون کښې ماموريت وکړى، که چيرې ددې مودې د پوره کولو نه وړاندې په مينځ کښې ئې د پوهنتون ماموريت پرېښودلو او لاړو نو ده چې څومره وظيفه اخستې ده هغه ټوله به واپس کوى، آيا دا شرط شرعاً صحيح دې او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا وظيفه هبه ده، او هبه په فاسدو شرطونو سره نۀ باطليږى هغه شرط په خپله باطل شى، لهذا د شرط نه خلاف کولو باندې هم د نوکرانو نه د وظيفې پيسې واپس اخستل روا نۀ دى.

قال في شرح التنوير: وحكمها انها لاتبطل بالشروط الفاسدة فهبة عبد على ان يعتقه تصح ويبطل الشرط.

(ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۲ شعبان ۱۳۹۷ هجرى

په هبه بالعوض کښې هم شيوع مانع د صحت دې

سوال:- هر کله چې هبه بالعوض په حکم د بيعې کښې ده نو آيا په دې کښې به شيوع د هبې د صحت نه مانع وى او که نه د بيع المشاع په شان به هبه هم صحيح شى؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا معامله اګرچه انتهاءً بيعه ده، ليکن ابتداءً هبه ده، د دې وجې نه په صورت د شيوع کښې به صحيح نۀ وى.

قال في الهندية: فان كانت الهبة بشرط العوض شرط لها شرائط الهبة في الابتداء حتى لا يصح في المشاع يحتمل القسمة ولا يسقط بها الملك قبل القبض الخ (عالمگيرية ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۳ ذى الحجه ۱٤۰۰ هجرى

((پرې مې ښودلو درته)) په دې سره هبه نۀ کيږى

سوال - زيد د وفات په وخت کښې په وارثانو کښې يوه ښځه يو لور او پنځه خامن پرېښودل.

مرحوم تو له ترکه یو کور دې، اولاد د تقسیم د جګړو نه د بچ کیدلو د پاره خپله خپله حصه مور ته پریښودله، لږ وخت پس مور دا جائداد د جمات په نوم باندې وقف کړو، آیا د مور دا کار کول درست دی او که نه؟ حال دا چې په اولاد کښې ئې ځینې بچې غریبانان او تنګدسته هم دی. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په لفظ (پرې مې ښودلو درته) سره د مور ملکیت نهٔ ثابتیږی، البته دا خبره ده که اولاد ورته هبه مې کړو، یا در مې کړو، غوندې الفاظ استعمال کړل، نو دا هبه ده او حکم ئې دا دې، چې که چیرې دا کور وارثانو ته د تقسیمولو په صورت کښې هر حصه دار ته دومره حصه ملاویدله چې دغه حصه د دې حصه دار د پاره قابل د انتفاع وه، نو هبه ئې صحیح نه ده، او که چیرې د هر سړی ځان له حصه قابله د انتفاع نهٔ وه نو بیا دا مشترکه هبه صحیح ده، د هبې کیدلو په صورت کښې به بیا د مور وقف صحیح وی او که نه نو صحیح به نهٔ وی. **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.**

۸ محرم ۱٤۰۱ هجری

په هبة المشاع کښې قبضه او تصرف کول مُثبت د ملک دی او که نه؟

سوال: یو سړی خپل څه څیز په مشترکه توګه ډیرو کسانو ته هبه کړو، موهوب لهم قبضه کړو، او تصرف ئې هم پکښې وکړو. اوس دغه سړې چا چې دا هبه کړې وه هغه وفات شو، نو اوس پوښتنه دا کول دی چه:

۱- دا هبه صحیح شوه که نه؟

۲- په صورت د عدم صحت کښې به دا څیز وارثانو ته رد کول واجب وی او که نه؟

۳- په صورت د هلاک کښې به په موهوب لهم باندې ضمان وی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: هبة المشاع صحیح نهٔ ده، د ملک د ثبوت د پاره په کښې دوه قوله دی: ۱- راجح او مفتی به قوله دا دې چې ملک په کښې نهٔ ثابتیږی، ددې وجې نه رد علی الورثة واجب دې، په صورت د هلاک کښې به پرې ضمان راځی، د رد کولو نه وړاندې هم په دې کښې د واهب او د هغه د وفات نه پس په کښې د هغهٔ د وارثانو تصرفات نافذ دی، د موهوب له هیڅ تصرف به په کښې نافذ نهٔ وی.

د دې قول تصریح د حضرت امام محمد رحمه الله نه د منقول کیدلو نه علاوه همدا روایت د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله نه هم موجود دې.

۲- دویم قول په کښې د ملک د ثبوت هم دې، لیکن د فقهاء کرامو رحمهم الله د تصریحاتو مطابق دا ملک خبیث او فاسد دې. ددې وجې نه د دې قول په بناء باندې هم رد واجب دې. او په صورت د

هلاک په کښې ضمان واجب دي. والتفصيل في الشامية، والله سبحانه وتعالى اعلم.

٦ رمضان ١٤٠٤ هجری

د هبة المشاع حکم پس د تقسيم نه

سوال:- د هبة المشاع په صورت کښې موهوب لهم دغه موهوب څيز تقسيم کړو، نو آيا هبه به صحيح شي او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که چيرې د واهب په صريح اذن سره ئې تقسيم کړې وی خو هبه به صحيح شي او که نه نو نۀ صحيح کيږی.

قال في التنوير: فان قسمه وسلمه صح.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله فان قسمه) اي الواهب بنفسه او نائبه او امر الموهوب له بان يقسم مع شريكه كل ذلك تتم به الهبة كما هو ظاهر لمن عنده ادنى فقه تامل رملي والتخلية في الهبة الصحيحة قبض لا في الفاسدة جامع الفصولين (ردالمحتار ص... ج...) والله سبحانه وتعالى اعلم

٤ شوال ١٤١٤ هجری

تفصيل د هبې د قبض کولو

سوال:- د هبې د صحت د پاره د موهوب له قبض کول هم په دغه مجلس کښې شرط دی او که نه د مجلس نه پس هم کافی کيږی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د مجلس نه پس قبض په دې شرط سره صحيح دې چې د واهب په صريح اذن سره وی. برابره خبره ده که اذن په وخت دهبې وموندلې شی او که نه وروستو وموندلې شی. په مجلس کښې د قبض دپاره صريح اذن شرط نۀ دې. بلکه تخليه وتمکن من القبض هم کافی دې

قال الامام الحصكفي رحمه الله: (و) تصح (بقبض بلا اذن في المجلس) فانه هنا كالقبول فاختص بالمجلس (و بعده به) اي بعد المجلس بالاذن وفي المحيط لو كان امره بالقبض حين وهبه لا يتقيد بالمجلس ويجوز القبض بعده (والتمكن من القبض كالقبض فلو وهب لرجل ثيابا في صندوق مقفل و دفع اليه الصندوق لم يكن قبضا) لعدم تمكنه من القبض (وان مفتوحا كان قبضا لتمكنه منه) فانه كالتخلية في البيع) اختيار وفي الدرر والمختار صحته بالتخلية في صحيح الهبة لا فاسدها (ردالمحتار ص... ج...)

وقال العلامة الطحطاوي رحمه الله: (قوله و بعده به) لان الاذن ثبت نصا و الثابت نصا ثابت من كل وجه

لیهبت في المجلس و بعد المجلس شلبي (قوله لا یعقید بالمجلس) لما ذكر ان الاذن ثبت نصا الخ (حاشية الطحطاوي ص ۳۰ ج ۴). وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: تحت (قوله فان قسمه) والتخلية في الهبة الصحيحة قبض لافي الفاسدة جامع الفصولين. (ردالمحتار ص ۵۰ ج ۴) والله سبحانه وتعالى اعلم ۴ شوال ۱۴۱۴ هجری

د نابالغه خيز عاريةً اخستل روا نهٔ دی

سوال د ناپوهه ماشوم مملوکه خيز د والدينو د پاره عاريةً استعمالول روا دی او که ناروا؟ همدغه شان د پوهه نابالغه ماشوم خيز لکه.قلم.کتاب.توبيه وغيره عاريةً استعمال د استاذ وغيره د پاره روا دي که ناروا؟ حال دا چې په خوشحالئ سره ئې ورکړی.بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د نابالغه ماشوم مملوکه خيز استعمالول د والدينو .استاذ .مرشد وغيره ټولو دپاره ناروادی او ګناهِ کبيره ده .

والدينو له پکار دی چې خپل اولاد د عامو د استعمال د خيزونو مالکان نهٔ جوړوی بلکه په غرض د استعمال دې د هغوی په قبضه کښې ورکوی .

په دې صورت کښې به والدين په وخت د ضرورت دا خيزونه استعمالولې شی.او د والدينو په اجازت سره به استاذ وغيره له هم ددې استعمال روا وی

قال الامام التمرتاشي رحمه الله: هي تمليك المنافع مجانا(ردالمحتار ص ۵۰۲ ج ۴)

وفي الرض الشامية: قال في الهداية فان تاجيله لا يصح لانه اعارة وصلة في الابتداء حتى يصح بلفظة الاعارة ولا يملكه التبرع كالوصي والصبي.(ردالمحتار ص ۱۰ ج ۴)والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۹ شعبان ۱۴۱۵ هجری

تمت بالخير

داحسن الفتاوی پنځم جلد ختم شو ولله الحمد اولاً واخراً وظاهراً وباطناً

وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وعلى اله وصحبه وسلم اجمعين برحمتک يا ارحم الراحمين

د موضوعاتو فهرست

عنوان	صفحه

د موضوعاتو فهرست

تمت بالخیر

تم فهرس الکتاب بعون الملک الوهاب

د احسن الفتاوی د پنځم جلد فهرست ختم شو ولله الحمد اولاً واخراً

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی اله وصحبه وسلم اجمعین برحمتک یا ارحم الراحمین